الدر المنضود

على

سنن أبي داود

افادات

حضرت مولانا محمد عاقل صاحب

صدر مدرس مظاہر العلوم سہارنپور ہند

خصوصیات

1. [illegible]
2. [illegible]
3. [illegible]
4. [illegible]
5. [illegible]
6. [illegible]
7. [illegible]
8. [illegible]
9. [illegible]
10. [illegible]

الدر المنضود

فی حل

سنن أبي داؤد

افادات:- حضرت مولانا محمد عاقل صيب
صدر مدرّس مظاهر العلوم سهارنپور (هند)

مترجمين:
[رفقاء] دار التصنيف والتحقيق

زير نګرانی
مولانا شاه فيصل فاضل وفاق المدارس

پښتو .... اتم جلد

خصوصيات

① دكتاب په اول كښي د اصول حديث مفيده مقدمه.
② د بذل المجهود شرح أبي داود عربي شرحي خلاصه اونجور
③ د متن ټولو احاديث ته اعراب وركول
④ د هر كتاب په اول كښي هغې سره متعلقه ضروري مباحث.
⑤ د هر حديث تخريج د مصدر، كتاب او رقم په حوالې سره.
⑥ د مشكلو لغاتو حل.
⑦ په فقهي مباحثو كښي د مذاهبو بيان.
⑧ د فريق مخالف دلائل
⑨ د فريق مخالف د دلائلو ښخه جوابونه
⑩ د مذهب حنفي دلائل او وجوه ترجيح.

خورونکی
فيصل كتب خانه محله جنګی پيښور

د کتاب نوم: الدر المنضود فی حل سنن ابی داؤد

مؤلف: حضرت مولانا محمد عاقل صاحب دامت برکاتہم

زیر نگرانی:- مولانا شاہ فیصل فاضل وفاق المدارس

خورونکی: فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

دملاویدو پتې

- مکتبه فخر الدین رازی هرات [نمائنده فیصل کتبخانه درهرات]
- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- موئے مبارک کتب خانه غزنی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- واحدی کتب خانه خوست
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقوٰی کتب خانه جلال آباد
- نعمت کتب خانه کابل
- شریف الله کتب خانه کابل
- حقانیه کتب خانه گردیز
- مسلم کتب خانه جلال آباد
- مکتبه نعمانیه غزنی
- کودر کتب خانه جلال آباد
- مسلم کتب خانه خوست
- حاجی سردار کتب خانه کابل
- مکتبه رشیدیه کابل

خپرونکي

فیصل کتب خانه

مدینه ټاور محله جنگی پیښور قصه خوانئ پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

فهرست ابواب و مضامين

شمار	مضمون	صفحه

شمار	مضمون	صفحه

صفحه	مضمون	شمار

....

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب العتق

دغلامانو دآزادولو بيان

د دې ځائې نه د سنن ابی داؤد پنځويشتمه پاره شروع کیږی د خطیب بغدادی د تجزیه په اعتبار سره چا چه دا سنن په دوه دیرشو اجزاء کښې تقسیم کړې دې.

(ربط او مناسبت)

د دې کتاب د کتاب الطب سره په مناسبت کښې دا وئیلې کیدې شی چه په طب کښې ازاله ده دمرض جسمانی او په عتق کښې ازاله ده دانسان دغلامئ، هغه هم یو قسم مرض او عیب دې.

بَابٌ فِي الْمُكَاتَبِ يُؤَدِّي بَعْضَ كِتَابَتِهِ فَيَعْجِزُ أَوْ يَمُوتُ

که څوک د بدل کتابت نه څه حصه آزاده کړی او بیا عاجزه شی یا مړ شی

[۳۹۲۶] (1) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو بَدْرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو عُتْبَةَ إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمُكَاتَبُ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ مِنْ مُكَاتَبَتِهِ دِرْهَمٌ".

عمرو بن شعیب دخپل پلار نه اوهغه دده دنیکه نه اوهغه دنبی ﷺ نه روایت کوی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی مکاتب دهغه وخته پورې غلام دې ترڅو پورې چه په لیکلې شوي مال کښې یو درهم هم دده په ذمه باندې باقی وي.

﴿ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « الْمُكَاتَبُ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ مِنْ مُكَاتَبَتِهِ دِرْهَمٌ » ﴾

د مکاتبت مطلب دا وی چه یو غلام خپل آقا ته اوائی چه زه د خپلې غلامئ په بدل کښې د دومره مال په عوض باندې آزادیدل غواړم کوم چه به زه ګټولو سره په قسطونو ادا کوم، او هغه خبره د هغه مولی منظوره کړی، نو په دې حدیث کښې دا دی چه مکاتب ترڅو پورې خپل پوره بدل د کتابت ادا نه کړی هغه نه ازادیږی، تر دې چه که یو درهم هم باقی پاتې شو نو بیا به هم هغه ازاد نه وی او په هغه باندې به د عبد احکام جاری کیږی، د جمهور علماء کرامو سره د ائمه اربعه نه هم دا مسلک دې، په دې کښې د بعض علماء کرامو اختلاف منقول دې، پس په کتاب الدیات کښې یو حدیث راروان دې: ﴿ عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قضى رسول الله ﷺ فى دية المكاتب يقتل : يودى ما ادى كتابته دية الحر، وما بقى دية المملوك وفى رواية اذا اصاب المكاتب حدا او ورث ميراثا يرث على قدر ما عتق منه ﴾ دا روایت په ترمذی کښې هم شته، د دې حدیث په بناء باندې ابراهیم نخعی رحمه الله او د بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم رائې دا ده چه مکاتب د بدل کتابت د ادا په اندازه آزادیږی، مثلا که هغه نصف بدل د کتابت ادا کړو نو د دې مکاتب نیمه حصه به ازاده شی او نیم به غلام وی، او په میراث او دیت وغیره احکاماتو کښې به د هغې اعتبار کولې شی او یو قول په دې کښې د بعض حنابله

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۷۰۷)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/البيوع ۳۵ (۱۲۶۰)، سنن ابن ماجه/العتق ۳ (۲۵۱۹)، مسند احمد (۱۷۸/۲، ۲۰۶، ۲۰۹) (حسن)

دي چه مکاتب د بدل کتابت په دري ربع ادا کولو سره آزادیږی خو د جمهورو عمل په حدیث الباب باندي دي، او هم دا حدیث اولی دي د هغه بل حدیث نه، ځکه چه ددي حدیث امت تلقی بالقبول کړي دي او تقریبا د ټولو فقهاء کرامو عمل په دي حدیث باندي دي، او د حضرت گنگوهی رحمه الله په تقریر کښ د دي حدیث یو توجیه ذکر ده کومه چه به هم دلته انشاء الله وراندي راشی، حدیث عمرو بن شعیب عن جده الاول سکت علیه المنذری والثانی اخرجه الترمذی والنسائی، وابن ماجه، قاله المنذری......

[۳۹۲۷](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي عَبْدُ الصَّمَدِ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَيُّمَا عَبْدٍ كَاتَبَ عَلَى مِائَةِ أُوقِيَّةٍ، فَأَدَّاهَا إِلَّا عَشْرَةَ أَوَاقٍ فَهُوَ عَبْدٌ، وَأَيُّمَا عَبْدٍ كَاتَبَ عَلَى مِائَةِ دِينَارٍ، فَأَدَّاهَا إِلَّا عَشْرَةَ دَنَانِيرَ فَهُوَ عَبْدٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَيْسَ هُوَ عَبَّاسٌ الْجُرَيْرِيُّ، قَالُوا: هُوَ وَهَمٌ وَلَكِنَّهُ هُوَ شَيْخٌ آخَرُ.

عمرو بن شعیب دخپل پلار نه او هغه دده دنیکه نه او هغه دنبی علیه السلام نه روایت کوی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی کوم غلام چه په سلو اوقیو باندي مکاتبت اوکړو اوبیا ئي ټوله مطالبه ادا کړه لیکن لس اوقیي باقی پاتي شوي نودي غلام دي یعنی آزاد شوي نه دي.

[۳۹۲۸](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ نَبْهَانَ مُكَاتَبِ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أُمَّ سَلَمَةَ، تَقُولُ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ كَانَ لِإِحْدَاكُنَّ مُكَاتَبٌ فَكَانَ عِنْدَهُ مَا يُؤَدِّي، فَلْتَحْتَجِبْ مِنْهُ".

دام سلمه رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته اوفرمائیل کله چه دچاسره یومکاتب وي اودهغه سره دومره مال موجود وي په کوم سره چه بدل کتابت ادا کولي شي نودده نه دده مالك لره پرده کول پکاردي.

﴿ سَمِعْتُ أُمَّ سَلَمَةَ تَقُولُ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنْ كَانَ لإِحْدَاكُنَّ مُكَاتَبٌ فَكَانَ عِنْدَهُ مَا يُؤَدِّى فَلْتَحْتَجِبْ مِنْهُ » ﴾

ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته اوفرمائیل چه کله په تاسو کښ د چا دپاره یو مکاتب وی او هغه مکاتب سره دومره پیسي موجود وی چه په هغي سره بدل د کتابت ادا کړي شی (اگر چه لا هغه پوره نه وی ادا کړي) نو د هغه نه ورله پرده کول پکار دی یعنی اگر چه لا آزاد شوي نه دي خو ازادیدلو نزدي دي نو په دي وجه دي تري نه د اول نه احتیاطا پرده شروع کړی.

د زنانه غلام د هغي محرم دي یا نه؟

په دي حدیث کښ یو د حجاب مسئله ده هغه دا چه د زنانه غلام د هغي محرم دي یا نه؟ د هغه نه ورله پرده کول ضروری دی یا نه؟ په ظاهره خو د حدیث نه معلومیږی چه هغه ئي محرم دي د هغه نه پرده نشته، د احنافو په نزد محرم نه دي، او د امام شافعی او احمد نه

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۷۲۵)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبرى (۵۰۲۶)، مسند احمد (۱۸۴/۲) (حسن)
(۲): سنن الترمذي/ البيوع ۳۵ (۱۲۶۱)، سنن ابن ماجه/العتق ۳ (۲۵۲۰)، (تحفة الأشراف: ۱۸۲۲۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۲۸۹، ۳۰۸، ۳۱۱) (ضعيف)

دواړه روايتونه دی، او د امام مالک رحمه الله نه روايت دې ﴿ ان كان وغدا فمحرم والا فلا ﴾ يعنی هغوی دا فرمائی چه که هغه غلام ساده او ناپوهه شان وی (چغد) نو بيا خو محرم دې د پردې حاجت نشته، او که پوهه او تيز قسم وی نو بيا ترې نه په دې صورت کښې پرده شته. د احنافو د طرف نه په حديث کښې دا تاويل کړې شوې دې چه په دې حديث کښې د احتجاب نه مراد نفس احتجاب نه بلکه احتجاب مفرد او اهتمام بالحجاب مراد دې ځکه چه د عبد نه پرده خو کولې شی خو د هغه په بار بار راتلو باندې د پردې اهتمام نه شی کولې. ﴿ كالكلام معه والنظر الى الكفين والوجه كما تحتجب من غيره من الاجانب ﴾ ځوک چه د محرميت قائل دی د هغوی استدلال د ﴿ او ما ملكت ايمانهن ﴾ نه دی [١] په دې قول د الله پاک کښې ﴿ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ ﴾ په تفسير مدارک کښې د سعيد بن المسيب قول نقل کړې شوې دې. ﴿لا يغرنكم سورة النور فانها فی الاماء دون الذكور ﴾ يعنی د ﴿اوما ملكت ايمانهن﴾ نه مراد صرف وينځې دی، غلامان په دې کښې داخل نه دی، وينځې چونکه د هلکانو په شان بې پردې بهر ګرځی نو د هغوی په باره کښې دا خيال کيدې شی چه د هغوی نه د پردې حکم وی، په دې وجه دا تصريح اوکړې شوه چه د هغوی نه پرده نشته.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری....

بَابٌ فِي بَيْعِ الْمُكَاتَبِ إِذَا فُسِخَتِ الْكِتَابَةُ

کله چه د کتابت لوظ مات شی نو د مکاتب خرڅول جائز دی

[٣٩٢٩] ([٢]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَخْبَرَتْهُ: "أَنَّ بَرِيرَةَ جَاءَتْ عَائِشَةَ تَسْتَعِينُهَا فِي كِتَابَتِهَا وَلَمْ تَكُنْ قَضَتْ مِنْ كِتَابَتِهَا شَيْئًا، فَقَالَتْ لَهَا عَائِشَةُ: ارْجِعِي إِلَى أَهْلِكِ فَإِنْ أَحَبُّوا أَنْ أَقْضِيَ عَنْكِ كِتَابَتَكِ وَيَكُونَ وَلَاؤُكِ لِي، فَعَلْتُ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ بَرِيرَةُ لِأَهْلِهَا، فَأَبَوْا، وَقَالُوا: إِنْ شَاءَتْ أَنْ تَحْتَسِبَ عَلَيْكِ فَلْتَفْعَلْ، وَيَكُونَ لَنَا وَلَاؤُكِ، فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ابْتَاعِي فَأَعْتِقِي، فَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ، ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: مَا بَالُ أُنَاسٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَتْ فِي كِتَابِ اللهِ مَنِ اشْتَرَطَ شَرْطًا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ، فَلَيْسَ لَهُ وَإِنْ شَرَطَهُ مِائَةَ مَرَّةٍ شَرْطُ اللهِ أَحَقُّ وَأَوْثَقُ".

دعروه نه روايت دې فرمائی چه بريره رضی الله عنها عائشه رضی الله عنها ته راغله چه دبدل کتابت په سلسله کښې يې ورنه مدد غوښتلو اوهغې دخپل بدل کتابت نه څه نه وو اداکړي نوعائشې رضی الله عنها بريرې ته اووئيل ته لاړه شه اودخپلو مالکانونه تپوس اوکړه که چرې دهغوی خوښه وي چه ستا ټول بدل کتابت دي اداکړې شي او ولا دي زه حاصله کړم نوزه به ئې وکړم چنانچه بريره خپلومالکانوته لاړه اوداخبره ئې ورته اوکړه نوهغوی دولا ورکولونه انکار وکړو او وئې

[١] طريق استدلال دا دې چه په دې آيت کريمه کښې او ما ملکت ايمانهن يعنی غلامان د پلارانو او خاوندانو په حکم کښې راوړلې شوې دی.

[٢]: صحيح البخاري/ المكاتب ٢ (٢٥٦١)، الشروط ١١ (٢٧٢٧)، صحيح مسلم/ العتق ٢ (١٥٠٤)، سنن الترمذي/ الوصايا ٧١ (٢١٢٤)، سنن النسائي/ البيوع ٨٣ (٤٦٥٩)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٨١) (صحيح)

وئیل که چرې عائشه ماته دثواب په نیت باندې دَالله درضادپاره راکوي نودیره ښه ده لیکن ولا به مونږ اخلوعائشې ددې خبرې ذکر نبی ﷺ ته وکړو نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل بریره واخله او آزاده ئې کړه ځکه چه دولا حق هم دهغې دې چه څوک یې آزاده کړي بیانبی ﷺ پاڅیدو اووئې فرمائیل په خلقو څه شوي دي چه هغوی داسې شرطونه لګوي کوم چه دالله تعالی په کتاب کښې نشته دې ، اوڅوک چه داسې شرط ولګوي کوم چه دالله تعالی په کتاب کښې نه وي نودهغه داشرط به درست نه وي، اګرکه دا شرط سل پیرې ولګوي ، دالله تعالی شرط زیات صحیح اور مضبوط دې.

د مکاتبت بریره رضی الله عنها روایات او د هغې تشریح او تطبیق:

په دې باب کښې مصنف رحمه الله دوه روایتونه ذکر فرمائیلې دی، اول ئې د بریره رضی الله عنها واقعه ذکر کړه، د دې نه پس ئې د جویریه رضی الله عنها واقعه ذکر کړه، په دواړو کښې هم داسې اوشو چه د مکاتبت معامله فسخ کولو سره هغه واخستلې شوه، بریره رضی الله عنها لره اخستونکې عائشه رضی الله عنها ده لکه چه په روایاتو کښې مشهوره ده، او جویریه رضی الله عنها لره اخستونکې خپله رسول الله ﷺ دې، د بریره رضی الله عنها په قصه کښې روایات مختلف دی هغه دا چه د هغوی بدل کتابت څومره متعین شوې وو په بعضو روایتونو کښې نهه اوقیه دی ﴿علی تسع اواق﴾ لکه چه په حدیث الباب کښې دی او په بعضو کښې ﴿خمس اواق﴾ راغلی دی او په حدیث الباب کښې دا هم دی ﴿ولم تکن قضت من کتابتها شیئا﴾ یعنی کله چه هغه د عائشې رضی الله عنها په خدمت کښې حاضره شوه د استعانة فی کتابتها دپاره نو تر هغه وخته پورې هغې هیڅ نه وو ادا کړی، او د بعضو روایاتو نه معلومیږی چه هغې څه حصه ادا کړې وه، د روایت الفاظ دا دی ﴿فقال اهلها ان شئت اعطیت ما بقی﴾ دا ټول روایات مختلفه په بخاری کښې دی. ځکه چه امام بخاری رحمه الله د بریره رضی الله عنها د قصې ډیرو ځایونو کښې ذکر فرمائیلې دې، د دې ټولو اختلافاتو تاویل کړې شوې دې کوم ئې چه په بذل کښې د فتح الباری نه نقل کړې دې.

بریره رضی الله عنها د بعض انصارو مملوکه وینځه وه (۱) هغوی د خپلو موالی سره د مکاتبت معامله کړې وه هغه د عائشې رضی الله عنها په خدمت کښې حاضره شوه د پاره د امداد طلب کولو د مکاتبت په معامله کښې، عائشې رضی الله عنها هغې ته دا مشوره ورکړه چه د خپلو موالی نه تپوس اوکړه چه که هغوی دا خبره خوښوی چه زه د خپل طرف نه پوره بدل د کتابت ادا کړم او ته زما د طرف نه ازاده شې، او د قاعدې مطابق ستا ولاء زما دپاره شی نو زه داسې کولو ته تیاره یم، هغې د خپلې مالکانو نه معلومه کړه هغوی اووې چه که عائشه رضی الله عنها حسبة لله ستا د طرف نه بدل کتابت ادا کړی نو ادا دې کړی خو ولاء به ستا زمونږ دپاره وی. عائشې رضی الله عنها د دې خبرې ذکر رسول الله ﷺ ته اوکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ابْتَاعِي فَأَعْتِقِي فَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ﴾ چه ته بریره رضی الله عنها واخله او ازاده ئې کړه او ولاء به د قاعدې مطابق د ازادونکې

---

(۱) قال الحافظ ٥/٢٢٣ وکانت بریرة لناس من الانصار کما وقع عند ابي نعیم، وقیل لناس من بني هلال قاله ابن عبدالبر ویمکن الجمع وکانت تخدم عائشة قبل ان تعتق کما سیاتي في حدیث الافك اهـ)

دپاره وی، او بیا د دې نه پس رسول الله ﷺ خطبه ورکړه چه په هغې کښې ئې اوفرمائیل ﴿ مَا بَالُ أُنَاسٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَتْ فِي كِتَابِ اللّٰهِ الخ ﴾ چه په دې خلقو باندې څه چل شوې دې چه د کتاب الله خلاف شرطونه لګوی څوک چه داسې شرط اولګوی چه د الله پاک د کتاب خلاف وی نو هغه شرط معتبر نه دې اګر که سل شرطونه اولګوی، دلته په بعض روایتونو کښې داسې دی چه رسول الله ﷺ عائشې رضي الله عنها ته اوفرمائیل ﴿ واشترطی لهم الولاء ﴾ چه د هغوی د ولاء شرط قبول کړه، په دې باندې دا اشکال مشهور دې چه رسول الله ﷺ د دې شرط فاسد اجازت هغوی ته څنګه ورکړو؟ بیا د دې تاویل په مختلفو طریقو باندې کړې شوې دې، بعض شارحینو دا روایت ضعیف کړې دې چه په هغې کښې د شرط اجازت ذکر شوې دې، خو د دې جواب تردید اوکړې شو چه د اشتراط والا روایت ثابت دې او د هغې راوی هشام ثقه او حافظ دې، یو توجیه دا کړې شوې ده چه په یو روایت کښې په ځائې د ﴿ اشترطی ﴾ یعنی باب افعال ﴿ اشرطی ﴾ واقع شوې ده او د اشراط معنی اظهار ده ﴿ یعنی اظهری لهم حکم الولاء ﴾... یعنی رسول الله ﷺ عائشې رضي الله عنها ته اوفرمائیل چه د ولاء کوم حکم دې هغه هغوی ته بیان کړه، یو توجیه دا کړې شوې ده کما حکاه الطحاوی چه په ﴿ اشترطی لهم ﴾ کښې لام په معنی د علی دې یعنی د هغوی خلاف کښې شرط اولګوه، او یو توجیه دې دا کړې شوې ده چه دا امر په طور د وعید او توبیخ دې لکه فی قوله تعالی ﴿ اعملوا ما شئتم ﴾ حاصل د دې دا دې چه دا شرط په طور د قبول نه دې بلکه د رد کولو دپاره وو په طریقه د مبالغې چه د داسې مهمل شرط هیڅ اعتبار نشته، امام نووی رحمه الله هم دا توجیه زیاته خوښه کړې ده. (من البذل مختصرا)

[۳۹۳۰] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: جَاءَتْ بَرِيرَةُ لِتَسْتَعِينَ فِي كِتَابَتِهَا، فَقَالَتْ: إِنِّي كَاتَبْتُ أَهْلِي عَلَى تِسْعِ أَوَاقٍ فِي كُلِّ عَامٍ أُوقِيَّةٌ، فَأَعِينِينِي، فَقَالَتْ: إِنْ أَحَبَّ أَهْلُكِ أَنْ أَعُدَّهَا عَدَّةً وَاحِدَةً وَأُعْتِقَكِ وَيَكُونَ وَلَاؤُكِ لِي فَعَلْتُ فَذَهَبَتْ إِلَى أَهْلِهَا وَسَاقَ الْحَدِيثَ نَحْوَ الزُّهْرِيِّ زَادَ فِي كَلَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آخِرِهِ مَا بَالُ رِجَالٍ يَقُولُ أَحَدُهُمْ: أَعْتِقْ يَا فُلَانُ وَالْوَلَاءُ لِي إِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ.

دام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه بریره په خپل کتابت کښې د مدد غوښتلو دپاره راغله او وې وئیل چه ما د خپلو مسالکانو سره په نهه اوقیو سپینو زرو اداکولو باندې کتابت کړې دې نو په دې سلسله کښې زما مدد وکړه عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل که چرې ستاد مالکانو خوښه وي نوزه به ټول بدل کتابت په یوځل باندې درکړم اوتابه آزاده کړم او ستا ولاء به وصول کړم نو بریره خپلو مالکانو ته لاړه اوباقی حدیث د تیر شوي حدیث په شان دې، البته په دې کښې ئې دومره اضافه کړې ده چه نبی عليه السلام داهم اوفرمائیل: په خلقو څه شوي دې چه نوروته وائی چه آزاد ئې ته کړه او ولاء به زمونږ وي او حالانکه ولا دهم هغه چاري چه څوک ئې آزاد کړي.

---

(١): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (۲۲۳۳)، (تحفة الأشراف: ۱۷۲۹۶) (صحيح)

حدیث عائشه رضی الله عنها الاول اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، والثانی اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری...

[۳۹۳۱](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى أَبُو الأَصْبَغِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "وَقَعَتْ جُوَيْرِيَةُ بِنْتُ الْحَارِثِ بْنِ الْمُصْطَلِقِ فِي سَهْمِ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ أَوِ ابْنِ عَمٍّ لَهُ فَكَاتَبَتْ عَلَى نَفْسِهَا وَكَانَتِ امْرَأَةً مَلَّاحَةً تَأْخُذُهَا الْعَيْنُ، قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: فَجَاءَتْ تَسْأَلُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كِتَابَتِهَا فَلَمَّا قَامَتْ عَلَى الْبَابِ، فَرَأَيْتُهَا كَرِهْتُ مَكَانَهَا، وَعَرَفْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيَرَى مِنْهَا مِثْلَ الَّذِي رَأَيْتُ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَا جُوَيْرِيَةُ بِنْتُ الْحَارِثِ وَإِنَّمَا كَانَ مِنْ أَمْرِي مَا لَا يَخْفَى عَلَيْكَ وَإِنِّي وَقَعْتُ فِي سَهْمِ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ وَإِنِّي كَاتَبْتُ عَلَى نَفْسِي، فَجِئْتُكَ أَسْأَلُكَ فِي كِتَابَتِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَهَلْ لَكِ إِلَى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْهُ؟، قَالَتْ: وَمَا هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟، قَالَ: أُؤَدِّي عَنْكِ كِتَابَتَكِ وَأَتَزَوَّجُكِ، قَالَتْ: قَدْ فَعَلْتُ، قَالَتْ: فَتَسَامَعَ تَعْنِي النَّاسَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ تَزَوَّجَ جُوَيْرِيَةَ، فَأَرْسَلُوا مَا فِي أَيْدِيهِمْ مِنَ السَّبْيِ، فَأَعْتَقُوهُمْ وَقَالُوا: أَصْهَارُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْنَا امْرَأَةً كَانَتْ أَعْظَمَ بَرَكَةً عَلَى قَوْمِهَا مِنْهَا أُعْتِقَ فِي سَبَبِهَا مِائَةُ أَهْلِ بَيْتٍ مِنْ بَنِي الْمُصْطَلِقِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا حُجَّةٌ فِي أَنَّ الْوَلِيَّ هُوَ يُزَوِّجُ نَفْسَهُ.

دعائشه رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه جویریه بنت حارث بن المصطلق (په جهاد کښې ګرفتاره شوه) دثابت بن قیس بن شماس یا دخپل تره دځوي دغنیمت په حصه کښې راغله هغې دبدل کتابت معامله وکړه جویریه یوه ښکلې جینۍ و دهرچاپه هغې نظر وو عائشې اوونیل چه دا دبدل کتابت اداکولو دپاره دمدد غوښتلو دپاره دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه کله چه په دروازه کښې ودریده نوما ورته وکتل اوودې راتلل مې ښه ونه ګڼل زماداخیال رو هسې نه چه نبی ﷺ ئې ونه وینې او ورسره نکاح ونکړي ، ما دا خیال وکړو چه نبی ﷺ به ددې داحالت اووینې کوم چه ماولیدل ، جویریه اووئیل اې دالله رسوله زه جویریه بنت حارث یم اوزماپه مخکښې کوم حال ور هغه ستانه پټ نه دې اوزه دثابت بن قیس بن شماس په حصه کښې راغلې یم اودکتابت معامله مې کړې ده اودبدل کتابت په اداکولوکښې ستانه دمدد غوښتلو دپاره راغلې یم، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل زه به تاته ددینه ډیره غوره خبره وکړم جویریه اووئیل هغه څه خبره ده؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل زه به ستا بدل کتابت ادا کړم اونکاح به درسره وکړم جویریه اووئیل ماته منظور ده ، عائشه وائی کله چه خلقو واوریدل چه نبی ﷺ دجویریه سره نکاح وکړه نوبه قبیله بنی المصطلق کښې چه څومره ګرفتارکړې شوي خلق وو هغه ټول کي آزاد کړل ، په دې خیال باندې چه دا دنبی ﷺ سخرګنۍ ده او مونږ په ښځو کښې دومره برکتي ښځه نه وه لیدلې دچاپه وجه چه دهغې قوم ته دومره فائده ورسیده څنګه چه جویریه وه چه دهغې په وجه باندې دبنې المصطلق سل قیدیان آزاد شول. امام ابوداؤد فرمائی ددې حدیث نه داخبره ثابته شوه چه ولي پخپله خپله نکاح کولې شي.

﴿عَنْ عَائِشَةَ – رضی الله عنها – قَالَتْ وَقَعَتْ جُوَيْرِيَةُ بِنْتُ الْحَارِثِ بْنِ الْمُصْطَلِقِ فِي سَهْمِ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ أَوِ ابْنِ عَمٍّ لَهُ فَكَاتَبَتْ عَلَى نَفْسِهَا وَكَانَتِ امْرَأَةً مَلَّاحَةً الخ﴾

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٦٣٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٧٧، ٦/٢٧٧) (حسن)

د دې حديث مضمون په كتاب الجهاد كښې د باب المكر في الحرب نه مخكښې باب كښې تير شوي دي.

حضرت جويريه رضي الله عنها او د هغې د مكاتبت قصه :

خلاصه دا چه جويريه رضي الله عنها په غزوه بنى المصطلق كوم ته چه غزوه مريسيع هم وائى په غنيمت كښې د يو صحابى ثابت بن قيس رضي الله عنه په حصه كښې راغلې وه، هغې د هغه صحابى سره د مكاتبت معامله اوكړه، وه ده ډيره ښكلې.... دا د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه او خپل صورت حال ئې بيان كړو يعنى د كتابت معامله وغيره، او د بدل كتابت په باره كښې ئې سوال اوكړو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه زه تاته د دې نه غوره مشهور دركوم كه تاته منظوره وى، هغې عرض اوكړو هغه څه مشوره ده يا رسول الله ﷺ ؛ رسول الله ﷺ اوفرمائيل هغه دا چه ستا د كتابت بدل به زه ادا كړم او تا سره به نكاح اوكړم، هغې عرض اوكړو چه ما ته منظوره ده، پس هم دغه شان اوكړې شو. چه كله صحابه كرامو رضي الله عنهم ته معلومه شوه چه رسول الله ﷺ د جويريه رضي الله عنها سره نكاح اوكړه نو د كومو صحابه كرامو رضي الله عنهم سره چه د قبيله بنو المصطلق قيديان وو كوم چه هغوى ته په مال غنيمت كښې ملاؤ شوي وو هغوى هغه ټول آزاد كړل په دې وينا چه دا د رسول الله ﷺ د سخرګنئ خلق دى، عائشه رضي الله عنها فرمائى چه مونږ د جويريه رضي الله عنها په شان بابركته يو زنانه هم نه ده ليدلې د هغې په وجه باندې د بنو المصطلق تقريبا سل خاندانونه آزاد كړې شو.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا حُجَّةٌ فِي أَنَّ الْوَلِيَّ هُوَ يُزَوِّجُ نَفْسَهُ الخ ﴾ امام ابوداؤد رحمه الله په دې واقعه باندې استدلال كوى چه د زنانه ولى خپله د هغې سره نكاح كولې شى، يعنى څنګه ئې چه د بل سره كولې شى خپله ئې د ځان سره هم كولې شى كه هغه ئې محرم نه وى، اوس دا چه رسول الله ﷺ د هغې ولى څنګه وو؟ نو يا خو په دې اعتبار سره چه رسول الله ﷺ هغه په اخستلو سره آزاده كړې وه لهذا هغوى ولى العتاقة شو، او يا په دې حيثيت سره چه ﴿السلطان ولى من لا ولى له ﴾ دا وضاحت خو شو د امام ابوداؤد رحمه الله د كلام، خو حنفيان به داسې وائى چه دا قصه دليل دې د دې خبرې چه حره بالغه په خپله د ځان ولى ده په دې وجه هغه خپله نكاح پخپله كولې شى.

بَابٌ فِي الْعِتْقِ عَلَى الشَّرْطِ

په شرط لګولو سره د آزادولو بيان

[٣٩٣٢] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُمْهَانَ، عَنْ سَفِينَةَ، قَالَ: كُنْتُ مَمْلُوكًا لِأُمِّ سَلَمَةَ، فَقَالَتْ: "أُعْتِقُكَ وَأَشْتَرِطُ عَلَيْكَ أَنْ تَخْدُمَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عِشْتَ، فَقُلْتُ: وَإِنْ لَمْ تَشْتَرِطِي عَلَيَّ مَا فَارَقْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عِشْتُ، فَأَعْتَقَتْنِي وَاشْتَرَطَتْ عَلَيَّ".

د سفينه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه زه دام سلمه غلام وم هغې راته اووئيل زه به دې ازاد كړم خو زما په تا باندې داشرط دې چه د نبى عليه السلام خدمت به كوې ترڅو چه ژوندې يې ما ورته اووئيل كه ته په ما شرط مقرر نكړې نو بيا هم زه د نبى عليه السلام نه پخپل ژوند كښې نه جدا كيږم

(١): سنن ابن ماجه/العتق ٦ (٢٥٢٦)، (تحفة الأشراف: ٤٤٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٢١) (حسن)

نوهغې زه آزاد کړم او دا شرط ئې راباندې مقرر کړو.

﴿ عَنْ سَفِينَةَ قَالَ كُنْتُ مَمْلُوكًا لِأُمِّ سَلَمَةَ فَقَالَتْ أُعْتِقُكَ وَأَشْتَرِطُ عَلَيْكَ أَنْ تَخْدُمَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَا عِشْتَ الخ ﴾

د سفینه رضی الله عنه صحابی تذکره:

سفینه رضی الله عنه چه د هغه په نوم کښې ډیر اقوال دی قیل مهران بن فروخ، وقیل نجران، وقیل رومان وقیل رباح وغیره ذلک.... هغه ته سفینه رضی الله عنه ولې وائی؟ د هغه خپله بیان دې چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په یو سفر کښې ؤو نو زمونږ په ملګرو کښې چه به څوک هم ستړې کیدلو نو هغه به خپل لاس سامان په ما باندې اچولو، چا تورې کیخودلې او چا دهالونه، تردې چه په ما باندې ډیر زیات سامانونه کیخودلې شو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: ﴿ انت سفینة ﴾ (تهذیب الکمال)

د هغوی په باره کښې دا قصه مشهوره ده چه په یو سفر کښې یواځې پاتې شو او لاره ترې نه هم ورکه شوه هم په دې وخت کښې هغوی اولیدل چه یو زمرې هغه ته راروان دې نو دې اویریدو او هغه ته ئې اووې چه زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم غلام او خادم یم او لاره رانه ورکه شوې ده، په دې اوریدلو باندې د هغه زمری رویه د هغه سره بدله شوه او هغه سره ئې نرمی شروع کړه او لکئ خوزول ئې شروع کړل لکه چه د یو پیژندګلو څیز په لیدو باندې ئې خوزوی او بیا د هغه سره په حینړیدو باندې راغلو او لارې ته ئې راویستلو، د قصیده برده شعر دې!

ومن تکن برسول الله نصرته :: ان تلقه الاسد فی اجامهاتجم

وترجمه العارف الجامی فی الفارسیة.....

هر که او را از رسول نصرت امده :: شیر اگر بروے رسد از ترس آید بهم

ہو مدد جس کو رسول سید لولاک کی :: شیر بھی اکوملے جنگل میں کرے نہ دوم

په حدیث الباب کښې دی سیدنا سفینه رضی الله عنه فرمائی چه زه د ام سلمه رضی الله عنها غلام اوم نو هغې ماته اوفرمائیل چه زه تا په دې شرط باندې آزادوم چه ته ترڅو پورې ژوندې ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت به کوې، هغوی فرمائی چه ما د دې خبرې جواب دا ورکړو چه که تاسو دا شرط نه هم لګوئ نو زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نه جدا کیږم، بیا زه هغوی هم په دې شرط آزاد کړم.

په دې واقعه کښې یو فقهی مسئله هم ده هغه دا چه د اعتاق په وخت داسې قسم شرطونه لګول شرعا معتبر دی یا نه، د اکثر فقهاء کرامو په نزد صحیح نه دی: ﴿ لانه شرط لا یلاقی ملکا، ومنافع الحر لا یملکها غیره الا فی اجارة او ما فی معناها ﴾ یعنی دا شرط داسې دې چه د هغې تعلق د مملوک د خپل څیز سره نه دې، ځکه چه د خدمت وقوع به د عتق نه پس وی او د عتق نه پس د مولی هیڅ حق باقی نه پاتې کیږی (سوی الولاء) ځکه چه د حُر د منافع مالک خپله هغه حر دې د دې توجیه دا کړې شوې ده چه دا اصطلاحی شرط نه دې بلکه د دې نه مراد وعده ده یعنی د هغوی نه دا وعده واخستلې شوه، او د وعدې ایفاء لازم نه ده بلکه شرعا تبرع ده. (والحدیث اخرجه النسائی، وابن ماجه قاله المنذری)

باب فِيمَنْ أَعْتَقَ نَصِيبًا لَهُ مِنْ مَمْلُوكٍ

باب: څوک چه د غلام څه حصه آزاده کړی

د باب اول او باب ثانی د دواړو تشریح او مذاهب ائمه:

او د دې نه روستو باب داسې دی ﴿من اعتق نصيبا من مملوک بينه وبين اخر﴾ لهذا رومبی باب د عبد غير مشترک سره متعلق دې او دويم د عبد مشترک سره، يعني يو سړې د خپل غلام څه حصه آزاده کړی مثلا نصف، او پوره آزاد نه کړی، لکه چه په رومبی باب کښ ذکر شوې دی، يا عبد مشترک کښ خپله حصه آزاده کړی لکه چه د دويم باب مضمون دې. مطلب دا دې چه په دې دواړو صورتونو کښ به د دې غلام څه انجام وی، پوره به آزاديږی يا صرف نيمه حصه به ئې آزاديږی، او که پوره آزاد نه شی نو د بل شريک دپاره به په آزادونکی باندې ضمان واجب وی يا نه.

ځان پوهه کړئ چه دلته دوه څيزونه دی يو اعتاق او په هغې باندې مرتب کيدونکې څيز يعني عتق، د امام صاحب او صاحبينو ﷺ په دې باندې اتفاق دې چه عتق متجزی نه دې، او غلام به په هر صورت کښ آزاد وی خو په اعتاق کښ اختلاف دې، د امام صاحب په نزد هغه متجزئ دې مطلقا (که هغه آزادونکې موسر وی او که معسر وی) او د صاحبينو په نزد اعتاق هم متجزئ نه دې څنګه چه عتق متجزئ نه دې لذا، د صاحبينو په نزد نيم غلام آزادول يا د احد الشرکين خپلې حصې لره آزادول د پوره غلام آزادول دی، لهذا په دواړو صورتونو کښ به پوره غلام آزاديږی، او د امام صاحب په نزد به آزاديږی خو پوره په دواړو صورتونو کښ، خو نصف به د آزادونکی د طرف نه وی، او باقی نيم به د هغه د طرف نه نهٔ آزاديږی بلکه خپله به آزاد وی بالسراية يعني د معتق د اختيار نه بغير به نصف عتق په باقی کښ پخپله سرايت کوی.

د امام صاحب او د صاحبينو ترمينځه په دې کلی اختلاف باندې د پوهې نه پس د رومبی باب والا مسئلې متعلق د امام صاحب په مسلک باندې ځان پوهه کړئ، هغوی د اعتاق نصف نه پس فرمائی چه اوس دې معتق ته دوه اختياره دی يو اعتاق او بل استسعاء يعني که هغه غواړی نو نصف آخر دې هم د خپل طرف نه آزاد کړی او يا دې د غلام نه نيم قيمت سعاية کړی، او د صاحبينو په نزد چونکه اعتاق نه متجزی کيږی په دې وجه اعتاق البعض اعتاق الکل دې ګويا هغه پخپله پوره غلام آزاد کړو اوبس قصه ختم شوه.

اوس د دويم باب متعلق ځان پوهه کړه چه احد الشريکين چا چه خپله حصه آزاده کړې وه هغه ته دې اوکتلې شی چه هغه موسر دې يا معسر که موسر وی نو د امام صاحب په نزد د شريک آخر دپاره درې اختياره دی، ضمان، اعتاق، استسعاء، يعني شريک آخر که د معتق نه غواړی نو ضمان دې ترې نه واخلی او که غواړی نو خپله حصه دې ترې نه هم آزاده کړی. [1] او که غواړی د غلام نه دې سعايت اوکړی، او که آزادونکې شريک معسر او غريب دې نو په دې صورت کښ به شريک آخر ته صرف دوه اختياره وی، يو اعتاق او بل

[1] يعني کوم اعتاق چه شوې دې د خپل طرف نه دې اوګنړی

استسعاء، د ضمان اختيار به ورته حاصل نه وي د هغه د اعسار د وجې نه.
او صاحبين په دې مسئله کښې دا فرمائي چه آزادونکې که موسر دې نو د شريک آخر دپاره به ضمان د استحقاق وي او که معسر وي نو په دې صورت کښې د شريک آخر دپاره صرف حق دسعايت دې، يعني په يوصورت کښې صرف ضمان او په يو صورت کښې صرف سعايت.
دا تفصيل خو شو د مذهب حنفي، او د باقي ائمه ثلاثه مسلک دا دې چه د هغوی په نزد اعتاق او عتق دواړه د اعسار په صورت کښې متجزئ دی او د يسار په هصورت کښې غير متجزئ، لهذا د ړومبي باب والامسئله کښې چه کومه رائې دصاحبينو ده هم هغه د ائمه ثلاثه ده يعني دنصف په آزادولوسره به پوره غلام آزادشي.(لعدم الجواز التجزئ حينئذ عندهم)([1])
او د باب ثاني والا مسئلې کښې د ائمه ثلاث په نزد د يسار معتق په صورت کښې د شريک ثاني دپاره صرف يو اختيار دې يعني ضمان او د اعسار په صورت کښې دا دې چه ﴿عتق منه ما عتق﴾ يعني نيم به آزادېږي او نيم به غلام وي.
د دې تفصيل نه معلومه شوه ([2]) چه ائمه ثلاث د استسعاء قائل نه دی، او دا چه د هغوی په نزد باندې عتق هم متجزئ دې هم په دې وجه د هغوی په نزد د اعسار معتق په صورت کښې سعايت نشته بلکه عتق متجزئ به راشي. نيم غلام به آزاد وي او نيم غير آزاد.
او دا خبره هم مخې ته راغله چه باب اول يعني عبد غير مشترک والا مسئله کښې د ائمه ثلاث او د صاحبينو خپل مينځ کښې اتفاق دې او د باب ثاني والا مسئله کښې د يسار معتق په صورت کښې ائمه ثلاث او صاحبين متفق دی او د اعسار والا صورت کښې مختلف. والله سبحانه وتعالى اعلم بالصواب

[۳۹۳۳]([3]) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْمَعْنَى، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، قَالَ أَبُو الْوَلِيدِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلًا "أَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ مِنْ غُلَامٍ فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: لَيْسَ لِلَّهِ شَرِيكٌ" زَادَ ابْنُ كَثِيرٍ فِي حَدِيثِهِ: فَأَجَازَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِتْقَهُ.

ابوالمليح دخپل پلارنه روايت کوي ، دابوالوليد د پلار په روايت کښې دی چه يوسړي ديوغلام نه خپله يوه حصه آزاده کړه اوبيانبي ﷺ ددينه خبر شو نبي ﷺ اوفرمائيل دالله

[1] ځکه چه دا مسئله د يسار په صورت کښې داخله ده ځکه چه آزادونکې سړې دپوره غلام مالک دې په دې لحاظ سره هغه موسر شو
[2] خلاصة المذاهب : د مذاهبو خلاصه دا ده چه که يو سړې د خپل غلام بعض حصه آزاده کړي نو د امام صاحب په نزد د هغه دپاره دوه اختياره باقي دی يا اعتاق او يا استسعاء او عند الخمسة يعني د صاحبينو او د ائمه ثلاثه په نزد اعتاق البعض هغه اعتاق الكل دې، او که عبد مشترک وي او احد الشريکين خپله حصه آزاده کړي نو بل شريک ته به د امام صاحب په نزد د يسار معتق په صورت کښې درې اختيارات وي.... الضمان والاعتاق والاستسعاء، او د اعسار په صورت کښې به صرف دوه اختياره وي اعتاق او استسعاء او ضمان به ساقط وي، او د صاحبينو په نزد يسار د معتق په صورت کښې د شريک آخر دپاره صرف د ضمان او اعساء په صورت کښې صرف سعاية او د ائمه ثلاث په نزد د يسار په صورت کښې ضمان او د اعسار په صورت کښې هيڅ هم نشته بلکه ﴿عتق منه ما عتق﴾ نيم غلام به آزاد وي او نيم رقيق
[3] : سنن النسائي /الكبري العتق ۱۷ (۴۹۷۰)، (تحفة الأشراف: ۱۳۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۷۴، ۷۵) (صحيح)

تعالى سره څوك شريك نشته دې ابن كثير پخپل روايت كښې دا اضافه كړې ده چه بيانبى ﷺ ددې غلام په آزادولو كښې درخصت حكم وكړو.

﴿عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَجُلاً أَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ مِنْ غُلاَمٍ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ « لَيْسَ لِلَّهِ شَرِيكٌ ». زَادَ ابْنُ كَثِيرٍ فِي حَدِيثِهِ فَأَجَازَ ....الخ﴾

شرح الحديث:

يعنى يو سړى د خپل غلام څه حصه آزاده كړه د كوم ذكر چه رسول الله ﷺ ته اوكړې شو هغوى اوفرمائيل چه د الله پاک هيڅوک شريک نشته لهذا هغه شرک نه خوښوى، او هغوى دا عتق په ټول كښې نافذ اوفرمائيلو، دا حديث په ظاهر كښې د ائمه ثلاث او د صاحبينو موافق دې چه اعتاق البعض اعتاق الكل دې، د امام صاحب ﷫ د طرف نه دا توجيه كيدې شى چه مقصود ترې نه ترغيب دې چه پوره غلام د الله پاک د طرف نه آزادول پكار دى، چه د غير الله شركت په هغې كښې باقى نشى. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذرى

بَابُ مَنْ أَعْتَقَ نَصِيبًا مِنْ مَمْلُوكٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَ آخَرَ

باب: څوک چه په داسې غلام كښې خپله حصه آزاده كړى كوم چه دده او دبل په مينځ كښې شريک وى

[۳۹۳۴] ([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنِى هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ: "أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ مِنْ غُلَامٍ، فَأَجَازَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِتْقَهُ وَغَرَّمَهُ بَقِيَّةَ ثَمَنِهِ".

دابوهريره نه روايت دې فرمائى چه نبى كريم ﷺ فرمائيلي دي څوك چه په مشترك غلام كښې خپله حصه آزاده كړي نونبى ﷺ ددې غلام آزاديدل جائزګرځولي دي اودغلام باقى پاتې قيمت ئې دده په ذمه باندې اچولې دې (چه نورو حصه دارانوته به ئې وركوي).

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلاً أَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ مِنْ غُلاَمٍ فَأَجَازَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- عِتْقَهُ وَغَرَّمَهُ بَقِيَّةَ ثَمَنِهِ ﴾ دا د باب ثانى دويم حديث دې د دې تعلق د عبد مشترک سره دې د مضمون حديث خلاصه دا ده چه احد الشريكين په غلام كښې خپله حصه آزاده كړه، نو رسول الله ﷺ دا عتق په پوره غلام كښې نافذ كړو او آزادونكې ئې د نيم باقى ضامن كړو.

ښكاره خبره ده چه ضمان د يسار معتق په صورت كښې كيدې شي او په دې صورت كښې د صاحبينو او د ائمه ثلاث په نزد صرف وجوب ضمان دې كوم چه په حديث كښې ذكر دې، او د امام صاحب په نزد په دې صورت كښې شريک آخر ته دوه اختياره نور دى د ضمان نه علاوه، اعتاق او سعايت، كما تقدم..... د سعايت مسئله چه مختلف فيه ده احناف د هغې قائل دى او ائمه ثلاث منكر، د هغې وړاندې مستقل باب راروان دې، دا ضرورى نه ده چه د يو حديث نه دې د مسئلې پوره تفصيل معلوم شى، په نورو احاديثو كښې د ضمان سره د سعايت هم ذكر دې كوم چه احنافو اختيار كړې دې.

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجه بنحوه، قاله المنذرى

[1]: صحيح البخاري/الشركة ٥ (٢٤٩٢)، ١٤ (٢٥٠٤)، والعتق ٥ (٢٥٢٧)، صحيح مسلم/العتق ١ (١٥٠٣)، سنن الترمذي/الأحكام ١٤ (١٣٤٦)، سنن ابن ماجه/العتق ٧ (٢٥٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٢٢١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥٥/٢، ٣٤٧، ٤٢٦، ٤٦٨، ٤٧٢، ٥٣١) (صحيح)

[۳۹۳۵]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ سُوَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ بِإِسْنَادِهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَعْتَقَ مَمْلُوكًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ آخَرَ، فَعَلَيْهِ خَلَاصُهُ"، وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ سُوَيْدٍ.

د قتاده رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم فرمائیلی دی څوك چه داسې غلام ازاد کړي کوم چه دده دبل چاسره مشترك وي نوپه ده باندې دټول غلام آزادول لازم دي او دا د سوید د روایت الفاظ دي.

[۳۹۳۶]()حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ سُوَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ قَتَادَةَ بِإِسْنَادِهِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَعْتَقَ نَصِيبًا لَهُ فِي مَمْلُوكٍ عَتَقَ مِنْ مَالِهِ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ"، وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ الْمُثَنَّى النَّضْرَ بْنَ أَنَسٍ وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ سُوَيْدٍ.

دقتاده فنه روایت دي فرمائی چه نبی کریم فرمائیلی دی څوك چه په یوغلام کښې خپله حصه آزاده کړي نوټول غلام.دده دمال نه آزاد شو خوبه دي شرط چه آزادونکې مالدار وي وابن مثنی پخپل روایت کښې نضر بن انس نه دي ذکرکړې اودا دسوید د روایت الفاظ دي.

بَابُ مَنْ ذَكَرَ السِّعَايَةَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ

باب دچا په نزد چه آزادونکې غریب وی نوپه غلام به محنت کولې شی ددې د دلیل بیان

د ترجمة الباب عرض او تشریح :

په اول باب کښې چه د ابوهریره رضی الله عنه کوم حدیث تیر شوې دې د هغې په هغه طریق کښې د سعایت ذکر نشته........ چونکه هم د دې حدیث په بعضو طرقو کښې د سعایة ذکر دې، او مسئله فی نفسه بین الائمة مختلف فیه ده هم د دې اهمیت د وجې نه مصنف رحمه الله مستقل ترجمه قائم کړه.

[۳۹۳۷]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ يَعْنِي الْعَطَّارَ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَعْتَقَ شَقِيصًا فِي مَمْلُوكِهِ، فَعَلَيْهِ أَنْ يُعْتِقَهُ كُلَّهُ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ وَإِلَّا اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم فرمائیلی دی چاچه دیوغلام نه خپله حصه آزاده کړه کومه چه په مشترك غلام کښې وه نوپه ده باندې دپوره غلام آزادول لازم دي خوپه دې شرط چه مالدار وي خوکه چرې دده سره مال نه وي نوغلام به په مشقت کښې داچولونه بغیر مزدوري کوي (اوباقی پاتې حصه به آزادوي).

قوله: ﴿ حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قال نا أَبَانُ — قال نا قَتَادَةُ عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه الخ ﴾ ([4])د دې حدیث مضمون هم هغه دې کوم چه مخکښې تیر شو خو په

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٢٢١١) (صحيح)

[2]): انظر حديث رقم: (٣٩٣٤)، (تحفة الأشراف: ١٢١١) (صحيح)

[3]): انظر حديث رقم: (٣٩٣٤)، (تحفة الأشراف: ١٢٢١١) (صحيح)

[4]) د دې روایت الفاظ دا دی: مَنْ أَعْتَقَ شَقِيصًا فِي مَمْلُوكِهِ فَعَلَيْهِ أَنْ يُعْتِقَهُ كُلَّهُ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ وَإِلَّا اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ...... لـه

اول طریق کښې صرف ضمان ذکر دې او په دې کښې دا دی چه که آزادونکې شریک مالدار وی نو د هغه نه به ضمان اخستلې شی او که معسر دې نو په دې صورت کښې دې د عبد نه سعایت اوکړې شی.

د دې نه مخکښې حدیث کښې د قتاده نه روایت کونکې همام وو او په دې طریق کښې د هغوی نه روایت کونکې ابان دې د ﴿غیر مشقوق علیه﴾ مطلب د ادې چه د عبد نه سعایت کولو والا صورت کښې دې په هغه باندې مشقت وانچولې شی ښه په سهولت به ئې هغه د ګټلو نه پس ادا کړی.

[۳۹۳۸]()حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ زُرَيْعٍ ح وحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ وَهَذَا لَفْظُهُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ أَوْ شَقِيصًا لَهُ فِي مَمْلُوكٍ، فَخَلَاصُهُ عَلَيْهِ فِي مَالِهِ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ قُوِّمَ الْعَبْدُ قِيمَةَ عَدْلٍ ثُمَّ اسْتُسْعِيَ لِصَاحِبِهِ فِي قِيمَتِهِ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: فِي حَدِيثِهِمَا جَمِيعًا، فَاسْتُسْعِيَ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ وَهَذَا لَفْظُ عَلِيٍّ.

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی څوک چه په مشترک غلام کښې خپله حصه آزاده کړي نوددې کس په ذمه باندې دخپل مال نه دغلام آزادول ضروری دی خوپه دې شرط چه مالدار وي که چرې آزادونک مالدار نه وي نوددې غلام به متوسط قیمت مقرر کړې شي اوبیابه دباقی شریکانو د حصو مطابق غلام محنت او مزدوري وکړي لیکن په ده باندې به زور نشي کولې. امام ابوداؤد په دواړو حدیثونو کښې "استسعي غیر مشوق علیه"، بیانوي اوداد علی دروایت الفاظ دي.

﴿فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ قُوِّمَ الْعَبْدُ قِيمَةَ عَدْلٍ﴾ یعنی که د معتق سره مال نه وی نو د عبد به په یو عادل سړی باندې قیمت لګولو سره د عبد نه سعایت اوکړې شی.

الحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه قاله المنذري

[۳۹۳۹]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، وَابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ سَعِيدٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ لَمْ يَذْكُرِ السِّعَايَةَ، وَرَوَاهُ جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، وَمُوسَى بْنُ خَلَفٍ جَمِيعًا، عَنْ قَتَادَةَ، بِإِسْنَادِ يَزِيدَ بْنِ زُرَيْعٍ، وَمَعْنَاهُ وَذَكَرَا فِيهِ السِّعَايَةَ.

دسعید نه هم دتیرشوي روایت په شان روایت منقول دې ، امام ابوداؤد فرمائی چه دا روایت روح بن عباده دسعید بن ابی عروبه نه نقل کړې دې اوراوی دعایه نوم نه دې

[۴۶]...... د حدیث د ظاهری الفاظو تقاضه دا ده چه دا حدیث د غیرمشترک غلام باره کښې دی چه نبی علیه السلام فرمائی چه کوم سړی دخپل غلام بعضې حصه آزاده کړه نوهغه له پکاردی چه کل غلام آزاد کړی که په دې کښې ګنجائش وی او هغه مالدار وی (دا حکم په طور د ترغیب دی د تکثیر ثواب دپاره) او که ګنجائش نه وی نو دغلام نه دې د باقی حصې د خپل خان دپاره سعایه اوکړی او دا هم ممکنه ده چه دا دې په عبد مشترک باندې محمول کړې شی لکه چه د دې نه روستو روایت کښې دی نو په دې صورت کښې ﴿فعلیه ان یعتقه کله﴾ مطلب به دا وی چه د باقی حصې به شریک آخر ته ضمان ورکولو سره د خپل طرف نه هغه آزاد کړی، حضرت په بذل کښې دا هم په دې باندې محمول کړې دې. فتامل.

[۱]: انظر حدیث رقم: (۳۹۳٤)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۱۱) (صحیح)

[۲]: انظر حدیث رقم: (۳۹۳٤)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۱۱) (صحیح)

ذکرکړې ، جریر اوموسی بن خلف دقتاده رضي الله عنه نه دیزید په سند سره نقل کړې دې او په دې کښې دسعایه ذکرهم شته.

بَابٌ فِيمَنْ رَوَى أَنَّهُ لَا يَسْتَسْعِي

باب دچا په نزد چه په هغه محنت کول نشته دهغوی د دلیل بیان

اختلاف دنسخو او د نسخه صحیحه تعیین :

د دې ترجمة الباب په باره کښې نسخې مختلف دی خو څۀ چه زمونږ په نسخه کښې دی که هغه اختیار کړې شی نو ترجمه سابق او دا دواړه به یو شی، حال دا چه په ترجمه سابقه سره مقصود ذکر د سعایه دې او په دې ترجمې سره غرض د جمهورو د مسلک مطابق عدم ذکر د سعاية دې، پس په حدیث الباب کښې سعایه نه دې ذکر شوې، لهذا په دې کښې دویمه نسخه کومه چه په حاشیه باندې ذکر شوې ده ﴿ باب فیمن روی انه لا یستسعی﴾ دا صحیح ده.

[۳۹٤٠]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي مَمْلُوكٍ أُقِيمَ عَلَيْهِ قِيمَةُ الْعَدْلِ، فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ وَأُعْتِقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ وَإِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي، څوك چه په یوغلام کښې خپله حصه آزاده کړي نومتوسط انصافي قیمت به وورباندې مقررکړي شي اونورو شریکانوته به خپلې حصې ورکړې شي اوغلام به دده دطرف نه آزاد کړي شي اوکه چرې داسې نه وي نو څومره چه آزاد کړي شي نوهم دومره آزادکړي شو (یعنی باقی دغلامی په حالت کښې پاتې شو).

﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِى مَمْلُوكٍ أُقِيمَ عَلَيْهِ قِيمَةَ الْعَدْلِ فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ وَأُعْتِقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ وَإِلاَّ فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ » ﴾

د ړومبی باب حدیث چه په هغې کښې ذکر د سعاية دې هغه د ابوهریره رضي الله عنه روایت وو او په دې باب کښې چه څومره هم روایات دی هغه ټول د ابن عمر رضي الله عنهما دی په ډیرو طرقو سره، مضمون د حدیث دا دې.

کوم شریک چه په غلام کښې خپله حصه آزاده کړه نو د هغه غلام قیمت به لګولې شي او نورو شریکانو ته د هغوی حصه ورکول به د دې معتق په ذمه وی (یعنی په صورة الیسار کښې به ضمان واجب وی) ﴿ والا ای وان لم یعط ﴾ یعنی که هغه معتق شریکانو ته د هغوی حصه ورنکړې شی. ﴿ بان کان معسرا فقد اعتق منه ما اعتق ﴾ نو په دې صورت کښې به سعایه نه وی بلکه عتق به متجزئ وی بعض حصه به د غلام آزاده وی بعض نه، یعنی د باقی شریکانو په اندازه به غلام آزاد نه وی.

---

[1]): صحیح البخاري/الشركة ٥ (٢٤٩١)، ١٤ (٢٥٠٣)، العتق ٤ (٢٥٢٢)، صحیح مسلم/العتق ١ (١٥٠١)، الأیمان ١٢ (١٥٠١)، سنن النسائي/البیوع ١٠٤ (٤٧٠٣)، سنن ابن ماجه/العتق ٧ (٢٥٢٨)، (تحفة الأشراف: ٨٣٢٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/العتق ١ (١)، مسند احمد (١/٥٦) (صحیح)

د حديث الباب د احنافو د طرف نه جواب:

دا حديث د ائمه ثلاثه دليل دې او د تير شوى باب د حديث خلاف دې چه په هغې کښې دا وو چه د اعسار د معتق په صورت کښې به په عبد باندې سعايت کولې شى، د دې حديث جواب خپله د رواياتِ الباب د کتلو نه اندازه کيدلې شى چه د دې ثبوت ضعيف دې ځکه چه د دې لفظ په باره کښې د راويانو اختلاف دې بعضو هغه ذکر کړې دې او بعضو نه دې ذکر کړې، پس په وړاندې روايت کښې دى: ﴿ وَكَانَ نَافِعٌ رُبَّمَا قَالَ « فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ ». وَرُبَّمَا لَمْ يَقُلْهُ﴾ او د هغې نه په روستو روايت کښې دى ﴿ قَالَ أَيُّوبُ فَلاَ أَدْرِى هُوَ فِى الْحَدِيثِ عَنِ النَّبِىِّ –صلى الله عليه وسلم– أَوْ شَىْءٌ قَالَهُ نَافِعٌ الخ ﴾

[۳۹۴۱]([1])حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ، قَالَ: وَكَانَ نَافِعٌ رُبَّمَا، قَالَ: فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ وَرُبَّمَا لَمْ يَقُلْهُ.

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دى: دا روايت د تيرشوي روايت په شان دي مګريدي کښې دا اضافه ده چه نافع به کله کله داسې وئيل «فقد عتق منه ما عتق» او کله کله به ئې دا کلمات نه وئيل.

[۳۹۴۲]([2])حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ أَيُّوبُ: فَلَا أَدْرِي هُوَ فِي الْحَدِيثِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ شَيْءٌ قَالَهُ نَافِعٌ وَإِلَّا عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: ايوب وائى زه نه پوهيږم چه داجمله عتق منه ما عتق په دې حديث کښې مرفوع يعنى دنبى عليه السلام الفاظ دي اوکه دنافع الفاظ دي.

روايتونه خو د وړمبى باب هم او دې هم د تخريج په لحاظ سره يو شان دى چه ټول په صحيحينو کښې موجود دى خو د دې باوجود د صحيحينو په رواياتو کښې که تعارض بيا مونډلې شي نو د ترجيح طريقه خو به هلته هم اختيارولې شى د دفع دتعارض دپاره، احنافو د استسعاء والا روايت ته ترجيح ورکړې ده او جمهورو د عدم استسعار روايت ته.

امام بخاري رحمه الله د استسعاء باب قائمولو سره هغه ثابت منلې دې پس په الابواب والتراجم کښې دى نقلا عن الحافظ: ﴿ قوله تابعه حجاج بن حجاج کانه اشار بهذا الى الرد على من زعم ان الاستسعاء فى هذا الحديث غير محفوظ الى آخر ما ذکر ﴾

[۳۹۴۳]([3])حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا مِنْ مَمْلُوكٍ لَهُ، فَعَلَيْهِ عِتْقُهُ كُلِّهِ إِنْ كَانَ لَهُ مَا يَبْلُغُ

[1]: صحيح البخاري/ الشركة ٥ (٢٤٩١)، العتق ٤ (٢٥٢٤)، صحيح مسلم/ العتق ١ (١٥٠١)، سنن الترمذي/ الأحكام ١٤ (١٣٤٦)، سنن النسائي/ البيوع ١٠٤ (٤٧٠٣)، (تحفة الأشراف: ٧٥١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥/٢) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٧٥١١) (صحيح الإسناد)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٠٨٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العتق ٤ (٢٥٢٣)، صحيح مسلم/الأيمان والنذور ١٢ (١٥٠١)، سنن الترمذي/الأحكام ١٤ (١٣٤٦)، سنن النسائي/البيوع ١٠٤ (٤٧٠٣) (صحيح)

ثَمَنَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ عَتَقَ نَصِيبُهُ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: څوك چه په يوغلام كښې خپله حصه آزاده کړي نو بيده باندې دټول غلام آزادول ضروري دی خوهله چه دي دده قيمت ادا کولی شي نو که چرې مال ورسره نه وي نو بيا صرف دده خپله حصه آزاده شوه.

[۳۹۴۴](1) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَى إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُوسَى.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: باقي روايت دموسی بن ابراهيم د روايت په شان دي.

[۳۹۴۵](2) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَسْمَاءَ، حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَى مَالِكٍ وَلَمْ يَذْكُرْ وَإِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ انْتَهَى حَدِيثُهُ إِلَى وَأُعْتِقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ عَلَى مَعْنَاهُ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: باقي روايت دمالك د روايت په شان دي ليكن په دې روايت كښې د« «وإلا فقد عتق منه ما عتق» » الفاظ نه دی ذکرشوي دده روايت پوره شو، اوغلام دده دطرف نه آزاد شو دمالك د روايت هم مطلب.

[۳۹۴۶](3) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ عَتَقَ مِنْهُ مَا بَقِيَ فِي مَالِهِ إِذَا كَانَ لَهُ مَا يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: كله چه څوك په يوغلام كښې خپله حصه آزاده كړي نوباقي پاتې هم دده دمال نه آزادشوخو چه دده دمال نه دغلام قيمت ادا کيدي شي يعنې قيمت ورسره پوره كيږي.

[۳۹۴۷](4) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا كَانَ الْعَبْدُ بَيْنَ اثْنَيْنِ، فَأَعْتَقَ أَحَدُهُمَا نَصِيبَهُ فَإِنْ كَانَ مُوسِرًا يُقَوَّمُ عَلَيْهِ قِيمَةً لَا وَكْسَ وَلَا شَطَطَ ثُمَّ يُعْتَقُ".

سالم دخپل پلار نه روايت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی کله چه يوغلام ددوه کسانو په مينځ كښې مشترك وي اويو ددوی نه خپله حصه آزاده کړي نو که چرې آزادونکي مال داروي نوغلام به په متوسط قيمت باندې قيمت كړي شي نه ډيركم اونه ډيرزيات اوبيابه دده دطرف نه آزاد کړی شي.

(1): صحيح البخاري/العتق ٤ (٢٥٢٥ تعليقًا) صحيح مسلم/ العتق ١ (١٥٠١)، سنن النسائي/ الكبري (٤٩٥٨)، (تحفة الأشراف: ٨٥٢١) (صحيح)

(2): صحيح البخاري/الشركة ١٤ (٢٥٠٣)، (تحفة الأشراف: ٧٦١٧) (صحيح)

(3): صحيح مسلم/العتق ١ (١٥٠١)، سنن الترمذي/الأحكام ١٤ (١٣٤٧)، سنن النسائي/الكبري (٤٩٤٤)، (تحفة الأشراف: ٦٩٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤/٢) (صحيح)

(4): صحيح البخاري/العتق ٤ (٢٥٢١)، صحيح مسلم/العتق ١ (١٥٠١)، سنن النسائي/الكبري (١٥٤١)، (تحفة الأشراف: ٦٧٨٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١/٢) (صحيح)

[۳۹۴۸](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ الْعَنْبَرِيِّ، عَنِ ابْنِ التِّلِبِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلًا "أَعْتَقَ نَصِيبًا لَهُ مِنْ مَمْلُوكٍ، فَلَمْ يُضَمِّنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، قَالَ أَحْمَدُ: إِنَّمَا هُوَ بِالتَّاءِ يَعْنِي التِّلِبَّ وَكَانَ شُعْبَةُ أَلْثَغَ لَمْ يُبَيِّنِ التَّاءَ مِنَ الثَّاءِ.

دثلب بن ثعلبة بن ربيعه نه روايت دي فرمائي چه يو كس ديوغلام نه خپله حصه ازاده كړه اودباقي قيمت ورنه نبي ﷺ ضمانت وانه خستو. امام احمد وئيلى دى ددې صحابي نوم تلب دي د (ت) نه، نه چه د (ث) نه امام احمد وائي چه شعبه ترتړي (چاړا) وو (ت) به ئي نشوه وئيلي او د (ت) په ځائي به ئي (ث) وئيله.

﴿ عَنْ أَبِي بِشْرٍ الْعَنْبَرِيِّ عَنِ ابْنِ التِّلِبِّ عَنْ أَبِيهِ. قَالَ أَحْمَدُ إِنَّمَا هُوَ بِالتَّاءِ – يَعْنِي التِّلِبَّ – وَكَانَ شُعْبَةُ أَلْثَغَ لَمْ يُبَيِّنِ التَّاءَ مِنَ الثَّاءِ ﴾

په سند كښې چه كوم راوى راغلى دى ابن التلب د هغه په باره كښې امام احمد رحمه الله فرمائي چه دا نوم په ابن التلب تاء سره دي يعنى د دوه نقطو والا، او شعبه راوى د حديث الثغ وو يعنى د تتې ژبې والا چه په تاء او ثاء كښې به ئي فرق نه شو كولې الثغ هم هغه سړى ته وائي چه بعض حروف نه شي ادا كولې، د امام احمد رحمه الله د تنبيه تقاضه دا ده چه په اصل سند كښې چه كوم پورته ذكر دې دا دې ابن الثلب په ثاء سره وى په ځائي د تاء، او په يو نسخه كښې دې هم ثاء (مثلثة) سره . ګينې كه په اصل سند كښې ابن التلب المثناة شى لكه چه زمونږ په نسخه كښې دى نو په دې صورت كښې تنبيه ته حاجت نه پاتې كيږى.

بَابٌ فِيمَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مُحَرَّمٍ

باب: څوك چه د محرم مالك شى نو هغه آزاديږى

[۳۹۴۹](۲) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ مُوسَى فِي مَوْضِعٍ آخَرَ: عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، فِيمَا يَحْسِبُ حَمَّادٌ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مُحَرَّمٍ فَهُوَ حُرٌّ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ الْبُرْسَانِيُّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، وَعَاصِمٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذَلِكَ الْحَدِيثِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَمْ يُحَدِّثْ ذَلِكَ الْحَدِيثَ إِلَّا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ وَقَدْ شَكَّ فِيهِ.

دسمره نه روايت دي فرمائي چه نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى هرڅوك چه ديورشته دار محرم مالك جوړ شي نوهغه (ملكيت كښې راتلو سره) آزاديږي. ابوداؤد وائي: محمد بن بكر برسانى د حماد بن سلمه نه، حماد د قتاده او عاصم نه، هغوى دحسن نه، حسن د سمره نه، سمره د نبى كريم ﷺ نه ددې حديث په شان روايت كړې دې. ابوداؤد وائي: او هم دا حديث د حماد بن سلمه نه علاوه بل چا نه دې روايت كړې، اوهغوى ته په دې كښې شک دې.

په مسئلة الباب كښې د ائمو مذاهب

قوله: ﴿عَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم: « مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ فَهُوَ الخ﴾

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۰۵۰) (ضعيف الإسناد)
(۲): سنن الترمذي/الأحكام ۲۸ (۱۳۶۵)، سنن ابن ماجه/العتق ۵ (۲۵۲۴)، (تحفة الأشراف: ۱۸۵۳۴، ۱۸۴۶۹، ۱۸۵۴۶۹)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري (۴۸۹۸، ۴۸۹۹)، مسند احمد (۵/۱۵، ۱۸، ۲۰) (صحيح)

يعنى كوم سړي چه يو داسې غلام واخلي كوم چه د هغه رشته دار هم وى او محرم هم وى نو هغه په خپله آزاديږى ، دا د اسلام قانون دې، ګويا يو ذى رحم محرم د بل غلام نه شى كيدې، د احنافو او د حنابله مسلک هم دا دې، د امام شافعي رحمه الله په نزد دا حكم صرف د اصول او فروع سره متعلق دې ګويا د هغوى په نزد دا عام مخصوص منه البعض دې، هم دغه شان د امام مالک رحمه الله په نزد هم دا عام نه دې، د هغوى په نزد د دې مصداق ولد او والدين او اخوه دى.

دا حديث د احنافو او دحنابله دليل شو، د شوافعو او دمالكيانو د دليل دپاره دې مطولاتو ته رجوع اوكړې شى. (١)والحديث اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجه، قاله المنذرى.

[٣٩٥٠](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ فَهُوَ حُرٌّ".

داميرالمومنين عمر فاروق رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه هرڅوک چه ديورشته دار محرم مالک جوړ شي نوهغه آزاديږي.

[٣٩٥١](٣)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ الْحَسَنِ، قَالَ: "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ فَهُوَ حُرٌّ".

دحسن نه روايت دې فرمائى چه: هرڅوک چه ديورشته دارمحرم مالک جوړشي نوهغه ازاديږي.

[٣٩٥٢](٤) حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ وَالْحَسَنِ مِثْلَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَعِيدٌ أَحْفَظُ مِنْ حَمَّادٍ.

دجابربن زيد اوحسن رضي الله عنهما نه دتير شوي روايت په شان روايت منقول دې. امام ابوداؤد فرمائى سعيد دحماد نه په حافظه كښې قوي دې.

بَاب فِي عِتْقِ أُمَّهَاتِ الْأَوْلَادِ

د مالک په وفات باندې ام ولده آزاديږى

[٣٩٥٣](٥)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ خَطَّابِ بْنِ صَالِحٍ مَوْلَى الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ سَلَامَةَ بِنْتِ مَعْقِلٍ امْرَأَةٍ مِنْ خَارِجَةِ قَيْسِ عَيْلَانَ، قَالَتْ: "قَدِمَ بِي عَمِّي

---

(١) په دې مسئله كښې د امام بخاري رحمه الله رائې : امام بخاري رحمه الله دا مسئله داسې بيان كړې ده (باب اذا اسرخوا الرجل او عمه هل يفادي اذا كان شركاء قال الحافظ قيل انه اشار بهذه الترجمة الي تضعيف الحديث الوارد فيمن ملك ذا رحم فهو حر وهو حديث اخرجه اصحاب السنن واستنكره ابن المديني ورجح الترمذي ارساله، وقال البخاري لا يصح وجري الحاكم وابن حزم وابن القطان علي ظاهر الاسناد فصححوه، وقد اخذ بعمومه الحنفية والثوري والاوزاعي والليث وقال داؤد لا يعتق احد علي احد، وذهب الشافعي الي انه لا يعتق علي المرء الا اصوله وفروعه، لا لهذا الدليل بل لادلة اخري وهو مذهب مالك وزاد الاخوة حتي من الام، الي آخر ما بسط في هامش اللامع (من الابواب والتراجم ٣٧/٤)

(٢): تفرد به أبو داود، وانظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٥٨٥، ١٨٤٦٩، ١٨٥٣٤) (ضعيف)

(٣): تفرد به أبو داود، وانظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨٥٣٤، ١٨٤٦٩، ٤٥٨٥) (صحيح)

(٤): تفرد به أبو داود، وانظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨٥٣٤، ١٨٤٦٩، ٤٥٨٥) (صحيح)

(٥): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٨٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٠/٦) (ضعيف الإسناد)

فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَبَاعَنِي مِنَ الْحُبَابِ بْنِ عَمْرٍو، أَخِي أَبِي الْيُسْرِ بْنِ عَمْرٍو، فَوَلَدْتُ لَهُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْحُبَابِ، ثُمَّ هَلَكَ، فَقَالَتِ امْرَأَتُهُ: الْآنَ وَاللَّهِ تُبَاعِينَ فِي دَيْنِهِ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي امْرَأَةٌ مِنْ خَارِجَةِ قَيْسِ عَيْلَانَ قَدِمَ بِي عَمِّي الْمَدِينَةَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَبَاعَنِي مِنَ الْحُبَابِ بْنِ عَمْرٍو أَخِي أَبِي الْيُسْرِ بْنِ عَمْرٍو، فَوَلَدْتُ لَهُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْحُبَابِ، فَقَالَتِ امْرَأَتُهُ: الْآنَ وَاللَّهِ تُبَاعِينَ فِي دَيْنِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ وَلِيُّ الْحُبَابِ؟ قِيلَ: أَخُوهُ أَبُو الْيُسْرِ بْنُ عَمْرٍو، فَبَعَثَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: أَعْتِقُوهَا، فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِرَقِيقٍ قَدِمَ عَلَيَّ فَأْتُونِي أُعَوِّضْكُمْ مِنْهَا، قَالَتْ: فَأَعْتَقُونِي وَقَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَقِيقٌ، فَعَوَّضَهُمْ مِنِّي غُلَامًا".

خطاب بن صالح دخپلې مور سلامه بنت معقل دخارجه قيس بن عيلان قبيلې والا نه روايت کوی فرمائی چه دجاهليت په زمانه کښې زماتره زه په حباب بن عمرو څوك چه دابواليسر بن عمرو ورور ور باندې خرڅه کړه او زمادخيتې نه دحباب يوځوي عبدالرحمن پيداشو اوددينه پس حباب وفات شو دهغه ښځې اووئيل په الله مې دي قسم وي ته به دحباب دقرض په عوض کښې خرڅه کړې شې ، ماچه دا خبره واوريده نودنبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوم او عرض مې اوکړو اې دالله رسوله زه دخارجه قيس بن عيلان قبيلې يوه زنانه يم دجاهليت په زمانه کښې زماتره زه مدينې ته راوستم اوهغه زه دابواليسر بن عمرو په وروړ خارجة بن قيس عيلان قبيلې والا حباب بن عمرو باندې خرڅه کړم اوزمادخيتې نه دحباب يوځوي عبدالرحمن پيداشو ، اوس دحباب ښځه وائی چه ته به دحباب دقرض په بدل کښې خرڅيږې؟ نبی کريم ﷺ تپوس اوکړو ايا دحباب څوك وارث شته؟ خلقو اووئيل هو ، دهغه يو ورور ابواليسر بن عمرموجود دې نبی ﷺ هغه ته جواب اوليږلو چه ته سلامه آزاده کړه اوکله چه تا واوريدل چه ماته غلامان يا وينځې راغلې دي نوبيا ماته راشه بيابه زه تاته ددې مواوضه درکړم سلامه وائی هغوی چه دا خبره واوريده نوزه ئې آزاده کړم ، بياچه کله نبی ﷺ ته غلامان او وينځې راغلې نوهغه زما په معاوضه کښې هغوی ته يوغلام ورکړو.

﴿ عَنْ سَلَامَةَ بِنْتِ مَعْقِلٍ – امْرَأَةٍ مِنْ خَارِجَةِ قَيْسِ عَيْلَانَ – قَالَتْ قَدِمَ بِي عَمِّي فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَبَاعَنِي مِنَ الْحُبَابِ بْنِ عَمْرٍو ....وَاللَّهِ تُبَاعِينَ فِي دَيْنِهِ الخ ﴾

مضمون الحديث :

سلامه بن معقل کومه چه د خارجه قيس عيلان قبيلې يو زنانه ده هغوی وائی چه زه زما ترهٔ په جاهليت کښې راوستلم او د حباب بن عمرو په لاس باندې ئې خرڅ کرم (ممکنه ده چه د اهل جاهليت دا هم عادت وو چه هغوی به ظلما داسې کول) هغه وراندې وائی چه زما د خيټې نه د حباب يو ځوئې پيدا شو عبدالرحمن بن الحباب (اوس دا يعنی سلامه بنت معقل ام الولد شوه د حباب) د دې نه پس دا اوشوه چه حباب هلاک شو نو د هغه ښځې سلامه ته اووې چه والله اوس به ته د خپل مولی حباب په دين باندې خرڅولې شې. سلامه دا ټوله خبره رسول الله ﷺ ته عرض کړه. په دې باندې رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه د حباب ولی څوک دې؟ وې وئيل چه د هغه رور ابواليسر دې، رسول الله ﷺ هغه راطلب کړو او وې فرمائيل سلامه آزاده کړه، بيا چه کله ته واورې چه ماته غلامان راغلی دی بيت المال ته نو ماته راشه زه به د سلامه په عوض کښ تاته غلام درکرم، سلامه وائی چه د رسول الله ﷺ د فرمان نه پس هغوی زه آزاده کړم او بيا چه کله رسول الله ﷺ ته غلامان راغلل نو زما په

عوض کښې ئې هغوی ته يو غلام ورکړو. دا غلام وړکول په حقيقت کښې د ام ولد عوض نه وو بلکه د هغه خلقو د زړه ساتلو دپاره وه.

په مسئلة الباب کښې اختلاف د علماء کرامو:

د ام الولد بيع په ائمه اربعه کښې د چا په نزد هم نه ده جائز. په دې کښې د داؤد ظاهری رحمه الله او د بعض صحابه کرامو لکه علی رضی الله عنه اختلاف دې، امام خطابی رحمه الله فرمائی چه دا اختلاف د بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم په شروع کښې وو روستو پرې د ټولو اتفاق اوشو په عدم جواز د بيع باندې، او د قياس تقاضه هم دا ده چه ام الولد آزاد کيدل پکار دی ځکه چه امهات او دهغوی د اولاد دواړو حکم متفق وی په حريت (آزادوالی) او رق (غلام کيدو) کښې، او دلته د ام ولد چه کوم ځوئې دې د هغې د سيد نه هغه بالاتفاق حر دې لهذا د هغې تقاضه دا ده چه د هغه مور هم حر کيدل پکار دی. (بذل)

[۳۹۵۴](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَيْسٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "بِعْنَا أُمَّهَاتِ الْأَوْلَادِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ، فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ نَهَانَا فَانْتَهَيْنَا.

دجابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه مونږ به دنبی صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې او دابوبکر صديق په دور خلافت کښې ام ولدې خرڅولې بيا چه کله عمرفاروق خليفه شو نوهغه مونږ ددينه منع کړو او مونږ دام ولدې د خرڅولونه منع شو.

﴿عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ بِعْنَا أُمَّهَاتِ الْأَوْلَادِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– وَأَبِي بَكْرٍ فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ نَهَانَا فَانْتَهَيْنَا﴾

جابر رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې هم دغه شان د ابوبکر رضی الله عنه په زمانه کښې د ام ولد بيع کړې ده، بيا چه کله د عمر رضی الله عنه زمانه راغله نو هغوی د دې نه مونږ منع کړو پس مونږ ترې نه منع شو.

(د حديث توجيه)

د دې حديث په باره کښې دا توجيه کړې شوې ده چه دې ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې ډير کم حاجت راغلې دې چه د هغې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته علم اونشو، او دا هم ممکن ده چه بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله عليه وسلم د شروع په زمانه کښې دابيع کړې وی او بيا په آخری عمر کښې رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې نه منع فرمائيلی وی چه د هغې علم صديق اکبر رضی الله عنه ته نه دې شوې يو خو په دې وجه چه د هغوی د خلافت موده کمه وه او دويم په دې وجه چه د دين په امورو کښې مشغول وو، بيا د عمر رضی الله عنه د شروع په زمانه کښې هم خلقو کولو د کوم چه هغوی ته خبر نه وو، بيا چه هغوی ته د دې خبر اورسيدو نو هغوی ترې نه منع اوفرمائيله.

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۸۳۵، ۲۴۷۵)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه /العتق ۲ (۲۵۱۷) (صحيح)

بَابٌ فِي بَيْعِ الْمُدَبَّرِ

د مدبر د خرڅولو بيان

[۳۹۵۵](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطَاءٍ، وَإِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، "أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ غُلَامًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ مِنْهُ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ، فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبِيعَ بِسَبْعِ مِائَةٍ أَوْ بِتِسْعِ مِائَةٍ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه يوسړي خپل يوغلام دخپل مرګ نه پس ازاد کړو اودهغه دپاره ددې غلام نه علاوه نور مال نه وو نونبي عليه السلام ددې غلام دخرڅولو حکم اوکړو نو په اوه سوه ياپه نهه سوه باندې خرڅ شو.

﴿عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ رَجُلاً أَعْتَقَ غُلَامًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ مِنْهُ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ الخ﴾

مضمون حديث:

د جابر رضي الله عنه نه روايت دي چه يو سړى (چه د هغه نوم ابومذکور وو) خپل غلام آزاد کړو د ځان نه روستو، (يعنى دا ئې اووې چه زما د مرګ نه پس ته آزاد ئې) او حال دا چه د دې مولى سره د دې غلام نه علاوه نور مال نه وو، رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې غلام د خرڅولو حکم ورکړو، پس دې په اووه سوه يا نهه سوه درهمو باندې خرڅ کړې شو، او د دې نه په روستو روايت کښې کوم چه مفصل دې دا زيادت دې ﴿فَدَعَا بِهِ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ « مَنْ يَشْتَرِيهِ ». فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ النَّحَّامِ (٢) بِثَمَانِمِائَةِ دِرْهَمٍ﴾..... يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم دا غلام په خپله خرڅ کړو کوم چه نعيم بن عبدالله بن النحام په اته سوه درهمه باندې واخستلو او هغه پيسې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه سړى ته حواله کړې او وې فرمائيل: چه کله په تاسو کښې يو سړې غريب وى نو هغه له د انفاق ابتداء د خپل نفس نه کول پکار دى او د هغې نه پس چه څه بچ شى هغه په خپل خاندان باندې، او که نور څه بچ شى نو په نورو خپلوانو باندې او که نور څه بچ شى نو بيا دې هغه يو خوا بل خوا چرته چه غوارى خرچ کړى.

[۳۹۵۶](٣) حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ بَكْرٍ، أَخْبَرَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ، حَدَّثَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بِهَذَا، زَادَ وَقَالَ: يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنْتَ أَحَقُّ بِثَمَنِهِ وَاللَّهُ أَغْنَى عَنْهُ.

دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه دتير شوي روايت په شان روايت منقول دي مګرپه دې کښې دا اضافه ده چه نبي عليه السلام اوفرمائيل ته ددې د غلام قيمت اخستلو زيات حقدارئې اوالله تعالى ددينه مستغني (بې پرواه) دې.

---

(١): صحيح البخاري/البيوع ٥٩ (٢١٤١)، الاستقراض ١٦ (٢٤٠٣)، الخصومات ٣ (٢٤١٥)، العتق ٩ (٢٥٣٤)، كفارات الأيمان ٧ (٦٧١٦)، الإكراه ٤ (٦٩٤٧)، الأحكام ٣٢ (٧١٨٦)، سنن النسائي/الزكاة ٦٠ (٢٥٤٧)، سنن ابن ماجه/العتق ١ (٢٥١٢)، مسند احمد (٣/٣٠٥، ٣٦٨، ٣٦٩، ٣٧٠، ٣٧١، ٣٩٠)، سنن الدارمي/البيوع ٣٧ (٢٦١٥) (تحفة الأشراف: ٢٤١٦، ٢٤٤٣)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الزكاة ١٣ (٩٩٧)، الأيمان ١٣ (٩٩٧)، سنن الترمذي/البيوع ١١ (١٢١٩) (صحيح)

(٢) قيل: الصواب نعيم بن عبدالله النحام اذ النحام صفة لعبدالله لا لابيه)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٤٢٥)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبرى (٥٠٠١) (صحيح)

[۳۹۵۷](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ، يُقَالُ لَهُ: أَبُو مَذْكُورٍ أَعْتَقَ غُلَامًا لَهُ يُقَالُ لَهُ: يَعْقُوبُ، عَنْ دُبُرٍ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ، فَدَعَا بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "مَنْ يَشْتَرِيهِ فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ النَّحَّامِ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ، فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ فَقِيرًا، فَلْيَبْدَأْ بِنَفْسِهِ فَإِنْ كَانَ فِيهَا فَضْلٌ فَعَلَى عِيَالِهِ فَإِنْ كَانَ فِيهَا فَضْلٌ فَعَلَى ذِي قَرَابَتِهِ، أَوْ قَالَ: عَلَى ذِي رَحِمِهِ فَإِنْ كَانَ فَضْلًا فَهٰهُنَا وَهٰهُنَا".

دجابر بن عبدالله ﷺ نه روایت دي فرمائی چه په انصاروکښې یو کس چه ابومذکوربه ورته وئیلي شو هغه دیعقوب په نوم باندې خپل یوغلام آزاد کړواودغه کس ددې غلام نه علاوه نورڅه مال نه وونونبی ﷺ داغلام را اوغوښتو او اوئې فرمائیل څوك به داغلام واخلي؟نوده لره نعیم بن عبدالله بن نحام په اته سوه درهمه وأخستواونبی ﷺ دغه دراهم دغه أنصاری ته ورکړی او او فرمایل کله چه په تاسوکښې څه حتاجني وه نو ددې پیسوخرج کول دخپل ځان نه شروع کول پکاردی. بیاچه کوي دخپل ځان نه زیاتي شي هغه په خپل اهل وعیال باندې خرچ کول پکاردي اوکوي چي ددې نه هم سوا شي نوهغه په خپل خاندان باندې خرچ کړه دراري شك دي چه نبی ﷺ ذي رحم اوفرمائیل اوکه نه اوکوي چه درشته دارونه باقي شي نوهغه داسې اوداسې خرچ کړه.

د دې حدیث نه معلومیږی چه د دې مدبر بیع د هغه مولی په حیات کښې شوې وه، او هم دا صحیح ده، او د ترمذی په روایت کښې چه په هغې کښې ددې اختلاف دې چه هغه سړې د مدبر جوړولو نه پس وفات شوې وو او دا بیع د مولی د مرګ نه روستو اوشوه وهم دې.

الکلام علی الحدیث من حیث الفقه و ذکر مذاهب الائمه:

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه د بیع مدبر مسئله مختلف فیه ده، د امام شافعی او امام احمد په نزد د هغه بیع مطلقا جائز ده، او د احنافو په نزد د مدبر مطلق بیع خو ناجائز ده او د مدبر مقید جائز ده او د امام مالک رحمه الله مذهب دا دې چه که د مدبر مولی د تدبیر نه مخکښې مدیون وی نو بیا د داسې مدبر بیع جائز ده، د مدبر مقید مطلب دا دې چه مولی خپل غلام ته داسې اوائی چه که زه په فلانئ بیماریئ کښې مړ شوم یا دومره موده کښې مړ شوم نو ته آزاد ئې، د داسې مدبر بیع زمونږ په نزد جائز ده، د احنافو په نزد د تدبیر مطلق حکم دا دې چه د هغې په وجه باندې غلام د مولی په حیات کښې صرف مستحق العتق کیږی په دې وجه د هغه بیع جائز نه ده او د مولی د مرګ نه پس د هغه د عتق نفاذ کولې شی، یعنی د هغې حقیقت موندلې شی، او په تدبیر مقید کښې د مولی په ژوند باندې هغه مستحق العتق نه وی ځکه چه نه وی معلومه چه هغه به په دې مرض کښې مړ شی یا نه، لهذا دا شرط د عدم او د وجود دواړو احتمال لری لهذا دا تعلیق (تدبیر) به فی الحال سبب نه وی د حریت، خو که مولی هم په دې مرض کښې وفات شو د کوم چه قید لګولې شو نو اوس چونکه د سبب حریت تحقق اوشو په دې وجه به هغه مدبر آزاد شی، خو د ثلث مال نه به

(١): صحیح مسلم/ الزکاة ١٣ (٩٩٧)، سنن النسائي/ الزکاة ٦٠ (٥٤٧)، (تحفة الأشراف: ٢٦٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٩،٣٠١/٣) (صحیح)

ازادیږي ځنګه چه په وصیت کښې وی او که مولی د دې مرض نه علاوه په بل څه مرض کښې وفات شو نو په دې صورت کښې به حریت نه مونډلې کیږي د انتفاء د شرط د وجې نه، او د امام شافعي رحمه الله په نزد د تدبیر د وجې نه که هغه مقید وی او که مطلق عبد ته حق د حریت نه حاصلیږي هم په دې وجه د هغوی په نزد د هغه بیع جائز ده، د احنافو دلیل د ابن عمر رضی الله عنهما دا حدیث مرفوع دې: ﴿المدبر لا یباع ولا یوهب وهو حر من ثلث المال اخرجه الدارقطنی﴾ نور هم د ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه دا حدیث روایت کړې شوې دې چه د هغې په سندونو باندې دار قطنی کلام هم کړې دې، وروی عن عمر وعثمان وزید بن ثابت وعبدالله بن مسعود وعبدالله بن عباس وعبدالله بن عمر رضی الله عنهم مثل مذهب الحنفیة وهو قول جماعة من التابعین مثل شریح ومسروق وسعید بن المسیب وجماعة ذکرو اسماءهم صاحب البدائع،حتی قال ابوحنیفة لولا قول هولاء الاجلة لقلت بجوازبیع المدبر لما دل علیه من النظر کذا فی البدائع (ملخصا من البذل) ددې نه پس په بذل کښې د علامه زیلعی نه د دې حدیث دوه جوابونه نقل کړې شوې دی یو دا چه مونږ دا په مقید مدبر باندې محمول کوو او د هغه بیع زمونږ په نزد هم جائز ده او دویم جواب دا چه په دې حدیث کښې د بیع نه مراد بیع الرقبة نه ده بلکه بیع الخدمت ده یعنی دې غلام لره د خدمت دپاره په اجاره باندې ورکول لکه چه د دارقطنی په یو روایت کښې ددې تصریح هم ده چه د هغې په آخر کښې دی ﴿قال ابوجعفر شهدت الحدیث من جابر انما اذن فی بیع خدمته﴾ الی آخرما فی البذل.... والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجه مختصرا ومطولا، قاله المنذری...

بَابٌ فِيمَنْ أَعْتَقَ عَبِيدًا لَهُ لَمْ يَبْلُغْهُمُ الثُّلُثُ

که چرې څوک خپل غلامان آزاد کړي او دغه غلامان د دریمې حصې د مال نه زیات وی نو څه حکم دې؟

[٣٩٥٨](١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْمُهَلَّبِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، "أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ سِتَّةَ أَعْبُدٍ عِنْدَ مَوْتِهِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُمْ، فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ: قَوْلًا شَدِيدًا، ثُمَّ دَعَاهُمْ، فَجَزَّأَهُمْ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ، فَأَقْرَعَ بَيْنَهُمْ، فَأَعْتَقَ اثْنَيْنِ وَأَرَقَّ أَرْبَعَةً".

دعمران بن حصین نه روایت دې فرمائي چه یوسړي دمرګ په وخت کښې شپږ غلامان ازاد کړل اوددوینه علاوه دده نور مال نه وونبی علیه السلام ته ددې خبر ورسیدو ، نبی علیه السلام ورته سختې خبرې وکړې اوبیا دا غلامان راوغوښتل اوددوی ئې درې تقسیمه کړل اوددوی په مینځ کښې ئې قرع اندازې وکړه نودوه ئې ددوینه آزاد کړل اوباقی څلورئې دغلامۍ په حال پریخودل.

﴿عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَجُلاً أَعْتَقَ سِتَّةَ أَعْبُدٍ عِنْدَ مَوْتِهِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ الخ﴾

سیدنا عمران بن حصین رضی الله عنه فرمائی چه یو سړی په خپل مرض الموت کښې شپږ غلامان آزاد کړی کوم چه د هغه کل مال وو ، د هغې نه علاوه هغه سره هیڅ نه وو، چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا مسئله راغله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه سړی په باره کښې ډیر سخت وعید

(١): صحیح مسلم/الحدود ١٢ (١٦٦٨)، سنن الترمذي/الأحکام ٢٧ (١٣٦٤)، سنن النسائي/الجنائز ٦٥ (١٩٦٠)، سنن ابن ماجه/الأحکام ٢٠ (٢٣٤٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٢٦، ٤٣١، ٤٣٨، ٤٤٠) (صحیح)

اوفرمائیلو (وعید کوم چه په وړاندې روایت کښې ذکر دې وهو قوله ﷺ لو شهدته قبل ان یدفن لم یدفن فی مقابر المسلمین..... رسول الله ﷺ دا ټول غلامان راطلب کړل او هغوی ئې دوه دوه کولو سره درې ځایه کړل، د دې نه پس ئې قرعه اندازی اوکړه چه په هغې کښې د دوه کسانو نوم راوتلو او باقی څلور غلامان ئې اوساتل، ځکه چه په مرض الموت کښې انسان د خپل مال په صرف ثلث کښې تصرف کولې شي.

په حدیث الباب کښې د فقهاء کرامو رائې :

هم د دې قائل دی ائمه ثلاث چه په داسې صورت کښې دې هم داسې اوکړې شی، او د احنافو په نزد به په دې شپږو کښې د هر غلام یو ثلث آزاد وی د مالک د طرف نه او دوه ثلث به د غلام په قیمت کښې سعایة ساتلې شی د هر غلام نه، د احنافو په نزد ځنګه چه مشهور ده قرعه حجت ملزمه نه ده، د دې حجت کیدل منسوخ شوې دی، بنسخ القمار، او جمهور کوم چه د قرعه د حجیت قائل دی د هغوی عمل هم په دې حدیث باندې دې.

والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[٣٩٥٩]([1]) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ الْمُخْتَارِ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ وَلَمْ يَقُلْ، فَقَالَ لَهُ: قَوْلًا شَدِيدًا وَمَعْنَاهُ وَلَمْ يَقُلْ، فَقَالَ لَهُ: قَوْلًا شَدِيدًا.

خالد دابوقلابه نه دایوب د روایت په شان روایت دسند او معنی په لحاظ سره کړې دې او په دې روایت کښې داالفاظ چه فقال له قولا شدیدا ،، سختې خبرې ئې ورته اوکړې، نشته.

[٣٩٦٠]([2]) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ هُوَ الطَّحَّانُ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي زَيْدٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ بِمَعْنَاهُ، وَقَالَ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ شَهِدْتُهُ قَبْلَ أَنْ يُدْفَنَ لَمْ يُدْفَنْ فِي مَقَابِرِ الْمُسْلِمِينَ.

دابوزیده نه روایت دې فرمائی چه په انصارو کښې یو کس خپل شپږ غلامان ازاد کړل اوبیا ئې همدا حدیث بیان کړو (تیرشوې حدیث) نونبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې زه دده جنازې ته د دفن کولونه مخکښې حاضرشوې وې نودې به دمسلمانانو په مقبره کښې نه وو دفن شوې.

[٣٩٦١]([3]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَتِيقٍ، وَأَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، "أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ سِتَّةَ أَعْبُدٍ عِنْدَ مَوْتِهِ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُمْ، فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَقْرَعَ بَيْنَهُمْ، فَأَعْتَقَ اثْنَيْنِ وَأَرَقَّ أَرْبَعَةً".

دعمران بن حصین نه روایت دې فرمائی چه یوکس دخپل مرګ په وخت کښې خپل شپږ غلامان آزاد کړل اودده دپاره ددوینه علاوه نور مال نه وو، پس نبی علیه السلام ته ددې خبرې خبر ورسیدو نونبی علیه السلام به دوی کښې قرع اندازې وکړه اودوه ئې ددوینه آزاد کړل اوباقی څلورئې دغلامۍ په حال کښې پریخودل

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٨٨٠) (صحيح)
[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٦٩٥) (صحيح)
[3]): انظر حديث رقم: (٣٩٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٣٩) (صحيح)

باب فِيمَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ

باب: څوک چه داسې غلام آزاد کړی چه هغه د مال مالک وی

[۳۹۶۲] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ لَهِيعَةَ، وَاللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُ الْعَبْدِ لَهُ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَهُ السَّيِّدُ".

دعبدالله بن عمرونه روایت دې فرمائی چه رسول کریم فرمائیلي دي څوک چه مالدار غلام آزاد کړي نو دمال حقدار مالک دې مرداچه مالک شرط مقرر کړې وي.

﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُ الْعَبْدِ لَهُ إِلاَّ أَنْ يَشْتَرِطَهُ السَّيِّدُ » ﴾

یعنی کوم سړی چه خپل غلام آزاد کړو په داسې حال کښې چه د دې غلام سره څه مال وو نو دا مال به د هم هغه عبد وی، مګر دا چه مولی د اعتاق په وخت شرط او لګوی.

په مسئلة الباب کښې د ائمه کرامو رائې:

د امام مالک رحمه الله مسلک هم دا دې، او د جمهورو په نزد به مطلقا د سید دپاره وی، یعنی بغیر د شرط نه....... جمهور د دې حدیث دا جواب ورکوی چه د رسول الله ﷺ دا فرمان په طریقه د استحباب دې یعنی غوره دې چه هغه سره ئې پریږدی، او دویم جواب دا ورکړې شوې دې چه دا حدیث داسې محفوظ نه دې بلکه اصل حدیث د بیع سره متعلق دې چه د هغې الفاظ دا دی کما تقدم فی کتاب البیوع: وکذا هو فی الصحیحین ﴿من باع عبدا وله مال فما له للبائع الا ان یشترط المبتاع ﴾ وهذا الجواب اختاره الحافظ ابن القیم رحمه الله وبسط الکلام فیه، واما الحدیث بلفظ من اعتق عبدا وله مال فلم یذکره هکذا الا المصنف والنسائی کما قال ابن القیم رحمه الله.

باب فِي عِتْقِ وَلَدِ الزِّنَا

د غلام د آزادولو د ثواب بیان

[۳۹۶۳] (²) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَلَدُ الزِّنَا شَرُّ الثَّلَاثَةِ"، وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: لَأَنْ أُمَتِّعَ بِسَوْطٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ وَلَدَ زِنْيَةٍ.

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دزنانه پیداشو ماشوم په درې واړو کښې ډیربد دې ، ابوهریره رضی الله عنه اووئیل که چرې ماته دالله په لاره کښې یوه کوړه راکړې شي نو هغه ددینه بهتره ده چه دزنا نه پیداشوې ماشوم آزاد کړم.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « وَلَدُ الزِّنَا شَرُّ الثَّلاَثَةِ ». وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ لأَنْ أُمَتِّعَ بِسَوْطٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ وَلَدَ زِنْيَةٍ ﴾

¹): سنن ابن ماجه /العتق ۸ (۲۵۲۹)، (تحفة الأشراف: ۷۶۰۴) (صحیح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۶۰۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۱۱) (صحیح)

شرح الحدیث :

رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو د ولد الزنا په باره کښ چه هغه په درې وارو کښ د ټولو نه بدتر دې، د درې وارو نه مراد زاني زانیه او دریم خپله ولد الزنا دې خو د ولد الزنا خو په زنا کښ هیڅ دخل نشته په دې وجه دا به وئیلې شي چه د رسول الله ﷺ دا ارشاد چه هغه د ټولو نه بدتر دې په اعتبار د اصل او نسب سره چه دې غیر ثابت النسب دې او هغه دواړه اګر که عاصي او نافرمانه دي خو دي خو ثابت النسب، او دا به وئیلې شي چه د رسول الله ﷺ دا فرمان د یو مخصوص ولد الزنا په باره کښ دې نه مطلقا ، پس په مستدرک کښ یو روایت دې چه عائشي رضي الله عنها ته دا خبره اورسیده چه ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه دا حدیث نقل کوی چه ﴿ ولد الزنا شر الثلاثة ﴾ نو په دې باندې ام المومنین رضي الله عنها اوفرمائیل چه یو سړې کوم چه د منافقانو نه وو او رسول الله ﷺ ته به ئې تکلیف ورکولو ، رسول الله ﷺ د صحابه کرامو مخکښ د هغه شکایت اوفرمائیلو نو په دې باندې چا عرض اوکړو: صرف هم دا نه بلکه هغه ولد الزنا هم دې نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ﴿ هو شر الثلاثة ﴾ بیا عائشي رضي الله عنها په خپل تائید کښ دا آیت تلاوت اوفرمائیلو. والله تعالى يقول ﴿ ولا تزر وازرة وزر اخرى ﴾ یعني په ولد الزنا باندې چه د شر الثلاثة کوم حکم رسول الله ﷺ لګولې دې هغه د ولد الزنا کیدو د وجې نه نه دې بلکه د هغه د نفاق او دایذاء درسول ﷺ د وجې نه دې. او یو جواب د دې دا دې چه په دې روایت کښ تصحیف واقع شوې دې اصل لفظ د حدیث دا نه دې بلکه داسې دې ﴿ هو شر الثلاثة ﴾ یعني د یو زاني په باره کښ ئې داسې اوفرمائیل چه هغه داسې دې، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي د ولد الزنا په باره کښ : ﴿ هو خير الثلاثة ﴾ (خطابي) ځکه چه د زنا په معصیت کښ د هغه هیڅ دخل نشته. او یو توجیه د حضرت ګنګوهي په تقریر کښ ده چه ممکنه ده د ولد الزنا نه مرا دهغه سړې وی د چا نه چه په کثرت سره زنا کیږي نو داسې اوګرځیدو لکه ولد للزنا ، حضرت چه کومه توجیه فرمائیلې ده هغه د امام طحاوی رحمه الله نه نقل ده لکه چه په حاشیه د بذل کښ دی : ﴿ قال الطحاوی : ولد الزنا الملازم للزنا كما يقال ابن السبيل للملازم لها وولد الليل الذى لا يهاب السرقة (په المعجم الكبير للطبرانی ۱۰/۲۸۵ کښ مې دا روایت د نظر نه تیر شو عن ابن عباس ولد الزنا شر الثلاثة اذا عمل بعمل ابويه.. یعني ولد الزنا شر الثلاثة هغه وخت کښ دې چه کله هغه هم هغه حرکت کوی کوم چه د هغه مور پلار کړې وو ، په دې صورت کښ به په حدیث باندې هیڅ اشکال نه وی ۱۲منه)

او هم په دې حدیث کښ وړاندې دی، سیدنا ابوهریره رضي الله عنه فرمائي چه والله دا خبره چه زه یو سور لړه کوم چه جهاد له رواں وی هغه ته کوره ورکولو سره فائده ورکړم دا ماته زیاته غوره ده چه زه یو داسې غلام آزاد کړم چه هغه ولد الزنا وی. د دې نه معلومه شوه چه د ولد الزنا د اعتاق ثواب ډیر کم دې. په مصنف د عبدالرزاق ۹/۱۸ کښ په دې باره کښ مختلف روایاتونه ذکر دی د عمر رضي الله عنه یو اثر خو هم په دې معنی دې : ولفظه : ان عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال : لان احمل على نعلين فى سبيل الله احب الى من ان اعتق ولد الزنا..... خو د عمر رضي الله عنه نه یو اثر په دې

کښې دا روایت دې چه ﴿ انه قال فی اولاد الزناء... اعتقوهم واحسنوا الیهم ﴾ او هم دغه شان د عائشې ﷺ نه چا د اولاد الزنا د اعتاق په باره کښې سوال اوکړو فقالت اعتقوهم واحسنوا الیهم....د ولد زنیه مقابل ته ولد رشده وائی. والحدیث اخرجه النسائی.

بَابٌ فِي ثَوَابِ الْعِتْقِ

باب: دغلام آزادولو ثواب

[۳۹۶۴]()حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ مُحَمَّدٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا ضَمْرَةُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ أَبِي عَبْلَةَ، عَنْ الْغَرِيفِ بْنِ الدَّيْلَمِيِّ، قَالَ: أَتَيْنَا وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ، فَقُلْنَا لَهُ: حَدِّثْنَا حَدِيثًا لَيْسَ فِيهِ زِيَادَةٌ وَلَا نُقْصَانٌ، فَغَضِبَ، وَقَالَ: إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَقْرَأُ وَمُصْحَفُهُ مُعَلَّقٌ فِي بَيْتِهِ فَيَزِيدُ وَيَنْقُصُ، قُلْنَا: إِنَّمَا أَرَدْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَاحِبٍ لَنَا أَوْجَبَ يَعْنِي النَّارَ بِالْقَتْلِ، فَقَالَ: "أَعْتِقُوا عَنْهُ يُعْتِقِ اللَّهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ".

دعریف بن دیلمی ﷺ نه روایت دې فرمائی چه مونږ واثله بن الاسقع ته ورغلو چه مونږ ته حدیث بیان کړې داسې حدیث چه څه کمې اوزیاتې په کښې نه وي واثله چه دا واوریدل نوپه غصه شو او وئې وئیل په تاسوکښې هریوقران لولئ او په کور کښې مو قران موجود دې اوبیاپه کښې کمول اوزیاتول کوي (یعنی په غلطئ سره، مطلب دا دې چه کمې زیاتی کیدل په نقل د روایت کښې په غلطئ سره ممکن دي اودا څه جرم نه دې) نومونږ اووئیل مونږ ستانه د یوداسې حدیث داوریدلو اراده کړیوه کوم چه تادنبی ﷺ نه اوریدلي وي نو واثله مونږ ته اووئیل مونږ دخپل یوملګري په باره کښې دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوچاچه پخپل ځان باندې پخپله جهنم لازي کړې وو دقتل کولو په وجه ، نبی ﷺ اوفرمائیل دده دطرف نه غلام آزاد کړئ الله تعالی به ددې غلام دهر بند په بدل کښې دده یو یو اندام دجهنم داور نه آزاد کړي.

﴿ أَتَيْنَا وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ فَقُلْنَا لَهُ حَدِّثْنَا حَدِيثًا لَيْسَ فِيهِ زِيَادَةٌ وَلَا نُقْصَانٌ فَغَضِبَ الخ ﴾

غریف بن الدیلمی فرمائی چه مونږ یو ځل واثله بن الاسقع ﷺ ته راغلو او مونږ هغه ته درخواست اوکړو چه مونږ ته یو داسې حدیث واوروه بالکل صحیح چه هغې کښې زیادت او کمې نه وی، نو هغوی په دې خبره باندې غصه شو او وې فرمائیل چه ستاسو خو خپله دا حال دې چه قرآن لولئ هغه ستاسو مخې ته پروت دې بیا هم تاسو په هغې کښې کمې زیادت کوئ، یعنی یو آیت درنه وراندې روستو شی یا هیر شی، مونږ د هغوی د غصې د یخولو دپاره اووې چه زمونږ مقصد دا دې چه هغه حدیث داسې وی کوم چه تاسو د رسول الله ﷺ نه براه راست اوریدلې وی نو په دې باندې هغوی حدیث واورولو چه یو ځل مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو د خپل یو ملګری په حق کښې چا چه ناحق قتل کولو سره د ځان دپاره جهنم واجب کړې وو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د هغه د طرف نه یو غلام آزاد کړئ چه د هغې په بدل کښې به الله پاک د قاتل هر اندام د دې ازاد کړې شوې غلام د هر اندام په بدل کښې د جهنم نه آزاد کړی.

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۴۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۹۰/۳، ۱۰۷/۴) (ضعیف)

حضرت په بذل کښې په دې باندې ليکلې دی چه دلته به دا منو چه د رسول اللهﷺ دا ارشاد په کوم کښې چه د اعتاق فضيلت ذکر دې دا د موجب قتل د ادا نه پس وه (يعنی د ديت وغيره د ادا کولو نه پس) ګينې ښکاره خبره ده چه صرف په غلام ازادولو سره د مقتول د ولی حق څنګه ادا کيدلې شی او يا به دا حديث محمول کولې شی په دې باندې چه هغه سړی خودکشی کړې وه د هغه په حق کښې رسول اللهﷺ دا حديث اوفرمائيلو.

حدود زاجرات دی نه کفارات:

او بيا وړاندې فرمائی چه د دې نه دا هم معلومه شوه چه اقامت حد د تکفير جنايت دپاره کافی نه دې، ګينې د اعتاق رقبه څه حاجت وو اهـ.... مسئله مشهوره ده چه حدود کفارات دی يا صرف زاجرات د احنافو په نزد زاجرات دی، وهذ الحديث يوئدهم... والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری

بَاب أَيِّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ

بابـ کوم قسم غلام آزادول بهتر دی؟

[٣٩٦٥]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِيِّ، عَنْ أَبِي نَجِيحٍ السُّلَمِيِّ، قَالَ: "حَاصَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَصْرِ الطَّائِفِ، قَالَ مُعَاذٌ: سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ بِقَصْرِ الطَّائِفِ بِحِصْنِ الطَّائِفِ كُلَّ ذَلِكَ، فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ بَلَغَ بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ فَلَهُ دَرَجَةٌ"، وَسَاقَ الْحَدِيثَ. وَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "أَيُّمَا رَجُلٍ مُسْلِمٍ أَعْتَقَ رَجُلًا مُسْلِمًا فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ جَاعِلٌ وِقَاءَ كُلِّ عَظْمٍ مِنْ عِظَامِهِ عَظْمًا مِنْ عِظَامِ مُحَرَّرِهِ مِنَ النَّارِ، وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ أَعْتَقَتِ امْرَأَةً مُسْلِمَةً فَإِنَّ اللَّهَ جَاعِلٌ وِقَاءَ كُلِّ عَظْمٍ مِنْ عِظَامِهَا عَظْمًا مِنْ عِظَامِ مُحَرَّرِهَا مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

دابونجيح السلمی رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه مونږ دنبی عليه السلام په ملګرتيا کښې دطائف دقلعې محاصره وکړه اوکه داسې ئې ووئيل چه دطائف محل مومحاصره کړو، معاذ رضي الله عنه وائی ما دقلعه طائف په ځائې باندې دخپل پلار نه قصر طائف اوريدلې دې اومادنبی عليه السلام نه اوريدلي وو چه فرمائيل ئې چاچه دالله په لاره کښې يو غشې اوويشو نوده ته يوه درجه حاصله شوه اوحديث ئې تر آخره بيان کړو اومدنبی عليه السلام نه داهم اوريدلی دی چه فرمائيل ئې څوک چه يو مسلمان غلام آزاد کړې نوالله تعالی، ددغه غلام دهر بند په بدل کښې دده هرهډوکې ددوزخ داور نه آزادوی ، اوکومه زنانه چه بله مسلمانه زنانه آزاده کړې نوالله تعالی ددغې ښځې د هر هډوکی په بدل کښې د آزادونکي ښځې هر هډوکې دقيامت په ورځ به دجهنم د أورنه محفوظ کړي.

﴿ حَاصَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِقَصْرِ الطَّائِفِ - قَالَ مُعَاذٌ سَمِعْتُ أَبِى يَقُولُ بِقَصْرِ الطَّائِفِ بِحِصْنِ الطَّائِفِ كُلُّ ذَلِكَ ﴾

ابو نجيح سلمی رضي الله عنه فرمائی چه مونږ د رسول اللهﷺ سره د قصر طائف محاصره

[1]: سنن الترمذي/فضائل الجهاد ١١ (١٦٣٨)، سنن النسائي/الجهاد ٢٦ (٣١٤٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٧٦٨)، وقد أخرجه: مسند أحمد (١١٣/٤، ٣٨٤، ٣٨٦) (صحيح)

اوکړه. «د دې نه پس معاذ د حديث راوي وائي چه ما د خپل پلار هشام نه دواړه الفاظ اوريدلې دی ﴿ بقصر الطائف ﴾ هم او ﴿ بحصن الطائف ﴾ هم يعنی کله يو او کله بل..... او نجيح فرمائی چه د دې محاصرې په وخت مونږ د رسول الله ﷺ نه دوه احاديث واوريدل يو دا چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه کوم سړې په جهاد کښې يو غشې هم اوچلوی د هغه دپاره به په جنت کښې يو درجه وی. وساق الحديث...... د مصنف رحمه الله دا مقوله په دې خبره باندې دليل دې چه د دې نه پس په حديث کښې نور هم څه وو کوم چه هغوی اختصارا حذف کړل، دا محذوف حضرت په بذل کښې د نسائی په حوالې سره ليکلې دی : ﴿ فقال له عبدالرحمن بن النحام ما الدرجة يا رسول الله ﷺ؟ قال انها ليست بعتبة امک... ما بين الدرجتين مائة عام ﴾ او دويم حديث چه کوم دې هغه د اعتاق رقبه د فضيلت په باره کښې دې چه د هغې مضمون هم هغه دې کوم چه پورته ذکر شو.

والحديث اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[٣٩٦٦](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنِي سُلَيْمُ بْنُ عَامِرٍ، عَنْ شُرَحْبِيلَ بْنِ السِّمْطِ، أَنَّهُ قَالَ لِعَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ: حَدِّثْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مُؤْمِنَةً كَانَتْ فِدَاءَهُ مِنَ النَّارِ".

د شرحبيل بن السمط رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ما عمرو بن عبسه ته اووئيل مونږ ته داسې حديث بيان کړه کوم چه تا دنبی عليه السلام نه اوريدلې وي هغه اووئيل ما دنبی عليه السلام نه اوريدلی دی چه فرمائيل ئې چاچه يومسلمان څت آزاد کړو نودا به دده دپاره دجهنم نه دازاديدو سبب جوړ شي.

[٣٩٦٧](٢)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ شُرَحْبِيلَ بْنِ السِّمْطِ، أَنَّهُ قَالَ: لِكَعْبِ بْنِ مُرَّةَ أَوْ مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ: حَدِّثْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ مَعْنَى مُعَاذٍ إِلَى قَوْلِهِ: "وَأَيُّمَا امْرِئٍ أَعْتَقَ مُسْلِمًا، وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ أَعْتَقَتِ امْرَأَةً مُسْلِمَةً، زَادَ وَأَيُّمَا رَجُلٍ أَعْتَقَ امْرَأَتَيْنِ مُسْلِمَتَيْنِ، إِلَّا كَانَتَا فِكَاكَهُ مِنَ النَّارِ، يُجْزِءُ مَكَانَ كُلِّ عَظْمَيْنِ مِنْهُمَا عَظْمٌ مِنْ عِظَامِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: سَالِمٌ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ شُرَحْبِيلَ، مَاتَ شُرَحْبِيلُ بِصِفِّينَ.

دشرحبيل بن السمط رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ما کعب بن مره يا مره بن کعب ته اووئيل مونږ ته داسې حديث بيان کړه کوم چه تا دنبی عليه السلام نه اوريدلې وي نو هغه دمعاذ دحديث په شان حديث بيان کړو تردې چه دائې اووئيل چه نبی عليه السلام فرمائيلې دي: څوک نارينه چه د يو مسلمان نارينه څت آزاد کړي ياکومه زنانه بله مسلمانه زنانه آزاده کړي نودقيامت په ورځ به ددې هريوهډوکي دهغې هر يو هډوکې دجهنم داور نه بچ کونکې وي، ليکن په دې حديث کښې دا اضافه ده چه کوم نارينه دوه مسلماناني زنانه آزادي کړي نوهغوی به ده لره ددوزخ نه آزاد کړي اوددې دوه زنانوو دهر دوو دوو هډوکوپه بدل کښې به دازادونکي

(١): سنن الترمذي/فضائل الجهاد ٩ (١٦٣٤)، سنن النسائي/الجهاد ٢٦ (٣١٤٤)، (تحفة الأشراف: ١٠٧٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٢/٤، ٣٨٦) (صحيح)

(٢): سنن ابن ماجه/الأحكام (٢٥٢٢)، (تحفة الأشراف: ١١١٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٣٤/٤، ٢٣٥، ٣٢١) (صحيح)

یو یو هډوکي آزاد کړې شي.

﴿فَذَكَرَ مَعْنَى مُعَاذٍ إِلَى قَوْلِهِ « وَأَيُّمَا امْرِئٍ أَعْتَقَ مُسْلِمًا وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ أَعْتَقَتِ امْرَأَةً مُسْلِمَةً ». زَادَ « وَأَيُّمَا رَجُلٍ أَعْتَقَ امْرَأَتَيْنِ مُسْلِمَتَيْنِ إِلاَّ كَانَتَا فِكَاكَهُ مِنَ النَّارِ ﴾

یعنی کوم سړې چه یو مسلمان غلام آزاد کړی، او هم دغه شان چه کومه زنانه یو مسلمانه وینځه ازاده کړی.... او د دې نه پس دی چه کوم سړې دوه مسلمانانې وینځې آزادې کړی، یعنی د دې ټولو جزاء د آزادونکې د دوزخ نه خلاصیدل دی.

اعتاق امه افضل دې یا اعتاق عبد؟:

د دې مجموعه د حدیث نه معلومه شوه چه د جهنم نه د خلاصیدو دپاره د یو سړی یو غلام آزادول، او د یو زنانه یو وینځه آزادول کافی دی، او کوم سړې چه دوه وینځې آزادې کړی د هغه حکم هم دا دې، د دې نه معلومه شوه چه اعتاق امتین قائم مقام د اعتاق عبد واحد دې، لهذا غلام لره د آزادولو فضیلت د وینځې د آزادولو نه دوچند دې، او بعض علماء کرام دې طرف ته تلې دی چه د وینځې آزادول زیات افضل دی په نسبت د غلام آزادولو، او د هغې دلیل هغوی دا بیان کړې دې چه د وینځې حریت مستلزم وی د هغې نه دپیدا کیدونکی اولاد حریت ته که وادۀ ئې د حر سره شوې وی او که د عبد سره، او د سړی حر کیدل په هر حال کښې د اولاد حریت لره مستلزم نه دی بلکه صرف په یو صورت کښې یعنی په کوم صورت کښې چه د هغه په نکاح کښې حره وی، خو صرف دومره خبره د دې صریح حدیث د معارضې دپاره کافی نه ده، (وایضا عتق الانثی ربما افضی فی الغالب الی ضیاعها لعدم قدرتها علی التکسب بخلاف الذکر.... تحفة الاحوذی جلد ۵ الایمان والنذور) والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي فَضْلِ الْعِتْقِ فِي الصِّحَّةِ

د صحت په حالت کښې د غلام یا د وینځې د آزادولو د فضیلت بیان

[۳۹۶۸]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي حَبِيبَةَ الطَّائِيِّ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَثَلُ الَّذِي يُعْتِقُ عِنْدَ الْمَوْتِ كَمَثَلِ الَّذِي يُهْدِي إِذَا شَبِعَ".

دابو الدرداء رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه دمرګ په وخت کښې غلام یا وینځه آزادوی دده مثال داسې دې لکه څوک چه دمریدو نه پس بل چاته خوراک هدیه کوی.

﴿ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَثَلُ الَّذِى يُعْتِقُ عِنْدَ الْمَوْتِ كَمَثَلِ الَّذِى يُهْدِى إِذَا شَبِعَ » ﴾

هم دغه شان په بذل کښې د نسائی روایت نقل کړې شوې دې: ﴿ مثل الذی یهدی ویتصدق عند موته مثل الذی یهدی بعد ما شبع ﴾ یعنی د مرګ په وخت غلام آزادول یا مال

[1]): سنن الترمذي/الوصايا ۷ (۲۱۲۳)، سنن النسائي/الوصايا ۱ (۳۶۴۴)، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۱۹۷، ۶/۴۴۷) (ضعيف)

صدقه کول هم داسې دی لکه چه يو سړې د خپلې خېټې مړولو نه پس خوراک صدقه کړی، زيات ثواب او فضيلت په هغه صورت کښې دې چه خپل حاجت لره موخر کولو سره بل ته ترجيح ورکړې شي، او خپل حاجت وي د صحت په زمانه کښې، لکه چه په يو بل روايت کښې دی کوم چه په کتاب الزکوة کښې تير شوې دې، ﴿ ان تنفق وانت صحيح شحيح تخشى الفقر.... قال تعالى ويؤثرون على انفسهم ولو كان بهم خصاصة ﴾ والحديث اخرجه الترمذى والنسائى، وقال الترمذى: حسن صحيح، قاله المنذرى. <<<آخر كتاب العتاق>>>

كتاب الحروف والقراءات

د حروفو او د قرات د احکامو بيان

(د ما قبل سره ربط او مناسبت):

د دې کتاب د ماقبل سره څه مناسبت دې، طالبانو ته د وينا خبره ده په طور د لطيفې، چه د دې نه مخکښې کتاب العتق تير شوې دې او د شروع کيدونکی کتاب تعلق د قرآن کريم سره دې، نو څنګه چه په عتق کښې خلاصيدل وي د غلامئ نه هم دغه شان د قرآن کريم په قرأت کښې خلاصيدل وي د اور نه، يا داسې اووايه چه عتق خو د متمماتو د طب نه دې، لهذا اوس مناسبت، په طب او په دې کښې کتل دی، هغه دا چه په طب کښې شفاء ده د بدنونو او په قرآن کريم کښې شفاء ده د قلوب.

بابٌ

په کتاب الحروف کښې د مصنف رحمه الله لطيف طرز استدلال:

د مصنف رحمه الله غرض په دې کتاب سره په کومو الفاظو او آياتونو د قرآن کريم کښې چه اختلاف نقل دې هغه بيانول دی، مصنف رحمه الله په عنوان کښې د قراءتونو سره حروف هم ذکر کړې دی، ممکنه ده چه په دې کښې اشاره وی هغه حديث مشهور طرف ته ﴿ انزل القرآن على سبعة احرف ﴾ د دې حديث شرح د کتاب الصلوة په آخر کښې تيره شوې ده. د دې نه پس دا پيژندل پکار دی چه مصنف په دې کتاب کښې د زور نظر نه کار اخستلې دې، پس اصل مقصد خو د مصنف رحمه الله اختلاف قرأت لره بيانول دی خو چرته ئې قرآنی آيتونه ذکر کړې دی او په هغې کښې ئې صرف يو قرأت ذکر کړې دی، د يو قراءت ذکر دلالت کوی په دې خبره چه په دې کښې نور هم قراءتونه دی چه د هغې معلومات په قرائنو يا نورو رواياتو سره کيږی، او چرته ئې داسې هم کړې دی چه لفظ قرآن ئې ذکر کړې هم نه دې صرف روايت ئې ذکر کړې دې خو په هغه روايت کښې يو لفظ داسې وی کوم چه په قرآن کريم کښې هم راغلې وی او په هغې کښې اختلاف د قراءت دې. لکه چه د دې کتاب د رواياتو لوستلو نه به معلومه شی، فلله تعالى در المصنف رحمه الله........ هم دا مضمون حضرت په بذل المجهود کښې د حضرت ګنګوهی د تقرير نه نقل فرمائيلې دې وکتب مولانا محمد يحى المرحوم : ثم لا يذهب عليك ان غرض المصنف فى هذا الباب ايراد ما ثبت بالرواية فى لفظة معينة وكان فيها اختلاف فكل ما اورده ههنا على وجه يكون فيه وجه آخر غير ما ذكره اهـ.

[٣٩٦٩]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ. ح وحَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ: وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى سورة البقرة آية ١٢٥".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی کريم ﷺ به تلاوت په دې طريقه کولو: «واتخذوا من مقام إبراهيم مصلى» يعنى واتخذوا په صيغې دامر سره.

﴿ عَنْ جَابِرٍ رضى الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– قَرَأَ (وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى) ﴾ په ﴿ اتخذوا ﴾ کښ دوه قراءتونه دی يو په کسرې د خاء سره په صيغه د امر، او هم دا د اکثر قرأت دې او په دې کښ د نافع او د ابن عامر قراءت ﴿ واتخذوا ﴾ دې د خاء په فتحې سره. يعنی د ماضی صيغه (بذل)

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، وقال الترمذی: حسن صحيح، قاله المنذری

[٣٩٧٠]()حَدَّثَنَا مُوسَى يَعْنِي ابْنَ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَقَرَأَ فَرَفَعَ صَوْتَهُ بِالْقُرْآنِ فَلَمَّا أَصْبَحَ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَرْحَمُ اللهُ فُلَانًا كَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ أَذْكَرَنِيهَا اللَّيْلَةَ كُنْتُ قَدْ أَسْقَطْتُهَا".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه يو کس دمونځ دپاره دشپې پاڅيدواو په اوچت اوازې د قران کريم تلاوت شروع کړوکله چه سحرشونونبی عليه السلام اوفرمائيل الله تعالی دې په دې کس باندې رحم وکړي ډيرداسې آياتونه ئې ماته رايادکړل کوم چه زما نه پاتې شوي وو.

قوله:﴿ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ رَجُلاً قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يقرَأَ فَرَفَعَ صَوْتَهُ بِالْقُرْآنِ فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم« يَرْحَمُ اللَّهُ فُلاَنًا كَائِنْ مِنْ آيَةٍ أَذْكَرَنِيهَا اللَّيْلَةَ كُنْتُ قَدْ أَسْقَطْتُهَا »﴾ په اکثر نسخو کښ دلته داسې دی ﴿ کائن من آية ﴾...... او په يو نسخه کښ ﴿ کای﴾ دې دا حديث په کتاب الصلوة کښ تير شوې دې، او هلته د دې خبرې حواله هم مونږ ورکړې ده، او هلته مونږ دا تشريح هم کړې ده چه په کتاب الحروف والقراءة کښ دا حديث ولې راځی چه د هغې خلاصه دا ده چه مصنف رحمه الله دې حديث لره راوړلو سره دا بيانول غواړی چه په دې حديث کښ لفظ د کائن ذکر شوې دې او دا لفظ په قرآن کريم کښ هم يو ځائې کښ راغلې دې فی قوله تعالی ﴿ وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ ﴾ نو مصنف رحمه الله فرمائی چه په دې لفظ کښ اختلاف د قراءت دې د ﴿ کائن من نبی ﴾ او د ﴿ کای من نبی ﴾ چونکه دا لفظ په حديث کښ راغلې وو په دې وجه مصنف رحمه الله په کوم ځائې کښ چه په قرآن کريم کښ دا لفظ راغلې دې په هغې کښ د اختلاف قراءت طرف ته اشاره کړې ده.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، وقد تقدم فی کتاب الصلوة، قاله المنذری

[1]: سنن الترمذي/ الحج ٣٣ (٨٥٦)، سنن النسائي/ الحج ١٦٣ (٢٩٦٤)، سنن ابن ماجه/الإقامة ٥٦ (١٠٠٨)، انظر حديث رقم: (١٩٠٥)، (تحفة الأشراف: ٢٥٩٥) (صحيح)

[2]: انظر حديث رقم: (١٣٣١)، (تحفة الأشراف: ١٦٨٧٧) (صحيح)

[٣٩٧١] (١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا خُصَيْفٌ، حَدَّثَنَا مِقْسَمٌ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: "وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ سورة آل عمران آية ١٦١ فِي قَطِيفَةٍ حَمْرَاءَ، فُقِدَتْ يَوْمَ بَدْرٍ، فَقَالَ بَعْضُ النَّاسِ: لَعَلَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَهَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ سورة آل عمران آية ١٦١ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: يَغُلَّ مَفْتُوحَةُ الْيَاءِ.

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه دا ایت کریمه: «وما كان لنبي أن يغل» دیوسورخادر په باره کښې نازل شوې دې کوم چه دغزوه بدر په ورځ ورک شوې وو، دا ځادر چه کله ورک شو) نوخلقوووئیل کیدې شي چه داځادر نبی ﷺ اخستلې وي نوددوی په جواب کښې الله تعالی دا ایت کریمه نازل کړو.

قوله:﴿ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ (وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ) فِي قَطِيفَةٍ حَمْرَاءَ فُقِدَتْ يَوْمَ بَدْرٍ الخ﴾ دلته مقصود بالذكر لفظ ﴿ يغل ﴾ دې په دې کښې دويم قراءت ﴿ يُغَل ﴾ د مجهول په صيغې سره دې اى يوجد غالا..... والحديث اخرجه الترمذى، قاله المنذرى

[٣٩٧٢] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَخَلِ وَالْهَرَمِ".

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: اې پروردګاره زه پتاباندې دکنجوسئ اودبوداوالي نه پناه غواړم.

﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَالْهَرَمِ..... قال ابوداؤد: والبَخَل بفتح الباء والخاء ﴾

د بخل لفظ په قرآن کريم کښې ډير کرته راغلې دې، ﴿ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ﴾ (سورة النساء) ﴿وَيَأْمُرُونَ بِالْبُخْلِ ﴾(سورة الحديد) نو اشاره کول دی اختلاف د قراءت ته په دې ټولو ځايونو کښې. ﴿ بخل ﴾ بفتح الباء والخاء او ﴿ بخل ﴾ په ضمې او سکون سره. والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائي بطوله، قاله المنذرى.

[٣٩٧٣] (٣) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ كَثِيرٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ، عَنْ أَبِيهِ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ، قَالَ: كُنْتُ وَافِدَ بَنِي الْمُنْتَفِقِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، فَقَالَ: يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَحْسِبَنَّ وَلَمْ يَقُلْ لَا تَحْسَبَنَّ".

دلقيط بن صبرة رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه دبني المنتفق دطرف نه نبی کریم ﷺ ته په وفد کښې لاړم، اوحديث ئې بيان کړوچه چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: «لا تحسبن». دسين په زير سره اولا تخت په زبردسين سره ئې ئې ونه وئيل.

﴿عَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ قَالَ كُنْتُ وَافِدَ بَنِي الْمُنْتَفِقِ – فَقَالَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– – « لاَ تَحْسِبَنَّ ». وَلَمْ يَقُلْ لاَ تَحْسَبَنَّ ﴾

دا حديث په ابواب الوضوء کښې په باب الانتثار کښې تير شوې دې، مصنف رحمه الله دا وئيل

(١): سنن الترمذي/تفسير سورة آل عمران ١٧ (٣٠٠٩)، (تحفة الأشراف: ٦٤٨٧) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٨٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٣/٣، ١١٧)، انظر حديث رقم: (١٥٤٠) (صحيح)

(٣): انظر حديث رقم: (١٤٢)، (تحفة الأشراف: ١١١٧٢) (صحيح)

غواړي چه دا لفظ ﴿ لا تحسبن ﴾ په قرآن کريم کښې هم راغلې دې ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ﴾ په دې کښې اختلاف د قراءت بيانول غواړي چه د سين په کسرې او فتحې دواړو باندې منقول دې. والحديث اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[٣٩٧٤]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَحِقَ الْمُسْلِمُونَ رَجُلًا فِي غُنَيْمَةٍ لَهُ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَقَتَلُوهُ وَأَخَذُوا تِلْكَ الْغُنَيْمَةَ فَنَزَلَتْ: وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا سورة النساء آية ٩٤ تِلْكَ الْغُنَيْمَةَ".

دعبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مسلمانان ديو کس خواته اورسيدل ځوک چه دخپلو چيلو ګډوسره وو دغه کس اووئيل السلام عليکم ليکن مسلمانانوهغه قتل کړو اودده چيل ئې بوتلي نوپه دې باره کښې دا ايت کريمه نازل شو«ولا تقولوا لمن ألقى إليكم السلام لست مؤمنا تبتغون عرض الحياة الدنيا» اوبيا ئې : تلک القيمة الفاظ اووئيل يعنى دالله تعالى سره ډير مال موجود دې.

﴿ فَنَزَلَتْ «وَلاَ تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلاَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ﴾ په دې کښې دوه قراءتونه دي يو ﴿السلام ﴾ او بل ﴿ السلم ﴾ نافع او ابن عمرو او حمزه دې لره السلم لوستلې دې بغير د الف نه او نورو قاريانو په ﴿ السلام ﴾ سره لوستلې دې، او يو قراءت په دې کښې د سلم او بل د سلم هم منقل دې. (بذل)

[٣٩٧٥]([2])حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي الزِّنَادِ وَهُوَ أَشْبَعُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ: غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ سورة النساء آية ٩٥ وَلَمْ يَقُلْ سَعِيدٌ كَانَ يَقْرَأُ".

د زيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبى کريم صلى الله عليه وسلم دا ايت : «غير أولي الضرر» دراپه پيش سره ، تلاوت کولو اوددينه مخکښې دا ايت کريمه داحصه : «لا يستوي القاعدون من المؤمنين» پورې نازل شوې وو ، خو چه کله دا حکم خلقوته ګران شونوغير اولي الضرر په زبردغيرسره نازل شو.

﴿ كَانَ يَقْرَأُ «غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ» ﴾ په دې کښې لفظ د غير کښې د راء ضمه او فتحه دواړه لوستلې شوې دى.

[٣٩٧٦]([3])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "قَرَأَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالْعَيْنُ بِالْعَيْنِ".

---

[1]: صحيح البخاري/تفسير سورة النساء ١٧ (٤٥٩١)، صحيح مسلم/التفسير (٣٠٢٥)، (تحفة الأشراف: ٥٩٤٠)، وقد اخرجه: سنن الترمذي/تفسير القرآن النساء ٥ (٣٠٣٠) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٧٠٩) (حسن صحيح)

[3]: سنن الترمذي/القراءات ١ (٢٩٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٥/٣) (ضعيف)

د انس بن مالک ﷛ نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ به «والعين بالعين» لوستلو یعنی العین په ضمې دنون سره.

﴿ وَالْعَيْنُ بِالْعَيْنِ ﴾ دې آیت کریمه ته اشاره ده ﴿ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ ﴾ ﴿العين﴾ منصوب او مرفوع دواړو طریقو سره لوستلې شوې دې. والحدیث اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

[٣٩٧٧]([1]) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ: .وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنُ بِالْعَيْنِ.".

دانس بن مالک ﷛ نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم و به دا ایت کریمه «وكتبنا عليهم فيها أن النفس بالنفس والعين بالعين» لوستودوون ، ، په ضمې سره.

[٣٩٧٨]([2]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ مَرْزُوقٍ، عَنْ عَطِيَّةَ بْنِ سَعْدٍ الْعَوْفِيِّ، قَالَ: "قَرَأْتُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ: اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ ضَعْفٍ سورة الروم آية ٥٤، فَقَالَ: .مِنْ ضُعْفٍ. قَرَأْتُهَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا قَرَأْتَهَا عَلَيَّ، فَأَخَذَ عَلَيَّ كَمَا أَخَذْتُ عَلَيْكَ".

دعطیه بن سعد عوفی ﷛ نه روایت دې فرمائی چه ما آیت کریمه: «الله الذي خلقكم من ضعف» دعبدالله بن عمر په وړاندې د یوض، ، په زبر سره ولوستو ، اوهغه من ضعف دض په پیش سره ولوستو اوماهم دنبی ﷺ په وړاندې داسې لوستلې وو لکه څنګه چه تازماپه وړاندې ولوستو اونبی ﷺ هم زما مواخذه کړیوه لکه څنګه چه ما ستا مواخذه وکړله.

﴿قَرَأْتُ عند عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ «اللَّهُ الَّذِى خَلَقَكُمْ مِنْ ضَعْفٍ» فَقَالَ «مِنْ ضُعْفٍ»﴾

عطیه عوفی فرمائی چه ما یو ورځ د عبدالله بن عمر ﷠ مخکښې دا آیت کریمه اولوستلو د ﴿ ضَعف ﴾ په فتحې سره نو هغوی د دې اصلاح اوکړه په ﴿ ضُعف ﴾ سره، او وې فرمائیل چه ما هم دا آیت کریمه د رسول الله ﷺ مخکښې هم دغه شان لوستلې وو نو رسول الله ﷺ زما اصلاح اوکړه څنګه چه ما ستا اوکړه. د دې نور تفصیل دې په بذل کښې اوکتلې شي.

[٣٩٧٩]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الْقُطَعِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدٌ يَعْنِي ابْنَ عَقِيلٍ، عَنْ هَارُونَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مِنْ ضُعْفٍ".

دابوسعید خدری ﷛ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ دا ایت کریمه «من ضعف» په ضمې سره ولوستو.

[٣٩٨٠]([4]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَسْلَمَ الْمِنْقَرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، قَالَ: قَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ: ".بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْتَفْرَحُوا."، قَالَ أَبُو دَاوُد: بِالتَّاءِ.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٥٧٢) (ضعيف)

[2]: سنن الترمذي/القراءات سورة الروم ٤ (٢٩٣٦)، (تحفة الأشراف: ٧٣٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٨/٢) (حسن)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٢١١) (حسن)

[4]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٣/٥) (حسن صحيح)

دعبدالرحمن بن ابزی ﷺ نه روایت دي فرمائی چه اوي بن کعب نه به دا ایت کریمه : «بفضل الله وبرحمته فبذلك فلتفرحوا» داسي لوستو، امام ابوداؤد وائی چه په تاء سره.

قوله: ﴿ قَرَأَ ﴿بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْتَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا تَجْمَعُونَ﴾ ﴾ دلته په دواړو لفظونو کښ اختلاف د قراءت دي. ﴿ فليفرحوا ﴾ قراءة متواتره دي په یاء سره او فلتفرحوا قراءت غير متواتره دي مشهوره يا شاذه، هم دغه شان ﴿ تجمعون ﴾ کښ دواړه قراءتونه دی، د ابن عامرپه قراءت کښ ﴿ تجمعون ﴾ په تاء سره او باقي قراءة ﴿ مما يجمعون ﴾ په ياء سره. (بذل)

[٣٩٨١](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنِ الْأَجْلَحِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُبَيٍّ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ: ﴿بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْتَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا تَجْمَعُونَ﴾".

عبدالرحمن بن ابزي دخپل پلار او د اوبي بن کعب ﷺ نه روایت کوی فرمائی چه نبی کریم و ته دا ایت کریمه : «بفضل الله وبرحمته فبذلك فلتفرحوا» داسي لوستلو.

[٣٩٨٢](٢)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ: "أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ: ﴿إِنَّهُ عَمِلَ غَيْرَ صَالِحٍ﴾".

داسماء بنت یزید ﷺ نه روایت دي فرمائی چه دنبی کریم نه مي اوريدلی دی چه دا ایت کریمه : «إنه عمل غير صالح» په دي طريقي سره ولوستو.

﴿ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقْرَأُ ﴿إِنَّهُ عَمِلَ غَيْرَ صَالِحٍ﴾ ﴾

یعنی په سورة هود کښ ﴿ يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ ﴾ یعنی ﴿ عَمِلَ ﴾ په صیغه د ماضی او ﴿ غَيْرَ صالح ﴾ منصوب بناء بر مفعولیت، او دویم قراءت په دي کښ د ﴿ عَمَلٌ ﴾ رفع لام مع التنوين. او د غير راء مرفوع په اول صورت کښ د ﴿ انه ﴾ ضمير به د ابن طرف ته راجع وی، او په دویم صورت کښ به د سوال طرف ته راجع وی چه ستا دپاره د خپل بچی د نجات سوال کول عمل غير صالح دي.

په بذل کښ ليکلي دی د آول قرآءت په بآره کښ : ﴿ وهذه قراءة الكسائى وهى قراءة النبى ﷺ روى عن عائشة اسماء بنت يزيد وام سلمة ﷺ، وقرأ الباقون بفتح الميم ﴾ دويم قراءت د باقی قاريانو دي.. والحديث اخرجه الترمذی، قاله المنذری.....

[٣٩٨٣](٣)حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ الْمُخْتَارِ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، قَالَ: "سَأَلْتُ أُمَّ سَلَمَةَ كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ هَذِهِ الْآيَةَ: ﴿إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ﴾ سورة هود آية ٤٦ فَقَالَتْ: قَرَأَهَا: ﴿إِنَّهُ عَمِلَ غَيْرَ صَالِحٍ﴾". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ هَارُونُ النَّحْوِيُّ، وَمُوسَى بْنُ خَلَفٍ، عَنْ ثَابِتٍ، كَمَا قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٧) (حسن صحيح)

(٢): سنن الترمذي/القراء ات سورة هود ٢ (٢٩٣١)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٩٤، ٣٢٢، ٤٥٤، ٤٥٩، ٤٦٠) (صحيح)

(٣): سنن الترمذي/القراء ات سورة هود ٢ (٢٩٣٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٦٨) (صحيح)

دشهر بن حوشب رحمه الله نه روايت دې فرمائي چه دام سلمه رضي الله عنها نه مې تپوس اوکړو چه نبي عليه السلام به دا ايت كريمه: «إنه عمل غير صالح» څنګه لوستلو؟ نوهغې اووئيل داسې به ئي لوستو«إنه عمل غير صالح» ، امام ابو داود فرمائي دا روايت هارون نحوي دموسى بن خلف نه اوهغه دثابت نه دعبدالعزيز د روايت په شان نقل كړي دي۔

﴿عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ قَالَ سَأَلْتُ أُمَّ سَلَمَةَ كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقْرَأُ هَذِهِ الآيَةَ (إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ) فَقَالَتْ قَرَأَهَا (إِنَّهُ عَمِلَ غَيْرَ صَالِحٍ) ﴾

دا دويم روايت د ام سلمه رضي الله عنها نه روايت كړې شوې دې او رومبې د اسماء بنت يزيد رضي الله عنها وو، او د دواړو نه روايت كونكې شهر بن حوشب دې، خو په اول طريق كښې روايت حماد عن ثابت عن شهر دې، او په دويم كښې عبد العزيز عن ثابت دې.

د قال ابوداؤد تشريح :

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ هَارُونُ النَّحْوِيُّ وَمُوسَى بْنُ خَلَفٍ عَنْ ثَابِتٍ كَمَا قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ﴾ مصنف رحمه الله فرمائي چه اكثرو راويانو داسې روايت كړې دې څنګه چه عبد العزيز يعنى ﴿ سالت ام سلمة الخ ﴾ د دواړو روايتونو په سياق كښې هم فرق دې او د راويه حديث صحابيه په نوم كښې هم فرق دې. يو ځائې كښې اسماء بنت يزيد دې او په بل ځائې كښې د هغې په ځائې ام سلمه رضي الله عنها دې...... امام ترمذى رحمه الله هم په دواړو سياقو سره حديث نقل كړې دې، د هغوى د كلام نه هم دا معلوميږى چه اكثر راويانو دا حديث په لفظ د ام سلمه رضي الله عنها ذكر كړې دې پس هغه فرمائي ﴿ قد رواه غير واحد عن ثابت البناني نحو هذا (يعنى عن شهر بن حوشب عن ام سلمة) وقد وروى هذا الحديث أيضا عن شهر بن حوشب عن أسماء بنت يزيد ﴾ بيا د دې نه روستو امام ترمذى د خپل استاد عبد بن حميد نه نقل كړى دى چه دا اسماء بنت يزيد أم سلمه انصاريه ده او دا چه دواړه احاديث زما په نزد يو دى. يو روايت كښې نوم ذكر شوې دې د دې نه مراد ام المومنين نه ده بلكه ام سلمه انصاريه مراد ده د چا نوم چه اسماء بنت يزيد دې. په يو كښې ئې نوم ذكر دې او په بل كښې ئې كنيت. خو دا رائې د امام ترمذى رحمه الله د استاد عبد بن حميد ده امام ترمذى رحمه الله په دې كښې خپله هيڅ رائې نه ده ظاهر كړې خو د امام ابوداؤد رحمه الله دكلام نه معلوميږى چه دا د راويانو اختلاف دې او ترجيح هغوى ام سلمه رضي الله عنها ته وركړې ده د راويانو د كثرت د وجې نه، او حضرت هم په بذل المجهود كښې د ام سلمه د نوم سره ام المومنين ليكلې دې ګويا د ماتن او شارح د دواړو په رائې كښې دا دواړه نومونه بيل بيل دى، والله تعالى اعلم

[۳۹۸٤](١)حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عِيسَى، عَنْ حَمْزَةَ الزَّيَّاتِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَعَا بَدَأَ بِنَفْسِهِ، وَقَالَ: "رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى مُوسَى لَوْ صَبَرَ لَرَأَى مِنْ صَاحِبِهِ الْعَجَبَ، وَلَكِنَّهُ قَالَ: إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ

[١]: سنن الترمذي/القراء ات سورة الكهف ٣ (٢٩٣٣)، الدعوات ٩ (٣٣٨٥)، (تحفة الأشراف: ٤١)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العلم ٤٤ (١٢٢)، أحاديث الأنبياء ٢٧ (٣٤٠٠)، تفسير القرآن ٢ (٤٧٢٥)، صحيح مسلم/الفضائل ٤٦ (٢٣٨٠) (صحيح) دون قوله: "ولكنه قال..."

بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي سورة الكهف آية ٧٦، طَوَّلَهَا حَمْزَةُ".

سعيد بن جبير او عبد الله ابن عباس او ابی بن کعب رضي الله عنهم نه روايت دې فرمائی کله چه به نبی عليه السلام دعا غوښتله نو اول به ئې دځان دپاره دعاوغوښتله داسې به ئې فرمائيل په مونږ دې دالله رحمت وي اوپه موسى دې دالله رحمت وي که چرې هغه دصبرنه کار اخستې وې نوهغه ډيرې ناشناخبرې ليدلې وې ليکن هغه داسې اووئيل: «إن سألتك عن شيء بعدها فلا تصاحبني قد بلغت من لدني» په دې ايت کريمه کښې حمزه من لدني په تشديد سره وائي.

﴿عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا دَعَا بَدَأَ ...الخ﴾

ابی بن کعب رضي الله عنه فرمائی چه د رسول الله ﷺ عادت مبارک دا وو (که د بل دپاره په دعاء کول مقصود وؤ) نو د خپلې دعاء ابتداء به ئې د ځان نه کوله (لکه چه د وړاندې حديث نه معلوميږی هغه دا چه) رسول الله ﷺ اوفرمائيل په مونږ او موسى عليه السلام باندې دې د الله پاک رحمت وی که موسى عليه السلام صبر کړې وې ،يعنی که د خضر عليه السلام نه ئې بار بار تپوسونه نه کول نو معلومه نه ده چه څه عجيبه عجيبه خبرې به مخې ته راغلې وې.

﴿ وَلَكِنَّهُ قَالَ (إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلاَ تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي) ». ..الخ﴾

﴿ طول ﴾ د دې تعلق د لدنی سره دې او ﴿ طول ﴾ په معنی د شدد وثقل... لکه چه روستو روايت کښې راځی، او هم دغه شان د ترمذی په روايت کښې دې هم په دې حديث کښې ﴿ انه قراء قد بلغت من لدنی عذرا ﴾ مثقلة او په دې کښې په دويم قراءت کښې ﴿ من لدنی ﴾ دې د نون په تخفيف سره ، حضرت په بذل المجهود کښې د دې شرح داسې کړې ده او دا احقر عرض کوی چه ﴿ فلا تصاحبنی ﴾ کښې قراءت د ﴿ فلا تَصحَبنی ﴾ هم دې، پس په بذل کښې دی قال ابن رسلان قراء عيسى ويعقوب فلا تصحبنی.... مضارع "صحب" پس کيدې شی چه د ﴿ طولها حمزة ﴾ نه هم دا مراد وی بلکه وئيلې کيدې شی چه هم دا زياته ظاهره ده ځکه چه که د دې تعلق د ﴿ لدنی ﴾ سره وې نو بيا آيت کريمه لره د شاته نه ذکر کولو ته څۀ حاجت وو، خو د دې نه روستو چه کوم روايت راروان دې چه د هغې الفاظ دا دې ﴿ انه قراءها قد بلغت من لدنی ﴾ وثقلها..... ددې تعلق د لدنی سره هم دې ځکه چه د تثقيل معنی تشديد راځی، او د تطويل زياته مناسب معنی د الف زيادت دې کوم چه په ﴿ فلا تصاحبنی ﴾ کښې موندلې شی.....

فتامل....... والحديث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری.

[٣٩٨٥] ()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا أُمَيَّةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْجَارِيَةِ الْعَبْدِيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّهُ قَرَأَهَا قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي سورة الكهف آية ٧٦، وَثَقَّلَهَا".

دعبدالله بن عباس او اوبي بن کعب رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام د من لدني تلاوت وکړو اورن ، ئې په تشديد سره ولوستو.

تنبيه : د ترمذی په روايت کښې ﴿ قد بلغت من لدنی عذرا ﴾ مثقلة د لاندې بين السطور

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٢) (ضعيف)

ليکلي دی ﴿ يعني بضم ذال خوانده، واين به نسبت سكون مثقل است اهـ ﴾ گويا د مثقله تعلق، د ﴿ عذرا ﴾ سره دې خو دا په دې باندې موقوف دې چه په ﴿ عذرا ﴾ کښې يو قرأت په ضم د ذال سره هم وی.... ﴿ عذرا ﴾.....

[۳۹۸۶](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَسْعُودٍ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دِينَارٍ، حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ أَوْسٍ، عَنْ مِصْدَعٍ أَبِي يَحْيَى، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: "أَقْرَأَنِي أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ كَمَا أَقْرَأَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ سورة الكهف آية ٨٦ مُخَفَّفَةً".

مصدع ابويحيي وائی دابن عباس نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل ئې اوبي بن كعب زما په وړاندې ددې آيت كريمه : «في عين حمئة» داسې تلاوت وکړو لکه څرنګه چه نبی ﷺ مونږ ته کړې دې دشد نه بغير.

﴿ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ أَقْرَأَنِي أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ كَمَا أَقْرَأَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- (فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ) مُخَفَّفَةً ﴾ او د څو احاديثو نه پس د ابوذر رضي الله عنه په حديث کښې راځی هغه فرمائی چه يو ځل چه کله نمر پريوتلو نو رسول الله ﷺ زما نه تپوس اوکړو ﴿هل تدرى اين تغرب هذه قلت الله ورسوله اعلم قال : فانها تغرب فى عين حامية ﴾ د دې نه معلومه شوه چه په دې لفظ کښې دوه قراءتونه دی، حاميه په معنی د حارة..... او ﴿حمئة ﴾ په معنی د ﴿ الطين الاسود ﴾ توره خټه او خاوره......والحديث أخرجه الترمذى قاله المنذرى وحديث ابى ذر أخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى اتم منه، قاله المنذرى.

[۳۹۸۷](٢)حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو النَّمَرِيَّ، أَخْبَرَنَا هَارُونُ، أَخْبَرَنِي أَبَانُ بْنُ تَغْلِبَ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِ عِلِّيِّينَ لَيُشْرِفُ عَلَى أَهْلِ الْجَنَّةِ فَتُضِيءُ الْجَنَّةُ لِوَجْهِهِ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ، قَالَ: وَهَكَذَا جَاءَ الْحَدِيثُ دُرِّيٌّ مَرْفُوعَةَ الدَّالِ لَا تُهْمَزُ وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ لَمِنْهُمْ وَأَنْعَمَا".

د ابوسعيد خدری رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ اوفرمائيل، البته دمقام علين په خلقوکښې به يوکس جنت والاته ورښکاره شي اودده دمخ درنړاپه وجه به جنت داسې روښانه شي لکه يوه پر قيدونکي ملغلره ، راوی والي په دې حديث کښې لفظ د دري، د دال په ضي سره دې په زير و زبر سره نه دې ، ابوبکر اوعمر رضي الله عنهما به هم ددغه کسانونه وي بلکه ددوينه به بهتروي.

﴿ إِنَّ الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِ عِلِّيِّينَ لَيُشْرِفُ عَلَى أَهْلِ الْجَنَّةِ فَتُضِيءُ الْجَنَّةُ بِوَجْهِهِ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ ». قَالَ وَهَكَذَا جَاءَ الْحَدِيثُ « وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ لَمِنْهُمْ وَأَنْعَمَا ﴾

مضمون حديث دا دې چه کوم جنتيان په عليين کښې وی يعنی د جنت په پورته درجه کښې نو چه کله به په هغوی کښې څوک د جنت لاندې درجې اوګوری نو په دې باندې به د پورته

١): سنن الترمذي/القراءات سورة الكهف ٣ (٢٩٣٤)، (تحفة الأشراف: ٤٣) (ضعيف)
٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤١٩٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/المناقب ١٤ (٣٦٥٨)، سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (٩٦)، مسند احمد (٣/٥٠، ٦١) (ضعيف)

جنتيانو د مخونو په رنړا سره لاندې جنتونه روښانه شي، او د هغه پورته جنتيانو مخونه به لاندې جنتيانو ته داسې معلومېږي لکه څنګه چه پړقيدونکې ستوري دي، او بيا د دې نه روستو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دا دواړه ابوبکر او عمر رضي الله عنهما به د هم دغه جنتيانو نه وي يعني په پورته خلقو کښې، او د دې نه هم پورته.

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائي چه په دې حديث کښې لفظ ﴿ درى ﴾ په ضم د دال سره دې بغير د همزه،اوپه دويم قراءت کښې چه هغې طرف ته مصنف اشاره کول غواړي، هغه ﴿دِرى﴾ په کسرې د دال او همزه سره چه کم ماخوذ دې، د﴿ دَرء ﴾ چه د هغې معنى د دفع کولو ده، او په اول صورت کښې به دا نسبت وى ﴿ در ﴾ طرف ته چه د هغې معنى ملغلره ده.

والحديث اخرجه الترمذى وابن ماجه، وقال الترمذى حسن، وليس فى حديثهما تقييد الكلمة،قاله المنذرى.

[٣٩٨٨]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَهَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنِي الْحَسَنُ بْنُ الْحَكَمِ النَّخَعِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو سَبْرَةَ النَّخَعِيُّ، عَنْ فَرْوَةَ بْنِ مُسَيْكٍ الْغُطَيْفِيِّ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَخْبِرْنَا عَنْ سَبَإٍ مَا هُوَ أَرْضٌ أَمِ امْرَأَةٌ؟ فَقَالَ: "لَيْسَ بِأَرْضٍ وَلَا امْرَأَةٍ وَلَكِنَّهُ رَجُلٌ وَلَدَ عَشَرَةً مِنَ الْعَرَبِ فَتَيَامَنَ سِتَّةٌ وَتَشَاءَمَ أَرْبَعَةٌ"، قَالَ: عُثْمَانُ الْغَطَفَانِيُّ مَكَانَ الْغُطَيْفِيِّ، وَقَالَ: حَدَّثَنَا: الْحَسَنُ بْنُ الْحَكَمِ النَّخَعِيُّ.

د فروه بن مسيک الغطيفى رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه زه دنبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم او پوره حديث ئې بيان کړو چه په خلقو کښې يوکس ووئيل اې دالله رسوله خبر راکړه مونږ ته دسبا په باره کښې چه داڅه شې دې ايا دا کومه زمکه ده اوکه ښځه ده؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل سبا نه دزمې نوم دې اونه دښځې نوم دې بلکه دا ديوداسې عرب سړې نوم دې دچاچه لس ځامن وو په دوى کښې شپږو په يمن کښې اوسيدل اختيارکړل او څلورو په شام کښې بياپه مزه مزه ددوى په اولاد کښې اضافه وشوه اودسبانه يوقوم جوړ شو، دعثمان په روايت کښې دغطيفي په ځائې باندې غطفاني ذکرشوې دې او دائې هم اووئيل چه دا حديث مونږ ته حصين بن حکم نقعي بيان کړې دې.

قوله:﴿فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنَا عَنْ سَبَإٍ مَا هُوَ أَرْضٌ أَمِ امْرَأَةٌ الخ ﴾

يو سړى د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه يا رسول الله ﷺ د سبا په باره کښې مونږ ته خبر راکړئ چه هغه څه دى د يو ځائې نوم دې او که د زنانه؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : نه د زمکې نوم دې او نه د زنانه، بلکه دا يو عرب سړې وو د چا چه لس ځامن شوې وو چه په هغې کښې شپږ يمن ته لاړل او هلته آباد شو او څلور شام ته لاړل، مصنف رحمه الله دا روايت مختصرا ذکر کړې دې او اختصار طرف ته ئې اشاره په خپل قول ﴿ فذكر الحديث ﴾ سره کړې ده، روايت مفصله په ترمذى کښې دې چه د هغې په آخر کښې دى : ﴿ وانزل فى سبا ما انزل ﴾ او د سبا په باره کښې په سورة سبا کښې دا آيت کريمه ذکر شوې دې : ﴿ لقد كان لسباء فى

(): سنن الترمذي/تفسير القرآن سورة سبأ ١ (٣٢٢٢)، (تحفة الأشراف: ١١٠٢٣) (حسن صحيح)

مسكنهم اية ﴾ په لفظ سبا كښې قراءت مختلف دى، ﴿ لسباء ﴾ په (تنوين همزې سره) او ﴿لسباء ﴾ (بغير د تنوين نه) او لسباء (په سكون د همزه سره)

والحديث اخرجه الترمذي، وقال غريب، قاله المنذري.

[٣٩٨٩] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَبُو مَعْمَرٍ الْهُذَلِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ إِسْمَاعِيلُ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رِوَايَةً فَذَكَرَ حَدِيثَ الْوَحْيِ قَالَ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: "حَتَّى إِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ سورة سبا آية ٢٣".

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه هغه دوحي حديث بيان كړو او وئې فرمائيل دا هغه خبره ده كوم چه دالله تعالى په دې قول: «حتى إذا فزع عن قلوبهم» كښې ذكرشوي ده يعنې هغوى په راوغين سره ولوستل ليكن اكثرو قاريانو زاو غين لوستلي دې او مشهور قرءت هم داسي دې.

قوله: ﴿قَالَ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى (حَتَّى إِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ ﴾

يعنى تفزيع د باب تفعيل نه د ماضى مجهول صيغه، بل قراءت په دې كښې ﴿ فزع ﴾ دې په تخفيف سره د مجرد نه، والحديث اخرجه البخاري والترمذي وابن ماجه بتمامه، قاله المنذري.

[٣٩٩٠] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سُلَيْمَانَ الرَّازِيُّ، سَمِعْتُ أَبَا جَعْفَرٍ يَذْكُرُ، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَلَى قَدْ جَاءَتْكِ آيَاتِي فَكَذَّبْتِ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتِ وَكُنْتِ مِنَ الْكَافِرِينَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا مُرْسَلٌ الرَّبِيعُ لَمْ يُدْرِكْ أُمَّ سَلَمَةَ.

دام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم به دا ايت كريمه: «بلى قد جاءتك آياتي فكذبت بها واستكبرت وكنت من الكافرين» داسې لوستلو، امام ابوداؤد فرمائى داحديث مرسل دې ځكه چه دربيعه اوريدل دام سلمه نه ثابت نه دي.

قوله: ﴿بَلَى قَدْ جَاءَتْكِ آيَاتِي فَكَذَّبْتِ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتِ وَكُنْتِ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴾

په څلورو وارو ځايونو كښې د مونث په صيغه سره نفس ته خطاب كولو سره چه مونث سماعى دې او په دې كښې دويم قراءت هم هغه دې كوم چه زمونږ او ستاسو قراءت دې يعنى د مخاطب مذكر په صيغه سره.

[٣٩٩٢] (٣) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ ابْنُ حَنْبَلٍ: لَمْ أَفْهَمْهُ جَيِّدًا، عَنْ صَفْوَانَ، قَالَ ابْنُ عَبْدَةَ ابْنُ يَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقْرَأُ: وَنَادَوْا يَا مَالِكُ سورة الزخرف آية ٧٧". قَالَ أَبُو دَاوُد: يَعْنِي بِلَا تَرْخِيمٍ.

صفوان بن يعلى دخپل پلارنه روايت كوى فرمائى چه ما دنبى عليه السلام نه اوريدلى دى چه په ممبرئي فرمائيل: «ونادوا يا مالك» امام ابوداؤد وائى دترخيم نه بغيره.

(١): صحيح البخاري/تفسير سورة الحجر ١ (٤٧٠١)، التوحيد ٣٢ (٧٤٨١)، سنن الترمذي/التفسير ٣٥ (٣٢٢٣)، سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٩٤)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٤٩) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٥٠) (ضعيف الإسناد)

(٣): صحيح البخاري/بدء الخلق ٧ (٣٢٣٠)، وتفسير القرآن ١ (٣٢٦٦)، صحيح مسلم/الجمعة ١٣ (٨٧١)، سنن الترمذي/الجمعة ١٣ (٥٠٨)، (تحفة الأشراف: ١١٨٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٢٣) (صحيح)

﴿سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى الْمِنْبَرِ يَقْرَأُ ﴿وَنَادَوْا يَا مَالِكُ﴾﴾

د دې نه پس داسې دی ﴿ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ ﴾ په سورة زخرف کښې په يا مالک کښې دوه قراتونه نور دی، يو په ترخيم سره يعنی يا مال....... په ضم د لام سره او يا مال په کسرې د لام سره.....

د آيت کريمه مفهوم دا دې چه جهنميان به ټول يو ځائې شي او د جهنم داروغه ته به درخواست اوکړی چه الله پاک ته زمونږ سفارش اوکړه چه هغه دې مونږ ته مرګ راکړی نو د هغه ځائې نه به ورته جواب ملاؤ شي چه ﴿ انکم ماکثون ﴾ چه تاسو به هم دلته اوسيږئ. د ترمذی په روايت کښې دی چه دا جواب به هغوی ته د زر کالو د انتظار نه پس ملاويږی...

اعاذنا الله منها. والحديث اخرجه الترمذي والنسائي، قاله المنذري

[٣٩٩٣](١) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا أَبُو أَحْمَدَ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "أَقْرَأَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ".

دعبدالله بن يزيد رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ني کريم ﷺ ماته دا ايت کريمه «إني أنا الرزاق ذو القوة المتين» داسې ولوستو.

قوله:﴿إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴾

دا قراءت غير متواتر دې، او قراءت متواتره ﴿ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴾ والحديث اخرجه الترمذي والنسائي، وقال الترمذي، حسن صحيح، قاله المنذري.

[٣٩٩٤](٢) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَؤُهَا: فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ سورة القمر آية ١٥، يَعْنِي: مُثَقَّلًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: مَضْمُومَةَ الْمِيمِ مَفْتُوحَةَ الدَّالِ مَكْسُورَةَ الْكَافِ.

دعبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم ﷺ ماته دا ايت کريمه: «فهل من مدكر» داسې ولوستو. امام ابوداؤد فرمائی په ضمې دميم سره او په فتح د دال اوکسرې دکاف سره.

﴿أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقْرَؤُهَا ﴿فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ﴾ ﴾ او دويم قراءت په دې کښې (مذکر) دې په ذال معجمه سره، او مدکر په اصل کښې مذتکر وو او اول تاء په دال سره بدله کړې شوه ﴿ لتقارب مخرجيهما ﴾ بيا ذال لره په دال سره بدلولو سره ادغام اوکړې شو. والحديث اخرجه الترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[٣٩٩٥](٣) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الذِّمَارِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ: أَيَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ".

---

١): سنن الترمذي/القراءات سورة الذاريات ٨ (٢٩٤٠)، (تحفة الأشراف: ٩٣٨٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٩٤، ٣٩٧، ٤١٨) (صحيح)

٢): صحيح البخاري/أحاديث الأنبياء ٣ (٣٣٤١)، وتفسير القرآن ٢ (٤٨٧٤)، صحيح مسلم/المسافرين ٥٠ (٨٢٣)، سنن الترمذي/القراءات سورة القمر ٥ (٢٩٣٧)، (تحفة الأشراف: ٩١٧٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٩٥، ٤٠٦، ٤١٣، ٤٣١، ٤٣٧، ٤٦١) (صحيح)

٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٠٢٦) (ضعيف الإسناد)

دجابر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي كريم ﷺ به دا آيت كريمه: «يحسب أن ماله أخلده» داسي لوستو.

﴿سَمِعْتُ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– يَقْرَأهَا (فَرُوحٌ وَرَيْحَانٌ)﴾ دا قراءت غير متواتره دي يعني په ضمي د راء سره او قراءت متواتره په فتحي سره دي، ﴿ فَرَوحٌ وَرَيْحَانٌ ﴾

﴿ رَأَيْتُ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– يَقْرَأُ (أَيَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ) ﴾ په دي كښي نسخي مختلف دي په بعضو كښي هم دغه شان دى په همزي د استفهام سره، او په بعضو كښي ﴿يحسب ﴾ بغير د همزي نه، او هم دا نسخه صحيح ده، ځكه چه په دي آيت كريمه كښي ﴿ايحسب ﴾ په همزي سره د چا قراءة هم نه دي بلكه په دي كښي اختلاف د قراءت صرف په كسره د سين او د فتح دسين دي.

[۳۹۹۶](١)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ "عَمَّنْ أَقْرَأَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَيَوْمَئِذٍ لَا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ ۲۵ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ ۲۶ سورة الفجر آية ۲۵-۲۶"، قَالَ أَبُو دَاوُد: بَعْضُهُمْ أَدْخَلَ بَيْنَ خَالِدٍ وَأَبِي قِلَابَةَ رَجُلًا.

د ابوقلابه نه روايت دي فرمائي چه ما دا ايت كريمه: «فيومئذ لا يعذب عذابه أحد * ولا يوثق وثاقه أحد» په دي طريقي سره دداسي كس نه اوريدلى دى چاچه درسول الله ﷺ نه اوريدلي دي. امام ابوداؤد وائي چه بعض محدثينو دخالد اودابوقلابه په مينځ كښي يو بل راوى هم داخل كړي دي.

﴿ فَيَوْمَئِذٍ لاَ يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ وَلاَ يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ ﴾ يعنى دواړه ځايه فعل مجهول، او په دويم قراءت كښ په دي كښي ﴿ لا يعذب ﴾ او ﴿ لا يوثق ﴾ په صيغه د معروف سره دي.

[۳۹۹۷](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، قَالَ: "أَنْبَأَنِي مَنْ أَقْرَأَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ مَنْ أَقْرَأَهُ مَنْ أَقْرَأَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَيَوْمَئِذٍ لَا يُعَذَّبُ سورة الفجر آية ۲۵"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَرَأَ عَاصِمٌ، وَالْأَعْمَشُ، وَطَلْحَةُ بْنُ مُصَرِّفٍ، وَأَبُو جَعْفَرٍ يَزِيدُ بْنُ الْقَعْقَاعِ، وَشَيْبَةُ بْنُ نَصَّاحٍ، وَنَافِعُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ كَثِيرٍ الدَّارِيُّ، وَأَبُو عَمْرِو بْنُ الْعَلَاءِ، وَحَمْزَةُ الزَّيَّاتُ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجُ، وَقَتَادَةُ، وَالْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ، وَمُجَاهِدٌ، وَحُمَيْدٌ الْأَعْرَجُ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ لَا يُعَذِّبُ وَلَا يُوثِقُ إِلَّا الْحَدِيثَ الْمَرْفُوعَ فَإِنَّهُ يُعَذَّبُ بِالْفَتْحِ.

د ابوقلابه نه روايت دي فرمائي چه ماته دا ايت كريمه: (فيومئذ لا يعذب) يوداسي كس اورولي دي چاته چه رسول الله ﷺ اورولي وو چه: (فَيَوْمَئِذٍ لا يُعَذَّبُ) (په مجهول صيغي سره) دي، ابوداؤد وائي: عاصم، اعمش، طلحة بن مصرف، أبوجعفر يزيد بن القعقاع، شيبة بن نصاح، نافع بن عبد الرحمن، عبد الله بن كثير الداري، أبو عمرو بن العلاء، حمزة الزيات، عبد الرحمن الاعرج، قتادة، حسن بصري، مجاهد، حميد أعرج، عبدالله بن عباس، عبد الرحمن بن أبي بكر (لَا يُعَذِّبُ وَلَا يُوثِقُ) (معروف صيغي سره) وئيلي دي، خو په

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧١/٥) (ضعيف الإسناد)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٥٦٠٨) (ضعيف الإسناد)

مرفوع روایت کښې (يُعَذِّبُ) (د ذال فتحې سره) دې.

[٣٩٩٨](١)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِي عُبَيْدَةَ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ سَعْدٍ الطَّائِيِّ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "حَدَّثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا ذَكَرَ فِيهِ جِبْرِيلَ وَمِيكَالَ، فَقَالَ جِبْرَائِلُ، وَمِيكَائِلُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ خَلَفٌ: مُنْذُ أَرْبَعِينَ سَنَةً لَمْ أَرْفَعِ الْقَلَمَ عَنْ كِتَابَةِ الْحُرُوفِ مَا أَعْيَانِي شَيْءٌ مَا أَعْيَانِي جِبْرَائِلُ، وَمِيكَائِلُ.

دابوسعيدخدري (رض) روايت دې فرمائی چه رسول الله یوداسې حدیث بیان کړو چه دجبرائل اومیکائل علیهما السلام ذکر ئې په کښې اوکړو نبی ﷺ اوفرمائیل جبرائل او میکائل.

قوله:﴿ حَدَّثَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حَدِيثًا ذَكَرَ فِيهِ « جِبْرَائِلَ وَمِيكَالَ ». فَقَرَأَ (جِبْرَائِلَ وَمِيكَائِلَ)﴾: په دې دواړو لفظونو يعنى جبرائيل او ميكائيل د ابوداؤد په نسخو کښې ډير اختلاف دې، په بذل کښې د ابن رسلان نه نقل کړې دی چه ماته هيڅ نقل په دې باره کښې نه دې ملاؤ شوې چه د رسول الله ﷺ تلفظ په دې دواړو کښې څه وو او اهل عرب په دې دواړو لفظونو کښې ډير تصرف او تغير کړې دې د خپل عادت مطابق لکه چه په اسماء عجميه کښې تغير کړې دې، تردې چه په دې دواړو لفظونو کښې ديارلس لغتونه دی، خو په دې اصل چونکه لغت د قريش دې ځکه چه رسول الله ﷺ قريشى دې نو د دې تقاضه دا ده چه دا لفظ جبريل وى بكسر الجيم بروزن قنديل، ﴿ فانها لغة الخجاز وهى قراءة ابن عامر وابى عمرو ونافع وحفص، وقال حسان ﷺ.... ﴾

وجبريل رسول الله فينا وروح القدس ليس له الكفاء

او د ميكائيل په باره کښې هغوى ليکى چه هغه ميکال دې بالقصر سره د حذف د همزې نه په وزن د مفعال اه (بذل) د ابوداؤد په بعض نسخو کښې دی چه خلف وائی چه د څلويښتو کالو نه زه په کتابت د حروفو کښې مشغول يم، چرته د يو لفظ کتابت هم زه نه يم عاجز کړې څنګه چه زه جبرائيل او ميكائيل عاجز کړم.

په دې ديارلسو لغتونو کښې خو دولس په حرف لام سره دی او ديارلسم لغت د لام په ځائې په نون سره دې، جبراين......

[٣٩٩٩](٢)حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ يَعْنِي ابْنَ عُمَرَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَازِمٍ، قَالَ: ذُكِرَ كَيْفَ قِرَاءَةُ جِبْرَائِلَ، وَمِيكَائِلَ عِنْدَ الْأَعْمَشِ، فَحَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ سَعْدٍ الطَّائِيِّ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاحِبَ الصُّورِ، فَقَالَ: عَنْ يَمِينِهِ جِبْرَائِلُ وَعَنْ يَسَارِهِ مِيكَائِلُ".

دمحمدبن حازم ﷺ نه روايت دې فرمائی چه داعمش په وړاندې ددې خبرې ذکروشو چه دجبريل اوميكائيل (عليهما السلام) قرءت څنګه دې؟ نوموړي ته اعمش دسعيد الطائي نه اوهغه دعطيه عوفي نه اوهغه دابوسعيد خدری نه حديث بيان کړو چه نبی ﷺ دهغه فرښتې ذکر وکړو دکومې سره چه شپيلۍ ورسره ده او ولاړه ده نبی ﷺ اوفرمائيل دهغې

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٢٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٩) (ضعيف الإسناد)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٢٠٥) (ضعيف)

[٤٠٠٠]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ مَعْمَرٌ: وَرُبَّمَا ذَكَرَ ابْنَ الْمُسَيِّبِ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعُثْمَانُ يَقْرَءُونَ: مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ سورة الفاتحة آية" وَأَوَّلُ مَنْ قَرَأَهَا: مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ. مَرْوَانُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ وَالزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ.

سعيد بن مسيب فرمائی چه رسول کريم ﷺ او ابوبکرصديق ، عمرفاروق او عثمان ﷺ به (مالک يوم الدين) تلاوت کولو اومروان د ټولونه مخکښې (مالک يوم الدين) لوستلی وو امام ابوداؤد فرمائی زهري په واسطه دانس په واسطه دسالم دهغه دپلار نه نقل کړي دي ، اوداحديث مرسل ګڼړل زيات مناسب دي.

قوله: ﴿ كَانَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ يَقْرَءُونَ (مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ) وَأَوَّلُ مَنْ قَرَأَهَا (مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ) مَرْوَانُ ﴾

يعنی دي ټولو حضراتو خو ﴿ مالک يوم الدين ﴾ په الف سره لوستلو او د ټولو نه اول چه کوم سړی لفظ ﴿ ملک ﴾ بغير د الف نه لوستلي دي هغه مروان دي.

په دې باندې بذل کښې د حضرت ګنګوهی د تقرير نه نقل کړې دی چه د دې نه د مطلق قراءت نفی نه ده مراد ، قراءت خو دا قديم دي او متواتر دي، دلته مراد دا دې چه د جماعت په مانځه کښې دغه شان د ټولو نه اول مروان لوستل کړي دی.

والحديث اخرجه الترمذي تعليقا، قاله المنذري

[٤٠٠١]([2]) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى الْأُمَوِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ: "أَنَّهَا ذَكَرَتْ أَوْ كَلِمَةً غَيْرَهَا قِرَاءَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ. يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ آيَةً آيَةً"، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ يَقُولُ: الْقِرَاءَةُ الْقَدِيمَةُ: مَالِكِ يَوْمِ

دام سلمه ﷺ نه روايت دي فرمائی چه نبی کريم به سورة فاتحه داسې لوستله : (بسم الله الرحمن الرحيم *الحمدلله رب العالمين*الرحمن الرحيم *ملك يوم الدين) څلورم ايت تر آخره پورې (يعنی نبی ﷺ به هريو ايت جدا جدا تلاوت کولو اويو به ئې دبل سره نه يوځائې کولو).

﴿ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا ذَكَرَتْ – – قِرَاءَةَ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– (بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ) يَقْطَعُ قِرَاءَتَهُ آيَةً آيَةً ﴾

د ام سلمه ﷺ د دې روايت نه معلوميږی چه رسول الله ﷺ به د سورة الفاتحه د هر آيت په وخت وقف فرمائيلو.

دا روايت په جامع ترمذی کښې په دوه طرقو سره روايت کړې شوې دې ﴿ ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ ﴾ او دويم طريق داسې دې ﴿ ليث بن سعد عن ابن ابی مليكة عن يعلی بن مملک عن ام سلمة ﴾ امام ترمذی ﷫ فرمائی ﴿ وحديث الليث اصح ﴾... په دواړو

---

[1]: تفرد به أبو داود (ضعيف الإسناد)
[2]: سنن الترمذي/القراءات سورة الفاتحة ١ (٢٩٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٨١٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٢/٦، ٣٢٣) (صحيح)

روایتونو کښ فرق دا دې چه د رسول اللهﷺ د قراءت تشریح په هر آیت باندې د وقف کولو سره نشته، او د ابن جریج په روایت د هغې کیفیت ذکر دې، د ابن جریج روایت منقطع او د لیث روایت متصل دې لهٰذا هم دې ته به ترجیح ورکولې شي، د دې نور تفصیل په الدر المنضود د دویم جلد په آخر کښ تیر شوي دي هغې ته دې رجوع اوکړې شي.

[٤٠٠٢]([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: كُنْتُ رَدِيفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى حِمَارٍ وَالشَّمْسُ عِنْدَ غُرُوبِهَا، فَقَالَ: "هَلْ تَدْرِي أَيْنَ تَغْرُبُ هَذِهِ؟ قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: فَإِنَّهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَامِيَةٍ".

دابوذر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه زه په یو خر باندې په نبی علیه السلام پسې شاته سور وم په دې وخت کښې دماښام نمر پریوتو اونبی علیه السلام اوفرمائیل ایا تاته معلومه ده چه دانمر چرته پنا کیږي؟ ما عرض اوکړو الله اودهغه رسول ښه پوهیږي نبی علیه السلام اوفرمائیل: «فإنها تغرب في عين حامية» دحمئة په ځائې باندې ئې حامية ولوستلو.

[٤٠٠٣]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ عَطَاءٍ، أَنَّ مَوْلًى لِابْنِ الْأَسْقَعِ رَجُلَ صِدْقٍ أَخْبَرَهُ، عَنِ ابْنِ الْأَسْقَعِ أَنَّهُ سَمِعَهُ، يَقُولُ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهُمْ فِي صُفَّةِ الْمُهَاجِرِينَ فَسَأَلَهُ إِنْسَانٌ أَيُّ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ أَعْظَمُ؟ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ".

دواثلة بن اسقع نه روایت دې فرمائي چه ئې کزیم و دمهاجرینو صفه ته تشریف راوړو او یوکس ورنه تپوس اوکړو چه اې دالله رسوله په قران کریم کښې کوم یو ایت ډیر لوی دې (یعنی دمرتبې اوداثر په اعتبارسره) نبی علیه السلام اوفرمائیل: « «الله لا إله إلا هو الحي القيوم لا تأخذه سنة ولا نوم» » (نه الا هو باندې ئې وقف ونکړو).

﴿ اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ ﴾ دا حدیث مصنف رحمه الله په دې وجه راوړلې دې چه په القيوم کښ قراءتونه مختلف دی، پس په بذل کښ دی ﴿ وفيه قراءتان غير متواترتين وهي القيام والقيم قال البيضاوي وقرئ القيوم القيام والقيم اهـ ﴾

[٤٠٠٤]([3]) حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ أَبِي الْحَجَّاجِ الْمِنْقَرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ "أَنَّهُ قَرَأَ: هَيْتَ لَكَ سورة يوسف آية ٢٣، فَقَالَ شَقِيقٌ: إِنَّا نَقْرَؤُهَا: هِئْتُ لَكَ. يَعْنِي، فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ: أَقْرَؤُهَا كَمَا عُلِّمْتُ أَحَبُّ إِلَيَّ".

دابن مسعود رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه هغه په سورة یوسف هیت لک ولوستلو شفیق اووئیل چه مونږ خوبه هیئ لک لوستل ابن مسعود به او فرمائیل ما چه څنګه زده کړې دې

[1]: صحيح البخاري/بدء الخلق ٤ (٣١٩٩)، وتفسير القرآن ٣٦ (٤٨٠٣)، والتوحيد ٢٢ (٧٤٢٤)، صحيح مسلم/الإيمان ٧٢ (١٥٩)، سنن الترمذي/الفتن ٢٢ (٢١٨٦)، تفسير القرآن سورة يس ٣٧ (٣٢٢٧)، (تحفة الأشراف: ١١٩٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٥/٥، ١٥٢، ١٥٨، ع ١٦٥، ١٧٧) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٧٥٦) (صحيح)

[3]: صحيح البخاري/تفسير القرآن ٤ (٤٦٩٢)، (تحفة الأشراف: ٩٢٦٥) (صحيح)

هم هغسي مې خوښ دي۔

قوله:﴿ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّهُ قَرَأَ (هَيْتَ لَكَ) فَقَالَ شَقِيقٌ إِنَّا نَقْرَؤُهَا (هِئْتُ لَكَ) يَعْنِى فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ أَقْرَؤُهَا كَمَا عُلِّمْتُ أَحَبُّ إِلَيَّ ﴾

په بعض نسخو کښې هم دغه شان ده د لفظ يعنى په زيادت سره، په ظاهر کښې دا لفظ زائد او بې محل دې، که دا صحيح اومنلې شى نو بيا به دا وئيلې شى چه راوى سره بعينه دعبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ الفاظ محفوظ نه وو په دې وجه هغوى دا لفظ زياتى کړو،

دا لفظ ﴿ هيت ﴾ په سورة يوسف کښې دې، ﴿ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ قَالَ مَعَاذَ اللهِ الاية ﴾ په دې کښې پنځه قراتونه معروف دى، ﴿ هيتَ، هَيتُ، هِيْتَ ﴾ دا درې واړه په يا بعد الهاء سره دى. او ﴿هِئتُ، هِئتَ ﴾ بالهمزة بعد الهاء، په بذل کښې ئې د غيث النفع فى القراءات السبع نه نقل کړې دى:
﴿ وللعرب فيها لغات اجودها فتح الهاء والتاء وهى قراءة العامة وقال الطبرى : وهى قراءة النبى ﷺ﴾

او دا د اسماء افعال نه دې لکه ﴿ رويد ﴾ او ﴿ صه ﴾ د دې معنى د ﴿ هلم ﴾ راځى (بذل) او د حضرت شيخ په الابواب والتراجم ٥/٦٧ کښې دى : وقد بسط القسطلانى الكلام فى قرات لفظ هيت فذكر تسع قراءات اربعة منها شاذة وخمسة معروفة، وقال صاحب الجمل بعد ذكر اختلاف القراءات فى هذا اللفظ : فالقراءات السبعية سبعة وهذه كلها لغات فى هذه الكلمة وهى فى كلها اسم فعل بمعنى هلم اى اقبل وتعال اهـ والحديث اخرجه البخارى بنحوه، قاله المنذرى.

[٤٠٠٥] (¹) حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، قَالَ: قِيلَ لِعَبْدِ اللَّهِ: "إِنَّ أُنَاسًا يَقْرَءُونَ هَذِهِ الآيَةَ: وَقَالَتْ هِيتَ لَكَ،، فَقَالَ: إِنِّي أَقْرَأُ كَمَا عُلِّمْتُ أَحَبُّ إِلَيَّ: وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ سورة يوسف آية ٢٣".

دشقيق نه روايت دې فرمائى چه خلقو عبدالله بن مسعود ته اووئيل چه بعضې خلق (وقالت هيت لک) وائى، هغه اووئيل زه ئې داسې لولم څنګه چه ماته زده کړې شوې دې او زما همدا خوښ دې۔

[٤٠٠٦] (²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ. ح وحَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: لِبَنِي إِسْرَائِيلَ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ تُغْفَرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ".

دابوسعيد خدرى رضی اللہ عنہ نه روايت دې فرمائى چه نبى کريم اوفرمائيل چه الله تعالى بنى اسرائيلو ته فرمائيلى دى : («ادخلوا الباب سجدا وقولوا حطة تغفر لكم خطاياكم») » يعنى نبى علیہ السلام دنغفربه ځائې باندې تغفر ولوستل.

﴿قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لِبَنِى إِسْرَائِيلَ (ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ تُغْفَرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ) » ﴾ په دې لفظ کښې درې قراءتونه دى، ﴿ تُغفر، يُغفر، نَغفِر ﴾ (بذل) والاولى قراءة ابن عامر والثانية قراءة نافع، والثالثة للباقين. (بذل)

¹: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٢٦٥) (صحيح)
²: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤١٨٠) (حسن صحيح)

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي من حديث همام بن منبه عن ابي هريرة رضي الله عنه، قاله المنذري.

[٤٠٠٧] (١) حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ بِإِسْنَادِهِ مِثْلَهُ.

هشام په خپل سند سره ددې روايت په شان روايت بيان کړې دې.

[٤٠٠٨] (٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ: أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: "نَزَلَ الْوَحْيُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ عَلَيْنَا: سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: يَعْنِي مُخَفَّفَةً حَتَّى أَتَى عَلَى هَذِهِ الْآيَاتِ.

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه په نبی کريم صلی الله عليه وسلم باندې وحي نازله شوه او مونږ ته ئې واورولو: «سورة أنزلناها وفرضناها» يعنی په فرضنا کښې په تخفيف دن سره امام ابوداؤد فرمائي چه نبی عليه السلام دالفظ په تخفيف دراء سره تردې چه دې ايتونوته ورسيدو.

قوله:﴿عن عَائِشَةَ – رضى الله عنها – قَالَتْ نَزَلَ الْوَحْيُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فَقَرَأَ عَلَيْنَا (سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا). قَالَ أَبُو دَاوُدَ يَعْنِي مُخَفَّفَةً ﴾

يعنی په ﴿ فرضنا ﴾ کښې د راء په تخفيف سره، او د دې مقابله کښې تشديد د راء دې، په بذل کښې دی: ﴿ قراء ابن كثير وابو عمرو "وفرضناها" بتشديد الراء والباقون بتخفيفها ﴾ اه

د قراءت سبعه امامان او د هغوی د مشهورو راويانو مختصر تعارف:

په ذهن کښې راغلل چه اوس په آخير مقام کښې د مناسبت د وجې نه د قراءت سبعه مشهوره متواتره د ائمه نومونه ذکر کړې شی، علماء قراءت په دې امامانو کښې دوه راويان هم ذکر کړې دی:

۱: **امام نافع المدنی:** دا نافع بن عبدالرحمن ليثی دې د هغې راوی عيسی بن مينا مدنی دې چه د هغه لقب قالون دې، او دويم راوی ابوسعيد عثمان بن سعيد مصری قرشی دې، د چا لقب چه ورش دې.

۲: **امام ابن کثير مکی:** د هغوی نوم ابومعبد عبدالله بن کثير کنانی فارسی الاصل چه پيدائش ئې په مکه مکرمه کښې شوې دې، د هغوی يو راوی ابوالحسن احمد بن محمد مخزومی ولاء مکی دې او دويم راوی ئې ابو عمر محمد بن عبدالرحمن مخزومی مکی دې چه د هغوی لقب قنبل دې.

۳: **ابوعمرو بصری:** د دوی يو راوی ابو عمر حفص بن عمرازدی دوری ضرير دې او دويم راوی ابوشعيب صالح بن زياد رقی دې.

۴: امام ابن عامر شامی عبدالله بن عامر يحصبی امام جامع دمشق دې، د دوی يو راوی ابوالوليد هشام بن عمار خطيب جامع دمشق، او دويم راوی ئې ابو عمرو عبدالله بن احمد فهری قرشی جامع دمشق دې.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤١٨٠) (حسن صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٨٧٨) (صحيح الإسناد)

۵: امام عاصم کوفی ابوبکر عاصم بن ابوالنجود اسدی ولاء کوفی د هغوی يو راوی ابوبکر شعبه ابن عياش حناط او دويم راوی ابو حفص بن سليمان دې، د حفص په باره کښې ليکلې دی چه اګر چه قراءت سبعه بلکه عشره متواتره دی او د سبعه خلاف خو کله چا يو حرف هم نه دې وئيلې بلکه د حرمين او بصره قراءتونه خالص د قرشي کيدو د وجې نه يو خاص امتياز هم دې خو دا د الله ورکړې قبوليت دې چه د سوونو کلونو نه په مکاتب اومدارس کښې صرف دحفص روايت لوستلې شي،اود زمکې په سر باندې په زرو حافظانو کښې تقريبا يوکم زروکسانو ته صرف هم دا روايت ياد دې او داسې به کيدې شي چه يوهم نه وی چا چه دا روايت نه وی لوستلې، ذلک فضل الله يؤتيه من يشاء......

۶: امام حمزة کوفی ابوعماره حمزة بن حبيب الزيات د هغوی يو راوی ابو محمد خلف ابن هشام او دويم راوی ابو عيسى خلاد بن خالد صيرفی کوفی دې،

۷: امام ابوالحسن علی بن حمزة الکسائی نحوی کوفی دا د امام محمد بن الحسن الشيبانی د ترور ځوئې وو. د هغوی يو راوی ابوالحارث ليث بن خالد نحوی او دويم راوی ابو عمر حفص ابن عمر دې ځوک چه د ابوعمرو بصری هم راوی دې. (ماخوذ از شرح سبعه قراءات مولفه قاری محی الاسلام پانی پتی)

كِتَابُ الْحَمَّامِ

د غسل خانې د احکامو بيان

د دې کتاب مناسبت د ماقبل سره:

دا کتاب مقدمه او تمهيد دې د راروان کتاب اللباس دپاره ځکه چه جامه او کپړې صفا او پاک انسان بدلوی د حمام د دخول او غسل نه پس، لهذا په کتاب اللباس او کتاب الحروف کښې مناسبت کتل دی، پس هغه ظاهر دې ځکه چه حروف او الفاظ د معانی دپاره په منزله د لباس دی، فلما فرغ المصنف من احد قسمي اللباس شرع في الاخر....

بَابُ الدُّخُولِ فِي الْحَمَّامِ

غسل خانې ته د داخليدو بيان

[۴۰۰۹]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ، عَنْ أَبِي عُذْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ دُخُولِ الْحَمَّامَاتِ ثُمَّ رَخَّصَ لِلرِّجَالِ أَنْ يَدْخُلُوهَا فِي الْمَيَازِرِ".

د عائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم ﷺ حمامونوته د تلونه منع فرمائيلې وه او بيا ئې صرف سړوته په داسې حال کښې اجازت ورکړو چه لنګونه به ئې وهلي وي.

﴿ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنْ دُخُولِ الْحَمَّامَاتِ ثُمَّ رَخَّصَ لِلرِّجَالِ أَنْ يَدْخُلُوهَا فِي الْمَيَازِرِ ﴾

[۱]): سنن الترمذي/الأدب ۴۳ (۲۸۰۲)، سنن ابن ماجه/الأدب ۳۸ (۳۷۴۹)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۹۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۱۳۲، ۱۳۹، ۱۷۹) (ضعيف)

دا روايت مختصر دې د دې نه روستو روايت مفصل دې، روايتونه دواړه د عائشې ﷺ نه روايت دی، په روايت مفصله کښې دی : ﴿ دَخَلَ نِسْوَةٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ عَلَى عَائِشَةَ - رضي الله عنها - فَقَالَتْ مِمَّنْ أَنْتُنَّ قُلْنَ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ. قَالَتْ لَعَلَّكُنَّ مِنَ الْكُورَةِ الَّتِي تَدْخُلُ نِسَاؤُهَا الْحَمَّامَاتِ قُلْنَ نَعَمْ الخ ﴾

[٤٠١٠]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ جَمِيعًا، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، قَالَ: دَخَلَ نِسْوَةٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، فَقَالَتْ: مِمَّنْ أَنْتُنَّ؟ قُلْنَ: مِنْ أَهْلِ الشَّامِ، قَالَتْ: لَعَلَّكُنَّ مِنَ الْكُورَةِ الَّتِي تَدْخُلُ نِسَاؤُهَا الْحَمَّامَاتِ؟ قُلْنَ: نَعَمْ، قَالَتْ: أَمَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَا مِنَ امْرَأَةٍ تَخْلَعُ ثِيَابَهَا فِي غَيْرِ بَيْتِهَا إِلَّا هَتَكَتْ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ تَعَالَى"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا حَدِيثُ جَرِيرٍ وَهُوَ أَتَمُّ، وَلَمْ يَذْكُرْ جَرِيرٌ أَبَا الْمَلِيحِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دابو المليح نه روايت دې فرمائی چه دشام اوسيدونکي يوڅو زنانه ام المومنين عائشې ﷺ ته راغلې هغې ورته ووئيل تاسوڅوک يئ؟ دوی ورته ووئيل چه دشام دعلاقې والايو، عائشې ﷺ ورته ووئيل کيدې شي چه تاسو دهغه خلقونه يئ چه زنانه ئې دغسل کولو دپاره حمامونوته ځي دوی ووئيل هوام المومنين ورته ووئيل چه ماد نبی کريم ﷺ نه آوريدلی دی چه فرمائيل ئې. هره يوه زنانه چه دخپل کور نه علاوه په بل ځائې کښې جامې اوکاږي نوهغې هغه پرده آوشلوله کومه چه ددې او د الله تعالى په مينځ کښې ده. امام ابوداؤد فرمائی چه دا دجرير حديث دې اوجرير په دې کښې دابو المليح ذکرنه دې کړې اوداسې ئې فرمائيلي دي چه رسول الله فرمائيلي دي.

مضمون الحديث :

يعنی يو ځل د شام څه زنانه د عائشې صديقې ﷺ په خدمت کښې حاضرې شوې نو هغوی ترې نه تپوس اوکړو چه تاسو د کوم ځائې ئې؟ هغوی اووې مونږ اهل شام يو. عائشې ﷺ اوفرمائيل چه کيدې شی تاسو د شام د هغه علاقې يئ چرته چه زنانه په حماماتو کښې داخليږی، يعنی د غسل دپاره. هغوی اووې او جی..... په دې باندې عائشې ﷺ اوفرمائيل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دی چه نه ده يو زنانه چه د خپل کور نه علاوه بل ځائې خپلې جامې اوباسی مګر دا چه هغه ستر او پرده شلوی کومه الله پاک د هغې او خپل مينځ کښې قائم فرمائيلې ده يعنی د انسان او ګناهونو ترمينځه چه الله پاک کومه پرده او بنديز جوړ کړې دې هغې لره هغه ماتوی يعنی د حکم خلاف ورزی کوی.

د باب د اول روايت مضمون دا دې چه په شروع کښې رسول الله ﷺ د دخول حمام نه مطلقا منع فرمائيلې وه د دې نه پس ئې صرف د رجال دپاره د پردې او لنګ سره د داخليدو اجازت اوفرمائيلو.

[1]): وحديث محمد بن قدامة قد تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٨٠٤، ١٦٠٩٠)، وقد أخرجه: حديث محمد بن مثني: سنن الترمذي/الأدب ٤٣ (٢٨٠٣)، سنن ابن ماجه/الأدب ٣٨ (٣٧٥٠)، مسند احمد (٤١/٦، ١٩٩)، سنن الدارمي/الاستئذان ٢٣ (٢٦٩٣) (صحيح)

معلومه شوه چه د سړو په حق کښې نهی منسوخ ده خو د زنانو په حق کښې باقی ده په بعض لویو ښهرونو کښې د حماماتو انتظام وی چه د هغې په عربو کښې دستور نه وو هم په دې وجه وړاندې حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما کښې راځی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی وو :

﴿إِنَّهَا سَتُفْتَحُ لَكُمْ أَرْضُ الْعَجَمِ وَسَتَجِدُونَ فِيهَا بُيُوتًا يُقَالُ لَهَا الْحَمَّامَاتُ فَلاَ يَدْخُلَنَّهَا الرِّجَالُ إِلاَّ بِالأُزُرِ وَامْنَعُوهَا النِّسَاءَ إِلاَّ مَرِيضَةً أَوْ نُفَسَاءَ﴾ یعنی رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه مسلمانان به د عجمو زمکه فتح کړی او هلته به داسې کورونه او حمامات بیا مومی په هغې کښې دې سړی بغیر د لنګ نه بالکل داخل نه شی، او زنانه هلته د تلو نه منع کړئ مګر دا چه هغه مریضه وی یا د حیض او نفاس والا وی.

د دې حماماتو د دخول نه په دې وجه منع اوفرمائیلې شوه چه هلته د عورت ښکاره کیدل او بې پردګی وی، او د سړو او ښځو اختلاط وی. حدیثا عائشة رضی الله عنها اخرجهما الترمذی وابن ماجه، وحدیث عبدالله بن عمر اخرجه ابن ماجه قاله المنذری.

[٤٠١١]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زِيَادِ بْنِ أَنْعُمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّهَا سَتُفْتَحُ لَكُمْ أَرْضُ الْعَجَمِ وَسَتَجِدُونَ فِيهَا بُيُوتًا يُقَالُ لَهَا الْحَمَّامَاتُ فَلاَ يَدْخُلَنَّهَا الرِّجَالُ إِلاَّ بِالأُزُرِ وَامْنَعُوهَا النِّسَاءَ إِلاَّ مَرِيضَةً أَوْ نُفَسَاءَ".

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي: نزدې ده چه تاسو به د عجمو علاقې فتح کړئ او هلته به تاسو د حمامونو په نوم باندې آبادئ ووینئ خبردار سړي دې ورته بغیر دلنګ نه نه داخلیږي اوخپلې زنانه هلته دتلونه منع کړي مګرچه کومه زنانه په نفاس کښې وي یا مریضه وي.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّعَرِّي([2])

د بربنډ لامبلو د مما نعت بیان

[٤٠١٢]([3])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ نُفَيْلٍ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ الْعَرْزَمِيِّ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ يَعْلَى: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلاً يَغْتَسِلُ بِالْبَرَازِ بِلاَ إِزَارٍ، فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ حَيِيٌّ سِتِّيرٌ يُحِبُّ الْحَيَاءَ وَالسَّتْرَ، فَإِذَا اغْتَسَلَ أَحَدُكُمْ، فَلْيَسْتَتِرْ".

د یعلی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ یو داسې کس اولیدو چه بغیرجانګي ئې غسل کولونو په دې وخت کښې منبرته وختلو دالله تعالی حمد او ثناء ئې بیان کړه اوبیائې اوفرمائیل یقینا الله تعالی ډیر ژوندي او پرده پوش دي ستراوحیاء خوښوي. کله چه په تاسو کښې یو کس غسل کوي نوځان ته دې پرده وکړي.

قوله: ﴿عَنْ يَعْلَى أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– رَأَى رَجُلاً يَغْتَسِلُ بِالْبَرَازِ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ

[1]: سنن ابن ماجه/الأدب ٣٨ (٣٧٤٨)، (تحفة الأشراف: ٨٨٧٧) (ضعيف)

[2]) په دې تعری سره مقصود بالذات هغه تعری ده کومه چه عند الغسل وی هم په دې وجه مصنف دا باب په کتاب الحمام کښې راوړې دې په ځائې د کتاب اللباس. والله تعالی اعلم

[3]): سنن النسائي/الغسل والتيمم ٧ (٤٠٤)، (تحفة الأشراف: ١١٨٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٢٤) (صحيح)

فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ - ((إِنَّ اللّٰهَ حَيِيٌّ سِتِّيرٌ ﴾ دا لفظ حي په يوې ياء سره نه دې هغه خو د حياة نه اخستلې شوې دې او دا په دوه ياء ګانو سره د حياء نه ماخوذ دې په وزن د فعيل، زمونږ په نسخه کښې هم دغه شان دې ﴿ يغتسل بالبراز ﴾ او په بعض کښې دی ﴿ يغتسل بالبراز بلا ازار ﴾ او په بعض کښې ﴿ يغتسل بالازار ﴾ دې.

شرح الحديث وفقهه :

رسول اللهﷺ يو سړې اوليدو چه په ښکاره ځائې کښې ئې بغير د ازار او پردې نه غسل کولو، رسول اللهﷺ هغه ته مخامخ خو څه او نه فرمائيل چه د رسول اللهﷺ عادت مبارک مخامخ د رټلو نه وو بلکه د عام تقرير او بيان په انداز کښې به رسول اللهﷺ خبرداري کولو، پس دلته هم رسول اللهﷺ هم دغه شان اوکړل چه منبر ته ئې تشريف يوړو او د خطبې نه پس ئې په دې باندې تنبيه اوفرمائيله او وې فرمائيل چه بيشکه الله پاک حياء کونکې دې او د بل نه هم حياء او پرده خوښوی، پس کوم سړې چه په تاسو کښې غسل کوی نو هغه لره پرده اختيارول پکار دی.

په بذل المجهود کښې ليکلې دی چه که غسل د خلقو مخکښې کوی نو بيا خو ستر واجب دې او که ځانله وی نو بيا هغه وخت مستحب دې، (١) ونقل عياض جواز الاغتسال عريانا فى الخلوة عند جماهير العلماء لحديث البخارى ان موسى اغتسل عريانا وان ايوب كان يغتسل عريانا اهـ.... په زمانه د جاهليت کښې پرده بالکل وه نه پس د عورت ښکاره کولو سره د استنجاء ذکر په کتاب الطهارة کښې تير شوې دې، ﴿ لا يخرج الرجلان يضربان الغائط كاشفين عن عورتهما الحديث ﴾ والحديث اخرجه النسائى، قاله المنذرى...

[٤٠١٣](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ أَبِي خَلَفٍ، حَدَّثَنَا الْأَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْأَوَّلُ أَتَمُّ.

صفوان بن يعلى دخپل پلارنه اوهغه دنبی ﷺ نه دا روايت بيان کړې دې. امام ابوداؤد فرمائی چه اولنې ايت ډيرکامل دې.

[٤٠١٤](٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ زُرْعَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جَرْهَدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ جَرْهَدٌ هَذَا مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ، قَالَ: جَلَسَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَنَا وَفَخِذِي مُنْكَشِفَةٌ، فَقَالَ: "أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ".

---

(١) د راتلونکی باب په آخری حديث کښې راځی ﴿ قلت يا رسول اللهﷺ اذا كان احدنا خاليا؟ قال الله احق ان يستحي من الناس، په دې باندې د شيخ په حاشيه کښې دی چه شامی د خلوت په حالت کښې هم ستر واجب کړې دې يعنی بغير د حاجت نه بربنډ کيدل جائز نه دی، او په شرح اقناع کښې د استحباب تصريح کړې ده خو امام نووی رحمه الله فرمائی چه الاصح الوجوب.....)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٨٤٠) (حسن)

(٣): صحيح البخاري/ الصلاة ١٢ (٣٧١ تعليقًا)، سنن الترمذي/الاستئذان ٤٠ (٢٧٩٥)، (تحفة الأشراف: ٣٢٠٦)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الاستئذان ٢٢ (٢٦٩٢) (صحيح)

عبد الرحمن بن جرهد د خپل پلارنه روایت نقل کوي اوجرهد رضي الله عنه داصحاب صفه والادي فرمائي چه یوځل نبی ﷺ زمونږسره کیناستو او زما پتون بربنډوو، راته ئي اوفرمائیل ایاتاته معلومه نه ده چه ورون عورت وي؟

• ﴿جَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عِنْدَنَا وَفَخِذِى مُنْكَشِفَةٌ فَقَالَ « أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ؟ ﴾

د ائمه اربعه مذهب هم دا دې د هغوی په نزد فخذ په عورت کښې داخل دې په دې کښې د اهل ظواهر اختلاف دې د هغوی په نزد د عورت مصداق صرف سوأتين دی یعنی قبل او دبر، دا مسئله یعنی حد العورة کښې اختلاف العلماء په دويم جلد ﴿باب جماع اثواب ما يصلى فيه﴾ کښې تیر شوې دې، هلته دا هم تیر شوې دی چه د امام مالک رحمه الله یو قول دې چه فخذین په عورت کښې داخل نه دی.

د جرهد د دې حدیث په باره کښې امام ترمذی رحمه الله فرمائي: حديث حسن ما ارى اسناده بمتصل... او د دې په سند کښې اختلاف او اضطراب هم دې کوم چه په بذل کښې ذکر دې، او په صحیح بخاري کښې دی امام بخاري رحمه الله فرمائي: حديث انس اسند وحديث جرهد احوط... د حدیث انس رضي الله عنه نه مراد دا دې: ﴿حسر النبی ﷺ عن فخذه﴾ ابن رسلان فرمائي: ﴿و معنى قوله ((اسند))ای احسن اسنادا ومعنی قوله ((احوط)) اقرب الى التقوى والجواب عن حديث انس انه محمول على انه انكشف فخذه بغير اختياره وعلمه وقصده وانما انكشف من اسراع الدابة ونحوه فلا يستلزم ذلک ان لا تكون الفخذ عورة﴾ (من البذل)

[٤٠١٥](1) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَهْلٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أُخْبِرْتُ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَكْشِفْ فَخِذَكَ وَلَا تَنْظُرْ إِلَى فَخِذِ حَيٍّ وَلَا مَيِّتٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ فِيهِ نَكَارَةٌ.

د علی رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خپل ورون مه بربنده وه اونه به دژوندي اونه به دمړي ورون ته ګوري، امام ابوداؤد فرمائي چه په دې روایت کښې نکارت دې.

﴿عَنْ عَلِيٍّ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ تَكْشِفْ فَخِذَكَ وَلاَ تَنْظُرْ إِلَى فَخِذِ حَيٍّ وَلاَ مَيِّتٍ ». قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا الْحَدِيثُ فِيهِ نَكَارَةٌ ﴾

د نکارة په ظاهر کښې وجه دا ده چه په دې سند کښې د حبیب او عاصم ترمینځه انقطاع ده، د هغوی د هغوی نه سماع نه ده ثابت اګر چه رجال د اسناد ثقه دی، په بذل کښې د ابن رسلان نه دا جواب نقل کړي دې: ﴿ وقد زال الانقطاع بواسطة الحسن بن ذكوان كما قال ابوحاتم. او عمرو بن خالد كما ذكره البزار، وقد اخرج لهما البخارى فى الصحيح، ولم يبق فيه نكارة ولا قدح اه﴾ والحديث اخرجه ابن ماجه قاله المنذری...

(1): انظر حديث رقم: (٣١٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٠١٣٣) (ضعيف جداً)

باب مَا جَاءَ فِي التَّعَرِّي

د بربنډ تلو بيان

دلته د تعری نه مراد بې پرده کيدل دی کوم چه بالارادة وی لکه چه د حديث الباب نه معلوميږی چه د هغې مضمون دا دې:

[٤٠١٦] (¹) حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأُمَوِيُّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ، عَنْ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، قَالَ: حَمَلْتُ حَجَرًا ثَقِيلًا، فَبَيْنَا أَمْشِي، فَسَقَطَ عَنِّي ثَوْبِي فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خُذْ عَلَيْكَ ثَوْبَكَ وَلَا تَمْشُوا عُرَاةً".

دمسور بن مخرمه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ما يوځل يوه لوه ګټه ورله نوزمالنګ کولا وشو نبی عليه السلام راته اوفرمائيل جامې دې راپورته کړه اوبربنډ مه ګرځه.

مسور بن مخرمه رضي الله عنه فرمائی چه يو ځل ما يو دروند کانړې اوړلو اتفاقا زما لنګ پرانستلې شو رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه خپله جامه برابره کړه: ﴿ خُذْ عَلَيْكَ ثَوْبَكَ وَلاَ تَمْشُوا عُرَاةً ﴾

والحديث اخرجه مسلم، قاله المنذري

[٤٠١٧] (²) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا أَبِي. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى نَحْوَهُ، عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَوْرَاتُنَا مَا نَأْتِي مِنْهَا وَمَا نَذَرُ؟ قَالَ: احْفَظْ عَوْرَتَكَ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِكَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذَا كَانَ الْقَوْمُ بَعْضُهُمْ فِي بَعْضٍ، قَالَ: إِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ لَا يَرَيَنَّهَا أَحَدٌ فَلَا يَرَيَنَّهَا، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذَا كَانَ أَحَدُنَا خَالِيًا، قَالَ: اللَّهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيَا مِنْهُ مِنَ النَّاسِ".

بهز بن حکيم دخپل پلارنه اوهغه دده دنيکه نه روايت کوی فرمائی چه ماعرض وکړواې دالله رسوله مونږ خپل عورتونه دچانه پټ وساتو اودچانه ئې دپټولوکوشش وتکړوانبی عليه السلام اوفرمائيل خپل عورتونه به پټوئ مګردخپلو ښځونه اودخپلو وينځونه ، مابياعرض وکړو اې دالله رسوله کله چه خلق مخلوط وي نوبياڅه حکم دي نبی عليه السلام اوفرمائيل چه ترڅومره حده پورې ممکن وي دسترپوشی اهتمام کوه دې وائی چه مابياعرض وکړو چه اې دالله رسوله کله چه يوکس يواځې وي نوبياڅه حکم دي نبی عليه السلام اوفرمائيل چه دخلقو په نسبت الله تعالی زيات حقداردي چه حياء ورنه وکړې شي.

قوله: ﴿ عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ عَوْرَاتُنَا (³) مَا نَأْتِي مِنْهَا وَمَا نَذَرُ

¹): صحيح مسلم/الحيض ١٩ (٣٤١)، (تحفة الأشراف: ١١٢٦٦) (صحيح)

²): صحيح البخاري/ الطهارة قبيل حديث (٢٧٨ تعليقًا)، سنن الترمذي/الأدب ٣٩ (٢٧٩٤)، سنن ابن ماجه/النكاح ٢٨ (١٩٢٠)، (تحفة الأشراف: ١١٣٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٥، ٤) (حسن)

³) ښځوته د راتګ نه مراد دی ښځوسره دښځو معامله کول وهو الستر، دحديث شرح داده چه سائل د حضورپاک (ص) نه تپوس اوکړو چه د بدن کومې حصې ته عرفا اوشرعا عورت (ستر) وائی دکوم ښکاره کيدل چه حياء اوشرم ګنړلي کيږی آيا دهغې څه حصه داسې هم ده چه دهغې ستر نه کول جائز وی؟ په دې باندې حضور پاک (ص) اوفرمائيل نا ، بلکه دخپل پوره عورت ستر کوه د هرچا نه، سوا د خپلې ښځې او مملوکه وينځې نه، معلومه شوه چه دبدن څومره حصه په عورت کښې داخله ده دهغې هيڅ حصه د عورت دحکم نه يعنې د ستر نه مستثنی نه ده بلکه دټول ستر کول ضروری دی، سوا دهغې دوه کسانو نه دکومې استثنی چه په حديث کښې مذکورده (يعنی ښځه او وينځه) د زياتې غور نه پس دحديث شريف دا تشريح اوکړې شوه.له الحمد والمنة.

قَالَ « احْفَظْ عَوْرَتَكَ إِلاَّ مِنْ زَوْجَتِكَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ » عورات جمع د عورت ده، د بدن هغه حصه چه د هغې پټول ضروری دی کوم ته چه زمونږ په ژبه کښې ستر وائی نو هغه صحابی د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو چه آیا ټول ستر لره پټول ضروری دی یا که بعض پریخودلې هم شو؟ رسول اللهﷺ اوفرمائیل د ټولو نه خپل پوره ستر پټوئ سوا د خپلې ښځې نه او د وینځې نه...

[٤٠١٨](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عُرْيَةِ الرَّجُلِ وَلَا الْمَرْأَةُ إِلَى عُرْيَةِ الْمَرْأَةِ، وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي ثَوْبٍ".

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی یونارینه به دبل نارینه عورت ته نه ګوري اونه به یوه ښځه دبې ښځې عورت ته ګوري او په یوه جامه بستره کښې به یونارینه دبل نارینه سره نه یوځائې کیږی اونه به یوه ښځه دبلې ښځې سره په یوه بستره کښې یوځائې کیږي.

قوله: ﴿ لاَ يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عُرْيَةِ (٢) الرَّجُلِ وَلاَ الْمَرْأَةُ إِلَى عُرْيَةِ الْمَرْأَةِ ﴾

شرح الحديث:

چه یو سړې دې د بل سړی ښکاره ستر نه ګوری او هم دغه شان زنانه هم ﴿ لا يفضى الرجل الى الرجل فى ثوب الخ ﴾ په اول جمله کښې د نظر حکم ذکر وو او په دې کښې د مس یعنی په یو جامه کښې دې دوه سړی برېنډ یو ځائې نه سملی چه د بدن سره بدن مس کیږی، او هم دغه شان دې دوه زنانه یو جامه اغوستلو سره داسې نه سملی، ځکه چه هر کله ستر ته کتل جائز نه دی نو د هغې مس په طریق اولی ناجائز دی او دا مس البدن بالبدن.... اګرکه د بدن د هغه حصې سره وی کومه چه په ستر کښې داخله ده نو مکروه تحریمی دې، او که په هغه حصه کښې وی کوم چه غیر ستر دې نو هغه مکروه تنزیهی دې، د عدم خوف د فتنې په صورت کښې ګینې په دوارو کښې مکروه تحریمی دې. (بذل) د ابواب المساجد په آخیر کښې ﴿ مروا اولادکم بالصلوة اذا بلغوا سبعا ﴾ کښې تیر شوې دی ﴿ وفرقوا بينهم فى المضاجع ﴾ د دې شرح دې هم اوکتلې شي د مقام په مناسبت سره.

والحديث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[٤٠١٩](٣)حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ ح حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ رَجُلٍ مِنَ الطُّفَاوَةِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُفْضِيَنَّ رَجُلٌ إِلَى رَجُلٍ وَلَا امْرَأَةٌ إِلَى امْرَأَةٍ إِلَّا وَلَدًا، أَوْ وَالِدًا، قَالَ: وَذَكَرَ الثَّالِثَةَ، فَنَسِيتُهَا".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي: یونارینه به دیل نارینه

(١): صحيح مسلم/الحيض ١٧ (٣٣٨)، النكاح ٢١ (١٤٣٧)، سنن الترمذي/الأدب ٣٨ (٢٧٩٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٣٧ (٦٦١)، (تحفة الأشراف: ٤١١٥) (صحيح)

(٢) عرية.. په دې کښې درې لغتونه دی (عُريه، عِرية، عريه) (بذل عن النووي) د بدن برېنډه حصه.

(٣): انظر حديث رقم (٢١٧٤)، (تحفة الأشراف: ١٥٤٨٦) (ضعيف)

سره اونه به یوه ښځه دبلي ښځې سره څملي مګرپلار او بچي. راوی وائی چه دریم ئې هم ذکر کړوخوزمانه هیرشوي دي.

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ يُفْضِيَنَّ رَجُلٌ إِلَى رَجُلٍ وَلاَ امْرَأَةٌ إِلَى امْرَأَةٍ إِلاَّ وَلَدًا أَوْ وَالِدً ». قَالَ وَذَكَرَ الثَّالِثَةَ فَنَسِيتُهَا ﴾ د پورته حدیث شرح اوګورئ... او په بعض نسخو کښې د دې نه مخکښې دی. (آخر کتاب الحمام)

....

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب اللباس

دلباس داحکامو بیان

باب مَا يَقُولُ إِذَا لَبِسَ ثَوْبًا جَدِيدًا.

د نوی جامو داغوستلو په وخت د دعا غوښتلو بیان

[٤٠٢٠]([1]) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ إِمَّا قَمِيصًا أَوْ عِمَامَةً ثُمَّ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ"، قَالَ أَبُو نَضْرَةَ: فَكَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَبِسَ أَحَدُهُمْ ثَوْبًا جَدِيدًا، قِيلَ لَهُ: تُبْلَى وَيُخْلِفُ اللَّهُ تَعَالَى.

دابوسعید خدری ﷺ نه روایت دي فرمائی کله چه به نبی ﷺ نوي جامې واغوستلې نو د جامو نوم به ئې واخستو چه قمیص یاعمامه اوبیابه ئې دا دعا وئیله: «اللَّهُمَّ لك الحمد أنت كسوتنيه أسألك من خيره وخير ما صنع له وأعوذ بك من شره وشر ما صنع له» ، ابونصره وائی دنبی ﷺ په صحابه کرامو کښې چه به چا کله نوي جامې واغوستې نوخلقوبه ورته داسې وئیل الله دي وکړي چه ته دا جامې زړي کړي او بل لباس اغوستل درته نصيب شي.

﴿ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ إِمَّا قَمِيصًا أَوْ عِمَامَةً ثُمَّ يَقُولُ « اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ ». قَالَ أَبُو نَضْرَةَ وَكَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا لَبِسَ أَحَدُهُمْ ثَوْبًا جَدِيدًا قِيلَ لَهُ تُبْلَى وَيُخْلِفُ اللَّهُ تَعَالَى ﴾

یعنی کله چه به رسول الله ﷺ نوې جامه واغوستله نو قمیص یا عمامه هر څه چه وی د هغې نوم اخستلو سره به ئې دا دعاء فرمائیله. او ابونضره فرمائی چه د صحابه کرامو ﷺ خپل مینځ کښې معمول وو چه کله به په هغوی کښې چا نوې کپړه واغوستله نو هغه ته به دا دعاکیدلې شوه، ﴿ تبلی ويخلف الله تعالى ﴾ الله دې اوکړی چه ته دا کپړه دې اغوستلو اغوستلو سره زړه کړی او بیا دې الله پاک د هغې په عوض کښې دویمه ورکړی.

اخرجه الترمذی والنسائی المسند منه، قاله المنذری

---

[1]): سنن الترمذي/اللباس ٢٩ (١٧٦٧)، سنن النسائي/ اليوم والليلة (٣١٠)، (تحفة الأشراف: ٤٣٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٠، ٥٠) (صحيح)

[٤٠٢١]( ) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ بِإِسْنَادِهِ نَحْوَهُ.

يونس دجريرنه په دې طريقې سره ددې روايت په شان روايت بيان کړې دې.

[٤٠٢٢]( ) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دِينَارٍ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ أَبَا سَعِيدٍ، وَحَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، قَالَ: عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، وَالثَّقَفِيُّ سَمَاعُهُمَا وَاحِدٌ.

محمدبن دينار دجريري نه پخپل سندسره دمذکوره روايت په شان روايت بيان کړې دې. امام ابوداؤد فرمائي عبدالوهاب ثقفي په دې روايت کښې دابو سعيد ذکر نه دې کړې او ابوحماد دا روايت دجريري نه دابو العلاء په واسطه سره دنبي ﷺ نه نقل کړې دې.

[٤٠٢٣]( ) حَدَّثَنَا نُصَيْرُ بْنُ الْفَرَجِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ يَعْنِي ابْنَ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي مَرْحُومٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أَكَلَ طَعَامًا ثُمَّ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا الطَّعَامَ، وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ، قَالَ: وَمَنْ لَبِسَ ثَوْبًا، فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ".

سهل بن معاذ دخپل پلار معاذ بن انس رضی الله عنه نه روايت کوي فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي: څوک چه دخوراک کولونه پس دا دعا: «الحمد لله الذي أطعمني هذا الطعام ورزقنيه من غير حول مني ولا قوة» اووائي نودده مخکني او روستني ګناهونه به معاف شي اوچاچه دجامو اغوستو په وخت کښې دا دعا: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ» اووائي نودده مخکني اوروستني ګناهونه به معاف کړې شي.

﴿عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «مَنْ أَكَلَ طَعَامًا ثُمَّ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَطْعَمَنِى هَذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّى وَلاَ قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ وَمَنْ لَبِسَ ثَوْبًا فَقَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى كَسَانِى هَذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّى وَلاَ قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ﴾

دا دوه دعاګاني کومې چه ذکر شوې چه په هغې کښې يو د خوراک نه پس ده او دويمه د جامو د اغوستلو په وخت، د دې دواړو په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائي چه کوم سړې دا دعا اولولی د هغه به وړاندې روستو ټول ګناهونه معاف شي، دا خبره خو مشهوره چه په دې قسم رواياتو کښې د ګناهونو نه مراد صغائر دی، دلته به هم دا وئيلې شي، دويمه خبره په بذل کښې دا ليکلې ده چه دا روايت په ترمذی او ابن ماجه کښې هم شته خو هلته د ﴿ وما تاخر ﴾ لفظ نشته چه د هغې مطلب دا شو چه د تيرو ګناهونو د معاف کيدو وعده ده خو د مستقبل د ګناهونو نشته، او دويمه خبره ئې دا ليکلې ده چه که اومنلې شی د ﴿وما تاخر ﴾ زيادت نو بيا د دې څه مطلب دې په دې کښې يو قول خو دا دې چه هغه ګناه به سره د وقوع

( ): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٣٢٦) (صحيح)
( ): انظر حديث رقم: (٤٠٢٠)، (تحفة الأشراف: ٤٣٢٦) (صحيح)
( ): سنن الترمذي/الدعوات ٥٦ (٣٤٥٨)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ١٦ (٣٢٨٥)، (تحفة الأشراف: ١١٢٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣٩/٣)، سنن الدارمي/الاستئذان ٥٥ (٢٧٣٢) (حسن) دون زيادة: «وما تأخر» في الموضعين

نه معاف کولې شي، دويم مطلب ئې دا دې چه هغه به د بيا دپاره د ګناهونو نه محفوظ شي چه د بيا دپاره به د هغه نه د ګناه وقوع نه کيږي، دا دواړه احتماله شارحينو د اهل بدر په باره کښې هلته ليکلې دی کوم چه په حديث کښې راغلې دی ﴿ اعملوا ما شئتم فقد غفرت لکم﴾.... لهذا دلته هم دا دواړه احتماله کيدې شي. (بذل بتوضيح)

په حديث کښې ثواب عظيم :

په دې حديث کښې چه د کومو ګناهونو نه د دومره زبردست معافئ بشارت دې هغه په يو مختصر عمل سره د الله پاک په امت محمديه باندې ډيره زياته مهرباني معلوميږي، په دې کښې به د رسول الله ﷺ شان محبوبيت لره دخل وی، چه د هغې امت لره قدرداني کول پکار دی او د هغې نه فائده اوچتول پکار دی. والله تعالى الموفق.

......

باب فِيمَا يُدْعَى لِمَنْ لَبِسَ ثَوْبًا جَدِيدًا

د نوی لباس اغوستونکی دپاره د دعا غوښتلو بيان

(ما قبل سره ربط او مناسبت)

په اول باب کښې هغه دعاګانې ذکر شوې وې کومې چه خپله کپړې اغوستونکی لره وئيل پکار دی، او په دې باب کښې هغه دعا کومه چه بل ته اوئيلې شي چه کله هغه نوې جامې واچوی چه د هغې ذکر په تير شوی باب کښې راغلو. ﴿ تبلي ويخلف الله تعالى ﴾

[۴۰۲۴] (۱) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ الْجَرَّاحِ الْأَذَنِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُمِّ خَالِدٍ بِنْتِ خَالِدِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِكِسْوَةٍ فِيهَا خَمِيصَةٌ صَغِيرَةٌ، فَقَالَ: "مَنْ تَرَوْنَ أَحَقَّ بِهَذِهِ؟ فَسَكَتَ الْقَوْمُ، فَقَالَ: ائْتُونِي بِأُمِّ خَالِدٍ، فَأُتِيَ بِهَا، فَأَلْبَسَهَا إِيَّاهَا، ثُمَّ قَالَ: أَبْلِي وَأَخْلِقِي مَرَّتَيْنِ وَجَعَلَ يَنْظُرُ إِلَى عَلَمٍ فِي الْخَمِيصَةِ أَحْمَرَ أَوْ أَصْفَرَ وَيَقُولُ: سَنَاهْ سَنَاهْ يَا أُمَّ خَالِدٍ، وَسَنَاهْ فِي كَلَامِ الْحَبَشَةِ الْحَسَنُ".

دام خالد بن سعيد بن العاص نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم له ته يوڅوقسمه کپړې راوړل شوي او په هغې کښې يو وړوکې څادرهم وونبی ﷺ صحابه کراموته اوفرمائيل تاسوددې زيات مستحق څوک ګنړئ؟ خلقو چه دا واوريده نوخاموش شول نبی ﷺ اوفرمائيل ام خالد ماته راولئ چنانچه هغه نبی ﷺ ته راوستلې شونبی ﷺ دغه څادر ام خالد ته واغوستو او بيا ئې دوه پيرې اوفرمائيل دا څادر دې په تازوړ کړې شي ، نبی ﷺ به دڅادر سرو او زيړو ګلونوته کتل اوسناه سنا ، ئې وئيل په حبشي ژبه کښې سناء بهترين ته وئيلې شي (ددې مطلب دادې چه دا څادر درسره ډير ښکلی ښکاري).

مضمون الحديث

او د حديث الباب مضمون دا دې چه رسول الله ﷺ ته يو ځل د چرته نه ډير کپړې راغلې چه په هغې کښې يو لوپټه هم وه رسول الله ﷺ د هغې په ليدلو باندې اوفرمائيل چه د دې زياته

---

[1]): صحيح البخاري/الجهاد ۱۸۸ (۳۰۷۱)، المناقب ۳۷ (۳۸۷۴)، اللباس ۲۲ (۵۸۲۳)، الأدب ۱۷ (۵۹۹۳)، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۷۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۶۵/۶) (صحيح)

مستحقه څوک ده؟ بیا رسول اللهﷺ خپله اوفرمائیل چه ام خالد رضي الله عنها راوغواړئ، پس هغه راوستلې شوه او رسول اللهﷺ هغې ته ورکړه او دا دعاء ئې ورته ورکړه ﴿ ابلی واخلقی ﴾ دا رسول اللهﷺ دوه کرته اوکړه، په دې لوپټه کښې څه ګلونه او نقش ونګار هم وو سور او زیړ رنګ، نو رسول اللهﷺ هغې ته کتلو سره هغه ماشومې ته اوروولو سره اوفرمائیل ﴿ سناه سناه یا ام خالد ﴾ (1) یعنی اوګوره اې ام خالد دا ګلونه څنګه ښکلې دی، وړاندې راوی وائی چه د سناه معنی په لغت حبشه کښې د ﴿ حسن ﴾ ده.

د رسول اللهﷺ د بعض عجمی الفاظو تکلم کول:

د دې حدیث نه د رسول اللهﷺ تکلم بلسان العجم فی بعض الاوقات ثابت شو، امام بخاری رحمه الله خو په دې موضوع باندې په کتاب الجهاد کښې مستقل باب قائم کړې دې ﴿باب من تکلم بالفارسية والرطانة ﴾ بیا ئې د احادیث الباب نه دا قسم درې الفاظ ثابت کړې دی یو لفظ ﴿ سور ﴾ او دویم لفظ ﴿ سنه سنه ﴾ او دریم لفظ ﴿ کخ کخ ﴾ او حضرت شیخ په الابواب والتراجم ۱۲۶/۲ کښې د دې سلسلې بعض نور الفاظ هم نقل فرمائیلی دی لکه چه په ابن ماجه کښې دی چه رسول اللهﷺ یو ځل ابوهریره رضي الله عنه ته فرمائیلې وو ﴿ اشکمت درد ﴾ چه په هغې باندې هغوی اوفرمائیل ﴿ نعم ﴾ او د ابن ماجه په حاشیه باندې دی چه صاحب قاموس ﴿باب تکلم النبیﷺ بالفارسية ﴾ (په کتاب سفر السعادة) کښې لیکلې دی چه ﴿العنب دو دو والتمر یک ﴾ او هم دغه شان ﴿ یا سلمان شکمت درد ﴾ دا ثابت نه دې، حضرت شیخ فرمائی چه بعض فارسی الفاظ د ابواللیث سمرقندی په بستان العارفین کښې هم ذکرکړې شوې دی، او په مقاصد حسنه کښې دی ﴿ العنب دو دو والتمر یک ﴾ په باره کښې دا دی چه داحدیث مشهوربین الاعاجم دې﴿ولا اصل له﴾ والحدیث اخرجه البخاری، قاله المنذری

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقَمِيصِ

د قمیص بیان

[۴۰۲۵] (2) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَبْدِ الْمُؤْمِنِ بْنِ خَالِدٍ الْحَنَفِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَمِيصُ".

دام سلمه رضي الله عنها نه مروي دې فرمائی چه په ټولو لباسونو کښې قمیص دنبی ﷺ ډیر خوښ وو.

﴿ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الْقَمِيصُ ﴾ چه د رسول اللهﷺ په جامو کښې د ټولو نه زیات قمیص خوښ وو.

د قمیص د زیات خوښیدلو وجه

د زیات خوښیدو وجه ئې دا لیکلې ده چه په دې کښې د اندامونو او بدن ستر زیات دې په

(1) په دې کښې څلور لغتونه دی: سنه سنه، سناه سناه، سناه سناه، سنا سنا (بذل)

(2) سنن الترمذي/اللباس ۲۸ (۱۷۶۳)، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۶۹)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/اللباس ۸ (۳۵۷۵)، مسند احمد (۶/۳۱۷، ۳۱۸، ۳۲۱) (صحیح)

نسبت د هغې د مقابل یعنی ازار او رداء، او بل په دې وجه باندې هم چه د دې په اغوستلو کښ سهولت او آرام زیات دې ځکه چه د ازار د تړلو ضرورت پېښیږی او په څادر کښ د امساک یعنی هغه سنبهالول غواړی په خلاف د قمیص او په دې وجه باندې هم چه هغه د مالوچو نه جوړ وی پس په قاموس کښ دی ﴿ ولا یکون الا من القطن واما الصوف فلا ﴾ په خلاف د څادر چه هغه اونی او سوتی هر قسم وی (تحفه)

والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری

[۴۰۲۶]() حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا أَبُو تُمَيْلَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ الْمُؤْمِنِ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "لَمْ يَكُنْ ثَوْبٌ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَمِيصٍ".

دام سلمه رضی الله عنها نه مروي دي چه نبی علیه السلام ته په لباسونو کښې دقمیص نه بل څیز محبوب نه وو.

[۴۰۲۷] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْحَنْظَلِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ بُدَيْلِ بْنِ مَيْسَرَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ، قَالَتْ: "كَانَتْ يَدُ كُمِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الرُّصْغِ".

داسماء بنت یزید رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه دنبی علیه السلام نستونړي دمړوندونو پورې وو.

﴿عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ كَانَتْ يَدُ كُمِّ قَمِيصِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِلَى الرُّصْغِ﴾

لستونړې د کوم ځائې پورې کیدل پکار دی:

یعنی د رسول الله ﷺ لستونړی د لیچې پورې وو، او د ترمذی د روایت الفاظ دا دي: ﴿كان كم يد رسول الله ﷺ﴾ دا زیات واضح دي په نسبت د ابوداؤد د الفاظو﴿ يد كم قميص ﴾ په دې کښ د ید اضافت د کم طرف ته تاویل ته محتاج دي په داسې طور چه اوئیلې شی چه اضافت بیانیه دې، او سیوطی رحمه الله په مرقاة الصعود کښ فرمائی چه په دې حدیث کښ د هغه بیان دې کوم چه به رسول الله ﷺ په سفر کښ اغوستلواو کوم قمیص چه به رسول الله ﷺ په حضر کښ اغوستلو د هغې لستونړی د ګوتو پورې وو لکه د بیهقی په روایت کښ دی کوم چه په شعب الایمان کښ دې او حضرت په بذل کښ د هغې د نقل کولو نه پس دا فرمائیلې دی چه ممکنه ده چه داسې اوئیلې شی چه دا حدیث الباب په اولویت باندې حمل دې او حدیث د بیهقی په جواز باندې، خو وړاندې د شامی د هغې خلاف راځی او په عون المعبود کښ د علامه جزری نه نقل کړې شوې دی چه د دې نه معلومه شوه چه سنت دا دې چه د قمیص لستونړی د رسغ نه متجاوز نه وی او غیر قمیص یعنی جبه وغیره د هغې په باره کښ علماء کرام دا فرمائی: ﴿ السنة فيه ان لا يتجاوز رؤوس الاصابع ﴾ د دې نه پس صاحب تحفه په دې روایات مختلف کښ مختلف وجوه ذکر کړی دی، وفی هامش البذل: وبسط اختلاف الروایات فی ذلک القاری فی شرح عون الشمائل وذکر الشامی ۲۴۷/۵ فی کتاب اللباس سنية الكمين الى الاصابع فتامل. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری.

---

[1]: انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ۱۸۱۶۹) (صحیح)

باب ما جاء في الأقبية

د قباګانو بیان

اقبيه جمع ده د قبا په دي کښې دوه لغته دی قباء (بالمد) او قبا (بالقصر) يعني چوغه.

[٤٠٢٨]([1]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَيَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الْمَعْنَى، أَنَّ اللَّيْثَ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ حَدَّثَهُمْ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّهُ قَالَ: "قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبِيَةً وَلَمْ يُعْطِ مَخْرَمَةَ شَيْئًا، فَقَالَ مَخْرَمَةُ: يَا بُنَيَّ، انْطَلِقْ بِنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ، قَالَ: ادْخُلْ فَادْعُهُ لِي، قَالَ: فَدَعَوْتُهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ وَعَلَيْهِ قِبَاءٌ مِنْهَا، فَقَالَ: خَبَأْتُ هَذَا لَكَ، قَالَ: فَنَظَرَ إِلَيْهِ زَادَ ابْنُ مَوْهَبٍ مَخْرَمَةُ ثُمَّ اتَّفَقَا، قَالَ: رَضِيَ مَخْرَمَةُ"، قَالَ قُتَيْبَةُ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ لَمْ يُسَمِّهِ.

دمسور بن مخرمه رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه رسول الله ﷺ په خلقو باندې قباګانې تقسيم کړې اومخرمه ته يو څه ورنکړل مخرمه نه ماته اووئيل اې زما ځيه زماسره نبي عليه السلام ته لاړ شه زه ورسره لاړم هغه چه هلته ورسيدو ماته ئې اووئيل چه ته دننه ورشه او زما نوم ورته واخله اونبي عليه السلام راته بهر راوباسه مسور وائي مانبي عليه السلام ته خبر ورکړو اوهغه په همدې قباګانو کښې يوه قبا اغوستلې وه او بهر ته ئې تشريف راوړو، نبي عليه السلام اوفرمائيل ما داقبه ستادپاره ساتلې وه مسور وائي چه هغه ښا ته وکتل ، ابن موهب دا اضافه کړې ده چه مخرمه قبا ته وکتل په باقي روايت کښې دواړه متفق دي چه مخرمه نبي عليه السلام ته وکتل نبي عليه السلام اوفرمائيل مخرمه خوشحاله شو.

قوله: ﴿عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّهُ قَالَ قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– أَقْبِيَةً وَلَمْ يُعْطِ مَخْرَمَةَ شَيْئًا الخ﴾ سيدنا مسور بن مخرمه رضي الله عنه فرمائی چه يوه ورځ رسول الله ﷺ څځې تقسيمولې چه په هغې کښې زما والد صاحب مخرمه پاتې شو هغوی ته ملاؤ نه شوه، نو هغوی ماته اوفرمائيل چه ما د رسول الله ﷺ خدمت ته بوځه (په بذل کښې ليکلي وو چه هغه نابينا شوې وو) ([2]) مسور فرمائی چه زه هغوی سره لاړم دروازې ته رسيدو سره هغوی ماته اووې (ځکه چه دې کم عمره وو) چه ته دننه لاړ شه او رسول الله ﷺ راطلب کړه، مسور فرمائی چه ما رسول الله ﷺ د دننه نه راواوغوښتلو نو هغوی د ځان سره يو قبه راوړه او بهر ئې تشريف راوړلو، او زما والد صاحب رضي الله عنه ته ئې اوفرمائيل: ﴿خبات هذا لک﴾ چه ما دا ستا دپاره پټه کړې وه. مخرمه رضي الله عنه چه کله هغه په خپل لاس کښې اونيوله نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿رضي مخرمه﴾ چه خوشحاله شوې که نه؟ ممکنه ده چه دا استفهام وی او دا هم احتمال دې چه خبر وی، يا دا قول د مخرمه رضي الله عنه دې يعنی هغوی اوفرمائيل چه اوس خو زه خوشحاله

---

[1]): صحيح البخاري/الهبة ١٩ (٢٥٩٩)، الشهادات ١١ (٢١٢٧)، الخمس ١١ (٣١٢٧)، اللباس ١٢ (٥٨٠٠)، ٤٢ (٥٨٦٢)، الأدب ٨٢ (٦١٣٢)، صحيح مسلم/الزكاة ٤٤ (١٠٥٨)، سنن الترمذي/الأدب ٥٣ (٢٨١٨)، سنن النسائي/الزينة ٤٥ (٥٣٢٦)، (تحفة الأشراف: ١١٢٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢٨/٤) (صحيح)

[2]) دا بل شارح نه دی ليکلی په ظاهر کښې دا حضرت د (يا بني انطلق بنا) نه مستنبط کړې دی چه مونږ بوزه. خو د هغوی په ترجمه کښې دا ملاوېږی چه وعمي في اخر عمره او د هغوی آخری عمر ډېر روستو دې ځکه چه هغوی په ٥٤ هجرئ کښې وفات شوې دی)

شوم.

دا روایت په بخاری کښې لږ په تفصیل سره دې او په مختلفو الفاظو باندې په ډیرو ځایونو کښې په ابواب الخمس کښې داسې دې:

﴿ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم أُهْدِيَتْ لَهُ أَقْبِيَةٌ مِنْ دِيبَاجٍ مُزَرَّرَةٌ بِالذَّهَبِ فَقَسَمَهَا فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ ﴾

او بیا وړاندې هم هغه دی کوم چه دلته د ابوداؤد په روایت کښې دی، او ددې په آخر کښې دی ﴿ وکان فی خلقه شدة ﴾ راوی چه کومه آخری خبره د هغوی په باره کښې کړې، یعنی د طبیعت تیزی، دا اشاره ده هم هغه طرف ته چه د هغوی د خپل حق او حصې د وصول کولو دپاره عجلت او تیزی کول او د خپل ماشوم بچی سره د رسول الله ﷺ کور ته تلل، یعنی د هغوی مقصد دا وو هم دغه شان په اسدالغابة کښې د هغوی په ترجمه کښې لیکلې شوې دی: ﴿ وکان فی لسانه فظاظة وکان النبی ﷺ یتقی لسانه ﴾ د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه مسور بن مخرمه رضی الله عنهما صحابی ابن الصحابی دې او مسور په صغار صحابه کرامو کښې دې لکه محمود بن الربیع، سائب بن یزید وغیرهم. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری

بَابٌ فِي لُبْسِ الشُّهْرَةِ

د شهرت حاصلولو دپاره د لباس اغوستلو بیان

[۴۰۲۹] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ عِيسَى، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي زُرْعَةَ، عَنِ الْمُهَاجِرِ الشَّامِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ فِي حَدِيثِ شَرِيكٍ يَرْفَعُهُ، قَالَ: "مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ أَلْبَسَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَوْبًا مِثْلَهُ" زَادَ، عَنْ أَبِي عَوَانَةَ "ثُمَّ تُلَهَّبُ فِيهِ النَّارُ".

دعبدالله ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه دشهرت (نوم) دپاره لباس واغوستو نوالله تعالی به دې کس ته داسې لباس ورواغوندي، ابن عوانه دا اضافه کړې ده چه په دې لباس کښې به اورلمبې وهی.

﴿ مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ أَلْبَسَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَوْبًا مِثْلَهُ، ثُمَّ تُلَهَّبُ فِيهِ النَّارُ ﴾

یعنی کوم سړې چه د شهرت دپاره جامه واغوندی یا خو عمده په طور د تفاخر یا ډیره ساده د زهد داظهار دپاره، نو الله پاک به د قیامت په ورځ هغه ته هم دغه شان جامې اغوندوی، اوبیابه په دغه جامه کښې اوراولګولې شی. والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[۴۰۳۰] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، قَالَ: ثَوْبَ مَذَلَّةٍ.

د ابوعوانه په حدیث کښې دی چه الله تعالی به دې کس ته دقیامت په ورځ باندې دذلت او درسوائې او دشرم لباس ورواغوندي.

---

[1]: سنن ابن ماجه/اللباس ٢٤ (٣٦٠٦)، (تحفة الأشراف: ٧٤٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٩٢، ١٣٩) (حسن)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٧٤٦٤) (حسن)

[٤٠٣١]( ) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَابِتٍ، حَدَّثَنَا حَسَّانُ بْنُ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي مُنِيبٍ الْجُرَشِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي چاچه ديوقوم سره مشابهت اختيار کړو نو دا کس ددوينه شو.

﴿عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ »﴾

يعنى کوم سړې چه د کومو خلقو مشابهت اختياروى په جامې وغيره امورو کښې که هغه خلق چه دې ئې مشابهت اختياروى د فساقو او کفارو نه وى، يا په صلحاء او ابرار کښې وى، پس د هغه سړى شمير به هم په هغوى کښې وى په اعتبار د اثم او خير دواړو..... يعنى د الله پاک په نزد.

د دې نه معلومه شوه چه د صلحاء په جامه اختيارولو کښې هم فائده او خير دې په دې شرط چه د اتباع نيت وى، شهرت او خلقو لره په دهوکه کښې ساتل مقصود نه وى، لکه، چه وائى چه د موسى عليه السلام مقابلې ته جادوګران راغلل هغوى د موسى عليه السلام په شان جامه کښې راغلل کومه چه د موسى عليه السلام وه، نو هم د دې مشابهت په وجه باندې الله پاک هغوى ته هدايت اوکړو.(٢)

د جامې په اختيارولو کښې ضابطه:

جامه ښنګه اغوستل پکار دى د دې قاعده مونږ د بعض استاذانو رحمهم الله نه داسې اوريدلې ده چه د کومې جامې مدح يا مذمت چه په حديث شريف کښې منصوص دې په دې کښې به خو د هغې اعتبار کولې شى د هغې نه علاوه دا ده چه د کومې زمانې د صلحاء کوم لباس وى هغه اختيارول پکار دى.

بَابٌ فِي لُبْسِ الصُّوفِ وَالشَّعْرِ

باب د وړئ او د ويښتو د لباس بيان

صوف يعنى مالوچ او د ګډو وغيره وړئ، او شعر د چيلو وغيره ويښته.

[٤٠٣٢]( ) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ، وَحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ شَيْبَةَ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مُرَحَّلٌ مِنْ شَعْرٍ أَسْوَدَ"، وَقَالَ حُسَيْنٌ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا.

عائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي کله چه به نبي ﷺ بهر وتلو نو د وړئ نه جوړ يو تور ښکلې څادر به ئې اغوستلې وو ، حسين وئيلى دى مونږ ته زکريا حديث بيان کړې دې ابراهيم بن

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٥٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٥٠، ٩٢) (حسن صحيح)

(٢) د دوى په باره کښې يو بله نکته هم ليکلې شي هغه دا چه هغه ساحران چونکه په خپل فن کښې ماهران وو هغوى پوهه شو چه دا موسى عليه السلام چه څه کړى دا د سحر د قبيل نه نۀ دى څکه چه په دې کښې قلب د ماهيت شوې وو او د ساحر په سحر سره قلب ماهيت نه راځى بلکه صرف ظاهرى صورت بدليږى، والله يهدي من يشاء الي صراط مستقيم.

(٣): صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٩ (٢٠٨١)، سنن الترمذي/الأدب ٤٩ (٢٨١٣)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٥٧، ٩٧٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٦٢، ٤/١٨٥) (صحيح)

علاء زبیدي نه هغه وائي مونږ ته عیاش دعقیل بن مدرک نه او هغه دلقمان بن عامرنه او هغه د عتبه بن عبدنه فرمائی چه مادنبی ﷺ نه داغوستودپاره جامې وغوښتي نوماته ئې دکتان دوه جوړې راکړې ماچه به ورته وکتل نو ماته به دخپلو ملګروپه جاموکښې ښې ښکاره شوې.

﴿عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- وَعَلَيْهِ مِرْطٌ الخ﴾

عائشه صدیقه ﷺ فرمائی چه یوه ورځ رسول الله ﷺ د کور نه اووتلو په داسې حال کښې چه رسول الله ﷺ په داسې څادر کښې وو چه په هغې کښې د رحال ابل تصویران وو او هغه څادر د څلورو تورو ویښتو نه جوړ وو، یعنی تور کمبل.

او په دې کښې هیڅ اشکال نشته ځکه چه دا تصویران د غیر ذی روح ؤو، په دې حدیث کښې د رسول الله ﷺ د تور کمبل اغوستلو ثبوت ملاؤ شو، هسې خو د رسول الله ﷺ نه نور رنګونو جامې اغوستل هم ثابت دی لکه چه وړاندې په روایت کښې راځی، د تور کمبل هیڅ تخصیص نشته، خو په عوامو کښې د دې لفظ شهرت دې د حضور ﷺ په باره کښې، "تورې کمبلې والا" پس کیدې شی چه د دې نور څه خاص سبب وی او په څه خاص وخت کښې رسول الله ﷺ په تور کمبل کښې وی، په سوچ کولو سره زما دا ذهن هغه واقعې طرف ته لاړو کوم چه د آیت مباهله په تفسیر کښې مفسرینو لیکلې ده:

﴿ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ سورة ال عمران (٦١) ﴾

د رسول الله ﷺ د مباهلې په ارادې باندې د یو پادری تاثر:

د ترمذی په روایت کښې دی چه کله دا آیت کریمه نازل شو ﴿ دعا رسول الله ﷺ علیا وفاطمة وحسنا وحسینا فقال اللهم هولاء اهلی ﴾ په دې آیت کریمه باندې د نجران د نصاراو سره رسول الله ﷺ د مباهلې اراده فرمائیلې وه او رسول الله ﷺ د خپل کور نه اوتلو په داسې حال کښې چه په هغوی باندې توره کمبل وه ﴿ وعلیه ﷺ مرط من شعر اسود ﴾ او په دغه وخت کښې رسول الله ﷺ سیدنا حسین ﷺ په خپل غیږ کښې نیولې وو او د حسن ﷺ لاس ئې نیولې وو او په هغوی پسې سیده فاطمه ﷺ او د هغوی نه شاته سیدنا علی ﷺ، د نجران یو پادری چه کله دا منظر اولیدو نو هغه خپلو خلقو ته خطاب اوکړو ﴿انی لاری وجوها لو دعت الله ان یزیل جبلا من مکانه لازاله بها، فلا تباهلوا فتهلکوا ولا تبقی علی وجه الارض نصرانی الی یوم القیامة ﴾ یعنی زه داسې نورانی مخونه وینم چه که هغوی الله پاک نه اوغواړی چه یو غر د خپل ځائې نه بل ځائې ته کړی نو الله پاک به ئې ضرور لرې کړی، لهذا تاسو دې نبی ﷺ سره مباهله مه کوئ ګینې هلاک به شئ او د زمکې په سر باندې به د قیامت د ورځې پورې هیڅ نصرانی باقی پاتې نه شی، پس د دې نه پس هغه خلقو رائې د مباهلې پاتې نه شوه، دا مفصل واقعه ده تر وړاندې پورې، نو په دې خاص موقع کښې رسول الله ﷺ په توره کمبل کښې وو. والحدیث اخرجه مسلم والترمذی، قاله المنذری.

()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْعَلَاءِ الزُّبَيْدِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَقِيلِ بْنِ مُدْرِكٍ، عَنْ لُقْمَانَ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ عُتْبَةَ بْنِ عَبْدٍ السُّلَمِيِّ، قَالَ: «اسْتَكْسَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَسَانِي خَيْشَتَيْنِ» فَلَقَدْ رَأَيْتُنِي وَأَنَا أَكْسَى أَصْحَابِي"

عتبه بن عبید سلمی رضی الله عنه وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اغوستلو دپاره کپړې اوغوښتلې، نو هغوی ﷺ ماته د کتان دوه کپړې راواغوستولې، نو خپل ځان به مې خپله او د خپلو دوستانو په مقابله کښې د ښه لباس والا محسوسولو.

قوله:﴿ قَالَ اسْتَكْسَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَكَسَانِي خَيْشَتَيْنِ فَلَقَدْ رَأَيْتُنِي وَأَنَا أَكْسَى أَصْحَابِي ﴾ سیدناعتبه بن عبد سلمی رضی الله عنه فرمائی چه ما یو ځل د رسول الله ﷺ نه د اغوستلو دپاره جامه طلب کړه نو رسول الله ﷺ ماته د معمولی کتان دوه جامې راکړې، نو د هغې د اغوستلو نه پس به ما ځآن ته په خپلو ملګرو کښې کتل چه زما جامه د هغوی ټولو نه ښه وه. ځکه چه نورو سره داسې هم نه وې، د دې نه د هغه زمانې غریبی او د احتیاج حالت طرف ته اشاره ده.

[۴۰۳۳]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، قَالَ: قَالَ لِي أَبِي: "يَا بُنَيَّ لَوْ رَأَيْتَنَا وَنَحْنُ مَعَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أَصَابَتْنَا السَّمَاءُ حَسِبْتَ أَنَّ رِيحَنَا رِيحُ الضَّأْنِ".

د ابوبرده نه روایت دې فرمائی چه ماته زما پلار اووئیل اې بچیه که چرې تا مونږ دنبی علیه السلام سره لیدلي دې د باران په وخت کښې نوتابه داګمان کړې وو چه زمونږ نه دچیلو اوګډو بیوې راروان دې.

﴿ حَسِبْتَ أَنَّ رِيحَنَا رِيحُ الضَّأْنِ ﴾ سیدنا ابوبرده رضی الله عنه فرمائی چه ماته زما پلار ابوموسی اشعری رضی الله عنه اوفرمائیل چه اې زما بچیه چه که تا مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې لیدلي وې چه کله به زمونږ جامې په باران باندې لوندې شوې (نو هغه وخت چه به زمونږ د جامو نه کوم بوئی راتلو) نو هغه به مو د ګډې بوئی ګڼړلو.

د ګډې وړئ خو ډیره عمده کیدې شی که هغې لره د نن صبا په مشینانو باندې تیاره کړې شی، پس پشمینه کوم چه خاص قسم وړئ وی دهغې څادرپه خوڅو زره راځی، خو په هغه زمانه کښې به وړئ ډیره بیکاره او د معمولی درجې وه، خلقو به خپله په کورونو کښې دهغې وینځلوسره دهغې نه جامه جوړوله. والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری.

....

[۱]: صحيح مسلم/فضائل الصحابة ۹ (۲۰۸۱)، سنن الترمذي/الأدب ٤٩ (۲۸۱۳)، (تحفة الأشراف: ۹۷۵۳، ۱۷۸۵۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۵/٤، ۱٦۲/٦) (صحيح)

[۲]: سنن الترمذي/صفة القيامة ۳۸ (۲٤۷۹)، سنن ابن ماجه/اللباس ٤ (۳٥٦۲)، (تحفة الأشراف: ۹۱۲٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤۰۷/٤، ٤۱۹) (صحيح)

بَابٌ فِي لُبْسِ الْمُرْتَفِعِ

باب د قیمتي جامو اغوستلو بیان

[٤٠٣٤] (¹) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا عُمَارَةُ بْنُ زَاذَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ "أَنَّ مَلِكَ ذِي يَزَنَ أَهْدَى إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةً أَخَذَهَا بِثَلَاثَةٍ وَثَلَاثِينَ بَعِيرًا أَوْ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ نَاقَةً، فَقَبِلَهَا".

دانس رضي الله عنه نه روایت ده فرمائي چه دذي یزن بادشاه نبي عليه السلام ته په تحفه کښې یوه جوړه جامې راولیږلې کوي چه هغه په دري دیرش اوښانو اغستلې وي اوهغه قبولې کړې.

﴿عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ مَلِكَ ذِي يَزَنَ أَهْدَى إِلَى رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– حُلَّةً الخ﴾

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د غیر مسلمو هدیه قبلول:

د سیدنا انس رضي الله عنه نه روایت دې چه د قبیله حمیر بادشاه چه د هغه نوم ذی یزن وو هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښ یو جوړه هدیة راولیږله کومه چه هغه د دري دیرشو اوښانو یا اوښو په بدل کښ په بیع اخستلې وه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه قبوله کړه. او د دې نه په روستو روایت کښ دا دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم هم یوه جوړه د شلو نه په زیاتو اوښو باندې په بیع اخستلو سره ذی یزن ته هدیه اولیږله.

د کتاب الخراج په آخر کښ یو باب تیر شوې دې، باب في الامام يقبل هدايا المشركين چه د هغې په آخر کښ یوحدیث دا تیرشوې دې ﴿ نهيت عن زبد المشركين ﴾ هلته په الدر المنضود کښ دا روایت او د دې په شان د نورو روایتونو حواله تیره شوې ده. فارجع لو شئت.

[٤٠٣٥] (²) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرَى حُلَّةً بِبِضْعَةٍ وَعِشْرِينَ قَلُوصًا، فَأَهْدَاهَا إِلَى ذِي يَزَنَ".

د عبدالله بن حارث نه روایت دې فرمائي چه نبي عليه السلام دکیړي یوه جوړه دشلونه په زیاتو اوښانو باندې واغستله اوبیا ئې د ذي یزن بادشاه ته په تحفه کښې ولیږله (ددې دپاره چه دهغه دتحفې بدله اداشي) نبي عليه السلام به تحفې قبلولې اودهغې بدله به ئې ضرور ورکوله.

بَابُ لِبَاسِ الْغَلِيظِ

د سخت او قیمتي لباس د استعمال بیان

[٤٠٣٦] (³) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ الْمُغِيرَةِ الْمَعْنَى، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فَأَخْرَجَتْ إِلَيْنَا إِزَارًا غَلِيظًا مِمَّا يُصْنَعُ بِالْيَمَنِ وَكِسَاءً مِنَ الَّتِي يُسَمُّونَهَا الْمُلَبَّدَةَ، فَأَقْسَمَتْ بِاللَّهِ "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ فِي هَذَيْنِ الثَّوْبَيْنِ".

---

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢١/٣)، سنن الدارمي/السير ٥٣ (٢٥٣٦) (ضعيف)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٤٣٤) (ضعيف)

³): صحيح البخاري/فرض الخمس ٥ (٣١٠٨)، اللباس ١٩ (٥٨١٨)، صحيح مسلم/اللباس ٦ (٢٠٨٠)، سنن الترمذي/اللباس ١٠ (١٧٣٣)، سنن ابن ماجه/اللباس ١ (٣٥٥١)، (تحفة الأشراف: ١٧٦٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢/٦، ١٣١) (صحيح)

د ابوبرده نه روایت دې فرمائی چه دام المومنین عائشه رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شوم نوهغې مونږ ته یولند اوښودو دډبلې کپړې کوم چه دیمن جوړ وو اویوکمبل چه ملبده به ورته وئیلې شوه اوعائشې قسم وکړو چه دنبی علیه السلام وفات په همدې دوه جامو کښې شوې دې.

﴿عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ – رضى الله عنها – فَأَخْرَجَتْ إِلَيْنَا إِزَارًا غَلِيظًا مِمَّا يُصْنَعُ بِالْيَمَنِ وَكِسَاءً مِنَ الَّتِي يُسَمُّونَهَا الْمُلَبَّدَةَ الخ﴾

سیدنا ابو برده رضی الله عنه فرمائی چه یوکرت زه عائشې رضی الله عنها کره لاړم (نو ممکنه ده چه هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د جامې د لیدو خواهش کړې وی) نو هغوی زمونږ د ښودلو دپاره یو پیړ شان لنګ کوم قسم چه په یمن کښې جوړولې شی هغه ئې راویستلو او یو څادر کوم ته چه خلق ملبده وائی او بیا هغې قسم خوړلو سره اوفرمائیل چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات په دې دوه کپړو کښې شوې وو.

د ملبده یو تفسیر په مرقعه سره کړې شوې دې او دویم تفسیر په غلیظه سره کړې شوې دې. یعنی د پیړې جامې معمولی شان لنګ وو یا کیدې شی هم په دې وجه وی چه په هغې کښې پیوندونه او جوړونه لګیدلې وو.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجه، قاله المنذری

[۴۰۳۷] (¹) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ خَالِدٍ أَبُو ثَوْرٍ الْكَلْبِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ بْنِ الْقَاسِمِ الْيَمَامِيُّ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو زُمَيْلٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا خَرَجَتِ الْحَرُورِيَّةُ أَتَيْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ: ائْتِ هَؤُلَاءِ الْقَوْمَ، فَلَبِسْتُ أَحْسَنَ مَا يَكُونُ مِنْ حُلَلِ الْيَمَنِ، قَالَ أَبُو زُمَيْلٍ وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَجُلًا جَمِيلًا جَهِيرًا، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَأَتَيْتُهُمْ، فَقَالُوا: مَرْحَبًا بِكَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، مَا هَذِهِ الْحُلَّةُ؟ قَالَ: مَا تَعِيبُونَ عَلَيَّ لَقَدْ "رَأَيْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ مَا يَكُونُ مِنَ الْحُلَلِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: اسْمُ أَبِي زُمَيْلٍ سِمَاكُ بْنُ الْوَلِيدِ الْحَنَفِيُّ.

د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی کله چه حروریانو دعلی و مقابله وکړه نوزه علی ته ورغلم هغه راته اووئیل ته دې قوم ته ورشه ، ما دیمن جوړ شوې اعلی لباس واغوستو اردوی ته ورغلم، دحدیث راوی ابو زمیل وئیلی دی چه ابن عباس ف یوښکلې سړې وو ابن عباس وائی کله چه زه خارجیانوته ورغلم نوهغوی راته پخیر راغلې روئیل دادې څنګه لباس اغوستلې دې؟ ابن عباس اووئیل تاسو ماته دڅه پیغور راکوئ یقینامانبی علیه السلام دعمده لباس په اغوستلو باندې لیدلې وو.

﴿حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا خَرَجَتِ الْحَرُورِيَّةُ أَتَيْتُ عَلِيًّا – رضى الله عنه الخ﴾

سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه کله خوارجو په علی رضی الله عنه باندې خروج یعنی د هغوی نه بغاوت او په هغوی باندې حمله اوکړه نو زه سیدنا علی رضی الله عنه ته لاړم نو هغوی ماته اوفرمائیل چه ته هغه خلقو ته لاړ شه یعنی د هغوی د پوهولو او د هغوی د شکونو او شبهاتو د لرې کولو دپاره. هغوی فرمائی چه ما د دې تیارئ دپاره بهترینه جوړه واچوله د یمن په جوړو کښې، راوی وائی یعنی د هغوی شاګرد چه ابن عباس رضی الله عنهما ډیر زیات ښکلې او ډیر د حسن مالک وو، ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه کله زه هغوی ته لاړم نو هغوی ماته هرکلې

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۶۷۶) (حسن الإسناد)

او مرحبا اووې او ورسره ئې دا هم اشکال اوکړو ﴿ ما هذه الحلة؟ ﴾ يعنى داسې قيمتى جامه دې ولې اغوستلې ده؟ مطلب ئې دا وو چه د سنت خلاف کار دې کړې دې، هغوى اوفرمائيل چه په ما باندې څه عيب لګوئ بيشکه ما د رسول الله ﷺ په بدن مبارک باندې بهترينې جوړې ليدلې دى.

د رسول الله ﷺ جامه ښه او بيکاره دواړه ثابت دى:

د رسول الله ﷺ نه هر قسمه جامه اغوستل ثابت دى، ښه نه ښه هم او بيکاره هم، اوس يا خو دې داسې اوئيلې شى چه غوره لباس د جواز د بيان دپاره وو د هديه کونکى د تطييب خاطر دپاره، يا د ميلمنو او وفودو د راتلو په موقع باندې، لکه چه په کتاب الصلوة باب اللبس للجمعة کښې روايت تير شوې دې چه يو ځل کله چه عمر رضي الله عنه حله سيراء په خرڅيدو باندې اوليده نو هغوى عرض اوکړو ﴿ يا رسول الله ﷺ لو اشتريت هذه فلبستها يوم الجمعة وللوفد اذا قدموا عليک الحديث ﴾ په يو روايت کښې دى چه هغوى اوفرمائيل ﴿ ابتع هذه تجمل بها للعيد وللوفود ﴾او يا دا چه د عدم اهتمام د وجې نه، يعنى نه ئې د ښه اهتمام کولو او نه د بيکاره، چه څنګه به ورته ملاويدله هغه به ئې استعمالوله.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْخَزِّ

باب د ريښمو د کپړو استعمالولو بيان

د خز په تفسير کښې لږ اختلاف دې، يو قول دا دې چه خز هغه کپړه ده کومه چه د ريښم او وړئ نه جوړه وى، يعنى خالص ريښم نه وى، ابريشم خو اصل ريښم دى، خالص دهغې نه وى، او ابن العربى وائى چه خز هغه کپړه ده چه د هغې سدى يا لحمه کښې يو حرير وى او دويم غير حرير، او د بعضو د کلام نه معلوميږى چه د دې اطلاق په خالص حرير باندې هم کيږى، او يو قول د دې لفظ د اصل په باره کښې دې چه خز... خزر بروزن عمر نه اخستلې شوې دې نر سويه ته وائى (ذکر الارنب) او خز د هغې وړئ ته، وهو فى غاية اللين مثل الابريسم، د دې ټولو خلاصه درې اقوال شو.

۱: چه د حرير او غير حرير نه جوړه کوې شوې وى.

۲: خالص حرير، ۳: وبر الارنب نه جوړه کړې شوې وى.

د دې نه پس پيژندل پکار دى چه د خز په باره کښې روايات د احاديثو هم مختلف دى، د بعضو نه د دې جواز معلوميږى لکه چه د دې باب په حديث اول کښې دى، او د بعضو نه حرمت لکه هم د دې باب د حديث ثانى نه معلوميږى.

[٤٠٣٨](١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْأَنْمَاطِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الرَّازِيُّ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، أَخْبَرَنِي أَبِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ سَعْدٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَجُلًا بِبُخَارَى عَلَى بَغْلَةٍ بَيْضَاءَ عَلَيْهِ عِمَامَةُ خَزٍّ سَوْدَاءُ، فَقَالَ: كَسَانِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "هَذَا لَفْظُ عُثْمَانَ وَالْإِخْبَارُ فِي حَدِيثِهِ.

(١): سنن الترمذي/تفسير القرآن سورة الحاقة ٦٧ (٣٣٢١)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٧٨) (ضعيف الإسناد)

دسعد رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ماپه بخارا کښې یوداسې کس اولیدو چه په سپین قچرباندې سور وو اوتور ریښمې پټکې بې پسروو هغه اووئیل دا پټکې ماته نبی علیه السلام دپسرکولودپاره راکړې دې.

د باب د اول حدیث مضمون دا دې : سعد بن عثمان رضی الله عنه فرمائی ﴿ رَأَيْتُ رَجُلاً بِبُخَارَى عَلَى بَغْلَةٍ بَيْضَاءَ عَلَيْهِ عِمَامَةُ خَزٍّ سَوْدَاءُ الخ ﴾ چه ما په بخارا کښې یو سړې اولیدو چه په سپینه خچره باندې سور وو او چه د هغه په سر باندې د تور خز پټکې وو، هغه سړی اووې چه دا پټکې ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړې دې.

[۴۰۳۹](¹)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ بَكْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَطِيَّةُ بْنُ قَيْسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ غَنْمٍ الْأَشْعَرِيَّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو عَامِرٍ أَوْ أَبُو مَالِكٍ وَاللَّهِ يَمِينٌ أُخْرَى مَا كَذَّبَنِي أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْخَزَّ وَالْحَرِيرَ، وَذَكَرَ كَلَامًا، قَالَ: يُمْسَخُ مِنْهُمْ آخَرُونَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَعِشْرُونَ نَفْسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ أَكْثَرُ لَبِسُوا الْخَزَّ مِنْهُمْ أَنَسٌ، وَالْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ.

دعبدالرحمن بن غنم رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ماته ابوعامر یاابومالک اووئیل په الله مې دې قسم وي پیادویم قسم چه هغه ماته.دروغ نه وو وئیلي چه هغه دنبی علیه السلام نه اوریدلي وو چه فرمائیل ئې زما په امت کښې به داسې خلق پیداشي څوک چه به خز(داسې کپړه چه ریښم اوتار دواړه په کښې مکس استعمال شوي وي) اوریښم به حلال ګنړي وبیا ئې بل څه شی هم بیان کړو اوددینه پس ئې وفرمائیل په دوی کښې به بعضې خلق شادوګان شي وبعضې خلق به دقیامته پورې خنزیران شي. ابوداؤد وائی چه دشلونه زیاتوصحابه کرامو دخز استعمال کړي دي چه په هغوی انس اوبراء بن عازب رضی الله عنهما هم شامل دي.

دویم حدیث د ابو عامر رضی الله عنه دي چه په هغې کښې دی : ﴿ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْخَزَّ وَالْحَرِيرَ ». (²) وَذَكَرَ كَلاَمًا قَالَ « يُمْسَخُ مِنْهُمْ آخَرُونَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ » ﴾ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه زما په امت کښې به څه خلق داسې وی چه خز او حریر به حلال ګنړی (یعنی عملا یا عملا واعتقادا) د هغوی په باره کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه په هغوی کښې به د بعضو صورتونه مسخ کړې شی، د قردة او خنازیر په شکل کښې همیشه دپاره.

د دې دویم حدیث په سند کښې یو لفظ راغلې دې ﴿ حدثنی ابوعامر او ابو مالک والله یمین اخری ما کذبنی ﴾ داسې هلته وئیلې شی چرته چه مبالغه فی القسم مقصود وی ففی الحاشیة : ای یمین بلغت فی اقصی درجات التوثق اه...... د دې په ترجمه داسې ځان پوهه کړئ : زه مکرر قسم خورم.

¹): تفرد به أبو داود، خ تعليقًا/الأشربة ٦ (٥٥٩٠)، (تحفة الأشراف: ١٢١٦١) (صحيح)
²) صحیح هم دا ده چه دا لفظ په خاء معجمه او زا معجمه سره دې لکه چه په ترجمة الباب کښې دی، او بعضو دا په حاء مهمله او راء مهمله سره ضبط کړې دې یعنی حر واصله حرح وهو الفرج ،یرید انه یکثر فیهم الزنا (بذل)

په دې امت کښې د مسخ ثبوت :

د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه په دې امت کښې به په آخر کښې مسخ واقع کیږي، په دې باندې کلام مونږ سره په مبادرت علی الامام والا حدیث کښې تیر شوې دې ﴿ ان يحول الله صورته صورة حمار ﴾ د لاندې.

په دې دواړو احادیثو کښې اختلاف ظاهر دې چه د یو نه د لبس خز جواز او د دویم نه د هغې حرمت ثابتیږي، د ابوداؤد په بعض نسخو کښې دی.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَعِشْرُونَ نَفْسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَوْ أَكْثَرُ لَبِسُوا الْخَزَّ مِنْهُمْ أَنَسٌ وَالْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ رضي الله عنهم ﴾

د لباس خز په باره کښې په متعارض روایتونو کښې تطبیق :

د دې نه پس تاسو ځان پوهه کړئ چه د منع او د جواز په دې دوه مختلفو احادیثو کښې تطبیق مختلف طور سره کړې شوې دې.

۱: د منع تعلق د حریر مصمت یعنی خالص حریر سره دې او د جواز والا روایت په غیر مصمت یعنی مخلوط باندې حمل دې ځکه چه د خز اطلاق لکه څنګه چه مخکښې تیر شو په دواړو باندې کیږي.

۲: نهي محمول ده په هغه کپړه باندې چه د هغې لحمه حریر او سدی غیر حریری وی، او جواز د دې په عکس باندې یعنی د کوم سدی چه حریر وی او لحمه غیر حریر وی.

۳: که مراد د خز نه ابریشم او حریر دې نو بیا خو هغه حرام دې او که د دې نه مراد وبرالارنب وی نو بیا جائز دې. (متلقطا من البذل)

په کپړه کښې دوه قسمه تارونه وی یو قسم اوږدۀ کوم ته چه سدی یعنی تانا وائی او دویم قسم لحمه کوم چه عرضا وی یعنی بانا.. وهو الاصل وعليه مدار الحرمة....... پس د یو باب نه پس راځی باب الرخصة فی العلم وخيط الحرير..... چه په هغې کښې دا راروان دې

﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّمَا نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الثَّوْبِ الْمُصْمَتِ مِنَ الْحَرِيرِ فَأَمَّا الْعَلَمُ مِنَ الْحَرِيرِ وَسَدَى الثَّوْبِ فَلاَ بَأْسَ بِهِ ﴾ والحديث الاول اخرجه الترمذي والنسائي، والثاني اخرجه البخاري تعليقا، قاله المنذري.

بَابُ مَا جَاءَ فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ

باب د ریښمو د استعمال بیان

د لبس حریر مختلف اسباب او صورتونه او د هغې حکم :

د احنافو مسلک په دې کښې دا دې چه د سرو دپاره حریر خالص حرام دې. او هم دغه شان هغه چه د هغې لحمه یعنی بانا حریر وی او تانا غیر حریر هغه هم حرام دې، خو که د دې برعکس وی نو هغه جائز دې او د شوافعو مذهب لکه چه د هغوی د کتاب په متن ابی شجاع کښې ذکر کړې شوې دې: ﴿ واذا كان بعض الثوب ابريسما وبعضه قطنا او كتانا جاز لبسه ما لم يكن الابريسم غالبا اهـ ﴾ (وفی الابواب والتراجم ۷۶/۶ وهذا التفصيل ای التفريق بين السدى

واللحمة عندنا الحنفية... واما الجمهور فالعبرة عندهم للغلبة، قال الموفق : فاما المنسوج من الحرير وغيره كثوب منسوج من قطن وابريسم او قطن وكتان فالحكم للاغلب منها لان الاول مستهلک فيه : واما اذا استويا ففي تحريمه واباحته وجهان وهذا مذهب الشافعي اهـ مختصرا......دويمه مسئله دا ده ﴿لبس الحرير لاجل الحرب﴾ پس د صاحبينو په نزد په جنګ کښې حرير خالص جائز دي، د امام صاحب رحمه الله په نزد خالص جائز نه دي، خو مخلوط جائز دي يعني د کوم تانا يا بانا چه حرير وی او دويم غير حرير.

يو مسئله دلته بله ده يعني لبس الحرير لعذر.... د څه عذر مثلا د خارښ د وجې نه د هغې باب وړاندې مستقل راروان دې. يو مسئله دلته بله ده يعني اغوستل د ريښم د سړو دپاره چه په بذل المجهود کښې په باب الحرير للنساء د لاندې ذکر دي او په الدر المنضود جلد ثاني باب اذا كانوا ثلاثة كيف يقومون کښې د حديث انس ﴿فقمت الى حصير لناقد اسود من طول لبث﴾ په شرح کښې تير شوي دي.

[٤٠٤٠] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَأَى حُلَّةً سِيَرَاءَ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ تُبَاعُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَوِ اشْتَرَيْتَ هَذِهِ فَلَبِسْتَهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلِلْوَفْدِ إِذَا قَدِمُوا عَلَيْكَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا يَلْبَسُ هَذِهِ مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ، ثُمَّ جَاءَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا حُلَلٌ، فَأَعْطَى عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ مِنْهَا حُلَّةً، فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَسَوْتَنِيهَا وَقَدْ قُلْتَ فِي حُلَّةِ عُطَارِدٍ مَا قُلْتَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي لَمْ أَكْسُكَهَا لِتَلْبَسَهَا، فَكَسَاهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَخًا لَهُ مُشْرِكًا بِمَكَّةَ".

عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه اميرالمومنين عمر فاروق رضي الله عنه د جومات په دروازه کښې يو کس وليدو چه ريښمي لباس ئې خرخولو هغه نبی عليه السلام ته اوفرمائيل کاش چه دا تا اغستلې وې اودجمعې اودوندونو دراتلوپه ورځ دې اغوستلې نبی عليه السلام چه دا واوريدل نوونې فرمائيل دا لباس به هغه څوک اغوندي دچاچه په خرت کښې هيڅ حصه نه وي بيا داقسم يوڅوجوړې نبی عليه السلام ته راغلې نبی عليه السلام ددينه يوه جوړه عمر ته ورکړه عمرة عرض اوکړو اې دالله رسوله ته ماته دا لباس راکوې اوحال دادې چه مخکښې تا د عطارد نوي کس په باره کښې وئيلې وو چه دا به هغه کس اغوندي دچاچه به په آخرت کښې څه حصه نه وي نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل دا جوړه ماتاته داغوستلو دپاره نه ده درکړې نو عمر رضي الله عنه دا جوړه خپل يو مشرک ورور (عثمان بن حکم) ته ورکړه، کوم چه په مکه کښې وو.

﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَأَى حُلَّةً سِيَرَاءَ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ تُبَاعُ الخ﴾

دا حديث او په دې باندې کلام په کتاب الصلوة باب اللبس اللجمعة کښې تير شوي دي، فارجع اليه لو شئت.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي، قاله المنذري

(١): انظر حديث رقم: (١٠٧٦)، (تحفة الأشراف: ٨٣٣٥) (صحيح)

[۴۰۴۱]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، وَعَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: حُلَّةُ إِسْتَبْرَقٍ، وَقَالَ: فِيهِ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَيْهِ بِجُبَّةِ دِيبَاجٍ، وَقَالَ: تَبِيعُهَا وَتُصِيبُ بِهَا حَاجَتَكَ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه همدا حديث منقول دي او په دې روايت کښې داسې ذکر شوي دي چه داجوړه داستبرق والا وه استبرق دي ته وائي چه ريښم په کښې استعمال شوي وي بيانبی علیه السلام عمرته دريښمو جبه وليږله نبی علیه السلام ورته وفرمائيل دا خرڅه کړه اوخپل ضرورت ورباندې پوره کړه.

[۴۰۴۲]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا عَاصِمٌ الْأَحْوَلُ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، قَالَ: كَتَبَ عُمَرُ إِلَى عُتْبَةَ بْنِ فَرْقَدٍ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْحَرِيرِ إِلَّا مَا كَانَ هَكَذَا وَهَكَذَا أُصْبُعَيْنِ وَثَلَاثَةً وَأَرْبَعَةً".

د ابوعثمان نهدی رحمه الله نه روايت دې فرمائي چه اميرالمومنين عمر رضي الله عنه عتبه بن فرقد ته وليکل چه نبی کريم دريښمو داغوستلونه منع فرمائيلې ده ليکن دومره او دومره يعنی ددوه يادرې يا څلورو ګوتو په برابر.

﴿عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ كَتَبَ عُمَرُ إِلَى عُتْبَةَ بْنِ فَرْقَدٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنِ الْحَرِيرِ إِلاَّ مَا كَانَ هَكَذَا وَهَكَذَا أُصْبُعَيْنِ وَثَلاَثَةً وَأَرْبَعَةً﴾

په دې حديث کښې د سرو دپاره په اندازه د څلورو ګوتو د ريښمو د استعمال جواز معلوميږی، د دې څلورو ګوتو نه مراد دا دې چه سنجاف ([3]) يعنی د کپړې په طرفونو کښې لکه ګريوان او کف او شاته او مخکښې د لمنو په سرونو باندې لګول ئې جائز دی. پس په بخاری کښې دی د دې حديث نه پس ﴿ فيما علمنا انه يعنى الاعلام ﴾ او د باب الرخصة فی العلم وخيط الحرير وړاندې مستقل باب راروان دې په دې کښې د احنافو او د شوافعو مذهب هم دا دې چه د څلورو ګوتو په مقدار جائز دې لکه چه د ابوداؤد په روايت کښې تصريح ده، خو په دې کښې اشکال دا دې چه د صحيحن د روايت الفاظ خو دا دی : ﴿ نَهَى عَنِ الْحَرِيرِ إِلاَّ هَكَذَا وَأَشَارَ بِإِصْبَعَيْهِ اللَّتَيْنِ تَلِيَانِ الإِبْهَامَ ﴾ او په بل روايت کښې دی ﴿ باصبعيه المسبحة والوسطى ﴾ چه د هغې نه په ظاهر مقدار د جواز صرف د دوه ګوتو معلوميږی، ولم يتعرض له فی البذل، فتامل ([4])والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجه بنحوه، قاله المنذری.

[1]): انظر حديث رقم: (۱۰۷۷)، (تحفة الأشراف: ۶۸۹۵) (صحيح)
[2]): صحيح البخاري/اللباس ۲۵ (۵۸۲۸)، صحيح مسلم/اللباس ۲ (۲۰۶۹)، سنن النسائي/الزينة ۳۸ (۵۳۱۴)، سنن ابن ماجه/الجهاد ۲۱ (۳۵۹۳) (تحفة الأشراف: ۱۰۵۹۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۵، ۳۶، ۴۳) (صحيح)
[3]) سنجاف بالفتح فارسئ کښې سنجاف بکسر الاول هغه ريشه کومه چه د کپړو غاړې ته ئې د ډول دپاره لګوی نور اللغات)
[4]) او داسې وئيل هم ممکن دی : ريشه د کپړو دواړو طرفونو ته وی دکتاب په روايت کښې مجموع طرفين ذکر دې او د صحيحين په روايت کښې يو طرف مراد دې، فليتئل ۱۲)

[۴۰۴۳](١)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي عَوْنٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا صَالِحٍ يُحَدِّثُ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "أُهْدِيَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةُ سِيَرَاءَ فَأَرْسَلَ بِهَا إِلَيَّ، فَلَبِسْتُهَا فَأَتَيْتُهُ فَرَأَيْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ، وَقَالَ: إِنِّي لَمْ أُرْسِلْ بِهَا إِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا، وَأَمَرَنِي فَأَطَرْتُهَا بَيْنَ نِسَائِي".

دعلی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوکس نبی کریم ﷺ ته یوه ریښمي وجوړه په هدیه کښې راولیږله ، نبی علیه السلام هغه ماته راولیږله ، ما واغوستله اودنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم مادغصې اثار دهغه په مخ باندې اولیدل او ماته ئې اوفرمائیل دا خوماتاته د اغوستلو دپاره نه وه درلیږلې، ماته یې حکم وکړو اوما پخپلو ښځو باندې تقسیم کړه .

باب مَنْ كَرِهَهُ

باب: څوک چه د ریښمو استعمال بد ګنړی دهغوی دلیل

په دې باب سره د مصنف رحمه الله غرض په ظاهر کښې دا دې چه د تیر باب د احادیثو نه د سړو په حق کښې د درې ګوتو په مقدار د حریر جواز ثابتیږی د دې په مقابله کښې مصنف رحمه الله په دې باب کښې بعض داسې روایتونه راوړی چه د هغې نه د څلورو ګوتو په مقدار جواز هم نه معلومیږی. خو دا نهی به په کراهت تنزیهی باندې محمول کولې شی

[۴۰۴۴](٢)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُنَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ، وَعَنْ لُبْسِ الْمُعَصْفَرِ، وَعَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ، وَعَنِ الْقِرَاءَةِ فِي الرُّكُوعِ".

دعلی بن ابی طالب کرم الله وجهه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام دقسي (یوقسم ریښمي کپړه) داغوستلونه منع فرمائیل ده او په زعفرانو باندې درنګ کړې شوې کپړې نه او د سرو زرو دګوتې داغوستلونه اوپه رکوع کښې د قران کریم دلوستلونه منع فرمائیلې ده.

﴿عَنْ عَلِيٍّ رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَعَنْ لُبْسِ الْمُعَصْفَرِ وَعَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ وَعَنِ الْقِرَاءَةِ فِى الرُّكُوعِ﴾

شرح الحديث:

دلته مقصود بالذکر د مصنف رحمه الله جزء اول دې، ﴿ قسی ﴾ منسوب دې قس ته کوم چه په مصر کښې د یو ځائې نوم دې، په دې کپړه کښې حریر ګډ وی، او یو قول په دې کښې دا دې چه قص په اصل کښې قز وو زا په سین سره بدله کړې شوه، او قز وائی ریښمو ته. لبس معصفر کښې اختلاف دې د احنافو او حنابله په نزد مکروه دې، د امام شافعی رحمه الله په نزد مباح دې (الا البیهقی فانه رجح الکراهة) او د امام مالک رحمه الله نه د معصفر مقدم کراهت نقل دې

١): صحيح مسلم/اللباس ٢ (٢٠٧١)، سنن النسائي/الزينة ٣٠ (٥٣٠٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٣٢٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/اللباس ٣٠ (٥٨٤٠)، مسند احمد (١/٩٠، ١٣٩، ١٥٣) (صحيح)

٢): صحيح مسلم/الصلاة ٤١ (٤٨٠)، اللباس ٤ (٢٠٧٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٨٠ (٢٦٤) واللباس ٥ (١٧٢٥)، ١٣ (١٧٣٧)، سنن النسائي/التطبيق ٧ (١٠٤١)، والزينة ٤٣ (٥١٨٠)، الزينة من المجتبى ٢٣ (٥٢٦٩، ٥٢٧٠)، سنن ابن ماجه/اللباس ٢١ (٣٦٠٢)، ٤٠ (٣٦٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٠١٧٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٦ (٢٨)، مسند احمد (١/٨٠، ٨١، ٩٢، ١٠٤، ١٠٥، ١١٤، ١١٩، ١٢١، ١٢٣، ١٢٦، ١٢٧، ١٣٢، ١٣٣، ١٣٤، ١٣٧، ١٣٨، ١٤٦) (صحيح)

يعني سخت، او د تختم ذهب نهی د ائمه اربعه ترمينځه متفق عليه ده په دې كښې د بعض سلفو اختلاف دې.

والحديث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه مطولا ومختصرا، قاله المنذري.

[٤٠٤٥] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ يَعْنِي الْمَرْوَزِيَّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُنَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا قَالَ: "عَنِ الْقِرَاءَةِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ".

د علي بن ابی طالب كرم الله وجهه نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی باقی روايت دتير شوی روايت په شان دې مګرپه دې روايت كښې دا اضافه ده چه نبی ﷺ منع فرمائيلې ده دقرءت كولونه په ركوع اوپه سجده كښې.

[٤٠٤٦] (٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بِهَذَا زَادَ وَلَا أَقُولُ نَهَاكُمْ.

د ابراهيم بن عبدالله نه هم همدا روايت منقول دې مګر په دې كښې دا اضافه ده چه زه دانه وايم چه تاسوئې منع كړې يئ.

[٤٠٤٧] (٣) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ مَلِكَ الرُّومِ أَهْدَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتُقَةً مِنْ سُنْدُسٍ، فَلَبِسَهَا فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى يَدَيْهِ تَذَبْذَبَانِ ثُمَّ بَعَثَ بِهَا إِلَى جَعْفَرٍ، فَلَبِسَهَا ثُمَّ جَاءَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَمْ أُعْطِكَهَا لِتَلْبَسَهَا"، قَالَ: فَمَا أَصْنَعُ بِهَا؟ قَالَ: "أَرْسِلْ بِهَا إِلَى أَخِيكَ النَّجَاشِيِّ".

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دروم بادشاه يوه قيمتي د ريښمو چوغه نبی ﷺ ته په تحفه كښې راليګلې وه نبی ﷺ واغوستله انس رضی الله عنه وائی ګوياكښې دنبی ﷺ لاسونه اوس هم زه وينم چه خوزيدل اوهغه چوغه ئې جعفربن ابی. طالب ته ولېږله جعفر واغوستله اودنبی ﷺ په خدمت كښې حاضرشو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل داخوماتاته داغوستلو دپاره نه وه دركړې هغه ووئيل بيا په دې باندې څه وكړم انبی ﷺ ورته اوفرمائيل خپل ورور دحبشو بادشاه نجاشي ته ئې ولېږه.

﴿عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ مَلِكَ الرُّومِ أَهْدَى إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- مُسْتَقَةً مِنْ سُنْدُسٍ فَلَبِسَهَا الخ﴾

د روم بادشاه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې يو پوستين چه د هغې كف وغيره د حرير وو، په طور د هديه راولېږلو. سندس وائی باريک حرير ته. د ﴿ من سندس ﴾ مطلب دې ﴿ ای مكففة من سندس ﴾ ګينې پوستين خو د حرير نه وی، راوی وائی چه رسول الله ﷺ دا پوستين واغوستلو، ګويا چه زه د هغې لستونړو لره وينم په حركت كولو باندې، د پوستين لستونړی لږ شان اوږده وی، بيا رسول الله ﷺ يو ځل هغې لره اغوستلو سره جعفر رضی الله عنه ته

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠١٧٩) (صحيح)
(٢): انظر حديث رقم: (٤٠٤٤)، (تحفة الأشراف: ١٠١٧٩) (حسن صحيح)
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١١/٣، ٢٢٩، ٢٥١) (ضعيف الإسناد)

اوليږلو هغوي خپله دا واغوستلو او اغوستلو سره چه کله د رسول اللهﷺ مجلس ته حاضر شو نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل دا ما تاسو له دي دپاره نه وو درکړي چه خپله ئې واغوندئ، بيا د رسول اللهﷺ په فرمان باندې هغوي دا نجاشي شاه حبشه رضی الله عنه ته اوليږلو د دې نه معلومه شوه چه د دې اغوستل ناجائز نه وو بلکه په دې وجه چه هغه شاهانه لباس وو د زهد خلاف.

[٤٠٤٨](1) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحٌ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ: أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا أَرْكَبُ الْأُرْجُوَانَ، وَلَا أَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ، وَلَا أَلْبَسُ الْقَمِيصَ الْمُكَفَّفَ بِالْحَرِيرِ، قَالَ: وَأَوْمَأَ الْحَسَنُ إِلَى جَيْبِ قَمِيصِهِ، قَالَ: وَقَالَ: أَلَا وَطِيبُ الرِّجَالِ رِيحٌ لَا لَوْنَ لَهُ أَلَا وَطِيبُ النِّسَاءِ لَوْنٌ لَا رِيحَ لَهُ". قَالَ سَعِيدٌ: أُرَاهُ، قَالَ: إِنَّمَا حَمَلُوا قَوْلَهُ فِي طِيبِ النِّسَاءِ عَلَى أَنَّهَا إِذَا خَرَجَتْ فَأَمَّا إِذَا كَانَتْ عِنْدَ زَوْجِهَا فَلْتَطَّيَّبْ بِمَا شَاءَتْ.

دعمران بن حصين رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائيلي دي زه په ارغواني رنګ ذن باندې نه سوريږم اونه په زعفرانو رنګ شوې لباس اغوندم اونه داسې لباس اغوندم چه ريښم پکښې لګيدلې وي، راوي وائي چه حسن دقميص ګريبان ته اشاره وکړله راوي وائي چه نبي علیه السلام مزيد اوفرمائيل دسړو دپاره خوشبوداده دکوم چه رنګ نه وي صرف خوشبووي اود زنانو خوشبو رنګينه وي خوبوي پکښې نه وي (چه دفساد باعث جوړيږي) سعيدبن عروبه وئيلي دي چه داحکم په هغه وخت کښې دی کله چه زنانه بهر را اوځي خو که چرې په خپل کورکښې دخپل خاوندسره وي نوبيا هرقسم خوشبو استعمالولې شي هيڅ باک پکښې نشته.

﴿ لاَ أَرْكَبُ الأُرْجُوَانَ وَلاَ أَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ وَلاَ أَلْبَسُ الْقَمِيصَ الْمُكَفَّفَ بِالْحَرِيرِ ﴾

ارجوان يو ګلداره اونه هم وی او سور رنګ ته هم وائی دغه شان په سره کپړه باندې هم د دې اطلاق کيږی، دلته د دې نه مراد المثيرة الحمراء دې، د کوم ذکر چه په رواياتو کښې په کثرت سره راځي، يعنی سره ګدئ کومه چه په زين دپاسه خورولې شی (سور زين پوش) رسول اللهﷺ فرمائي چه زه په دې باندې نه سوريږم، يا خو د سور رنګ د وجې نه، او يا په دې وجه چه هغه اکثر ريښمی وی، او د قميص مکفف بالحرير نه اغوستل دا تنزها وو ګينې هغه خو جائز دي په دې شرط چه د څلورو ګوتو نه زيات نه وی، د باقي حديث مطلب ښکاره دې.

[٤٠٤٩](2) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ الْهَمْدَانِيُّ، أَخْبَرَنَا الْمُفَضَّلُ يَعْنِي ابْنَ فَضَالَةَ، عَنْ عَيَّاشِ بْنِ عَبَّاسٍ الْقِتْبَانِيِّ، عَنْ أَبِي الْحُصَيْنِ يَعْنِي الْهَيْثَمَ بْنَ شَفِيٍّ، قَالَ: خَرَجْتُ أَنَا وَصَاحِبٌ لِي يُكْنَى أَبَا عَامِرٍ رَجُلٌ مِنَ الْمَعَافِرِ لِنُصَلِّيَ بِإِيلْيَاءَ وَكَانَ قَاصُّهُمْ رَجُلٌ مِنَ الْأَزْدِ، يُقَالُ لَهُ: أَبُو رَيْحَانَةَ مِنَ الصَّحَابَةِ، قَالَ أَبُو الْحُصَيْنِ: فَسَبَقَنِي صَاحِبِي إِلَى الْمَسْجِدِ ثُمَّ رَدِفْتُهُ، فَجَلَسْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَسَأَلَنِي هَلْ أَدْرَكْتَ قَصَصَ أَبِي رَيْحَانَةَ؟ قُلْتُ: لَا، قَالَ: سَمِعْتُهُ يَقُولُ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَشْرٍ: عَنِ الْوَشْرِ وَالْوَشْمِ وَالنَّتْفِ، وَعَنْ مُكَامَعَةِ الرَّجُلِ

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٨٠٣)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأدب ٣٦ (٢٧٨٩)، مسند احمد (٤٤٢/٤) (صحيح)

(2): سنن النسائي/الزينة ٢٠ (٥٠٩٤)، ٢٧ (٥١١٣، ٥١١٤، ٥١١٥)، سنن ابن ماجه/ اللباس ٤٧ (٣٦٥٥)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٤/٤، ١٣٥)، سنن الدارمي/الاستئذان ٢٠ (٢٦٩٠) (ضعيف)

الرَّجُلِ بِغَيْرِ شِعَارٍ، وَعَنْ مُكَامَعَةِ الْمَرْأَةِ الْمَرْأَةَ بِغَيْرِ شِعَارٍ، وَأَنْ يَجْعَلَ الرَّجُلُ فِي أَسْفَلِ ثِيَابِهِ حَرِيرًا مِثْلَ الْأَعَاجِمِ أَوْ يَجْعَلَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ حَرِيرًا مِثْلَ الْأَعَاجِمِ، وَعَنِ النُّهْبَى وَرُكُوبِ النُّمُورِ وَلُبُوسِ الْخَاتَمِ إِلَّا لِذِي سُلْطَانٍ "، قَالَ أَبُو دَاوُد: الَّذِي تَفَرَّدَ بِهِ مِنْ هَذَا الْحَدِيثِ ذِكْرُ الْخَاتَمِ.

دابوالحصين هيثم بن شفي رَحِمَهُ اللهُ نه روايت دې فرماي چه زه او زما اوملګرې دمعافر قبيلې والا چه ابوعامربه ورته وئيلې شو په بيت المقدس کښې دمونځ کولودپاره روان شو او په دغه وخت کښې ددوی خطيب دايز قبيل والا ابوريحانه صحابي وز، ابوالحصين وائی زما ملګرې زمانه جومات ته په داخليدوکښې مخکښې شو اوزه ورپسې وم اودهغه يوارخ ته کيناستم زمانه ئې تپوس اوکړو ايا دابو ريحانه تقرير دې واوريدو؟ ما اووئيل نه هغه اووئيل ما ورنه واوريدل چه وئيل ئې نبی کريم صلى الله عليه وسلم دلسو څيزونونه منع فرمائيلې ده (۱) دغاښونو دنرې کولونه (۲)دخال لګولونه (۳) دزيب اوزينت دپاره دسر يادګيرې وينسته ويستل (۴) اوبر بند څملاستل ددوه سړو بغيرد پردې نه (۵) اوبربند څملاستل ددوه ښځو بغيرد پردې نه (۱) اوددې نه ئې هم منع فرمائيلې ده چه دعجميانو په شان د خپلوجامو لاندې ريښم مه لګوئ (۷ ، ۸) دلوټ مار اوتالان کولوئي نه ئې منع فرمائيلې ده (۹) او ددرندګانوپه څرمن باندې ئې دسورلی کولونه منع فرمائيلې ده (۱۰) اردبادشاه نه علاوه ئې دبل چادپاره دګوتي اچولونه منع فرمائيلې ده.

﴿ عَنْ أَبِي الْحُصَيْنِ – يَعْنِي الْهَيْثَمَ بْنَ شَفِيٍّ – قَالَ خَرَجْتُ أَنَا وَصَاحِبٌ لِي يُكْنَى أَبَا عَامِرٍ الخ ﴾

شرح الحديث:

ابوالحصين فرمائی چه يو ځل زه او زما يو ملګرې چه دهغه کنيت ابوعامر دې د کور نه اوتلو چه بيت المقدس ته تلو سره مونځ اوکړو او د هغه ځائې قاص يعنی واعظ او مقرر د قبيله ازد يو سړې وو چه د هغه کنيت ابوريحانه وو کوم چه په صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې وو، ابو حصين وائی چه بيت المقدس ته رسيدو کښې زما ملګرې زما نه مخکښې شو او دوی په څه وجه باندې شاته پاتې شو تر دې وخته پورې د هغوی بيان ختم شوې وو) بيا زه اورسيدم او د خپل ملګرې سره څوا کښې کيناستم، زما ملګرې زما نه تپوس اوکړو چه تاسو د ابوريحانه وعظ اوريدلې وو؟ ما اووې نه، هغه اووې ما دهغه نه د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث اوريدلې دې ﴿ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عَنْ عَشْرٍ عَنِ الْوَشْرِ وَالْوَشْمِ وَالنَّتْفِ وَعَنْ مُكَامَعَةِ الرَّجُلِ الرَّجُلَ بِغَيْرِ شِعَارٍ وَعَنْ مُكَامَعَةِ الْمَرْأَةِ الْمَرْأَةَ بِغَيْرِ شِعَارٍ وَأَنْ يَجْعَلَ الرَّجُلُ فِي أَسْفَلِ ثِيَابِهِ حَرِيرًا مِثْلَ الأَعَاجِمِ أَوْ يَجْعَلَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ حَرِيرًا مِثْلَ الأَعَاجِمِ وَعَنِ النُّهْبَى وَرُكُوبِ النُّمُورِ وَلُبُوسِ الْخَاتَمِ إِلاَّ لِذِي سُلْطَانٍ ﴾

يعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم د لسو څيزونو نه منع اوفرمائيله:

۱: وشر نه يعنی د ترقيق الاسنان نه .غاښونه په څه آله باندې نرې کول، کوم چه د بعضو زنانو عادت وی چه د لوئې عمر د کيدو نه پس د خپلو غاښونو طرفونه نرې کوی چه هغوی کم عمره ښکاره شی، باريک کونکې ته واشره، او د کومې چه باريک کولې شی هغې ته موشوره وائی.

۲: او دوشم نه چه هغې ته خالونه هم وائی، د بدن په يو حصه کښ په يو نرئ ستن وغيره باندې نخښې او ګلونه وغيره جوړولو سره په هغې کښ نيل يا سرمه ډکولې شی،
۳: د نتف نه يعنی سپين ويښته ويستل د سر يا ګيرې نه،
۴: او د دې نه چه يو سړې د بل سړی سره بغير د پرتوګ يا لنګ نه سملی، او که دواړه په خپلو خپلو جامو کښ مستور وی او بيا يو مشترک څادر اغوستلو سره سملی نو د هغې جواز شته که د فتنې ويره نه وی،
۵: او هم دغه شان ئې د زنانو په باره کښ هم اوفرمائيل،
۶: او دا چه يو سړې د عجميانو په شان د جامو نه لاندې څه ريښمی جامه واچوی لکه بنين وغيره،
۷: يا دا چه په خپله اوږه باندې د ريښمو رومال اچولو سره روان وی،
۸: او د بل د مال به غير د اجازت اخستلو نه،
۹: او د پړانګ وغيره په څرمن باندې د سوريدو نه يعنی رکوب جلود النمور، يعنی د شير يا پړانګ وغيره څرمن په کته باندې اچولو سره په هغې باندې سوريدل لانه من زی الجبابرة، دا د متکبرينو عادت دې،
۱۰: او د ګوتمې اچولو نه د عام سړی دپاره مګر عهده دار ته اجازت دې، لکه مفتی يا قاضئ چاته چه د مهر لګولو ضرورت راځی.

په جلود نمور باندې د سوريدو د ممانعت مختلف اسباب کيدې شی يا خو زينت او خيلاء، او د امام شافعی رحمه الله په نزد د منع وجه دا هم کيدې شی چه د هغوی په نزد د دې ځناورو ويښته ناپاک دی او په دباغت سره هم نه پاکيږی. بخلاف الحنفية فان عندهم شعر الميتة وعظمها طاهر.

د لبس خاتم ابواب وړاندې مستقل راروان دی. والحديث اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[۴۰۵۰]([1])حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَبِيبٍ، حَدَّثَنَا رَوْحٌ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبِيدَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "نُهِيَ عَنْ مَيَاثِرِ الْأُرْجُوَانِ".

دعلی رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام منع فرمائيل ده زين ته دسور پوخ اغوستلونه خوله چه په دې کښې ريښم لګيدلې وی

﴿عَنْ عَلِيٍّ – رضی الله عنه – أَنَّهُ قَالَ نَهَى عَنْ مَيَاثِرِ الْأُرْجُوَانِ﴾ مياثرة د مثيره جمع او ارجوان سور رنګ دې ته په اردو کښ ارګوانی رنګ وائی يعنی په کته باندې خوره کړې شوې سره ګدئ، او منع يا خو د اسراف د وجې نه ده يا د حرير د وجې نه، او رنګ هم په دې کښ داخل دې چه هغه سور وی، پس په وړاندې روايت کښ دی ﴿المثيرة الحمراء﴾...

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۳۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۲۱/۱) (صحيح)

[٤٠٥١]([1])حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ هُبَيْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "نَهَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ، وَعَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ، وَالْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ".

دعلی خه نه روایت دي فرمائی چه نبی ﷺ زه دسرو زرو دګوتي او دقسي داغوستلو اودسور رنګ زين نه منع کړې يم.

[٤٠٥٢]([2])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ الزُّهْرِيُّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي خَمِيصَةٍ لَهَا أَعْلَامٌ، فَنَظَرَ إِلَى أَعْلَامِهَا فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ: "اذْهَبُوا بِخَمِيصَتِي هَذِهِ إِلَى أَبِي جَهْمٍ فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا فِي صَلَاتِي وَأْتُونِي بِأَنْبِجَانِيَّتِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو جَهْمِ بْنُ حُذَيْفَةَ مِنْ بَنِي عَدِيِّ بْنِ كَعْبِ بْنِ غَانِمٍ.

دعائشه ﷺ نه روايت دي فرمائی چه نبی ﷺ په يونقش دار څادرکښې مونځ وکړو اونبی ﷺ ورته کتل بيا ئې دسلام ګرځولونه پس اوفرمائيل دا څادر ابوجهم ته ورکړئ زما خيال دمونځ په حالت کښې ددې څادر نقش اونګار طرف ته ورګرځي او زما دپاره يوڅاده څادر پکاردې په کوم کښې چه نقش اونګار نه وي، امام ابوداؤد فرمائی چه ابوجهم بن حذيفه د بنو عدي بن كعب دقبيلې نه دې۔

﴿ عَنْ عَائِشَةَ – رضى الله عنها – أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– صَلَّى فِي خَمِيصَةٍ لَهَا أَعْلَامٌ فَنَظَرَ إِلَى أَعْلَامِهَا الخ ﴾ دا حديث په كتاب الصلوة كښ په باب النظر فى الصلوة كښ تير شوي دي. والحديث اخرجه البخاري ومسلم، والنسائي، وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٠٥٣]([3])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ فِي آخَرِينَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَهُ وَالْأَوَّلُ أَشْبَعُ.

ترجمه: دعائشه ﷺ نه دتيرشوي روايت په شان روايت منقول دي ليکن اولنې روايت زيات کامل دي.

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي الْعَلَمِ وَخَيْطِ الْحَرِيرِ

باب: دهغه کپړې داستعمال جوازچه په هغې کښې ريښم کندلې شوې وي

[٤٠٥٤]([4])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَبُو عُمَرَ مَوْلَى أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ فِي السُّوقِ اشْتَرَى ثَوْبًا شَامِيًّا فَرَأَى فِيهِ خَيْطًا أَحْمَرَ، فَرَدَّهُ فَأَتَيْتُ أَسْمَاءَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهَا، فَقَالَتْ "يَا جَارِيَةُ نَاوِلِينِي جُبَّةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْرَجَتْ جُبَّةَ طَيَالِسَةٍ مَكْفُوفَةَ الْجَيْبِ وَالْكُمَّيْنِ وَالْفَرْجَيْنِ بِالدِّيبَاجِ".

[1]: سنن الترمذي/ الأدب ٤٥ (٢٨٠٨)، سنن النسائي/ الزينة ٤٣ (٥١٦٨)، سنن ابن ماجه/ اللباس ٤٦ (٣٦٥٤)، (تحفة الأشراف: ١٠٣٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٩٣، ١٠٤، ١٢٧، ١٣٢، ١٣٣، ١٣٧) (صحيح)
[2]: انظر حديث رقم: (٩١٥)، (تحفة الأشراف: ١٦٤٠٣) (صحيح)
[3]: انظر حديث رقم: (٩١٤)، (تحفة الأشراف: ١٦٤٣٤) (صحيح)
[4]: صحيح مسلم/اللباس ٢ (٢٠٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٢١)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/اللباس ١٨ (٣٥٩٤)، مسند احمد (٦/٣٤٨، ٣٥٣، ٣٥٤، ٣٥٥) (صحيح)

دابوعمر (داسماء بنت ابی بکر آزاد کړي شوي غلام) نه روایت دي فرمائی چه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما مي په بازار کښې اولیدو چه یوه شامي جوړه ئي واخستله اویو سورتارئي پکښې اولیدونو واپس ئي کړه، راوی وائی چه زه اسماء ته ورغلم اودواقعي ذکر ئي ورته وکړونوهغې یوي جینئ ته اواز وکړوچه دنبی علیه السلام جبه راته راوړه نوهغې یوه داسې طیالسي جبه راوړله چه په نستونړو او ګریبان اودهغې مخامخ اوشاته در یخمو کار شوي وو.

﴿ رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ فِي السُّوقِ اشْتَرَى ثَوْبًا شَامِيًّا فَرَأَى فِيهِ خَيْطًا أَحْمَرَ فَرَدَّهُ الخ ﴾

شرح الحدیث:

یعنی یو ځل ابن عمر رضي الله عنهما د بازار نه یو شامی کپړه واخستله چه کله ئې په هغې کښ سرهٔ تارونه اولیدل یعنی د ریښم نو هغه ئې واپس کړه، ابوعمر وائی (راوی د حدیث کوم چه د اسماء رضي الله عنها مولی وو) چه زه اسماء رضي الله عنها ته لاړم او هغې ته مې د دې خبرې ذکر اوکړو نو هغوی یوې وینځې ته اووې چه دننه چه کومه د رسول الله صلی الله علیه وسلم جبه پرته ده هغه راوړه. ﴿فَأَخْرَجَتْ جُبَّةَ طَيَالِسَةً مَكْفُوفَةَ الْجَيْبِ وَالْكُمَّيْنِ وَالْفَرْجَيْنِ بِالدِّيبَاجِ ﴾ نو هغې یو داسې د ورئ جبه راوړله چه د هغې په لستونړو او ګریوان کښ روستو مخکښ دواړو سرونو ته د ریښمو ریشه وه.

﴿ طیالسة ﴾ جمع د طیلسان ده الکساء الغلیظ، پیړ د ورئ څادر ﴿ جیب ﴾ یعنی ګریوان ﴿ فرجین ﴾ تثنیه ده د فرج چه د هغې ترجمه مونړ چاک کړې ده، کومه چه په بعض جبو کښ لړه لړه وړاندې او روستو د لاندې طرف ته وی، یعنی بعض جبې خو هغه وی کومې چه د وړاندې نه تولې پرانستلې وی او بعض داسې وی چه د وړاندې نه تولې پرانستلې نه وی بلکه څه حصه ئې د لاندې نه پرانستلې وی بعض مغربی جبې هم دغه شان وی، او دیباج وائی پیړ قسم ریښم ته، یعنی هغه کوم ته چه کمخواب وائی. د دې حدیث نه معلومه شوه چه که په جامه کښ ریښمی تار یا د هغې په غاړو باندې ریښم لګیدلې وی نو هغه دسرو دپاره جائز دې کما في ترجمة الباب.

ممکنه ده چه ابن عمر رضي الله عنهما ته دا مسئله معلومه نه وه........ هم په دې وجه اسماء رضي الله عنها هغه ته د ښودلو دپاره دا جبه راوغوښتله.

والحدیث اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجه نحوه مختصرا، قاله المنذری.

[٤٠٥٥] (١) حَدَّثَنَا ابْنُ نُفَيْلٍ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا خُصَيْفٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "إِنَّمَا نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الثَّوْبِ الْمُصْمَتِ مِنَ الْحَرِيرِ فَأَمَّا الْعَلَمُ مِنَ الْحَرِيرِ وَسَدَى الثَّوْبِ، فَلَا بَأْسَ بِهِ".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلې ده دداسې جامونه چه صرف دریخمونه جوړي کړي شوي وي مګر په کومه جامه باندې چه صرف ګلونه دریخمو جوړوي یاوودي شوي وي په ریخمو په دې کښې څه حرج نشته.

﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّمَا نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الثَّوْبِ الْمُصْمَتِ مِنَ الْحَرِيرِ فَأَمَّا الْعَلَمُ مِنَ الْحَرِيرِ وَسَدَى الثَّوْبِ فَلاَ بَأْسَ بِهِ ﴾

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٦٠٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣١٣، ٣٢١) (صحيح) دون قوله: "فأما العلم"

دا حديث او د دې شرح په باب ما جاء فى الخز كښې تيره شوې ده دا حديث د احنافو د مسلک موافق دې

بَابٌ فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ لِعُذْرٍ

باب: د عذر په وجه د ريښمو د جامو استعمالولو بيان

[٤٠٥٦] ([1])حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى يَعْنِي ابْنَ يُونُسَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "رَخَّصَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَلِلزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ فِي قُمُصِ الْحَرِيرِ فِي السَّفَرِ مِنْ حِكَّةٍ كَانَتْ بِهِمَا".

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائى چه رسول الله ﷺ اجازت ورکړې وو عبدالرحمن بن عوف اوزبير بن عوام ته دريخمد قميصونو اغوستلو په سفرکښې دهغه خارښ په وجه باندې کوم چه په دوی دواړو باندې لګيدلې وو.

﴿ عَنْ أَنَسٍ قَالَ رَخَّصَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ وَلِلزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ فِي قُمُصِ الْحَرِيرِ فِي السَّفَرِ مِنْ حِكَّةٍ كَانَتْ بِهِمَا ﴾

شرح الحديث وفقهه :

د سړو دپاره لبس حرير د څه عذر د وجې نه لکه خارښ يا سپګې وغيره د کيدو د وجې نه، ځکه چه په ريښم کښې سپګې نه پيدا کيږی دا مسئله مختلف فيه ده، يجوز عند الشافعي صرح به النووی وهو اصح روايتي احمد ويكره عند مالک وعن الحنفية روايتان.

مضمون: حديث دا دې چه رسول الله ﷺ عبدالرحمن بن عوف او زبير بن العوام رضی الله عنهما ته په يو سفر کښې د ريښم د قميص اجازت ورکړو د خارښ د وجې نه کوم چه په دې دواړو حضراتو باندې لګيدلې وو. دا حديث په صحيحين کښې م دې په هغې کښې يو ځائې کښې خو داسې دی ﴿ لحكة كانت بهما ﴾...... او په يو روايت کښې په ځائې د ﴿حكة﴾ قمل دې ﴿ انهما شكوا الى النبى ﷺ يعنى القمل ﴾ په دې باندې فتح البارى کښې ليکلې دی جمع الداؤدی باحتمال ان يكون احدى العلتين باحدى الرجلين.... يعنې کيدې شي چه په دې دواړو کښې د يو عذر حکه وی او د بل عذر قمل، په دې باندې حافظ رحمه الله فرمائې : قلت ويمكن الجمع بان الحكة حصلت من القمل فنسبت العلة تارة الى السبب وتارة الى سبب السبب.... فتح البارى ۱۱۹/۶ اهـ امام بخاری رحمه الله دا حديث دوه ځايه ذکر فرمائيلې دې په کتاب الجهاد کښې چرته چه ئې ورله ترجمه قائم کړې ده. باب الحرير فى الحرب...... او بل په کتاب اللباس کښې هلته ئې ترجمه قائم کړې ده. باب ما يرخص للرجال من الحرير للحكة..... په مسئلة الباب کښې اختلاف د ائمه او د هغې تفاصيل په الابواب والتراجم کښې ذکر دی که څوک غواړی هغې ته د رجوع اوکړی.

---

[1]: صحيح البخاري/الجهاد ۹۱ (۲۹۱۹)، واللباس ۲۹ (۵۸۳۹)، صحيح مسلم/اللباس ۳ (۲۰۷۶)، سنن النسائي/الزينة من المجتمع ۳۸ (۵۳۱۲)، سنن ابن ماجه/اللباس ۱۷ (۳۵۹۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۹)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/اللباس ۲ (۱۷۲۲)، مسند احمد (۱۲۷/۳، ۱۸۰، ۲۱۵، ۲۵۵، ۲۷۳) (صحيح)

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجه، وذكر السفر عند مسلم وحده، قاله المنذرى.

بَابٌ فِي الْحَرِيرِ لِلنِّسَاءِ

باب: ښځو دپاره د ريښمو د جامو د استعمال د جواز بيان

[٤٠٥٧] (١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي أَفْلَحَ الْهَمْدَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زُرَيْرٍ يَعْنِي الْغَافِقِيَّ أَنَّهُ سَمِعَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: "إِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ حَرِيرًا فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ، وَأَخَذَ ذَهَبًا فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي".

دعبدالله بن زرير الغافقى رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه دعلى بن ابى طالب د نه مې آوريدلى دى چه فرمائيل ئې نبى كريم ﷺ يوه ريشمي جامه پخپل ښئ لاس اونيوله او په خپل چپ لاس ئې سره زر اونيول اووئې فرمائيل دا دوه څيزونه زما دامت په نارينوو باندې حرام دي.

امام بخارى رحمه الله هم دا ترجمه قائم كړې ده خو په دې كښې يو مرفوع حديث هم داسې نه دې ذكر كړې چه په دې مسئله كښې د نساء متعلق وى نفيا يا اثباتا، په دې باندې حافظ فرمائى ﴿ كانه لم يثبت عنده الحديثان المشهور ان فى تخصيص النهى بالرجال صريحا، فاكتفى بما يدل على ذلك ﴾ بيا د دې نه پس حافظ يو حديث د على رضي الله عنه كوم چه دلته په آبوداؤد كښې ذكر دې او دويم حديث د ابوموسى اشعرى رضي الله عنه كوم چه په الابواب والتراجم كښې ذكر دې. ﴿ قلت ولفظه عند الترمذى : عن ابى موسى الاشعرى ان رسول الله ﷺ قال حرم لباس الحرير والذهب على ذكورامتى واحل لاناثهم ثم قال الترمذى:وفى الباب عن عمر وعلى رضي الله عنهما، الى آخر ما ذكر﴾ د جمهور علماء او ائمه اربعه مسلك هم دا دې كومه چه د دې احاديثو نه ثابتيږى. خو په دې كښې د بعض صحابه كرامو رضي الله عنهم لكه عبدالله بن عمر او د عبدالله بن زبير رضي الله عنهما نقل دې. نه پس حافظ فرمائى ﴿باب الحرير للنساء لعله افرده بالذكر لوجود الخلاف فيه فى السلف كما تقدمت الاشارة فى باب لبس الحرير اهـ من الابواب والتراجم ﴾ د ابن عمر او د ابن زبير رضي الله عنهما د دوى دواړو روايت د عدم جواز په نسائى كښې ذكر دې په كوم باندې چه هغوى باب قائم كړې دې. التشديد فى لبس الحرير الخ.... او حديث دا دې ﴿ حدثنا خليفة قال سمعت عبد الله بن الزبير قال لا تلبسوا نساءكم الحرير فإني سمعت عمر بن الخطاب يقول قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : من لبسه في الدنيا لم يلبسه في الآخرة ﴾ او دويم روايت د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دې چه د عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه د لبس حرير په باره كښې تپوس اوشو نو هغوى اوفرمائيل چه د عائشې رضي الله عنها نه تپوس اوكړئ، راوى وائى (عمران بن حطان راوى دې) چه ما د عائشې رضي الله عنها نه تپوس اوكړو نو هغوى اوفرمائيل چه د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه تپوس اوكړه، بيا ما د ابن عمر رضي الله عنهما نه تپوس اوكړو نو هغوى اوفرمائيل ﴿ فقال حدثني ابو حفص أن رسول الله صلى الله عليه و سلم

(١): سنن النسائي/الزينة ٤٠ (٥١٤٧)، سنن ابن ماجه/اللباس ١٩ (٣٥٩٥)، (تحفة الأشراف: ١٠١٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٩٦١،٦٧١، ١١٥) (صحيح)

قال من لبس الحرير في الدنيا فلا خلاق له في الآخرة ﴾ د دې جواب دا دې چه دا د دې حضراتو خپل اجتهاد او استنباط دې د جمهورو استدلال د احاديث مرفوعه نه دې، کيدې شي چه هغوی ته دا حديث نه وی رسيدلې. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذری

[٤٠٥٨](١) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، وَكَثِيرُ بْنُ عُبَيْدٍ الْحِمْصِيَّانِ، قَالَا: حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنِ الزُّبَيْدِيِّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ "أَنَّهُ حَدَّثَهُ أَنَّهُ رَأَى عَلَى أُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُرْدًا سِيَرَاءَ"، قَالَ: وَالسِّيَرَاءُ الْمُضَلَّعُ بِالْقَزِّ.

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ما دنبی کريم لور ام کلثوم رضی الله عنها په داسې حال کښې اوليدله چه يوداسې څادرئې اغوستلې وو چه دريښمو ګلان پرې جوړ شوي وو، راوی وائی السيراء دريښمو کرخوته وئيلې شي.

﴿ بُرْدًا سِيَرَاءَ، قَالَ وَالسِّيَرَاءُ الْمُضَلَّعُ بِالْقَزِّ ﴾ سيدنا انس رضی الله عنه فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ په لور ام کلثوم رضی الله عنها باندې يو څادر اوليدو چه په هغې کښې د حرير پلنې پلنې ګيندې وې.

مضلع د ضلع نه دې يعنی پختئ..... يعنی د پختو شان پلنې پلنې ګيندې، د قز تحقيق مخکښې تير شوې دې ولفظ البخاری : برد حرير سيراء....... والحديث اخرجه البخاری والنسائي وابن ماجه، قاله المنذری.

[٤٠٥٩](٢) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ يَعْنِي الزُّبَيْرِيَّ، حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كُنَّا نَنْزِعُهُ عَنِ الْغِلْمَانِ وَنَتْرُكُهُ عَلَى الْجَوَارِي، قَالَ: مِسْعَرٌ فَسَأَلْتُ عَمْرَو بْنَ دِينَارٍ عَنْهُ فَلَمْ يَعْرِفْهُ".

دجابر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه مونږ به دهلکانودغاړې نه د ريښمو جامې ويستلې اودجينکوپه غاړه به مو پريخودلې، معمر وائی چه مادعمرو بن دينار نه ددې حديث په باره کښې تپوس اوکړو نوهغه ددې دپېژندلونه انکار وکړو.

﴿ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا نَنْزِعُهُ عَنِ الْغِلْمَانِ وَنَتْرُكُهُ عَلَى الْجَوَارِي ﴾

سيدنا جابر رضی الله عنه فرمائی (که د يو ماشوم په بدن باندې به مونږ د ريښم جامه اوليده) نو هغه به مو ترې نه ويستله او که په وينځو باندې به مو ليدله نو هغه به مو پريخودله.

معلومه شوه چه ماشوم ته ريښم اغوستل د ولی دپاره جائز نه دی، د احنافو مذهب هم دا دې او د امام شافعی رحمه الله نه په دې کښې دوه روايتونه دی يو د عدم جواز، او دويم د جواز الی سبع سنين...... رومبې روايت اختيار کړې دې شيخ ابو اسحاق شيرازی، او علامه رافعی دويم روايت ته ترجيح ورکړې ده. (بذل)

﴿ قَالَ مِسْعَرٌ فَسَأَلْتُ عَمْرَو بْنَ دِينَارٍ عَنْهُ فَلَمْ يَعْرِفْهُ ﴾ يعنی دا حديث مسعر ته د عمر بن دينار نه په واسطه د عبدالملک رارسيدلې وو، مسعر وائی چه روستو زمانه کښې چه کله ما د

(١): صحيح البخاري/اللباس ٣٠ (٥٨٤٢ تعليقًا)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ٣٠ (٥٢٩٩)، (تحفة الأشراف: ١٥٣٣)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/اللباس ١٩ (٣٥٩٨) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٥٦١) (صحيح)

عمرو بن دینار نه پخپله تپوس اوکړو نو هغوی د دې روایت نه لا علمی ښکاره کړه، قال المنذری، فلعله نسیه وقال ابن رسلان وهذا غیر قادح فی الروایة لان الراوی ثقة فلا یسقط روایته اهـ.

بَابٌ فِي لُبْسِ الْحِبَرَةِ

باب: د حبره (نقش ونګار والا یمنی) جامو د اغوستلو بیان

[۴۰۶۰] (1) حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ الْأَزْدِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: قُلْنَا لِأَنَسٍ يَعْنِي ابْنَ مَالِكٍ "أَيُّ اللِّبَاسِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ أَعْجَبَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: الْحِبَرَةُ".

دقتاده رحمه الله نه روایت دې فرمائی چه انس بن مالک نه ته مې اووئیل چه دنبی کریم ﷺ کوم یولباس ډیر خوښ وو یا کوم یولباس به ورسره ښه ښکاریدو؟ انس نه اوفرمائیل یمني څادر.

﴿ قال الحبرة ﴾ د انس رضی الله عنه نه تپوس اوکړې شو چه د رسول الله ﷺ کوم لباس زیات خوښ وو؟ نو هغوی اوفرمائیل: حبره....

شرح الحدیث:

حبره یعنی برد یمانی یمنی څادر کوم چه د کتان یا د قطن وی، سمیت حبرة لانها محبرة ای مزینة والتحبیر التزیین والتحسین (بذل) او په تحفة الاحوذی ۵/۴۰۶ کښې دی چه حبره د برود یمن یو قسم دې چه په هغې کښې سرې کرښې وی، او کله شنې یا اسمانی رنګ، دا د عربو په نزد اشرف الثیاب دې ځکه چه دا د تار نه جوړولې شی. او یا په دې وجه چه د شین رنګ وی کوم چه د اهل جنت جامه ده. پس په یو روایت کښې دی: ﴿ کان احب الالوان الیه الحضرة، علی ما رواه الطبرانی فی الاوسط وابن السنی وابونعیم فی الطب، والتحبیر التحسین ﴾ او بعضو وجه د محبت دا لیکلې ده چه په دې کښې سادګی ده زیات زینت نشته، او دا هم چه داسې کپړه زر خیرنیږی نه. آهـ قال العارف الجامی رحمه الله:

برون اور سر از بردیمانی | که روئے تست صبح زندگانی

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری

بَابٌ فِي الْبَيَاضِ

باب: د سپین لباس د فضیلت بیان

[۴۰۶۱] (2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ، فَإِنَّهَا خَيْرُ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ، وَإِنَّ خَيْرَ أَكْحَالِكُمُ الْإِثْمِدُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ".

دعبدالله ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی سپین لباس اغوندئ ځکه چه دا ستاسو په لاسونو کښې غوره لباس دې اوخپل مړونه هم په دې کښې

---

(1): صحیح البخاري/اللباس ۱۸ (۵۸۱۲)، صحیح مسلم/اللباس ۵ (۲۰۷۹)، (تحفة الأشراف: ۱۳۹۵)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/اللباس ٤٥ (۱۷۸۷)، الشمائل ۸ (٦٠)، مسند احمد (۱۳٤/۳، ۱۸٤، ۲٥۱، ۲۹۱) (صحیح)

(2): انظر حدیث رقم (۳۸۷۸)، (تحفة الأشراف: ٥٥۳٤) (صحیح)

کښن ورکوئ اوستاسو د پاره غوره رانجه اثمد دي ځکه چه دا نضر تيزوي اود وروزو ويښته رازرغونوي.

قوله: ﴿ الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ فَإِنَّهَا خَيْرُ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ ﴾

د ابن عباس رضي الله عنهما حديث مرفوع دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: سپينې جامې اغوندئ چه هغه بهترينې جامې دي، او په دې کښن خپل مړی کفن کوئ. وړاندې په حديث کښن د کحل اثمد ذکر دې د کوم روايت چه مخکښن ذکر شوې دې.

والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجه مختصرا، قاله المنذري

بَابٌ فِي غَسْلِ الثَّوْبِ وَفِي الْخُلْقَانِ

ابه د زړو جامو د وينځلو او صفا ساتلو بيان

خلقان جمع ده د خَلَق لکه ذکر او ذکران، زړه کپړه.

د باب په رومبی حديث کښن دی جابر رضي الله عنه فرمائی چه يو ځل مونږ ته رسول الله ﷺ تشريف راوړلو نو د هغوی نظر په يو داسې سړی باندې پريوتلو چه د هغه ويښته ګډوډ وو. نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ أَمَا كَانَ يَجِدُ هَذَا مَا يُسَكِّنُ بِهِ شَعْرَهُ ﴾ چه د هغه سره داسې څيز نه وو چه په هغې باندې د خپلو ويښتو اصلاح اوکړی يعنی ترجيل، تدهين وغيره. هغوی فرمائی چه دغه شان رسول الله ﷺ يو بل سړې اوليدو چه د هغه جامې خيرنې وې. ﴿ وعليه ثياب وسخة ﴾ نو هغه ته هم رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه آيا دې سړی سره داسې څه نشته دې خپلې جامې وينځی او صفا ئې کړی؟

[٤٠٦٢] ([1])حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مِسْكِينٌ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، عَنْ وَكِيعٍ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ نَحْوَهُ، عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: أَتَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَى رَجُلًا شَعِثًا قَدْ تَفَرَّقَ شَعْرُهُ، فَقَالَ: "أَمَا كَانَ يَجِدُ هَذَا مَا يُسَكِّنُ بِهِ شَعْرَهُ، وَرَأَى رَجُلًا آخَرَ وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ وَسِخَةٌ، فَقَالَ: أَمَا كَانَ هَذَا يَجِدُ مَاءً يَغْسِلُ بِهِ ثَوْبَهُ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام مونږ ته تشريف راوړو اوبه خيرن حالت کښې ئې يوبېرسري سړې وليدو چه دسر ويښته ئې ګډ وډ شوي اوخواره وو نبی عليه السلام اوفرمائيل ايا دده سره داسې څه نشته چه خپل سر په هغې باندې صفاکړي بيانبی عليه السلام دخيرنو جامو ولايوکس اوليدو وبې فرمائيل ايا دده سره اوبه نشته چه خپلې جامې پرې پالې کړي.

په دې حديث کښن د بدن او د جامو وغيره پاکولو ته ترغيب دې چه انسان لره صفا ستهره اوسيدل پکار دی، عمده او قيمتی جامه خو بيل څيز دې هغه خو د سادګئ خلاف ده، خو نظافت امر مطلوب دې، او باقی د مطلوب کيدو مطلب دا هم نه دې چه د انسان په بدن باندې بالکل جامې خيرنيږی هم نه او بس هم د هغې د صفايئ په اهتمام کښن دې مصروف وی، اعتدال په هر څيز کښن ضروری دې.

[1]: سنن النسائي /الزينة من المجتبي ٦ (٥٢٣٨)، (تحفة الأشراف: ٣٠١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٧/٣) (صحيح)

د عمر بن عبدالعزیز یو حکایت د زهد په باره کښې :

یو روایت را یاد شو کوم چه په ترمذی کښې دي ﴿ باب ما جاء في صفة اواني الحوض ﴾ چه د هغې مضمون داسې دې چه یو ځل عمر بن عبدالعزیز رحمه الله ابوسلام حبشي د حوض کوثر په باره کښې د حدیث اوریدلو دپاره راوغوښتلو چه هغوی اوریدلي وو چه هغه د حوض کوثر په باره کښې یو حدیث بیانوی، هغوی په پوښتنه کولو باندې هغه حدیث واورولو چه په هغې کښې د حوض کوثر بیان دې او د هغې په آخر کښې دی ﴿ أول الناس ورودا عليه فقراء المهاجرين الشعث رؤسا الدنس ثيابا الذين لا ينكحون المتنعمات ولا تفتح لهم أبواب السدد قال عمر لكني نكحت المتنعمات وفتح لي السدد ونكحت فاطمة بنت عبد الملك لا جرم أني لا أغسل رأسي حتى يشعث ولا أغسل ثوب الذي يلي جسدي حتى يتسخ ﴾ چه د هغې ترجمه دا ده چه د ټولو نه اول به په دې حوض باندې د قیامت په ورځ باندې راتلونکی فقراء مهاجرین وی کوم چه په دنیا کښې ګډوډو ویښتو والا وو، او د خیرنو جامو والا، چه د نیازبینو زنانو سره ئې ودونه نه کول او نه د هغوی دنیوی حیثیت داسې وو چه د هغوی دپاره دروازه پرانستلې شي. عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په دې حدیث اوریدلو سره خپله جائزه واخستله او وې فرمائیل چه زما حال خو داسې نه دې، ما خو د نیازبینې سره واده کړې دې، او زما دپاره دروازې هم پرانستلې شي او د خلیفه عبدالملک لور فاطمه سره ما نکاح کړې ده، اوس زه عهد کوم چه خپل سر به نه وینځم تر څو چه هغه خیرن نه شي، او د خپل بدن جامې به نه وینځم تر څو چه هغه خیرنې شوې نه وی. د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله حالات او سیرت د مطالعې قابل دی، قدیم علماء کرامو د هغوی په سیرت باندې تصنیفات کړې دی چه د هغې اردو ترجمې هم شائع شوې دی، د هغوی په شروع کښې چه کله هغوی د مدینې طیبې ګورنر وو ډیره امیرانه او شاهانه ژوند وو، خپله د هغوی ذاتی ګټه ډیره زیاته وه په کتاب الخراج کښې د هغې ذکر تیر شوې دې، خو د خلافت نه پس د هغوی په حالاتو کښې ډیر په تیزئ سره انقلاب راغلو چه د هغې اندازه د دې مذکوره روایت نه هم کیدلې شي.

هسې په لباس کښې زمونږ د اکابرینو نور الله مرقدهم ذوق مختلف وو. حضرت ګنګوهی به ډیر زیات صفا او لطیف جامه اغوستله. دغه شان د هغوی نه پس د هغوی خلیفه حضرت سهارنپوری او هم دغه شان مولانا تهانوی چه د هغې تفصیل د هغوی د ژوند د حالاتو نه معلومیږی، او د قاسم العلوم مولانا محمد قاسم نانوتوی کښې ډیره زیاته سادګی وه او هم دغه شان حال زمونږ د شیخ د والد مولانا محمد یحیی صاحب کاندهلوی هم وو.

والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

[٤٠٦٣] (١) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَوْبٍ دُونٍ، فَقَالَ: أَلَكَ مَالٌ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: مِنْ أَيِّ الْمَالِ؟ قَالَ: قَدْ آتَانِي اللَّهُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْغَنَمِ وَالْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ، قَالَ: فَإِذَا آتَاكَ اللَّهُ مَالًا، فَلْيُرَ أَثَرُ نِعْمَةِ اللَّهِ عَلَيْكَ وَكَرَامَتِهِ".

(١): سنن النسائي/الزينة ٥٢ (٥٢٢٥)، الزينة من المجتبى ٢٨ (٥٢٩٦)، (تحفة الأشراف: ١١٢٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٧٣، ٤/١٣٧) (صحيح الإسناد)

ابو الاحوص دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او په دغه وخت کښې زما جامې خیرني وې نبی ﷺ اوفرمائیل ایا مال درسره شته؟ ماعرض اوکړوهو، بیا ئې اوفرمائیل ستا سره څه قسم مال موجود دې؟ ماعرض اوکړو چه الله تعالی ماته چیلۍ اسونه وینځې اوغلامان هرڅه راکړي دي ، نبی ﷺ اوفرمائیل کله چه تاته الله تعالی داشیزونه درکړي دي نویکارده چه دالله تعالی دنعمت اثر ستا په جسم باندې ښکاره شي.

﴿عَنْ أَبِى الأَحْوَصِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- فِى ثَوْبٍ دُونٍ فَقَالَ « أَلَكَ مَالٌ » الخ ﴾ يو صحابی مالک بن نضله ﷺ فرمائی چه یوه ورځ زه په زړو جامو کښې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو هغوی زما نه تپوس اوکړو چه آیا تاسره څه مال وغیره شته؟ ما عرض اوکړو چه الله پاک ماته هر قسم مال راکړې دې اوښان، چیلۍ، اسونه او غلامان. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هر کله الله پاک تاته مال درکړې دې ﴿فَإِذَا آتَاكَ اللَّهُ مَالاً فَلْيُرَ أَثَرُ نِعْمَةِ اللَّهِ عَلَيْكَ وَكَرَامَتِهِ ﴾ نو پکار ده چه د الله پاک د نعمت او کرامت په تاسو باندې اثر ښکاره شي، معلومه شوه چه مالدار انسان لره د تحدیث بالنعمت په طوردحیثیت مطابق ښه جامه اغوستل پکاردی. والحدیث اخرجه النسائی قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْمَصْبُوغِ بِالصُّفْرَةِ

باب: په زیړ رنګ باندې د رنګ شوو جامو د استعمال بیان

او په بعض نسخو کښې ﴿ فی المصبوغ بالصفرة ﴾ دي او کیدل هم پکار دی لکه چه په حدیث الباب کښې دی. مصنف ﷺ دلته څلور ابواب قائم کړې دی اول په لباس اصفر باندې، دویم په لباس اخضر باندې، او دریم په لباس احمر باندې، او څلورم په لباس اسود باندې. او د دې څلورو واړو د رسول الله ﷺ نه ثبوت دې، خو د احمر په باره کښې په روایاتو کښې اختلاف دې، په دې کښې بعض روایتونه د ثبوت دی او بعض د منع، په دې وجه مصنف ﷺ هم په دې باندې دوه بابونه تړلي دی.

[٤٠٦٤] (١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ زَيْدٍ يَعْنِي ابْنَ أَسْلَمَ: أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَصْبُغُ لِحْيَتَهُ بِالصُّفْرَةِ حَتَّى تَمْتَلِئَ ثِيَابُهُ مِنَ الصُّفْرَةِ، فَقِيلَ لَهُ: لِمَ تَصْبُغُ بِالصُّفْرَةِ؟ فَقَالَ: "إِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْبُغُ بِهَا وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْهَا، وَقَدْ كَانَ يَصْبُغُ ثِيَابَهُ كُلَّهَا حَتَّى عِمَامَتَهُ".

دزید بن اسلم ﷺ نه روایت دې فرمائی چه عبد الله ابن عمر ﷺ به خپله ږیره په زیړ رنګ باندې رنګه کوله تردې چه ټولې جامې به ئې زیړې شوې یوځل ورنه چاتپوس اوکړو چه په زیړ رنګ باندې ډیره ولې رنګ کوې؟ نوهغه په جواب کښې اووئیل مانبی ﷺ لیدلې وو چه زیړ رنګ ئې استعمال کړې وو اودنبی ﷺ به ددینه زیات بل څیز خوښ نه وو او یقینانبی ﷺ به خپلې ټولې جامې په دې رنګ باندې رنګ کولې تردې چه خپل پټکې به ئې هم په دې رنګ رنګ کړو.

(١): صحيح البخاري/اللباس ٣٧ (٥٨٥٢)، صحيح مسلم/الحج ٥ (١١٨٧)، سنن النسائي/الزينة ١٧ (٥٠٨٨)، سنن ابن ماجه/اللباس ٣٤ (٣٦٢٦)، (تحفة الأشراف: ٦٧٢٨) (صحيح الإسناد)

قوله: ﴿ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَصْبُغُ لِحْيَتَهُ بِالصُّفْرَةِ حَتَّى تَمْتَلِئَ ثِيَابُهُ مِنَ الصُّفْرَةِ فَقِيلَ لَهُ لِمَ تَصْبُغُ بِالصُّفْرَةِ فَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَصْبُغُ بِهَا وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْهَا وَقَدْ كَانَ يَصْبُغُ بِهَا ثِيَابَهُ كُلَّهَا حَتَّى عِمَامَتَهُ ﴾

یعنی ابن عمر رضی الله عنهما به په خپله ږیره کښې خضاب اصفر کولو، تر دې چه د هغوی کپړې به هم په دې باندې اولړلې شوې، چه کله د هغوی نه دې باره کښې تپوس اوکړې شو نو وې فرمائيل چه ما رسول الله ﷺ لره خپلو جامو ته دې رنګ ورکولو باندې ليدلی دې، او د رسول الله ﷺ دا رنګ ډير زيات خوښ وو. او رسول الله ﷺ به هم په دې رنګ کښې خپلې کپړې رنګ کولې تر دې چه عمامه هم.

کوم رنګ چه خالص اصفر وی لکه د شړشم ګلونه هغې ته زمونږ خلق د سپرلی رنګ وائی او کوم رنګ چه سرخئ ته مائل وی هغې ته ګيرو وائی چه هغې ته په عربئ کښې معراء وائی وړاندې په حديث کښې راځی، او کومه کپړه چه په دې رنګ کښې رنګ شوې وی هغې ته ګيروا او که مونث وی نو ګيروی، دا صوفيانه او مردانه رنګ دې او خالص اصفر هغه زنانه رنګ دې دا دلته نه دې مراد، د بذل نه معلوميږی چه که ګيروا لباس د غيرو شعار نه وی نو بيا د هغې استعمال جائز دې خاص طور د پټکی په باره کښې حضرت دا ليکلې دی. په هندوستان کښې بعض مذهبی هندوان ساده ګان قسم داسې وی چه د هغوی ټوله جامه د اول نه آخره پورې ټوله ګيروا وی. د حضرت اشاره هم دې طرف ته ده.

په متن کښې چه راځی: ﴿ وقد كان يصبغ ثيابه كلها ﴾ حضرت په بذل کښې د كان ضمير رسول الله ﷺ طرف ته منلې دې، او د دې نه پس ئې ليکلې دی ﴿ وقال القارى فى المرقاة: وقد كان اى ابن عمر فارجع الضمير الى ابن عمر، وهذا ايضا محتمل ﴾ هم دغه شان د ﴿ رايت رسول الله ﷺ يصبغ بها ﴾ په باره کښې منذری فرمائی چه بعض علماء کرامو دا فرمائيلې دی چه د دې نه مراد خضاب لحيه بالصفرة دې، او بعض نورو وئيلې دی چه د دې نه مراد صفرة ثياب دې، اصفر لباس اغوستل (بذل)

والحديث أخرجه النسائي، قاله المنذري.

بَابٌ فِي الْخُضْرَةِ

باب د شين رنګ د جامو بيان

[٤٠٦٥] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ إِيَادٍ، حَدَّثَنَا إِيَادٌ، عَنْ أَبِي رِمْثَةَ، قَالَ: انْطَلَقْتُ مَعَ أَبِي نَحْوَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "فَرَأَيْتُ عَلَيْهِ بُرْدَيْنِ أَخْضَرَيْنِ".

دابورمثه رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زه د خپل پلار سره د نبی علیه السلام طرف ته روان وم نو ما په نبی علیه السلام باندې دوه شنه څادرونه اونيدل.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي رِمْثَةَ قَالَ انْطَلَقْتُ مَعَ أَبِي الخ ﴾

(١): سنن الترمذي/الأدب ٤٨ (٢٨١٣)، سنن النسائي/العيدين ١٥ (١٥٧٣)، الزينة من المجتبى ٤٢ (٥٣٢١)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٣٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٢٦، ٢٢٧، ٢٢٨) (صحيح)

ابورمثه رضی الله عنه (۱) فرمائی چه زه د خپل پلار سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو په هغوی باندې مې دوه شنې څادرې اولیدې، په ظاهر کښې ترې نه څادر او ازار مراد دې، قال ابن رسلان وهو من لباس اهل الجنة ومن انفع الالوان للابصار........ د سترګو په حق کښې ډېر مفید دی. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری.

باب فِي الْحُمْرَةِ

باب: د سور رنګ د جامو بیان

په لبس احمر کښې مذاهب ائمه:

د ائمه ثلاثه په نزد د سړی دپاره لباس احمر بغیر د کراهت نه جائز دې او د احنافو اقوال په دې کښې مختلف دی د بعضو د کلام نه معلومیږی چه مکروه تحریمی او د بعضو بلکه د اکثرو د کلام نه مکروه تنزیهی وغیره وغیره...... تردې چه یو قول پکښې د استحباب هم دې په شامی کښې د دې پوره تفصیل دې. د علامه شامی میلان زیات نه زیات د کراهت طرف ته معلومیږی، او د سید الطائفه حضرت اقدس ګنګوهی د تقریر الکوکب الدری عبارت داسې دې: ﴿والمذهب فی البس الحمرة والصفرة ان المزعفر والمعصفر ممنوع عنه الرجال مطلقا والحمرة والصفرة غیر ذلک، فالفتوی علی جوازهما مطلقا لکن التقوی غیر ذلک والله تعالی اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب﴾ یعنی د سړو په حق کښې مزعفر او معصفر خو مطلقا ناجائز دی او حمرة او صفرة بیل څیز دې. د هغې په باره کښې فتوی د جواز ده اګر چه د تقوی خلاف ده اهـ... د دې حاصل هم دا شو چه احمر او اصفر دواړه د سړو په حق کښې خلاف اولی دی د لون اصفر په باره کښې څه تفصیل په باب المصبوغ کښې تیر شوې دې.

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه مصنف رحمه الله د حمرة په باره کښې دوه بابونه قائم کړې دی په اول باب کښې ئې د منع او تشدید ذکر دې په ډېرو روایتونو کښې، او د دې نه پس ئې ﴿باب الرخصة﴾ کښې د جواز روایتونه راوړې دی، خو د منع په اکثرو روایتونو باندې محدثینو کلام کړې دې، کما یظهر بالرجوع الی الشروح....

[۴۰۶۶] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ الْغَازِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "هَبَطْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ثَنِيَّةٍ، فَالْتَفَتَ إِلَيَّ وَعَلَيَّ رَيْطَةٌ مُضَرَّجَةٌ بِالْعُصْفُرِ، فَقَالَ: مَا هَذِهِ الرَّيْطَةُ عَلَيْكَ؟ فَعَرَفْتُ مَا كَرِهَ فَأَتَيْتُ أَهْلِي وَهُمْ يَسْجُرُونَ تَنُّورًا لَهُمْ، فَقَذَفْتُهَا فِيهِ ثُمَّ أَتَيْتُهُ مِنَ الْغَدِ، فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللَّهِ مَا فَعَلَتِ الرَّيْطَةُ؟ فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: أَلَا كَسَوْتَهَا بَعْضَ أَهْلِكَ فَإِنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ لِلنِّسَاءِ".

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه مونږ دنبی ﷺ سره دیوې ډیرۍ نه لاندې راکوز شونبی ﷺ ماته اوکتل او ما په دې وخت کښې یوڅادر اغوستلی وو کوم ته چه زیړ رنګ ورکړې شوې رونبی ﷺ اوفرمائیل داخه رنګه څادر دې اغوستلی دې؟ ماته دنبی ﷺ دخبرونه معلومه شوه چه دا څادرئې خوښ نه شو زه چه کور

(۱) د ابو رمثه اودهغوی دپلارپه نوم کښې اختلاف دې فقیل رفاعة بن یثربي وقیل حبیب بن وهب)
(۲): سنن ابن ماجه/اللباس ۲۱ (۳۶۰۳)، (تحفة الأشراف: ۸۸۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۶۴، ۱۹۶) (حسن)

ته راغلم نوزمونږ په کور کښې تنور لې وهلې ماهغه خادر. تنور ته ور وغورځوو بيابله ورځ دنبي ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو زمانه ئې تپوس اوکړو چه اې عبدالله هغه څادردې څه کړو؟ ما ورته واقعه بيان کړه نبي ﷺ اوفرمائيل دخپل خاندان بو کس ته به دې ورکړې وو ځکه چه دزنانوو دا رنګ خوښ وي اوبد ورسره نه ښکاري.

﴿ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ الخ ﴾

شرح الحديث :

سيدنا عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما فرمائي چه يو ځل مونږ د رسول الله ﷺ سره په يو غريزه لاره کښې کوز شو ﴿ فَالْتَفَتَ إِلَيَّ وَعَلَيَّ رَيْطَةٌ مُضَرَّجَةٌ بِالْعُصْفُرِ ﴾ يعنې رسول الله ﷺ چه زما طرف ته التفات اوفرمائيلو نو په ما ئې يو داسې څادر اوليدو کوم چه د عصفر په لړ شان رنګ کښې رنګ کړې شوې وو نو هغوی اظهار د کراهت اوفرمائيلو، زه کور ته راغلم هلته تنور بل وو ما په هغې کښې اوسيزلو بيا چه کله زه د هغوی په مجلس کښې بله ورځ حاضر شوم نو هغوی زما نه د هغه څادر په باره کښې تپوس اوکړو، ما چه څه کړي وو هغه مې عرض کړل، نو هغوی اوفرمائيل چه په زنانو کښې دې په چا ته ولې وانغوستلو. په دې کښې څه بدي وه؟

د دې حديث تعلق د مطلق احمر سره نه دې بلکه د معصفر سره دې چه د جمهورو په نزد هم ممنوع دې، صرف د امام شافعي رحمه الله په نزد مباح دی، او امام مالک رحمه الله د مفدم او د غير مفدم تفريق کړې دې اول مکروه او دويم غير مکروه، حال دا چه دا غير مفدم وو.

[۴۰۶۷](۱) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، قَالَ: قَالَ هِشَامٌ يَعْنِي ابْنَ الْغَازِ الْمُضَرَّجَةُ "الَّتِي لَيْسَتْ بِمُشَبَّعَةٍ وَلَا الْمُوَرَّدَةُ".

وليد دهشام بن الغاز رحمه الله نه روايت کوی چه مضرجه معنی داده چه نه بالکل شوخ سور اونه ګلابي بلکه درميانه.

قوله: ﴿ قَالَ هِشَامُ بْنَ الْغَازِ – الْمُضَرَّجَةُ الَّتِي لَيْسَتْ بِمُشَبَّعَةٍ وَلاَ الْمُوَرَّدَةُ ﴾ (۲)

هشام راوې د ﴿ مضرجة ﴾ تفسير بيانوی چه کوم نه زيات شوخ وی او نه زيات پيکه، مشبعة يعنې شوخ او تيز رنګ او مورده يعنې حمزه خفيفه په مثل د الورد يعنې ګلابی د دواړو نفی کولې شی چه نه داسې وی او نه داسې بلکه د دواړو ترمينځه ته مضرجة وئيلې شی.

والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری.

دا حديث مصنف رحمه الله په مختلفو طرقو سره ذکر کړې دې او الفاظ هم د ټولو روايتونو خپل مينځ کښې مختلف دی لهذا دې روايت لره په استدلال کښې پيش کول ګران دی.

[۴۰۶۸](۳) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ شُرَحْبِيلَ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ شُفْعَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: رَآنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو عَلِيٍّ اللُّؤْلُؤِيُّ: أُرَاهُ وَعَلَيَّ

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۸۱۱) (صحيح)

(۲): الظاهر انه مشبعة من الاشباع وبعضهم ضبطه من التفعيل، وليس بظاهر)

(۳): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (۴۰۶۶)، (تحفة الأشراف: ۸۸۲۴) (ضعيف)

ثَوْبٌ مَصْبُوغٌ بِعُصْفُرٍ مُوَرَّدٍ، فَقَالَ: مَا هَذَا؟، فَانْطَلَقْتُ، فَأَحْرَقْتُهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا صَنَعْتَ بِثَوْبِكَ؟ فَقُلْتُ: أَحْرَقْتُهُ، قَالَ: أَفَلَا كَسَوْتَهُ بَعْضَ أَهْلِكَ؟"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ثَوْرٌ، عَنْ خَالِدٍ، فَقَالَ: مُوَرَّدٌ، وَطَاوُسٌ، قَالَ: مُعَصْفَرٌ.

دعبدالله بن عمرو بن العاص نه روايت دې فرمائي چه نبی ﷺ وليدلم ، ابوعي لؤلؤئي وئيلی دی په داسې حال کښې چه ماګلابي جامې اغوستلي وي ماته ئې اووئيل داڅه دي نوزه لاړم اوهغه مې وسوزولې نبی ﷺ راته اووئيل دهغه جامو سره دې څه وکړل ماوره اوئيل وي سوزولې نبی ﷺ راته اووئيل خپلې ښځې ته دې ولې نه ورکولې؟ امام ابوداؤد فرمائي چه دا روايت ثور په واسطې دخالد مورد اوطاوس لفظ دمعصفر نقل کړيدې.

[۴۰۶۹](۱)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُزَابَةَ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ يَعْنِي ابْنَ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي يَحْيَى، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: "مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ عَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَحْمَرَانِ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی ﷺ ته يوکس راغې او دوه سرې جامې ئې اغوستلې وې نبی ﷺ ته ئې سلام اوکړو نبی ﷺ ورته دسلام جواب ورنکړو.

﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- رَجُلٌ عَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَحْمَرَانِ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عليه النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- ﴾

دا حديث سندا ضعيف دې، د ابويحيى د القتات په باره کښې حافظ منذری رحمه الله فرمائي ﴿ لا يحتج بحديثه ﴾ والحديث اخرجه الترمذي، قاله المنذري.

[۴۰۷۰](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ الْوَلِيدِ يَعْنِي ابْنَ كَثِيرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي حَارِثَةَ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: "خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَرَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَوَاحِلِنَا وَعَلَى إِبِلِنَا أَكْسِيَةً فِيهَا خُيُوطُ عِهْنٍ حُمْرٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَا أَرَى هَذِهِ الْحُمْرَةَ قَدْ عَلَتْكُمْ؟، فَقُمْنَا سِرَاعًا لِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى نَفَرَ بَعْضُ إِبِلِنَا، فَأَخَذْنَا الْأَكْسِيَةَ فَنَزَعْنَاهَا عَنْهَا".

د رافع بن خديج نه روايت دې فرمائي چه مونږ په يوسفرکښې دنبی ﷺ سره اووو نونبی ﷺ زمونږه داوښانو دزينونو پوخونوته وکتل چه دسور رنګ کرخې په کښې وې نبی ﷺ اوفرمائيل ايا زه نه وينم چه په تاسوباندې سوروالې غالب شوې دې مونږ درسول الله دفرمان په وجه په جلتې پاڅيدو تردې چه زمونږه ذتيزئ په وجه باندې بعضې اوښان وتريدل او وتښتيدل اوبيامونږه دخپلو اوښانونه دا کپړې لرې کړې.

﴿عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي سَفَرٍ الخ ﴾

سيدنا رافع بن خديج رضي الله عنه فرمائي چه مونږ يو ځل د رسول الله ﷺ سره په سفر کښې اوتلو نو هغوی زمونږ په کجاوو او اوښانو باندې داسې څادرې اوليدې چه په هغې کښې سرۀ تارونه وو، نو حضور ﷺ اوفرمائيل: چه زه ګورم چه دا سرخی په تاسو باندې غالبه

(۱): سنن الترمذي/الأدب ۴۵ (۲۸۰۷)، (تحفة الأشراف: ۸۹۱۸) (ضعيف)

(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۵۹۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۶۳/۳) (ضعيف الإسناد)

کېږي، مونږ په دې اوریدو سره فورا خپلو اوښانو ته منډه کړې چه د هغې په وجه باندې زمونږ اوښان اویریدل او مونږ د هغې نه هغه خادرې راکوزې کړې.

[۴۰۷۱]( ) حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ ابْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ: وَقَرَأْتُ فِي أَصْلِ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنِي ضَمْضَمٌ يَعْنِي ابْنَ زُرْعَةَ، عَنْ شُرَيْحِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ حُرَيْثِ بْنِ الْأَبَحِّ السَّلِيحِيِّ: أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي أَسَدٍ، قَالَتْ: "كُنْتُ يَوْمًا عِنْدَ زَيْنَبَ امْرَأَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَصْبُغُ ثِيَابًا لَهَا بِمَغْرَةٍ، فَبَيْنَا نَحْنُ كَذَلِكَ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَأَى الْمَغْرَةَ رَجَعَ فَلَمَّا رَأَتْ ذَلِكَ زَيْنَبُ عَلِمَتْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَرِهَ مَا فَعَلَتْ فَأَخَذَتْ، فَغَسَلَتْ ثِيَابَهَا وَوَارَتْ كُلَّ حُمْرَةٍ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ فَاطَّلَعَ فَلَمَّا لَمْ يَرَ شَيْئًا دَخَلَ".

دحریث بن ابح نه روایت دې فرمائی چه دقبیله بنی اسد یوې زنانه وئیلی دی چه یوه ورځ زه دنبی علیه السلام دبي بي زینب رضی الله عنها سره ناسته وم اومونږه دهغې جامولـه سور رنګ ورکولو مونږ په دې حال کښې وو چه نبی علیه السلام راسرګند شونبی علیه السلام چه سور رنګ اولیدو نو واپس شو کله چه زینب رضی الله عنها دا منظر اولیدو نوپوهه شوه چه دا رنګ نبی علیه السلام بد وګڼړلو چنانچه هغه پاځیدله اوخپل جامی ئې ووینځلي تردې چه سور والې هی ختم کړو ددینه پس نبی علیه السلام راغې نبی علیه السلام په غور سره وکتل لیکن څه ورته معلوم نه شول نوکورته ئې تشریف راوړو.

﴿ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي أَسَدٍ قَالَتْ كُنْتُ يَوْمًا عِنْدَ زَيْنَبَ امْرَأَةِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَنَحْنُ نَصْبُغُ ثِيَابًا لَهَا بِمَغْرَةٍ الخ ﴾

یوه زنانه د قبیله بنو اسد وائی چه زه یوه ورځ د ام المومنین زینب رضی الله عنها سره اوم، او مونږ د هغوی کپړې رنګ کولې په مغرا سره یعنی په ګیرو (سرې خاورې سره) چه ناڅاپه رسول الله صلی الله علیه وسلم راغلو، چه کله مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم په رنګ کولو اولیدو نو دننه داخل نه شو بلکه واپس شو، چه کله زینب رضی الله عنها دا صورت حال اولیدو نو هغه ټولې جامې ئې په اوبو کښې وینځلې چه په هغې سره تړې نه ټول رنګ لاړو بیا لږ ساعت پس رسول الله صلی الله علیه وسلم راغلو نو سر ئې راښکاره کړو چه دا رنګ ئې او نه لیدو نو راداخل شو.

په حدیث باندې اشکال او د هغې توجیه:

د زنانو دپاره سرې جامې بالاتفاق جائز دی او د دې حدیث نه په ظاهر کښې د هغې کراهت معلومیږی، نو د دې په باره کښې د حضرت ګنګوهی په تقریر کښې دی چه دا د زینب رضی الله عنها خپله استنباط وو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم واپس کیدل د دې وجې نه وو کیدې شی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم واپس کیدل د بل څه وجې نه وو، او د کور خلقو دا اوګڼړله چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم واپس کیدل د دې رنګ د وجې وو ابن رسلان د دې حدیث یو بله توجیه کړې ده او حافظ منذری رحمه الله د دې په سند باندې کلام کړې دې (بذل)

حضرت د حدیث توجیه دا فرمائیله ده او هم دا راجحه معلومیږی، او په حدیث کښې د دې مثال هم شته، پس وړاندې ﴿ باب تطويل الجمة ﴾ کښې راځی وائل بن حجر رضی الله عنه فرمائی چه زه یو ځل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم په داسې حال کښې چه زما ویښته اوږده

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۶۹) (ضعيف الإسناد)

وو نو رسول الله ﷺ زما په ليدو باندې اوفرمائيل : ﴿ ذباب.. ذباب ﴾ يعنى رسول الله ﷺ د كراهت اظهار اوفرمائيلو ، زه واپس شوم او ويښته مې پرې كړل، په بله ورځ چه زه كله د رسول الله ﷺ مجلس كښې حاضر شوم نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ته نه وې مراد ، يعنى پوهه نه شوې ما هغه الفاظ ستا په باره كښې نه وو وئيلې ، باقى دا زيات غوره دى، يعنى زيات اوږدۀ ويښته پرې كولو سره وارۀ كول.

په دې باندې حضرت په بذل كښې ليكلي دى : ﴿ وفى الحديث دليل على ان بعض الصحابة (فى بعض الاحيان) قد يغلط فى فهم رسول الله ﷺ اهـ ﴾

بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

باب د سور رنګ جامو د اجازت بيان

[٤٠٧٢] (١) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ شَعَرٌ يَبْلُغُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ وَرَأَيْتُهُ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ لَمْ أَرَ شَيْئًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ".

دبراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه دنبى عليه السلام ويښته مبارك به دغوږونو دنرموبورې وو اومايوه سره جوړه دنبى عليه السلام په غاړه وليدله اوما چرته هيڅوک داسې ښكلې او ښائسته نه وو ليدلې.

﴿ وَرَأَيْتُهُ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ لَمْ أَرَ شَيْئًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ ﴾ سيدنا براء رضي الله عنه فرمائى چه د رسول الله ﷺ ويښته به د غوږونو د غاړو پورې رسيدل، او ما اوليدو رسول الله ﷺ په سره جوړه كښې، او كله هم ما يو څيز د رسول الله ﷺ نه ښكلې نه دې ليدلې.

دا حديث په لبس احمر كښې د جمهورو دليل دې او د احنافو په نزد په بيان د جواز باندې محمول دې، او يو توجيه دا كړې شوې ده چه د حلة حمراء نه مراد دا نه ده چه د هغې خالص سور رنګ وو بلكه دا چه په هغې باندې سرې كرښې وې كما تقدم فى تفسير الحبرة.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي بمعناه، قاله المنذري

[٤٠٧٣] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى يَخْطُبُ عَلَى بَغْلَةٍ وَعَلَيْهِ بُرْدٌ أَحْمَرُ وَعَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَمَامَهُ يُعَبِّرُ عَنْهُ".

هلال بن عامر دخپل پلارنه روايت كوى فرمائى چه نبى عليه السلام مې په منى كښې دخطې وركولو په حال كښې په يوه قچر باندې ليدلې وو اوسور رنګ څادر ئې اغوستلې ووعلى دنبى عليه السلام مخامخ اودريدو اوخلقوته به ئې اواز رسولو.

﴿رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم- بِمِنًى يَخْطُبُ الخ ﴾ يعنى رسول الله ﷺ په يو خچره باندې سور خطبه وركوله او په رسول الله ﷺ باندې سور څادر وو او على رضي الله عنه د

---

(١): صحيح البخاري/المناقب ٢٣ (٣٥٥١)، اللباس ٣٥ (٥٨٤٨)، ٦٨ (٥٩٠١)، صحيح مسلم/الفضائل ٢٥ (٢٣٣٧)، سنن الترمذي/اللباس ٤ (١٧٢٤)، الأدب ٤٧ (٢٨١١)، المناقب ٨ (٣٦٣٥)، الشمائل ١ (٦٢)، ٣ (٦٤)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ٥ (٥٢٣٤)، (تحفة الأشراف: ١٨٦٩)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/اللباس ٢٠ (٣٥٩٩)، مسند احمد (٤/٢٨١، ٢٩٥)، وأعاد المؤلف بعضه في الترجل (٤٢٨٤) (صحيح)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٥٠٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٧٧) (صحيح)

هغوی مخې ته ولاړ وو او د هغوی ترجماني ئې کوله، يعنی په اوچت آواز باندې ئې د رسول الله ﷺ خبره نورو ته رسوله.

بَابٌ فِي السَّوَادِ

بابه د تور رنګ د جامو استعمالولو بيان

[٤٠٧٤](¹)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "صَنَعْتُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُرْدَةً سَوْدَاءَ فَلَبِسَهَا فَلَمَّا عَرِقَ فِيهَا وَجَدَ رِيحَ الصُّوفِ، فَقَذَفَهَا، قَالَ: وَأَحْسِبُهُ، قَالَ: وَكَانَ تُعْجِبُهُ الرِّيحُ الطَّيِّبَةُ".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه دنبی ﷺ دپاره مې يوتور څادر جوړ کړو اونبی ﷺ واغوستو بياچه کله په دې څادرکښې په نبی ﷺ خوله راغله او دوړئ بوي ئې محسوس کړونونبی ﷺ دا څادر يوطرف ته اوغورزوو ، راوی وائي چه دنبی ﷺ خوشبو ډيره خوښه وه.

يعنی توره جامه، د عائشي صديقي رضي الله عنها نه روايت دې چه ما د رسول الله ﷺ دپاره څادر په تور رنګ کښې رنګ کړو کوم چه هغوی واغوستلو، پس چه کله په رسول الله ﷺ باندې په هغې کښې خوله راغله نو په هغوی باندې د وړئ بوئی راغلو نو رسول الله ﷺ هغه ويستلو. راوی وائي چه د رسول الله ﷺ خوشبوئی خوښه وه.

په بذل کښې ليکلي دی چه ددې حديث نه د تور لباس جواز ثابت شو کوم چه متفق عليه دې، د رسول الله ﷺ نه د تور څادر او تور پټکی دواړو استعمال ثابت دې. والحديث اخرجه النسائی مرسلا، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْهُدْبِ

بابه د کپړو د غاړې د استعمال بيان

(د لفظ هدب تلفظ)

دا لفظ (الهدب) په يو ضمه او ضمتينو دواړو طريقو سره لوستلې شی، قاعده ده چه هر ذو ضمتين لفظ کښې ثانی لره تخفيفا ساکن لوستل جائز دی، د هدبه ترجمه په جالر سره کولې شی، د څادر يا رومال په غاړو باندې چه کوم تارونه شان وی، په اصل کښې هغه صرف تانا وی بغير د بانا نه او کله په هغې کښې غوټې هم لګولې شی.

[٤٠٧٥](²)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ عُبَيْدَةَ أَبِي خِدَاشٍ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ الْهُجَيْمِيِّ، عَنْ جَابِرٍ يَعْنِي ابْنَ سُلَيْمٍ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْتَبٍ بِشَمْلَةٍ وَقَدْ وَقَعَ هُدْبُهَا عَلَى قَدَمَيْهِ".

دجابر بن سليم رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دنبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم اوهغه د يوڅادرنه احتباء کړي وه اودهغه څادريوه کناره دده په خپوباندې پرته وه.

(¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٧٦٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٢/٦، ١٤٤، ٢١٩، ٢٤٩) (صحيح)

(²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٢١٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦٣/٥) (ضعيف)

د جابر رضي الله عنه نه روایت دي چه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښ حاضر شوم په داسې حال کښ چه رسول الله ﷺ په یو څادر کښ راټول شوي ناست وو، او د هغوی د څادر جالر د هغوی په قدمونو باندې پراته وو. ﴿ حبوه ﴾ ترلو سره کیناستل دا کله کله خو په رومال یا کپړې سره وي او کله د دواړو لاسونو نه حلقه جوړولو سره.

بَاب فِي الْعَمَائِمِ

باب د عمامې (پټکی) ترلو بیان

[٤٠٧٦]() حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَامَ الْفَتْحِ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ".

دجابر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دفتح مکې په کال باندې نبی علیه السلام منې ته داخل شواو تور پټکې ئې ترلې وو.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- دَخَلَ عَامَ الْفَتْحِ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ ﴾ په حدیث الباب کښ دی چه کله رسول الله ﷺ مکې مکرمې ته د فتح دپاره داخلیدو نو هغه وخت د رسول الله ﷺ په سر مبارک باندې تور پټکې وو.

(یو تعارض او دهغې تطبیق)

﴿ ودخل عام الفتح مكة وعليه عمامة سوداء ﴾ په دې باندې اشکال دا دې چه په بل روایت کښ راځی ﴿ انه دخل مكة وعلى راسه المغفر ﴾ د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه په دواړو کښ هیڅ تعارض نشته، کیدې شی چه رسول الله ﷺ عمامه ترلې وی په مغفر باندې دپاسه یا د هغې نه لاندې، بله دا چه په دې باندې ملا علی قاری رحمه الله لیکی چه په دې حدیث سره بعض علماء کرامو د تور لباس په جواز باندې استدلال کړې دې اګر چه بیاض افضل دې ﴿لحديث ان خير ثيابكم البيض الى آخر ما ذكر ﴾ او هم دغه شان خبره علامه باجوری لیکلې ده چه په دغه ورځ باندې د رسول الله ﷺ تور پټکې اختیارولو کښ په ابیض باندې کوم چه ممدوح دې ډیر مصلحتونه دی یو دا چه په دې کښ اشاره ده د رسول الله ﷺ سودة یعنې سیادت ته او د اسلام او اهل اسلام اوچتوالی ته او دې طرف ته چه په دین محمدی ﷺ کښ به هیڅ قسم تغیر او تبدیل نه وی ځکه چه تور رنګ د تغیر او تبدیل نه ډیر بعید وی.

والحديث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٠٧٧]() حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ مُسَاوِرٍ الْوَرَّاقِ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ قَدْ أَرْخَى طَرَفَهَا بَيْنَ كَتِفَيْهِ".

[1]: سنن الترمذي/اللباس ١١ (١٧٣٥)، سنن النسائي/الحج ١٠٧ (٢٨٧٢)، الزينة ٥٥ (٥٣٤٦، ٥٣٤٧)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٢٢ (٢٨٢٢)، اللباس ١٤ (٣٥٨٥)، (تحفة الأشراف: ٢٦٨٩)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ٨٤ (١٣٥٨)، مسند احمد (٣/٣٦٣، ٣٨٧) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/الحج ٨٤ (١٣٥٩)، سنن الترمذي/الشمائل ١٦ (١٠٨)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ٥٦ (٥٣٤٨)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٢٢ (٢٨٢١)، اللباس ١٥ (٣٥٨٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٧١٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٠٧)، سنن الدارمي/المناسك ٨٨ (١٩٨٢) (صحيح)

عمرو بن حریث دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه نبی ﷺ مې په منبرباندې لیدلی وو چه توربتې ئې ترلې ووچه دهغه شمله ئې داوږو په مینځ رازوړنده کړې وه.

[۴۰۷۸]([1]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو الْحَسَنِ الْعَسْقَلَانِيُّ، عَنْ أَبِي جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ رُكَانَةَ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ رُكَانَةَ صَارَعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَرَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ رُكَانَةُ: وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "فَرْقُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ الْعَمَائِمُ عَلَى الْقَلَانِسِ".

محمد بن علی بن رکانه دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه رکانه دنبی ﷺ سره کشتی زغلوله نو نبی ﷺ ده لره شاته پریخودو ، رکانه وئیلی دی چه مادنبی ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیل ئې زمونږ اودمشرکانو په مینځ کښې فرق په خولو باندې په پټکوسره دې.

قوله: ﴿أَنَّ رُكَانَةَ صَارَعَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَصَرَعَهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ رُكَانَةُ وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « فَرْقُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ الْعَمَائِمُ عَلَى الْقَلَانِسِ ﴾

رسول الله ﷺ سره د مصارعة رکانة واقعه :

د دې حدیث راوی رکانة بن عبدیزید بن هاشم بن المطلب بن عبد مناف دې. په دې حدیث کښې د هغوی دمصارعت ذکر دې د رسول الله ﷺ سره، او هم دا سلسله د نسب د هغه رکانه هم دې د کوم ذکر چه په کتاب الطلاق کښې راغلې دې چه هغوی خپلې ښځې ته درې طلاقه یا طلاقه بته ورکړې وو، په تهذیب الکمال للمزی کښې تصریح ده چه دا دواړه قصې یو سړی ته منسوب دی او دا هم هغه رکانة دې.

په دې حدیث کښې دا دی چه رکانه کوم چه مشهور پهلوان وو هغه د رسول الله ﷺ سره کشتی اوکړه خو رسول الله ﷺ هغه راګزار کړو. په مراسیل ابوداؤد کښې دی چه یو ځل د هغه د راګزارولو نه پس هغه دوباره کشتی اوکړه او بیا په دریم ځل هم، درې واړه کرته رسول الله ﷺ هغه را اوپرځولو. او هر ځل ئې ترې نه یوه یوه بیزه واخستله د کومې چه وعده شوې وه، د دې واقعې نه پس هغه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه اې محمد ﷺ د دې نه مخکښې کله هم یو سړی زما شا د زمکې سره نه ده لګولې او اوس هم څوک داسې نشته چه ما را اوپرځوی یعنې تاسو سره بل څه طاقت معلومیږی. او د دې نه پس هغه اسلام قبول کړو او رسول الله ﷺ د هغه دپاره دعا اوفرمائیله، او په بعض روایتونو کښې دی چه هغه اووئیل تاته ستا رب دې وخت کښې عزت درکړې دې او زه خپل رب لات او عزی ذلیل کړم او هغه زما په دې وخت کښې په کار رانغلل ﴿ ربک الذی اعزک وخذلنی اللات والعزی﴾ او په یو روایت کښې دی چه کله رسول الله ﷺ د هغه درې واړه بیزې واخستلې نو هغه په پښیمانتیا سره اووې چه اوس به زه د دې بیزو په باره کښې د خپل کور خلقو ته څه وایم؟ د یوې بیزې په باره کښې خو به اووایم چه لیوانو ماته کړه او د یو په باره کښې هغه بل څه بهانه جوړه کړه (چه غالبا هغه ګوده شوه) او وې وئیل چه د دریمې په باره کښې به څه جواب ورکوم، په دې اوریدلو باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل مونږ په تاباندې دوه

[1]: سنن الترمذي/اللباس ۴۲ (۱۷۸۴)، (تحفة الأشراف: ۳۶۱۴) (ضعیف)

مصيبتونه نه جمع کوو چه تا دې راپرځوو هم او تانه دې تاوان هم واخلو. او بيا رسول الله ﷺ هغه بيزې هغه ته واپس کړې.

د دې حديث الباب په آخر کښې دا دی رکانه رضي الله عنه فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه زمونږ او د مشرکينو ترمينځه فرق د عمائم علی القلانس دې، په ټوپو باندې پټکی، يعنی مسلمانان په ټوپو دپاسه پټکی تړی په خلاف د مشرکينو چه هغوی بغير د ټوپئ په سرولو نه پټکی تړی. (بذل) ملا علی قاری په مرقاة کښې دا مطلب طيبی او ابن الملک وغيره شارحينو ته منسوب کړې دې، او بعض شارحينو د دې مطلب دا بيان کړې دې چه مشرکان صرفْ په ټوپئ باندې اکتفاء کوی او مسلمانان په ټوپئ دپاسه عمامه هم تړی. (عون المعبود)

د رسول الله ﷺ نه د ټوپئ او پټکی دواړو د معمول ثبوت :

بله دا چه په عون المعبود کښې د حافظ ابن القيم رحمه الله نه دا هم نقل کړې شوې دی چه د رسول الله ﷺ نه په درې واړو طريقو سره ثابت دې صرف ټوپئ، صرف پټکې، او په ټوپئ دپاسه عمامه، ﴿ وفی الجامع الصغير برواية الطبرانی عن ابن عباس رضي الله عنهما قال كان يلبس قلنسوة بيضاء اھ ﴾ ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ به سپينه ټوپئ په سروله، امام بخاری رحمه الله په کتاب اللباس کښې د ﴿ باب العمائم ﴾ ترجمه قائم کړې ده، خو د لبس عمامه هيڅ روايت ئې نه دې ذکر کړې بلکه د کتاب الحج روايت : ﴿ لا يلبس المحرم القميص ولا العمامة ﴾ الحديث باندې ئې اکتفاء کړې ده...... حافظ فرمائی : د امام بخاری رحمه الله په نزد چونکه د هغوی د شرط مطابق د عمامه په باره کښې حديث نه وو په دې وجه ئې داسې اوکړل، بيا د دې نه پس حافظ د مسلم روايت ذکر کړو کوم چه د عمرو بن حريث نه مروی دې ﴿ قال كَأَنِّى أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عَلَى الْمِنْبَرِ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ قَدْ أَرْخَى طَرَفَيْهَا بَيْنَ كَتِفَيْهِ ﴾ كذا فی الابواب والتراجم..... او په هغې کښې دا هم دی چه علامه سخاوی په مقاصد حسنه کښې د فضيلت د عمامه په باره کښې ډير روايتونه ذکر کړی دی، مثلا ﴿ العمائم تيجان العرب ﴾ او هم دغه شان ﴿ عليكم بالعمائم فانها سيما الملائكة فارخوها خلف ظهوركم ﴾ وغيره او په دې کښې دا هم دی چه ﴿ صلاة بعمامة تعدل بخمس وعشرين ﴾ او هم دغه شان ﴿ ركعتان بعمامة افضل من سبعين ركعة بغيرها ﴾ دا احاديث ثابت نه دی.. الی اخرما فی الابواب والتراجم.

د عمامه د ثبوت او د هغې د رنګونو په باره کښې د علماء کرامو مستقل تاليفات:

د عمامه په موضوع باندې په متاخرينو علماء کرامو کښې د يو لوئې جيد عالم محمد جعفر الکتانی المتوفی ۱۳۴۵ هجری مستقل تاليف دې ﴿ الدعامة لمعرفة احكام سنة العمامة ﴾ کوم چه د عمامه سره متعلق په ټولو فروعو او جزئياتو او صفاتو باندې مشتمل دې، هغوی د دې خپل کتاب په شروع کښې چه کومو مصنفينو په دې موضوع باندې مستقل کتابونه ليکلې دی د هغوی نومونه ئې هم ليکلې دی، په محدثانه انداز کښې هغوی دا کتاب ليکلې

دي چه د مطالعې قابل دې (¹) په دې کتاب کښې هغوی په الوان د عمامه باندې هم ډېر نقول جمع کړې دی او دا چه څنګه رنګ پټکې وهل د رسول الله ﷺ نه ثابت دی او هغوی د هر رنګ متعلق بیل بیل فصلونه قائم کړې دی. (والحدیث اخرجه الترمذی قاله المنذری)

[۴۰۷۹](²)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُثْمَانَ الْغَطَفَانِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ خَرَّبُوذَ، حَدَّثَنِي شَيْخٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ، يَقُولُ: "عَمَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَدَلَهَا بَيْنَ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي".

دعبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ زما په سرباندې پټې تړلې وونونبی ﷺ دپټې شمله زمامخامخ اوشاته دواړه طرفونوته زوړنده کړه یعنی دواړه طرفونوته.

قوله: ﴿سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ يَقُولُ عَمَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَسَدَلَهَا بَيْنَ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي﴾

په پټکی کښې د شملې بحث:

سیدنا عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه فرمائی چه یو ځل رسول الله ﷺ زما په سر باندې پټکې اوتړلو نو د هغې یو اړخ ئې زما مخې ته او یو شاته زوړند کړو ګویا د هغې دوه شملې وې یو په سینه باندې او یو په ملا باندې (بذل) او په عون المعبود کښې لیکلې دی چه دا حدیث ضعیف دې پس اولی دا ده چه د پټکی سر چه هغې ته علامه عذبه او ذبابه هم وائی صرف یو بین الکتفین کېدل ګار دی لکه چه د عمرو بن حریث په روایت کښې دی یعنی د

¹) د عمامه بیضاء په باره کښې ئې دا لیکلې دی چه اوسه پورې ماته په یو حدیث کښې هم د دې تصریح نه ده ملاؤ شوې خو د شارحینو د کلام نه او د رسول الله ﷺ د عادت شریفه یعنی بیاض لره په غیر بیاض باندې د ترجیح ورکولو نه ظاهرا هم دا معلومیږی چه په غالب احوالو کښې رسول الله ﷺ هم دا عمامه استعمال کړې ده او غالبا د عدم تصریح د بیاض هم دا مقصد هم دې چه هغه د رسول الله ﷺ معمول اکثری وو ولې هغه ذکر کړې شی څکه چه اهتمام د هغه څیز د ذکر کولې شی چه په هغې کښې څه مذمت وی او خلاف عادت وی په خلاف د هغه څیز کوم چه معمول اکثری او د عادت مطابق وی، عام طور سره د هغې ذکر کولو ته حاجت نه راځی لان ذلك من باب الاخبار بما هو معلوم (عیان راچه بیان) په دې کتاب کښې په عمامه سوداء باندې او د هغې په روایاتو باندې مستقل فصل دې هم دغه شان یو فصل په عمامه حرقانیه باندې قائم کړې دې لکه چه د نسائی په یو روایت کښې دی د عمرو بن حریث رضی الله عنه په روایت چه ﴿ رایت علي النبي ﷺ عمامة حرقانية ﴾ او په یو روایت کښې دی ﴿ عمامة سوداء حرقانية ﴾ او په یو فصل کښې ئې عمائم فطریه ذکر کړې دی لکه چه په ابوداؤد کښې تیر شوی د سیدنا انس رضی الله عنه په حدیث کښې ﴿ رایت رسول الله ﷺ یتوضاء وعلیه عمامته قطرية الحديث ﴾ او یو مستقل فصل ئې د عمائم صفر په باره کښې قائم کړې دې چه په هغې کښې ئې د ابن عمر رضی الله عنهما هغه روایت ذکر دې چه په هغې کښې دا تیر شو ﴿ کان يصبغ بالصفرة ثيابه كلها حتي عمامته ﴾ او یو فصل د عمامه خضراء په باره کښې قائمولو سره په طور د سوال او جواب دا لیکلې دې چه د رسول الله ﷺ نه د عمامه حضراء اچول ثابت نه دی بلکه دا د بعض اشرافو او د اتمې صدئ د بادشاهانو ایجاد دې هغوی د ساداتو دپاره تجویز کړې وو په سادات او غیر سادات کښې د امتیاز دپاره، بله دا چه د جنګ حنین په باره کښې د ابن عباس رضی الله عنهما روایت دې چه په دغه ورځ باندې د ملائکو خاص لباس شنه پټکی وو.

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۷۳۱) (ضعیف)

صحيح مسلم روايت کوم چه پورته ذکرشو. هم دغه شان په جامع ترمذی کښې د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې ﴿ کان النبی ﷺ اذا اعتم سدل عمامته بين کتفيه ﴾ او د ابن عمر رضي الله عنهما شاګرد نافع فرمائي چه ابن عمر رضي الله عنهما به هم داسې کول، او امام نووی رحمه الله په شرح مهذب کښې فرمائي چه د عمامه استعمال په شملې او غير شملې دواړو سره جائز دې او د منع روايت د ترک شمله ثابت نه دې.

او په خصائل کښې د شملې په باره کښې دا دی چه د رسول الله ﷺ عادت مبارک په دې کښې مختلف وو د شملې پريخودلو معمول ئې اکثر وو تر دې چه بعض علماء کرامو تردې اوليکل چه بغير د شملې پريخودلو نه ثابت نه دې، خو د محققينو رائې دا ده چه کله کله به ئې بغير د شملې نه هم پټکې وهلو، او په شمله پريخودلو کښې هم مختلف معمول پاتې کيدو لکه ښي طرف ته او کله ګس طرف ته، کله شاته کله د دواړو اوږو ترمينځه، کله به ئې د عمامه دواړه سرونه د شمله په طريقه باندې پريخودل، علامه مناوی ليکلې دی چه ثابت اګر چه ټول صورتونه دی خو په دې کښې افضل او زيات صحيح د دواړو اوږو ترمينځه شاته طرف ته دې.

د رسول الله ﷺ د پټکې اوږدوالې څومره وو؟ :

د رسول الله ﷺ د پټکې د پيمائش په باره کښې حضرت شيخ په خصائل نبوی ﷺ کښې ليکی چه د رسول الله ﷺ د پټکې مقدار په مشهور روايتونو کښې نشته د طبرانی په يو روايت کښې اووهٔ ذراع راغلې دې، بيجوری د ابن حجر نه د دې حديث بې اصله کيدل نقل کړې دی، علامه جزری فرمائي چه ما د سيرت کتابونه خاص طور سره اولټول خو د رسول الله ﷺ د پټکې مقدار ماته ملاؤ نه شو، خو د امام نووی رحمه الله نه دا نقل کولې شی چه د رسول الله ﷺ دوه پټکې وو يو وړوکې د شپږو لاسونو، د مناوی د قول مطابق، او د اووهٔ لاسونو. د ملا علی قاری رحمه الله د قول مطابق يو بله لويه عمامه د دولسو لاسونو، صاحب مدخل د رسول الله ﷺ د عمامې مقدار صرف اووهٔ لاسونه ليکلې دې، او دويم ئې نه دې بيان کړې، د پټکې تړل سنت مستمره دې د رسول الله ﷺ نه د پټکې تړلو حکم هم نقل کړې شوې دې پس ارشاد دې: عمامه تړئ دې سره به په حلم کښې زيات شئ... الی آخره.... او په الابواب والتراجم کښې دی نقلا عن الحافظ وعن ابی المليح بن اسامة عن ابيه رفعه : اعتموا تزدادوا حلما.... اخرجه الطبرانی والترمذی فی العلل المفرد وضعفه البخاری وقد صححه الحاکم فلم يصب. الی آخر ما ذکر.

بَابٌ فِي لِبْسَةِ الصَّمَّاءِ

باب په جامو کښې د ځان انغښتلو بيان

[۴۰۸۰] () حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لِبْسَتَيْنِ أَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ مُفْضِيًا بِفَرْجِهِ إِلَى السَّمَاءِ وَيَلْبَسَ ثَوْبَهُ وَأَحَدُ جَانِبَيْهِ خَارِجٌ وَيُلْقِي ثَوْبَهُ عَلَى عَاتِقِهِ".

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۲۳۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱۹/۲، ۳۸۰، ۳۹۱) (صحيح الإسناد)

دابوهریره ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ ددوه لباسونو داستعمالولو نه منع فرمائیلې ده یو دا چه سړې احتبا وکړي او شرمګاه دارسمانه پورې یعنی په مکمل طور کولاو اوبې پردې وي بله هغه لباس دې چه سړې په یوه جامه باندې خپل ټول بدن پټ کړي مګر یوجانب آزاد پریږدی اوبیادې جامې بل طرف په خپل خټ باندې راواړوي ((ددې دپاره چه په داسې کولوسره شرمګاه ښه کولاویږي)).

[٤٠٨١]([1])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّمَّاءِ، وَعَنِ الِاحْتِبَاءِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ".

دجابر ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ منع فرمائیلې ده دصماء او احتباکولو نه په یوه جامه کښې.صماء دیته وئیلي چه دټول بدن نه یوه جامه راتاوکړي او لاسونه هم پکښې ګیرکړي داځکه منع دي چه په دې کښې دغورځید وختره ده. او احتبادیته وائی چه زنګنونه دملاسره وتړي او په کوناټو باندې ناست وي. داصورت هم دسترپوشۍ سره منافي دي په دې وجه باندې داهم ممنوع دې۔

قوله: ﴿ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– عَنْ لِبْسَتَيْنِ الخ ﴾

یعنی رسول اللهﷺ د دوه قسمو اغوستلو نه منع فرمائیلې ده یو دا چه سړې احتباء اوکړی داسې چه د هغه شرمګاه د مخې طرف پرانستلې وی. او دا به هغه وخت وی چه بغیر د ازار نه صرف یو څادر کښې احتباء اوکړی، پس په دویم روایت کښې دی ﴿عن الاحتباء فی ثوب واحد ﴾ او بله دا چه خپل څادر داسې واغوندی چه یو طرف ئې ښکاره شی، یعنی د کوم طرف نه چه جامه اوچتولو سره په اوږه باندې اچوی، هم دا مضمون په بل حدیث کښې هم راروان دې او فرق د ترتیب دې، په اول حدیث کښې د احتباء ذکر مقدم دې او د ﴿ القاء علی عاتقه ﴾ کوم ته چه صماء وائی موخر دې، او په بل حدیث کښې ترتیب د دې برعکس دې خو د الصماء یو تفسیر خو هم دا دې کوم چه خپله په دې حدیث کښې ذکر شوې دې او د صماء بل تفسیر دا کړې شوې دې چه څادر په پوره بدن باندې داسې واغوندی چه لاسونه خپې ئې ټول په هغې کښې دننه پاتې شی او د لاسونو بهر راویستل ئې ګران شی، د اخستلې شوې دې د ﴿ الصخرة الصماء ﴾ نه یعنی کلک کانړې، په داسې لباس کښې د غورزیدو ویره ده او هم دغه شان یو ضرری څناور لره دفع کول هم مشکل وی،د اشتمال الصماء او اشتمال الیهود ذکر په کتاب الصلاة کښې هم تیر شوې دې.

....

[1]): صحيح مسلم/اللباس ٢١ (٢٩٩)، سنن الترمذي/الأدب ٢٠ (٢٧٦٧)، سنن النسائي/الزينة ٥٣ (٥٣٤٤)، (تحفة الأشراف: ٢٦٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٣/٣، ٢٩٧، ٣٢٢، ٣٣١، ٣٤٤، ٣٤٩) (صحيح)

بَابٌ فِي حَلِّ الْأَزْرَارِ

باب: د قمیص گریوان د کھلاؤ ساتلو بیان

ازار د زر جمع ده د گریوان وغیره تنړۍ ته وائی....

[۴۰۸۲](۱) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ وَأَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، قَالَا: حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عُرْوَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ ابْنُ نُفَيْلٍ بْنُ قُشَيْرٍ أَبُو مَهَلٍ الْجُعْفِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ قُرَّةَ، حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: "أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنْ مُزَيْنَةَ، فَبَايَعْنَاهُ وَإِنَّ قَمِيصَهُ لَمُطْلَقُ الْأَزْرَارِ، قَالَ: فَبَايَعْتُهُ ثُمَّ أَدْخَلْتُ يَدَيَّ فِي جَيْبِ قَمِيصِهِ، فَمَسِسْتُ الْخَاتَمَ"، قَالَ عُرْوَةُ: فَمَا رَأَيْتُ مُعَاوِيَةَ وَلَا ابْنَهُ قَطُّ إِلَّا مُطْلِقَيْ أَزْرَارِهِمَا فِي شِتَاءٍ وَلَا حَرٍّ وَلَا يُزَرِّرَانِ أَزْرَارَهُمَا أَبَدًا.

معاویه بن قره د خپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه د مزینه قبیلې دیوونډ سره زه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم او مونږ ورسره په اسلام بیعت وکړو اودنبی علیه السلام دقمیص گریبان کولاو وو ما خپل لاس دننه کړو او مهر نبوت مې مسح کړو عروه وائی مادنبی علیه السلام گریبان کولاو لیدلې وو چه گري به وه اوکه یخنې به وه اوکله کله به ئې په قمیص کښې بټنې نه وې.

قوله: ﴿ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ قُرَّةَ قال حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي رَهْطٍ مِنْ مُزَيْنَةَ فَبَايَعْنَاهُ وَإِنَّ قَمِيصَهُ لَمُطْلَقُ الْأَزْرَارِ الخ ﴾

معاویه بن قره وائی چه ماته زما پلار قرة بن ایاس بیان اوکړو چه زه یو ځل د قبیله مزینه د یو جماعت سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم مونږ د حضور ﷺ په لاس باندې بیعت اوکړو او د هغوی د قمیص تنړۍ هغه وخت پرانستلې شوې وې، ما په خپل گریوان کښې لاس داخلولو سره مهر نبوت مسح کړو، په دې باندې عروه رحمه الله فرمائی چه ما خپل استاد معاویه ته او د هغه ځوی (ایاس بن معاویه) همیشه په داسې حال کښې لیدلې دی چه د قمیص تنړۍ به ئې پرانستلې وې، که د گرمۍ موسم به وو یا د یخنۍ.

په دې حدیث کښې د معاویه او د هغه د ځوی حال خو ذکر دې ځکه چه عروه هم هغوی دواړه لیدلې دی، او ښکاره خبره ده چه معاویه دا عادت د خپل پلار قرة بن ایاس صحابی نه حاصل کړې دې چا چه رسول الله ﷺ په داسې حال کښې لیدلې وو.

په دې حدیث کښې په صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو کښې د اتباع سنت نمونه موندلې شی او په هغې باندې ډیر په مضبوطیا سره قائم اوسیدل، جعلنا الله من اهل الاتباع وجنبنا الابتداع (بذل) او د گنگوهی صاحب په تقریر کښې دی چه اگر چه دا طریقه د گریوان پرانستلو خصوصا په مانځه کښې خلاف اولی ده خو دې دواړو چه څۀ اوکړل هغه ئې د رسول الله ﷺ سره د تعلق او محبت په بناء باندې کړې دې په دې وجه د هغوی په حق کښې زمونږ امید دې چه مکروه به نه وی. والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری.

(۱): سنن الترمذي/ الشمائل (۵۸)، سنن ابن ماجه/اللباس ۱۱ (۳۵۷۸)، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۷۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۳۴/۳، ۱۹/۴، ۳۵/۵) (صحیح)

بَابٌ فِي التَّقَنُّعِ

باب په يوه جامه باندې د سر پټولو بيان

[۴۰۸۳] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، قَالَ: قَالَ الزُّهْرِيُّ، قَالَ عُرْوَةُ، قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: "بَيْنَا نَحْنُ جُلُوسٌ فِي بَيْتِنَا فِي نَحْرِ الظَّهِيرَةِ، قَالَ قَائِلٌ لِأَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: هَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْبِلًا مُتَقَنِّعًا فِي سَاعَةٍ لَمْ يَكُنْ يَأْتِينَا فِيهَا، فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَأْذَنَ فَأَذِنَ لَهُ فَدَخَلَ".

د ام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه مونږ د ګرمۍ په موسم کښې د ماسپخين په وخت کښې پخپل کور کښې ناست وو يو ويونکي ابوبکر صديق و ته ووئيل چه دا راروان رسول الله ﷺ دې اوسر ئې پټ کړې وو خو په دې شکل کښې به عموما نبي عليه السلام نه راتلو کله چه نبي عليه السلام راغې نوکورته ئې د داخليدو د پاره اجازت وغوښتو صديق اکبر نه ورته اجازت ورکړو او بيا داخل شو.

قوله: ﴿ قَالَتْ عَائِشَةُ رضي الله عنها بَيْنَا نَحْنُ جُلُوسٌ فِي بَيْتِنَا فِي نَحْرِ الظَّهِيرَةِ قَالَ قَائِلٌ لأَبِي بَكْرٍ رضي الله عنه هَذَا رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– مُقْبِلاً مُتَقَنِّعًا فِي سَاعَةٍ لَمْ يَكُنْ يَأْتِينَا فِيهَا فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فَاسْتَأْذَنَ فَأُذِنَ لَهُ فَدَخَلَ ﴾

قصه د هجرت د ابتداء حصه:

دا واقعه کومه چه په دې حديث کښې ذکر ده قبل الهجرة د مکې مکرمې ده، سيده عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائي چه مونږ په خپل کور کښې عين د غرمې په وخت کښې ناست وو نو يو ويونکي راغلو او والد صاحب (ابوبکرصديق رضي الله عنه) ته ئې خبر ورکړو چه رسول الله ﷺ دلته تشريف راوړى په سر باندې کپړه اچولې، عائشه رضي الله عنها فرمائي چه هغه وخت د رسول الله ﷺ تشريف راوړل د عادت مبارک خلاف وؤ، يعنى عين د غرمې په وخت کښې چه کله رسول الله ﷺ دروازې ته راورسيدلو نو هغوى اجازت طلب کړو، په اجازت ملاويدو باندې دننه راغلل، دا اوږد حديث دې د هجرت د قصې متعلق کومه چه په بخارى کښې ذکر ده، امام بخارى رحمه الله دا د کتاب المناقب په اخير کښې د کتاب المغازى نه مخکښې ذکر فرمائيلې ده، د بخارى په روايت کښې داسې دى: ﴿ فِي سَاعَةٍ لَمْ يَكُنْ يَأْتِينَا فِيهَا – فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ فِدَاءٌ لَهُ أَبِي وَأُمِّي وَاللَّهِ مَا جَاءَ بِهِ فِي هَذِهِ السَّاعَةِ إِلاَّ أَمْرٌ قَالَتْ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَاسْتَأْذَنَ فَأُذِنَ لَهُ فَدَخَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لأَبِي بَكْرٍ أَخْرِجْ مَنْ عِنْدَكَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّمَا هُمْ أَهْلُكَ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَإِنِّي قَدْ أُذِنَ لِي فِي الْخُرُوجِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الصَّحَابَةُ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: نَعَمْ قَالَ أَبُو بَكْرٍ فَخُذْ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ إِحْدَى رَاحِلَتَيَّ هَاتَيْنِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: بِالثَّمَنِ الحديث ﴾ يعنى کله چه صديق اکبر رضي الله عنه ته اوئيلې شو چه رسول الله ﷺ تشريف راوړى نو وې فرمائيل چه په تاسو دې زما مور او پلار قربان وى قسم په الله چه تاسو لره د دې وخت د معمول خلاف يو لوئې څيز راوستلې

(¹): صحيح البخاري/اللباس ١٦ (٥٨٠٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٥٣، ١٦٦٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٩٨) (صحيح)

يئ، دننه د تشريف راوړلو نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه غير متعلق کسان د دې ځائې نه لرې کړه، هغوی عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ په تاسو باندې دې زما مور او پلار قربان وی دلته خو ټول ستاسو د کور خلق دی څوک هم پردی نشته. رسول الله ﷺ اوفرمائيل (ښه زه دا وايم) چه ماته د مکې مکرمې نه د خروج اجازت کړې شوې دې په دې باندې هغوی عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ زما مور او پلار دې په تاسو قربان وی ما هم ځان سره کړئ، رسول الله ﷺ اوفرمائيل بالکل ضرور.... بيا هغوی عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ زما مور، پلار دې په تاسو قربان وی زما په دې دوه سورلو کښې يو تاسو واخلئ، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل صحيح ده خو په قيمت (يعنی هسې نه) ددې نه پس په بخاری کښې په اوږد حديث کښې د هجرت پوره واقعه ذکر ده.

د تقنع مفهوم او د هغې تحقيق او استعمال :

مصنف رحمه الله په دې حديث باندې د تقنع ترجمه قائم کړې ده لکه چه په حديث الباب کښې دی چه رسول الله ﷺ هغه وخت چه د ماسپخين وخت وو د صديق اکبر رضی الله عنه کور ته متقنعا تشريف راوړلو. په دې باندې په بذل کښې ليکلې دی : ﴿ ای مغطيا راسه اما حفظا عن حر الشمس او اختفاء من الکفار ﴾ يعنی د رسول الله ﷺ په خپل سر مبارک باندې کپړه کيخودل يا خو د ګرمئ نه د بچ کيدلو دپاره وو يا د کفارو نه د پټيدو دپاره، امام بخاری رحمه الله هم په کتاب اللباس کښې د باب العمائم نه پس باب التقنع قائم کړې دې، په دې باندې حافظ ليکلې دی : ﴿ وهو تغطية الراس واکثر الوجه برداء اوغيره ﴾ يعنی د سر او مخ اکثر حصه پټول په يو څادر يا رومال سره، او امام ترمذی رحمه الله هم په شمائل کښې باب تړلې دې، ﴿ باب ما جاء فی تقنع رسول الله ﷺ ﴾ او بيا ئې د هغې د لاندې د انس رضی الله عنه حديث ذکر کړې دې ﴿ کان رسول الله ﷺ يکثر القناع کان ثوبه ثوب زيات ﴾ رسول الله ﷺ به ډير زيات قناع استعمالولو تر دې چه داسې به معلوميده چه د هغوی هغه کپړه (قناع) د تيلی کپړه ده. او هم دا قسم حديث امام بخاری رحمه الله هم په باب التقنع کښې ذکر فرمائيلې دې ﴿ خرج النبی ﷺ وعليه عصابة دسماء ﴾ يو ځل رسول الله ﷺ د کور نه بهر تشريف راوړلو په داسې حال کښې چه د رسول الله ﷺ په سر مبارک باندې غوړ شان رومال وو. خو امام ابوداؤد رحمه الله د باب التقنع ترجمه قائمولو سره په ځائې د شمائل والا روايت حديث الهجرة ذکر اوفرمائيلو او ښکاره خبره ده چه په هغه حديث الهجرة کښې چه کومه تقنع ذکر ده هغه د هغې نه علاوه ده کومه چه امام بخاری رحمه الله په کتاب اللباس او امام ترمذی رحمه الله په شمائل کښې ذکر فرمائيلې ده لکه چه په دواړو احاديثو کښې د غور کولو نه پس معلوميږی،

حضرت سهارنپوری په بذل کښې د تقنع چه کومه شرح ليکلې ده او مصلحت ئې بيان فرمائيلې دې د حديث الهجرة والا تقنع هم هغه مناسب ده [1] چه په هغې کښې د سر او اکثر

---

[1] زمونږ بعض مشائخو به هم داسې تقنع کوله ما اوريدلې دی چه مولانا عبدالرحمن صاحب کيمل پوری د مظاهر العلوم صدر مدرس کوم چه د حضرت تهانوی په اجل خلفاء کښې وو د هغوی عادت د حضرت شيخ الحديث مولانا محمد زکريا صاحب د مازيګر نه روسته مجلس کښې د مدرسې.....له

مخ پټېدل وي لکه چه د حافظ د کلام نه مونږ د تقنع په تفسير کښې ليکلي دي، او د حديث شمائل تقنع هغه بېل څيز دې يعنی د پټکی د لاندې يو رومال وغيره په دې غرض باندې کيخودل چه د تيلو په غوړوالی باندې پټکې خراب نه شی دلته د تقنع نه مراد په ظاهر کښې صرف تغطية الرأس مراد دې د مخ سره د هغې هيڅ تعلق نشته. هذا والله تعالى اعلم بالصواب.

والحديث اخرجه البخاری بنحوه فی الحديث الطويل فی الهجرة، قاله المنذری.

باب ما جاء في إسبال الإزار

باب د کيتو نه ښکته د لنګ د اوږدولو بيان

د اسبال ازار نه په حديث کښې په جر ازار سره تعبير کړې شوې دې يعنی جامه که هغه ازار وي يا قميص هغه دومره اوږدول او زوړندول چه په هغې سره کعبين پټ شی په حديث کښې د دې ممانعت راغلې دې، پس په حديث الباب کښې دی ﴿ وَارْفَعْ إِزَارَكَ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ فَإِنْ أَبَيْتَ فَإِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِيَّاكَ وَإِسْبَالَ الإِزَارِ ﴾ او د باب په دويم روايت کښې دی ﴿ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلاَءَ لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ علماء کرامو ليکلي دی چه اسبال د ازار که د تکبر په طور وی نو حرام دې، او که د بې علمئ يا بې توجه کيدو په وجه وی نو مکروه تنزيهی دې او که بغير د قصد نه عذرا وی نو مباح دې لکه چه د ابوبکرصديق رضي الله عنه په باره کښې حديث کښې مذکور دی چه د هغې وجه شارحينو دا ليکلې ده چه صديق اکبر رضي الله عنه نحيف الجسم وو د هغوی لنګ به په خپل ځائې نه ايساريدو لاندې به خوئيدلو، او مونږ د خپلو مشائخو نه اوريدلې چه د علی رضي الله عنه ازار به هم لاندې خوئيدلو چه د هغې وجه دا وه چه هغوی بطين وو يعنی ګېډه ئې وړاندې وتلې وه.

[٤٠٨٤] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ أَبِي غِفَارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو تَمِيمَةَ الْهُجَيْمِيُّ وَأَبُو تَمِيمَةَ اسْمُهُ طَرِيفُ بْنُ مُجَالِدٍ، عَنْ أَبِي جُرَيٍّ جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَجُلًا يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ لَا يَقُولُ شَيْئًا إِلَّا صَدَرُوا عَنْهُ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْتُ: عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَرَّتَيْنِ، قَالَ: لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ فَإِنَّ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ، قُلِ السَّلَامُ عَلَيْكَ، قَالَ: قُلْتُ أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ، قَالَ: أَنَا رَسُولُ اللَّهِ الَّذِي إِذَا أَصَابَكَ ضُرٌّ فَدَعَوْتَهُ كَشَفَهُ عَنْكَ، وَإِنْ أَصَابَكَ عَامُ سَنَةٍ فَدَعَوْتَهُ أَنْبَتَهَا لَكَ، وَإِذَا كُنْتَ بِأَرْضٍ قَفْرَاءَ أَوْ فَلَاةٍ فَضَلَّتْ رَاحِلَتُكَ فَدَعَوْتَهُ رَدَّهَا عَلَيْكَ، قَالَ: قُلْتُ اعْهَدْ إِلَيَّ، قَالَ: لَا تَسُبَّنَّ أَحَدًا، قَالَ: فَمَا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرًّا وَلَا عَبْدًا وَلَا بَعِيرًا وَلَا شَاةً، قَالَ: وَلَا تَحْقِرَنَّ شَيْئًا مِنَ الْمَعْرُوفِ، وَأَنْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَأَنْتَ مُنْبَسِطٌ إِلَيْهِ وَجْهُكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنَ

۔۔۔۔ نه چه د حضرت شيخ کور ته چه کله تشريف راوړلو نو په لاره کښې به ئې په خپل سر او مخ باندې توليه کيخودلو سره تشريف اوړلو، په دې کښې به يو مصلحت دا هم وو چه په لاره کښې بې محل په يو څيز باندې نظر پرې نه اوځي، او دا چه کومه نن صبا د رومال د اچولو طريقه جاری ده خصوصا په عربو کښې چه په سر باندې رومال واچوی بغير د ترلو نه دا د حديث والاتقنع نه دې بلکه دا د سدل يو قسم دی او د سدل په حديث کښې مستقل ذکر راځی چه د هغې فقهاء کرامو او شارحينو مختلف صورتونه بيان کړې دی اوس دا خبره کول چه دا د هغې په نوع ممنوع کښې داخل دې يا نه دا امر اخر دې او پرې غور کول غواړی)

١: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢١٢٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الاستئذان ٢٨ (٢٧٢٢)، سنن النسائي/ الكبرى (٩٦٩١)، مسند احمد (٣/٤٨٢، ٥/٦٣) (صحيح)

الْمَعْرُوفِ، وَارْفَعْ إِزَارَكَ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ فَإِنْ أَبَيْتَ فَإِلَى الْكَعْبَيْنِ، وَإِيَّاكَ وَإِسْبَالَ الْإِزَارِ فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيلَةِ، وَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمَخِيلَةَ، وَإِنِ امْرُؤٌ شَتَمَكَ وَعَيَّرَكَ بِمَا يَعْلَمُ فِيكَ فَلَا تُعَيِّرْهُ بِمَا تَعْلَمُ فِيهِ فَإِنَّمَا وَبَالُ ذَلِكَ عَلَيْهِ".

دجابر بن سليم ﷺ نه روايت دي فرمائی چه ما يو کس ليدلې وو چه هره خبره به ئې کوله نو خلقوبه قبلوله مادخلقونه تپوس اوکړو دا څوک دې؟ هغوی اووئيل دانبی ﷺ دې کله چه ورته زه ورنيزدې شوم نوما عليک السلام يارسول الله دوه پيرې اووئيل نبی ﷺ اوفرمائيل عليک السلام مه وايه ځکه چه په داسې الفاظوسره خو مړوته سلام کيږي بلکه ته داسې وايه السلام عليک ماعرض اوکړو آيا ته دالله رسول هې؟ هغه اوفرمائيل هو ضرور زه دالله استاذې يم کله چه تاته تکليف ورسيږي نو ته هغه يادوی يعنی دعا ورنه غواړې اوهغه ستاتکليف لرې کوي او په تاسوچه کله قحط سالي راشي اوتاسودهغه نه دعا وغواړئ نوهغه ستاسو دپاره غله اوستاسودڅاروو دپاره گيا پيداکوي اوکله چه تاسو په يوځنگل کښې يئ اوستاسو اوښه ورکه شي اوتاسو ورنه دعا وغواړئ نوهغه تاسوته ستاسو سورلی راواپس کوي، ما ورته عرض اوکړو چه ماته نصيحت اوکړه نبی ﷺ اوفرمائيل چاته به کنځل نه کوي دجابر بيان دې فرمائی چه ددغه ورځې نه پس بيا ماچاته کنځل نه دي کړي نه کوم آزاد کس ته اونه غلام ته نه اوښ ته اونه چيلئ ته ، بيانبی ﷺ اورفرمائيل دنيکی کومه خبره وړه مه گڼره اودخپل مسلمان ورور سره په خنديدونکي تندي باندې خبرې کوه ځکه چه داهم دنيکی کار دې اوخپل النگ دنيمي پنډ پورې پورته ساته اوکه داسې نه وي نودگيټو پورې او دلنگ دزوړندولونه ځان بچ ساته يعنی دگيټونه ښکته ځکه چه دا دتکبر علامه ده اوالله تعالی تکبرنه خوښوي ، اوکه چرې څوک تاته کنځل اوکړي اوهغه کس ستادعيب نه خبر وي اوبيان ئې کړي اوته هم دده دعيب نه خبر ئې نودده عيب به نه بيانوي ځکه چه ددې گناه بوج به ددغه کس په سر باندې وي.

مضمون الحديث :

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي جُرَيٍّ جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ رَأَيْتُ رَجُلاً يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ لاَ يَقُولُ شَيْئًا إِلاَّ صَدَرُوا عَنْهُ الخ ﴾ جابر بن سليم ﷺ فرمائی (چه هغوی چه کله اول ځل مدينې طيبې ته تشريف راوړلو نو د هغه ځائې ئې چه کوم منظر اوليدو د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو هغه بيان فرمائی) چه ما دلته يو داسې سړې اوليدو چه خلق د هغه رائې اخلی او واپس کيږي. يعنی د هغوی په مجلس کښې چه څه اوری د هغې قبلولو سره راځی. نو ما د خلقو نه تپوس اوکړو چه دا صاحب څوک دې خلقو اووې چه دا رسول الله ﷺ دې. زه د هغوی طرف ته متوجه شوم او سلام مې عرض اوکړو، او داسې مې اوئيل : ﴿ عليک السلام يا رسول الله ﴾ نو هغوی اوفرمائيل داسې مه وايه دا طريقه د سلام (په زمانه د جاهليت کښې) د مړی په حق کښې وه بلکه ﴿ السلام عليک ﴾ وايه. ما تپوس اوکړو تاسو د الله رسول يئ؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: او...... زه د هغه الله رسول يم چه که تاته څۀ ضرر در اورسی او ته د هغه نه دعا اوکړې نو هغه به درنه لرې کړی او هغه داسې دې. که تاته څه قحط سالی در اورسی او ته هغه ته دعا اوغواړې نو هغه به ستا دپاره گيا وغيره راوټوکوی (يعنی باران ورولو سره) او

هغه الله پاک داسې دې چه که ته په يو ځنګل يا بيابان کښ ئې او ستا سورلى ورکه شى او بيا د هغه نه اوغواړې نو ستا طرف ته به ئې واپس کړى [۱]. هغوى وائى چه ما عرض اوکړو چه ماته نصيحت اوکړئ..... رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چاته هر ګز کنځل مه کوه، هغوى وائى چه د دې نه پس ما چاته هم کنځل نه دى کړى، بد مې نه دى وئيلې نه يو آزاد ته او نه غلام ته، نه انسان ته او نه ځناور ته اوښ او بيزه وغيره. او وې فرمائيل چه هيڅ نيکى کمه مه ګڼړه او ته چه چا سره په مسکى کيدو خبره کوې نو دا هم نيکى ده (لهذا دا هم معمولى مه ګڼړه). او خپل لنګ د نيمې پنډئ پورې اوچت کړه، او که دا منظوره نه وى نو صرف د کعبينو پورې [۲] او خپل ځان د اسبال د ازار نه بچ ساته چه دا د تکبر د وجې نه کيږى يا دا مطلب دې چه دا هم د تکبر يو قسم دې او الله پاک تکبر نه خوښوى، ﴿ وَإِنِ امْرُؤٌ شَتَمَكَ وَعَيَّرَكَ بِمَا يَعْلَمُ فِيكَ فَلاَ تُعَيِّرْهُ بِمَا تَعْلَمُ فِيهِ فَإِنَّمَا وَبَالُ ذَلِكَ عَلَيْهِ ﴾ او که يو سړې تاته کنځل اوکړى او تاته ته پيغور درکړى په هغه څيز چه کوم هغه ته په تا کښ معلوم دې نو هغه ته پيغور مه ورکوه په هغه عيب سره کوم چه تاته په هغه کښ معلوم دې ځکه چه د هغه د پيغور وبال به هم په هغه باندې وى. دا آخرى نصيحت ډير جامع دې الله پاک دې په دې باندې د عمل توفيق راکړى، په دې کښ د بل سړى په واقعى عيب باندې د پيغور ورکولو نه منع کړې شوې ده پاتې لا دا چه يو سړى باندې په داسې کار تهمت اولګولې شى کوم چه په هغه کښ نه وى لکه چه خلق په مخالفت او دشمنئ کښ اخته شى.

والحديث اخرجه الترمذي والنسائي مختصرا، وقال الترمذي حسن صحيح، قاله المنذري.

[۴۰۸۵] ([۳]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلاَءَ لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: إِنَّ أَحَدَ جَانِبَيْ إِزَارِي يَسْتَرْخِي إِنِّي لَأَتَعَاهَدُ ذَلِكَ مِنْهُ، قَالَ: لَسْتَ مِمَّنْ يَفْعَلُهُ خُيَلاَءَ".

سالم دخپل پلار عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت کوى فرمائى چه رسول الله فرمائيلي دي څوک چه خپله جامه دتکبر په وجه په ځان پسي راکاږي نوالله تعالى به ورته دقيامت په ورځ ونه ګوري ، ابوبکر صديق رضي الله عنه عرض اوکړو اې دالله رسوله زما دلنګ يو ګوټ خو په ماپسي راښکلي کيږى مګرهله چه زه هروخت ددې خيال وساتم نبى عليه السلام اوفرمائيل ته دهغه خلقونه نه ئې څوک چه دتکبر په وجه داسې کوي.

[۱]) قال العلماء لاستجابة الدعاء شروط لا بد منها لمنها ان يكون الداعي عالما بان لا قادر علي حاجته الا الله تعالي وحده وان الوسائط في قبضته ومسخرة بتسخيره وان يدعو باضطرار والفتار فان الله تعالي لا يقبل الدعاء من قلب غافل. (بذل)

[۲]) يعنى کعبين حد او غاية دې د ازار دپاره چه په هغې کښ دا غايت داخل نه دې پس په يو روايت کښ دى اخرجه النسائي وصححه الحاكم ايضا من رواية حذيفة رضي الله عنه بلفظ الازار الي انصاف الساقين فان ابيت فاسفل فان ابيت فمن وراء الساقين ولا حق الكعبين في الازار)

[۳]): صحيح البخاري/فضائل الصحابة ٥ (٣٦٦٥)، اللباس ١ (٥٧٨٣)، ٢ (٥٧٨٤)، ٥ (٥٧٩١)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ٥٠ (٥٣٣٧)، (تحفة الأشراف: ٧٠٢٦)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/اللباس ٩ (٢٠٨٥)، سنن الترمذي/اللباس ٨ (١٧٣٠)، ٩ (١٧٣١)، سنن ابن ماجه/اللباس ٦ (٣٥٧١)، ٩ (٣٥٧٦)، موطا امام مالك/اللباس ٥ (٩)، مسند احمد (٢/٥، ١٠، ٣٢، ٤٢، ٤٤، ٤٦، ٥٥، ٥٦، ٦٠، ٦٥، ٦٧، ٦٩، ٧٤، ٧٦، ٨١) (صحيح)

وحديث ابن عمر رضي الله عنهما اخرجه البخاري والنسائي، قاله المنذري.

[۴۰۸۶](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "بَيْنَمَا رَجُلٌ يُصَلِّي مُسْبِلًا إِزَارَهُ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ، فَذَهَبَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ: اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا لَكَ أَمَرْتَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ؟، ثُمَّ سَكَتَّ عَنْهُ، قَالَ: إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّي وَهُوَ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ وَإِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبَلُ صَلَاةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ".

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يو كس لنگ د ګيټونه ښكته كړې وو اومونځ ئې كولونبى عليه السلام ورته اوفرمائيل دوباره اودس اوكړه او راشه هغه كس دوباره اودس اوكړو او راغې نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل لاړ شه چه اودس اوكړې بياراشه نوده بيااودس اوكړو كله چه راغې نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل اودس وكړه اوبيا راشه نويوكس عرض اوكړو اې دالله رسوله ته ده ته وائى چه اودس اوكړه او راشه نوددينه پس نبى عليه السلام خاموشي اختياركړه (اخر ستامقصد څه دې) نبى عليه السلام اوفرمائيل لنګ ئې زوړند كړې وو اومونځ ئې كولو الله تعالى دداسې كس مونځ نه قبلوي.

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يُصَلِّي مُسْبِلاً إِزَارَهُ الخ﴾ دا حديث په كتاب الصلاة كښې تير شوې دې.

[۴۰۸۷](٢) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُدْرِكٍ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ خَرَشَةَ بْنِ الْحُرِّ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يُزَكِّيهِمْ، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ، قُلْتُ: مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ خَابُوا وَخَسِرُوا؟ فَأَعَادَهَا ثَلَاثًا، قُلْتُ: مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ خَابُوا وَخَسِرُوا؟ فَقَالَ: الْمُسْبِلُ، وَالْمَنَّانُ، وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ أَوِ الْفَاجِرِ".

د ابوذر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى درې كسان داسې دى چه الله تعالى به ورسره خبرې ونكړي اونه به ورته اوګوري په ورځ دقيامت درحمت په نظر اونه به ئې پاک كړي دګناهونونه اوددوى دپاره دردناک عذاب دې ماعرض وكړو اې دالله رسوله دوى څوک دي چه برباد شول او تاوانى شول؟ نبى عليه السلام درې پيرې همداسې اوفرمائيل اومابه وئيل اې دالله رسوله دغه كسان څوک دي چه برباد شول اوتاوانى شول نبى عليه السلام اوفرمائيل لنګ زوړندونک بل احسان زباتونكې اوبل د دروغوپه قسم سره خپل مال خرڅونكې.

قوله: ﴿عَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ « ثَلاَثَةٌ لاَ يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ الخ﴾

په دې حديث باندې هم په اسبال د ازار باندې وعيد دې. والحديث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

---

(١): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم (٦٣٨)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٤١) (ضعيف)

(٢): صحيح مسلم/الإيمان ٤٦ (١٠٦)، سنن الترمذي/البيوع ٥ (١٢١١)، سنن النسائي/الزكاة ٦٩ (٢٥٦٤)، البيوع ٥ (٤٤٦٣)، الزينة من المجتبى ٥٠ (٥٣٣٥)، سنن ابن ماجه/التجارات ٣٠ (٢٢٠٨)، (تحفة الأشراف: ١١٩٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٨/٤، ١٥٨، ١٦٢، ١٦٨، ١٧٨)، دي/البيوع ٦٣ (٢٦٤٧) (صحيح)

[٤٠٨٨]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُسْهِرٍ، عَنْ خَرَشَةَ بْنِ الْحُرِّ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا وَالْأَوَّلُ أَتَمُّ، قَالَ: الْمَنَّانُ الَّذِي لَا يُعْطِي شَيْئًا إِلَّا مَنَّهُ.

ابوذر دنبي ﷺ نه دتيرشوي روايت په شان روايت بيان کړې دي ليکن اولني روايت ډير کامل دي اوپه دې روايت کښې ئې دا اضافه کړې ده چه احسان زباتلووالا کس داحسان زباتلونه بغير هيڅ شي نه ورکوي.

[٤٠٨٩]()حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ يَعْنِي عَبْدَ الْمَلِكِ بْنَ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ بِشْرٍ التَّغْلِبِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي وَكَانَ جَلِيسًا لِأَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: كَانَ بِدِمَشْقَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لَهُ: ابْنُ الْحَنْظَلِيَّةِ وَكَانَ رَجُلًا مُتَوَحِّدًا قَلَّمَا يُجَالِسُ النَّاسَ إِنَّمَا هُوَ صَلَاةٌ فَإِذَا فَرَغَ فَإِنَّمَا هُوَ تَسْبِيحٌ وَتَكْبِيرٌ حَتَّى يَأْتِيَ أَهْلَهُ، فَمَرَّ بِنَا وَنَحْنُ عِنْدَ أَبِي الدَّرْدَاءِ، فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً فَقَدِمَتْ، فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَجَلَسَ فِي الْمَجْلِسِ الَّذِي يَجْلِسُ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِرَجُلٍ إِلَى جَنْبِهِ: لَوْ رَأَيْتَنَا حِينَ الْتَقَيْنَا نَحْنُ وَالْعَدُوُّ فَحَمَلَ فُلَانٌ فَطَعَنَ، فَقَالَ: خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْغِفَارِيُّ كَيْفَ تَرَى فِي قَوْلِهِ؟ قَالَ مَا أُرَاهُ إِلَّا قَدْ بَطَلَ أَجْرُهُ، فَسَمِعَ بِذَلِكَ آخَرُ، فَقَالَ: مَا أَرَى بِذَلِكَ بَأْسًا فَتَنَازَعَا حَتَّى سَمِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ لَا بَأْسَ أَنْ يُؤْجَرَ وَيُحْمَدَ، فَرَأَيْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ سُرَّ بِذَلِكَ وَجَعَلَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَيْهِ وَيَقُولُ: أَأَنْتَ سَمِعْتَ ذَلِكَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَقُولُ: نَعَمْ، فَمَا زَالَ يُعِيدُ عَلَيْهِ حَتَّى إِنِّي لَأَقُولُ لَيَبْرُكَنَّ عَلَى رُكْبَتَيْهِ، قَالَ: فَمَرَّ بِنَا يَوْمًا آخَرَ، فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ، قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمُنْفِقُ عَلَى الْخَيْلِ كَالْبَاسِطِ يَدَهُ بِالصَّدَقَةِ لَا يَقْبِضُهَا" ثُمَّ مَرَّ بِنَا يَوْمًا آخَرَ، فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمٌ الْأَسَدِيُّ لَوْلَا طُولُ جُمَّتِهِ وَإِسْبَالُ إِزَارِهِ، فَبَلَغَ ذَلِكَ خُرَيْمًا فَعَجِلَ فَأَخَذَ شَفْرَةً فَقَطَعَ بِهَا جُمَّتَهُ إِلَى أُذُنَيْهِ وَرَفَعَ إِزَارَهُ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ، ثُمَّ مَرَّ بِنَا يَوْمًا آخَرَ، فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: إِنَّكُمْ قَادِمُونَ عَلَى إِخْوَانِكُمْ فَأَصْلِحُوا رِحَالَكُمْ وَأَصْلِحُوا لِبَاسَكُمْ حَتَّى تَكُونُوا كَأَنَّكُمْ شَامَةٌ فِي النَّاسِ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفُحْشَ وَلَا التَّفَحُّشَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ هِشَامٍ، قَالَ: حَتَّى تَكُونُوا كَالشَّامَةِ فِي النَّاسِ.

قيس بن نصر دخپل پلار ځوک چه ددمشق په جومات کښې دابو الدرداء خليفه وو، نه روايت کوي فرمائي چه دنبي ﷺ په صحابه کرامو کښې ددمشق په جومات کښې يوکس وو چه ابن الحنظليه به ورته وئيلې شول هغه به خلوت يعنى يواځې والې خوښولو اودخلقوسره به ډيرکم کيناستو اکثر وخت به په مونځ کښې مشغول وو اوکله چه به دمونځ نه فارغ شو نو په تسبيح اوتکبير کښې به مشغول شوتردې چه خپل کورته به لاړو، يوه ورځ دغه کس زمونږ په خواکښې تيريدو او مونږ د ابوالدرداء سره ناست وو ابودرداء ورته اووئيل ته مونږ ته يوه داسې خبره وښايه چه مونږ ته فائده راکړې اوتاته نقصان ونه رسوي هغه اووئيل چه رسول الله دجهاددپاره يو وړوکې لښکر وليږل کله چه دغه لښکر واپس راغې نوددې لښکرد کسانونه يوکس راغې اوپه هغه ځاى- کيناستو چرته چه به نبي ﷺ کيناستلو او ځوک چه ورته نژدې وو هغه ته ئې ووئيل کاش چه تازه ليدلې وې کله چه

(¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٩٠٩) (صحيح)
(²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٩/٤، ١٨٠) (ضعيف)

مونږه ددشمن دمقابلې دپاره پاڅيدو په مونږ کښې فلانی کس نيزه راواخسته اوددشمن طرف ته ئې غشي وويشل اودويشتلو په وخت کښې ئې داسې اووئيل دازخم زمادطرف نه دراواخله زه دغفار قبيلې والايم ته په دې ويناباندې څخه ګمان کوې دغه کس اووئيل زما په خيال کښې ددغه کس اجر ضائع شو اوداخبره يوبل کس هم واوريده هغه اووئيل چه په دې کښې څه حرج نشته بيا دواړو جګړه وکړه تردې چه داخبره نبی ﷺ ته هم ورسيده او وئې فرمائيل په دې کښې څه بدوالې دې؟ که چرې دې کس ته ثواب هم ورکړې شي اوخلق دده تعريف هم وکړي ، دبشر تغلبي بيان دې چه ما ابوالدرداء و ليدلې وو چه دا خبره ئې واوريده او خوشحاله شو اوخپل سرئې دهغه کس طرف ته ور پورته کړو دتپوس کولو دپاره چه ايا تا پخپله داخبره دنبی ﷺ نه اوريدلې ده؟ هغه اووئيل هو، بيا ابودرداء ډيرې پيرې مسلسل ورنه داتپوس کوو تردې چه ماګمان وکړو چه دې به په زنګنونوباندې کښيني بشر تغلبي وائی چه يوه ورځ بيا ددغه کس زمونږ په خواکښې تيريدل وشو ابوالدرداءه ورته اووئيل مونږ ته کومه داسې خبره واوروه چه زمونږ فائده په کښې وي اوستانقصان په کښې نه وي هغه اووئيل نبی ﷺ فرمائيلي دې په مونږ کښې چه څوک خپلې پيسې داسونوپه پالنوباندې خرچ کړي (دثواب په نيت نودده مثال داسې دې چاچه خپل لاسونه دصدقې دپاره برابر خواره کړې وی او ولاړ وي اوهيڅ کله خپل لاسونه نه بندوی (يعنې مسلسل صدقې ورکوي) بيايوه ورځ دغه کس زمونږ په خواکښې تيرشو ابوالدرداء رضي الله عنه ورته اووئيل مونږته يوه داسې خبره واوروه چه په هغې کښې زمونږ کاميابي وي اوستا په کښې څه نقصان نه وي هغه اووئيل رسول الله مونږ ته فرمائيلي وو خريم اسدي څومره ښه سړې دې که چرې دده دسر ويښته لوي نه وې اودده لنګ ښکته نه وې داخبر چه کله خريم ته ورسيدو نو په جلتئ سره پر خپل لنګ دپنډو دنيې نه پورته کړو، بيا يوه بله ورځ زمونږ په خواکښې ددې کس تيريدل کيدل ابودرداء نه ورته اووئيل مونږ ته يوه داسې خبره وښايه چه زمونږ په کښې فائده وي اوستا په کښې نقصان نه وي هغه اووئيل ما د رسول الله نه آوريدلی دی چه دسفرنه ئې دواپسئ په وخت کښې فرمائيلي وو تاسو خپلو رونړوته رسيدونکي يئ، تاسوخپلې سورلئ برابرې کړئ اوخپلې جامې پاکې کړئ ددې دپاره چه هريوسرې تاسو وپيژندلې شي او الله تعالی فحش ويونکې اورفحش اوريدونکې نه خوښوي، امام ابوداؤد فرمائی چه ابونعيم دهشام په واسطې سره دنبی ﷺ نه په همدې سند سره روايت بيان کړې دې او وئيلې يې دې چه تاسو دخال په شان واضح ښکارئ.

﴿عَنْ قَيْسِ بْنِ بِشْرٍ التَّغْلِبِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي وَكَانَ جَلِيسًا لأَبِي الدَّرْدَاءِ – قَالَ كَانَ بِدِمَشْقَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– يُقَالُ لَهُ ابْنُ الْحَنْظَلِيَّةِ الخ ﴾

يو اوږد مضمون د حديث :

دا يو اوږد حديث دې کوم چه په ډيرو احاديثو باندې مشتمل دې چه د هغې مضمون دا دې قيس بن بشر وائی چه ماته زما پلار بشر بن قيس بيان اوکړو. زما پلار د ابوالدرداء رضي الله عنه ملګرې وو، يعنې هغوی سره ئې تړ راتړ ډير وو، زما والد فرمائی چه په دمشق کښې يو

صحابی وو چاته چه به ابن الحنظلية وئيلې کيدو کوم چه ډير ځانله پاتې کيدونکې وو، خلقو سره به ډير کم ملاويدو د هغوی مشغله مونځ وو او د مانځځ نه فارغ کيدو باندې به په تسبيح او تکبير کښې مشغول شو او خپل کور ته به راغلو، زما پلار فرمائی چه دا صحابی زمونږ مخکښې تير شو په داسې حال کښې چه مونږ د ابوالدرداء رضی الله عنه سره ناست وو چه کله هغه تيريدو نو ابوالدرداء رضی الله عنه هغوی ته عرض اوکړو ﴿ كلمة تنفعها ولا تضرك ﴾ (داسې څه خبره ده) يو خبره په ولاړه ولاړه اوکړئ چه په هغې سره مونږ ته فائده اوشی او تاسو ته پکښې هيڅ نقصان نه وی نو په دې باندې هغوی دا واقعه واوروله يو ځل رسول الله ﷺ يو سريه روانه کړه نو کله چه هغه سريه راواپس شوه نو په دې سريه والو کښې يو سړې راغلو او د رسول الله ﷺ په مجلس کښې کيناستلو نو دې راتلونکې سړی د هغه سړی نه کوم چه د مخکښې نه په دې مجلس کښې ناست وو او د هغه سره خوا کښې وو اوئيل چه کله زمونږ د دشمن سره مقابله اوشوه نو زمونږ په ملګرو کښې يو سړی په دشمن باندې حمله اوکړه دا حمله کونکې د قبيله غفار وو، نو د حملې کولو په وخت هغه اووې ﴿ خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْغِفَارِيُّ ﴾ چه دا انعام زما د طرف نه يوسه څه به ياد ساتې زه غفاری غلام يم. نو د هغه په باره کښې هغه قادم د خپل ملګری نه تپوس اوکړو چه ستا څهٔ خيال دې کومه خبره چه هغه اوکړه د هغې په باره کښې؟ نو هغه جواب ورکړو چه زما خو دا خيال دې چه د هغه ټول ثواب باطل شو يعنی د دې فخريه جملې په وئيلو باندې هلته د مجلس يو بل سړی هم دا خبره واوريدله نو هغه اووې چه زما خيال دې چه په داسې وئيلو کښې هيڅ باک نشته، په دې باره کښې په دې دواړو کښې اختلاف پيدا شو، رسول الله ﷺ هم د هغوی دا خبره واوريدله نو په دې باندې هغوی اوفرمائيل: ﴿سُبْحَانَ اللَّهِ لاَ بَأْسَ أَنْ يُؤْجَرَ وَيُحْمَدَ ﴾ يعنی په دې کښې هيڅ باک نشته چه هغه ته دې د عمل اجر هم ملاؤ شی او د هغه دې تعريف هم اوکړې شی، (ځکه چه په جنګ کښې د کافر مخکښې خپله بهادری ښکاره کول نه صرف جائز بلکه غوره او مستحسن امر دې لکه حديث کښې دی) راوی وائی ﴿ فَرَأَيْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ سُرَّ بِذَلِكَ ﴾ چه ابوالدرداء رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په دې ارشاد اوريدلو باندې ډير خوشحاله شو پوره حديث خو هغوی سر ښکته کولو سره اوريدلې وو خو د اوريدو نه پس ئې د خوشحالئ او تعجب د اظهار کولو دپاره د هغه صحابی طرف ته چا چه دا حديث بيان کړې وو سر اوچتولو او د هغوی طرف ته ور وړاندې کيدو او بار بار ئې دا وئيل چه آيا تاسو واقعی دا خبره د رسول الله ﷺ نه اوريدلې ده چه په هغې باندې ما دا اوګنړله چه اوس به هغوی اودريږی. (يو حديث خو دا شو) راوی وائی چه بيا يوه ورځ هغه صحابی يعنی ابن الحنظليه رضی الله عنه په مونږ باندې تير شو، دې ځل هم ابوالدرداء رضی الله عنه هغوی ته اوفرمائيل: ﴿ كلمة تنفعنا ولا تضرك ﴾ په دې باندې هغوی يو بل حديث واورولو چه مونږ ته رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د جهاد اس باندې خرچ کونکې په شان د هغه سړی دې چه هغه خپل لاس د صدقې کولو دپاره ورته واره خوروی او کله ئې هم نه راټولوی. (دا دويم حديث شو) وړاندې راوی وائی چه دغه شان هغه يو ورځ بيا په مونږ باندې راتير شو بيا ابوالدرداء رضی الله عنه د هغه نه هم دا درخواست اوکړو

﴿ كلمة تنفعنا ولا تضرک ﴾ نو په دې باندې هغوی دا حديث واورولو چه يو ځل رسول اللهﷺ د خريم اسدی په باره کښې داسې اوفرمائيل: ﴿ نعم الرجل خريم الاسدی لولا طول جمته واسبال ازاره ﴾ چه خريم اسدی څومره ښه سړې دې که د هغه ويښته زيات اوږده نه وې او لنګ ئې نه ښکته کولې يعنی بيا خو د هغه د خوبيانو څه بيان...... دا خبره خريم اسدیؓ ته هم اورسيدله نو هغوی حديث اوريدلو سره قينچی په لاس کښې واخستله او خپل ويښته ئې د غوږونو پورې پرې کړل او خپل ازار ئې تر نصف ساق پورې اوچت کړو (دا دريم حديث شو) راوی وائی چه بيا يو ځل هغه په مونږ باندې تيريدو نو ابوالدرداءؓ خپله هم هغه جمله مکرر کړه، ﴿ كلمة تنفعنا ولا تضرک ﴾ په دې باندې هغوی حديث واورولو چه يو ځل د يو سفر نه په واپسئ باندې رسول اللهﷺ مدينې طيبې ته داخليدونکې وو نو رسول اللهﷺ خپلو ټولو ملګرو ته اووې: ﴿ إِنَّكُمْ قَادِمُونَ عَلَى إِخْوَانِكُمْ فَأَصْلِحُوا رِحَالَكُمْ وَأَصْلِحُوا لِبَاسَكُمْ حَتَّى تَكُونُوا كَأَنَّكُمْ شَامَةٌ فِي النَّاسِ فَإِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْفُحْشَ وَلاَ التَّفَحُّشَ ﴾ چه اوس تاسو خپلو خپلوانو کره ځئ نو د خپلو سورلو کجاوې برابر کړئ، او خپل لباس او جامه هم برابر کړئ، او داسې بدل شئ ګويا تاسو په خلقو کښې داسې لګئ لکه څنګه چه په بدن کښې تور خال وی يعنی بالکل صفا او مزيدار...... ځکه چه الله پاک د انسان خراب حالت نه خوښوی برابره خبره ده که هغه خرابی طبعی وی يا هغه وخت سره يعنی عارضی، د دې حديث نه دا معلومه شوه چه د استقبال کونکو رعايت او اعزاز کښې خپل هيئت برابرول پکار دی.

(د حضرت الشيخ يوه واقعه)

په دې باندې ماته يو واقعه رايادة شوه زمونږ شيخ نور الله مرقده چه کله د علی ګړه د سفر نه د خپلې سترګې آپريشن کولو نه پس واپس کيدلو نو په سترګه باندې ئې شنه پټئ لګيدلې وه نو کله چه ګاډې کور ته راورسيدو نو د ګاډی نه د کوزيدو نه مخکښې هغوی خپل خادم ته اووې چه د سترګو نه مې پټئ کوزه کړه ځکه چه د پټئ د وجې نه د مخ هيئت خراب شان معلوميږی او حال دا چه خلق د استقبال دپاره منتظر ولاړ دی چه د دوستانو سره په ښه حالت کښې مخامخ شو.

د شمائل ترمذی په حديث کښې دی چه رسول اللهﷺ به د هر محل او هرې موقعې مطابق تياری فرمائيله، ﴿ لكل حال عنده عتاد ﴾ د دوستانو سره په ښه او مناسب حالت کښې ملاقات کول په دې کښې صرف د خپل نفس احترام او عزت نه دې بلکه د مخاطب هم په دې کښې رعايت دې دا دی د تعليم نبویﷺ په معاشره کښې باريکيانې.

......

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ

باب: د تکبر او غرور د مذمت بیان

[۴۰۹۰](١)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا هَنَّادٌ يَعْنِي ابْنَ السَّرِيِّ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ الْمَعْنَى، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، قَالَ مُوسَى: عَنْ سَلْمَانَ الْأَغَرِّ، وَقَالَ هَنَّادٌ، عَنِ الْأَغَرِّ أَبِي مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ هَنَّادٌ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي، وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي، فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي: تکبرزماڅادر دې اولوئي زما لنګ دي ځوک چه زمانه په دې دوه څیزونوکښې دکوم یوداخستلو کوشش کوي نواورته به ئې اوغورزوم.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « قَالَ اللَّهُ تعالى الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِى وَالْعَظَمَةُ إِزَارِى فَمَنْ نَازَعَنِى وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِى النَّارِ » ﴾

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه الله پاک داسې فرمائی چه تکبر زما څادر دې او عظمت زما ازار دې، یعنی دا دواړه زما مخصوص صفتونه دی نو کوم سړې چه په دې دواړو کښې ما سره جنګ کوی نو زه هغه په جهنم کښې غورځوم. د جنګ نه مراد دا دوه صفتونه اختیارول او استعمالول دی، او کوم سړې چه د بل چا څیز استعمالوی نو ګویا هغه د هغه سره جنګ ته تیار دې. د دې نه معلومه شوه چه تکبر ډیره لویه ګناه ده او د شرک په شان دې چه د هغې سزا به انسان ته ملاویږی، یعنی که د هغې نه تائب نه شو، او که په صدق سره ئې ترینه توبه اوکړه نو د شرک په شان دا هم معاف کیږی او د توبې دروازه د الله پاک په نزد هر وخت پرانستلې وی د هغې طرف ته رغبت کول پکار دی او یو وخت هم عاصی لره د الله پاک د رحمت نه نا امیده کیدل نه دی پکار،

یو ځل مې د حضرت شیخ نه هم اوریدلې وو پورته ئې د فضاء طرف ته په لاس سره اشاره کولو سره اوفرمائیل چه په دې میدان کښې د تکبر ګنجائش نشته، د حیوانی ګناهونو خو هیڅ اهمیت نشته خو دا تکبر چه شیطانی ګناه ده دا ډیر سخت څیز دې. والحدیث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری.

[۴۰۹۱](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ يَعْنِي ابْنَ عَيَّاشٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ، وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ خَرْدَلَةٍ مِنْ إِيمَانٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الْقَسْمَلِيُّ، عَنِ الْأَعْمَشِ مِثْلَهُ.

دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: دچاپه زړه

---

(١): صحيح مسلم/البر والصلة ٣٨ (٢٦٢٠)، سنن ابن ماجه/الزهد ١٦ (٤١٧٤)، (تحفة الأشراف: ١٢١٩٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٤٨، ٣٧٦، ٤١٤، ٤٢٧، ٤٤٢) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الإيمان ٣٩ (٩١)، سنن الترمذي/البر والصلة ٦١ (١٩٩٨)، سنن ابن ماجه/المقدمة ٩ (٥٩)، (تحفة الأشراف: ٩٤٢١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٨٧، ٤١٢، ٤١٦، ٢/١٦٤، ٣/١٢، ١٧) (صحيح)

کښې چه دزرې برابر تکبروي نوجنت ته به داخل نشي اوهغه څوک به جهنم ته داخل نشي دچاپه زړه کښې چه دزرې برابر ایمان وي. امام ابوداؤد فرمائي چه قسملي هم داعمش نه په دې طریقې سره روایت بیان کړې دې.

﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِى قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ وَلاَ يَدْخُلُ النَّارَ مَنْ كَانَ فِى قَلْبِهِ مِثْقَالُ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ »﴾

د حدیث تشریح او توجیه:

د حدیث دا دواړه جملې مخې ته کیخودلو سره یو منطقی طالب العلم دا نتیجه راوباسی (۱) چه د کوم سړی په زړه کښې د اوری د دانې برابر کبر وی د هغه په زړه کښې به د اوری د دانې برابر ایمان هم نه وی بلکه هغه به د ایمان نه خالی وی، ډیر سخت وعید دې د کبر په باره کښې، خو د اهل سنت والجماعت په نزد خو دغه شان روایات ماؤل وی چه د دخول اولی نفی ده، یعنی د سزا موندلو نه پس به جنت ته ځی، یا دا چه د دخول جنت په وخت به دهغه په زړه کښې کبر باقی نه وی، او کبر لره اخستلوسره جنت ته نه شی داخلیدې کما قال الله تعالی: ونزعنا ما فی صدورهم من غل. او یو توجیه دا کړې شوې ده چه د کبرنه مراد استکبار دې دایمان نه.... والحدیث اخرجه مسلم والترمذی وابن ماجه، قاله المنذری

> [۴۰۹۲] (۲) حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: "أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ رَجُلًا جَمِيلًا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي رَجُلٌ حُبِّبَ إِلَيَّ الْجَمَالُ وَأُعْطِيتُ مِنْهُ مَا تَرَى حَتَّى مَا أُحِبُّ أَنْ يَفُوقَنِي أَحَدٌ، إِمَّا قَالَ بِشِرَاكِ نَعْلِي، وَإِمَّا قَالَ بِشِسْعِ نَعْلِي، أَفَمِنَ الْكِبْرِ ذَلِكَ؟ قَالَ: لَا وَلَكِنَّ الْكِبْرَ: مَنْ بَطِرَ الْحَقَّ وَغَمَطَ النَّاسَ".

د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی ﷺ ته یوداسې کس راغې څوک چه ډیر ښائسته وو اوعرض ئې وکړوچه زماحسن اوجمال ډیر خوښ وي اوالله تعالی ماته حسن اوجمال راکړې دې کوم چه ته وینې زه غواړم چه څوک زمانه زماد پیزار دتسې برابر هم په حسن کښې زیات نشي نوایا داخوبه تکبرنه وي؟نبی ﷺ اوفرمائیل دا تکبرندې بلکه تکبردادې چه څوک دحق مخې ته اودریږي اوخلق ورته سپک ښکاري.

﴿عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلاً أَتَى النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- - وَكَانَ رَجُلاً جَمِيلاً - فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّى رَجُلٌ حُبِّبَ إِلَىَّ الْجَمَالُ وَأُعْطِيتُ مِنْهُ مَا تَرَ ١ه الخ﴾

سیدنا ابوهریره رضي الله عنه فرمائي چه یوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې یو ډیر ښکلې سړې راغلو او هغه راتلو سره رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ زه داسې سړې یم چاته چه حسن او جمال ډیر خوښ دې او ماته دا څیز راکړې شوې هم دې څنګه چه تاسو ته ښکاری تر دې چه زما حال په حسن خوښولو کښې دې حد ته رسیدلې دې چه زما دا خبره نه

---

(۱) ځکه چه د اول جملې مقتضا دا ده چه د کوم سړی په زړه کښې د اوری د دانې برابر کبر وی هغه دې جهنم ته لاړ شی او په دویمه جمله کښې د دې تصریح ده چه د کوم سړی په زړه کښې چه د اوری د دانې برابر ایمان وی هغه به جهنم ته نه ځی، فالنتيجة التي ذكرناها ظاهرة)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٥٤٠) (صحيح الأسناد)

ده خوښه چه يو سړې هم په حسن کښ زما نه فوقيت يوسی، لږ شان هم په دې څيز کښ، مثلا د څپلئ تسمه هم، يعنی زما دا خبره نه ده خوښه چه د يو سړي د څپلئ تسمه دې هم زما د څپلئ د تسمې نه زياته ښکلې وی پاتې لا لوئي څيزونه. د خپل ټول حال بيانولو نه پس هغه تپوس اوکړو چه دا تکبر خو نه دې؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دا تکبر نه دې ﴿وَلَكِنَّ الْكِبْرَ مَنْ بَطَرَ الْحَقَّ وَغَمَطَ النَّاسَ﴾ بلکه متکبر هغه سړې دې چه د حق نه انکار کوی، يعنی د حق معلوميدو نه پس هم هغې ته نه تسليميږی او په خپله رائې باندې ولاړ وی او د دې سره سره خلق سپک ګڼړی.

د دې حديث نه معلومه شوه چه ښه خوراک او ښه جامه دا د کبر په حقيقت کښ داخل نه دې، دا خو وئيلې شې چه په زيات غوره لباس سره تکبر پيدا کيدلې شی پس دا بله خبره ده.

بَابٌ فِي قَدْرِ مَوْضِعِ الإِزَارِ

باب: لنګ په څومره اندازه ترلي پکار دی؟

[۴۰۹۳]([1])حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْعَلاَءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ عَنِ الإِزَارِ، فَقَالَ: عَلَى الْخَبِيرِ سَقَطْتَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِزْرَةُ الْمُسْلِمِ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ، وَلاَ حَرَجَ أَوْلاَ جُنَاحَ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ، مَا كَانَ أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ، فَهُوَ فِي النَّارِ، مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ".

علاء بن عبد الرحمن دخپل پلارنه روايت کوی فرمائی چه دابوسعيدخدری رضی الله عنه نه مې دلنګ په باره کښې تپوس وکړو هغه راته اوفرمائيل تايقينا دخبردار کس نه تپوس وکړو، نبی علیه السلام فرمائيلی دی دمسلمان لنګ دنيمې پنډئ پورې وي اوکه چرې لنګ دپنډئ اودخپودګيټو ترمينځ وي نوهم څه باک نشته اوکه چرې دګيټونه خکته وي نودابيا اورته دداخليدو عمل دې ، الله تعالی به دقيامت په ورځ داسې کس ته اونه ګوري څوک چه دتکبر په نيت خپل لنګ په ځان پسې راکاږي.

﴿ سَأَلْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ عَنِ الإِزَارِ فَقَالَ عَلَى الْخَبِيرِ سَقَطْتَ قال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « إِزْرَةُ الْمُسْلِمِ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ وَلاَ حَرَجَ – فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ ﴾

يعنی د مسلمان د ازار صفت تر نيمې پنډئ دې، يعنی اولی دا ده او بيا د نصف ساق نه تر د ګيټو پورې ګنجائش دې او کوم چه د هغې نه لاندې دې هغه د اور مستحق دې.

والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[۴۰۹۴]([2])حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْجُعْفِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رَوَّادٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الإِسْبَالُ فِي الإِزَارِ، وَالْقَمِيصِ، وَالْعِمَامَةِ مَنْ جَرَّ مِنْهَا شَيْئًا خُيَلاَءَ لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

سالم بن عبدالله رضی الله عنه دخپل پلارنه روايت کوی فرمائی چه نبی کريم ﷺ فرمائيلي دي:

[1]: سنن ابن ماجه/اللباس ۶ (۳۵۷۳)، (تحفة الأشراف: ۴۱۳۶)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/اللباس ۵ (۱۲)، مسند احمد (۳/۵،۳۱، ۴۴، ۵۲، ۹۷) (صحيح)

[2]: سنن ابن ماجه/اللباس ۹ (۳۵۷۶)، (تحفة الأشراف: ۶۷۶۸)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري (۹۷۲۰) (صحيح)

اسبال يعنى كپړې اوږدې جوړول په لنګ، قميص او پټې كښې وې ځوک چه دې ځيزونو نه کوم يو په ځان پسې راکاږي دتكبر په نيت باندې نو الله تعالى به ورته دقيامت په ورځ باندې ونه ګوري.

﴿الإِسْبَالُ فِى الإِزَارِ وَالْقَمِيصِ وَالْعِمَامَةِ مَنْ جَرَّ مِنْهَا شَيْئًا خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾

دا د ابن عمر رضي الله عنهما حديث مرفوع دې چه د اسبال كراهت ځنګه چه په ازار كښې دې هم دغه شان په قميص او عمامه كښې هم دې يعنى د عمامې شمله، کوم سړې چه په دې درې واړو كښې په هر يو كښې اسبال كوي د تكبر په طور نو الله پاک به د قيامت په ورځ دهغه طرف ته د رحمت نظر نه كوي. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[٤٠٩٥]([1]) حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ أَبِي الصَّبَّاحِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي سُمَيَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: "مَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الإِزَارِ فَهُوَ فِي الْقَمِيصِ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم چه څه دلنګ په باره كښې فرمائيلي دي نو هغه ئې دقميص په باره كښې هم فرمائيلي دي.

[٤٠٩٦]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَحْيَى، قَالَ: حَدَّثَنِي عِكْرِمَةُ أَنَّهُ، رَأَى ابْنَ عَبَّاسٍ يَأْتَزِرُ، فَيَضَعُ حَاشِيَةَ إِزَارِهِ مِنْ مُقَدَّمِهِ عَلَى ظَهْرِ قَدَمَيْهِ وَيَرْفَعُ مِنْ مُؤَخَّرِهِ، قُلْتُ: لِمَ تَأْتَزِرُ هَذِهِ الإِزْرَةَ؟ قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتَزِرُهَا".

د عكرمه رحمه الله نه روايت دې فرمائي چه ما عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په داسې حال كښې ليدلې ووچه لنګ يې تړلو اودمخامخ طرف نه ئې دومره زوړند كړوچه دجامويوګوټ كې دخپوكيتوته ورسيدو اودشاطرف نه ئې راپورته كړوما ابن عباس ته ووئيل چه ته لنګ داسې ولې تړې؟هغه راته په جواب كښې ووئيل چه مانبي عليه السلام دلنګ په داسې تړلوباندې ليدلې وو.

قوله: ﴿حَدَّثَنِي عِكْرِمَةُ أَنَّهُ رَأَى ابْنَ عَبَّاسٍ يَأْتَزِرُ فَيَضَعُ حَاشِيَةَ إِزَارِهِ مِنْ مُقَدَّمِهِ عَلَى ظَهْرِ قَدَمَيْهِ وَيَرْفَعُ مِنْ مُؤَخَّرِهِ الخ﴾ عكرمه رحمه الله فرمائي چه ما ابن عباس رضي الله عنهما اوليدو چه كله به هغوى ازار اچولو نو د خپل ازار د مخكښ حصې غاړه به ئې دخپو په شا باندې كيخودله او شاته غاړه به ئې پورته اوچتوله حاصل دا چه د هغوى تهبند به د وړاندې طرف ته به ښكته وو، او شاته طرف ته لږ پورته اوچت شوې وو، عكرمه وائي چه ما دهغوى نه تپوس اوكړوچه تاسو خپل تهبند داسې والې تړئ نو هغوى اوفرمائيل چه ما رسول الله صلى الله عليه وسلم هم دغه شان كونكې ليدلې دې.

په بذل كښې ليكلي دى چه كيدې شى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې د بيان د جواز دپاره كړې وى.اه ځكه چه بغيرد خيلاء نه داسې كول صرف خلاف اولى دى،ماته ياددى چه حضرت شيخ د دې حديث د لوستلو په وخت فرمائيلي وو چه ګورئ دا كومه چه مغلى پاجامه وى د دې اصل هم دا خو نه دې؟ د مغلئ پاجامې هيئت داسې وى چه د لاندې طرف نه لږ شان ښكته اود پوندې دطرف نه لږ شان اوچت، حضرت دا خبره په طور د ظرافت فرمائيلې وه.

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٨٥٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١١٠، ١٣٧) (صحيح الإسناد)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢١٥)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري (٩٦٨١) (صحيح الإسناد)

بَاب لِبَاسِ النِّسَاءِ
د زنانو د لباس بيان

[۴۰۹۷] (۱) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهُ لَعَنَ الْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ، وَالْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه رسول کريم ﷺ دسړوسره په مشابهت کونکو ښځو باندې اودښځوسره په مشابهت کونکو سړوباندې لعنت فرمائيلې دې.

﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– أَنَّهُ لَعَنَ الْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ وَالْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ ﴾ يعنی کومې زنانه چه په شکل او لباس کښې د سړو مشابهت اختيار کړی په هغوی باندې رسول الله ﷺ لعنت فرمائيلې دې، او هم دغه شان ئې په هغه سړو هم چه د زنانو مشابهت اختياروی.

د دې حديث په عموم کښې به د زنانو د سر ويښته وارۀ کول د سړو په شان او د سړو ګيره خرئيل داخل شی چه پکښې د خلقو اکثريت مبتلا دې، والله الهادی.... والحديث اخرجه البخاري والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[۴۰۹۸] (۲) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ، وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ".

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه رسول کريم په هغه نارينه باندې لعنت فرمائيلې دې څوک چه دزنانو لباس اغوندي، اونبی عليه السلام په هغه زنانه باندې هم لعنت فرمائيلې دې څوک چه دسړو لباس اغوندي.

[۴۰۹۹] (۳) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ لُوَيْنٌ وَبَعْضُهُ قِرَاءَةً عَلَيْهِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: قِيلَ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: إِنَّ امْرَأَةً تَلْبَسُ النَّعْلَ، فَقَالَتْ "لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَةَ مِنَ النِّسَاءِ".

د ابن ابی مليکه نه روايت دي فرمائی چه دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه تپوس اوکړې شو دهغه زنانه په باره کښې کومه چه دنارينو پيزار اغوندي ام المومنين ورته اوفرمائيل نبی کريم و په هغه ښځه باندې لعنت فرمائيلې دې کومه چه دځان نه سړه جوړوي.

﴿ قِيلَ لِعَائِشَةَ رضى الله عنها إِنَّ امْرَأَةً تَلْبَسُ النَّعْلَ. فَقَالَتْ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– الرَّجُلَةَ مِنَ النِّسَاءِ ﴾ عائشې صديقې رضي الله عنها ته چا اووې چه يو زنانه د سړو څپلۍ په خپو کوی نو هغې اوفرمائيل چه رسول الله ﷺ لعنت فرمائيلې دې په هغه زنانه باندې چه رجله وی، يعنی د سړو سره مشابهت اختيار کونکې.

(۱): صحيح البخاري/اللباس ۶۱ (۵۸۸۵)، الحدود ۳۳ (۶۸۳۴)، سنن الترمذي/الأدب ۳۴ (۲۷۸۴)، سنن ابن ماجه/النكاح ۲۲ (۱۹۰۴)، (تحفة الأشراف: ۶۱۸۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۵۱، ۲۵۴، ۳۳۰، ۳۳۹)، سنن الدارمي/الاستئذان ۲۶ (۲۶۹۱) (صحيح)

(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۲۶۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۲۵) (صحيح)

(۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۲۵۱) (صحيح)

بَابٌ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى {يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ}

د الله تعالى ددې قول (يدنين عليهن من جلابيبهن) تفسير

[۴۱۰۰]([1]) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُهَاجِرٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا "أَنَّهَا ذَكَرَتْ نِسَاءَ الْأَنْصَارِ، فَأَثْنَتْ عَلَيْهِنَّ، وَقَالَتْ: لَهُنَّ مَعْرُوفًا، وَقَالَتْ: لَمَّا نَزَلَتْ سُورَةُ النُّورِ عَمَدْنَ إِلَى حُجُورٍ أَوْ حُجُوزٍ شَكَّ أَبُو كَامِلٍ، فَشَقَقْنَهُنَّ فَاتَّخَذْنَهُ خُمُرًا".

دصفيه بنت شيبه نه روايت دي فرمائي. چه يوځل ام المومنين عائشي رضي الله عنها نه دانصارود زنانو ذکر کول دهغوی تعريف ئې وکړو اوهغوی ته ئې نيکي خبرې اوکړې اووئې فرمائيل کله چه دسورة نور دا ايت: «قل للمومنت يغضضن» نازل شو نوهغوی دپردو پالنګونونه دراوی شک دي، لوپټې جوړې کړې.

﴿عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّهَا ذَكَرَتْ نِسَاءَ الأَنْصَارِ فَأَثْنَتْ عَلَيْهِنَّ وَقَالَتْ لَهُنَّ مَعْرُوفًا﴾

د حديث دا ټکړه په باب غسل الحيض کښې هم تيره شوې ده ﴿ نعم النساء نساء الانصار لم يكن يمنعهن الحياء ان يتفقهن فى الدين ﴾

﴿ وَقَالَتْ لَمَّا نَزَلَتْ سُورَةُ النُّورِ عَمَدْنَ إِلَى حُجُورٍ - أَوْ حُجُوزٍ شَكٌّ - فَشَقَقْنَهُنَّ فَاتَّخَذْنَهُ خُمُرًا ﴾

هغوی فرمائی چه کله دا سورة نازل شو چه په هغې کښې دا آيت دې ﴿ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ ﴾ نو هغوی قصد اوکړو د خپلې ملا ټکړو ته اوکټل او د دې نه مراد دا دې چه د بعض علاقو زنانه يو ځادر لره راټولولو سره د ملا په مينځ کښې اوتړی. يعنی وړې وړې ټوټې کولو سره ئې په خپلو سرونو باندې واچوی، يعنی په ملا باندې تړلې شوې کپړې ئې ډيرې اوږدې وې چه د هغې د مختصر کولو ګنجائش وو په دې وجه هغوی داسې اوکړل چه په هغې کښې ئې يو يو ټکړه پرې کړه چه په هغې باندې سر پټ کړی د هغې نه ئې خمار جوړ کړو، ﴿ حجوز ﴾ جمع ده د ﴿ حجزة ﴾ ده او په دې روايت کښې دويم لفظ د حجور د راوی د شک په طور ذکر شوې دې د هغې دلته هيڅ معنی نه جوړيږی.

د آيت کريمه سبب د نزول دا ليکلې شوې دې چه د دې انصاری زنانو ګريوانونه کهلاؤ کهلاؤ وو چه د هغې نه به ئې سينې ښکاره کيدې، او د لوپټو په باره کښې د هغوی عادت دا وو چه هغه به ئې په سر باندې اچولو سره شاته زړوروندولې ، لهذا هغوی ته حکم اوکړې شو د شاته اچولو په ځائې ئې وړاندې اچوئ چه په هغې سره سينه پټه شی.

بَابٌ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى {وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ}

د الله تعالى ددې قول (وليضربن بخمرهن على جيوبهن) تفسير

په دې باب کښې مصنف رحمه الله دوه احاديث ذکر کړې دی يو د ام سلمه رضي الله عنها ﴿ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتْ (يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ) خَرَجَ نِسَاءُ الأَنْصَارِ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِهِنَّ الْغِرْبَانُ مِنَ الأَكْسِيَةِ ﴾

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۴۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري /تفسير القرآن (النور) ۱۲ (۴۷۵۸، ۴۷۵۹)، مسند احمد (۱۸۸/۶) (صحيح الإسناد)

[٤١٠١]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ ابْنُ ثَوْرٍ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "لَمَّا نَزَلَتْ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ خَرَجَ نِسَاءُ الْأَنْصَارِ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِهِنَّ الْغِرْبَانَ مِنَ الْأَكْسِيَةِ".

دام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي هركله چه ايت: «يدنين عليهن من جلابيبهن» نازل شونو چه كله به دانصارو ښځې دكورونو وتلې نوداسې به ښكاريدلې لكه په سورونو چه پې كارغان ناست وي.

دا آيت كريمه كوم چه په دې حديث كښې ذكر شوې دې د سورة احزاب دې چه په هغې كښې داسې دى: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا (٥٩) ﴾

په دې آيت كريمه كښې زنانو ته د پردې حكم دې چه خپلې څادرې په خپل ځان باندې په ښه طريقې سره اچوئ، ام سلمه رضي الله عنها فرمائي چه د دې آيت كريمه د نزول نه پس چه كله انصارى زنانه په دې آيتونو باندې عمل كونكې د كورونو نه اوتلې (نو چونكه اوس هغوى خپلې څادرې په خپلو سرونو او باقى بدنونو باندې په ښه طريقې سره اچولې وې او د ټولو سرونو په تورو څادرونو باندې پټ شوې وو نو كتونكى ته به داسې ښكاريده) لكه چه د هغوى په سرونو باندې كارغان ناست دى.

غربان په وزن د غلمان، د غراب جمع ده چه تور وى، په كومو څادرونو سره چه هغوى خپل سرونه پټ كړې وو چونكه هغه د تور رنګ وو چه په هغې سره د هغوى سرونه د كارغانو سره مشابه شو، دا حديث د ام سلمه رضي الله عنها د ترجمه اولى سره مناسب دې نه د ترجمه ثانيه سره او د اول باب په ضمن كښې چه كوم د عائشې رضي الله عنها حديث ذكر شوې دې چه په هغې كښې د سورة النور حواله ده ﴿ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ ﴾ هغه حديث د دې دويم ترجمه سره مناسب دې يعنى معامله برعكس شوه.

او د دې باب ثانى حديث ثانى دا دې:

[٤١٠٢]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ ح وحَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ وَابْنُ السَّرْحِ، وَأَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، قَالُوا: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي قُرَّةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَعَافِرِيُّ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: "يَرْحَمُ اللَّهُ نِسَاءَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلَ لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ سورة النور آية ٣١ شَقَقْنَ أَكْنَفَ"، قَالَ ابْنُ صَالِحٍ: أَكْثَفَ مُرُوطِهِنَّ، فَاخْتَمَرْنَ بِهَا.

عروة بن الزبير قدام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت كوى فرمائي چه ام المومنين اوفرمائيل الله تعالى دې په هغه زنانو باندې رحم وكړي چاچه دټولونه مخكښې هجرت كړې دې، كله چه الله تعالى دا ايت كريمه: «وليضربن بخمرهن على جيوبهن» نازل كړونو هغوى دخپلوپردونه دځان دپاره لوپټې جوړې كړې ګوياكښې هغوى په همدغه وخت كښې دحكم تعميل وكړو ابن صالح په خپل روايت كښې داكنف په ځائې باندې اكثف لفظ بيان كړې دې.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٢٨١) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، انظر رقم حديث: (٤١٠٠)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٦٧، ١٦٥٧٧) (صحيح)

﴿ عَنْ عَائِشَةَ – رضى الله عنها – أَنَّهَا قَالَتْ يَرْحَمُ اللَّهُ نِسَاءَ الْمُهَاجِرَاتِ الأُوَلَ لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ (وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ) شَقَقْنَ أَكْنَفَ – قَالَ ابْنُ صَالِحٍ أَكْنَفَ – مُرُوطِهِنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهَا ﴾

په دې حديث کښې د مهاجرو زنانو ذکر دې چه کله دا آيت کريمه نازل شو ﴿وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ﴾ نو دې زنانو داسې اوکړل چه په خپلو څادرو کښې ئې چه کوم د ټولو نه پير وو د هغې ټکړې کولو سره ئې ترې نه لوپټې جوړې کړې.

د عائشې صديقې رضي الله عنها کوم حديث چه په اول باب کښې راغلې دې په هغې کښې هم د دې آيت ذکر دې کوم چه دلته ذکر کړې شوې دې يعنى د سورة نور آيت، خو هلته نساء الانصار ذکر وو او دلته نساء المهاجرات، لهذا د دواړو احاديثو د يو ځائې کولو نه معلومه شوه چه په دې آيتونو کښې د نساء الانصار تخصيص نشته لکه چه د اول حديث نه شک پيدا کيدو او نه د مهاجراتو تخصيص دې لکه چه د بل باب د حديث نه شبه کيږي بلکه دا د دواړو په حق کښې دې.

نزول حجاب، او د حجاب متعلق د ايتونو او رواياتو توضيح :

د دې دواړو ابوابو تعلق د حجاب سره دې او مونږ د کتاب اللباس نه بحث کوو، امام بخارى رحمه الله د حجاب مسئله په کتاب الاستيذان کښې ذکر کړې ده، په سنن ابوداؤد کښې د استيذان بيان د کتاب په آخرى حصه کښې دې، د کتاب الادب په آخرى حصه کښې ئې مختصرا ذکر کړې دې. امام بخارى رحمه الله ترجمه قائم کړې ده ﴿ باب اية الحجاب ﴾ او په هغې کښې ئې دوه قصې ذکر کړې دى يو د زينب بنت جحش رضي الله عنها د وليمې او دويمه د سيدنا عمر رضي الله عنه د سوده رضي الله عنها متعلق...... د اول قصې حاصل دا دې د کوم راوى چه انس رضي الله عنه دې چه د مسئله حجاب په قصه باندې د ټولو نه زيات زه خبر يم او بيا هغوى دنزول حجاب واقعه بيان کړه هغه دا چه رسول الله ﷺ زينب بنت جحش رضي الله عنها سره د نکاح کولو نه پس او د رخصتئ نه پس سحر خلق د وليمې په دعوت کښې راوغوښتل نو اکثر خلق د خوراک کولو نه پس لاړل، خو بعض خلق د فارغ کيدو نه پس په خبرو کښې مشغول شو او د ډير ساعته پورې ئې خبرې کولې، رسول الله ﷺ په شروع کښې انتظار اوکړو د هغوى د پاسيدو، چه کله هغوى پانه سيدل ځکه چه هغوى د رسول الله ﷺ په طبيعت باندې پوهه شوې نه وو نو رسول الله ﷺ دا صورت اختيار اوفرمائيلو (١) چه د هغوى د پاسولو دپاره رسول الله ﷺ خپله د کور نه بهر تشريف يوړلو او د ترمذى په روايت کښې دى چه زينب رضي الله عنها (د کومې ناوې د وادۀ چه دا دعوت وو) په کور کښې يو طرف ته مخ کړې ناسته وه........ سيدنا انس رضي الله عنه فرمائى چه د حضور ﷺ سره زه هم د کور نه اوتلم او حضور ﷺ د هلته نه وتلو سره د عائشې رضي الله عنها حجرې ته تشريف يوړو چه ورسره نزدې وه. زه هم د هغوى سره يوځائې لاړم، لږ ساعت پس هغوى د هغه ځائې واپس شو په دې ګمان چه غالبا اوس به هغه خلق هم بهر راغلې وى چا چه دننه خبرې کولې خو کور ته داخليدو سره ئې اوکتل چه زينب رضي الله عنها ناسته ده او هم هغه څو سړى هغه شان ناست دى، رسول الله ﷺ بيا د کور نه راواپس شو او زه هم د

(١) په روايت کښې دى چه رسول الله ﷺ هغوى ته د تلو په امر باندې شرميدو)

هغوی سره سره، او حضور ﷺ دې ځل هم د عائشې ﷞ حجرې ته تشریف یوړلو، بیا چه کله رسول الله ﷺ ګمان اوکړو چه اوس به هغوی واپس تلې وی نو هغوی د هغه ځائې نه واپس کیدو سره کور ته داخل شو چه او ئې کتل نو هغه خلق تلې وو، هغوی سره زه هم کور ته داخلیدم نو هغوی زما او خپل مینځ کښې حجاب حائل کړو او د ایت کریمه نازل شو:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ ﴾.......

او دویمه قصه د سوده ﷞ دا ده عائشه ﷞ روایت کوی چه سیدنا عمر ﷛ به رسول الله ﷺ ته فرمائیل چه په خپلو بیبیانو باندې پرده کوئ. ﴿ قالت فلم یفعل ﴾ عائشه ﷞ فرمائی چه رسول الله ﷺ د عمر ﷛ په وینا باندې عمل اونکړو، وړاندې هغه فرمائی چه ازواج مطهرات به د استنجاء دپاره د شپې بهر وتلې، یو ځل ام المومنین سوده بنت زمعه ﷞ اوتله چه په قد کښې ښه اوږده وه، عمر ﷛ هغه د لرې نه اولیده نو هغوی اوفرمائیل: ﴿ عرفناک یا سودة ﴾ چه اې سوده مونږ ته اوپیژندلې، په تلو کښې په لیدو باندې..... ﴿ حرصا علی ان ینزل الحجاب ﴾ یعنی هغوی دا خبره په دې خیال باندې اوفرمائیله چه په څه طریقه باندې د حجاب حکم نازل شی. ﴿ قالت فانزل الله عزوجل اية الحجاب ﴾ یعنی په دې باندې د حجاب حکم نازل شو.

نزول حجاب د زینب د وجې نه اوشو که د سوده ﷞ د وجې نه:

په دې دواړو روایتونو کښې چه په ظاهره کوم تعارض دې چه په یو روایت کښې د نزول حجاب نسبت د زینب ﷞ قصې ته کړې شوې دې، او په بل روایت کښې د سوده ﷞ قصې ته کړې شوې دې د دې یو توجیه دا کړې شوې ده چه د دواړو قصو د پیښیدلو نه پس د حجاب نزول اوشو، لهذا دواړو ته د نزول نسبت صحیح دې، دا یو مشهوره او عام توجیه ده کومه چه د دې قسم تعارض د دفع کولو دپاره کیدلې شی. او د بعض شارحینو رائې دا ده چه د آیت حجاب نزول خو د زینب ﷞ د قصې د وجې نه شوې دې چه په هغې کښې مطلق د حجاب حکم دې کوم چه تر اوسه پورې نه وو، او د سوده ﷞ په حدیث کښې چه عمر ﷛ کومه پرده غوښتله نو هغه عام پرده نه وه بلکه د هغې تعلق د خاص حریم نبوی سره وو، عمر ﷛ دا غوښتله چه ازواج مطهرات سره د مخونو او د بدنونو د پردو هم پټې وی په هیڅ طریقه دې په هغوی باندې د یو پردی سړی نظر او نه لګی. خو د عمر ﷛ دا خواهش پوره نه کړې شو، خو په دې رائې کښې دا اشکال دې چه په حدیث کښې خو د سوده ﷞ قصې نه پس هم دا دی ﴿ فانزل الله اية الحجاب ﴾ (١)

په صحیح بخاری کښې د دې سلسلې روایات په ډیرو ځایونو کښې دی اولا په ابواب الوضوء کښې، ثانیا په تفسیر د سورة احزاب کښې، او د هغې نه پس بیا په کتاب الاستیذان کښې او د هغې خپل مینځ کښې تعارض هم دې، په قصه د سوده ﷞ کښې په یو ځائې کښې داسې دی: ﴿ انه کان بعد ما ضرب الحجاب ﴾ او په کتاب الوضوء کښې چه کوم روایت دې د

(١) دې باره کښې زمونږ یو خاص رائې ده کومه چه وړاندې راځی

هغې نه معلومیږي چه د واقعه د قبل الحجاب ده، د دې تعارض په دفع کولو کښې هم شارحین د حدیثو مختلف دی، او حافظ د دې اختلافاتو توجیه کولو سره یو ځائې کښې (کتاب الوضوء) دا هم وئیلې دی: ﴿والمراد باية الحجاب في بعضها قوله تعالى : ﴿ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ﴾ اهـ﴾ مونږ چه په کوم باب کښې بحث کوو په هغې کښې رومبې هم په دې آیت کریمه باندې دې. ([1])

ځان پوهه کول پکار دی چه د حجاب په مراتبو او درجات باندې شارحینو د حدیث او هم دغه شان فقهاء کرامو په تفصیل سره کلام کړې دې، مونږ خو دلته ضمنا په انتهائی اختصار سره د مقام د مناسبت سره لیکل کړې دی، حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله په معارف القرآن کښې د آیات حجاب په تفسیر کښې په مسئله د حجاب باندې کافی مفصل مدلل او مرتب بحث کړې دې.

د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د زنانو د پردو سره نه مخ پټول:

د دې ټولو خبرو باوجود بعضو دنیاوی تعلیم یافته چاته چه دینی مسائل په ښه طریقه باندې یاد نه وی، هغوی په مسائل شرعیه کښې دخل اندازی کوی، داسې قسم خلق په مسئله د حجاب کښې هم شکوک او شبهات پیدا کوی او دا هم وائی چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د مخ د پټولو دستور نه وو، حال دا چه دا خبره غلطه ده د مخ د پټولو ثبوت د روایاتو نه ثابت دې پس په ابوداؤد کښې د عائشې رضی الله عنها روایت دې:

﴿عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ محرمات مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا على وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ﴾

عائشه رضی الله عنها د خپل سفر حج په باره کښې د لارې کیفیت بیانوی چه کله مونږ د احرام په حالت کښې د رسول الله ﷺ سره روانې وو نو زمونږ مخې ته به نور قافله سوارهٔ هم تیریدل چه کله به هغوی مونږ ته رانزدې شو نو مونږ به خپل څادرونه ښکته کړل او پرده به مو اوکړه بیا چه به کله هغوی تیر شو نو مونږ به خپل مخ ښکاره کړو، او دا روایت د حج په سفر کښې د زنانو د نورو مخکښې په مخ پټولو کښې صریح دې، په دې باندې د ﴿ امراءة خثعميه ﴾ د قصې نه اشکال کیدلې شی د هغې جواب ښکاره دې چه هلته مخ ښکاره کول د حاجت د وجې نه ؤو

[1] وفي العيني نقلا عن الكرماني : الحجاب أي حكم الحجاب يعني حجاب النساء عن الرجال فأنزل الله آية الحجاب ويحتمل أن يراد بآية الحجاب الجنس فيتناول الآيات الثلاث قوله تعالي (يا أيها النبي قل لأزواجك وبناتك ونساء المؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن) الآية وقوله تعالي (وإذا سألتموهن متاعا فاسألوهن من وراء حجاب) وقوله تعالي (وقل للمؤمنات يغضضن من أبصارهن ويحفظن فروجهن ولا يبدين زينتهن إلا ما ظهر منها وليضربن بخمرهن علي جيوبهن) الآية او د دې نه مخکښې شورع کښې مشروع بحث د حجاب کښې علامه عینی لیکلې دی چه: الحجب ثلاثة الأول الأمر بستر وجوههن يدل عليه قوله تعالي (يا أيها النبي قل لأزواجك وبناتك ونساء المؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن) الثاني هو الأمر بإرخاء الحجاب بينهن وبين الناس يدل عليه قوله تعالي (وإذا سألتموهن متاعا فاسألوهن من وراء حجاب) الثالث هو الأمر بمنعهن من الخروج من البيوت إلا لضرورة شرعية فإذا خرجن لا يظهرن شخصهن كما فعلت حفصة يوم مات أبوها سترت شخصها حين خرجت وزينب عملت لها قبة لما توفيت (د قبه نه مراده خانګو ده چه د هغې نه په نعش سره تعبیر کوی کما سبق في كتاب الجنائز) وكان لهن في التستر عند قضاء الحاجة ثلاث حالات -الي آخر ما ذكر (عيني ۲۶۸/۲)

يعنی حاجت د سوال چه هغې د رسول اللهﷺ نه يو مسئله تپوسله، ښکاره ده چه د نورو حاضرينو نظر دې وخت کښې د هغوی طرف ته نه وو، د صحابه کرامو﷢ په احوال کښې دا خبره مشهوره ده چه هغوی به د رسول اللهﷺ په مجلس کښې او د هغوی مخکښې سرونه ښکته کړي وو، ﴿کان علی رؤسهم الطير﴾ خو د رسول اللهﷺ د ترۀ ځوئې حضرت فضل بن عباس﷠ کوم چه هغه وخت کښې په رسول اللهﷺ پسې شاته ناست وو د هغوی په باره کښې په رواياتو کښې راځی چه هغوی دغه وخت کښې دغه زنانه ته اوکتل خو هم په دې روايت کښې د دې هم تصريح ده چه رسول اللهﷺ په خپل لاس مبارک باندې د هغوی مخ بل طرف ته واړولو. ﴿رايت شابا وشابة فلم امن الشيطان عليهما﴾ يعنی دواړه ځوانان دی په دې وجه د فتنې ويره وه. معلومه شوه چه د زنانه دپاره چه د مخ ښکاره کولو ته جائز وئيلې شوې دی د هغې تعلق د مانځه سره دې چه په هغې کښې د مخ پټول ضروری نه دی د هغې نه مراد پردو سړو ته مخ ښکاره کول نه دی لهذا پردو سړو ته مخ ښکاره کول مطلقا لکه چه د سفر حج د روايت نه معلومه شوه يا کم از کم د فتنې د ويرې په وخت لکه چه د حديث الخثعمية نه معلومه شوه ناجائز دی، او هم دا خبره فقهاء کرام فرمائی، حديث الخثعميه او په هغې باندې کلام په کتاب الحج باب الرجل يحج عن غيره کښې تير شوې دې، هغې طرف ته رجوع اوکړئ.

تنبيه : د سوده﷞ په قصه کښې چه راځی چه ﴿فانزل الله اية الحجاب﴾ د دې په مقابله کښې په کتاب التفسير کښې يو روايت داسې دې چه د هغې مضمون داسې دې چه د نزول حجاب نه پس سوده﷞ د خپل څه حاجت دپاره د کور نه بهر اوتله، او دا په بدن باندې غټه زنانه وه چه په ليدو سره به پيژندلې کيده، عمر﷜ هغوی په تلو سره اوليده نو د هغې د کور نه په وتلو باندې ئې اوټوکله، هغه د هغوی په ټوکلو باندې واپس شوه، عائشه﷞ فرمائی چه هغه وخت رسول اللهﷺ زما په کور کښې وو، سوده﷞ راغله او د عمر﷜ شکايت ئې اوکړو، عائشه﷞ فرمائی چه په رسول اللهﷺ باندې د وحی آثار ښکاره شو بيا چه کله هغه آثار لاړل نو هغوی اوفرمائيل : ﴿انه قد اذن لکن ان تخرجن لحاجتکن﴾ چه د هغې مطلب دا شو چه د عمر﷜ خواهش پوره نه کړې شو او څه چه هغوی غوښتل يعنی د مطلق خروج نه منع کول د هغې حکم زنانو ته اونکړې شو، بلکه د خروج للحاجة اجازت ورکړې شو.

ايقاظ :

زمونږ خيال دا دې[1] چه په کومو روايتونو کښې چه د سوده﷞ د قصې په باره کښې راځی ﴿فانزل الله اية الحجاب﴾ هغه غالبا د راويانو تصرف دې، اصل وحی کومه چه په رسول اللهﷺ باندې په دې موقع نازله شوې وه هغه د نزول حجاب نه وه، نزول حجاب خو د دې نه مخکښې په قصه د زينب بنت جحش کښې شوې وو، د عمر﷜ د واقعې نه پس کومه چه د سوده﷞ سره پيښه شوه په هغې کښې چه د کومې وحې نزول شوې وو[2] هغه خو دا دې کوم

---

[1]) وقد ابدي هذا الاحتمال العزيز المولوي حبيب الله سلمه الله تعالي)

[2]) هغې ته آيت د حجاب په دې لحاظ سره وئيلې شی چه د هغې تعلق د حجاب سره دې اګر چه نفيا دې والله تعالي اعلم.... لکن يشکل عليه لفظ آية اللهم الا ان يقال ان المراد بالآية الوحي اي غير المتلو.

چه په دې روایت کښې مصرح دي، په دې صورت کښې د دوه احادیثو خپل مینځ کښې تعارض چه د یو نه معلومیږی چه نزول د حجاب په قصه د زینب کښې اوشو او د یو روایت نه معلومیږی چه په قصه د سوداء کښې شوې وو دا تعارض به اوس نه پیښیږی، خو یو شارح هم دې طرف ته توجه نه ده کړې، والله اعلم بالصواب.

امام بخاری رحمه الله د حجاب مسئله د کتاب الاستیذان په ضمن کښې ذکر فرمائیلې ده او امام ابوداؤد رحمه الله په کتاب اللباس کښې او هم دا زیات اولی معلومیږی، ځکه چه د حجاب تعلق د لباس سره دې. او استیذان د حجاب نه علاوه یو مستقل څیز دې چه د هغې په باره کښې په سورة نور کښې دوه آیتونه نازل شوې دی یو دهغې په شروع کښې، ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا﴾ او دویم آیت کریمه د هغې په آخر کښې ﴿لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ﴾ ملا علی قاری رحمه الله په مرقات کښې فرمائی چه د استیذان معنی طلب الاذن دی، او اصل په دې کښې دا آیت کریمه دې (د سورة النور اولنې آیت) او حافظ ابن کثیر رحمه الله د آیت ثانیه په باره کښې فرمائی چه دا ایت د الاستیذان الاقارب بعضهم علی بعض باندې مشتمل دې، او په آیت اولی کښې استیذان الاجانب بعضهم علی بعض ذکر دې، هکذافی الابواب والتراجم.

ایت د استیذان د ایت حجاب نه مقدم دې:

او په هغې کښې دا هم دی چه په تاریخ خمیس کښې د ایت ثانیه په باره کښې لیکلې دی چه د هغې نزول په ۱۰ هجری کښې شوې دې، د دې نه پس حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه ظاهر دا ده چه آیت اولی د دې نه مخکښې نازل شوې دې لکن لم ار التصریح بذلک، وفی التفسیر الکبیر ما یوئد هذا.... الی آخر ما فیه... او نزول د حجاب د دې نه مخکښې دې ځکه چه د حضرت زینب نکاح په یو قول کښې په ۵ هجرئ کښې شوې او په یو قول کښې په دریمه هجرئ کښې شوې کما فی المواهب اللدنية، للقسطلانی ۸۸/۲ او هم دا دوه اقوال علامه عینی نقل کړې دی او دریم قول ذوالقعده ۴ هجری دې.

[۴۱۰۳](1) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، قَالَ: رَأَيْتُ فِي كِتَابِ خَالِي عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ.

ابن السرح ویلي دي چه ما دخپل ماما په کتاب کښې داسې لیدلې دي چه دعقیل په واسطه ئې دابن شهاب نه ددې روایت په شان روایت بیان کړې دې.

بَابٌ فِيمَا تُبْدِي الْمَرْأَةُ مِنْ زِينَتِهَا(2)

بابه ښځې کوم قسم سنګار ښکاره کولې شي؟

[۴۱۰۴](3) حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْطَاكِيُّ، وَمُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ خَالِدٍ، قَالَ يَعْقُوبُ بْنُ دُرَيْكٍ: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ دَخَلَتْ

(1): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (٤١٠٠)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٦٧، ١٦٥٧٧) (صحيح)

(2) لعل المراد بالزينة محلها كما قال المفسرون في تفسير قوله تعالي ولا يبدين زينتهن الاية)

(3): تفرد به ابو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٠٦٢) (صحيح)

عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ، فَأَعْرَضَ عَنْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: "يَا أَسْمَاءُ إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ تَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلَّا هَذَا وَهَذَا، وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا مُرْسَلٌ خَالِدُ بْنُ دُرَيْكٍ لَمْ يُدْرِكْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دي فرمائي چه اسماء بنت ابی بکر دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضره شوه اونرئ جامې ئې په غاړه وې نونبی علیه السلام دهغې دطرف نه مخ واړولو او ورته ئې اوفرمائیل اې اسماء کله چه یوه جینئ دحیض راتلو وخت ته ورسیږي نودهغې دپاره جائزندي چه دهغې دجسم نه څه حصه علاوه ددې نه ښکاره شي اودهغې مخ اولاسونوته ئې اشاره وکړه امام ابوداؤد فرمائي چه دا روایت مرسل دې دخالد بن دریک ملاقات اولیدل دعائشې سره ثابت نه دی.

﴿ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِى بَكْرٍ دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَأَعْرَضَ عَنْهَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم الخ ﴾

عائشه رضی الله عنها فرمائي چه زما خور اسماء رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله یعني زمونږ کور ته او رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته موجود وو نو هغه وخت هغې نرئ او سپکې جامې اغوستلې وې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې نه مخ واړولو او وې فرمائیل : اې اسماء ! زنانه چه کله بلوغ ته اورسیږی نو د هغې دپاره جائز نه دی چه د هغې بدن ښکاره شی سوا د دې او دې نه، رسول الله صلی الله علیه وسلم مخ او لاسونو ته اشاره اوفرمائیله.

یعنې د وجه او کفین نه علاوه چه د بدن کومه نوره حصه ده د هغې ښکاره کول خو په هیڅ حال کښې جائز نه دی نه په کور کښې او نه خارج د کور نه صرف دا دوه اجزاء داسې دی د بدن چه د هغې ښکاره کول جائز دی، اعنی داخل الدار او عند عدم حضور الاجانب (والدلیل علی هذا القید قرینة الحال اذ القصة قصة داخل الدار)

بَابٌ فِي الْعَبْدِ يَنْظُرُ إِلَى شَعْرِ مَوْلَاتِهِ

آیا غلام د خپلې مالکې د سر ویښتو ته کتلې شي؟

[٤١٠٥] (١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَابْنُ مَوْهَبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ: "أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ اسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحِجَامَةِ فَأَمَرَ أَبَا طَيْبَةَ أَنْ يَحْجُمَهَا، قَالَ: حَسِبْتُ أَنَّهُ، قَالَ: كَانَ أَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ أَوْ غُلَامًا لَمْ يَحْتَلِمْ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه ام سلمه رضی الله عنها دنبی علیه السلام نه دښکرلګولو په باره کښې اجازت وغوښتو نونبی علیه السلام ابوطیبه ته حکم اوکړو چه ښکر ورته ولګوي جابر وائي زماخیال دی چه هغه اووئیل ابوطیبه ددې رضاعي ورور وو او یا یو نابالغ هلک وو.

﴿ عَنْ جَابِرٍ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ اسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِى الْحِجَامَةِ فَأَمَرَ أَبَا طَيْبَةَ أَنْ يَحْجُمَهَا. قَالَ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ كَانَ أَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ أَوْ غُلَامًا لَمْ يَحْتَلِمْ ﴾

[1]: صحيح مسلم/السلام ٢٦ (٢٢٠٦)، سنن ابن ماجه/الطب ٢٠ (٣٤٨٠)، (تحفة الأشراف: ٢٩٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٥٠) (صحيح)

جابر رضي الله عنه فرمائی چه ام سلمه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ نه اجازت طلب کړو د ښکر لګولو نو رسول الله ﷺ ابوطيبه ته حکم اوکړو هغې ته د ښکر لګولو، راوی وائی چه ماته يادېږی چه جابر رضي الله عنه دا هم فرمائيلي وو چه دا ابوطيبه د ام سلمه رضي الله عنها رضاعی رور وو يا نابالغ هلک وو.

مطابقة الحديث للترجمة :

په ترجمة الباب کښې د نظر الى شعر المراة ذکر دې او ښکر دېر کرته د بدن په هغه حصو باندې لګولې شی کوم چه د عورت په حد کښې داخل دی، او رسول الله ﷺ اجازت مطلقا اوکړو دغه شان به ئې د ترجمې سره مناسبت پيدا شی، د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت په يو لحاظ سره خو پيدا شو خو په ترجمه کښې قيد د خپل غلام دې چه د زنانه غلام د هغې د سر وېښته ليدلې شی يا نه، د دې جواب زما په ذهن کښې دا دې چه په دې حديث کښې د مصنف رحمه الله غرض د ترجمة الباب اثبات نه دې د دې اثبات خو د باب د حديث ثانی نه کيږی، دا روايت خو مصنف دلته استطرادا او تقريبا للمرام راوړې دې.

هل العبد محرم لسيدته ام لا؟ :

په ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله ذکر ده د هغې حاصل دا دې چه د زنانه غلام د هغې محرم دې يا نه؟ دا مسئله سره د اختلاف د ائمه نه د ابواب العتق په رومبی باب کښې تيره شوې ده. والحديث اخرجه مسلم وابن ماجه، قاله المنذری

[٤١٠٦]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا أَبُو جُمَيْعٍ سَالِمُ بْنُ دِينَارٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى فَاطِمَةَ بِعَبْدٍ كَانَ قَدْ وَهَبَهُ لَهَا، قَالَ: وَعَلَى فَاطِمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ثَوْبٌ إِذَا قَنَّعَتْ بِهِ رَأْسَهَا لَمْ يَبْلُغْ رِجْلَيْهَا، وَإِذَا غَطَّتْ بِهِ رِجْلَيْهَا لَمْ يَبْلُغْ رَأْسَهَا، فَلَمَّا رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَلْقَى قَالَ: إِنَّهُ لَيْسَ عَلَيْكِ بَأْسٌ إِنَّمَا هُوَ أَبُوكِ وَغُلَامُكِ".

د انس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فاطمې رضي الله عنها ته يو غلام بوتلو کوم چه ئې هغې ته هبه کړې وو او په دې وخت کښې فاطمې رضي الله عنها داسې جامه اغوستلې وه که چرې هغې وړباندې سر پټولې نو دپندو پورې نه رسيده اوکه چرې خپې ئې وړباندې پټولې نو سرته نه رسيده نبی عليه السلام چه کله فاطمه په دې مشکل کښې وليدله نو وئې فرمائيل په دې کښې هيڅ خرج نشته ځکه چه دا والد دې او بل ستا غلام دې.

﴿عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– أَتَى فَاطِمَةَ بِعَبْدٍ قَدْ وَهَبَهُ لَهَا الخ﴾

رسول الله ﷺ فاطمې رضي الله عنها ته يو غلام راوستلو، فاطمې رضي الله عنها د هغې غلام نه پرده کول شروع کړل خو څادر ئې وړوکې وو که سر به ئې پټولو نو خپې به ئې ښکاره کيدې او که خپې به ئې پټولې نو سر به ئې ښکاره کيدو نو رسول الله ﷺ په دې ليدو باندې اوفرمائيل چه د پټولو فکر ولې کوې اوس دې وخت کښې خو په کور کښې ستا پلار او هم ستا غلام دې....

کوم حضرات چه د زنانه غلام د هغې محرم نه منی هغوی د دې تاويل دا کوی چه ﴿ ان هذا العبد کان صغيرا لاطلاق لفظ الغلام، ولانها واقعة حال الى آخرما ذکرمن المسئلة ودليلها فی البذل﴾

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٩٩) (صحيح)

باب في قوله {غير أولي الإربة}
د الله تعالى ددې قول (غير اولى الاربة) تفسير

دا لفظ په ترجمة الباب كښ ذكر دې د سورة نور په يو اورېد آيت ﴿ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ ﴾ په آخر كښ دى ﴿ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ ﴾ يعنى كوم سړى چه داسې دى چاته چه د شهوت نه كيدو په وجه باندې د زنانو حاجت نشته لكه بعض مخنث او عنين نو دا په هغې كښ دى چه د هغوى مخكښ د مواضع زينت ابداء جائز ده. څنګه چه د اباء او خامنو او د خاوندانو دپاره جائز دې.

[٤١٠٧]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ ثَوْرٍ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَهِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُخَنَّثٌ فَكَانُوا يَعُدُّونَهُ مِنْ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ، فَدَخَلَ عَلَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَهُوَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ وَهُوَ يَنْعَتُ امْرَأَةً، فَقَالَ: "إِنَّهَا إِذَا أَقْبَلَتْ أَقْبَلَتْ بِأَرْبَعٍ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ أَدْبَرَتْ بِثَمَانٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَا أَرَى هَذَا يَعْلَمُ مَا هَاهُنَا، لَا يَدْخُلَنَّ عَلَيْكُنَّ هَذَا فَحَجَبُوهُ".

عروه دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت كوى چه هغې فرمائيلي دي چه په ازواجو مطهراتو كښې ديوي تنې دخدمت دپاره به يوهجرا راتلو او دوى به هغه د غير اولي الاربه دجملي نه ګڼړلو يوه ورځ زمونږ خواته نبى عليه السلام راغې او په دې وخت كښې دغه هجراهم ناست وو اوديوي ښځې تعريف ئې كولو اووئيل ئې كله چه دغه زنانه مخامخ راشي نوڅلور راوړي اوكله چه روانه شي نواته راوړي نبى عليه السلام اوفرمائيل زماخيال دي چه دې هم دزنانو د خبرونه خبر دې ددينه پس دې دې ستاسو خواته نه راځى نوازواج مطهراتو دده نه پرده كول شروع كړل.

قوله:﴿ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أَزْوَاجِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- مُخَنَّثٌ فَكَانُوا يَعُدُّونَهُ مِنْ غَيْرِ أُولِي الإِرْبَةِ الخ﴾

شرح الحديث:

عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائى چه يو مخنث به زمونږ كورونو ته تلو راتلو مونږ هغه په ﴿ غير اولى الاربة ﴾ كښ شمار كولو، يو ځل رسول الله ﷺ كور ته تشريف راوړلو او هغه مخنث د رسول الله ﷺ د بعض بيبيانو سره وو، او هغه د يو زنانه وصف بيانول شروع كړل چه په هغوى كښ يو زنانه داسې ده چه ډيره غټ او ښكلې بدن ئې دې چه كله مخامخ راځى نو په خيټه كښ ئې څلور كندې وى او كله چه واپس شى نو اته كندې پرې ښكاره كيږى، يعنى څلور مخامخ او څلور شاته يعنى د اړخونو، رسول الله ﷺ د هغه په دې جمله اوريدو باندې اوفرمائيل ﴿ أَلاَ أَرَى هَذَا يَعْلَمُ مَا هَا هُنَا ﴾ خبردارا زه پوهيږم چه دا سړي خو د زنانو د حال نه

(): صحيح مسلم/السلام ١٣ (٢١٨١)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٣٤، ١٧٢٤٧)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري (٩٢٣٧)، مسند أحمد (١٥٢/٦) (صحيح)

خبر دي او پرې پوهيږي، لهذا دې بيا دلته داخل نه شي، پس تولو هغه بيا دپاره کور ته د راتلو نه منع کړو.

(اسم المخنث؟)

شارحينو د دې مخنث نوم هم ليکلې دې: قيل اسمه هيت وقيل هند وقيل ماتع.

د دې بعض ازواج نه مراد چا کره چه دا مخنث وو ام سلمة رضي الله عنها ده ځکه چه دا روايت په کتاب الادب باب الحکم فی المخنثين کښې راغلې دې: ﴿عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا مُخَنَّثٌ وَهُوَ يَقُولُ لِعَبْدِ اللَّهِ أَخِيهَا إِنْ يَفْتَحِ اللَّهُ الطَّائِفَ غَدًا دَلَلْتُكَ عَلَى امْرَأَةٍ تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ. فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « أَخْرِجُوهُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ »﴾

د عربو په نزد او د هغوی په مزاق کښې د زنانو څرب کيدل ممدوح او خوښ دی، د طائف د يوې زنانه هم دا صفت دا مخنث بيانوی چه کله مخامخ راشی نو د تلو د حرکت د وجې نه او د هغې د څرب والی د وجې نه د هغې په خيټه کښې څلور کندې جوړې شی او بيا چه کله واپس ځی نو اوس چونکه د خيټې او د شا لړه لړه حصه ښکاری نو اوس هم هغه څلور کندې اتۀ شوې، خيټې او ملا لره يو ځائې کولو سره.

د دې نه روستو رواياتو کښې لږ زيادت دې

[٤١٠٨](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ بِمَعْنَاهُ.

عروه دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه دتيرشوي روايت په شان روايت بيان کړې دې.

[٤١٠٩](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ زَادَ وَأَخْرَجَهُ، فَكَانَ بِالْبَيْدَاءِ يَدْخُلُ كُلَّ جُمُعَةٍ يَسْتَطْعِمُ.

عروه دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه دتيرشوي روايت هم معنی روايت بيان کړې دې ليکن ددې اضافې سره چه :دکورنه ئې وويستلواوپه بيابان کښې به اوسيدو اوهره جمعه به دخوراک غوښتلو دپاره راتلو.

﴿ فکان بالبيداء يدخل کل جمعة يستطعم ﴾ چه کله ئې هغه ويستلو نو هغه د بيداء طرف ته لاړو، په هفته کښې به يو ځل د جمعې په ورځ راتلو د خوراک غوښتلو دپاره، او په يو روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړې شو چه يا رسول الله ﷺ په ځنګل کښې خو به دې د لوږې نه مړ شی تاسو هغه ته په هفته کښې دوه کرته ښهر ته د داخليدو اجازت اوکړئ د سوال کولو نه پس به واپس کيږی.

[٤١١٠](٣)حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُ إِذَنْ يَمُوتُ مِنَ الْجُوعِ، فَأَذِنَ لَهُ أَنْ يَدْخُلَ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ فَيَسْأَلُ، ثُمَّ يَرْجِعُ.

---

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٦٦٣٤) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: ٤١٠٧، (تحفة الأشراف: ١٦٧٤١) (صحيح)

(٣): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (٤١٠٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٥١٨) (صحيح)

عمرو د اوزاعي نه په دې قصه كښې نقل كړي دي چه نبي ﷺ ته ووئيلې شول چه اې دالله رسوله اوس خوبه دولړي نه مرشي نونبي ﷺ ورته په جمعه كښې دوه ځله دراتلو اجازت وركړو نوراتلويه دخوراک غوښتلو دپاره اوبيابه واپس تلو.

والحديث اخرجه النسائي واخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجه من حديث زينب بنت ام سلمة عن امها ام سلمة رضي الله عنها واخرجه ابوداؤد كذلك في كتاب الادب، قاله المنذري.

باب في قوله تعالى {وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ}

د الله تعالى ددې قول (وقل للمؤمنات يغضضن من ابصارهن) تفسير

دا د جنس حجاب د سلسلې دريم آيت كريمه دې لكه چه په تير شوي باب كښې د علامه كرماني نه تير شوې دی چه هغه درې آيتونه دي، ١: ﴿ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ﴾ او دويم ٢: ﴿ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ ﴾ او دريم دا دې چه په ترجمة الباب كښې ذكر دې.

[٤١١١](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ "وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ سورة النور آية ٣١ الْآيَةَ، فَنُسِخَ وَاسْتَثْنَى مِنْ ذَلِكَ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا سورة النور آية ٦٠ الْآيَةَ".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه دالله تعالى ددې قول تفسير: «وقل للمؤمنات يغضضن من أبصارهن» حكم منسوخ شوي دې اوددې نه هغه زنانه مستثنى شوي دي څوک چه په كورونو كښې ناستې وي اودنكاح خواهشمندې نه وي.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ) الْآيَةَ فَنُسِخَ وَاسْتَثْنَى مِنْ ذَلِكَ (وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا) الْآيَةَ ﴾

يعني د آيت د حجاب نه دا زنانه مستثنى دی چه بوډئ كيدو د وجې نه د حيض او د ولادت په سلسله باندې تيرې شوې دی، او په كومو كښې چه د نكاح طمع باقي نه ده، نو د هغوى په حق كښې هيڅ باک نشته چه هغوى دپاسه جامې لكه هغه څادر كوم چه په خمار دپاسه وی د پردې دپاره هغه په سر نه كړی په داسې طريقه چه مقصد ئې پكښې اظهار د زينت نه وی.

[٤١١٢](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي نَبْهَانُ مَوْلَى أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ مَيْمُونَةُ، فَأَقْبَلَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ وَذَلِكَ بَعْدَ أَنْ أُمِرْنَا بِالْحِجَابِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: احْتَجِبَا مِنْهُ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَيْسَ أَعْمَى لَا يُبْصِرُنَا وَلَا يَعْرِفُنَا؟، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ؟"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا لِأَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً أَلَا تَرَى إِلَى اعْتِدَادِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ، قَدْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِفَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ: اعْتَدِّي عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمَى تَضَعِينَ ثِيَابَكِ عِنْدَهُ.

د ام سلمة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه زه دنبي ﷺ سره موجوده وم او ميمونه رضي الله عنها هم ورسره موجوده وه او په دې وخت كښې عبدالله بن ام مكتوم رضي الله عنه راغې اوداهغه وخت واقعه ده كله چه دپردې متعلق آيت نازل شوې وونبي ﷺ اوفرمائيل تاسودواړه ددنه پرده

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٦٦) (حسن الإسناد)
(٢): سنن الترمذي/الأدب ٢٩ (٢٧٧٨)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٢٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٦/٦) (ضعيف)

وکړئ مونږ عرض اوکړو اي دالله رسوله دې خو نابینادې نه خومونږ لیدلې شي اونه مونږه پېژندلې شي نبی ﷺ اوفرمائیل ایا تاسوهم نابینایي آیا تاسودې نه وینئ؟

﴿ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– وَعِنْدَهُ مَيْمُونَةُ فَأَقْبَلَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ وَذَلِكَ بَعْدَ أَنْ أُمِرْنَا بِالْحِجَابِ الخ ﴾

ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه یوه ورځ زه او میمونه رضی الله عنها دواړه رسول الله ﷺ سره وو، دا د نزول حجاب نه پس واقعه ده، نو عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته راغلو، نو حضور ﷺ مونږ ته اوفرمائیل چه د دې سړی نه پرده اوکړئ. مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ آیا دا ړوند نه دې؟ نه مونږ لیدلې شی نه مو پیژندلې شی نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ ﴾ عمیاوان تثنیه ده د عمیاء، یعنی آیا تاسو هم نابینا یئ، آیا تاسو نه شئ لیدلې هغه لره؟

د دې حدیث نه معلومه شوه چه د زنانه سړی ته کتل جائز نه دی، د امام شافعی رحمه الله اصل قول هم دا دې عند النووی....... او د جمهور علماء کرامو او د ائمه ثلاثه په نزد جائز دی، د هغوی دلیل د حراب الحبشه واله حدیث عائشه رضی الله عنها دې او د فاطمه بنت قیس کوم چه په کتاب الطلاق کښ تیر شوې دې. ﴿ فانه رجل اعمی تضعین عنده ثیابک ﴾ د جمهورو په نزد حدیث الباب په ورع باندې حمل دې، او کوم حضرت چه د تحریم قائل دی هغوی د حدیث عائشه رضی الله عنها تاویل داسې کوی چه هغه د قبل الحجاب واقعه ده، او بعضو داسې وئیلې دی چه عائشه رضی الله عنها هغه وخت صغیر السن وه. خو علامه سیوطی رحمه الله فرمائی چه د قدوم حبشه واقعه په ۷ هجرئ کښ ده او د عائشې رضی الله عنها عمر هغه وخت شپاړس کاله وو، او هغه واقعه د نزول حجاب نه روسته ده، لهذا دا دواړه تاویلونه صحیح نه دی. (من المنهل وهامشه) او د ابوداؤد په بعض نسخو کښ دی د حدیث الباب متعلق چه دا د ازواج مطهرات سره خاص دې، او په دلیل د خصوص کښ هغوی د فاطمه بنت قیس روایت پیش کړې دې، خو په دې باندې به اشکال وی د حراب حبشه د حدیث نه، کذا فی هامش المنهل، حدیث د حراب حبشه په بخاری او مسلم کښ دې، په سنن ابوداؤد کښ د حراب حبشه سره متعلق دومره روایت موندلې شوې دې په کتاب الادب باب فی الغناء عن انس رضی الله عنه قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– الْمَدِينَةَ لَعِبَتِ الْحَبَشَةُ لِقُدُومِهِ فَرَحًا بِذَلِكَ لَعِبُوا بِحِرَابِهِمْ.

نظر الرجل الی المراءة وعکسه کښ مذاهب ائمه :

نظر الرجل الی المراءة او نظر المراءة الی الرجل د دې تفصیل او د مذاهب ائمه تحقیق په در منضود کتاب الحج کښ تیر شوې دې. ﴿ وحاصله ان نظر الرجل الی المراءة الی الوجه والکفین یجوز عند الحنفیة والمالکیة بشرط عدم الشهوة وعدم اللذة، ولا یجوز عند احمد وعن الشافعیة روایتان رجح النووی عدم الجواز والرافعی الجواز اما عکسه فیجوز عند الائمة الثلاثة (الحنفیة والمالکیة والحنابلة) وروایة عن الشافعیة والروایة الثانیة انه لا یجوز واختارها النووی ﴾ والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، وقال الترمذی، حسن صحیح، قاله المنذری.

[۴۱۱۳]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمَيْمُونِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ عَبْدَهُ أَمَتَهُ، فَلَا يَنْظُرْ إِلَى عَوْرَتِهَا".

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کله چه یوکس ستاسو خپله وینځه خپل یوغلام ته په نکاح ورکړي نودهغي عورت ته دي نه ګوري.

[۴۱۱۴]([2])حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنِي دَاوُدُ بْنُ سَوَّارٍ الْمُزَنِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ خَادِمَهُ عَبْدَهُ أَوْ أَجِيرَهُ، فَلَا يَنْظُرْ إِلَى مَا دُونَ السُّرَّةِ وَفَوْقَ الرُّكْبَةِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَصَوَابُهُ سَوَّارُ بْنُ دَاوُدَ الْمُزَنِيُّ الصَّيْرَفِيُّ وَهِمَ فِيهِ وَكِيعٌ.

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه رسول الله فرمائیلي دي کله چه یوکس ستاسو خپله وینځه خپل یوخادم ته یا مزدور ته په نکاح ورکړي نو دنوم نه ښکته ترزنګنونو پورې دي ورته نه ګوري ، امام ابوداؤد فرمائی صحیح نوم سوار بن داود مزني الصيرفي دې او وکیع په دې کښې وهم کړې دې.

﴿إِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ عَبْدَهُ أَمَتَهُ فَلاَ يَنْظُرْ إِلَى عَوْرَتِهَا﴾ د حدیث مضمون واضح دې چه کله مولی د خپلې وینځې نکاح د بل چا سره اوکړی نو دغه وینځه د هغه په حق کښې پردئ شوه لهذا اوس به دهغې د ستر طرف ته کتل د هغه دپاره ناجائز وی، دا حدیث مخکښې په کتاب الصلوة باب متی یومر الغلام بالصلوة کښې تیر شوې دې.

بَابٌ فِي الِاخْتِمَارِ

باب د لوپټې په سرولو بیان

[۴۱۱۵]([3])حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ وَهْبٍ مَوْلَى أَبِي أَحْمَدَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَهِيَ تَخْتَمِرُ، فَقَالَ: لَيَّةً لَا لَيَّتَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: مَعْنَى قَوْلِهِ لَيَّةً لَا لَيَّتَيْنِ يَقُولُ: لَا تَعْتَمُّ مِثْلَ الرَّجُلِ لَا تُكَرِّرْهُ طَاقًا أَوْ طَاقَيْنِ.

دام سلمه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ زما کورته راغې اومالوپټه پسرکوله نوونې فرمائیل چه لوپټه یوځل راتاوکړه دوه ځله ئې مه تاوهه ، امام ابوداؤد فرمائی دلیتون معنی داده چه دسړي په شان پتکې مه جوړه اوبیابیا ئې مه راتاوهه.

﴿عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- دَخَلَ عَلَيْهَا وَهِىَ تَخْتَمِرُ فَقَالَ « لَيَّةً لاَ لَيَّتَيْنِ »﴾

شرح الحدیث:

ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه یو ځل رسول الله ﷺ ماته تشریف راوړلو او ما په ځان باندې لوپټه اچوله نو هغوی دا خبرداري راکړو چه د اچولو په وخت دي ته یو ول ورکوه نه دوه.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۷۴۲) (حسن)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۷۱۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۸۷) (حسن)
[3]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۸۲۲۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۲۹۳، ۲۹۴، ۲۹۶، ۲۹۷، ۳۰۷) (ضعيف)

ددې نه دا معلومه شوه چه لوپټه هسې په سر باندې نه دی کیخودل پکار بلکه هغې لره په سر باندې کیخودلو سره یو ول ورکول پکار دی چه هغه د سر نه بار بار نه پریوځی، خو دوه ولونه نه دی ورکول پکار چه د عمامه مشابهت رانشی ، مصنف رحمه الله د دې هم دا حکمت بیان کړې دې، ﴿ يقول لا تعتم مثل الرجل ﴾

بَابٌ فِي لُبْسِ الْقَبَاطِيِّ لِلنِّسَاءِ

باب: د زنانو د پاره د نرو جامو د اغوستلو د ممانعت بیان

[٤١١٦] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، وَأَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ مُوسَى بْنِ جُبَيْرٍ: أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ حَدَّثَهُ، عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنْ دِحْيَةَ بْنِ خَلِيفَةَ الْكَلْبِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبَاطِيَّ فَأَعْطَانِي مِنْهَا قُبْطِيَّةً، فَقَالَ: "اصْدَعْهَا صَدْعَيْنِ، فَاقْطَعْ أَحَدَهُمَا قَمِيصًا وَأَعْطِ الْآخَرَ امْرَأَتَكَ تَخْتَمِرُ بِهِ، فَلَمَّا أَدْبَرَ، قَالَ: وَأْمُرِ امْرَأَتَكَ أَنْ تَجْعَلَ تَحْتَهُ ثَوْبًا لَا يَصِفُهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، فَقَالَ: عَبَّاسُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ.

ددحیه کلبی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ته مصري جامې راوړل شوي اودهغه نه ئې یوه جامه ماته هم راکړه اوراته ئې اوفرمائیل دا دوه توتي کړه دیوي نه دځان دپاره قمیص جوړ کړه اوبله توته خپلې ښځې ته ورکړه چه لوپټه ورنه جوړه کړي راوی وائی کله چه دحیه شاه کړه او روان شونبی علیه السلام اوفرمائیل چه خپلې ښځې ته دي اووایه چه ددې لوپټې نه لاندې یوه بله کپړه هم پسروي ددې دپاره چه بدن ئې نه ښکاري یعنی چه ددې جسم بربند ښکاره نشي، ابوداؤد فرمائی دا روایت یحي بن ایوب بیان کړې دې اوعبیدالله بن عباس په ځائې باندې عباس بن عبیدالله بن عباس بیان کړې دې۔

﴿ عَنْ دِحْيَةَ بْنِ خَلِيفَةَ الْكَلْبِيِّ أَنَّهُ قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِقَبَاطِيَّ فَأَعْطَانِي مِنْهَا قُبْطِيَّةً فَقَالَ « اصْدَعْهَا صَدْعَيْنِ الخ ﴾

قباطی د قبطیة جمع ده د نرو جامو یو قسم دې چه د کتان وي، دا نسبت دې قبط طرف ته یعنی اهل مصر قوم فرعون... ومنهم مارية القبطية ام ابراهيم رضي الله عنها.....

سیدنا دحیه بن خلیفه رضی الله عنه فرمائی چه یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته قباطی کپړې راغلې نو په هغې کښې یوه رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته راکړه او وې فرمائیل چه دا دوه ټکړې کړه د یوې نه ځانله قمیص جوړ کړه او دویمه ټکړه خپلې ښځې ته ورکړه د لوپټې دپاره، او دا ئې هم اوفرمائیل چه هغې ته داسې اوایه چه دې سره لاندې یو کپړه بله هم اولګوی چه د سر ویښتنه ئې ښکاره نه شی، ځکه چه دا کپړه نرئ وه نو په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې نه لاندې د یو بل استر د لګولو حکم اوفرمائیلو.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٥٣٨) (ضعيف)

بَابٌ فِي قَدْرِ الذَّيْلِ

باب د ښځو د لمنې د مقدار بیان

[٤١١٧]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ أَبِي عُبَيْدٍ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ: أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ ذَكَرَ الْإِزَارَ: "فَالْمَرْأَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: تُرْخِي شِبْرًا، قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: إِذًا يَنْكَشِفُ عَنْهَا، قَالَ: فَذِرَاعًا لَا تَزِيدُ عَلَيْهِ".

د ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی کله چه د نبی کریم ﷺ په وړاندې د لنګ په باره کښې ذکر اوشو نو ما د زنانو د ننګ ذکر وکړو او عرض مې وکړو چه اې د الله رسوله ښځې به څنګه کوي؟ (یعنی که چرې لنګ زوړند نکړي نو بیا خو د ستر اندیښنه ده) نبی علیه السلام اوفرمائیل ښځې دې خپل لنګونه دیو بالښت په مقدار اوږدوی ام سلمه عرض وکړو چه اوس هم د ستر د کولاویدو اندیښنه باقی ده نبی علیه السلام اوفرمائیل بیا نې دیو لاس په مقدار اوږده کړې او دې نه ئې مه زیاتوئ.

شرح الحديث:

قوله: ﴿ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حِينَ ذَكَرَ الْإِزَارَ الخ﴾ ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ چه کله د سړو په حق کښې مقدار د ازار بیان کړو نو په دې باندې ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه زنانه دې خپل ازار د کوم ځائې پورې زوړندوی؟ نو هغوی اوفرمائیل یو لیشت .... یعنی کوم مقدار چه د سړو په حق کښې بیان کړې شوې دې د زنانو د پاره په هغې باندې د یو لیشت د زیات اجازت دې، ام سلمه رضی الله عنها فرمائی ما عرض اوکړو چه په دې صورت کښې خو به د هغې خپې ښکاره شي.

یعنی د تلو په وخت، نو بیا دې یو ذراع زیات کړی، د دې نه زیاتی نه.

حافظ فرمائی چه د مقدار د ازار په باره کښې د سړو دوه حالتونه دی یو حالت د جواز او یو حالت د استحباب، حالت د استحباب الی نصف الساق دې او حالت د جواز تر د کعبینو پورې دې، هم دغه شان د زنانو په حق کښې هم دوه حالتونه دی یو د استحباب، او هغه مقدار د شبر زیادت دې علی ما جوز للرجال..... یعنی د سړو په حالت جواز باندې، او حال جواز مقدار د ذراع زیادت په علی ما جوز للرجال [٢] او د حضرت ګنګوهی رحمه الله رائې کومه چه په الکوکب الدری کښې ده په هغې کښې هم د زنانه دوه حالتونه ذکر شوې دی یو د مقدار شبر زیادت او یو د مقدار ذراع زیادت، خو حضرت دا زیادت په مقدار د جواز باندې نه دې محمول کړې بلکه د سړو په حالت استحباب باندې ئې دا زیادت مراد کړې دې، یعنی په نصف ساق باندې د یو لیشت زیادت د زنانو په حق کښې مستحب او د یو زراع زیادت په

[١]): سنن النسائي/الزينة من المجتبى ٥١ (٥٣٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٨٢)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/اللباس ٩ (١٧٣١)، سنن ابن ماجه/اللباس ١٣ (٣٥٨٠)، موطا امام مالك/اللباس ٦ (١٣)، مسند احمد (٢٩٣/٦، ٢٩٦، ٣٠٩، ٣١٥)، سنن الدارمي/الاستئذان ١٦ (٢٦٨٦) (صحيح)

[٢]) الحاصل د زنانو په حق کښې د مقدار شبر زیادت په کعبین باندې دا حال د استحباب دې او د مقدار زراع زیادت علی الکعبین دا حال د جواز دې ١٢)

نصف ساق باندې د هغوی په حق کښې جائز دي، په حديث کښې يو مسئله بله ده چه د زنانو خپې په حد د عورت کښې داخل دی يا نه.؟ د شوافعو او حنابله په نزد د ظهور قدمين په مانځه کښې ستر واجب دې، د احنافو او مالکيانو په نزد نه دې، دا مسئله په تفصيل سره په ثياب الصلوة کښې تيره شوې ده. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

[٤١١٨](١) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عِيسَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ إِسْحَاقَ، وَأَيُّوبُ بْنُ مُوسَى، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ صَفِيَّةَ.

د ام سلمه رضي الله عنها نه دتيرشوي روايت په شان روايت منقول دې. امام ابوداؤد فرمائي: دا روايت ابن اسحق او يعقوب په واسطه دنافع سره د صفيه رضي الله عنها نه بيان کړې دې.

[٤١١٩](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، أَخْبَرَنِي زَيْدٌ الْعَمِّيُّ، عَنْ أَبِي الصِّدِّيقِ النَّاجِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "رَخَّصَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ فِي الذَّيْلِ شِبْرًا ثُمَّ اسْتَزَدْنَهُ فَزَادَهُنَّ شِبْرًا فَكُنَّ يُرْسِلْنَ إِلَيْنَا فَنَذْرَعُ لَهُنَّ ذِرَاعًا".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبی کريم صلى الله عليه وسلم دازواج مطهرات دپاره د لنګونو داوږدولو ديوبالخت په مقدار اجازت ورکړې دې هغوی لنګونه اوږدول غوښتل نوبيا نبی عليه السلام ددوه بالختوبه مقدار اجازت ورکړو ازواج مطهرات به مونږ ته خپل لباس راليږلو او مونږه به په خپل لاس ناپ کولو.

باب فِي أُهُبِ الْمَيْتَةِ

د مردار څاروی د څرمنې بيان

جلد ميتة، د ميتة په شان نجس دې. اوس دا چه د دباغت نه پاکيږی او که نه؟

د جلد ميتة په دباغت سره پاکيدو کښې مذاهب ائمه:

مسئله مختلف فيه ده، په الابواب والتراجم کښې شيخ ليکی: د بخاری ترجمه ﴿ باب جلود الميتة قبل ان تدبغ ﴾ د لاندې، بسط الكلام على حديث الباب والابحاث المتعلقة به فى الاوجز، وذكر فيه عن النووى اختلاف العلماء فيه على سبعة اقوال. كما فى هامش اللامع.... د دې نه پس د ائمه اربعه مذاهب په هغې کښې دا ليکلې دی: د امام شافعی رحمه الله په نزد د کلب او خنزير نه علاوه ټول جلود ميتة په دباغت سره پاکيږی. بله دا چه ظاهر جلد او باطن جلد دواړه پاکيږی. او د امام احمد رحمه الله په نزد اشهر الروايتين او هم دا يو روايت د امام مالک رحمه الله نه دې چه هيڅ يو جلد هم نه پاکيږی په دباغت سره، او د احنافو په نزد ټول جلود پاکيږی سوا د خنزير نه (او د انسان نه) او د امام مالک رحمه الله مشهور مذهب دا دې چه ټولې څرمنې پاکيږی خو صرف د هغې ظاهر پاکيږی نه باطن. لهذا صرف په يابساتو کښې هغه استعمال

---

(١): سنن النسائي/الزينة من المجتبى ٥١ (٥٣٤١)، سنن ابن ماجه/اللباس ١٣ (٣٥٨٠)، سنن النسائي/اللباس ١٣ (٣٥٨٠)، (تحفة الأشراف: ١٨١٥٩، ١٨٢٨٢)، وانظر ما قبله (صحيح)

(٢): سنن ابن ماجه/اللباس ١٣ (٣٥٨١)، (تحفة الأشراف: ٦٦٦١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/اللباس ٩ (١٧٣١)، مسند احمد (٢/١٨، ٩٠) (صحيح)

کیدې شی نه په مائعاتو کښې. ویصلی علیه لا فیه.. یعنی په جلد مدبوغ باندې مونځ کول جائز دی نه په هغې کښې یعنی په هغې کښې اوبه اخستلو سره اودس کول جائز نه دی اهـ دا څلور مذاهب شو د څلورو امامانو او درې مذاهب په دې کښې نور دی، د زهری په نزد جلد میتة پاک دې بغیر د دباغت نه هم لکه چه وړاندې خپله په متن کښې راغلی، او د اهل ظواهر په نزد ټولې څرمنې پاکیږی په دباغت سره بغیر د استثناء نه تر دې چه خنزیر کما فی هامش البذل، اوس یو بل مذهب باقی پاتې شو او هغه د امام اوزاعی او د اسحق بن راهویه وغیره دې چه د ماکول اللحم جلد پاکیږی او د غیر ماکول اللحم نه، دا اووهٔ واړه مذاهب امام نووی رحمه الله په شرح د مسلم کښې ذکر کړې دی.

حقیقت د دباغت او په هغې کښې اختلاف د امامانو:

بیا ځان پوهول پکار دی چه په حقیقت د دباغت کښې اختلاف دې چه د هغې تفصیل په اوجز ۴/۲۰۰ کتاب الصید کښې دې: ففیه عن ((التعلیق الممجد)) الدباغ بکسر الدال المهملة وهو ازالة الرائحة الکریهة والرطوبات النجسةِ باستعمال الادویة وغیرها، وروی محمد عن ابی حنیفة فی کتاب الاثار "کل شیٔ یمنع الجلد من الفساد فهو دباغ، وفی الروض المربع (فی مذهب احمد) ولا یحصل بالتشمیس ولا تتریب اهـ وقال الموفق: ویفتقر ما یدبغ به الی ان یکون منشفا للرطوبة، منقیا للخبث کالشب والقرظ، وقال النووی یجوز الدباغ بکل شیٔ ینشف فضلات الجلد ویطیبه ویمنع من ورود الفساد علیه من الادویة الطاهرة، ولا یحصل بالتشمیس عندنا، وقال اصحاب ابی حنیفة یحصل، الی اخر ما ذکر.... وفی الهدایة ثم ما یمنع النتن والفساد فهو دباغ وان کان تشمیسا او تتریبا، لان المقصود یحصل به فلا معنی لاشتراط غیره، وفی هامشه: الدباغة اعم من ان تکون حقیقته کالقرظ ([1])ونحوه او حکمیة کالتتریب والتشمیس والالقاء فی الریح، فان کانت بالاول لا یعود نجسا ابدا، وان کانت بالثانیة ثم اصابه الماء ففیه روایتان عن الامام والاظهر انه یعود قیاسا، وعندهما لا یعود استحسانا، وهو الصحیح،..... پس حاصل دا چه د جمهور په نزد دباغت حقیقیه معتبر دې، دباغت حکمیه معتبر نه دې. او د احنافو په نزد معتبر دې خو په دې کښې اختلاف دې زمونږ په نزد د حکمیه په صورت کښې د لوندیدلو نه پس نجاست عود کوی که نه، والصحیح انه لا یعود، وفی الکوکب: استثنی منه الانسان والخنزیر، لکرامة الاول، ونجاسته الثانی مع ان الدباغة غیر ممکنة فیهما للاتصال الذی بین الجلد واللحم فلا یمکن سلخه بحیث ینفصل اللحم باسره من الجلد، ولا یمکن الدبغ مالم یفرز الجلد عن اجزاء اللحم.... اهـ

[۴۱۲۰]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَوَهْبُ بْنُ بَيَانٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَابْنُ أَبِي خَلَفٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ مُسَدَّدٌ، وَوَهْبٌ، عَنْ مَيْمُونَةَ، قَالَتْ: "أُهْدِيَ

[1]) وهو ورق السلم د کیکر په شان یو اونه وی.
[2]): صحیح البخاري/الزكاة ٦١ (١٤٩٢) والبيوع ١٠١ (٢٢٢١)، صحيح مسلم/الحيض ٢٧ (٣٦٤، ٣٦٥)، سنن النسائي/الفرع والعتيرة ٣(٤٢٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٦٦، ٥٨٣٩)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/اللباس ٧(١٧٢٧)، سنن ابن ماجه/اللباس ٢٥ (٣٦١٠)، موطا امام مالك/الصيد ٦ (١٦)، مسند احمد (١/٢٦١، ٣٢٧، ٣٢٩، ٣٦٥)، سنن الدارمي/الأضاحي ٢٠(٢٠٣١) (صحيح)

لِمَوْلَاةٍ لَنَا شَاةٌ مِنَ الصَّدَقَةِ، فَمَاتَتْ فَمَرَّ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "أَلَا دَبَغْتُمْ إِهَابَهَا وَاسْتَنْفَعْتُمْ بِهِ، قَالُوا: يَارَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا مَيْتَةٌ، قَالَ: إِنَّمَا حُرِّمَ أَكْلُهَا".

دزهري په روايت کښې دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې اودمسدد او وهب په روايت کښې دميمونه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه زمونږ يوازاد کړې شوې غلام ته دصدقې يوه چيلۍ ملاو شوه او هغه مرداره شوه نبي عليه السلام هلته تشريف يوړو او وئې فرمائيل تاسو ددغه چيلۍ څرمن درنګ کولو په ذريعه ولې نه پاکوله چه بيا مو استعمال کړې وې؟ هغوی عرض اوکړو اې دالله رسوله هغه خو مرداره شوې وه نبي عليه السلام اوفرمائيل ددې خوصرف خوړل حرام دي (يعنې ددې څرمن استعمالول خو حرام نه دي).

﴿ عَنْ مَيْمُونَةَ قَالَتْ أُهْدِيَ لِمَوْلَاةٍ لَنَا شَاةٌ مِنَ الصَّدَقَةِ الخ ﴾

سيده ميمونه رضي الله عنها فرمائي چه زمونږ يوې وينځې ته د صدقې يو بيزه راغله هغه مړه شوه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه طرف باندې تير شو نو وې فرمائيل ﴿ أَلَا دَبَغْتُمْ إِهَابَهَا فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ... قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا مَيْتَةٌ. قَالَ: إِنَّمَا حُرِّمَ أَكْلُهَا ﴾

[۴۱۲۱] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْحَدِيثِ لَمْ يَذْكُرْ مَيْمُونَةَ قَالَ: فَقَالَ: أَلَا انْتَفَعْتُمْ بِإِهَابِهَا، ثُمَّ ذَكَرَ مَعْنَاهُ لَمْ يَذْكُرِ الدِّبَاغَ.

د ميمونه رضي الله عنها نه دتيرشوی روايت په شان روايت منقول دې او په دې روايت کښې داسې دی چه ناسوددې دڅرمنې نه نفع ولې وانه خسته او په دې روايت کښې درنګ کولو ذکرنشته.

[۴۱۲۲] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، قَالَ: قَالَ مَعْمَرٌ وَكَانَ الزُّهْرِيُّ "يُنْكِرُ الدِّبَاغَ وَيَقُولُ: يُسْتَمْتَعُ بِهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يَذْكُرِ الْأَوْزَاعِيُّ، وَيُونُسُ، وَعُقَيْلٌ فِي حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ الدِّبَاغَ، وَذَكَرَهُ الزُّبَيْدِيُّ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، وَحَفْصُ بْنُ الْوَلِيدِ ذَكَرُوا الدِّبَاغَ.

د معمر بيان دې فرمائي چه ابن شهاب زهري به باغت ښه نه ګنړلو او وئيل به ئې چه په هرحال کښې ددېنه فائده اخستلې شي ، امام ابوداؤد فرمائي چه اوزاعي، يونس او عقيل دزهري په روايت کښې د دباغت ذکرنه دې کړې او زبيدي او سعيد بن عبدالعزيز او حفص بن وليد پخپل روايت کښې د دباغت ذکر کړې دې.

د دې نه پس مصنف رحمه الله دا حديث په يو بل طريق باندې ذکر کړې چه په هغې کښې د دباغت ذکر نشته.

﴿ قَالَ مَعْمَرٌ وَكَانَ الزُّهْرِيُّ يُنْكِرُ الدِّبَاغَ وَيَقُولُ يُسْتَمْتَعُ بِهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ ﴾ د امام زهري رحمه الله مذهب هم دا دې کوم چه مخکښې هم تير شوې دې چه د هغوی په نزد جلد ميتة بغير د دباغت نه هم پاک دې. والحديث اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۸۳۹) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:) (صحيح الإسناد)

[٤١٢٣](¹)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ وَعْلَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا دُبِغَ الْإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه دنبي عليه السلام نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئي كله چه خرمن رنګ كړې شوه نوپه يقيني طور سره پاكه شوه.

﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِذَا دُبِغَ الإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ »﴾ والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي، قاله المنذري

[٤١٢٤](²)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُسَيْطٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَنْ يُسْتَمْتَعَ بِجُلُودِ الْمَيْتَةِ إِذَا دُبِغَتْ".

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام حكم اوكړو دمردار شوي ځناور دخرمني نه په فائدي اخستلو باندې پس درنګ كولونه.

[٤١٢٥](³)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَا: حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ جَوْنِ بْنِ قَتَادَةَ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبِّقِ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ أَتَى عَلَى بَيْتٍ فَإِذَا قِرْبَةٌ مُعَلَّقَةٌ فَسَأَلَ الْمَاءَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا مَيْتَةٌ، فَقَالَ: دِبَاغُهَا طُهُورُهَا".

دسلمه بن محبق نه روايت دي فرمائي چه دغزوه تبوك په موقعه باندې نبي كريم صلى الله عليه وسلم يوكورته ورغې هلته يومشك زوړند رونبي عليه السلام دهغې نه اوبه وغوښتې خلقو عرض اوكړو اې دالله رسوله دا مشق خودمردار شوي ځناور دخرمني نه جوړ دې نبي عليه السلام اوفرمائيل ددې خرمن په رنګ كولو سره پاكه شوي ده.

[٤١٢٦](⁴)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ فَرْقَدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكِ بْنِ حُذَافَةَ حَدَّثَهُ، عَنْ أُمِّهِ الْعَالِيَةِ بِنْتِ سُبَيْعٍ، أَنَّهَا قَالَتْ: كَانَ لِي غَنَمٌ بِأُحُدٍ فَوَقَعَ فِيهَا الْمَوْتُ، فَدَخَلْتُ عَلَى مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهَا، فَقَالَتْ لِي مَيْمُونَةُ: لَوْ أَخَذْتِ جُلُودَهَا فَانْتَفَعْتِ بِهَا، فَقَالَتْ: أَوَ يَحِلُّ ذَلِكَ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، مَرَّ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِجَالٌ مِنْ قُرَيْشٍ يَجُرُّونَ شَاةً لَهُمْ مِثْلَ الْحِمَارِ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا، قَالُوا: إِنَّهَا مَيْتَةٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُطَهِّرُهَا الْمَاءُ وَالْقَرَظُ".

د عاليه بنت سبيع رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه داحد په غر كښې زما ګران وو هغه مره

---

¹): صحيح مسلم/الحيض ٢٧ (٣٦٦)، سنن الترمذي/اللباس ٧ (١٧٢٨)، سنن النسائي/الفرع والعتيرة ٣ (٤٢٤٦)، سنن ابن ماجه/اللباس ٢٥ (٣٦٠٩)، (تحفة الأشراف: ٥٨٢٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيد ٦ (١٧)، مسند احمد (١/٢١٩، ٢٣٧، ٢٧٩، ٢٨٠، ٣٤٣)، سنن الدارمي/الأضاحي ٢٠ (٢٠٢٩) (صحيح)

²): سنن النسائي/الفرع والعتيرة ٥ (٤٢٥٧)، سنن ابن ماجه/اللباس ٢٥ (٣٦١٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٩١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيد ٦ (١٨)، مسند احمد (٦/٧٣، ١٠٤، ١٤٨، ١٥٣)، دي /الأضاحي ٢٠ (٢٠٣٠) (صحيح لغيره)

ملاحظه: صحيح موارد الظمآن: ١٢٢، غاية المرام: ٢٦)

³): سنن النسائي/الفرع والعتيرة ٣ (٤٢٤٨)، (تحفة الأشراف: ٤٥٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٧٦، ٥/٦، ٧) (صحيح)

⁴): سنن النسائي/الفرع والعتيرة ٣ (٤٢٥١، ٤٢٥٢)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٣٤) (صحيح)

شول نوزه ام المومنین میمونه ﷞ ته راغلم او ددې خبرې ذکر مې ورته وکړو هغوی اوونیل کاش چه تا ددوی څرمني راوړي وې نوفائده به موتري اخستلې وې ماعرض اوکړو ایا دمردار شوي څناور دڅرمني نه فائده اخستل جائزدي؟ هغې اوونیل هو، داصحیح خبره ده یوځل دنبی ﷺ په وړاندې دیوی مرداري شوي چیلی ذکر وشو چه هغوی دمړخړ په شان رانبکله نبی ﷺ اوفرمائیل کاش چه تاسودینه څرمن ویستلې وې خلقو عرض اوکړو اې دالله رسوله هغه چیلی خومرداره شوي وه نبی ﷺ اوفرمائیل په دې کښې څه خبره ده څرمن خو په اوبو او قرظ سره پاکیږي (قرظ دیوقسم وني پاڼري دي په کوې چه څرمن پاکیږي).

﴿مَرَّ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– رِجَالٌ مِنْ قُرَيْشٍ يَجُرُّونَ شَاةً لَهُمْ مِثْلَ الْحِمَارِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لَوْ أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا ». قَالُوا إِنَّهَا مَيْتَةٌ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « يُطَهِّرُهَا الْمَاءُ وَالْقَرَظُ »﴾ اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابُ مَنْ رَوَى أَنْ لاَ يُنْتَفَعَ بِإِهَابِ الْمَيْتَةِ

باب د هغه چا د دلیل بیان چه د مرداري د څرمن نه فائده نه شی اخستلې

[٤١٢٧] (١) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُكَيْمٍ، قَالَ: قُرِءَ عَلَيْنَا كِتَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَرْضِ جُهَيْنَةَ وَأَنَا غُلَامٌ شَابٌّ "أَنْ لَا تَسْتَمْتِعُوا مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ وَلَا عَصَبٍ".

دعبدالله بن عکیم ﷛ نه روایت دې فرمائی چه مونږ ته دجهینه په زمکه کښې دنبی ﷺ خط ولوستلی شو اوزه په دغه وخت کښې ځوان وم، په دې خط کښې لیکلې شوي وو چه دمردار شوي څناور دڅرمن نه به فائده نه اخلئ، نه به ددې دڅرمني نه فائده اخلئ او نه به ددې د پټو (پي) نه.

﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُكَيْمٍ قَالَ قُرِئَ عَلَيْنَا كِتَابُ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم « أَنْ لاَ تَسْتَمْتِعُوا مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ وَلاَ عَصَبٍ » ﴾

عبدالله بن عکیم ﷛ فرمائی چه زمونږ مخې ته د رسول الله ﷺ لیکل واورولې شو، په ارض جهینه کښ په داسې حال کښ چه زه ځوان هلک اوم چه په هغې کښ دا وو چه د اهاب میتة نه دې فائده اوچته نه کړې شی او نه د هغې د هډوکو نه، د دې نه په روستو طریق کښ دی: ﴿ کتب الی جهینة قبل موته بشهر الخ ﴾

[٤١٢٨] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ، حَدَّثَنَا الثَّقَفِيُّ، عَنْ خَالِدٍ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ أَنَّهُ انْطَلَقَ هُوَ وَنَاسٌ مَعَهُ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُكَيْمٍ رَجُلٍ مِنْ جُهَيْنَةَ، قَالَ الْحَكَمُ: فَدَخَلُوا وَقَعَدْتُ عَلَى الْبَابِ، فَخَرَجُوا إِلَيَّ، فَأَخْبَرُونِي أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُكَيْمٍ أَخْبَرَهُمْ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى جُهَيْنَةَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِشَهْرٍ أَنْ لَا يَنْتَفِعُوا مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ وَلَا عَصَبٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: فَإِذَا دُبِغَ لَا يُقَالُ لَهُ إِهَابٌ، إِنَّمَا يُسَمَّى شَنًّا وَقِرْبَةً، قَالَ النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ يُسَمَّى إِهَابًا مَا لَمْ يُدْبَغْ.

---

(١): سنن الترمذي/اللباس ٧ (١٧٢٩)، سنن النسائي/الفرع والعتيرة ٤ (٤٢٥٤)، سنن ابن ماجه/اللباس ٢٦ (٣٦١٣)، (تحفة الأشراف: ٦٦٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٠/٤، ٣١١) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٦٤٢) (صحيح)

دحکیم بن عیینه نه روایت دې فرمائی چه زه دیوځو کسانوسره عبدالله بن عکیم ته لاړم ځوک چه دجهینه قبیلې والادې حکم وائی چه زه په دروازه کښې ناست وم اونور کسان دننه ورداخل شول کله چه هغوی بهر راغلل نو ماته ئې اووئیل چه مونږ ته عبدالله بن عکیم بیان اوکړو چه نبی ﷺ دخپل وفات نه یوه میاشت مخکښې جهینه قبیلې خلقوته خط رالیږلې وو چه دمرداري دځرمن اودپټونه به فائده نه اخلی ، ابوداؤد فرمائی چه نضر بن شمیل وئیلی دی اهاب هغه ځرمنې ته وئیلې شي کومه چه درنګ کولونه مخکښې وي خوکله چه رنګ کړې شي نو بیا ورته اهاب نئشي وئیلې بلکه شن یا قربه ورته وئیلې شي.

ابن رسلان فرمائی چه دا حدیث د امام مالک رحمه الله دپاره حجت دې. ان الجلد بعد الدباغ نجس. او دا چه دا حدیث ناسخ دې د هغه احادیثو دپاره په کوم کښې چه د دباغت مطهر کیدل ذکر دی الی اخر ما ذکر...... وقال الترمذی کان احمد بن حنبل یقول به ثم ترکه لما اضطربوا فی اسناده اهـ امام ترمذی رحمه الله د دې حدیث په سند کښې اختلاف او اضطراب ذکر کړې دې، دا حدیث په اصل کښې د امام احمد رحمه الله دلیل دې د هغوی د مشهور قول، امام بیهقی رحمه الله وغیره وائی چه دا حدیث مرسل دې ځکه چه ابن عکیم صحابی نه دې. (بذل بزیادة)

تنبیه : د ﴿ ایما اهاب دبغ فقد طهر ﴾ د لاندې امام ترمذی رحمه الله د نضر بن شمیل په حوالې سره نقل کړی دی چه هغوی داسې وائی : ﴿ الاهاب معناه جلد ماکول اللحم ﴾ اهاب وائی د ماکول اللحم جلد ته، حال دا چه امام ابوداؤد رحمه الله د نضر بن شمیل نه د هغې خلاف دا نقل کړې دی ﴿ یسمی اهابا ما لم یدبغ، فاذا دبغ لا یقال له اهاب، یسمی شنا وقربة ﴾ یعنی اهاب وائی کچه ځرمنې ته مخکښې د دباغت نه، او پس د دباغت نه ورته شن او قربه وائی (مشک) په دې وجه ئې په الکوکب الدری کښې هم په دې باندې نقد کړې دې پس په هغې کښې دی: قوله انما یقال اهاب لجلد ما یوکل وهذا لا یصح لغة اهـ لهذا د امام ابوداؤد رحمه الله نقل صحیح دې،

(د حدیث نه جواب)

او د امام ابوداؤد رحمه الله غرض د نضر بن شمیل په قول نقل کولو سره د عبدالله بن عکیم د حدیث جواب ورکول دی د جمهورو د طرف نه چه په هغې کښې دا دی چه د اهاب میتة نه انتفاع جائز نه ده، چه د هغې جواب امام ابوداؤد رحمه الله دا ورکړو.چه جلد میتة ته اهاب قبل الدباغة وئیلې شی لهذا مطلب دا شو چه د جلد میتة نه قبل الدباغت انتفاع جائز نه ده، لهذا د عبدالله بن عکیم د حدیث اوس دوه جوابونه شو یو ضعف او اضطراب او دویم هغه توجیه کومه چه مصنف رحمه الله نقل کړه، والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، وابن ماجه، وقال الترمذی حسن، قاله المنذری.

....

بَابٌ فِي جُلُودِ النُّمُورِ وَالسِّبَاعِ

باب: د نمورا و دليوانو د څرمنو بيان

[٤١٢٩](¹)حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ وَكِيعٍ، عَنْ أَبِي الْمُعْتَمِرِ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ مُعَاوِيَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَرْكَبُوا الْخَزَّ وَلَا النِّمَارَ"، قَالَ: وَكَانَ مُعَاوِيَةُ لَا يُتَّهَمُ فِي الْحَدِيثِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَنَا أَبُو سَعِيدٍ: قَالَ لَنَا أَبُو دَاوُدَ: أَبُو الْمُعْتَمِرِ اسْمُهُ يَزِيدُ بْنُ طَهْمَانَ كَانَ يَنْزِلُ الْحِيرَةَ.

دمعاوية رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي كريم ﷺ فرمائيلي دي سورلي مه كوئ په خالص ريشمي زينونوباندې اونه د نمور درنده ځناور په څرمن باندې. ابن سيرين وئيلي دي چه معاويه دحديث په روايت کښې متهم نه وو.

قوله: ﴿لاَ تَرْكَبُوا الْخَزَّ وَلاَ النِّمَارَ ﴾ خز يعني ريښم باندې مه سوريږئ يعني هغه په کته وغيره باندې ږدلوسره، او نه د زمري په څرمن باندې، د دې شرح په باب الحرير کښې تيره شوې ده.

﴿ قَالَ وَكَانَ مُعَاوِيَةُ لاَ يُتَّهَمُ فِي حَدِيثِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم ﴾ يعني معاويه رضي الله عنه د خلقو په نزد په باب د حديث کښې متهم نه وو. يعني اگر چه خلقو به په هغه يا د هغه د کور په خلقو باندې نور اعتراضات او تبصرې کولې لکه چه وړاندې دا قسم روايتونه راروان دي خو د ناقدينو هيڅ نقد په هغوی باندې د روايت حديث حوالې سره نه وو، دا مقوله د چا ده؟ حضرت خو د دې نسبت ابن سيرين رحمه الله ته کړې دي کوم چه په سند کښې ذکر دي او د معاويه رضي الله عنه نه حديث الباب روايت کوي، او د دې نه پس حضرت د ابن رسلان رائې دا ليکلې ده چه هغوی د قال ضمير مصنف رحمه الله ته راجع کړې دي او حضرت دا هم ليکلې دي يعنی مع امارته غير متهم فی الحديث.... چه سره د خلافت او بادشاهت په روايت د حديث کښې د ټولو په نزد معتبر وو.

[٤١٣٠](²)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا جِلْدُ نَمِرٍ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي فرښتې دداسې کسانو سره ملگرتيانه کوي دچاسره چه د نمور ځناور څرمن وي.

[٤١٣١](³)حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ بْنِ سَعِيدٍ الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنْ بَحِيرٍ، عَنْ خَالِدٍ، قَالَ: وَفَدَ الْمِقْدَامُ بْنُ مَعْدِ يكَرِبَ، وَعَمْرُو بْنُ الْأَسْوَدِ، وَرَجُلٌ مِنْ بَنِي أَسَدٍ مِنْ أَهْلِ قِنَّسْرِينَ إِلَى مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، فَقَالَ مُعَاوِيَةُ لِلْمِقْدَامِ "أَعَلِمْتَ أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ تُوُفِّيَ، فَرَجَّعَ الْمِقْدَامُ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: أَتَرَاهَا مُصِيبَةً؟ قَالَ لَهُ: وَلِمَ لَا أَرَاهَا مُصِيبَةً وَقَدْ وَضَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حِجْرِهِ، فَقَالَ: هَذَا مِنِّي، وَحُسَيْنٌ مِنْ عَلِيٍّ، فَقَالَ الْأَسَدِيُّ: جَمْرَةٌ أَطْفَأَهَا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، قَالَ: فَقَالَ الْمِقْدَامُ: أَمَّا أَنَا فَلَا أَبْرَحُ الْيَوْمَ حَتَّى أُغَيِّظَكَ وَأُسْمِعَكَ مَا تَكْرَهُ، ثُمَّ قَالَ: يَا مُعَاوِيَةُ إِنْ أَنَا صَدَقْتُ، فَصَدِّقْنِي وَإِنْ أَنَا كَذَبْتُ، فَكَذِّبْنِي، قَالَ: أَفْعَلُ، قَالَ: فَأَنْشُدُكَ بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُبْسِ الذَّهَبِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَأَنْشُدُكَ بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ

---

¹: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١١٤٢٩)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه /اللباس ٤٧ (٣٦٥٦)، مسند احمد (٩٣/٤، ٩٤) (صحيح)

²: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٨٩٨) (حسن)

³: سنن النسائي /الفرع والعتيرة ٦ (٤٢٥٩)، (تحفة الأشراف: ١١٤١١، ١١٥٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٢/٤) (صحيح)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَأَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ هَلْ تَعْلَمُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُبْسِ جُلُودِ السِّبَاعِ وَالرُّكُوبِ عَلَيْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَوَاللّٰهِ لَقَدْ رَأَيْتُ هٰذَا كُلَّهُ فِي بَيْتِكَ يَا مُعَاوِيَةُ، فَقَالَ مُعَاوِيَةُ: قَدْ عَلِمْتُ أَنِّي لَنْ أَنْجُوَ مِنْكَ يَا مِقْدَامُ، قَالَ خَالِدٌ: فَأَمَرَ لَهُ مُعَاوِيَةُ بِمَا لَمْ يَأْمُرْ لِصَاحِبَيْهِ وَفَرَضَ لِابْنِهِ فِي الْمِائَتَيْنِ، فَفَرَّقَهَا الْمِقْدَامُ فِي أَصْحَابِهِ قَالَ: وَلَمْ يُعْطِ الْأَسَدِيُّ أَحَدًا شَيْئًا مِمَّا أَخَذَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ مُعَاوِيَةَ، فَقَالَ: أَمَّا الْمِقْدَامُ فَرَجُلٌ كَرِيمٌ بَسَطَ يَدَهُ وَأَمَّا الْأَسَدِيُّ فَرَجُلٌ حَسَنُ الْإِمْسَاكِ لِشَيْئِهِ".

دخالد رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه مقدام بن معدي كرب اوعمرو بن الاسود اودبني اسد قبيلي يوكس دقنسرين مقام اوسيدونكي معاويه بن ابى سفيان نه ته په وفد كښي راغلل معاويه مقدام ته اووئيل ايا تاته معلومه ده چه حسن بن على وفات شوي دي مقدام چه دا خبره واوريده نو انا لله وانا اليه راجعون ئي اووئيل په دي باندي دي كس اووئيل ايا ته دا واقعه مصيبت كنړي؟ مقدام اووئيل زه دا واقعه مصيبت څنګه ونه ګنړم چه نبى عليه السلام حسن رضي الله عنه پخپله غيږ كښي كينولي وو او وئيلي ئي وو چه دا ماشوم زمانه دي اوحصين على رضي الله عنهما نه دي، دا خبره چه دبني اسد قبيلي شخص واوريده نو وئي وئيل په الله مي دي قسم وي چه هغه خويوه سكروټه وه كومه چه الله تعالى يخه كړي وه مقدام اووئيل ليكن زه نن ورځ تاسولره دغصه كولونه بغيرنه پريږدم اوتاسوته به داسي خبره اوروم كومه چه به تاسونه خوښوي اوبيا ئي اووئيل اې معاويه كه چرې ما رښتيا اووئيل نوته مي ريښتوني وګڼړه اوكه چرې دروغ مي اووئيل نومادروغژن وګڼړه معاويه رضي الله عنه اووئيل زه به همداسي كوم، مقدام اووئيل ستادي په الله تعالى قسم وي چه تادنبى عليه السلام نه آوريدلى دى چه دسرو زرو داغوستلونه ئي منع فرمائيلي وه معاويه و اوفرمائيل هو، ما آوريدلى دى ، مقدام بيا اووئيل ستادي په الله قسم وي چه نبى عليه السلام دخالص ريښمي كپړي داستعمال نه منع فرمائيلي ده؟ معاويه اووئيل هو، مقدام اووئيل ستادي په الله قسم وي چه نبى عليه السلام د درنده څناورو د څرمني داغوستلونه او په دي باندي دسوريدونه منع فرمائيلي وه؟ معاويه اووئيل هو، مقدام: وز پر پوين څيزونه ستاپه كور كښي وينم معاويه اوفرمائيل اې مقدام زه په دي پوهيږم چه زه ستادلاس نه مخ نه شم حاصلولي ، خالي. وائى چه زيبا و ساده اند - ددومره مال وركولو حكم وكړو څومره م ايد. بيشترين ملګرودباره كړي وو اوودده دځوي دياره بين حصه به دوه سوه كسانوكښي مقرر كړه مقدام هغه ما رو بخونه ملګروباندي تقسيم كړو اودقبيله بنو اسية. واشي دخپل مال نه چاته هيڅ هم ورنسكړل كله چه برون ته ددي خبري اطلاع ورسيده نوهغه اووئيل مقدام يوسخي سړي دي دچاچه لاسونه پراخه دي اودكومه حده پورې چه داسدي تعلق دي نوهغه خپل مال لره ښه منع كونكي كس دي.

قوله: ﴿ عَنْ خَالِدٍ قَالَ وَفَدَ الْمِقْدَامُ بْنُ مَعْدِيكَرِبَ وَعَمْرُو بْنُ الْأَسْوَدِ وَرَجُلٌ مِنْ بَنِي أَسَدٍ مِنْ أَهْلِ قِنَّسْرِينَ إِلَى مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ فَقَالَ مُعَاوِيَةُ لِلْمِقْدَامِ أَعَلِمْتَ أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ تُوُفِّيَ فَرَجَّعَ الْمِقْدَامُ....... فَقَالَ الْمِقْدَامُ أَمَّا أَنَا فَلَا أَبْرَحُ الْيَوْمَ حَتَّى أُغِيظَكَ ....الخ ﴾

مضمون الحديث:

بحير بن سعد رضي الله عنه روايت كوى د خالد بن معدان نه چه يو ځل د معاويه رضي الله عنه په خدمت كښي

دا درې کسان يو مقدام بن معديکرب ﷺ، عمرو بن الاسود او يو بل سړې اسدی د قنسرين د اوسيدونکو نه د وفد په طور حاضر شول. په مجلس کښې معاويه ﷺ اوفرمائيل: حضرت مقدام ﷺ ته خطاب کولو سره چه تاسو ته هم معلومه ده چه د حسن بن علی ﷺ وفات اوشو (توفی ٤٩ هجری) نو په دې باندې مقدام ﷺ ﴿ انا لله ﴾ اولوستلو نو يو سړی اووې (لعله الرجل الاسدی او غيره) آيا ته دا مصيبت ګڼړې؟ مقدام ﷺ اوفرمائيل زه به دا مصيبت ولې نه ګڼړم حال دا چه رسول الله ﷺ په داسې حال کښې چه حسن ﷺ د هغوی په غيږ مبارک کښې وو فرمائيلې وو ﴿ هذا منی وحسين من علی ﴾ نو په دې باندې اسدی اووې چه وفات شو نو څه چل اوشو يو سکروټه وه چه الله مړه کړه، نو معاويه ﷺ په دې باندې خاموش وو او د هغوی خاموشی په مقدام ﷺ باندې بده اولګيده په دې وجه هغوی اوفرمائيل چه نن به زه هم د دې ځائې نه نه ځم تر څو زه تا (معاويه ﷺ) غصه نه کړم او يو ناخوښه خبره درته اونکړم، او په دې وينا باندې تياريدو سره کيناستلو او معاويه ﷺ ته ئې اوفرمائيل چه ګوره که زه رښتيا وايم نو د هغې تصديق کوه او که غلطه وايم نو تکذيب ئې کوه. (د معاويه ﷺ خو حلم مشهور دې پس) هغوی اوفرمائيل چه او زه خو به هم داسې کوم، او بيا ئې څو څيزونه چه د هغې نه رسول الله ﷺ منع فرمائيلې ده د هغوی مخې ته بيان کړل چه تاسو د رسول الله ﷺ نه دا اوريدلې دی، هغوی به د هر يو په باره کښې فرمائيل بغير د خفګان نه چه او...... ما دا حديث د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دې. هغه امور دا دی: د سرو په حق کښې د سرو زرو اچولو نه ممانعت او هم دغه شان د لبس حرير نه، او دريم د لبس جلود سباع [1] او په هغې باندې د رکوب نه، معاويه ﷺ د ټولو په باره کښې فرمائيل چه او ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دی. بيا په آخير کښې مقدام ﷺ معاويه ﷺ ته اوفرمائيل چه دا ټول ممنوع څيزونه ما ستا په کورکښې ليدلې دی. ﴿ فَقَالَ مُعَاوِيَةُ قَدْ عَلِمْتُ أَنِّي لَنْ أَنْجُوَ مِنْكَ يَا مِقْدَامُ ﴾ په دې باندې معاويه ﷺ اوفرمائيل چه زه خو اول پوهه شوې اوم، چه زه به نن ستا نه نه بچ کيږم، او ستا د تنقيد به ضرور په نخښه کيږم، ﴿ قَالَ خَالِدٌ فَأَمَرَ لَهُ مُعَاوِيَةُ بِمَا لَمْ يَأْمُرْ لِصَاحِبَيْهِ وَفَرَضَ لِابْنِهِ فِي الْمِئَتَيْنِ ﴾ خالد بن معدان فرمائی چه معاويه ﷺ د مقدام دپاره د دومره لوئې هديه حکم اوفرمائيلو کوم ئې چه د هغوی د دواړو ملګرو دپاره نه وو فرمائيلې، او د دې نه علاوه ئې د هغوی ځوی ته د چا نوم چه يحيی وو، په خپل فوج کښې داخل کړو چه د هغه وظيفه څو سوه ته يا دوه سوه وه (علی اختلاف النسخ ففی نسخة المائتين) وړاندې راوی وائی چه کومه هديه مقدام ﷺ ته ملاؤ شوې وه هغوی خو هغه ټول هر څه په خپلو ملګرو باندې تقسيم کړل، او دې اسدی سړی چا چه د حسن ﷺ په باره کښې سخته جمله وئيلې وه هغوی چاته هيڅ هم ورنکړل، دا خبره معاويه ﷺ ته روستو پته اولګيده نو هغه د مقدام ﷺ تعريف او مدح اوکړه، ﴿ اما المقدام فرجل کريم بسط يده، يا بسط يده ﴾ چه مقدام ډيرشريف اوسخی دې د هغوی لاس د ورکړې دپاره فراخه دې. ﴿ واما

[1]) وعلة المنع في جلود النمور والسباع اما لان الدبغ لايوثر في الشعر ولا يطهره واما لانه من زي المتكبرين وهذان الوجهان عند الشافعي والوجه عندنا هو الآخير)

الاسدی فرجل حسن الامساک لشیه وفی نسخة لشیئه ﴾ [1] یعنی اسدی خپل څیز لره ښه بندونکې دې، زمونږ په اردو محاوره کښې غټ بخیل ته ممسک اعظم وائی.

والحدیث اخرجه النسائی مختصرا، قاله المنذری.

[٤١٣٢] ([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، أَنَّ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ، وَإِسْمَاعِيلَ بْنَ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَاهُمُ الْمَعْنَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ بْنِ أُسَامَةَ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ جُلُودِ السِّبَاعِ".

اسامه نه دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه نبي کریم ﷺ دد درنده ګانو دڅرمنو داستعمال نه منع فرمائیلې ده.

بَابٌ فِي الِانْتِعَالِ

باب د پیزار په خپو کولو بیان

[٤١٣٣] ([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَقَالَ: "أَكْثِرُوا مِنَ النِّعَالِ فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ رَاكِبًا مَا انْتَعَلَ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی علیه السلام سره په یوسفرکښې وونبی علیه السلام اوفرمائیل تاسو په کثرت سره پیزارونه اغوندئ په دې وجه چه کله چه پیزار دیوانسان په خپروي نودا داسې ده لکه چه دې همیشه سور رې (یعنی دده خپه دتکلیفونو نه محفوظ وي).

(عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– أَنْ يَنْتَعِلَ الرَّجُلُ قَائِمًا ﴾ یعنی پیزار په ناسته باندې په خپو کول پکار دی، په ولاړه باندې په خپو کول نه دی پکار.

[٤١٣٤] ([4]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ "أَنَّ نَعْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَهَا قِبَالَانِ".

دانس رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام په پیزار کښې دوه تسې لګیدلې وې.

دا نهی د شفقت دپاره ده ځکه چه په بعض صورتونو کښې په دې سره د سقوط ویره وی او چه هر کله په ولاړه ولاړه په سهولت سره وانغوستلې شی نو په دې سره د اغوستونکی هیئت خراب شان شی، ففی الکوکب الدری لما فیه من احتمال السقوط ومخالفة التودة، ونکارة الهیئة الظاهرة...

---

[1] شئ که په تشدید د یاء سره وی بغیر د همزې نه نو د دې معنی مشوی لیکلې شوې ده یعنی تیار کړې شوې او حاصل کړې شوې څیز.

[2]: سنن الترمذي/اللباس ٣٢ (١٧٧١)، سنن النسائي/الفرع والعتيرة ٦ (٤٢٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٣١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧٤/٥، ٧٥) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٩٧١)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/اللباس ١٨ (٢٠٩٦)، مسند احمد (٣٣٧/٣) (صحيح)

[4]: صحيح البخاري/الخمس ٥ (٣١٠٧)، اللباس ٤١ (٥٨٥٧)، سنن الترمذي/اللباس ٣٣ (١٧٧٣)، الشمائل ١٠ (٧١)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ٦٢ (٥٣٦٩)، سنن ابن ماجه/اللباس ٢٧ (٣٦١٥)، (تحفة الأشراف: ١٣٩٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٢/٣، ٢٠٣، ٢٤٥، ٢٦٩) (صحيح)

[۴۱۳۵]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ أَبُو يَحْيَى، أَخْبَرَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْتَعِلَ الرَّجُلُ قَائِمًا".

دجابر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی عليه السلام په ولاړه دپيزار خپو کولونه منع فرمائيلې ده.

دا حديث د جابر رضی الله عنه دې او هم دا متن په ترمذی شريف کښ په روايت د ابوهريره رضی الله عنه او يو په روايت د انس بن مالک رضی الله عنه په بيل بيل سند سره روايت کړې شوې دې، په دې دواړو احاديثو باندې امام ترمذی رحمه الله کلام کړې دې ولفظه : وكلا الحديثين لا يصح عند أهل الحديث و الحرث بن نبهان ليس عندهم بالحافظ ولا نعرف لحديث قتادة عن أنس أصلا، د دې نه پس ئې د امام بخاری رحمه الله نه هم داسې نقل کړې دی چه دا دواړه احاديث ثابت نه دی.

[۴۱۳۶]( ) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَمْشِي أَحَدُكُمْ فِي النَّعْلِ الْوَاحِدَةِ لِيَنْتَعِلْهُمَا جَمِيعًا، أَوْ لِيَخْلَعْهُمَا جَمِيعًا".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی په تاسو کښې دې هيڅوک په يوبيزار کښې نه ګرځي يابه دواړه پيزارونه په يوځای خپو کوي اويابه دواړه په يوځائې اوباسي.

قوله: ﴿ لاَ يَمْشِي أَحَدُكُمْ فِي النَّعْلِ الْوَاحِدَةِ لِيَنْتَعِلْهُمَا جَمِيعًا أَوْ لِيَخْلَعْهُمَا جَمِيعًا ﴾

يعنی څوک دې هم په يو څپلئ اچولو سره نه ګرځی، يا خو دې په دواړو خپو کښ واچوی يا دې بيا دواړه اوباسی، د دې مصلحت هم د دې په شان دې کوم چه پورته نهی راغلې ده، د وقار خلاف هم ده او په تلو کښ هم مشقت وی ځکه چه په دواړو خپو کښ د لوړوالی او ښکته والی په وجه باندې په تلو کښ تکليف وی.

امام ترمذی رحمه الله په دې سلسله کښ دوه بابونه قائم کړې دی ﴿ باب ما جاء فی كراهية المشی فی النعل الواحدة ﴾ د دې نه پس ﴿ ما جاء فی الرخصة فی النعل الواحدة ﴾ اوپه دې دويم باب کښې دحضرت عائشې رضی الله عنها حديث ذکرکړې دې: (قالت ربما مشى النبی فی نعل واحدة) په کوکب الدری کښ ليکلې دی : قوله فی نعل واحدة : لئلا يحمل النهی على التحريم اهـ..... امام ترمذی رحمه الله دا حديث په دوه طريقو سره ذکر کړې دې په يو طريق کښ دا حديث مرفوع دې او په دويم کښ موقوف په عائشې رضی الله عنها باندې، ﴿ عن عائشة رضی الله عنها انها مشت بنعل واحدة ﴾ وهذا اصح، يعنی صديقه رضی الله عنها به کله کله يو پيزار اچولو سره هم په کور کښ ګرځيده، امام ترمذی رحمه الله فرمائی : وهذا اصح.... يعنی د دې حديث موقوف کيدل (د عائشې رضی الله عنها فعل کيدل) زيات صحيح دی. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی، قاله المنذری.

( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۶۴۹) (صحيح)

( ): صحيح البخاري/اللباس ۴۰ (۵۸۵۵)، صحيح مسلم/اللباس ۱۹ (۲۰۹۷)، سنن الترمذي/اللباس ۳۷ (۱۷۷۴)، سنن ابن ماجه/اللباس ۲۹ (۱۶۱۷)، (تحفة الأشراف: ۱۳۸۰۰)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/اللباس ۷ (۱۴)، مسند احمد (۲/ ۲۴۵، ۲۵۳، ۳۱۴، ۴۲۴، ۴۴۳، ۴۷۷، ۴۸۰، ۵۲۸) (صحيح)

[۴۱۳۷] (١) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ أَحَدِكُمْ فَلَا يَمْشِ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ حَتَّى يُصْلِحَ شِسْعَهُ وَلَا يَمْشِ فِي خُفٍّ وَاحِدٍ وَلَا يَأْكُلْ بِشِمَالِهِ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه رسول الله له فرمائیلی دی کله چه په تاسو کښې دیو کس پیزار تسمه وشلیږي نوپه یوپیزار کښې دی تلل نه کوي ترڅوچه ئې دخپل پیزار تسمه روغه کړي نه وي اونه به څوک په یوه موزه کښې ځي اونه به څوک په ګس لاس باندې خوراک کوي.

[۴۱۳۸] (٢) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ هَارُونَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي نَهِيكٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "مِنَ السُّنَّةِ إِذَا جَلَسَ الرَّجُلُ أَنْ يَخْلَعَ نَعْلَيْهِ فَيَضَعَهُمَا بِجَنْبِهِ".

دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه سنت طریقه داده کله چه څوک کښیني نوخپل پیزار دي اوباسي او خپل خواته دي کیږدي.

[۴۱۳۹] (٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيَمِينِ، وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ، لِتَكُنِ الْيَمِينُ أَوَّلَهُمَا يُنْتَعَلُ وَآخِرَهُمَا يُنْزَعُ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نه علیه السلام فرمائیلی دی کله چه په تاسو کښې یو کس پیزار خپوکوي نودښي پیزارنه دي مخکښې شروع وکړي اوکله چه څوک په تاسوکښې پیزار اوباسي نودګس پیزار نه دي اول شروع وکړي ددې دپاره چه ښئ خپه په خپوکولوکښې مخکښې شي اوګه خپه په ویستلوکښې مخکښې شي.

[۴۱۴۰] (٤) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ فِي طُهُورِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَنَعْلِهِ"، قَالَ مُسْلِمٌ: وَسِوَاكِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَنْ شُعْبَةَ مُعَاذٌ وَلَمْ يَذْكُرْ سِوَاكَهُ.

دعائشه رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه رسول الله به په ټولو کارونو کښې دښئ طرف نه شروع کول خوښول ترڅوچه به ممکن وو تردې پورې چه په اودس کولوکښې وینته ګمنزولوکښې او په پیزار خپوکولوکښې هم اودمسلم به روایت کښې دومره اضافه ده چه

(١): صحيح مسلم/اللباس ٢٠ (٢٠٩٩)، (تحفة الأشراف: ٢٧١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٢٩٣، ٣٢٧) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٥٧١) (ضعيف الإسناد)

(٣): صحيح البخاري/اللباس ٣٩ (٥٨٥٤)، سنن الترمذي/اللباس ٣٧ (١٧٧٩)، (تحفة الأشراف: ١٣٨١٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/اللباس ١٩ (٢٠٩٧)، سنن ابن ماجه/اللباس ٢٨ (٣٦١٦)، موطا امام مالك/اللباس ٧ (١٥)، مسند احمد (٢/٢٤٥، ٢٦٥، ٢٨٣، ٤٣٠، ٤٧٧) (صحيح)

(٤): صحيح البخاري/الوضوء ٣١ (١٦٨)، الصلاة ٤٧ (٤٢٦)، الأطعمة ٥ (٥٣٨٠)، اللباس ٣٨ (٥٨٥٤)، ٧٧ (٥٩٢٦)، صحيح مسلم/الطهارة ١٩ (٢٦٨)، اللباس ٤٤ (٢٠٩٧)، سنن الترمذي/الصلاة ٣١٦ (٦٠٨)، الشمائل ١٠ (٨٠)، سنن النسائي/الطهارة ٩٠ (١١٢)، الغسل ١٧ (٤٢١)، الزينة ٨ (٥٠٦٢)، الزينة من المجتبى ٩ (٥٢٤٢)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٤٢ (٤٠١)، (تحفة الأشراف: ١٧٦٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٩٤، ١٣٠، ١٤٧، ١٨٨، ٢٠٢، ٢١٠) (صحيح)

دمسواک په وهلوکښې هم. امام ابوداؤد فرمائی دا روایت معاذ دشعبه نه نقل کړې دې لیکن دمسواک ذکرئې نه دې کړې.

﴿ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِى شَأْنِهِ كُلِّهِ فِى طُهُورِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَنَعْلِهِ. قَالَ مُسْلِمٌ وَسِوَاكِهِ ﴾

د عائشې صديقې رضي الله عنها يو حديث په ابواب الاستنجاء کښې تير شوې دې. ﴿ كانت يد رسول الله ﷺ اليمنى لطهوره وطعامه، وكانت يده اليسرى لخلائه وما كان من اذى ﴾ د دې شرح دې هم اوکتلې شي. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤١٤١](١)حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا لَبِسْتُمْ وَإِذَا تَوَضَّأْتُمْ فَابْدَءُوا بِأَيَامِنِكُمْ".

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبي عليه السلام فرمائيلی دی کله چه لباس بدلوئ يا اودس کوئ نوتاسو دخپل ښی طرف نه مخکښې شروع وکړئ.

بَابٌ فِي الْفُرُشِ

دبسترو بيان

[٤١٤٢](٢)حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ الْهَمْدَانِيُّ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ أَبِي هَانِئٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْفُرُشَ، فَقَالَ: "فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ وَفِرَاشٌ لِلْمَرْأَةِ وَفِرَاشٌ لِلضَّيْفِ وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبي عليه السلام دسترو تذکره کوله نوئې فرمائيل يوه بستره دخپل ځان دپاره پکارده اوبله بستره دخپلې ښځې دپاره اويوه بستره د ميلمه دپاره پکارده اوددينه علاوه بسترې دشيطان دپاره وي.

قوله: ﴿ فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ وَفِرَاشٌ لِلْمَرْأَةِ وَفِرَاشٌ لِلضَّيْفِ وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ ﴾

شرح الحديث :

يعنی رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه درې بسترې په کور کښې کيدل کافی دی يو د ځان دپاره او يو د ښځې دپاره، او يو د ميلمه دپاره، د دې نه مراد جنس فراش دې، يعنی د ميلمنو د ضرورت دپاره اوس چه هر څومره ضرورت وی د هغې اعتبار به کولې شی، او څلورمه د شيطان دپاره، يعنی کومه چه د ضرورت نه زياتی وی، چه دا د دنيا د سازوسامان تکثير دې کوم چه د شيطان د طرف نه دې.

﴿ فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ وَفِرَاشٌ لِلْمَرْأَةِ ﴾ باندې شراح الحديث يو بله خبره هم ليکلې ده چه د سړی د ښځې سره ملاسته اولی ده يا بيله ملاسته؟ ففى ((البذل)) استدل بعضهم على انه لا يلزم للرجل

---

(١): سنن ابن ماجه/الطهارة ٤٢ (٤٠٢)، (تحفة الأشراف: ١٢٣٨٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/اللباس ٢٨ (١٧٦٦)، مسند احمد (٣٥٤/٢) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/اللباس ٨ (٢٠٨٤)، سنن النسائي/النكاح ٨٢ (٣٣٨٧)، (تحفة الأشراف: ٢٣٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٣/٣، ٣٢٤) (صحيح)

النوم مع امراته وان له الانفراد عنها بفراش ثان، قال النووي والاستدلال به في هذا ضعيف، لان المراد بهذا وقت الحاجة بالمرض وغيره، وان كان النوم مع الزوجة ليس بواجب، والصواب في النوم مع الزوجة انه اذا لم يكن لواحد منهما عذر في الانفراد فاجتماعهما في فراش واحد افضل وهو ظاهر فعل رسول الله ﷺ الذي واظب عليه...الى آخرما ذكر. والحديث اخرجه مسلم والنسائي، قاله المنذري

[٤١٤٣](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ. ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ وَكِيعٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِهِ، فَرَأَيْتُهُ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ"، زَادَ ابْنُ الْجَرَّاحِ عَلَى يَسَارِهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ أَيْضًا عَلَى يَسَارِهِ.

جابر بن سمره نه روايت دې فرمائي چه زه دنبي ﷺ کور ته داخل شوم مانبي ﷺ اوليد و چه با لخت ته ئي ډډه وهلې وه ابن جراح دا اضافه کړې ده چه نبي ﷺ درباخت بي طرفي ته ډډه وهلې وه امام ابوداؤد فرمائي چه دا روايت اسحق داسرائيل نه نقل کړې سې اوپه دې کښې لفظ على يساره موجود دې.

[٤١٤٤](٢) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ وَكِيعٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ سَعِيدِ بْنِ عَمْرٍو الْقُرَشِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ رَأَى رُفْقَةً مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ رِحَالُهُمُ الْأَدَمُ، فَقَالَ: "مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى أَشْبَهِ رُفْقَةٍ كَانُوا بِأَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَؤُلَاءِ".

د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه مايو خو ملګري اوليدل کوم چه ديمن او سيدونکي وو اوددوئ بستري دڅرمنو نه جوړې شوي وې هغه اوفرمائيل څوک چه غواړي چه دصحابه کرامو سره مشابه ملګري اووينې نو دوی ته دې اوګوري.

﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ رَأَى رُفْقَةً مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ رِحَالُهُمُ الْأَدَمُ ﴾

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څو د سفر ملګرى اوليدل چه د يمن والا وو چه د هغوى په اوښانو باندې د څرمنې کيجاوې وې. الادم جمع ده د اديم يعنى جلد مدبوغ نو هغوى د هغې په ليدو باندې اوفرمائيل چه کوم سړې دا خوښوى چه داسې د سفر ملګرى وينى کوم چه د صحابه کرامو رضي الله عنهم زيات مشابه وى نو هغوى له پکار دى چه دوى ته اوګورى. يعنى په اعتبار د سادګئ او ترک د تکلف او زينت کښې

[٤١٤٥](٣) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اتَّخَذْتُمْ أَنْمَاطًا"، قُلْتُ: وَأَنَّى لَنَا الْأَنْمَاطُ، قَالَ: "أَمَا إِنَّهَا سَتَكُونُ لَكُمْ أَنْمَاطٌ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ راته اوفرمائيل تاسو خو توشکونه جوړ کړل عرض اوکړې شواى دالله رسوله زمونږ سره توشکونه چرته دي نبي ﷺ اوفرمائيل ډيره نزدې ده چه تاسو ته به درکړې شي توشکونه.

﴿ أَتَّخَذْتُمْ أَنْمَاطًا، قُلْتُ وَأَنَّى لَنَا الْأَنْمَاطُ الخ ﴾ د جابر رضي الله عنه نه روايت دې چه ماته رسول

(١): سنن الترمذي/الاستئذان ٢٨ (٢٧٧٢، ٢٧٧٣)، الأدب ٢٣ (٢٧٧١)، (تحفة الأشراف: ٢١٣٨) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٠٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٠/٢) (صحيح الإسناد)
(٣): صحيح البخاري/المناقب ٢٥ (٣٦٣١)، النكاح ٦٢ (٥١٦١)، صحيح مسلم/اللباس ٧ (٢٠٨٣)، سنن الترمذي/الأدب ٢٦ (٢٧٧٤)، سنن النسائي/النكاح ٨٣ (٣٣٨٨)، (تحفة الأشراف: ٣٠٢٩) (صحيح)

الله ﷺ اوفرمائيل چه تا نرى د جال په شان څادرونه ساتل شروع كړل. ما عرض اوكړو چې هغه مونږ سره كوم دى؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه اوس نشته خو څو ورځې پس به درسره شى، يعني روستو به درسره د فتوحاتو په وجه د مالدارى د وجې نه پيدا شى او دا د تكلف او ډول ځيزونه به تاسو اختياروَل شروع كړئ.

﴿ انماط ﴾ د نمط جمع ده جالر نرى قسم څادر ته وائى كوم چه په ګدئ وغيره باندې اچولې شى د ډول دپاره.

دا روايت په صحيحين او ترمذى كښې هم دې چه په هغې كښې دا زيادت دې، جابر رضي الله عنه فرمائى چه زما د كور والا سره دا قسم يو څادر وو، ما به هغې ته وئيل چه دا د دې ځائې نه لرې كړه ځكه چه رسول الله ﷺ فرمائيلې وو ﴿ انها ستكون ﴾ چه روستو زمانه كښې به داسې څادرې شى، ﴿ فادعها ﴾ نوپه دې زه دا پرېږدم، يعني سكوت اختياروم چه كله هغه د حديث حواله وركوى. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[٤١٤٦]([1])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كَانَ وِسَادَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ ابْنُ مَنِيعٍ: الَّتِي يَنَامُ عَلَيْهَا بِاللَّيْلِ ثُمَّ اتَّفَقَا مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ".

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه دنبى عليه السلام يو داسې بالخت وو په كوم چه به دشپې اوده كيدو د رنګ كړې شوې څرمنې نه جوړ وو او مينځ ئې دكجورو دپاڼړو نه ډك كړې شوې وو.

﴿عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ كَانَ وِسَادَةُ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– الذى يَنَامُ عَلَيْهَا بِاللَّيْلِ – مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ ﴾

عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائى چه د رسول الله ﷺ وساده يعني تكيه د چمړې وه چه د كهجورې د پوستكو نه ډكه كړې شوې وه.

ليف... يعني پوستكې د كهجورې..... او د هغې نه روستو روايت كښې د حضور ﷺ د ضجعة په باره كښې هم دا راروان دى كوم چه د وساده په باره كښې راغلې دى، يعني بستره چه هغه هم د داسې چمړې وه چه په هغې كښې د كجهورې پوستكې اچولې شوې وو، او د ابن ماجه په روايت كښې د ليف په ځائې د الاذخر لفظ دې يعني يو مشهوره ګيا (سرګړې) چه د هغې ذكر په كتاب الحج كښې هم راغلې دې.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي بمعناه، قاله المنذري.

[٤١٤٧]([2])حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ حَيَّانَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كَانَتْ ضِجْعَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ".

[1]: صحيح مسلم/اللباس ٦ (٢٠٨٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٢٠٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الرقاق ١٦ (٦٤٥٦)، سنن الترمذي/اللباس ٢٧ (١٧٦١)، وصفة القيامة ٣٢ (١٧٢٠٢)، سنن ابن ماجه/الزهد ١١ (٤١٥١)، مسند احمد (٦/٤٨، ٥٦، ٧٣، ١٠٨، ٢٠٧، ٢١٢) (صحيح)

[2]: سنن ابن ماجه/الزهد ١١ (٤١٥١)، وانظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٦٩٥١) (صحيح)

دعائشه ﷞ نه روایت دي فرمائی چه دنبی ﷺ یوتوشک وو په کوم چه به دشپې اوده کیدودرنگ کړې شوي څرمنې نه جوړ وواو مینځ ئې دکجورو دپانړو نه ډک کړې شوي وو.

[٤١٤٨] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "كَانَ فِرَاشُهَا حِيَالَ مَسْجِدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ام سلمه ﷞ نه روایت دي فرمائی چه زما بستره دنبی ﷺ د مونځ ځائ ته مخامخ پرته وه.

﴿عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ فِرَاشُهَا حِيَالَ مَسْجِدِ النبي-صلى الله عليه وسلم ﴾

شرح الحديث:

ام سلمه ﷞ فرمائی چه زما د ملاستې بستره د رسول الله ﷺ د مونځ کولو د ځائې په خوا کښې وه، او خپله به د رسول الله ﷺ بستره د مانځه ځائې ته نزدې وه نو ګویا دا درې واړه ځیزونه به نزدې نزدې وو، د رسول الله ﷺ بستره او د هغوی د اهل او د نفلونو د کولو ځایونه، پس په کتاب الادب کښې ﴿ باب كيف يتوجه الرجل عند النوم ﴾ کښې د ام سلمه ﷞ حدیث راروان دې.

﴿ كَانَ فِرَاشُ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- نَحْوًا مِمَّا يُوضَعُ الإِنْسَانُ فِي قَبْرِهِ وَكَانَ الْمَسْجِدُ عِنْدَ رَأْسِهِ﴾ د دې مسجد نه مراد هم دا مسجد بیت دې د تهجد کولو ځائې، والحديث اخرجه ابن ماجه، وقال عن زينب بنت ام سلمة، قاله المنذري.

بَابٌ فِي اتِّخَاذِ السُّتُورِ

د پردې زوړندولو بیان

[٤١٤٩] (٢) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ غَزْوَانَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى فَاطِمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، فَوَجَدَ عَلَى بَابِهَا سِتْرًا، فَلَمْ يَدْخُلْ، قَالَ: وَقَلَّمَا كَانَ يَدْخُلُ إِلَّا بَدَأَ بِهَا، فَجَاءَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَرَآهَا مُهْتَمَّةً، فَقَالَ: مَا لَكِ؟ قَالَتْ: جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيَّ فَلَمْ يَدْخُلْ، فَأَتَاهُ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ فَاطِمَةَ اشْتَدَّ عَلَيْهَا أَنَّكَ جِئْتَهَا فَلَمْ تَدْخُلْ عَلَيْهَا، قَالَ: وَمَا أَنَا وَالدُّنْيَا وَمَا أَنَا وَالرَّقْمَ، فَذَهَبَ إِلَى فَاطِمَةَ، فَأَخْبَرَهَا بِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: قُلْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَأْمُرُنِي بِهِ، قَالَ: قُلْ لَهَا فَلْتُرْسِلْ بِهِ إِلَى بَنِي فُلَانٍ".

د عبدالله بن عمر ﷞ نه روایت دي فرمائی چه نبی ﷺ د فاطمې ﷞ کورته تشریف رارو نودهغې په دروازه کښې یې یوسوه پرده اولیده نو ورته داخل نه شو بلکه د بهرنه وبی لاړو، راوی وائی چه نبی ﷺ به ډیر ستشم داسې کول چه کورته به لاړو او د فاطمې ﷞ سره به په خبرې ونکړې، کله چه نبی ﷺ راغی نوفاطمه به ولیده چه خفه ناسته د هغه اووئیل اې فاطمې ﷞ څه خبره ده؟ فاطمې اووئیل زماطرف ته نبی ﷺ راغلې وو لیکن دننه رانغې علی ده چه دا واوریدل نو دنبی ﷺ به خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو چه فاطمه ستاسو په نه راتلوباندې ډیره خفه ده نبی ﷺ اوفرمائیل زمادونیا سره څه تعلق ده؟ زمادنقش نګارسره څه تعلق دې علی ﷜ چه د واوریدل نو فاطمې ﷞ نه لاړو اودنبی ﷺ

(١): سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٤٠ (٩٥٧)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢٢/٦) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الهبة وفضلها ٢٧ (٢٦١٣)، (تحفة الأشراف: ٨٢٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١/٢) (صحيح)

فرمان ئې ورته بيان کړو فاطمې اووئيل دنبی ﷺ نه معلومه کړه چه په دې پرده باندې څه وکړو نبی ﷺ ورته اووئيل فاطمې ته وايه چه فلانکې خلقوته ئې ولېږه.

﴿ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- أَتَى فَاطِمَةَ رضى الله عنها فَوَجَدَ عَلَى بَابِهَا سِتْرًا فَلَمْ يَدْخُلْ الخ ﴾

شرح الحديث :

يعنی يو ځل رسول الله ﷺ فاطمې رضی الله عنها کره تشريف اوړلو د هغې کور ته، چه کله دروازې ته اورسيدل نو وې کتل چه په هغې باندې يو منقش پرده زوړنده ده، لکه چه په روستو روايت کښې راځي، ﴿ قَالَ وَكَانَ سِتْرًا مَوْشِيًّا ﴾ نو رسول الله ﷺ دننه داخل نه شو بلکه واپس لاړو. راوی وائی چه د رسول الله ﷺ معمول د سفر نه په واپس کيدو باندې د ټولو نه اول فاطمې رضی الله عنها سره د ملاقات وو. لږ ساعت پس علی رضی الله عنه کور ته راغلو، هغوی فاطمه رضی الله عنها خفه اوليده. د هغې وجه ئې اوتپوسله، هغوی د دې وجه بيان کړه. سيدنا علی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، او ټلو سره ئې رسول الله ﷺ ته د فاطمې رضی الله عنها حال بيان کړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿ وَمَا أَنَا وَالدُّنْيَا وَمَا أَنَا وَالرَّقْمَ ﴾ چه زما د دنيا او د هغې د ډول سره څه مناسبت دې، او وې فرمائيل چه زما د دې جهان او د دې د ګلونو سره څه کار دې؟ علی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ دا ارشاد هغې ته بيان کړو نو فاطمې رضی الله عنها سيدنا علی رضی الله عنه ته اوفرمائيل چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړی چه زه په دې پردې څه اوکړم نو رسول الله ﷺ د يو کورنۍ نوم اخستلو سره اوفرمائيل چه دا هلته اولېږه.

(ايا پرده زوړندول ممنوع دی؟)

په دروازه باندې پرده کيدل خو ناجائز او ممنوع نه دی بلکه هغه خو کيدل پکار دی د پردې دپاره، دلته چه رسول الله ﷺ په څه خفه شو هغه د هغې په منقش کيدو باندې، خو چه کومه پرده په کور کښې دننه په ديوال يا چهت باندې خوره کړې شی د ډول دپاره د هغې مطلقا مذمت راغلې دې لکه چه په يو روايت کښې دی کوم چه د کتاب الصلوة په آخير کښې تير شوې دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿ لا تستروا الجدر ﴾ د دې شرح او تفصيل هلته تير شوې دې، په باب الدعاء کښې.

[٤١٥٠]()حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الْأَسَدِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: وَكَانَ سِتْرًا مَوْشِيًّا.

دفضيل نه دتيرشوی روايت په شان روايت بيان شوې دې البته په دې روايت کښې داسې ذکرشوې دې چه په هغه پرده باندې ګلونه جوړ شوې وو.

﴿ قَالَ وَكَانَ سِتْرًا مَوْشِيًّا ﴾ او په يو نسخه کښې دی ﴿ موشی ﴾ دا د وشئ نه ماخوذ دې چه د هغې معنی د نقش ده.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٨٢٥٢) (صحيح)

باب فِي الصَّلِيبِ فِي الثَّوْبِ

په کومه جامه باندې چه د صلیب نښان جوړ شوې وی

[۴۱۵۱](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ حِطَّانَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ لَا يَتْرُكُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا فِيهِ تَصْلِيبٌ إِلَّا قَضَبَهُ".

دعائشه ﷞ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ به په خپل کور کښې داسې یوشې نه پریخودو په کوم چه به دصلیب تصویر جوړ شوې وو مگر ماتولوبه یې.

﴿ كَانَ لاَ يترك فِي بَيْتِهِ شَيْئًا فِيهِ تَصْلِيبٌ إِلاَّ قَضَبَهُ ﴾ یعنی رسول الله ﷺ به چه په خپل کور کښې د صلیب صورت جوړ شوې اولیدو نو هغه به ئې ماتولو، صلیب اگر چه د غیر ذی روح تصویر دې خو چونکه هغه د نصاراو شعار دې او هغوی به د دې تعظیم کولو په دې وجه د مسلمان په کور کښې نه دی کیدل پکار او که وی نو هغه ختمول پکار دی.

صلیب یعنی سولئ چه د هغې په باره کښې د نصاراو دا گمان دې چه یهودو عیسی علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام په سولئ باندې خیژولې وو، هم په دې وجه باندې به هغوی د هغې تعظیم کولو او بعض وخت به ئې پکښې د عیسی ﷺ تصویر هم جوړولو د صلیب شکل داسې وی: ✝... والحدیث اخرجه البخاری والنسائی، قاله المنذری.

باب فِي الصُّوَرِ

د تصویرونو بیان

[۴۱۵۲](2) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُدْرِكٍ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُجَيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ وَلَا كَلْبٌ وَلَا جُنُبٌ".

دعلی ﷛ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی هغه کورته درحمت فرښتې نه داخلیږي په کوم کښې چه تصویرونه یاسپې یاجنب سړې وي.

قوله: ﴿ لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ وَلاَ كَلْبٌ وَلاَ جُنُبٌ ﴾

دا حدیث په کتاب الطهارة، باب فی الجنب یوخر الغسل، کښې تیر شوې دې او په دې باندې کلام هم هلته تیر شوې دې، او بله دا چه په دې حدیث کښې د کلب نه مراد عام دې یا که صرف ممنوع الاتخاذ، فارجع الیه لو شئت....والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجه، ولیس فی حدیث ابن ماجه، ((لاجنب)).......قاله المنذری

[۴۱۵۳](3) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ سُهَيْلٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ الْأَنْصَارِيِّ،

---

1): صحيح البخاري/اللباس ٩٠(٥٩٥٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٢/٦، ٢٣٧، ٢٥٢) (صحيح)

2): انظر حديث رقم: (٢٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٩١) (صحيح)

3): صحيح البخاري/بدء الخلق ٧(٣٢٢٥)، ١٧ (٣٣٢٢)، المغازي ١٢ (٤٠٠٢)، اللباس ٨٨(٥٩٤٩)، ٩٢ (٥٩٥٨)، صحيح مسلم/اللباس ٢٦ (٢١٠٦)، سنن الترمذي/الأدب ٤٤ (٢٨٠٤)، سنن النسائي/الصيد والذبائح ١١ (٤٢٨٧)، الزينة من المجتبى ٥٧ (٥٣٤٩)، سنن ابن ماجه/اللباس ٤٤ (٣٦٤٩)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٨٩، ٣٧٧٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الاستئذان ٣(٦)، مسند احمد (٢٨/٤، ٢٩، ٣٠) (صحيح)

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِي طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا تِمْثَالٌ"، وَقَالَ: انْطَلِقْ بِنَا إِلَى أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ نَسْأَلُهَا عَنْ ذَلِكَ، فَانْطَلَقْنَا، فَقُلْنَا: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّ أَبَا طَلْحَةَ، حَدَّثَنَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَذَا وَكَذَا فَهَلْ سَمِعْتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ ذَلِكَ؟ قَالَتْ: لَا، وَلَكِنْ سَأُحَدِّثُكُمْ بِمَا رَأَيْتُهُ فَعَلَ، خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ مَغَازِيهِ وَكُنْتُ أَتَحَيَّنُ قُفُولَهُ، فَأَخَذْتُ نَمَطًا كَانَ لَنَا فَسَتَرْتُهُ عَلَى الْعَرَضِ، فَلَمَّا جَاءَ اسْتَقْبَلْتُهُ فَقُلْتُ: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَعَزَّكَ وَأَكْرَمَكَ، فَنَظَرَ إِلَى الْبَيْتِ فَرَأَى النَّمَطَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ شَيْئًا وَرَأَيْتُ الْكَرَاهِيَةَ فِي وَجْهِهِ فَأَتَى النَّمَطَ حَتَّى هَتَكَهُ ثُمَّ قَالَ: إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَأْمُرْنَا فِيمَا رَزَقَنَا أَنْ نَكْسُوَ الْحِجَارَةَ وَاللَّبِنَ، قَالَتْ: فَقَطَعْتُهُ وَجَعَلْتُهُ وِسَادَتَيْنِ وَحَشَوْتُهُمَا لِيفًا فَلَمْ يُنْكِرْ ذَلِكَ عَلَيَّ".

دابوطلحه انصاری رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه درسول الله ﷺ نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې درحمت فرشتې هغه کورته نه داخلیږي په کوم کښې چه سپې یا دذې روح تصویر موجود وي ددې حدیث راوی زید بن خالد سعید بن یسارته اووئیل چه زماسره عائشې رضی الله عنها ته لاړ شه مونږ دهغې نه په دې سلسله کښې معلومات کوو نومونږ دواړه د عائشه رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شو و او عرض مو ورته وکړو چه اې ام المومنین ابوطلحه ماته حدیث بیان کړې دې چه نبی ﷺ داسې فرمائیلی دی تابه هم په دې سلسله کښې دنبی ﷺ نه څه اوریدلي وي؟ عائشې رضی الله عنها په جواب کښې اووئیل نه، لیکن زه تاسوته یوحدیث بیانوم کوم چه مې دنبی ﷺ عمل لیدلی وو نبی ﷺ چه به کله دکوم جهاد په سفرباندې تلو اومابه دهغه دواپسئ انتظار کولو نوما به یوه پرده راواخسته اوددروازې په لوي لرګي پورې به مې زوړنده کړه کله چه به نبی ﷺ راغې نوزه به ورمخکښې شوم اوداسې به مې اووئیل السلام علیک یارسول الله ورحمة الله وبرکاته ، دهغه الله شکردې چاچه تاته عزت درکړې دې او په تاباندې ئې احسان کړې دې اونبی ﷺ به په دروازه باندې پرده اولیدله او زما دکوې خبرې جواب ئې ونکړو اومابه دهغه په مخ باندې خفګان اولیدو نبی ﷺ به دپردې خواته راغې اوهغه به ئې لرې کړه اوبیابه ئې ددینه پس اوفرمائیل یقینا الله تعالی مونږ ته دا حکم کړې دې چه مونږ دهغه درزق نه کاڼړو اولوتونه لباس واغوندور عائشه رضی الله عنها اوفرمائیل بیاما دغه پرده لرې کړه اودوه بالختونه مې ورنه جوړ کړل اودکجورو دپاڼړو او پوټکونه مې ډکه کړه نوداخبره نبی ﷺ بده اونه ګڼړله.

﴿ وَقَالَ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ رضی الله تعالی عنها ﴾

مضمون حدیث مع الشرح :

یعنی ابوطلحه انصاری رضی الله عنه چه کله دا حدیث زید بن خالد رضی الله عنه ته بیان کړو نو هغوی ابوطلحه رضی الله عنه ته یا خپل شاګرد سعید بن یسار ته اووې [۱] چه مونږ عائشې رضی الله عنها ته بوځه چه د دې حدیث په باره کښې مونږ د هغې نه تپوس اوکړو، پس مونږ هغې ته لاړو او مونږ تلو سره د هغې نه د دې حدیث په باره کښې تپوس اوکړو چه آیا تاسو هم د رسول الله ﷺ نه د دې په باره کښې څه اوریدلي دی؟ نو هغوی اوفرمائیل چه ما دا حدیث خو نه دې اوریدلې د رسول

[۱] الاول اختاره في البذل، والثاني صاحب العون)

اللهﷺ د خولې مبارکې نه، خو زه تاسو ته واقعه اوروم، مطلب دا شو چه ما سره دې باره کښې حديث قولي خو نشته خو حديث فعلي دې او بيا ئې يو واقعه واورولـه چه يو ځل رسول اللهﷺ يو غزوې ته تشريف يوړو، چه کله زه د هغوی د واپسئ په انتظار شوم نو ما يو ښکلې څادر واخستلو کوم چه مونږ کره وو او ما په تير کښې زوړند کړو په خوړولو سره يعنی د کور څانسته کولو دپاره، چه کله رسول اللهﷺ تشريف راوړلو نو ما د رسول اللهﷺ مخې ته اودريدلو سره سلام عرض کړو، ﴿ السلام عليک يا رسول اللهﷺ ورحمة الله وبرکاته الحمد لله الذی اعزک واکرمک ﴾

خو د رسول اللهﷺ نظر په دې څادر باندې پريوتلو نو زما د سلام جواب ئې رانکړو او ما د هغوی په مخ مبارک باندې خفګان اوليدو، رسول اللهﷺ هغه پردې ته نزدې شو او هغه ئې اوشلوله او وې فرمائيل الله پاک چه کوم څيزونه مونږ ته راکړې دی د هغې په باره کښې ئې مونږ ته دا نه دی فرمائيلی چه مونږ دې کاڼړو او ښختو ته جامې واغوندو. هغه فرمائی چه ما د هغه څادر ټکړې کولو سره د هغې نه تکيې جوړې کړې او په هغې کښې مې د کهجورو پوستکی ډک کړل، ﴿ فلم ينکر ذلک علی ﴾ نو په دې سره رسول اللهﷺ په ما باندې هيڅ انکار اونکړو.

دا قسم روايتونه په صحيح مسلم کښې په مختلفو طرق سره دی او په بعض طرق کښې تصريح ده د دې خبرې چه په دې پرده کښې د ذوات الاجنحة خيل تصوير وو. بيا عائشيؓ چه کله د هغې ټکړې کولو سره د هغې نه تکيې جوړې کړې چه په هغې باندې رسول اللهﷺ هيڅ نکير او نه فرمائيلو، په دې کښې دوه احتماله دی کيدې شی چه د دې پردې د ټکړې کولو په وجه باندې د هغه صورتونو ازاله شوې وی هم په دې وجه رسول اللهﷺ د هغې په تکيه جوړولو باندې نکير اونه فرمائيلو او دا هم احتمال دې چه د صورت ازاله به نه نوې شوې خو چونکه د صورت استعمال په هر صورت کښې ممنوع نه دې بلکه ممنوع په هغه وخت دې چه کله هغه د زينت دپاره اويزاند کړې شی، او که د استعمال نوعيت دا نه وی بلکه داسې وی چه په هغې کښې د هغې شکل ابتذال او امتهان وی مثلا فرش په کوم باندې چه ګرزی، يا مثلا په خپلو باندې تصوير وی، او هم دغه شان د تکيه غلاف چه په هغې کښې تصوير پټ پاتې کيږی په دې صورتونو کښې د هغې استعمال مغتفر دې (بذل نقلا عن القرطبی) او د شارحينو د کلام نه دا هم مستفاد کيږی چه په پرده وغيره کښې د ذی روح د تصوير استعمال خو حرام دې، او د ساده پردې استعمال په ديوالونو کښې دا خلاف د زهد کيدو د وجې نه مکروه تنزيهی دې. والحديث اخرجه مسلم بطوله، واخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه ببعضه، قاله المنذری.

[٤١٥٤] (¹) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ سُهَيْلٍ، بِإِسْنَادِهِ مِثْلِهِ، قَالَ: فَقُلْتُ: يَا أُمَّهْ إِنَّ هَذَا حَدَّثَنِي، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَقَالَ فِيهِ سَعِيدُ بْنُ يَسَارٍ مَوْلَى بَنِي النَّجَّارِ.

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٦٠٨٩) (صحيح الإسناد)

سهیل پخپل سند سره دتیرشري روایت په شان روایت بیان کړي دي مګردا اضافه ئې کړې ده چه ماورته اووئیل اې موري ابوطلحه ماته دنبی ﷺ نه حدیث بیان کړي دي اوپه دي روایت کښي ئې دا وئیلی دی چه سعید بن یسار دبني النجار ازادکړي غلام وو.

[٤١٥٥]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ بُكَيْرٍ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ"، قَالَ بُسْرٌ: ثُمَّ اشْتَكَى زَيْدٌ، فَعُدْنَاهُ فَإِذَا عَلَى بَابِهِ سِتْرٌ فِيهِ صُورَةٌ فَقُلْتُ لِعُبَيْدِ اللَّهِ الْخَوْلَانِيِّ رَبِيبِ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَمْ يُخْبِرْنَا زَيْدٌ عَنِ الصُّوَرِ يَوْمَ الْأَوَّلِ؟ فَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ: أَلَمْ تَسْمَعْهُ حِينَ قَالَ إِلَّا رَقْمًا فِي ثَوْبٍ.

دابوطلحه رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي درحمت فرشتي هغه کورته نه داخليږي په کوم کښي چه ددې روح تصویر موجود وي بسر وئیلی دی بیازید بیمار شو او مونږ دهغه بیمار پرسئ ته ورغلو اودهغه عیادت مووکړو مونږ ولیدل چه دهغه په دروازه باندې یوه پرده زوړنده وه اوتصویر ورباندې جوړ شوي وو نومادعبیدالله خولاني نه دچاچه ام المومنین میمونه رضی الله عنها پرورش کړي وو ، تپوس اوکړو چه ایا زید مونږ ته دتصویر ممانعت متعلق روایت نه وو اورولې؟ عبیدالله اووئیل تادهغه نه نه وو اوریدلې چه دابه ئې هم فرمائیل مګرپه کپړه کښي چه کوم خپل ګلان اوبوټي وي.

شرح الحدیث :

قوله: ﴿ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ بُسْرٌ ثُمَّ اشْتَكَى زَيْدٌ فَعُدْنَاهُ فَإِذَا عَلَى بَابِهِ سِتْرٌ فِيهِ صُورَةٌ فَقُلْتُ لِعُبَيْدِ اللَّهِ الْخَوْلَانِيِّ أَلَمْ يُخْبِرْنَا زَيْدٌ عَنِ الصُّوَرِ يَوْمَ الْأَوَّلِ فَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ أَلَمْ تَسْمَعْهُ حِينَ قَالَ إِلاَّ رَقْمًا فِي ثَوْبٍ ﴾ د دې حاصل دا دې چه د زید بن خالد جهني رضی الله عنه په دروازه باندې یو پرده پرته وه چه په هغې کښې تصویر وو، بسر بن سعید د حدیث راوی وائی چه ما په دې پردې لیدلو باندې عبیدالله خولانی ته اووې چه زید بن خالد خو خپله مونږ ته د تصویر د ممانعت حدیث اورولې وو، نو هغوی جواب ورکړو چه تاسو په حدیث کښې نه وو اوریدلې چه ﴿ الا رقما فی الثوب ﴾

دا حدیث او په دې کښې چه کوم سوال او جواب ذکر دې دا محل د بحث او نظر دې خکه چه په دې پرده کښې چه کوم صورت وو که هغه د غیر ذی روح وو نو بیا خو د بسر بن سعید د اشکال جواب دا وو چه ممانعت د ذی روح دې نه د غیر ذی روح، او که په دې پرده کښې تصویر د ذی روح وو نو بیا د بسر بن سعید اشکال صحیح دې. او د عبیدالله خولانی جواب په ﴿ الا رقما فی الثوب ﴾ سره په ظاهر کښې صحیح نه دې، خکه چه په دې استثناء سره خو د دې ذی روح تصویر جواز مقصود دې کوم چه په مستعمل کپړو کښې وی او ممتهن وی، او که په پرده کښې وی نو دې سره د استثناء تعلق نشته او هغه جائز نه دې، فتامل وهذا علی مسلک الجمهور بخلاف القاسم بن محمد وغیره چه د هغوی په نزد د ذی روح تصویر مطلقا جائز دې که ممتهن وی یا نه وی.

(): انظر حدیث رقم: (٤١٥٣)، (تحفة الأشراف: ٣٧٧٥) (صحیح)

[٤١٥٦](١)حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ، أَنَّ إِسْمَاعِيلَ بْنَ عَبْدِ الْكَرِيمِ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي ابْنَ عَقِيلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ جَابِرٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زَمَنَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِالْبَطْحَاءِ أَنْ يَأْتِيَ الْكَعْبَةَ، فَيَمْحُوَ كُلَّ صُورَةٍ فِيهَا فَلَمْ يَدْخُلْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى مُحِيَتْ كُلُّ صُورَةٍ فِيهَا".

دجابر ﷺ نه روايت دې فرمائي چه دفتح مې په وخت کښې نبي ﷺ په بطحاء مقام کښې عمر بن الخطاب و ته حکم کړې وو چه کعبې ته ورشي او هلته چه څومره تصويرونه دي هغه ضايع کړي اوترڅوچه تصويرونه ضايع شوي نه وو ترهغې پورې نبي ﷺ کعبې ته نه داخليدو.

[٤١٥٧](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ ابْنِ السَّبَّاقِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي مَيْمُونَةُ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ وَعَدَنِي أَنْ يَلْقَانِيَ اللَّيْلَةَ فَلَمْ يَلْقَنِي ثُمَّ وَقَعَ فِي نَفْسِهِ جِرْوُ كَلْبٍ تَحْتَ بِسَاطٍ لَنَا فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِهِ مَاءً فَنَضَحَ بِهِ مَكَانَهُ فَلَمَّا لَقِيَهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام، قَالَ: إِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ فَأَصْبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ حَتَّى إِنَّهُ لَيَأْمُرُ بِقَتْلِ كَلْبِ الْحَائِطِ الصَّغِيرِ وَيَتْرُكُ كَلْبَ الْحَائِطِ الْكَبِيرِ".

دميمونه ﷺ نه روايت د شرهاني به نبي ﷺ فرمائيلي دي يقين ما معده په ز ديده و دوره جبرائيل ﷺ بملاقات وغمده کسرې و مګر ملاقات ئې ونکړو، بيادنبي ﷺ په زړه کښې داخبره راغله چه زمونږ د کټ د لاندې د سپي يو وړوکې بچې دې نبي ﷺ حکم اوکړو چه بهرئې وباسئ بيانبي ﷺ پخپل لاس مبارک باندې هلته داوبو څڼر کاو اوکړو بيادنبي ﷺ سره ددينه پس د جبريل ﷺ ملاقات اوشو جبريل نبي ﷺ ته اوفرمائيل مونږ هغه کورته نه داخليږو په کوم کښې چه سپيد پاته ويو نه وي، بيدسحر په وخت کښې نص ﷺ دسپو دوژلو حکم وکړو تردې پورې په نوم سمير دورو باغونود څوکۍ دپاره وو دهغوی د وژلو هستم ئې هم وکړو اوکوم سپي چه دلويو باغونو د مسوکي دپاره وو هغه ئې پريخودل.

قوله: ﴿ إِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ وَعَدَنِي أَنْ يَلْقَانِيَ اللَّيْلَةَ فَلَمْ يَلْقَنِي ». ثُمَّ وَقَعَ فِي نَفْسِهِ جِرْوُ كَلْبٍ تَحْتَ بِسَاطٍ الخ ﴾

رسول الله ﷺ يو ځل ارشاد اوفرمائيلو چه جبرائيل ﷺ ما سره وعده کړې وه چه نن شپه به ما سره ملاقات کوي خو ملاقات ئې اونکړو، بيا زما په زړه کښې خيال راغلو د کوترې، په دې روايت کښې دی ﴿ تحت بساط ﴾ او د مسلم په روايت کښې دی ﴿ تحت فسطاط ﴾ او په يو روايت کښې دی ﴿ تحت سرير عائشة ﴾ او د دې نه په روستو روايت کښې دی ﴿ كان تحت نضدلهم ﴾ او د نضد تفسير په بعضو نسخو کښې داسې دې، **قال ابوداود:** والنضد شئ يوضع عليه الثياب شبه السرير، يعنې د تخت په شان يو څيز وی چه په هغې باندې کپړې سامان

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٣١٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٣٥، ٣٣٦، ٣٨٣، ٣٨٥، ٣٩٦) (حسن صحيح)
(٢): صحيح مسلم/اللباس ٢٦ (٢١٠٥)، سنن النسائي/الصيد ٩ (٤٢٨١)، ١١ (٤٢٨٨)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٣٠) (صحيح)

وغیره ږدلې شی، کوم ته چه زمونږ په نزد تخته پوش یا تخت وغیره وائی. یعنی هغه کوترې (د سپی بچې) د تخته پوش لاندې ناست وو. د دې خیال راتلو نه پس رسول الله ﷺ هغه بهر کړو، بیا ئې په خپل لاس مبارک کښې اوبه واخستلې او چرته چه هغه ناست وو هلته ئې چړکاؤ کړې، بیا د دې نه روستو چه کله جبرائیل علیه السلام تشریف راوړلو نو هغوی اوفرمائیل چه مونږ داسې کور ته نه داخلیږو چه په هغې کښې کلب وی یا تصویر. او د دې نه په روستو روایت کښې دا زیادت دې. ﴿إِلاَّ أَنَّهُ كَانَ عَلَى الْبَابِ تَمَاثِيلُ وَكَانَ فِى الْبَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ﴾ یعنی باریک پرده چه په هغې کښې د ساه لرونکی څیز تصویرونه وو. ﴿وَإِذَا الْكَلْبُ لِحَسَنٍ أَوْ حُسَيْنٍ﴾ دا کوترې په دې دواړو ماشومانو کښې د یو وو یا د حسن او یا د حسین رضی الله عنهما. او د پردې په باره کښې رسول الله ﷺ حکم اوفرمائیلو چه هغه دې ټکړې کولو سره د هغې نه تکیې جوړې کړې شی. ﴿وسادتین منبوذتین﴾ کښې هم دې طرف ته اشاره ده چه د ذی روح د تصویر استعمال په داسې کپړو کښې جائز دې کوم چه زوړند نه وی او د خپو لاندې کیږی.

والحديث اخرجه مسلم والنسائي، قاله المنذري، آخر كتاب اللباس.

[٤١٥٨](١)حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَانِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام، فَقَالَ لِي: أَتَيْتُكَ الْبَارِحَةَ فَلَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَكُونَ دَخَلْتُ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ عَلَى الْبَابِ تَمَاثِيلُ وَكَانَ فِي الْبَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ وَكَانَ فِي الْبَيْتِ كَلْبٌ، فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي فِي الْبَيْتِ يُقْطَعُ فَيَصِيرُ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ، وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ فَلْيُجْعَلْ مِنْهُ وِسَادَتَيْنِ مَنْبُوذَتَيْنِ تُوطَآنِ وَمُرْ بِالْكَلْبِ فَلْيُخْرَجْ فَفَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِذَا الْكَلْبُ لِحَسَنٍ أَوْ حُسَيْنٍ كَانَ تَحْتَ نَضَدٍ لَهُمْ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَالنَّضَدُ شَيْءٌ تُوضَعُ عَلَيْهِ الثِّيَابُ شِبْهُ السَّرِيرِ.

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زما خوا ته جبریل علیه السلام راغې اوماته ئې اووئیل چه په تیره شوې شپه هم زه تا ته راغلې وم لیکن په دروازه کښې موجود تصویر زه د دننه تلو نه منع کړم او په کور کښې رنګ کړې شوې اونقش کړې شوې کپړه وه او په دغه کور کښې سپې هم موجود وو نو لهسه د تصویرونو دسر کټ کولو حکم وکړه کوم تصویرونه چه په کورونو کښې وي څکه چه بیابه دهغې نه د ونې شکل جوړ شي اودپردې د پریکولو حکم اوکړه اوددې نه دې دکیناستو دپاره دوه توتې جوړې شي ددې دپاره چه دخپو سره ومرلې شي اودسپو دشړلو دپاره حکم وکړه چنانچه نبی علیه السلام همداسې وکړل سپې شاید د حسن یاحصین رضی الله عنهما وو کوم چه دنبی علیه السلام دتحت دلاندې ناست وو نبی علیه السلام حکم اوکړو او هغه اوویستلی شو.

(آخر كتاب اللباس)

١): سنن الترمذي/الأدب ٤٤ (٢٨٠٦)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ٦٠ (٥٣٦٧)، (تحفة الأشراف: ١٤٣٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٥/٢، ٣٠٨، ٤٧٨) (صحيح)

كِتَابُ التَّرَجُّلِ

د وېښتو ګومنځولو بيان

د دې کتاب تعلق د انسان په بدن باندې چه کوم وېښته دی، د بدن په مختلفو حصو باندې بالخصوص د سر او مخ وېښتهٔ يعنی اننګی او ګيره او بريت. د هغې نه دې..... ګويا احکام شعور بيانول دی او دا څيزونه د باب تزيين او تنظيف نه دی، هم د دې په ضمن کښې مصنف رحمه الله تبعا تطييب هم بيان کړې دې. پس د طيب سره متعلق ډير ابواب مصنف رحمه الله په دې کښې بيان کړې دی، باب ماجاء فی رد الطيب باب طيب المراءة للخروج، باب الخلوق للرجال.

او امام نسائی رحمه الله په ځائې د کتاب الترجل..... په دې ابواب او احاديث باندې د کتاب الزينة عنوان قائم کړې دې او بيا ئې د هغې د لاندې هم دغه شان ابواب او احاديث راوړلي دی کوم چه مصنف رحمه الله په کتاب الترجل کښې راوړې دی.

د الدين النصيحة تشريح:

په حديث شريف کښې دی ﴿ الدين النصيحة ﴾ دين سراسر د خيرخواهئ نوم دې، د خير خواهئ حاصل دا دې چه هر څيز سره د هغې شايان شان معامله کول، واعطاء کل ذی حق حقه، د کوم څيز چه کوم حق دې هغه ورکولو سره ادا کول او په دې کښې د يو څيز تخصيص نشته نه د انسان او نه د حيوان بلکه هر څيز په دې کښې داخل دې څنګه چه د نعمت حق شکر دې نو د مصيبت حق صبر دې او د شکر نعمت په مفهوم کښې دا هم داخله ده چه د دې نعمت صحيح استعمال اوشی او د هغې نه داسې انتفاع اوکړې شی د کوم دپاره چه هغه څيز جوړ کړې شوې دې، مثلا په حديث کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ من کان له شعر فليکرمه ﴾ يعنی د چا په سر چه وېښته وی د هغې اکرام دې کوی، يعنی د هغې اصلاح دې کوی کومه چه د اصلاح طريقه ده. د هغې تنظيف او تطهير، هم دغه شان تدهين او ترجيل، تيل ورکول، ګومنځول او هغه برابرول، هم دغه شان د انسان خپله جامه ده چه هغه پاکه او د هغه د مالی حيثيت مطابق کيدل پکار دی چه مالدار انسان ډيره بيکاره جامه واغوندی نو په حديث شريف کښې په دې باندې هم خبرداری راغلې دې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ فليرا الر نعمة الله عليک ﴾ يعنی هر کله چه الله پاک تا ته وسعت او فراخی درکړه نو د هغې اثر په تا باندې ښکاره کيدل پکار دی، هم دغه شان په اسلام کښې د ميلمه او ګاونډی حق ثابت کړې شوې دې ﴿ من کان يومن بالله واليوم الاخر فليکرم ضيفه ﴾ او ﴿ لا يومن احدکم حتی يامن جاره بوائقه ﴾ رسول الله ﷺ اکرام ضيف د ايمان تقاضا او ايذاء جار د ايمان منافی کړې دې. دا د اسلامی تعليماتو يو نمونه ده کوم چه د دې اصل کلی د لاندې داخل دی. ﴿ الدين النصيحة ﴾ واعطاء کل ذی حق حقه..... د اسلام په محاسن کښې چه څومره غور اوکړې شی هغه به ښکاره کيږی، الله پاک دې مونږ ته د نعمت اسلام و ايمان او د باقی ټولو مادی او معنوی نعمتونو د شکر ادا کولو توفيق راکړی. والله تعالیٰ الموفق.

بَابُ النَّهْيِ عَنْ كَثِيرٍ مِنَ الإِرْفَاهِ
باب د ويښتو د ډيرو غوړولو د ممانعت بيان

[٤١٥٩] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّرَجُّلِ إِلَّا غِبًّا".

دعبدالله بن مغفل رضی الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبی عليه السلام هروخت دوختو ګومنزولو نه منع فرمائيلې ده مګر کله کله.

(په ترجل او تسريح کښې فرق)

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ التَّرَجُّلِ إِلاَّ غِبًّا ﴾ ترجل او ترجيل د ويښتو برابرول د هغې اصلاح کول د امتشاط (ګومنځولو) په ذريعه. يو بل لفظ دې تسريح د هغې معنی هم دا ده خو د ترجل استعمال غالبا او اکثر د سر په ويښتو کښې کولې شی، او د تسريح استعمال په ګيره کښې. او د غب معنی دا ده چه يو کار يو ورځ پس اوکړې شی.

په دې حديث کښې دا دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم روزانه د ويښتو د ګومنځولو نه منع فرمائيلې ده ځکه چه روزانه ګومنځ کولو ته حاجت نشته او بغير د حاجت نه په تزيين کښې داخل دی او مبالغه فی التزيين ده او که د چا ويښته دومره وی چه روزانه د هغې د اصلاح ضرورت وی نو بيا روزانه کولو کښې هم څه باک نشته. (من المنهل) والحديث اخرجه الترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[٤١٦٠] (٢) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحَلَ إِلَى فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ وَهُوَ بِمِصْرَ، فَقَدِمَ عَلَيْهِ فَقَالَ: أَمَا إِنِّي لَمْ آتِكَ زَائِرًا وَلَكِنِّي سَمِعْتُ أَنَا وَأَنْتَ حَدِيثًا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَوْتُ أَنْ يَكُونَ عِنْدَكَ مِنْهُ عِلْمٌ، قَالَ: وَمَا هُوَ؟ قَالَ: كَذَا وَكَذَا، قَالَ: فَمَا لِي أَرَاكَ شَعِثًا وَأَنْتَ أَمِيرُ الْأَرْضِ؟ قَالَ: "إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَنْهَانَا عَنْ كَثِيرٍ مِنَ الْإِرْفَاهِ، قَالَ: فَمَا لِي لَا أَرَى عَلَيْكَ حِذَاءً؟ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا".

دعبدالله بن بريده نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام په صحابه کرامو کښې يو کس مصرته دفضاله بن عبيدسره دملاويدو دپاره سفر وکړو کله چه ورسره ملاو شونوورته ئې ووئيل چه زه تاته ستاد ملاقات په غرض باندې نه يم راغلې ليکن مااوتادواړودنبی عليه السلام نه يوحديث اوريدلي وو، زما دا اميد ووچه تاته به دهغه حديث متعلق څه علم وي فضاله بن عبيدو ورنه تپوس وکړوچه هغه کوم يوحديث دې؟هغه ووئيل فلانی فلانی حديث اودفضاله نه ئې داتپوس هم وکړوچه داڅه وجه ده ويښته دې زه ګډوډ وينم اوحالانکه نه ديوملک امير ئې (داواقعه دهغه وخت ده کله چه فضاله بن عبيد دمصر ګورنروو)هغه

---

(١): سنن الترمذي/اللباس ٢٢ (١٧٥٦)، سنن النسائي/الزينة ٧ (٥٠٥٩)، (تحفة الأشراف: ٩٦٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٦/٤) (صحيح)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٠٢٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢/٦) (صحيح)

ووئيل چه مونږ به نبى ﷺ هروخت دوختوکومنز ولونه منع کولو، نوهغه بيافضاله ته ووئيل چه پيزار ولي نه په خپوکوي؟هغه ووئيل چه نبى ﷺ به مونږته کله کله دخپي ابله ګرځيد وحکم کولو.

قوله: ﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَجُلاً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- رَحَلَ إِلَى فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ وَهُوَ بِمِصْرَ فَقَدِمَ عَلَيْهِ الخ﴾

مضمون الحديث:

يعنى يو صحابى بل صحابى فضاله بن عبيد رضي الله عنه ته لاړو په داسې حال کښې چه هغه د مصر امير وو، هغوى ته رسيدو سره هغوى اوفرمائيل چه زه تاسو ته صرف د زيارت او ملاقات دپاره نه يم راغلې بلکه ما او تاسو د رسول الله ﷺ نه يو حديث اوريدلې دې نو په دې اميد باندې راغلې يم چه تاسو سره به د دې حديث علم وى (يا خو به د دوى نه هير وى په دې وجه د هغې د معلومولو دپاره راغلو او يا د دې حديث شرح او د بعض متعلقاتو د معلومولو دپاره راغلې وو) په دې باندې هغوى تپوس اوکړو چه هغه کوم حديث دې نو هغوى اوفرمائيل چه داسې داسې دې (د دې نه پس به د دوى دواړه ترمينځه په دې باندې څه مذاکره هم شوې وى کومه چه دلته په دې روايت کښې نه ده ذکر شوې) ﴿قَالَ فَمَا لِي أَرَاكَ شَعِثًا وَأَنْتَ أَمِيرُ الأَرْضِ؟﴾ دې صحابى د فضاله رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه زه تاسو وينم چه ويښته مو خوارۀ وارۀ دى حال دا چه تاسو د دې زمکې والى او قاضى يئ نو هغوى اوفرمائيل چه رسول الله ﷺ به مونږ منع فرمائيلو د زيات ډول او زينت اختيارولو نه، ﴿عَنْ كَثِيرٍ مِنَ الإِرْفَاهِ﴾ او په بعض نسخو کښې دى ﴿الارفاء﴾ او په يو نسخه کښې دى ﴿الارفه﴾ يعنى د ترفه او نازونعمت ژوند تيرولو نه، بيا هغوى د فضاله رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه دا څه وجه ده چه ستاسو په خپو کښې پيزار هم نشته؟ نو هغوى جواب ورکړو چه ﴿قَالَ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا﴾ چه رسول الله ﷺ به مونږ ته حکم کولو چه کله کله مونږ خپې ابله هم ګرځو.

د دې کتاب تعلق چونکه د اسباب زينت سره دې هم په دې وجه مصنف رحمه الله په شروع کښې د سادګئ او ترک تکلف والا روايت راوړې دې. چه دا خبرې په ذهن کښې ږدلو سره وړاندې تلل دى. فلله در المصنف....

[۴۱۶۱]([1]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أُمَامَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: ذَكَرَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا عِنْدَهُ الدُّنْيَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا تَسْمَعُونَ أَلَا تَسْمَعُونَ إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ، إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ" يَعْنِي التَّقَحُّلَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هُوَ أَبُو أُمَامَةَ بْنُ ثَعْلَبَةَ الْأَنْصَارِيُّ.

د ابوامامه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه يوه ورځ صحابه کرامو دنبى ﷺ په وړاندې ددنيا ذکر کولونبى ﷺ ورته اوفرمائيل اياتاسونه آورئ اياتاسونه آورئ چه سادګي دايمان يوه

[1]: سنن ابن ماجه/الزهد ٤ (٤١١٨)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٥) (صحيح)

حصه ده ، سادګي دايمان يوه حصه ده. امام ابوداؤد فرمائي چه ابوامامه بن ثعلبه مراد دي.
﴿ عَنْ أَبِى أُمَامَةَ قَالَ ذَكَرَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَوْمًا عِنْدَهُ الدُّنْيَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أَلاَ تَسْمَعُونَ أَلاَ تَسْمَعُونَ إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الإِيمَانِ ....الخ﴾

ابوامامه انصاري رضی الله عنه فرمائي چه يوه ورځ بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخکښې د دنيا تذکره اوکړه نو هغوی اوفرمائيل: خبردار واورئ په ښه طريقه! دوه کرته ئې اوفرمائيل... بيشکه سادګی او تواضع او ترک تکلف د ايمان حصه ده، يعنی د ايمان په خصلتونو کښې يو خصلت دې. د ﴿ بذاذة ﴾ تفسير يعنی ﴿ التفحل ﴾ دا د مصنف رحمه الله د طرف نه دې د تفحل معنی د انسان د بدن اوچيدل د حال د خرابيدو په وجه بانديې، او کمزور او تپ کيدل، حضرت په بذل کښې ليکلې دی ﴿ وانما کان البذاءة من الايمان لانه يودی الی کسر النفس والتواضع ﴾ والحديث اخرجه ابن ماجه قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِي اسْتِحْبَابِ الطِّيبِ

باب د خوشبو استعمالولو د استحباب بيان

[٤١٦٢](1) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، عَنْ شَيْبَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُخْتَارِ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُكَّةٌ يَتَطَيَّبُ مِنْهَا".

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چ دنبی علیه السلام مرکبه خوشبو وه او دهغې نه به ئې خوشبو لګوله.

قوله: ﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَتْ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- سُكَّةٌ يَتَطَيَّبُ مِنْهَا ﴾ د سکة په تفسير کښې دوه قوله دی د يو مرکب خوشبوئ نوم دې، وقيل هی وعاء للطيب. يعنی عطردان د کوم نه چه به هغوی خوشبوئی لګوله. والحديث اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي إِصْلَاحِ الشَّعْرِ

باب د ويښتو سمولو بيان

[٤١٦٣](2) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ، فَلْيُكْرِمْهُ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی کريم صلی الله علیه وسلم فرمائيلی دی هرچاچه ويښته پريخودلي وي نو په ښه طريقه دې ئې اوساتي.

﴿ مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ ﴾ د دې مضمون په شروع کښې راغلو.

[1]: تفرد به أبو داود، سنن الترمذي/الشمائل (٢١٦)، (تحفة الأشراف: ١٦١١) (صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٦٩١) (حسن صحيح)

بَابٌ فِي الْخِضَابِ لِلنِّسَاءِ

دزنانو دنکریزو بیان

[٤١٦٤] (¹) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي كَرِيمَةُ بِنْتُ هَمَّامٍ "أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْ خِضَابِ الْحِنَّاءِ، فَقَالَتْ: لَا بَأْسَ بِهِ وَلَكِنْ أَكْرَهُهُ، كَانَ حَبِيبِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ رِيحَهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: تَعْنِي خِضَابَ شَعْرِ الرَّأْسِ.

دکریمه بنت همام رضي الله عنها نه روایت دی فرمائی چه بوه ښځه ام المومنین عائشة رضي الله عنها ته راغله اوتپوس ئي ورنه اوکړو دنکریزو دخضاب په باره کښې نوورته ئې اوفرمائیل په دې کښې څه حرج نشته لیکن زه ئې بدګنړم نبی علیه السلام به ددې بوی بدګنړلو.

﴿أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ عَائِشَةَ – رضى الله عنها – فَسَأَلَتْهَا عَنْ خِضَابِ الْحِنَّاءِ الخ﴾

يوې زنانه د عائشې رضي الله عنها نه تپوس اوکړو د نکریزو د رنګ په باره کښې، نو هغوی اوفرمائیل هیڅ باک پکښې نشته، خو زما خوښې نه دی، ځکه چه زما د محبوب رسول الله ﷺ د هغې بوئی ناخوښه وو.

خضاب د بدن هم وی او د ویښتو هم وی، د ویښتو هغه خو د سرو او ښځو دواړو دپاره جائز دي، خو د بدن خضاب لکه لاسونه او خپې هغه صرف د سړو په حق کښې مستحب دي. او د ښځو دپاره بغیر د حاجت او ضرورت نه حرام دي. او په ترجمة الباب کښې چونکه خضاب مقید کړې دي په للنساء سره په دې وجه مصنف رحمه الله د خضاب نه خضاب الجسم مراد اخستلي دي. (بذل) والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

[٤١٦٥] (²) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَتْنِي غِبْطَةُ بِنْتُ عَمْرٍو الْمُجَاشِعِيَّةُ، قَالَتْ: حَدَّثَتْنِي عَمَّتِي أُمُّ الْحَسَنِ، عَنْ جَدَّتِهَا، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ هِنْدَ بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ بَايِعْنِي، قَالَ: "لَا أُبَايِعُكِ حَتَّى تُغَيِّرِي كَفَّيْكِ كَأَنَّهُمَا كَفَّا سَبُعٍ".

دعائشه رضي الله عنها نه روایت دي فرمائی چه هند بنت عتبه اووئیل اې دالله نبی زماسره بیعت وکړه نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل تر هغې پورې درسره بیعت نه کوم ترڅوچه دې دخپلو لاسونو رنګ نه وي بدل کړې ستاددواړه لاسونو ورغوي داسې دی لکه د درندګانو څناورو د ورغوو پشان.

﴿عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ هِنْدًا بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ بَايِعْنِي الخ﴾

شرح الحديث:

یعنی هنده بنت عتبه رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ما سره بیعت اوکړئ (د رسول الله ﷺ نظر د هغې په لاسونو باندې پریوتلو په دې وجه) رسول الله ﷺ اوفرمائیل زه تاسره بیعت نه کوم ترڅو چه تا په خپلو لاسونو باندې نکریزې نه وی لګولې، ځکه چه د نکریزو نه لګولو په وجه باندې هغه داسې معلومیږی چه دا د څناور لاسونه دی.

¹): سنن النسائي/الزينة ١٩ (٥٠٩٣)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٧/٦، ٢١٠) (ضعيف)
²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٩٩٤) (ضعيف)

د زنانه په نکریزو نه لګولو کښې چونکه تشبه بالرجال ده په دې وجه د هغې په حق کښې مکروه دی.

﴿نبی کریم ﷺ سره د ښځو بیعت کیدو طریقه﴾

د رسول الله ﷺ بیعت به د زنانو سره بغیر د اخذ بالید او بغیر د مصافحې نه وو لکه چه په روایاتو کښې د دې تصریح ده لهذا څوک دې د حدیث نه دا معنی فهم نه کړي چه د رسول الله ﷺ غرض دا وو چه د نکریزو نه مخکښې به زه مصافحه نه کوم، عائشه رضی الله عنها فرمائي ﴿ والله ما مس یده ﷺ ید امراءة قط ﴾ (بذل)

[٤١٦٦] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الصُّورِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا مُطِيعُ بْنُ مَيْمُونٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ عِصْمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "أَوْمَتِ امْرَأَةٌ مِنْ وَرَاءِ سِتْرٍ بِيَدِهَا كِتَابٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَبَضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ، فَقَالَ: مَا أَدْرِي أَيَدُ رَجُلٍ أَمْ يَدُ امْرَأَةٍ؟ قَالَتْ: بَلِ امْرَأَةٌ، قَالَ: لَوْ كُنْتِ امْرَأَةً لَغَيَّرْتِ أَظْفَارَكِ يَعْنِي بِالْحِنَّاءِ".

د عائشه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائي چه یوې ښځې دپردې نه شاته په لاس باندې نبی علیه السلام ته اشاره وکړه نبی علیه السلام دهغې لاس اونیو او وئې فرمائیل زه نه پوهیږم چه دا دسړي لاس دې اوکه دښځې هغې اووئیل بلکه دښځې لاس دې نبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې ته ښځه وې نوخپل نوکان به دې په نکریزو باندې رنګ کړي وې.

﴿عَنْ عَائِشَةَ – رضی الله عنها – قَالَتْ أَوْمَاتِ امْرَأَةٌ مِنْ وَرَاءِ سِتْرٍ بِيَدِهَا كِتَابٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ –صلی الله علیه وسلم الخ ﴾ او د نسائی په روایت کښې دی ﴿ ان امراءة مدت یدها الی النبی ﷺ بکتاب ﴾ عائشه رضی الله عنها فرمائي چه یوې زنانه د پردې نه اخوا لاس راوږد کړو او رسول الله ﷺ ته ئې یو پرچه ورکوله. نو رسول الله ﷺ لاس راښکلو او د هغې پرچه ئې او نه نیوله په دې فرمائیلو سره چه نه معلومیږي چه دا د سړي لاس دې او که د ښځې، هغې عرض اوکړو: نه بلکه دا د زنانه لاس دې، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل که ته ښځه وې نو په خپلو نوکونو به دې نکریزې لګولې. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي صِلَةِ الشَّعْرِ

بابه د بل چا ویښته د خپلو ویښتو سره د یو ځای کولو بیان

د صلة الشعر په حدیث کښې ممانعت راغلې دې ﴿ لعن رسول الله ﷺ الواصلة والمستوصلة ﴾ یعنی زنانه چه دخپل سرپه ویښتو کښې دخپلو کمسو د زیاتولو دپاره نور ویښتو یوځائې کړي.

په دې مسئله کښې مذاهب د ائمه :

په ویښتو کښې ویښته یوځائې کول د امام مالک رحمه الله په نزد مطلقا منع دی او د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد ممانعت خاص دې د انسان د ویښتو سره، یعنی چه یو زنانه د بلې زنانه ویښته شامل کړي، دا ممنوع دی، او که د یو ځاروی وړئ وغیره شامل کړي نو د دې دواړو په نزد دا جائز ده. او هم دا د احنافو مذهب دې لکه چه په موطاء د امام محمد

(١): سنن النسائي /الزينة ١٨ (٥٠٩٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٦٢) (حسن)

کښې دی او هم دغه شان په در مختار کښې هم دی او د حضرت رائې هم په بذل المجهود کښې دا معلومیږي خو د حضرت ګنګوهي میلان د مطلق منع طرف ته دي که هغه ویښته د یو انسان وی او که د یوې زنانه یا د یو څاروی.

[۴۱۶۷] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ عَامَ حَجَّ، وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَتَنَاوَلَ قُصَّةً مِنْ شَعْرٍ كَانَتْ فِي يَدِ حَرَسِيٍّ يَقُولُ: يَا أَهْلَ الْمَدِينَةِ أَيْنَ عُلَمَاؤُكُمْ؟ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْ مِثْلِ هَذِهِ وَيَقُولُ: "إِنَّمَا هَلَكَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ حِينَ اتَّخَذَ هَذِهِ نِسَاؤُهُمْ".

دحمید بن عبدالرحمن ﷫ نه روایت دي فرمائی چه دمعاویه بن ابوسفیان نه مې اوریدلی دی په هغه کال په کوم کال چه هغه حج کړې وو او هغه په منبر باندې وو او ددربان دلاس نه ئې یوموټې ویښته واخستل او وئې فرمائیل اې اهل مدینه ستاسو عالمان څه شول؟ ما دنبی ﷺ نه آوریدلی دی چه ددینه ئې منع فرمائیل اودائې هم فرمائیل کله چه بنی اسرائیلی داکار شروع کړو نوهغوی تباه شول.

قوله: ﴿ أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ عَامَ حَجَّ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ الخ ﴾

حمید بن عبدالرحمن وائی چه په کوم کال باندې معاویه﷛ د حج دپاره تشریف راوړلو نو هغوی په منبر باندې تقریر کولو سره د یو شرطی د لاس نه د ویښتو څیله واخستله او وې فرمائیل اې اهل مدینه ستاسو علماء څه شو؟ (کوم چه د وصل الشعر نه منع نه کوی) ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی چه هغوی به د دې نه منع فرمائیله، او فرمائیل به ئې چه د بنی اسرائیلو د هلاکت په اسبابو کښې یو سبب دا هم دې یعنی د زنانو په خپلو ویښتو کښې نور ویښته یوځائې کول.

والحدیث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[۴۱۶۸] (۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ".

د عبدالله ﷛ نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم و په هغه ښځه باندې لعنت وئیلې دې څوک چه دخپلوویښتو سره دبل چا ویښته ولګوي اوپه خال لګونکي باندې او چاچه خال لګول ري.

﴿ عن عَبْدِ اللَّهِ قَالَ لَعَنَ اللَّهِ - الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ ﴾

---

[1]: صحيح البخاري/الأنبياء ٥٤ (٣٤٦٨)، واللباس ٨٣ (٥٩٣٢)، صحيح مسلم/اللباس ٣٣ (٢١٢٧)، سنن الترمذي/الأدب ٣٢ (٢٧٨١)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ١٣ (٥٢٤٧)، (تحفة الأشراف: ١١٤٠٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الشعر ٢ (٢)، مسند احمد (٤/٩٥، ٩٧، ٩٨) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/اللباس ٨٣ (٥٩٣٧)، ٨٥ (٥٩٤٠)، ٨٧ (٥٩٤٧)، صحيح مسلم/اللباس ٣٣ (٢١٢٤)، سنن الترمذي/اللباس ٢٥ (١٧٥٩)، الأدب ٣٣ (٢٧٨٣)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ١٧ (٥٢٥٣)، سنن ابن ماجه/النكاح ٥٢ (١٩٨٧)، (تحفة الأشراف: ٨١٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢١) (صحيح)

مضمون الحديث :

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چه الله پاک لعنت کوی په واشمات او مستوشمات، او واصلات باندې او متنمصات باندې.

دمتنمصات تفسير وړاندې په متن کښې مصنف رحمه الله کړې دې : التى تنفس الحاجب حتى ترقه... يعنى هغه زنانه چه د وريزو نه ويښته اوباسى د هغې د نرئ کولو دپاره، او د متفلجات نه مراد هغه زنانه دى چه د خپلو غاښونو ترمينځه فلج يعنى فصل کوى، کوم چه عام طور سره د کم عمره جينکو په غاښونو کښې وى. المغيرات خلق الله په دې کښې علة د منع ته اشاره ده چه په دې کارونو کښې تغير د خلق الله موندلې شى، يعنى کوم څيز چه الله پاک څنګه پيدا کړې دې او هغه څيز د عادت مطابق هم دې په هغې کښې د خپل طرف نه تغيرکول،اوکه دعادت خلاف په چا کښې يو څيز پيدا کړې شى لکه زياتى ګوته، ياد زنانه په مخ باندې د ګيرې راتلل، نو دهغې لرې کول په دې کښې داخل نه دى. (بذل)

وړاندې په روايت کښې دى چه يوې زنانه چه د هغې کنيت ام يعقوب دې چه هغې ته کله د ابن مسعود رضي الله عنه دا خبره اورسيده نو هغه هغوى ته راغله او راتلو سره ئې د اعتراض په طور اووې چه تا په دې زنانو باندې لعنت کړې دې څه خبره ده؟ نو هغوى جواب ورکړو چه زه به په هغه چا لعنت ولې نه وايم په چا باندې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم لعنت کړې وى او قرآن پرې لعنت کړې وى هغه زنانه اووې چه ما خو قرآن لوستلې دې په دې کښې خو چرته هم لعنت نشته په هغوى باندې، نو هغوى جواب ورکړو چه آيا تا په قرآن کريم کښې نه دى لوستلې چه : ﴿ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا ﴾ بيا هغې اووې چه ستا ښځه هم په دې کښې بعض کارونه کوى، نو هغوى اوفرمائيل چه لاړه شه اوګوره، هغه لاړه او ئې کتل او وې وئيل چه اوس خو داسې نه ده نو هغوى اوفرمائيل : ﴿ لَوْ كَانَ ذَلِكَ مَا كَانَتْ مَعَنَا ﴾ که هغې داسې کړې وې نو مونږ سره نه شوه اوسيدې.

[٤١٦٩] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَالْوَاصِلَاتِ، وَقَالَ عُثْمَانُ: وَالْمُتَنَمِّصَاتِ، ثُمَّ اتَّفَقَا: وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، فَبَلَغَ ذَلِكَ امْرَأَةً مِنْ بَنِي أَسَدٍ يُقَالُ لَهَا: أُمُّ يَعْقُوبَ زَادَ عُثْمَانُ كَانَتْ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ ثُمَّ اتَّفَقَا، فَأَتَتْهُ فَقَالَتْ: بَلَغَنِي عَنْكَ أَنَّكَ لَعَنْتَ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَالْوَاصِلَاتِ، وَقَالَ عُثْمَانُ: وَالْمُتَنَمِّصَاتِ، ثُمَّ اتَّفَقَا: وَالْمُتَفَلِّجَاتِ، قَالَ عُثْمَانُ: لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ تَعَالَى، فَقَالَ: وَمَا لِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي كِتَابِ اللَّهِ تَعَالَى، قَالَتْ: لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ لَوْحَيِ الْمُصْحَفِ فَمَا وَجَدْتُهُ، فَقَالَ: وَاللَّهِ لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيهِ لَقَدْ وَجَدْتِيهِ ثُمَّ قَرَأَ: وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا سورة الحشر آية ٧، قَالَتْ: إِنِّي أَرَى بَعْضَ هَذَا عَلَى امْرَأَتِكَ، قَالَ: فَادْخُلِي فَانْظُرِي، فَدَخَلَتْ ثُمَّ

(١): صحيح البخاري/تفسير سورة الحشر ٤ (٤٨٨٦)، اللباس ٨٢ (٥٩٣١)، ٨٤ (٥٩٣٩)، ٨٥ (٥٩٤٣)، ٨٦ (٥٩٤٤)، ٨٧ (٥٩٤٨)، صحيح مسلم/اللباس ٣٣ (٢١٢٥)، سنن الترمذي/الأدب ٣٣ (٢٧٨٢)، سنن النسائي/الزينة ٢٤ (٥١٠٢)، ٢٦ (٥١١٠، ٥١١١)، الزينة من المجتبى ١٨ (٥٢٥٤)، سنن ابن ماجه/النكاح ٥٢ (١٩٨٩)، (تحفة الأشراف: ٩٤٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٤٠٩، ٤١٥، ٤٣٤، ٤٤٨، ٤٥٤، ٤٦٢، ٤٦٥)، سنن الدارمي/الاستئذان ١٩ (٢٦٨٩) (صحيح)

خَرَجَتْ، فَقَالَ: مَا رَأَيْتِ؟ وَقَالَ عُثْمَانُ: فَقَالَتْ: مَا رَأَيْتُ، فَقَالَ: لَوْ كَانَ ذَلِكَ مَا كَانَتْ مَعَنَا".

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه الله تعالى په هغه ښځو باندې لعنت کړې دې څوک چه خال لګونکي وي اوچاچه خالونه لګولې وي اود محمد په روايت کښې واصلات لفظ ذکردې يعنى چاچه دخپلو ويښتوسره نور ويښته يوځاى کړې وى اودعثمان په روايت کښې والمتنمصات يعنى په هغه ښځوهم لعنت دې څوک چه خپل ويښته اوباسي په باقى روايت کښې دواړه راويان متفق دي اودښائسته کيدو دپاره خپل غاښونه کولارونکي هم په لعنت والاښځوکښې داخل وي اودالله تعالى جوړ کړې شوې شکل اوصورت بدلوي ، راوى وائى دقبيله بن اسد يوه ښځه چه نوم ئې ام يعقوب وو ماته داخبر راورسيدو چه هغه ښځه قران کريم وائى او عبدالله بن مسعود و ته راغله او وئې وئيل چه تاپه خال لګونکي ښځه باندې لعنت وئيلې دې او په هغه چاباندې هم چاچه خالونه لګولې وي محمدبن عيسى داهم وئيلى دى اودخپلوويښتوسره دنورو ويښتو په يوځائې کونکي باندې هم اودعثمان په روايت کښې دى دويښتوپه ويستونکي باندې هم اودغاښونو په نرې کونکي باندې هم، دعثمان په روايت کښې دى چاچه دحسن اوجمال دپاره دالله تعالى جوړ کړې شوې شکل اوصورت بدل کړې وي عبدالله بن مسعود و اوفرمائيل زه به پرې ولې لعنت نه وايم په چاباندې چه نبى عليه السلام لعنت وئيلې دې اوهغه د قران کريم په اعتبارسره هم دلعنت مستحق ده هغې ښځې اووئيل چه ماددواړو کتوبه مينځ کښې قران کريم لوستلې دې ليکن داخبره په کښې مانه ده موندلې عبدالله به ورته اووئيل که چرې تادالله کتاب په غور وفکر سره تلاوت کړې وې نوخامخا به درته داحکم ملاو شوې وو، اوبيا ئې دا ايت کريمه اووئيلو: «وما آتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا» هغې اووئيل ماستا ښځه ليدلې وه چه دا کارونه ئې کړي وو هغه ورته اووئيل ډيره ښه ده ته دننه لاړه شه او وبې ګوره هغه دننه لاړه اوبيا راغله او وى وئيل مالى هم نشته عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اووئيل چې هغې داسې کړې وې نوستا سره به نه وې.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذرى

[٤١٧٠] (¹) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ أُسَامَةَ، عَنْ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ مُجَاهِدِ بْنِ جَبْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لُعِنَتِ الْوَاصِلَةُ وَالْمُسْتَوْصِلَةُ وَالنَّامِصَةُ وَالْمُتَنَمِّصَةُ وَالْوَاشِمَةُ وَالْمُسْتَوْشِمَةُ مِنْ غَيْرِ دَاءٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَتَفْسِيرُ الْوَاصِلَةِ الَّتِي تَصِلُ الشَّعْرَ بِشَعْرِ النِّسَاءِ وَالْمُسْتَوْصِلَةُ الْمَعْمُولُ بِهَا، وَالنَّامِصَةُ الَّتِي تَنْقُشُ الْحَاجِبَ حَتَّى تُرِقَّهُ وَالْمُتَنَمِّصَةُ الْمَعْمُولُ بِهَا، وَالْوَاشِمَةُ الَّتِي تَجْعَلُ الْخِيلَانَ فِي وَجْهِهَا بِكُحْلٍ أَوْ مِدَادٍ وَالْمُسْتَوْشِمَةُ الْمَعْمُولُ بِهَا.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى فرمائى چه دو يختوبه يوځائې کونکي او لګونکي باندې اودتندي دوختر ويستونکي اود چندباره چه ويستلې شي اوخال لګونکي اودچادپاره چه خال لګولې شي کوم چه دعذرنه بغيروي پدوى د الله تعالى لعنت دي، امام ابوداؤد فرمائى چه واصله هغه چاته وئيلې شي څوک چه دنوروزنانو دويتوسره نور ريختە يوځاى کوي، اونامصه هغه چاته وئلي شي غاښونه نرې کوي او متنمصه هغه چاته وئيلي شي

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٣٧٨) (صحيح)

دچاغابښونه چه نري کولې شي اوواشمه خال لګونکې ته وائی اومستوشمه هغه چاته وئیلې شي دچاسره چه دا کارکیږی . ابوداؤد وائی چه احمد وئیلی دی په کوم شي باندې دویښتو په تړلو کښې څه حرج نشته.

وړاندې په کتاب کښې مصنف رحمه الله خپله د خپل طرف نه د هغه الفاظو کوم چه په حدیث کښې راغلی دی تفسیر او تشریح کړې ده او د هغې په آخر کښې دی

[٤١٧١](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ زِيَادٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: "لَا بَأْسَ بِالْقَرَامِلِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَأَنَّهُ يَذْهَبُ إِلَى أَنَّ الْمَنْهِيَّ عَنْهُ شُعُورُ النِّسَاءِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ أَحْمَدُ يَقُولُ الْقَرَامِلُ لَيْسَ بِهِ بَأْسٌ.

سعید بن جبیر وائی چه دویختړپه تړلوکښې څه حرج نشته ابوداؤد وائی چه اند وئیلی دی په کوم شي باندې دویختو په تړلوکښې څه حرج نشته.

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ كَانَ أَحْمَدُ يَقُولُ الْقَرَامِلُ لَيْسَ بِهِ بَأْسٌ ﴾ امام ابوداؤد رحمه الله د خپل استاد امام احمد بن حنبل رحمه الله رائې نقل فرمائی چه په قرامل یعنی د پیوی په اچولو کښې هیڅ باک نشته. یعنی زنانه که په خپلو ویښتو کښې د یو ځناور وړئ یعنی د وړئ پیوې یا ریښمی پیوې یو ځائې کړی نو په دې کښې هیڅ باک نشته، ګویا منع د شعر النساء په یو ځائې کولو کښې ده. (د دې مسئلې تشریح په شروع کښې تیره شوې ده)

بَابٌ فِي رَدِّ الطِّيبِ

د خوشبود واپس کولو بیان

[٤١٧٢](٢) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَهَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْمَعْنَى، أَنَّ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُقْرِءَ حَدَّثَهُمْ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ طِيبٌ فَلَا يَرُدَّهُ فَإِنَّهُ طَيِّبُ الرِّيحِ خَفِيفُ الْمَحْمَلِ".

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاته چه خوشبو پیش کړې شي نوهغه دې نه واپس کوي ځکه چه ددې بوي ښکلې دې او وزن ئې سپک دې،

﴿ مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ طِيبٌ فَلَا يَرُدَّهُ فَإِنَّهُ طَيِّبُ الرِّيحِ خَفِيفُ الْمَحْمَلِ ﴾

یعنی په کوم سړی چه خوشبوئی یعنی عطر وغیره پیش کړې شی یعنی هدیة نو هغه دې نه واپس کوی، ځکه چه دا داسې هدیه ده چه د هغې بوئی ډیر عمده دې (چه هغې طرف ته د انسان طبیعت مائل کیږی) او په اوچتولو کښې سپک دې، په دې حیثیت سره هم سپک دې چه وزنی څیز نه دې او دې حیثیت سره هم چه ډیر قیمتی څیز نه دې چه د هغه د احسان بوجهـ اوچتول وی، عام طور سره دا څیزونه یو بل ته هدیه کولې شی. والحدیث اخرجه مسلم والنسائی، ولفظ مسلم ﴿ من عرض علیه ریحان ﴾ قاله المنذری.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٦٧٩) (ضعيف منكر)

(٢): صحيح مسلم/الألفاظ من الأدب ٥ (٢٢٥٣)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ٢٠ (٥٢٦١)، (تحفة الأشراف: ١٣٩٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٢٠) (صحيح)

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَرْأَةِ تَتَطَيَّبُ لِلْخُرُوجِ

باب: کومه ښځه چه د کور نه د وتلو دپاره خوشبو لګوی

[٤١٧٣] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، أَخْبَرَنَا ثَابِتُ بْنُ عُمَارَةَ، حَدَّثَنِي غُنَيْمُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا اسْتَعْطَرَتِ الْمَرْأَةُ فَمَرَّتْ عَلَى الْقَوْمِ لِيَجِدُوا رِيحَهَا فَهِيَ كَذَا وَكَذَا، قَالَ: قَوْلًا شَدِيدًا".

دابوموسی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کله چه یوه ښځه عطر استعمال کړي اوبیا دسړوپه مینځ کښې تیریږي ددې دپاره چه په سړوباندې ددې خوشبو ورشي نوهغه زنانه داسې داسې ده یعنی نبی علیه السلام ډیره بده وګڼړله.

په حدیث الباب کښې زنانه په سختئ سره منع کړې شوې دی، د دې خبرې نه چه کله هغه د څه ضرورت دپاره د کور نه بهر تشریف اوړی نو خوشبوئی دې نه لګوی او هم دغه شان په احادیثو کښې په طیب الرجال او طیب النساء کښې دا فرق بیان کړې شوې دې چه په اول کښې خوشبوئی کیدل پکار دی رنګ دې پکښې نه وی او په دویم کښې رنګ وی خوشبوئی نه وی.

الحديث الاول حديث ابي موسى رضی الله عنه اخرجه الترمذی والنسائی، ولفظ النسائی، فهي زانية.

[٤١٧٤] (²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ عُبَيْدٍ مَوْلَى أَبِي رُهْمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَقِيَتْهُ امْرَأَةٌ وَجَدَ مِنْهَا رِيحَ الطِّيبِ يَنْفَحُ وَلِذَيْلِهَا إِعْصَارٌ، فَقَالَ: يَا أَمَةَ الْجَبَّارِ جِئْتِ مِنَ الْمَسْجِدِ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: وَلَهُ تَطَيَّبْتِ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ حِبِّي أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ لِامْرَأَةٍ تَطَيَّبَتْ لِهَذَا الْمَسْجِدِ حَتَّى تَرْجِعَ فَتَغْتَسِلَ غُسْلَهَا مِنَ الْجَنَابَةِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: الْإِعْصَارُ غُبَارٌ.

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوه زنانه راسره مخامخ شوه چه خوشبوئي ورنه روانه وه اودهغې لمن هوا الوزوله هغه ورته اووئیل اې دجبار وینځې ته دجومات نه راغلې؟ هغې اووئیل هو، ابوهریره ورته اووئیل ایا خوشبودې لګولې ده هغې اووئیل هو، ابوهریره اوفرمائیل ماد نبي کریم نه آوریدلی دی کوم چه زمادوست وو هغه فرمائیل کوي زنانه چه خوشبو لګولې وي اومسجد ته داخله شي نودهغې مونځ نه کیږی ترڅوچه هغه کورته نه وي تلې اودجنابت په شان غسل ئې نه وي کړې.

[٤١٧٥] (³) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، وَسَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ أَبُو عَلْقَمَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ خُصَيْفَةَ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بَخُورًا فَلَا تَشْهَدَنَّ مَعَنَا الْعِشَاءَ". قَالَ ابْنُ نُفَيْلٍ: عِشَاءَ الْآخِرَةِ.

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی کوي ښځې چه دخوشبو

¹): سنن الترمذي/الأدب ٣٥ (٢٧٨٦)، سنن النسائي/الزينة ٣٥ (٥١٢٩)، (تحفة الأشراف: ٩٠٢٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٠٠، ٤١٤، ٤١٨) (حسن)

²): سنن ابن ماجه/الفتن ١٩ (٤٠٠٢)، (تحفة الأشراف: ١٤١٣٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٤٦، ٢٩٧، ٣٦٥، ٤٤٤، ٤٦١) (صحيح)

³): صحيح مسلم/الصلاة ٣٠ (٤٤٤)، سنن النسائي/الزينة ٣٧ (٥١٣١)، (تحفة الأشراف: ١٢٢٠٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٠٤) (صحيح)

سپرې کړې وی هغه دې زمونږ سره د ماخوستن په مونځ کښې نه شامليږي.
والحديث الثانى حديث ابى هريرة رضي الله عنه اخرجه ابن ماجه، والحديث الثالث حديث ابى هريرة ايضا اخرجه النسائى، قاله المنذرى.

بَاب فِي الْخَلُوقِ لِلرِّجَالِ

باب د سړو دپاره د خلوق (خوشبو) د استعمالولو بيان

خلوق د يو مرکب خوشبويئ نوم دې کومه چه د زعفران وغيره نه جوړيږی هم په دې وجه رنګداره وی، د جمهورو په نزد د سړو په حق کښې ممنوع ده او د امام مالک رحمه الله په نزد مباح ده لکه چه په کتاب النکاح کښې باب قلة المهر کښې ﴿ راى عبدالرحمن بن عوف وعليه ردع زعفران الحديث ﴾ په شرح کښې تير شوې دی.

[٤١٧٦] (1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا عَطَاءٌ الْخُرَاسَانِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، قَالَ: "قَدِمْتُ عَلَى أَهْلِي لَيْلًا وَقَدْ تَشَقَّقَتْ يَدَايَ، فَخَلَّقُونِي بِزَعْفَرَانٍ، فَغَدَوْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ، وَلَمْ يُرَحِّبْ بِي، وَقَالَ: اذْهَبْ فَاغْسِلْ هَذَا عَنْكَ، فَذَهَبْتُ فَغَسَلْتُهُ ثُمَّ جِئْتُ وَقَدْ بَقِيَ عَلَيَّ مِنْهُ رَدْعٌ فَسَلَّمْتُ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ وَلَمْ يُرَحِّبْ بِي، وَقَالَ: اذْهَبْ فَاغْسِلْ هَذَا عَنْكَ، فَذَهَبْتُ فَغَسَلْتُهُ ثُمَّ جِئْتُ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ عَلَيَّ وَرَحَّبَ بِي، وَقَالَ: إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَحْضُرُ جَنَازَةَ الْكَافِرِ بِخَيْرٍ وَلَا الْمُتَضَمِّخَ بِالزَّعْفَرَانِ وَلَا الْجُنُبَ، قَالَ: وَرَخَّصَ لِلْجُنُبِ إِذَا نَامَ أَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَنْ يَتَوَضَّأَ".

دعمار بن ياسر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زه خپل کورته دشپې راغلم او لاسونه مې چاودلي وو نوکوروالا زما په لاسونو باندې د زعفرانو خلوق ولګول کله چه سحرشونودنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم اسلام مې ورباندې واچولو ماته ئې دسلام جواب رانکړو اونه ئې راته پخير راغلې اووئيل ، اووئې فرمائيل لاړ شه اودا ووينځه زه لاړم ما چه اووينځل نوبيا راغلم اسلام مې واچولو ماته ئې دسلام جواب راکړو او پخير راغلې يې راته اووئيل اوبيا ئې اوفرمائيل يقينا فرشتې پخير سره دکافرجنازې ته نه حاضريږي اونه په زعفرانو باندې لهلې شوي ته اونه جنب ته ، راوی وائی اجازت ئې ورکړو دجنب دپاره کله چه اوده شي ياخوراک اوکړي ياڅکل اوکړي د دې خبرې چه اودس به کوي.

﴿ عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ قَدِمْتُ عَلَى أَهْلِي لَيْلاً وَقَدْ تَشَقَّقَتْ يَدَاىَ فَخَلَّقُونِى بِزَعْفَرَانٍ الخ ﴾

سيدنا عمار بن ياسر رضي الله عنهما فرمائی چه زه د خپل کار نه فارغ کيدو سره چه د شپې يا ماښام خپل کور ته اورسيدم نو (د يخنئ او د محنت په وجه) زما لاسونه چودلي وو نو زما د کور خلقو زما په لاسونو باندې خلوق يعنی زعفران والا خوشبوئی اولګوله (دواء وعلاجا) سحر چه کله زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او سلام مې اوکړو (نو چونکه د هغوی په جامه او بدن باندې زعفرانی رنګ ښکاره کيدو) رسول الله ﷺ زما د سلام جواب رانکړو او نه ئې مرحبا اووې، او وئې فرمائيل چه لاړ شه او دا وينځه، زه فورا لاړم او هغه مې وينځلو او سلام کولو سره کيناستلم هغه وخت هم رسول الله ﷺ زما د سلام جواب رانکړو ځکه چه د هغې اثر لا باقی وو، او بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه لاړ شه او دا وينځه، زه

(1) تفرد به أبوداود (تحفة الأشراف: ١٠٣٧٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٢٠) وأعاد المؤلف بعضه في السنة (٤٦٠١) (حسن)

لازم او ومې وينځلو بيا راغلم دې وخت کښې رسول اللهﷺ زما د سلام جواب راکړو او مرحبا ئې اوئيل، او وې فرمائيل چه بيشکه د خير ملائک نه خو د کافر په جنازه کښې شريکيږي او نه د زعفران خوشبوئي لګونکي په جنازه کښې، او نه جنبي ته حاضريږي.

د دې نه روستو روايت کښې دی ﴿ ثَلَاثَةٌ لاَ تَقْرَبُهُمُ الْمَلاَئِكَةُ جِيفَةُ الْكَافِرِ وَالْمُتَضَمِّخُ بِالْخَلُوقِ وَالْجُنُبُ إِلاَّ أَنْ يَتَوَضَّأَ ﴾

[٤١٨٠](١) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأُوَيْسِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ثَلَاثَةٌ لَا تَقْرَبُهُمُ الْمَلَائِكَةُ: جِيفَةُ الْكَافِرِ، وَالْمُتَضَمِّخُ بِالْخَلُوقِ، وَالْجُنُبُ إِلَّا أَنْ يَتَوَضَّأَ".

دعمار بن ياسر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي کريم فرمائيلي دی درې کسان داسې دی چه فرشته ورته نه نزدې کيږي يو دکافر مړي ته اوبل هغه کس دې چه خلوق ئې لګولې وي اوبل جنب دې چه اودس ئې نه وي کړې.

د جنبي د اودس يوه خاص فائده :

يعني جنبي که صرف اودس اوکړي او غسل موخر کړي د مانځه د وخته پورې نو بيا په دې کښې هيڅ نقصان نشته ملائک هغه ته راځي، دا مضمون او د دې حديث حواله په کتاب الطهارة باب ما في الجنب يوخر الغسل کښې تير شوي دې، چه د هغې لفظ دا وو لا تدخل الملائكة بيتا فيه صورة ولا كلب ولا جنب... هلته مونږ دا ليکلي دی چه که جنبي اودس اوکړي نو بيا د هغه دا حکم نه دې لکه چه د موجوده باب په حديث کښې دی.

[٤١٧٧](٢) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ عَطَاءِ ابْنِ أَبِي الْخُوَارِ، أَنَّهُ سَمِعَ يَحْيَى بْنَ يَعْمَرَ يُخْبِرُ، عَنْ رَجُلٍ أَخْبَرَهُ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، زَعَمَ عُمَرُ: أَنَّ يَحْيَى سَمَّى ذَلِكَ الرَّجُلَ، فَنَسِيَ عُمَرُ اسْمَهُ أَنَّ عَمَّارًا، قَالَ: تَخَلَّقْتُ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ وَالْأَوَّلُ أَتَمُّ بِكَثِيرٍ فِيهِ ذِكْرُ الْغُسْلِ، قَالَ: قُلْتُ لِعُمَرَ: وَهُمْ حُرُمٌ؟ قَالَ: لَا، الْقَوْمُ مُقِيمُونَ.

دعمار بن ياسر نه همدا رنګې روايت منقول دې ليکن اولنې روايت کامل دې او په دې روايت کښې دغسل ذکر نشته ابن جريج وئيلي دی چه ما عمر بن يحي ته اووئيل ايا په دې وخت کښې خلق داحرام په حالت کښې وو؟ هغه اووئيل نه، بلکه ټول خلق پخپلو کوررونو کښې مقيم وو.

[٤١٧٨](٣) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ الْأَسَدِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَرْبٍ الْأَسَدِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ الرَّازِيُّ، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ جَدَّيْهِ، قَالَا: سَمِعْنَا أَبَا مُوسَى، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَقْبَلُ اللَّهُ تَعَالَى صَلَاةَ رَجُلٍ فِي جَسَدِهِ شَيْءٌ مِنْ خَلُوقٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: جَدَّاهُ زَيْدٌ، وَزِيَادٌ.

دابوموسى رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول کريمﷺ فرمائيلي دی دهغه کس مونځ نه قبليږي دچا په جسم باندې چه لږ غوندې خلوق هم لګيدلي وي امام ابوداؤد وائي چه دده

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٣٤٧) (حسن)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٣٧٦) (حسن)

(٣): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٨٩١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠٣/٤) (ضعيف)

دنیکه اونیانوم زید او زیاد دي.

﴿ عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ جَدَّيْهِ قَالاَ سَمِعْنَا أَبَا مُوسَى يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «لاَ يَقْبَلُ اللَّهُ صَلاَةَ رَجُلٍ فِي جَسَدِهِ شَيْءٌ مِنْ خَلُوقٍ». قَالَ أَبُو دَاوُدَ جَدَّاهُ زَيْدٌ وَزِيَادٌ ﴾ دا حدیث ربیع بن انس د خپلو جدینو نه روایت کوی لکه چه پورته په سند کښې راغلل یعنی د مور د پلار او د پلار د پلار نه...... مصنف رحمه الله فرمائی چه په هغوی کښې د یو نوم زید او د بل نوم زیاد دي.

[۴۱۷۹] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ حَمَّادَ بْنَ زَيْدٍ، وَإِسْمَاعِيلَ بْنَ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَاهُمْ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّزَعْفُرِ لِلرِّجَالِ"، وَقَالَ عَنْ إِسْمَاعِيلَ، أَنْ يَتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ.

دانس رضی الله عنه نه روایت فرمائی چه رسول الله و منع فرمائیلي ده ددینه چه سړي زعفران ولګوي اوداسماعیل راوی نه «أن یتزعفر الرجل» الفاظ منقول دي.

[۴۱۸۱] (²) حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ مُحَمَّدٍ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ الْهَمْدَانِيِّ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُقْبَةَ، قَالَ: "لَمَّا فَتَحَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ جَعَلَ أَهْلُ مَكَّةَ يَأْتُونَهُ بِصِبْيَانِهِمْ، فَيَدْعُو لَهُمْ بِالْبَرَكَةِ وَيَمْسَحُ رُءُوسَهُمْ، قَالَ: فَجِيءَ بِي إِلَيْهِ وَأَنَا مُخَلَّقٌ فَلَمْ يَمَسَّنِي مِنْ أَجْلِ الْخَلُوقِ".

دولید بن عقبه نه روایت دي فرمائی هرکله چه نبی علیه السلام مکه فتح کړه نودمي خلقوبه ورته خپل ماشومان راوستل نبی علیه السلام به هغوی ته دبرکت دپاره دعا کوله او ددوی په سرونوبه ئې لاس راښکلو ، راوی وائی چه یوځل ورته زه راوستلی شوم اوماخلوق لګولې وو نودخلوق په وجد ئې پد ماباندې لاس رانښکلو.

قوله: ﴿ عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُقْبَةَ قَالَ لَمَّا فَتَحَ نَبِيُّ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مَكَّةَ جَعَلَ أَهْلُ مَكَّةَ يَأْتُونَهُ بِصِبْيَانِهِمْ فَيَدْعُو لَهُمْ بِالْبَرَكَةِ وَيَمْسَحُ رُءُوسَهُمْ قَالَ فَجِيءَ بِي إِلَيْهِ وَأَنَا مُخَلَّقٌ فَلَمْ يَمَسَّنِي مِنْ أَجْلِ الْخَلُوقِ ﴾ یعنی د فتح مکې په ورځ باندې ډیر خلق (یعنی مسلمة الفتح کښې) خپلو بچو لره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې راوستل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هغوی دپاره دعا فرمائیله د برکت او خپل لاس مبارک به ئې د هغوی په سرونو باندې راښکلو. دا ولید بن عقبه رضی الله عنه د حدیث راوی فرمائی چه زه هم راوستلې شوم هغوی خو په ما باندې خلوق لګیدلې وو نو په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم زما په سر باندې خپل لاس مبارک رانښکلو.

[۴۱۸۲] (³) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا سَلْمٌ الْعَلَوِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، "أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ أَثَرُ صُفْرَةٍ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَلَّمَا يُوَاجِهُ رَجُلًا فِي وَجْهِهِ بِشَيْءٍ يَكْرَهُهُ، فَلَمَّا خَرَجَ، قَالَ: لَوْ أَمَرْتُمْ هَذَا أَنْ يَغْسِلَ هَذَا عَنْهُ".

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه یوکس دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر

(¹): صحيح مسلم/اللباس ٢٣ (٢١٠١)، سنن الترمذي/الأدب ٥١ (٢٨١٥)، سنن النسائي/الحج ٤٣ (٢٧٠٧)، الزينة من المجتبى ١٩ (٥٢٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٠١١، ٩٩٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/اللباس ٣٣ (٥٨٤٦) (صحيح)

(²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٧٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢/٤) (منكر)

(³): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٨٦٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/ الشمائل ٣٤٦)، سنن النسائي/ اليوم والليلة (٢٣٥)، وأعاده المؤلف في الأدب (٤٧٨٩)، مسند احمد (١٣٣/٣، ١٥٤، ١٦٠) (ضعيف)

شوا په هغه باندې دزې پړوالي اثر وو، اونبی ﷺ به ډير کم دهغه کس سره مخامخ کيدو دچا په مخ چه به داسې يوشې وو چه هغه به بد ګڼړلو، نوهرکله چه اورتو نورې فرمائيل که چرې تاسوده ته حکم کړې وې چه دا زيړ والې دځان نه اووينځي نوبهتره به وه.

﴿ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا سَلْمٌ الْعَلَوِيُّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلاً دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَعَلَيْهِ أَثَرُ صُفْرَةٍ الخ ﴾

د حديث مضمون واضح دې، دا حديث هم په دې سند سره په کتاب الادب، باب فی حسن المعاشرة کښې راروان دې او هلته دا زيادت دې ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ سَلْمٌ لَيْسَ هُوَ عَلَوِيًّا كَانَ يُبْصِرُ فِي النُّجُومِ الخ ﴾ يعنی په سند کښې چه کوم سلم علوی راوی راغلې دې هغوی ته علوی د دې معنی په لحاظ سره نه شی وئيلې کيدې چه هغوی خپله د علی رضی الله عنه په اولاد کښې دی بلکه دا د علو نه دې دا د علم نجوم نه واقف وو ګويا نجومی وو په دې وجه هغوی ته علوی وائی.

بَاب مَا جَاءَ فِي الشَّعْرِ

باب د ويښتو ساتلو بيان

[٤١٨٣] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: "مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ أَحْسَنَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، زَادَ مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ لَهُ شَعْرٌ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَذَا رَوَاهُ إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ، وَقَالَ شُعْبَةُ: يَبْلُغُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ.

دبراء بن عازب رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ما په سره جوړه کښې داسې څوک نه دی ليدلي چه دغوږونو پورې ويښته ئې پريښې وې اودنبی ﷺ نه ښکلی وې محمد بن سليمان په خپل روايت کښې دا اضافه کړې ده چه دومره ويښته ئې ساتلي ووچه غوږونوته رسيدل. امام ابوداؤد فرمائی چه همدارنګې دا روايت اسرائيل داسحاق نه نقل کړې دې اووئيلي ئې دي چه دسرويښته ئې غوږونونه رسيدل، اوشعبه وئيلی دی چه دغوږونونرموته رسيدل.

﴿ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ أَحْسَنَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- زَادَ مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ لَهُ شَعْرٌ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ. وَقَالَ شُعْبَةُ يَبْلُغُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ ﴾

سيدنا براء رضی الله عنه فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ په شان ويښته پريخودونکې چه په سره جوړه کښې وی زيات ښکلې نه دې ليدلې هم په دې روايت کښې وراندې يو راوی د رسول الله ﷺ د ويښتو مبارکو په باره کښې دا بيان کړې ده چه د رسول الله ﷺ د سر مبارک ويښته به اوږو پورې لګيدل، او بل راوی اووې چه د دواړو غوږونو مبارکو د غاړو پورې، او د دې نه پس د انس رضی الله عنه په روايت کښې راځی چه ﴿ الی انصاف اذنيه ﴾ دا ټول روايات په

¹): صحيح مسلم/الفضائل ٢٥ (٢٣٣٧)، سنن الترمذي/اللباس ٤ (١٧٢٤)، الأدب ٤٧ (٢٨١١)، المناقب ٨ (٣٦٣٥)، الشمائل ١ (٣)، ٣ (٢٥)، سنن النسائي/الزينة ٩ (٥٠٦٣)، الزينة من المجتبى ٥ (٥٢٣٥)، ٣٩ (٥٣١٦)، (تحفة الأشراف: ١٨٤٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المناقب ٢٣ (٣٥٥١)، واللباس ٣٥ (٥٨٤٨)، ٦٨ (٥٩٠٣)، سنن ابن ماجه/اللباس ٢٠ (٣٥٩٩)، مسند احمد (٢٨١/٤، ٢٩٥) (صحيح)

اختلاف د اوقاتو او اختلاف د زمان باندې محمول دی. په يو وخت باندې نه چه څوک ئې تعارض اوګنړي.

[٤١٨٤] (¹) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ شَعْرٌ يَبْلُغُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ".

دبراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی کريم صلى الله عليه وسلم ويښته دغوږونو نرموته رسيدل.

[٤١٨٥] (²) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "كَانَ شَعْرُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى شَحْمَةِ أُذُنَيْهِ".

دانس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام دسرويختته دغوږونونرموته رسيدل.

[٤١٨٦] (³) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ شَعْرُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ".

دانس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام دسرويختته دغوږونو نيمي ته رسيدل.

[٤١٨٧] (⁴) حَدَّثَنَا ابْنُ نُفَيْلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ شَعْرُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوْقَ الْوَفْرَةِ وَدُونَ الْجُمَّةِ".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام ويښته مبارک دوفره نه زيات وو اودجمه نه کم وو. (وفره هغه وختونه وئيل شي چه دغوږونو پورې وي اوجمه هغه وختونه وئيلي شي کوم چه داوږوپورې وي).

﴿عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ شَعْرُ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فَوْقَ الْوَفْرَةِ وَدُونَ الخ﴾

د ويښتو قسمونه او د هغې نومونه :

وفره او جمه او لمه... کوم چه په اول حديث کښې تير شو دا د ويښتو (سنړو) قسمونه دی. د يو قول مطابق وفره د ټولو نه کمه درجه ده، د غوږونو د غاړو پورې. او لمه د هغې نه زياتی، او جمه د هغې نه هم زياتی يعنی اوږو ته نزدې، دې ترتيب لره يادولو دپاره مونږ د خپلو استاذانو نه لفظ د وَلَج اوريدلې دې په اول قسم کښې حرف واؤ، او دويم کښې لام او دريم کښې جيم دې.

¹): انظر حديث رقم: (٤٠٧٢)، (تحفة الأشراف: ١٨٦٩) (صحيح)

²): سنن الترمذي/الشمائل ٣ (٢٩)، سنن النسائي/الزينة ٩ (٥٠٦٤)، الزينة من المجتبى ٥ (٥٢٣٦)، (تحفة الأشراف: ٤٦٩، ١٨٩٦٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/اللباس ٦٨ (٥٩٠٤)، سنن ابن ماجه/اللباس ٣٦ (٣٦٣٤)، مسند احمد (١١٣/٣، ١٦٥) (صحيح)

³): صحيح مسلم/ الفضائل ٢٦ (٢٣٣٨)، سنن الترمذي/ الشمائل (٢٤)، سنن النسائي/ الزينة من المجتبى ٥ (٥٢٣٦)، (تحفة الأشراف: ٥٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٢/٣، ٢٤٩) (صحيح)

⁴): سنن الترمذي/اللباس ٢١ (١٧٥٥)، سنن ابن ماجه/اللباس ٣٦ (٣٦٣٥)، (تحفة الأشراف: ١٧٠١٩) (حسن صحيح)

د ابوداؤد او ترمذی په روایتونو کښې تعارض او په هغې کښې تطبیق:

او د ترمذی په روایت کښې په حدیث د عائشې رضی الله عنها کښې د دې خلاف دی په هغې کښې دی (فوق الجمه دون الوفرة) کوم چه په ظاهر کښې تعارض دې او د دې تشریح هم خلاف ده کومه چه مونږ د ویښتو په ترتیب کښې بیان کړه. د دې توجیه دا کیدې شی چه د فوق او دون دواړو معنی په دواړو روایتونو کښې بیله بیله واخستلې شي، د ابوداؤد په روایت کښې د فوق معنی زائد او د دون معنی کم یعنی ناقص واخستلې شي، او مطلب به دا وی چه د وفره نه زیات او د جمه نه کم، د دې دواړو درمیانی درجه وه یعنی لمه، او د ترمذی په روایت کښې به د فوق معنی اخستلې شی پورته او د دون معنی به اخستلې شی اسفل یعنی لاندې پس مطلب دا شو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ویښته د جمه نه لږ شان پورته او د وفره نه لږ لاندې وو، د دې مصداق هم لمه شوه، والله تعالی اعلم.

د سر د ویښتو په باره کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت مبارک:

په دې احادیثو کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ویښتو (سنړو) حال مذکور دې، د دې نه معلومه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت مبارک په سر مبارک باندې د ویښتو ساتلو وو، دا مضمون زمونږ په نزد په کتاب الطهارة کښې د غسل جنابت په بیان کښې د علی رضی الله عنه په قول (ومن ثم عادیت راسی) د لاندې تیر شوې دې هغه دې هم اوکتلې شی، ابن العربی وائی چه د سر ویښته د هغې زینت دې د هغې باقی ساتل سنت دی او حلق ئې بدعت دې، او په شرح د مصابیح کښې لیکلې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل سر مبارک حلق د هجرت نه پس صرف درې کرته کړې دې په عمرة د حدیبیه کښې، په عمرة القضاء کښې، او په حجة الوداع کښې، او تقصیر د هغوی نه صرف یو ځل ثابت دې لکه چه په صحیحین کښې دی. (قاله الباجوری فی شرح الشمائل)

قلت: واما مذهب الحنفية ففي الروضة للزندويستي ان السنة في شعر الراس اما الفرق او الحلق وذكر الطحاوي ان الحلق سنة ونسب ذلك الى العلماء الثلاثة (شامی ۲۶۱/۵) (هندیه ۳۵۷/۵ معزیا للتتارخانیة) وفي الفتاوى المحمودية ۱۴۹/۵، عام عادت مبارکه ئې د ویښتو د ساتلو وو، خرئیل ترې نه ډیر کم ثابت دی، بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم به همیشه خرائیلو. والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْفَرْقِ

باب د سر په مینځ کښې د لار جوړولو بیان

[۴۱۸۸] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَعْنِي يَسْدِلُونَ أَشْعَارَهُمْ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرُقُونَ رُءُوسَهُمْ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُعْجِبُهُ مُوَافَقَةُ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ بِهِ فَسَدَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاصِيَتَهُ ثُمَّ فَرَقَ بَعْدُ".

(۱): صحيح البخاري/المناقب ۲۳ (۳۵۵۸)، ومناقب الأنصار ۵۲ (۳۹۴۴)، واللباس ۷۰ (۵۹۱۷)، صحيح مسلم/الفضائل ۲۴ (۲۳۳۶)، سنن الترمذي/الشمائل ۳ (۲۹)، سنن النسائي/الزينة من المجتبى ۷ (۵۲۴۰)، سنن ابن ماجه/اللباس ۳۶ (۳۶۳۲)، (تحفة الأشراف: ۵۸۳۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۴۶/۱، ۲۶۱، ۲۸۷، ۳۲۰) (صحيح)

دابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي فرمائی چه من اهل کتابو (یهودیانو اونصرانیانو) به ویښته اوږده پریخودل او مشرکانوبه پکښې لارویستله اونبی ﷺ به داهل کتابوسره په هغه څه کښې چه حکم ئې ورته نه ووشوې موافقت ناشنا ګڼړلو او دتندي ویښته به ئې اوږده ساتل اوبیابه ئې په سرکښې لاره هم ویستله.

قوله:﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ - يَعْنِى - يَسْدِلُونَ أَشْعَارَهُمْ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرُقُونَ رُءُوسَهُمْ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- تُعْجِبُهُ مُوَافَقَةُ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ بِهِ فَسَدَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَاصِيَتَهُ ثُمَّ فَرَقَ بَعْدُ ﴾

سیدنا ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه اهل کتابو به په ویښتو کښې سدل کولو او مشرکینو به فرق یعنی لاره ویستله او رسول الله ﷺ ته په شروع کښې په هغه امورو کښې چه د هغې په باره کښې په هغوی باندې څه وحی او هدایت نه وو نازل شوې د اهل کتابو موافقت خوښ وو، او هم په دې وجه کیدې شوه چه د هغه اهل کتابو فعل د هغوی په دین کښې ثابت وی، په خلاف د مشرکینو چه د هغوی په یو کار کښې هم دا احتمال نه وو چه هغه دې د الله پاک د طرف نه وی، او د رسول الله ﷺ د اهل کتابو موافقت کول زړونو لره د اسلام طرف ته مائل کول هم وو، بیا چه کله الله پاک اسلام ته غلبه ورکړه نو بیا رسول الله ﷺ د هغوی ښکاره مخالفت شروع کړو. (بذل) پس په دې څیز کښې رسول الله ﷺ د هغوی موافقت پریخودلو سره د سدل په ځائې لاره ویستل شروع کړل. د سدل نه مراد دا دې چه د سر وړاندې ویښته په تندی باندې اچول او د فرق مطلب دا دې چه د سر د مخامخ حصې ویښتو لره په دوه حصو کښې تقسیمول د ښی طرف ویښتو لره ښی طرف ته او د ګس طرف ویښتو لره ګس طرف ته کړې شی، پس د دې نه روستو روایت کښې راځی کوم چه د عائشې صدیقې رضي الله عنها نه روایت دې هغوی فرمائی.

[۴۱۸۹] (۱) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كُنْتُ إِذَا أَرَدْتُ أَنْ أَفْرُقَ رَأْسَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَعْتُ الْفَرْقَ مِنْ يَافُوخِهِ وَأُرْسِلُ نَاصِيَتَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ".

د ام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی کله چه به مادنبی ﷺ په سرکښې لاره ویستل غوښتل نودسرپه مینځ کښې به مې لار ویستله اودنبی ﷺ دتندي ویښته به مې ددواړو سترګو په مینځ بیل کړل.

﴿ إِذَا أَرَدْتُ أَنْ أَفْرُقَ رَأْسَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- صَدَعْتُ الْفَرْقَ مِنْ يَافُوخِهِ وَأُرْسِلُ نَاصِيَتَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ ﴾ چه کله به ما د رسول الله ﷺ په سر مبارک کښې لار ویستله نو (وړاندې هغوی د دې طریقه بیانوی) چه د هغوی د سر مبارک د مینځ نه به مې لار ویستله او د وړاندې حصې ویښته به مې په دوه حصو کښې تقسیم کړل ښی او ګس طرف ته. د دې حدیث نه معلومه شوه چه په ویښتو کښې لاره ویستل سنت دی. حدیث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۳۸۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/ ۹۰، ۲۷۵) (حسن)

بَابٌ فِي تَطْوِيلِ الْجُمَّةِ

باب د سر د ويښتو د اوږدولو بيان

[۴۱۹۰] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، وَسُفْيَانُ بْنُ عُقْبَةَ السُّوَائِيُّ هُوَ أَخُو قَبِيصَةَ، وَحُمَيْدُ بْنُ خُوَارٍ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِي شَعْرٌ طَوِيلٌ فَلَمَّا رَآنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ذُبَابٌ ذُبَابٌ، قَالَ: فَرَجَعْتُ فَجَزَزْتُهُ ثُمَّ أَتَيْتُهُ مِنَ الْغَدِ، فَقَالَ: إِنِّي لَمْ أَعْنِكَ وَهَذَا أَحْسَنُ".

د وائل بن حجر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوځل زما د سر ويښته اوږده شوي وو اوزه د نبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم نبي عليه السلام اوفرمائيل نحوست دې نحوست دې، ما چه دا واوريدل نو واپس لاړم بله ورځ چه بيا راتلم نو ويښته مې کم کړل اوراغلم نبي عليه السلام راته اوفرمائيل ماخو ته نه وې قصد کړې داسې ويښته خوبهتر دي.

قوله: ﴿ عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- وَلِي شَعْرٌ طَوِيلٌ الخ ﴾

د دې حديث حواله او مضمون په باب فى الحمرة کښې تير شوې دې، والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَعْقِصُ شَعْرَهُ

باب د هغه سړي بيان چه خپل ويښته کونځۍ کوي

[۴۱۹۱] (²) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: قَالَتْ أُمُّ هَانِئٍ "قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مَكَّةَ وَلَهُ أَرْبَعُ غَدَائِرَ تَعْنِي عَقَائِصَ".

د ام هاني بنت ابى طالب رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه کله چه مکه فتح شوه اونبي عليه السلام راغې نو د سر د وختونه ئې څلور کونځۍ جوړې شوي وې.

قوله: ﴿ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ قَالَتْ أُمُّ هَانِئٍ قَدِمَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- إِلَى مَكَّةَ وَلَهُ أَرْبَعُ غَدَائِرَ تَعْنِي عَقَائِصَ ﴾ او د شمائل هم په دې حديث کښې يو لفظ زائد دې ﴿ قدم رسول الله ﷺ مكة قدمة ﴾ علامه باجوری ليکی ای مرة من القدوم... او بيا ليکی چه د دې نه مراد هغه قدوم دې کوم چه په فتح مکه کښې شوې وو، هغوی فرمائی چه د رسول الله ﷺ تشريف راوړل مکې مکرمې ته د هجرت نه پس څلور کرته شوې وو، په عمرة القضاة کښې، فتح مکه، عمرة الجعرانة او حجة الوداع.

شرح الحديث:

ام هانی رضي الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ مکې مکرمې ته تشريف راوړلو په داسې حال کښې چه د هغوی د سر د ويښتو څلور کمسئ وې.

غدائر د غديرة جمع ده او په يو روايت کښې ﴿ اربع ضفائر ﴾ دې دا دواړه روايتونه په ترمذی

---

¹): سنن النسائي /الزينة ٦ (٥٠٥٥)، سنن ابن ماجه /اللباس ٣٧ (٣٦٣٦)، (تحفة الأشراف: ١١٧٨٢) (صحيح)

²): سنن الترمذي /اللباس ٣٩ (١٧٨١)، سنن ابن ماجه /اللباس ٣٦ (٣٦٣١)، (تحفة الأشراف: ١٨٠١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤١/٦، ٤٢٥) (صحيح)

کښې دی غدائر او ضفائر او ذوابه چه د هغې ذکر د وړاندې باب په حدیث کښې راغی دا ټول هم معنی دی. الشعر المضفور (ګلګوتي ویښته) هغه ویښته چه هغې ته غوټه ورکړې شوې وی یعنی د کمسو په شان لکه چه په کتاب الطهارة کښې د غسل حائض د لاندې د نقض ضفائر مسئله کښې تیر شوې دی، حضرت شیخ په خصائل کښې لیکی د سړو دپاره د زنانو په شان کمسئ کول مکروه دی. په دې حدیث کښې د کمسو نه مراد هم هغه ویښته دی په کوم کښې چه تشبه نه وی چه د تشبه رسول الله ﷺ پخپله ممانعت فرمائیلې دې، او په ابن ماجه کښې ترجمة الباب داسې دې، باب اتخاذ الجمة والضفائر... د هغې په حاشیه کښې حضرت شاه عبدالغنی صاحب رحمه الله لیکی: قوله: وله اربع غدائر...لعله فعل ذلک لدفع الغبار قلت وهو الظاهر لانه صلی الله علیه وسلم کان فی السفر (تحفه) یعنی د رسول الله ﷺ معمول د ویښتو پریخودلو خو وو خو د ضفائرو معمول ئې نه وو د ضرورة د وجې نه به ئې د سفر د ګردوغبار نه د بچ کیدو دپاره هغوی خپل ویښته مبارک داسې کول. او یو وی عقص یعنی د سر ټولو ویښتو له یو ځائې کولو سره شاته اړولو باندې جوړه تړل دا هغه دې چه د هغې ذکر په کتاب الصلوة کښې (باب الرجل یصلی عاصقا) کښې تیر شوې دې، او دغه شان د مونځ کولو نه منع راغلې ده.
ام هانی رضی الله عنها چه فرمائی چه رسول الله ﷺ تشریف راوړلو مکې مکرمې ته یو کرت، نور هم دغه شان په بعض روایتونو کښې راغی چه رسول الله ﷺ زمونږ کور مکې مکرمې ته تشریف راوړلو مثلا هغه فرمائی، چه د فتح مکه په ورځ رسول الله ﷺ زمونږ په کور کښې د صلوة ضحی اته رکعتونه کړل. د دې مقصد دا دې چه ام هانی رضی الله عنها چه د علی رضی الله عنه خور او د رسول الله ﷺ د ترهٔ لور ده هغې هجرت نه دې فرمائیلې، دا د مهاجراتو نه نهٔ وه ځکه چه د هغې اسلام د فتح مکه نه پس دې په دې وجه هجرت ته خبره اونه رسیدله.
والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجه، قاله المنذری

بَابٌ فِي حَلْقِ الرَّأْسِ

باب د سر خریلو بیان

[٤١٩٢] (١) حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ، وَابْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِي يَعْقُوبَ يُحَدِّثُ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمْهَلَ آلَ جَعْفَرٍ ثَلَاثًا أَنْ يَأْتِيَهُمْ، ثُمَّ أَتَاهُمْ، فَقَالَ: لَا تَبْكُوا عَلَى أَخِي بَعْدَ الْيَوْمِ، ثُمَّ قَالَ: ادْعُوا لِي بَنِي أَخِي فَجِيءَ بِنَا كَأَنَّا أَفْرُخٌ، فَقَالَ: ادْعُوا لِي الْحَلَّاقَ، فَأَمَرَهُ فَحَلَقَ رُءُوسَنَا".

دعبدالله بن جعفر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ دجعفرخاندان ته درې ورځې مهلت ورکړې وو (یعنی دجعفرد ماتم دپاره) اوبیانبی علیه السلام دوی ته راغې او اوې فرمائیل دنن نه پس به تاسو زما په وروریسې نه ژاړئ اوبیائې اوفرمائیل تاسوماته زمادورورېچې راولئ نومونږ نبی علیه السلام ته راوستلې شواودمرغودچوپه شان زمونږ ویښته ګډوډ کړې شوې وو نبی علیه السلام اوفرمائیل نائې را اوغواړې او زمونږ دسرونوخریلوحکم ئې وکړو.

(١): سنن النسائي/الزينة من المجتبي ٣ (٥٢٢٩)، (تحفة الأشراف: ٥٢١٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٠٤) (صحيح)

شرح الحديث :

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم- أَمْهَلَ آلَ جَعْفَرٍ ثَلاثًا أَنْ يَأْتِيَهُمْ ثُمَّ أَتَاهُمْ الخ ﴾ سیدنا جعفر بن ابی طالب ﷺ چه د رسول الله ﷺ د تره ځوئي دې کوم چه په جنګ موته کښې شهید شوې وو د هغوی ځوئي عبدالله بن جعفر ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ د هغوی د کور خلقو ته تر درې ورځو پورې مهلت ورکړو یعنی د ژړا او غم کولو، بیا درې ورځې پس رسول الله ﷺ کور ته تشریف راوړلو او وې فرمائیل بس اوس ژړا بنده کړئ. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ماته زما وریرونه راولئ. مونږ رسول الله ﷺ ته راوستلې شو، مونږ دومره واړه واړه وو لکه چرګوټی رسول الله ﷺ حلاق رااوغوښتلو زمونږ سرونه ئې اوخرئیل. د بذل المجهود نه هم دا معلومیږی چه دا ماشومان هغه وخت ډیر واړهٔ وو د کور خلقو دوی په غیږ کښې راوستل، خو د تاریخ نه معلومیږی چه دوی دومره واړهٔ نه وو. پس عبدالله بن جعفر ﷺ کوم چه خپله د هغوی ځوئي دې او دا واقعه بیان فرمائی د هغوی عمر د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کښې لس کاله وو. هم په دې وجه نورو شارحینو لیکلي دی چه په ﴿ كَأَنَّا أَفْرُخٌ ﴾ کښې تشبیه د وړوکوالی په اعتبار سره نه ده بلکه د ویښتو په اعتبار سره ده. چه د هغه بچو په سر باندې ویښته غټ وو او داسې ښکاریدل لکه د چرګوټو په بدن باندې چه ولاړ ولاړ ویښته وی. او حلق ئې د هغوی په دې وجه اوکړو، اګر چه د ویښتو ساتل افضل دی چه د ویښتو ساتلو نه پس د هغې خیال ساتل، او د هغې تیل لګول او ګومنځول وو چه هغه د هغوی مور ته د دې غم په زمانه کښې ګرانه وه. والحدیث اخرجه النسائی،قاله المنذری

بَابٌ فِي الذُّؤَابَةِ

بابد چوټی (زلفو) ساتلوبیان

[٤١٩٣] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُثْمَانَ، قَالَ: أَحْمَدُ كَانَ رَجُلًا صَالِحًا، قَالَ: أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ نَافِعٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْقَزَعِ وَالْقَزَعُ أَنْ يُحْلَقَ رَأْسُ الصَّبِيِّ فَيُتْرَكَ بَعْضُ شَعْرِهِ".

دعبدالله بن عمر ﷺ نه روایت دې فرمائی چه رسول کریم ﷺ منع فرمائیلې ده ددینه چه دماشوم سر وخریلي شي او بعضې ویښته ئې پریخودلې شي.

﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الْقَزَعِ وَالْقَزَعُ أَنْ يُحْلَقَ رَأْسُ الصَّبِيِّ فَيُتْرَكَ بَعْضُ شَعْرِهِ ﴾

د دې باب په ټولو روایتونو کښې د قزع (٢) ممانعت ذکر دې چه د هغې تفسیر هم پکښې ذکر

---

(١): صحيح البخاري/اللباس ٧٢ (٥٩٢١)، صحيح مسلم/اللباس ٣١ (٢١٢٠)، سنن النسائي/الزينة ٥ (٥٠٥٣)، سنن ابن ماجه/اللباس ٣٨ (٣٦٣٧)، (تحفة الأشراف: ٨٢٤٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/ ٤، ٣٩، ٥٥، ٦٧، ٨٢، ٨٣، ١٠١، ١٠٦، ١١٨، ١٣٧، ١٤٣، ١٥٤) (صحيح)

(٢) قزع په لغت کښې په فضاء کښې د وریځو متفرق ټکړو ته وائی کومې چه د لرې نه پرقیدونکې ښکاری، په سر کښې چه کوم ویښته داسې پریخودلې شی چونکه هغه هم داسې محسوسیږی په دې وجه هغې ته قزع وائی

دي، هغه دا چه د يو ماشوم د سر وينښته د خرېئلو په وخت د هغې څه حصه باقي پرېخودلې شي، خو دا نهي د صبي سره خاص نه ده، حکم د غټ دپاره هم دا دې، ممکنه ده چه په هغه زمانه کښې به خلقو د خپلو بچو سره هم داسې کول په مينه محبت کښې.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤١٩٤] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَى عَنِ الْقَزَعِ، وَهُوَ أَنْ يُحْلَقَ رَأْسُ الصَّبِيِّ فَتُتْرَكَ لَهُ ذُؤَابَةٌ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه رسول کريم ﷺ منع فرمائيل ده ددينه چه دماشوم سر وخريلې شي او بعضې وينښته ئې دکونځې په شکل کښې پرېخودلې شي.

[٤١٩٥] (٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى صَبِيًّا قَدْ حُلِقَ بَعْضُ شَعْرِهِ وَتُرِكَ بَعْضُهُ فَنَهَاهُمْ عَنْ ذَلِكَ، وَقَالَ: احْلِقُوهُ كُلَّهُ أَوِ اتْرُكُوهُ كُلَّهُ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه رسول کريم صل الله عليه وسلم يوماشوم وليدوچه دسردويختو بعضې حصه ئې خريلې شوي وو اوبعضې حصه ئې پرېخودلې شوي وه نومنع ئې اوفرمائيله ددې کارنه او اوئې فرمائيل ياخو ورله ټول سر وخروئ ياټول پرېږدئ.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ

باب: د هلکانو دپاره د زلفو ساتلو د جواز بيان

[٤١٩٦] (٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَتْ لِي ذُؤَابَةٌ، فَقَالَتْ لِي أُمِّي: لَا أَجُزُّهَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمُدُّهَا وَيَأْخُذُ بِهَا".

دانس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه زما دسر دوينښتونه زلفې جوړې شوي وې ماته زما مور اووئيل چه زه دا نه کټ کوم ځکه چه نبی عليه السلام به دا نيولې او راښکل به ئې، اوکله به هسې نبی عليه السلام دشفقت په وجه ونيولې.

﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَتْ لِي ذُؤَابَةٌ فَقَالَتْ لِي أُمِّي لَا أَجُزُّهَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَمُدُّهَا وَيَأْخُذُ بِهَا ﴾

دا د انس رضي الله عنه د مور فعل دې (٤) چه د انس رضي الله عنه د سر کوم وينښته به د هغوی په وړوکوالی کښې رسول الله ﷺ په خپلو لاسو مبارکو باندې نيول او راښکل به ئې د هغې په باره کښې هغه فرمائي چه هغه به زه کله هم پرې نکړم د سر د نورو وينښتو سره.

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٥٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠١/٢، ١٤٣، ١٥٤) (صحيح)

(٢): سنن النسائي/الزينة ٣ (٥٠٥١)، مسند احمد (٨٨/٢) وانظر رقم: (٤١٩٣)، (تحفة الأشراف: ٧٥٢٥)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/اللباس ٣١ (٢١٢٠) (صحيح)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٢٦) (ضعيف الإسناد)

(٤) لهذا د مصنف رحمه الله د هغوی د فعل نه د ذوابه په جواز باندې استدلال محل نظر دی.

[٤١٩٧]([1])حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ حَسَّانَ، قَالَ: دَخَلْنَا عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، فَحَدَّثَتْنِي أُخْتِي الْمُغِيرَةُ، قَالَتْ: وَأَنْتَ يَوْمَئِذٍ غُلَامٌ وَلَكَ قَرْنَانِ أَوْ قُصَّتَانِ، فَمَسَحَ رَأْسَكَ وَبَرَّكَ عَلَيْكَ، وَقَالَ: "احْلِقُوا هَذَيْنِ أَوْ قُصُّوهُمَا فَإِنَّ هَذَا زِيُّ الْيَهُودِ".

دحجاج بن حسان رحمه الله نه روايت دي فرمائي چه مونږ انس بن مالک ته ورغلونو ماته زماخور مغيره حديث بيان کړو او وئې وئيل چه تاسو په هغه وخت کښې هلکان وئ اوستاسو د سرونو نه به دوه زلفې زوړندې وې انس بن مالک ستاسو په سر باندې لاس راښکلو او دخير اوبرکت دپاره ئې دعا وغوښته اووئې فرمائيل دا زلفې وخروی يائې کټ کړئ؟ځکه چه دا د يهوديانو طريقه ده.

﴿ دَخَلْنَا عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فَحَدَّثَتْنِي أُخْتِي الْمُغِيرَةُ قَالَتْ وَأَنْتَ يَوْمَئِذٍ غُلَامٌ وَلَكَ قَرْنَانِ أَوْ قُصَّتَانِ فَمَسَحَ رَأْسَكَ وَبَرَّكَ عَلَيْكَ وَقَالَ : احْلِقُوا هَذَيْنِ أَوْ قُصُّوهُمَا فَإِنَّ هَذَا زِيُّ الْيَهُود ﴾

حجاج بن حسان د خپل وړوکوالی واقعه بيانوی چه مونږ يو ځل انس رضي الله عنه کره لاړو. (هلته تلو سره څه اوشو هغوی ته خو د وړوکوالی هغه خبره ياده نه وه په دې وجه هغوی د خپلې خور نه نقل کوی) پس ماته زما خور مغيره بيان اوکړو چه ته خو هغه وخت ماشوم وې او ستا په سر باندې د ويښتو دوه حصې وې نو انس رضي الله عنه ستا په سر باندې لاس راښکلې وو او د برکت دعاء ئې کړې وه او دا ئې هم فرمائيلې وو چه دا دواړه حصې پرې کړه ځکه چه دا د يهودو طريقه ده. دا حديث د ترجمة الباب سره مناسب نه دې. فتامل.

بَابٌ فِي أَخْذِ الشَّارِبِ

باب د بريتو د کمولو بيان

[٤١٩٨]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْفِطْرَةُ خَمْسٌ أَوْ خَمْسٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَنَتْفُ الْإِبْطِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ وَقَصُّ الشَّارِبِ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي فطرت په پنځه څيزونوکښې دې پائې داسې اوفرمائيل چه پينځه څيزونه دفرطرت سره تعلق لري : (۱) ختنه يعنی سنتول (۲) دنوم نه ښکته صفائي کول (۳) دطرخونو ويښته ويستل (۴) نوکان کټ کول (۲) بريتونه کمول.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- « الْفِطْرَةُ خَمْسٌ أَوْ خَمْسٌ مِنَ الْفِطْرَةِ الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَنَتْفُ الإِبْطِ وَتَقْلِيمُ الأَظْفَارِ وَقَصُّ الشَّارِبِ »﴾

دا حديث په ابواب الوضوء باب السواک من الفطرة کښ تير شوې دې او په دې باندې تفصيلی کلام هم هلته تير شوې دې.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٢٢) (ضعيف الإسناد)

[2]: صحيح البخاري/اللباس ٦٣ (٥٨٨٩)، ٦٤ (٥٨٩١) الاستئذان ٥١ (٦٢٩٧)، صحيح مسلم/الطهارة ١٦ (٢٥٧)، سنن النسائي/الطهارة ٩ (٩)، الزينة من المجتبى ١ (٥٢٢٧)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٨ (٢٩٢)، (تحفة الأشراف: ١٣١٢٦)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأدب ١٤ (٢٧٥٦)، موطا امام مالك/صفة النبي ٣ (٣موقوفا) مسند احمد (٢/٢٣٩) (صحيح)

[۴۱۹۹]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِإِحْفَاءِ الشَّوَارِبِ وَإِعْفَاءِ اللِّحَى".

دعبدالله بن عمر ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم و دبریتو په کمولو اود ږیرې پریخودلو حکم فرمائیلې دې۔

[۴۲۰۰]() حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ الدَّقِيقِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "وَقَّتَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلْقَ الْعَانَةِ وَتَقْلِيمَ الْأَظْفَارِ وَقَصَّ الشَّارِبِ وَنَتْفَ الْإِبْطِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا مَرَّةً"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي عِمْرَانَ، عَنْ أَنَسٍ، لَمْ يَذْكُرِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وُقِّتَ لَنَا وَهَذَا أَصَحُّ.

دانس بن مالک ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ زمونږ دشرمګاه دصفايي دپاره اود نوکانو دکټ کولو دپاره اودبريتودکټ کولو دپاره اود ترخونودويختودويستلو دپاره يوڅل څلويښت ورځې ميعاد مقررکړو. امام ابوداؤد فرمائی دا روايت جعفربن ابی سليمان دابوعمران نه اوهغه دانس بن مالک نه هم نقل کړې دې ليکن دنبی ﷺ ذکرئې پکښې نه دې کړې اوداسې ئې وئيلې دی چه نبی ﷺ زمونږ دپاره وخت مقررکړو اودا روايت دټولونه زيات صحيح دې۔

﴿عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ وَقَّتَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– حَلْقَ الْعَانَةِ وَتَقْلِيمَ الأَظْفَارِ وَقَصَّ الشَّارِبِ وَنَتْفَ الإِبْطِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا مَرَّةً﴾

شرح الحديث :

يعنی رسول الله ﷺ د نامه نه د لاندې ويښتو د خرئيلو او دغه شان د هغه ټولو څيزونو کوم چه په دې حديث کښې ذکر دی، د هغې حد څلويښت ورځې يو څل مقرر کړو. يعنی د دې څيزونو اکثر او انتهائی موده رسول الله ﷺ دا تجويز اوفرمائيله، يعنی د دې نه پس خو د هغې د باقی پريخودلو بالکل ګنجائش نشته، اوس دا چه اولی او مناسب څه دی؟ د دې معلومات به د نورو روايتونو او د فقهاء کرامو د اقوالو نه معلوميږی، حضرت په بذل کښې ليکلې دی: وهذا تحديد لاكثر المدة ويستحب ذلک من الجمعة الى الجمعة والا فلا تحديد فيه بل كلما كثر ازاله ويختلف ذلک باختلاف طباع الناس.... يعنی د حاجت په وخت دې دا ټول کارونه اوکړې شی. د خلقو طبيعتونه په دې کښې مختلف دی د بعضو نوکونه او ويښته زر غټيږی او دبعضو روستو وفی هامش البذل:روی انه عليه السلام كان ياخذ اظفاره وشاربه كل جمعة ويحلق العانة فی عشرين وتنف الابط فی اربعين وفی العالمكيرية: الافضل الاسبوع والخمسة عشر الوسط، ولاعذرفی اكثرمن اربعين الخ وقريب منه مافی الدرالمختار. اهـ والحديث اخرجه الترمذی قاله المنذری۔

[1]): صحيح مسلم/الطهارة ۱۶ (۲۵۹)، سنن الترمذي/الأدب ۱۸ (۲۷۶۴)، سنن النسائي/الطهارة ۱۵ (۱۵)، الزينة ۵۴ (۵۲۲۸)، (تحفة الأشراف: ۸۵۴۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/اللباس ٦٤ (۵۸۹۲)، ٦۵ (۵۸۹۳)، الزينة من السنن ۲ (۵۰۴۹)، الزينة من المجتبي ۲ (۵۲۲۸)، موطا امام مالك/الشعر ۱ (۱)، مسند احمد (۵۲/۲) (صحيح)

[2]): صحيح مسلم/الطهارة ۱۶ (۲۵۸)، سنن الترمذي/الأدب ۱۴ (۲۷۵۸)، سنن النسائي/الطهارة ۱۴ (۱۴)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۸ (۲۹۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۲۲/۳، ۲۰۳، ۲۵۵) (صحيح)

[٤٢٠١] (¹) حَدَّثَنَا ابْنُ نُفَيْلٍ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، قَرَأْتُ عَلَى عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، وَقَرَأَهُ عَبْدُ الْمَلِكِ عَلَى أَبِي الزُّبَيْرِ، وَرَوَاهُ أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كُنَّا نُعْفِي السِّبَالَ إِلَّا فِي حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الِاسْتِحْدَادُ حَلْقُ الْعَانَةِ.

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مونږ به دحج نه علاوه همیشه ږیرې اوږدې ساتلې ، امام ابوداؤد فرمائی چه داستحداد نه مراد دنوم نه لاندې ویښته کټ کول دی.

﴿عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا نُعْفِي السِّبَالَ إِلاَّ فِي حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ﴾

شرح الحديث :

سبال د سبله جمع ده لکه چه رقاب جمع د رقبة ده، دا د هغه جموع نه ده چه د هغې نه مراد تثنیه وی یعنی د شارب طرفین، د بریتو دواړه طرفونه ښې طرف او ګس طرف، د هغې په باره کښې دواړه اقوال دی بعض وائی چه دا په شارب کښې داخل دی او دویم قول دا دې چه دا د ګیرې په حکم کښې دی پس حافظ رحمه الله لیکی قوله وقص الشارب، الشارب هو الشعر النابت على الشفة العلياء واختلف فى جانبيه وهما السبالان، فقيل هما من الشارب ويشرع قصهما معه، وقيل هما من جملة شعر اللحية اهـ. جابر رضی الله عنه د سبالتین په باره کښې فرمائی چه مونږ به د لوئې ساتل خو په حج او عمره کښې به مو دا پرې کول، قال الغزالى فى الاحياء ولا باس بترک سبالتيه يعنى على ما خلقه الله تعالى وهما طرفا الشارب... امام غزالی رحمه الله هم داسې فرمائی چه د سبالتین په باقی ساتلو کښې هیڅ باک نشته. (بذل)

او په صحیح بخاری کښې باب قص الشارب واللحية، یعنی ابن عمر رضی الله عنهما به خپل شارب دومره پرې کول چه د شونډو سپین والې به ئې ښکاره کیدو او هغه دواړه به ئې هم اخستل کوم چه د شارب او د لحیه ترمینځه دی، د دې نه مراد هم هغه سبالتین دی، قال الكرمانى رحمه الله هذين يعنى بطرفى الشفتين الذين هما بين الشارب واللحية وملتقاهما كما هو العادة عند قص الشارب فى ان ينظف الزاويتان ايضا من الشارب.... او بیا وړاندې لیکی : ويحتمل ان يراد بهما طرفا العنفقة... چه دا هم احتمال دې چه د هذین نه مراد د ګیرې دواړه طرفونه مراد وی. د ابن عمر رضی الله عنهما کوم روایت چه مونږ ذکر کړې دې د بخاری نه ګویا دا مخالف دې د ابوداؤد د جابر رضی الله عنه د روایت سره. چه په هغې کښې دا دی چه مونږ به سبالتین باقی ساتل سوا د حج او عمرې نه، خو د ابن عمر رضی الله عنهما پلار عمر رضی الله عنه معمول د سبالتین د باقی ساتلو وو. پس په فتح البارى کښې دی : وقد روى مالک عن زيد بن اسلم ان عمر رضی الله عنه كان اذا غضب فتل شاربه... یعنی عمر رضی الله عنه به چه کله په څه خبره باندې غصه شو نو خپل بریت به ئې تاوهل. دلته د شارب نه مراد په ظاهر کښې سبالتین دی ځکه چه ول خو هم هغې ته ورکړې کیدې شی نه اصل شارب ته، او بعض علماء کرامو د بعض احنافو نه نقل کړې دی چه قال لا باس بابقاء الشوارب فى الحرب ارهابا بالعدو ونقله الحافظ ايضا فى الفتح ١٠/٣٤٧.

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٧٨٩) (ضعيف الإسناد)

بَابٌ فِي نَتْفِ الشَّيْبِ

باب: د ږیرې یا سر نه د سپینو ویښتو د ویستلو بیان

[۴۲۰۲] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى. ح وَحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الْمَعْنَى، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَشِيبُ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ، قَالَ عَنْ سُفْيَانَ: إِلَّا كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَقَالَ فِي حَدِيثِ يَحْيَى: إِلَّا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً وَحَطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً".

عمرو بن شعیب دخپل پلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه رسول پاک ﷺ فرمائیلی دی دسر یاږیري نه سپین ویښته مه اوباسئ ځکه چه هیڅ یو مسلمان داسې نشته دچاچه داسلام په حالت کښې ویښته سپین شوي وي مګر دغه ویښته به دده دپاره دقیامت په ورځ نور وي، دیحيٰ په روایت کښې دی ددغه کس دپاره به دهر یو سپین ویښته په بدل کښې یوه یوه نیکي ولیکلې شي اویوه یوه بدي به ئې معاف کړې شي.

قوله: ﴿ لاَ تَنْتِفُوا الشَّيْبَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَشِيبُ شَيْبَةً فِى الإِسْلاَمِ، إِلاَّ كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾

د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه سپین ویښته مه اوباسئ (که په ګیره کښ وی او که په سر کښ وی قاله النووی) د کوم سړی چه ویښته د اسلام په حالت کښ سپین شی نو هغه ویښته به د هغه دپاره د قیامت په ورځ باندې د رڼړا ذریعه وی.

زمونږ استاذ مولانا محمد اسعد صاحب رحمه الله به فرمائیل چه د اسلام او ایمان په حالت کښ وخت تیریدل دا هم عبادت دې انتهی کلامه. ځکه چه ښکاره ده چه ایمان او اسلام خو د ایمان اصل او جرړه ده نو د اتصاف بالایمان سره چه کوم وخت تیریږی او عمر زیاتیږی هغه هم عبادت دې. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْخِضَابِ

باب د خضاب بیان

[۴۲۰۳] (²) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، وَسُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ الْيَهُودَ، وَالنَّصَارَى لَا يَصْبُغُونَ فَخَالِفُوهُمْ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی یهودیان اونصرانیان خپل ویښته نه رنګ کوي تاسو ددوی مخالفت وکړئ یعنی بیري رنګ کړئ.

﴿ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى لاَ يَصْبُغُونَ فَخَالِفُوهُمْ » ﴾

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۷۸۳، ۸۸۰۱)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأدب ۵۹ (۲۸۲۱)، سنن النسائي/الزينة ۱۳ (۵۰۸۳)، سنن ابن ماجه/الأدب ۲۵ (۳۷۲۱)، مسند احمد (۲۰۶۷/۲، ۲۰۷، ۲۱۲) (حسن صحیح)

[2]: صحيح البخاري/الأنبياء ۵۰ (۳۴۶۲) واللباس ۶۷ (۵۸۹۹)، صحيح مسلم/اللباس ۲۵ (۲۱۰۳)، سنن الترمذي/اللباس ۲۰ (۱۷۵۲)، سنن النسائي/الزينة ۱۴ (۵۰۷۵)، سنن ابن ماجه/اللباس ۳۳ (۳۶۲۱)، (تحفة الأشراف: ۱۳۴۸۰، ۱۵۱۴۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۴۰/۲، ۲۶۰، ۳۰۹، ۴۰۱) (صحيح)

يهود او نصارى به خضاب نه كولو، مسلمانانو لره د هغوى په مخالفت كښې خضاب كول پكار دى.

د خضاب حكم عند الائمة :

امام نووى رحمه الله فرمائى چه زمونږ مذهب استحباب خضاب دې د سرو او ښځو دواړو دپاره، زيړ يا سور او خضاب سواد حرام دې د اصح قول په بناء باندې. (بذل) او په حاشيه د بذل كښې دى چه د احنافو مذهب هم دا دې صرح به الشامى اذ قال : يستحب للرجل خضاب شعره ولحيته ولو فى غير حرب، وبسط الاختلاف فى ذلك القارى فى شرح الشمائل، وقال حجة من احب ترك الخضاب الحديث المذكور قبل (من شاب شيبة فى الاسلام الحديث) اه

او هم دا مسلک د امام احمد رحمه الله دې قال الموفق : ويستحب خضاب الشعر بغير السواد. امام احمد رحمه الله فرمائى چه كله زه شيخ مخضوب ته ګورم نو په دې باندې خوشحاليږم. د حضرات شيخين ابوبكر او عمر رضي الله عنهما نه خضاب ثابت دې او د على رضي الله عنه نه ترک خضاب، حافظ فرمائى چه د صحابه كرامو رضي الله عنهم يو جماعت خضاب اختيار كړې دې او يو جماعت ترک خضاب، د دې ترمينځه طبرى رحمه الله تطبيق داسې كړې دې چه د چا دپاره چه څه مناسب او لائق وه هغه هم هغه شان اوكړل. د بعضو سپين ويښته په كتلو كښې بدې ښكاره كيدل او د بعضو غير شنيع، حافظ فرمائى : لكن الخضاب مطلقا اولى لان فيه امتثال الامر فى مخالفة اهل الكتاب، وفيه صيانة الشعر عن تعلق الغبار وغيره، وړاندې فرمائى : مګر دا چه د ښهر د خلقو عادت د ترک خضاب وى ځكه چه په دې صورت كښې چه كوم سړې خضاب كوى هغه به په مقام د شهرت كښې وى په دې وجه دې صورت كښې د هغه په حق كښې به ترک خضاب اولى وى.

په خضاب اسود كښې مذاهب ائمه :

دويمه مسئله دلته د خضاب اسود ده قال النووى : يحرم خضابه السواد على الاصح وقيل يكره تنزيها والمختار التحريم لقوله صلى الله عليه وسلم فى مسلم اجتنبوا السواد... وهذا مذهبنا اه وفى المحلى : وعند احمد يكره كراهة تحريم كما فى الغيبة وهو مذهب ابى حنيفة وفى الدر المختار يكره بالسواد وقيل لا قال ابن عابدين قوله يكره : اى لغير الحرب، اما الخضاب بالسواد للغز وليكون اهيب فى عين العدو فهو محمود بالاتفاق وان ليزين ان يتزين لى النساء تحب هى ان اتزين لها، وعن ابى يوسف فى رواية ان فعل احد لاجل التزيين لامراته فلا باس الى اخر ما بسط فى الاوجز.

او د رسول الله ﷺ په باره كښې اختلاف دې د هغوى په خضاب او ترک خضاب كښې لكه چه وړاندې راځى. والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائى وابن ماجه، قاله المنذرى.

[۴۲۰۴] ([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، وَأَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ".

[1]): صحيح مسلم/اللباس ۲۴ (۲۱۰۲)، سنن النسائي/الزينة ۱۵، (۵۲۴۴)، سنن ابن ماجه/اللباس ۳۳ (۳۶۲۴)، (تحفة الأشراف: ۲۸۰۷، ۵۰۷۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱۶۷۳، ۳۲۲، ۳۳۸) (صحيح)

دجابر بن عبدالله ﷺ نه روایت دي فرمائی چه دفتح مې په ورځ باندې ابوقحافه راوستلی شوسر او ږیره ئې دثغامة (دیوي سپینې ګیا نوم دې) په شان سپین شوي وو نبی ﷺ اوفرمائیل ددې بیري سپین والي په څه شي سره بدل کړئ اودتور والي نه ځان وساتئ.

قوله: ﴿عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « غَيِّرُوا هَذَا بِشَىْءٍ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ » ﴾

ابوقحافه ﷺ چه کنیت دې د ابوبکرصدیق ﷺ د والد محترم چه دوی هم په مسلمة الفتح کښې دی په دې ورځ باندې هغوی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راوستلې شو بالکل بوډا وو چه د سر او ګیرې ویښته ئې د ثغامه په شان سپین شوې وو، کوم چه د یوې ګیا نوم دې چه د هغې ګلونه او میوه دواړه سپین وی نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا سپین والې بدل کړه په یو رنګ باندې او د توروالی نه پرهیز کوه.

د تور خضاب باب وړاندې مستقل راروان دې. والحديث اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٢٠٥]( )حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ الدِّيلِيِّ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَحْسَنَ مَا غُيِّرَ بِهِ هَذَا الشَّيْبُ الْحِنَّاءُ وَالْكَتَمُ".

دابوذر ﷺ نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هغه بهترین څیز په کوم باندې چه دویښتو داسپین والې لرې کړې شي هغه نکریزې او کتم دې (کتم دیوې ګیانوم دې چه دوسمې سره یوځائې کولې شي او په ویښتوباندې دخضاب لګولو دپاره په کار راوستلی شي، اوبعضو وئیلې دی چه کتم وسمې ته وئیلې شي)

قوله: ﴿إِنَّ أَحْسَنَ مَا غُيِّرَ بِهِ هَذَا الشَّيْبُ الْحِنَّاءُ وَالْكَتَمُ ﴾

یعنې د ویښتو د سپین والی د زائل کولو دپاره د ټولو نه غوره څیز نکریزې او کتم دې، کتم یو قسم ګیا ده د خضاب کار کوی. چه کله دا دواړه یو ځائې کولو سره خضاب اوکړې شي نو سور بخن رنګ راوړی، بعض علماء کرامو وئیلې دی چه ممکنه ده چه د دې نه مراد صرف د کتم استعمال وی بغیر د حناء نه ځکه چه د دې دواړو په یو ځائې کولو سره رنګ توریږی، په دې وجه دې خلقو وئیلې دی چه ممکنه ده چه د اصل حدیث الفاظ ﴿ بالحناء اوالكتم ﴾ وی خو په ټولو روایتونو کښې د واؤ سره دې كذا قال ابن الاثير، او د دې خلاف علامه مناوی لیکلې دی چه که صرف په کتم سره رنګ کړې شي نو توریږی او د حناء د یو ځائې کولو نه پس د احمر او اسود ترمینځه وی (یعنی سوربخن) او ممانعت د خالص تور نه دې. وقد اخرج مسلم من حديث انس قال اختضب ابوبكر ﷺ بالحناء والكتم، واختضب عمر ﷺ بالحناء بحتا (عون) والحديث اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

( ): سنن الترمذي/اللباس ٢٠ (١٧٥٣)، سنن النسائي/الزينة ١٦ (٥٠٨١، ٥٠٨٢)، سنن ابن ماجه/اللباس ٣٢ (٣٦٢٢)، (تحفة الأشراف: ١١٩٢٧، ١٨٨٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٧/٥، ١٥٠، ١٥٤، ١٥٦، ١٦٩) (صحيح)

[۴۲۰۶] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ إِيَادٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِيَادٌ، عَنْ أَبِي رِمْثَةَ، قَالَ: "انْطَلَقْتُ مَعَ أَبِي نَحْوَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ ذُو وَفْرَةٍ بِهَا رَدْعُ حِنَّاءٍ وَعَلَيْهِ بُرْدَانِ أَخْضَرَانِ".

دابو رمثه نه روایت دې فرمائی چه دخپل پلارسره دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نوما ولیدل چه دنبی ﷺ په سر باندې دغوږونو دسرونو پورې ویښته وو او دنکریزو رنګ ئې ورکړې وو او دوه شین رنګ دوه څادرونه ئې اغوستلې.

﴿عَنْ أَبِي رِمْثَةَ قَالَ انْطَلَقْتُ مَعَ أَبِي نَحْوَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَإِذَا هُوَ ذُو وَفْرَةٍ بِهَا رَدْعُ حِنَّاءٍ وَعَلَيْهِ بُرْدَانِ أَخْضَرَانِ﴾

ابورمثه رضی الله عنه فرمائی چه زه د خپل پلار سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو هغه وخت د هغوی سرې مبارکې وې او په هغې کښې د نکریزو اثر وو او په هغوی باندې دوه شنې څادرې وې.

د دې نه په روستو روایت کښې زیادت دې

[۴۲۰۷] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ أَبْجَرَ، عَنْ إِيَادِ بْنِ لَقِيطٍ، عَنْ أَبِي رِمْثَةَ فِي هَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَقَالَ لَهُ أَبِي: أَرِنِي هَذَا الَّذِي بِظَهْرِكَ فَإِنِّي رَجُلٌ طَبِيبٌ، قَالَ: اللَّهُ الطَّبِيبُ بَلْ أَنْتَ رَجُلٌ رَفِيقٌ طَبِيبُهَا الَّذِي خَلَقَهَا.

د ابو رمثه نه په همدې روایت کښې منقول دي چه زما پلار نبی ﷺ ته اووئیل ماته خپله ملا وښایه ځکه چه زه یو طبیب یم نبی ﷺ اوفرمائیل طبیب خوالله تعالی دې البته ته یوملګرې یې باقی طبیب هغه ذات دې چاچه دا پیدا کړې دې.

﴿فَقَالَ لَهُ أَبِي أَرِنِي هَذَا الَّذِي بِظَهْرِكَ فَإِنِّي رَجُلٌ طَبِيبٌ. قَالَ « اللَّهُ الطَّبِيبُ بَلْ أَنْتَ رَجُلٌ رَفِيقٌ طَبِيبُهَا الَّذِي خَلَقَهَا »﴾

شرح الحديث:

یعنی زما والد محترم رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه دا ستاسو په شا باندې څه دی ما ته ئې اوښایئ. اشاره ده د مهر نبوت طرف ته کومه چه د غوښې د یوې ورې ټکړې په شان وو. او وې وئیل چه زه طبیب او معالج یم، لهذا د دې علاج به درله اوکړم. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل اصل طبیب خو الله پاک دې بلکه ته خو یو همدرد او ملګرې ئې. او د دې نه په روستو طریق کښې دی ﴿فَقَالَ لِرَجُلٍ أَوْ لأَبِيهِ « مَنْ هَذَا ». قَالَ ابْنِي. قَالَ « لاَ تَجْنِي عَلَيْهِ »﴾

[۴۲۰۸] (۳) حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ إِيَادِ بْنِ لَقِيطٍ، عَنْ أَبِي رِمْثَةَ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَأَبِي فَقَالَ لِرَجُلٍ أَوْ لِأَبِيهِ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: ابْنِي، قَالَ: لَا تَجْنِي عَلَيْهِ وَكَانَ قَدْ لَطَّخَ لِحْيَتَهُ بِالْحِنَّاءِ".

د ابورمثه نه روایت دې فرمائی چه زه او زما پلار نبی ﷺ ته لاړو نبی ﷺ یو کس ته یازه

(۱): انظر حديث رقم: (۴۰۶۵)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۳۶) (صحيح)

(۲): انظر حديث رقم: (۴۰۶۵)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۳۶) (صحيح)

(۳): سنن الترمذي/ الشمائل (۴۳، ۴۵)، سنن النسائي/القسامة ۳۵ (۴۸۳۶)، ويأتي برقم (۴۴۹۵)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۳۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/ ۱۶۳) (صحيح)

پلارته اووئیل اوتپوس ئې وکړو داڅوک دې؟ زما پلار اووئیل دازماځوي دې نبي ﷺ اوفرمائیل دې به دقیامت په ورځ ستابوج نه اوچتوي ستادعملونوتپوس به هم ستانه کیږي اونبي ﷺ پخپله ږیره باندې نکریزي مړلي وې.

چه رسول الله ﷺ یو سړی ته یا د ابورمثه د پلار نه تپوس اوکړو چه دا تاسره څوک دې؟ نو هغوی جواب ورکړو چه دا زما ځوئې دې. دا حدیث په کتاب الدیات کښ هم راروان دې هلته نور هم زیات تفصیل دې هلته داسې دی : عَنْ أَبِى رِمْثَةَ قَالَ انْطَلَقْتُ مَعَ أَبِى نَحْوَ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ لأَبِى « ابْنُكَ هَذَا ». قَالَ إِى وَرَبِّ الْكَعْبَةِ قَالَ « حَقًّا ». قَالَ أَشْهَدُ بِهِ. قَالَ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ضَاحِكًا مِنْ ثَبْتِ شَبَهِى فِى أَبِى وَمِنْ حَلْفِ أَبِى عَلَىَّ. ثُمَّ قَالَ « أَمَا إِنَّهُ لاَ يَجْنِى عَلَيْكَ وَلاَ تَجْنِى عَلَيْهِ » وَقَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- (وَلاَ تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى) ﴾

د پوره روایت مفهوم دا دې : ابو رمثه ﷺ فرمائی چه کله زه د خپل والد محترم سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښ حاضر شوم (نو چونکه په ما کښ د خپل پلار مشابهت ډیر زیات وو په دې وجه) رسول الله ﷺ زما د پلار نه تپوس اوکړو چه دا ستاسو ځوئې دې؟نو زما پلار جواب ورکړو چه او په رب د کعبې مې دې قسم وی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل بالکل صحیح وائې؟ نو هغوی جواب ورکړو چه او زه د دې خبرې ګواهی ورکوم. نو په دې باندې رسول الله ﷺ مسکې شو، یو خو زما د خپل پلار سره په پوره پوره مشابهت باندې، او دویم زما د پلار په قسم خوړلو باندې زما په باره کښ، د دې نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یوه خبره په ذهن کښ اوساتئ چه نه خو ستا ځوئې په تا باندې جنایت کوی او نه ته په هغه باندې جنایت کوې، رسول الله ﷺ هغه د اسلامی قانون نه خبر کړو چه په اسلام کښ دا نشته چه جنایت دې یو کس اوکړی او سزا دې بل کس ته ملاؤ شی. په اسلام کښ خو دا ده چه که د چا پلار په چا باندې جنایت اوکړی نو د هغې سزا به جنایت کونکی ته ملاویږی، او د هغه ځوئی یا بل خپلوان ته به نه ملاویږی، او هم دغه شان که د چا ځوئې جنایت اوکړی نو د هغې سزا به هغه ته ملاویږی د هغه پلار ته به نه ملاویږی. او په استدلال کښ رسول الله ﷺ آیت کریمه تلاوت اوفرمائیلو کوم چه پورته ذکر دې. د دې حدیث په آخر کښ دی چه د هغې په وجه باندې مصنف ﷫ دا حدیث دلته راوړې دې ﴿ وكان قد لطخ لحيته بالحناء ﴾ چه دې وخت کښ رسول الله ﷺ په خپله ګیره مبارکه کښ د حناء خضاب کړې وو.

د رسول الله ﷺ د خضاب په باره کښ اختلاف د روایاتو :

او د دې نه روستو د انس ﷜ نه روایت دې ﴿ عَنْ أَنَسٍ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ خِضَابِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- فَذَكَرَ أَنَّهُ لَمْ يَخْضِبْ وَلَكِنْ قَدْ خَضَبَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا ﴾ چه د هغوی نه تپوس اوکړې شو د رسول الله ﷺ د خضاب په باره کښ نو هغوی د رسول الله ﷺ نه د خضاب نفی اوکړه چه رسول الله ﷺ خضاب نه دې کړې خو ابوبکر او عمر ﷠ کړې دې.

[۴۲۰۹] [1] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، "أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ خِضَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ أَنَّهُ لَمْ يَخْضِبْ وَلَكِنْ قَدْ خَضَبَ أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا".

دثابت نه روايت دې فرمائي چه دانس بن مالک رضي الله عنه نه دنبي ﷺ دخضاب په باره کښې تپوس اوکړې شو هغه اووئيل نبي ﷺ خضاب نه دې استعمال کړې ليکن صديق اکبر اوعمرفاروق رضي الله عنهما به خضاب استعمالول.

(تطبيق بين الروايتين)

په دې دواړو احاديثو کښې د رسول الله ﷺ د خضاب په باره کښې نفيا او اثباتا تعارض دې، د دې ډير توجيهات کيدلې شي.

(۱) خضب لحيته يعنى بعضها، ولم يخضب اى كلها. او يا دې دا اوئيلې شي چه قد خضب اى لحيته، ولم يخضب اى راسه،

(۲)او يو توجيه دا کيدې شي چه انه خضب في وقت وترک في معظم الاوقات فاخبر کل بما راه... رسول الله ﷺ کله خضاب کړې دې او کله ئې نه دې کړې، چا چه څنګه ليدلې دې د هغې خبر ئې ورکړې دې، لهذا دواړه خبرې په خپل ځائې صحيح دی.

(۳) او يو توجيه ابن رسلان کړې ده چه چرته راغلی دی چه خضب، د دې نه مراد لحيه يا راس دې، او چرته چه دی چه لم يخضب نو ددې نه مراد يدين او رجلين دی، قال صاحب البذل ان وجه الجمع هذا ليس بصواب، بل الصواب ما كتب مولانا محمد يحيى المرحوم الى اخره.

د دې نه پس هم هغه توجيهات دی کوم چه پورته ذکر شو. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی مختصرا ومطولا، قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِي خِضَابِ الصُّفْرَةِ[2]

باب د زيړ رنګ خضاب په بيان کښې

[۴۲۱۰] [3] حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ مُطَرِّفٍ أَبُو سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي رَوَّادٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ وَيُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالْوَرْسِ وَالزَّعْفَرَانِ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُ ذَلِكَ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ به درنګ کړې شوي څرمنې پيزار استعمالول اوخپله ږيره به ئې په ورس يوقسم زيړه ګياده) او په زعفرانوباندې زيرو له اوابن عمر رضي الله عنهما به هم داسې کول.

[1]: صحيح البخاري/المناقب ۲۳ (۳۵۵۰)، اللباس ٦٦ (۵۸۹۵)، صحيح مسلم/الفضائل ۲۹ (۲۳۴۱)، (تحفة الأشراف: ۲۹۳)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الزينة ۱۷ (۵۰۹۰)، مسند احمد (۲۱۶۷۳) (صحيح)

[2]) ثم الخضاب بالحمرة والصفرة واما بالسواد فمكروه عند الجمهور ومنهم الائمة الثلاثة فقيل تنزيها وقيل تحريما وعند مالك خلاف اولي، لكن الكراهة عندنا في غير الحرب، اما للحرب فمحمود بلا خلاف عند الحنفية كما في حاشية ابن عابدين وفي رواية عندنا يجوز بلا كراهة مطلقا اي الغزو وغيره وكان عثمان وكذا الحسن والحسين رضي الله عنهم يخضبون بالسواد واما علي فكان لا يخضب مطلقا (ملخصا من المترجم ۹٦٦)

[3]: سنن النسائي/الزينة من المجتبى ۱۲ (۵۲۴٦)، (تحفة الأشراف: ۷۷٦۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۱۴) (صحيح)

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– كَانَ يَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ وَيُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالْوَرْسِ وَالزَّعْفَرَانِ ﴾

د دې حديث نه د خضاب اصفر ثبوت اوشو اګر چه په ورس او زعفرانو باندې وي. او منع چه په کوم حديث کښې راغلې ده د هغې نه مراد ثياب دي چه سړي لره خپلې جامې په دې رنګ باندې رنګ کول نه دي جائز. او د دې نه په روستو حديث کښې ثابتيږي چه خالص حنا او حناوکتم دواړو لره يو ځائې کولو سره خضاب کول د دې دواړو په مقابله کښې خضاب اصفر غوره دي. والحديث اخرجه النسائي: قاله المنذري.

[٤٢١١] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ طَلْحَةَ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ وَهْبٍ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ قَدْ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ فَقَالَ: مَا أَحْسَنَ هَذَا؟ قَالَ: فَمَرَّ آخَرُ قَدْ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ، فَقَالَ: هَذَا أَحْسَنُ مِنْ هَذَا، قَالَ: فَمَرَّ آخَرُ قَدْ خَضَبَ بِالصُّفْرَةِ، فَقَالَ: هَذَا أَحْسَنُ مِنْ هَذَا كُلِّهِ".

دابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه دنبي ﷺ په خواکښې يو کس تيريدو اودنکريزو خضاب ئې استعمال کړې وو نبي ﷺ اوفرمائيل څومره ښه رنګ دې ، بياېوبل کس تيريدو چاچه نکريزې اوکتم (کيا) استعمال کړې وونبي ﷺ اوفرمائيل دادمخکښې نه ډير ښه دې ، راوی وائي بيابل کس تيريدو چه دزيړ رنګ خضاب ئې لګولې وونبي ﷺ اوفرمائيل دا دټولو نه ډير ښه دې.

بَابُ مَا جَاءَ فِي خِضَابِ السَّوَادِ

باب: د تور رنګ خضاب په بيان کښې

د خضاب اسود حکم مخکښې تير شوې دې وحاصله : يکره عند الجمهور : ومنهم الائمة الثلاثة، فقيل تحريما وقيل تنزيها، وعند مالک خلاف الاولى (٢) وفي البذل : يکره تحريما وکذا قال النووي انه حرام على الأصح واما للحرب فقد تقدم انه يجوز بلا کراهة، وفي رواية عن الحنفية الجواز مطلقا، وفي الفتاوى الامدادية للشيخ التهانوي رحمه الله تعالى، هو حرام.

[٤٢١٢] (٣) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ الْجَزَرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَكُونُ قَوْمٌ يَخْضِبُونَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ بِالسَّوَادِ كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ لَا يَرِيحُونَ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ".

دابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه رسول الله فرمائيلي دي په اخره زمانه کښې به داسې خلق راشي چه دتور رنګ خضاب به لګوي دکونترې دسينې پشان، دوی به دجنت خوشبو بوې نکړي (يعنى جنت ته به داخل نه شي).

قوله: ﴿ يَكُونُ قَوْمٌ يَخْضِبُونَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ بِالسَّوَادِ كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ لاَ يَرِيحُونَ رَائِحَةَ الخ﴾

---

(١): سنن ابن ماجه/اللباس ٣٤ (٣٦٢٧)، (تحفة الأشراف: ٥٧٢٠) (ضعيف)

(٢) وفي الموطاء قال مالک في صبغ الشعر بالسواد لم اسمع في ذلک شيئا معلوما، وغير ذلک من الصبغ احب الي)

(٣): سنن النسائي/الزينة ١٥ (٥٠٧٨)، (تحفة الأشراف: ٥٥٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧٣/١) (صحيح)

رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه بعض خلق به په آخيره زمانه كښ داسې وى چه هغوى به په خپلو ويښتو كښ تور خضاب كوى لكه د كوترو ججورې دا خلق به د جنت خوشبوئى هم بوئى نه كړى.

«دجنت د خوشبو نه بوئى كولو مطلب»

د حديث د آخرى جملې درې مطلبه كيدې شى يو عدم دخول جنت، يعنى د دخول اولى نفى، د لازم وئيلو سره د ملزوم نفى كړې شوې ده، دويم مطلب دا دې چه جنت ته به اګر چه ځى خو د هغه ځائې د خوشبوئۍ نه به محروم وى. اهل جنت ته به د قيامت په ورځ باندې ميدان حشر ته د جنت نه د هغه ځائې خوشبوئى راځى خو په دې خلقو به نه راځى، كذا اتذكر هذه المعانى الثلاثة من حضرة الشيخ رحمه الله تعالى.

په دې باندې اوجز ۶/۳۲۳ كښ كلام كړې شوې دې ففيه وروى ابوداؤد والنسائى عن ابن عباس مرفوعا يكون فى اخر الزمان الحديث واخطاء ابن الجوزى، كما قال الحافظ حيث اورده فى الموضوعات وقال انه لا يصح، ففيه عبدالكريم وهو ابن ابى المخارق فان عبدالكريم هذا هو ابن مالك الخدرى (والصواب الجزرى) وهو ثقة مخرج له فى الصحيحين ولو سلم انه ابن ابى المخارق فقد روى عنه مالك وهو لا يروى الا عن ثقة عنده، الى آخر ما فيه.

والحديث اخرجه النسائى قاله المنذرى.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْاِنْتِفَاعِ بِالْعَاجِ

بابه د هاتى د غاښ استعمالولو بيان

[۴۲۱۳] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ الشَّامِيِّ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْمُنَبِّهِيِّ، عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ كَانَ آخِرُ عَهْدِهِ بِإِنْسَانٍ مِنْ أَهْلِهِ فَاطِمَةَ، وَأَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ عَلَيْهَا إِذَا قَدِمَ فَاطِمَةَ، فَقَدِمَ مِنْ غَزَاةٍ لَهُ وَقَدْ عَلَّقَتْ مِسْحًا أَوْ سِتْرًا عَلَى بَابِهَا وَحَلَّتِ الْحَسَنَ، وَالْحُسَيْنَ قُلْبَيْنِ مِنْ فِضَّةٍ فَقَدِمَ فَلَمْ يَدْخُلْ فَظَنَّتْ أَنَّ مَا مَنَعَهُ أَنْ يَدْخُلَ مَا رَأَى، فَهَتَكَتِ السِّتْرَ وَفَكَّكَتِ الْقُلْبَيْنِ عَنِ الصَّبِيَّيْنِ وَقَطَّعَتْهُ بَيْنَهُمَا، فَانْطَلَقَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمَا يَبْكِيَانِ، فَأَخَذَهُ مِنْهُمَا، وَقَالَ: يَا ثَوْبَانُ اذْهَبْ بِهَذَا إِلَى آلِ فُلَانٍ أَهْلِ بَيْتٍ بِالْمَدِينَةِ إِنَّ هَؤُلَاءِ أَهْلُ بَيْتِي أَكْرَهُ أَنْ يَأْكُلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِي حَيَاتِهِمُ الدُّنْيَا يَا ثَوْبَانُ اشْتَرِ لِفَاطِمَةَ قِلَادَةً مِنْ عَصَبٍ وَسِوَارَيْنِ مِنْ عَاجٍ".

دثوبان رضي الله عنه (دنبى عليه السلام ازاد كړې غلام) نه روايت دې فرمائى كله چه به نبى عليه السلام كوم ځاى ته دسفركولواراده كوله نودكور په ټولو افرادوكښې به دفاطمې رضي الله عنها سره دهغه آخرى خبرې كيدلې اوكله چه به دسفرنه واپس راغې نودټولونه مخكښې به ئې د فاطمې رضي الله عنها سره ملاقات كولو يوځل نبى عليه السلام دجهاد نه راغې اوفاطمې رضي الله عنها پخپله دروازه باندې يوه پرده ياتات زورند كړې وو اوحسن اوحصين رضي الله عنهما ته ئې دسپينو زرو دوه بنګړې په لاس كښې اچولې وو نبى عليه السلام چه راغې نودخپل عادت كريمه خلاف كورته ورداخل نه شو ، فاطمې رضي الله عنها دا ګمان وكړو چه دې څيزونو نبى عليه السلام دلته دراتلونه منع كړو كوم چه هغه اوليدل ،

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۰۸۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۷۵/۵، ۲۷۹) (ضعيف الإسناد منكر)

فاطمه رضي الله عنها دغه پرده وشلوله اودخپلو ځامنونه ئې بنګړي لرې کړل اومات ئې کړل اودنبی عليه السلام مخې ته ئې وروغورځول، او هغوی دواړه نبی عليه السلام ته په ژړا لاړل نبی عليه السلام دهغوی نه دبنګرو ماتې ټوټې واغستې او ويې فرمائيل اې ثوبان دا ټوټې يوسه او دفلاني فلانی کور خلقوته ئې ورکړه ځوک چه په مدينه کښې اوسيدل بيا ئې اوفرمائيل دا خلق (فاطمه حسن اوحسين) زما اهل بيت دي زه دا بده ګڼړم چه دوی خپل پاک څيزونه په دنياکښې حاصل کړي، اې ثوبان دفاطمي دپاره د ملغلرو هار او دهاتي دغاښونو بنګړي واخله، د روايت په اخرکښې دي چه دفاطمي دپاره ئې د هار جوړولو حکم اوکړو.

﴿ عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– إِذَا سَافَرَ كَانَ آخِرُ عَهْدِهِ بِإِنْسَانٍ مِنْ أَهْلِهِ فَاطِمَةَ وَأَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الخ ﴾

مضمون الحديث:

سيدنا ثوبان رضي الله عنه فرمائي چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم عادت مبارک دا وو چه کله به هغوی چرته د سفر اراده فرمائيله نو د خپل کور په ټولو خلقو کښې به د ټولو نه اخر کښې چه چا سره ملاويدو هغه فاطمه رضي الله عنها وه او کله چه به د سفر نه واپس کيدلو نو د ټولو نه اول به چه چا سره ملاويدو نو هغه هم فاطمه رضي الله عنها وه. يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم د يوې غزوې نه تشريف راوړلو نو د هغوی په استقبال او د خوشحالئ په اظهار کښې فاطمې رضي الله عنها د کور په دروازه باندې يو پرده خوره کړه او حسن او حسين رضي الله عنهما ته ئې د چاندئ دوه بنګړی واچول، نو د عادت مطابق رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې سفر نه په واپسئ باندې د ټولو نه مخکښې د هغې دروازې ته راغلو خو دننه داخل نه شو بلکه واپس شو. فاطمه پوهه شوه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې پردې د وجې نه واپس شوي دې پس هغوی دا پرده اوشوکوله، او دواړه بنګړی ئې د ماشومانو د لاسونو نه ويستل او هم هغوی ته ئې ورکړل. هغه دواړو ماشومانو ژړل هغوی دواړه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته لاړل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه د دې دواړو د لاسونو نه واخستل او ثوبان رضي الله عنه ته ئې اوفرمائيل چه دا فلانی کور والو ته ورکړه (يعنی غريبانانو ته ئې اوليږل) او بيا ئې اوفرمائيل چه زه دا د خپل کور د سړو دپاره نه خوښوم چه هغوی دې په خپل دنيوی ژوند کښې خوندونه واخلي. او وې فرمائيل (اشْتَرِ لِفَاطِمَةَ قِلَادَةً مِنْ عَصَبٍ وَسِوَارَيْنِ مِنْ عَاجٍ ﴾ چه د فاطمې رضي الله عنها دپاره يو اميل د بازار نه واخله د عصب جوړ کړې شوې. او دوه کړې ورله واخله د عاج جوړې کړې شوې.

الكلام على فقه الحديث والترجمة:

په ترجمة الباب کښې انتفاع بالعاج ذکر دې، مصنف رحمه الله د دې حديث نه د هغې جواز ثابت کړې دې. د عاج يو معنی يا دا چه مشهوره معنی د هاتهی غاښ ده خو د هاتهی غاښ د امام شافعي رحمه الله په نزد نجس دې اود احنافو په نزد طاهردې. په دې صورت کښې به حديث د شوافعو خلاف وی ممکنه ده چه هغوی به د دې جواب دا ورکوی چه د عاج نه مراد دلته د هغې دويمه معنی ده ﴿ الذبل ﴾ يعنی د شمشتئ څرمن. او ميتة البحر چونکه د جمهورو په نزد پاکه ده په دې وجه په ذبل مراد کولو کښې به هيڅ اشکال نه وی. ففی البذل قال فی القاموس العاج : الذبل وعظم الفيل، والذبل بفتح الذال المعجمة سكون والموحدة على وزن فلس، قال

فی القاموس والذبل جلد السحفاة البحرية او البرية الخ

.... خو مونږ وایو چه د عاج معروف معنی هم دا ده د هاتهی د غاښ د کوم اعتراف چه امام خطابی رحمه الله هم کړې دې هغوی لیکی: فاما العاج الذی تعرفه العامة فهو عظم اناب الفيلة....

او ددې نه مخکښې هغوی دا اوئیل د اصمعی نه نقل کولو سره چه د عاج معنی د ذبل ده او د معروف معنی مراد کولو نه خطابی په ظاهر کښې انکار کوی ځکه چه د هاتهی د غاښ استعمال خو جائز نه دې هغه میتة ده.

په حاشیه د بذل کښې د ابن قدامه نه د امام مالک رحمه الله مذهب دا نقل کړې شوې دې چه فیل د امام مالک رحمه الله په نزد ماکول اللحم دې: وذهب مالک الی ان الفیل ان ذکی فعظمه طاهر لان الفیل عنده ماکول..... خو شیخ د دردیر مالکی نه نقل کړی دی چه هغوی تصریح کړې ده د عاج د کراهت یا د هغې د نجس کیدو، دغه شان صاحب د حیوة الحیوان د فیل په بحث کښې د فقهاء کرامو اقوال د هغې په حلت او حرمت کښې نقل کړې دی. د مالکیانو په نزد د دې حلال کیدل هغوی هم نه دی لیکلی.

آخر کتاب الترجل

....

كِتَابُ الْخَاتَمِ

د ګوتمې د احکامو بیان

بَابُ مَا جَاءَ فِي اتِّخَاذِ الْخَاتَمِ

د مُهر جوړولو بیان

د خاتم اچول د شوافعو او مالکیانو په نزد د صحیح قول مطابق مطلقا مباح دې کما فی الابواب والتراجم عن المحلی، او د احنافو په نزد د ضرورت د وجې نه د دې اچول مباح دی، او بغیر د ضرورت نه د دې ترک اولې دې. کما فی الشرح الشمائل للقاری، د احنافو تائید د هغه حدیث نه کیږی کوم چه په ﴿ باب من کرهه ﴾ کښې تیر شوې دې ﴿ ولبوس الخاتم الا لذی سلطان ﴾

[٤٢١٤] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ مُطَرِّفٍ الرُّوَاسِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "أَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى بَعْضِ الْأَعَاجِمِ فَقِيلَ لَهُ: إِنَّهُمْ لَا يَقْرَءُونَ كِتَابًا إِلَّا بِخَاتَمٍ، فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ".

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام د عجم و بعضې بادشاهانو ته خط لیکل اوغوښتل نو نبی علیه السلام ته ووئیلې شول چه دوی بغیر د مهر نه خط نه لولې نو نبی علیه السلام دځان د پاره د سپینو زرو نه ګوتمه جوړه کړه او «محمد رسول الله» ئې پکښې ولیکل.

(¹): صحيح البخاري/اللباس ٤٧ (٥٨٦٨)، ٥٠ (٥٨٧٢)، ٥٢ (٥٨٧٥)، ٥٤ (٥٨٧٧)، (تحفة الأشراف: ١١٦٣، ١١٨٥، ١٢٥٦، ١٣٦٨)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/اللباس ١٢ (٢٠٩٢)، سنن الترمذي/اللباس ١٤ (١٧٣٩)، الشمائل ١١ (٩٢)، الاستئذان (٢٧١٨)، سنن النسائي/الزينة سنن ابن ماجه/اللباس ٣٩ (٣٦٤١)، ٤١ (٣٦٤٥)، مسند احمد (١٦١/٣، ١٧٠، ١٨١، ١٩٨، ٢٠٩، ٢٢٣) (صحيح)

﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ يَكْتُبَ إِلَى بَعْضِ الأَعَاجِمِ فَقِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لاَ يَقْرَءُونَ كِتَابًا إِلاَّ بِخَاتَمٍ فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقَشَ فِيهِ الخ﴾

د رسول الله ﷺ د خاتم جوړولو قصه او په هغې کښې د روایات مختلفه تحقیق او توجیه

سیدنا انس رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ د بعض ملوک عجم طرف ته د دعوت اسلام د خطونو لیږلو اراده اوفرمائیله، او په بخاری کښې داسې دی: اراد ان یکتب الی کسری وقیصر والنجاشی... نو هغوی ته عرض اوکړې شو چه د هغه بادشاهانو طریقه دا ده چه هغه خط چه په هغې باندې مهر نه وی هغه نه قبلوی. په دې باندې رسول الله ﷺ د چاندئ ګوتمه جوړه کړه (او چونکه هغه د رسول الله ﷺ د نوم مهر وو په دې وجه هغې باندې محمد رسول الله (ﷺ) نقش کړې شو.

دا حدیث په روایت د انس رضي الله عنه دې، د انس رضي الله عنه په دې سلسله کښې دوه روایتونه دی یو خو په طریق د قتاده عن انس کوم چه حدیث الباب دې. او دویم په طریق د ابن شهاب عن انس، کوم چه به مصنف رحمه الله په راروان باب کښې ذکر کوی. په اول روایت کښې کوم چه په طریق د قتاده دې په هغې کښې د رسول الله ﷺ د چاندئ د ګوتمې اچولو ذکر دې. او د دویم طریق والا روایت کښې دی چه ما د رسول الله ﷺ په لاس مبارک کښې د چاندئ ګوتمه اولیده یوه ورځ، خلقو هم دغه شان ګوتمې جوړولو سره واچولې. رسول الله ﷺ هغه اوغورځوله خلقو هم اوغورځولې. او د ابن عمر رضي الله عنه په حدیث کښې دی کوم چه هم په دې باب کښې وړاندې ذکر دې چه اول رسول الله ﷺ د سرو زرو ګوتمه جوړه کړه نو خلقو هم د سرو زرو ګوتمې واچولې، چه کله رسول الله ﷺ دا حال اولیدو نو هغوی دا اوغورځوله، د دې نه پس رسول الله ﷺ د چاندئ ګوتمه جوړه کړه چه هغه ئې اچوله، د ابن عمر رضي الله عنه د دې حدیث په ټولو طرقو کښې هم دغه شان دی په خلاف د حدیث د انس رضي الله عنه چه د هغې په یو طریق کښې د خاتم فضة غورځول ذکر دی.

امام بخاری رحمه الله د خاتم په باره کښې ډیر ابواب قائم کړې دی اول خو د خواتیم الذهب چه په هغې کښې ئې یو روایت د ابن عمر رضي الله عنه ذکر کړې دې چه په هغې کښې د خاتم الذهب غورزول ذکر دی، د دې نه پس ئې خاتم الفضة باب قائم کړې دې چه په هغې کښې ئې دوه روایتونه ذکر کړې دی یو هم دا د ابن عمر رضي الله عنه په کوم کښې چه طرح د خاتم الذهب ذکر دې، او بیا ئې دویم روایت د انس رضي الله عنه ذکر کړې دې په طریق د زهری چه په کښې طرح د خاتم الفضة ذکر دې، او بیا ئې په یو دریم باب کښې باب نقش الخاتم کښې د انس رضي الله عنه دویم حدیث په طریق د قتاده ذکر فرمائیلې دې چه په هغې کښې صرف لبس د خاتم فضه ذکر دې، د هغې د غورزولو هیڅ ذکر نشته، یعنی هم هغه روایت کوم چه دلته د باب ړومبې حدیث دې.

خلاصه دا چه د ابن عمر رضي الله عنه په روایت کښې هیڅ اختلاف او تعارض نشته صرف د خاتم ذهب د غورځولو ذکر دې په خلاف د حدیث انس رضي الله عنه چه د هغې په یو طریق کښې د خاتم فضة اچول ذکر دی او په بل طریق کښې د خاتم فضة غورځول ذکر دی. په الابواب والتراجم کښې حضرت شیخ لیکی: قال الحافظ تحت روایة طرح خاتم الفضة: هکذا روی

الحديث الزهري عن أنس واتفق الشيخان على تخريجه من طريقه ونسب فيه إلى الغلط لأن المعروف أن الخاتم الذي طرحه النبي صلى الله عليه و سلم بسبب اتخاذ الناس مثله إنما هو خاتم الذهب كما صرح به في حديث بن عمر قال النووي تبعا لعياض قال جميع أهل الحديث هذا وهم من ابن شهاب لأن المطروح ما كان الا خاتم الذهب ومنهم من تأوله كما سيأتي قال الحافظ وحاصل الاجوبة ثلاثة ثم ذكرها وزاد عليه من عنده وجها رابعا. ذكره فارجع اليه.

د دې نه معلومه شوه چه حديث انس رضی الله عنه په طريق د زهری چه په هغې کښې غورځول د خاتم فضة ذکر دې دا په بخاری او مسلم دواړو کښې ذکر دې او په قول د امام نووی رحمه الله او عياض په اتفاق د محدثينو دا وهم دې، يعنی د خپل ظاهر په اعتبار سره که څه تاويل اونکړې شی، مګر دا چه که د دې څه تاويل اوکړې شی نو بيا صحيح کيدې شی او بعض محدثينو د دې توجيهات هم ذکر کړې دی کوم چه حضرت شيخ هم په الابواب والتراجم کښې ذکر نه دی فرمائيلی هم دغه شان هغه مونږ هم پريږدو. من شاء رجع الى الشروح.

د امام زهری رحمه الله د روايت صرف يو تاويل دلته نقل کوم کوم چه علامه سندی په حاشيه د نسائی کښې ذکر کړې دې. هغوی فرمائی : ان ثبتت رواية الزهری فی طرح خاتم الفضة فلعله لكراهة الزينة تنزيها، وكان يلبسه احيانا بعد ذلک لبيان الجواز ولا يلبسها فی غالب الاوقات ا هـ....

[1] د دې تاويل نه پس به د ابن عمر او د انس رضی الله عنهما د دواړو د روايتونو مجموعه حاصل دا وی چه اول خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د سرو زرو ګوتمه جوړه کړه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم په شروع شروع کښې واچوله په دې باندې خلقو هم د سرو زرو ګوتمې واچولې، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا د سرو زرو ګوتمه اوغورځوله او وې فرمائيل چه بيا به زه دا چرې هم نه اچوم، چه کله خلقو دا اوليدل نو هغوی هم اوغورځولې، د دې نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم د چاندئ ګوتمه جوړه کړه ضرورة د مهر لګولو دپاره چه هغه به رسول الله صلی الله علیه وسلم د مهر د لګولو دپاره استعمالوله او اکثر وختونو کښې به ئې نه اچوله لكراهة الزينة تنزيها، او کله کله به ئې د بيان د جواز دپاره اچوله، پس د نسائی په روايت کښې دی چه د هغې په وجه باندې علامه سندی دا تاويل مذکور بيان کړې دې ﴿فكان يختم به ولا يلبسه﴾ (ای خاتم الفضة) په دې صورت کښې د امام زهری رحمه الله روايت ته د وهم وئيلو ضرورت نشته، هسې هم امام زهری رحمه الله لوئې امام حديث دې.

دا د علامه سندی رحمه الله تاويل کوم چه ذکر شو داسې معلوميږی چه د مصنف رحمه الله رائې هم دا ده ځکه چه مصنف رحمه الله اول باب قائم کړو ﴿باب ما جاء فی اتخاذ الخاتم﴾ او بيا ئې دويم باب ﴿باب ما جاء فی ترک الخاتم﴾ [2] قائمولو نه پس هم دا حديث د زهری نقل کړې دې او بيا ئې په دې باندې سکوت کړې دې، او خپله د امام ابوداؤد رحمه الله نه منقول دی د خپل دې سنن په باره کښې چه : ﴿وما لم اذكر فيه شيئا فهو صالح﴾ لکه چه په مقدمه کښې ددې تفصيل تير

---

[1] د دې تاويل حاصل دا دې چه د زهری په روايت کښې د خاتم فضة د غورځولو مطلب دا نه دی چه د هميشه دپاره ئې اوغورځوله بلکه د اکثر وختونو په لحاظ سره ئې هغه ترک کړه صرف د مهر لګولو په کار به ئې راوستله هم داسې به ئې نه اچوله)

[2] في ترك الخاتم اي ترك لبس الخاتم لا الترك مطلقا)

شوي دي، هذا والله سبحانه وتعالى اعلم...... فتدبر وتشكر لعلك لا تجد هذا التوضيح فى غير هذا الشرح. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي بنحوه مختصرا، قاله المنذري.

د دي نه پس په دويم روايت کښې دا زيادت دي:

زَادَ فَكَانَ فِي يَدِهِ حَتَّى قُبِضَ وَفِي يَدِ أَبِي بَكْرٍ حَتَّى قُبِضَ وَفِي يَدِ عُمَرَ حَتَّى قُبِضَ وَفِي يَدِ عُثْمَانَ فَبَيْنَمَا هُوَ عِنْدَ بِئْرٍ إِذْ سَقَطَ فِي الْبِئْرِ فَأَمَرَ بِهَا فَنُزِحَتْ فَلَمْ يُقْدَرْ عَلَيْهِ.

[۴۲۱۵] ([1]) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، بِمَعْنَى حَدِيثِ عِيسَى بْنِ يُونُسَ زَادَ فَكَانَ فِي يَدِهِ حَتَّى قُبِضَ وَفِي يَدِ أَبِي بَكْرٍ حَتَّى قُبِضَ وَفِي يَدِ عُمَرَ حَتَّى قُبِضَ وَفِي يَدِ عُثْمَانَ، فَبَيْنَمَا هُوَ عِنْدَ بِئْرٍ إِذْ سَقَطَ فِي الْبِئْرِ، فَأَمَرَ بِهَا فَنُزِحَتْ فَلَمْ يُقْدَرْ عَلَيْهِ.

دانس نه دتير شوي روايت په شان روايت منقول دي مگر په دې روايت کښې دا اضافه ده چه بيا دغه گوتمه دنبی ﷺ په لاس کښې داخره پورې پاتې شوه تردې چه نبی ﷺ وفات شو بيا دنبی ﷺ دوفات نه پس دابوبکر په لاس و تردې چه هغه هم رفات شو بيا دعمرفاروق په لاس کښې پاتې شوه دهغه دوفات نه پس د عثمان غني په لاس کښې وه اودهغه دلاس نه يوکوهي ته وغورزيده حکم ئې اوکړو چه دکوهي نه تولي اوبه اوباسئ ليکن دغه گوتمه ئې پيدا نکړه.

يعنی د چاندئ دا گوتمه د رسول اللهﷺ په لاس مبارک کښې تر آخره پورې وه، په لاس کښې د اوسيدو مطلب به د علامه سندی رحمه الله د تاويل مطابق دا وی چه رسول اللهﷺ سره د مهر لگولو دپاره، ښکاره خبره ده چه هر وخت ئې په گوتمې اچولو څۀ کول. او بيا هم دغه شان د صديق اکبر او عمر فاروق رضی الله عنهما سره وه او بيا د عثمان رضی الله عنه سره، خو د هغوی نه بير اريس کښې چه کوم په قبا کښې دې هغې ته اوغورځيده، د موصوف په حکم سره د هغې د تلاش دپاره د کوهی اوبه راويستلې شوې او د هغې په لټون کښې ډير کوشش اوکړې شو خو هغه په لاس رانغله معلومه نه ده چه هغه خاتم مبارک څنگه وو آيا په دې کښې راز وو، وئيلې شی چه د هغې د ورکيدو نه پس د عثمان رضی الله عنه په خلافت کښې فتنې شروع شوې.

د بخاری په يو روايت کښې دی چه ﴿ فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ جَلَسَ عَلَى بِئْرِ أَرِيسَ قَالَ : فَأَخْرَجَ الْخَاتَمَ فَجَعَلَ يَعْبَثُ بِهِ فَسَقَطَ قَالَ فَاخْتَلَفْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مَعَ عُثْمَانَ فَنَنْزَحُ الْبِئْرَ فَلَمْ نَجِدْهُ ﴾ يعنی تر درې ورځو پورې مونږ دې کوهی ته د هغې د لټون دپاره راتلو د عثمان رضی الله عنه سره، په دې باندې حافظ رحمه الله په فتح البارى ص ۳۴۲ ج ۱۰ کښې ليکی : قال بعض العلماء كان في خاتمه صلى الله عليه و سلم من السر شيء مما كان في خاتم سليمان عليه السلام لأن سليمان لما فقد خاتمه ذهب ملكه وعثمان لما فقد خاتم النبي صلى الله عليه و سلم انتقض عليه الأمر وخرج عليه الخارجون وكان ذلك مبدأ الفتنة التي أفضت إلى قتله واتصلت إلى آخر الزمان...

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۵) (صحيح الإسناد)

[۴۲۱۶] (¹) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَنَسٌ، قَالَ: "كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ وَرِقٍ فَصُّهُ حَبَشِيٌّ".

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه د نبی علیه السلام ګوتمه دسپینو زرونه جوړه شوي وه او ددې غمې دحبشي عقيق نه جوړ وو.

﴿عن أنس قال كان خاتم النبي –صلى الله عليه وسلم– من ورق فصه حبشي﴾

او په دويم طريق کښې دي ﴿من فضة كله فصه منه﴾

غمې حبشي وو او که ټوله ګوتمه د چاندۍ وه؟

يعنې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ګوتمه د چاندۍ وه، د هغې غمې حبشي وو. يعنې د حبشه د کاڼړو نه يو کاڼړې، خو چونکه په بل روايت کښې راغلي چه فصه منه چه د هغې غمې هم د چاندۍ وو په دې وجه د حبشي معنی دې دا واخستلې شي على الوضع الحبشي، يا دا چه صانعه حبشي، او که د حبشي نه مراد کاڼړې واخستلې شي نو بيا به دا په تعدد د خاتم باندې محمول کولې شي. چه يو ګوتمه داسې وه او يو داسې، بلکه يو ګوتمه بله وه يعنې خاتم حديد چه په هغې باندې د چاندۍ اوبه وې لکه په خپل محل کښې به راشي.

[۴۲۱۷] (²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فِضَّةٍ كُلُّهُ فَصُّهُ مِنْهُ".

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه د نبی علیه السلام ګوتمه دسپينو زرونه جوړه شوي وه او ددې غمې هم دسپينو زرو نه جوړ وو.

الطريق الاول اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، والثانی اخرجه البخاری والترمذی والنسائی بنحوه، قاله المنذری.

[۴۲۱۸] (³) حَدَّثَنَا نُصَيْرُ بْنُ الْفَرَجِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "اتَّخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ، وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ، وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، فَاتَّخَذَ النَّاسُ خَوَاتِمَ الذَّهَبِ، فَلَمَّا رَآهُمْ قَدِ اتَّخَذُوهَا رَمَى بِهِ، وَقَالَ: لَا أَلْبَسُهُ أَبَدًا، ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ نَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، ثُمَّ لَبِسَ الْخَاتَمَ بَعْدَهُ أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ لَبِسَهُ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ عُمَرُ، ثُمَّ لَبِسَهُ بَعْدَهُ عُثْمَانُ حَتَّى وَقَعَ فِي بِئْرِ أَرِيسَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَمْ يَخْتَلِفِ النَّاسُ عَلَى عُثْمَانَ حَتَّى سَقَطَ الْخَاتَمُ مِنْ يَدِهِ.

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه رسول الله و دسرو زرو ګوتمه جوړه کړې وو او په دې کښې ئې غمې دخپل ورغوي باطني جانب ته ايخودلې وو او په دې غمې کښې ئې

¹): صحيح البخاري/ اللباس ٤٧ (٥٨٦٨)، صحيح مسلم/ اللباس ١٢ (٢٠١٢)، سنن الترمذي/ اللباس ١٤ (١٧٣٩)، سنن النسائي/ الزينة ٤٥ (٥١٩٩)، سنن ابن ماجه/ اللباس ٣٩ (٣٦٤١)، ٤١ (٣٦٤٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٤)، وقد أخرجه: مسند أحمد (٣/٢٠٩، ٢٢٥) (صحيح)

²): سنن الترمذي/ اللباس ١٥ (١٧٤٠)، الشمائل ١١ (٨٤)، سنن النسائي/ الزينة ٤٥ (٥٢٠٣)، سنن ابن ماجه/ اللباس ٣٩ (٣٦٤١)، (تحفة الأشراف: ٦٦٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/ اللباس ٤٨ (٥٨٧٠) (صحيح)

³): صحيح البخاري/ اللباس ٤٥ (٥٨٦٦)، الأيمان والنذور ٦ (٦٦٥١)، الاعتصام ٤ (٧٢٩٨)، (تحفة الأشراف: ٧٨٣٢)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/ اللباس ١٢ (٢٠٩٢)، سنن الترمذي/ الشمائل ١١ (٨٤)، اللباس ١٦ (١٧٤١)، سنن النسائي/ الزينة ٤٥ (٥١٩٩)، سنن ابن ماجه/ اللباس ٣٩ (٣٦٣٩) (صحيح)

«محمد رسول الله» ليکي وو نوصحابه کرامو هم دسرو زرونه ګوتي جوړې کړي هرکله چه نبی ﷺ اوليدل چه دوی هم دسرو زرونه ګوتي جوړې کړي نو هغه له خپله ګوتمه وغورځوله او وئې فرمائيل چه اوس به دا هيڅ کله په لاس نکرم بيانبی ﷺ دسپينو زرو نه ګوتمه تياره کړه او دهغه دوفات نه پس ابوبکر صديق له په لاس کړه اودده دوفات نه پس عمر فاروق په لاس کوله اودهغه دوفات نه پس د عثمان رضی الله عنه سره و بيا دهغه نه بير اريس «ديوکوي نوم دي» ته وغورځيدله.

قوله: ﴿خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ الخ﴾ دا هغه حديث د ابن عمر رضی الله عنهما دې د کوم مضمون چه مخکښ تير شوې دې چه په هغې کښ دی چه هغه مطروح خاتم د ذهب وو نه خاتم دفضة، او په دې کښ دا هم دی چه د دې خاتم نقش "محمد رسول الله" (ﷺ) او د دې نه په روستو طريق کښ دی ﴿ لاَ يَنْقُشُ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِ خَاتَمِي هَذَا ﴾ چه څوک دې هم په يو ګوتمه باندې زما د ګوتمې والا نقش نه جوړوی ځکه چه د رسول الله ﷺ ګوتمه خو د هغوی مهر وو په مهر کښ خو هم د هغه نوم وی د چا چه هغه مهر دې که نوم وی او که بل څه خاص علامت.

يو شبه او د هغې توجيه :

په دې باندې دې دا شبه اونکړې شي چه د رسول الله ﷺ د خاتم په باره کښ خو دا راځی چه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس هغه د صديق اکبر، عمر فاروق او عثمان غنی رضی الله عنهم سره وه، نو آيا دې حضراتو به هم دا ګوتمه استعمالوله؟ نو بيا خو به دا عمل د دې حديث خلاف شی، او هسې هم خلاف مصلحت او خلاف عقل خبره ده چه د يو سړی مهر دې بل سړې استعمال کړی ځکه چه د رسول الله ﷺ خاتم دې حضراتو خلفاء ثلاثه سره د مهر لګولو دپاره نه وو بلکه هغه خو د تبرک دپاره وه، او د دې حضراتو د خواتيم نقوش بيل بيل وو، پس منقول دی چه د صديق اکبر رضی الله عنه د خاتم نقش "نعم القادر الله" وو لکه چه په شرح معانی الاثار للطحاوی کښ دی او وئيلې شی چه د هغوی نقش "عبد ذليل لرب جليل" وو، او هم دغه شان د نورو حضراتو نقوش هم مختلف وو.

(په ګوتمه مبارکه باندې څه نقش وو؟)

د دې نقش په باره کښ د بخاری په روايت کښ دی : ﴿ كان نقش الخاتم ثلاثة اسطر، محمد سطر، ورسول سطر، والله سطر ﴾ په فتح الباری کښ دی چه د بخاری د دې روايت نه ظاهر کښ معلوميږی چه د رسول الله ﷺ د نقش خاتم عبارت صرف دومره وو، خو د انس رضی الله عنه په روايت کښ د کوم تخريج چه ابو الشيخ کړې دې په هغې کښ ﴿ لا اله الا الله محمد رسول الله ﴾ دې خو دا زيادت شاذ دې د دې د راوی عرعره بن البرند امام ابن المدينی تضعيف کړې دې. اوس دا چه د دې کلماتو ترتيب کتابت څه وو؟ بعض وائی چه کوم ترتيب د تلفظ دې هم دغه د کتابت وو، او د بعض علماء کرامو نه منقول دی چه د دې کتابت د لاندې نه پورته طرف ته وو، د ټولو نه اول الله او د هغې نه لاندې رسول او د هغې نه لاندې محمد (فتح الباری ۱۰/۳۲۹) او دويمه خبره ئې دا ليکلې ده کومه چه په بذل کښ هم ذکر ده چه د بعضو رائې خو دا ده چه نقش کتابت څنګه چه د طباعت دپاره وی هم هغه شان وو يعنی

مقلوب، او وئيلې شوی دی چه د هغې کتابت نيغ وو، خو مهر چه به لګولې شو نو نيغ به لوستلې شو، وهذا من خصائصه ﷺ.

(غمې دننه تلی طرف ته ګول پکار دی)

په حديث الباب کښې دی ﴿ وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ ﴾ چه د رسول الله ﷺ د ګوتمې غمې به د لاس د تلی طرف ته وو، دا د ابن عمر رضي الله عنهما روايت دې د دې نه په روستو باب کښې هم دغه شان راځی اوپه هغې کښې يو بل روايت هم د ابن عباس رضي الله عنهما راروان دې په هغې کښې ﴿ وجعل فصه على ظهرها ﴾ دې په مرقاة الصعود کښې دی: قال العلماء حديث الباطن اصح واكثر وهو الافضل وقال ابن رسلان يجوز ان يكون فعل ذلک فی وقت لبيان الجواز،

كذا فی البذل.(1) والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی بنحوه، قاله المنذری.

[٤٢١٩](2) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، فِي هَذَا الْخَبَرِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، وَقَالَ: لَا يَنْقُشْ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِ خَاتَمِي هَذَا، ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ.

دابن عمر رضي الله عنهما نه په دې روايت کښې دنبی عليه السلام نه منقول دي چه: «محمد رسول الله» په کښې نقش کړې شوي وو اونبی عليه السلام اوفرمائيل زما دنقش په شان نقش به څوک نه جوړوي، اوباقی حديث ئې دتير شوي حديث په شان بيان کړو.

[٤٢٢٠](3) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ بِهَذَا الْخَبَرِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَالْتَمَسُوهُ فَلَمْ يَجِدُوهُ، فَاتَّخَذَ عُثْمَانُ خَاتَمًا وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، قَالَ: فَكَانَ يَخْتِمُ بِهِ أَوْ يَتَخَتَّمُ بِهِ.

دابن عمرونه په دې روايت کښې دنبی عليه السلام نه منقول دي فرمائی چه دوی دغه ګوتمه ولټوله خوبيدائې نکړه نوعثمانه دځان دپاره يوه ګوتمه تياره کړه او «محمد رسول الله» په کښې نقش کړو، راوی وائی چه عثمان خون به داګوته په لاس کوله بائې داسې اووئيل چه په دې باندې به ئې مهرلګولو.

....

(1) فائده: في شرح الشمائل للباجوري وفي مستدرك الحاكم عن وهب لم يبعث الله نبيا الا وعليه شامة النبوة في يده اليمني الا نبينا فان شامة النبوة كانت بين كتفيه خصوصية له وبه جزم السيوطي في خصائصه وهل ولد به او وضع حين ولد او عند شق صدره او حين نبي ﷺ اقوال: قال الحافظ ابن حجر اثبتها الثالث وبه جزم عياض اهـ

(2): صحيح مسلم/ اللباس ١٢ (٢٠٩١)، سنن الترمذي/ الشمائل (١٠١)، سنن النسائي/ الزينة من المجتبى ٣٦ (٥٢٩٠)، سنن ابن ماجه/ اللباس ٣٩ (٣٦٣٩)، ٤١ (٣٦٤٥)، (تحفة الأشراف: ٧٥٩٩) (صحيح)

(3): سنن النسائي/ الزينة ٥١ (٥٢٢٠)، (تحفة الأشراف: ٨٤٥٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/ اللباس ٤٦ (٥٨٦٦)، صحيح مسلم/ اللباس ١٢ (٥٤٧٦)، حم (٢/٢٢) (ضعيف الإسناد ومنكر المتن)

بَابُ مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الْخَاتَمِ
باب د ګوتمې د نه استعمالولو بیان

[٤٢٢١] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ لُوَيْنٌ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ: "رَأَى فِي يَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ يَوْمًا وَاحِدًا، فَصَنَعَ النَّاسُ، فَلَبِسُوا وَطَرَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطَرَحَ النَّاسُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَنِ الزُّهْرِيِّ، زِيَادُ بْنُ سَعْدٍ، وَشُعَيْبٌ، وَابْنُ مُسَافِرٍ كُلُّهُمْ قَالَ: مِنْ وَرِقٍ.

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه مرادنبی صلی الله علیه وسلم په لاس کښې صرف يوه ورځ يوه ګوتمه ليدلې وه چه دسپينو زرونه جوړه شوې وه خلقو چه دا وليدل نوهر چا : ځان دپاره ګوتې جوړې کړې بيانبی علیه السلام دغه ګوتمه وغورځوله اوخلقوهم دخپلو لاسونونه وويستلې . امام ابوداؤد فرمائي چه دا روايت زياد او شعيب او ابن مسافر دزهري نه نقل کړې دې او په دې کښې ئې د ورق، ، لفظ ذکر کړې دې.

﴿عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ رَأَى فِي يَدِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ يَوْمًا وَاحِدًا الخ﴾ دا د امام زهری رحمه الله هم هغه روايت دې چه په هغې کښې د خاتم فضة د غورځولو ذکر دې چه په کوم باندې مفصل کلام مخکښې ذکر شو.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي، قاله المنذري.

بَابُ مَا جَاءَ فِي خَاتَمِ الذَّهَبِ
باب د نارينه دپاره د سرو د ګوتمې اچولو بيان

(د سرو زرو د ګوتمې حکم):

خاتم الذهب په حق د سړو کښې د ائمه اربعه په نزد حرام دې خلافا لبعض السلف، ففي الاوجز ٢/٢٩٢ عن المحلى: ورخص فيه طائفة منهم اسحاق بن راهويه وقال مات خمسة من الصحابة وخواتيمهم من ذهب، وقال رواه ابن ابي شيبة، وقال مصعب بن سعد رايت على طلحة وسعد وصهيب خواتيم من ذهب رواه البخاري في تاريخه، وعن حمزة والزبير ابن المنذر انهما نزعا من يد ابي اسد خاتما من ذهب حين مات وكان بدريا، رواه البخاري الى آخر ما في الاوجز.

[٤٢٢٢] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، قَالَ: سَمِعْتُ الرُّكَيْنَ بْنَ الرَّبِيعِ يُحَدِّثُ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَرْمَلَةَ، أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ كَانَ يَقُولُ: "كَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ عَشْرَ خِلَالٍ الصُّفْرَةَ يَعْنِي الْخَلُوقَ، وَتَغْيِيرَ الشَّيْبِ وَجَرَّ الْإِزَارِ وَالتَّخَتُّمَ بِالذَّهَبِ وَالتَّبَرُّجَ بِالزِّينَةِ لِغَيْرِ مَحِلِّهَا وَالضَّرْبَ بِالْكِعَابِ وَالرُّقَى إِلَّا بِالْمُعَوِّذَاتِ وَعَقْدَ التَّمَائِمِ وَعَزْلَ الْمَاءِ لِغَيْرِ أَوْ غَيْرِ مَحِلِّهِ أَوْ عَنْ مَحِلِّهِ وَفَسَادَ الصَّبِيِّ غَيْرَ مُحَرِّمِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: انْفَرَدَ بِإِسْنَادِ هَذَا الْحَدِيثِ أَهْلُ الْبَصْرَةِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ.

دابن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به لس عادتونه بندګنړل(١) زيړوالي يعنى خلوق (٢) دسپينو ويښتورنګ بدلول يعنى ويستل يا تورول (٣) لنګ

(١): صحيح البخاري/اللباس ٤٦ (٥٨٦٨)، صحيح مسلم/اللباس والزينة من المجتبي ٢٧ (٥٢٩٣)، (تحفة الأشراف: ١٤٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/١٦٠، ٢٢٣، ٢٢٥) (صحيح)

(٢): سنن النسائي/الزينة ١٧ (٥١٠٣)، (تحفة الأشراف: ٩٣٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٨٠، ٣٩٧، ٤٣٩) (منكر)

دګېټونه اوړدول (۴) دسرو زرو ګوتمه اچول (۵) دزنانرودپاره په حرامو ځايونوباندې سنګار كول (۶) ضرب بالكعاب يوه مشهوره لوبه ده دغوزانو اوهګوپه شان چه ماشومان ئې كوي (۷) دمعوذاتونه علاوه دبل دم چپ كول (۸) بندونه په غاړه كول (۹) په حرامو ځايونوكښې مني خارجول (۱۰) اودبچي صورت خرابول ليكن نبی كريم ﷺ داحرام نه دی ګڼړلي.

﴿ كَانَ نَبِيُّ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَكْرَهُ عَشْرَ خِلاَلٍ الصُّفْرَةَ - يَعْنِي الْخَلُوقَ - وَتَغْيِيرَ الشَّيْبِ وَجَرَّ الإِزَارِ وَالتَّخَتُّمَ بِالذَّهَبِ وَالتَّبَرُّجَ بِالزِّينَةِ لِغَيْرِ مَحِلِّهَا وَالضَّرْبَ بِالْكِعَابِ وَالرُّقَى إِلاَّ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَعَقْدَ التَّمَائِمِ وَعَزْلَ الْمَاءِ لِغَيْرِ أَوْ غَيْرِ أَوْ عَنْ مَحِلِّهِ وَفَسَادَ الصَّبِيِّ غَيْرَ مُحَرِّمِهِ ﴾

شرح الحديث:

په دې حديث كښې د لسو خصلتونو په باره كښې دا دی چه رسول الله ﷺ به دا بد ګڼړل.

۱: د سرو دپاره خلوق، ۲: حضاب يعنی بالسواد
۳: جر الازار اسبال الازار ۴: تختم بالذهب
۵: د زنانه خپل زينت ښكاره كول بې محل، يعنی بغير الزوج
۶: او ضرب بالكعاب. دا يو قسم لوبه ده داسې اوګڼړه چه د شطرنج يو قسم دې باره سيا، اتهاره سياه ورته وائی، په يو تخته وغيره باندې خانې جوړولو سره كولې شی (سمعت هذا التفسير من المفتی محمود الحسن الكنكوهی رحمه الله)
۷: او رقی يعنی غير اسلامی تعويذات او منتر مګر دا چه د قرآنی آيترنو وغيره نه وی.
۸: عقد التمائم تعويذ په غاړه كښې اچول، په دې كښې هم يو استثناء ده كومه چه د نورو احاديثو نه ثابت ده تقدم فی محله...
۹: عزل الماء لغير محله : د منی ضائع كول بې محل يعنی وطی فی الدبر، هكذا فسره العلامة السندی فی حاشية النسائی، وحمله الشيخ فی البذل العزل المعروف الذی تقدم فی النكاح اعنی اخراج الذكر عن الفرج قبل الانزال، والظاهر هو المعنى الاول لقوله فی غير محله.
۱۰: فساد الصبی: د دې نه مراد هم هغه غيل دې كوم چه په كتاب الطب كښې تير شوې دې، د دې آخری خصلت په باره كښې په حديث كښې دی ﴿ غير محرمه ﴾ يعنی دا رسول الله ﷺ مكروه تنزيهی ګڼړلي دې نه تحريمی. والحديث اخرجه النسائی قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِي خَاتَمِ الْحَدِيدِ

باب د وسپنې د ګوتمې اچولو بيان

[۴۲۲۳] (۱) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ الْمَعْنَى، أَنَّ زَيْدَ بْنَ حُبَابٍ أَخْبَرَهُمْ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمٍ السُّلَمِيِّ الْمَرْوَزِيِّ أَبِي طَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ شَبَهٍ، فَقَالَ لَهُ: مَا لِي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ الْأَصْنَامِ، فَطَرَحَهُ ثُمَّ جَاءَ وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ حَدِيدٍ، فَقَالَ: مَا لِي أَرَى عَلَيْكَ حِلْيَةَ أَهْلِ النَّارِ، فَطَرَحَهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ أَتَّخِذُهُ؟ قَالَ: اتَّخِذْهُ

(۱): سنن الترمذي/اللباس ۴۳ (۱۷۸۵)، سنن النسائي/الزينة ۴۴ (۵۱۹۸)، (تحفة الأشراف: ۱۹۸۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۵۹/۵) (ضعيف)

مِنْ وَرِقٍ وَلَا تُتِمَّهُ مِثْقَالًا"، وَلَمْ يَقُلْ مُحَمَّدٌ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يَقُلِ الْحَسَنُ السُّلَمِيَّ الْمَرْوَزِيَّ.

عبدالله بن بريده دخپل پلارنه روايت بيانوي فرمائي چه يو کس دپيتلو گوته په لاس کړي وه اودنبي عليه السلام په خدمت کښې حاضرشو، نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل څه وجه ده چه په ما باندې ستانه دبتانو بوئي راځي نودغه کس چه داخبره واوريده نوگوته ئې اوغورځوله اوداوسپې يوه بله گوتمه ئې واچوله او راغې نبي عليه السلام اوفرمائيل څه وجه ده چه زه ستا سره دجهنميانو زيور وينم نودغه کس چه داخبره واوريده نوگوته ئې اوغورځوله اوعرض ئې وکړواي دالله رسوله زه د څه شي نه گوتمه تياره کړم؟داسې گوتمه جوړه کړه چه دسپينوزرو وي اوديومثقال نه کمه نه وي.

﴿ أَنَّ رَجُلاً جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ شَبَهٍ فَقَالَ لَهُ « مَا لِى أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ الأَصْنَامِ » الخ ﴾ د خاتم حديد کراهت او عدم کراهت کښې د ائمه مذاهب په کتاب النکاح، باب الصداق فالتمس ولو خاتم من حديد........ د لاندې تير شوې دې، او هلته د حديث الباب حواله هم تيره شوې ده، دا د احنافو بلکه د ائمه ثلاثه دليل دې.

مضمون الحديث:

يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلو چا چه د پيتلو گوتمه په لاس کړې وه. رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائيل څه اوشو چه زه ستا نه د اصنام بوئې محسوس کوم هغه فورا هغه اوغورځوله. ځکه چه دا بتان به ډير کرته د پيتلو نه جوړولې شو، بيا يو بل سړې راغلو چه هغه د اوسپنې گوتمه په لاس کړې وه، رسول الله ﷺ هغې ته د جهنميانو کالې اوفرمائيلو. يعنی د هغوی د غاړې طوق وغيره کوم چه به د اوسپنې وی. هغه هم دا اوغورځوله. بيا هغه عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ زه د څه څيز گوتمه جوړه کړم؟ وې فرمائيل: ﴿ اتَّخِذْهُ مِنْ وَرِقٍ وَلاَ تُتِمَّهُ مِثْقَالاً ﴾ چه د چاندئ گوتمه جوړه کړه او د هغې وزن پوره يو مثقال مه ساته بلکه د هغې نه کم.

د چاندئ د گوتمې وزن څومره کيدل پکار دی؟:

په دې کښې د احنافو مسلک هم دا دې او د امام شافعی رحمه الله يو روايت هم دغه شان دې. او د امام احمد رحمه الله په نزد د مثقال قيد نشته بلکه په دې باندې زيادت جائز دې او هم دا روايت د امام شافعی رحمه الله نه هم دې، او د امام مالک رحمه الله په نزد هم په دې باندې زيادت جائز دې، د هغوی په نزد درهمين پورې زيادت جائز دې او په هغې باندې زيادت جائز نه دې. دا حديث د خاتم حديد په کراهت کښې د ائمه ثلاثه چه احناف پکښې هم داخل دی د مسلک موافق دې او د شوافعو خلاف دې هم په دې وجه امام نووی رحمه الله فرمائيلي دی: والحديث الوارد فی النهی ضعيف..... يو مثقال تقريبا د پاؤ باندې يو درهم برابر وی. (پنځه گرامه د احنافو په نزد او ۶–۳ عند غيرهم. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری

[٤٢٢٤] (¹) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، وَزِيَادُ بْنُ يَحْيَى، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ حَمَّادٍ أَبُو عَتَّابٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مَكِينٍ نُوحُ بْنُ رَبِيعَةَ، حَدَّثَنِي إِيَاسُ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ الْمُعَيْقِيبِ، وَجَدُّهُ مِنْ قِبَلِ أُمِّهِ أَبُو ذُبَابٍ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَدِيدٍ مَلْوِيٌّ عَلَيْهِ فِضَّةٌ، قَالَ: فَرُبَّمَا كَانَ فِي يَدِهِ، قَالَ: وَكَانَ الْمُعَيْقِيبُ عَلَى خَاتَمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د ابو ذباب رضي الله عنه نه روايت دي (څوک چه د اياس بن حارث د مور د طرفه نيکه وو) فرمائي چه دنبي عليه السلام ګوته دوسپينې نه جوړه وه ليکن د سپينو زرو اوبه ورکړې شوي وې د دغه ګوتمه څه وخت زما په لاس کښې هم پاتې شوي وه او د نبي عليه السلام د دغه ګوتمه به کله کله د معيقيب (د يو سړي نوم دې) سره وه.

﴿حَدَّثَنِي إِيَاسُ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ الْمُعَيْقِيبِ وَجَدُّهُ مِنْ قِبَلِ أُمِّهِ أَبُو ذُبَابٍ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- مِنْ حَدِيدٍ مَلْوِيٌّ عَلَيْهِ فِضَّةٌ﴾

(د سند تشريح)

په دې سند کښې ﴿ وجده من قبل امه ﴾ جمله معترضه ده. لهذا اصل سند داسې دې ﴿حدثني اياس عن جده ﴾ يعنى اياس روايت کوى د خپل نيکه نه د چا نوم چه معيقيب دې، يعنى نوح بن ربيعه هغه وائي چه ما ته بيان اوکړو اياس د خپل نيکه معيقيب نه روايت کولو سره، او راوى تبعا دا هم بيان کړه چه د اياس نيکه د مور د طرف نه يعنى د مور پلار چه د هغه کنيت ابوذباب دې. سيدنا معيقيب رضي الله عنه فرمائي چه د رسول الله ﷺ ګوتمه د اوسپنې وه چه پرې د چاندئ اوبه وې. دا حديث د احنافو خلاف نه دې داسې د اوسپنې ګوتمه د هغوى په نزد هم جائز ده.

قوله: ﴿ وَكَانَ الْمُعَيْقِيبُ عَلَى خَاتَمِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم ﴾

راوى وائي چه دا معيقيب د رسول الله ﷺ په ګوتمه باندې امين وو يعنى د هغې محافظ او نګران. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

[٤٢٢٥] (²) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قُلِ اللَّهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي وَاذْكُرْ بِالْهِدَايَةِ هِدَايَةَ الطَّرِيقِ وَاذْكُرْ بِالسَّدَادِ تَسْدِيدَكَ السَّهْمَ، قَالَ: وَنَهَانِي أَنْ أَضَعَ الْخَاتَمَ فِي هَذِهِ أَوْ فِي هَذِهِ لِلسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى شَكَّ عَاصِمٌ، وَنَهَانِي عَنِ الْقَسِّيَّةِ وَالْمِيثَرَةِ"، قَالَ أَبُو بُرْدَةَ: فَقُلْنَا لِعَلِيٍّ: مَا الْقَسِّيَّةُ؟ قَالَ: ثِيَابٌ تَأْتِينَا مِنَ الشَّامِ، أَوْ مِنْ مِصْرَ مُضَلَّعَةٌ فِيهَا أَمْثَالُ الْأُتْرُجِّ، قَالَ: وَالْمِيثَرَةُ شَيْءٌ كَانَتْ تَصْنَعُهُ النِّسَاءُ لِبُعُولَتِهِنَّ.

دعلى رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه رسول الله فرمائيلي دى ته دا دعا غواړه: «اللَّهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي وَاذْكُرْ بِالْهِدَايَةِ هِدَايَةَ الطَّرِيقِ وَاذْكُرْ بِالسَّدَادِ تَسْدِيدَكَ السَّهْمَ» او زه ئې منع کړې يم چه زه ګوتمه واچوم په دې ګوتمه يا په دې ګوتمه کښې يعنى شهادت ګوتمه يا مينځنۍ ګوتمه

¹): سنن النسائي/الزينة ٤٧ (٥٢٠٨)، (تحفة الأشراف: ١١٤٨٦) (ضعيف)

²): صحيح مسلم/اللباس ١٦ (٢٠٨٧)، سنن الترمذي/اللباس ٤٤ (١٧٨٦)، سنن النسائي/الزينة ٥٠ (٥٢١٤)، الزينة من المجتبى ٢٥ (٥٢٨٨، ٥٢٨٩)، سنن ابن ماجه/اللباس ٤٣ (٣٦٤٨)، (تحفة الأشراف: ١٠٣١٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٨/١، ١٣٤، ١٣٨) (صحيح)

په دې کښې دعاصم راوی شک دې اونبی ﷺ زه دقصیه اود مضره نه منع کړې یم ابو برده وائی مادعلی : نه تپوس اوکړو چه قصیه څه ته وائی هغه په جواب کښې اووئیل دایوقسم جامې دې کوې چه به دشام یامصرنه راتلې اوددې جامو په کرخو کښې به دترنج شکل جوړ شوې وو، اومصره هغه شې ته وائی کوم چه به زنانو دخپلو خاوندانو دپاره جوړولو.

قوله: ﴿عَنْ عَلِيٍّ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ لِى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « قُلِ اللَّهُمَّ اهْدِنِى وَسَدِّدْنِى وَاذْكُرْ بِالْهِدَايَةِ هِدَايَةَ الطَّرِيقِ وَاذْكُرْ بِالسَّدَادِ تَسْدِيدَكَ السَّهْمَ »﴾

د سیدنا علی رضی الله عنه نه روایت دې چه ماته یو ځل رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا لوله ﴿اللهم اهدنی﴾ یا الله ماته هدایت اوکړه، یعنی نیغه لاره راته اوښایه او زما حالت صحیح کړه او رسول الله ﷺ د هغې سره دا هم اوفرمائیل چه د ﴿اللهم اهدنی﴾ وئیلو په وخت د نیغې لارې تصور کوه، او د ﴿سددنی﴾ وئیلو په وخت د غشی د نیغولو او برابرولو خیال کوه.

د دې حاصل دا شو چه دا دعا ډیره په خشوع سره د معنی او مفهوم په لحاظ سره لوله، صرف دا نه بلکه د نیغې لارې تصور ګویا زمونږ مخې ته یوه نیغه لاره ده کومه چه په نظر راځی وعلی هذا القیاس د تسدید معنی د خیال کولو په وخت د غشی د نیغولو تصور کوه ځکه چه د نخښې جوړولو په وخت غشی لره ډیر په کوشش سره هغې نخښې ته برابرولې شی.

دشیخ د تصور د جواز دلیل :

په دې حدیث باندې په بذل المجهود کښې د حضرت ګنګوهی رحمه الله د تقریر نه نقل کړې شوې دی چه په دې کښې اشاره ده دشیخ د تصور د جواز طرف ته، ځکه چه د الله پاک په نزد د شیخ مرتبه د غشی او لارې نه کمه نه ده. خصوصا د معتقدین شیخ په نزد[۱] ځکه چه په تصور د شیخ کښې د خواطر جمع کول مقصود وی اګر چه د جهت اسفل د طرف نه وی. د هغې جهت په مقابله کښې کوم طرف ته چه قلب متوجه کول پکار دی یعنی حق جل وعلی شانه، او بله دا چه د تصور الشیخ په وخت که د هغه محبت په زړه کښې راولی په دې کښې هم هیڅ باک نشته، خو ضرر په دې کښې دې چه خپل شیخ لره د تصور په وخت په امر باطن کښې متصرف اوګنړی یا ئې خپلې مخې ته حاضر یا موجود یا عالم بحاله اوګنړی. هم په دې وجه د مشائخو د دې په جواز کښې اختلاف راغلې دې، کیدې شی چه دا نزاع لفظی وی ځکه چه د مجوزینو مراد په تصور سره اول صورت دې او د مانعینو مراد د هغې قسم ثانی دې. خو چونکه په قسم اول کښې هم د عوامو د عقائدو فساد ته د رسیدو ویره ده په دې وجه مطلقا د دې نه منع کولې شی، وهو الحق حسب اقتضاء المقام او هم دا قول حق دې د دې عوارضو په وجه باندې، ځکه چه ډیر مستحبات هم د عارض د وجې نه حرام شی پاتې مباح.

کوم تصور د شیخ چه حضرت لیکی دا د صوفیاء په نزد معروف دې دې لره بعض مشائخ د بعض سالکینو دپاره د مراقبې په وخت تلقین او تعلیم کوی، د سالک د منتشر خواطر د مجتمع کولو دپاره، ځکه چه د شیخ ذات د هغه د معتقد په نزد د ټولو نه زیات محبوب وی.

---

[۱] پس هر کله چه د سهم او طریق تصور جائز دې نو د شیخ به په طریق اولی جائز وی.

نو دغه تصور کولو سره دغه خواطر مجتمع کول مقصود وی، ځکه چه د امر محبوب طرف ته د انسان طبیعت ډیر زر مائل کیږی او د هغه نه چه کوم ماسوا وی د هغوی نه معرض کیږی، هم په دې وجه مشائخ د بعض سالکین د حال مناسب د مراقبې په وخت تصور الشیخ علاجا ښائی، او د علی ﷺ د دې حدیث نه د هغې تائید په فهم کښې راځی. خو څنګه چه حضرت لیکلی چه چونکه د عقائدو مسئله ډیره نازکه ده په دې وجه په دې کښې احتیاط ضروری ګڼړی شیخ کامل چه چاته اوائی هغه دې کوی په خپله خوښه دې نه کوی.

﴿ قَالَ وَنَهَانِي أَنْ أَضَعَ الْخَاتَمَ فِي هَذِهِ أَوْ فِي هَذِهِ لِلسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى ﴾

یعنی منع کړم زه رسول الله ﷺ د دې نه چه ګوتمه واچوم په دې کوته کښې اشاره ئې د سبابه طرف ته فرمائیلې وه یا د وسطی طرف ته دا راوی ته یاد نه دی.

امام نووی رحمه الله فرمائی چه د مسلمانانو اجماع ده خاتم لره په خنصر کښې د اچولو.

﴿ وَنَهَانِي عَنِ الْقَسِّيَّةِ وَالْمِيثَرَةِ الخ ﴾ د قسی تحقیق د کتاب اللباس په اول کښې په باب ما جاء فی لبس الحریر نه پس په باب من کرهه کښې تیر شوې دې د میثره ذکر هم ډیر کرته راغلې دې وراندې په روایت کښې دی ابوبرده بیان کوی چه مونږ د علی ﷺ نه تپوس اوکړو چه د قسیه نه څه مراد دې نو هغوی اوفرمائیل چه د کپړو یو قسم دې کومې چه به مونږ ته راتلې د شام نه یا د مصر نه. ﴿ مُضَلَّعَةٌ فِيهَا أَمْثَالُ الأُتْرُجِّ ﴾ چه په هغې کښې به د ریښمو نرې نرې تارونه (کرښې) وې او په هغې کښې به د اترج په شان ګلونه وو. ﴿ قال المیثرة شئ الخ ﴾ یعنی میثره هغه څیز دې کوم چه زنانه د خپلو خاوندانو دپاره جوړوی، په زین باندې پورته د اچولو دپاره یوه ښکلې او ډولی سره ګډئ. چه کله ریښمینه هم وی.

والحدیث اخرجه البخاری قول ابی بردة الی آخره تعلیقا، واخرج مسلم حدیث وضع الخاتم وما بعده فی اللباس وحدیث الدعاء فی الدعوات، قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّخَتُّمِ فِي الْيَمِينِ أَوِ الْيَسَارِ

باب ګوتمه په ښی لاس کښې اچول پکار دی او که په ګس لاس کښې؟

په مسئلة الباب کښې د مذاهب ائمه تحقیق:

دا مسئله مختلف فیه ده د ائمه ترمینځه، او روایات حدیثیه هم مختلف دی چه لبس خاتم په ښی لاس کښې پکار دې او که په ګس کښې، امام شافعی رحمه الله د یمین قائل دې، او جمهور چه پکښې ائمه ثلاثه هم دی د ترجیح یسار قائل دی، او په نسخ الیمین کښې یو حدیث هم راغلې دې چه ضعیف دې. د شوافعو په شان د احنافو یو قول هم د ترجیح یمین دې ځکه چه تختم د باب د زینت نه دې د کوم دپاره چه یمین اولې دې، او یو وجه د ترجیح یمین دا هم بیانولې شی لکه په کوکب الدری کښې هم دغه شان دی چه تختم بالیسار د روافض وغیره شعار دې. خو په درمختار کښې د دې برعکس لیکلې شوې دی یعنی دا چه د روافض شعار تختم بالیمین دې نه بالیسار، امام ترمذی رحمه الله په دې باب کښې ډیر روایات ذکر کړې دی چه په هغې کښې په اکثرو کښې یمین ذکر دې او د یسار ئې صرف یو روایت ذکر کړې دې او هغه هم موقوفا ﴿ کان الحسن والحسین یتختمان فی یسارهما ﴾ او امام ترمذی رحمه الله د تختم فی

اليمين روايت لره ترجيح ورکړې ده كما هو مسلک الشافعي وفي هامش البذل : وحكى القارى في جمع الوسائل : عن مالک استحباب اليسار وكراهة اليمين، وعن الشافعية وجهين، الصحيح ان اليمنى افضل، وقال المناوى اليمنى عن تسعة من الصحابة واليسار عن الثلاثة، وقال الدردير، السنة اليسار قال الدسوقي : لانه اخر الفعلين عنه ﷺ، په كوكب كښ د حضرت گنگوهى رائې هم دا ذكر ده چه دې باره كښ تقريبا يمين او يسار برابر دى اصالة، خو چونكه اتخاذ الخاتم فى اليسار د روافضو عادت دې په دې وجه دا زمونږ دپاره مكروه دې، په بذل كښ هم دغه شان دى چه چونكه تختم فى اليسار د روافض شعار دې په دې وجه ممنوع دې. (وهذا الوجه لبيان الكراهة ضعيف لانه من فعله ﷺ وفعله ﷺ سنة الى يوم القيامة لا يكره لاجل شعار احد من الكفرة وما تقول فى العمامة السوداء اليست هذه شعار الروافض؟)

امام ابوداؤد رحمه الله د دې باب په شروع كښ د على رضي الله عنه روايت ذكر كړو

[٤٢٢٦](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ شَرِيكِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُنَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: شَرِيكٌ، وَأَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ".

دعلى رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه شريک وائى ماته ابوسلمه بن عبد الرحمن خبر راكړې دې چه نبى عليه السلام به دښي لاس په گوتمه كښې گوتمه اچولې.

﴿ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ ﴾ او دويم روايت د ابن عمر رضي الله عنهما ﴿ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَسَارِهِ ﴾

[٤٢٢٧](٢)حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي رَوَّادٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَسَارِهِ، وَكَانَ فَصُّهُ فِي بَاطِنِ كَفِّهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ ابْنُ إِسْحَاق، وَأُسَامَةُ يَعْنِي ابْنَ زَيْدٍ، عَنْ نَافِعٍ، بِإِسْنَادِهِ فِي يَمِينِهِ.

دابن عمرنه روايت دې فرمائى چه نبى كريم و به ګسپل گس لاس مبارک كښې گوتمه اچوله اوددې غمي به دورغوي طرف ته وو، امام ابوداؤد فرمائى ابن اسحق وئيلى دى چه اسامه بن زيد دنافع نه په دې سند سره بيان كړيدې چه نبى كريم و به گوتمه په ښي لاس كښې اچوله.

[٤٢٢٨](٣)حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنْ عَبْدَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، "أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَلْبَسُ خَاتَمَهُ فِي يَدِهِ الْيُسْرَى".

\ دنافع نه روايت دې فرمائى چه ابن عمربه ګسپل گس لاس كښې گوتمه اچوله.

دا مصنف رحمه الله په دوه طرقو سره ذكر كړې دې اول عبد العزيز بن نافع، په دې كښ خو هم دا ده ﴿ كان يختم فى يساره ﴾ او دويم طريق د ﴿ اسامه بن زيد عن نافع ﴾ په دې كښ په ځائې د ﴿ فى يساره ﴾ فى يمينه دې. د دې نه پس مصنف رحمه الله د اول طريق يعنى د طريق عبد العزيز په تائيد

(١): سنن الترمذي/الشمائل ١٢ (٩٠)، سنن النسائي/الزينة ٤٦ (٥٢٠٦)، (تحفة الأشراف: ١٠١٨٠) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٧٦٦) (شاذ)
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٧٦٦) (صحيح الإسناد)

کښې د عبيد الله عن نافع روايت ذکر کړو چه د ابن عمر رضی الله عنهما خپله عمل د تختم باليسار وو، پس حاصل دا چه دا د باب اول حديث يعنی حديث د علی رضی الله عنه نه د تختم باليمين ثبوت او د حديث ثانی يعنی د حديث ابن عمر رضی الله عنهما نه د تختم فی اليسار ثبوت اوشو، د دې نه پس مصنف رحمه الله يو بل روايت ذکر کړو د لبس باليمين چه د هغې راوی ابن عباس رضی الله عنهما دې

[۴۲۲۹] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: "رَأَيْتُ عَلَى الصَّلْتِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نَوْفَلِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ خَاتَمًا فِي خِنْصَرِهِ الْيُمْنَى، فَقُلْتُ: مَا هَذَا؟ قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَلْبَسُ خَاتَمَهُ هَكَذَا وَجَعَلَ فَصَّهُ عَلَى ظَهْرِهَا، قَالَ: وَلَا يَخَالُ ابْنَ عَبَّاسٍ إِلَّا قَدْ كَانَ يَذْكُرُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ يَلْبَسُ خَاتَمَهُ كَذَلِكَ".

د محمد بن اسحاق نه روايت دې فرمائی چه صلت بن عبدالله بن نوفل بن عبدالمطلب مې وليدو چه د ښي لاس په کچه ګوتمه کښې ئې ګوتمه اچولې وه ماورته اووئيل داڅه دې؟ هغه اووئيل ما ابن عباس ليدلې وو چه ګوتمه به ئې داسې اچولې وه او ډګوتې غمې پې دورغوې شا طرف ته کړې وو اوداڼې هم اووئيل چه د ابن عباس متعلق داګمان کيدې شي چه هغه ددې خبرې ذکر کولو چه نبی ﷺ به هم داسې ګوتمه اچوله.

خو په هغه روايت کښې دی ﴿ وجعل فصه علی ظهرها ﴾ او د دې نه مخکښې د ابن عمر رضی الله عنهما په روايت کښې تير شوې دی ﴿ وکان فصه فی باطن کفه ﴾ او دا مخکښې تير شو قال العلماء حديث الباطن اصح، خو د ظهر کف ممانعت هم په يو روايت کښې نه دې راغلې، فالامر اوسع لکن الاولی هو الباطن للاتباع (حاشية النسائی) حديث علی رضی الله عنه اخرجه الترمذی والنسائی، وحديث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْجَلَاجِلِ

بابه د کونګرو کانو اغوستلو بيان

جلاجل د جلجل جمع ده، يعنی الجرس الصغير، والجرس ما يعلق بعنق الدابة او برجل البازی والصبيان (حاشية) يعنی وړوکې جرس او آواز کونکې کالې وهو المراد ههنا.

[۴۲۳۰] (۲) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَهْلٍ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ الْحَسَنِ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ، أَنَّ عَامِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ عَلِيُّ بْنُ سَهْلٍ ابْنِ الزُّبَيْرِ، "أَخْبَرَهُ أَنَّ مَوْلَاةً لَهُمْ ذَهَبَتْ بِابْنَةِ الزُّبَيْرِ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَفِي رِجْلِهَا أَجْرَاسٌ، فَقَطَعَهَا عُمَرُ ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ مَعَ كُلِّ جَرَسٍ شَيْطَانًا".

عامر بن عبدالله وائی چه علی بن سهل بن زبير راته وئيلی دی چه زمونږه ازاده کړې وينځه دزبير دلورسره عمر فاروق ته لاړه اودهغې په پښو کښې ګنګروګان وو، عمرفاروق له دا ګنګروګان پرې کړل او وئې فرمائيل ما د نبی ﷺ نه اوريدلې دي چه فرمائيل ئې چه ددې دهرې يوې تلئ سره يو شيطان وي ځکه چه ددينه دساز په شان آواز اوځي.

(۱): سنن الترمذي/اللباس ۱۶ (۱۷۴۲)، (تحفة الأشراف: ۵۶۸۶) (حسن صحيح)
(۲): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۰۶۸۱) (ضعيف)

قوله:﴿ أَنَّ عَامِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ - أَخْبَرَهُ أَنَّ مَوْلَاةً لَهُمْ ذَهَبَتْ بِابْنَةِ الزُّبَيْرِ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَفِي رِجْلِهَا أَجْرَاسٌ فَقَطَعَهَا عُمَرُ الخ ﴾ د عبدالله بن زبیر رضي الله عنهما خوئی عامر رحمه الله فرمائی چه زمونږ یوې وینځې د زبیر رضي الله عنه وړه لور یعنی د عامر ترور عمر رضي الله عنه ته بوتله. چه د هغې په خپو کښې شرنګیدونکې کالې وو عمر رضي الله عنه هغه په خپل لاس باندې مات کړو او وې فرمائیل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی چه د هر جرس سره شیطان وی. ﴿ ان مع کل جرس شیطان ﴾ دا حدیث په کتاب الجهاد کښې تیر شوې دې، د دې حدیث نه معلومه شوه چه هر هغه کالې چه شرنګ کوی په حرکت سره آواز کوی او په هغې کښې آواز پیدا کیږی هغه د جرس په حکم کښې دې لا یجوز لبسها للنساء والباسها للبنات الصغار، او کوم کالې چه د ګونګرو والا نه وی خو د هغې خپل مینځ کښې د یو ځائې کیدو د وجې نه آواز پیدا کیږی په مزه مزه نو هغه په دې کښې داخل نه دې. (بذل)

[۴۲۳۱]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ، حَدَّثَنَا رَوْحٌ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ بُنَانَةَ مَوْلَاةِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَسَّانَ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: بَيْنَمَا هِيَ عِنْدَهَا إِذْ دُخِلَ عَلَيْهَا بِجَارِيَةٍ وَعَلَيْهَا جَلَاجِلُ يُصَوِّتْنَ، فَقَالَتْ: لَا تُدْخِلْنَهَا عَلَيَّ إِلَّا أَنْ تَقْطَعُوا جَلَاجِلَهَا، وَقَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ جَرَسٌ".

دبنانه څوک چه دعبدالرحمن بن حسان انصاری ازاده کړې وینځه وه رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه زه دام المومنین عائشې رضي الله عنها سره وم چه یوه جینۍ دهغې خواته راغله اودهغې په پښوکښې داواز والاګنګروګانړ وو عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل چه بیا دګنګروګانړ کټ کولونه بغیر زما خواته مه رازه ځکه چه ما دنبی عليه السلام نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې په کوم کور کښې چه جرس (تلې) موجوده وې هلته فرښتې نه داخلیږی.

بَابُ مَا جَاءَ فِي رَبْطِ الْأَسْنَانِ بِالذَّهَبِ

باب په سروزروباندې د غاښونود پیوند کولو بیان

[۴۲۳۲]([2])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْخُزَاعِيُّ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَشْهَبِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ طَرَفَةَ، "أَنَّ جَدَّهُ عَرْفَجَةَ بْنَ أَسْعَدَ قُطِعَ أَنْفُهُ يَوْمَ الْكُلَابِ فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ وَرِقٍ فَأَنْتَنَ عَلَيْهِ، فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ".

دعبدالرحمن بن طرفه رحمه الله نه روایت دې فرمائی چه دده دنیکه عرفجه بن اسعد پوزه دکلاب جنګ په ورځ پریکړې شوې وه نو هغه ځانله دسپینوزرونه پوزه جوړه کړه او په هغې کښې بدبوئې پیدا شوه نونبی عليه السلام ورته اوفرمائیل چه دسروزرونه ئې جوړه کړه ځکه چه په سرو زرو کښې بدبوئې نه وی.

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ طَرَفَةَ أَنَّ جَدَّهُ عَرْفَجَةَ بْنَ أَسْعَدَ قُطِعَ أَنْفُهُ يَوْمَ الْكُلَابِ فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۵۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲٤۲/٦، ۲٤۳) (حسن)
[2]: سنن الترمذي/اللباس ۳۱ (۱۷۷۰)، سنن النسائي/الزينة ٤۱ (٥۱٦٤)، (تحفة الأشراف: ۹۹۹٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳٤۲/٤، ۲۳/٥) (حسن)

وَرِقٍ فَأَنْتَنَ عَلَيْهِ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ ﴾
یوم الکلاب د جاهلیت د زمانې د یو مشهور جنګ نوم دې. عبدالرحمن بن طرفه رحمه الله فرمائي چه زما د نیکۀ په دې جنګ کښې پوزه پرې شوې وه نو هغوی د چاندئ پوزه جوړه کړه، څو ورځې پس په هغې کښې بوئي پیدا شو هغوی د رسول الله ﷺ نه معلومه کړه نو د هغوی په امر باندې هغوی د سرو زرو پوزه جوړه کړه. مصنف رحمه الله په دې حدیث سره ترجمة الباب والا مسئله ربط الاسنان بالذهب په طریقه د قیاس ثابته کړې ده چه صحیح دې. ځکه چه هر کله مستقل اندام د سرو زرو جوړول جائز دی نو غاښونو لره د سرو زرو په تار باندې تړل په طریق اولی جائز شو، هم دغه شان که غاښ د سرو زرو تیار کړې شی هغه به هم جائز وی. (بذل) والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، وقال الترمذی حسن، قاله المنذری

[٤٢٣٣](١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَأَبُو عَاصِمٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَشْهَبِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ طَرَفَةَ عَنْ عَرْفَجَةَ بْنِ أَسْعَدَ بِمَعْنَاهُ، قَالَ يَزِيدُ قُلْتُ لِأَبِي الْأَشْهَبِ: أَدْرَكَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ طَرَفَةَ جَدَّهُ عَرْفَجَةَ؟ قَالَ: نَعَمْ.

عبدالرحمن دعرفجه بن اسعد نه په بل سندسره ددې روایت په شان روایت نقل کړي دي، یزید وئیلی دی چه ما ابو الاشهب ته ووئیل چه ایاد عبدالرحمن ملاقات دعرفجه سره ثابت دي؟ هغه ووئیل هو.

[٤٢٣٤](٢) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ أَبِي الْأَشْهَبِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ طَرَفَةَ بْنِ عَرْفَجَةَ بْنِ أَسْعَدَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ عَرْفَجَةَ بِمَعْنَاهُ.

عبدالرحمن بن طرفه هم دعرفج بن اسعدنه ددې روایت هم مثل روایت نقل کړي دي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الذَّهَبِ لِلنِّسَاءِ

باب د ښځو دپاره د سروزرو د استعمال بیان

[٤٢٣٥](٣) حَدَّثَنَا ابْنُ نُفَيْلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ، عَنْ أَبِيهِ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "قَدِمَتْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِلْيَةٌ مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ أَهْدَاهَا لَهُ فِيهَا خَاتَمٌ مِنْ ذَهَبٍ فِيهِ فَصٌّ حَبَشِيٌّ، قَالَتْ: فَأَخَذَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعُودٍ مُعْرِضًا عَنْهُ أَوْ بِبَعْضِ أَصَابِعِهِ ثُمَّ دَعَا أُمَامَةَ ابْنَةَ أَبِي الْعَاصِ ابْنَةَ ابْنَتِهِ زَيْنَبَ، فَقَالَ: تَحَلَّيْ بِهَذَا يَا بُنَيَّةُ".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دي فرمائي چه نبی کریم ﷺ ته زیورات راوړلي شول کوم چه ورته دحبشو بادشاه نجاشي په تحفه کښې رالیږلي وو، په دې زیوراتو کښې یوه دسروزرو ګوتمه وه اویمني غمي پکښې لیدلي ووعائشه رضی الله عنها فرمائي چه نبی علیه السلام په یو لرګي باندې راواخستله په داسې حال کښې چه توجه ئې ورته نه کوله اویائي په بعضې ګوتوسره راواخستله او بیا ئې امامة بنت ابی العاص څوک چه د نبی علیه السلام دلور زینب دلور

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٨٩٥) (حسن)
(٢): انظر حديث رقم: (٤٢٣٢)، (تحفة الأشراف: ٩٨٩٥) (حسن)
(٣): سنن ابن ماجه/اللباس ٤٠ (٣٦٤٤)، (تحفة الأشراف: ١٦١٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٠١، ١١٩) (حسن الإسناد)

لور وه را اوغوښتله او ورته ئې اوفرمائيل اې بچورېه داته په لاس کړه.

قوله: ﴿ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ قَدِمَتْ عَلَى النَّبِىِّ –صلى الله عليه وسلم– حِلْيَةٌ مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِىِّ الخ ﴾ يعني د رسول اللهﷺ په خدمت کښې نجاشي بادشاه د سرو زرو کالي راوليږل په هغې کښې يو ګوتمه د سرو زرو هم وه رسول اللهﷺ هغه په يو لرګي يا خپلې ګوتې مبارکې سره اوچته کړه ډيره په بې رغبتئ ښکاره کولو سره، د دې نه پس هغوى خپله وره نمسئ يعنى امامه رضي الله عنها راوغوښتله او ورکولو سره ئې اوفرمائيل : ﴿ تحلى بهذا يا بنية ﴾ چه اې خورېې لورې دا واچوه. والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٢٣٦]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَسِيدِ بْنِ أَبِي أَسِيدٍ الْبَرَّادِ، عَنْ نَافِعِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُحَلِّقَ حَبِيبَهُ حَلْقَةً مِنْ نَارٍ، فَلْيُحَلِّقْهُ حَلْقَةً مِنْ ذَهَبٍ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُطَوِّقَ حَبِيبَهُ طَوْقًا مِنْ نَارٍ، فَلْيُطَوِّقْهُ طَوْقًا مِنْ ذَهَبٍ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُسَوِّرَ حَبِيبَهُ سِوَارًا مِنْ نَارٍ فَلْيُسَوِّرْهُ سِوَارًا مِنْ ذَهَبٍ وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِالْفِضَّةِ فَالْعَبُوا بِهَا".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلي دي: څوک چه خپل محبوب ته د اوږحلقه اچول غواړي نودسروزروحلقه دې ورته واچوي ،او څوک چه خپل محبوب ته د اوريوطوق ورپه غاړه کول غواړي نودسروزرو اميل دې ورپه غاړه کړي، او څوک چه خپل محبوب ته د اور بنګړي اچول غواړي نودسروزرو بنګړي دې ورته واچوي. ليکن ستاسو دپاره دسپينوزرو استعمال مناسب دې او په دې باندې لوبې کوئ.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُحَلِّقَ حَبِيبَهُ حَلْقَةً مِنْ نَارٍ فَلْيُحَلِّقْهُ حَلْقَةً مِنْ ذَهَبٍ وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِالْفِضَّةِ فَالْعَبُوا بِهَا » ﴾

په دې حديث کښې زنانه هم د سرو زرو د کالو نه منع کړې شوې دى او دا چه څوک خپل محبوب ته د اور طوق اچول غواړى نو هغه ته دې د سرو زرو کالى واچوى، او بيا په آخير کښې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه د چاندئ کالى اختيار کړئ د دې نه چه مو څه خوښه وى کالې جوړ کړئ، په بل روايت کښې دى کوم چه د حذيفه رضي الله عنه د خور نه روايت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ يا معشر النساء اما لكن فى الفضة ما تحلين به ﴾ چه اې د زنانو ډلې! آيا ستاسو دپاره په چاندئ کښې دا ګنجائش نشته چه تاسو د دې نه کالې جوړ کړئ، بيا ئې اوفرمائيل چه په تاسو کښې يو زنانه هم نشته چه هغه د سرو زرو کالى جوړ کړى او هغه ښکاره کړى مګر دا چه هغې ته به عذاب ورکولې شى د هغې په وجه باندې (تحلى ذهبا تظهره) د دې نه پس د اسماء بنت يزيد رضي الله عنها حديث راروان دې، د هغې مضمون هم داسې دې چه کومه زنانه هم د سرو زرو هار جوړولو سره په غاړه کښې اچوى نو هغې ته به په آخرت کښې د اور هار اچولې شى.،

د احاديث الباب د جمهورو د طرف نه جواب او توجيه :

د دې باب احاديث د جمهورو په نزد يا خو منسوخ دى د هغه مشهور حديث د وجې نه په

(): تفرد به أبوداود (تحفة الأشراف: ١٤٦٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٣٤، ٣٧٨) (حسن).

کوم کښې چه د سرو زرو په سرو باندې حرامیدل او د زنانو دپاره د حلالیدو تصریح ده. او یا به دا محمول کولې شی د هغه سرو زرو کالی باندې کوم چه د شهرت او فخر دپاره واچولې شی د کوم طرف ته چه په دې احادیثو کښې اشاره هم ذکر ده. ﴿تظهره﴾ او یا به د دې نه مراد هغه کالی اخستلې شی د کوم چه زکوة نه وی ورکړې شوې، یا اسوره غلیظه باندې محمول دې، یعنی د سرو زرو ډیر درانه درانه کالی کوم چه بعض د مالدارې کورنئ زنانه اچوی ځکه چه دا قسم کالی، د تکبر علامت وی.

حدیث عائشة رضي الله عنها اخرجه ابن ماجه، وحدیث اخت حذیفة رضي الله عنها اخرجه النسائی، وحدیث اسماء بنت یزید رضي الله عنها ایضا اخرجه النسائی، قاله المنذری

[٤٢٣٧] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ امْرَأَتِهِ، عَنْ أُخْتٍ لِحُذَيْفَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ أَمَا لَكُنَّ فِي الْفِضَّةِ مَا تَحَلَّيْنَ بِهِ أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تَحَلَّى ذَهَبًا تُظْهِرُهُ إِلَّا عُذِّبَتْ بِهِ".

دحذیفة رضي الله عنه دخورنه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي وو: اې دزنانوډلې ایاستاسو دپاره سپین زر کافي نه دی چه زیورات ورنه جوړ کړئ؟، خبردار په تاسو کښې داسې زنانه نشته چه دسروزرو زیورات واچوي او په دې باندې ځان مزین کړي مګرددې په وجه به دې ته دقیامت په ورځ باندې عذاب ورکولې شي.

[٤٢٣٨] (٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ بْنُ يَزِيدَ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، أَنَّ مَحْمُودَ بْنَ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيَّ حَدَّثَهُ، أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ يَزِيدَ حَدَّثَتْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ تَقَلَّدَتْ قِلَادَةً مِنْ ذَهَبٍ قُلِّدَتْ فِي عُنُقِهَا مِثْلَهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ جَعَلَتْ فِي أُذُنِهَا خُرْصًا مِنْ ذَهَبٍ جُعِلَ فِي أُذُنِهَا مِثْلُهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

داسماء بنت یزید رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: هرې یوې زنانه چه په غاړه کښې دسروزرو هار واچوونودقیامت په ورځ به ددې هار په شان داورېوهار ددې په غاړه کښې واچولې شي اوکوې زنانه چه دسرو زرووالې په خپلو غوږونوکښې واچولې نوپه غوږونوکښې به ئې دغه هومره اور واچولې شي د قیامت په ورځ.

[٤٢٣٩] (٣) حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ مَيْمُونٍ الْقَنَّادِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ رُكُوبِ النِّمَارِ وَعَنْ لُبْسِ الذَّهَبِ إِلَّا مُقَطَّعًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو قِلَابَةَ لَمْ يَلْقَ مُعَاوِيَةَ.

دمعاویة بن ابی سفیان رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده دنمار (یودرنده ځناور) په څرمن باندې دسورلئ کولو نه اودسروزرو د استعمال نه مګرچه لږ وي.

قوله: ﴿عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلی الله علیه وسلم– نَهَى عَنْ رُكُوبِ النِّمَارِ وَعَنْ

(١): سنن النسائي/الزينة ٣٩ (٥١٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٤٣، ١٨٣٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤٥٥، ٣٥٧، ٣٥٨، ٣٦٩)، سنن الدارمي/الاستئذان ١٧ (٢٦٨٧) (ضعيف)

(٢): سنن النسائي/الزينة ٣٩ (٥١٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤٥٥، ٤٥٧، ٤٦٠) (ضعيف)

(٣): سنن النسائي/الزينة ٤٠ (٥١٥٢)، (تحفة الأشراف: ١١٤٦١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٩٢، ٩٣، ٩٥، ٩٨، ٩٩) (صحيح)

لُبْسِ الذَّهَبِ إِلاَّ مُقَطَّعًا ﴾ رسول الله ﷺ د جلود نمار (جلود سباع، د شیر او پړانګ په څرمن باندې د سوریدلو نه منع کړې ده (وقد تقدم) او د سرو زرو د اچولو نه مګر چه پرې کړې شوې وی یعنی په کم مقدار کښې.

دا حدیث که د زنانو په حق کښې محمول کړې شی نو بیا خو به دا حدیث د باب د زهد نه وی او دا هم ممکن ده چه د سرو په حق کښې وی په دې صورت کښې به دا قید دپاره د جواز وی، ځکه چه د سرو دپاره ضرورة د سرو زرو د استعمال جواز ثابت دې. كما تقدم قريبا فی باب ربط الاسنان بالذهب، والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

آخر كتاب الخاتم

....

كتاب الفتن والملاحم

دفتنوبیان

باب ذِكْرِ الْفِتَنِ وَدَلاَئِلِهَا

باب د هغه فتنوبیان چه نبی علیه السلام ئې پیشنګوئی کړې ده

(ما قبل سره ربط او مناسبت)

د دې کتاب د ماقبل سره مناسبت په غور کولو سره دا په سمجهـ کښې راتلې شی، یو لطیف مناسبت دا کیدې شی چه په جامه کښې پرده موندلې شی او د هغې بالمقابل په فتن کښې (انسان) بربنډیږی، خپل مینځ کښې اختلاف او د نورو خلقو عیبونه بیانول او بې عزتی کول نو دا د اضدادو نه شو، او د ضدین خپل مینځ کښې ربط ښکاره دې ځکه چه هغه د وجود ذهنی په اعتبار سره متلازم وی، او داسې هم وئیلې شې چه خپله بعض لباسونه داسې وی کوم چه په فتنه کښې غورځونکې وی لکه د مستوراتو لباس فاخره کښې د کورنه وتل، ونحو ذلک اذا النکات بعد الوقوع.

(تحقیق ومعانی فتن)

الفتن جمع فتنة كمحن ومحنة لفظا ومعنا، وبمعنى الاختبار والامتحان والضلال، والاثم، واذابة الذهب والفضة،ويطلق على المال والاولاد، انما اموالكم واولادكم فتنة الاية..وبمعنى اختلاف الآراء.

(تحقیق ومعانی ملاحم)

والملاحم جمع ملحمة، وهى بمعنى المعركة وموضع الحرب یعنی میدان جنګ، او الوقعة العظيمة یعنی لوئې قسم جنګ.

د علم حدیث ابواب ثمانیة :

د دې کتاب په مقدمه کښې دا مضمون تیر شوې دې چه د علم حدیث مضامین په ابواب ثمانیه کښې منحصر دی.

۱: عقائد، ۲: احکام، ۳: تفسیر، ۴، تاریخ، ۵: رقاق، ۶: مناقب، ۷: آداب، ۸: فتن. او دا چه حضرات محدثین په دې ابواب ثمانیه کښې په هر مضمون باندې بیل بیل مستقل

تصنيفات ليکلي دي، او بيا ئې د هر يو څه مثالونه هم ليکلي دي، هلته دا تير شوي دي چه د احاديث الفتن نوم علم الفتن کيخودلې شي، په دې کښې هم ډير تصنيفات دي، يو قديم او اوږد تصنيف د نعيم بن حماد رحمه الله دې او د اشراط الساعة يعنى علامات قيامت په موضوع باندې چه کوم کتابونه ليکلې شوي دی ښکاره خبره ده چه هغه به هم په دې علم الفتن کښې شمار کولې شی لکه الاشاعة لاشراط الساعة..... د سيد شريف محمد البرزنجى کتاب دې او هم دغه شان الاذاعة د نواب صديق حسن خان بهوپالی رحمه الله، او د شاه رفيع الدين صاحب کتاب د علامات قيامت په نوم باندې په اردو کښې، هم دغه شان د حافظ ابن کثير رحمه الله په تاريخ کښې لوئې جامع او مانع معروف او مشهور کتاب "البداية والنهاية" کښې خو د ټول عالم تاريخ ذکر دې کوم چه په يولس جلدونو کښې دې او نهايه د کوم چه دوه جلدونه دی په دې کښې هم دا د فتن او ملاحم او د علامات قيامت مضامين دی.

د اختلاف النسخ بيان:

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه دلته د کتاب نسخې مختلف دی، زمونږ په نسخه کښې خو هم دغه شان دی څنګه چه پورته ليکلې شوې دی، او په اکثر نسخو کښې دلته صرف کتاب الفتن ذکر دې او د کتاب الفتن د ختميدو نه پس چه کوم اته يا لس صفحات دی په هغه نسخو کښې اول کتاب المهدی راځی او بيا د هغې اول باب باب الملاحم دې او زمونږ په موجوده نسخه کښې د کتاب الفتن په ختم باندې آخر کتاب الفتن باب الملاحم راځی. او هم په دې کښې يو باب باب فی ذکر المهدی دې چه په هغې کښې د امام مهدی متعلق څو روايتونه دی او د هغې نه پس بيا اول کتاب الملاحم شروع کيږی. زمونږ د دې موجوده نسخې تقاضه دا ده چه دلته دې صرف کتاب الفتن وی، څکه چه کتاب الملاحم وړاندې مستقل راځی.

د کتاب الفتن په احاديثو کښې دا څيز قابل تحقيق وی چه دا کومې فتنې طرف ته اشاره ده، د دې مصداق څه دې آيا هغه تيره شوې ده که نه راروان وخت کښې به راځی، پس شارحين په دې باندې کلام او رائې ورکوی. په بذل المجهود کښې حضرت سهارنپوری رحمه الله هم د بعض فتن تعين په خپلې رائې او قياس سره کړې دې.

د کتاب الفتن د احاديثو نه دا هم مستفاد کيږی چه تر قيامته پورې راتلونکې فتن کښې چه څومره هم لوئې لوئې فتنې دی د ټولو علم رسول الله ﷺ ته ورکړې شوې وو. خو د هغې فتن د وقوع د زمانې او د تاريخ متعين طور سره رسول الله ﷺ ته هم علم نه وو پس په ډيرو احاديثو کښې راځی چه رسول الله ﷺ بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم ته اوفرمائيل چه کله دا خبره پيښه شی نو ستاسو به دغه وخت کښې څه حال وی؟ تاسو به هغه وخت څه کوئ، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو چه څه ستاسو حکم وی هم هغه شان به کوو، خو د هغه صحابی (١) په زمانه حيات کښې هغه خبره يا فتنه پيښه نه شوه، د هغې مثالونه په کتاب

١) وفيه انه کثير اما يذکر لفظ الخطاب ويراد به العموم اي کل من يصح معه الخطاب دون المخاطب المخصوص فحينئذ لا يحتاج الي هذا القول اي عدم علمه ﷺ بالتاريخ، من بعض الافاضل)

کښې موجود دی کوم چه به مخې ته راشي.[1]
په الاشاعة لاشراط الساعة د کوم ذکر چه پورته راغلو کوم چه په دې موضوع باندې يو جامع تصنيف دې د کوم چه به حضرت شيخ هم تعريف فرمائيلو او هغوی به مطالعه کولو هم، په خپلو بعضو تصانيفو کښې حضرت د هغې نه حوالې هم ورکړې دی، د حضرت شيخ په هغې باندې اهم حواشي او تعليقات هم دی چه د هغې په باره کښې د حضرت خواهش وو چه هغه طبع شي نو غوره به وی، عزيز گرامی قدر مولانا حبيب الله مظاهری حفظه الله د هغه کتاب سره د هغه حواشي څو کاله مخکښې طبع کړې ده فجزاه الله تعالى خير الجزاء....
د دې مطبوعه کتاب په آخر کښې د دې کتاب تکمله او لاندې کوم چه د حضرت شيخ د حواشي يو حصه ده هغه د " ذيل الاشاعة فی الفتن الباقية" په نوم باندې په موجوده مطبوعه نسخه کښې شامل کړې شوې دې چه په هغې کښې حضرت شيخ د بعض فتن په تعين کښې چه د محدثينو کوم مختلف رائې دی خصوصاً د شاه ولی الله رحمه الله په حجة الله البالغة وغيره کتابونو کښې هغه ئې هم اشارة په طور د حوالې ذکر کړې دی.

[٤٢٤٠]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: "قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا فَمَا تَرَكَ شَيْئًا يَكُونُ فِي مَقَامِهِ ذَلِكَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا حَدَّثَهُ حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ قَدْ عَلِمَهُ أَصْحَابُهُ هَؤُلَاءِ وَإِنَّهُ لَيَكُونُ مِنْهُ الشَّيْءُ فَأَذْكُرُهُ كَمَا يَذْكُرُ الرَّجُلُ وَجْهَ الرَّجُلِ إِذَا غَابَ عَنْهُ ثُمَّ إِذَا رَآهُ عَرَفَهُ".

دحذيفة بن يمان رضی الله عنه نه روايت دې چه نبی عليه السلام زمونږ په مينځ کښې اودريدو او هيڅ يو داسې شې يې دبيانولونه پرې نخودو، کوم چه دقيامته پورې راتلونکې دې مگر بيان ئې کړو، اوبيا ئې اوفرمائيل چاچه داخبرې يا دې کړې نوهغه يا دې کړې اوچاچه هيرې کړې هغه هيرې کړې اويقينا زما ملگرو دا خبرې ښې وپيژندلې، راوی وائی کله چه به په دې خبر وکښې کومې چه نبی عليه السلام بيان کړې کومه يوه پيښه شوه نو ماته به داسې رايادېدله لکه څرنگه چه څوک ديوکس پيژندگې کوي اوهغه ورنه غائب شوې وي اود ليدلوسره ئې شناخت اوکړې.

﴿ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَائِمًا فَمَا تَرَكَ شَيْئًا يَكُونُ فِي مَقَامِهِ ذَلِكَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ ....إِذَا غَابَ عَنْهُ ثُمَّ إِذَا رَآهُ عَرَفَهُ ﴾

امام بخاری او امام مسلم رحمهما الله وغيرهما د کتاب الفتن ابتداء څنگه فرمائيلې ده؟ :

امام بخاری رحمه الله د کتاب الفتن ابتداء په دې باب سره کړې ده : باب ما جاء فی قول الله تعالى واتقوا فتنة لاتصيبن الذين ظلموا منکم خاصة.... وما کان النبی صلی الله عليه وسلم يحذر من الفتن.... او د هغې نه روستو ئې بيا هغه حديث الحوض ذکر فرمائيلې دې چه په هغې کښې دی : لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ أَقْوَامٌ أَعْرِفُهُمْ وَيَعْرِفُونِي ثُمَّ يُحَالُ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فاقول ای رَبِّ أَصْحَابِي فَيُقَالُ إِنَّكَ لَاتَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ﴾ او امام مسلم رحمه الله په کتاب الفتن واشراط الساعة کښې د ټولو نه اول دا حديث ذکر کړې دې:

[1]: صحيح البخاري/ القدر ٤ (٦٦٠٤)، صحيح مسلم/ الفتن ٦ (٢٨٩١) ، (تحفة الأشراف: ٣٣٤٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨٣/٥، ٣٨٥، ٣٨٩، ٤٠١) (صحيح)

﴿أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- اسْتَيْقَظَ مِنْ نَوْمِهِ وَهُوَ يَقُولُ « لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ الحديث ﴾ او امام ترمذی رحمه الله د کتاب الفتن په شروع کښې د يوم الدار والا حديث ذکر فرمائيلې دې يعنی د عثمان رضي الله عنه د کور چه کله هغه شريانو محاصره کړې وه نو هغوی د کور په چهت باندې پورته ختلو سره هغوی ته مخ کولو سره هغوی ته څو احاديث اوروليې وو.

مضمون الحديث:

امام ابوداؤد رحمه الله د کتاب الفتن په شروع کښې د حذيفه رضي الله عنه چه د چا په باره کښې مشهوره ده چه هغه صاحب سر رسول الله ﷺ دې. د هغوی دا پورته ذکر کړې شوې حديث ذکر کړې دې چه په هغې کښې کلی طور سره رسول الله ﷺ د قيامته پورې پيښيدونکی ټول فتن په تفصيل سره بيان فرمائيلی دی، د هغې حواله ده، پس هغوی فرمائی چه يوه ورځ رسول الله ﷺ د خطبې ورکولو دپاره اودريده نو څومره چه د قيامته پورې راتلونکې واقعات او فتن وو هغه ټول رسول الله ﷺ په دې خطبه کښې بيان کړل. سيدنا حذيفه رضي الله عنه فرمائی چه په مونږ کښې بعضو ته هغه فتنې يادې دی او بعضو نه هغه هيرې دی. بيا هغوی خپله د خپل ځان په باره کښې فرمائی چه د هغې حاصل دا دې چه هغه ټولې خبرې مستحضر څو ماته هم نه دی او مانه هيرې هم نه دی د حفظ په خزانه کښې محفوظ دی، چه کله په هغه څيزونو کښې يو فتنه راپيښه شی نو ماته هم هغه رايادہ شي. (چه او رسول الله ﷺ يو خبره دا هم بيان فرمائيلې وه) لکه چه يو سړې بل سړې پيژنی او بيا متعارف سړې چرته لاړ شی، غائب شی او د هغه صورت او شکل د انسان د ذهن نه اوځی خو بيا چه کله څه موده پس دې هغه سړې وينی نو پيژنی ئې چه او دا فلانې سړې دې.

مصنف رحمه الله دا حديث د دې نه پس په بل طريق سره ذکر کړې دې، او په هغې کښې دا زيادت دې ﴿مَا تَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مِنْ قَائِدِ فِتْنَةٍ إِلَى أَنْ تَنْقَضِيَ الدُّنْيَا يَبْلُغُ مَنْ مَعَهُ ثَلاَثَمِائَةٍ فَصَاعِدًا إِلاَّ قَدْ سَمَّاهُ لَنَا بِاسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ وَاسْمِ قَبِيلَتِهِ ﴾

[۴۲۴۳](1)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ فَرُّوخَ، أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، أَخْبَرَنِي ابْنٌ لِقَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ "وَاللَّهِ مَا أَدْرِي أَنَسِيَ أَصْحَابِي أَمْ تَنَاسَوْا وَاللَّهِ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَائِدِ فِتْنَةٍ إِلَى أَنْ تَنْقَضِيَ الدُّنْيَا يَبْلُغُ مَنْ مَعَهُ ثَلَاثَ مِائَةٍ فَصَاعِدًا إِلَّا قَدْ سَمَّاهُ لَنَا بِاسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ وَاسْمِ قَبِيلَتِهِ".

د حذيفة بن يمان رضي الله عنه نه روايت دې په الله قسم ماته معلومه نه ده چه ايا دغه خبرې زمادملگرونه هيرې شوې دې اوکه په قصد سره يې هيرې کړې دې ، په الله قسم رسول کريم د ديوې فتنې سربراه ، چه درې سوه کسان يازيات ورسره وي نه دې پريخودلې کوم چه دقيامته پورې راتلونکې وي مګر دهغه بيان ئې کړې دې اودهغه نوم اود پلارنوم اودهغه دقبيلې نوم ئې اخستلې دې تردې چه دنيابه ختمه شي.

يعنی د قيامته پورې چه څومره تحريکونه موندلې شی نو د هغه ټولو تحريکونو د قائدينو

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۳۷۹) (ضعيف)

نومونه او د هغوی د پلارانو نومونه او د قبیلې نومونه په دې شرط چه د هغه قائد سره د تلونکو کسانو تعداد کم از کم درې سوه وی هغه ټول رسول الله ﷺ زمونږ مخکښې بیان کړل. ﴿ وَاللّٰهِ مَا أَدْرِى أَنَسِىَ أَصْحَابِى أَمْ تَنَاسَوْا ﴾ یعنی والله زه نه شم وئیلې چه زمونږ ملګرو د دې قائدینو نوم هیر کړو فی الواقع یا که د څه مصلحت په وجه باندې خپله هیره ښکاره کوی. یعنی په اظهار کښې فتنه ګنړلو سره. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم، قاله المنذری.

[٤٢٤١]([1]) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، عَنْ بَدْرِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَكُونُ فِي هَذِهِ الْأُمَّةِ أَرْبَعُ فِتَنٍ فِي آخِرِهَا الْفَنَاءُ".

دعبدالله ﷺ نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په دې امت کښې به څلور لوئې لوئې فتنې پیداشي اوبیاددینه پس پناکیدل دي (یعنی قیامت به قائم شي اوهرڅه به ختم شي اوهیڅ به پاتې نه شي).

﴿عَنْ عَامِرٍ عَنْ رَجُلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « يَكُونُ فِى هَذِهِ الأُمَّةِ أَرْبَعُ فِتَنٍ فِى آخِرِهَا الْفَنَاءُ » ﴾

سیدنا عبدالله بن مسعود ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی چه په دې امت کښې به څلور فتنې موندلې شی د هغې نه به په آخری فتنه باندې دنیا فنا شی، یعنی لوئې فتنې به څلور وی، او د فنا نه مراد یا خو د دنیا فنا ده یا د امت اجابت فنا او د هغوی نه پس به څوک هم مسلمان پاتې نه شی.(بذل)

[٤٢٤٢]([2]) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عُثْمَانَ بْنِ سَعِيدٍ الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَالِمٍ، حَدَّثَنِي الْعَلَاءُ بْنُ عُتْبَةَ، عَنْ عُمَيْرِ بْنِ هَانِئٍ الْعَنْسِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: "كُنَّا قُعُودًا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ فَذَكَرَ الْفِتَنَ فَأَكْثَرَ فِي ذِكْرِهَا حَتَّى ذَكَرَ فِتْنَةَ الْأَحْلَاسِ، فَقَالَ قَائِلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا فِتْنَةُ الْأَحْلَاسِ؟ قَالَ: هِيَ هَرَبٌ وَحَرْبٌ، ثُمَّ فِتْنَةُ السَّرَّاءِ دَخَنُهَا مِنْ تَحْتِ قَدَمَيْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يَزْعُمُ أَنَّهُ مِنِّي وَلَيْسَ مِنِّي وَإِنَّمَا أَوْلِيَائِي الْمُتَّقُونَ ثُمَّ يَصْطَلِحُ النَّاسُ عَلَى رَجُلٍ كَوَرِكٍ عَلَى ضِلَعٍ ثُمَّ فِتْنَةُ الدُّهَيْمَاءِ لَا تَدَعُ أَحَدًا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ إِلَّا لَطَمَتْهُ لَطْمَةً فَإِذَا قِيلَ: انْقَضَتْ تَمَادَتْ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا حَتَّى يَصِيرَ النَّاسُ إِلَى فُسْطَاطَيْنِ فُسْطَاطِ إِيمَانٍ لَا نِفَاقَ فِيهِ وَفُسْطَاطِ نِفَاقٍ لَا إِيمَانَ فِيهِ فَإِذَا كَانَ ذَاكُمْ فَانْتَظِرُوا الدَّجَّالَ مِنْ يَوْمِهِ أَوْ مِنْ غَدِهِ".

دعبدالله بن عمر ﷺ نه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی کریم ﷺ سره ناست وواونبی ﷺ دفتنو ذکر کولو او په ډیر تفصیل سره ئې اوفرمائیل تردې چه نبی ﷺ پخپل بیان کښې د احلاس دفتنې ذکر وکړو په دې سلسله کښې یوکس عرض اوکړو اې دالله رسوله داحلاس فتنه کومه یوه ده؟ نبی ﷺ اوفرمائیل تختېدل اولوټ مار کول دي، بیا ددینه پس د سراء فتنه ده ددې لوګر به دداسې دخپو دلاندې نه راوځي کوم چه به دا ګمان کوي چه هغه زماد خاندان ننه دې اوحقیقت دادې چه هغه به زماد خاندان نه نه وي ځکه چه زما دوستان هغه خلق دي څوک چه پرهیزګاري کوي، بیابه خلق په داسې کس باندې اتفاق اوکړي یعنی خپل امیر به ئې جوړ کړي لکه کوناټې په یوې پوهټۍ باندې اوددینه پس به د دهیماء فتنه

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٦٣٩) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٧٣٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٣/٢) (صحيح)

راشي هغه به هيڅوک بغير د مرګ نه نه پريږدي بياچه کله خلق دا وئيل شروع کړي چه فساد شروع شو نوبيابه دسحر په وخت کښې دغه فتنه نوره هم لويه شي په دې کښې به حال داسې وي چه يوکس به دسحر په وخت کښې مومن وي اوماښام به کافر شي تردې پورې چه خلق به ددوه خيموطرف ته راجع شي يوه خيمه به دايماندارو وي په دوی کښې به هيڅوک منافق نه وي اودويمه خيمه به دمنافقانو وي په دوی کښې به څوک ايماندار نه وي کله چه دا فتنه پيدا شي نوپه همدې ورځ يادبنه دوه ورځې پس دډجال دراتلو انتظار وکړئ.

قوله:﴿سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ كُنَّا قُعُودًا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَذَكَرَ الْفِتَنَ فَأَكْثَرَ فِي ذِكْرِهَا حَتَّى ذَكَرَ فِتْنَةَ الأَحْلاَسِ .....الخ﴾

دا د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حديث دې چه په هغې کښې لوئې لوئې درې فتنې شمار کړې شوې دی، هغوی فرمائی چه يوه ورځ مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو هغوی په دې مجلس کښې د فتن ذکر اوکړو، ډيرې فتنې رسول الله ﷺ ذکر اوفرمائيلې تر دې چه د هغه فتنو ذکر ئې هم اوکړو (کومې چه وړاندې راوی بيانوی) فتنة الاحلاس، يو سائل تپوس اوکړو يا رسول الله ﷺ فتنة الاحلاس څه ده؟ وې فرمائيل منډې تړې او لوټ مار، هرب او حرب دواړه په فتحين سره ضبط کړې شوې دی. هرب يعنی د بعضو د بعضو نورو نه تختيدل د دشمنئ د وجې نه، او حرب يعنی ناحق د نورو مال او اولاد باندې قبضه کول.

د فتنة الاحلاس مصداق:

رسول الله ﷺ د فتنة الاحلاس دا تفسير اوفرمائيلو، احلاس د حلس جمع ده هغه بوريا يا ټاټ کوم چه د قالين وغيره نه لاندې په زمکه باندې خورولې شی کوم چه د ډيرې مودې پورې خور وی، پورته څادر خو بدليږی، په دې کښې ګويا اشاره ده د دې فتنې اوږدوالی او ډيرې مودې پورې کيدو ته، د دې په باره کښې حضرت په بذل کښې ليکلې دی: والذی اظن انها فتنة حدثت فی آخر خلافة عثمان بن عفان رضي الله عنه وثارت بين المسلمين حتی تمادت وبقيت الی زمن خلافة معاوية رضي الله عنه واتفاق الناس عليه بعد صلح الامام حسن بن علی رضي الله عنهما، يعنی د دې نه مراد غالبا د مقتل سيدنا عثمان رضي الله عنه فتنه مراد ده، د سيدنا عثمان رضي الله عنه په آخر د خلافت کښې چه کومو شرونو سر اوچت کړو د مصر بدمعاشانو د عثمان رضي الله عنه په بعض انتظاماتو باندې اعتراضات اوکړو تردې چه د هغوی خلاف ئې محاذ قائم کړو، او دې خلقو په مدينه طيبه کښې د هغوی د کور نه محاصره اوکړه تر دې چه د هغوی قتل او شهادت ته خبره اورسيده. او بيا په دې باندې مرتب کيدونکې دويمه فتنه جنګ جمل او جنګ صفين تر دې چه د حسن رضي الله عنه د معاويه رضي الله عنه سره په صلح کولو باندې واپس سکون پيدا شو.

د دې نه پس دويمه فتنه کومه چه په دې حديث کښې ذکر ده هغې ته ﴿ فتنة السراء ﴾ وئيلې شی، علامه سندی فرمائی ﴿ السراء ﴾ النعماء ای فتنة سببها سرور الناس بکثرة النعم او لانها تسر الاعداء لوقوع الخلل فی المسلمين....... يعنی هغه فتنه چه د هغې سبب وقوع کثرت د فتوحات او د مال و دولت کثرت، او د خلقو سرور او د عيش ژوند کښې مست کيدل دی، او يا دې ته سراء په دې وجه وئيلې شوې ده چه په مسلمانانو کښې به د نقص او

خلل پیدا کیدو د وجې نه د هغوی د دشمنانو دپاره د خوشحالئ سبب وی.
﴿ دخنها ﴾ یعنی د دې فتنې ابتداء او اشتعال به د داسې سړی د قدمونو لاندې وی کوم چه به زما د اهل بیت نه وی چه د هغه به دعوی وی د اهل بیت نه د کیدو حال دا چه حقیقة به هغه زما نه نه وی، یعنی د خپل کردار او احوال په اعتبار سره اګر چه نسبا زما نه وی، ځکه چه زما کور والا او زما ملګری خو په اصل کښې هغه خلق دی چه متقیان وی، بیا به د هغه سړی په دور کښې خلق (هغه لره لرې کولو سره) صلح اوکړی په یو نا اهل باندې. چه د هغه په نا اهلئ باندې رسول الله ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم په تشبیه سره پوهه کړل، ﴿ کورک علی ضلع ﴾ لکه کوناټې چه کیخودلې شی (یعنی وزنی څیز) په پښتئ باندې، ښکاره خبره ده چه پښتئ اودرولې شی او په هغې باندې وزنی څیز کیخودلې شی نو هغه به ئې برداشت نه کړې شی، او هغه به خوزی.

د فتنة السراء په باره کښې د حضرت سهارنپوری (رح) رائې :

اوس دا چه دا کومې خاص فتنې ته اشاره ده؟ په دې باره کښې د حضرت سهارنپوری رحمه الله رائې کومه چه حضرت په بذل المجهود کښې لیکلې ده چه د دې نه مراد د شریف حسین فتنه مراد ده کومه چه په رمضان ١٣٣٤ هجری کښې په مکه مکرمه کښې پیښه شوې وه، یعنی په کومه زمانه کښې چه په حجاز کښې د ترکیانو حکومت وو نو هغه وخت د مکه مکرمه امیر شریف حسین وو هغه سره انګریزانو تعلق جوړ کړو په لکهونو اشرفئ ئې ورله رشوت ورکړو او د ترکیانو خلاف ئې بغاوت ته تیار کړو. پس هغه بدوانو ته لالچ ورکړو او ترک فوج کوم چه په مکه مکرمه کښې مقیم وو هغوی ئې د بدو په ذریعه اوژل او د خپلې خود مختارئ اعلان کولو سره ئې حکومت شروع کړو او خپل ځان ته ئې ملک الحجاز وئیلو. د هغه دا حکومت تقریبا لس کاله وو او د هغه په دور کښې بدامنی وه، بیا د هغه نه روستو د حسین په ځوی علی باندې صلح اوشوه خو د هغه نه د حکومت نظام او نه چلیدې شو، ﴿ ثُمَّ يَصْطَلِحُ النَّاسُ عَلَى رَجُلٍ كَوَرِكٍ عَلَى ضِلَعٍ ﴾ په هغه باندې صادق راغلو. (بذل) په هغه وخت کښې چه کله دا فتنه شروع شوه، حضرت سهارنپوری رحمه الله په حجاز کښې تشریف فرما وو.

(د حضرت خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله درې مقبول دعاګانې)

په تذکرة الخلیل کښې لیکلې دی چه حضرت سهارنپوری رحمه الله په ملتزم شریف باندې درې دعاګانې کړې وې یو دا چه دلته په حجاز کښې امن قائم شی، دویم دا چه زما تصنیف بذل المجهود پوره شی، دریمه دا چه ماته د مدینې طیبې خاوره نصیب شی یعنی د هغه ځائې وفات، پس د بذل المجهود په مدینه طیبه کښې تکمیل هم اوشو او د حضرت په حیاة کښې په حجاز کښې امن قائم شو، حضرت به فرمائیل چه د دریمې دعا د قبلیدو د الله پاک نه توقع ده، پس د حضرت دریمه دعا هم بحمد الله قبوله شوه او په مدینه طیبه کښې هم هلته وفات کیدو سره په بقیع کښې د قبه اهل بیت سره د څو قدمو په فاصله باندې نزدې مدفون شو. د دې نه پس په حدیث کښې دریمه فتنه د فتنة الدهیماء په نوم سره مذکور ده، دهیماء تصغیر دې د دهماء په معنی د سوداء یعنی توره تیارهٔ فتنه، او تصغیر په دې کښې د تعظیم

دپاره دي او وئيلې شي چه د مذمت دپاره دي، د کوم په باره کښې چه رسول الله ﷺ فرمائي: ﴿لَا تَدَعُ أَحَدًا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ﴾ چه دا فتنه به د دې امت په افرادو کښې يو هم پرينږدي بغير د سپيړې ورکولو نه، يعنې هر سړې به د هغې د ضرر نه متاثر کيږي. په دې فتنه کښې بعض ورځو کښې سکون ليدو سره بعض خلق وائي ﴿انقضت﴾ چه بس اوس ختم شوه خو ناڅاپه به بيا اودريږي. او هم دا سلسله به روانه وي. د خلقو په احوالو کښې به ډير په سرعت سره انقلاب پيدا کيږي، که سحر يو سړې مسلمان وي او د ايمان په حالت کښې هغه صبا کړې دې نو هم هغه سړې به په داسې حال کښې ماښام کړي چه هغه به کافر شوې وي. د مومن کيدو نه مراد د خپل مسلمان رور ناحق قتل لره حرام ګڼړل دي، او د کفر نه مراد د هغه قتل لره حلال ګڼړل دي. د خلقو په احوالو کښې به اختلاف او تغير پيدا کيدو کيدو سره دا صورت پيښ شي چه خلق به په دوه فرقو کښې تقسيم شي، يو به د ايمان والو وي خالص بغير د نفاق نه، او يو فرقه به د خالص نفاق وي چه په هغې کښې به د ايمان لړه حصه هم نه وي د دې په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائي چه کله احوال دې حده پورې اورسيږي نو بيا هم په دغه ورځ يا د هغې نه په بله ورځ باندې د خروج دجال انتظار کول پکار دي.

د فتنة الدهيماء مصداق:

د دې فتنة الدهيماء په باره کښې حضرت شيخ دا ليکلي دي چه شاه ولي الله رحمه الله دا فتنه د چنګيز خان په فتنه باندې محمول کړې ده، د چنګيز خان فتنه په تاريخ کښې ډيره مشهوره ده، د تاريخ طرف ته دې رجوع اوکړې شي. (۱)

---

(۱) **د چنګيزخان فتنه**: د تاريخ د يو کتاب نه مونږ لږ شان رانقل کوو: د محمد خوارزم شاه په زمانه کښې د منګوليا نه تر چين پورې يو سړې چنګيزخان (۱۲۰۲ء نه تر ۱۲۲۷ء) پورې يو زبردست حکومت قائم کړې وو او چين ئې هم فتح کړې وو، دا د منګوليانو حکومت وو کوم چه د منګوليا اوسيدونکي وو، دا منګول کافر ډير وحشي بدمعاش او خونخوار وو، چنګيزخان د ښه ښه جامو شوقي وو او دا جامې چونکه په اسلامي دنيا کښې جوړيدې په دې وجه هغه يو ځل څه تاجران خوارزم ته اوليږل، محمد خوارزم شاه هغوي لره جاسوس ګڼړلو سره قتل کړل. په دې باندې چنګيزخان سخت غصه شو خبره وه هم د غصې سوداګرو لره بغير د څه ګناه نه قتل کول د انصاف خبره نه ده. چنګيز خان د دې جواب طلب کړو خو خوارزم شاه د هغه قاصد هم قتل کړو. بس اوس څه وو چنګيز خان د وحشي منګوليانو زبردست فوج واخستلو او د خوارزم شاه په بادشاهت باندې ئې حمله اوکړه. دغه شان د خوارزم شاه په وجه باندې اسلامي دنيا د يوې لوئې تباهۍ سره مخ شو که خوارزم شاه داسې ظلم نه وې کړې نو وحشي منګوليانو به حمله نه وې کړې. د هغه په لږه شان غلطۍ سره به لکهونو انسانانو ته نقصان اورسيدو خو د تولو نه بده خبره دا اوشوه چه محمد خوارزم شاه د چنګيز خان سره جنګ خو شروع کړو خو چه کله هغه حمله اوکړه نو يو خائې کښې ئې هم ميدان ته راتلو سره د هغه مقابله اونکړه هغه داسې په ويره اخته شو چه چرته ئې هم مقابله اونکړه، چنګيزخان پرله پسې ښهرونه فتح کړل، او هغه ترې نه وراندې مندې وهلې، ترڅو چه د بحر خضر په يو جزيره ابسکون کښې ئې پناه واخستله او هم هلته په ۶۱۷ هجرۍ ۱۲۲۰ء کښې مړ شو. د محمد خوارزم نه پس د هغه ځوئې جلال الدين خوارزم شاه چه ډير بهادر وو. د مقابلې کولو کوشش اوکړو هغه تر خو کلونو پورې د منګوليانو سره جنګيدلو خو هغه هم کامياب نه شو، د منګوليانو دې حملې ډيره تباهي راوړه، سمرقند، بخارا، خوارزم، بلخ او نيشاپور نه غرض د اسلامي دنيا هغه ټول ښهرونه کوم چه په وسط ايشيا او ايران کښې وو هغوي برباد کړل. د خلقو قتل عام ئې اوکړو په ښهرونو کښې ئې اور......له

او حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې د دې فتنې په باره کښې دا ليکلې دی چه دا فتنه به د ظهور مهدی نه لږه مخکښې موندلې شی او د عيسى عليه السلام د نزول پورې به روانه وی. اهـ يعنی بيا به عيسى عليه السلام چه د هغوی سره به امام مهدی رحمه الله هم شامل وی په دجال پسې شی تر دې چه هغه به قتل کړی. حضرت چه څه ليکلې دی چه د دې فتنې وقوع به په آخر زمانه کښې وی د هغې طرف ته د دې حديث د دې لفظ نه هم اشاره ملاويږی. ﴿ فاذا كان ذلك فانتظروا الدجال من يومه او من غده ﴾

[٤٢٤٤] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ نَصْرِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ سُبَيْعِ بْنِ خَالِدٍ، قَالَ: أَتَيْتُ الْكُوفَةَ فِي زَمَنٍ فُتِحَتْ تُسْتَرُ أَجْلُبُ مِنْهَا بِغَالًا، فَدَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا صَدْعٌ مِنَ الرِّجَالِ وَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ تَعْرِفُ إِذَا رَأَيْتَهُ أَنَّهُ مِنْ رِجَالِ أَهْلِ الْحِجَازِ، قَالَ: قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ فَتَجَهَّمَنِي الْقَوْمُ، وَقَالُوا: أَمَا تَعْرِفُ هَذَا؟ هَذَا حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ صَاحِبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ حُذَيْفَةُ: إِنَّ النَّاسَ كَانُوا يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَيْرِ، وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ، فَأَحْدَقَهُ الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ، فَقَالَ: إِنِّي قَدْ أَرَى الَّذِي تُنْكِرُونَ، إِنِّي قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ هَذَا الْخَيْرَ الَّذِي أَعْطَانَا اللَّهُ أَيَكُونُ بَعْدَهُ شَرٌّ كَمَا كَانَ قَبْلَهُ؟ قَالَ: نَعَمْ، قُلْتُ: فَمَا الْعِصْمَةُ مِنْ ذَلِكَ؟ قَالَ: السَّيْفُ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ثُمَّ مَاذَا يَكُونُ، قَالَ: إِنْ كَانَ لِلَّهِ خَلِيفَةٌ فِي الْأَرْضِ، فَضَرَبَ ظَهْرَكَ وَأَخَذَ مَالَكَ فَأَطِعْهُ وَإِلَّا فَمُتْ وَأَنْتَ عَاضٌّ بِجِذْلِ شَجَرَةٍ، قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: ثُمَّ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ مَعَهُ نَهْرٌ وَنَارٌ فَمَنْ وَقَعَ فِي نَارِهِ وَجَبَ أَجْرُهُ وَحُطَّ وِزْرُهُ، وَمَنْ وَقَعَ فِي نَهْرِهِ وَجَبَ وِزْرُهُ وَحُطَّ أَجْرُهُ، قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: ثُمَّ هِيَ قِيَامُ السَّاعَةِ".

د سبيع بن خالد رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زه دلستر مقام دفتح په وخت کښې کوفې ته راغلم اود دغه ځای نه مې قچرې بوتلې زه جومات ته داخل شوم او اوې کتل چه څه خلق در ميانه قد والا اوخه حبشيان را جمع شوې دی او ناست دی او يوکس ددوی په مينځ کښې ناست دې دهغه په ليدلوسره به دامعلوميده چه دې د حجاز باشينده دې، مادخلقونه تپوس اوکړو داځوک دی؟ په دې تپوس سره خلق برګ برګ شول او وئې وئيل آيا ته د نه پيژنې داځوحذيفه بن يمان دې اودنبی عليه السلام صحابي دې، حذيفه بن يمان د اووئيل خلقو به دنبی عليه السلام نه دخير دخبرو تپوسونه کول اومابه ورنه دشر په باره کښې معلوماتونه حاصلول په دې اوريدوسره خلقوده ته په غور اوکتل هغه اووئيل زه په دې خبر يم چه په څه وجه باندې تاسو داخبرې نبی نه ګنړئ، ماعرض اوکړو اې دالله رسوله الله تعالى چه موږ ته کوم خير اوکاميابي راکړې ده ايا ددينه پس به شر وي لکه څنګه چه ددينه مخکښې شر وو؟ نبی عليه السلام

↰... اولګولو، د ښهرونو ابادئ ئې اوسيزلې او په لږه موده کښې د اسلامی دنيا يو لويه حصه وررانه او تباه شوه. مسجدونه، کتب خانې او مدرسې ټولې بربادې کړې شوې، د بخارا او سمرقند چه د هغې د آبادئ اندازه د لسو لاکهو پورې کيدلې شی بالکل تباه کړې شو، په خوارزم کښې د قتل عام نه پس منګوليانو د دريانې جيحون بند مات کړو چه په هغې سره پوره ښهر به اوبو کښې ډوب شو، چنګيزخان د خوارزم شاه د بادشاهت د تباه کولو سره سره د همدان او د آذربائيجان ټولو ښهرون لړه تباه کولو سره منګوليا ته واپس لاړو او څه موده پس مړ شو، خو پنځوس کاله پس د هغه نمسی هلاکو خان يو قدم زيات راوچت کړو هغه په بغداد باندې د قبضې کولو اراده اوکړه کوم چه د اسلامی دنيا د ټولو نه لوئې ښهر وو. ملت اسلاميه کې مختصر تاريخ ٣٦٦/١)

١: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٣٣٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المناقب ٢٥ (٣٦٠٦)، صحيح مسلم/الإمارة ١٣ (١٨٤٧)، سنن ابن ماجه/الفتن ١٣ (٢٩٨١)، مسند احمد (٣٨٦/٥، ٤٠٣، ٤٠٤، ٤٠٦) (حسن)

اوفرمائیل هو. مابیاعرض اوکړو ددې شرنه به بچ کیدل څنګه وي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل په توره باندې، مابیاعرض اوکړو اې دالله رسوله ددینه پس به څه کیږي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل که چرې دالله تعالی کوم خلیفه ستاملا ماتوي اوستامال لوټ کوي نوبیابه هم دهغه فرمانبرداري کوي اوکه چرې هیڅوک خلیفه نه وي نو په ځنګل کښې دیوي وفنې لاندې پټ شه او مړ شه، ماعرض اوکړو ددینه پس به څه وي یعنی څه به پیښیږي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل بیابه دجال راشي دهغه سره به نهرهم وي او اور به هم وي څوک چه دده اورته داخل شي نودالله په نزد دده دپاره ثواب اولیکلې شو اوګناه ئې معاف شوه او څوک چه ددجال خبره اومني اودهغه نهرته داخل شي نودهغه ګناه ثابته شوه اوثواب ئې برباد شو ما بیاعرض اوکړو اې دالله رسوله ددینه پس به څه پیښیږي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل بیابه قیامت قائم شي.

قوله:﴿ عَنْ سُبَيْعِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ أَتَيْتُ الْكُوفَةَ فِي زَمَنٍ فُتِحَتْ تُسْتَرُ أَجْلُبُ مِنْهَا بِغَالاً فَدَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا صَدْعٌ مِنَ الرِّجَالِ وَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ تَعْرِفُ إِذَا رَأَيْتَهُ أَنَّهُ مِنْ رِجَالِ أَهْلِ الْحِجَازِ قَالَ قُلْتُ مَنْ هَذَا فَتَجَهَّمَنِي الْقَوْمُ وَقَالُوا أَمَا تَعْرِفُ هٰذَا؟ هَذَا حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ صَاحِبُ رَسُولِ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم ﴾

دسبیع بن خالد یشکری نه روایت دې هغوی وائی چه په کومه زمانه کښې تستر ښهر فتح شو نو زه کوفې ته راغلم هلته نه د خچرو د بوتلو دپاره. تستر معرب دې د شوستر کوم چه د کاخوزستان یو لوئې ښهر دې په خلافت فاروقی کښې فتح شو د چه فاتح ئې ابوموسی اشعری رضی الله عنه دې. هغوی فرمائی چه زه د کوفې یو مسجد ته داخل شوم نو هلته مې د خلقو یو جماعت اولیدو، او د هغوی په مینځ کښې مې یو سړې ناست اولیدو چه د هغه په لیدو باندې دا اندازه کیده چه هغه د اهل حجاز نه دې، ما دغه مجلس ته رسیدو سره دا تپوس اوکړو چه دا صاحب څوک دې؟ یعنی د چا نه چه ګیر چاپیره خلق ناست دی، خلقو ماته په کږو سترګو اوکتل او وې وئیل دوی نه پیژنې دا حذیفه بن الیمان صحابی رسول ﷺ دې.

قوله:﴿ فَقَالَ حُذَيْفَةُ إِنَّ النَّاسَ كَانُوا يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الْخَيْرِ وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ فَأَحْدَقَهُ الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ فَقَالَ إِنِّي قَدْ أَرَى الَّذِي تُنْكِرُونَ ﴾

مضمون حدیث او د اوږد حدیث شرح :

سبیع وائی چه زه هم په دغه مجلس کښې شریک شوم (د حذیفه رضی الله عنه د خبرو اوریدلو دپاره نو په دې کښې ما د هغوی نه واوریدل چه) نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم خو به د رسول الله ﷺ نه د خیر په باره کښې تپوس کولو او زما عادت دا وو چه ما به د هغوی نه د شر د خبرو تپوسونه کول، یعنی د راپیښیدونکې فتنو په باره کښې، د حذیفه رضی الله عنه په دې جمله باندې ټول خلق د هغوی طرف ته متوجه شو او د ټولو سترګې د هغوی په طرف شوې په طور د تعجب، په دې باندې حذیفه رضی الله عنه اوفرمائیل چه زه ستاسو د طرف نه لږ شان تعجب محسوس کوم (که تعجب کوئ او که هر څه کوئ زما حال خو هم دا وو او بیا ئې هم دا قسم حدیث بیانول شروع کړل)

قوله:﴿ إِنِّي قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ هَذَا الْخَيْرَ الَّذِي أَعْطَانَا اللّٰهُ أَيَكُونُ بَعْدَهُ شَرٌّ كَمَا كَانَ قَبْلَهُ قَالَ

«نَعَمْ» چه یو ځل ما د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو چه یا رسول اللهﷺ ماته خبر راکړئ چه دا خیر او عافیت او امن او نیکی وغیره کومه چه الله پاک مونږ ته راکړې ده آیا د دې نه پس به بیا شر راځی څنګه چه د دې نه مخکښې وو، یعنی فسق وفجور او فتنه او فساد؟ نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل: او وی به.......

قوله: قُلْتُ فَمَا الْعِصْمَةُ مِنْ ذَلِكَ قَالَ « السَّيْفُ ». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ثُمَّ مَاذَا يَكُونُ قَالَ « إِنْ كَانَ لِلَّهِ خَلِيفَةٌ فِي الأَرْضِ فَضَرَبَ ظَهْرَكَ وَأَخَذَ مَالَكَ فَأَطِعْهُ وَإِلاَّ فَمُتْ وَأَنْتَ عَاضٌّ بِجِذْلِ شَجَرَةٍ »

ما تپوس اوکړو چه بیا به د دې فتنې نه د بچ کیدو څه صورت وی؟ رسول اللهﷺ اوفرمائیل : توره.... یعنی قتال بالسیف او جهاد، ما بیا د هغوی نه تپوس اوکړو چه یا رسول اللهﷺ بیا به څه وی؟ نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل دوه صورتونه دی که په دغه وخت کښې د مسلمانانو څوک خلیفه اوموندلې شی نو تاسو د هغوی اطاعت کولو سره د ښهر ژوند اختیاروئ اګر که هغه خلیفه په تاسو باندې هر څومره ظلم او زیاتې کوی او که ددې نه علاوه بل حالت وی یعنی په دنیا کښې د مسلمانانو څوک خلیفه پاتې نه شی او مسلسل فتنې موندلې شی نو تاسو په داسې حال کښې ژوند تیروئ چه د ښهر اوسیدل پریخودلو سره د ځنګل د یوې اونې جرړې مضبوطې اونیسه او هلته اوسیږه، یعنی په فتنه کښې د شرکت کولو په ځائې د ښهر اوسیدل هم پریږده، چرته چه فتنې دی، او ځانله کیدو سره د صحرا استوګنه اختیار کړه او ترمرګه پورې هلته اوسیږه.

قوله: قُلْتُ ثُمَّ مَاذَا قَالَ « ثُمَّ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ مَعَهُ نَهْرٌ وَنَارٌ فَمَنْ وَقَعَ فِي نَارِهِ وَجَبَ أَجْرُهُ وَحُطَّ وِزْرُهُ وَمَنْ وَقَعَ فِي نَهْرِهِ وَجَبَ وِزْرُهُ وَحُطَّ أَجْرُهُ »

ما تپوس اوکړو بیا به څه وی؟ وې فرمائیل چه بیا به دجال راوځی چا سره به چه دوه نهرونه وی یو د اوبو او دویم د اور، یعنی د اوبو نهر او د اور خندق، پس څوک چه د هغه اور ته غورځیدل اختیار کړی د هغه اجر به د الله پاک په نزد ثابت شی او ګناه به ئې معاف شی او څوک چه د هغه د اوبو نهر اختیار کړی نو د هغه ګناه به ثابت شی او نیکیانې به ئې ټولې بربادې شی، یعنی د دجال چه کله خروج اوشی نو چونکه هغه به د خپل اولوهیت دعوی کوی او بیا به هغه عجیب عجیب خرق عادت امور ښودلو سره د خلقو مخکښې ثابتوی، او د هغوی مخې ته به دا خبره ږدی چه کوم سړې زما اولوهیت منی نو د هغه دپاره خو د اوبو نهر دې او څوک چه نه تسلیم کوی زما خدائی نو د هغه دپاره دا د اور خندق دې چه په دې کښې به ئې واچوم.

په یو بل حدیث کښې دی چه تاسو دا اور اختیار کړئ ځکه چه کوم اور لره دجال (او نور خلق) اور ګنړی هغه اور نه دې بلکه اوبه دی او کوم چه هغوی اوبه ګنړی هغه اوبه نه دی بلکه اور دې، ﴿فَأَمَّا الَّذِي يَرَى النَّاسُ أَنَّهَا النَّارُ فَمَاءٌ بَارِدٌ وَأَمَّا الَّذِي يَرَى النَّاسُ أَنَّهُ مَاءٌ بَارِدٌ فَنَارٌ تُحْرِقُ فَمَنْ أَدْرَكَ مِنْكُمْ فَلْيَقَعْ فِي الَّذِي يَرَى أَنَّهَا نَارٌ فَإِنَّهُ عَذْبٌ بَارِدٌ﴾ او په یو روایت کښې دی ﴿لأَنَا بِمَا مَعَ الدَّجَّالِ أَعْلَمُ مِنْهُ الخ﴾ یعنی دجال سره چه کوم څیزونه دی سیدنا حذیفهؓ د هغې په باره کښې فرمائی چه د هغه څیزونو حقیقت باندې څومره زه پوهیږم دومره پرې هغه

خپله هم نه پوهيږي.

قوله:﴿ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَاذَا قَالَ « ثُمَّ هِيَ قِيَامُ السَّاعَةِ » ﴾ يعنی د خروج الدجال او د هغه د قتل نه پس به کوم چه به په نزول د عيسیؑ سره اوشی، بيا به قيامت راشی، د اشراط الساعة احاديث وړاندې مستقل راروان دی، په دې حديث کښې لکه څنګه چه تاسو وينئ، حذيفهؓ د رسول اللهﷺ نه د راتلونکی حالاتو په باره کښې مسلسل تپوس کړې دې او رسول اللهﷺ هم دغه شان مسلسل جواب ورکړې دې او په دې کثرت سوال سره رسول اللهﷺ کله هم خفه شوې نه دې بلکه په خپل کامل جواب سره ئې هغه مطمئن کولو، يقينا دا څيز بغير د کمال شفقت او همدردئ نه نه شی کيدې. رسول اللهﷺ د خپل ځان په باره کښې خپله فرمائی:

قوله:﴿ انما انا لكم بمنزلة الوالد اعلمكم دينكم ﴾ الله پاک دې مونږ ته د رسول اللهﷺ حق پيژندګلو رانصيب کړی. جزی الله سيدنا ومولانا محمدا عنا بما هو اهله.

> [٤٢٤٥]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ نَصْرِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ خَالِدٍ الْيَشْكُرِيِّ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: قُلْتُ بَعْدَ السَّيْفِ، قَالَ: بَقِيَّةٌ عَلَى أَقْذَاءٍ وَهُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ، قَالَ: وَكَانَ قَتَادَةُ يَضَعُهُ عَلَى الرِّدَّةِ الَّتِي فِي زَمَنِ أَبِي بَكْرٍ عَلَى أَقْذَاءٍ يَقُولُ قَذًى وَهُدْنَةٌ يَقُولُ: صُلْحٌ عَلَى دَخَنٍ عَلَى ضَغَائِنَ.

همدا حديث دخالد يشکری نه هم منقول دې ليکن په دې روايت کښې داسې دی چه: حذيفه عرض اوکړو اې دالله رسوله بيابه دتورې نه پس څه وې يعنی څه به پيښيږی؟ نبیﷺ اوفرمائيل انسانان به وې ليکن ددوی په زړونو کښې به فتنه او فساد وې اوددينه پس ئې حديث تر آخره پورې بيان کړو، قتاده و به توره په هغه فتنه باندې حمل کوله کومه فتنه چه دابوبکر صديق په زمانه کښې راغلې وه کله چه دعربو څه قبيلې ددين نه ګرځيدلې وې اودزکات ورکولو نه ئې انکار کړې وو بيا دغه خلق دتورې په سبب تابعدار جوړ شول او دروعلی اقذاء،، نه مراد دادې چه په ګندګئ باندې به وې اودهدنة نه مراد صلح ده اود دخن نه مراد کينه ده.

قوله:﴿ عن خالد بن خالد اليشكرى بهذا الحديث ﴾

دا د حديث مذکور دويم طريق دې په اول سند کښې ابوعوانه عن قتاده وو، او په دې کښې معمر عن قتاده دې او دا خالد بن خالد هم هغه سبيع بن خالد دې کوم چه په اول سند کښې تير شو د نصر بن عاصم استاد، هم دغه شان په کتب رجال (تقريب وغيره) کښې دی چه سبيع بن خالد ته خالد بن خالد هم وئيلې شی.

قوله:﴿ قَالَ قُلْتُ بَعْدَ السَّيْفِ قَالَ « بَقِيَّةٌ عَلَى أَقْذَاءٍ وَهُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ » ﴾

يعنی سيدنا حذيفهؓ فرمائی چه ما تپوس اوکړو چه د سيف نه پس به څه وی؟ نو رسول اللهﷺ دا جواب اوفرمائيلو او په رومبی روايت کښې چه کله د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړې شو چه د سيف نه پس به څه وی نو هغوی فرمائيلې وو: ﴿ ان كان لله تعالى خليفة فى

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٣٠٧) (حسن)

الارض الخ ﴾ او د دې جملې مطلب کوم چه دلته ذکر دې دا دې چه د سیف نه پس به په دنیا کښې څه خیر باقی وی خو هغه به خالص نه وی بلکه د خس و خشاک سره به وی، یعنی مکدر او غیر خالص.

قوله: الاقذاء هو جمع قذی وهو ما یقع فی العین والشراب من غبار.

قوله:﴿ وهدنة علی دخن ﴾ یعنی څه صلح به باقی پاتې شی. دخن یعنی ضغن په معنی د کینې، یعنی په ظاهر کښې به صلح او صفائی شوې وی خو دننه به پکښې کینه وی،

قوله:﴿ قَالَ كَانَ قَتَادَةُ يَضَعُهُ عَلَى الرِّدَّةِ الَّتِي فِي زَمَنِ أَبِي بَكْرٍ رضی الله عنه﴾

د یضعه.... ضمیر هغه شر طرف ته راجع دې کوم چه په اول حدیث کښې ذکر دې په دې قول کښې چه ﴿ ارایت هذا الخیر الذی اعطانا الله تعالی ایکون بعده شر ﴾ راوی وائی چه زمونږ استاد قتاده به دا شر محمول کولو په هغه فتنة د ارتداد باندې کومه چه د ابوبکرصدیق رضی الله عنه په زمانه کښې پیښه شوې وه چه د هغې علاج هغوی په سیف باندې کړې وو، پس ابوبکرصدیق رضی الله عنه په دې موقع باندې صرف سیف استعمال کړې وو، خو په دې کښې دا اشکال دې چه په حدیث کښې دا دی چه کله د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه د سیف نه پس به څه وی نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه لږ شان خیر به باقی پاتې شی او هغه هم غیر خالص، خړ شان، حال دا چه د خلفاء راشدینو زمانه خصوصا د شیخین رضی الله عنهما هغه خو خالص د خیر زمانه وه. د دې دوه جوابونه کیدې شی : الاول ان یقال ان هذا بالنسبة الی زمن النبی ﷺ....... یعنی وو خو خالص خیر خو د رسول الله ﷺ د زمانې په اعتبار سره داسې وو څنګه چه انس رضی الله عنه فرمائی چه ﴿ ما نفضنا ایدینا حتی انکرنا قلوبنا ﴾ چه لا مونږ د رسول الله ﷺ د دفن کولو نه پس لاسونه هم نه وو صفا کړې چه په خپلو زړونو کښې مو تغیر بیا موندلو، او یا دې دا تاویل اوکړې شی چه بعد دې په بعدیت فصلیه باندې حمل کړې شی نه په متصله باندې، یعنی فورا پس مراد نه دې بلکه په راروانه زمانه کښې.

د حدیث په شرح کښې د ګنګوهی رحمه الله رائې :

خو د ګنګوهی رحمه الله رائی د قتاده رحمه الله د رائې په مقابله کښې داده چه دا شر دې په ځائې د ردة محمول کړې شی په قتل عثمان رضی الله عنه باندې.او په دې صورت کښې به د سیف نه مراد د قاتلین عثمان رضی الله عنه سره قتال مراد کړې شی. [1] حضرت سهارنپوری رحمه الله هم په بذل کښې د دې رائې تائید فرمائیلې دې.

﴿ يَقُولُ قَذًى ﴾ راوی وائی چه اقذاء کوم چه پورته ذکر شوې دې بقیة علی اقذاء دا د قذی جمع ده. او قذی وائی هغه بسری وغیره ته کوم چه په سترګه کښې پریوځی.

﴿ وَهُدْنَةٌ يَقُولُ صُلْحٌ ﴾ یعنی د هدنة معنی د صلح ده. ﴿ عَلَى دَخَنٍ عَلَى ضَغَائِنَ ﴾ یعنی د دخن معنی ضغینه ده یعنی کینه، چه د هغې جمع ضغائن راځی.

---

[1] کوم چه اختیار نه کړې شو حال دا چه حل د دې هم هغه وو د دې حدیث په رڼا کښې، ماشاء الله کان وما لم یشاء لم یکن)

[٤٢٤٦] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ الْمُغِيرَةِ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ نَصْرِ بْنِ عَاصِمٍ اللَّيْثِيِّ، قَالَ: أَتَيْنَا الْيَشْكُرِيَّ فِي رَهْطٍ مِنْ بَنِي لَيْثٍ، فَقَالَ: مَنِ الْقَوْمُ؟ قُلْنَا: بَنُو لَيْثٍ أَتَيْنَاكَ نَسْأَلُكَ عَنْ حَدِيثِ حُذَيْفَةَ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ؟ قَالَ: فِتْنَةٌ وَشَرٌّ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ بَعْدَ هَذَا الشَّرِّ خَيْرٌ؟ قَالَ: يَا حُذَيْفَةُ تَعَلَّمْ كِتَابَ اللهِ وَاتَّبِعْ مَا فِيهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ بَعْدَ هَذَا الشَّرِّ خَيْرٌ؟ قَالَ: هُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ وَجَمَاعَةٌ عَلَى أَقْذَاءٍ فِيهَا أَوْ فِيهِمْ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ الْهُدْنَةُ عَلَى الدَّخَنِ مَا هِيَ؟ قَالَ: لَا تَرْجِعُ قُلُوبُ أَقْوَامٍ عَلَى الَّذِي كَانَتْ عَلَيْهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَبَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ؟ قَالَ: فِتْنَةٌ عَمْيَاءُ صَمَّاءُ عَلَيْهَا دُعَاةٌ عَلَى أَبْوَابِ النَّارِ، فَإِنْ تَمُتْ يَا حُذَيْفَةُ وَأَنْتَ عَاضٌّ عَلَى جِذْلٍ خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَتَّبِعَ أَحَدًا مِنْهُمْ.

دنصر بن عاصم لليثی ﷺ نه روایت دې فرمائی چه مونږ دلیث قبیلې یوڅوکسانوسره یشکري ته راغلو هغه تپوس اوکړو څوک یئ؟ مونږ اووئیل مونږ بنی لیث یو ، مونږ تاته دحذیفه بن یمان ، د روایت دمعلومات حاصلولو په باره کښې راغلې یو هغه حدیث بیانول شروع کړل تردې چه دائې اووئیل حذیفه بن یمان اووئیل ماعرض اوکړواې دالله رسوله ایاددې شرنه پس به خیر وي؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل فتنې به وي او شرونه به وي ماببیاعرض اوکړو اې دالله رسوله ایاددغه فتنو اوشرونونه پس به دخیر دور راځی نبی علیه السلام اوفرمائیل اې حذیفه دالله تعالی کتاب و یادکړه او په دې کښې چه څه دي ددې تابعداری وکړه اوداخبره ئې درې ځله اوفرمائیله، ددینه پس ماببیاعرض اوکړو ایاددې شرنه پس به بل خیر وي؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل زړونه به دکینونه ډک شي مګرظاهري صلح به وي ،اوبائې داسې اوفرمائیل چه په درې کښې به یوجماعت په شر باندې وي ماعرض اوکړو اې دالله رسوله ددې جملې څه مفهوم دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل دقوم زړونه به دې کیفیت طرف ته نه راځی په کوم باندې چه مخکښې وو، راوی وائی ماببیاعرض اوکړو اې دالله رسوله ایاداسې قسم خیرد دور نه پس به شر وي نبی علیه السلام اوفرمائیل رنده اوګنړه فتنه به راځی په دې کښې به داور دروازونه رابلونکي وي ، اې حذیفه که چرې ته مرې نوپداسې حالت کښې مړ شه چه دیوي وفي زیلي په ځنګل کښې جویوه اوخوره ئې دا ستادپاره بهتردې ددینه چه ته ددغه خلقو تابعداری وکړې.

قوله: ﴿قَالَ أَتَيْنَا الْيَشْكُرِيَّ فِي رَهْطٍ مِنْ بَنِي لَيْثٍ﴾ دا یشکری هم هغه دې کوم چه پورته راغلې دې یعنی خالد بن خالد.

قوله: ﴿قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَبَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ قَالَ: فِتْنَةٌ عَمْيَاءُ صَمَّاءُ عَلَيْهَا دُعَاةٌ عَلَى أَبْوَابِ النَّارِ﴾ په دې طریق کښې دا زیادت دې چه ﴿بقية على اقذاء وهدنة على دخن﴾ نه پس صحابی تپوس اوکړو چه د دې خیر نه پس به بیا شر وی؟ نو رسول الله ﷺ جواب اوفرمائیلو: ﴿فتنة عمياء الى اخره﴾ یعنی داسې فتنه چه رنده او کنړه به وی، د فتنې صفت عمیاء او صماء اشاره ده د هغې سخت والی او تیرې ته. چه هغه فتنه به داسې وی چه انسان ته به حق په نظر نه راځی چه هغه په کوم کښې دې، او په دې فتنه کښې غورځیدونکې به بالکل کاڼړه وی نصیحت او کلمهٔ د حق به بالکل نه اوری.

(¹): انظر حدیث رقم: (٤٢٤٥)، (تحفة الأشراف: ٣٣٠٧) (حسن)

د﴿ عليها دعاة ﴾ مطلب دا دې چه څو دې فتنې لره قائمونکي وی او نورو ته به هم دعوت ورکوی په دې کښې د شرکت حال دا چه هغه دعوت ورکونکي به د جهنم په دروازو باندې ولاړ وی، يعنې په اعتبار د انجام، يعنې خلقو ته به د داسې څيز طرف ته دعوت ورکوی کوم چه به هغوی لره د جهنم طرف ته بوځی.

د دې نه پس رسول الله ﷺ سيدنا حذيفه رضی الله عنه ته اوفرمائيل چه اې حذيفه دا به هغه زمانه وی چه په هغې کښې به د انسان عزلت او ګوټ کښې کيناستل اولی وی په نسبت د دې چه په دې فتنه کښې د شرکت کونکو ډلو نه د يوې اتباع اوکړی. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

[٤٢٤٧] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا أَبُو التَّيَّاحِ، عَنْ صَخْرِ بْنِ بَدْرٍ الْعِجْلِيِّ، عَنْ سُبَيْعِ بْنِ خَالِدٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، عَنْ حُذَيْفَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَإِنْ لَمْ تَجِدْ يَوْمَئِذٍ خَلِيفَةً فَاهْرُبْ حَتَّى تَمُوتَ فَإِنْ تَمُتْ وَأَنْتَ عَاضٌّ، وَقَالَ فِي آخِرِهِ، قَالَ: قُلْتُ: فَمَا يَكُونُ بَعْدَ ذَلِكَ؟ قَالَ: لَوْ أَنَّ رَجُلًا نَتَجَ فَرَسًا لَمْ تُنْتَجْ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ.

دحذيفة بن يمان رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی که چرې په دغه ورځو کښې تاته خليفه ملاو نه شي نو لرې لاړ شه او اوتښته تردې چه تاته مرګ راشي که چرې تاته په داسې حالت کښې مرګ راشي چه ته درنو پانړې خوري نو دا استاد پاره بهتردې ، ددې روايت په آخر کښې دې فرمائی چه ماعرض اوکړو بيابه ددينه پس څه وي؟ نبی ﷺ اوفرمائيل که چرې يو کس دخپل اس بچي پيدا کول او غواړي نو دخپل اس بچي به ئې پيدا کړې نه وي اوقيامت به راشي.

قوله: ﴿ وَقَالَ فِي آخِرِهِ قَالَ قُلْتُ فَمَا يَكُونُ بَعْدَ ذَلِكَ ؟قَالَ « لَوْ أَنَّ رَجُلًا نَتَجَ فَرَسًا لَمْ تُنْتَجْ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ » ﴾ د حديث حذيفه رضی الله عنه په دې طريق کښې يو بل زيادت دې کوم چه په رومبو طرقو کښې نه وو هغه دا چه هغوی تپوس اوکړو چه د دې نه پس به بيا څه وی نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دې وخت کښې به قيامت دومره رانزدې شوې وی چه که يو سړې د خپلې اسپې د بچي زيږولو دپاره اودريږي نو او به ئې نه زيږولي شي چه قيامت به راشي.

[٤٢٤٨] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ رَبِّ الْكَعْبَةِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ فَلْيُطِعْهُ مَا اسْتَطَاعَ، فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا رَقَبَةَ الْآخَرِ، قُلْتُ: أَنْتَ سَمِعْتَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي، قُلْتُ: هَذَا ابْنُ عَمِّكَ مُعَاوِيَةُ يَأْمُرُنَا أَنْ نَفْعَلَ وَنَفْعَلَ، قَالَ: أَطِعْهُ فِي طَاعَةِ اللَّهِ وَاعْصِهِ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ".

دعبد الله بن عمرو نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی چاچه ديو امام سره بيعت اوکړو اودهغه په لاس کښې ئې خپل لاس کيخودو، اودهغه سره ئې دزړه په صدق اقرار وکړو نو څومره چه کيدې شي دهغه تابعداری دې وکړي، خوکه چرې بل کس دخان نه امام

(١): انظر حديث رقم : ٤٢٤٤، (تحفة الأشراف: ٣٣٣٢) (حسن)

(٢): صحيح مسلم/الإماره ١٠ (١٨٤٤)، سنن النسائي/البيعة ٢٥ (٤١٩٦)، سنن ابن ماجه/الفتن ٩ (٣٩٥٦)، (تحفة الأشراف: ٨٨٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦١/٢، ١٩١، ١٩٣) (صحيح)

جوړ کړي اوددغه امام سره جګړه کوي نوده لره قتل کړئ، عبدالرحمن وائي مادعبدالله نه تپوس اوکړو چه ایا تا دا دنبی ﷺ نه آوریدلی دی هغه اووئیل یقینا زمادواړه غوږونو آوریدلی دی او زما زړه دا یاد کړي دي ماعرض اوکړو ستا دتره ځوي معاویه مونږ ته حکم کوي چه مونږ فلانې فلانې کار وکړو عبدالله اووئیل په هغه کار کښې دده تابعداری وکړئ په کوموکښې چه دالله تعالی تابعداری کیږی او په کومو کارونوکښې چه دالله تعالی نافرمانی کیږی په هغې کښې دده تابعداری مه کوئ.

دا د مثال په طور ده او مطلب دا دې چه هغه وخت به قیامت دومره رانزدې شوې وی چه کوم سړې په کوم کار کښې هم لګیدلې وی هغه به پوره نه کړې شی چه قیامت به راشی.

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ فَلْيُطِعْهُ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا رَقَبَةَ الآخَرِ » ﴾

یعنی رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه کوم انسان د یو امام سره بیعت اوکړو، وړاندې د بیعت مفهوم ذکر دې چه خپل لاس ئې د هغه په لاس کښې ورکړو او د خپل قلب ثمره ئې هغه ته ورکړه یعنی په اخلاص سره ئې هغه سره بیعت اوکړو نو اوس هغه له پکار دی چه د خپل وس مناسب دې د هغه امام اطاعت کوی (فی غیر معصیة الله تعالی) پس که په داسې حال کښې دویم انسان راشی او د خلافت په باره کښې د دې امام اول سره جنګ شروع کړی نو د هغه سټ اوهئ. عبدالرحمن بن عبد وائی چه ما تپوس اوکړو چه آیا واقعی تاسو دا حدیث د رسول اللهﷺ نه اوریدلې دې؟ نو هغوی اوفرمائیل چه زما غوږونو دا حدیث د رسول اللهﷺ نه اوریدلې دې (او بله دا چه) زما قلب محفوظ کړې دې. عبدالرحمن وائی چه بیا ما د هغوی نه تپوس اوکړو چه دا ستاسو د ترۀ ځوئې معاویهﷺ مونږ ته د دې حکم کوی چه مونږ داسې اوکړو او هغه شان اوکړو، یعنی د علیﷺ سره منازعت او مقاتله، حال دا چه علیﷺ مصداق دې د ﴿ من بایع اماما ﴾ او معاویهﷺ مصداق دې د ﴿ فان جاء اخر ینازعه ﴾؟ دا سوال داسې ګران وو چه د هغې جواب هم ګران دې چه دواړو طرفونو ته صحابه دی. خو عبدالله بن عمرو بن العاصﷺ هم ډیر هوښیار وو، هغوی څه فیصله او نه فرمائیله بلکه د قاعده کلیه په طور ئې اوفرمائیل ﴿ اطعه فی طاعة الله واعصه فی معصیة الله ﴾ چه د هغې حاصل دا دې چه که معاویه وی یا بل څوک اصلی خبره هم دا ده چه په حق خبره کښې د یو حکم کونکی د حکم اطاعت کول دی او په معصیت او ناحق امر کښې عدم اطاعت.

په مشاجرات صحابهﷺ باندې د ګنګوهیؒ تقریر:

دلته په بذل المجهود کښې د حضرت ګنګوهی د تقریر نه د بعض مشاجرات صحابه لکه د علی او معاویهﷺ ترمینځه او هم دغه شان د یزید او د عبدالله بن زبیرﷺ ترمینځه، هم دغه شان د سیدنا حسینﷺ په طرز عمل باندې یو مختصر او جامع بیان دې چه په هغې کښې د دې اختلافاتو په اسباب ومناشی باندې د خلاصې په طور رڼړا اچولې شوې ده چه د هغې مطالعه د دې مشاجراتو نه د خبریدو دپاره ډیره مفید ده.

والحدیث اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجه مطولا بمعناه قاله المنذری.

[٤٢٤٩] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ شَيْبَانَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ أَفْلَحَ مَنْ كَفَّ يَدَهُ".

ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت بيانوي چه فرمائيلي ئې دي: بربادي دي وي دعربو دپاره دهغه فتنې نه کومه چه رانږدې شوي ده ، يقينا کامياب به شي هغه څوک چه ددې نه خان بچ اوساتي.

قوله:﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ أَفْلَحَ مَنْ كَفَّ يَدَهُ »﴾ يعنى خرابى او خساره ده د عربو دپاره د هغه شر او فتنې د وجې نه کومه چه نږدې راتلونکې ده، هغه سړې به کامياب وى کوم چه خپل ځان په هغې کښې د شرکت کولو نه منع کړى.

علامه طيبى فرمائي چه يا خو په دې حديث کښې اشاره ده قتل د عثمان (رض) طرف ته او څه چه د هغې نه پس پيښ شول د على او معاويه رضي الله عنهما ترمينځه، يا د دې نه مراد قضيه د يزيد ده کومه چه د حسين رضي الله عنه سره راپيښه شوې ده.

الشطر الاول من الحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي من حديث زينب بنت جحش رضي الله عنها مطولا، منذري مختصرا.

[٤٢٥٠] (٢) قَالَ أَبُو دَاوُد: حُدِّثْتُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُوشِكُ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلَاحِ".

امام ابوداؤد فرمائي چه ماته دابن وهب نه حديث بيان شوي دي هغه دجرير نه هغه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه فرمائي چه نبى کريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى هغه وخت وين رافردي شوي دي چه مسلمانان به مدينه منوره محاصره کړي شي تردې چه دټولونه زياته فاصله به دصلاح مقام پورې وي يعنى دکوم ځائې پورې په دوى اثر در مسير هغه به سلاح مقام وي (سلاح د خيبر مره ذره ديومقام نوم دي).

قوله:﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ حُدِّثْتُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ « يُوشِكُ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلاَحَ »﴾

دا مستقل حديث دي کوم چه وړاندې په "باب المعقل من الفتنة" کښې راروان دې او هم د دې مقام مناسب هم دې د هغې تشريح به هم هلته کولې شي.

[٤٢٥٢] (٣) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ زَوَى لِي الْأَرْضَ، أَوْ قَالَ: إِنَّ رَبِّي

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٤١٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/ الفتن ١ (٢٨٨٠)، سنن ابن ماجه/ الفتن ٩ (٣٩٥٣)، مسند احمد (٢/٣٩٠، ٣٩١، ٤٤١، ٥٣٦، ٥٤١) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٨١٨) وأعاده المؤلف في الملاحم (٤٢٩٩) (صحيح)

(٣): صحيح مسلم/الإمارة ٥٣ (١٩٢٠)، والفتن ٥ (٢٨٨٩)، سنن الترمذي/الفتن ١٤ (٢١٧٦)، سنن ابن ماجه/الفتن ٩ (٣٩٥٢)، (تحفة الأشراف: ٢١٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٧٨، ٢٨٤) سنن الدارمي/المقدمة ٢٢ (٢٠٥) (صحيح)

زَوَى لِي الْأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنَّ مُلْكَ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا وَأُعْطِيتُ الْكَنْزَيْنِ الْأَحْمَرَ وَالْأَبْيَضَ، وَإِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي أَنْ لَا يُهْلِكَهَا بِسَنَةٍ بِعَامَّةٍ وَلَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ، وَإِنَّ رَبِّي قَالَ لِي: يَا مُحَمَّدُ إِنِّي إِذَا قَضَيْتُ قَضَاءً فَإِنَّهُ لَا يُرَدُّ وَلَا أُهْلِكُهُمْ بِسَنَةٍ بِعَامَّةٍ وَلَا أُسَلِّطُ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مِنْ بَيْنِ أَقْطَارِهَا، أَوْ قَالَ: بِأَقْطَارِهَا حَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ يُهْلِكُ بَعْضًا، وَحَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ يَسْبِي بَعْضًا، وَإِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الْأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ وَإِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ وَحَتَّى تَعْبُدَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي الْأَوْثَانَ وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَلَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الْحَقِّ"، قَالَ ابْنُ عِيسَى: ظَاهِرِينَ ثُمَّ اتَّفَقَا لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ.

دثوبان ﷛ نه روایت دې فرمائي چه رسول الله بن فرمائیلی دی الله تعالی زما دپاره زمکه راټوله کړې ده او ماته ددې مشرق اومغرب وښودني شول او یقینا زمادامت حکومت به دهغه ځایونو پورې ورسیږي کوم چه ماته دجمع کولونه راوښودلي شول او ماته سپیني اوسرې خزاني راکړې شوي دي د سپین زر اوسره زر، ماخپل پروردګارته عرض اوکړو چه زما امت به په یوعام قحط باندې نه هلاکوي او په دوی به داسې دشمن نه مسلط کوي کوم چه ددوینه نه وي اوددوی جرړې اوباسي (یعنی بالکل دین اسلام برباد کړي اوڅوک مسلمان پاتې نه شي زمارب ماته اوفرمائیل اې محمد زه چه کله حکم وکړم نوهغه نه واپس کیږي اوزه به ستا امتیان په یو عام قحط باندې نه هلاکوم او په دوی به داسې دشمن نه مسلط کوم کوم چه به ددوینه نه وي چه ددوی جرړې اوباسي اګر که په دوی باندې دټولي دنیاکافران حمله وکړي خوستا امتیان به پخپل مینځ کښې یو بل لره هلاکوي اوقید کوي به ئې اوزه پخپل امت کښې دګمراه کونکو حاکمانو اوامامانونه ډیر پریږم کله چه زماپه امت کښې توره چلیږي نوددوی نه به دقیامته پورې توره پورته نکړې شي اودهغه وخته پورې به قیامت نه راځي ترڅوچه زمادامت خلق د مشرانوسره یوځای شوي نه وي اوتردې پورې چه زمادامت خلقو دبتانو عبادت نوي شروع کړې او نزدې ده چه زماپه امت کښې به دیرش دروغژنان پیداشي په دوی کښې به هریوکس دا دعوي کوي چه زه نبی یم حالانکه زه دانبیاو سلسلي لره ختمونکې یم زمانه پس بل نبی نشته او زما په امت کښې به یوه ډله همیشه په حق باندې وي ، ابن عیسی وئیلی دی چه همیشه به غالبه وي څوک چه ددوی مخالفت کوي هغه به دوی ته هیڅ نقصان نشي رسولې تردې پورې چه دالله تعالی حکم یعنی قیامت قائم شي.

قوله: ﴿ عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ اللَّهَ زَوَى لِيَ الأَرْضَ » أَوْ قَالَ « إِنَّ رَبِّي زَوَى لِيَ الأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنَّ مُلْكَ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا وَأُعْطِيتُ الْكَنْزَيْنِ الأَحْمَرَ وَالأَبْيَضَ ﴾

شرح الحديث:

د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه الله پاک ټوله زمکه راټوله کړه او زما مخې ته ئې کړه پس ما ددې په مشرقونو او مغربونو کښې هر څه اولیدل.

د راټولولو نه مراد، که دا په حقیقت باندې محمول کړې شي نو مختصر کول دي، لکه چه د غټې آبادئ نقشه په يو وړوکی کاغذ باندې جوړه کړې شي او يا د دې نه مراد خلق او ادراک دې يعنی د دې علم راته راکړې شو. وړاندې رسول اللهﷺ فرمائی چه زما د امت حکومت او بادشاهی به هغه ځائې ته رسيږی د کوم ځائې پورې چه دا زمکه زما مخې ته کړې شوې ده، د امت نه مراد امت اجابت دې يعنی مسلمان، او د ملک نه مراد يا خو حکومت دې او يا آبادی او د مسلمانانو خوريدل، او د حکومت مطلب دا نه دې چه په يو وخت کښې ئې په پوره مکه باندې حکومت شی بلکه په مختلفو وختونو کښې تر قيامته پورې. او ماته دوه خزانې راکړې شوې دی سره او سپينه، يعنی مقدر کړې شوې دی زما د امت دپاره کومې چه به نزدې هغوی ته ملاؤ شی، په سور او سپين سره يا خو اشاره فارس او روم ته ده او يا شام او فارس طرف ته ده، پس په مظاهر حق ۳/۰۰۰ کښې دی : يعنی د سرو او سپينو زرو، يعنی يو خو د کسری خزانه چه بادشاه دې د فارس هلته سرهٔ زر ډير زيات دی او يو د قيصر خزانه چه بادشاه دې د روم او هلته چاندی ډيره ده، او په اشعة اللمعات کښې په دې باندې اضافه ده چه د بعض علماء کرامو رائې دا ده چه د احمر نه مراد ملک شام دې ځکه چه د هغه ځائې د خلقو رنګونه سرهٔ دی او د ابيض نه مراد ملک فارس دې ځکه چه د هغه ځائې د خلقو رنګونه سپين دی.[1] او ليکلې ئې دی چه اول معنی زياته ظاهره ده. بله دا چه په دې دواړو کتابونو کښې د ملک تفسير په بادشاهئ سره کړې شوې دې، د پوره حديث ترجمه دا ده :

رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه بيشکه الله پاک راټوله کړه زما دپاره زمکه، يعنی د تلی په شان ئې راته اوښودله پس اوليدل په دې کښې ما د هغې مشرقونه او مغربونه، يعنی ټوله زمکه مې اوليده، او بيشکه زما امت نزدې دې چه اورسيږی د هغوی بادشاهی هغه فاصلې ته چه يو ځائې کړې شوې ده زما دپاره د زمکې نه، يعنی په مغرب او مشرق کښې به بادشاهان شی او نصرت به اوکړی، او راکړې شوې دی ماته دوه خزانې سره او سپينه، او بيشکه ما اوغوښتل د خپل رب نه چه هلاک ئې نه کړی په قحط عام سره، يعنی داسې قحط دې رانشی چه ټول امت هلاک کړی، او دا چه مسلط دې نه کړی په دوی باندې دشمن سوا د مسلمانانو نه، يعنی کافر، چه مباح اوګڼړی او واخلی ځائې د هغوی د جمع کيدو او د بادشاهئ يعنی داسې اونشی چه دشمن د هغوی د استوګنې ځائې واخلی، او ټول اوژنی يعنی د هغوی جمعيت او اکثريت ختم کړی او بيشکه فرمائيلې دی زما رب چه اې محمدﷺ يقينا چه کله زه حکم اوکړم د يو امر پس بيشکه هغه نه ستنيږی، او يقينا ما درکړو تاته خپل عهد ستا د امت دپاره، يعنی د امت اجابت دپاره چه نه به هلاکوم هغوی په قحط عام سره او نه دا چه مسلط کړم په دوی باندې څوک دشمن سوا د مسلمانانو نه چه

---

[1]) پس حاصل داچه کوم شارحينو داحمر او ابيض نه سره زر اوسپين زر مراد اخستې دی هغوی د احمر مصدار فارس اود ابيض مصداق روم ګرځولې دې، اوچا چه د احمر او ابيض نه دهغه ځائ د اوسيدونکو رنګ مراد اخستې دې هغوی داحمر مصداق ملګ شام او د ابيض مصداق فارس ګرځولې دې.

هغه مباح اوګنړي هغه ځائي کوم چه د هغوی د استوګنې وی اګر چه راجمع شی په هغوی باندې هغه خلق کوم چه د زمکې په ټولو طرفونو کښې دی، یعني اګر چه کافر د ټول جهان راجمع شی هغوی سره د جنګ کولو دپاره، تر دې چه ستا په امت کښې بعضو لره هلاک کړي او بعضو لره قید کړي، یعني کافر به په هغوی باندې غلبه او تسلط نه شی حاصلولی، او ټول ملک د اسلام به نه شی اخستلې، خو که ستا امت خپل مینځ کښې جنګ اوکړي او بعضې به بعضو لره قید کړي، هم دغه شان د الله پاک قضاء او تقدیر الهی مقرر شو، هرګز به پکښې تغیر او تبدل بیا نه مومي. (مظاهرحق)

قوله:﴿ وَإِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ ﴾

د رسول الله ﷺ د اهل بدعت نه د دینی ضرر سخته ویره :

او بله دا چه زما د خپل امت په باره کښې زیاته ویره د هغه مشرانو نه ده کوم چه به خلقو لره ګمراه کونکی وی، یعني بدعت چلونکی او د اهل بدعت مشران کوم چه به خپله هم ګمراهان وی او نور خلق به هم ګمراه کوی د دین په نوم باندې.

قوله:﴿ وَإِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ او کله چه زما په امت کښې یو ځل توره اوچلیږي یعني د مسلمانانو خپل مینځ کښې خانه جنګی نو بیا به د دې سلسله ترقیامته پورې ختم نه شی، پس د عمرفاروق رضی الله عنه د ژونده پورې خپل مینځ کښې د جنګ سلسله نه وه شروع شوې، د دې نه پس ناخوښه آثار پیدا کیدل شروع شو او سیدنا عثمان رضی الله عنه په قتل سره د هغې په ښه طریقه باندې ظهور اوشو.

قوله:﴿ وَلاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ وَحَتَّى تَعْبُدَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي الأَوْثَانَ ﴾

او قیامت به قائم نه شی تر دې چه شامل به شی زما د امت ډیر قبائل د مشرکینو سره یا خو په دې کښې اشاره ده د هغوی ارتداد ته کومه چه په خلافت صدیقی کښې بیا موندلې شوه او یا کوم چه د مغرب په ممالکو کښې په اندلس کښې اوشو [1] چه کله هلته د نصاراو غلبه مکمل شوه نو ډیرو مسلمانانو د هغه ځائي نه هجرت اوکړو او ډیر کوم چه هلته پاتې شو د هغوی نه جبرا نصاری جوړ کړې شو، او تر دې چه زما د امت بعض قبائل به د بتانو عبادت اوکړي، د بتانو د عبادت نه یا خو اشاره ده قبرپرستئ طرف ته کوم چه مبتدعین کوی او یا اشاره ده هغه حقیقی بت پرستئ ته کومه چه به په آخر زمانه کښې واقع کیږي چه د هغې طرف ته په یو بل حدیث کښې رسول الله ﷺ اشاره فرمائیلې ده: ﴿ لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَضْطَرِبَ أَلَيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ عَلَى ذِي الْخَلَصَةِ ﴾ رواه البخاری ومسلم، یعني قیامت به نه قائمیږي ترڅو چه د قبیله دوس د زنانو کوناتې حرکت اونه کړي په ذوالخلصه باندې،

[1] د تاریخ اسلام دا ډیره افسوسناکه واقعه شوې ده چه چرته د مسلمانانو تقریبا تر د اتو سوو کلونو پورې حکومت وو خو خپل مینځ کښې د اختلاف په وجه باندې دا ورځ هم اولیدې شوه په مزه مزه ټول مسلمانان جلا وطن کړې شو، چرته چه لوئې لوئې ائمه ابن حزم، ابن عبدالبر، ابو الولید الباجی، قاضی عیاض وغیره پیدا شول او د علومو مناره ئې روښانه کړه، او لوئې لوئې ښهرونه قرطبه، اشبیلیه، سبته، ملیله وغیرها ئې په علوم او فنون سره آباد کړل هغه ټول د مسلمانانو د لاس نه اوتل، اعادها الله بالسلامة والعافية الى المسلمين. حبیب الله)

ذوالخلصه د یو مشهور بت کدې نوم دی، او د اضطراب سرین نه مراد د هغه زنانو د دې بت نه ګیرچاپیره تاویدل دی او طواف کول مراد دی، یعنی ترڅو چه دوباره بت پرستی شروع نه شی (بذل، بتصرف) د ذوالخلصه ذکر په (درمنضود کښې) کتاب الجهاد کښې په باب فی بعثة البشراء کښې تیر شوې دې.

قوله: ﴿ وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلاَثُونَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لاَ نَبِيَّ بَعْدِي ﴾

او یقینا زما په امت کښې به دیرش دروغژن موندلې شی کوم چه به د خپل نبوت دعوی کوی، حال دا چه زه خاتم النبیین یم زما نه پس به هیڅ نبی نه راځی. په ترمذی کښې د ابوهریره رضی الله عنه په روایت باندې د ﴿ قریب من ثلاثین ﴾ لفظ راغلې دې.

لعین قادیان غلام احمد:

حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه تر دې زمانې پورې ډیر په هغوی کښې ښکاره شوې هم دی، لکه چه په موجوده زمانه کښې د غلام احمد قادیانی ظهور شوې دې د پنجاب په اړخونو کښې په قادیان ښهر کښې کوم چه د امرتسر په مضافاتو کښې دې ﴿ فادعی انه مهدی، وانه المسیح وانکر نزول المسیح، وادعی ان عیسی بن مریم علیهما السلام توفی وقبره فی کشمیر ﴾ وړاندې حضرت فرمائی چه کیدې شی بعض د دې دیرشو نه باقی وی، او که په دیرشو باندې د دې عدد زائد هم شی نو د دې حدیث خلاف به نه وی ﴿ لان مفهوم العدد لا یعتبر وفی هامش الترمذی عن اللمعات والدجال الاکبر خارج عن هذا العدد لانه یدعی الالوهیة وبه فارق الدجالین اهـ ﴾ [1]

قوله: ﴿ وَلاَ تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ لاَ يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ ﴾

دحدیث پاک دا آخری ټکړه په کتاب الجهاد باب دوام الجهاد کښې تیره شوې ده، ددې شرح

---

[1] په دې حدیث شریف کښې د رسول الله ﷺ وصف خاص خاتم النبیین کیدل ذکر دی کومه چه د عقائد اسلامیه یو بنیادی عقیده ده چه په هغې باندې د اعتقاد او یقین نه بغیر د چا اسلام بالکل غیر معتبر دې کوم چه د نص قطعی (قران کریم) او احادیث صحیحه متواتره نه ثابت دې چه د هغې دپاره د یو مستقل تصنیف کولو هرګز ضرورت نشته، خو د بعض بددین او جاهل ګمراهانو خلقو د اصلاح دپاره په دې مسئله باندې علماء حق مستقل تالیفات اوکړل او مناظرو ته خبره اورسیده. حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله په معارف القرآن کښې ۱۶۳/۷ په آیت کریمه ﴿ ما کان محمدا ابا احد من رجالکم ولکن رسول الله وخاتم النبیین ﴾ د لاندې لیکلې دی چه د رسول الله ﷺ خاتم النبیین کیدل او د هغوی آخری پیغمبر کیدل او د هغوی نه پس د بل پیغمبر دنیا ته نه مبعوث کیدل او د هر مدعی نبوت کاذب او کافر کیدل داسې مسئله ده چه په هغې باندې د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ترنن ورځې پورې د هر دور د مسلمانانو اتفاق او اجماع ده، په دې وجه ضرورت نه وو چه په دې باندې څه تفصیلی بحث کړې شوې وې، خو قادیانی ډلې په دې مسئله کښې د مسلمانانو په زړونو کښې د شکوک او شبهاتو د پیدا کولو دپاره ډیر زور لګولې دې، په سوونو واړه او لوئی کتابونه شائع کولو سره نې د کم علمه خلقو د ګمراه کولو کوشش کړې دې په دې وجه احقر په دې مسئله باندې د پوره تفصیل دپاره یو مستقل کتاب، ختم نبوت لیکلې دې چه په هغې کښې د سلو آیتونو او د دوه سوه نه زیات احادیثو او اقوال او آثار سلف وخلف سره دا مسئله واضحه کړې شوې ده او د قادیانی شبهې تفصیلی جواب ورکړې شوې دې اهـ

دې هلته او کتلي شي. والحديث اخرجه مسلم والترمذي مختصرا وابن ماجه بتمامه، قاله المنذري.

[۴۲۵۳] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ ابْنُ عَوْفٍ، وَقَرَأْتُ فِي أَصْلِ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنِي ضَمْضَمٌ، عَنْ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ يَعْنِي الْأَشْعَرِيَّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ أَجَارَكُمْ مِنْ ثَلَاثِ خِلَالٍ: أَنْ لَا يَدْعُوَ عَلَيْكُمْ نَبِيُّكُمْ فَتَهْلَكُوا جَمِيعًا، وَأَنْ لَا يَظْهَرَ أَهْلُ الْبَاطِلِ عَلَى أَهْلِ الْحَقِّ، وَأَنْ لَا تَجْتَمِعُوا عَلَى ضَلَالَةٍ".

دابو مالک اشعري ﷺ نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي الله تعالى تاسو د درې قسمه افتونونه محفوظ کړي يئ يو ددينه چه دالله تعالى ئي تاسوته خيرې وکړې اوبيا تاسو ددې خبرو په وجه باندې هلاک شئ دويم داچه باطل فرست به هيڅ کله په حق فرستونه غالب کيږی دريم داچه تاسو به ټول نه ګمراه کيږې.

قوله: ﴿عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ – قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « إِنَّ اللَّهَ أَجَارَكُمْ مِنْ ثَلَاثِ خِلَالٍ أَنْ لَا يَدْعُوَ عَلَيْكُمْ نَبِيُّكُمْ فَتَهْلِكُوا جَمِيعًا وَأَنْ لَا يَظْهَرَ أَهْلُ الْبَاطِلِ عَلَى أَهْلِ الْحَقِّ وَأَنْ لَا تَجْتَمِعُوا عَلَى ضَلَالَةٍ »﴾

مضمون الحديث :

رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه الله پاک تاسو يعنی امت محمديه د درې څيزونو نه محفوظ ساتلی ئې يو دا چه ستاسو نبی ﷺ به ستاسو دپاره داسې بددعاء نه کوی چه په هغې سره تاسو ټول تباه شئ (په خلاف د تيرو امتونو کوم چه د خپل طغيان او سرکشئ په وجه باندې او د خپل نبی په بدعاء سره تباه او برباد شو) دويم څيز دا چه هرګز به داسې نه وی چه اهل باطل دې په اهل حق باندې غالب راشی، يعنی بالعموم په ټول اهل حق باندې او که په يو خاص موقع باندې اهل باطل په بعض اهل حق باندې غالب راشی نو د هغې نفی نه ده. او دريم دا چه تاسو به ټول په ټول په ضلالت باندې نه متفق کيږئ، دا ضلالت عام دې علی الظاهر. که هغه د عقيدې په لحاظ وی او که د مسائل فرعيه په لحاظ پس دا مشهوره ده چه دا حديث د اجماع امت د حجت شرعيه کيدو دليل دې.

[۴۲۵۴] (²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ نَاجِيَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "تَدُورُ رَحَى الْإِسْلَامِ لِخَمْسٍ وَثَلَاثِينَ أَوْ سِتٍّ وَثَلَاثِينَ أَوْ سَبْعٍ وَثَلَاثِينَ فَإِنْ يَهْلَكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ وَإِنْ يَقُمْ لَهُمْ دِينُهُمْ يَقُمْ لَهُمْ سَبْعِينَ عَامًا، قَالَ: قُلْتُ: أَمِمَّا بَقِيَ أَوْ مِمَّا مَضَى، قَالَ: مِمَّا مَضَى"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: مَنْ قَالَ خِرَاشٍ فَقَدْ أَخْطَأَ.

دعبدالله بن مسعود ﷺ نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی داسلام جرنده به پنځه دريش کاله يا شپږ ديرش کاله يا اوه ديرش کاله ګرځي بياکه چرې خلق هلاک شي نوددې لار به ددوينه دمخکنوخلقو په شان وي اوکه چرې ددوی دپاره ددوی دين قايم کړې شو نوددوی دپاره به تر اويا کالوپورې قائم وي، راوی وائی ما عرض اوکړو ايا دراتلونکي زمانې په نسبت که دتيرې شوي زمانې په نسبت نبی ﷺ اوفرمائيل دتير شوي زمانې په

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۵۵) (ضعيف) حديث كا آخري جمله (وأن لا تجتمعوا الخ) صحيح.
(²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۱۸۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۳۹۰، ۳۹۳، ۳۹۵) (صحيح)

نسبت، ابوداؤدفرمائی که چرې څوک د حراش په ځائې باندې خراش اووائی نو دا خطاده.

قوله:﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « تَدُورُ رَحَى الإِسْلاَمِ لِخَمْسٍ وَثَلاَثِينَ أَوْ سِتٍّ وَثَلاَثِينَ أَوْ سَبْعٍ وَثَلاَثِينَ فَإِنْ يَهْلِكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ وَإِنْ يَقُمْ لَهُمْ دِينُهُمْ يَقُمْ لَهُمْ سَبْعِينَ عَامًا »﴾

شرح الحديث :

د عبدالله بن مسعود ﷺ نه روایت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه د اسلام میچن به روانه وی تر د پنځو دیرشو کالو پورې یا د شپږ دیرشو کالو پورې یا د اووۀ دیرشو کالو پورې، د دوران رحی دوه مطلبه کیدې شی یو خو دا چه د اسلام میچن به صحیح روانه وی یعنی ددې نظام به صحیح قائم وی،یو معنی خو دا شوه یعنی قیام الاسلام علی حسن النظام.
دویم مطلب ئې دا کیدې شی چه د رحی نه مراد واخستلې شی رحی الحرب، یعنی په اسلام کښې د جنګ میچن تاویدل، په اول صورت کښې به مطلب دا وی چه د اسلام قیام به په حسن نظام سره تر د پنځه دیرشو کالو پورې باقي وی، او په دویم صورت کښې به ئې مطلب دا وی چه په اسلام کښې به د جنګ د میچن ګرځیدو سلسله د پنځو دیرشو کالو نه پس شروع کیږی، یعنی په اول صورت کښې به بقاء مراد وی او په دویم صورت کښې به ابتداء. کوم کلونه چه په دې حدیث کښې ذکر دی د هغې نه مراد د نبوت کلونه هم کیدې شی او د هجرت کلونه هم، که سنه هجری مراد کړې شی نو په ۳۵ هجری کښې مقتل عثمانﷺ دې یعنی د هغوی د شهادت واقعه او د نبوت کال مراد کیدو په صورت ۳۵ کاله پس د خلافت عمرﷺ انقضاء ده، ځکه چه ۳۵ کاله مطابق کیږی د ۲۳هجری سره په کوم چه د عمرﷺ شهادت اوشو، لهذا وئیلې کیدې شی د اول مطلب په اعتبار سره چه د خلافت عمریﷺ پورې هغه روښانه دور مونډلې شوې دې، او د دویمې معنی په اعتبار سره به دا وئیلې شی چه په ۳۵ هجرئ سره به په اسلام کښې د جنګ سلسله شروع شی ځکه چه مقتل عثمانﷺ په ۳۵ هجرئ کښې دې. دریم قول د دې حدیث په شرح کښې دا هم دې چه په دې حدیث کښې اشاره د خلافت راشده طرف ته ده د کوم په باره کښې چه رسول اللهﷺ فرمائیلې وو ﴿ الخلافة بعدی ثلاثون سنة ﴾ چه خلافت راشده به زما نه روستو تر دیرشو کالو پورې باقی وی، دا دیرش کاله د علیﷺ د خلافت په اختتام باندې پوره کیږی ځکه چه د علیﷺ شهادت په ۴۰ هجرئ کښې دې او د رسول اللهﷺ وفات د ۱۰ هجری نه پس د یولسمې هجرئ په شروع کښې او چونکه رسول اللهﷺ ﴿ بعدی ﴾ فرمائیلې وو نو په دې وجه د دې دیرشو کالو ابتداء به د ۱۱ هجرئ نه وی. مجموعه د لسو او دیرشو څلویښت کاله شو، په کوم چه د علیﷺ وفات دی.

وراندې په حدیث کښې دوه کلونه نور ذکر دی شپږدیرش او اووۀ دیرش، پس په ۳۲ هجری کښې جنګ جمل دې او په ۳۷ هجری کښې جنګ صفین پیښ شوې دې. د دې نه پس رسول اللهﷺ اوفرمائیل ﴿ فان یهلکوا الخ ﴾ په دې مذکوره موده کښې دوه احتماله دی یو خو به د خلقو دین قائم وی یا به نه وی که دین ئې قائم نه وی د کوم نه چه په حدیث کښې په

هلاکت سره تعبیر کړې شوې دې، ﴿ فَإِنْ يَهْلِكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ ﴾ چه د هغوی نه پس به د خلقو هم هغه انجام وی کوم چه د مخکښې هلاک شوې یعنی د کفارو شو، او که دین باقی وی نو د اویا کالو نه زیات به باقی نه پاتې کیږی. ﴿ قُلْتُ أَمِمَّا بَقِيَ أَوْ مِمَّا مَضَى قَالَ « مِمَّا مَضَى » ﴾ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه راوی حدیث د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه دا اویا کاله به د ذکر کړې شوې پنځه دیرشو کالو نه علاوه وی یا که د هغې سره؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د هغې نه علاوه نه د هغې سره، لهذا مطلب دا شو چه په شروع کښې چه رسول الله ﷺ د کومو پنځه دیرشو کالو ذکر فرمائیلې وو په هغې باندې ئې صرف د پنځه دیرشو کالو نوره اضافه اوکړه، د پنځو دیرشو دوچند اویا شو.

دا مطلب د ﴿ فَإِنْ يَهْلِكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ ﴾ هغه دې کوم چه عام شارحینو اختیار کړې دې چه د هغې مبنی دا ده چه دې حضراتو شارحینو د هلاکت معنی لغوی یعنی د دین په تباهئ او بربادئ باندې محمول کړې ده په دې وجه د ﴿ من هلک ﴾ مصداق شارحینو تیر کفار گرزولی دی. او د حضرت گنگوهی رحمه الله د تقریر نه معلومیږی چه هغوی دا هلاکت په هلاکت حسیه باندې محمول کړې دې یعنی فناء او مرګ یعنی که د پنځه دیرشو یا اووه دیرشو کلونو تیریدو باندې ټول خلق ختم شو نو بیا به د هغوی انجام هم د هغه خلقو په شان وی کوم چه د دوی نه مخکښې وفات شوې دی، یعنی کبراء صحابه.

[٤٢٥٥] () حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، حَدَّثَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيَنْقُصُ الْعِلْمُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيَّةُ هُوَ؟ قَالَ: الْقَتْلُ الْقَتْلُ".

دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زمانه رانزدې کیږی (یعنی دقیامت نه مخکښې اوعلم به کم کړې شي اوفتنې به ظاهرې شي اوپه خلقو کښې به بخل راپیداشي اوهرج به زیات شي صحابه کرامو عرض وکړوچه هرج څه شي دې اې د الله رسوله نبی ﷺ اوفرمائیل مرګ مرګ.

قوله: ﴿ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيَنْقُصُ الْعِلْمُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ »..........قَالَ « الْقَتْلُ الْقَتْلُ » ﴾

شرح الحديث:

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زمانه به ورته واره نزدې کیږی. د دې درې بلکه څلور مطلبه شهور دی.

۱: د قیامت قرب مراد دې چه روزانه به د قیامت قرب رانزدې کیږی،

۲: د اهل زمان د بعضو د بعض نورو سره نزدې کیدل په شر او فتنه کښې چه ټول به تقریبا یو شان شی.

۳: د عمرونو کمیدل یعنی قصر اعمار اهل الزمان....

(): صحيح البخاري/العلم ٢٤ (٨٥)، والفتنة ٢٥ (٧٠٦١)، صحيح مسلم/الزكاة ١٨ (١٥٧)، (تحفة الأشراف: ١٢٢٨٢)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الفتن ٢٥ (٤٠٤٥)، ٢٦ (٤٠٥١)، مسند احمد (٢/٢٣٣، ٤١٧، ٥٢٥) (صحيح)

۴: د ايام او لیالی د مودې نژدې کیدل یعنی د زمانې بې برکتی لکه چه په روایت کښې راځی ﴿حتی تکون السنة کالشهر والشهر کالجمعة والجمعة کالیوم والیوم کالساعة﴾
او علم به هم کم شی د اهل علم د دنیا نه د رخصتیدو په وجه باندې، او فتنې به په کثرت سره ښکاره شی او د شدت بخل خصلت به په خلقو کښې واچولې شی، او د هرج کثرت به شی، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ هرج څه څیز دې؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: قتل...... والحدیث اخرجه البخاری ومسلم، قاله المنذری.

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ السَّعْيِ فِي الْفِتْنَةِ

باب په فتنه کښې د کوشش کولو د ممانعت بیان

د فتنې اطلاق په هغه جهګړه او فساد باندې کیږی کومه چه د مسلمانانو خپل مینځ کښې موندلې شی په دوه مختلفو جماعتونو کښې، او د سعی نه مراد دې په هغې کښې شرکت، یعنی د یوې ډلې ملګرتیا کول.

دا اهم مسئله ده او په علماء دین کښې اختلافی ده، امام نووی رحمه الله په دې کښې د اهل علم درې مسلکونه لیکلې دی،

۱: عدم التعرض مطلقا یعنی قطعا په دې کښې حصه نه اخستل، دا مسلک د صحابه کرامو رضی الله عنهم د یو جماعت دې لکه ابوبکره او بعض نور حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم......

۲: جواز المدافعة: یعنی د مدافعت د حده پورې د حصه اخستلو ګنجائش شته، یعنی په فریقینو کښې یو داسې ډله چه په مونږ باندې حمله اوکړی نو صرف د هغوی دفاع کولې شي، دا مسلک دې د ابن عمر او عمران بن حصین رضی الله عنهم......

۳: نصرة د اهل حق یعنی اول دې د دې تحقیق اوکړې شی چه په فریقین کښې اقرب الی الحق څوک دې بیا د هغې مطابق چه څوک په حق باندې ګڼړی هغه سره دې تعاون اوکړې شی، د جمهور صحابه کرامو او تابعینو او اکثر اهل علم مسلک هم دا دې،

لقوله تعالی ﴿ وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ ﴾

یو نازک اشکال او د هغې حل:

دلته به د جمهورو په مسلک باندې هم یو اشکال وی هغه دا چه په حدیث کښې په دخول فی الفتنة باندې وعید راغلې دې او دا چه ﴿ ان قتلاها فی النار ﴾ (قتیل فتنه جهنمی دې) وفی روایة: القاتل والمقتول فی النار، کما سیاتی فی هذا الکتاب، د دې جواب دا دې کوم چه حضرت په بذل کښې د حضرت ګنګوهی رحمه الله د تقریر نه نقل کړې دې: وکتب مولانا یحیی المرحوم من تقریر شیخه: قوله ﴿ قتلاها ﴾ ای الفتنة ﴿ کلهم فی النار ﴾ وقد عرفت ان الفتنة فتنة مالم تعلم ای الحق من الباطل، فمن قتل فیها من غیر ان یقصد احقاق الحق کان کذلک، واما من قتل فی تائید الحق، او قتل ظلما لا یرید قتل احد فلیس هو قتیل فتنة، فاغتنم فانه غریب.... یعنی فتنه تر هغه وخته پورې فتنه ده چه ترڅو پورې تحقیق نه وی شوې چه په دې مسئله کښې حق څه دې او

غیر حق څه دي، نو په دې صورت کښې چه کوم سړي څه حصه اخلي په دې فتنه کښې حال دا چه د هغه مقصود احقاق حق نه وي او بیا هغه سړي په دې کښې قتل کړې شو نو دې سړي ته به قتیل فتنه وئیلې شي او دا وعید به په هغه باندې صادقیږي، او کوم سړي چه په حق او باطل کښې د تمیز او تحقیق کولو نه پس په دې فتنه کښې د تائید حق په نیت باندې حصه واخستله او شرکت ئې اوکړو او مړ شو نو دا سړي قتیل فتنه نه دې لهذا په وعید کښې به هم داخل نه وي، اهـ پس کوم صحابه کرام ﷺ چه په دې مشاجراتو کښې حصه واخستله هغه ئې د تحقیق حق نه پس واخستله د چا په نزد چه څه حق وو هغه هم د هغې ملګرتیا اوکړه د حق په حمایت او د هغې په تائید کښې. والله الهادی وهو الملهم للصدق والصواب.

[٤٢٥٦] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عُثْمَانَ الشَّحَّامِ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُسْلِمُ بْنُ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ يَكُونُ الْمُضْطَجِعُ فِيهَا خَيْرًا مِنَ الْجَالِسِ، وَالْجَالِسُ خَيْرًا مِنَ الْقَائِمِ، وَالْقَائِمُ خَيْرًا مِنَ الْمَاشِي، وَالْمَاشِي خَيْرًا مِنَ السَّاعِي، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: مَنْ كَانَتْ لَهُ إِبِلٌ فَلْيَلْحَقْ بِإِبِلِهِ، وَمَنْ كَانَتْ لَهُ غَنَمٌ فَلْيَلْحَقْ بِغَنَمِهِ، وَمَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَلْحَقْ بِأَرْضِهِ، قَالَ: فَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ شَيْءٌ مِنْ ذَلِكَ؟ قَالَ: فَلْيَعْمِدْ إِلَى سَيْفِهِ فَلْيَضْرِبْ بِحَدِّهِ عَلَى حَرَّةٍ، ثُمَّ لِيَنْجُ مَا اسْتَطَاعَ النَّجَاءَ".

مسلم بن ابی بکره دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه رسول الله فرمائیلی دی ډیره نږدې ده چه داسې فتنه به پیدا شي چه په دې کښې به پروت کس دناست نه بهتروي اوناست کس به دولاړ نه بهتروي او ولاړ به دروان نه بهتروي او روان به د منډې والانه بهتروي ماعرض اوکړو اني دالله رسوله زمادباره په دغه وخت کښې څه حکم دې؟ نبی ﷺ اوفرمائیل دچاسره چه اوښ موجود وي نوهغه تره پکاردي چه خپل بال بچ ته ورشي او دهغوی سره شامل شي اودچاسره چه چیلۍ وي نوهغه دي دخپلو چیلوسره یوځای شي اودچاچه زمکه ربې هع، دې خپلې زمکې ته لاړ شي اوهلته دې د سنې (یعني د فساد د ځائې نه دې لرې لاړ شي). صحابه کرامو بیا تپوس اوکړو د چاسره چه دا څیزونه موجود نه وي نوهغه لره مخه کول پکاردي نبی ﷺ وفر ماشین هغه لره پکاردي چه خسرانه وره په کاڼړي تیره کړي اوبیادې دفسادي خلقونه په تلو کښې توندي وکړي.

قوله: ﴿ حَدَّثَنِي مُسْلِمُ بْنُ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ يَكُونُ الْمُضْطَجِعُ فِيهَا خَيْرًا مِنَ الْجَالِسِ وَالْجَالِسُ خَيْرًا مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ خَيْرًا مِنَ الْمَاشِي وَالْمَاشِي خَيْرًا مِنَ السَّاعِي ﴾

مضمون الحدیث:

سیدنا ابوبکره ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه فتنې به بیا مونډلې شي نو د دې فتنې په زمانه کښې به سملاستونکې انسان غوره وی د ناسته کونکی نه، او ناسته کونکې انسان به غوره وی د اودریدونکی نه، او هغه به غوره وی د تلونکی نه، او ماشي به غوره وی د منډه وهونکی نه. غرض دا چه کوم انسان د فتنې نه څومره لرې وی هغه به د خپل مقابل نه غوره وی. د دې حدیث اوریدلو نه پس ابوبکره ﷺ عرض اوکړو چه د فتنې په زمانه کښې

(١): صحیح مسلم/الفتن ٣ (٢٨٨٧)، (تحفة الأشراف: ١١٧٠٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٩، ٤٨) (صحیح)

تاسو مونږ ته څه حکم کوئ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل د اوښانو والا دې په خپلو اوښانو کښې مصروف شي او د ګډو بيزو والا دې په هغې کښې مصروف شي او د زمکې والا دې په خپل پټي او زمکه کښې مشغول شي، هغوی عرض اوکړو چه د کوم سړی دپاره په هغې کښې يو څيز نه وی هغه څه اوکړي؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه هغه له پکار دی چه خپله توره دې واخلی او د هغې مخ دې يو کانړي ته اوهی (چه د جنګ د استعمال قابله پاتې نه شي او پسه شي) او د هغې نه پس دې د جنګ نه اوتختی څومره چه لرې تختيدلې شي.

د دې حديث راوی ابوبکره رضی الله عنه دې د چا مسلک چه پورته مطلقا عدم التعرض تير شوې دې. والحديث اخرجه مسلم، واخرجه البخاري ومسلم من حديث ابن المسيب وابي سلمة عن ابي هريرة رضی الله عنه بنحوه، قاله المنذري.

[٤٢٥٧] (¹) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُفَضَّلٌ، عَنْ عَيَّاشٍ، عَنْ بُكَيْرٍ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَشْجَعِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ دَخَلَ عَلَيَّ بَيْتِي وَبَسَطَ يَدَهُ لِيَقْتُلَنِي؟ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُنْ كَابْنَيْ آدَمَ" وَتَلَا يَزِيدُ لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ سورة المائدة آية ٢٨ الْآيَةَ.

سعيد بن عبد الرحمن اشجعي وائی چه ما د سعد بن ابی وقاص، نه اوريدلی دی چه نبی عليه السلام په مذکوره حديث کښې فرمائيلي دي ما عرض اوکړو اي د الله رسوله که چرې څوک زما کور ته داخل شي او زما د مرګ دپاره په ما باندې لاس اوچت کړي نو ما لره څه کول پکار دي فرمائی چه نبی عليه السلام اوفرمائيل ته د آدم په ځامنو کښې بهترځوي يعنی هابيل په شان شه او يزيد دا ايت کريمه تلاوت کړو : (لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ) ايت تر آخره پوري.

قوله: ﴿أَنَّهُ سَمِعَ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي هَذَا الْحَدِيثِ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ دَخَلَ عَلَيَّ بَيْتِي وَبَسَطَ يَدَهُ لِيَقْتُلَنِي الخ﴾

دا جمله کومه چه د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په روايت کښې ده ﴿ قلت يا رسول الله ﷺ ﴾ دا په حديث سابق يعنی حديث ابی بکرة رضی الله عنه کښې نشته. د ﴿ في هذا الحديث ﴾ مطلب هم دا دې چه کوم مضمون د حديث سابق يعنی په حديث ابی بکره رضی الله عنه کښې ذکر دې هم هغه مضمون د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په حديث کښې هم دې. او په دې کښې زيادت دا هم دې چه کله کله د يو حديث د بعضو طرقو زيادت بيانولې شي او کله داسې کيږي څنګه چه دلته دی چه په يو مستقل حديث کښې د تير شوی حديث حواله ورکولو سره په هغه بل حديث کښې چه کوم زيادت دې هغه بيانولې شي.

د دې جملې زائدې مضمون دا دې چه ما دا عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! خبر راکړئ چه که هغه مفسدان زما په کور باندې راوخيژی او زما د قتل کولو دپاره لاسونه راوږدهٔ کړی، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ كُنْ كَابْنَيْ آدَمَ ﴾ او په يو نسخه کښې دی ﴿ كن كخير ابنى ادم ﴾ چه د آدم عليه السلام په ځامنو کښې چه کوم يو غوره وو د هغه په شان شه يعنی د

¹): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٣٨٤٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الفتن ٢٩ (٢١٩٤) (صحيح)

هابيل په شان چه کله هغه لره د هغه رور قابيل د ناحق قتل کولو اراده اوکړه نو هغه مدافعت هم اونکړو بلکه د هغه په لاس باندې قتل شو.

[٤٢٥٨]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شِهَابُ بْنُ خِرَاشٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ غَزْوَانَ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ رَاشِدٍ الْجَزَرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ وَابِصَةَ الْأَسَدِيُّ، عَنْ أَبِيهِ وَابِصَةَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: فَذَكَرَ بَعْضَ حَدِيثِ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: قَتْلَاهَا كُلُّهُمْ فِي النَّارِ، قَالَ فِيهِ: قُلْتُ: مَتَى ذَلِكَ يَا ابْنَ مَسْعُودٍ؟ قَالَ: تِلْكَ أَيَّامُ الْهَرْجِ حَيْثُ لَا يَأْمَنُ الرَّجُلُ جَلِيسَهُ، قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذَلِكَ الزَّمَانُ؟ قَالَ: تَكُفُّ لِسَانَكَ وَيَدَكَ وَتَكُونُ حِلْسًا مِنْ أَحْلَاسِ بَيْتِكَ، فَلَمَّا قُتِلَ عُثْمَانُ طَارَ قَلْبِي مَطَارَهُ فَرَكِبْتُ حَتَّى أَتَيْتُ دِمَشْقَ، فَلَقِيتُ خُرَيْمَ بْنَ فَاتِكٍ فَحَدَّثْتُهُ، فَحَلَفَ بِاللَّهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ لَسَمِعَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا حَدَّثَنِيهِ ابْنُ مَسْعُودٍ.

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي:اودابوبکره د حديث په شان حديث ئې بيان کړو، البته په دې روايت کښې دا اضافه ده چه: په دې فتنه کښې چه به کوم خلق مړه شي هغوی به دوزخ ته لاړشي دابن مسعود نه وابصه روايت کوی چه دافتنه به کله وي هغه په جواب کښې ووئيل هغه لرې ده او په مسلمانانو کښې به داسې قتل شروع شي چه دچابه په خپل دوست هم اعتماد پاتې نشي ماعرض وکړوکه چرې زه په دغه دورکښې موجوديم نوماله څه کول پکاردي هغه ووئيل خپله ژبه اولاسونه په قابوکښې اوساته او په خپل کورکښې دپروت زين دکپړوپه شان شه کله چه عثمان شهيد شو نواچانک زما په زړه کښې داخبره راغله کيدې شي چه داهغه فتنه وي کومه چه ابن مسعود وئيلي وهنوزه په اوبښ سورشوم اودمشق ته لاړم اوهلته مې دخريم بن فاتک رضي الله عنه سره ملاقات آوشوا ودا ماجرې مې هغه ته بيان کړه هغه ووئيل په هغه الله قسم چه دهغه نه علاوه بل څوک حقدار د بندګئ نشته ماهم دنبي ﷺ نه آوريدلی دی لکه دابن مسعود دحديث پشان.

قوله:﴿ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ فَذَكَرَ بَعْضَ حَدِيثِ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ « قَتْلاَهَا كُلُّهُمْ فِي النَّارِ » قَالَ فِيهِ قُلْتُ مَتَى ذَلِكَ يَا ابْنَ مَسْعُودٍ ؟ قَالَ تِلْكَ أَيَّامُ الْهَرْجِ حَيْثُ لاَ يَأْمَنُ الرَّجُلُ جَلِيسَهُ. قُلْتُ فَمَا تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذَلِكَ الزَّمَانُ قَالَ تَكُفُّ لِسَانَكَ وَيَدَكَ وَتَكُونُ حِلْسًا مِنْ أَحْلاَسِ بَيْتِكَ ﴾

شرح الحديث:

د ﴿ قتلاها ﴾ ضمير د "فتنة" طرف ته راجع دې يعنې د فتنې ټول مقتولين به په اور کښې وی. وابصه وائی چه ما تپوس اوکړو د ابن مسعود رضي الله عنه نه چه دا حالت به کله پيښيږي نو هغوی اوفرمائيل چه په ايام هرج کښې چه د خلقو حال به دا وی چه د سړی به خوا کښې ناست سړی باندې هم اطمينان نه وی، ما تپوس اوکړو که دا زمانه زه بيا مومم نو تاسو ماته څۀ هدايت کوئ د هغې په باره کښې، هغوی اوفرمائيل چه خپله ژبه او لاس بند ساته او د خپل کور په بورو کښې يو بورئ جوړه شوه او بهر مه اوځه. ﴿ فَلَمَّا قُتِلَ عُثْمَانُ طَارَ قَلْبِي مَطَارَهُ ﴾ يعنې چه کله

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٣٥٢٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٤٤٨، ٤٤٩) (ضعف الإسناد)

د سیدنا عثمان رضی الله عنه د قتل حادثه عظمی راغله نو زما زړه په خپل مطار کښې الوتل شروع کړل یعنی مختلف خیالات به مې ذهن ته راتلل، کله څه او کله څه... چه آیا زه په دې واقعاتو کښې شریک شم او په دې جنګ کښې حصه واخلم، یا که وانخلم، خو د ابن مسعود رضی الله عنه حدیث مې هم ذهن کښې وو کوم چه د شرکت نه مانع وو بیا چه کله خریم هم هغه حدیث واورولو نو هم دې جهت تقویت اوخوړلو. (کذا فی البذل عن المجمع بزیادة) حضرت سهارنپوری رحمه الله فرمائی چه ممکنه ده چه دا مطلب وی چه د دې حادثه عظمی په وجه باندې زما زړه بې صبره شو. لکه چه وئیلې شی چه زما زړه بې صبره شو. په دې صورت کښې به مطار مصدر وی.

قوله: ﴿ فَرَكِبْتُ حَتَّى أَتَيْتُ دِمَشْقَ فَلَقِيتُ خُرَيْمَ بْنَ فَاتِكٍ رضی الله تعالی عنه ﴾ وابصه فرمائی چه د دې نه پس زه سور شوم او دمشق ته راغلم او هلته مې د سیدنا خریم بن فاتک رضی الله عنه سره ملاقات اوکړو او هغوی ته مې هغه حدیث بیان کړو کوم چه مې د ابن مسعود رضی الله عنه نه اوریدلې وو نو هغوی قسم خوړلو سره اوفرمائیل چه ما هم دا حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلې وو څنګه چه دا حدیث بیان کړو وو ماته یعنی وابصه ته ابن مسعود رضی الله عنه.....

[۴۲۵۹](1)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَرْوَانَ، عَنْ هُزَيْلٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي، فَكَسِّرُوا قِسِيَّكُمْ وَقَطِّعُوا أَوْتَارَكُمْ وَاضْرِبُوا سُيُوفَكُمْ بِالْحِجَارَةِ، فَإِنْ دُخِلَ يَعْنِي عَلَى أَحَدٍ مِنْكُمْ فَلْيَكُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ".

دابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی دقیامت نه مخکښې داسې فتنې راروانې دي لکه دتیارې شپې په شان ددې فتنوپه وخت کښې به سړې سحر مسلمان وي اومابنام به کافرشي اومابنام به مسلمان وي اوسحربه کافرشي ناست په دې کښې غوره دې دولاړنه اوروان په دې کښې غوره دې دمندي وهونکي نه تاسوددې فتنې په وخت کښې خپلې لیندې ماتې کړئ اودخپلو لیندو مزي کټ کړئ اوخپلې تورې په ګټوباندې ووهئ بیاکه چرې په تاسو باندې څوک حمله وکړي نو دادم دغوره ځوي په شان شئ.

﴿ إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا ﴾ یعنی د قیامت نه مخکښې به د شپې د ټکړو په شان تیارهٔ فتنې راځي.

﴿ فَكَسِّرُوا قِسِيَّكُمْ وَقَطِّعُوا أَوْتَارَكُمْ وَاضْرِبُوا سُيُوفَكُمْ بِالْحِجَارَةِ فَإِنْ دُخِلَ - يَعْنِي عَلَى أَحَدٍ مِنْكُمْ - فَلْيَكُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ ﴾ یعنی د فتنو په زمانه کښې خپلې لیندې ماتې کړئ، او د هغې نه رېړونه (تیلئ) جدا کړئ، او خپلې تورې کاڼړو ته اووهئ چه پسې شی، پس که په تاسو کښې د چا په کور باندې څوک راوخیژی نو هغه دې د هابیل په شان شی، په دې حدیث کښې ﴿ یصبح ویمسی ﴾ نه خاص د سحر او مابنام وخت نه دې مراد بلکه مطلق زمان او سرعت

(1): سنن الترمذي/الفتن ۳۳ (۲۲۰۴)، سنن ابن ماجه/الفتن ۱۰ (۳۹۶۱)، (تحفة الأشراف: ۹۰۳۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۰۸/۴، ۴۱۶) (صحیح)

انقلاب، لکه چه وئیلې شي په لړ شان وخت کښې يو شان او په لړ شان وخت کښې بل شان،
والحدیث اخرجه الترمذی، وابن ماجه، قاله المنذری.

[٤٢٦٠](١)حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ رَقَبَةَ بْنِ مَصْقَلَةَ، عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ سَمُرَةَ، قَالَ: "كُنْتُ آخِذًا بِيَدِ ابْنِ عُمَرَ فِي طَرِيقٍ مِنْ طُرُقِ الْمَدِينَةِ إِذْ أَتَى عَلَى رَأْسٍ مَنْصُوبٍ فَقَالَ: شَقِيَ قَاتِلُ هَذَا فَلَمَّا مَضَى، قَالَ: وَمَا أُرَى هَذَا إِلَّا قَدْ شَقِيَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ مَشَى إِلَى رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي لِيَقْتُلَهُ فَلْيَقُلْ هَكَذَا فَالْقَاتِلُ فِي النَّارِ وَالْمَقْتُولُ فِي الْجَنَّةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ عَوْنٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سُمَيْرٍ أَوْ سُمَيْرَةَ، وَرَوَاهُ لَيْثُ بْنُ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ عَوْنٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سُمَيْرَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ لِي الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ يَعْنِي بِهَذَا الْحَدِيثِ، عَنْ أَبِي عَوَانَةَ، وَقَالَ: هُوَ فِي كِتَابِي ابْنُ سَبَرَةَ، وَقَالُوا سَمُرَةَ، وَقَالُوا سُمَيْرَةَ، هَذَا كَلَامُ أَبِي الْوَلِيدِ.

دعبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه ما يوځل د مدينې په يوه کوڅه کښې دابن عمر ر لاس نيولې وو او ورسره روان وم نو اچانک ديوزوړند کړي شوي سرطرف ته ورغې او وئې فرمائيل چه دده قاتل ډيربدبخت دي بيا مخکښې لاړو نو اوئې فرمائيل چه زه دابد بخت پېژنم مادنبی عليه السلام نه اوريدلی دی چه فرمائيل ئې څوک چه زما په امت کښې ديوکس دمرګ دپاره روان شي نوهغه ته همداسې وئيل پکاردي چه قاتل دوزخ ته داخل شواوڅوک چه قتل کړي شوهغه جنت ته داخل شو. امام ابوداؤد فرمائي چه دا روايت عون بن عبدالرحمن بن سمير ياسميره بيان کړې دې اوليث بن ابی سليم دعون بن سميرنه روايت بيان کړې دي. امام ابوداؤد فرمائي چه ماته دا روايت حسن بن علی دابو الوليد نه دابوعوانه په واسطه نقل کړي دي اووئيلي ئې دي چه دعبدالرحمن دپلار په نوم کښې اختلاف دي، زما په کتاب کښې دابن سبره لفظ دي اونور وعالمانوسمره سميره بيان کړې دي.

قوله:﴿عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ – قَالَ كُنْتُ آخِذًا بِيَدِ ابْنِ عُمَرَ فِي طَرِيقٍ مِنْ طُرُقِ الْمَدِينَةِ إِذْ أَتَى عَلَى رَأْسٍ مَنْصُوبٍ فَقَالَ شَقِيَ قَاتِلُ هَذَا. فَلَمَّا مَضَى قَالَ وَمَا أُرَى هَذَا إِلاَّ قَدْ شَقِيَ﴾

عبدالرحمن بن سمره فرمائي چه زه د ابن عمر رضی الله عنهما لاس نيولو سره د مدينې طيبې په يو لاره کښې روان اوم چه ناڅاپه هغوی په يو رازوړند سر باندې اوشو نو هغوی اوفرمائيل چه د دې مقتول قاتل نامراد شو، بيا لږ شان مخکښې تلو سره هغوی اوفرمائيل چه د دې مقتول په باره کښې هم زما رائې هم دا ده، ځکه چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوريدلي وو هغوی به فرمائيل چه کوم سړي زما د يو امتی د قتل کولو پسې لاړ شي نو هغه امتی له پکار دی چه خپل ځان دغه شان کړی لکه هابيل، يعنی خپل ځان دې د قتل پاره پيش کړی، (که هغه هم دغه شان اوکړل زمونږ د هدايت مطابق) نو بيا به قاتل جهنم ته او مقتول جنت ته ځي.

د دې کلام مقابل شق مقدر دي کوم چه خپله د مقام نه په فهم کښې راځي، يعنی که هغه داسې اونه کړل بلکه د هغه مقابله ئې اوکړه نو بيا به دواړه جهنم ته ځي.

تنبيه : په علی راس منصوب باندې بعض شارحينو ليکلي دی : لعله راس ابن الزبير..... حضرت په بذل کښې د دې ترديد فرمائيلې دې ځکه چه د قتل ابن الزبير واقعه په مکه

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٧٢٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٩٦٧٢، ١٠٠) (ضعيف)

مکرمه کښې پیښه شوې وه نه په مدینه طیبه کښې، او دا هم نه شي وئیلې کیدې چه مراد دا دې چه هغه لاره چه کومه مدینې ته تلله ځکه چه دلته په روایت کښې ﴿ فی طریق من طرق المدینة ﴾ دې نه ﴿فی طریق المدینة ١هـ﴾ من البذل... بله دا چه په روایت کښې د دواړو په باره کښې د شقاوت حکم لګولې شوې دې کوم چه په عبد الله بن زبیر رضی الله عنهما باندې صادق نه راځي.

[٤٢٦١](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي عِمْرَانَ الْجَوْنِيِّ، عَنِ الْمُشَعَّثِ بْنِ طَرِيفٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا ذَرٍّ"، قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ قَالَ فِيهِ: كَيْفَ أَنْتَ إِذَا أَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ يَكُونُ الْبَيْتُ فِيهِ بِالْوَصِيفِ يَعْنِي الْقَبْرَ، قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، أَوْ قَالَ: مَا خَارَ اللَّهُ لِي وَرَسُولُهُ، قَالَ: عَلَيْكَ بِالصَّبْرِ، أَوْ قَالَ تَصْبِرُ، ثُمَّ قَالَ لِي: يَا أَبَا ذَرٍّ، قُلْتُ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، قَالَ: كَيْفَ أَنْتَ إِذَا رَأَيْتَ أَحْجَارَ الزَّيْتِ قَدْ غَرِقَتْ بِالدَّمِ، قُلْتُ: مَا خَارَ اللَّهُ لِي وَرَسُولُهُ، قَالَ: عَلَيْكَ بِمَنْ أَنْتَ مِنْهُ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا آخُذُ سَيْفِي وَأَضَعُهُ عَلَى عَاتِقِي، قَالَ: شَارَكْتَ الْقَوْمَ إِذَنْ، قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: تَلْزَمُ بَيْتَكَ، قُلْتُ: فَإِنْ دُخِلَ عَلَيَّ بَيْتِي، قَالَ: فَإِنْ خَشِيتَ أَنْ يَبْهَرَكَ شُعَاعُ السَّيْفِ فَأَلْقِ ثَوْبَكَ عَلَى وَجْهِكَ يَبُوءُ بِإِثْمِكَ وَإِثْمِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يَذْكُرِ الْمُشَعَّثَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ غَيْرُ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ.

دابوذر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ماته اوفرمائیل اې ابوذر ماعرض اوکړو اې دالله رسوله حاضر یم ستاد حکم پوره کولو دپاره بیانبی علیه السلام حدیث بیان کړو او په دې حدیث کښې داسې دی اې ابوذره ستابه په هغه زمانه کښې څه حالت وي کله چه په مدینه کښې دومره خلق اوسیږي چه قبر به دیوغلام په عوض کښې میترشي ماعرض اوکړو اې دالله رسوله الله تعالی اودالله تعالی رسول ښه پوهیږي نبی علیه السلام اوفرمائیل دصبرنه به کار اخلې او بیا ئې اوفرمائیل اې ابوذره ماعرض اوکړو ستاسو په خدمت کښې حاضر او موجود یم رهې فرمائیل چه ستاسوبه څه حالت وي کله چه تاسو احجار الزیت په وینوباندې لړل شوي اووینئ؟ ماعرض اوکړو الله اودهغه رسول چه څه حکم کوي نبی علیه السلام اوفرمائیل ته چه دکوم ځائې یې هم هغلته لاړ شه ماعرض اوکړو اې دالله رسوله ایازه خپله توره راواخلم او پخپلو اوږوباندې ئې کینږدم؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل په داسې کولوخوبه ته ددوی سره شریک شي ماعرض اوکړو نوبیازمادپاره څه حکم دې؟ راته ئې اوفرمائیل پخپل کور کښې ناست اوسه، ماعرض اوکړو که چرې دوی په ماپسې زما کورته راشي؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې ته دتورو دپر قیدونه پریږې نو خپل څادر پخپل مخ باندې واچوه ددوی په لاسونو ځان مړ کړه، نودغه قاتلان به ستااوخپله ګناه دځان سره یوسي. امام ابوداؤد فرمائی په دې حدیث کښې دحماد نه علاوه بل چا دمشعث ذکرندې کړې.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- « يَا أَبَا ذَرٍّ ». قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ. فَذَكَرَ الْحَدِيثَ قَالَ فِيهِ « كَيْفَ أَنْتَ إِذَا أَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ يَكُونُ الْبَيْتُ فِيهِ بِالْوَصِيفِ الخ ﴾

سیدنا ابوذر رضی الله عنه فرمائی چه یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته اوفرمائیل چه ستاسو به څه حال وی

١): سنن ابن ماجه/الفتن ١٠ (٣٩٥٨)، (تحفة الأشراف: ١١٩٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٩/٥، ١٦٣)، وأعاده المؤلف في الحدود (٤٤٠٩) (صحيح)

هغه وخت چه کله به دومره په کثرت سره مړی کیږی چه په هغې کښې به د یو قبر ځائې د یو غلام په بدل کښې ملاویږی. یا مطلب دا دې چه د قبر د کنستلو اجرت به دا وی یعنی د کثرت مقتولین د وجې نه به د دفن دپاره زمکه په بیع اخستلې شی. نو په دې باندې هغوی عرض اوکړو چه الله پاک او د هغه رسول ﷺ ښه پوهیږی. یعنی هم تاسو بیان کړئ چه څه کول پکار دی، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ﴿ عَلَيْكَ بِالصَّبْرِ ﴾ چه صبر اختیار کړه، ﴿ ثُمَّ قَالَ لِي « يَا أَبَا ذَرٍّ ». قُلْتُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ. قَالَ « كَيْفَ أَنْتَ إِذَا رَأَيْتَ أَحْجَارَ الزَّيْتِ قَدْ غَرِقَتْ بِالدَّمِ » ﴾ د دې نه پس رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه اې ابوذرا ستا به هغه وخت څه حال وی چه کله ته اوګورئ چه احجار الزیت به لت پت شی په وینو سره؟ نو هغوی عرض اوکړو چه څه الله پاک او د هغه رسول ﷺ زما دپاره غوره کوی هم هغه به کوم ﴿عَلَيْكَ بِمَنْ أَنْتَ مِنْهُ ﴾ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : هغه وخت ته لازم اونیسه هغه خلق د چا نه چه ته ئې. یعنی خپل کور او قبیله، او یا دا مطلب دې چه د کوم امام سره ستاسو د بیعت تعلق دې د هغوی سره اوسیږه، هغوی عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ آیا هغه وخت زه خپله توره اخستلو سره په خپلو اوږو باندې کینږدم؟ نو هغوی اوفرمائیل چه په دې صورت کښې خو به ته د هغه فتنه کونکو سره شرکت کونکې شې. ﴿ قُلْتُ فَإِنْ دُخِلَ عَلَيَّ بَيْتِي قَالَ « فَإِنْ خَشِيتَ أَنْ يَبْهَرَكَ شُعَاعُ السَّيْفِ فَأَلْقِ ثَوْبَكَ عَلَى وَجْهِكَ يَبُوءُ بِإِثْمِكَ وَإِثْمِهِ » ﴾ هغوی عرض اوکړو چه که هغه وخت یو فتین زما کور ته داخل شی نو بیا څه اوکړم؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه که د دشمن د تورې په باره کښې تاته خطره پیدا شی چه د هغې شعاع به په تا باندې غالب شی نو په دې وخت کښې ته د خپلې دفاع په ځائې خپله کپړه په خپل مخ باندې واچوه (چه پته او نه لګی چه څوک ما سره څه کوی پس په دې صورت کښې به هغه ستا قاتل ستا اودخپل ځان دواړو ګناهونو سره واپس شی. ﴿باثمک﴾ نه مراد ای باثم قتلک الذی ارتکبه القاتل او یا مراد د ﴿باثمک ﴾ نه خپله د مقتول ګناهونه دی کوم چه هغه د دې نه مخکښې کړی دی، او په دې صورت کښې به د رجوع نه مراد دا نه وی چه ستا ګناهونه به په هغه باندې اچولې شی بلکه مطلب به دا وی چه ستا سابقه ګناهونه به ستا په مقتول او شهید کیدو په وجه باندې معاف کولې شی.([1])

په دې حدیث کښې چه د کومې فتنې ذکر دې د دې په باره کښې په حاشیه د بذل کښې دی حضرت شیخ لیکلې دی: وفی اشراط الساعة انها وقعة الحرة اهـ ([2]) او د وقعة الحرة ذکر په

---

[1]) مقصد زمونږ دا دی چه د حدیث شریف مطلب دا نه دې چه د قتل ناحق په وجه باندې به د مقتول تول ګناهونه په قاتل باندې اچولې شی، د اهل السنة والجماعت دا مسلک نه دې د الله پاک د قول د وجې نه چه ﴿ الا تزر وازرة وزر اخري ﴾ بلکه صرف د مقتول دقتل ګناه به پرې وی. او که د تولو ګناهونو معافی مراد کړې شی نو هغه هم صحیح ده په دې لحاظ سره چه دې قتل ناحق په وجه باندې مقتول شهید شو او د شهادت په وجه باندې تیر تول ګناهونه معاف کیږی. والله تعالی اعلم)

[2]) وقعة الحرة : په مظاهر حق ٣٢١/٤ کښې دی : چه احجار الزیت نوم د یو ځائې دې د مدینې غربی طرف ته چه په هغې کښې کاڼړی تور دی ګویا په هغې باندې د زیتون تیل لګیدلې دی او رسول الله ﷺ دا خبر ورکړې دې د واقعه حره او دا ډیره لویه واقعه ده چه ژبه او غوږونه د هغې ......له

کتاب الجهاد باب فی التفریق بین السبی د امام ابوداؤد په کلام کښې ضمنا تیر شوی دی چه د هغې الفاظ دا دی ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَمَيْمُونٌ لَمْ يُدْرِكْ عَلِيًّا قُتِلَ بِالْجَمَاجِمِ وَالْجَمَاجِمُ سَنَةُ ثَلَاثٍ وَثَمَانِينَ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَالْحَرَّةُ سَنَةُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ وَقُتِلَ ابْنُ الزُّبَيْرِ سَنَةَ ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ ﴾ دا واقعه د سیدنا حسین رضی الله عنه د شهادت نه دوه کاله پس پیښه شوې وه، ځکه چه دشهادت حسین رضی الله عنه واقعه په ٦١ هجری کښې پیښه شوې وه او دا وقعة الحرة په ٦٣ هجری کښې چه په هغې کښې په زرګونو صحابه کرام او تابعین قتل کړې شو، خو ابوذر رضی الله عنه د دې جنګ زمانه نه ده بیا موندلې ځکه چه د هغوی وفات په ٣٢ هجری کښې شوې دې، هم په دې وجه علماء کرامو لیکلې دی چه د دې فتن د وقوع زمانه او د کال د تعین علم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم نه وو. (دلته یو احتمال بل هم دې او هغه دا چه ډیر کرته داسې کیږی چه په مقام د خطاب کښې اګر چه مخاطب خاص وی خو مراد ترې نه عموم وی نه مخصوص مخاطب، فلا يحتاج حينئذ الى نفى علمه بالتعيين اى بتعين الزمان والوقت اهـ)

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ لَمْ يَذْكُرِ الْمُشَعَّثَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ غَيْرُ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ ﴾

یعنی اکثر راویانو دا حدیث عن ابی عمران الجونی عن عبدالله بن الصامت نقل کړې دې. د مشعث د واسطې نه بغیر، پس حافظ فرمائی وقد رواه جعفر بن سليمان وغير واحد عن ابى عمران عن عبدالله بن الصامت نفسه ولم يذكر المشعث، وذكر حماد بن زيد فقط (كذا فى المنهل) والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذرى.

[٤٢٦٢] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا عَاصِمٌ الْأَحْوَلُ، عَنْ أَبِي كَبْشَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا مُوسَى، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي، قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: كُونُوا أَحْلَاسَ بُيُوتِكُمْ".

دابوموسی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ستاسو په وړاندې ډیرې فتنې ظاهریدونکې دې داسې لکه دتورو شپو دتړو ددې فتنوپه وخت کښې به انسان دسحر په وخت کښې مومن وي اوماښام به کافرشي اوماښام به مومن وي سحر به کافرشي او په دې زمانه کښې دتلونکی کس نه ناست بهتر دې اوتلونکې د منډې وهونکې نه به تر ده، صحابه کرام ومرض ارکې ربیا زمونږ دپاره څه حکم دې؟ نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل تاسو دخپل

←.....د وینا او د اوریدلو تحمل نه شی کولې او وقوع د هغې په مینځ د هغه زمانې د بدبختۍ کښې ده کومه چه د یزید بن معاویه رحمه الله ده چه پس د قتل د امام حسین رضی الله عنه نه ئې ډیر لوئې لښکر مدینې طیبې ته اولیږلو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسجد او د دې حرمت والاښهر بې حرمتی اوشوه. او د صحابه کرامو رضی الله عنهم او د تابعینو جماعت کثیره ئې قتل کړو او ډیرې خرابیانې ئې اوکړې چه د بیان نه بهر دی، او پس د خرابولو د مدینې طیبې نه ئې مکې مکرمې ته هم لښکر اولیږلو او هم په دغه کښې کال هغه بدبخته جهنم ته لاړو.

(١): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (٤٢٥٩)، (تحفة الأشراف: ٩١٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٠٨) (صحيح)

ځان نه د خپلو کورونو تاپ جوړ کړئ (یعنی ځانونه پټ کړئ).

﴿قَالَ سَمِعْتُ أَبَا مُوسَى يَقُولُ الحديث﴾ دا حديث نزدې تير شوې دې.

[٤٢٦٣](١)حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْحَسَنِ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ جُبَيْرٍ حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ، قَالَ: ايْمُ اللَّهِ لَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنِ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ وَلَمَنِ ابْتُلِيَ، فَصَبَرَ فَوَاهًا".

د مقداد بن اسود رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه په الله قسم دنبي عليه السلام نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل فينيقينانيک بخت هغه څوک دې چه دفتنونه بچ پاتې شي او يقينانيک بخت هغه څوک دې چه دفتنونه بچ پاتې شي او يقينانيک بخت هغه څوک دې چه دفتنونه بچ پاتې شي او څوک چه په دې کښې مبتلا شو يعنی په ازمائش کښې صابر وموندې شونو دهغه به څه وو ايو.

قوله: ﴿إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ وَلَمَنِ ابْتُلِيَ فَصَبَرَ فَوَاهًا﴾ سعيد هغه دې چه د فتنو نه محفوظ وی په داسې طريقه چه يا خو ئې هغه زمانه نه وی موندلې يا زمانه ئې خو موندلې وی خو د هغې نه لرې وی دا خبره رسول الله صلى الله عليه وسلم درې کرته اوفرمائيله. او کوم انسان چه اخته شو په فتنو کښ او بغير د قصد نه د هغې په ضد کښ راغلو او هغه په دې باندې صبر اوکړو نو هغه سړې قابل افسوس او قلق دې. يا مطلب دا چه هغه سړې قابل داد دې چه هغه ډير ښه اوکړل چه صبر ئې اوکړو. دا دوه معنی څکه چه علماء کرامو ليکلې دی کلمه واها په باره کښ: ﴿هی کلمة معناها التهلف والتاسف وقد توضع ايضا موضع الاعجاب بالشئ﴾ کما فی مرقاة الصعود للسيوطی.

بَابٌ فِي كَفِّ اللِّسَانِ

باب د فتنو په وخت کښې د ژبې د بند ساتلو د بهترئ بيان

[٤٢٦٤](٢)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اللَّيْثِ، حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ خَالِدُ بْنُ أَبِي عِمْرَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْبَيْلَمَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "سَتَكُونُ فِتْنَةٌ صَمَّاءُ بَكْمَاءُ عَمْيَاءُ مَنْ أَشْرَفَ لَهَا اسْتَشْرَفَتْ لَهُ وَإِشْرَافُ اللِّسَانِ فِيهَا كَوُقُوعِ السَّيْفِ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: ډيره نزدې چه کڼه ګونګه اوړنده فتنه به راپيداشي هرهغه کس چه ورته متوجه شي نودافتنه به هم ورته متوجه شي او په دې فتنه کښې ژبه استعمالول داسې دی لکه د تورې چلول.

قوله: ﴿ سَتَكُونُ فِتْنَةٌ صَمَّاءُ بَكْمَاءُ عَمْيَاءُ مَنْ أَشْرَفَ لَهَا اسْتَشْرَفَتْ لَهُ ﴾ فتنه عمياء او صماء مخکښ په يو حديث کښ تيره شوه کوم انسان چه دې فتنې ته ښکاره شو يعنی ورته ئې

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٥٤٢) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٩٤٤) (ضعيف)

اوکتل نو دا فتنه به ئې خپل طرف ته راکاږي (لهذا فتنې ته د لرې نه کتل هم نه دي پکار پاتې لا دا چه په هغې کښې شرکت اوکړې شي) ﴿ وَإِشْرَافُ اللِّسَانِ فِيهَا كَوُقُوعِ السَّيْفِ ﴾ او د دې نه روستو روايت کښې دی ﴿ اللِّسَانُ فِيهَا أَشَدُّ مِنْ وَقُوعِ السَّيْفِ ﴾

شرح الحديث :

په کوکب کښې د دې جملې دوه معنې ليکلې شوې دی،[1] او په شروع کښې ليکلې دی چه د لسان نه مراد کلمه ده يعنی د فتنې په زمانه کښې حق خبره د خولې نه راويستل ډير گران کار وی د تورو د ضرب برداشت کولو نه هم زيات ځکه چه هغه اهل فتنه به په باطل باندې ولاړ وی او دويم دا چه د کلمې نه مراد کلمه باطل ده، يعنی کوم فريق چه په باطل دې د هغې تائيد کول په گناه کيدو کښې د تورې چلولو نه زيات سخت دی اهـ... او دريمه معنی په هامش کوکب کښې د دې دا ليکلې ده چه د مسلمانانو په دوه ډلو کښې چه کله فتنه او جنگ وی نو په دې صورت کښې بغير د تحقيق نه د يوې ډلې مذمت کول هم دغه شان حرام دی لکه په مسلمانانو کښې توره چلول، ځکه چه هغه جنگ د مسلمانانو ترمينځه دې د چا چه غيبت حرام دې.

او په مظاهر حق کښې دی: او ژبه اوږدل په دې فتنه کښې د تورې د چلولو په شان دی يعنی په تاثير کښې بلکه زيات دی د دې نه لکه چه وئيلې شوې دی بيت !

جراحات السنان لها التيام :: ولا يلتام ما جرح اللسان

هم په دې وجه اول روايت کښې وئيلې شوی دی چه زيات سخت د تورې چلولو نه اهـ د مظاهر حق والا معنی عام ده چه د فتنې او اختلاف په زمانه کښې ښکاره خبره کول په فريقينو کښې د يوې ډلې په حمايت کښې يا مذمت کولو کښې دا ډير زيات موثر وی خو د دې دپاره د ډير جراءت او همت ضرروت دې. والله تعالی اعلم.

[٤٢٦٥] (1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا لَيْثٌ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ رَجُلٍ يُقَالُ لَهُ: زِيَادٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ تَسْتَنْظِفُ الْعَرَبَ قَتْلَاهَا فِي النَّارِ اللِّسَانُ فِيهَا أَشَدُّ مِنْ وَقْعِ السَّيْفِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ الْأَعْجَمِ.

دابن عمر ﷺ نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلې دي: ډيره نزدې ده چه داسې فتنه به راپيداشي چه په عربوبه احاطه وکړي څوک چه پکښې مړه شي اورته به داخل شي دژې کردار پکښې دتورې د چلولونه ډير سخت دي. امام ابوداؤد فرمائی چه دا روايت ثوري دليث نه هغه دطاوس نه اوهغه دالاعجم نه نقل کړي دي.

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ تَسْتَنْظِفُ الْعَرَبَ قَتْلَاهَا فِي النَّارِ ﴾

نزدې يو داسې فتنه راتلونکې ده چه د ټول عرب استيعاب به اوکړی په اعتبار د هلاکيدلو او د دې فتنې مقتولين به جهنم ته ځی.

---

[1]: سنن الترمذي/الفتن ١٦ (٢١٧٨)، سنن ابن ماجه/الفتن ٢١ (٣٩٦٧)، (تحفة الأشراف: ٨٦٣١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١١/٢، ٢١٢) (ضعيف)

شرح الحديث :

په مظاهر حق کښې ليکلي دي: نزدې ده چه لويه فتنه پيدا شي چه په عربو غالبه وی او شر ئې تولو ته اورسيږی، چه څوک په کښې قتل کړې شي هغه به اور کښې وی، د دې فتنې نه مراد دا ده چه کومې دوه ډلې د مال او عزت دپاره جنګ کوی، او مقصود په دې کښې د حق ثابتول او د الله پاک د دين اوچتول نه وی، لکه څنګه چه د خانه جنګی کونکو حال وی چه بغير د تحقيق نه يو بل سره په جنګ شي. اهـ

او په کوکب کښې دی چه هغه خبره چه ظاهره ده او د تکلفاتو نه لرې ده هغه دا چه مونږ ته معلومه نه ده چه د دې نه مراد کومه فتنه ده اګر چه بعض حواشي والا وئيلي دی چه د دې نه مراد د علی او معاويه رضی الله عنهما فتنه ده، پس که دا تسليم کړې شي نو د ﴿ قتلاها في النار﴾ معنی به دا وی چه کوم خلق په دې فتنه کښې قتل کړې شو نه هغه خلق چه د چا په وجه دا فتنه جوړه شوې وه، لهذا د جهنمی کيدو د حکم نه به سيدنا عثمان او طلحه او زبير رضی الله عنهم اوځی کوم چه شهيد کړې شوې وو، ځکه چه دا حضرات خو هغه دی چه د چا د قتل په وجه باندې فتنه اوچته شوې ده نه دا چه دا حضرات په دې کښې قتل کړې شوې دی. اهـ او په حاشيه د کوکب کښې دی چه دا توجيه غوره ده د هغه توجيه نه کومه چه په بعض حواشي کښې ذکر ده يعنی دا چه دا حديث په توبيخ او تغليظ باندې محمول دې، ځکه چه مجتهد مخطئ شرعاً معذور دې او دلته دواړه ډلې مجتهدين وو. اهـ

﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ عَنْ لَيْثٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ الأَعْجَمِ ﴾ يعنی ثفيان الثوری رحمه الله چه کله دا حديث روايت کړو، عن ليث عن طاوس نو په ځائې د عن رجل يقال له زياد ئې عن الاعجم اووې او دا اعجم هم هغه دې يعنی زياد سِيمِين کُوش، لکه څنګه چه وړاندې راځی.

والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجه، قاله المنذري.

[۴۲۶۶] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى بْنِ الطَّبَّاعِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْقُدُّوسِ، قَالَ زِيَادٌ: سِيمِينُ كُوشَ.

دعبدالله بن عبد القدوس رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زياد سيمين کوش (پيرو يا سپينو غوږونو والا) وو.

بَابُ مَا يُرَخَّصُ فِيهِ مِنَ الْبَدَاوَةِ فِي الْفِتْنَةِ

باب د فتنې په وخت کښې ځنګل ته د تلو د جواز بيان

يعنی د فتنو په زمانه کښې د تبدی اجازت او رخصت، تبدی يعنی خروج الی البادية، د ښهرونو او آباديانو استوګنه پريخودلو سره د ځنګل طرف ته تلل.

[۴۲۶۷] (²) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي صَعْصَعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ

(¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۸۶۳۱)

(²): صحيح البخاري/الإيمان ۱۲ (۱۹)، بدء الخلق ۱۵ (۳۳۰۰)، المناقب ۲۵ (۳۶۰۰)، الرقاق ۳۴ (۶۴۹۵)، سنن النسائي/الإيمان ۳۰ (۵۰۳۹)، سنن ابن ماجه/الفتن ۱۳ (۳۹۸۰)، (تحفة الأشراف: ۴۱۰۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الاستئذان ۶ (۱۶)، مسند احمد (۶/۳، ۳۰، ۴۳، ۵۷) (صحيح)

مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمًا يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ".

دابو سعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دي فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. ډيره نزدې چه دمسلمانانو غوره مال به چيلی وي په کومو پسې چه انسان دغره په غوندو اودباران دوريدو په ځايونو ګرځي دفتنو په وجه ئې خپل دين هلته تختولی وي.

قوله: ﴿ يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرُ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمًا يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْمَطَرِ يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ ﴾ رسول الله ﷺ فرمائی چه نزدې ده داسې زمانه به راشی چه په هغې کښې به د مسلمان بهترين مال ګډې بيزې وی چه د څرولو دپاره هغه د غرونو څوکو ته بوځی او د بارانونو علاقو ته لاړ شی خپل دين لره د فتنو نه د محفوظ کولو دپاره.

د دې حديث د ترجمة الباب سره مطابقت ښکاره دې دا خبره چه اختلاط افضل دې يا اعتزال په کتاب الجهاد کښې په باب فی ثواب الجهاد د لاندې راغلې دې. والحديث اخرجه البخاری والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

باب فِي النَّهْيِ عَنِ الْقِتَالِ فِي الْفِتْنَةِ

باب د فتنې په وخت کښې د قتال کولو د ممانعت بيان

[٤٢٦٨] (١) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، وَيُونُسَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ الْأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: خَرَجْتُ وَأَنَا أُرِيدُ يَعْنِي فِي الْقِتَالِ، فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرَةَ، فَقَالَ: ارْجِعْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا تَوَاجَهَ الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا، فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ؟ قَالَ: إِنَّهُ أَرَادَ قَتْلَ صَاحِبِهِ".

داحنف بن قيس رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی چه زه دجنګ په اراده باندې اووتلم په لار کښې راسره ابوبکره مخامخ شو هغه اووئيل واپس لاړ شه ما دنبی عليه السلام نه آوريدلی دی چه فرمائيل ئې کله چه دوه مسلمانان پخپل مينځ کښې ديوبل دقتل کولو دپاره توري راپورته کړي نو قتل کونکي اوقتل کړې شوي دواړه به دوزخ ته ځي ، په دې وخت کښې يو کس عرض اوکړو اې دالله رسوله قتل کونکي خوبه دوزخ ته لاړ شي ليکن څوک چه قتل شوې د هغه دوزخ ته په څه وجه ځي؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل ځکه چه دې دخپل ملګري دقتل کولر دپاره راپاڅيدلې ووخو پخپله هلاک شو (يعنی موقعه ورته ملاو نه شوه).

قوله: ﴿ عَنِ الأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ خَرَجْتُ وَأَنَا أُرِيدُ - يَعْنِى فِى الْقِتَالِ - فَلَقِيَنِى أَبُو بَكْرَةَ فَقَالَ ارْجِعْ فَإِنِّى سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِذَا تَوَاجَهَ الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِى النَّارِ » ﴾

احنف بن قيس وائي چه زه د خپل کور نه اوتلم په جنګ جمل کښې د شرکت په اراده باندې، په لاره کښې راسره ابوبکره رضی الله عنه ملاو شو نو هغوی ماته اوفرمائيل واپس شه ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دی چه کله دوه مسلمانان خپلو کښې په تورو سره مقابله کوی

(١): صحيح البخاري/الإيمان ٢٢، (٣١)، والديات ٢ (٦٨٧٥)، والفتن ١٠ (٧٠٨٢)، صحيح مسلم/الفتن ٤ (٢٨٨٨)، سنن النسائي/المحاربة ٢٥ (٤١٢٧)، (تحفة الأشراف: ١١٦٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣/٥، ٤٧، ٥١) (صحيح)

نو قاتل او مقتول به دواړه په اور کښې وی.

﴿ النهى عن السعى فى الفتنة ﴾ چه کومه یو ترجمه تیره شوه، په هغې کښې د ابوبکره رضی الله عنه مسلک تیر شوې دې چه هغوی د هغه خلقو نه دی څوک چه په فتنه کښې مطلق د عدم شرکت قائل دی. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي، قاله المنذري.

[٤٢٦٩]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ الْعَسْقَلَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ الْحَسَنِ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ مُخْتَصَرًا.

دحسن نه هم ددې روایت پشا روایت منقول دې لیکن اختصار شره.

بَابٌ فِي تَعْظِيمِ قَتْلِ الْمُؤْمِنِ

باب د مومن قتل کولو د وعید بیان

تعظیم یعنی تغلیظ، یعنی قتل مومن لره لویه ګناه ګنړل.

[٤٢٧٠]()حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ دِهْقَانَ، قَالَ: كُنَّا فِي غَزْوَةِ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ بِذُلُقْيَةَ، فَأَقْبَلَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ فِلَسْطِينَ مِنْ أَشْرَافِهِمْ وَخِيَارِهِمْ يَعْرِفُونَ ذَلِكَ لَهُ يُقَالُ لَهُ: هَانِئُ بْنُ كُلْثُومِ بْنِ شَرِيكٍ الْكِنَانِيُّ، فَسَلَّمَ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي زَكَرِيَّا وَكَانَ يَعْرِفُ لَهُ حَقَّهُ قَالَ لَنَا خَالِدٌ، فَحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زَكَرِيَّا، قَالَ: سَمِعْتُ أُمَّ الدَّرْدَاءِ، تَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "كُلُّ ذَنْبٍ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَغْفِرَهُ إِلَّا مَنْ مَاتَ مُشْرِكًا أَوْ مُؤْمِنٌ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا، فَقَالَ هَانِئُ بْنُ كُلْثُومٍ، سَمِعْتُ مَحْمُودَ بْنَ الرَّبِيعِ يُحَدِّثُ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، أَنَّهُ سَمِعَهُ يُحَدِّثُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: مَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا فَاعْتَبَطَ بِقَتْلِهِ لَمْ يَقْبَلِ اللَّهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا، قَالَ لَنَا خَالِدٌ، ثُمَّ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي زَكَرِيَّا، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ"، وَحَدَّثَ هَانِئُ بْنُ كُلْثُومٍ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ سَوَاءً.

دخالد بن دهقان رحمه الله نه روایت دې فرمائی چه مونږ دقسطنطنیه په جنګ کښې دزلقیه په مقام کښې وو په دې دوران کښې یو کس څوک چه دفلسطین په معززینو کښې وو رامخامخ شو، خلق دده دمرتبې نه خبر رو دې په هاني بن کلثوم بن شریک الکناني باندې مشهور وو ، د عبدالله بن ابو زکریا ته سلام اوکړو اوهغه دده دمقام اومرتبې نه واقف وو ، خالد وائی بیا مونږ ته عبدالله بن ابوزکریا حدیث بیان کړو وئیل ئې چه مادام الدرداء رضی الله عنها نه اوریدلی دی هغې وئیل چه ماد ابو الدرداء نه اوریدلی دی هغه وئیل مادنبی صلی الله علیه وسلم نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې دهرې یوې ګناه متعلق دا امید شته چه الله تعالی ئې معاف کړې مګرڅوک چه دشرک په حال کښې مړ شي یا څوک چه یو مسلمان په قصد سره مړ کړي (ددې دمعاف کیدو هیڅ امید نشته) ، هاني بن کلثوم اووئیل مادمحمود بن ربیع نه اوریدلی دی هغه دعباده بن الصامت لا نه آوریدلی دی هغه دنبی صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي وو چه فرمائیل ئې څوک چه یو مسلمان په ناحقه په ظلم سره مړ کړي اوقاتل پدې باندې راضی هم وي الله تعالی به

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٦٥٥)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥١٠٥، ٥١١٢، ١٠٩٨٩، ١٠٩٩٠) (صحيح)

دديې کښ هيڅ يوعمل نه قبلوي نه فرض عمل اونه نفل عمل ، ابن ابوزکريا بيا دام الدرداء په حواله باندې حديث بيان کړو چه هغې د ابوالدرداء نه اوهغه دنبي ﷺ نه روايت بيان کړو چه نبي ﷺ اوفرمائيل مومن به هميشه بيغمه وي او نيک به وي ترڅوچه هغه په ناحقه څوک قتل نکړي کله چه هغه په ناحقه څوک قتل کړي نودې دګناهونوپه وجه دروند اوسست شي.

﴿عَنْ خَالِدِ بْنِ دِهْقَانَ قَالَ كُنَّا فِي غَزْوَةِ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ بِذُلُقْيَةَ ....سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « كُلُّ ذَنْبٍ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَغْفِرَهُ إِلاَّ مَنْ مَاتَ مُشْرِكًا أَوْ مُؤْمِنٌ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا »﴾

خالد بن دهقان فرمائي چه مونږ د غزوه قسطنطنيه په موقع باندې په مقام ذلقيه کښ وو (دا هم د روم يو ښهر دې) نو يو فلسطيني سړي کوم چه د هغوی په اشرافو کښ وو يعني هاني بن کلثوم هغه راغلو هغوی راتلو سره عبدالله بن ابي زکريا ته سلام اوکړو، دا عبدالله بن ابي زکريا د خالد بن دهقان په استاذانو کښ دی. خالد وائي چه مونږ ته زمونږ استاد عبدالله بن ابي زکريا د دې راتلونکي سړي يعني هاني بن کلثوم په موجودګئ کښ د ابوالدرداء ﷛ دا حديث واورولو چه په هغې کښ دا دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د هرې ګناه په باره کښ د بخښنې اميد کيدې شي سوا د هغه سړي نه چه د شرک په حالت کښ مړ شي او سوا د هغه مومن نه کوم چه بل مومن لره قتل کړي. هاني بن کلثوم چه هلته موجود وو په دې حديث اوريدلو سره ئې په خپل سند سره يو بل حديث د دې په تائيد کښ بيان کړو هغه دا دې ﴿مَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا فَاعْتَبَطَ بِقَتْلِهِ لَمْ يَقْبَلِ اللَّهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلاَ عَدْلاً "فاغتبط"﴾ کښ دوه نسخې دی يو په عين مهمله سره او دويم په غين معجمه سره (ماخوذ من الغبطة) د عين مهمله په صورت کښ د حديث مطلب دا دې : کوم سړي چه يو مومن ظلما بغير د قصاص نه، او د غين معجمه په صورت کښ به د حديث معنی دا وی چه کوم سړي يو مومن قتل کړو او د هغه په قتل کولو باندې خوشحاله شو. يعني په ځائې د پښيمانتيا او خفګان چه هغه ئې کړې وې نور هم خوشحاله شي، بهر صورت وړاندې په حديث کښ دی چه د داسې سړي لله پاک نه نفلي عبادت قبلوی او نه فرض.

﴿قَالَ لَنَا خَالِدٌ ثُمَّ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي زَكَرِيَّا﴾ خالد بن دهقان وائي چه زمونږ استاد عبدالله بن ابي زکريا د هاني بن کلثوم د حديث نه پس يو بل حديث واورولو او هغه دا دې ﴿لاَ يَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ﴾ معنق يعني خفيف الظهر، سريع السير دا د عتق نه اخستلې شوې دې لکه چه په کتاب الحج کښ تير شوې دی. ﴿كان يسير العنق فاذا اوجد فجوة نص﴾ د پوره حديث مطلب دا دې چه مسلمان سړې په تيزئ سره مخکښ ځي په صلاح او توفيق دنيکئ سره، ګويا ترقي کوی تر څو چه ناحق وينه توئې نه کړي، خو چه کله د چا ناحقه وينه توئې کړي نو پوهه شه چه هغه ستړې شو او د هر خير نه بند شو او ترقي د هغه ختمه شوه. وړاندې دا دی په روايت کښ چه هاني بن کلثوم هم د دې حديث اوريدلو نه پس هم دا حديث په خپل سند سره بيان کړو.

قوله: دا ټول شلور احاديث شو دوه د عبدالله بن ابى زكريا روايت كړې شوې، او دوه د هانى بن كلثوم روايت كړې شوى، اول دواړه احاديث د ابوالدارداء رضی الله عنه نه روايت كړې شوې دى او باقى دواړه د عباده بن الصامت رضی الله عنه نه، او په ټولو كښې تعظيم د قتل مومن موندلې شى كوم چه ترجمة الباب دې ج

[۴۲۷۱] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَمْرٍو عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُبَارَكٍ حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ خَالِدٍ أَوْ غَيْرُهُ، قَالَ: قَالَ خَالِدُ بْنُ دِهْقَانَ، سَأَلْتُ يَحْيَى بْنَ يَحْيَى الْغَسَّانِيَّ عَنْ، قَوْلِهِ: اعْتَبَطَ بِقَتْلِهِ، قَالَ: الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي الْفِتْنَةِ فَيَقْتُلُ أَحَدُهُمْ فَيَرَى أَنَّهُ عَلَى هُدًى لَا يَسْتَغْفِرُ اللَّهَ يَعْنِي مِنْ ذَلِكَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: فَاعْتَبَطَ يَصُبُّ دَمَهُ صَبًّا.

دخالد بن دهقان رحمه الله نه روايت دې فرمائى چه ماديحى بن يحي عصانې نه تپوس اوكړو چه په ذكر شوې حديث كښې چه «واعتبط بقتله» كوم الفاظ دي ددې څه مفهوم دې؟ هغه په جواب كښې اووئيل ددينه هغه خلق مراد دي څوک چه دفتنې په دور كښې يوبل په دې خيال مړ كړي چه مونږ په هدايت باندې يو او بياهغه ددې قتل په باره كښې معافي هم اونه غواړى.

[۴۲۷۲] (²) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ مُجَالِدِ بْنِ عَوْفٍ، أَنَّ خَارِجَةَ بْنَ زَيْدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ فِي هَذَا الْمَكَانِ يَقُولُ: أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: "وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا سورة النساء آية ۹۳ بَعْدَ الَّتِي فِي الْفُرْقَانِ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ سورة الفرقان آية ۶۸ بِسِتَّةِ أَشْهُرٍ".

د خارجه بن زيد رحمه الله نه روايت دې فرمائى چه دزيد بن ثابت نه مې په دې كوركښې اوريدلى دى چه وئيل ئې دا ايت: «وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا» ددې ايت: «وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ» نه شپږ مياشتې پس نازل شوې دې۔

قوله: ﴿أَنَّ خَارِجَةَ بْنَ زَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ فِي هَذَا الْمَكَانِ يَقُولُ أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ (وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا) بَعْدَ الَّتِي فِي الْفُرْقَانِ (وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ) بِسِتَّةِ أَشْهُرٍ﴾

د ناحق قتل مومن په باره كښې د ابن عباس رضی الله عنهما وغيره مسلک :

دا دوه آيتونه دى اول د سورة النساء چه د هغې مضمون دا دې چه كوم مسلمان بل مسلمان لره قصدا قتل كړى د هغه دائمى سزا جهنم دې، او بل آيت كريمه د سورة الفرقان دې، په دې آيت كښې د قتل مومن سزا خلود فى النار بيانولو نه پس د ﴿من تاب﴾ استثناء بيان كړې شوې ده. ﴿ويخلد فيه مهانا الا من تاب وامن وعمل صالحا﴾ د دې استثناء په وجه باندې د دواړو آيتونو په ظاهر كښې تعارض شو. د دې په باره كښې زيد بن ثابت رضی الله عنه دا فرمائى چه د سورة نساء والا آيت د سورة فرقان د آيت د نزول نه شپږ مياشتې پس شوې دې، يعنى د سورة نساء آيت محكم او غير منسوخ دې، او د سورة فرقان د آيت حكم منسوخ دې. (منسوخ الحكم غير منسوخ التلاوة)

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۵۴۴) (صحيح)
²): سنن النسائي/المحاربة ۲ (۴۰۱۱)، (تحفة الأشراف: ۳۷۰۶) (منكر)

د دي نه په روستو روايت کښې دا راځي : سعيد بن جبير رحمه الله فرمائي چه ما د ابن عباس رضي الله عنهما نه د دې تعارض په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی چه د دې کوم جواب راکړو د هغې حاصل دا دې چه د سورة فرقان د آيت تعلق د مشرکين سره دې، لهذا مطلب به دا وی چه کله يو مشرک يو مسلمان لره قتل کړی يا د هغې نه علاوه بله چه هر څه ګناه کوی هغه به ټول په ايمان راوړلو سره معاف شی، او د سورة نساء والا آيت تعلق د مسلمانانو سره دې چه کله يو مسلمان بل لره قصدا قتل کړی نو د هغې سزا به خلود فی النار وی. لهذا د دواړو آيتونو محمل بيل بيل دې او هيڅ تعارض نشته دواړه حکمونه په خپل خپل ځائې محفوظ دی.

[٤٢٧٣]()حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ أَوْ حَدَّثَنِي الْحَكَمُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ: "لَمَّا نَزَلَتِ الَّتِي فِي الْفُرْقَانِ وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلا بِالْحَقِّ سورة الفرقان آية ٦٨ قَالَ مُشْرِكُو أَهْلِ مَكَّةَ: قَدْ قَتَلْنَا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ وَدَعَوْنَا مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَأَتَيْنَا الْفَوَاحِشَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ إِلا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلا صَالِحًا فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ سورة الفرقان آية ٧٠، فَهَذِهِ لأُولَئِكَ، قَالَ: وَأَمَّا الَّتِي فِي النِّسَاءِ وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ سورة النساء آية ٩٣ الآيَةَ، قَالَ الرَّجُلُ: إِذَا عَرَفَ شَرَائِعَ الإِسْلامِ ثُمَّ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ لا تَوْبَةَ لَهُ، فَذَكَرْتُ هَذَا لِمُجَاهِدٍ فَقَالَ: إِلا مَنْ نَدِمَ".

دسعيد بن جبير رحمه الله نه روايت دې فرمائی چه دابن عباس نه مې تپوس اوکړو هغه اووئيل چه دسورة فرقان دا ايت کريمه : «وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلا بِالْحَقِّ» په هغه وخت کښې نازل شو کله چه مشرکانو وئيل مونږ خوهغه نفس قتل کړو دکوم قتل ګول چه الله تعالی حرام کړي دي او مونږ دالله تعالی نه علاوه نورو معبودانو ته چغه هم وهلي ده او مونږ دبدو مرتکب هم يو نويدي وخت کښې الله تعالی دا ايت کريمه: «إِلا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلا صَالِحًا فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ» نازل کړو، ليکن په سورة نساء کښې چه کوم ايت کريمه : «وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ» موجود دی دا ايت دهغه کس په باره کښې د څوک چه مسلمان وي اودشريعت نه واقف، وي اوددې باوجود هغه بل صاحب ايمان لره په قصد سره مړ کړي نودداسې کس سزا دوزخ دي اودده توبه به هم نه قبليږي، سعيد وئيلي وي چه داخبره ما مجاهد ته بيان کړه هغه په جواب کښې اووئيل که چرې قاتل پښيمانه وي اودزړه په صدق سره توبه اوباسي نودده توبه به قبوله کړې شي.

قوله:﴿ فَذَكَرْتُ هَذَا لِمُجَاهِدٍ فَقَالَ إِلاَّ مَنْ نَدِمَ ﴾

سعيد بن جبير رحمه الله فرمائی چه ما د ابن عباس رضي الله عنهما دا رائې اوريدلو سره چه کله مجاهد ته بيان کړه نو هغوی اوفرمائيل : الا من ندم..

د مجاهد دا قول په ظاهر کښې د ابن عباس رضي الله عنهما د رائې خلاف دې د هغوی رائې دا ده چه د ناحق قتل مومن نه پس د قاتل توبه چه په ندامت سره وی هغه قبليدې شی، د جمهور

(): صحيح البخاري/مناقب الأنصار ٢٩ (٣٨٥٥)، التفسير ١٦ (٤٥٩٠)، تفسير سورة الفرقان ٢ (٤٧٦٤)، صحيح مسلم/التفسير ح ١٦ (٣٠٢٣)، سنن النسائي/المحاربة ٢ (٤٠٠٧)، (تحفة الأشراف: ٥٦٢٤) (صحيح)

اهل السنة والجماعت رائې هم دا ده.

دباب د دې دواړو احاديثو نه ښکاره دا ثابتيږي چه په دې مسئله کښې زيد بن ثابت او ابن عباس رضي الله عنهما دواړه متفق دی د قاتل مومن په خلود فی النار کيدو باندې، خو د زيد بن ثابت رضي الله عنه رائې د دې دواړو آيتونو په باره کښې د نسخ ده چه يو ناسخ او بل منسوخ دې او د ابن عباس رضي الله عنهما رائې په ځائې د نسخ په اختلاف باندې محمول ده چه د دواړو آيتونو محمل بيل بيل دې، منسوخ په دې کښې يو هم نه دې، خو د بعض رواياتو نه معلوميږي چه ابن عباس رضي الله عنهما به کله خو د دې دواړو آيتونو په باره کښې هم دا فرمائيل يعنی اختلاف محمل، او کله به ئې هم هغه فرمائيل کوم چه زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمائيلې دی يعنی نسخ، پس د بخاری په يو روايت کښې دی کما فی عون المعبود.

﴿ فَقَالَ أَيْ اِبْن عَبَّاس هَذِهِ مَكِّيَّة أَرَاهُ نَسَخَتْهَا آيَة مَدَنِيَّة الَّتِي فِي سُورَة النِّسَاء قَالَ الْحَافِظ فِي الْفَتْح : إِنَّ اِبْن عَبَّاس كَانَ تَارَة يَجْعَل الْآيَتَيْنِ فِي مَحَلّ وَاحِد فَلِذَلِكَ يَجْزِم بِنَسْخِ إِحْدَاهُمَا وَتَارَة يَجْعَل مَحَلّهمَا مُخْتَلِفًا ، وَيُمْكِن الْجَمْع بَيْن كَلَامَيْهِ بِأَنَّ عُمُوم الَّتِي فِي الْفُرْقَان خُصَّ مِنْهَا مُبَاشَرَة الْمُؤْمِن الْقَتْل مُتَعَمِّدًا ، وَكَثِير مِنْ السَّلَف يُطْلِقُونَ النَّسْخ عَلَى التَّخْصِيص وَهَذَا أَوْلَى مِنْ حَمْل كَلَامه عَلَى التَّنَاقُض وَأَوْلَى مِنْ دَعْوَى أَنَّهُ قَالَ بِالنَّسْخِ ثُمَّ رَجَعَ عَنْهُ اه ﴾ (عون)

د ابن عباس رضي الله عنهما د مسلک په باره کښې امام نووی رحمه الله فرمائی چه د هغوی مشهور مسلک هم دا دې، او دويم روايت د هغوی نه دا هم دې چه د قاتل مومن دپاره توبه شته لقوله تعالی : ﴿ وَمَنْ يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَحِيمًا ﴾ او بيا فرمائی چه د ابن عباس رضي الله عنهما چه کوم روايت ثانيه دې ﴿ هي مذهب جميع أهل السنة والصحابة والتابعين ومن بعدهم وما روى عن بعض السلف مما يخالف هذا محمول على التغليظ والتحذير من القتل وليس في هذه الآية التي احتج بها ابن عباس تصريح بأنه يخلد وانما فيها أنه جزاءه ولايلزم منه أنه يجازى اهـ﴾ دا چه کومه آخری خبره د امام نووی رحمه الله په کلام کښې تيره شوه چه په دې آيت کريمه کښې د خلود تصريح نشته بلکه په آيت کريمه کښې خو دا دی چه د داسې سړی په قاعده او ضابطه کښې دا ده او د سزا کيدو نه دا نه لازميږی چه هغه ته دې سزا هم ورکړې شی، دا خبره دلته په کتاب کښې د ابومجلز نه روستو راروانه ده.

[۴۲۷۴] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ، حَدَّثَنِي يَعْلَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ فِي وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ سورة الفرقان آية ۶۸ أَهْلِ الشِّرْكِ، قَالَ: وَنَزَلَ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ سورة الزمر آية ۵۳.

دسعيد بن جبير رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دابن عباس ل نه مې همدا تپوس اوکړو چه ايت کريمه: «وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ» نه مراد هغه خلق دي چاچه شرک کړې وي او وائی چه بيا دا ايت کريمه: «يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تقنطوا من رحمة الله» نازل شو.

(۱): صحيح البخاري/ التفسير (زمر) ۱ (۴۸۸۰)، صحيح مسلم/ الإيمان ۵۴ (۱۲۲)، سنن النسائي/ المحاربة ۲ (۴۰۰۹)، (تحفة الأشراف: ۵۶۵۲) (صحيح)

[۴۲۷۵]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ الْمُغِيرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا، قَالَ: مَا نَسَخَهَا شَيْءٌ".

دسعيد بن جبير رحمه الله نه روايت دي فرمائي چه ابن عباس نه وئيلى دى چه آيت كريمه : «وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا» په هيڅ يو ايت باندې نه دې منسوخ شوې

[۴۲۷۶]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ فِي قَوْلِهِ: "وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ سورة النساء آية ۹۳، قَالَ: هِيَ جَزَاؤُهُ فَإِنْ شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنْهُ فَعَلَ".

دابومجلز نه دالله تعالى ددې قول : «وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ» په باره كښې منقول دي چه څوک يومومن په قصد سره مړ كړي نو دده سزا همدا ده كوم چه الله تعالى فرمائيلي دي چه دغه كس به هميشه په دوزخ كښې سوزيږي اوكه چرې الله تعالى اوغواړي نو مغفرت به ورته وكړي.

قوله:(عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ فِي قَوْلِهِ (وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ) قَالَ هِيَ جَزَاؤُهُ فَإِنْ شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنْهُ فَعَلَ) يعنى سزا خو د داسې سړى هم دا ده خو الله پاک كه اوغواړى نو معاف به ئې كړى. حديث زيد بن ثابت رضي الله عنه اخرجه النسائى، واثر سعيد بن جبير اخرجه البخارى ومسلم بنحوه، قاله المنذرى.

بَابُ مَا يُرْجَى فِي الْقَتْلِ

باب: (په فتنه كښې) دقتل كيدو نه پس (د مغفرت) داميد ساتلو بيان

په ظاهره دا "القتل" مصدر مبنى للمفعول دې يعنى په فتنه كښې په ځائې ددې چه په قتال كښې حصه واخستلى شى په خپله په مقتول كيدو كښې چه دكوم اجر او ثواب اميد كيدې شى دهغې ذكر.

[۴۲۷۷]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ سَلَّامُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: "كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ فِتْنَةً فَعَظَّمَ أَمْرَهَا فَقُلْنَا، أَوْ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَئِنْ أَدْرَكَتْنَا هَذِهِ لَتُهْلِكَنَّا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَلَّا إِنَّ بِحَسْبِكُمُ الْقَتْلُ" قَالَ: سَعِيدٌ فَرَأَيْتُ إِخْوَانِي قُتِلُوا.

دسعيد بن زيد رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږ دنبى عليه السلام سره موجود ووچه ديوې فتنې ذكرنې وكړواونبى عليه السلام ددې فتنې ډير مذمت اوشدت بيان كړو مونږ ووئيل اې دالله رسوله كه چرې دافتنه په مونږ راشي. نو مونږ خوبه هلاک كړي نبى عليه السلام اوفرمائيل هيڅكله نه ستاسوقتل كيدل كافي دي. سعيد وائى چه ماخپل ورونړه قتل كړي شوي اوليدل.

قوله: (كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– فَذَكَرَ فِتْنَةً فَعَظَّمَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه

[1]: صحيح البخاري/ التفسير (سورة النساء) صحيح البخاري/ التفسير ۱۶ (۴۵۹۰)، وتفسير سورة الفرقان ۲ (۴۷۶۳)، صحيح مسلم/التفسير ۱۶ (۳۰۲۳)، سنن النسائي/ المحاربة ۲ (۴۰۰۵)، (تحفة الأشراف: ۵۶۲۱) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۵۲۷) (حسن)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۴۴۶۹) (صحيح)

وسلم- «كَلاَّ إِنَّ بِحَسْبِكُمُ الْقَتْلُ» ﴾ سعيد بن زيد ﷺ فرمائي چه يوه ورځ مونږ د رسول الله ﷺ په مجلس کښې وو نو هغوی د يوې فتنې ذکر اوفرمائيلو او د هغې غټيدل ئې ثابت کړل، په دې باندې مونږ عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ چه که مونږ دا فتنه بيا موندله (ففی رواية ان ادرکنا هذا لنهلکن) نو مونږ ټول به هلاک شو؟ نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه داسې نه ده بلکه ستاسو دپاره مقتول کيدل کافي دي يعنی خطره او ضرر خو په هغه صورت کښې دې چه کله تاسو په دې کښې شريکيدلو سره قتال کوئ، او که د قتال په ځائې د هابيل په شان مقتول جوړ شئ نو بيا څه ضرر دې.

قوله: ﴿ قَالَ سَعِيدٌ فَرَأَيْتُ إِخْوَانِي قُتِلُوا ﴾ سيدنا سعيد بن زيد ﷺ راوی حديث فرمائي چه ما خپل رونړه اوليدل چه هغوی (د رسول الله ﷺ د وينا مطابق) قتل کړې شو، لهذا د هغه فتنې د ضرر نه محفوظ شو.

[٤٢٧٨](١)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُمَّتِي هَذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُومَةٌ لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الْآخِرَةِ، عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا الْفِتَنُ وَالزَّلَازِلُ وَالْقَتْلُ".

د ابوموسی ﷺ نه روايت دې فرمائي چه نبی ﷺ فرمائيلی دی زما دا امت، امت مرحومه دې ددوی دپاره په آخرت کښې دائي عذاب نشته ليکن ددوی دپاره عذاب په دنياکښې فتنې اوزلزلې اوقتليدل دي.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «أُمَّتِي هَذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُومَةٌ لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الآخِرَةِ عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا الْفِتَنُ وَالزَّلاَزِلُ وَالْقَتْلُ» ﴾ دا حديث ډير د اميدونو او د تسلئ دې، رسول الله ﷺ فرمائي چه زما امت امت مرحومه دې، او بيا د دې تفصيل هغوی پخپله اوفرمائيلو چه په آخرت کښې به په دوی باندې څه خاص عذاب نه وی (که لږ شان وی نو وی به) د دې امت عذاب خو په دنيا کښې د فتنو راتلل او زلزلې او قتل دې

يعنی دنيا ته چه کومې فتنې راځي او د ګناهونو په وجه چه کوم آسمانی آفتونه بيا موندلې شی په زلزلو او قحط سالئ وغيره سره او نورو مصيبتونو او قتل وغارت وغيره هم دا څيزونه به د دې امت دپاره کفاره شي، په آخرت کښې به ان شاء الله څۀ خاص عذاب نه وی، معافی به اوکړې شی. ﴿ما يفعل الله بعذابكم ان شكرتم وامنتم وكان الله عليما حكيما ﴾

د دې حديث په باره کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ﴿ امتی هذه ﴾ يعنی رسول الله ﷺ خپل طرف ته نسبت کولو سره اوفرمائيل چه دا امت يعنی امت محمديه، په دې کښې اشاره ده دې طرف ته چه دا کوم څيز چه د رسول الله ﷺ دې امت ته حاصل دې دا هم د دې نسبت اثر دې او هم د هغوی فيض او برکت دې. صلى الله عليه وسلم تسليما كثيرا كثيرا.....

جزى الله عنا مولانا محمدا ما هو اهله، لله در المصنف ماشاء الله د کتاب الفتن په آخر کښې ئې ډير ښه حديث راوړلې دې، الحمد لله الذى بنعمته تتم الصالحات........آخر کتاب الفتن.

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٠٩٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤١٠، ٤١٨) (صحيح)

كِتَابُ الْمَلَاحِمِ
د لويو جنګونو بيان
كِتَابُ الْمَهْدِى
د مهدی متعلق بیان

د نسخو اختلاف:

او په یو نسخه کښې دی ﴿ بسم الله الرحمن الرحیم ﴾ اول کتاب المهدی... د اختلاف النسخ نور تفصیل د کتاب الفتن په شروع کښې تیر شوې دې.
او په بعضو نسخو کښې دی کتاب الملاحم... ملاحم د ملحمه جمع ده یعنی موضع قتال یا واقعه عظیمه یعنی لوئې جنګ، دا یا خو د لحمة نه اخستلې شوې دې یعنی د لحمة الثوب نه لکثرة الاختلاف والاختلاط کما يختلط السداد واللحمة (ځکه چه په جنګ کښې اختلاف او اختلاط وی) او یا د لحم نه اخستلې شوې دې لكثرة لحوم القتلى فيها..... ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه د رسول الله ﷺ په نومونو مبارکو کښې یو نوم نبی الملحمة هم دې لکه ځنګه چه د هغوی په نومونو مبارکو کښې یو نوم نبی الرحمة دې. چونکه هغوی آخری نبی خاتم النبیین دی او د هغوی امت اخر الامم دې، ځنګه چه د هغوی نه پس بل نبی نشته هم دغه شان بل امت هم نشته لهذا قیامت او د هغې ټول متعلقات او لوازمات فتن وغیره د رسول الله ﷺ په امت کښې راپیښیدونکې دی هم په دې لحاظ سره رسول الله ﷺ نبی الملحمة شو.

[٤٢٧٩] (١) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ يَعْنِي ابْنَ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا يَزَالُ هَذَا الدِّينُ قَائِمًا حَتَّى يَكُونَ عَلَيْكُمْ اثْنَا عَشَرَ خَلِيفَةً كُلُّهُمْ تَجْتَمِعُ عَلَيْهِ الْأُمَّةُ، فَسَمِعْتُ كَلَامًا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ أَفْهَمْهُ، قُلْتُ لِأَبِي مَا يَقُولُ؟ قَالَ: كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ".

جابر بن سمره رضی الله عنه وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واؤریدل چه: دا دین به برابر قائم وی تردې چه په تاسو به دولس خلیفه ګان وی، په هغوی کښې به هر یو باندې امت اتفاق کوی، بیا ما د نبی کریم ﷺ نه یوه داسې خبره واؤریده چه په هغې زه پوهه نه شوم، ما دخپل پلار نه تپوس اوکړو: چه نبی کریم ﷺ څه اوفرمائیل: هغوی راته اووئیل چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: دا ټول خلفاء به د قریشو وی.

تخریج الحدیث واختلاف الفاظه :

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « لاَ يَزَالُ هَذَا الدِّينُ قَائِمًا حَتَّى يَكُونَ عَلَيْكُمُ اثْنَا عَشَرَ خَلِيفَةً ....الخ ﴾
دا حدیث د ابوداؤد نه علاوه په ترمذی او مسلم شریف کښې هم دې، په الفاظو کښې څه اندازه اختلاف دې په ترمذی کښې دا الفاظ دی: ﴿ عن جابر بن سمرة قال : قال رسول الله صلى الله عليه

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢١٣٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأحكام ٥١ (٧٢٢٢)، صحيح مسلم/الإمارة ١ (١٨٢١)، سنن الترمذي/الفتن ٤٦ (٢٢٢٤)، مسند احمد (٨٦/٥، ٨٨، ٩٦، ١٠٥) (صحيح)

و سلم يكون من بعدي اثنا عشر أميرا قال ثم تكلم بشيء لم أفهمه فسألت الذي يليني فقال قال كلهم من قريش. قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح، وقدروى من غير وجه عن جابر بن سمرة، وفي الباب عن ابن مسعود و عبد الله بن عمرو ﴾ او په صحيح مسلم كښې په يو طريق كښې دي ﴿ إِنَّ هَذَا الْأَمْرَ لاَ يَنْقَضِي حَتَّى يَمْضِيَ فِيهِمُ اثْنَا عَشَرَ خَلِيفَةً، كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ وفي رواية لاَ يَزَالُ أَمْرُ النَّاسِ مَاضِيًا مَا وَلِيَهُمُ اثْنَا عَشَرَ رَجُلاً، كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ﴾ او په يو روايت كښې دي ﴿ لاَ يَزَالُ هَذَا الدِّينُ عَزِيزًا مَنِيعًا إِلَى اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيفَةً ﴾ او په صحيح بخاري كښې هم دا حديث اگر چه دې خو مختصرا، ولفظ في كتاب الاحكام في باب بلا ترجمة من حديث جابر بن سمرة رضي الله عنه سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ يَكُونُ اثْنَا عَشَرَ أَمِيرًا - فَقَالَ كَلِمَةً لَمْ أَسْمَعْهَا فَقَالَ أَبِي إِنَّهُ قَالَ - كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ ﴾

د حديث مطلب او په هغې باندې اشكال او جواب:

جابر بن سمره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد نقل كوى چه دا دين يعنى اسلام به قائم او محفوظ وى تر د دولسو خليفه گانو پورې كوم چه به دا سې وى چه امت به د هغوى په خلافت باندې متفق وى او هغه ټول به د قريشو نه وى.

په دې حديث باندې امام نووي رحمه الله وغيره شارحينو دوه اشكالونه نقل كړى دى اول دا چه دا حديث د هغه حديث خلاف دې چه په هغې كښې دى چه ﴿ الخلافة بعدى ثلاثون سنة ثم بعد ذلک ملک ﴾ ځكه چه د ديرشو كالو پورې خو صرف څلور خليفه گان تير شوې دى او په دې حديث كښې د دولسو خليفه گانو ذكر دې، جواب دا دې چه د ثلاثونه سنة والا حديث نه مطلق خلافت نه دې مراد بلكه خلافت راشده او خلافت على منهاج النبوة مراد دې، كوم چه په على رضي الله عنه باندې پوره كيږى[1] پس په بعض رواياتو كښې تصريح ده، ﴿ خلافة النبوة بعدى ثلاثون سنة ثم تكون ملكا ﴾ او په دې دويم حديث كښې د دولسو خليفه گانو ذكر دې د خلافت نه مراد مطلق خلافت مراد دې.

دويم اشكال دا كولې شى چه په دې حديث كښې چه كوم عدد ذكر دې يعنى دولس دغه شان خو ډير خلفاء تير شوې دى، [2] جواب ظاهر دې چه د رسول الله ﷺ مراد دا دې چه دا دين به ان شاء الله تر د دولسو خلفاء پورې باقى وى، په دې كښې د زائد نفى كوم ده، لكه چه هم د دې كتاب الملاحم په آخرى حديث كښې دى چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: إِنِّي لأَرْجُو أَنْ لاَ تَعْجِزَ أُمَّتِي عِنْدَ رَبِّهَا أَنْ يُؤَخِّرَهُمْ نِصْفَ ». قِيلَ لِسَعْدٍ وَكَمْ نِصْفُ يَوْمٍ قَالَ خَمْسُمِائَةِ سَنَةٍ﴾ يعنى د الله پاک نه اميد ساتم د دې خبرې چه زما امت به كم از كم د نيمې ورځې پورې باقى وى يعنى پنځه سوه كاله.

---

[1] موده د خلافت د خلفاء راشدينو لاندې ليكلې شى، صديق اكبر دوه كاله او درې مياشتې عمر فاروق لس كاله او شپږ مياشتې او عثمان ذوالنورين يولس كاله او يولس مياشتې او على (رض) څلور كاله او نهه مياشتې او د دې نه پس د خلافت حسن شپږ مياشتې يو ځائې كولو سره ديرش كلونه پوره كيږى رضي الله تعالي عنهم)

[2] ځكه چه صرف د خلفاء بنو اميه تعداد د معاويه رضي الله عنه نه پس ديارلس دې او خلفاء عباسيه د دوى نه هم زيات يعنى پنځوس دى)

الكلام على شرح الحديث وبيان معانيه :

دلته سوال دا واردیږی چه د رسول الله ﷺ نه روستو چه کوم دولس خلفاء بیا موندلی شو چه په هغوی کښې خلفاء اربعه یعنی خلفاء راشدین، او باقی خلفاء د بنو امیه چه په هغوی کښې ډیر غیر عادل وو، مثلاً مروان بن یزید وغیره بیا هغوی د دې حدیث مصداق څنګه کیدې شی؟ د دې جواب دا دې چه د رسول الله ﷺ مراد په دې حدیث کښې دا نه دې چه هغه خلفاء به ټول په ټوله عادلان وی بلکه هغوی که هرڅنګه وی نو د هغوی په زمانه کښې به د اسلام عزت او طاقت باقی وی. پس هم دغه شان اوشوه چه د دې زمانې پورې د اسلام طاقت او حسن نظام باقی وو او بیا دیارلسم خلیفه یعنی ولید بن یزید بن عبدالملک نه نظام سلطنت قائم پاتې نه شو او هغه د خلافت په څلورم کال باندې قتل کړې شو خو صرف په دې توجیه سره هم د اشکال نه خلاصیدل ګران دی ځکه چه د دریم او څلورم خلیفه په دور کښې جنګونه اوشو جنګ جمل او جنګ صفین وغیره، د هغې جواب دا کیدې شی چه دا اختلافات په مسئله د خلافت باندې نه وو بلکه د بادشاهئ په نورو امورو یعنی انتظامی امور سره د هغې اصل تعلق وو. او ولید بن یزید ته چه مونږ دیارلسم خلیفه اووې هغه داسې چه د مینځ نه معاویه بن یزید (بن معاویه) او مروان او عبدالله بن الزبیر رضی الله عنهما مستثنی کړې شی لعدم اجتماع الناس علی ولایتهم... پس د هشام بن عبدالملک پورې د دولسو عدد پوره شو د دې نه پس د خلافت په مسئله کښې د خلقو اجتماع او اتفاق پاتې نه شو كذا قال القاضی عیاض وابن تیمیة وغیرهما هذا هو المعنی الاول من المعانی المذكورة لهذا الحديث فی حاشية اللامع... دویم قول دلته دا دې چه په حدیث کښې د امراء نه امراء عدل مراد دی خو دا مطلب نه دې چه دا دولس امراء به مسلسل علی التوالی موندلې شی بلکه متفرق طریقې سره به تر د قیامت د قیام پورې وی او آخری به په هغوی کښې امام مهدی رضی الله عنه وی حضرت سهارنپوری په بذل کښې هم دا مطلب راجح کړې دې او دا ئې لیکلې دی : والتفصيل فی ذلك ذكره السيوطی فی تاريخ الخلفاء (مولانا الشيخ ولی الله الدهلوی فی قرة العينين فی تفضيل الشيخين) اهـ د دې دویم قول تفصیل او تشریح وړاندې زمونږ په حاشیه کښې راځی او شیعه حضرات خصوصاً فرقه اثناء عشریه دا وائی چه د دې نه زمونږ دولس امامان مراد دی د رسول الله ﷺ نه پس اولهم علی (١) واخرهم محمد بن الحسن العسكری المهدی المنتظر، کوم چه په غار سر من رای کښې پټ دې چه د الله پاک په حکم سره به د قیامت نه مخکښې ښکاره کیږی او په دنیا کښې به عدل او انصاف قائموی، او د حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې دی، اختلفوا فی معنی الحديث علی اقوال كثيرة كما بسطه المحشی والحافظ والعينی والقاری والبسط من الكل فی هامش اللامع ۲/۳۱۹.(فی كتاب الاحكام)

---

(١) او د هغوی نه روستو حسن بن علی بیا حسین بن علی بیا علی بن حسین المشهور به امام زید العابدین بیا محمد باقر بیا جعفر الصادق بیا موسی کاظم بیا علی رضا بیا محمد بن علی التقی بیا علی بن محمد النقی او بیا حسن بن علی العسکری)

دا حديث په بخاری کښې په کتاب الاحکام کښې هم شته لکه چه په شروع کښې تير شو، حضرت شيخ هلته په لامع الدراری کښې په حاشيه باندې ډير په تفصيل سره کلام فرمائيلې دې چه څوک غواړی هلته دې اوګوری. (۱)

[۴۲۸۰] (۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا يَزَالُ هَذَا الدِّينُ عَزِيزًا إِلَى اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيفَةً، قَالَ: فَكَبَّرَ النَّاسُ وَضَجُّوا، ثُمَّ قَالَ: كَلِمَةً خَفِيفَةً، قُلْتُ لِأَبِي: يَا أَبَتِ مَا قَالَ: قَالَ: كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ".

دجابر بن سمرة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه د رسول الله ﷺ نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل ئې: دا دين به هيشه قائم وي تردې په تاسوباندې به ددولس خليفه ګانودور راشي

(۱) په حاشيه د لامع الدراری کښې ئې د دې حديث په شرح کښې دولس اقوال ذکر کړې دی چه د هغې نه دوه درې اقوال خو مونږ پورته په شرح کښې ذکر کړې دی دوه اقوال دلته نور نقل کوو کوم چه زيات مشهور دی:

۱: په حديث کښې چه کوم لفظ د بعدی راغلې دې هغه دې په بعدية حقيقية متصله باندې محمول کړې شي او په دې صورت کښې به د رسول الله ﷺ نه پس د صديق اکبر نه تر د عمر بن عبدالعزيز پورې مسلسل څورالس خلفاء برابر شی چه په هغې کښې خو د دوه کسانو خلافت صحيح او منعقد شوې هم نه دې او نه ئې څه وخت شوې دې يعنی معاويه بن يزيد بن معاويه او مروان، لهذا اوس په هغه څوارلسو خلفاء کښې د دوو د اخراج نه پس د عمر بن عبدالعزيز د زمانې پورې دولس خلفاء باقی پاتې کيږی، د موصوف وفات په ۱۰۱ هجری کښې شوې دې يعنی قرن اول کوم چه خير القرون دې د دې په ختميدو باندې چونکه د دې نه پس په دې احوالو کښې مسلسل تغير او انقلاب راتلو. او په دې باندې دا اشکال هم دې چه په حديث کښې خو دی ﴿يجتمع الناس عليهم﴾ او دا صفت په دې دولسو کښې په حسن بن علی او عبدالله بن الزبير رضي الله عنه کښې نه دې موندلې شوې، د دې جواب دا کيدې شی چه ﴿يجتمع عليهم﴾ د اکثرو په اعتبار سره فرمائيلې شوې دی چه دا دولس خلفاء به داسې وی چه په هغوی باندې به اکثر خلق متفق او مجتمع شی.

۲: د رسول الله ﷺ مراد دا دې چه زما نه روستو به په ټوله موده د اسلام کښې تر قيامته پورې دولس خلفاء داسې موندلې شی چه د هغوی عمل به د هدايت او دين حق مطابق وی چه په هغوی کښې به دوه د آل بيت محمد نه وی لکه چه د مسند د مسدد په روايت کښې د دې تصريح ده، علامه سيوطی رحمه الله د دې معنی تشريح کولو سره فرمائی چه په هغه دولسو کښې خلفاء اربعه او حسن، معاويه او ابن الزبير او عمر بن عبدالعزيز خو تير شوې دی او احتمال دې چه په دې کښې د خلفاء عباسيه نه مهتدی بالله هم شمار کړې شی ځکه چه هغه په خلفاء عباسيه کښې داسې دې لکه په امراء د بنو اميه کښې عمر بن عبدالعزيز هم دغه شا ن الظاهر عباسی چه ډير زيات عادل وو، وړاندې د آل محمد نه دوه باقی پاتې شو چه په هغوی کښې يو خو حضرت مهدی دې يو بل څوک د هغوی نه علاوه، والله تعالی اعلم. حضرت سهارنپوری په بذل المجهود کښې هم دا قول غوره کړې دې چه د دې دولسو خلفاء نه مراد هغه دی کوم چه د خلفاء راشدينو په سيرت باندې وی او ترقيامته پورې به په مختلفو زمانو کښې موندلې شی او په آخر کښې به حضرت مهدی وی حافظ ابن کثير رحمه الله هم په خپل تفسير کښې دا قول اختيار کړې دې د آيت کريمه ﴿وعد الله الذين امنوا منكم وعملوا الصالحات ليستخلفنهم الاية﴾ د لاندې اهـ. من هامش اللامع.... دا معنی ثانی پورته په شرح کښې مختصرا تيره شوې ده، يو قول دلته دا هم دې چه دا حديث دې هم دغه شان مبهم پريخودلې شی، قال الشيخ ابن تيميه في المنهاج ومنهم من قال لا افهم بمعناه كابي بكر بن العربي اهـ (حاشية اللامع)

(۲): صحيح مسلم/الإمارة ۱ (۱۸۲۱)، (تحفة الأشراف: ۲۲۰۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸۷/۵، ۸۸، ۹۰، ۹۳، ۹۶، ۱۰۱، ۱۰۶) (صحيح)

پدرې کې به په هر يوخليف، با نه دى امت اتفاق کوي بيا نبى عليه السلام يوه داسې خبره اوفرمائيله په کومه چه زه پوهه نشوم نومادخپل پلارنه تپوس وکړوچه څه مراد ئې دې؟هغه راته اووئيل چه دنبى عليه السلام مراد دادې چه دا ټول خلفاء به دقريشو نه وي.

[۴۲۸۱]() حَدَّثَنَا ابْنُ نُفَيْلٍ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ خَيْثَمَةَ، حَدَّثَنَا الْأَسْوَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ زَادَ فَلَمَّا رَجَعَ إِلَى مَنْزِلِهِ أَتَتْهُ قُرَيْشٌ فَقَالُوا: ثُمَّ يَكُونُ مَاذَا؟ قَالَ: ثُمَّ يَكُونُ الْهَرْجُ.

په دې سند سره هم د جابر بن سمره رضي الله عنه نه هم دغه حديث روايت دې، په دې کښې دومره اضافه ده چه بيا نبى کريم صلى الله عليه وسلم خپل کور ته واپس لاړو نو د قريشو خلق هغوى ته راغلل او عرض ئې اوکړو چه: بيا به څه وى؟ نو نبى کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: بيا به قتل وى.

بَابٌ فِي ذِكْرِ الْمَهْدِي

باب: د امام مهدى متعلق بيان

کتاب الفتن شروع دې فتنې چه څومره هم دى د هغې شمير د علامات قيامت نه دې او په علامات قيامت باندې مستقل کتابونه علماء کرامو ليکلې دى "الاشاعة لاشراط الساعة" د علامه برزنجى مشهور تصنيف د کوم ذکر چه د کتاب الفتن په شروع کښې راغلې دې د دې سلسلې ډير جامع او تحقيقى تصنيف دې.

د علامات قيامت تقسيم :

په دې کتاب کښې د دې مصنف رحمه الله درې ابواب قائم کړى دى : الباب الاول فى الامارات البعيدة التى ظهرت وانقرضت..... يعنى د قيامت هغه علامات د کومو چه ظهور شوې دې او تير شوې دى لکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات او د امير المومنين سيدنا عمر رضي الله عنه قتل، او جنګ جمل او صفين او جنګ نهروان وغيره وغيره، او دويم باب ﴿ الباب الثانى فى الامارات المتوسطة التى ظهرت ولم تنقض ﴾ يعنى هغه علامات کوم چه په مينځ کښې موندلې کيدونکى دى چه د هغې ظهور د قسم اول نه پس شوې دې او ظهور ئې قائم دې د هغې انقراض نه دې شوې بلکه جارى دى، او قسم ثالث کوم چه راتلونکى دى هغې سره به ملاؤ شى، مثلا په حديث کښې دى ﴿ لا تقوم الساعة حتى يكون اسعد الناس لكع بن لكع ﴾ او لکه ﴿ لا تقوم الساعة حتى يتباهى الناس فى المساجد ﴾ او لکه ﴿ من اقتراب الساعة انتفاخ الاهلة ﴾ او لکه ﴿ ان تتخذ المساجد طرقا ﴾ وغيره وغيره او دريم باب الباب الثالث فى الاشراط العظام والامارات القريبة التى تعقبها الساعة... يعنى هغه علامات کوم چه به بالکل په آخر کښې قيامت ته نزدې راځى، او دا اوګڼړئ چه بس د هغې نه روستو به قيامت وى.

په دې کتاب مذکوره کښې ئې چه د علامات د قسم ثالث نه اول کوم علامت شمار کړې دې هغه د امام مهدى ظهور دې، پس هغوى ليکى : فمنها المهدى وهو اولها واعلم ان الاحاديث الواردة فيه على اختلاف رواياتها لا تكاد تنحصر، فقد قال محمد بن الحسن الاسنوى فى

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۱۲۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۲/۵) (صحيح)

کتاب مناقب الشافعی : قد تواترت الاخبار عن رسول اللہ ﷺ بذکر المهدی وانه من اهل بیته ﷺ او د دې په حاشیه باندې حضرت شیخ لیکلې دی : وبسط فی الروایات ابن حجر فی الفتاوی الحدیثیة اهـ هم دغه شان د علامه سیوطی رساله العرف الوردی فی اخبار المهدی ډیره مشهوره ده [1] کومه چه په الحاوی للفتاوی کښې شامله ده، په دې رساله کښې هغوی لس کم سل (نوی) احادیث مرفوعه ذکر فرمائیلي دی د آثارو نه علاوه چه په هغې کښې شپږ دیرش روایاتو کښې د امام مهدی تصریح ده او په باقی کښې الخلیفة العادل سره ذکر دې.
په التعلیق الصبیح علی مشکوة المصابیح صفحه ۱۹۲ (ازمولانا محمد ادریس کاندهلوی) کښې هم په دې باندې تفصیلی کلام دې وفیه وقد اخرج احادیث المهدی ائمة الحدیث فی دواوین السنة کالامام احمد والترمذی والبزار وابن ماجه والحاکم والطبرانی وابویعلی الموصلی ونعیم بن حماد شیخ البخاری وغیرهم اهـ د دې سلسلې ډیر روایات خپله کتاب کښې راروان دی.

د امام مهدی په باره کښې عقیده

په تحفة الاحوذی کښې ﴿ باب ما جاء فی المهدی ﴾ په شروع کښې لیکلې دی چه د ټولو اهل اسلام ترمینځه د همیشه نه دا خبره مشهوره راروانه ده چه داسې به ضرور کیږی چه په اخره زمانه کښې په یو سړې د اهل بیت نه ښکاره کیږی چه د دین حمایت به کوی او په دنیا کښې به عدل وانصاف قائموی او مسلمانان به د هغه اتباع کوی، او ټول اسلامی ملکونه به د هغه د حکم نه لاندې وی، د چا نوم چه به مهدی وی (یعنی لقب به ئې دا وی په کوم سره چه به هغوی مشهور وی ګینې نوم خو به د هغوی محمد بن عبدالله وی لکه چه په احادیثو کښې تصریح ده) او دا چه خروج الدجال او د هغې نه روستو علامات قیامت به د هغوی نه روستو موندلې شی، او هم د هغوی په زمانه کښې به د عیسی ﷺ د آسمان نه نزول کیږی او بیا به هغوی د امام مهدی ملګری کیدلو سره دجال قتل کړی، او په شروع کښې به هغوی یو مونځ هم د امام مهدی په اقتداء کښې ادا کوی (چه دا ظاهره شی چه د عیسی ﷺ نزول په حیثیت د یو نبی نه دې) او د دې احادیث مهدی تخریج ډیرو اصحاب السنن ابوداؤد ترمذی ابن ماجه وغیرهم کړې دې. چه د هغوی احادیث صحیح حسن او ضعیف درې واړه قسمه دی.
او بیا وړاندې لیکی چه مشهور مورخ ابن خلدون مغربی په خپل تاریخ کښې د ټولو احادیث مهدی تضعیف په طریقه د مبالغې کړې دې چه په هغې کښې هغوی حق ته نه دی رسیدلې بلکه خطاء شوې دی. او بعض منکرین مهدی په خپله دعوی باندې د دې حدیث مرفوع نه استدلال کړې دې چه د رسول اللہ ﷺ ارشاد دې : ﴿ لا مهدی الا عیسی ابن مریم ﴾ والحدیث ضعفه البیهقی و الحاکم،وفیه ابان بن صالح وهو متروک الحدیث، والله تعالی اعلم کذا فی عون المعبود اهـ ﴿ لا مهدی الا عیسی ابن مریم ﴾ په ابن ماجه کښې دې، د ابن ماجه په حاشیه باندې په دې باندې تفصیلی کلام کړې شوې دې.

---

[1]) عزیز قدرمند مولوی محمد ارشد کاندهلوی سلمه دا رساله ډیر په اهتمام سره شائع کړې ده مختلفو نسخو لره مخې ته ږدلو سره فجزاه الله خیرا الجزاء)

د ابن خلدون د اشکالاتو جوابونه حضرت تهانوی رحمه الله تفصیلا ذکر کړي دي کوم چه مستقل د یو رسالې په شکل کښې دی کومه چه د امداد الفتاوی شپږم جلد په آخره کښې ملحق ده، حضرت په دې رساله کښې د دې حدیث ﴿ لا مهدی الا عیسی ابن مریم ﴾ هم ځواب ورکړي دی، د دې رسالې په باره کښې حضرت لیکلي دي چه د دې رسالې چه څنګه د بحث عقائده قدیمه سره تعلق دې لکه چه ظاهر دې دغه شان ئې د عقائد جدیده سره هم تعلق دې چه نوی تعلیم یافته هم د دې عقیده مهدی نافي دی، پس د دواړو مباحث نه پس د دې الحاق ډیر مناسب دې اهـ. د دې نه مخکښې په دې کښې (امداد الفتاوی هم په دې جلد کښې) دوه بحثونه نور ذکر دی کوم چه د عام عقائدو سره مناسبت لری هم په دې وجه حضرت داسې فرمائیلې دی.

څنګه چه د ختم نبوت مسئله په مسئله اعتقادیه کښې ده چه په هغې باندې د انسان د ایمان او اسلام صحت موقوف دې، هم دغه شان د دې سلسلې یو کړئ د خروج مهدی مسئله ده چه د هغې په باره کښې بعض فرق باطله مستقل رائې لری لکه شیعه حضراتو کښې فرقه اثنا عشریه هغوی د امام مهدی په باره کښې خپله مستقل رائې لری لکه چه اوس مخکښې حدیث ﴿ لا یزال هذا الدین قائما ﴾ په شرح کښې تیر شو، بله دا چه په مختلفو زمانو کښې مختلفو خلقو د خپل ځان باره کښې د مهدی کیدو دعوی اوکړه، دې لعین قادیان هم د خپل ځان په باره کښې د مسیح موعود کیدو دعوی کوله او کله ئې د مهدی موعود، هم په دې وجه علماء کرامو دا بحث د عقائدو په بحث کښې شامل کړې دې، نور هم بعض داسې مسائل دی چه د عقائدو په بحث کښې شامل کړې شوې دی مثلاً د شرب نبیذ مسئله او هم دغه شان د مسح علی الخفین مسئله، شرح عقائد کښې د ظهور مهدی مسئله د مسئله امامت د لاندې ذکر کړې شوې ده : ﴿ والمسلمون لا بدلهم من امام یقوم بتنفیذ احکامهم واقامة حدودهم وسد ثغورهم وتجهیز جیوشهم – الی ان قال – ثم ینبغی ان یکون الامام ظاهرا لا مختفیا ولا منتظرا خروجه عند صلاح الزمان، لا کما زعمت الشیعة خصوصا الامامیة منهم الی آخره [1] د دې نه پس اوس احادیث الباب اوګورئ:

[1] د امام مهدی په باره کښې د مودودی صاحب نظریه : هم دغه شان په موجوده زمانه کښې د ائمه تلبیس نه مودودی صاحب هم د امام مهدی انکار کړې دې د کوم جواب چه زمونږ حضرت شیخ په فتنه مودودیت کښې ورکړې دې، حضرت دا هم لیکلي دی : اصل خبره دا ده چه مودودی صاحب د زړه نه مهدی جوړیدل غواړي او د مقتدایانه سیرت نه د خپلې لیډرۍ د وجې نه عاجز دې په دې وجه هغه په خانې د دې چه خپله ئې دا بابرکت تمدن اختیار کړې وې هر ځائې کښې بې محل هم د دې کوشش کوی چه انبیاء کرام او معروف اولیاء کرامو لره د لیډر لیډر په عنوان سره تعبیر کولو سره د دې تمدن نه د خلقو ذهنونه اړوی کوم چه د مقتدایانه تمدن مناسب دې اهـ د دې نه مخکښې حضرت شیخ رحمه الله د مودودی صاحب خیالات د امام مهدی په باره کښې د هغوی په الفاظو کښې د تجدید احیاء دین نه داسې نقل کړی دی : خلق دا ګنړی چه امام مهدی به د پخوانئ زمانې دمولویانه یا صوفیانه وضع قطع سړې وی تسبیح په لاس به ناڅاپه د یوې مدرسې یا خانقاه نه راوځی او د راتلو سره به د انا المهدی اعلان اوکړی. الی آخره)

[۴۲۸۲](۱)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ عُبَيْدٍ حَدَّثَهُمْ. ح وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ يَعْنِي ابْنَ عَيَّاشٍ. ح وَحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ. ح وَحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا زَائِدَةُ. ح وَحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ فِطْرٍ، الْمَعْنَى وَاحِدٌ كُلُّهُمْ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا يَوْمٌ" قَالَ: زَائِدَةُ فِي حَدِيثِهِ "لَطَوَّلَ اللَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ" ثُمَّ اتَّفَقُوا: "حَتَّى يَبْعَثَ فِيهِ رَجُلًا مِنِّي أَوْ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي وَاسْمُ أَبِيهِ اسْمَ أَبِي" زَادَ فِي حَدِيثِ فِطْرٍ "يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَجَوْرًا"، وَقَالَ فِي حَدِيثِ سُفْيَانَ: "لَا تَذْهَبُ أَوْ لَا تَنْقَضِي الدُّنْيَا حَتَّى يَمْلِكَ الْعَرَبَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي"، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَفْظُ عُمَرَ، وَأَبِي بَكْرٍ بِمَعْنَى سُفْيَانَ.

دجابر بن سمرة رضي الله عنه نه د تیر شوی روایت په شان روایت منقول دي مګرددې اضافي سره فرمائي چه بیا رسول الله ﷺ دخپل کورطرف ته واپس روان شونودقریشوخلق ئې په خدمت کښې حاضرشول اوعرض ئې وکړوچه بیا ددې نه پس څه نشي پیښیدونکي دي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل قتل وقتال به شروع شي.

﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا إِلاَّ يَوْمٌ لَطَوَّلَ اللَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ حَتَّى يَبْعَثَ فِيهِ رَجُلاً مِنِّى أَوْ مِنْ أَهْلِ بَيْتِى يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِى وَاسْمُ أَبِيهِ اسْمَ أَبِى يَمْلأُ الأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلاً كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَجَوْرًا »﴾

خروج مهدي يقيني امر دې:

سیدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه هغوی اوفرمائیل چه که د دنیا ټولې ورځې تیرېدو سره صرف یو ورځ باقی پاتې شی (او بالفرض تر هغه وخته پورې د مهدی ظهور نه وی شوې) نو الله پاک به دا یوه ورځ دومره اوږده کړی تر دې چه یو داسې سړې به دنیا ته راولیږی چه زما نه به وی. یا ئې دا اوفرمائیل چه زما د اهل بیت نه به وی، د هغه نوم به زما د نوم په شان او د هغه د پلار نوم به زما د پلار د نوم په شان وی، (یعنی محمد بن عبدالله) چه د خپل راتلو نه پس به زمکه د عدل او انصاب نه ډکه کړی څنګه چه به هغه د دې نه مخکښې د ظلم نه ډکه وی.

په بذل کښې لیکلې دی: وحاصل معنی الحدیث ان بعثه موکد یقینی لا بد ان یکون ذلک، یعنی د دې قسم سړی ظهور به په آخر زمانه کښې ضرور کیږی، او په دې حدیث کښې په فرقه امامیه باندې رد دې ځوک چه د مهدی موعود په باره کښې داسې وائی چه هغه محمد بن الحسن العسکری دی. اهـ والحدیث اخرجه الترمذی وقال حسن صحیح، قاله المنذری.

[۴۲۸۳](۲)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا فِطْرٌ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ أَبِي بَزَّةَ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدَّهْرِ إِلَّا يَوْمٌ لَبَعَثَ اللَّهُ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يَمْلَؤُهَا عَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا".

[1]: سنن الترمذي/الفتن ٥٢ (٢٢٣٠)، (تحفة الأشراف: ٩٢٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٧٦، ٣٧٧، ٤٣٠، ٤٤٨) (حسن صحيح)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠١٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٩٩) (صحيح)

د عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي كريم ﷺ فرمائيلي دي: كه چرې باقي پاتې نشي ددنيانه مگر يوه ورځ زائده وئيلي دي چه الله تعالى به دا ورځ دومره اوږده كړي چه په دې ورځ كښې به يو كس زمانه اوكه داسې ئې اوفرمائيل چه زما اهل بيت نه وليږلي شي ، دده نوم به زما د نوم په شان وي اود پلار نوم به دهغه زما د پلا دنوم په شان وي ، مگر دفطرراوی په روايت كښې دومره اضافه ده چه دغه كس به زمكه دانصاف نه ډكه كړي يعنى دزمكې په مخ به انصاف غالب شي لكه څنګه چه دغه زمكه دجور او ظلم نه ډكه شوې وه ، دسفيان راوى په روايت كښې دومره اضافه ده چه دزمې ميعادبه دهغه وخته پورې نه پوره كيږي ترڅوچه دجزيرة العرب مالک به زما د اهل نه داسې كس شي چه نوم به ئې زما دنوم په شان وي، امام ابوداؤد وئيلي دي چه د عمر اوبكر الفاظ د سفيان د الفاظو يشان دي.

[٤٢٨٤](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمَلِيحِ الْحَسَنُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ بَيَانٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ نُفَيْلٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "الْمَهْدِيُّ مِنْ عِتْرَتِي مِنْ وَلَدِ فَاطِمَةَ"، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ، وَسَمِعْتُ أَبَا الْمَلِيحِ، يُثْنِي عَلَى عَلِيِّ بْنِ نُفَيْلٍ وَيَذْكُرُ مِنْهُ صَلَاحًا.

دعلي رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول كريم ﷺ فرمائيلي دي كله چه پاتې نشي درمانې ته مگر يوه ورځ، نو يقينا الله پاک به زما داهل بيت نه يوداسې دې راوليږي څوک چه به زمكه دانصاف نه ډكه كړي (يعنى دزمكې په مخ به انصاف غالب شي لكه څنګه چه دغه زمكه دجور اوظلم نه ډكه شوې وه.

قوله: ﴿عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ: الْمَهْدِيُّ مِنْ عِتْرَتِي مِنْ وَلَدِ فَاطِمَةَ﴾

رسول الله ﷺ فرمائي چه مهدي به د اولاد فاطمه رضي الله عنها نه وي. اوس دا چه د حسن رضي الله عنه د اولاد نه به وي او كه د حسين رضي الله عنه په دې كښې دواړه اقوال دي او دريم قول دا دې چه د والد د طرف نه به حسني وي او د مور د طرف نه به حسيني، او هم دا اولى ده. (بذل) والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٢٨٥](٢) حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ تَمَّامِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ الْقَطَّانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمَهْدِيُّ مِنِّي أَجْلَى الْجَبْهَةِ أَقْنَى الْأَنْفِ يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ".

دام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه د رسول الله ﷺ نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې: مهدي به زما دنسل نه يعنى د فاطمې رضي الله عنها د اولاد نه وي ، عبدالله بن جعفر دابو المليح نه دعلي بن نفيل تعريف او توصيف دبيانولونه پس اوريدلي دي.

قوله: ﴿عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « الْمَهْدِيُّ من أَجْلَى

(١): سنن ابن ماجه/الفتن ٣٤(٤٠٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٨١٥٣) (حسن)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٣٧٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الفتن ٥٣ (٢٢٣٢)، سنن ابن ماجه/الفتن ٣٤ (٤٠٨٦) (حسن)

الْجَبْهَةِ أَقْنَى الْأَنْفِ يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلاً كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا و يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ »)

په دې حديث کښې د حضرت مهدی حليه ذکر ده چه د هغوی به فراخه تندې وی او لوړه پوزه به ئې وی په دنيا کښې به عدل او انصاف قائموی او د هغوی حکومت به تر اووۀ کلونو پورې وی، او د دې نه په روستو روايت کښې کوم چه د ام سلمه رضی الله عنها نه دې په هغې کښې راځی، ﴿ قال بعضهم تسع سنين وقال بعضهم سبع سنين ﴾

[٤٢٨٦]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ صَالِحٍ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ صَاحِبٍ لَهُ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَكُونُ اخْتِلَافٌ عِنْدَ مَوْتِ خَلِيفَةٍ فَيَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ هَارِبًا إِلَى مَكَّةَ فَيَأْتِيهِ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ فَيُخْرِجُونَهُ وَهُوَ كَارِهٌ فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ وَيُبْعَثُ إِلَيْهِ بَعْثٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ، فَيُخْسَفُ بِهِمْ بِالْبَيْدَاءِ بَيْنَ مَكَّةَ، وَالْمَدِينَةِ فَإِذَا رَأَى النَّاسُ ذَلِكَ أَتَاهُ أَبْدَالُ الشَّامِ وَعَصَائِبُ أَهْلِ الْعِرَاقِ فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ ثُمَّ يَنْشَأُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَخْوَالُهُ كَلْبٌ، فَيَبْعَثُ إِلَيْهِمْ بَعْثًا فَيَظْهَرُونَ عَلَيْهِمْ وَذَلِكَ بَعْثُ كَلْبٍ وَالْخَيْبَةُ لِمَنْ لَمْ يَشْهَدْ غَنِيمَةَ كَلْبٍ فَيَقْسِمُ الْمَالَ وَيَعْمَلُ فِي النَّاسِ بِسُنَّةِ نَبِيِّهِمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُلْقِي الْإِسْلَامُ بِجِرَانِهِ إِلَى الْأَرْضِ فَيَلْبَثُ سَبْعَ سِنِينَ ثُمَّ يُتَوَفَّى وَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ بَعْضُهُمْ: عَنْ هِشَامٍ تِسْعَ سِنِينَ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ سَبْعَ سِنِينَ.

دابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول کريم ﷺ فرمائيلی دی: مهدي زما داولاد نه دې دهغه حليه او اوصاف به داسې وي پراخه تندې لوړه پوزه اوزمکه به دانصاف نه ډکوي لکه څنګه چه به دظلم اوجورنه ډکه شوې وي او په زمکه به اوه کاله حکومت کوي. دام سلمه رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه د رسول الله ﷺ نه مې آوريدلی دی چه فرمائيل فيديوخليفه دوفات په وخت کښې به په خلقوکښې اختلاف پيداشي اودمديني نه به يوکس مکې ته په تيختنه روان شي هغه ته به دمې والا خلق راشي اوخلق به دده سره دحجر اسود او مقام ابراهيم په مينځ کښې بيعت وکړي بيابه دده طرف ته دشام يولښکر وليږلې شي بيابه دغه لښکر په بيداء مقام کښې په زمکه راښکلی شي کوم چه دمې اومدينې په مينځ کښې واقع دې، بياچه کله خلق داحالت ووينې چه دشام ابدال اودعراق جماعتونه دده خواته راغلې دې اودده سره بيعت کوي نوددې نه پس به په قريشوکښې يوکس پيداشي دده ماماخيل به دقبيله بنی کلب نه وي اوهغه به دې خلقوته يولښکر راوليږي او په دې لښکرباندې دمهدي منونکي غالب شي، اوهمدا د کلب لښکردې بيا په هغه کس باندې افسوس دې چه دکلب دجنګ غنيمت حاصل نکړي بيابه مهدي په خلقو باندې غنيمت تقسيم کړي او په خلقو کښې به دهغوی دنبی سنت ژوندي کړي اودين اسلام به په خپله غاړه کښې واچوي اوبيابه داوه کالونه پس وفات شي اوتول مسلمانان به په ده باندې جنازه وکړي. امام ابوداؤد فرمائی بعضو دهشام نه نهه کاله نقل کړي دي اوبعضو وئيلی دی چه اوه کاله به ژوندي وي اوحکومت به کوي.

خروج د مهدی به څنګه او کله وی:

قوله: ﴿ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ —صلى الله عليه وسلم— عَنِ النَّبِيِّ —صلى الله عليه وسلم— قَالَ «

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨١٧٠، ١٨٢٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٥٩، ٣١٦) (ضعيف)

يَكُونُ اخْتِلَافٌ عِنْدَ مَوْتِ خَلِيفَةٍ فَيَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ هَارِبًا إِلَى مَكَّةَ فَيَأْتِيهِ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ فَيُخْرِجُونَهُ وَهُوَ كَارِهٌ فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ ﴾

ام سلمه ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت کوي (چه په هغې کښې دا بيان کړې شوې دی چه خروج مهدی به څنګه وی د هغې به څه صورت وی) چه په آخيره زمانه کښې به د هغه وخت خليفه وفات شی نو يو سړې به د اهل مدينه نه د مدينې طيبې نه اوځی او د مکې مکرمې طرف ته به اوتختی په دې خيال چه خلق هغه خليفه نه کړی، خو داسې به اوشی چه دې سړی ته به د اهل مکه نه ډېر خلق راشی او په هغه باندې به زور راوړی د هغه د رائې خلاف هغه به د خپل قيام د ځائې نه مسجد حرام ته راوستلې شی د حجر اسود او مقام ابراهيم ترمينځه او د هغه په لاس باندې به بيعت کوی.

﴿ وَيُبْعَثُ إِلَيْهِ بَعْثٌ مِنَ الشَّامِ فَيُخْسَفُ بِهِمْ بِالْبَيْدَاءِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ ﴾ يعنی د هغوی د بيعت د انعقاد نه پس به د هغوی د مخالفينو يوه ډله د شام د ملک نه راوچته شی پس الله پاک به هغوی په لاره کښې په مقام بيداء کښې کوم چه د مکې او مدينې طيبې ترمينځه دې په زمکه باندې ننباسی (د دې جماعت نه په بعث الخسف سره تعبير کيدلې شی) ﴿ فَإِذَا رَأَى النَّاسُ ذَلِكَ أَتَاهُ أَبْدَالُ الشَّامِ وَعَصَائِبُ أَهْلِ الْعِرَاقِ فَيُبَايِعُونَهُ ﴾ پس چه کله خلق دا قصه وينی (يعنی د الله پاک د طرف نه د امام مهدی نصرت او حمايت) نو هغوی ته به د ملک شام نه ابدال او د عراق منتخب جماعتونه راشی او هغوی به هم دوی سره بيعت اوکړی. ﴿ ثُمَّ يَنْشَأُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَخْوَالُهُ كَلْبٌ فَيَبْعَثُ إِلَيْهِمْ بَعْثًا فَيَظْهَرُونَ عَلَيْهِمْ وَذَلِكَ بَعْثُ كَلْبٍ ﴾ بيا به يو قريشی سړې په حسد کښې پاسی چه د هغه قبيله به کلب وی، او دا قريشی سړې به دې بيعت کونکو سره د قتال دپاره يو لښکر راوليږی، خو د الله پاک په امداد سره به دا بيعت کونکی په هغوی باندې غالب شی، او دې لښکر ته به بعث کلب [٤٢٨٦] دواړه لښکرې به د امام مهدی او د هغه د متبعينو دشمنان وی دواړه به الله پاک ذليله او مغلوب کړی.

﴿ وَالْخَيْبَةُ لِمَنْ لَمْ يَشْهَدْ غَنِيمَةَ كَلْبٍ ﴾ او په خساره کښې به وی هغه خلق کوم چه په غنيمت د کلب کښې شريک نه شی، ګويا رسول الله ﷺ ترغيب ورکوی مسلمانانو ته د دې خبرې چه هغوی له پکار دی چه هغوی دې د امام مهدی په تائيد کښې جيش کلب سره قتال کښې شريک شی او بيا دې د هغوی مال غنيمت لوټ کړی. ﴿ فَيَقْسِمُ الْمَالَ وَيَعْمَلُ فِي النَّاسِ بِسُنَّةِ نَبِيِّهِمْ -صلى الله عليه وسلم ﴾ پس هغه مهدی به مال تقسيم کړی يعنی مال غنيمت لره او د خلافت امور به انجام ته اورسوی په خلقو کښې د رسول الله ﷺ د طريقې مطابق ﴿ وَيُلْقِي الإِسْلَامُ بِجِرَانِهِ إِلَى الأَرْضِ ﴾ او اسلام به خپل سټ په زمکه باندې خورکړی يعنی د اسلام به ښه استحکام وی په دغه زمانه کښې او امن و امان، اوښ چه کله ښه په مستئ کښې راشی د سکون په وخت نو په ناسته ناسته خپل سټ په زمکه باندې اوغزوی. لهذا دا استعاره ده د مسلمانانو د اطمينان او سکون نه.

د مهدي د خلافت موده :

قوله: ﴿فَيَلْبَثُ سَبْعَ سِنِينَ ثُمَّ يُتَوَفَّى وَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ﴾

تر د اووۀ کالو پورې به د هغوی خلافت وی بیا به وفات کیږي او مسلمانان به د هغه د جنازې مونځ کوی. بعض راویانو د اووۀ په ځائې نهه کاله وئیلي دي، ممکنه ده چه دوه کاله هغوی په قتال کښې مشغول وی چا چه نهه شمار کړل هغوی پکښې دوه هم شامل کړل او چا چه اووۀ بیان کړل هغوی دوه ساقط کړل. (بذل)

[٤٢٨٧](١) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنْ قَتَادَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالَ تِسْعَ سِنِينَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ غَيْرُ مُعَاذٍ، عَنْ هِشَامٍ تِسْعَ سِنِينَ.

همام دقتاده رحمه الله نه دتیرشوي روایت په شان روایت بیان کړې دي مګرددي اضافي سره مهدي به نهه کاله حکومت کوي. امام ابوداؤد وئیلی دی چه دمعاذ نه علاوه نورو راویانودهشام نه تسع سنین لفظ نقل کړي دي یعنی مهدي به نهه کاله حکومت کوي.

[٤٢٨٨](٢) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْعَوَّامِ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ وَحَدِيثُ مُعَاذٍ أَتَمُّ.

ام سلمه رضي الله عنها دنبی ﷺ نه دپورتني روایت په شان روایت بیان کړي لیکن دمعاذ کی حدیث زیات کامل دي۔

[٤٢٨٩] (٣) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ ابْنِ الْقِبْطِيَّةِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقِصَّةِ جَيْشِ الْخَسْفِ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَيْفَ بِمَنْ كَانَ كَارِهًا؟ قَالَ: "يُخْسَفُ بِهِمْ وَلَكِنْ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى نِيَّتِهِ".

ام سلمه رضي الله عنها دنبی ﷺ نه دجیش الخسف په قصه کښې روایت بیانوي فرمائي چه ما عرض وکړو اې دالله رسوله دهغه چا انجام به څه وي څوک چه دا بدګنړي؟نبی ﷺ اوفرمائیل دوی به په زمکه کښې غرق کړي شي لیکن د قیامت په ورځ به دخپلو نیتونو مطابق راپورته کیږي.

قوله: ﴿قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَكَيْفَ بِمَنْ كَانَ كَارِهًا الخ﴾ د ام سلمه رضي الله عنها په روایت کښې دا زیادت دې هغه فرمائي چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو د جیش الخسف په باره کښې چه ممکنه ده په هغې کښې بعض خلق داسې هم وی چه هغوی په دې جنګ کښې شریکیدل نه غواړي او په زبردستئ سره خلقو شریک کړې وی نو د داسې خلقو به څه انجام وی نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه دغه وخت کښې خو به هغوی د خلقو سره په عمومي عذاب کښې شامل شی خو د قیامت په ورځ باندې به هغوی په خپل نیت باندې پاسی، او هغوی سره به د نیت مطابق معامله کولې شی.

---

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨١٧٠) (ضعيف)

(٢): انظر حديث رقم: (٤٢٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٨١٧٠) (ضعيف)

(٣): صحيح مسلم/الفتن ٢ (٢٨٨٢)، (تحفة الأشراف: ١٨١٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٩٠) (صحيح)

[٤٢٩٠](¹)قَالَ أَبُو دَاوُد: حُدِّثْتُ عَنْ هَارُونَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ أَبِي قَيْسٍ، عَنْ شُعَيْبِ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: قَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: وَنَظَرَ إِلَى ابْنِهِ الْحَسَنِ، فَقَالَ: إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ كَمَا سَمَّاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَيَخْرُجُ مِنْ صُلْبِهِ رَجُلٌ يُسَمَّى بِاسْمِ نَبِيِّكُمْ يُشْبِهُهُ فِي الْخُلُقِ وَلَا يُشْبِهُهُ فِي الْخَلْقِ، ثُمَّ ذَكَرَ قِصَّةً يَمْلَأُ الْأَرْضَ عَدْلًا.

امام ابوداؤد فرمائي چه عمروبن شعيب په واسطه دهارون سره دابواسحاق نه نقل کوي هغه وئيلي دي چه علی رضی الله عنه خپل خوي حسن ته وکتل او وئې وئيل چه زما داخوي به سردار وي لکه څنګه چه نبی علیه السلام دده دپاره دانوم تجويز کړي دي اوديره نزدې ده چه دده په نسل کښې به يوداسې کس پيداشي چه هغه به ستاسودني په نوم باندې مسي وي او په اخلاقو اوعاداتو کښې به هم دهغه سره مشابه رې ليکن په شکل اوصورت کښې به دنبی علیه السلام سره مشابه نه وي، اوبيائې دهغه قصه ذکرکړه چه په زمکه کښې به انصاف خورکړي، (حديث نبوي ته اشاره)، دعبدالله په روايت کښې هارون دقيس نه نقل کړي دي هغه دمطرف اوهغه دحسن رضی الله عنه نه روايت بيان کړې دي اوهغه دهلال بن عمرونه روايت کوی چه ماد علی رضی الله عنه نه آوريدلی دی اوهغه دنبی کريم صلی الله علیه وسلم نه آوريدلی دی چه فرمائيل ئې په ما وراء النهر کښې به يوکس پيداشي اونوم به ئې حارث بن حارث وي اودده نه به مخکښې يوبل کس وي خلق به ورته منصور وائی هغه به دنبی علیه السلام په اولادې باندې قبضه يابه ورته دپناه دپاره ځائې ورکړي لکه چه قريشونبی علیه السلام ته دپناه دپاره ځائې ورکړي وو په هريو مسلمان باندې ددغه کس سره تعاون کول ضروري دی ياداچه نبی علیه السلام اوفرمائيل په مسلمانانوباندې دده تابعداري کول لازمي دي.

قوله: ﴿ قَالَ عَلِيٌّ - رضى الله عنه - وَنَظَرَ إِلَى ابْنِهِ الْحَسَنِ الخ ﴾ يعنی يو ورځ سيدنا علی رضی الله عنه خپل ځوی سيدنا حسن رضی الله عنه ته اوکتل او وې فرمائيل: زما دا ځوئې به سيد وی لکه څنګه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلې دی يعنی معزز، چه د سيادت او خلافت د حصول باوجود به مصلحة د هغې نه لاس واخلی چه په هغې سره به د بعض دنيادارو په نظر کښې خو ذليل شي خو د الله پاک په نزد به عزيز وی، او بيا اوفرمائيل علی رضی الله عنه چه د دهٔ د شا نه به يو سړې پيدا کيږی چه د هغه نوم به محمد وی، ﴿ يُشْبِهُهُ فِي الْخُلُقِ وَلَا يُشْبِهُهُ فِي الْخَلْقِ ﴾ چه په سيرت کښې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم مشابه وی نه په صورت کښې، ﴿ سَمِعْتُ عَلِيًّا - كرم الله وجهه- يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « يَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ وَرَاءِ النَّهْرِ يُقَالُ لَهُ الْحَارِثُ حَرَّاثٌ ﴾ علی رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلې وو چه په آخره زمانه کښې به يو سړې راوځی د نهر د بل طرف نه يعنی د نهر جيحون بل طرف ته چه کوم ښهرونه دی يعنی بخارا او سمرقند وغيره، د چا نوم چه به حارث وی او دهقان به وی، ﴿ عَلَى مُقَدِّمَتِهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ مَنْصُورٌ يُوَطِّئُ أَوْ يُمَكِّنُ لِآلِ مُحَمَّدٍ صلی الله علیه وسلم ﴾ يعنی کوم نيک سړې چه به د ماوراء النهر نه راوځی د هغه په مقدمة الجيش باندې به يو سړې امير وی چه د هغه نوم به منصور وی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د آل نه به

(¹): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٠٢٥٣، ١٠٣٠٩) (ضعيف)

وي يعني د امام مهدي په تائيد او حمايت کښې به ولاړ وي لکه چه مومنين قريش د رسول الله ﷺ تائيد کړې وو، د هغه وخت په هر مسلمان باندې به د هغه نصرت واجب وي.

د امام مهدي رضي الله عنه ذکر دلته په کتاب الفتن والملاحم کښې په دې حيثيت سره دې چه د هغوي ظهور به په آخر کښې په داسې زمانه کښې وي چه د فتنو زمانه به وي ګينې د مهدي وجود خو خير محض دې او هم دغه شان د نزول عيسى عليه السلام ذکر کوم چه بعض محدثين مصنفين هم په دې مقام باندې ذکر کوي.[1]

بيا خان پوهه کړه چه ډير داسې علامات دي چه د هغې د موندلې کيدو نه پس به د هغوي ظهور وي، د دې سلسلې روايات په "الاشاعة لاشراط الساعة" کښې ډير ذکر شوې دي، د نسخه مجتبائيه په حاشيه باندې ليکلې دي چه: د هغوي خروج به د بلاد مشرق نه وي او خلق به د هغوي په لاس باندې بيعت کوي په مسجد حرام کښې، او په دار قطني کښې د هغوي د ظهور يو علامت ذکر دې هغه دا چه په کوم کال باندې د هغوي ظهور وي نو په هغه کال باندې به په يکم رمضان باندې کسوف شمسي وي او په نصف رمضان کښې خسوف قمر، قلت وروايةِ ابي داؤد صريحة في انه المهدي يخرج من المدينة بعد موت خليفة هاربا الى مكة فتقع المبايعة في المسجد الحرام.

په بعضو نسخو کښې دلته دي: آخر کتاب المهدي.

كتاب الملاحم

د جنګونو بيان

باب مَا يُذْكَرُ فِي قَرْنِ الْمِائَةِ

د هرې يوې صدۍ بيان

[۴۲۹۱] ([2]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ شَرَاحِيلَ بْنِ يَزِيدَ الْمُعَافِرِيِّ، عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فِيمَا أَعْلَمُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ شُرَيْحٍ الْإِسْكَنْدَرَانِيُّ لَمْ يَجُزْ بِهِ شَرَاحِيلَ.

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه زما دعلم مطابق نبي ﷺ فرمائيلي دي: الله تعالى به په دې امت کښې هرسل کاله پس په دوی کښې يو داسې کس پيدا کوي چه دوی ته به ددوی ددين تجديد کوي. امام ابوداؤد فرمائي چه دا روايت عبدالرحمن بن شريح اسکندراني نقل کړې دي اوشراحيل نه مخکښې نه دی تلې يعنی دشراحيل پورې ئې نوموړنه ذکر کړې دي.

---

[1]) کما في جامع الترمذي وسنن ابن ماجه: او په صحيح مسلم کښې د نزول عيسى عليه السلام باب په کتاب الايمان کښې دې ګويا په اول حصه د کتاب کښې او په صحيح بخاري کښې کتاب الانبياء يو مستقل کتاب دې ابواب المناقب سره متصل، امام بخاري دا باب په هغې کښې ذکر فرمائيلې دې، زمونږ امام ابوداؤد رحمه الله په هغوي باندې هيڅ مستقل باب نه دې تړلې

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۴۵۲) (صحيح)

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فِيمَا أَعْلَمُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا » ﴾

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې. وړاندې د سند په راويانوكښې يو راوي وائي چه زما گمان دې چه د ابوهريره رضي الله عنه نه پس په دې سند كښې ﴿ عن رسول الله ﷺ ﴾ هم دې، يعنى ظن غالب دا دې چه دا حديث مرفوع دې.

مضمون د حديث دا دې چه الله پاک به په دې امت كښې د اصلاح او د دين محمدى د ترقئ او د بقاء دپاره د هرې صدئ په پوره كيدو باندې يو داسې سړې يا يو داسې جماعت پيدا كوى كوم چه د دې امت دپاره د دوى د دين تجديد اوكړى، يعنى چه د سنت احياء او د بدعاتو خلاف ښكاره كار اوكړى، گويا په دې حديث كښې د رسول الله ﷺ د طرف نه بشارت دې د دين اسلام د بقاء او د ترقئ چه الله پاک د دې دين د حفاظت دپاره هره صدئ كښې او د سلو كالو د پوره كيدو نه پس يو داسې سړې يا جماعت پيدا كوى چه د دې دين تجديد به كوى، حق لره د باطل نه او سنت لره د بدعت نه ممتاز كونكى به وى او د خلقو دپاره به نيغې لارې ته د راتلو ذريعه وى. په شروح حديث او د تاريخ په كتابونو كښې علماء كرامو د خپلې خپلې زمانې د مجددينو تعيين هم فرمائيلې دې، مشهوره ده چه د اولې صدئ مجدد عمر بن عبدالعزيز دې چه د تدوين حديث مجدد او گويا بانى دې. [1]

په اصل كښې چه كومه يو صدى ده هغه يو معتد به زمانه او موده ده چه په هغې كښې تقريبا د يوې زمانې خلق ټول ختميږى. [2] او نور خلق پيدا كيږى، نو څنگه چه د هرې صدئ خلق بيل وى صدئ تيريږى او نوى خلق دنيا ته راځى، او بدليږى رابدليږى هم دغه شان الله پاک په دې راتلونكى انسانانو كښې د دين ښكاره خدمات سر ته رسونكى هم پيدا فرمائى، د خدمت دين شعبې مختلف دى وعظ او تذكير، تصنيف او تاليف (نشر علوم دينيه) بيا په علوم دينيه كښې يو فن حديث دې يو فن فقه ده يو فن تفسير دې، يو فن تزكيه او سلوک دې، لهذا دا ضرورى نه ده چه مجدد دې صرف يو سړې وى بلكه د هر شاخ مجدد بيل بيل كيدې شى، او دا هم ممكن ده چه په اختلاف د ممالک او اقاليم سره دې كښې تعدد وى، پس دا ضرورى نه شوه چه كوم مجدد وى هغه دې د ټولو عالم په اعتبار سره وى. والله اعلم بالصواب (بذل)

علماء كرامو د تيرو صدو نه د هرې هرې صدئ مجددين د خپل خپل معلومات او رجحان په اعتبار سره متعين كړې دى علامه طيبى هم د مشكوة په شرح كښې د ابوداؤد د دې حديث د شرح نه پس د هغې حضرات تعين د صاحبِ جامع الاصول نه نقل كړې دې [3]

---

[1]) لكه چه د الدرر المنضود په مقدمه كښې د مدون حديث په بحث كښې تير شوې دى، هغې طرف ته دې رجوع اوكړې شى.

[2]) لكه چه مشهور حديث دې ﴿ ارايتم ليلتكم هذه فان على راس مائة سنة منها لا يبقى ممن هو على ظهر الارض احد الحديث ﴾

[3]) **د مجددينو شمار** : مونږ د هغوى عبارت بعينه دلته نقل كوو، هغوى په شروع كښې دا ليكلې دى چه ډيرو علماء كرامو داسې كړې دى چه هغوى د حديث په شرح كښې د مجدد تعيين په هغه سړى سره كړې دې چا چه د هغوى د مسلک سره تعلق لرلو او حديث ئې هم په هغوى باندې محمول...... لہ

←.... کړي دي حال دا چه دا خلاف اولي ده، اولی دا ده چه حدیث دې په عموم باندې محمول کړې شي، د هغوی الفاظ دا دي: او كل واحد أشار إلي القائم الذي هو من مذهبه وحمل الحديث عليه والاولي الحمل علي العموم فان لفظة من يقع علي الواحد الجمع ولا يخص ايضا بالفقهاء فان انتفاع الامة بهم وان كان كثيرا اذ حفظ الدين وقوانين السياسة وبسط العدل وظيفة اولي الامر وكذا القراء واصحاب الحديث ينفعون بضبط التنزيل والاحاديث التي هي اصول الشرع وادلته والزهاد ينفعون بالمواعظ والحيث علي لزوم التقوي والزهد في الدنيا لكن المبعوث ينبغي ان يكون مشارا اليه مشهورا في كل فن من هذه الفنون. ..الخ، والأولي أن يحمل الحديث علي العموم، فإن قوله -صلي الله عليه وسلم- :؟إن الله يبعث لهذه الأمة علي رأس كل مائة سنة من يجدد لها دينها؟ ولا يلزم منه أن يكون المبعوث علي رأس المائة رجلا واحدا، وإنما قد يكون واحدا، وقد يكون أكثر منه فإن لفظه ؟من؟ تقع علي الواحد والجمع، وكذلك لا يلزم منه أن يكون أراد بالمبعوث : الفقهاء خاصة، كما ذهب إليه بعض العلماء ، فإن انتفاع الأمة بالفقهاء، وإن كان نفعا عاما في أمور الدين، فان انتفاعهم بغيرهم أيضا كثير مثل أولي الأمر، وأصحاب الحديث والقراء و الوعاظ، وأصحاب الطبقات من الزهاد، فإن كل قوم ينفعون بفن لا ينفع به الآخر، إذ الأصل في حفظ الدين حفظ قانون السياسة، وبث العدل والتناصف الذي به تحقن الدماء-[۳۲۱]- ويتمكن من إقامة قوانين الشرع، وهذا وظيفة أولي الأمر، وكذلك أصحاب الحديث : ينفعون بضبط الأحاديث التي هي أدلة الشرع، والقراء ينفعون بحفظ القراءات وضبط الروايات، والزهاد ينفعون بالمواعظ والحث علي لزوم التقوي والزهد في الدنيا، فكل واحد ينفع بغير ما ينفع به الآخر، لكن الذي ينبغي أن يكون المبعوث علي رأس المائة : رجلا مشهورا معروفا، مشارا إليه في كل فن من هذه الفنون، فإذا حمل تأويل الحديث علي هذا الوجه كان أولي، وأبعد من التهمة، وأشبه بالحكمة، فإن اختلاف الأئمة رحمة، وتقرير أقوال المجتهدين متعين، فإذا ذهبنا إلي تخصيص القول علي أحد المذاهب، وأولنا الحديث عليه، بقيت المذاهب الأخري خارجة عن احتمال الحديث لها، وكان ذلك طعنا فيها.

فالأحسن والأجدر أن يكون ذلك إشارة إلي حدوث جماعة من الأكابر المشهورين علي رأس كل مائة سنة يجددون للناس دينهم، ويحفظون مذاهبهم التي قلدوا فيها مجتهديهم وأعمتهم.

ونحن نذكر الآن المذاهب المشهورة في الإسلام التي عليها مدار المسلمين في أقطار الأرض، وهي مذهب الشافعي، وأبي حنيفة، ومالك، وأحمد ومذهب الإمامية، ومن كان المشار إليه من هؤلاء علي رأس كل مائة سنة وكذلك من كان المشار إليه من باقي الطبقات.

۱: وأما من كان قبل هذه المذاهب المذكورة، فلم يكن الناس مجتمعين علي مذهب إمام بعينه، ولم يكن قبل ذلك إلا المائة الأولي، كان علي رأسها من أولي الأمر : عمر بن عبد العزيز، ويكفي الأمة في هذه المائة وجوده خاصة، فإنه فعل في الإسلام ما ليس بخاف. وكان من الفقهاء بالمدينة : محمد بن علي الباقر، والقاسم بن محمد بن أبي بكر الصديق، وسالم بن عبد الله بن عمر. وكان بمكة منهم: مجاهد بن جبر، وعكرمة مولي ابن عباس، وعطاء بن أبي رباح. وكان باليمن : طاووس، وبالشام : مكحول، وبالكوفة :عامر بن شراحل الشعبي، وبالبصرة: الحسن البصري، ومحمد بن سيرين. وأما القراء علي رأس المائة الأولي، فكان القائم بها عبد الله بن كثير. وأما المحدثون :فمحمد بن شهاب الزهري، وجماعة كثيرة مشهورون من التابعين وتابع التابعين.

۲: وأما من كان علي رأس المائة الثانية، فمن أولي الأمر : المأمون بن الرشيد. ومن الفقهاء : الشافعي، والحسن بن زياد اللؤلؤي من أصحاب أبي حنيفة، وأشهب بن عبد العزيز من أصحاب مالك، وأما أحمد : فلم يكن يومئذ مشهورا، فإنه مات سنة إحدي وأربعين ومائتين. ومن الإمامية : علي بن موسي الرضي : ومن القراء: يعقوب الحضرمي، ومن المحدثين :يحيي بن معين، ومن الزهاد : معروف الكرخي.

۳: وأما من كان علي رأس المائة الثالثة، فمن أولي الأمر:المقتدر بأمر الله، ومن الفقهاء :أبو العباس بن سريج من أصحاب الشافعي، وأبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي من أصحاب أبي حنيفة... من أصحاب مالك وأبو بكر بن هارون الخلال من أصحاب أحمد، وأبو جعفر محمد بن يعقوب الرازي بن الإمامية. ومن المتكلمين : أبو الحسن علي بن إسماعيل الأشعري. ومن القراء : أبو بكر أحمد بن موسي بن مجاهد. ومن المحدثين : أبو عبد الرحمن بن شعيب النسائي.

۴: وأما من كان علي رأس المائة الرابعة، فمن أولي الأمر : القادر بالله، ومن الفقهاء : أبو حامد أحمد بن طاهر الأسفراييني من أصحاب الشافعي ، وأبو بكر محمد بن موسي الخوارزمي من أصحاب أبي حنيفة وأبو محمد عبد الوهاب بن علي بن نصر من أصحاب مالك، وأبو عبد الله الحسين بن علي بن حامد، من أصحاب أحمد. ومن الإمامية : ......←

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ شُرَيْحٍ الإِسْكَنْدَرَانِيُّ لَمْ يَجُزْ بِهِ شَرَاحِيلَ ﴾
یعنی عبدالرحمن بن شریح چه کله دا د شراحیل نه روایت کړو نو په سند کښې د دې نه مخکښې نه شو، سند ئې هم په دې باندې اودرولو او د آخیرې دوه راویان ابوعلقمه او ابوهریره رضی الله عنه ئې ذکر نه کړل، لهذا د هغوی د سند په اعتبار سره دا حدیث معضل شو.

د حدیث المجددین مرتبه من حیث الثبوت والصحة:

هسې د مجددین والا حدیث صحیح او ثابت دې، په عون المعبود کښې د دې ثبوت او صحت د ډیرو کتابونو نه نقل کړې شوې دې: قال السیوطی فی مرقاة الصعود: اتفق الحفاظ علی تصحیحه منهم الحاکم فی المستدرک والبیهقی فی المدخل وممن نص علی صحته من المتاخرین الحافظ ابن حجر اهـ وقال المناوی فی فتح القدیر: اخرجه ابوداؤد فی الملاحم والحاکم فی الفتن وصححه، والبیهقی فی کتاب المعرفة کلهم عن ابی هریرة، قال الزین العراقی وغیره سنده صحیح، ۱ هـ د دې نه معلومه شوه چه دا حدیث د صحاح سته نه صرف په سنن ابوداؤد کښې دې.

..... المرتضي الموسوي أخو الرضي الشاعر. ومن المتكلمين: القاضي أبو بكر محمد بن الطيب الباقلاني، والأستاذ أبو بكر محمد بن الحسن بن فورك. ومن المحدثين: أبو عبد الله محمد بن عبد الله النيسابوري المعروف بالحاكم بن البيع. ومن القراء: أبو الحسن علي بن أحمد الحمامي. ومن الزهاد: أبو بكر محمد بن علي الدينوري.

۵: وأما من كان علي رأس المائة الخامسة، فمن أولي الأمر: المستظهر بالله.

ومن الفقهاء: الإمام أبو حامد محمد بن محمد الغزالي من أصحاب الشافعي، والقاضي فخر الدين محمد بن علي الأرسابندي المروزي من أصحاب أبي حنيفة... من أصحاب مالك، وأبو الحسن علي بن عبيد الله الزاغوني من أصحاب أحمد. ومن المحدثين: رزين بن معاوية العبدري. ومن القراء: أبو العز محمد بن الحسين بن بندار القلانسي. هؤلاء كانوا المشهورين في هذه الأزمنة المذكورة. اهـ)

صاحب د جامع الاصول د دریمې صدۍ په مجددینو کښې ابوجعفر الامامی او د څلورمې صدۍ مرتضی امام شیعی شمار کړي دي چه دا صحیح نه ده پس پس دي باندې صاحب د عون المعبود اظهار د تعجب کړي دي چه دا دواړه خو شیعه ګان علماء دی او مجدد خو هغه سړې کیدې شی چه د سنت احیاء اوکړی او بدعت ختم کړی، او کوم سړي چه خپله مبتدع وي نو که هغه هر څومره لوئې عالم وی هغه د دې قابل نه دي چه په مجددینو کښې شمیر کړې شی، کَيْفَ وَهُمْ يُخَرِّبُونَ الدِّيْنَ فَكَيْفَ يُجَدِّدُوْنَ، وَيُمِيْتُوْنَ السُّنَنَ فَكَيْفَ يُحْيُوْنَهَا، وَيُرَوِّجُوْنَ الْبِدَعَ فَكَيْفَ يَمْحُوْنَهَا الي اخره وقد ذكره العلامة محمد طاهر في مجمع البحار ولم يعترض بذكر مسامحته ولم ينبه علي خطئه، صاحب د جامع الاصول خو تر پنځمې صدۍ پورې مجددین شمار کړې دی، صاحب د عون المعبود په دې حدیث باندې ډیر اوږد کلام کړې دي او د پنځمې صدۍ نه پس ئې تر د دیارلسمې صدۍ پورې د مجددینو ذکر کړې دی. په هغې کښې دا هم لیکلې شوې دی چه علماء کرامو د خپلې زمانې نه مخکښې مجددین ذکر کړې دی علامه سیوطی رحمه الله هم په دې باندې هغوی لره په اشعارو کښې بیان کړې دی او د هغې نوم ئې ایخودلې دې: تحفة المهتدین باخبار المجددین چه په هغې کښې هغوی د نهمې صدۍ پورې مجددینو لره د خپلې رائې مطابق بیان کړې دی او په آخر کښې فرمائی:

وهذه تاسعة المئين قد :: اتت ولا يخلف ما الهادي وعد
وقد رجوت انني المجدد :: فيها ففضل الله ليس يجحد

هغوی فرمائی چه نهمه صدی راغلې ده او الله پاک وعده خلافی نه فرمائی، زما د الله پاک نه امید دې چه د دې صدۍ مجدد زه یم.)

بَابُ مَا يُذْكَرُ مِنْ مَلَاحِمِ الرُّومِ

د روم د جنګونو بیان

[۴۲۹۲]()حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، قَالَ: مَالَ مَكْحُولٌ، وَابْنُ أَبِي زَكَرِيَّا إِلَى خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ وَمِلْتُ مَعَهُمْ فَحَدَّثَنَا، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنِ الْهُدْنَةِ، قَالَ: قَالَ جُبَيْرٌ: انْطَلِقْ بِنَا إِلَى ذِي مِخْبَرٍ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْنَاهُ فَسَأَلَهُ جُبَيْرٌ عَنِ الْهُدْنَةِ، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "سَتُصَالِحُونَ الرُّومَ صُلْحًا آمِنًا فَتَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا مِنْ وَرَائِكُمْ فَتُنْصَرُونَ وَتَغْنَمُونَ وَتَسْلَمُونَ ثُمَّ تَرْجِعُونَ، حَتَّى تَنْزِلُوا بِمَرْجٍ ذِي تُلُولٍ فَيَرْفَعُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ النَّصْرَانِيَّةِ الصَّلِيبَ فَيَقُولُ: غَلَبَ الصَّلِيبُ فَيَغْضَبُ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، فَيَدُقُّهُ فَعِنْدَ ذَلِكَ تَغْدِرُ الرُّومُ وَتَجْمَعُ لِلْمَلْحَمَةِ".

د حسان بن عطیه نه روایت دي فرمائي چه مکحول او ابن ابی زکریاخالد بن معدان ته لاړل اوزه هم ورسره لاړم هغه مونږ ته دجبیر بن نفیر نه حدیث بیان کړو او وئې وئیل چه مونږ دنبی ﷺ صحابي ذي مخبرته بوځه مونږ چه ورغلونوجبیر ورنه دصلح متعلق تپوس وکړوهغه ووئیل چه مادنبی ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې تاسوبه درومیانوسره صلح وکړئ اوبیابه تاسو او رومیان په شریکه دیوبل دشمن سره وجنګیږئ اوبیابه فتح بیاموموئ اوددشمن مال به دلوټ کولونه پس راوړئ اوپه خیر خیریت سره به واپس راشئ، تردې چه تاسوبه یومیدان ته راشئ او بیا به یونصراني صلیب پورته کړي او اعلان به وکړي چه صلیب غالب شو نوپه مسلمانانوکښې به یوغصه ناک کس ددوی سره جنګ وکړي او په دې وخت کښې به رومیان معاهده ماته کړي اوخلق به دجنګ کولو دپاره راجمع کړي.

قوله: ﴿ عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ قَالَ مَالَ مَكْحُولٌ وَابْنُ أَبِي زَكَرِيَّا إِلَى خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ وَمِلْتُ مَعَهُمْ فَحَدَّثَنَا عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ عَنِ الْهُدْنَةِ قَالَ قَالَ جُبَيْرٌ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى ذِي مِخْبَرٍ - رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم- - فَأَتَيْنَاهُ فَسَأَلَهُ جُبَيْرٌ عَنِ الْهُدْنَةِ ﴾

حسان بن عطیه فرمائي چه یو ځل مکحول او ابن ابی زکریا خالد بن معدالن ته لاړل، زه هم هغوی سره لاړم، زمونږ په رسیدو باندې هغوی یعنی خالد بن معدان د جبیر بن نفیر دا حدیث واورولو د هدنه یعنی د صلح په باره کښې او د هغې د سند په طور ئې اووئیل چه یو ځل داسې اوشو چه ماته (یعنی خالد بن معدان ته) جبیر بن نفیر اووې چه ماسره لاړ شه ذومخبر رضی الله عنه صحابی ته، یعنی د هغوی د زیارت وغیره دپاره، پس مونږ هغوی ته لاړو، خالد فرمائي چه هلته زما په موجودګئ کښې جبیر د هغوی نه یعنی ذی مخبر رضی الله عنه نه د هدنه په باره کښې تپوس اوکړو یعنی دا تپوس ئې اوکړو چه د هدنة متعلق چه کوم حدیث تاسو بیانوئ هغه راته واوروئ نو د هغوی په فرمائښت باندې هغوی هغه حدیث واورولو:

﴿ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « سَتُصَالِحُونَ الرُّومَ صُلْحًا آمِنًا فَتَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا مِنْ وَرَائِكُمْ فَتُنْصَرُونَ وَتَغْنَمُونَ وَتَسْلَمُونَ ثُمَّ تَرْجِعُونَ الخ ﴾

[1]: انظر حديث رقم: (۲۷۶۷)، (تحفة الأشراف: ۳۵۴۷) (صحيح)

مضمون الحديث:

ما د رسول اللهﷺ نه واوريدل هغوى اوفرمائيل چه يو وخت به داسې راشي چه تاسو به د روم د نصارى سره مصالحت اوکړئ او بيا به دواړه يو ځائې کيدو سره د يو دشمن سره جنګ کوئ چه په هغې کښې به تاسو ته فتح حاصله شي او مال غنيمت به حاصل شي، بيا چه کله د هغه ځائې نه واپس شئ نو په واپسئ کښې به په لاره کښې تاسو يو سبزه زار کښې کوز شئ چه په هغې کښې به غونډئ وى، نو هلته به دا خبره پيښه شي چه په نصارى کښې به يو سړې صليب لره اوچت کړى او وائي به ﴿ غلب الصليب ﴾ يعنى صليب والا نصارى غالب شو، په دې باندې به يو مسلمان له غصه ورشي او هغه به دا نصرانى اوهى، په دې باندې به ټوله صلح ختم شى او ټول روميان به په غدارئ باندې تيار شى او مسلمانانو سره به د جنګ دپاره تيار شى.

دا حديث مختصرا په کتاب الجهاد باب في صلح العدو کښې هم تير شوې دې.

قوله: ﴿ فعند ذلک تعذر الروم وتجمع للملحمة ﴾ د دې ملحمه نه مراد هم هغه ملحمه دې کوم چه په باب امارات الملاحم کښې را روانه ده ﴿ وخراب يثرب خروج الملحمة وخروج الملحمة فتح القسطنطنية ﴾ او د هغې نه په روستو باب کښې راځي ﴿ الملحمة الكبرى وفتح القسطنطنية وخروج الدجال في سبعة اشهر ﴾ والحديث اخرجه ابن ماجه وقد تقدم في الجهاد، قاله المنذري.

[۴۲۹۳](۱)حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرٍو، عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَزَادَ فِيهِ وَيَثُورُ الْمُسْلِمُونَ إِلَى أَسْلِحَتِهِمْ، فَيَقْتَتِلُونَ، فَيُكْرِمُ اللَّهُ تِلْكَ الْعِصَابَةَ بِالشَّهَادَةِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: إِلَّا أَنَّ الْوَلِيدَ جَعَلَ الْحَدِيثَ عَنْ جُبَيْرٍ، عَنْ ذِي مِخْبَرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ رَوْحٌ، وَيَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ، وَبِشْرُ بْنُ بَكْرٍ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، كَمَا قَالَ عِيسَى.

دا روايت هم دحسان بن عطيه نه منقول دې ليکن په دې کښې دا اضافه ده چه مسلمانان به په تيزئ سره دخپلې اصلحې طرف ته ورشي اوجنګ به شروع کړي الله تعالى به دې ډلې ته دشهادت عزت ورکړي. ليکن وليد دا روايت دجبيرنه بيان کړې دې اوهغه دذي مخبرنه اوهغه دنبي ﷺ نه. امام ابوداؤد فرمائى دا روايت روح ديحيې نه اوهغه دبشرنه اوهغه داوزاعي نه په دې سند سره بيان کړې دې يعنى په کوم سند سره چه عيسى بيان کړې دې.

بَابٌ فِي أَمَارَاتِ الْمَلَاحِمِ

باب د جنګونو د علاماتو بيان

[۴۲۹۴](۲)حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَابِتِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ يَخَامِرَ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عُمْرَانُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ خَرَابُ يَثْرِبَ، وَخَرَابُ يَثْرِبَ خُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ، وَخُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ فَتْحُ قُسْطَنْطِينِيَّةَ، وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ خُرُوجُ الدَّجَّالِ، ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى فَخِذِ الَّذِي حَدَّثَ أَوْ مَنْكِبِهِ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ هَذَا

(۱): انظر حديث رقم: (۲۷۶۷)، (تحفة الأشراف: ۳۵۴۷) (صحيح)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۶۱)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الفتن ۵۸ (۲۲۳۹)، مسند احمد (۵/۲۳۲، ۲۴۵) (حسن)

لَحَقٌّ كَمَا أَنَّكَ هَاهُنَا أَوْكَمَا أَنَّكَ قَاعِدٌ يَعْنِي مُعَاذَبْنَ جَبَلٍ".

دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه روایت دي فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دبیت المقدس آبادیدل دمدیني دخرابیدو باعث دي اودمدیني خرابیدل په فتنه برپاکیدل دي اوپه خلقو کښې فتنه برپاکیدل د قسطنطنیه دفتح کیدو باعث دي اودقسطنطنیه فتح کیدل ددجال دراتلو باعث دي اوبیانبی علیه السلام دمعاذبن جبل ورون یا اوږه باندې ووهله اوونې فرمائیل یقینا داخامخا داسې حق دي لکه ته چه دلته موجود ئې یاناست ئې یعنی معاذ بن جبل.

قوله: ﴿ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « عُمْرَانُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ خَرَابُ يَثْرِبَ وَخَرَابُ يَثْرِبَ خُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ وَخُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ فَتْحُ قُسْطَنْطِينِيَّةَ وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ خُرُوجُ الدَّجَّالِ ». ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى فَخِذِ الَّذِى حَدَّثَ أَوْ مَنْكِبِهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ هَذَا لَحَقٌّ كَمَا أَنَّكَ هَا هُنَا ﴾

رسول الله ﷺ فرمائی چه په آخر زمانه کښې به د بیت المقدس آبادیدل ګویا د یثرب خرابیدل دی، او د یثرب خرابیدل ګویا د محلمة او د جنګ ظهور دي او د ملحمه کبری فتح د قسطنطنیه فتح ده (کوم چه به امام مهدی رضي الله عنه فتح کوی) او هم دا فتح د قسطنطنیه خروج الدجال دې، یعنی په دې امور مذکوره اربعه کښې هر یو د خپل مابعد دپاره علامت دې، د بیت المقدس آبادیدل دا علامت دې د مدینې طیبې د تباه کیدو، ځکه چه عمران بیت المقدس به د نصاری د غلبې د وجې نه وی، او د یثرب د خراب او تباه کیدو نه پس به هغه جنګ اوملحمه کبری شروع شی چه د اهل شام او د روم ترمینځه به وی چه د هغې منتهی او نتیجه به فتح د قسطنطنیه وی، لهذا خروج ملحمه علامت شو د فتح قسطنطنیه دپاره، او چونکه خروج الدجال به د فتح قسطنطنیه نه پس وی لهذا د هغې فتح موندلې کیدل علامت شو د خروج الدجال دپاره، د دې مضمون بیانولو نه پس رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک د هغه سړی په پتون یا اوږه باندې کیخودلو چاته چه رسول الله ﷺ حدیث بیانولو یعنی معاذ بن جبل رضي الله عنه، دا ئې اوفرمائیل چه کوم علامات ما بیان کړی دی دا داسې برحق او یقینی دی لکه ستا دلته موجود کیدل چه یو امر یقینی او ناقابل تردید خبره ده.

د فتح قسطنطنیه ذکر مونږ سره په کتاب الجهاد ﴿ باب فی قوله عزوجل : ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة ﴾ کښې تیر شوی دی.

بَابٌ فِي تَوَاتُرِ الْمَلَاحِمِ

باب یو بل پسې د فتنو راتلو بیان

[٤٢٩٥] [1] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ سُفْيَانَ الْغَسَّانِيِّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ قُطَيْبٍ السَّكُونِيِّ، عَنْ أَبِي بَحْرِيَّةَ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمَلْحَمَةُ الْكُبْرَى وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ".

دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه روایت دي فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی لوبه فتنه راتلل او د قسطنطنیه فتح کیدل او ددجال ښکاره کیدل به په شپږ میاشتو کښې دننه وي.

[1]: سنن الترمذي/الفتن ٥٨ (٢٢٣٨)، سنن ابن ماجه/الفتن ٣٥ (٤٠٩٢)، (تحفة الأشراف: ١١٣٢٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٣٤/٥) (ضعيف)

قوله: ﴿ الْمَلْحَمَةُ الْكُبْرَى وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ ﴾
په اول حديث كښ دا تير شو چه ملحمه كبرى علامت دې د فتح قسطنطنيه او فتح قسطنطنيه علامت دې د خروج الدجال دپاره او په دې حديث كښ دا فرمائى چه د دې جنګ نه پس فتح راتلل او د هغې نه پس بيا خروج الدجال دا به په اووۀ مياشتو كښ دننه دننه كيږي، او د هغې نه په روستو روايت كښ دى چه دا جنګ او فتح به په شپږو كالو كښ دننه موندلې شى او خروج الدجال به په اووم كال باندې وى،

[۴۲۹۶](1) حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنْ بَحِيرٍ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ ابْنِ أَبِي بِلَالٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "بَيْنَ الْمَلْحَمَةِ وَفَتْحِ الْمَدِينَةِ سِتُّ سِنِينَ وَيَخْرُجُ الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ فِي السَّابِعَةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عِيسَى.

دعبدالله بن بسر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي په مينځ دفتنې اودفتح دمدينه كښې به شپږ كاله وخت تيريږي اودجال به په اوم كال باندې را اوځي. امام ابوداؤد فرمائى چه دا روايت دعيسى د روايت نه زيات صحيح دې.

(رفع تعارض بين الحديثين)

حاصل دا چه اول حديث كښ مياشتې ذكر دى او په دويم كښ كلونه، د دې تعارض په باره كښ وړاندې راځى: قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عِيسَى.... مصنف رحمه الله روايت ثانيه لره چه په هغې كښ كلونه ذكر دى هغه روايت لره ترجيح وركوى په اول روايت باندې يعنى د كال ذكر صحيح دې او د مياشتې وهم، خو د دې تعارض توجيه دا هم كيدې شى هغه دا چه په اول روايت كښ په كوم كښ اووۀ مياشتې ذكر دى په هغې كښ دې دا بيان كړې شى چه د جنګ اختتام ترې نه مراد دې چه د جنګ په ختميدو او د قسطنطنيه په فتح كيدو كښ به اووۀ مياشتې اولګى يعنى د شپږو مياشتو فصل به وى او په اوومه مياشت به د فتح تكميل كولې شى، او د حضرت شيخ په حاشيه كښ دى چه ملا على قارى رحمه الله په دې دواړو احاديثو كښ جمع په يو بله طريقه كړې ده هغه دا چه د ملحمه مصداق په دې دواړو احاديثو كښ ځانله ځانله دې په اول حديث كښ د ملحمة نه مراد ملحمة الكبرى ده لكه چه په هغې كښ تصريح ده، او په دويم حديث كښ د ملحمه نه بله يوه ملحمه مراد ده.

په دې حديث كښ د حوادثو او ملاحم تواتر او تسلسل ذكر دې، هم په دې وجه مصنف رحمه الله په دې باندې ترجمه هم دا قائم كړې ده. اعاذنا الله تعالى منها، والحديث اخرجه الترمذى وابن ماجه وقال الترمذى غريب، قاله المنذرى.

(1): سنن ابن ماجه/الفتن ۳۵ (۵۱۹۴)، (تحفة الأشراف: ۵۱۹۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۹/۴) (ضعيف)

بَابٌ فِي تَدَاعِي الْأُمَمِ عَلَى الْإِسْلَامِ

په عالم اسلام باندې د عالمي دنيا د حملې کولو بيان

[٤٢٩٧] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ بَكْرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جَابِرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو عَبْدِ السَّلَامِ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا، فَقَالَ قَائِلٌ: وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَلَيَنْزَعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ، فَقَالَ قَائِلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَهْنُ؟ قَالَ: حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ".

د ثوبان رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی کيدې شي چه نور امتونه په تاسو باندې حمله وکړي لکه څنګه چه خلق دخوراک دپاره کاسې ته راځي نو په دې وخت کښې يو ويونکي ووئيل ايا زمونږ د کموالي په وجه به داسې کيږي؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل نه بلکه ستاسو تعدادبه په دغه ورځ زيات وي ليکن تاسوبه دزګ په شان يئ لکه څنګه چه ددرياب زګ وي، ستاسو رعب اودبدبه ددشمن دزړونونه اوباسي اوستاسو په زړونو کښې به وهن واچوي يوکس عرض وکړو اې دالله رسوله وهن څه شي وي؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل محبت کول ددنياسره اوويره کول اوبد ګڼل دمرګ.

قوله: ﴿ عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا » ﴾

تداعی که د باب تفاعل نه وی نو تا به مفتوح وی کوم چه په اصل کښې ﴿ تتداعی ﴾ وو او که دا د باب مفاعله نه اومنلې شی نو تداعی په ضمې سره دې، په صيغه د مضارع واحد مونث غائب، تداعی د ملګرو يو بل لره رابلل په يو کار باندې د جمع کيدو دپاره، لکه څنګه چه دسترخوان خور شی نو يو بل رابللې شی د خوراک دپاره.

رسول الله ﷺ فرمائی چه يو داسې زمانه راروانه ده چه ټولې دشمنان اسلام فرقې به يو بل راغواړی د مسلمانانو خلاف د جنګ کولو دپاره په دې باندې يو صحابی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه هغه وخت به مسلمانان لږ وی يعنی د هغوی د قلت په وجه باندې به کفار په هغوی باندې راجمع کيږی؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه هغه وخت به مسلمانان لږ نه وی بلکه ډير به وی خو د هغوی حال به داسې وی لکه چه په اوبو باندې زګ راشی چه په هغې کښې خشاک او ډکی وغيره وی، مراد ترې نه ارذال الناس دی، يعنی مسلمانان به اګر چه ډير وی خو د ايمان او اخلاقو په اعتبار سره به خراب او کمزوری او کم حيثيت والا وی، هم په دې وجه به کفار په هغوی باندې زرور شی.

قوله: ﴿ وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ ﴾ الله پاک به د مسلمانانو رعب او د هغوی هيبت د دشمنانانو د سينو نه اوباسی او د مسلمانانو په

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٢٠٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧٨/٥) (صحيح)

زړونو کښې به وهن یعنی کمزوري واچوي، یو صحابي تپوس اوکړو چه د کمزورئ نه څه مراد دي. ﴿قال حب الدنيا وكراهية الموت﴾ یعنی د کمزورئ نه مراد د ایمان کمزوري چه د هغې مقصد به حب دنیا وی، په زړه کښې د دنیا او د متاع دنیا رغبت او مینه، چه د هغې اثر دا وی چه سرې د مرګ نه ویریږی،

(د الله والوٌ رعب)

ما په یو کتاب کښې لوستلې وو چه د حضرت ګنګوهی په ژوند کښې په ګنګوه شریف کښې یو واقعه پیښه شوې وه چه د هغې د تفتیش او تحقیق دپاره لوئې حکام د کلکټر وغیره خلقو سره ملاویدل او معلومات ئې کول. د حضرت د خانقاه په دروازه باندې هم راورسیدل د کلکټر د حضرت سره خبره اوشوه، او تپوس کولو نه پس لاړو، په لاره کښې هغه دهغه خلقو نه تپوس اوکړو کوم چه دهغه سره وو، چه دا مشر سړې څوک وو؟ خلقو اووې دا د مسلمانانو غټ عالم او بزرګ دي، وې وئیل ښه هم دا خبره ده، چه زمونږ زړه دهغه نه ویریدلو، حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه د اهل الله دا رعب د حق دمعیت د وجې نه وی.

بَابٌ فِي الْمَعْقِلِ مِنَ الْمَلَاحِمِ

باب د جنګ په ورځ د اهل اسلام د پړاؤ کولو بیان

معقل یعنی ملجاء او د پناه ځائې، عقل یعقل عقولا پناه اخستل، او ټکانه جوړول.(۱)

[٤٢٩٨](۲) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ جَابِرٍ، حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَرْطَاةَ، قَالَ: سَمِعْتُ جُبَيْرَ بْنَ نُفَيْرٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ فُسْطَاطَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَ الْمَلْحَمَةِ بِالْغُوطَةِ إِلَى جَانِبِ مَدِينَةٍ يُقَالُ لَهَا: دِمَشْقُ مِنْ خَيْرِ مَدَائِنِ الشَّامِ".

دابو الدرداء رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: ددجال سره د مسلمانانو دجنګ کولو په ورځ باندې به دمسلمانانو پړاو مقام غوطه وي کوم چه د دمشق سره نزدې دې او دمشق دشام په ملک کښې واقع دې. او دشام دبهترینو علاقو نه دې.

﴿عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِنَّ فُسْطَاطَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَ الْمَلْحَمَةِ بِالْغُوطَةِ إِلَى جَانِبِ مَدِينَةٍ يُقَالُ لَهَا دِمَشْقُ مِنْ خَيْرِ مَدَائِنِ الشَّامِ »﴾ (۳)

رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیل چه د مسلمانانو خیمه او د پناه ځائې به د جنګ په ورځ په مقام غوطه کښې وی د دمشق ښهر په یو طرف کښې هغه دمشق کوم چه د شام په بهترین ښهرونو کښې دې.

---

(۱) كما في الحديث وليعقلن الدين في الحجاز الاروية من راس الجبل (ترمذي كتاب الايمان) یعنی په اخیر زمانه کښې به دین په حجاز مقدس کښې خپله استوګنه جوړه کړی لکه غریزه بیزه د غر په اوچتوالی باندې

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٧/٥) (صحيح)

(۳) حدثت عن ابن وهب هكذا في الاصول والحديث رواه الحاكم من طريق احمد بن عبدالرحمن بن وهب وهو ابن اخي عبدالله بن وهب وهو ابن اخي عبدالله ابن وهب عن عمر عبدالله عن جرير به وصححه على شرط مسلم ووافقه الذهبي فلعل محدث لبي داود هنا هو احمد هذا وانما لم يسمه ابوداود لما قيل من اختلاطه ورواية مسلم عنه كانت قبل ذلك (محمد عوامه)

په ظاهر کښې د ملحمه نه مراد هم هغه ملحمه مراد ده چه د هغې په پورته احاديثو کښې ذکر راغلې دې، چه د هغې نه پس به د قسطنطنيه فتح وي.

[۴۲۹۹] (¹) قَالَ أَبُودَاوُدحُدِّثْتُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرُبْنُ حَازِمٍ عَنْ عُبَيْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلَاحِ.

امام ابوداؤد فرمائی چه ماته دابن وهب نه حديث بيان شوي دي هغه دجرير بن حازم رحمه الله نه روايت بيانوي اوهغه دعبيدالله بن عمرنه هغه دنافع نه اوهغه دابن عمر رضي الله عنه نه، فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: نزدې ده چه په مدينه کښې مسلمانان محاصره کړې شي تردې چه ددوی لرې سرحد به سلاح مقام وي.

قوله: ﴿قَالَ أَبُو دَاوُدَ حُدِّثْتُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِى جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- « يُوشِكُ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلاَحُ »﴾

شرح الحديث:

رسول الله ﷺ فرمائی چه نزدې دې هغه وخت چه مسلمانان به ګير کړې شی د مدينې طرف ته يعنی مسلمانان به بچ کيدو سره په هجرت کولو باندې مدينې طيبې ته راشی او دشمن به د هغوی محاصره کړې وی د مدينې نه ګير چاپيره، او دشمن به دومره نزدې راورسی چه هغه وخت به د مدينې طيبې بعيد تر سرحد موضع سلاح وی، يعنی د هغه ځائې پورې به دشمن راورسيږی، په وړاندې روايت کښې دی، راوی وائی چه سلاح يو ځائې دې خيبر ته نزدې، حال دا چه خپله خيبر د مدينې طيبې نه زيات لرې نه دې، نو ګويا اهل مدينه به د دشمن د حصار د وجې نه کافی تنګ وی، په بذل کښې ليکلې دی: ﴿وهذا يدل على كمال التضيق عليهم واحاطة الكفار حواليهم﴾

دا حديث بعينه هم په دې سند سره د کتاب الفتن په آخر کښې تير شوی دې، د باب د اول حديث نه د غوطې معقل کيدل او د حديث ثانی نه د مدينې طيبې معقل کيدل ثابت شو.

[۴۳۰۰] (²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُبْنُ صَالِحٍ عَنْ عَنْبَسَةَ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ وَسَلَاحِ قَرِيبٌ مِنْ خَيْبَرَ.

ترجمه: يونس دزهری رحمه الله نه روايت بيانوي چه فرمائيلي ئې ووسلاح خيبرته نزدې ديوځائې نوم دې.

بَابُ ارْتِفَاعِ الْفِتْنَةِ فِي الْمَلَاحِمِ

باب د جنګونو نه د فتنو پيدا کيدو بيان

د فتنې اطلاق زيات تر په هغه جنګ باندې کيږی کوم چه خپل مينځ کښې د مسلمانانو ترمينځه وی، او ملحمه هغه جنګ ته وائی چه د مسلمانانو او کفارو ترمينځه وی.

¹: انظر حديث رقم: (۴۲۵۰)، (تحفة الأشراف: ۷۸۱۸) (صحيح)

²: انظر حديث رقم: ۴۲۵۱ (صحيح)

[٤٣٠١]()حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل. ح وحَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ سَوَّارٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ جَابِرٍ الطَّائِيِّ، قَالَ هَارُونُ فِي حَدِيثِهِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَنْ يَجْمَعَ اللهُ عَلَى هَذِهِ الْأُمَّةِ سَيْفَيْنِ سَيْفًا مِنْهَا وَسَيْفًا مِنْ عَدُوِّهَا".

دعوف بن مالک ﷛ نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: الله تعالى په دې امت باندې دوه مصيبتونه په يوځائې باندې نه راولي چه په يو وخت کښې په خپل مينځ کښې هم جنګ کوي اود دشمن سره هم جنګ کوي.

قوله: ﴿لَنْ يَجْمَعَ اللهُ عَلَى هَذِهِ الْأُمَّةِ سَيْفَيْنِ سَيْفًا مِنْهَا وَسَيْفًا مِنْ عَدُوِّهَا﴾ د دې حديث مضمون هم هغه دې کوم چه د ترجمة الباب دې، يعنى الله پاک به په امت محمديه کښې په يو وخت دوه تورې نه جمع کوي چه خپل مينځ کښې دې هم جنګيږي، او هم په دې حال او وخت کښې دشمن هم په هغوى باندې حمله اوکړي بلکه دشمن سره د جنګ په وخت که په مسلمانانو کښې خپل مينځ کښې قتال کيږي نو د دشمن د جنګ په وخت به د هغې نه بند شي.

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنْ تَهْيِيجِ التُّرْكِ، وَالْحَبَشَةِ

باب: د ترکو او د حبشو سره د چيړ چاړ د مما نعت بيان

[٤٣٠٢]()حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ مُحَمَّدٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا ضَمْرَةُ، عَنِ السَّيْبَانِيِّ، عَنْ أَبِي سُكَيْنَةَ رَجُلٍ مِنَ الْمُحَرَّرِينَ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "دَعُوا الْحَبَشَةَ مَا وَدَعُوكُمْ وَاتْرُكُوا التُّرْكَ مَا تَرَكُوكُمْ".

ابوسکينه د نبى عليه السلام په صحابه کرامو کښې ديوکس ﷛ نه روايت کوى فرمائي رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: د ترکيانو او حبشو سره کارمه لرئ ترڅو چه دوى ستاسو سره چيړچاړ نه وي کړي.

قوله: ﴿دَعُوا الْحَبَشَةَ مَا وَدَعُوكُمْ وَاتْرُكُوا التُّرْكَ مَا تَرَكُوكُمْ﴾ د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه اهل حبشه پريږدئ، يعنى هغوى سره قتال مه کوئ تر ځو پورې ئې چه تاسو پريخودلى يئ، يعنى تاسو هغوى سره په قتال کښې مه رومبى کيږئ، او هم دغه شان دا حکم رسول الله ﷺ مسلمانانو ته د ترکيانو په باره کښې ورکوى، او دا امر بالترک د اباحت او رخصت دپاره دې د وجوب دپاره نه دې بلکه په طور د مشورې دې.

په حديث باندې يو اشکال او د هغې جواب:

په مظاهر حق ٤/٣٣٩ کښې دى چه پريږدئ تاسو حبشيانو لره تر څو چه تاسو هغوى پريخودلى يئ، او پريږدئ تاسو ترکيان ترڅو چه ئې تاسو پريخودلى يئ، وړاندې په دې کښې دى.

فائده: که چرته په قرآن کريم کښې حکم دې ﴿قاتلوا المشرکين کافة﴾ على العموم ئې فرمائيلې

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠٩١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٦) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/الجهاد ٤٢ (٣١٧٨)، (تحفة الأشراف: ١٥٦٨٩) (حسن)

دي چه د مشرکانو سره قتال کوئ چرته چه هم وي. نو رسول الله ﷺ داسې ولې اوفرمائيل چه دوی پریږدئ؟

جواب د دې دا دې چه حبشه او ترک د دې آيت د عموم نه خارج دی ځکه چه ښهرونه د هغوی بعيد دی، د هغوی په ښهرونو کښې او د اسلام په ښهرونو کښې دشت او بيابانونه ډير دی، ترڅو چه هغوی تعرض نه وی کړې او د اسلام په ښهرونو باندې نه وی راغلې تعرض د هغوی نه کول پکار دی خو که هغوی سبقت اوکړی او د اسلام ښهرونو ته په قهر او غلبې سره راشي نو بيا به هغوی سره قتال فرض وی، يا دا اوايئ چه آيت کريمه ناسخ د دې حديث دې او حکم د دې حديث په شروع د اسلام کښې وو په سبب د ضعف د اسلام، او کله چه اسلام قوی شو نو حکم عام شو. والحديث اخرجه النسائي،اتم منه، قاله المنذری.

دا حديث د يو اوږد حديث آخری ټکړه ده، چه د هغې نه معلوميږی چه دا حديث رسول الله ﷺ د خندق د کنستلو په موقع فرمائيلې وو، اصل حديث دې په دې کښې اوکتلې شی، کتاب الجهاد باب غزوة الترک والحبشة، کښې.

بَابٌ فِي قِتَالِ التُّرْكِ

باب د ترکيانو سره د جنګ کولو بيان

ترک د نوح علیه السلام د ځوی يافث په اولاد کښې دی، او حبشه په اولاد د حام کښې دی او عرب په اولاد د سام کښې.....

[۴۳۰۲]([1])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ يَعْنِي الْإِسْكَنْدَرَانِيَّ، عَنْ سُهَيْلٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ التُّرْكَ قَوْمًا وُجُوهُهُمْ كَالْمَجَانِّ الْمُطْرَقَةِ يَلْبَسُونَ الشَّعْرَ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: قيامت دهغه وخته پورې نه قائميږي ترڅوچه مسلمانانو دترې کافرانوسره جنګ نه وي کړي ددوی مخونه دډالونوپه شان دي اودوری نه جوړ شوي لباس به استعمالوي.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ التُّرْكَ قَوْمًا وُجُوهُهُمْ كَالْمَجَانِّ الْمُطْرَقَةِ يَلْبَسُونَ الشَّعْرَ »﴾ او په بل روايت کښې دی. ﴿ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعْرُ و تُقَاتِلُوا قَوْمًا صِغَارَ الأَعْيُنِ ذُلْفَ الآنُوفِ ﴾

[۴۳۰۴]([2])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَابْنُ السَّرْحِ وَغَيْرُهُمَا، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رِوَايَةً، قَالَ ابْنُ السَّرْحِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعْرُ، وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا صِغَارَ الْأَعْيُنِ ذُلْفَ الْأَنْفِ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ".

[1]): صحيح مسلم/الفتن ۱۸ (۲۹۱۲)، سنن النسائي/الجهاد ۴۲ (۳۱۷۹)، سنن ابن ماجه/الفتن ۳۶ (۴۰۹۶)، (تحفة الأشراف: ۱۲۷۶۶)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ۹۵ (۲۹۲۸)، ۹۶ (۲۹۲۹)، المناقب ۲۵ (۳۵۹۰)، مسند أحمد (۲/ ۲۳۹، ۲۷۱، ۳۰۰، ۳۱۹، ۳۳۸، ۴۷۵، ۴۹۳، ۵۳۰) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/ الجهاد ۹۶ (۲۹۲۹)، صحيح مسلم/ الإمارة ۱۲ (۲۹۱۲)، سنن الترمذي/ الفتن ۴۰ (۲۲۱۵)، سنن ابن ماجه/الفتن ۳۶ (۴۰۹۶)، (تحفة الأشراف: ۱۳۱۲۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۳۹) (صحيح)

دابوهریره ﷛ نه روایت دي فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: قیامت دهغه وخته پورې نه قائمیږي ترڅوچه تاسودداسې قوم سره جنګیدلي نه یئ دچاچه پیزار دګرودوړئ نه جوړدي او قیامت به دهغه وخته پورې نه قائمیږي ترڅوچه تاسودداسې قوم سره جنګیدلي نه یئ څوک چه وړو وړوسترګو والادي اوپیت پوزي دي او مخونه ئې دډالونوپه شان دي.

د کوم قتال د ترک نه چه په اول حدیث کښې منع کړې شوې ده، په دې حدیث کښې هغوی سره د وقوع قتال پیشنګوئی ده چه د قیامت راتلو نه مخکښې به د مسلمانانو ته ترکو سره د جنګ کولو یقینا حاجت راځي، او په دې کښې د هغه خلقو نقشه او د هغوی شکل او صورت هم بیان شوې دې د هغوی مخونه به د هغه ډهال په شان وی چه پیړ او ډبل وی. دا تشبیه په تدویر او څرب کیدو کښې ده یعنی د هغوی مخونه به په ګول کیدو کښې د ډهال په شان وی او ډهال هم هغه چه ډبل وی. دا د هغوی د مخونو د غټیدو طرف ته اشاره ده، ﴿ یلبسون الشعر ﴾ یعنی د وړئ نه جوړې جامې به اغوندی د خپل ملک د یخیدو د وجې نه او ﴿ نعالهم الشعر ﴾ یعنی د هغوی څپلئ به هم د د ویښتو والا وی او ﴿صغار الاعین ﴾ سترګې به ئې وړې وی ﴿ ذلف الانوف ﴾ د ملاستو پوزو والا، ذلف جمع د اذلف ده چه اخستلې شوې دې د ذلف نه یعنی د پوزې د وړیدو سره سره د هغې خوریدل، صغر الانف واستواء الارنبة...

(د ترک نه مراد تاتار دي)

د دې ترک نه مراد هغه دی چاته چه تاتار وائی او کوم چه په صحرائی ګوبی او د هغې د شمال په علاقو قازاخستان وغیره کښې اوسیږی څکه چه کوم صفتونه په حدیث کښې بیان کړې شوې دی هغه هم په هغوی باندې صادق راځي، او کوم چه په ترکی کښې اوسیدونکی دی د هغوی صورت دا نه دې هغوی خو ډیر ښکلې شکل والا دی.

امام نووی ﷫ په شرح د مسلم کښې فرمائی چه دا قول د رسول الله ﷺ معجزات دی، هغوی فرمائی چه زمونږ په دې زمانه کښې هم د ترکیانو سره قتال شروع دې کوم چه هم د دې صفاتو والا دی کوم چه رسول الله ﷺ په حدیث کښې ذکر فرمائیلې دی یعنی صغار الاعین او ذلف الانوف وغیره، او د دې نه مخکښې هم مسلمانانو د دوی سره قتال کړې دې، مونږ د الله پاک نه د مسلمانانو په حق کښې د حسن انجام دعاء کوو. اهـ (بذل) امام نووی ﷫ د اوومې صدئ دې د هغوی وفات ۶۷۶ء کښې دې.

الحدیث الاول اخرجه مسلم والنسائی، والحدیث الثانی اخرجه البخاری ومسلم، والترمذی وابن ماجه، قاله النووی.

[٤٣٠٥] ([1]) حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ التِّنِّيسِيُّ، حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا بَشِيرُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَدِيثٍ، يُقَاتِلُكُمْ قَوْمٌ صِغَارُ الْأَعْيُنِ يَعْنِي التُّرْكَ، قَالَ: "تَسُوقُونَهُمْ ثَلَاثَ مِرَارٍ حَتَّى تُلْحِقُوهُمْ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ فَأَمَّا فِي السِّيَاقَةِ الْأُولَى فَيَنْجُو مَنْ هَرَبَ مِنْهُمْ، وَأَمَّا فِي الثَّانِيَةِ فَيَنْجُو بَعْضٌ وَيَهْلَكُ بَعْضٌ، وَأَمَّا فِي الثَّالِثَةِ فَيُصْطَلَمُونَ أَوْ كَمَا قَالَ".

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٨/٥) (ضعيف)

دعبدالله بن بریده رضي الله عنه نه روایت دي فرمائی چه رسول الله ﷺ په هغه حدیث کښې فرمائيلي دي په کوم کښې چه داجمله ده چه ستاسو سره به وړو وړو سترګو والا جنګ کوي، یعنی ترکیان اوبیائي اوفرمائیل چه تاسو به دوی لره درې پیرې په شاه وتمبوئ تردې چه دجزیرة العرب کناري ته به ئې اورسوئ نو په اولنی مرحله کښې چه څوک ددوی نه وتختي نودي به نجات بیاموي اوپه دویمه مرحله کښې به بعضې خلق بچ شي او بعضې به هلاک شي او په دریمه مرحله کښې به د تماموخلقوجرړي وویستلي شي.

قوله: ﴿قَالَ « تَسُوقُونَهُمْ ثَلاَثَ مِرَارٍ حَتَّى تُلْحِقُوهُمْ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ فَأَمَّا فِى السِّيَاقَةِ الأُولَى فَيَنْجُو مَنْ هَرَبَ مِنْهُمْ وَأَمَّا فِى الثَّانِيَةِ فَيَنْجُو بَعْضٌ وَيَهْلِكُ بَعْضٌ وَأَمَّا فِى الثَّالِثَةِ فَيُصْطَلَمُونَ ». الخ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو به راکاږئ دوی لره درې کرته، په مظاهر حق کښې دي : راکاږئ به تاسو دوی درې کرته یعنی یعنی هغوی به مغلوب او مقهور شي او ستاسو په تختولو سره به په تیښته شي تردې چه تاسو به ئې راورسوئ جزیره عرب ته اهـ پس بهر حال په اول ځل راښکلو سره یعنی اول حمله کښې چه کوم خلق د ترکیانو نه اوتختي هغوی به خلاصې بیا مومی، اوبهرحال په دویمه حمله کښې به بعض ترکیان هلاک شی، اوبعض به نجات بیا مومی، او بهر حال په دریمه حمله کښې به د هغوی استیصال اوکړې شی، په مظاهر حق کښې دي او هم په دې باندې (بهرحال) په دریم ځل راښکلو باندې به پرې کړې شی او د جرړې نه به ختم شی.

د حدیث الباب او د مسند احمد په روایت کښې تخالف :

تنبیه : حضرت په بذل کښې صاحب د عون المعبود نه نقل کړی دی چه د ابوداؤد په دې حدیث کښې او د مسند احمد په حدیث کښې تخالف دې ښکاره، ځکه چه د مسند احمد د روایت سیاق هغه په دې باندې دلالت کوی چه راښکونکی به ترک وی، مسلمانان چه کوم هغوی لره درې کرته راکاږی تردې چه هغوی به د جزیره عرب سره لاحق کړی، او امام قرطبی رحمه الله د مسند احمد د حدیث په باره کښې فرمائی اسناده صحیح..... صاحب د عون فرمائی چه زما په نزد د مسند احمد روایت صحیح دې او د ابوداؤد روایت په ظاهر کښې وهم دې، د یو راوی نه په دې کښې وهم واقع شوې دې.

تعریف د صاحب البذل رحمه الله په باره د عون المعبود کښې :

د دې نه پس صاحب د عون د مسند احمد د روایت مضمون لره په مختلفو وجوه سره موید کړې دې : منها وقوع قصه فتنة التتار علی حسب ما وقع فی حدیث احمد مفصلا : فجزاه الله تعالی خیر الجزاء وهذا عندی کما قال، والله تعالی اعلم ومن شاء التفصیل فلینظر عون المعبود اهـ [1] دا د حضرت سهارنپوری حق پرستی او انصاف خوښول دی والحق احق ان یتبع..... ګیني زمونږ حضرت د صاحب عون نه الله پاک دې په هغوی رحم اوکړی خفه شان وو د هغوی د ژبې د اوږدوالي او د ائمه احناف سره د ګستاخانه معاملې د وجې نه، الله پاک دې مونږ ته هم د خپلو اکابرینو په نقش قدم باندې د تلو توفیق راکړی.

---

[1] د ابوداؤد د دې روایت په آخر کښې دی : او کما قال په دې باندې صاحب د عون المعبود لیکلي دی : وهذا یدل علی ان الراوي لم یضبط لفظ الحدیث ولذا رجحت روایة احمد اهـ

بَاب فِي ذِكْرِ الْبَصْرَةِ

باب د بصرې د ښار بیان

[۴۳۰۶] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ جُمْهَانَ، حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَنْزِلُ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي بِغَائِطٍ يُسَمُّونَهُ الْبَصْرَةَ عِنْدَ نَهْرٍ يُقَالُ لَهُ: دِجْلَةُ يَكُونُ عَلَيْهِ جِسْرٌ يَكْثُرُ أَهْلُهَا وَتَكُونُ مِنْ أَمْصَارِ الْمُهَاجِرِينَ"، قَالَ ابْنُ يَحْيَى: قَالَ أَبُو مَعْمَرٍ: وَتَكُونُ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ فَإِذَا كَانَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ جَاءَ بَنُو قَنْطُورَاءَ عِرَاضُ الْوُجُوهِ صِغَارُ الْأَعْيُنِ حَتَّى يَنْزِلُوا عَلَى شَطِّ النَّهْرِ، فَيَتَفَرَّقُ أَهْلُهَا ثَلَاثَ فِرَقٍ فِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَالْبَرِّيَّةِ وَهَلَكُوا، وَفِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ لِأَنْفُسِهِمْ وَكَفَرُوا، وَفِرْقَةٌ يَجْعَلُونَ ذَرَارِيَّهُمْ خَلْفَ ظُهُورِهِمْ وَيُقَاتِلُونَهُمْ وَهُمُ الشُّهَدَاءُ.

مسلم بن ابی بکره دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه رسول الله فرمائیلی دی زمادامت څه کسان به جوري زمکي ته لاړ شي کوي ته چه بصره وئیلې شي اودیوداسي دریاب خواته به ورشي کوم چه په دجله باندې یادیږي او په دې باندې به پوپل وي اوددې آبادي به زیاته وي ، ابن یحي وائی ابومعمر وئیلی دی چه دغه ابادي به دمسلمانانو دعلاقتي دښارونو وي اوکله چه آخره زمانه شي نوهلته به د ترکیانو دنیکه قنطورا اولاد راشي کوم چه به د پلنومخونو او وړو سترګو والا وي تردې پورې چه دغه خلق به ددې نهر غاړي ته راورسیږي اوددې ځائې خلق به جداجداشي اودرې ډلي به شي په دوی کښې به یوې ډلي دغوا لکۍ نیولي وي اودمیدان نه به وتښتي او هلاک به شي اوبله ډله به د خپل ځان دبچ کولو دپاره کافره شي اوددغه خلقونه به یوه بله ډله دخپل ځان نه شاته خپل اولاد پریږدی اوجنګ به کوي اودغه دشهیدانوډله ده.

﴿ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « يَنْزِلُ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي بِغَائِطٍ يُسَمُّونَهُ الْبَصْرَةَ عِنْدَ نَهْرٍ يُقَالُ لَهُ دِجْلَةُ يَكُونُ عَلَيْهِ جِسْرٌ يَكْثُرُ أَهْلُهَا وَتَكُونُ مِنْ أَمْصَارِ الْمُهَاجِرِينَ وَتَكُونُ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ فَإِذَا كَانَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ جَاءَ بَنُو قَنْطُورَاءَ عِرَاضُ الْوُجُوهِ صِغَارُ الْأَعْيُنِ حَتَّى يَنْزِلُوا عَلَى شَطِّ النَّهْرِ ﴾

شرح الحدیث الطویل :

د دې باب په اول حدیث کښ د بغداد او په دویم حدیث کښ د بصرې حال ذکر شوې دې، په اول حدیث کښ په بغداد کښ په شروع کښ د مسلمانانو د آبادیدلو او د هغوی د کثرت،اوپه آخر زمانه کښ دهغې دتباهۍ او بربادۍ ذکر دې، دحدیث ترجمه دا ده سیدنا ابوبکره رضی الله عنه فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل هغوی اوفرمائیل چه زما د امت څه خلق به یوې ښکته زمکي ته کوز شی چه د هغې نوم به بصره وی د یو نهر په غاړه چه هغې ته دجله وائی (دجله چونکه په بغداد کښ ده نه په بصره کښ لهذا په دې حدیث کښ به دا وئیلې شی چه د بصرې نه مراد معروف بصره نه ده بلکه باب بصره چه په بغداد کښ ده) په

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۰۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۴۰، ۴۵) (حسن)

دې نهر باندې به يو پل وی، د دې ښهر آبادی به ډيره زياته وی، يعنی مسلمانان، او هغه ښهر به د مهاجرينو د ښهرونو نه وی، او دويم راوی اووې چه د مسلمانانو د ښهرونو نه به وی، وړاندې چه به په هغوی باندې به انقلاب راشی د هغې ذکر دې او دا پوره حديث د پيشن ګويئ او د اخبار بالغيب د قبيل نه دې، چه کله روستو زمانه راشی نو په دې باندې به بنو قنطنوراء راشی يعنی تاتار د مقابلې دپاره د پلنو مخونو او وړو سترګو والا ترډې چه هغوی به کوز شی او پړاؤ به واچوی د نهر دجله په غاړه باندې.

قوله: ﴿ فَيَتَفَرَّقُ أَهْلُهَا ثَلَاثَ فِرَقٍ فِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَالْبَرِّيَّةِ وَهَلَكُوا وَفِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ لِأَنْفُسِهِمْ وَكَفَرُوا وَفِرْقَةٌ يَجْعَلُونَ ذَرَارِيَّهُمْ خَلْفَ ظُهُورِهِمْ وَيُقَاتِلُونَهُمْ وَهُمُ الشُّهَدَاءُ ﴾

يعنی کله چه بنی قنظوراء د مقابلې دپاره راشی نو د دې ښهر مسلمانان به په درې فرقو کښې تقسيم شی، يو جماعت خو به داسې وی چه د غويانو په لکو پسې به شی او ځنګل ته به لاړ شی، يعنی د جهاد او مقابلې نه بچ کيدو سره به زميندارو کښې مشغول شی او هلاک به شی، يعنی په خپل مقصد کښې به کامياب نه شی، او يوه ډله د چا په تقدير کښې چه الله پاک ليکلې دی هغوی به واخلی يعنی کفر او ارتداد لره، **والعياذ بالله تعالی....** او يوه ډله به هغه وی کوم چه به خپلو زنانو لره په کورونو کښې پريخودلو سره هغوی سره (بنو قنظوراء) سره قتال کوی او هم دا خلق به شهيدان وی.

په مظاهر حق کښې دی : بنو قنظورا يعنی ترک دا نوم دې د هغوی د نيکه، چه ټول ترک د هغه د اولاد نه دی او په هغې کښې دا هم دی : په دې قضيه کښې کومه چه په حديث کښې ښکاره ذکر ده نوم د بصرې دې، او علماء کرامو وئيلې دی چه مراد د دې نه بغداد دې په دې دليل سره چه دجله او پل په بغداد کښې دی، نه په بصره کښې، او د بغداد ښهر د رسول اللهﷺ په زمانه کښې په دې هيئت باندې چه اوس دې نه وو بلکه کلی وو، متعدد و متفرق د مضافاتو د بصرې نه او منسوب دهغې طرف ته، او رسول اللهﷺ د هغې نه د معجزې په طور خبر ورکړو د هغې د جوړيدو په دې وجه ئې اوفرمائيل په لفظ د استقبال سره، چه وی به هغه ډير لوئې ښهر د مسلمانانو په ښهرونو کښې، او ډير به وی د هغې اوسيدونکی، او دا هم ده چه چترک بصرې د جنګ او قتل دپاره په دې مخصوص کيفيت سره چه ذکر شو نه دې راغلی او اهل تواريخ هغه نه دی نقل کړې، خو بغداد ته به يقينی راغلی دی لکه چه معروف او مشهور دی.

[۴۳۰۷] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ، حَدَّثَنَا مُوسَى الْحَنَّاطُ، لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا ذَكَرَهُ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: "يَا أَنَسُ إِنَّ النَّاسَ يُمَصِّرُونَ أَمْصَارًا وَإِنَّ مِصْرًا مِنْهَا يُقَالُ لَهُ: الْبَصْرَةُ أَوِ الْبُصَيْرَةُ فَإِنْ أَنْتَ مَرَرْتَ بِهَا أَوْ دَخَلْتَهَا فَإِيَّاكَ وَسِبَاخَهَا وَكِلَاءَهَا وَسُوقَهَا وَبَابَ أُمَرَائِهَا وَعَلَيْكَ بِضَوَاحِيهَا فَإِنَّهُ يَكُونُ بِهَا خَسْفٌ وَقَذْفٌ وَرَجْفٌ وَقَوْمٌ يَبِيتُونَ يُصْبِحُونَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ".

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی اې انس خلق به

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۱۶) (صحيح)

ښارونه جوړوي اوهم ددې ښارونونه يوښار کوم ته چه بصره وئيلې شي پس که چرې ته ددې ښارنه تير شي يا دې ښارته لاړ شي نوددې ښارد ښوره زمکې نه اود کلاء مقام نه اوددې دبازارنه اوددې ښار ددولت مندو خلقود دروازونه اوته ددې ښار روښانه ځايونه اختيارکړه ځکه چه په دې ښارکښې دننه په ځمکه کښې دښخيدلو او د کاڼړو وريدل او دزلزلې غذاب به وي، اويوقوم به شپه تيره کړي يعنې په صحيح حالت کښې به اوده شي مګرسحر به هغوی خنزيران اوشادوګان شوي وي.

قوله: ﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ لَهُ « يَا أَنَسُ إِنَّ النَّاسَ يُمَصِّرُونَ أَمْصَارًا وَإِنَّ مِصْرًا مِنْهَا يُقَالُ لَهُ الْبَصْرَةُ أَوِ الْبُصَيْرَةُ فَإِنْ أَنْتَ مَرَرْتَ بِهَا أَوْ دَخَلْتَهَا فَإِيَّاكَ وَسِبَاخَهَا وَكِلاَءَهَا وَسُوقَهَا وَبَابَ أُمَرَائِهَا وَعَلَيْكَ بِضَوَاحِيهَا فَإِنَّهُ يَكُونُ بِهَا خَسْفٌ وَقَذْفٌ وَرَجْفٌ وَقَوْمٌ يَبِيتُونَ يُصْبِحُونَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ » ﴾

انس بن مالک ﷺ فرمائی چه يو ځل رسول الله ﷺ ماته اوفرمائيل چه خلق به ډير ښهرونه جوړ کړي او په هغې کښ به يو ښهر داسې وی چه هغې ته بصره وئيلې شی پس که ته په هغې باندې ورتير شې نو ځان بچ کوه د هغه زمکې د شور نه او د هغې د مقام کلاء نه. کلاء په تشديد او تخفيف دواړو طريقو سره منقول دې يعنې کلاء په وزن د کتان، او کلاء په وزن د کتاب، کلاء ګودی (بندرګاه) ته وئيلې شی او په بصره کښ د يو ځائې نوم هم دې. او ځان بچ کړه د هغې د بازار نه او د هغه ځائې د اميرانو د دروازې نه، ضواحی د ضاحية جمع ده، د ښهر نه بهر د هغې فراخه حصه، او ليکلې ئې دی چه په بصره کښ د يو خاص ځائې نوم هم دې په مظاهر حق کښ دی ﴿ وعليک بضواحيها ﴾ او لازم اونيسئ د هغې غاړو لره چه نوم د هغې ضواحی دې، ضواحی جمع د ضاحية ده په معنی د غاړې د زمکې چه ښکاره او فراخه وی د نمر دپاره او ضاحية البصرة نوم د يو ځائې دې په هغې کښ او بعضو وئيلې دی چه مراد د دې نه د هغه ځائې غرونه دی او امر دې په ګوټ کښ د کيناستلو. (وړاندې رسول الله ﷺ د دې مواضع مذکوره نه د بچ کيدو وجه دا بيان فرمائيلې ده چه) هلته به خسف او قذف يعنې د اسمان نه د کاڼړو وريدل، او رجف يعنې زلزلې واقع کيږی او مسخ هم، خلق به شپه تيروی او صبا کوی به په داسې حال کښ چه د بيزوګانو او خنزيرانو په شکل کښ به وی يعنې ځوانان به ئې بيزوګان شی او بوډاګان به ئې خنزيران، په دې حديث کښ د مغروفې بصرې ذکر دې چه مسلمانان به دې لره جوړوی او آبادوی به ئې، بصر ښهر چه کوم ځائې کښ آباد دې هغه حضرت عتبه به غزوان په خلافت فاروقی کښ فتح کولو سره ښهر جوړ کړې وو د هغې د فتح کولو ذکر د شمائل ترمذی په يو روايت کښ ضمنا راغلې دې (١) په دې حديث کښ د خسف او مسخ ذکر دې چونکه د نورو احاديثو نه معلوميږی چه خسف او مسخ به په قدريه کښ وی چه د هغې نه ګنړلې شی چه دلته به په بصره کښ هغه وخت قدريه وی، په مظاهر حق کښ دی چه په دې ځايونو کښ به خسف

١) په آخر د شمائل کښ باب ما جاء في عيش النبي ﷺ کښ په روايت د خالد بن عمير وشويس ابوالرقاد د دې روايۀ مضمون په خصائل نبوی کښ کتلې شی)

وغیره کیدې شي چه وي، په سبب د خباثت د هغوي او په بازارونو کښ به وي په سبب د غفلت یا د وجې د کثرت لغو نه یا فساد د عقود او د بادشاهانو وغیره په دروازو باندې په سبب د کثرت ظلم.

[۴۳۰۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ صَالِحِ بْنِ دِرْهَمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، يَقُولُ: انْطَلَقْنَا حَاجِّينَ فَإِذَا رَجُلٌ فَقَالَ لَنَا: إِلَى جَنْبِكُمْ قَرْيَةٌ يُقَالُ لَهَا الأُبُلَّةُ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: مَنْ يَضْمَنُ لِي مِنْكُمْ أَنْ يُصَلِّيَ لِي فِي مَسْجِدِ الْعَشَّارِ رَكْعَتَيْنِ أَوْ أَرْبَعًا وَيَقُولَ: هَذِهِ لِأَبِي هُرَيْرَةَ، سَمِعْتُ خَلِيلِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مِنْ مَسْجِدِ الْعَشَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُهَدَاءَ لَا يَقُومُ مَعَ شُهَدَاءِ بَدْرٍ غَيْرُهُمْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْمَسْجِدُ مِمَّا يَلِي النَّهَرَ.

دصالح بن درهم رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه مونږ دحج په نیت باندې روان شوي وونو هلته زمونږ سره اچانک یو کس ملاو شو او مونږ ته ئې ووئیل چه ستاسو طرف ته یو کلې دې ابله ورته وئیلې شي مونږ ورته ووئیل هونوده ووئیل چه په تاسو کښې به ما ته څوک ددې خبرې ذمه واري وکړي چه هغه زما دپاره په مسجد عشار کښې دوه یا څلور رکعته مونځ وکړي اوداسې اووائي چه ددې ثواب دابوهریره رضی الله عنه دپاره دې ځکه چه مادخپل دوست محمد صلی الله علیه وسلم نه اوریدلې دی چه فرمائیل ئې یقینا دقیامت په ورځ به الله تعالی دمسجد عشار نه خپل شهیدان راپورته کړي په داسې حال کښې چه ددوی نه به علاوه دبدر شهیدانو سره به هیڅ څوک راپوته نکړې شي. امام ابوداؤد فرمائي چه دا مسجد نهر ته نزدې دې.

مضمون الحدیث او د عبادت بدنیه د وصول ثواب دلیل:

قوله: ﴿قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ انْطَلَقْنَا حَاجِّينَ فَإِذَا رَجُلٌ فَقَالَ لَنَا إِلَى جَنْبِكُمْ قَرْيَةٌ يُقَالُ لَهَا الأُبُلَّةُ قُلْنَا نَعَمْ. ....الخ﴾

د دې حدیث ترجمه مونږ د مظاهر حق نه کوو په هغې کښ دی : او روایت دې د صالح بن دینار تابعی نه هغوی فرمائي چه مونږ د حج کولو دپاره د بصرې نه مکې معظمې ته لاړو پس ناګهانه هلته یو سړې ولاړ وو یعنی سیدنا ابوهریره رضی الله عنه، پس هغوی مونږ ته اووې چه آیا ستاسو د ښهر په طرف کښ یو کلې شته چه هغې ته ابله (د همزه او باء په پیش او په تشدید د لام سره دا د یوې قریې نوم دې چه مشهوره ده او بصرې ته نزې ده) مونږ اووې او شته، هغوی اوفرمائیل په تاسو کښ څوک متکفل کیږی زما دپاره چه زما دپاره مونځ اوکړی یعنی زما نیت پکښ اوکړی (مسجد عشار) کښ دوه رکعته یا څلور رکعته او دا اوائی چه د دې مونځ ثواب زه بخښم ابوهریره رضی الله عنه ته (عشار نوم دې د مسجد چه په آبله کښ دی په هغې کښ د برکت د حصول دپاره مونځ کولې شی) واوریدل ما د خپل حبیب نه چه ابوالقاسم صلی الله علیه وسلم دې چه یقینا الله پاک به اوچت کړی د مسجد عشار نه د قیامت په ورځ شهید، نه به پاسي یعنی د قبرونو نه یا په مرتبه کښ د بدر د شهیدانو سره نه غیر د دوی نه، او دا لوئې تعریف دې ددې جماعت چه د بدر د شهیدانو برابر دی، او دا نه ده معلومه چه هغوی به د دې امت په شهیدانو کښ وی یا که د نورو امتونو د شهیدانو نه به وی، پس

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۳۵۰۱) (ضعيف)

چه هر کله دا مسجد داسې فضیلت او شرف لري نو په هغې کښې مونځ ادا کول فضیلت عظیم او ثواب عظیم لري.

په مقام مقدس کښې د مونځ وغیره عباداتو فضیلت :

او د دې نه معلومیږي چه مونځ ادا کول په مقدس مقاماتو کښې او په هغې کښې دیني عبادت کول لوئې فضیلت لري او بخښل چاته د عبادت بدني که هغه ژوندي ته وي او که مړ ته جائز دی او رسیږي او اکثر علماء په دې باندې دی، او د عبادت مالیه بخښل په اتفاق سره جائز دی. اهـ

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَا الْمَسْجِدُ مِمَّا يَلِي النَّهَرَ ﴾ مصنف رحمه الله فرمائی چه دا مسجد العشار د نهر فرات کوم چه بصرهه کښې دې متصل واقع دې.

بَابُ النَّهْيِ عَنْ تَهْيِيجِ الْحَبَشَةِ

بابد د حبشیا نو بیان

[۴۳۰۹] (۱) حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ أَحْمَدَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، عَنْ زُهَيْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "اتْرُكُوا الْحَبَشَةَ مَا تَرَكُوكُمْ فَإِنَّهُ لَا يَسْتَخْرِجُ كَنْزَ الْكَعْبَةِ إِلَّا ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ".

دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی په حبشیانو باندې تعارض مه کوئ ترڅوچه دوی ستاسو سره جنګ نه وي کړي ځکه چه دبیت الله شریف خزانې ددې حبشیانونه علاوه بل څوک نشي ویستلي کوم چه دوړوپندړ والاوي.

﴿ اتْرُكُوا الْحَبَشَةَ مَا تَرَكُوكُمْ فَإِنَّهُ لاَ يَسْتَخْرِجُ كَنْزَ الْكَعْبَةِ إِلاَّ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ ﴾

شرح الحديث :

عبدالله بن عمر رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوی چه هغوی اوفرمائیل چه تاسو حبشیان پریږدئ او هغوی سره کار مه ساتئ ترڅو چه تاسو سره کار نه ساتی او تعرض نه کوی تاسو سره ځکه په تحقیق سره شان دا دې چه نه به اوباسی د کعبې خزانه مګر یو سړې صاحب د دوه نرو پنډو والا، چه دحبشو نه به وی، دغه امیر به د حبشې وی، یا ددې نه مراد د حبش لښکر دې، او سویقه تصغیر دې د ساق، ددې معنی ده پنډئ، او پنډئ د حبشو اکثر نرئ او باریک وی.

(د کعبې د خزانې نه مراد)

او مراد د ګنج (خزانې) نه هغه ګنج دې کوم چه د کعبې نه لاندې ښخ دې، بعضو وئیلې دی چه مخلوق دې په هغې کښې، او بعضو وئیلې دی چه د دې نه مراد هغه مال دې کوم چه د نذرانې په طور راځی خادم ئې هلته جمع کوی.

(حرم خو د امن ځائې دې نودا واقعه څنګه راپیښیدې شی؟)

او په حدیث کښې چه دا راځی چه خرابوی به کعبې لره ذوالسویقتین دا د الله پاک د قول سره

---

(۱) تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸۶۰۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۷۱/۵) (حسن)

معارض نه دي چه ﴿ حرما امنا ﴾ ځکه چه دا به قيامت ته نزدې وی هغه وخت چه پاتې به نه شی هيڅوک الله الله وئيلو والا، او ظاهره دا ده چه الله پاک دا حرم بامن شميرلې دې په اعتبار د غالب احوالو لکه چه دلالت کوی په دې باندې قضيه د ابن الزبير رضي الله عنهما...... او د قرامطه او ددې په شان، يا مردا د حرام د بامن ګرځولو نه دا دې چه الله پاک حکم فرمائيلې دې چه هغوی دې په امن باندې ساتی خلقو لره او تعرض دې نه کوی د چا سره په دې کښې پس منقول دی چه رئيس د زنادقه يعنی د قرامطه نه په داسې حال کښې چه کله هغه فساد اوکړو په قتل کولو د خلقو او په خرابولو د ښهرونو (يعنی چه د قتل او فساد کولو نه فارغ شو نو هغه اووې) چه چرته دې د الله پاک کلام چه ﴿ من دخله كان امنا ﴾ پس بعض اهل توفيق ورته اووې چه د دې معنی دا ده چه امن ورکړئ په دې کښې هغه چاته چه داخل شی دې ته د قتل او لوټ دپاره او د هغه سره تعرض مه کوئ.

بَابُ أَمَارَاتِ السَّاعَةِ

باب د قيامت د علاماتو بيان

امارات جمع د امارة ده په فتح د همزې سره لکه علامة لفظا او معنا او امارة په کسرې د همزې سره يعنی امامت لفظا او معنا.

[٤٣١٠] (١) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ أَبِي حَيَّانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، قَالَ: جَاءَ نَفَرٌ إِلَى مَرْوَانَ بِالْمَدِينَةِ فَسَمِعُوهُ يُحَدِّثُ، فِي الْآيَاتِ أَنَّ أَوَّلَهَا الدَّجَّالُ قَالَ فَانْصَرَفْتُ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو فَحَدَّثْتُهُ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: لَمْ يَقُلْ شَيْئًا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ أَوَّلَ الْآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا أَوِ الدَّابَّةُ عَلَى النَّاسِ ضُحًى فَأَيَّتُهُمَا كَانَتْ قَبْلَ صَاحِبَتِهَا فَالْأُخْرَى عَلَى أَثَرِهَا"، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: وَكَانَ يَقْرَأُ الْكُتُبَ وَأَظُنُّ أَوَّلَهُمَا خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا.

دابوزرعه نه روايت دې فرمائی چه په مدينه کښې مروان ته يوڅو کسان راغلل هغوی دمروان يوحديث واوريدر کوم چه هغه بيانولو چه دقيامت دټولونه مخکښې مخه د دجال راوتل دي ماچه دا واوريدل نوعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما ته لاړم او ماورته ددې خبرې بيان وکړو عبدالله اووئيل هيڅ ئې نه دي وئيلي مادنبی ﷺ نه آوريدلی دی چه فرمائيل ئې يقينا اوله علامه دقيامت په ښکاره کيدو کښې دمغرب دطرف نه دنمر راختل دي يا دخلقو په نمر کښې دودريدو په وخت کښې د دابة الارض راوتل دي په دې دواړو کښې چه هر يوشي مخکښې شي نوبل به ورپسې ډير نزدې وي اوعبدالله به تورات او انجيل لوستلو هغه اووئيل زماخيال دې چه دقيامت دراتلو دټولونه مخکښې نخه دمغرب دطرف نه دنمر راختل دي.

قوله: ﴿ جَاءَ نَفَرٌ إِلَى مَرْوَانَ بِالْمَدِينَةِ فَسَمِعُوهُ يُحَدِّثُ فِي الْآيَاتِ أَنَّ أَوَّلَهَا الدَّجَّالُ قَالَ فَانْصَرَفْتُ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ لَمْ يَقُلْ شَيْئًا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « إِنَّ أَوَّلَ الْآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا أَوِ الدَّابَّةُ عَلَى النَّاسِ ضُحًى فَأَيَّتُهُمَا كَانَتْ

[1]: صحيح مسلم/الفتن ٢٣ (٢٩٤١)، سنن ابن ماجه/الفتن ٣٢ (٤٠٦٩)، (تحفة الأشراف: ٨٩٥٩)، وقد أخرجه: مسند أحمد (١٦٤/٢، ٢٠١) (صحيح)

قَبْلَ صَاحِبَتِهَا فَالأُخْرَى عَلَى أَثَرِهَا ». قَالَ عَبْدُ اللَّهِ ....الخ﴾

مضمون الحديث :

ابوزرعه فرمائی چه څه خلق مدينې طيبې ته د مروان خوا له راغلل نو هغوی د هغه نه واوريدل چه هغه د علامات قيامت په باره کښې بيانول چه په هغه علاماتو کښې اول علامت خروج الدجال دې، ابوزرعه فرمائی چه د دې نه روستو زه عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما ته لاړم ما هغوی ته د دې ذکر اوکړو نو هغوی اوفرمائيل چه مروان چه څۀ اووې هغه هيڅ هم نه دی، يعنی غير معتبر دی، ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دی چه اولنۍ علامه راختل د نمر دی د مغرب نه يا خروج الدابة چه د چاشت په وخت باندې به وی او په دواړو کښې چه کوم يو علامت هم اول اوموندلې شی دويم به د هغې نه روستو وی.

سيدنا عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما خپله رائې بيانوی چه زما دا ګمان دې چه اول به طلوعٔ الشمس من المغرب وی د دې نه پس به خروج الدابه وی، ﴿ وكان يقراء الكتب ﴾ دا جمله معترضه ده چه د هغې قائل ابوزرعه دې هغوی دا بيانوی چه چونکه عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما به مخکښې کتابونه تورات اوانجيل وغيره لوستل نو کيدې شی چه دهغوی دا رائې دهغې مطابق وی.

حاصل د حديث دا شو مروان اول الايات خروج الدجال ته اووې، او عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما د دې په ځائې طلوع الشمس من مغربها ته اووې، او علماء کرامو فرمائيلې دی چه دواړه خبرې په خپل ځائې باندې صحيح دی.

په اصل کښې علامات قيامت په دوه قسمه دی، يو آيات قرب الساعة، او دويم آيات وقوع الساعة، د مروان مراد اول قسم د علامت نه دې او هغه صحيح دې او د صحابی سيدنا عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما مراد دويم قسم دې او هغه واقعی طلوع الشمس من مغربها دې، د دې نور وضاحت په بذل کښې ذکر دې هغه دې اوکتلې شی. والحديث اخرجه مسلم وابن ماجه، وليس فی حديث ابن ماجه قصة مروان يتحدث، قاله المنذری.

[٤٣١١](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَهَنَّادٌ، المعنى، قَالَ مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا فُرَاتٌ الْقَزَّازُ، عَنْ عَامِرِ بْنِ وَاثِلَةَ، وَقَالَ هَنَّادٌ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ الْغِفَارِيِّ، قَالَ: كُنَّا قُعُودًا نَتَحَدَّثُ فِي ظِلِّ غُرْفَةٍ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرْنَا السَّاعَةَ، فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَنْ تَكُونَ أَوْ لَنْ تَقُومَ السَّاعَةُ حَتَّى يَكُونَ قَبْلَهَا عَشْرُ آيَاتٍ طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَخُرُوجُ الدَّابَّةِ وَخُرُوجُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَالدَّجَّالُ وَعِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَالدُّخَانُ وَثَلَاثَةُ خُسُوفٍ: خَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ، وَخَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ، وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَآخِرُ ذَلِكَ تَخْرُجُ نَارٌ مِنَ الْيَمَنِ مِنْ قَعْرِ عَدَنَ تَسُوقُ النَّاسَ إِلَى الْمَحْشَرِ".

د حذيفه بن اسيد الغفاری رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه مونږ دنبی علیه السلام دکور مبارک سورې ته ناست وو اودقيامت ذکر مو کولو په دې دوران کښې* زمونږ اوازونه تيز شول يعنی شور اوغوغا جوړه شوه نبی علیه السلام اوفرمائيل قيامت دهغه وخته پورې هيڅ کله نه قائميږي ترڅوچه ددينه مخکښې لس علامات ښکاره نشي (١) دمغرب دطرف نه دنمر

(١): صحيح مسلم/الفتن ١٣ (٢٩٠١)، سنن الترمذي/الفتن ٢١ (٢١٨٣)، سنن ابن ماجه/الفتن ٢٨ (٤٠٤١)، (تحفة الأشراف: ٣٢٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٧) (صحيح)

راختل (۲) د دابة الارض ظاهريدل (۳) دياجوج ماجوج وتل (۴) د دجال وتل (۵) د اسمان نه د عيسى علیه السلام راتلل (۱) لوګي شروع کيدل (۷) په دري ځايونو کښي په زمکه کښي ډوبيدل (۸) يعنى په مشرق اومغرب کښي (۴) اودعربو په جزيره کښي دزمکي راښکل (۱۰) اوددي ټولوپه اخرکښي داور راوتل ديمن دزمي نه دعدن په ژور والي کښي هغه اور کوم چه به خلق دحشر ميدان ته راشړي.

قوله: ﴿فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لَنْ تَكُونَ - أَوْ لَنْ تَقُومَ - السَّاعَةُ حَتَّى يَكُونَ قَبْلَهَا عَشْرُ آيَاتٍ طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَخُرُوجُ الدَّابَّةِ وَخُرُوجُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَالدَّجَّالُ وَعِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَالدُّخَانُ وَثَلاَثُ خُسُوفٍ خَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَخَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَآخِرُ ذَلِكَ تَخْرُجُ نَارٌ مِنَ الْيَمَنِ مِنْ قَعْرِ عَدَنَ تَسُوقُ النَّاسَ ..الخ﴾

د علامات قيامت ترمينځه ترتيب:

رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د قيامت د واقع کيدو نه مخکښ د دي لسو ذکر کړي شوو علاماتو مونډلي کيدل ضروری دی، په بذل کښ ليکلي دی چه په دي حديث کښ دا علامات عشره د وقوع د ترتيب په لحاظ سره ذکر نه دی بلکه غير مرتب مذکور دی (۱) ترتيب په دي کښ داسي دي چه د دي لسو نه ﴿ اولا خسوفات ثلاثة ثم خروج الدجال ثم نزول عيسى ثم جروج ياجوج وماجوج، ثم الريح الذى تقبض عندها ارواح اهل الايمان ثم طلوع الشمس من مغربها ثم خروج الدابة الارض، قلت والا قرب فى مثله التوقف والتفويض الى عالمه (فتح الودود)او د دي نه پس حضرت فرمائي : المناسب ان يذكر الطلوع وخروج الدابة قبل الريح.... اهـ.

د دابة الارض او دخان تفسير:

په مظاهر حق کښ د دابة الارض په باره کښ ليکلي دی چه دا به د مسجد حرام نه راوځی د صفا او مروه ترمينځه او قول د الله پاک : وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِنَ الْأَرْضِ....... محمول دي په دي باندي، او علماء کرامو ليکلي دی چه هغه ځاروي دي چه د هغي اوږدوالي به شپيته ګزه وی او بعضو وئيلي دی چه هغه به مختلف الخلقة وی مشابه به د حيواناتو سره وی او جبل صفا لره شلولو سره به راوځی او هغه سره به د موسى علیه السلام همسا

(۱) خکه چه په دي حديث کښ طلوع الشمس من المغرب اول او عيسى بن مريم علیه السلام روستو ذکر دي حال دا چه د روايت صحيحه نه ثابته ده چه حصرت عيسى علیه السلام چه کله نازل شي نو خلقو ته به د ايمان دعوت ورکوی او خلق به ايمان قبول کړی، او د دي نه په روستو حديث کښ دا راروان دی چه د طلوع الشمس من المغرب نه پس به ټول خلق ايمان راوړی خو د هغوی دا ايمان به معتبر نه وی، لهذا د دي جواب هم دا دي چه ترتيب د علامات قيامت داسي نه دي کوم چه په دي حديث کښ ذکر دي، طلوع الشمس من المغرب به روستو مونډلي شي او نزول عيسى علیه السلام په دي باندي مقدم دي، په معارف القرآن کښ د روح المعاني نه د دي اشکال جواب هم دا نقل کړي دي چه د طلوع الشمس واقعه د عيسى علیه السلام د تشريف راوړلو نه کافی زمانه روستو ده او هم هغه وخت به د توبي دروازه بنده شي، او علامه بلقيني شافعي د دي يو بل جواب ورکړي دي چه دا هم ممکنه ده چه عدم قبول ايمان د طلوع الشمس من مغربها دا حکم ترآخره پوري باقى نه وی بلکه څه موده پس دا حکم بدل شي او ايمان او توبه قبليدل شروع شي.

او د سليمان عليه السلام ګوتمه وي او څوک به هم د هغه سره منډه نه شي وهلې، وهي به مومن په همسا سره او ليکي به د هغه په تندی باندې مومن، او مهر به لګوی په کافر باندې په چهاپ سره او ليکي به د هغه په تندی باندې کافر.

او په معارف القرآن ٦/٦٠٥ کښې دی ابن کثير رحمه الله په حواله د ابوداؤد طيالسی د طلحه بن عمر نه يو اوږد حديث کښې روايت کړې دې چه دا دابة الارض به مکه مکرمه کښې د کوه صفا نه راوځی. او د خپل سر نه به خاورې سنډلو سره په مسجد حرام کښې حجر اسود او د مقام ابراهيم ترمينځه راورسيږی، خلق به د هغه په ليدو باندې منډې وهی، يو جماعت به پاتې شی دا دابة به د هغوی مخونه د ستورو په شان روښانه کړی، د دې نه پس به هغه د زمکې طرف ته راوځی د هر کافر په مخ باندې به د کفر نخښه اولګوی څوک به هم د هغه د نيولو نه او تخيدلې نشی، دا به هر مومن او کافر لره پيژنی (ابن کثير) امام ابن کثير رحمه الله په دې ځائې کښې د دابة الارض د هيئت او کيفياتو او حالاتو متعلق مختلف روايات نقل کړی دی چه په هغې کښې اکثر قابل اعتماد نه دی. الی اخره.

او د دخان په باره کښې په مظاهر حق کښې دی : يعنی لوږی چه راوځی به او ډک به شی تری نه مشرق او مغرب او تر د څلويښتو ورځو پورې به وی او مسلمانان به د زکام وهلو په شان وی، او کافر به په شان د مستون (مدهوش)[1] وی، لکه چه په يو بل حديث کښې راغلی دی، او په قرآن کريم کښې په سورة دخان کښې راغلی دی : يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ هغه هم په دې باندې محمول دې په قول د حذيفه او تابعين (متبعين) د هغه، او د ابن مسعود او په نزد د تابعينو دهغه د دې نه مراد هغه قحط دې کوم چه په قريشو باندې راغلې وو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دعا سره چه وې فرمائيل يا الله راوله په دوی باندې قحط د اووۀ کلونو څنګه چه دې په مصريانو باندې راوستلې وو د يوسف عليه السلام په زمانه کښې، الی آخر ما ذکر ٣/٣٥٦...

د دخان په باره کښې د حذيفه بن اليمان او د ابن مسعود رضی الله عنهما د رائې اختلاف مشهور دې په بخاری وغيره کتب حديث کښې.

والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائي وابن ماجه، قاله المنذری.

[٤٣١٢]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفُضَيْلِ، عَنْ عُمَارَةَ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ آمَنَ مَنْ عَلَيْهَا فَذَاكَ حِينَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا سورة الأنعام آية ١٥٨ الآيَةَ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی دهغه وخته پورې به

---

[1]) خاموش به وی، حيران او پريشان او بدحواسه به وی، او تک تور به وی لکه سوزيدلې ايره (مترجم).

[2]): صحيح البخاري /تفسير القرآن ٧ (٤٦٣٥)، الرقاق ٤٠ (٦٥٠٦)، الفتن ٢٥ (٧١٢١)، صحيح مسلم/الإيمان ٧٢ (١٥٧)، سنن ابن ماجه/الفتن ٣١ (٤٠٦٨)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٩٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/التفسير ٧ (٣٠٧٢)، مسند احمد (٢/٢٣١، ٣١٣، ٣٥٠، ٣٧٢، ٥٣٠) (صحيح)

قيامت قائم نشي ترڅوچه نمر د مغرب دطرف نه نوي راختلې کله چه راوخيږي اوخلق ئې اووينې نو په دې وخت کښې به په زمکه کښې موجود خلق ايمان راوړي خوداهغه وخت کښې چه يونفس ته به دهغه ايمان فائده نه ورکوي ترڅوچه مخکښې ئې ايمان نه وي راوړې اوپائې نيک عملونه نه وي کړي.

قوله: ﴿فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ آمَنَ مَنْ عَلَيْهَا فَذَاكَ حِينَ (لاَ يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا)». الآيَةَ﴾

پوره آيت کريمه داسې دې : ﴿ يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا ﴾ رسول الله ﷺ فرمائي چه په دې آيت کريمه کښې د بعض آيت نه مراد طلوع الشمس من المغرب دې چه د هغې د راتلو نه پس به د توبې دروازه بنده شي کوم سړي چه د دې نه مخکښې ايمان نه وو راوړې او اوس ايمان راوړي نو قبول به ترې نه نه شي، خلاصه دا شوه چه کافر به په خپل کفر سره او فاسق به په خپل فسق او معصيت سره که هغه وخت توبه اوباسي نو هغه به نه قبليږي، سبب دا دې چه ايمان او توبه صرف هغه وخته پورې قبليږي ترڅو چه هغه د انسان په اختيار کښې وي. او کله چه د عذاب الهي او د حقائق آخرت مشاهده اوشوه نو هر انسان په ايمان راوړلو او د گناه نه په بچ کيدو کښې خپله مجبور شو. د مجبورئ ايمان او توبه قابل قبول نه ده، هم د دې آيت کريمه په تفسير کښې د رسول الله ﷺ دا ارشاد منقول دې چه کوم وخت د قيامت په آخرې نخښو کښې دا نخښه ښکاره شي چه نمر د مشرق په ځائې د مغرب نه راوخي نو د هغې په ليدو سره به د ټول جهان کافر کلمه وئيل شروع کړي او ټول نافرمان به فرمانبردار شي خو د هغه وخت ايمان به قابل قبول نه وي. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

باب حَسْرِ الْفُرَاتِ عَنْ كَنْزٍ

باب: د فرات نهر نه د خزانو راوتلو بيان

[٤٣١٣](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنِي عُقْبَةُ بْنُ خَالِدٍ السَّكُونِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُوشِكُ الْفُرَاتُ أَنْ يَحْسِرَ عَنْ كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَمَنْ حَضَرَهُ فَلاَ يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا".

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلې دي نزدې ده چه دفرات نهردسرو زرو خزانې راسرگندې کړي مگرڅوک چه هلته موجود وي هغه دې ددينه څه نه اخلي.

[٤٣١٤](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنِي عُقْبَةُ يَعْنِي ابْنَ خَالِدٍ، حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ إِلاَّ، أَنَّهُ قَالَ: يَحْسِرُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ.

ابوهريره به دنبي عليه السلام نه دتير شوي روايت په شان روايت بيان کړې دې مگر دا اضافه ئې

(١): صحيح البخاري/الفتن ٢٤ (٧١١٩)، صحيح مسلم/الفتن ٨ (٢٨٩٤)، سنن الترمذي/صفة الجنة ٣٦ (٢٥٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٢٢٦٣)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الفتن ٢٥ (٤٠٤٦)، مسند احمد (٢/٢٦١، ٣٣٢، ٣٦٠) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٣٧٩٥) (صحيح)

کړې ده چه نبی ﷺ اوفرمائیل دسرو زرو یوغربه راظاهر کړې.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « يُوشِكُ الْفُرَاتُ أَنْ يَحْسِرَ عَنْ كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ فَمَنْ حَضَرَهُ فَلاَ يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا » ﴾ او په بل روایت کښې دی ﴿ ان يحسر عن جبل من ذهب ﴾ او د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه فرات به اوچوی د سرو زرو د خزانو نه، یعنی د فرات اوبه به اوچې شی او د هغې د لاندې نه به د سرو زرو خزانې راوځی. پس چه څوک هلته حاضر وی هغه له پکار دی چه وانه خلی د هغې نه ځکه چه د هغې باعث تنازع او تقاتل دې لکه چه په راروان حدیث کښې راځي، او بعضو وئیلې دی چه په دې وجه دې نه اخلی د دې خزانې نه چه د دې په سبب به آفات او مصیبتونه راځی، او هغه یو نخښه ده د الله پاک د قدرت د نخښو نه، او بعضو وئیلې دی چه سبب ئې دا دې چه دا مال مغضوب او مکروه دې په شان د مال د قارون پس د دې نه به انتفاع حرامه وی (مظاهرحق) او د راروان حدیث نه مراد د کوم طرف ته چه اشاره شوې ده هغه دا حدیث دې ﴿ لا تقوم الساعة حتى يحسر الفرات عن جبل من ذهب يقتتل الناس عليه فيقتل من مائة تسعة وتسعون، ويقول كل رجل منهم لعلى اكون انا الذى انجو ﴾ رواه مسلم مظاهرحق ۳۲۵/۴: جنګ به پرې کوی خلق د هغې د حصول دپاره او په اخستلو باندې الخ.

الحديث الاول اخرجه البخارى ومسلم والترمذى، والثانى اخرجه مسلم والترمذى، اخرجه البخارى تعليقا، قاله المنذرى.

بَاب خُرُوجِ الدَّجَّالِ

باب د دجال راوتلو بیان

خروج الدجال چه د قیامت د علاماتو نه دې د دې ثبوت د احادیث کثیره نه دې چه د هغې په باره کښې بعض علماء کرامو لیکلې دی چه هغه حد متواتر ته رسیدلې دی، تردې چه د خروج دجال مسئله د اهل سنت په عقائدو کښې شمار کیږی هم په دې وجه د عقائدو په کتابونو کښې ددې ذکر دې پس په شرح عقائد کښې دی:

﴿ وما اخبر به النبى ﷺ من اشراط الساعة من خروج الدجال ودابة الارض وياجوج وماجوج ونزول عيسى عليه السلام من السماء وطلوع الشمس من مغربها فهو حق الى ان قال والاحايث الصحاح فى هذه الاشراط كثيرة جدا وقد روى احاديث مرفوعة واثار فى تفاصيلها وكيفياتها فليطلب فى كتب التفسير والسير والتواريخ ﴾ په دې کښې د بعض خوارجو، معتزلو او جهمیه اختلاف دې هغوی د دې د وجود نه انکار کړې دې، پس په فتح البارى کښې دی د باب ذكر الدجال په ضمن کښې، وقال القاضي عياض في هذه الأحاديث حجة لأهل السنة في صحة وجود الدجال وانه شخص معين يبتلي الله به العباد ويقدره على أشياء كاحياء الميت الذي يقتله وظهور الخصب والأنهار والجنة والنار واتباع كنوز الأرض له وأمره السماء فتمطر والأرض فتنبت وكل ذلك بمشيئة الله ثم يعجزه الله فلا يقدر على قتل ذلك الرجل ولا غيره ثم يبطل أمره ويقتله عيسى بن مريم وقد خالف في ذلك بعض الخوارج والمعتزلة والجهمية فانكروا وجوده وردوا الأحاديث الصحيحة الخ غالبا هم په دې وجه چه

بعض فرقو د دې نه انکار کړې دې مصنف رحمه الله د دجال باب په آخر د کتاب کښې د کتاب السنة د لاندې دوباره قائم کړې دې، دې خبرې ته د اشارې کولو دپاره چه اهل سنت د دې قائل دی په خلاف د بعض فرق باطله.

د دجال په باره کښې کوم کوم تحقیقات مطلوب دی:

په فتح الباری کښې بل ځائې کښې دی: ومما يحتاج إليه في أمر الدجال أصله وهل هو بن صياد أو غيره وعلى الثاني فهل كان موجودا في عهد رسول الله صلى الله عليه و سلم أو لا ومتى يخرج وما سبب خروجه ومن أين يخرج وما صفته وما الذي يدعيه وما الذي يظهر عند خروجه من الخوارق حتى تكثر أتباعه ومتى يهلك ومن يقتله، يعنى د دجال د تحقيق په سلسله کښې چه کوم امور د معلومولو دی هغه دا دی تقریبا لس دولس، بیا په فتح الباری کښې د دې ټولو امورو جواب هم ذکر دې، وړاندې چه په کتاب جساسه کښې کومه قصه راځی په باب فی خبر الجساسة کښې د دې خبرې دلیل دې چه دجال فی الحال په دنیا کښې موجود دې، د رسول الله ﷺ په زمانه کښې هم موجود وو، په بعض جزائرو کښې او دا چه هغه د ابن صیاد نه علاوه بل څوک دې د شرح عقائد په شرح نبراس کښې دی: وهل الدجال موجود او يتولد؟ فالصحيح هو الاول... یعنی یو اختلاف دا هم دې چه دجال په دنیا کښې موجود دې یا که په آخره زمانه کښې به پیدا کیږی، او د هغه په باره کښې صحیح هم دا ده چه هغه موجود دې او بیا صاحب نبراس د دې په دلیل کښې د تمیم داری رضی الله عنه حدیث یعنی هم هغه خبر د جساسه ذکر فرمائیلې دې.

د لفظ دجال او مسیح تحقیق:

دجال د دجل نه دمبالغې صیغه ده د دجل معنی ده تغطیه یعنی پټول، دجال ته دجال په دې وجه وائی چه هغه حق لره په باطل باندې پټوی، د دجال معنی د رنګ کونکی هم ده، سیف مدجل وائی هغه تورې ته چه هغې ته د سرو زرو اوبه ورکړې شوې وی، او په اشعة اللمعات کښې دی:

ودجال مشتق از دجل است، ودجل بمعنی خلط ومکر وخداع وتلبیس آید، دجل الحق علی الباطل گویند وقتیکه کسے حق رابباطل خلط کند وتمویه نماید، وبمعنی کذب نیز آید، ووجود ایں معانی در دجال ظاهر است، ومسیح اسم مشترک است میاں وے عیسی علیه السلام واکثر آنست که اسم وے رامقید بدجال دارند (مسیح دجال) ودر عیسی علیه السلام مطلق گزارند (مسیح علیه السلام) وعیسی رامسیح ازاں گویند چه چوں اکمه وابرص رامسح ولمس کردے به شدے (چه په لاس رابنکلو سره به ئې اکمه او ابرص صحیح او روغ شو) واز جهت اں که از شکم مادر ممسوح برامد به آلائش وچرک که اطفال رانزد زائیدن باشند وبعضے گویند که یک چشم وے ممسوح وهموار است، وممسوح الوجه ومسیح الوجه کسے راگویند که یک طرف روئے هموار بودو چشم وابرو نباشد اهمختصرا.

[۴۳۱۵]([1])حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، قَالَ: اجْتَمَعَ حُذَيْفَةُ، وَأَبُو مَسْعُودٍ، فَقَالَ حُذَيْفَةُ: "لَأَنَا بِمَا مَعَ الدَّجَّالِ أَعْلَمُ مِنْهُ إِنَّ مَعَهُ بَحْرًا مِنْ مَاءٍ وَنَهْرًا مِنْ نَارٍ فَالَّذِي تَرَوْنَ أَنَّهُ نَارٌ مَاءٌ وَالَّذِي تَرَوْنَ أَنَّهُ مَاءٌ نَارٌ، فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَأَرَادَ الْمَاءَ فَلْيَشْرَبْ مِنَ الَّذِي يَرَى أَنَّهُ نَارٌ فَإِنَّهُ سَيَجِدُهُ مَاءً"، قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ الْبَدْرِيُّ: هَكَذَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ.

د ربعي بن حراش نه روايت دي فرمائي چه ابومسعود او حذيفه رضي الله عنهما يوځل دواړه يوځائي شول حذيفه اووئيل د دجال سره چه څه وي زه د هغې متعلق د هغه نه زيات پوهيږم چه داوبو پودرياب به ورسره وي او د اور يو نهر به ورسره وي کوم چه تاسوته اور ښکاري هغه به اوبه وي، نو څوک چه په تاسو کښې ددې حالت سره مخ شي او اوبه څکل غواړي نو دهغه نه دي وڅکي کوم چه ورته اور ښکاري زرده چه هغه به دې لره اوبه بيا موي، ابومسعود بدرې په اووئيل ما هم د نبی عليه السلام نه دا سې اوريدلي دي.

قوله: ﴿عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ قَالَ اجْتَمَعَ حُذَيْفَةُ وَأَبُومَسْعُودٍ فَقَالَ حُذَيْفَةُ لَأَنَا بِمَا مَعَ الدَّجَّالِ أَعْلَمُ مِنْهُ﴾

شرح الحديث:

يو ځل حذيفه رضي الله عنه او ابومسعود رضي الله عنه يو ځائې ته راجمع شو نو حذيفه رضي الله عنه اوفرمائيل چه د دجال سره چه به کوم څيز وی زه هغه د دجال نه ښه پيژنم چه هغه څه دی. او بيا ئې اوفرمائيل : بيشکه هغه سره به يو نهر د اوبو وی او يو د اور، يعنی د اور خندق، پس په هغې کښ چه کوم څيز اور ښکاری هغه به په اصل کښ اوبه وی، او کوم چه خلق اوبه ګنړی هغه به په حقيقت کښ اور وی، او بيا هغوی اوفرمائيل چه ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه هم دغه شان اوريدلي دی.

اصل کښ دجال به د خپل الوهيت دعوی کوی چه ما خدائې اومنئ، نو څوک چه د هغه تصديق کوی هغه به هغه لره په اوبو کښ داخلوی، او څوک چه د هغه تکذيب کوی هغه به په اور کښ داخلوی، نو د دې په باره کښ دې حديث کښ دی چه تاسو د هغه تکذيب کوئ او د هغه د اور نه مه ويريږئ هغه به اوبه وی.

په دې کښ شارحينو دوه احتماله ليکلي دی يا خو دا چه دجال به ساحر وی او په خپل جادو سره به داسې ښائی يعنی اور لره اوبه او اوبو لره اور، او يا دا چه الله پاک چه کوم جنت او اور د دجال دپاره مسخر کړې وو الله پاک به د هغې باطن واپس کړی، په حاشيه د بذل کښ دی : واختلف فی هذه الاشياء التی مع الدجال هل هی حقائق ثابتة او ظنونات وتوهمات علی قولين ذکرهما النووی، امام نووی رحمه الله هم دا خبره فرمائيلې ده کومه چه پورته په فتح الباری کښ تيره شوې ده يعنی د دجال په باره کښ د اهل سنت والجماعت عقيده چه د هغې وجود برحق دې او دا چه الله پاک هغه ته د بعض خوارقو قدرت ورکړې دې او د دې نه روستو به بيا د هغه نه دا طاقت سلب کولو سره هغه عاجز کړی، په خلاف د خوارج او جهميه او بعض معتزله کوم چه بالکل د هغه د وجود نه انکار کوی او په خلاف د جبائی معتزلی او د بعض

[1]: صحيح البخاري/أحاديث الأنبياء ٥٠ (٣٤٥٠) والفتن ٢٦ (٧١٣٠)، صحيح مسلم/الفتن ٢٠ (٢٩٣٤)، (تحفة الأشراف: ٣٣٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٩٥، ٣٩٩) (صحيح)

جهميه چه هغوی د دجال وجود خو مني خو د کومو خوارق چه به هغه دعوی کوی د هغې هيڅ حقيقت نشته، د دې نه پس امام نووي رحمه الله د هغوی د رائې ترديد کړې دې او د هغوی د اشکال جواب ئې ورکړې دې فارجع اليه لو شئت (نووی ۲/۲۹۹) والحديث اخرجه البخاري ومسلم بمعناه مختصرا ومطولا، قاله المنذري.

[۴۳۱۶] ( ) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَا بُعِثَ نَبِيٌّ إِلَّا قَدْ أَنْذَرَ أُمَّتَهُ الدَّجَّالَ الْأَعْوَرَ الْكَذَّابَ أَلَا وَإِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَإِنَّ بَيْنَ عَيْنَيْهِ مَكْتُوبًا كَافِرٌ".

دانس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل هيڅ يونبي نه دې راليږلې شوې مګر هغه خپل قوم ددجال نه پرولې دې کوم چه کاڼړې او ډير سخت دروکي وو نو تاسو خبردار اوسئ هغه کاڼ سې (يوسترګې دې او ستاسو رب کاڼړې نه دې ددجال ددواړو سترګو په مينځ کښې يعنی په تندي باندې کافر ليکلې شوي وي.

قوله: ﴿مَا بُعِثَ نَبِيٌّ إِلاَّ قَدْ أَنْذَرَ أُمَّتَهُ الدَّجَّالَ الأَعْوَرَ الْكَذَّابَ أَلاَ وَإِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَإِنَّ بَيْنَ عَيْنَيْهِ مَكْتُوبًا كَافِرٌ﴾

دجال کوم چه به د اولوهيت دعوی کوی نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه د عوې ترديد په داسې طريقه بيان فرمائی کوم چه بالکل ښکاره دليل دې هغه دا چه هغه به اعور يعنی کانا وی هغه به صرف په يو سترګه باندې ګورى په بلې سره نه، او الله پاک اعور نه دې دا خبره ټولو ته معلومه ده، او دويم دا چه د هغه په تندی باندې به کافر ليکلې شوې وی، په دې حديث کښ دا هم دی چه په تيرو انبياء عليهم السلام کښ هر نبی خپل امت لره د دهغه د شر نه ويرولې دی، په دې باندې دا اشکال کولې شی چه مخکښ انبياء عليهم السلام خپل امتونه د دجال نه ولې ويرول حال دا چه په احاديثو کښ دا ثابت ده چه د هغه د خروج نه مخکښ به بعض نور علامات موندلې شی او دا چه هغه لره به عيسی عليه السلام د خپل نزول نه پس قتل کوی، د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه مخکښ انبياء کرامو عليهم السلام ته صرف د فتنه دجال علم ورکړې شوې وو، د هغوی په علم کښ هغه امور نه وو کوم چه به د هغه نه مخکښ موندلې شی، ګويا د خروج د وخت او زمانې هغوی ته علم نه وو، بلکه خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هم په شروع کښ معلومه نه وه لکه چه د هغوی د دې قول نه معلوميږی ﴿ ان يخرج وانا فيكم فانا حجيجه ﴾ الحديث خو روستو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د هغه د خروج علم ورکړې شوې وو. (بذل عن مرقاة الصعود)

دحديث په شرح کښ د شارحينو او دحضرت ګنګوهی رحمه الله بيله بيله رائې

په حاشيه د بذل کښ دی چه حضرت ګنګوهی رحمه الله دا جواب رد فرمائيلې دې لکه چه په الکوکب الدری کښ دی، په کوکب دری کښ دا ذکر دی چه په احاديثو کښ چه دا راځي چه انبياء عليهم السلام چه خپل امتونه د فتنه دجال نه ويرولې وو نو د هغې مطلب دا نه دې چه هغوی خپل امتونه د خروج الدجال نه ويرولې وو چه د هغه د راتلو خطره ده دا خبره خو انبياء عليهم السلام

( ): صحيح البخاري/الفتن ۲۶ (۷۱۳۱) التوحيد ۱۷ (۷۴۰۸)، صحيح مسلم/الفتن ۲۰ (۲۹۳۳)، سنن الترمذي/الفتن ۶۲ (۲۲۴۵)، (تحفة الأشراف: ۱۲۴۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۱۰۳، ۱۷۳، ۲۷۶، ۲۹۰) (صحيح)

ته معلومه وه چه د هغه د خروج زمانه به د نبی آخر الزمان ﷺ د بعثت نه پس وی، بلکه د ویرولو مطلب فی نفسه دا بیانول دی چه دجال به د خیلې زمانې ډیره لویه فتنه وی چه هغوی په دې باندې د الله پاک شکر ادا کړی چه مونږ الله پاک د هغه د فتنې نه محفوظ اوساتلو چه هغوی د الله پاک د اوامرو په امتثال کښې کوشش او اهتمام کونکی وی چا چه دومره لوئې لوئې فتنې د بندګانو د امتحان دپاره پیدا کړی دی، او یو مصلحت په دې کښې د امت محمدیه ﷺ په اعتبار سره هم کیدې شی چه هغوی د دې نه ډیر بیدار او د محفوظ کیدو کوشش اوکړی او د هغوی په ذهن کښې هم ددې فتنې اهمیت راشی چه واقعی هغه دومره لویه فتنه ده د کوم نه چه به تیرو شوو انبیاء کرامو ﷺ خپل امتونه ویرول. وهذا خلاصة ما فی الکوکب، فلله دره، والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی، قاله المنذری.

[٤٣١٧](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ كفر،

جعفر دشعبه نه د دجال په باره کښې ک ، ف، ر، روایت بیان کړې دې.

[٤٣١٨](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ شُعَيْبِ بْنِ الْحَبْحَابِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُسْلِمٍ.

همدا حدیث دانس بن مالک رضی الله عنه نه مروی دې په دې روایت کښې داسې دی : کوم مضمون چه دده په تندې باندې لیکلې شوې وې هر یو مسلمان به ئې لولې.

وړاندې په روایت کښې دی ﴿ یقراءه کل مسلم ﴾ یعنی د دجال په تندی باندې به چه کافر لیکلې شوې وی هغه به هر مسلمان لوستلې شی، که هغه لیکل او لوستل پیژنی او که نه پیژنی لکه چه د ابن ماجه په روایت کښې دی، ﴿ کل مسلم کاتب وغیر کاتب ﴾ یعنی کافر به هغه نه شی لوستلې.

او په یو روایت کښې دی ﴿ یقراءه من کره عمله ﴾ په ظاهر کښې مطلب دا دې چه کوم مسلمان لره الله پاک په هدایت باندې قائم ساتل غواړی هغه به دا لیکل په هر حال کښې اولولی که لوستونکې وی او که نه وی، او د کوم سړی په قسمت کښې چه ګمراهی او ضلالت وی هغه به دا نه شی لوستلې.

[٤٣١٩](٣) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ هِلَالٍ، عَنْ أَبِي الدَّهْمَاءِ، قَالَ: سَمِعْتُ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ يُحَدِّثُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَمِعَ بِالدَّجَّالِ فَلْيَنْأَ عَنْهُ فَوَاللَّهِ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَأْتِيهِ وَهُوَ يَحْسِبُ أَنَّهُ مُؤْمِنٌ، فَيَتَّبِعُهُ مِمَّا يَبْعَثُ بِهِ مِنَ الشُّبُهَاتِ، أَوْ لِمَا يَبْعَثُ بِهِ مِنَ الشُّبُهَاتِ"، هَكَذَا قَالَ.

دعمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوک چه ددجال خبر واوري نو هغه لره پکار دي چه ورنه په ډډه شي په الله قسم دې ته به خلق راځی او دا ګمان به

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٢٤١)

(٢): صحیح مسلم/الفتن ٢٠ (٢٩٣٣)، (تحفة الأشراف: ٩١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١١/٣، ٢٤٩) (صحیح)

(٣): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠٨٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣١/٤، ٤٤١) (صحیح)

وربانديې کوي چه دې ايمان والادې اوخلق به دده تابعدار جوړيږي ځکه چه دده سره به په شک کښې اچونکې څيزونه وي.

قوله: ﴿ مَنْ سَمِعَ بِالدَّجَّالِ فَلْيَنْأَ عَنْهُ ﴾ رسول اللهﷺ فرمائی چه کوم سړې د دجال زمانه بيا مومي، او د هغه د خروج خبر واوري (نو د هغه عجائب او غرائب ليدلو دپاره دې د هغه خواله نه ځی بلکه) د هغه نه دې لرې اوسيږی ځکه چه بعض خلق به د هغه خواله لاړ شی صرف دهغه د کتلو دپاره د معلوماتو په درجه کښ يا تفريحا او د هغوی به په خپل ايمان باندې اعتماد وی خو چه کله هغوی د هغه خواله لاړ شی او هغه ته اوګوری نو هم د هغه به شی، او د هغه د تابعدارو نه به شی، والعياذ بالله تعالی..... د هغه خوارقو او استدرجاتو په وجه په کومو سره چه به الله پاک هغه راليږی.

[۴۳۲۰]()حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنِي بَحِيرٌ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ جُنَادَةَ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّهُ حَدَّثَهُمْ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنِّي قَدْ حَدَّثْتُكُمْ عَنِ الدَّجَّالِ حَتَّى خَشِيتُ أَنْ لَا تَعْقِلُوا إِنَّ مَسِيحَ الدَّجَّالِ رَجُلٌ قَصِيرٌ أَفْحَجُ جَعْدٌ أَعْوَرُ مَطْمُوسُ الْعَيْنِ لَيْسَ بِنَاتِئَةٍ وَلَا جَحْرَاءَ فَإِنْ أُلْبِسَ عَلَيْكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: عَمْرُو بْنُ الْأَسْوَدِ وَلِيَ الْقَضَاءَ.

دعبادة بن الصامت رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی ماتاسوته ددجال په باره کښې تردې حده پورې خبردرکړې دې چه زماسره دا انديخنه پيداشوه چه تاسو دا ونه ګنړئ چه مسيح دجال د يولنډ قد والا روان انسان دې اودده د دوارو خپو مينځ کښې فاصله ده اوګونجې ويښتو والا دې کانړې دې اوکړو سترګو والا دې دغه سترګه به نه بهر راوتلې وي اونه به دننه ننوتلې وي که چرې ستاسوپه دې کښې هم شبه وي نوتاسو ښه پوهه شئ چه ستاسو پروردګار کانړې نه دې ، امام ابوداؤد فرمائی عمر بن اسود قاضی وو.

قوله: ﴿ إِنِّي قَدْ حَدَّثْتُكُمْ عَنِ الدَّجَّالِ حَتَّى خَشِيتُ أَنْ لاَ تَعْقِلُوا إِنَّ مَسِيحَ الدَّجَّالِ رَجُلٌ قصير أَفْحَجُ جَعْدٌ أَعْوَرُ مَطْمُوسُ الْعَيْنِ لَيْسَ بِنَاتِئَةٍ وَلاَ جَحْرَاءَ ﴾

د دجال خلقی (پيدائشی) صفتونه:

رسول اللهﷺ فرمائی صحابه کرامو رضی الله عنهم ته چه ما د دجال په باره کښ ډير څه بيان کړی دی، يعنی د هغه احوال او د هغه علامات، خو د دې باوجود زه ويريږم چه تاسو په دې باندې پوره نه يئ پوهه شوې (په دې وجه اوس د دې ډير واضح او ښکاره علامت دربنائم چه) مسيح دجال به داسې سړې وی چه د وړوکی قد والا به وی، او په تلو کښ به افحج وی، په مظاهر حق کښ ليکلې دی: افحج هغه ته وائی چه د خپو پنجې ئې په تلو کښ نزدې نزدې لګی (۲) او پوندې لرې لرې، او پندئ به ئې چاودې وی ، کذا قال شارح، او هم دغه شان په قاموس کښ هم دی، او په نهايه کښ دی چه فحج لرې والی ته وائی په مابين د دوارو رونونو کښ، حاصل دا چه په نيغ تلو باندې به قادر نه وی بلکه خپې او پندئ به ئې د تلو په وخت کږې وی، په يوه سترګه به ړوند وی او دويمه سترګه به ئې وړکه وی چه نه به خوره

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۵۰۷۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۲۴/۵) (صحيح)

(۲) پښتو کښې ورته کجې وائی.مترجم

وی او نه به دننه ننوتلې وی،
او په یو روایت کښې دی ﴿ اعور العین الیمنی کان عینه عنبة طافیة ﴾ لهذا داسې به وئیلې شی چه یوه سترګه د هغه به د انګور د دانې په شان راوچته وی او ګسه سترګه به ئې ختمه شوې وی یعنی بالکل برابر، په اشعة اللمعات ۳۲۷/۴ کښې دی :
در حدیثے اعور عین الیمنی آمده چنانکه گزشت، ودر حدیث دیگر عین الیسری واقع شده وبالجملة احادیث در وصف دجال متناهی ومتخالف ورود یافته، وتور پشتی گفته که وجه جمع میان این اوصاف متنافره آنست که فرض کرده شود که یکے از دو چشم وے مطلق رفته است، ودیگرے معیب است، پس هر یکے رااعورمی توان گفت چه عور دراصل بمعنی عیب است فتدبر اهـ.
پس حاصل دا شو چه ګسه سترګه د هغه بالکل ممسوح او هواره ده لیست بناتئه ولا حجراء او دې ګسې سترګې ته چه په بعض احادیثو کښې اعور وئیلې شوې ده دلته د اعور نه مراد عیب داره ده، ځکه چه هواریدل عیب دې، ښئ سترګه د هغه چه اعور ده هغه پړسیدلې ده چه په هغې باندې د هغه لړ ډیر نظر لګی.

د طافیه او طافئه تحقیق :

او دا طافیه په یاء سره ده د طفا یطفو نه ناقص واوی، چه د هغې معنی د راپورته کیدو او اوچتیدو ده او هم د دې نه دې سمک طافی، او ګسه سترګه د هغه طافئه ده په همزې سره یعنی مهموز اللام د طفئ یطفاء نه چه د هغې معنی د مړ کیدو ده، او هم دې باره کښې دا راغلی دی لیست بناتئة ولا حجراء....

﴿ فان البس علیکم فاعلموا ان ربکم لیس باعور ﴾ پس که ستاسو څه شبه پیدا شی د هغه په باره کښې په خوارق او شبهاتو لیدلو سره نو پوهه شئ چه ستاسو رب اعور نه دې.
والحدیث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

[۴۳۲۱] [1] حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ صَالِحٍ الدِّمَشْقِيُّ الْمُؤَذِّنُ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا ابْنُ جَابِرٍ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ جَابِرٍ الطَّائِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الْكِلَابِيِّ، قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّجَّالَ، فَقَالَ: "إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا فِيكُمْ فَأَنَا حَجِيجُهُ دُونَكُمْ، وَإِنْ يَخْرُجْ وَلَسْتُ فِيكُمْ فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِهِ، وَاللَّهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، فَمَنْ أَدْرَكَهُ مِنْكُمْ فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ فَوَاتِحَ سُورَةِ الْكَهْفِ فَإِنَّهَا جِوَارُكُمْ مِنْ فِتْنَتِهِ، قُلْنَا: وَمَا لَبْثُهُ فِي الْأَرْضِ؟ قَالَ: أَرْبَعُونَ يَوْمًا: يَوْمٌ كَسَنَةٍ، وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ، وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ، وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا الْيَوْمُ الَّذِي كَسَنَةٍ أَتَكْفِينَا فِيهِ صَلَاةُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، قَالَ: لَا اقْدُرُوا لَهُ قَدْرَهُ ثُمَّ يَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ شَرْقِيَّ دِمَشْقَ فَيُدْرِكُهُ عِنْدَ بَابِ لُدٍّ فَيَقْتُلُهُ".

دنواس بن سمعان کلابی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام د دجال ذکر وکړو اوو ئې فرمائیل که چرې دې راوځي اوزه په تاسو کښې موجود یم نوزه به دخلقونه مخکښې دده مقابله اوکړم ، او که چرې دې راوځي اوزه په تاسو کښې موجود نه یم نوهریو کس به پخپله

---

[1]: صحیح مسلم/الفتن ۲۰ (۲۹۳۷)، سنن الترمذي/الفتن ۵۹ (۲۲۴۰)، سنن ابن ماجه/ الفتن (۴۰۷۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۱/۴، ۱۸۲) (صحیح)

دده سره مقابله کوي او الله تعالى دهر مسلمان نګهبان دي ، لهذا په تاسو کښې چه څوک ده لره بیاموي نوهغه لره پکاردي چه دسورة کهف اولني آیاتونه په ده باندې ولولي ځکه چه دغه آیاتونه ستاسو دپاره ددې فتنې نه پناه ده ، بیا مونږ عرض اوکړو چه دجال به په زمکه کښې څومره وخت تیروي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل څلویښت ورځې اواوله ورځ به دکال برابر وي اودویمه ورځ به دمیاشت برابروي اودریمه ورځ به دهفتې برابروي اوباقی ورځې به ئې ستاسو دور خوپه شان وي ، مونږ عرض اوکړو اې دالله رسوله هغه یوه ورځ کومه چه دکال برابروي ایا مونږ به په دې کښې صرف دیوي ورځې او شپې مونځونه کوو؟ نبی ﷺ اوفرمائیل نه، په دغه ورځ به تاسو اندازه کوئ، بیابه عیسی بن مریم علیهما السلام دمشق دښار په مشرقی جانب کښې دسپینې منارې سره داسمان نه راکوز شي او هغه به دجال لره د باب الد مقام سره بیا مومي اوهلته به ئې قتل کړي.

قوله: ﴿ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– الدَّجَّالَ فَقَالَ « إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا فِيكُمْ فَأَنَا حَجِيجُهُ دُونَكُمْ وَإِنْ يَخْرُجْ وَلَسْتُ فِيكُمْ فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِهِ وَاللَّهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ ﴾

رسول الله ﷺ فرمائی چه که دجال زما په موجودګئ کښې راوځی نو زه به ستاسو د طرف نه د هغه خصم یم، یعنی مدافعت کونکی، او که داسې وخت راوځی چه زه موجود نه یم، یعنی زما نه روستو نو بیا هر سړې خپله ذمه دار دې، او الله پاک (چه د همیشه نه دې او همیشه به وی هغه) به د هر مسلمان دپاره زما خلیفه او بدل وی. یعنی که زه نه یم نو څه اوشو الله پاک خو به وی هغه به حفاظت فرمائی. ګویا زما په موجودګئ کښې به زما په توسط سره هغه محافظ وی او زما په عدم موجودګئ کښې به هغه براه راست محافظ وی او په مظاهر حق کښې دی : او که د هغه خروج اوشو او نه اوم زه په تاسو کښې پس هر سړې په خپل ځان باندې حجت دې،یعنی هغه به دخپل ځان نه په خپله شر دفعه کوی په دلیلونو قطعیه شرعیه او عقلیه سره چه دهغه سره دی او غالب به راځی په هغه باندې. کذا قال الطیبی او دا په دې تقدیر دې چه هغه واوری حجت والا پس معنی دا ده چه هر څل به کوی د خپل نفس سره شر د هغه د تکذیب دپاره او اختیاروی به د هغه د عذاب صورت، او الله پاک زما خلیفه او وکیل دې په هر مسلمان باندې یعنی حافظ د هغه دې زما نه روستو. پس مدد به کوی د هغه او دفع کوی به تری نه شر د دجال، او دا دلیل دې په دې خبره چه د کوم مومن یقین وی هغه سره همیشه مدد کولې شی اګر چه هغه سره نبی او امام نه وی. پس په دې کښې رد دې په امامیه باندې، وراندې په حدیث کښې دی چه کوم سړې د دجال زمانه بیا مومی نو هغه لره پکار دی چه د سورة کهف اولنی آیتونه اولولی، وراندې په روایت کښې راځی چه د هغې د شروع لس آیتونه او د هغې نه په روستو روایت کښې خواتیم سورة کهف ذکر شوی دې یعنی د آخر لس آیتونه.

قوله:﴿ قُلْنَا وَمَا لُبْثُهُ فِي الأَرْضِ قَالَ « أَرْبَعُونَ يَوْمًا يَوْمٌ كَسَنَةٍ وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ »﴾

مونږ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه دجال به په زمکه څومره موده وی؟ رسول الله ﷺ

اوفرمائیل: ټولې څلویښت ورځې چه په هغې کښې به یوه ورځ د یو کال برابر وی، یو ورځ د یوې میاشتې برابر، او دریمه ورځ به د یوې هفتې برابر، او باقی اووۀ دیرش ورځې به د نورو ورځو په شان وی، مونږ عرض اوکړو چه کومه ورځ د یو کال برابر وی آیا په هغې کښې به د یوې ورځ اود شپې یعنی پنځه مونځونه به کافی وی، ﴿قال: لا اقدروا له قدره﴾ یعنی نه بلکه د هرې ورځې د مونځونو حساب اولګوئ، یعنی په هر څلریشتو ګهنټو کښې به پنځه مونځونه کولې لوستلې شی، د دې وجه ئې دا لیکلې ده چه د دجال د دې ورځې اوږدوالې به حقیقة نه وی بلکه د هغه په جادو او تصرف سره به وی.

قوله: ثُمَّ يَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ شَرْقِيَّ دِمَشْقَ فَيُدْرِكُهُ عِنْدَ بَابِ لُدٍّ فَيَقْتُلُهُ"

د عیسیٰ علیه السلام په نزول کښې اختلاف روایات:

په مظاهر حق کښې دی: پس چه دجال په دې هنګامو او خرابیانو او ګمراه کولو کښې وی چه ناڅاپه به الله پاک مسیح د مریم ځوئې علیه السلام راولیږی پس راکوز به شی هغوی په نزدې سپینه مناره چه د دمشق مشرقی طرف ته به وی، او په روایت کښې راغلی دی چه عیسیٰ علیه السلام به په بیت المقدس کښې کوزیږی، او په روایت کښې دی چه په اردن کښې، او په روایت کښې دی چه په معسکر مسلمین کښې، زه وایم چه د هغوی د بیت المقدس په خوا کښې راکوزیدل د ابن ماجه په حدیث کښې دی، او هغه زما په نزد راجح دې او نه دې منافی د ټولو روایتونو ځکه چه بیت المقدس په شرقی طرف د دمشق کښې دې، او هغه معسکر د مسلمانانو دې ځکه چه هغه او اردن نوم دې د نواح بیت المقدس دپاره کما فی الصحاح، او بیت المقدس داخل دې په دې کښې اګر چه نشته په بیت المقدس کښې باب مناره، خو ضروری ده چه جوړه به شی مخکښې د راکوزیدلو دعیسیٰ علیه السلام نه. والله تعالی اعلم وقد مرالکلام علی اختلاف الروایات فی محل نزول عیسی علیه الصلوة والسلام، وکذا فی تعیین الامام الذی یصلی بهم هل هو عیسی علیه السلام او المهدی فی الحل المفهم علی صحیح مسلم، فی کتاب الایمان فارجع الیه لو شئت.

[۴۳۲۲] (۱) حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا ضَمْرَةُ، عَنِ السَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَذَكَرَ الصَّلَوَاتِ مِثْلَ مَعْنَاهُ.

ابوامامه له دنبی کریم ﷺ نه دتیر شوي روایت په شان روایت بیان کړې دې او په دې روایت کښې ئې دتیر شوي روایت په شان د مونځونو ذکر کړې دې.

[۴۳۲۳] (۲) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ حَدِيثِ أَبِي الدَّرْدَاءِ يَرْوِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا قَالَ هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ مَنْ حَفِظَ مِنْ خَوَاتِيمِ سُورَةِ الْكَهْفِ، وَقَالَ شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ مِنْ آخِرِ الْكَهْفِ.

دابوالدرداء نه روایت دې فرمائی چه رسول کریم ﷺ فرمائیلی دی څوک چه دسورة کهف

---

(۱): سنن ابن ماجه/الفتن ۳۳ (۴۰۷۷)، (تحفة الأشراف: ۴۸۹۶) (صحيح)

(۲): صحيح مسلم/المسافرين ۴۴ (۸۰۹)، سنن الترمذي/فضائل القرآن ۶ (۲۸۸۶)، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۶۳) (صحيح)

اولني لس آياتونه ياد کړي نو هغه به د دجال د فتني نه محفوظ پاتې شي او په يو بل روايت کښې دی کوم چه د شعبه نه منقول دي چه د سورة کهف آخري لس آياتونه.

[۴۳۲۴](1) حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامُ بْنُ يَحْيَى، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ آدَمَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ نَبِيٌّ يَعْنِي عِيسَى، وَإِنَّهُ نَازِلٌ فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَاعْرِفُوهُ رَجُلٌ مَرْبُوعٌ إِلَى الْحُمْرَةِ وَالْبَيَاضِ بَيْنَ مُمَصَّرَتَيْنِ كَأَنَّ رَأْسَهُ يَقْطُرُ، وَإِنْ لَمْ يُصِبْهُ بَلَلٌ، فَيُقَاتِلُ النَّاسَ عَلَى الْإِسْلَامِ فَيَدُقُّ الصَّلِيبَ وَيَقْتُلُ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ وَيُهْلِكُ اللَّهُ فِي زَمَانِهِ الْمِلَلَ كُلَّهَا إِلَّا الْإِسْلَامَ وَيُهْلِكُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ، فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعِينَ سَنَةً ثُمَّ يُتَوَفَّى فَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی زما او دعيسى عليه السلام په مينځ کښې به بل نبی نه وي او يقينا چه عيسى عليه السلام به ښکته راکوزيږي تاسو چه ئې کله اووينئ نو دده شناخت اوکړئ دي در ميانه قد والاسړې دې او رنګ ئې سوروالي او سپين والي ته مائل دې او داسې به ښکاري چه ديښتو دمينځ نه ئې اوبه په تو پونو را رواني دي او اګر چه دده ويښته به لمده شوي هم نه وي هغه به دخلقو سره د اسلام دقبولولو په خاطر جهاد کوي اوصليب به مات کړي اوخنزير به قتل کړي او دکافرانو نه به جزيه اخستل موقوف کړي يعنی هغوی به اسلام قبلولو ته مجبورکړي اويابه ئې قتل کړي، الله تعالى به دده په دوره کښې ټول مذهبونه برباد کړي اودې به ملعون دجال لره قتل کړي او بيا به هغه په دنيا کښې دڅلويښتو کالو پورې ژوندې پاتې شي ددينه پس به وفات شي او اهل اسلام به پخپله په ده باندې جنازه وکړي.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ – يَعْنِي عِيسَى نبي– وَإِنَّهُ نَازِلٌ فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَاعْرِفُوهُ .....الخ» ﴾

د دې حديث تعلق د عيسى عليه السلام سره دې او زمونږ دا باب چه شروع دې دا باب د خروج الدجال په باره کښې دې امام نووی رحمه الله خو په كتاب الفتن کښې په نزول عيسى عليه السلام باندې مستقل باب ترلې دې اولا باب ما جاء في المهدى، او دويم باب ما جاء فى نزول عيسى بن مريم او دريم باب ما جاء في الدجال، او بيا د دجال متعلق ډير ابواب دى باب ما جاء من اين يخرج الدجال، ما جاء في علامات خروج الدجال، ما جاء في فتنة الدجال. چه د هغې د لاندې ئې يو اوږد حديث کر کړې دې، د هغې نه پس باب ما جاء في صفة الدجال، باب ما جاء في ان الدجال لا يدخل المدينة.. ما جاء في قتل عيسى عليه السلام بن مريم الدجال، د دې ټولو نه پس بيا د ابن الصياد باب دې.

په حديث الباب کښې اصالة خو بيان د نزول عيسى عليه السلام دې خو چونکه په دې کښې دا هم دی چه هغه به د نزول عيسى عليه السلام نه پس مسيح دجال لره قتل کوی په دې مناسبت سره دا حديث مصنف رحمه الله دلته راوړې دې.

قوله: ﴿ قوله رجل مربوع الى الحمرة والبياض ﴾

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۳۵۸۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/ ۴۰۶، ۴۳۷) (صحيح)

شرح الحديث :

د عيسى عليه السلام د حليه شريفه وغيره امورو بيان دې چه د هغوی قد به درميانه وی، او رنګ به ئې سور سپين وی، دوه پيکه زيړو څادرو کښې به وی، وړاندې د هغوی د حسن او جمال ذکر دې، او د بدن د تروتازه والی ګويا اوس غسل کولو سره بهر راوتلې وی، پس په يو روايت کښې دی (اخرجه مسلم في باب الاسراء/۹۵) ﴿ وَلَقِيتُ عِيسَى ». فَنَعَتَهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « فَإِذَا رَبْعَةٌ أَحْمَرُ كَأَنَّمَا خَرَجَ مِنْ دِيمَاسٍ »- يَعْنِي حَمَّامًا ﴾ او په يو روايت کښې دی.
كما في المشكوة عن الترمذي : إذا طأطأ راسه قطر وإذا رفعه تحدرمنه مثل جمان كاللؤلؤ،
په مظاهر حق ۳٦٤/٤ کښې دی، کله چه هغوی ښکته کړی خپل سر نو د هغې نه به اوسسيږی خوله د هغوی او کله چه سر اوچت کړی نو راکوزيږی به د هغوی د ويښتو مبارکو اوبه په شان د دانو د چاندئ چه د ملغرو په شان به وی، يعنی په صفايئ او سپين والی کښې، هم په دې کښې وړاندې دی : يعنی چه کله خپل سر مبارک ښکته کړی نو د هغوی د سر مبارک نه به قطرې راپريوځی نورانی، او چه کله سر مبارک اوچت کړی نو بيا به هم هغه راساسی، کنايه ده د ډير تازه والی نه او د هغوی د حسن وجمال نه.
وړاندې په روايت کښې دی چه هغوی به د خلقو سره قتال فرمائی د اسلام راوړلو دپاره، او صليب به مات کړی يعنی نصرانيت به ختم کړی، او خنزير به قتل کړی يعنی د هغې پالونکی لره او د هغې خوراک به حرام کړی او د هغې قتل به مباح کړی او جزيه به ساقط کړی، يعنی د جهاد په وخت به جزيه نه قبلوی بلکه اسلام يا قتل، او چونکه د دې حکم خبر خپله رسول الله ﷺ ورکوی نو ګويا دې وخت کښې به د قبول جزيه نسخ د رسول الله ﷺ د طرف نه وی نه د هغوی د طرف نه، او وړاندې دی چه هغوی به په دنيا کښې تر څلويښتو کالو پورې وی او د هغې نه روستو به وفات شی او مسلمانان به د هغوی جنازه کوی او د مسلم په روايت کښې دی : ﴿ انه يهلک الدجال ثم يمکث الناس سبع سنين ﴾ يعنی خلق به دهغوی د وفات نه پس صرف اووۀ کالو پورې اوسيږی. په عون المعبود کښې دی چه د مسند احمد په روايت کښې "ويهلک المسيح الدجال" نه پس دا زياتوالې دې چه ﴿ ثم وتقع الآمنة على الأرض حتى ترتع الأسود مع الإبل والنمار مع البقر والذئاب مع الغنم ويلعب الصبيان بالحيات ﴾ يعنی عيسى عليه السلام چه کله دجال لره هلاک کړی نو په ټوله زمکه باندې به امن قائم شی تر دې چه شير به د اوښ سره څريږی او پړانګ د غواګانو سره او ليوان د ګډو بيزو سره، او د انسانانو بچی به د مارانو سره لوبې کوی.

باب فِي خَبَرِ الجَسَّاسَةِ[1]

باب: د دجال ملعون د جاسوسا نو بیان

(جسامه څوک وو؟ تطبیق بین الروایتین):

جساسه، د جساس مونث دې یعنی هغه زنانه چه د دجال جاسوسه او د هغې خبر ورکونکې ده، لکه چه په حدیث الباب کښې دی **(فاذا انا بامرة تجر شعرها)** چه د هغې نه معلومیږی چه هغه څوک زنانه ده او هم د دې باب په یو بل حدیث کښې هغې ته دابه وئیلې شوې ده. **(فدخلوا الجزیرة فلقیتهم دابة اهلب کثیرة الشعر)** د دې دواړو روایتونو په باره کښې حضرت په بذل کښې لیکلې دی، **(قیل فی التوفیق بینهما انه یمکن ان یکون له جاسوسان دابة وامراة، او انه یصح اطلاق الدابة علی الانسان لغة، فانه اسم لکل ما یدب علی الارض او لان الجساسة شیطان، یتمثل بای صورة شاء، فراها تارة بصورة امراة وتارة بصورة دابة)** یعنی یا خو دې دا اوئیلې شی چه ممکنه ده د دجال دپاره دوه جاسوسان وی یو دابه او یو زنانه او یا دې دا اوئیلې شی چه د دابه اطلاق لغة په زنانه باندې هم صحیح دې، ځکه چه په زمکه ګرځیدونکې هر څیز ته دابه وائی، او یا دې دا اوئیلې شی چه چونکه جساسه د شیطان د جنس نه ده په دې وجه هغه په مختلفو شکلونو باندې متشکل کیږی. مصنفؒ خبر دجساسه لره کوم چه د فاطمه بنت قیس حدیث دې په دوه طرقو سره ذکر کړې دې، اول په طریق د ابوسلمه عن فاطمه، او دویم د شعبی عن فاطمه، اول مختصر دې او دویم کښې تفصیل دې.

[۴۳۲۵](٢)حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَّرَ الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ ذَاتَ لَيْلَةٍ ثُمَّ خَرَجَ فَقَالَ: "إِنَّهُ حَبَسَنِي حَدِيثٌ كَانَ يُحَدِّثُنِيهِ تَمِيمٌ الدَّارِيُّ، عَنْ رَجُلٍ كَانَ فِي جَزِيرَةٍ مِنْ جَزَائِرِ الْبَحْرِ فَإِذَا أَنَا بِامْرَأَةٍ تَجُرُّ شَعْرَهَا، قَالَ: مَا أَنْتِ؟ قَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ اذْهَبْ إِلَى ذَلِكَ الْقَصْرِ، فَأَتَيْتُهُ فَإِذَا رَجُلٌ يَجُرُّ شَعْرَهُ مُسَلْسَلٌ فِي الْأَغْلَالِ يَنْزُو فِيمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، فَقُلْتُ: مَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: أَنَا الدَّجَّالُ خَرَجَ نَبِيُّ الْأُمِّيِّينَ بَعْدُ، قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: أَطَاعُوهُ أَمْ عَصَوْهُ؟ قُلْتُ: بَلْ أَطَاعُوهُ، قَالَ: ذَاكَ خَيْرٌ لَهُمْ".

دفاطمه بنت قیس رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه یوه ورځ نبی علیه السلام ماسخوتن دمونځ دپاره ناوخته راغې کله چه راغې نوونې فرمائیل مادتمیم داری خبرې اوریدلې کوې چه دیوکس په باره کښې ئې کولې چه په سمندر دجزیرونه په یوه جزیره کښې وو (ددې کس کشتی په طوفان کښې دګیریدونه پس یوې جزیرې ته رسیدلې وه) نوهغه اووئیل اچانک زه دیوې ښځې سره مخامخ شوم هغې خپل ویښته راښکل ما ورنه تپوس اوکړو څوک یې؟ هغې په جواب کښې اووئیل زه جاسوسه یم ته ددې کور طرف ته لاړ شه زه چه دغه کورته ورسیدم نو وې لیدل چه یو کس خپل ویښته راکاږې اوهغه په زنځیرونو تړلې شوې دې دزمې او اسمان په مینځ کښې توپونه وهې ماورنه تپوس اوکړو ته څوک یې؟ هغه اووئیل دجال یم

[1]) د دې څائې نه مې په یکم رمضان ۲۴ هجری د نهې په ورځ لیکلې شروع کړل في المدینة المنورة، زادها الله شرفا اللهم بلغه الي التمام یا ذالجود والاکرام)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۳۹) (صحیح)

ايا امينو پيغمبر راغلي دې؟ ماجواب ورکړو چه هو، هغه بياتپوس اوکړو چه دې خلقو د هغه تابعداري اوکړه اوکه نافرماني؟ ما ورته په جواب کښې اووئيل چه فرمانبرداري ئې وکړله هغه اووئيل دا خبره ددې خلقو دپاره غوره ده.

قوله: ﴿ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَخَّرَ الْعِشَاءَ الآخِرَةَ ذَاتَ لَيْلَةٍ ثُمَّ خَرَجَ فَقَالَ « إِنَّهُ حَبَسَنِي حَدِيثٌ كَانَ يُحَدِّثُنِيهِ تَمِيمٌ الدَّارِيُّ عَنْ رَجُلٍ كَانَ فِي جَزِيرَةٍ مِنْ جَزَائِرِ الْبَحْرِ الخ ﴾

دا فاطمه بنت قيس هم هغه ده د چا مشهور روايت چه په كتاب الطلاق باب المبوتة كښې تير شوې دې، او كوم چه په ابواب الحيض كښې د فاطمې روايت تير شوې دې هغه فاطمه بنت ابى حبيش ده.

د جساسه قصه:

د روايت مضورن دا دې: فاطمه بنت قيس رضي الله عنها فرمائي چه يوه ورځ رسول الله ﷺ د ماسخوتن د مانځه دپاره ناوخته تشريف راوړلو او د تاخير وجه ئې دا بيان اوفرمائيله چه تميم داري رضي الله عنه ماته يو عجيب او غريب حديث بيانولو چه د هغې په وجه راباندې ناوخته شو، او بيا رسول الله ﷺ د ماسخوتن د مانځه نه روستو دا واقعه خلقو ته ډير متوجه كولو سره بيان اوفرمائيله، پس د باب په دويم روايت كښې راځى چه: ﴿ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - الصَّلاَةَ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَضْحَكُ ﴾....

قوله: ﴿ فَإِذَا أَنَا بِامْرَأَةٍ تَجُرُّ شَعْرَهَا ﴾ دا د تميم داري رضي الله عنه مقوله ده هغوى فرمائي د دې جساسه په باره كښې چه هغه يو زنانه وه چه د هغې ويختۀ ډير اوږده وو، زمكې ته رسيدل ګويا هغه ډيره هيبت ناكه وه.

دا روايت خو چونكه مختصر دې، په دويم روايت كښې د واقعې ابتداء داسې ده چه:

[٤٣٢٦](1) حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ أَبِي يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ حُسَيْنًا الْمُعَلِّمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، حَدَّثَنَا عَامِرُ بْنُ شَرَاحِيلَ الشَّعْبِيُّ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، قَالَتْ: سَمِعْتُ مُنَادِيَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنَادِي: أَنِ الصَّلَاةَ جَامِعَةً، فَخَرَجْتُ فَصَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَضْحَكُ قَالَ: لِيَلْزَمْ كُلُّ إِنْسَانٍ مُصَلَّاهُ، ثُمَّ قَالَ: هَلْ تَدْرُونَ لِمَ جَمَعْتُكُمْ؟ قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: إِنِّي مَا جَمَعْتُكُمْ لِرَهْبَةٍ وَلَا رَغْبَةٍ وَلَكِنْ جَمَعْتُكُمْ أَنَّ تَمِيمًا الدَّارِيَّ كَانَ رَجُلًا نَصْرَانِيًّا فَجَاءَ فَبَايَعَ وَأَسْلَمَ، وَحَدَّثَنِي حَدِيثًا وَافَقَ الَّذِي حَدَّثْتُكُمْ، عَنِ الدَّجَّالِ حَدَّثَنِي، أَنَّهُ رَكِبَ فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ مَعَ ثَلَاثِينَ رَجُلًا مِنْ لَخْمٍ وَجُذَامٍ فَلَعِبَ بِهِمُ الْمَوْجُ شَهْرًا فِي الْبَحْرِ وَأَرْفَئُوا إِلَى جَزِيرَةٍ حِينَ مَغْرِبِ الشَّمْسِ، فَجَلَسُوا فِي أَقْرُبِ السَّفِينَةِ، فَدَخَلُوا الْجَزِيرَةَ، فَلَقِيَتْهُمْ دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرَةُ الشَّعْرِ، قَالُوا: وَيْلَكِ مَا أَنْتِ؟ قَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ انْطَلِقُوا إِلَى هَذَا الرَّجُلِ فِي هَذَا الدَّيْرِ فَإِنَّهُ إِلَى خَبَرِكُمْ بِالْأَشْوَاقِ، قَالَ: لَمَّا سَمَّتْ لَنَا رَجُلًا فَرِقْنَا مِنْهَا أَنْ تَكُونَ شَيْطَانَةً، فَانْطَلَقْنَا سِرَاعًا حَتَّى دَخَلْنَا الدَّيْرَ فَإِذَا فِيهِ أَعْظَمُ إِنْسَانٍ رَأَيْنَاهُ قَطُّ خَلْقًا وَأَشَدُّهُ وَثَاقًا مَجْمُوعَةٌ يَدَاهُ إِلَى عُنُقِهِ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ وَسَأَلَهُمْ عَنْ نَخْلِ بَيْسَانَ وَعَنْ عَيْنِ زُغَرَ وَعَنِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ، قَالَ: إِنِّي أَنَا الْمَسِيحُ وَإِنَّهُ يُوشِكُ أَنْ يُؤْذَنَ لِي فِي الْخُرُوجِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَإِنَّهُ فِي بَحْرِ الشَّامِ أَوْ بَحْرِ الْيَمَنِ لَا بَلْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ مَرَّتَيْنِ وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ قِبَلَ الْمَشْرِقِ، قَالَتْ:

---

(1): صحيح مسلم/الفتن ٢٤ (٢٩٤٢)، سنن الترمذي/الفتن ٦٦ (٢٢٥٣)، ق/الفتن ٣٣ (٤٠٧٤) (تحفة الأشراف: ١٨٠٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٧٤، ٤١١، ٤١٢، ٤١٣، ٤١٥، ٤١٦، ٤١٨) (صحيح)

حَفِظْتُ هٰذَا مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

دفاطمه بنت قيس رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه مادنبي ﷺ دموذن نه اوريدلي دي چه اواز ئې كولومونځ جمع كيدونكې دې (يعنى دمونځ دپاره حاضريدل اويوځاى كيدل ضروري دي) نوزه هم اووتلم اودنبي ﷺ سره مې مونځ اداكړو كله چه نبي ﷺ خپل مونځ مكمل كړو نو دخندا په حال كښې په نمبر باندې كښناستو اووئې فرمائيل هريو كس دخپل مونځ په ځائې باندې ناست پاتې شئ ، اوبيا ئې اورفرمائيل ايا تاسوته معلومه ده چه ماتاسوڅه دپاره راټول كړي يئ؟ مونږ اووئيل الله اودهغه رسول ته ددې ښه علم دې ، نبي ﷺ اوفرمائيل ما تاسو د يرولو اود زيري وركولو دپاره نه يئ راجمع كړي بلكه ددې اطلاع دركولو دپاره ما راجمع كړي يئ چه تميم داري يونصراني سړې وو بيا هغه راغې او زما په لاسو ئې اسلام قبول كړو او بيعت ئې وكړو اوده ماته يوه داسې خبره كړې ده چه دهغه خبره ددې خبرې سره مطابق شوه كومه چه ماتاسوته د دجال په باره كښې كړي وه چه هغه په يوه سمندرى كشتئ كښې سور وو ددې ديرشو لخمي او جزامى كسانوسره دسمندر چپو په دوى باندې يوه مياشت لوبې وكړې خوبياهغه يوه ورځ دنمر دپريوتو په وخت كښې يوي جزيرې ته لاړو اوهلته داس په شان يوځناور چن لويه الكئ او اوږده ويښته ئې وو ومونډو ده ته خلقواووئيل اې بدبخته ته څه شې يې؟ هغه اووئيل زه جاسوس يم، تاسو يقينا ددې آيت كريمه تلاوت كوئ اوتاسودي كس ته ورروسته ورشئ ځكه چه دغه كس ستاسو نه دخبريدو ډير شوق مند دې ، تميم وائى كله چه دغه ښځې زمونږ په وړاندې ددغه كس نوم واخستو نومونږ ورنه ويريدو هسې نه چه چرته شيطان نه وي نو مونږ ددغه ځائې نه په تيزه منډه راغلو او د كورته داخل شو مونږ دلته دومره لوې كس اوليدو چه مونږ چرته مخكښې داسې څوک نه وو ليدلې دغه كس ښه مضبوط تړلې شوې وو او دواړه لاسونه ئې په څټ پورې تړل شوي وو اوبيا ئې حديث تر آخره پورې بيان كړو اودده نه ئې تپوس اوكړو چه دبيسان مقام كجورې څنگه وې اوزغر نوى چينه څنګه ده اودنبي ﷺ حال څنګه دې؟ ددينه پس ئې اووئيل زه مسيح دجال يم اونزدې ده چه ماته ددې ځاى نه دوتلو اجازت راكړې شي، بيانبي ﷺ اوفرمائيل دجال په شام كښې په سمندركښې ياداچه په يمن كښې په سمندركښې نشته بلكه مشرق طرف ته دې اونبي ﷺ پخپل لاس مبارک باندې دوه پيرې دمشرق جانب ته اشاره اوفرمائيله فاطمې رضي الله عنها اووئيل مادا حديث درسول الله و نه يادكړې دې اوبيا راوى پوره حديث بيان كړو.

رسول الله ﷺ په منبر باندې مسكې كيدو سره تشريف فرما شو او دا ئې اوفرمائيل چه هر سړې دې په خپل ځائې باندې كينى، او بيا د دې نه روستو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه زما مقصد دې وخت كښې ستاسو مخې ته هغه واقعه بيانول دى كومه چه ماته تميم دارى رضي الله عنه بيان كړې ده، او وې فرمائيل چه تميم دارى رضي الله عنه يو نصرانى سړې وو، پس دې ماته راغلو او زما په لاس باندې ئې د اسلام بيعت اوكړو او ورسره ئې هغه واقعه هم بيان كړه چه كومه به ما تاسو ته د دجال په باره كښې وئيله. هغوى ماته بيان اوكړو چه هغوى په يوه كشتئ كښې د

دریاب سفر کولو د قبیله لخم او جذام د دیرشو کسانو سره، د سمندر مخالف هواګانو او چپو هغوی تر یوې میاشتې پورې په سمندر کښې تاوهل بیا یوه ورځ هغوی داسې اوکړل چه خپله کشتۍ ئې یوې جزیرې ته نزدې کړه د ماښام په وخت، یعنی دلرې نه په جزیره نظر راتلوباندې ئې دخپلې کشتۍ لنګر واچولو، ﴿فَجَلَسُوا فِي أَقْرُبِ السَّفِينَةِ﴾ او بیا په وړه کشتۍ کښې کیناستلو سره هغه جزیرې ته داخل شو، لفظ اقرب د قارب جمع ده یعنی وړه کشتۍ، دا دستور دې چه په بحری سفر کښې ځان سره په لویه کشتۍ کښې وړې کشتۍ هم ساتلې شی چه د ضرورت په وخت د هغې نه هم کار واخستلې شی.

قوله: ﴿ فَلَقِيَتْهُمْ دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرَةُ الشَّعْرِ ﴾ (حاشیه : او د ترمذی په روایت کښې دی ﴿ فاذاهم بدابة لباسة ناشرة شعرها، په دې باندې په کوکب کښې لیکلې دی : ای کثیرة الملابس ولعله عبر عن کثرة الشعر بکثرة اللباس اهـ او ممکنه ده چه دا د مبالغې صیغه وی لبس په معنی د خلط سره، یعنی خلقو لره په مغالطه کښې اچونکې او مکاره، صاحب قاموس هم دا اختیار کړې ده) نو کله چه دا خلق هغه جزیرې ته اورسیدل نو هلته هغوی یو زنانه اولیده ګنړو ویښتو والا (د ویرونکی شکل والا) ﴿ قَالُوا وَيْلَكِ مَا أَنْتِ قَالَتْ أَنَا الْجَسَّاسَةُ انْطَلِقُوا إِلَى هَذَا الرَّجُلِ فِي هَذَا الدَّيْرِ فَإِنَّهُ إِلَى خَبَرِكُمْ بِالأَشْوَاقِ ﴾ هغوی د دې زنانه نه تپوس اوکړو چه ته څه بلا ئې هغې اووې زه جساسه یم (یعنی د دجال جاسوسه) او وې وئیل چه لاړ شئ هغه سړی طرف ته کوم چه په دغه ګرجه کښې دې هغه ستاسو د خبرونو او د خبرو ډیر مشتاق دې، یعنی هغوی د بهر خبرونه اوریدل غواړی چه په دنیا کښې څه حالات شروع دی او څه څه انقلابات راځی. تمیم داری ﷺ فرمائی چه کله هغې د رجل لفظ اووې چه لاړ شئ هغه سړی ته، نو مونږ اویریدو چه کیدې شی دې دا انسان نه وی بلکه د جناتو نه دې، بهر حال هم د هغې د ښودنې مطابق مونږ هغه ګرجې طرف ته په تیزۍ سره لاړو ﴿ فاذا فيه اعظم انسان رأيناه قط ﴾ هلته مونږ اولیدل چه یو داسې لوئې بدن والا انسان دې کوم چه مونږ چرته هم نه وو لیدلې، چه د خپل خلقت په اعتبار سره هم ډیر لوئې وو او تړلې شوې هم ډیر په سخته طریقه باندې وو د هغه لاسونه او خپې په سټ کښې تړلې شوې وو، ﴿ فلكر الحديث ﴾ دا اشاره ده اختصار طرف ته چه مونږ روایت لره مختصر کوو، او هغه اختصار غالبا هم هغه دې کوم چه د باب په اول روایت کښې تیر شوې دې. ﴿ فَإِذَا رَجُلٌ يَجُرُّ شَعْرَهُ مُسَلْسَلٌ فِي الأَغْلاَلِ يَنْزُو فِيمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ ﴾ چه هغه په زنځیرونو کښې د تړلې کیدو سره سره پورته طرف ته رازوړند وو، او توپونه ئې وهل.

قوله: ﴿ وَسَأَلَهُمْ عَنْ نَخْلِ بَيْسَانَ وَعَنْ عَيْنِ زُغَرَ وَعَنِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ ﴾ یعنی هغه (دجال) د دې خلقو نه د ډیرو خبرو په باره کښې تپوس اوکړو یو د هغې نه دا دې چه د نخل بیسان په باره کښې ئې تپوس اوکړو ﴿ هل يثمر ام لا ﴾ چه په هغې باندې میوه راځی که نه، او د زغر د چینې په باره کښې ئې تپوس اوکړو چه آیا د هغې اوبه جاری دی که نه؟

قوله: بیسان په اردن کښې د یو ځائې نوم دې چه په هغې کښې د کهجورو باغونه په کثرت

سره دی، او زغر په شام کښې يو ځائې دې، صاحب د معجم البلدان فرمائي چه زه بيسان ته ديرڅل تلې يم خو اوس په هغې کښې صرف دوه اونې دکهجورو پاتې دی، او هغه هم اوچې، کوم چه د خروج الدجال د علاماتو نه ده او د عين زغر په باره کښې هغوی فرمائي چه هغه به په آخره زمانه کښې اوچ شی او دا يعنی د هغې اوبه منقطع کيدل د علامات قيامت نه دی.

په دې روايت کښې خو صرف دومره ده ﴿ وعن النبى الامى ﷺ ﴾ او په اول روايت کښې تير شوې دی، چه آيا د اميين د رسول ﷺ خروج او ظهور شوې دې نو تميم داری ﷺ جواب ورکړو چه او شوې دې، بيا په دې باندې دجال د هغوی نه تپوس اوکړو: ﴿ اطاعوه ام عصوه الخ ﴾ چه خلق د هغوی اطاعت کوی که نافرمانی؟ هغوی جواب ورکړو چه د هغوی خبره منی، په دې باندې هغه اووې: ﴿ ذلک خير لهم ﴾ چه د هغوی اطاعت کول د هغوی په حق کښې غوره دی. اوګورئ دجال څه وائي، حقيقت د کذاب په ژبه باندې هم راځی.

قوله: ﴿ قَالَ إِنِّى أَنَا الْمَسِيحُ وَإِنَّهُ يُوشِكُ أَنْ يُؤْذَنَ لِى فِى الْخُرُوجِ ﴾ او هغه خپله اووې چه زه مسيح دجال يم، او ډير زر ماته د وتلو اجازت کيدونکې دې د دې حديث نه معلومه شوه چه دجال د اول نه په دنيا کښې موجود دې او په بعض جزائرو کښې محبوس او مقيد دې، قيامت ته نزدې به په خپل وخت باندې د هغه خروج او ظهور وی او د دې نه دا هم ثابته شوه چه ابن صياد دجال نه دې.

محل د خروج دجال:

قوله: ﴿ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « وَإِنَّهُ فِى بَحْرِ الشَّامِ أَوْ بَحْرِ الْيَمَنِ لاَ بَلْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ مرتين» ﴾ [1] رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه هغه يعنی دجال يا خو په بحر شام کښې دې يا په بحر يمن کښې، نه بلکه د مشرق په طرف کښې دې، او دا خبره رسول الله ﷺ دوه کرته اوفرمائيله. په "ما هو "کښې لفظ "ما " زائده دې.

وړاندې په دريم روايت کښې راځی چه په هغې کښې داسې دی

[٤٣٢٧] ([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ صُدْرَانَ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِى خَالِدٍ، عَنْ مُجَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَامِرٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنِى فَاطِمَةُ بِنْتُ قَيْسٍ، أَنَّ النَّبِىَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ وَكَانَ لاَ

---

[1]) الاشاعة لاشراط الساعة: کښې د دجال د محل خروج او وقت خروج مستقل بحث دې هغوی ليکی: اما محل خروجه فالمشرق جزما، ثم جاء في رواية انه يخرج من خراسان روي ذلك احمد والحاكم من حديث ابي بكر ﷺ، وفي اخري انه يخرج من اصبهان اخرجها مسلم وعند الحاكم وابن عساكر من حديث ابن عمر ﷺ انه يخرج من يهودية اصبهان اي محلة خارج اصبهان ومثله عند احمد عن عائشة ﷺ وعند الطبراني من حديث فاطمة بنت قيس يخرج من بلدة يقال لها اصبهان من قرية من قراها يقال لها استقباد اهـ وفيه ايضا في موضع اخر: وعن كعب الاحبار قال يتوجه الدجال فينزل عند باب دمشق الشرقي اي ابتداء قبل خروجه ثم يلتمس فلا يقدر عليه شئ ثم يري عند المنارة التي عند نهر الكسوه ثم يطلب فلا يدري اين توجه فينسي ذكره ثم يظهر بالمشرق فيعطي الخلافة ثم يظهر السحر ثم يدعي النبوة فيتفرق الناس عنه يعني المسلمين فياتي النهر فيامره ان يسيل فيسيل ثم يامره ان يرجع فيرجع ثم يامره ان ييبس فييبس الحديث بطوله رواه نعيم بن حماد، ويتبعه سبعون الفا من يهود اصبهان وثلاثة عشر الف امراة وعامة من يتبعه اليهود والترك والنساء، ويبعث الله له شياطين فيقولون له استعن بنا علي ما تريد فيقول نعم اذهبوا الي الناس فقولوا انا ربهم فيبثهم في الآفاق الي غير ذلك اهـ

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨٠٢٤) (ضعيف)

يَصْعَدُ عَلَيْهِ إِلَّا يَوْمَ جُمُعَةٍ قَبْلَ يَوْمَئِذٍ ثُمَّ ذَكَرَ هَذِهِ الْقِصَّةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَابْنُ صُدْرَانَ بَصْرِيٌّ غَرِقَ فِي الْبَحْرِ مَعَ ابْنِ مِسْوَرٍ لَمْ يَسْلَمْ مِنْهُمْ غَيْرُهُ.

دفاطمه بنت قيس رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام دماسپخين مونځ اوکړو او بيا په منبر باندې کښيناستو اونبي عليه السلام به ددينه مخکښې دجمعې نه علاوه په نورو ورځوکښې په منبرباندې نه کيناستو ليکن صرف په دې ورځ په منبر کيناستو اوهمدا واقعه ئې بيان کړه، امام ابوداؤد فرمائي ابن صدران دبصرې اوسيدونکې وو اودابن مصور سره په اوبو کښې غرق شوې وو او په دې خلقو کښې دده نه علاوه بل چا اسلام نه وو قبول کړې.

قوله: ﴿ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ وَكَانَ لاَ يَصْعَدُ عَلَيْهِ إِلاَّ يَوْمَ جُمُعَةٍ قَبْلَ يَوْمَئِذٍ ﴾ د دې نه معلوميږي چه دا قصه رسول الله ﷺ د ماسپخين د مانځه نه پس اوروله وه.

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ صُدْرَانَ بَصْرِيٌّ غَرِقَ فِي الْبَحْرِ مَعَ ابْنِ مِسْوَرٍ لَمْ يَسْلَمْ مِنْهُمْ غَيْرُهُ ﴾

په سند کښې محمد بن صدران مذکور دې د مصنف رحمه الله استاذ، مصنف د هغوی په باره کښې فرمائي چه يو ځل ئې د ابن مسور د جماعت سره د درياب سفر کولو، د هغه کشتئ ټول مسافر غرق شو په درياب کښې په هغوی کښې څوک هم نه وو بچ شوې سوا د محمد بن صدران نه.

[٤٣٢٨]()حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، أَخْبَرَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جُمَيْعٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى الْمِنْبَرِ: إِنَّهُ بَيْنَمَا أُنَاسٌ يَسِيرُونَ فِي الْبَحْرِ فَنَفِدَ طَعَامُهُمْ، فَرُفِعَتْ لَهُمْ جَزِيرَةٌ، فَخَرَجُوا يُرِيدُونَ الْخُبْزَ فَلَقِيَتْهُمُ الْجَسَّاسَةُ، قُلْتُ لِأَبِي سَلَمَةَ: وَمَا الْجَسَّاسَةُ؟ قَالَ: امْرَأَةٌ تَجُرُّ شَعْرَ جِلْدِهَا وَرَأْسِهَا قَالَتْ: فِي هَذَا الْقَصْرِ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ وَسَأَلَ عَنْ نَخْلِ بَيْسَانَ، وَعَنْ عَيْنِ زُغَرَ، قَالَ: هُوَ الْمَسِيحُ، فَقَالَ لِي ابْنُ أَبِي سَلَمَةَ: إِنَّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ شَيْئًا مَا حَفِظْتُهُ، قَالَ: شَهِدَ جَابِرٌ أَنَّهُ هُوَ ابْنُ صَيَّادٍ قُلْتُ: فَإِنَّهُ قَدْ مَاتَ قَالَ: وَإِنْ مَاتَ قُلْتُ: فَإِنَّهُ أَسْلَمَ، قَالَ: وَإِنْ أَسْلَمَ، قُلْتُ: فَإِنَّهُ قَدْ دَخَلَ الْمَدِينَةَ، قَالَ: وَإِنْ دَخَلَ الْمَدِينَةَ.

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ يوه ورځ په منبر باندې اوفرمائيل څه کسانوپه درياب کښې سفرکولو اوددوی سره خوراک ختم شو نويوه جزيره ورته راپورته کړې شوه دوی دډوډئ په تالاش کښې پدنې جزيره کښې روان شو اويوه جاسوسه ښځه ئې پيدا کړه ما ابوسلمه رضي الله عنه ته اووئيل هغه جاسوسه ښځه څوک وه؟ هغه اووئيل هغه يوه داسې ښځه وه چه دخپل سر اودبدن ويښته ئې راښکل اوبيا ئې حديث تر آخره پورې بيان کړو، ددينه پس دجال دبيسان مقام دونوپه باره کښې تپوس اوکړو اودزغر دچينې په باره کښې ئې تپوس اوکړو راوی وئيلی دی چه همدا دجال وو ، ابن ابی سلمه وئيلی دی چه جابر په دې روايت کښې نور څه هم بيان کړي وو ليکن هغه ماته ياد نه دي اودائې هم وئيلي وو چه دجال ملعون همدغه ابن صياد دې ماورته اووئيل هغه خومړ شوې دی هغه راته په جواب کښې اووئيل اګرکه مړ شوې وي ماورته اووئيل هغه خواسلام قبول کړې وو نوده

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣١٦١) (ضعيف الإسناد)

اووئیل اګرکه اسلام ئې قبول کړې وي ماورته اووئیل هغه خو مدینه ته داخل شوې وو اودجال خو مدینه ته نشي داخلیدلې) هغه اووئیل اګرچه مدینې ته هم داخل شوې وي.

قوله: ﴿ حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى عَنْ جَابِرٍ رضی الله تعالی عنهما الخ ﴾ په دې روایت کښې داسې دی ﴿ فَنَفِل طَعَامُهُمْ فَرُفِعَتْ لَهُمْ جَزِيرَةٌ فَخَرَجُوا يُرِيدُونَ الْخُبْزَ فَلَقِيَتْهُمُ الْجَسَّاسَةُ ﴾ یعنی د هغه خلقو د لارې توخه ختمه شوه د خوراک د انتظام کولو دپاره دې جزیرې ته داخل شوې وو، هلته ئې اتفاقا دا جساسه په نظر شوه.

(ایا ابن صیاد دجال وو؟)

دا روایت د فاطمه بنت قیس رضی الله عنها په ځائې د جابر رضی الله عنه نه روایت دې، وړاندې د دې حدیث په آخر کښې دی :

قوله: ﴿ قَالَ شَهِدَ جَابِرٌ أَنَّهُ هُوَ ابْنُ صَيَّادٍ قُلْتُ فَإِنَّهُ قَدْ مَاتَ. قَالَ وَإِنْ مَاتَ الخ ﴾

ابوسلمه عبدالرحمن وائی چه جابر رضی الله عنه به فرمائیل چه دا دجال هم دغه ابن الصیاد دې، هغوی فرمائی چه په دې باندې ما د هغوی نه تپوس اوکړو چه ابن صیاد خو مړ شوې دې (او دجال په بعض جزائرو کښې موجود دې) هغوی اوفرمائیل اګر چه مړ دې خو بیا هم، ما اووې چه ابن الصیاد خو اسلام قبول کړې وو، نو هغوی اوفرمائیل : اګر چه اسلام ئې قبول کړې وی، هم دغه شان وړاندې د دخول مدینه ذکر هم دې.

په دې باندې په بذل کښې د فتح الودود نه نقل کړی دی چه : وکانه مبنی علی تجویز تعدد الصورو المظاهر کما هو منقول فی بعض الاولیاء..... یعنی یو سړې په مختلف صورتونو او مختلف مواضع کښې اولیدلې شی داسې کیدې شی لکه چه د بعض اولیاء په باره کښې منقول دی، خو په حاشیه د ابوداؤد کښې امام بیهقی او د حافظ ابن کثیر نه د دې خلاف لیکلې دی، ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه ابن صیاد دجال صغیر وو، او ابن صیاد هغه دجال نه دې د چا خروج چه به په آخره زمانه کښې وی د چا دلیل چه د فاطمه بنت قیس رضی الله عنها حدیث دې او هم دا خبره امام بیهقی رحمه الله هم فرمائیلې ده، بلکه دا چه کوم حضرات دا دواړه یو منی د هغوی په علم کښې د تمیم داری رضی الله عنه دا واقعه نه ده راغلې، والا فالجمع بینهما بعید جدا الی آخر ما فی حاشیة شیخ الهند ۲/۲٤۷)

حدیث فاطمة المطول اخرجه مسلم والحدیث الثالث اخرجه ابن ماجه، واخرجه الترمذی وفی الفاظه اختلاف واخرجه النسائی بنحومن حدیث مسلم، قاله المنذری.

بَاب فِي خَبَرِ ابْنِ صَائِدٍ

باب د ابن صیاد په باره کښې بیان

دا هم هغه ابن الصیاد دې د کوم چه پورته ذکر راغلې دې، ابن الصیاد په او ابن صائد دواړو طریقو سره نقل دې، د احادیث الباب نه معلومیږی چه دا ابن صیاد یو یهودی هلک وو چه د کاهنانو په شان به ئې د غیب خبرې بیانولې، بعض صحابه کرامو لکه عمر او ابن عمر رضی الله عنهما به قسم خوړلو چه دجال هم دا دې. امام نووی رحمه الله فرمائی چه ابن صیاد د چا نوم چه صفا دې علماء کرامو فرمائیلې دی چه د هغه قصه هم دیر ګرانه او مشتبه ده. یعنی

دا چه مسيح دجال چه کوم مشهور دې هغه هم دا دې او که د هغه نه علاوه بل څوک دې، خو په دې کښې شک نشته چه هغه هم يو دجال من الدجاجله ضرور دې. د احاديثو د ظاهر نه دا معلوميږي چه په رسول الله ﷺ باندې هم دې باره کښې څه وحی نه وه نازله شوې، خو رسول الله ﷺ ته د صفات دجال وحی شوې وه، او په ابن صياد کښې قرائن محتمله د دې خبرې موندلې شو خو رسول الله ﷺ د هغه په باره کښې هيڅ قطعی فيصله نه وه فرمائيلې هم دا وجه وه رسول الله ﷺ عمر رضی الله عنه ته چه کله هغه د ابن صياد د قتل اجازت غوښتلې وو فرمائيلې وو چه که واقعی دا دجال وی نو ته د هغه په وژلو باندې قادر نه ئې (ځکه چه د هغه په باره کښې خو دا فيصله شوې ده چه عيسی عليه السلام به ئې قتل کوی) باقی خپله د ابن صياد دا احتجاج او استدلال (دې باره کښې چه هغه دجال نه دې) چه زه خو مسلمان يم او دجال به کافر وی، او دا چه دجال خو به لا ولد وی او زما اولاد شوې دې او دا چه دا دجال به مکې او مدينې (زادهما الله شرفا) ته نه شی داخليدې او زه په مدينه کښې مستقل اوسيږم، وغيره وغيره، دا استدلال صحيح نه دې، ځکه چه رسول الله ﷺ چه کوم د دجال صفات بيان فرمائيلی دی نو د هغې مطلب خو دا دې چه کله د دجال خروج اوشی په دنيا کښې د دجال په حيثيت نو هغه وخت به په هغه کښې دا صفات موندلې شی، حافظ ابن حجر رحمه الله په دې باندې تفصيلی کلام فرمائيلې دې په کتاب الاعتصام کښې، په باب ﴿من رای ترک النکير من النبی ﷺ حجة الخ﴾ د لاندې پس هغې ته رجوع اوکړه که دې خوښه وی. (کذافی العون)

امام نووی رحمه الله هم په شرح د مسلم کښې په دې باندې ډير کلام فرمائيلې دې د هغې طرف ته دې رجوع اوکړې شی، او د دې باب په آخر کښې حضرت هم په بذل المجهود کښې په دې باندې کلام فرمائيلې دې په آخر کښې ليکی: واقرب ما يجمع به بين ما تضمنه حديث تميم وکون ابن صياد هو الدجال أن الدجال بعينه هو الذي شاهده تميم موثقا وأن ابن صياد شيطان تبدى في صورة الدجال في تلك المدة إلى ان توجه إلى أصبهان فاستتر مع قرينه إلى ان تجيء المدة التي قدر الله تعالى خروجه فيها ولشدة التباس الأمر في ذلك سلك البخاري مسلك الترجيح فاقتصر على حديث جابر عن عمر في ابن صياد ولم يخرج حديث فاطمة بنت قيس في قصة تميم اهـ بزيادة من الفتح (۱۳/ ۳٤۰)

[٤٣٢٩] (١) حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ خُشَيْشُ بْنُ أَصْرَمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَرَّ بِابْنِ صَائِدٍ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ عِنْدَ أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ وَهُوَ غُلَامٌ فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ، ثُمَّ قَالَ: "أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ؟ قَالَ: فَنَظَرَ إِلَيْهِ ابْنُ صَيَّادٍ، فَقَالَ: أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الْأُمِّيِّينَ، ثُمَّ قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: آمَنْتُ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ، ثُمَّ قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا يَأْتِيكَ؟ قَالَ: يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خُلِّطَ عَلَيْكَ الْأَمْرُ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي قَدْ خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئَةً وَخَبَأَ لَهُ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ سورة

(١): صحيح البخاري/الجنائز ٧٩ (١٣٥٤)، الجهاد ١٧٨ (٣٠٥٥)، الأدب ٩٧ (٦٦١٨)، صحيح مسلم/الفتن ١٩ (٢٩٣٠)، سنن الترمذي/الفتن ٦٣ (٢٢٤٩)، (تحفة الأشراف: ٦٩٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٤٨، ١٤٩) وأعاده المؤلف في السنة (٤٧٥٧) (صحيح)

الدخان آية». قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ: هُوَ الدُّخُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اخْسَأْ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ، فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللهِ ائْذَنْ لِي فَأَضْرِبَ عُنُقَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنْ يَكُنْ فَلَنْ تُسَلَّطَ عَلَيْهِ يَعْنِي الدَّجَّالَ وَإِلَّا يَكُنْ هُوَ فَلَا خَيْرَ فِي قَتْلِهِ".

دعبدالله بن عمر ﷺ نه روايت دي فرمائي چه رسول الله ﷺ و دخپلو صحابه كرامو سره چه عمر ﷺ په كښې هم وو دابن صياد په خوا كښې تيريدل په دې وخت كښې ابن صياد ديني مغاله دقلا سره د ماشومانو سره لوبي كولې او په دې وخت كښې دې هم ماشوم وو دې دنبي ﷺ دورتلو نه خبر نشو تردې چه نبي ﷺ دده په شاباندې لاس كيخودو او ورته ئې اووئيل ايا ته ددې خبرې ګواهي وركوي چه زه دالله رسول يم هغه دنبي ﷺ طرف ته وكتل او وئې وئيل زه ګواهي وركوم چه ته په اهل عربوكښې داميانو رسول يې ، بيابن صياد نبي ﷺ ته اووئيل آيا ته ګواهي وركوي چه زه دالله رسول يم نبي ﷺ ورته اوفرمائيل ماپه الله اودهغه په رسولانو ايمان راوړې دې بيانبي ﷺ ده ته اووئيل ايا تاته څه شې راځي؟ ده جواب وركړو چه ماته خو صادق اوكاذب راځي نبي ﷺ ورته اوفرمائيل ستا معامله مشتبه ده نبي ﷺ اوفرمائيل ماستاپه باره كښې پخپل زړه كښې يوه خبره پټه نيولې ده اونبي ﷺ دا ايت كريمه : ﴿يوم تاتي الشتاء بدان مبين﴾ په زړه كښې پټ اونيولو هغه آووئيل پټ نيولې شوې شې دخ دې نبي ﷺ ورته اوفرمائيل لرې شه ته دخپلې اندازې نه مخكښې نشې تلې عمر فاروق له عرض اوكړو اې دالله رسوله ماته دده دخټ دوهلو اجازت راكړه نبي ﷺ اوفرمائيل كه چرې دې دجال وي نوستاپه ده باندې زورنه رسيږي اوكه چرې دجال نه وي نودده په وژلو كښې ستادپاره هيڅ خيرنشته.

د باب د اولنې حديث مضمون دا دې چه ابن عمر ﷺ فرمائي چه يو ځل رسول الله ﷺ د خپلو څو ملګرو سره چه په هغوى كښې عمر ﷺ هم وو په ابن صياد باندې تير شو په داسې حال كښې چه ابن صياد د قبيله بنومغاله د اوچت كور يا غونډئ سره نزدې د ماشومانو سره لوبې كولې، هغه ته د رسول الله ﷺ د تيريدو خبر او نه شو تر دې چه رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك د هغه په ملا باندې اوهلو، او وې فرمائيل ﴿ اتشهد انى رسول الله ﴾ هغه رسول الله ﷺ ته اوكتل او وې وئيل چه زه ګواهي وركوم چه ته رسول الاميين ئې. دا اشاره ده قوم عرب طرف ته څكه چه دې خو په ظاهر كښې د يهودو نه وو، بيا ابن صياد خپله رسول الله ﷺ ته اووئيل : ﴿ اتشهد انى رسول الله ﴾ په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿امنت بالله ورسله ﴾ يعني كوم چه واقعي د الله پاک حقيقي رسولان دي په هغوى زما ايمان دې.

په دې باندې د حضرت ګنګوهي ﷺ په تقرير كښې ليكلي دي چه رسول الله ﷺ په صراحة سره د هغه د رسالت انكار اونكړو كيدې شي په دې مصلحت سره چه د هغه د رسول الله ﷺ نه ويره پيدا نه شي چه په هغې سره به د رسول الله ﷺ مقصود فوت شي يعنى رسول الله ﷺ خو د هغه نه نور سوالات هم كول چه د هغې جوابونه مطلوب وو، او بهر حال چه كومه خبره رسول الله ﷺ اوفرمائيله هغه سراسر حق ده چه په هغې سره د هغه د رسالت د دعوى خپله ترديد كيږى بيا رسول الله ﷺ د هغه نه تپوس اوفرمائيلو : ﴿ ما ياتيک ﴾ تا ته

څه راځي؟ یعنی د غیب خبرونه کوم چه ته بیانوې، هغه جواب ورکړو : ﴿یاتینی صادق وکاذب ﴾ چه ماته دواړه قسم خبرې رارسیږي رښتیا هم او دروغ هم، په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائیل : ﴿ خلط علیک الامر ﴾ چه ستا معامله مخلوط او ګډه وډه ده. بیا رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه ما ستا دپاره په خپل زړه کښې یو خبره پټه کړې ده، او رسول اللهﷺ په خپل زړه مبارک کښې دا خبره پټه کړې وه ﴿ یوم تاتی السماء بدخان مبین ﴾ هغه د سوچ کولو نه پس اوئیل : هو الدخ چه هغه دخ دې رسول اللهﷺ اوفرمائیل : څه لرې شه ! ته هرګز د خپل حیثیت نه وړاندې نه شې تلې. ﴿ اخسأ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ ﴾.

ابن صیاد پوره جمله او پوره آیت کوم چه رسول اللهﷺ زړه کښې نیولې وو څه بیان کړو صرف کلمه دخان ئې هم پوره بیان نه کړه هم په دې وجه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه بس ستا حقیقت معلوم شو، خو دلته دا سوال واردیږي چه هغه چه دا څه بیان کړل دا ئې څنګه بیان کړل اګر چه هغه ناقص کلمه ولې نه وی.؟ د دې جواب دا لیکلې شوې دې چه کیدې شی رسول اللهﷺ د هغې ذکر بعض صحابه کرامو سره کړې وی چه د هغې څه حصه شیطان استراق کړې وی، یا په آسمان کښې د هغې ذکر شوې وی او د هغه ځائې نه شیطان سرقه کړې وی او بیا شیطان د هغې خبر ابن صیاد ته ورکړې وی لکه چه معروف ده چه شیاطین د سرقه کولو نه پس کاهنانو ته د هغې خبرونه ورکوی. (کذا فی البذل عن الفتح الودود) ﴿ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللهِ الخ ﴾ سیدنا عمرؓ د رسول اللهﷺ نه د هغه د قتل په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه که هم دا ابن صیاد دجال دې نو بیا خو ته د هغه په قتل کولو باندې نه شې قادر کیدې او که داسې نه وی نو بیا د دهٔ په قتل کولو کښې هیڅ خیر نشته، ځکه چه ابن صیاد په یهودو کښې دې چا سره چه د مصالحت معامله شوې ده لهذا هغه ذمی شو. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی ولیس فی حدیثهم، وخبأله ﴿یوم تاتی السماء بدخان مبین ﴾، قاله المنذری.

په وړاندې روایت کښې راځي :

[۴۳۳۰] () حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ: "وَاللَّهِ مَا أَشُكُّ أَنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ ابْنُ صَيَّادٍ".

د نافع نه روایت دې فرمائی چه ابن عمر داوئیل په الله قسم زه په دې کښې شک نه کوم چه مسیح دجال ابن صیاد دې.

﴿ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ وَاللَّهِ مَا أَشُكُّ أَنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ ابْنُ صَيَّادٍ ﴾ او د دې نه پس دا راځي محمد بن المنکدر فرمائی چه ما جابر بن عبداللهؓ اولیدلو هغوی به قسم خوړلو سره فرمائیل چه ابن صیاد دجال دې، ما اووې چه تاسو په دې باندې د الله پاک قسم خورئ؟ نو هغوی اوفرمائیل چه عمرؓ هم په دې باندې قسم خوړلې وو د رسول اللهﷺ مخکښې نو هغوی انکار نه وو فرمائیلې.

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف:) (صحيح الإسناد)

[۴۳۳۱](١)حَدَّثَنَا ابْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، قَالَ: رَأَيْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَحْلِفُ بِاللَّهِ أَنَّ ابْنَ صَائِدٍ الدَّجَّالُ، فَقُلْتُ: تَحْلِفُ بِاللَّهِ؟ فَقَالَ: "إِنِّي سَمِعْتُ عُمَرَ يَحْلِفُ عَلَى ذَلِكَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُنْكِرْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دمحمدبن المنکدر رحمه الله نه روایت دې فرمائی چه ماجابربن عبد الله ولیدو چه په الله ئې قسم وکړوچه ابن صیاددجال دې ماووئیل چه ایاتاسویدي باندې قسم کوی هغه ووئیل چه مادنبی علیه السلام سره عمر رضی الله عنه په قسم کولو لیدلي وو مګرنبی علیه السلام داخبره بده ونه ګنړله.

وحدیث جابر رضی الله عنه اخرجه البخاري ومسلم، قاله المنذري.

[۴۳۳۲](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "فَقَدْنَا ابْنَ صَيَّادٍ يَوْمَ الْحَرَّةِ".

د جابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زمونږنه دحرې په ورځ ابن صیاد ورک شو.

﴿عَنْ جَابِرٍ قَالَ فَقَدْنَا ابْنَ صَيَّادٍ يَوْمَ الْحَرَّةِ﴾ ابن صیاد چه په مدینه کښې اوسیدو د هغه په باره کښې جابر رضی الله عنه فرمائی چه هغه په وقعة الحرة کښې ورک شوې وو، بیا د هغه پته او نه لګیده د وقعة الحرة ذکر خو کرته په کتاب کښې راغلي دي.

[۴۳۳۳](٣)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ ثَلَاثُونَ دَجَّالُونَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی دهغه وخته پورې قیامت نشي قائمیدي ترڅوچه دیرش دجالان نه وي راوتلي او په دې دجالانوکښې به هریودجال خپل ځان دالله رسول ګنړي.

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ ثَلاَثُونَ دَجَّالُونَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ »﴾

دا حدیث د کتاب الفتن په شروع کښې د یو اوږد حدیث د لاندې هم تیر شوې دې، ﴿وانا خاتم النبيين لا نبي بعدي﴾

[۴۳۳۴](٤)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ ثَلَاثُونَ كَذَّابًا دَجَّالًا كُلُّهُمْ يَكْذِبُ عَلَى اللَّهِ وَعَلَى رَسُولِهِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی دهغه وخته پورې قیامت نشي قائمیدي ترڅوچه دیرش دروغژن دجالان نه وي راوتلي او په دې دجالانو کښې به هریودجال خپل دالله اودرسول تکذیب کوي.

(١): صحيح البخاري/الاعتصام ٢٣ (٧٣٥٥)، صحيح مسلم/الفتن ١٩ (٢٩٢٩)، (تحفة الأشراف: ٣٠١٩) (صحيح)
(٢): تفرد به أبوداود (صحيح الإسناد) (راجع الفتح/الاعتصام: ٢٣، و تحفة الأحوذي: ٤٢٦٦)
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٠٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٥٠، ٤٥٧) (صحيح)
(٤): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥١٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٥٠، ٥٢٧) (حسن الإسناد)

[۴۳۳۵] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ جَرِيرٍ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: قَالَ عُبَيْدَةُ السَّلْمَانِيُّ بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَذَكَرَ نَحْوَهُ فَقُلْتُ لَهُ: أَتَرَى هَذَا مِنْهُمْ يَعْنِي الْمُخْتَارَ؟ فَقَالَ عُبَيْدَةُ: أَمَا إِنَّهُ مِنَ الرُّءُوسِ.

ابراهیم وئیلی دی چه مباد عبیده سلماني نه تپوس وکړوچه ایا داسې روایت دې فرق صرف دادې چه ما دهغه نه تپوس وکړوچه مختاربن عبیده هم ددې دجالانونه دې هغه ووئیل دې ددوی سردار دې.

قوله: ﴿ فَقُلْتُ لَهُ أَتَرَى هَذَا مِنْهُمْ - يَعْنِي الْمُخْتَارَ - فَقَالَ عَبِيدَةُ أَمَا إِنَّهُ مِنَ الرُّءُوسِ ﴾

ابراهیم فرمائی چه ما د خپل استاد عبیده سلمانی نه تپوس اوکړو چه تاسو دې یعنی مختار بن ابی عبید الثقفی لره په ثلاثین دجالین کښ شمارئ؟ نو هغوی اوفرمائیل چه دا خو د هغوی په سردارانو کښ دې.

دا مختار بن ابی عبید هم په دروغژنو مدعیان نبوت کښ وو، لکه چه په حدیث کښ راځی: ﴿ يخرج من ثقيف كذاب ومبير ﴾ كما في صحيح مسلم والترمذی، وئیلي شوې دی چه د مبیر (ظالم) نه مراد حجاج بن یوسف الثقفی دې، او د کذاب نه مراد هم دا مختار بن ابی عبید دې، د هغه پلار ابوعبید چه نوم ئې مسعود رضی الله عنه دې خپله په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښ دې او د هغه خور صفیه بنت ابی عبید د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ښځه وه.

په شروع کښ خودهغه حالات ډیرښه وو اوپه قاتلین حسین کښ ئې دیو یونه بدله واخستله، خو بیا د هغه حالات په مزه مزه خرابیدل تر دې چه په آخر کښ ئې د نبوت دعوی اوکړه.

بَابُ الْأَمْرِ وَالنَّهْيِ

باب د نیکو عملونو حکم کول او د بدو کارونو نه منع کول

مصنف رحمه الله د کتاب الفتن اختتام په دې باب سره کړې دې چه په هغې کښ ئې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر متعلق روایات راوړې دی فلله در المصنف ما الطف نظره.....

ګویا اشاره ده دې طرف ته چه فتنې چه کومې دنیا ته راځی هغه خو به راځی خو انسان لره د خپل طرف نه د هغې د دفع کولو علاج او تدبیر کول پکار دی.

[۴۳۳۶] (۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ رَاشِدٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ بَذِيمَةَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَوَّلَ مَا دَخَلَ النَّقْصُ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَ الرَّجُلُ يَلْقَى الرَّجُلَ، فَيَقُولُ: يَا هَذَا اتَّقِ اللهَ وَدَعْ مَا تَصْنَعُ فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ لَكَ، ثُمَّ يَلْقَاهُ مِنَ الْغَدِ فَلَا يَمْنَعُهُ ذَلِكَ أَنْ يَكُونَ أَكِيلَهُ وَشَرِيبَهُ وَقَعِيدَهُ فَلَمَّا فَعَلُوا ذَلِكَ ضَرَبَ اللهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ، ثُمَّ قَالَ: لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ إِلَى قَوْلِهِ فَاسِقُونَ سورة المائدة آية ۷۸-۸۱ ثُمَّ قَالَ: كَلَّا وَاللهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَيِ الظَّالِمِ وَلَتَأْطُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا".

دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی په بنی اسرائیلو کښې چه کومه اوله خرابي راغلې وه هغه داوه کله چه به یو کس دبل سره ملاقات

(۱): ● تخريج: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۹۹۹) (ضعيف)

(۲): سنن الترمذي/تفسير القرآن ٦ (۳۰۴۷، ۳۰۴۸)، سنن ابن ماجه/الفتن ۲۰ (۴۰۰۶)، (تحفة الأشراف: ۹۶۱۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۹۱/۱) (ضعيف)

وکړونوهغه ته به ئې اوویل داالله نه خوف وکړه اودخپلو حرکتونونه منع شه ځکه چه داسې کارونه ستاد پاره مناسب نه دي نوکله چه به ئې ورسره بله ورځ ملاقات وکړو نو دې به ئې ددې کارونونه نه منع کولوځکه چه هغه به ددوی سره دخوراک څښاک په محفلونوکښې شرکت کولو، کله چه دي خلقو داسې وکړل نوالله پاک هم ددوی دبعضوخلقوزړونه دبعضونورو سره ملاوکړل اوبیائې اوفرمائیل په بنی اسرائیلو کښې چه چا کفر اختیارکړونوالله تعالی په دوي باندې په ژبه دداوداودعیسی علیهما السلام دلعنت اخرنې ایت اوفرمائیلو یعني: «لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ» تر «فَاسِقُونَ» پورې، بیا ئې اوفرمائیل په الله تعالی قسم تاسوبه دخیرخبرې کوې او د ممنوعه کارونونه به منع کوئ اودده دواړه لاسونه به نیسئ اودحق طرف ته به ئې داسې راتیټتوي لکه څنګه چه دتیټولوحق دې اوپه حق باندې به پې تینګوئ لکه څنګه چه دتینګیدو حق دې.

مضمون الحدیث :

قوله:﴿عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ :...... وَاللّٰهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَيِ الظَّالِمِ وَلَتَأْطُرُنَّهُ (۱) عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا »﴾

رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیلو : چه په بنواسرائیل کښې د خراب والی او نقصان ابتداء داسې اوشوه چه یو سړی به بل سړی لره چه په کومه ګناه لیدلو نو هغه به ئې د هغې نه منع کولو، بیا به ئې چه د هم هغه سړی سره په بله ورځ ملاقات کیدلو نو «سره د هغه سړی په خپل معصیت باندې د قائم پاتې کیدو باوجود» د هغه هغې ګناه لره کول هغه سره د خوراک او څکاک کولو نه نۀ مانع کیدل، یعنی د ګناه د کولو باوجود به ئې د هغه سره ناسته او خورک څکاک جاری ساتلو، پس چه کله هغوی دا صورت اختیار کړو نو الله پاک د دواړو زړونه یو شان کړل.

په حدیث شریف کښې دی : ﴿ افضل الاعمال الحب فی الله والبغض فی الله ﴾ بله دا چه په دعاء قنوت کښې دا جمله ده ﴿ ونخلع ونترک من یفجرک ﴾ چه د هغې تقاضه دا ده چه فساق او فجار او کوم خلق چه ګناهونه کوی ترڅو چه هغوی هغه ګناهونه نه پریږدی د هغوی نه خپل تعلقات او روابط پرې کول پکار دی، او که داسې نه کوی نو بیا به هغه هم د هغوی په شان شي.

بیا وراندې په دې حدیث کښې دی : رسول اللهﷺ په قسم سره تاکیدا فرمائی چه تاسو امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ او د ظالم لاس نیولو سره هغه د ظلم نه بندوئ او هغه د ظلم نه لرې کولو سره په حق باندې کلکوئ.

د رسول اللهﷺ د خپل امت سره کمال همدردی او خیرخواهی :

په دې حدیث کښې خو دا حکم د رسول اللهﷺ د امت سره متعلق دې او په یو بل حدیث کښې رسول اللهﷺ خپل دا خپل حال بیان کړې دې، پس د ترمذی په کتاب الامثال کښې دا روایت دې چه ﴿ عن ابی هریرة : ان رسول الله صلی الله علیه و سلم قال إنما مثلي ومثل أمتي كمثل

(۱) قال الشيخ (الخطابي) قوله لتاطرنه معناه لتردونه عن الجور، واصل الاطر العطف او الثني ومنه تاطر العصاء وهو تثنية لهـ

رجل استوقد نارا فجعلت الذباب والفراش يقعن فيها وأنا آخذ بحجزكم وأنتم تقحمون فيها ﴾ رسول الله ﷺ فرمائی چه زما مثال د خپل امت په باره کښ داسې دې لکه چه يو سړې اور بل کړی شمع وغيره نو پتنګان په کثرت سره د هغې خوا ته جمع کيدلو سره هلاکيږي، نو رسول الله ﷺ فرمائی چه زما هم دا حال دې چه خلق د ګناهونو ارتکاب کولو سره جهنم ته داخليدل غواړي او زما حال دا دې چه زه تاسو ستاسو د شاګانو نه اونيسم او په نيولو نيولو سره مو د جهنم نه بل طرف ته راکاږم او تاسو ئې چه د هغې طرف ته روان يئ. جزى الله عنا سيدنا ومولانا محمدا ما هو اهله.

[٤٣٣٧](¹)حَدَّثَنَا خَلَفُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ الْحَنَّاطُ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ زَادَ أَوْ لَيَضْرِبَنَّ اللَّهُ قُلُوبَ بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ ثُمَّ لَيَلْعَنَنَّكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ: قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الْمُحَارِبِيُّ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ سَالِمٍ الْأَفْطَسِ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، وَرَوَاهُ خَالِدٌ الطَّحَّانُ، عَنِ الْعَلَاءِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ.

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دنبی علیه السلام نه دتیرشوي روايت په شان روايت بيان کړي دي مګردوي اضافي سره چه: الله تعالی به ستاسودبعضوزړونه د بعضونوروسره ملحق کړي اوبيابه الله تعالی په تاسوباندې هم لعنت وکړي لکه څنګه چه يې په هغوی باندې هم لعنت کړې وو.
امام ابوداؤد فرمائی چه دا روايت محاربي دعلاء بن مسيب نه هغه دعبدالله بن عمروبن مره نه هغه دسالم افطس نه اوهغه دابوعبيده نه اوهغه دعبدالله نه نقل کړي دي، اوهمدارنګې دا روايت خالد الطحان د دعلاء بن مسيب نه هغه دعبدالله بن عمروبن مره نه اوهغه دابوعبيده نه نقل کړي دي.

[٤٣٣٨](²)حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ. ح وحَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ الْمَعْنَى، عَنْ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ قَيْسٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ بَعْدَ أَنْ حَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الْآيَةَ وَتَضَعُونَهَا عَلَى غَيْرِ مَوَاضِعِهَا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ سورة المائدة آية ١٠٥، قَالَ: عَنْ خَالِدٍ، وَإِنَّا سَمِعْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ، وَقَالَ عَمْرٌو، عَنْ هُشَيْمٍ، وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي ثُمَّ يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا ثُمَّ لَا يُغَيِّرُوا إِلَّا يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ مِنْهُ بِعِقَابٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ كَمَا قَالَ خَالِدٌ أَبُو أُسَامَةَ، وَجَمَاعَةٌ وَقَالَ شُعْبَةُ فِيهِ مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي هُمْ أَكْثَرُ مِمَّنْ يَعْمَلُهُ.

دقيس نه روايت دي فرمائی چه ابوبکر رضی الله عنه دالله تعالی دحمد او ثناء بيانولونه پس اوفرمائيل اي خلقو تاسوخو دا ايت کريمه «عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ» لولئ ليکن په نامناسبه محل باندې ئې حمل کوئ اوحال دادې چه مادنبی علیه السلام نه اوريدلی دی چه فرمائيل ئې يقيناکله چه څوک دظالم ظلم ويني اودهغه لاس ونه نيسي

---

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٦١٤) (ضعيف)
²): سنن الترمذي/الفتن ٨ (٢١٦٨)، تفسير القرآن سورة المائدة ١٩ (٣٠٥٧)، سنن ابن ماجه/الفتن ٢٠ (٤٠٠٥)، (تحفة الأشراف: ٦٦١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢، ٥، ٧، ٩) (صحيح)

نونزدې ده چه الله تعالی به په دې ټولو خلقو باندې عذاب راولي اوعمرو دهشیم نه نقل کوي وائي ابوبکر رضي الله عنه ووئیل چه دنبی علیه السلام نه مې آوریدلی دی چه فرمائیل ئې هیڅ یوقوم داسې نشته چه بد عملونه پکښې نه کیږی اوقدرت باوجود خلق دغه بدکارونه ختم نکړي نوالله تعالی به په دوی باندې عذاب مسلط کړي امام ابوداؤد فرمائی چه دا روایت خالد، ابواسامه اویوې ډلې بیان کړې دې، شعبه وئیلی دی داسې هیڅ یوقوم نشته چه په دوی کښې ګناه کیږی او په دوی کښې زیات خلق دګناهونو مرتکب وي اوبیاپه ټولوباندې عذاب الهي نازل نشي.

قوله: ﴿ عَنْ قَيْسٍ قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ بَعْدَ أَنْ حَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الآيَةَ وَتَضَعُونَهَا عَلَى غَيْرِ مَوَاضِعِهَا (عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لاَ يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ) وَإِنَّا سَمِعْنَا النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ « إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ ﴾

د تبلیغ اهمیت او د هغې وجوب:

سیدنا ابوبکرصدیق رضي الله عنه خلقو ته فرمائی چه تاسو دا آیت لولئ او دا په غلط ځائې باندې ردئ، یعنی د دې غلط مطلب اخلئ، د دې آیت کریمه ترجمه دا ده کوم چه پورته ذکر شو (تاسو خپل فکر کوئ، که تاسو په هدایت باندې یئ نو د ګمراه کونکی ګمراهی به ستاسو دپاره ضرر نه لري) یعنی تاسو په دې آیت کریمه باندې دا ګنړئ چه نورو ته تبلیغ کول ضروری نه دی خپله د انسان په هدایت باندې کیدل کافی دی، بیا هغوی وراندې فرمائی: حال دا چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دی هغوی به فرمائیل چه خلق چه کله ظالم لره د هغه په ظلم باندې وینی او هغه نه منع کوی نو نزدې ده چه په ټولو باندې عذاب راشی، په ګناه کونکو باندې هم او په نه منع کونکو باندې هم، او په دویم روایت کښې داسې دی چه د هغې راوی هشیم دې، حال دا چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دی هغوی به فرمائیل چه په کوم قوم کښې ګناهونه کیږی، کوم خلق چه د هغې په منع کولو باندې قادر وی او بیا هغې لره نه منع کوی نو عذاب به په دې ټولو باندې راځی.

وراندې مصنف رحمه الله یو دریم روایت ذکر کړو یعنی د شعبه نه چه په هغې کښې دا زیادت دې ﴿هم اکثر ممن یعمله﴾ او ګناه نه کونکی په تعداد کښې د ګناه کونکو نه زیات وی، دا قید په ظاهر کښې په دې اعتبار سره دې چه قدرت علی المنع به هم هغه وخت وی چه کله نه کونکی زیات وی، حضرت په بذل المجهود کښې د شعبه روایت د مسند احمد نه نقل فرمائیلې دې او فرمائی چه هلته د شعبه په روایت کښې دا زیادت نشته کوم چه مصنف رحمه الله فرمائی. والله تعالی اعلم والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه بنحوه، وقال الترمذی حسن صحیح، قاله المنذري.

[۴۳۳۹] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، أُظنُّهُ عَنِ ابْنِ جَرِيرٍ، عَنْ جَرِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُونُ فِي قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا عَلَيْهِ فَلَا يُغَيِّرُوا إِلَّا أَصَابَهُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَمُوتُوا".

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۲۴۲)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الفتن ۲۰ (۴۰۰۹) (حسن)

جرير رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي په يو قوم کښې چه يو کس دبد کار مرتکب وي او دقوم خلق دقدرت باوجود ددې کس حالت اودده عمل تبديل نکړي نو الله تعالى به دوى لره ددوى دمرګ نه مخکښې په عذاب کښې مبتلا کړي.

[٤٣٤٠] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَهَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ رَجَاءٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَعَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ رَأَى مُنْكَرًا فَاسْتَطَاعَ أَنْ يُغَيِّرَهُ بِيَدِهِ فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، وَقَطَعَ هَنَّادٌ بَقِيَّةَ الْحَدِيثِ وَفَّاهُ ابْنُ الْعَلَاءِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ بِلِسَانِهِ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ".

د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه د نبي ﷺ نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې: په تاسو کښې چه څوک خلاف شرع کار ووينې او په لاس سره ددې دمنع کولو طاقت لري نو په خپل لاس باندې دې دغه کار منع کړي او که چرې په لاس باندې دمنع کولو طاقت نه لري نو په ژبې سره دې منع کړي (يعني بد دې ورته ووائي) او که چرې ددې هم طاقت نه لري نو په زړه کښې دې ورنه نفرت وکړي او دا د ايمان آخرى کمزوري درجه ده.

قوله: ﴿عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ :..... وَفَّاهُ ابْنُ الْعَلَاءِ – « فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ بِلِسَانِهِ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ »﴾

په دې حديث کښې د تغير منکر مرتبې بيان کړې شوې دي، اول تغيير باليد چه په خپل لاس باندې دې منع کړي او که د هغې طاقت ئې نه وى نو په ژبه باندې دې د منع کولو کوشش اوکړي، او که د هغې ګنجائش هم نه وى نو د زړه نه دې هغه بد اوګڼري، د هدايه نه معلوميږي چه د امام صاحب رحمه الله په نزد د تغير باليد حق تولو ته نه دې حاصل بلکه امراء او حکام ته دې، او د صاحبين په نزد عام دې. (٢)

والحديث اخرجه مسلم والترمذى والنسائى وابن ماجه مختصرا ومطولا، وقد تقدم فى كتاب الصلوة قاله المنذري.

[٤٣٤١] (٣) حَدَّثَنَا أَبُو الرَّبِيعِ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عُتْبَةَ بْنِ أَبِي حَكِيمٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ جَارِيَةَ اللَّخْمِيُّ، حَدَّثَنِي أَبُو أُمَيَّةَ الشَّعْبَانِيُّ، قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيَّ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا ثَعْلَبَةَ كَيْفَ تَقُولُ فِي هَذِهِ الْآيَةِ عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ سورة المائدة آية ١٠٥، قَالَ: أَمَا وَاللَّهِ لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْهَا خَبِيرًا سَأَلْتُ عَنْهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "بَلِ ائْتَمِرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنَاهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ حَتَّى إِذَا رَأَيْتَ شُحًّا مُطَاعًا وَهَوًى مُتَّبَعًا وَدُنْيَا مُؤْثَرَةً وَإِعْجَابَ كُلِّ ذِي رَأْيٍ بِرَأْيِهِ، فَعَلَيْكَ يَعْنِي بِنَفْسِكَ وَدَعْ عَنْكَ الْعَوَامَّ فَإِنَّ مِنْ وَرَائِكُمْ أَيَّامَ الصَّبْرِ الصَّبْرُ فِيهِ مِثْلُ قَبْضٍ عَلَى الْجَمْرِ لِلْعَامِلِ فِيهِمْ مِثْلُ أَجْرِ خَمْسِينَ رَجُلًا يَعْمَلُونَ مِثْلَ عَمَلِهِ وَزَادَنِي غَيْرُهُ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْهُمْ قَالَ: أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْكُمْ".

---

(١): انظر حديث رقم: (١١٤٠)، (تحفة الأشراف: ٤٠٨٥) (صحيح)

(٢) وظاهر ما في الحديث ٣٧٢/٣ ان الامر بالمعروف باليد عام عند الصاحبين، واما عند الامام (ابي حنيفة) فباليد الي الامراء وباللسان الي غيرهم، يعنى تغيير باليد د صاحبينو په نزد خو عام دې، او د امراء او غير امراء ټولو په حق کښې دې، او د امام صاحب په نزد په دې کښې تفصيل دې هغه دا چه د تغير باللسان حق د ټولو دپاره دې او تغيير باليد يعنى په لاس سره اصلاح کول دا د امراء او حکامو کار دې د عام خلقو نه دې.

(٣): سنن الترمذي/تفسير القرآن سورة المائدة ١٨ (٣٠٥٨)، سنن ابن ماجه/الفتن ٢١ (٤٠١٤)، (تحفة الأشراف: ١١٨٨١) (ضعيف)

دابو امیه شعبانی ﷫ نه روایت دې فرمائي چه دابو ثعلبه خشني ﷜ نه مې تپوس وکړو چه اې ابوثعلبه ددې ایت کریمه: (علیکم انفسکم) په باره کښې ته څه وائې؟هغه ووئیل ددې په باره کښې ما دنبی ﷺ نه تپوس وکړونو راته ئې اوفرمائیل: تاسو امربالمعروف اونهي عن المنکرکوئ تردې پورې چه تاسووبینئ چه دکنجوس پیروي کیږي اودنفساني خواهش تابع داري کیږي او په دنیاپسې منډې وهلې شي اوهریو زې راې په خودپسندئ کښې مبتلا دې نوپداسې وخت کښې تاسو د خپل ځان خیال اوساتئ اودعواموخیال دزړه نه اوباسئ ځکه چه ستاسونه پس یوه داسې ورځ را روانه ده په کومه کښې چه به صبرکول داسې مشکل وي لکه په لاس کښې سکروټه نیول او داسې ورځوکښې به په دین باندې عمل کونکي ته دپنځوسو کسانوداجر برابر اجر ورکولې شي ، راوی وائي چه یوبل راوی دا اضافه کړې ده چه یوصحابي عرض وکړو اې دالله رسوله ایا دهغوی نه دپنځوس کسانو اجر؟نبی ﷺ اوفرمائیل نه بلکه ستاسونه دپنځوسو کسانو داجر برابر اجربه ورته ورکړې شي.

قوله: ﴿حَدَّثَنِي أَبُو أُمَيَّةَ الشَّعْبَانِيُّ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيَّ فَقُلْتُ يَا أَبَا ثَعْلَبَةَ كَيْفَ تَقُولُ فِي هَذِهِ الآيَةِ (عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ) قَالَ أَمَا وَاللَّهِ لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْهَا خَبِيرًا ﴾

هغه کوم وخت دې چه په هغې کښې ترک تبلیغ مضر نه دې؟

د دې حدیث تعلق هم د هغه آیت باره کښې دې چه د هغې په باره کښې د ابوبکرصدیق ﷜ قول تیر شو ، د ابوثعلبه ﷜ نه چه کله د دې آیت په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی سائل ته اوفرمائیل چه تاسو د دې آیت کریمه په باره کښې د داسې سړی نه تپوس کړې دې کوم چه د دې نه خبر دې، مراد ئې ترې نه خپل ذات دې، او دا هم احتمال دې چه دا ﴿سالت ﴾ په صیغه د متکلم وی په دې صورت کښې به د خبیر مصداق رسول الله ﷺ وی چه ما د دې په باره کښې د رسول الله ﷺ نه تپوس کړې وو نو هغوی دا جواب اوفرمائیلو : بلکه تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ، او کله چه تاسو هغه حالت اوګورئ، کوم چه وړاندې په حدیث کښې مذکور دې. نو بیا داسې اوکړئ چه بس خپل فکر کوئ او د عوامو فکر پریږدئ، او هغه حالت دا دې چه خلق سخت بخل اختیار کړی او د انسان په فطرت کښې چه کوم د بخل صفت دې د هغې کامله اتباع شروع کړی ﴿ شحا مطاعا ﴾ او دویم صفت دې ﴿وهو متبعا ﴾ چه خلق به صرف د خواهشات نفسانیه اتباع کوی ﴿ ودنیا موثرة ﴾ یعنی په هره معامله کښې دنیوی مصلحت ته ترجیح ورکوی، او څلورم صفت دا دې ﴿ واعجاب کل ذی رای برایه ﴾ چه هر سړې خپله رائې خوښوی.

دا دې د خلقو هغه حالت چه د هغې د موندلې کیدو په وخت ترک تغییر او ترک تبلیغ د سړی دپاره مضر نه دې په دې حدیث د ابوثعلبه ﷜ کښې د صدیق اکبر ﷜ د حدیث مقابله کښې زیاته تشریح ده، حاصل د هغې هم دا دې چه ترک تبلیغ په یو مخصوص وخت کښې دې په هر حال کښې نه دې، د علماء کرامو نه د دې یو توجیه نقل کړې شوې ده هغه دا چه په دې آیت کریمه کښې ترک تبلیغ ته غیر مضر وئیلې شوې دې په داسې حال کښې چه خلق په هدایت باندې وی (اذا اهتدیتم) او خلق به په هدایت باندې هم هغه وخت وی چه کله هغوی د خپلو

ټولو فرائضو تکمیل کوی، او د ټولو فرائضو نه يو تبليغ هم دي، لهذا د ترک تبليغ په صورت کښې به ﴿ اذا اهتديتم ﴾ والا شرط نه موندلې کيږي، پس حاصل به د دې په دې صورت کښې دا وی چه د تبليغ باوجود هم که خلق او نه مني نو بيا ستاسو په حق کښې هيڅ ضرر نشته.

وړاندې په حديث کښې دی : ﴿ فان من ورائكم ايام الصبر فيه مثل قبض على الجمر ﴾ [1]

رسول الله ﷺ فرمائی بيشکه وړاندې په تاسو داسې ورځې راروانې دی چه په هغې کښې په دين باندې قائم اوسيدل به د سړی دپاره داسې ګران شی لکه په موټی کښې سکروټه نيول او په دغه زمانه کښې په په دين باندې د عمل کونکی دپاره د پنځوس کسانو برابر اجر ليکلې شی، داسې پنځوس چه د هغه په شان عمل کوی.

قوله: ﴿ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْهُمْ قَالَ « أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْكُمْ » ﴾ [2]

يعنی د هغه پنځوس کسانو نه آيا هم د هغه زمانې پنځوس سړی مراد دی؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل نه بلکه ستاسو نه پنځوس مراد دی.

ايا غير صحابی د صحابی رضي الله عنه نه افضل کيدې شی؟

په بذل کښې د فتح الودود نه نقل کړې دی چه د دې غير صحابی د عمل اجر د صحابه کرامو په عمل باندې پنځوس چنده مضاعف کيدل صرف د هغه عمل په اعتبار سره دی چه د هغې اختيارول به په راروانه زمانه کښې زيات سخت وی نه مطلقا اهـ... لهذا په دې حديث سره دا ګنړل صحيح نه دی چه د غير صحابی اجر کلا د صحابی د اجر نه زياتيدلې شی. اهـ

والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجه، وقال الترمذي حسن غريب، قاله المنذري.

[۴۳۴۲]([3]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، أَنَّ عَبْدَ الْعَزِيزِ بْنَ أَبِي حَازِمٍ حَدَّثَهُمْ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "كَيْفَ بِكُمْ وَبِزَمَانٍ أَوْ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ زَمَانٌ يُغَرْبَلُ النَّاسُ فِيهِ غَرْبَلَةً تَبْقَى حُثَالَةٌ مِنَ النَّاسِ قَدْ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ وَأَمَانَاتُهُمْ وَاخْتَلَفُوا، فَكَانُوا هَكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ، فَقَالُوا: وَكَيْفَ بِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: تَأْخُذُونَ مَا تَعْرِفُونَ وَتَذَرُونَ مَا تُنْكِرُونَ وَتُقْبِلُونَ عَلَى أَمْرِ خَاصَّتِكُمْ وَتَذَرُونَ أَمْرَ عَامَّتِكُمْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَكَذَا رُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ.

---

[1]) د دې د ماقبل سره څه مناسبت دې؟ د دې په باره کښې په کوکب ۲۱۶۷ کښې ليکلې دی چه دا د يو سوال مقدر جواب دې چه آيا د ټولو خلقو دا حالت هم کيدې شی؟ نو د دې په باره کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه په دې کښې څه تعجب دې خکه چه دا زمانه خو به هغه زمانه وی چه په هغې کښې به په دين باندې قيام داسې ګران شی لکه په موټی کښې سکروټه نيول، پس په داسې ماحول او فضاء کښې چه هر څومره بدتر حالت راپيښ شی هغه قياس ته نزدې دې.

[2]) دا خو د جمهورو د مسلک مطابق دې او بعض علماء کرامو لکه ابن عبدالبر هغوی خو د دې قسم رواياتو نه استدلال کړې دې چه غير صحابی د صحابی نه افضل کيدې شی، كذا في هامش البذل او په مظاهر حق کښې ﴿ مثل امتي مثل المطر لا يدري اوله خير ام اخره ﴾ د دې حديث د لاندې د حافظ ابن عبدالبر دا مسلک کوم چه پورته ذکر شوې دې ليکلې دې، او د جمهورو استدلال د نورو ټولو دلائلو نه د دې حديث نه هم دې کوم چه وړاندې په باب في فضل اصحاب النبي ﷺ خير امتي القرن الذي بعثت فيهم ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم الحديث)

[3]): سنن ابن ماجه/الفتن ۱۰ (۳۹۵۷)، (تحفة الأشراف: ۸۸۹۳)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ۸۸ (۴۸۰)، مسند احمد (۲۱۲/۲) (صحيح)

د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: په دغه وخت کښې به ستاسوڅه حالت وي ، یاني داسې اوفرمائیل زرده چه داسې وخت راشي دکارخلق به پکښې پتولي شي یعنی خه خلق به وفات شي اوبیکاره خلق به پاتې شي کوم چه خس اوخشاک دي دچاچه به عهد او پیمان اوامانتونه مره شوي وي او په خپل مینځ کښې به داختلاف ښکارشي نبی چه دا اوفرمائیل نودخپل یولاس ګوتي ئې په بل لاس کښې واچولي صحابه کرامو عرض وکړوچه اې دالله رسوله په دې وخت کښې زمونږ دپاره څه کول پکاردي نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل کومه خبره چه درته ښه ښکاري هغه اختیارکړئ اوکومه چه درته بده ښکاري هغه پرېږدئ صرف خپل فکرکوئ اودبل چا فکر پرېږدئ.

قوله: ﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « كَيْفَ بِكُمْ وَبِزَمَانٍ ». يُغَرْبَلُ النَّاسُ فِيهِ غَرْبَلَةً تَبْقَى حُثَالَةٌ مِنَ النَّاسِ قَدْ مَرِجَتْ ..الخ﴾

د فتنو په زمانه کښې سړی لره څنګه کیدل پکار دی؟

رسول الله ﷺ فرمائی چه څه حال به وی ستاسو، یعنی څه به کوئ تاسو، چه کله داسې زمانه راشی چه په هغې کښې به خلق چاڼ کړې شی، رذیل او بیکاره خلق به په دنیا کښې پاتې شی چه د هغوی معاملات او امانتونه به مخلوط او ګډوډ شی، او دې وخت کښې رسول الله ﷺ د خپلو ګوتو مبارکو ترمینځه تشبیک اوفرمائیلو، په دې باندې صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو چه بیا دغه وخت کښې مونږ له څه کول پکار دی؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم معروف او نیک کارونه دی هغه اختیار کړئ او کوم چه ناجائز او منکر دی هغه ترک کړئ. او بس خپل فکر کوئ عوام په خپل حال باندې پرېږدئ. او د دې نه په روستو روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ د عبدالله بن عمرو په سوال باندې اوفرمائیل: ﴿الزم بیتک واملک علیک لسانک الخ﴾ چه د کور نه بهر مه راوځه او خپله ژبه په قابو کښې ساته. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

[۴۳۴۳](۱)حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ أَبِي الْعَلَاءِ، قَالَ: حَدَّثَنِي عِكْرِمَةُ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ حَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ ذَكَرَ الْفِتْنَةَ، فَقَالَ: "إِذَا رَأَيْتُمُ النَّاسَ قَدْ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ وَخَفَّتْ أَمَانَاتُهُمْ وَكَانُوا هَكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ، قَالَ: فَقُمْتُ إِلَيْهِ، فَقُلْتُ: كَيْفَ أَفْعَلُ عِنْدَ ذَلِكَ جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ؟ قَالَ: الْزَمْ بَيْتَكَ وَامْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَخُذْ بِمَا تَعْرِفُ وَدَعْ مَا تُنْكِرُ وَعَلَيْكَ بِأَمْرِ خَاصَّةِ نَفْسِكَ وَدَعْ عَنْكَ أَمْرَ الْعَامَّةِ".

دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه مونږ درسول الله ﷺ نه چاپیره ناست وواود فتنوذکرشروع وو په دې وخت بنی نبی علیه السلام اوفرمائیل کله چه تاسو ووینئ چه لوظونه ماتیږي اوامانتونه پیمابل کیږي او دخلقوحالت داسې شي ، چه دا اوفرمائیل نودخپل نیو لاس ګوتي ئې په بل لاس کښې واستولي ماچه دا واوریدل نو پاڅیدم اوعرض مې وکړوچه اې دالله رسوله پدې وخت کښې زما دپاره څه کول پکاردي؟نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل دداسې فتني په وخت کښې په کورکښې کینه اوخپله ژبه په قابوکښې وساته

(۱): تفرد به أبو داود، انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۸۸۹۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۱۲) (حسن صحيح)

اوکومه خبره چه دوی ته نه ښکاري هغه اختيارکړه اوکرمه چه درت بهد.. بکاري هغه پريږده، صرف خپل فکرکړه اودين جانکر پريږده.

[۴۳۴۴] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَادَةَ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جُحَادَةَ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ أَوْ أَمِيرٍ جَائِرٍ".

ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي کريم ﷺ فرمائيلي دي: فعمل جهاد دادي په يوانسان ديوسالم بادشاه يا حکمران په وړاندي دانصاف خبره وکړي.

قوله: ﴿عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ مرفوعا« أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ ». أَوْ « أَمِيرٍ جَائِرٍ »﴾ دا حديث د ترجمة الباب عين موافق دي هم په دې وجه دلته راوړلي شوي دي، د ظالم بادشاه مخکښ حق خبره وئيلو ته افضل جهاد په دې وجه وئيلي شوي دي چه مجاهد ته په جهاد مع الکفار کښ دوه احتماله وی د خپلي غلبې هم او د مغلوب کيدو هم، د اول اميد او د ثاني ويره، خو د ظالم بادشاه مخکښ حق خبره کولو کښ د خپل هلاکت ظن غالب وی لهذا دا زيات ګران کار شو پس افضل هم دا شو. الحديث اخرجه الترمذي وابن ماجه، قاله المنذري.

[۴۳۴۵] (²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا أَبُو بَكْرٍ، حَدَّثَنَا مُغِيرَةُ بْنُ زِيَادٍ الْمَوْصِلِيُّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ، عَنِ الْعُرْسِ ابْنِ عَمِيرَةَ الْكِنْدِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الْأَرْضِ كَانَ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا، وَقَالَ: مَرَّةً أَنْكَرَهَا كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا".

دعرس بن عميره الکندي نه روايت دي فرمائي چه رسول پائد ﷺ فرمائيلي دي: کله چه په زمکه کښې ګناهونه کيږي او څوک ئې ويني اوبده ئې وګڼي ، مر، وئيلي دی چه دغه ګناه ئې بده رکنرله نويد، مثال دي دي لکه چا چه ګناه نه وي ليدلي اوچاچه دغه ګناه نه وي ليدلي نيکن هغه په دې ګناه باندې خوشحاله دي نودا داسي ده لکه چه ده دغه ګناه ليدلي وي.

﴿عَنِ الْعُرْسِ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الأَرْضِ كَانَ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا ». « كَمَنْ غَابَ عَنْهَا وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا ...الخ﴾

يعني کله چه په يو ځائې کښ څه ناجائز او حرام کارکيږي نو کوم سړې چه هلته د مخکښ نه موجود دي خو هغه ئې بد ګڼړي نو هغه د هغه سړي په شان دي کوم چه هغه ځائې کښ بالکل حاضر نه وي، او د دې برعکس چه کوم سړې په هغه ځائې کښ د خپل بدن په اعتبار سره غير موجود وي دي ناجائز کار لره هغه خوښوي نو هغه په حکم کښ د هغه سړي په شان دې کوم چه په هغه ځائې کښ موجود وي او په هغه کار کښ شريک وي.

[۴۳۴۶] (³) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ، عَنْ مُغِيرَةَ ابْنِ زِيَادٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، قَالَ: مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا.

¹): سنن الترمذي/الفتن ۱۲ (۲۱۷۴)، سنن ابن ماجه/الفتن ۲۰ (۴۰۱۱)، (تحفة الأشراف: ۴۲۳۴) (صحيح)
²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۸۹۴) (حسن)
³): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۸۹۴، ۱۹۰۰۶) (حسن)

\ عدي بن عدى د نبى عليه السلام نه د تير شوى روايت په شان روايت بيان كړې دې مګرددې اضافي سره چه: چاچه ګناه دكيدو په وخت كښې وليدله اوبده ئې وګڼړله نودې داسې دى لكه چه ده بلكل ليدلې نه وي.

[٤٣٤٧]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَحَفْصُ بْنُ عُمَرَ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، وَهَذَا لَفْظُهُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَقَالَ سُلَيْمَانُ، حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَنْ يَهْلِكَ النَّاسُ حَتَّى يَعْذِرُوا أَوْ يُعْذِرُوا مِنْ أَنْفُسِهِمْ".

دابو البخترى رحمه الله نه روايت دې فرمائى چه هغه چا راته خبرې راكړې دي چاچه دنبى عليه السلام نه اوريدلې ووچه فرمائيل ئې: خلق به هرګزهلاک نكړې شي ترڅوچه خلق ګناهونه كوي اودځان دپاره څه عذر پرى نږدي.

قوله: ﴿ حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « لَنْ يَهْلِكَ النَّاسُ حَتَّى يَعْذِرُوا أَوْ يُعْذِرُوا مِنْ أَنْفُسِهِمْ » ﴾ [٢].

شرح الحديث:

يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه خلق به نه هلاكيږى تردې چه د هغوى عيوب او معاصى غالب نه شى په دې كښې دواړه لغتونه دى ﴿ اعذر ﴾ د باب افعال نه او د عذر يعذر مجرد نه. پس د دې حاصل معنى دا ده او په اصل كښې دا د ﴿ قَالَ إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي عُذْرًا ﴾ د قبيلې نه دې او د دې يو مثال هغه دې كوم چه په آخر د كتاب كښې په باب الخلفاء كښې راروان دې د حجاج په كلام كښې ويا غديرى من عبد هذيل.

يعنى كه ما د دې نه پس تاسو نه څه سوال اوكړو نو بيا تاسو ما د خپل ځان سره مه ساتئ ګويا په دې صورت كښې به تاسو سره زما د نه ساتلو معقول عذر وى، هم دغه شان دلته هم ده چه خلق به تر هغه وخته پورې هلاک نه شى، يعنى الله پاک به هغوى ته عذاب نه وركوى تر څو چه د هغوى ګناهونه غالب رانشى، خو چه كله د هغوى معاصى غالب شى او د حد نه تيرې شى نو الله پاک به هغوى ته عذاب وركړى او ګويا د خلقو دا حالت به د الله پاک دپاره هغوى ته د عذاب وركولو يو معقول عذر وى.

[١]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٠/٤، ٢٩٣/٥) (صحيح)

[٢] وفي النهاية: ومنه الحديث [لن يَهْلِكَ النَّاسُ حتي يُعْذِرُوا من أنْفُسِهم] يقال: أعْذَرَ فلانٌ من نَفْسه إذا أمْكَن منها يَعْني أنهم لاَ يَهْلِكُون حتي تكثر ذُنُوبهم وعُيُوبهم فيسْتَوجبُون العُقُوبة ويكون لم يُعَذِّبهم عُذْرٌ كأنهم قامُوا بعُذْرِه في ذلك ويُروي بفتح الياء مَن عَذَرْتَه وهو بمعناه. وحقيقة عَذَرْت: مَحَوتُ الإساءة وطَمَسْتُها،

تنبيه: د خطابى او د بذل په نسخه كښې ﴿ لمن يعذبهم ﴾ مصحف كيدو سره ﴿ لمن بعدهم ﴾ جوړ شوې دې، فليتنبه)

بَابُ قِيَامِ السَّاعَةِ

باب د قيامت قائميدو بيان

دا د كتاب الفتن آخري باب دې، د ټولو فتنو انتهاء د قيام قيامت سره ده.

[٤٣٤٨](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ سُلَيْمَانَ، أن عبد الله بن عمر، قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ صَلَاةَ الْعِشَاءِ فِي آخِرِ حَيَاتِهِ فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ، فَقَالَ: "أَرَأَيْتُكُمْ لَيْلَتَكُمْ هَذِهِ فَإِنَّ عَلَى رَأْسِ مِائَةِ سَنَةٍ مِنْهَا لَا يَبْقَى مِمَّنْ هُوَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ أَحَدٌ، قَالَ ابْنُ عُمَرَ: فَوَهِلَ النَّاسُ فِي مَقَالَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ فِيمَا يَتَحَدَّثُونَ عَنْ هَذِهِ الْأَحَادِيثِ عَنْ مِائَةِ سَنَةٍ، وَإِنَّمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَبْقَى مِمَّنْ هُوَ الْيَوْمَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ يُرِيدُ بِأَنْ يَنْخَرِمَ ذَلِكَ الْقَرْنُ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ پخپل اخرى عمر كښې يوشپه دماسخوتن مونځ اوكړو هركله چه فارغ شو نو اودريدو او وئې فرمائيل ايا ستاسو ننۍ شپې ته خيال دې چه په ننۍ شپه كښې په ټوله زمكه كښې چه څومره انسانان دي په دوى كښې به يوكس هم سل كاله پس ژوندې نه وي، ابن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل خلقو چه دا واوريدل نو په غلط فهمۍ كښې مبتلا شول چه دې خو داسې حديث نقل كوي چه سل كاله پس به قيامت راځى اوحال دادې چه نبى عليه السلام فرمائيلي وو په زمكه كښې چه اوس څومره خلق دي په دوى كښې به يوكس هم سل كاله پس ژوندې نه وي ددې مطلب داوو چه دا دا نسل به تير شي اوبل نسل به شروع شي.

مضمون الحديث:

قوله: «فَإِنَّ عَلَى رَأْسِ مِائَةِ سَنَةٍ مِنْهَا لاَ يَبْقَى مِمَّنْ هُوَ عَلَى ظَهْرِ الأَرْضِ أَحَدٌ». الخ »(٢)

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي چه يوه ورځ رسول الله ﷺ مونږ ته د ماسخوتن مونځ راكړو په خپل آخرى ژوند كښې، د مانځه د سلام نه پس هغوى اودريدل او وې فرمائيل چه تاسو خپله دا شپه وينئ؟ په شرح كښې ليكلى دى چه د دې جواب محذوف دې تقديره : قالوا نعم قال فاضبطوها....... يعنى د دې مقام نه د صحابه كرامو رضي الله عنهم دا جواب په فهم كښې راځى او د مقام نه دا خبره په فهم كښې راځى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ښه بيا دا خبره په ذهن كښې اوساتئ. او هغه دا چه د دې شپې نه سل كاله پس به چه څومره خلق هم په زمكه باندې موجود دى په هغوى كښې به هيڅوك باقى نه وى، ابن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه د خلقو غلط فهمى پيدا شوه د رسول الله ﷺ د دې ارشاد په باره كښې او د دې سلو كالو په باره كښې ئې رائې وركول شروع كړل، يعنى دا ئې فهم كړه چه كيدې شى مراد ئې دا وى چه د دې شپې نه واخله تر سلو كالو پورې به قيامت راشى، هغوى فرمائى : حال دا چه د رسول الله ﷺ مراد

(١): صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٥٣ (٢٥٣٧)، سنن الترمذي/الفتن ٦٤ (٢٢٥١)، (تحفة الأشراف: ٦٩٣٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العلم ٤١ (١١٦)، مواقيت الصلاة ٢٠ (٦٠١) (صحيح)

(٢) بسط الكلام عليه ابن قتيبة في ((التاويل)) وقال المراد ((اي منكم))واجاب العيني ٥٧٢/٢ بان المراد من امته، وبسطه في ٥٨٣/١ والحافظ ٢٥٢/١، والنووي ٣١٠/٢، (هامش البذل)

دا وو چه دې وخت کښې چه هر څومره خلق موجود وی په هغوی کښې به څوک هم د هغوی نه سل پس نه وی، نه دا چه هيڅوک به هم په دنيا کښې باقی وی.
ابن بطال فرمائی چه د رسول الله ﷺ مقصد په دې ارشاد سره خلقو ته نصيحت کول دی او هغوی ته خبر ورکول دی د دې امت د عمرونو د کميدو او د دې چه د هغوی عمرونه د تيرو امتونو په شان اوږدهٔ نه دی چه هغوی په عبادت کښې کوششونه اوکړی. زه وايم چه د رسول الله ﷺ نصيحت صرف د صحابه کرامو په باره کښې نه وو بلکه دا نصيحت عام او دائمی دې، تقريبا د هرې زمانې په خلقو باندې صادق راځی لهذا د هرې زمانې خلقو لره د رسول الله ﷺ د ارشاد نه نصيحت حاصلول پکار دی.

(د ټولو نه په اخر کښې وفات شوې صحابی)

په صحابه کرامو ﷡ کښې د ټولو نه په اخر کښې وفات شوې ابو الطفيل عامر بن واثله ﷛ دې، يو قول د هغوی د وفات په باره کښې د ۱۰۰ هجرئ دې او دويم قول د ۱۱۰ هجرئ دې او په دواړو صورتونو کښې د رسول الله ﷺ د قول صداقت ښکاره دې ځکه چه رسول الله ﷺ دا خبره د خپل عمر شريف په آخره کښې فرمائيلې وه، په حاشيه د بذل کښې د سيوطی د تدريب نه نقل کړې دی چه د دې حديث نه په دې باندې استدلال کړې شوې دې چه که يو سړې د رسول الله ﷺ د وفات نه سل کاله پس د صحبت يعنی د خپل صحابی کيدو دعوی اوکړی نو هغه به ناقابل قبول وی. اهـ حضرت شيخ فرمائی واخرج احمد فی مسنده ۳۲۶/۲ انه قال ذلک قبل الموت بشهر اهـ.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

[۴۳۴۹]([1])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ سَهْلٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَنْ يُعْجِزَ اللَّهُ هَذِهِ الْأُمَّةَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ".

دابوثعلبه الخشني ﷛ نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی الله تعالی به دا امت دنيمې ورځې نه په کم وخت کښې نه ختموي (دنيمې ورځې نه مراد دقيامت دورځې نيمه ورځ ده يعنی پنځه سوه کاله).

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لَنْ يُعْجِزَ اللَّهُ هَذِهِ الأُمَّةَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ﴾ ([2]) رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی چه الله پاک به دا امت محروم نه کړی د نيمې ورځې نه، يعنی کم از کم د نيمې ورځې پورې دا امت به باقی وی د دې نه پس به قيامت راځی، د دې نيمې ورځې نه تر پنځه سوو کالو پورې مراد ده لکه چه په روستو حديث کښې راځی، د آخرت ورځ مراد دې کوم چه به د زرو کالو برابر وی، قال الله تعالی : وان يوما عندربک کالف سنة مما تعدون...([3])

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۶٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۹۳/٤) (صحيح)
[2]) وفي هامش البذل : وکذب ابن حزم في الملل والنحل ۱۰۵/۲ لمن عين للدنيا عمرا، وفي الدرر المنثور ۵/۲ : من مجموع المقطعات ما يدل علي ان عمرها ۱۷٤۰ سنة)
[3])ذکر القاري ۱۸۵/۵ تحت حديث ابن ماجه، الايات بعد الماتين احتمالا انهما بعد الالف اهـ راجع الي الاصل لو شئت)

[۴۳۵۰](١) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنِي صَفْوَانُ، عَنْ شُرَيْحِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ: النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا تَعْجِزَ أُمَّتِي عِنْدَ رَبِّهَا أَنْ يُؤَخِّرَهُمْ نِصْفَ ذَلِكَ الْيَوْمِ؟ قَالَ: خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ".

دسعد بن ابی وقاص نه روایت دي فرمائي چه نبی کریم فرمائیلی دي زه امید لرم چه زما امت به دومره عاجزه نه شي چه الله تعالی ورته نیمه ورځ مهلت ورنکړي سعد له ته خلقو اووئیل دنیمي ورځي څه مطلب دې؟ هغه په جواب کښې اووئیل پنځه سوه کاله.

آخر کتاب الملاحم

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب الحدود

د حدودو داحکامو بیان

(د حد لغوی او شرعی معنی):

حدود د حد جمع ده او حد وائی هغه څیز ته کوم چه د دواوڅیزونو ترمینځه حائل شی او د هغوی د اختلاط نه مانع وی، حدود شرعیه ته حدود په دې وجه وائی چه هغه هم مانع وی د فاعل دپاره د دوباره ارتکاب نه، او د بل سړی دپاره هم د انزجار باعث وی، **وفي الهداية : الحد لغة هو المنع ومنه الحداد للبواب وفي الشريعة هو العقوبة المقدرة حقا لله تعالى حتى لا يسمى القصاص حدا لأنه حق العبد ولا التعزير لعدم التقدير**، یعنی حد د هغه مقرره سزا نوم دې چه حق دې د الله پاک هم په دې وجه د هغې قائمول ضروری دی بخښنه کول په دې کښې جائز نه دی، په خلاف د قصاص چه هغه حق العبد دې هم په دې وجه صاحب حق (ولی د مقتول) لره د هغې د معاف کولو حق دې لهذا دې ته به حق نه شی وئیلې کیدې او نه به تعزیر ته د عدم تقدیر او عدم تعیین د وجې نه، بیا وړاندې په دې کښې دی : **والمقصد الأصلي من شرعه الانزجار عما يتضرر به العباد والطهارة ليست أصلية فيه بدليل شرعه في حق الكافر**، دا وئیل غواړی چه حدود زاجرات دی نه مکفرات چه مشهوره اختلافی مسئله ده.

امام بخاری او امام ترمذی خو په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې، **باب ما جاء ان الحدود كفارة لاهلها**، هم په دې وجه زمونږ په نزد دلته سره د حد جاری کیدو د توبې وجوب باقی وی، صاحب هدایه د دې دلیل دا بیان کړې دې چه ګورئ حدود د کافر په حق کښې هم مشروع دی او ښکاره خبره ده چه د کافر په حق کښې طهارت نه پاتې کیږی **قال الراغب : ويطلق الحدود ويراد بها نفس المعاصي كما في قوله تعالى وتلك حدود الله فلا تقربوها** (من الاوجز)

---

١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٣٨٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٠/١) (صحيح)

باب الحُكْمِ فِيمَنِ ارْتَدَّ

د مرتد د احکامو بیان

[۴۳۵۱](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، أَنَّ عَلِيًّا عَلَيْهِ السَّلَامُ أَحْرَقَ نَاسًا ارْتَدُّوا عَنِ الْإِسْلَامِ، فَبَلَغَ ذَلِكَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ: لَمْ أَكُنْ لِأُحَرِّقَهُمْ بِالنَّارِ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللَّهِ وَكُنْتُ قَاتِلَهُمْ بِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ، فَبَلَغَ ذَلِكَ عَلِيًّا عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَقَالَ: وَيْحَ ابْنِ عَبَّاسٍ".

عکرمه دابو ایوب رضی الله عنه نه روایت کوی فرمائی چه علی رضی الله عنه هغه خلق سوزولي وو څوک چه مرتد شوي وو، ابن عباس ته چه کله ددې خبرې اطلاع ملاو شوه نوهغه اوفرمائيل که چرې زه په دغه وخت کښې موجود وې نو مابه دوی نه وو سوزولي ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائيلی دی دالله تعالی په مخصوص عذاب باندې چاته عذاب مه ورکوئ بلکه مابه ددين نه اوريدونکوته د حضور صلی الله علیه وسلم د فرمان مطابق سزا ورکړې وه او قتل کړي به مې وو ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائيلی دی څوک چه د دين اسلام په پريخودوسره بل دين اختيار کړي نوده لره قتل کړئ، کله چه دابن عباسه دفرمان اطلاع علی ته ورسيده نووې فرمائيل شاباس اې ابن عباسه (يعنی علی نه دابن عباس راې خوښه کړه).

قوله: ﴿ عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ عَلِيًّا رضی الله عنه أَحْرَقَ نَاسًا ارْتَدُّوا عَنِ الإِسْلاَمِ فَبَلَغَ ذَلِكَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ لَمْ أَكُنْ لأُحَرِّقَهُمْ بِالنَّارِ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لاَ تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللَّهِ ». وَكُنْتُ قَاتِلَهُمْ بِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ ». فَبَلَغَ ذَلِكَ عَلِيًّا رضی الله عنه فَقَالَ وَيْحَ ابْنَ عَبَّاسٍ ﴾

شرح الحديث:

يعنى علی رضی الله عنه څه خلقو لره چه مرتد شوی وو د اسلام نه د احراق بالنار سزا ورکړه، سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما ته چه کله د دې خبر ملاؤ شو چه دغه وخت کښ د بصرې امير وو د علی رضی الله عنه د طرف نه نو هغوی اوفرمائيل چه که زه اوم نو هغوی ته به مې د تحريق سزا نه ورکوله، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلې دی ﴿ لا تعذبوا بعذاب الله ﴾ بلکه ما به هغوی قتل کړې وې ځکه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دې: ﴿ من بدل دينه فاقتلوه ﴾ چه کوم انسان مرتد شی هغه قتل کړئ،

(د ويح معنى)

چه کله علی رضی الله عنه ته د ابن عباس رضی الله عنهما دا قول ملاؤ شو نو هغوی اوفرمائيل: ﴿ ويح ابن عباس ﴾ چه ابن عباس رضی الله عنهما څه ښکلې خبره فرمائيلې ده پس د ترمذی په روايت کښ په ځائې د ﴿ويح﴾ صدق ابن عباس رضی الله عنهما ذکر دي، د اکثرو اهل علمو رائې دا ده کما قال القاری چه لفظ ويح د د

---

١): صحيح البخاري/الجهاد ١٤٩ (٣٠١٧)، المرتدين ٢ (٦٩٢٢)، سنن الترمذي/الحدود ٢٥ (١٤٥٨)، سنن النسائي/المحاربة ١١ (٤٠٦٤)، سنن ابن ماجه/الحدود ٢ (٢٥٣٥)، (تحفة الأشراف: ٥٩٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٢/١، ٢٨٣، ٣٢٣) (صحيح)

خوښولو داظهار دپاره راځي، او دويم قول په دې کښې دا دې چه دا کلمه د ترحم ده او دا به په هغه صورت کښې وی چه کله دا اوئيلې شي چه هغوی د ابن عباس رضي الله عنهما اعتراض لره نه وی خوښ کړې ځکه چه د هغوی په نزد ﴿ لا تعذبوا بعذاب الله ﴾ دا نهی د تنزيه دپاره ده، په خلاف د ابن عباس رضي الله عنهما چه هغوی دا قول په تحريم باندې محمول کولو سره په علی رضي الله عنه باندې نکير فرمائيلې دې.

زمونږ په نسخه هم داسې دی ﴿ ويح ابن عباس ﴾ او په يو نسخه کښې دی ﴿ ويح ام ابن عباس ﴾ د لفظ ام په زيادت سره او په بله نسخه کښې دی ﴿ ابن ام عباس ﴾ قال صاحب العون انه سهو من الكاتب.

په قتل د مرتد او مرتده کښې اختلاف د ائمة :

امام ترمذی رحمه الله د دې حديث په باره کښې فرمائی : والعمل على هذا عند أهل العلم في المرتد واختلفوا في المرأة إذا ارتدت عن الإسلام فقالت طائفة من أهل العلم تقتل وهو قول الأوزاعي و أحمد و إسحق وقالت طائفة منهم تحبس ولا تقتل وهو قول سفيان وغيره من أهل الكوفة، يعنی مرتد که سړې وی نو د دې په باره کښې خو اتفاق دې چه د هغه سزا قتل دې آيا مخکښې د توبې طلب کولو نه يا پس د هغې نه؟ دا مسئله مختلف فيه ده جمهور د استتابة قائل دې او د حسن بصری او اهل ظاهر په نزد د هغوی قتل فی الحال واجب دې مخکښې د توبې نه، اوس دا چه د دې استتابة چه جمهور ئې قائل دی هغه په طريق د وجوب دې يا په طريق د استحباب، د مالکيانو په نزد معروف وجوب دې او د احنافو په نزد دلته استحباب فی اللامع. او د شوافعو او د حنابله په نزد په دواړه روايتونو دی وجوب او استحباب. (تراجم بخاری) او د مرتدې زنانه په باره کښې اختلاف دې د ائمه ثلاثه په نزد. كما في اللامع عن الموفق. د سړی او ښځې ترمينځه په دې مسئله کښې هيڅ فرق نشته د دواړو حکم قتل دې، او امام ابوحنيفه رحمه الله ﴿ تجبر على الاسلام بالحبس والضرب ولا تقتل لقوله صلى الله عليه وسلم لا تقتلوا امراءة، ولانها لا تقتل بالكفر الاصلی فلا تقتل بالطاری كالصبی ﴾ يعنی د کافرې حربی په باره کښې چه کله دا دی چه هغه نه شی قتل کولې چه د هغې کفر اصلی دې هم دغه شان به مرتده هم نه شی قتل کولې چه د هغې کفر طارئ دې هم دغه شان د احنافو تائيد د دې نه هم کيږی چه صديق اکبر رضي الله عنه د نساء بنو حنيفه استرتاق فرمائيلې وو او هغوی ئې نه وې قتل کړې، پس په هغوی کښې يوې زنانه هغوی سيدنا علی رضي الله عنه ته ورکړې وه چه د هغې نه محمد بن الحنفية پيدا شو. (لامع)

والحديث اخرجه البخاری والترمذی والنسائی وابن ماجه مختصرا ومطولا، قاله المنذری.

[٤٣٥٢] [1] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحِلُّ دَمُ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ

[1]): صحيح البخاري/الديات ٦ (٦٨٧٨)، صحيح مسلم/القسامة ٦ (١٦٧٦)، سنن الترمذي/الديات ١٠ (١٤٠٢)، سنن النسائي/المحاربة ٥ (٤٠٢١)، سنن ابن ماجه/الحدود ١ (٢٥٣٤)، (تحفة الأشراف: ٩٥٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨٢/١، ٤٢٨، ٤٤٤، ٤٦٥)، دي/الحدود ٢ (٢٣٤٤) (صحيح)

إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: الثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ".

دعبدالله رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلي وو حلال نه دی وژل دهغه مسلمان څوک چه دلا اله الاالله ګواهی ورکوي اوددې خبرې ګواهی ورکوي چه زه دالله رسول یم، خو په یو ددرې خبرو سره یو دنکاح کولونه پس چه څوک زنا وکړي دویم دنفس په بدل کښې نفس دریم هغه څوک چه مرتد شي او دین اسلام پریږدی او بل دین اختیار کړي اودمسلمانانو دجماعت نه جدا شي.

﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ يَحِلُّ دَمُ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّى رَسُولُ اللَّهِ إِلاَّ بِإِحْدَى ثَلاَثٍ الثَّيِّبُ الزَّانِى وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ .....الخ﴾

یعنی د مسلمانانو وینه د درې وجهو نه حلاله کیدې شي یو زنا پس د احصان نه، چه د محصن کیدو باوجود زنا کوی او بل په قصاص کښې، او دریم د ارتداد د وجې نه.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[٤٣٥٣](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ الْبَاهِلِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: رَجُلٌ زَنَى بَعْدَ إِحْصَانٍ فَإِنَّهُ يُرْجَمُ، وَرَجُلٌ خَرَجَ مُحَارِبًا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ فَإِنَّهُ يُقْتَلُ أَوْ يُصْلَبُ أَوْ يُنْفَى مِنَ الْأَرْضِ، أَوْ يَقْتُلُ نَفْسًا فَيُقْتَلُ بِهَا".

دعائشه رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: حلال نه دی وژل دهغه مسلمان څوک چه دلا اله الاالله ګواهی ورکوي اوددې خبرې ګواهی ورکوي چه زه دالله رسول یم، خو په یو ددرې خبرو سره یو دنکاح کولونه پس چه څوک زنا وکړي څکه چې دي به رجم کولې شي دویم هغه کس چه دالله اودرسول سره دجنګ دپاره راپاڅیدلي وي څکه چه دي به قتل کولې شي یابه پهانسي کولې شي اویابه شړلي شي دملک نه اودریم وژل دیونفس څکه چه دي به دهغي په بدل کښې کولی شي.

﴿عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلاَّ فِى خَدَى ثَلاَثٍ رَجُلٌ زَنَى بَعْدَ إِحْصَانٍ فَإِنَّهُ يُرْجَمُ وَرَجُلٌ خَرَجَ مُحَارِبًا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ فَإِنَّهُ يُقْتَلُ أَوْ يُصْلَبُ أَوْ يُنْفَى مِنَ الأَرْضِ أَوْ يَقْتُلُ نَفْسًا فَيُقْتَلُ بِهَا »﴾

په دې حدیث کښې هم د دریو ذکر دې یو زنا بعد الاحصان، او دویم رجل محارب، دریم قاتل نفس یعنی قصاص، په دې حدیث کښې په ځائې د تارک لدینه رجل محارب ذکر دې.

وړاندې په کتاب کښې د دې مستقل باب راروان دې، باب ما جاء فی المحاربة، لهذا په دې باندې به کلام هم هلته راځی، ان شاء الله تعالی، والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

[٤٣٥٤](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، قَالَ مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا قُرَّةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بُرْدَةَ، قَالَ: قَالَ أَبُو مُوسَى: أَقْبَلْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعِي رَجُلَانِ

¹): سنن النسائي/المحاربة ٩ (٤٠٥٣)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨١/٦، ٢١٤) (صحيح)

²): صحيح البخاري/المرتدين ٢ (٦٩٢٣)، صحيح مسلم/الامارة ٣ (١٧٣٣)، سنن النسائي/الطهارة ٤ (٤)، (تحفة الأشراف: ٩٠٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠٩/٤) (صحيح)

مِنَ الْأَشْعَرِيِّينَ، أَحَدُهُمَا عَنْ يَمِينِي وَالْآخَرُ عَنْ يَسَارِي فَكِلَاهُمَا سَأَلَ الْعَمَلَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاكِتٌ فَقَالَ: "مَا تَقُولُ يَا أَبَا مُوسَى أَوْ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ، قُلْتُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أَطْلَعَانِي عَلَى مَا فِي أَنْفُسِهِمَا وَمَا شَعَرْتُ أَنَّهُمَا يَطْلُبَانِ الْعَمَلَ وَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى سِوَاكِهِ تَحْتَ شَفَتِهِ قَلَصَتْ، قَالَ: لَنْ نَسْتَعْمِلَ أَوْ لَا نَسْتَعْمِلُ عَلَى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ وَلَكِنِ اذْهَبْ أَنْتَ يَا أَبَا مُوسَى أَوْ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ فَبَعَثَهُ عَلَى الْيَمَنِ ثُمَّ أَتْبَعَهُ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ، قَالَ: فَلَمَّا قَدِمَ عَلَيْهِ مُعَاذٌ قَالَ: انْزِلْ وَأَلْقَى لَهُ وِسَادَةً وَإِذَا رَجُلٌ عِنْدَهُ مُوثَقٌ قَالَ: مَا هَذَا؟ قَالَ: هَذَا كَانَ يَهُودِيًّا فَأَسْلَمَ ثُمَّ رَاجَعَ دِينَهُ دِينَ السُّوءِ، قَالَ: لَا أَجْلِسُ حَتَّى يُقْتَلَ قَضَاءُ اللَّهِ وَرَسُولِهِ، قَالَ: اجْلِسْ نَعَمْ، قَالَ: لَا أَجْلِسُ حَتَّى يُقْتَلَ قَضَاءُ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَأَمَرَ بِهِ، فَقُتِلَ ثُمَّ تَذَاكَرَا قِيَامَ اللَّيْلِ فَقَالَ أَحَدُهُمَا: مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ أَمَّا أَنَا فَأَنَامُ وَأَقُومُ أَوْ أَقُومُ وَأَنَامُ وَأَرْجُو فِي نَوْمَتِي مَا أَرْجُو فِي قَوْمَتِي".

دابوموسی رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم او زما سره دوه کسه اشعریان هم وویوزمابني طرف ته وو اوبل کس طرف ته دواړو دنبی علیه السلام نه دعاملتوب مطالبه کوله اونبی علیه السلام خاموش ناست وو بیا ئې اوفرمائی اې ابوموسی یا اې عبدالله بن قیس ته په دې سلسله کښې څه وائې؟ ماعرض اوکړو په هغه ذات مې دې قسم وي چاچه ته په حقه پیغمبر رالیږلې یې دوی دواړو زه دخپل زړه دخبرې نه نه وم خبرکړې اوماته معلومه نه وه چه دوی عاملین مقرریدل غواړي ابوموسی وائی ګویاکښې ما په دې وخت کښې دنبی علیه السلام مسواک ته کتل کوم چه دهغه دشوندو دلاندې وو او شونډه ئې ورله پورته کړې و، بیانبی علیه السلام اوفرمائیل مونږ پخپلو کارونوباندې هغه څوک نه مقرروو څوک چه ددې غوښتل کوي لیکن اې ابوموسی یاعبدالله بن قیس ته لاړ شه اوبیانبی علیه السلام ابوموسی لره دیمن ګورنر مقرر کړو او په دې پسې ئې بیا معاذ بن جبل رضی الله عنه ولیږلو کله چه معاذ ابوموسی ته ورسیدو نوهغه معاذ ته اووئیل کوز شه اودهغه دپاره یې بیوه تکیه ایخودلې وه معاذ ده چه وکتل نویوکس په پړو تړلې شوې وو تپوس ئې وکړو داڅوک دې؟ ابوموسی ورته اووئیل دا یو یهودي وو بیائې اسلام قبول کړو اوس داسلام نه دوباره اوریدلې دې اوخپل زوړ ناکاره دین ته ورګرځیدلې دې معاذ رضی الله عنه اووئیل زه ترهغې پورې نه کینم ترڅوچه دا کس دالله اودهغه درسول دحکم مطابق قتل نکړې شي، ابوموسی ورته اووئیل ته خوکښینه همداسې به وشي معاذ رضی الله عنه اووئیل زه به هیڅ کله کښېنم ترڅوچه دا کس دالله اودهغه درسول دحکم مطابق قتل نکړې شي، درې پیرې ئې داسې اوفرمائیل نو په دې وخت کښې ابوموسی اشعری و حکم وکړو او دې قتل کړې شو، ددینه پس ابوموسی او معاذ رضی الله عنهما دواړو دشپې دشوګیري په باره کښې (دنوافلو دپاره) خبرې شروع کړې پدوی دواړوکښې یوکس اووئیل شاید معاذکاروئیل زه دشپې خوب هم کوم اوعبادت هم کوم یا عبادت هم کوم اوخوب هم کوم او زما امید دې چه ماته به په خوب کښې هم دومره اجر ملاو شي څومره چه په عبادت کښې ملاویږي.

قوله: ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ وَمُسَدَّدٌ قَالَ أَبُو مُوسَى أَقْبَلْتُ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَمَعِي رَجُلَانِ مِنَ الْأَشْعَرِيِّينَ أَحَدُهُمَا عَنْ يَمِينِي وَالْآخَرُ عَنْ يَسَارِي الخ ﴾

مضمون الحديث :

ابو موسى اشعرى رضي الله عنه فرمائي چه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې روان اوم، ما سره د قبيله اشعر دوه سړي نور شو زما نه ښي او ګس طرف ته، د رسول الله ﷺ خدمت ته د راتلو نه پس دې دواړو د رسول الله ﷺ نه عمل طلب کړو يعني دا چه هغوي لره د يو ځائي عامل جوړ کړې شي، رسول الله ﷺ په دې سوال باندې خاموش پاتې شو او زما طرف ته متوجه کيدو سره ئې اوفرمائيل چه تاسو څه وايئ، په ظاهره ئې مطلب دا دې چه تاسو د دوی د سفارش دپاره راغلي يئ لکه چه د صورت حال نه معلوميږي، هغوي فرمائي چه ما عرض اوکړو چه قسم په الله ماته دې دواړو خپل غرض نه وو بيان کړې او نه زما په ذهن کښې دا خبره وه چه دا په دې وجه راغلي دي، رسول الله ﷺ زما جواب اوريديو سره اوفرمائيل : ﴿لَنْ نَسْتَعْمِلَ عَلَى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ﴾ چه مونږ يو داسې چالره عامل نه جوړو کوم چه د دې طالب او خوښونکې وي، په دې روايت کښې دا هم دی ﴿وَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى سِوَاكِهِ تَحْتَ شَفَتِهِ قَلَصَتْ﴾ ابوموسى رضي الله عنه فرمائي چه د کوم وخت دا واقعه ده په دغه وخت کښې رسول الله ﷺ مسواک فرمائيلو او مسواک ئې د شونډو مبارکو نه لاندې وو چه د هغې په وجه ئې شونډه مبارکه پورته اوچتيدله، ګويا دا منظر زما مخې ته دې، او د بذل نه معلوميږي چه حضرت د دې مفهوم دا اخستلې دې چه دا د رسول الله ﷺ د شونډو اوچتيدل په مسواک کولو کښې د اودريدو د وجې نه وه ﴿تاسفا على سوالهما﴾ يعنى چونکه په رسول الله ﷺ باندې د دې دوه کسانو سوال بد اولګيدو نو په افسوس کښې ئې د شونډو نه لاندې مسواک نيولې وو. والله تعالى اعلم.

د حديث دا ټکړه مختصرا په كتاب القضاء باب فى طلب القضاء کښې تيره شوې ده، او د دې نه مخکښې په كتاب الطهارة کښې، باب كيف يستاك کښې تيره شوی ده، او دلته دا لفظ دې : وهو يستاك وقد وضع السواك على طرف لسانه، او هلته د دې په باره کښې يو بل اختلاف روايات هم تير شوې دې، استحمال او استعمال دواړه بيل بيل واقعات دی، فارجع اليه.

وړاندې په حديث کښې دی چه رسول الله ﷺ ابوموسى اشعرى رضي الله عنه ته اوفرمائيل : ﴿وَلَكِنِ اذْهَبْ أَنْتَ يَا أَبَا مُوسَى فَبَعَثَهُ عَلَى الْيَمَنِ ثُمَّ أَتْبَعَهُ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ﴾ د ابوموسى ملګرو خو چونکه عمل طلب کړې وو په دې وجه رسول الله ﷺ هغوی ته انکار اوفرمائيلو او ابوموسى رضي الله عنه چونکه د دې په باره کښې غوښتونکې بالکل نه وو بلکه د خپلو ملګرو د طلب عمل نه هم ويريدلې وو په دې وجه رسول الله ﷺ وفرمائيل چه تاسو د دې اهل يئ مونږ تالره عامل جوړولو سره ليږو، او بيا د دې نه روستو معاذ بن جبل رضي الله عنه هم رسول الله ﷺ راوليږلو.

دا د بعث معاذ رضي الله عنه روايت په كتاب الزكوة کښې هم تير شوې دې او هلته دا اختلاف هم تير شوې دې چه سيدنا معاذ رضي الله عنه لره رسول الله ﷺ والى ليږلې وو يا که قاضى، خو بهر حال رسول الله ﷺ دې دواړو لره بيل بيل مستقل د عمل دپاره ليږلې وو، پس د بخارى په يو روايت کښې دی کما فى العون ﴿ان كلا منهما كان على عمل مستقل﴾ يعنى د دواړو علاقې بيلې بيلې وې او دا هم راځي چه کله به هغوی يو بل ته نزدې کيدل نو خپل مينځ کښې به ئې

یو بل سره ملاقات کولو.

قوله: ﴿ قَالَ فَلَمَّا قَدِمَ عَلَيْهِ مُعَاذٌ قَالَ انْزِلْ. وَأَلْقَى لَهُ وِسَادَةً فَإِذَا رَجُلٌ عِنْدَهُ مُوثَقٌ الخ ﴾ يعنى معاذ ﷺ چه په شروع کښ کله يمن ته اورسيدو نو ابوموسى اشعرى ﷺ سره کوز شو، ابو موسى ﷺ د هغوى په ليدو باندې د هغوى دپاره تکيه راغوښتلو سره کيخودله. سيدنا معاذ ﷺ هغوى سره يو قيدى تړلې اوليدو نو هغوى د سورلئ نه د کوزيدو نه مخکښ تپوس اوکړو چه دا څوک دې ابو موسى ﷺ اوفرمائيل چه دا يهودى وو او اسلام ئې قبول کړې وو بيا مرتد شو نو معاذ ﷺ اوفرمائيل چه زه نه کينم ترڅو چه ته په دهٔ باندې حد جارى نه کړې يعنى قتل چه د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ فيصله ده، هغوى اوفرمائيل تاسو کينئ دا کار هم اوس کوم، هغوى اوفرمائيل زه نه کينم ترڅو چه تاسو دې قتل کړې نه وى، مطلب دا دې چه تاسو زما د اعزاز او اکرام فکر مه کوئ کوم کار چه ډير ضرورى او اهم دې يعنى د حدود الله تنفيذ هغه اول اوکړئ، پس هغوى هغه سړې قتل کړو، بيا هغوى د ابوموسى ﷺ سره په اطمينان باندې کيناستل **﴿ ثم تذاكرا قيام الليل ﴾** يعنى خپل مينځ کښ ئې خبرې اترې کولې او د خبرو ترمينځه د تهجد او د قيام ليل ذکر هم راغلو، دلته په روايت کښ دى چه سيدنا معاذ ﷺ اوفرمائيل چه زما عادت خو د شپې په اوده کيدو او آرام کولو کښ هم دا دې او د مونځ کولو هم، **﴿ وارجو فى نومتى ما ارجو فى قومتى ﴾** او زه خو د الله پاک نه په خپل خوب باندې هم د هغه ثواب اميد لرم د کوم اميد چه ترې نه په قيام کښ لرم، په دې روايت کښ د ابوموسى ﷺ حال ذکر نه دې چه هغوى به د شپې څه څه کول، د کلام د سياق نه معلوميږى چه هغوى به په عبادت کښ مبالغه کوله هم په دې وجه سيدنا معاذ ﷺ د هغې په مقابله کښ خپل معمول بيان کړو، پس حافظ ليکى: **وفى رواية سعيد بن ابى بردة:فقال ابوموسى اقراؤه قائما وقاعدا وعلى راحلتى واتفوقه تفوقا اى الازم قراءته فى جميع الاحوال.** يعنى هغوى اوفرمائيل چه زه خو په هر حال کښ د قرآن کريم تلاوت کوم. او د هغوى قراءت دې هم ډير مشهور ډير په ښکلى آواز سره به ئې قرآن لوستلو، پس يو ځل رسول الله ﷺ د هغوى قراءت اوريدلو سره اوفرمائيل: **اعطيت مزمارا من مزامير داؤد،** د دې حديث نه معلومه شوه چه د حد ثابتيدلو نه پس د هغې په تنفيذ کښ ناوخته کول نه دى پکار.

والحديث فيه اكرام الضيف والمبادرة الى انكار المنكر، واقامة الحد على من وجب عليه وان المباحات يوجر عليها بالنية اذا صارت وسائل للمقاصد الواجبة او المندوبة، او تكميلا لشئ منهما اه (عون) والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائى، قاله المنذرى

[٤٣٥٥] (١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا الْحِمَّانِيُّ يَعْنِي عَبْدَ الْحَمِيدِ ابْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى، وَبُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: "قَدِمَ عَلَيَّ مُعَاذٌ وَأَنَا بِالْيَمَنِ وَرَجُلٌ كَانَ يَهُودِيًّا، فَأَسْلَمَ فَارْتَدَّ عَنِ الْإِسْلَامِ، فَلَمَّا قَدِمَ مُعَاذٌ، قَالَ: لَا أَنْزِلُ عَنْ دَابَّتِي حَتَّى يُقْتَلَ، فَقُتِلَ قَالَ: أَحَدُهُمَا وَكَانَ قَدِ اسْتُتِيبَ قَبْلَ ذَلِكَ".

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٠٧٣) (صحيح)

د ابوموسی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه معاذ زما خواته راغې اوزه په یمن کښې وم یو یهودي سړې مسلمان شوې وو اوبیا د اسلام نه بیرته ګرځیدلې وو هرکله چه معاذ راغې نوونې وئیل زه دخپلې سورلئ نه ترهغه وخته پورې نه کوزیږم ترڅوچه دې قتل شوې نه وي نودې قتل کړې شو راوی وائی په دوی دواړو کښې یوکس اووئیل ددې یهودي نه دقتل کولونه مخکښې دتوي غوښتنه هم شوې وو.

قوله: ﴿وکان قد استتیب قبل ذلک﴾ د تیر شوی روایت نه په ظاهره معلومیږی چه د دې رجل موثق قتل قبل الاستتابة کړې شوې وو، په دې روایت کښې دا زیادت دې چه داسې نه ده بلکه د دې نه مخکښې استتابة کړې شوې وو، او د دې نه په روستو روایت کښې راځی ﴿قال فاتی ابوموسی برجل قد ارتد عن الاسلام فدعاه عشرین لیلة او قریبا منها﴾

[۴۳۵۶] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا حَفْصٌ، حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: فَأُتِيَ أَبُو مُوسَى بِرَجُلٍ قَدِ ارْتَدَّ عَنِ الْإِسْلَامِ، فَدَعَاهُ عِشْرِينَ لَيْلَةً أَوْ قَرِيبًا مِنْهَا، فَجَاءَ مُعَاذٌ فَدَعَاهُ فَأَبَى، فَضَرَبَ عُنُقَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ -٣- لَمْ يَذْكُرِ الِاسْتِتَابَةَ وَرَوَاهُ ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي مُوسَى لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ الِاسْتِتَابَةَ.

د ابوبرده نه هم دا حدیث مروی دې مګر په دې روایت کښې داسې دی چه ابوموسی اشعری هته یوکس راوستلی شو کوم چه مرتد شوې وو هغه ورته اسلام ته دواپس کیدو او دنوي ویستلو دپاره دشلو ورځو پورې ترغیب ورکړو بیامعاذ رضی الله عنه راغې هغه هم ورته اووئیل چه اسلام قبول کړه لیکن ده انکار وکړو نودده څټ اووهلې شو (قتل کړې شو) امام ابوداؤد فرمائی چه دا حدیث دعبدالملک بن ابو برده نه هم منقول دې لیکن دنوي ذکر په کښې نشته اوابن فضل هم دا روایت دشیباني نه اوهغه دسعید بن ابی برده اوهغه دخپل پلار ابوموسی نه داستغفار دمطالبي دذکر نه بغیر بیان کړې دې.

داستتابة په باره کښې روایات مختلف دی لکه چه وړاندې مصنف رحمه الله پخپله فرمائی.

حدیث عبدالملک اخرجه البخاری مرسلا، وطریق فضیل اخرجه البخاری، ومسلم؛ قاله المنذری.

[۴۳۵۷] (۲) حَدَّثَنَا ابْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنِ الْقَاسِمِ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ: فَلَمْ يَنْزِلْ حَتَّى ضُرِبَ عُنُقُهُ وَمَا اسْتَتَابَهُ.

د قاسم نه هم دا روایت منقول دې لیکن په دې روایت کښې داسې دی چه معاذ دخپلې سورلئ نه دهغه وخته پورې نه کوزیدو ترڅوچه دده څټ نه وو وهلې شوې اودده نه دتوي ویستلو غوښتنه نه وه شوې.

[۴۳۵۸] (۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ يَكْتُبُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَزَلَّهُ الشَّيْطَانُ فَلَحِقَ بِالْكُفَّارِ فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقْتَلَ يَوْمَ الْفَتْحِ، فَاسْتَجَارَ لَهُ عُثْمَانُ بْنُ

(۱): تفرد به أبو داود، انظر حدیث رقم: ۴۳۵۴، (تحفة الأشراف: ۹۰۹۶، ۹۱۱۳، ۱۹۱۹۵) (صحیح الإسناد)
(۲): تفرد به أبو داود، انظر حدیث رقم: (۴۳۵۴)، (تحفة الأشراف: ۹۰۹۶) (ضعیف الإسناد)
(۳): سنن النسائي/المحاربة ۱۲ (۴۰۷۴)، (تحفة الأشراف: ۶۲۵۲) (حسن الإسناد)

عَفَّانَ فَأَجَارَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د ابن عباس به نه روایت دي فرمائي چه عبدالله بن سعد بن سرح دنبي ﷺ کاتب وو ده لره شیطان دوکه کړې وو او د کافرانوسره یوځائې شوې وو په کومه ورځ چه مکه فتح شوه په دغه ورځنبي ﷺ دده دقتل کولوحکم اوکړو بیا دده دپاره عثمان بن عفان به پناه وغوښتله نبي کریم به ورته پناه ورکړه اودوباره په اسلام کښې داخل شو.

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي لسَرْحٍ يَكْتُبُ لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَأَزَلَّهُ الشَّيْطَانُ﴾

شرح الحديث:

یعني عبدالله بن سعد بن ابی سرح چه د حضرت عثمان رضي الله عنه رضاعي رور وو د رسول الله ﷺ د کاتبینو نه وو رسول الله ﷺ به په هغه باندې لیکل کول، شیطان هغوی په لعزش کښې اخته کړل بیا هغه د کفارو سره ملاؤ شو، د فتح مکه په ورځ رسول الله ﷺ د هغه د قتل حکم ورکړو خو هغه په تیخته د سیدنا عثمان رضي الله عنه په پناه کښې راغلو، رسول الله ﷺ د هغوی امن قائم اوساتلو. دا روایت مختصر دې، د دې نه په روستو روایت کښې تفصیل دې او هغه تفصیل په کتاب الجهاد کښې تیر هم شوې دې، باب قتل الاسیر ولا یعرض علیه الاسلام د لاندې او هلته د دې روایت هم کوم چه دلته راغلې دې حواله ورکړې شوې ده، او اشکال و جواب هم کوم چه په دې مقام باندې وی، دلته په بذل کښې حضرت د هغې په باره کښې لیکلې دی: قال في فتح الودود وفيه ان التوبة عن الكفر في حياته ﷺ كانت موقوفة على رضاه ﷺ ﴾ دومره خبره په "درمنضود" کتاب الجهاد کښې تیره شوې ده د علامه سندی نه، دلته په بذل کښې حضرت په دې باندې دا اضافه فرمائیلې ده: قلت لعله مخصوص بمن امر النبي ﷺ باهدار دمه قبل ذلك، یعنی علامه سندی چه دا فرمائیلی دی چه د رسول الله ﷺ په ژوند کښې د توبه عن الکفر معتبر وه د رسول الله ﷺ په رضا باندې، حضرت فرمائی چه داسې مطلقا نه ده بلکه دا د هغه سړی په باره کښې ده کوم ته چه رسول الله ﷺ مهدر الدم وئیلې وی، لکه چه دلته د عبدالله بن سعد بن ابی سرح سره اوشوه.

پورته په حدیث کښې راغلی دی، د ابن ابی سرح په باره کښې، ﴿ فازله الشيطان ﴾ کیدې شی چه دا زلة هم هغه وی کوم چه د هغه په ترجمه کښې په اسد الغابة کښې د هغه په حالاتو کښې ذکر دې په هغې کښې لیکلې شوې دی چه دې سړی به د رسول الله ﷺ دپاره وحی لیکله بیا مرتد کیدو سره د مشرکینو سره یوځائې شو او هغوی ته ئې اووې چه ﴿ انی کنت اصرف محمدا حیث ارید ﴾ چه ما به د رسول الله ﷺ مخ چرته چه اړول غوښتل اړولو به مې، هغه به په ما باندې املاء کوله، عزیز حکیم ﴿ فاقول ﴾ او ﴿ علیم حکیم ﴾ فیقول نعم کل سواء یعنی رسول الله ﷺ به ماته فرمائیل د عزیز حکیم د لیکلو نو ما به ورته اووې چه علیم حکیم اولیکم؟ نو هغوی به فرمائیل چه او اولیکه دواړه برابر دی.

والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

[۴۳۵۹](١)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ نَصْرٍ، قَالَ زَعَمَ السُّدِّيُّ: عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ فَتْحِ مَكَّةَ اخْتَبَأَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ عِنْدَ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، فَجَاءَ بِهِ حَتَّى أَوْقَفَهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ بَايِعْ عَبْدَ اللَّهِ، فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَنَظَرَ إِلَيْهِ ثَلَاثًا كُلَّ ذَلِكَ يَأْبَى، فَبَايَعَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ: "أَمَا كَانَ فِيكُمْ رَجُلٌ رَشِيدٌ يَقُومُ إِلَى هَذَا حَيْثُ رَآنِي كَفَفْتُ يَدِي عَنْ بَيْعَتِهِ فَيَقْتُلُهُ"، فَقَالُوا: مَا نَدْرِي يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا فِي نَفْسِكَ أَلَا أَوْمَأْتَ إِلَيْنَا بِعَيْنِكَ، قَالَ: إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِنَبِيٍّ أَنْ تَكُونَ لَهُ خَائِنَةُ الْأَعْيُنِ".

دسعد رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي په کومه ورځ چه مکه فتح شوه نوعبدالله بن سعد بن ابی سرح دعثمان خواته لاړو هلته ئې ځان پټ کړو عثمان رضی الله عنه ده لره دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر کړو او رائې وستلو تردې چه دنبی علیه السلام په وړاندې مخامخ ودرولی شو او عرض ئې وکړو یا رسول الله دعبدالله سره بیعت وکړه نبی علیه السلام خپل سر مبارک پورته اوچت کړو او درې پیرې ئې ده ته وکتل او هرځل به ئې دده سره دبیعت کولونه انکار کولو د درې پیرې انکارکولونه پس نبی علیه السلام دده سره بیعت اوکړو ددې نه پس نبی علیه السلام صحابه کراموته متوجه شواوئې فرمائیل ایاپه تاسوکښې څوک عقلمند نه وو؟ چه ده ته ورپاسیدلې وې کله چه ی ده لره ولید و چه ماورسره بیعت ونکړو ددې دپاره چه دده په قتل پسې ورپاسیدلې وې، صحابه کرامو عرض اوکړو اې دالله رسوله مونږ ستادزړه دحان نه خبر نه یو البته که چرې تا په سترګو دده دقتل دپاره اشاره کړې وې نومونږ به ضرور قتل کړې وونبی علیه السلام اوفرمائیل اشارې کول دنبی علیه السلام سره نه ښائي چه هغه دې دسترګو په ګوټونو پټې اشارې وکړې.

[۴۳۶۰](٢)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَرِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ إِلَى الشِّرْكِ فَقَدْ حَلَّ دَمُهُ".

د جریر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل یې: کله چه یو غلام دخپل مالک نه دکفر او شرک طرف ته وروتښتي نودده وژل جائزدي.

بَابُ الْحُكْمِ فِيمَنْ سَبَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم(٣)

بابه د هغه چا د سزا بیان چه د رسول صلی الله علیه وسلم بې ادبی اوکړی

یعنی کوم سړې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کښې ګستاخی، بدردې یا کنځل اوکړی د هغه دحکم بیان.

[۴۳۶۱](٤)حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مُوسَى الْخُتَّلِيُّ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ الْمَدَنِيُّ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ عُثْمَانَ الشَّحَّامِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ، "أَنَّ أَعْمَى كَانَتْ لَهُ أُمُّ وَلَدٍ تَشْتُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقَعُ فِيهِ

[1]: انظر حدیث رقم: (۲۶۸۳)، (تحفة الأشراف: ۳۹۳۸) (صحیح)
[2]: صحیح مسلم/الإیمان (۶۸)، سنن النسائي/المحاربة ۱۰ (۴۰۵۷)، (تحفة الأشراف: ۳۲۱۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۶۵/۴) (ضعیف)
[3]: واختلف في قبول توبة ساب النبي صلی الله علیه وسلم كما في رسائل لبن عابدين ۱۴/۱ وله في ذلك رسالة مستقلة ۳۱۳ (هامش البذل)
[4]: سنن النسائي/المحاربة ۱۳ (۴۰۷۵)، (تحفة الأشراف: ۶۱۵۵) (صحیح)

فَيَنْهَاهَا فَلَا تَنْتَهِي وَيَزْجُرُهَا فَلَا تَنْزَجِرُ، قَالَ: فَلَمَّا كَانَتْ ذَاتَ لَيْلَةٍ جَعَلَتْ تَقَعُ فِي النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَشْتُمُهُ، فَأَخَذَ الْمِغْوَلَ فَوَضَعَهُ فِي بَطْنِهَا وَاتَّكَأَ عَلَيْهَا فَقَتَلَهَا فَوَقَعَ بَيْنَ رِجْلَيْهَا طِفْلٌ، فَلَطَخَتْ مَا هُنَاكَ بِالدَّمِ فَلَمَّا أَصْبَحَ ذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَمَعَ النَّاسَ فَقَالَ: أَنْشُدُ اللَّهَ رَجُلًا فَعَلَ مَا فَعَلَ لِي عَلَيْهِ حَقٌّ إِلَّا قَامَ فَقَامَ الْأَعْمَى يَتَخَطَّى النَّاسَ وَهُوَ يَتَزَلْزَلُ حَتَّى قَعَدَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا صَاحِبُهَا كَانَتْ تَشْتُمُكَ وَتَقَعُ فِيكَ فَأَنْهَاهَا فَلَا تَنْتَهِي وَأَزْجُرُهَا فَلَا تَنْزَجِرُ وَلِي مِنْهَا ابْنَانِ مِثْلُ اللُّؤْلُؤَتَيْنِ وَكَانَتْ بِي رَفِيقَةً فَلَمَّا كَانَ الْبَارِحَةَ جَعَلَتْ تَشْتُمُكَ وَتَقَعُ فِيكَ فَأَخَذْتُ الْمِغْوَلَ فَوَضَعْتُهُ فِي بَطْنِهَا وَاتَّكَأْتُ عَلَيْهَا حَتَّى قَتَلْتُهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَا اشْهَدُوا أَنَّ دَمَهَا هَدَرٌ".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه ديونابينا سړي يوه ام ولده وينځه وه اودنبي عليه السلام بدبه ئې وئيل اودنبي عليه السلام حجوه به ئې بيانوله دغه نابيناكس به ددې عمل نه منع كوله ليكن هغه به نه منع كيدو اوهغه به رټله ليكن په هيڅ شان به ئې نه منل يوه شپه حسب معمول هغې دنبي عليه السلام بد وئيل شروع كړل اوكنځل ئې كول نودې نابينا كس چاړه راواخستله اوودې په خيټه ئې كيښودله چاړې ته ئې زور وركړو اودائې قتل كړه ددې ښځې د دواړو خپو په مينځ كښې بچې وغورځيدو او په وينوكښې لت پت شو هركله چه صبا شو نودنبي عليه السلام په خدمت كښې ددې واقعې ذكر وشونبي عليه السلام ټول خلق راجمع كړل او وئې فرمائيل چاچه دا كار كړې وي زه هغه ته په الله قسم وركوم او خپل حق ورته قسم وركوم كوم چه زماپه ده باندې دې چه هغه دې پاڅي (اقراردې وكړي) نابينا چه دا خبره واوريده نو اودريدو اودخلقو په مينځ كښې په توپونو توپونو راغي او حاضر شوترڅې چه دنبي عليه السلام په وړاندې مخامخ كښيناستو اوعرض ئې اوكړو اې دالله رسوله زه هغه كس يم چاچه دا وينځه وژلې ده ، دې وينځې به تاته كنځل كول اوستابد به ئې وئيل مابه دا منع كوله خونه به منع كيدله اومابه دا رټله ليكن دې به نه منله اوددې دخيټې نه زما دوه د ملغلرويشان ځامن دي او دا زما يوه ښه ملګري وه تيره شوي شپه دې وينځې تاته بد وئيل شروع كړه اوستا حجوه ئې بيانوله ماچاړه راواخسته اوودې په خيټه مې كيښوده او په چاړه مې خپل وزن ورواچوو ترڅې چه قتل شوه نبي عليه السلام چه دا واوريدل نوونئې فرمائيل اې خلقو تاسو ګواه اوسئ چه ددې وينځې وينه عبس ده (يعنى ددې قصاص به نشي اخستلې).

قوله: ﴿ عَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ أَعْمَى كَانَتْ لَهُ أُمُّ وَلَدٍ تَشْتُمُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- وَتَقَعُ فِيهِ الخ ﴾

مضمون الحديث:

د ابن عباس رضي الله عنهما روايت دې چه يو نابينا صحابي وو چه د هغه يو ام ولده وه يعنى غير مسلمه چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان كښ به ئې ګستاخي كوله او كنځل به ئې كول، هغه نابينا صحابي د هغې مالک به هغه منع كوله، د يوې شپې واقعه ده چه هغې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان كښ بكواس كولو نو دې صحابي داسې اوكړل چه يو سيخ ئې واخستلو او د هغې سوكه ئې د هغه وينځې په خيټه باندې كيخودله او خپل بوج ئې پرې ور واچولو او هغه ئې هلاكه كړه، او چونكه هغه وخت هغه حامله وه په داسې كولو سره هغه ماشوم بهر راغلو او

هغه ټول خائي په وينو باندې ليت پيت شو. چه کله صبا شو نو رسول الله ﷺ ته د هغې د قتل تذکره اوکړې شوه، رسول الله ﷺ خلق راجمع کړل او مجمع ته خطاب کولو سره ئې دا اوفرمائيل چه د الله پاک واسطه درکولو سره وايم هغه سړی ته چا چه دا کار کړې دې چه په خپل ځان باندې زما څه حق مني نو هغه دې اودريږي، په دې خبره اوريدو باندې هغه نابينا صحابي ﷺ اودريدلو او چونکه هغوی په مجلس کښې شاته ناست وو په دې وجه د خلقو په اوږو باندې راوختلو او رپيدلو سره د رسول الله ﷺ مخې ته کيناستلو او عرض ئې اوکړو يا رسول الله ﷺ د دې قاتل زه يم. او هغې چه به کوم حرکتونه کول د هغې ذکر ئې اوکړو، او دا ئې هم اوئيل چه د دې نه زما دوه ډير ښکلي ځامن هم دي، او زما پخواني ښځه وه، تيره شپه هغې ستا په شان کښې گستاخي کوله نو ما چاړه راواخستله او د هغې په خيټه باندې مې کيخودله او بوج مې پرې واچولو تر دې چه هغه مړه شوه، رسول الله ﷺ دې خبرې اوريدلو سره اوفرمائيل: ﴿الا اشهد وان دمها هدر﴾ ټول خلق گواه شئ چه د دې ښځې وينه معاف ده.

په مسئله مترجم بها کښې د فقهاء کرامو رائې:

په مسئلة الباب کښې لږ اختلاف او تفصيل دې او دا چه که ساب النبي ﷺ که مسلم وی نو هغه به مرتد شي او هغه به بالاجماع قتل کولې شي بغير د استتابة نه، او که ذمي وی نو د جمهورو په نزد به په داسې کولو سره د هغه عهد مات شي لهذا هغه به هم قتل کولې شي، البته امام مالک رحمه الله فرمائي چه که د سب النبي ﷺ نه پس هغه اسلام راوړی نو نه به شي قتل کولې، او د احنافو په نزد که هغه ذمي دې نو په داسې کولو سره به د هغه نقض مات شي او د هغه به سزا قتل نه بلکه تعزير وی.

والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

[٤٣٦٢](1) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ جَرِيرٍ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، "أَنَّ يَهُودِيَّةً كَانَتْ تَشْتُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقَعُ فِيهِ فَخَنَقَهَا رَجُلٌ حَتَّى مَاتَتْ فَأَبْطَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمَهَا".

دعلي رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوې يهودنړې به نبي عليه السلام ته کنځل کول اودده که بد به ئې وئيل په دې خبره باندې يو کس ددې څټ تاو کړو تردې چه مړه شوه نبي عليه السلام ددې وينه هدر وګرځوله.

[٤٣٦٣](2) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ يُونُسَ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ح وحَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَنُصَيْرُ بْنُ الْفَرَجِ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ زُرَيْعٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُطَرِّفٍ، عَنْ أَبِي بَرْزَةَ، قَالَ: "كُنْتُ عِنْدَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَتَغَيَّظَ عَلَى رَجُلٍ، فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ، فَقُلْتُ: تَأْذَنُ لِي يَا خَلِيفَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَضْرِبُ عُنُقَهُ، قَالَ: فَأَذْهَبَتْ كَلِمَتِي غَضَبَهُ فَقَامَ، فَدَخَلَ فَأَرْسَلَ إِلَيَّ فَقَالَ: مَا الَّذِي قُلْتَ آنِفًا؟ قُلْتُ: ائْذَنْ لِي أَضْرِبُ عُنُقَهُ، قَالَ: أَكُنْتَ فَاعِلًا لَوْ أَمَرْتُكَ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: لَا وَاللَّهِ مَا كَانَتْ لِبَشَرٍ بَعْدَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد:

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠١٥٠) (ضعيف الإسناد)

(2): سنن النسائي/المحاربة ١٣ (٤٠٧٦)، (تحفة الأشراف: ٦٦٢١، ١٨٦٠٢) (صحيح)

هَذَا لَفْظُ يَزِيدَ، قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: أَيْ لَمْ يَكُنْ لِأَبِي بَكْرٍ أَنْ يَقْتُلَ رَجُلًا إِلَّا بِإِحْدَى الثَّلَاثِ الَّتِي قَالَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُفْرٌ بَعْدَ إِيمَانٍ، أَوْ زِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ، أَوْ قَتْلُ نَفْسٍ بِغَيْرِ نَفْسٍ، وَكَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقْتُلَ.

د ابو برزه اسلمی رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه زه دابوبکر صدیق رضی الله عنه سره ناست وم اوهغه یوکس ته غصه شو اوسخته غصه ئې وکړه ماورته اووئيل اې دالله درسول خليفه ماته اجازت راکړه چه زه دده څټ اووهم په دې خبرې سره به دده غصه کميدله تردې چه پاڅيدو او دننه لاړو بيا ئې زه وغوښتلم اووئې فرمائيل تاوس څه خبره کوله؟ ماعرض اوکړو ماته اجازت راکړه چه زه دده څټ اووهم، صديق اکبره اوفرمائيل که چرې ماتاته حکم کړې وې نوتاپه ريښتيا سره دده څټ وهلو؟ ماعرض اوکړو يقينا مابه دده څټ وهل رو ابوبکر صديق رضی الله عنه اوفرمائيل دنبی علیه السلام نه پس دا مقام کوم انسان ته نه دې حاصل شوې امام ابوداؤد فرمائي دا الفاظ ديزيد بن زريع دي.

﴿ عَنْ أَبِي بَرْزَةَ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَتَغَيَّظَ عَلَى رَجُلٍ فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ فَقُلْتُ تَأْذَنُ لِي يَا خَلِيفَةَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَضْرِبُ عُنُقَهُ قَالَ فَأَذْهَبَتْ كَلِمَتِي الخ ﴾

مضمون الحديث:

سيدنا ابوبرزه الاسلمی رضی الله عنه فرمائي چه زه يوه ورځ د صديق اکبر رضی الله عنه سره اوم هغه په يو سړي باندې ناراضه شو په دې باندې هغه سړې د هغوی سره په بې ادبئ باندې راغلو يعنی د هغوی په شان کښ ئې ګستاخی اوکړه، ابوبرزه وائی چه ما د هغوی نه اجازت طلب کړو چه يا خليفة رسول الله صلی الله علیه وسلم آيا زه د هغه سټ اووهم؟ هغوی فرمائي چه زما دې لفظ د هغوی غصه سړه کړه (او هغوی هلته کيناستلې نه شو) پس اودريدل او دننه لاړل، او دننه تلو سره ئې د يو سړي په ذريعه زه راطلب کړم او وې فرمائيل چه تا اوس څه خبره کړې وه؟ ما عرض اوکړو چه ما ستاسو نه د هغه سړي د قتل اجازت طلب کړې وو، صديق اکبر رضی الله عنه اوفرمائيل چه که ما تاته اجازت درکړې وې نو تا به داسې کړې وې؟ ما اووې اوجئ ضرور، هغوی اوفرمائيل قسم په الله پاک دا خبره د هيڅ انسان دپاره جائز نه ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پس، يعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم خو دا مقام دې چه که هغوی د چا نه خفه کيدو سره د هغه د قتل حکم اوکړی نو دهغه قتل به جائز وی، اوهم دغه شان څوک چه دهغوی په شان کښ ګستاخی اوکړی نو دهغه قتل به هم جائز وی، خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پس د هغوی خلفاء کښ د چا هم دا حکم نه دې چه دهغوی په وجه باندې دهغه قتل جائزشی. والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُحَارَبَةِ

باب د لارې شوکونکی د سزا بيان

امام بخاری رحمه الله خو په دې مسئله باندې د مستقل کتاب عنوان اختيار کړې دې کتاب المحاربين من اهل الكفر والردة او بيا ئې د هغې نه لاندې څو ابواب ذکر کړې دی، په ظاهر کښ دا مسئله وسيع الذيل ده.

[۴۳۶۴] (١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ قَوْمًا مِنْ عُكْلٍ أَوْ قَالَ مِنْ عُرَيْنَةَ قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاجْتَوَوُا الْمَدِينَةَ "فَأَمَرَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلِقَاحٍ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَشْرَبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا، فَانْطَلَقُوا فَلَمَّا صَحُّوا قَتَلُوا رَاعِيَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَاقُوا النَّعَمَ، فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرُهُمْ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ، فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آثَارِهِمْ فَمَا ارْتَفَعَ النَّهَارُ حَتَّى جِيءَ بِهِمْ فَأَمَرَ بِهِمْ فَقُطِعَتْ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ وَسُمِرَ أَعْيُنُهُمْ وَأُلْقُوا فِي الْحَرَّةِ يَسْتَسْقُونَ فَلَا يُسْقَوْنَ"، قَالَ أَبُو قِلَابَةَ: فَهَؤُلَاءِ قَوْمٌ سَرَقُوا وَقَتَلُوا وَكَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَحَارَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ.

دانس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه څه کسان دعکل یاعرینه قبیلې په مدینه منوره کښې دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول اووئې وئيل په مونږ باندې دمدینې آب هوا موافق رانغله نونبی علیه السلام ورته یو څولنګې اوښې ورکړې اوحکم ئې ورته وکړو چه ددې اوښو شود اومتيازې څکئ دوی دغه اوښې څنګل ته بوتلې کله چه روغ شول نودنبی علیه السلام شپونک ئې قتل کړو او اوښې ئې وشړلې آوبوئې تلې کله چه نبی علیه السلام ته ددې واقعې خبر ورسیدو نونبی علیه السلام په دوی پسې صحابه کرام وروزغلول ډیرې ورځې نه وې تیرې شوې چه هغوی تول ئې ونيول اوحاضرئې کول نبی علیه السلام حکم وکړو اوددوی لاسونه خپې پریکړې شوادددوی په سترګو کښې ګرم سلاې رابښکلې شواوپه ګرموکانړوباندې واچولې شو دتندې په وجه به ئې اوبه غوښتل ليکن اوبه به ورته نشوې ورکولې، ابو قلابه وئيلی دی چه دغه خلقو غلا اوقتل کړې وو اودایمان دقبلولونه پس کافرشوې وو اودالله اودرسول سره ئې جنګ کړې وو.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ قَوْمًا مِنْ عُكْلٍ – أَوْ قَالَ مِنْ عُرَيْنَةَ – قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– ﴾

دا حدیث په حدیث العرنيين سره مشهور دې، امام ترمذی رحمه الله خو دا د کتاب الطهارة نه پس ذکر فرمائيلې دې څکه چه په دې کښې د بول ماکول اللحم دطهارت اونجاست مسئله ده اوپه کتاب الاطعمة کښې هم مختصرا اوامام ابوداؤد رحمه الله دا دلته په کتاب الحدود کښې ذکر فرمائيلې دې څکه چه په دې حدیث کښې د حد او مثله وغيره ذکر دې، او په نسائی کښې دواړه ځایه دې او په صحیح بخاری کښې خو په ډیرو ځایونو کښې دې.(٢)

د حديث العرنيين شرح :

عکل او عرينه دا دواړه مستقل دوه قبيلې دی اګر چه دا هم وئيلې شوې دی چه دا دواړه يو دی خو حافظ دې ته وهم وئيلې دې، په دې روايت کښې خو په شک سره راغلې دې او په بعض رواياتو کښې صرف عکل دې او په بعضو کښې صرف عرينه، او په بعض کښې ﴿من عکل وعرينة ﴾ په عطف سره، حافظ فرمائي چه هم دا صحيح ده څکه چه يو روايت په طبرانی کښې

---

[1]): صحيح البخاري/الوضوء ٦٦ (٢٣٣)، الجهاد ١٥٢ (٣٠١٨)، صحيح مسلم/القسامة ٢ (١٦٧١)، الطب ٦ (٢٠٤٢)، سنن النسائي/الطهارة ١٩١ (٣٠٦)، المحاربة ٧ (٤٠٢٩)، (تحفة الأشراف: ٩٤٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطهارة ٥٥ (٧٢)، الأطعمة ٣٨ (١٨٤٥)، مسند احمد (٣/١٠٧، ١٧٧، ١٩٨، ٢٠٥، ٢٨٧) (صحيح)

[2] اخرجه البخاري في تسع مواضع النظر: ١/٣٦، ١/٢٠٣، ١/٤٢٣، ٢/٦٦٣، ٢/٨٤٨، ٢/٨٥٢، ٢/١٠٠٥، ٢/١٠١٩)

دا دي چه په هغې کښې څلور د عرینة وو، او درې د قبیله عکل، ا وپه بعض روایاتو کښې د هغوی اته کیدل ذکر دی قال الحافظ لعل الثامن لیس منهما کما فی الفیض السمائی)

د دې خلقو په باره کښې سیدنا انس ﷺ فرمائی چه دا خلق د رسول الله ﷺ په خدمت کښې مدینې طیبې ته راغلل نو د هغه ځائې آب وهوا پرې موافق رانغله. په یو روایت کښې دی (ابوعوانة) ﴿ فعظمت بطونهم کما فی التحفة ﴾ چه د مدینې طیبې د خوراک موافق نه راتلو په وجه باندې د هغوی معدې خرابې شوې او د نفخ شکایت پیدا شو، نو رسول الله ﷺ د هغوی په باره څو د پیو والا اوښو حکم اوفرمائیلو چه د هغې پئ هم اوڅکئ او وارهٔ بول هم اوڅکئ، ([1]) پس دوی هغه ځائې ته لاړل او هلته تلو سره ئې د هغې پئ او بول اوڅکل، خو چه کله روغ شو نو هغوی دا حرکت اوکړو چه د رسول الله ﷺ شپونکې ئې قتل کړو او هغه اوښان ئې په تیزئ سره اوتختول، چه کله رسول الله ﷺ ته د دې قصې علم اوشو نو حضور ﷺ د هغوی په تعاقب کښې په اسونو سوارهٔ یو جماعت اولیږلو (ففی روایة خیلا من المسلمین امیرهم کرز بن جابر الفهری) رسول الله ﷺ سحر وختی دا دسته د هغوی په تعاقب کښې اولیږله، نو دا خلق د ورځې د راوچتیدلو نه مخکښې اونیولې شو، رسول الله ﷺ د هغوی په باره کښې فیصله اوفرمائیله چه د هغوی لاسونه خپې دې د جانب مخالف نه پرې کړې شی یعنی د هغوی د یو طرف خپه او د بل طرف لاس، لکه چه د ترمذی په روایت کښې دی، ﴿ فقطع ایدیهم وارجلهم من خلاف ﴾ او دویمه سزا هغوی ته دا ورکړې شوه چه سلائیان ګرمولو سره د هغوی په سترګو کښې راښکلې شو، په بل روایت کښې راځی ﴿ فامر بمسامیر فاحمیت فکحلهم ﴾ دا د مسمار جمع ده یعنی د اوسپنې میخ، او په مقام حره کښې هغوی واچولې شو، اوبه به ئې طلب کولې خو د هغوی دا فرمائش پوره نه کړې شو.

په دې باندې دا اشکال کړې شوې دې چه دې خلقو ته د څکلو دپاره اوبه ولې ورنکړې شوې ځکه چه دا خو اجماعی مسئله ده چه د کوم مجرم سزا قتل وی که هغه اوبه طلب کړی نو منع کولې به شی، د دې مختلف جوابونه کړې شوې دی: بعض وائی دا د صحابه کرامو د طرف نه وه هغوی په خپل اجتهاد سره داسې کړې وو نه د رسول الله ﷺ په حکم سره، قال الحافظ: وهو ضعیف جدا لان النبی ﷺ اطلع علی ذلک وسکوته کاف فی ثبوت الحکم﴾ او وئیلې شوې دی ځکه چه د دغه خلقو ناشکری کړې وه په البان د ابل سره په کوم سره چه هغوی ته شفاء حاصله شوې وه([2]) په دې وجه هغوی ته سزا هم هغه ورکړې شوه د کومې چه هغوی ناشکری کړې وه، د علامه سندی رائې دا ده چه هغوی سره داسې قصاصا اوکړې

[1]) فی هامش البذل: وتقدم الکلام علی حکم الابوال فی هامش البذل ٤٠٥/١ تحت باب الجنب یتیمم تحت حدیث ابی ذر ﷺ انه قال اجتویت المدینة فامر لی رسول الله ﷺ بذود ویغنم فقال لی اشرب من البانها واشك فی ابوالها. ولم یتعرض لها الشیخ فی المحلین، قال ابن العربی ص ١٦٣ج١ فی شرح الترمذی، هذا حدیث صحیح ثابت ثم بسط الکلام علی شرحه اهـ)

[2]) یعنی د مړیدو په ناشکرئ کښې ورته دا سزا ورکړې شوه او هغوی تږی مړهٔ کړې شو، او ماړهٔ نه کړې شو)

شو ځکه چه هغوی د رسول اللهﷺ د راعی سره داسې کړې وو یعنی هغه ئې تږې وژلې وو، پس د نسائی په یو روایت کښې دی: اللهم عطش من عطش آل محمدﷺ.
﴿ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ فَهَؤُلَاءِ قَوْمٌ سَرَقُوا وَقَتَلُوا وَكَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَحَارَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ﴾
د ابوقلابه مقصد کوم چه د حدیث راوی دې د عرنیین شدت جنایت لره بیانول دی چه هغوی د ډیرو جرائمو ارتکاب کړې وو په دې وجه هغوی ته دومره سخته سزا ورکړې شوه، پس وړاندې په کتاب کښې راځی: ﴿ وهم الذین اخبر عنهم انس بن مالک الحجاج حین ساله ﴾
یعنی حجاج بن یوسف د انسؓ نه په یوه موقع باندې دا سوال کړې وو چه رسول اللهﷺ کومې سزا ګانې ورکړې دی په هغې کښې ستاسو په نزد د ټولو نه سخته سزا څه وه؟ نو هغوی په دې باندې قصه د عرنیین بیان کړې وه وړاندې په روایت کښې راځی ﴿ قطع ارجلهم وایدیهم وما حسمهم ﴾

[۴۳۶۵] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ أَيُّوبَ، بِإِسْنَادِهِ بِهَذَا الْحَدِيثِ قَالَ فِيهِ: فَأَمَرَ بِمَسَامِيرَ فَأُحْمِيَتْ فَكَحَلَهُمْ وَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ وَمَا حَسَمَهُمْ.

دایوب نه په دې روایت کښې داسې مروي دي چه نبیﷺ د سلایانو ګرمولو حکم کړې وو اودوی په سترګو کښې راښکلې شول اوددوی لاسونه او پښې پریکړې شو اودوی په یوځل باندې قتل نکړې شول.
چه رسول اللهﷺ د دې خلقو د لاس خپې پرې کولو نه پس هغوی ته داغ نه وو ورکړې، ځکه چه سارق ته چه د قطع ید نه پس کوم داغ ورکولې شی هغه خو په دې وجه چه تولو وینه بهیدو سره هلاک نه شی، حال دا چه هغه لره هلاکول مقصود نه دی په خلاف د عرنیین چه د هغوی هلاکول مقصود وو.

[۴۳۶۶] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ بْنِ سُفْيَانَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا. ح وَحَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ فِيهِ: فَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَلَبِهِمْ قَافَةً فَأُتِيَ بِهِمْ، قَالَ: فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي ذَلِكَ إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا سورة المائدة آية ۳۳ الْآيَةَ.

د انس بن مالکؓ نه همدا روایت نقل شوي دي مګر ددې اضافې سره چه نبیﷺ ددوی په تعاقب پسې یوخو کسان مخبران اولیږل هغوی دګرفتاریدونه پس راوستلې شول نو په دې باره کښې الله تعالی دا ایت: «إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا» نازل کړو آیت تر آخره پورې.
﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي ذَلِكَ (إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا) ﴾
دې باره کښې په روایاتو او د علماء کرامو اختلاف راځی چه دا آیت د محاربې د

١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٤٥) (صحيح)
٢): انظر حديث رقم: (٤٣٦٤)، (تحفة الأشراف: ٩٤٥) (صحيح)

کومو خلقو په باره کښې نازل شوې دې، (۱) یو قول خو په دې کښې دا شو چه د عرنیین په باره کښې نازل شو، د حسن او د عطاء قول هم دا دې، او د امام بخاری رحمه الله رائې په دې کښې دا ده چه دا د مرتدینو په باره کښې نازل شوې لکه چه وړاندې د دې آیت کریمه د تفسیر لاندې راغې او د جمهورو رائې دا ده چه د عرنیین تخصیص نشته بلکه مطلقا د قطاع الطریق او د مفسدین فی الارض په باره کښې دې، حافظ فرمائی: قول معتمد دا دې چه د آیت کریمه نزول خو د عرنیین په باره کښې شوې وو اولاً چه مرتد وو خو دا آیت کریمه خپل عموم الفاظ په وجه باندې مسلمان مفسدین او قاطعین طریق ته هم شامل دې خو سزا به د دواړو بیله بیله وی.

د قطاع الطریق سزا او په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف بالتفصیل:

که دا قطاع الطریق او مفسدین کفار وی نو امام ته به اختیار وی چه کله په هغوی باندې قابو بیا مومی چه څه غواړی سزا دې ورکړی، او که هغه مسلمان وی نو د امام مالک رحمه الله رائې دا ده چه هلته هم د امام دپاره تخییر دې، او جمهور علماء کرام احناف او شوافع وغیره وائی چه د جرم نوعیت ته به کتلې شی او د هغې په اعتبار سره به هغوی ته سزا ورکولې شی، لهذا آیت کریمه ﴿ان یقتلوا او یصلبوا او تقطع ایدیهم وارجلهم من خلاف او ینفوا من الارض﴾ کښې لفظ ﴿او﴾ د تنویع او تفصیل دپاره دې په خلاف د امام مالک رحمه الله چه د هغوی په نزد د تخییر دپاره دې، پس په بدائع الصنائع کښې د احنافو د مسلک تفصیل داسې کړې شوې دې(۲) چه د قطع الطریق څلور صورتونه دی باخذ المال فقط، بالقتل فقط،

---

۱) وکتب الشیخ في ((الابواب والتراجم)) ۲۲۱/۶ ذکر في هامش اللامع اختلاف العلماء في تعیین من نزلت هذه الایة في حقهم بالبسط وابسط منه في الجزء السادس من الاوجز فقد ذکر فیه ان في ایة المحاربة ثلاثة مسائل الاولي انه في الکفرة او في المسلمین الثانیة في تعریف المحارب الثالثة ان الاحکام الاربعة في الآیة علي التخییر او التنویع اهـ او په هغې کښې دا هم لیکلې دی: والجمهور علي انها نزلت في قطاع الطریق، اود قطاع الطریق څلور قسمونه د بدائع نه وړاندې راغې)

۲) **د قطع طریق تعریف**: اوس دا چه د قطع طریق حقیقت څه دې (کوم چه د سرقه یو لوئې قسم دې) زیلعی علی الکنز کښې د باب قطع الطریق په شروع کښې لیکلې دی: شَرَائِطُ قَطْعِ الطَّرِيقِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ ثَلَاثَةٌ يَعْنِي مَا يَخْتَصُّ بِهِ دُونَ السَّرِقَةِ الصُّغْرَي ثَلَاثَةٌ أَنْ يَكُونَ مِنْ قَوْمٍ لَهُمْ قُوَّةٌ وَشَوْكَةٌ تَنْقَطِعُ بِهِمْ الطَّرِيقُ، وَأَنْ لَا يَكُونَ فِي مِصْرٍ وَلَا فِيمَا بَيْنَ الْقُرَي وَلَا بَيْنَ مِصْرَيْنِ، وَأَنْ يَكُونَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْمِصْرِ مَسِيرَةُ سَفَرٍ لِأَنَّ قَطْعَ الطَّرِيقِ إنَّمَا يَكُونُ بِانْقِطَاعِ الْمَارَّةِ وَلَا يَنْقَطِعُونَ فِي هَذِهِ الْمَوَاضِعِ عَنْ الطَّرِيقِ لِأَنَّهُمْ يَلْحَقُهُمْ الْغَوْثُ مِنْ جِهَةِ الْإِمَامِ وَالْمُسْلِمِينَ سَاعَةً بَعْدَ سَاعَةٍ فَلَا يَتْرُكُ الْمُرُورَ وَالِاسْتِطْرَاقَ وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُمْ لَوْ كَانُوا فِي الْمِصْرِ لَيْلًا أَوْ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمِصْرِ أَقَلُّ مِنْ مَسِيرَةِ سَفَرٍ تَجْرِي عَلَيْهِمْ أَحْكَامُ قُطَّاعِ الطَّرِيقِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَي لِمَصْلَحَةِ النَّاسِ وَهِيَ دَفْعُ شَرِّ الْمُتَغَلِّبَةِ الْمُتَلَصِّصَةِ اهـ یعنی د قطع الطریق حقیقت دا دې چه د ډاکوانو او مفسدینو دومره لوئې جماعت یا طاقت او شوکت داسې وی چه قطع الطریق کولې شی یعنی لاره بندولې شی او دا هله کیدې چه د ښهر یا د دوه ښهرونو ترمینځه وی، یا دغه شان د څو کلو ترمینځه وی بله دا چه د دې قطاع الطریق او ښهر ترمینځه فاصله د مسافت د سفر په اندازه وی ځکه چه دا مواضع داسې دی چرته چه د حکومت د طرف نه او هم دغه شان د عام خلقو د طرف نه مدد رارسیدلې شی او تلل نه منقطع کیږی. هم په دې وجه دا قیود اولګولې شو چه داسې مواضع دې نه وی، او د امام ابویوسف رحمه الله نه یو روایت دې چه که دا خلق په ښهر کښې وی او د شپې وخت وی او یا د هغوی او د ښهر ترمینځه د سفر د مسافت نه کمه فاصله وی نو بیا به هم په هغوی باندې د قطاع الطریق احکام جاری کولې شی د خلقو د مصلحت او د هغه باغیانو د شر دفع کولو دپاره.

باخذ المال والقتل یا بالتخویف فقط، په اول صورت کښ به صرف قطع د ید او رجل وی، او په دویم صورت کښ صرف قتل او د دواړو د جمع کولو به صورت کښ د امام صاحب او د صاحبینو اختلاف دې، امام صاحب فرمائی چه امام ته اختیار دې چه که غواړی نو دواړه سزاګانې دې جمع کړی یعنی قطع د ید او رجل سره قتل یا صلب هم، او که غواړی نو صرف د قتل یا د صلب سزا دې ورکړی او قطع دې نه کوی (۱)، او د صاحبینو په نزد د جمع بین الجنایتین په صورت کښ سزا صرف قتل دې بغیر د قطع نه، او کوم سړی چه نه مال واخستلو او نه قتل بلکه صرف تخویف ئې اوکړو نو د هغه سزا نفی من الارض ده. الی آخر ما فی البذل صفحه ۱۲۲........

د نفی نه څه مراد دې په دې کښ د علماء کرامو اختلاف دې: قال مالك والشافعي يخرج من بلد الجناية إلى بلدة أخرى زاد مالك فيحبس فيها وعن أبي حنيفة بل يحبس في بلده وتعقب بأن الاستمرار في البلد ولو كان مع الحبس إقامة فهو ضد النفي فان حقيقة النفي الإخراج من البلد وحجته أنه لا يؤمن منه استمرار المحاربة في البلدة الأخرى فانفصل عنه مالك بأنه يحبس بها، یعنی د امام مالک او امام شافعی رحمه الله په نزد د ښهر نه ویستل دی، د امام مالک رحمه الله په نزد مع الحبس، او د امام شافعی رحمه الله په نزد مطلقا، او د امام صاحب په نزد د دې نه مراد صرف حبس دې د ښهر نه ویستل نه دی، ځکه چه د ښهر نه په ویستلو کښ هم دا خطره ده چه کوم کار هغه دلته کولو هغه به هلته هم کوی، په دې باندې امام مالک رحمه الله فرمائیلي دی چه د ښهر نه ویستلو سره دې هلته قید هم کړې شی چه دا خطره نه وی، ځکه چه د نفی حقیقت خو اخراج من البلد دې کوم چه صرف په حبس سره نه حاصلیږی. (عون)

[۴۳۶۷] (۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، وَقَتَادَةُ، وَحُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ، قَالَ أَنَسٌ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَحَدَهُمْ يَكُدُّ الْأَرْضَ بِفِيهِ عَطَشًا حَتَّى مَاتُوا.

د انس بن مالک رضی الله عنه نه همدا روایت نقل شوی دې مګر دې اضافي سره چه انس رضی الله عنه ووئیل: ماپدرې کښې یو کس اولیدو چه په خپله ژبه ئې زمکه څټله دتندې نه تردې چه مړه شول.

(۱) او په زیلعی علی الکنز ۲۳۲ کښ هم د دې مسئلې کافی تفصیل مذکور دې جمع بین الجنایتین یعنی قتل او د اخذ مال حکم په دې کښ داسې لیکلې دې: وَالحَالَةُ الرَّابِعَةُ أَنْ يُؤْخَذَ وَقَدْ قَتَلَ النَّفْسَ وَأَخَذَ المَالَ فَإِنَّ الإِمَامَ فِيهِ مُخَيَّرٌ إِنْ شَاءَ قَطَعَ يَدَهُ وَرِجْلَهُ مِنْ خِلَافٍ وَقَتَلَهُ، وَإِنْ شَاءَ قَتَلَهُ وَصَلَبَهُ، وَإِنْ شَاءَ قَطَعَهُ وَصَلَبَهُ، وَإِنْ شَاءَ قَتَلَهُ، وَإِنْ شَاءَ صَلَبَهُ، وَإِنْ شَاءَ قَطَعَهُ مِنْ خِلَافٍ وَقَتَلَهُ وَصَلَبَهُ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يُقْتَلُ أَوْ يُصْلَبُ وَلَا يُقْطَعُ وَأَبُو يُوسُفَ مَعَهُ فِي المَشْهُورِ لِأَنَّ القَطْعَ حَدٌّ عَلَى حِدَةٍ وَالقَتْلُ كَذَلِكَ بِالنَّصِّ فَلَا يُجْمَعُ بَيْنَهُمَا بِجِنَايَةٍ وَاحِدَةٍ وَهِيَ قَطْعُ الطَّرِيقِ إِذْ لَا يَجُوزُ الجَمْعُ بَيْنَ الحَدَّيْنِ بِجِنَايَةٍ وَاحِدَةٍ وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَرَضِيَ عَنْهُ أَنَّهُ وَحَّدَ المُوجِبَ لَهُمَا وَهُوَ القَتْلُ وَأَخْذُ المَالِ فَيَسْتَوِيَانِ الي آخر ما بسط... ګویا د صاحبینو رائې دا ده چه دا قطع طریق چه هغې ته سرقه کبری هم وئیلې کیدې شی یو ډیر جامع جنایت دې چه په هغې کښ کله کله صرف اخذ د مال وی او کله پکښ صرف تخویف وی او کله اخذ د مال او قتل دواړه موندلې شی، وفيه ايضا: وَالحَالَةُ الثَّالِثَةُ أَنْ يُؤْخَذَ وَقَدْ قَتَلَ النَّفْسَ وَلَمْ يَأْخُذِ المَالَ فَإِنَّ الإِمَامَ يَقْتُلُهُ حَدًّا حَتَّى لَوْ عَفَا الأَوْلِيَاءُ لَمْ يَلْتَفِتْ إِلَى عَفْوِهِمْ الي آخر ما ذكر.

(۲): سنن الترمذي/الطهارة ۵۵ (۷۲)، سنن النسائي/المحاربة ۷ (۴۰۳۹) (تحفة الأشراف: ۳۱۷، ۱۱۵۶) (صحيح)

[٤٣٦٨]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ نَحْوَهُ زَادَ ثُمَّ نَهَى، عَنِ الْمُثْلَةِ، وَلَمْ يَذْكُرْ مِنْ خِلَافٍ وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، وَسَلَّامُ بْنُ مِسْكِينٍ، عَنْ ثَابِتٍ جَمِيعًا، عَنْ أَنَسٍ لَمْ يَذْكُرَا مِنْ خِلَافٍ وَلَمْ أَجِدْ فِي حَدِيثِ أَحَدٍ قَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ إِلَّا فِي حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ.

دانس بن مالک رضی الله عنه نه همدا روایت نقل شوي دي مګرددې اضافي سره چه نبي عليه السلام د مثلې کولونه منع اوفرمائيله او من خلاف الفاظ ئې په روايت کښې نه دي بيان کړي.

[٤٣٦٩]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ أَحْمَدُ هُوَ يَعْنِي عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ "أَنَّ نَاسًا أَغَارُوا عَلَى إِبِلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاسْتَاقُوهَا وَارْتَدُّوا عَنِ الْإِسْلَامِ وَقَتَلُوا رَاعِيَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُؤْمِنًا فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمْ فَأُخِذُوا فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ وَسَمَلَ أَعْيُنَهُمْ، قَالَ: وَنَزَلَتْ فِيهِمْ آيَةُ الْمُحَارَبَةِ، وَهُمُ الَّذِينَ أَخْبَرَ عَنْهُمْ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ الْحَجَّاجَ حِينَ سَأَلَهُ".

دابن عمر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوڅو کسانو دنبي عليه السلام په اوښانوباندې حمله وکړه اوبوتلل اوددين اسلام نه واوړيدل اودنبي عليه السلام مومن شپونکې ئې قتل کړو نبي عليه السلام په دوی پسې کسان وليږل اوګرفتارئې کړل نبي عليه السلام دهغوی نه لاسونه پښې پريکړل اوددوی په سترګو کښې ئې ګرم سلايان راښکل ددغه خلقو په باره کښې دا ايت کريمه : ﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا﴾ نازل شو اوانس بن مالک رضی الله عنه هم ددې کسانو تذکيره حجاج ته کړيوه کله چه حجاج دده نه سوال کړې وو.

﴿ وهم الذين اخبر عنهم انس بن مالک الحجاج حين ساله ﴾ په دې باندې مونږ مخکښ ليکل کړي دي.

[٤٣٧٠]([3]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَطَعَ الَّذِينَ سَرَقُوا لِقَاحَهُ وَسَمَلَ أَعْيُنَهُمْ بِالنَّارِ عَاتَبَهُ اللَّهُ تَعَالَى فِي ذَلِكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا سورة المائدة آية ٣٣ الْآيَةَ".

د ابوالزناد رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي هرکله چه نبي عليه السلام دهغه کسانو لاسونه او پښې پريکړل چاچه اوښان پټ کړي وو اوددوی سترګې ئې په اور سره اوويستلې نو په دې باره کښې الله تعالی دا آياتونه نازل کړل دعتاب په طريقه او وئې فرمائيل : «﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا﴾».

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَطَعَ الَّذِينَ سَرَقُوا لِقَاحَهُ وَسَمَلَ أَعْيُنَهُمْ بِالنَّارِ عَاتَبَهُ اللَّهُ تَعَالَى فِي ذَلِكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى ﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ الْآيَةَ ﴾

[1]: تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم : (٤٣٦٤)، (تحفة الأشراف: ١٣٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٧/٣) (صحيح)
[2]: سنن النسائي /المحاربة ٧ (٤٠٤٦)، (تحفة الأشراف: ٧٢٧٥، ١٨٨٩٨) (حسن صحيح)
[3]: سنن النسائي /المحاربة ٧ (٤٠٤٧)، (تحفة الأشراف: ٧٢٧٥، ١٨٨٩٨) (ضعيف)

دا روایت مرسل دې، قال المنذری هذا مرسل، واخرجه النسائی مرسلا.

ابوالزناد وائی چه رسول اللهﷺ د غرنیین سره چه کومه معامله فرمائیلې وه د قطع او د سمل اعین نو په دې باندې د آیت محاربه نزول اوشو په طور د عتاب، په بذل المجهود کښې لیکلې دی چه یو قول د دې آیت کریمه په تفسیر کښې هم دا دې، که دا قول صحیح وی نو د دې وجه دا کیدې شی عدم انتظار الوحی ومسارعة الاجتهاد فی الحکم اه او دویم قول په دې کښې دا دې چه عرنیین په دې آیت کریمه کښې داخل نه دی لان جرمهم فوق ما ذکر فی هذه الایة لهذا دعتاب قول صحیح نه دې.

[۴۳۷۱]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا. ح وَحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، قَالَ: كَانَ هَذَا قَبْلَ أَنْ تَنْزِلَ الْحُدُودُ يَعْنِي حَدِيثَ أَنَسٍ.

دمحمد بن سيرين ﷺ نه روایت دې فرمائی چه دانس حدیث مخکښې د نازلیدلو دحدودونه وو.

قوله: ﴿عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ كَانَ هَذَا قَبْلَ أَنْ تَنْزِلَ الْحُدُودُ يَعْنِي حَدِيثَ أَنَسٍ﴾

د عرنیین سره چه کومه مثله وغیره اوکړې شوه د هغې توجیه او جوابات:

یعنی رسول اللهﷺ دې قوم سره مثله اوکړه او تعذیب بالنار ئې ورکړو دا منسوخ ده، دا د نزول حدود نه مخکښې واقعه ده، د ابن سیرین دا قول امام ترمذیﷺ هم ذکر کړې دې، او د دې نه مخکښې هغوی د انسﷺ د دې روایت تخریج کړې دې چه د هغې الفاظ دا دی: إنما سمل النبي صلى الله عليه و سلم أعينهم لأنهم سملوا أعين الرعاة قال أبو عيسى هذا حديث غريب لا نعلم أحدا ذكره غير هذا الشيخ (يحيى بن غيلان) عن يزيد بن زريع وهو معنى قوله (والجروح قصاص) د هغې حاصل دا شو چه په عرنیین سره چه کومه مثله وغیره کړې شوې ده هغه قصاصا کړې شوې ده ځکه چه هغه خلقو هم د رسول اللهﷺ د شپونکی سره داسې کړې وو، او د ابن سیرین د قول مطلب دا شو چه د عرنیین سره چه کومه مثله کړې شوې وه هغه د نزول حدود او د نسخ مثله نه مخکښې واقعه ده روستو په دې کښې نسخ واقع شوه خو د اول جواب په باره کښې چه په هغې کښې دا دی چه دا معامله د هغوی سره قصاصا کړې شوې وه ځکه چه هغوی هم د رسول اللهﷺ د راعی سره داسې کړې وو، امام ترمذیﷺ دې ته غریب وئیلې دی کما تقدم آنفا، زه وایم چه دا خبره کول چه هغوی هم د رسول اللهﷺ د راعی سره هم دغه شان کړې وو، د صحیح بخاری په روایت کښې خو دا نشته خو د مسلم په روایت کښې شته: قَالَ الْعَيْنِيُّ فِي عُمْدَةِ الْقَارِي: السُّؤَالُ الثَّانِي مَا وَجْهُ تَعْذِيبِهِمْ بِالنَّارِ؟ الْجَوَابُ: أَنَّهُ كَانَ قَبْلَ نُزُولِ الْحُدُودِ وَآيَةِ الْمُحَارَبَةِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُثْلَةِ فَهُوَ مَنْسُوخٌ، وَقِيلَ لَيْسَ بِمَنْسُوخٍ وَإِنَّمَا فَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِصَاصًا لِأَنَّهُمْ فَعَلُوا بِالرُّعَاةِ مِثْلَ ذَلِكَ، وَقَدْ رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِي بَعْضِ طُرُقِهِ انْتَهَى (تحفه) حاصل دا چه د عرنیین سره چه کومه مثله کړې شوې ده هغه یا خو قصاصا کړې شوې ده او یا دا چه دا دنسخ د مثله نه مخکښې واقعه ده او منسوخ ده، حافظ فرمائی

(): صحيح البخاري/الطب ٦ (٥٦٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٩٢٩١) (ضعيف)

چه د نسخ دليل دا کيدي شي چه د بخاري په کتاب الجهاد کښ د ابوهريره رضي الله عنه حديث دې چه د هغې نه دا معلوميږي چه جواز مثله ثم النهي عنه، دا دواړه څيزونه د هغوی مخې ته راپيښ شو (ګويا د ابوهريره رضي الله عنه د اسلام نه پس راپيښ شو) او د عرنيين قصه د ابوهريره رضي الله عنه د اسلام نه مخکښ ده.[1]

[٤٣٧٢]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ إِلَى قَوْلِهِ غَفُورٌ رَحِيمٌ سورة المائدة آية ٣٣-٣٤ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِي الْمُشْرِكِينَ، فَمَنْ تَابَ مِنْهُمْ قَبْلَ أَنْ يُقْدَرَ عَلَيْهِ لَمْ يَمْنَعْهُ ذَلِكَ أَنْ يُقَامَ فِيهِ الْحَدُّ الَّذِي أَصَابَهُ".

دابن عباس به نه روايت دې فرمائي چه دالله تعالی دا قول: «إنما جزاء الذين يحاربون الله ورسوله ويسعون في الأرض فسادا أن يقتلوا أو يصلبوا أو تقطع أيديهم وأرجلهم من خلاف أو ينفوا من الأرض» نه تر «غفور رحيم» پورې د مشرانو په باره کښې نازل شوې دې پدرې کښې چه چا دګرفتاريدونه مخکښې توبه ويستلي وي نوددينه دانه لازميږي چه ده ته دې حد معاف شي.

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ (إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ) إِلَى قَوْلِهِ (غَفُورٌ رَحِيمٌ) د مينځ آيت دا دې، ﴿ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ... إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ ﴿نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِي الْمُشْرِكِينَ فَمَنْ تَابَ مِنْهُمْ قَبْلَ أَنْ يُقْدَرَ عَلَيْهِ لَمْ يَمْنَعْهُ ذَلِكَ أَنْ يُقَامَ فِيهِ الْحَدُّ الَّذِي أَصَابَهُ﴾

د اية المحاربة تفسير عند الجمهور:

د ابن عباس رضي الله عنه د رائې نه قطع نظر کولو سره جمهورو چه کومه معنی د آيت کريمه اخستلې ده اول دې په هغې ځان پوهه کړې شي، د دې آيت کريمه تفسير په معارف القرآن ادريسی کښ داسې دې: په تير شوی آيت کريمه کښ د فساد في الارض او د قتل ناحق شناعت (بدی) بيان فرمائيلې ځکه چه د فساد يو صورت قطع طريق يعنی لوټ مار او لارې شوکول دی، ځکه په دې آيت کښې اوس د فساد د انسداد (بنديز) دپاره اول د قطاع الطريق يعنی لوټمارانو (شوکمارانو) شرعی سزا لره بيان فرمائي او د دې نه پس په آيت کښ د سارق (غل) سزا بيانوی کوم چه هم د دې حکم سابق تتمه او تکمله ده ځکه چه غلا هم يو قسم فساد دې:

بيشکه سزا د هغه خلقو دپاره ده چه د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ سره جنګ کوی، (يعنی د شريعت مقابله کوی او د هغې د احکامو علانيه مخالفت کوی) او په زمکه کښ د فساد

---

[1] د حافظ عبارت دا دې: يدل عليه (اي علي النسخ) ما رواه البخاري في الجهاد من حديث أبي هريرة في النهي عن التعذيب بالنار بعد الإذن فيه وقصة العرنيين قبل إسلام أبي هريرة وقد حضر الإذن ثم النهي اهـ وقصة العرنيين قبل اسلام ابي هريرة.

[2] سنن النسائي/المحاربة ٧ (٤٠٥١)، (تحفة الأشراف: ٦٢٥١) (حسن)

په اراده باندې منډې وهي يعنې قتل او قطع طريق (شوکې او ډاکې) کوی د داسې خلقو سزا هم دا ده چه قتل کړې شی یا په سولئ کړې شی یا د هغوی خپې لاسونه د مخالف طرف نه پرې کړې شی يعنې ښې لاس او ګسه خپه، یا جلا وطن کړې شی.

د جمهور علماء کرامو قول دا دې چه دا آيت کريمه د قطاع الطريق متعلق دې که هغه مسلمان وی یا کافر، او د ﴿ الذين يحاربون ﴾ کښې د محاربې نه مراد قطع الطريق دې، او د بعض علماء کرامو قول دا دې چه دا آيت کريمه د مرتدينو په باره کښې نازل شوې دې او په آيت کريمه کښې د محاربې نه مراد ارتداد دې او په ﴿ ان يقتلوا او يصلبوا ﴾ تر آخره پورې کښې چه کوم لفظ د "او" راغلې دې هغه د صحابه کرامو او د تابعينو رضی الله عنهم د يو جماعت په نزد د تخيير دپاره دې چه امام ته اختيار دې چه په هغه څلورو سزاګانو کښې د جرم د نوعيت په لحاظ چه کومه سزا مناسب ګڼړی او د جمهور علماء کرامو په نزد لفظ "او" ..... د تنويع او تقسيم دپاره دې، يعنې په مختلف حالاتو کښې د اختلاف احکام دپاره دې، او مطلب دا دې چه دا سزاګانې په جرمونو باندې تقسيم دی چه د کوم قسم جرم ارتکاب اوکړې شی هم د هغه قسم سزا به ورکولې شی، مثلاً که چا څوک صرف قتل کړل نو د هغه سزا به صرف قتل وی او که د قتل سره سره ئې مال هم لوټ کړې وی نو هغه به هم قتل کولې شی او په سولئ کولې به هم شی يعنې قتل کولو سره به د عبرت دپاره په سولئ باندې زوړندولې شی او که صرف مال ئې لوټ کړې دې نو صرف د يو طرف لاس او د بل طرف خپه به ئې پرې کولې شی، او که صرف لاروی ئې ويرولې وی نو هغه به جلا وطن کولې شی، لکه چه امام شافعی رحمه الله فرمائی يا دې په قيد کښې واچولې شی لکه چه امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی، د امام شافعی رحمه الله په نزد د ﴿ ينفوا من الارض ﴾ نه جلا وطنی مراد ده او د امام صاحب په نزد د دې نه مراد قيد او حبس دې، ځکه چه که دا خلق د مسلمانانو بل ښهر ته هم اوليږلې شی نو د هغه ځائې مسلمانانو ته به هم تکليف رسوی، او که د کفارو ملک ته لاړ شی نو د هغوی د ارتداد ويره ده، ﴿ ذلک لهم خزی فی الدنيا ولهم فی الاخرة عذاب عظيم ﴾ دا حدونه او سزاګانې د هغوی دپاره په دنيا کښې ذلت او رسوائی ده او په آخرت کښې د هغوی دپاره لوئې عذاب دې، خو کوم خلق چه ستاسو د نيولو او ګرفتاريدو نه مخکښې د خپلو ګناهونو نه توبه اوکړی نو ښه پوهه شئ چه الله پاک د خپلو حقونو معاف کونکې دې او مهربان دې، باقی حقوق العباد بغير د بندګانو د معاف کولو نه ساقطيږی نه.

په ايت کريمه کښې يو بله مسئله فقيهه :

مطلب دا دې چه که د ګرفتارئ نه مخکښې توبه اوکړی نو څه چه د الله پاک حق دې هغه خو به معاف شی[1] او حد به د هغوی نه ساقط شی، خو حق العبد به باقی وی، پس که مال

[1] لهذا د مال د اخستلو په صورت کښې خو به قطع د يد او د رجل نه وی، او د قتل نفس په صورت کښې به قتل حداً نه وی اګر چه قصاصاً به وی که ولی د مقتول اوغواړی، او که د ګرفتارئ نه مخکښې توبه اونکړی دا حد کوم چه د الله پاک حق دې يعنې قطع يد ورجل او دا قتل به ضرور وی او د صاحب مال يا د مقتول د ولی په معاف کولو سره به نه شی معاف کيدلې)

ئې اخستلې دې نو د هغې ضمان به ورکول وی او که څوک ئې وژلې دی نو قصاص به لازم وی، خو د دې قصاص او ضمان د معاف کولو حق به صاحب مال او د مقتول ولی ته حاصل وی، او ولی د مقتول که هغه لره قتل کړی نو هغه قتل به د قصاص په طور وی نه د حد په طور، ښه ځان پوهه کړه.

تنبیه : د دې حد نه سوا نور باقی حدود مثلا حد زنا او حد خمر او حد سرقه او حد قذف په توبې سره نه ساقطیږی کذا في البناية.

امام ابوبکر رازی او امام فخر الدین رازی فرمائی چه د سلف او خلف قول دا دې چه دا آیت کریمه د قطاع الطریق یعنی د ډاکه اچونکو په باره کښې نازل شوې دې که هغه فاسق او فاجر مسلمان وی یا کافر، او بعض علماء کرامو (لکه امام بخاری) دې طرف ته تلی دی چه دا آیت کریمه د مرتدینو په باره کښې نازل شوې دې، خو دا قول شاذ دې او اول قول صحیح دې الخ [1]

د ابن عباس رضی الله عنهما د رائې تشریح :

د دې آیت کریمه د تفسیر مخامخ کیدو نه تاسو ځان پوهه کړئ چه د ابن عباس رضی الله عنهما دا حدیث دلته په آبوداؤد کښې مختصر دې د ابن عباس رضی الله عنهما مفصل او واضح روایت په سنن نسائی کښې شته، په هغې کښې داسې هم دی : نزلت هذه الآية في المشركين فمن تاب منهم قبل أن يقدر عليه لم يكن عليه سبيل وليست هذه الآية للرجل المسلم فمن قتل وأفسد في الأرض وحارب الله ورسوله ثم لحق بالكفار قبل أن يقدر عليه لم يمنعه ذلك أن يقام فيه الحد الذي أصاب.

د نسائی د دې روایت د وجې نه د ابن عباس رضی الله عنهما د قول مطلب دا شو چه په دې آیت کریمه کښې چه راغلې دې ﴿ الا الذين تابوا من قبل ان تقدروا عليهم الاية ﴾ چه په دې قطاع الطریق کښې چه کوم داسې وی چه هغوی د ګرفتارئ نه مخکښې توبه اوکړی نو د هغوی نه به حد یعنی د الله پاک حق معاف شی دا په هغه صورت کښې دې چه کله هغه قاطع مشرک وی ځکه چه دا آیت کریمه د مشرکین په پاره کښې دی خو که هغه قاطع طریق په مسلمین کښې دی او د ګرفتارئ نه مخکښې قطع طریق کولو سره دار الحرب ته اوتختی نو د هغې حکم دا نه دې په هغه باندې که د حد جاری کولو موقع راوځی په داسې طریقه چه هغه بیا څه وخت

---

[1] ځکه چه د مرتد قتل په هر حال کښې واجب دې او په اظهار د فساد باندې موقوف نه دې، دویم دا چه د مرتد صرف قتل واجب دې د مرتد صرف لاس پرې کول یا د هغه جلاوطن کول کافی نه دی، دریم دا چه د دې آیت کریمه نه معلومیږی چه دا حد به هغه وخت ساقطیږی چه کله مجرم د ګرفتاریدو نه مخکښې توبه اوکړی او که د ګرفتارئ نه پس توبه اوکړی نو دا حد به نه ساقطیږی خو دا حکم د قاطع الطریق خو دې خو د مرتد دا حکم نه دې ځکه چه د مرتد حد په هر حال کښې په توبې سره ساقطیږی، مرتد که د ګرفتارئ نه مخکښې توبه اوکړی یا روستو په هغه باندې به حد نه شی جاری کولی، څلورم دا چه د مرتد حکم قتل دې نه صلب (سولی) پنځم دا چه د آیت کریمه الفاظ عام دی کوم چه ارتداد او ډاکې او شوکې او ناحق قتل ته شامل دی، غاية ما في الباب که او هم منلې شی چه آیت د مرتدینو په باره کښې نازل شوې نو اعتبار به عموم دد لفظ لره وی نه د خصوص السبب لره اوګوره تفسیر کبیر ۴۰۷/۳ واحکام القرآن للجصاص ۴۰۷/۲ (معارف القرآن)

دارالاسلام ته راشي نو په هغه باندي به حد شرعي نافذ کولي شي يعنی هم هغه سزا کومه چه د قطاع الطريق وی په يو صورت کښې صرف قطع يد ورجل او په يو صورت کښې قتل يا دواړه، هغه به پرې جاری کولي شی، ﴿ وانت تعلم ان هذا ليس هو مسلک الجمهور فان عندهم هذه الاية والحکم المذکور فيها ليس مختصا باهل الشرک بل هو عام سواء کانوا ای قطاع الطريق مسلمين او مشرکين ﴾ خو په بذل کښې د ګنګوهي د تقرير نه د ابن عباس رضی الله عنهما د دې قول توجيه نقل کړې ده چه د ابن عباس رضی الله عنهما قول ﴿ لَمْ يَمْنَعْهُ ذَلِكَ أَنْ يُقَامَ فِيهِ الْحَدُّ الَّذِي أَصَابَهُ ﴾ کښې د دې حد نه مراد حد شرعی نه دې بلکه حق العبد مراد دې، مثلا هغه مال کوم چه دې قاطع طريق اخستلې دې يا نفس سهی، خو په دې صورت کښې به دا قتل د قصاص په طور وی د حد په طور به نه وی کما تقدم عن معارف القرآن، خو د نسائی د روايت مفصله د راتلو نه پس به د حضرت دا توجيه توجيه القول بما لا يرضی به القائل د قبيل نه شی[1] بلکه هم دا به وئيل پکار وی چه په دې مسئله کښې د ابن عباس رضی الله عنهما مسلک د جمهورو خلاف دې لکه چه خپله په البذل المجهود کښې د نسخه احمديه په حاشيه کښې د مولانا شاه اسحاق صاحب دا قول نقل کړې شوې دې لعله مذهب ابن عباس، والله تعالی اعلم بالصواب وهذا جهد المقل فی توضيح هذا المقام. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

بَابٌ فِي الْحَدِّ يُشْفَعُ فِيهِ

باب د شرعی حد د معاف کولو دپاره د سفارش بيان

[٤٣٧٣] ([2]) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ الْهَمْدَانِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي. ح حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِي سَرَقَتْ، فَقَالُوا: مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا يَعْنِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالُوا: وَمَنْ يَجْتَرِئُ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أُسَامَةُ أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ، ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ، فَقَالَ: إِنَّمَا هَلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَايْمُ اللَّهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا".

د عائشه رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه د قبيله بن مخزوم يوې ښځې قريش په مشکل کښې واچول په دې وجه چه د غه ښځې غلا کړې وه بيا دوی په خپل مينځ کښې شروع شول چه وئيل بسې اباددې ښځې په باره کښې کوم کس د نبی عليه السلام سره خبرې کولي شي؟ خلقو په جواب کښې اووئيل چه په دې خبره باندې صرف اسامه بن زيد رضی الله عنه جرات کولي شي ځکه چه هغه د نبی عليه السلام دوست دې، اسامه بن زيد د نبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو او عرض

[1]: که دې روايت د ابوداؤد ته د نورو رواياتو په شان اوکتلې شی نو دا يو غوره توجيه وه د حضرت طبع لطيف مطابق ځکه چه د حضرت ذوق په دې قسم مواقع کښې د تنقيد نه دې بلکه د توجيه دې.

[2]: صحيح البخاري/الشهادات ٨ (٢٦٤٨)، الأنبياء ٥٤ (٣٤٧٥)، فضائل الصحابة ١٨ (٣٧٣٢)، المغازي ٥٣ (٤٣٠٤)، الحدود ١١ (٦٧٨٧)، ١٢ (٦٧٨٨)، ١٤ (٦٨٠٠)، صحيح مسلم/الحدود ٢ (١٦٨٨)، سنن الترمذي/الحدود ٦ (١٤٣٠)، سنن النسائي/قطع السارق ٥ (٤٩٠٣)، سنن ابن ماجه/الحدود ٦ (٢٥٤٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٢/٦)، سنن الدارمي/الحدود ٥ (٢٣٤٨) (صحيح)

ئې وکړو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل اې اسامه ایاته دالله تعالی په حدونوکښې دیوحدپه باره کښې سفارش کوې ددینه پس نبی کریم ﷺ اودریدو اوخطبه ئې ورکړه اوداسې ئې اوفرمائیل همدې څیز خوهغه خلق هلاک کړي رو کوم چه ستاسونه مخکښې تیرشوي دي چه کله به په دوی کښې یوصاحب حیثیت کس غلا وکړه نوهغه به دسزا ورکولونه بغیر پریخودلې شو اوکله چه به پدرې کښې یوغریب کس دغلاجرم وکړو نو په هغه باندې به دغلا سزا جاري کړې شوه، په الله قسم دمحمده لور فاطمه هم که چرې غلا وکړي نودهغې به هم خامخا لاس پریکوم.

قوله: ﴿ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِى سَرَقَتْ فَقَالُوا مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا تَعْنِى رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم–. قَالُوا وَمَنْ يَجْتَرِئُ إِلاَّ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُولِ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم الخ ﴾

مضمون الحديث:

سیده عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه د قریشو یو زنانه غلا اوکړه چه د هغې په وجه باندې قریش فکرمند وو چه د هغې په باره کښې رسول الله ﷺ ته څوک سفارش اوکړي، ځکه چه د غلا د ثبوت نه پس د هغې سزا قطع ید لازمی ده او د خاندان قریش دپاره به دا خبره ډیره د شرم باعث وی چه د یوې قریشیه لاس پرې کړې شی په دې وجه هغوی د رسول الله ﷺ محبوب خادم اسامه بن زید رضی الله عنهما لره تیار کړو دې خبرې ته چه رسول الله ﷺ ته سفارش اوکړي پس هغوی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راتلو سره د هغې په باره کښې سفارش اوکړو، رسول الله ﷺ په دې باندې ډیر زیات خفه شو پس په دې خبره باندې رسول الله ﷺ یو خطبه ارشاد اوفرمائیله: ﴿ إِنَّمَا هَلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ ﴾

چه تیرشوی ډیر امتونه هم په دې وجه هلاک شوی دی چه که په هغوی کښې به د یوې عزت مندې کورنئ یوکس غلا اوکړه نوهغه به ئې پریخودلو، اوکه د کمې درجې سړې به وو نوپه هغه به ئې حد جاری کولو، او نبی علیه السلام اوفرمائي: وايم الله لو ان فاطمة بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم سرقت لقطعت يدها، په دې موقع باندې اعاذنا الله من ذلک لوستل پکار دی په بذل کښې لیکلې شوې دی، په ابن ماجه کښې هم دا روایت چه د هغې په آخر کښې دی: قال محمد بن رمح (شيخ المصنف) سمعت الليث بن سعد يقول قد اعاذها الله عزوجل ان تسرق: وكل مسلم ينبغى له ان يقول هذا،

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٣٧٤](١) حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَتِ امْرَأَةٌ مَخْزُومِيَّةٌ تَسْتَعِيرُ الْمَتَاعَ وَتَجْحَدُهُ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَطْعِ يَدِهَا وَقَصَّ نَحْوَ حَدِيثِ اللَّيْثِ، قَالَ: فَقَطَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهَا، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى ابْنُ وَهْبٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَقَالَ فِيهِ كَمَا قَالَ اللَّيْثُ: إِنَّ امْرَأَةً سَرَقَتْ فِي

(١): صحيح مسلم /الحدود ٢ (١٦٨٨)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٤٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٦٢)، ويأتي برقم (٤٣٩٧) (صحيح)

عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ الْفَتْحِ، وَرَوَاهُ اللَّيْثُ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِإِسْنَادِهِ، فَقَالَ: اسْتَعَارَتِ امْرَأَةٌ وَرَوَى مَسْعُودُ بْنُ الْأَسْوَدِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا الْخَبَرِ قَالَ: سَرَقَتْ قَطِيفَةً مِنْ بَيْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَوَاهُ أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ امْرَأَةً سَرَقَتْ فَعَاذَتْ بِزَيْنَبَ بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دعائشه رضي الله عنها نه روايت ئي فرمائي چه دقبيله بن مخزوم يوي ښځې به دخلقونه سوالي او اماني څيزونه غوښتل اوبيابه په هغې باندې منكريدله نونبي عليه السلام دهغې دلاس په پريكولو باندې حكم وكړو اوباقي حديث ئي دليث دحديث په شان بيان كړو، راوي وائي نبي عليه السلام دهغې لاس پريكړو، ابوداؤد فرمائي دا روايت ابن وهب ديونس نه اوهغه دزهري نه بيان كړې دې هغه دزفري نه او په دې روايت كښې هم داسې ذكركړيدې لكه څرنګه چه دليث په روايت كښې وو چه يوه ښځې دنبي عليه السلام په زمانه كښې دمې دفتح په كال باندې غلا كړيوه اودا روايت ليث ديونس نه بيان كړې دې اوهغه دابن شهاب نه په همدې سند سره نقل كړې دې او پدې روايت كښې داسې دی چه دغه ښځې دچانه څه شي دفرض په طور اغستلې وو (اوبيا ئي انكار وكړو) اودا روايت مسعود بن الاسود رضي الله عنه دنبي عليه السلام نه بيان كړې دې او په دې روايت كښې داسې دی چه دغه ښځې دنبي عليه السلام دكور نه يوڅادر پټ كړې وو، امام ابوداؤد فرمائي دا روايت ابوزبير دجابرنه نقل كړې دې چه بوې ښځې غلا كړې وه اوبيا ئي دنبي عليه السلام دلود زينب نه پناه وغوښتله.

﴿عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ كَانَتِ امْرَأَةٌ مَخْزُومِيَّةٌ تَسْتَعِيرُ الْمَتَاعَ وَتَجْحَدُهُ فَأَمَرَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- بِقَطْعِ يَدِهَا وَقَصَّ نَحْوَ حَدِيثِ اللَّيْثِ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَى ابْنُ وَهْبٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ فِيهِ كَمَا قَالَ اللَّيْثُ إِنَّ امْرَأَةً سَرَقَتْ ﴾

د باب په اول روايت كښ چه د هغې راوی ليث دې په هغې كښ قطع يد لاجل السرقة ذكر دې، او دا د حديث دويم طريق يعنی معمر عن الزهری په دې كښ قطع يد لاجل جحود العارية ذكر دې، هم دې اختلاف د روايت لره مصنف رحمه الله دلته ذكر فرمائي، خو په انكار د عارية باندې د قطع يد مسئله مختلف فيه ده، ائمه ثلاث او جمهور د دې قائل نه دی خو امام احمد د دې قائل دې، پس د څو ابوابو نه پس په يو باب كښ راځي، باب في القطع في العارية اذا جحدت، او هلته مصنف رحمه الله هم د دې ترجمې مطابق روايات ذكر كړې دی، په ظاهر كښ د حنابله د مسلک په تائيد كښ، ځكه چه خپله مصنف رحمه الله حنبلی دې على ما هو المشهور لهذا جمهور به د دې په جواب كښ هم دا وائي چه د دې امراءة مخزوميه چه يو طرف ته دا عادت وو چه هغوی د خلقو په نوم باندې كورونو ته تلو سره كالی وغيره په سوال باندې اخستل او روستو به ئي انكار كولو نو يو طرف ته چه د هغوی عادت دا وو بل طرف ته به هغوی كله كله غلا هم كوله لكه چه په حديث الباب كښ راغلی دی، لهذا د راتلونكی باب جواب د جمهورو د طرف نه هم دا وركولې شی، چه د هغې قطع يد لاجل السرقة وو نه د جحود عارية په وجه باندې.

....

[۴۳۷۵] (¹) حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ زَيْدٍ نَسَبَهُ جَعْفَرٌ إِلَى سَعِيدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَقِيلُوا ذَوِي الْهَيْئَاتِ عَثَرَاتِهِمْ إِلَّا الْحُدُودَ".

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی دبامروته خلقو لغزشونه معاف کوئ خو د حدودونه علاوه (يعنی داسې خلق کوم چه عموما نيک وي او په عام طور سره په ګناهونو اوجرائموکښې ملوث نوي که چرې ددوينه خطائي وشي نومعافي ورته کوئ مګرکچرې داسی ګناه ورنه وشي کومه چه په حدودوکښې شامل وي نوهغه نشي معاف کيدې).

قوله: ﴿ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أَقِيلُوا ذَوِى الْهَيْئَاتِ عَثَرَاتِهِمْ إِلاَّ الْحُدُودَ » ﴾

شرح الحديث:

رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو حکام او اميرانو لره ته خطاب کولو سره چه د ښه او بدو خلقو غلطو لره معاف کوئ، مګر حدود چه په دې کښې به د چا رعايت هم نه شی کولې.

امام شافعی رحمه الله فرمائی چه ذوالهيئة هغه سړې دې چه د هغه حالت غير مشکوک وی، او وئيلې شوې دی چه د دې نه مراد هغه خلق دی کوم خلق چه په شرارت کښې مشهور نه وی نو که د داسې سړی نه څه خطاء اوشی نو هغه ته بخښنه کوئ، او يا د دې نه مراد باحيثيته خلق دی، او د عثرات نه مراد وئيلې شوې دی چه واړۀ ګناهونه دی، په دې صورت کښې به ﴿الا الحدود ﴾ استثناء منقطع وی، يا به د ذنوب نه مراد مطلق ګناهونه وی، او د حدود نه مراد هغه ګناهونه کوم چه حد ته رسونکی دی، په دې صورت کښې به استثناء متصل وی خو دا حديث بعض علماء لکه سراج الدين قزوينی موضوع ګرزولې دې خو حافظ ابن حجر د دې ترديد کړې دې او د دې ئې نور طرق بيان کړی دی د دې په سند کښې يو راوی دې عبدالملک بن زيد چه د هغه په باره کښې کلام دې څه حصه تفصيل دې د هغې په بذل المجهود کښې اوکتلې شی. والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابُ الْعَفْوِ عَنِ الْحُدُودِ، مَا لَمْ تَبْلُغِ السُّلْطَانَ

باب: کومه معامله چه قاضی ته لا نه وی پيش شوې دهغې دمعاف کولو بيان

[۴۳۷۶] (²) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ جُرَيْجٍ يُحَدِّثُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "تَعَافُوا الْحُدُودَ فِيمَا بَيْنَكُمْ فَمَا بَلَغَنِي مِنْ حَدٍّ فَقَدْ وَجَبَ".

دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه رسول کريم فرمائيلی دی تاسو پخپل مينځ کښې يوبل ته دحدودې معافي کوي ليکن کله چه ماته ديوحدپه باره کښې

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۱/۶) (صحيح)
²): سنن النسائي/قطع السارق ۵ (۴۸۸۹)، (تحفة الأشراف: ۸۷۴۷) (صحيح)

معامله را ورسیږي نو بیا حد خامخا واجبیږي.

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « تَعَافَوْا الْحُدُودَ (١) فِيمَا بَيْنَكُمْ فَمَا بَلَغَنِي مِنْ حَدٍّ فَقَدْ وَجَبَ » ﴾ یعنی هغه ګناهونه او امور کوم چه موجب حد دی نو هغې لره قاضی ته د رسیدو نه مخکښ خپل مینځ کښ تاسو معاف کولې شئ خو چه کله مسئله قاضی ته اورسیږی نو بیا هغه وخت د معافئ ګنجائش نشته بلکه حد به واجب وی هم دا قانون دې د سفارش هم اوګنړلې شی چه د بلوغ الی السلطان نه مخکښ خپل مینځ کښ د یو بل سفارش کیدې شی روستو نه. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری

بَاب فِي السَّتْرِ عَلَى أَهْلِ الْحُدُودِ

باب په چا چه حد واجب شوې وی په هغوی د پردې اچولو بیان

یعنی د کوم سړی نه چه د داسې فعل صدور اوشی کوم چه موجب حد دې شرعا، په هغې کښ اخفاء او پرده کول اولی دی لکه زنا او شراب څکل، په بذل کښ لیکلې دی ای استحبابه، ولعله مقصود فیما فیه حق الله تعالی فقط اهـ د کوم مثال چه مونږ پورته ورکړې دې، او چرته چه د بنده حق ضائع کیږی هلته ستر اولی نه دې پس په کتاب الجهاد کښ حدیث تیر شوې دې، من کتم غالا فهو مثله.

[٤٣٧٧] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ مَاعِزًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقَرَّ عِنْدَهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَأَمَرَ بِرَجْمِهِ، وَقَالَ لِهَزَّالٍ: "لَوْ سَتَرْتَهُ بِثَوْبِكَ كَانَ خَيْرًا لَكَ".

یزید بن نعیم دخپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه ماعز دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اودنبی ﷺ په وړاندې ئې څلور پیرې اقرار وکړو اونبی ﷺ وربانديې درجم حکم جاري کړو، اوهزال ته ئې ووئیل که چرې په خپله جامه باندې دې دې پټ کړې وې نوستا دپاره بهتره وه.

قوله: ﴿ وقال لهزال لَوْ سَتَرت بِثَوْبِكَ كَانَ خَيْرًا لَكَ ﴾ د سیدنا ماعز بن مالک اسلمی رضی الله عنه چه د هغوی په باره کښ دا حدیث دې او چا چه د رسول الله ﷺ مخکښ اقرار بالزنا کړې وو دا هغوی د هزال په مشوره باندې کړې وو لکه چه وړاندې په روایت کښ د دې تصریح راروانه ده، په دې وجه رسول الله ﷺ هزال ته فرمائی که تا د ماعز په باره کښ پرده پوشی کړې وه نو ستا دپاره غوره وه. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

[٤٣٧٨] (٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ، أَنَّ هَزَّالًا أَمَرَ مَاعِزًا أَنْ يَأْتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُخْبِرَهُ.

دابن منکدرنه روایت دې فرمائی چه هزال ماعزته ووئیلې ووچه نبی ﷺ ته ورشې او په واقعه باندې ئې خبرکړې.

(١) وسیأتي ص ٢٥٦ من البذل في باب التجس حدیث ابن مسعود رضي الله تعالى عنه وفيه انا نهينا عن التجس. انتهى.

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٦٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٧/٥) (ضعيف)

(٣): انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ١١٧٢٩) (ضعيف)

بَابٌ فِي صَاحِبِ الْحَدِّ يَجِيءُ فَيُقِرُّ

باب: څوک چه حاکم ته راشی او د جرم اقرار اوکړی دهغې بیان

[٤٣٧٩]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا سِمَاكُ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ امْرَأَةً خَرَجَتْ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرِيدُ الصَّلَاةَ فَتَلَقَّاهَا رَجُلٌ فَتَجَلَّلَهَا فَقَضَى حَاجَتَهُ مِنْهَا فَصَاحَتْ وَانْطَلَقَ فَمَرَّ عَلَيْهَا رَجُلٌ، فَقَالَتْ: إِنَّ ذَاكَ فَعَلَ بِي كَذَا وَكَذَا، وَمَرَّتْ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ فَقَالَتْ: إِنَّ ذَلِكَ الرَّجُلَ فَعَلَ بِي كَذَا وَكَذَا فَانْطَلَقُوا فَأَخَذُوا الرَّجُلَ الَّذِي ظَنَّتْ أَنَّهُ وَقَعَ عَلَيْهَا فَأَتَوْهَا بِهِ فَقَالَتْ: نَعَمْ هُوَ هَذَا، فَأَتَوْا بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أَمَرَ بِهِ قَامَ صَاحِبُهَا الَّذِي وَقَعَ عَلَيْهَا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَا صَاحِبُهَا، فَقَالَ لَهَا: اذْهَبِي فَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَكِ، وَقَالَ لِلرَّجُلِ قَوْلًا حَسَنًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: يَعْنِي الرَّجُلَ الْمَأْخُوذَ، وَقَالَ لِلرَّجُلِ الَّذِي وَقَعَ عَلَيْهَا ارْجُمُوهُ، فَقَالَ: لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا أَهْلُ الْمَدِينَةِ لَقُبِلَ مِنْهُمْ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ أَسْبَاطُ بْنُ نَصْرٍ أَيْضًا، عَنْ سِمَاكٍ.

دوائيل بن حجر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دنبي عليه السلام په زمانه کښې يوه ښځه دمونځ دپاره ووتله اوودې زنانه سره په لاره کښې يوکس مخامخ شوهغه په دې باندې ور اوختو اوجماع ئې ورسره وکړله نودې زنانه شور جوړ کړو اودغه کس لاړو په دې وخت کښې يوبل کس ددې زنانه په خواکښې تيريدو دې زنانه ووئيل فلانی کس زماسره دا کار کړي دي اود مهاجرينو يوه ډله راغله اودې زنانه ورته خپل بيان وکړوچه فلانی کس زماسره داحرکت کړي دي هغوی ټولوچه داخبره واوريده نولاړل اودغه کس ئې ونيولوپه چاباندې چه زنانه دجانبه الزام ووډنيولو نه پس دزنانه خواته راوستلې شونوزنانه دالزام تصديق وکړواوداسې ئې ووئيل چه همدا کس دې، نو په دې خبره باندې صحابه کرامودغه کس نبي عليه السلام ته بوتلونونبي عليه السلام په ده باندې حکم کول اوغوښتل چه يکدم هغه اصلي کس پاځيدو او وې وئيل اې دالله رسوله داحرکت ماکړي رونبي عليه السلام زنانه ته اوفرمائيل ته خولاړه شه الله تعالى ستاګناه معاف کړه اونبي عليه السلام داولني ملزم تعريف وکړو، بياصحابه کرامونبي عليه السلام ته ووئيل چه چه دا وروستني کس سنګسار کړئ نبي عليه السلام اوفرمائيل چه ده داسې توبه ويستلي ده که چرې ټول مديني والاداسې توبه وکړي نوددوی نه به قبوله شي، امام ابوداؤدفرمائي چه دا روايت سماک داسباط بن نصرنه هم بيان کړي دي.

قوله: ﴿ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ امْرَأَةً خَرَجَتْ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- تُرِيدُ الصَّلاَةَ فَتَلَقَّاهَا رَجُلٌ فَتَجَلَّلَهَا ([2])فَقَضَى حَاجَتَهُ مِنْهَا الخ ﴾

مضمون الحديث :

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې يو زنانه د کور نه اوتله مسجد ته د مانځه په غرض سره په لاره کښې يو نامعلومه سړې هغې ته ملاؤ شو پس هغه په هغې باندې راخور شو او خپل حاجت ئې د هغې نه پوره کړو، هغه زنانه په دې باندې چغې کړې خو هغه سړې خپل کار کولو سره لاړو، د دې نه پس يو بل سړې دغه زنانه باندې تير شو نو دغه زنانه هم د دې

[1]: سنن الترمذي/الحدود ٢٢ (١٤٥٤)، (تحفة الأشراف: ١١٧٧٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٩٩) (حسن)

[2] بالجيم فهو كناية عن الجماع قاله السيوطي وقال القاري اي فخشيها بثوبه فصار كالجل عليه. اه. (عون).

سړی په باره کښې دا وئیل شروع کړل چه هم دې سړی ما سره دا کار کړې دې، د مهاجرینو یو جماعت په هغه ځائې باندې راتیر شو نو هغوی ته هم دې زنانه هم داسې اووې، دې خلقو هغه سړې اونیولو او هغه زنانه ته ئې نزدې راوستلو، زنانه اووې او هم دا سړې دې، خلقو هغه سړی د رسول اللهﷺ په خدمت کښې راوستلو، چه کله رسول اللهﷺ په هغه سړی باندې د حد جاری کولو حکم اوفرمائیلو نو اوس اصل سړې په مجلس کښې اودریده او عرض ئې اوکړو یا رسول اللهﷺ صاحب د واقعې خو زه یم، د دې نه پس
داسې اوشو چه رسول اللهﷺ هغه زنانه ته اوفرمائیل چه ته لاړه شه الله پاک ته معاف کړې، ځکه چه هغه خو مجبوره وه ځه چه د هغې سره اوشو هغه بغیر د هغې د ارادې او رضا نه اوشو، او د هغه سړی په باره کښې ئې چه بری وو ښه خبره ارشاد اوفرمائیله، د هغه د زړه ساتلو دپاره، صحابه کرامو رضی الله عنهم رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو د هغه سړی په باره کښې کوم چه صاحب د واقعې وو چه دې رجم کړئ، خو د ترمذی په روایت کښې دی چه خپله رسول اللهﷺ د خلقو ته د رجم کولو حکم اوفرمائیلو ولفظه: ﴿وقال للرجل الذی وقع علیها ارجموه﴾

تحقیق نفیس واجب التنبیه :

دلته په البذل المجهود کښې حضرت لیکلی دی : فامر برجمه فرجم... چه رسول اللهﷺ د هغه صاحب واقعه د رجم حکم اوفرمائیلو، پس هغه رجم کړې شو، د حضرت دا رائې د ترمذی د روایت موافق ده خو د ابوداؤد روایت چه د هغې سیاق، د سیاق ترمذی خلاف دې په دې کښې د حضورﷺ د طرف نه د امر بالرجم تصریح نشته لهذا د ابوداؤد د روایت د وجې نه دا نه شی وئیلې کیدې چه رسول اللهﷺ د دې سړی رجم کړې وی بلکه د دې تقاضا خو دا ده چه رسول اللهﷺ دا سړې رجم نه کړو ځکه چه خلقو چه کله رسول اللهﷺ ته درخواست اوکړو د رجم په باره کښې نو رسول اللهﷺ په دې باندې اوفرمائیل ﴿لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا أَهْلُ الْمَدِينَةِ لَقُبِلَ مِنْهُمْ﴾ د حضرت شیخ رائې هم دا ده او د ترمذی د روایت په باره کښې حضرت په حاشیه د بذل کښې لیکلې دی هو عندی وهم کما فی هامش الکوکب الدری، په حاشیه د کوکب کښې حضرت شیخ د ابوداؤد سیاق لره ترجیح ورکولو سره خپله رائې دا لیکلې ده چه د دې سړی رجم او نه کړې شو چه بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو د رجم په باره کښې، حضرت شیخ لیکی : **ویوافق سیاق ابی داؤد سیاق الذهبی فی التذکرة بلفظ فقالوا : اترجمه؟ فقال لقد تاب توبة الخ وکذا ما فی مسند احمد فقیل یا نبی الله الا ترجمه؟ فقال لقد تاب توبة الخ وهذا تحقیق نفیس لم یعترض له الشراح، والله تعالی اعلم بالصواب.**

او رسول اللهﷺ دا هم ارشاد اوفرمائیلو چه دې سړی داسې توبه کړې ده چه که د اسې توبه تولې مدینې والا هم د خپلو ګناهونو دپاره اوکړی نو د تولو نه به قبوله کړې شی.

(اشکال): دلته یو څیز بل قابل غور دې او هغه دا چه په دې روایت کښې راغلی دی، ﴿فلما امر به قام صاحبها﴾ په دې باندې دا اشکال دې چه تر اوسه پورې دې سړی د زنا اقرار نه دې کړې، او نه ورسره باقاعده څوک ګواهان وو نو بیا رسول اللهﷺ د دې رجل بری د رجم اراده څنګه اوفرمائیله؟

جوابات: هم په دې وجه شارحينو د دې حديث تاويل داسې کړې دې چه کيدې شي د راوى مراد دا وى ﴿ فلما قارب ان يامر به ﴾ يعنى د ظاهر حال نه معلوميږى چه بس اوس به رسول الله ﷺ په هغه باندې د رجم فيصله اوفرمائى، ځکه چه خلقو دا سړې د رسول الله ﷺ مخې ته حاضر کړې وو، او رسول الله ﷺ د هغه په باره کښې تفتيش کولو، او د حضرت گنگوهى په تقرير کښې دى : الظاهر ان الامر لم يكن الا باخراجه وابعاده حيث راه اختل عقله وتشتت امره ولم يثبت عليه شئ الخ يعنى د رسول الله ﷺ دا امر د حد جارى کولو دپاره نه وو بلکه د هغه د مجلس نه د ويستلو باره کښې وو، ځکه چه دغه سړې ددې تهمت په وجه پريشانه او گډ وډ وو، خبرې ئې هم نه شوې کولې، په دې وجه نبى عليه السلام دهغه دمجلس نه د وتلو حکم اوفرمائيلو، خو هغه واقعې والا دا اوگڼړله چه هغه د اقامة حد دپاره بوتللې شو په دې وجه هغه فورا د خپل فعل اقرار اوکړو ددې برى سړى لره د بچ کولو دپاره، الى آخر ما فى البذل. والحديث اخرجه الترمذى، وابن ماجة بنحوه، قاله المنذرى.

بَابٌ فِي التَّلْقِينِ فِي الْحَدِّ

باب د حد دپاره د تلقين کولو بيان

د تلقين فى الحد مطلب دا دې چه چرته د حد ثبوت په طريق اقرار وى نو هلته د قاضى دا کوشش کول چه د حد ثبوت اونه شى نو غوره ده گويا هغه د خپل اقرار نه واوړى، وهذا التلقين مستحب لدرأ الحد، لا لاسقاط حق المسروق منه، فيعطى له حقه وان اندرء الحد كذا فى البذل، يعنى په دې تلقين سره مقصود حق العبد لره ضائع کول نه دى لهذا مسروق منه ته به د هغه حق ورکولې شى اگر چه حد ساقط شى مثلا يو سړې قاضى ته راتلو سره د زنا اقرار اوکړى نو هغه ته دې اووائى چه اې بيوقوفه! تا ته خبر هم شته چه زنا څۀ ته وائى او مسلمان هم چرته زنا کولې شى، او هم دغه شان د قاضى د دې اقرار بالزنا په وخت اعراض کول د هغه د طرف نه مخ اړول، او لکه څنګه چه دلته په حديث الباب کښې دى چه رسول الله ﷺ هغه غل ته چا چه د هغوى مخکښې د غلا اقرار کړې وو اوفرمائيل : ﴿ ما اخالك سرقت ﴾ چه زمونږ خو دا خيال نشته چه تا به غلا کړې وى.

[٤٣٨٠](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي الْمُنْذِرِ مَوْلَى أَبِي ذَرٍّ، عَنْ أَبِي أُمَيَّةَ الْمَخْزُومِيِّ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلِصٍّ قَدِ اعْتَرَفَ اعْتِرَافًا وَلَمْ يُوجَدْ مَعَهُ مَتَاعٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا إِخَالُكَ سَرَقْتَ، قَالَ: بَلَى، فَأَعَادَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا فَأَمَرَ بِهِ فَقُطِعَ وَجِيءَ بِهِ، فَقَالَ: اسْتَغْفِرِ اللَّهَ وَتُبْ إِلَيْهِ، فَقَالَ: أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ ثَلَاثًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: عَنْ أَبِي أُمَيَّةَ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دابوامیه مخزومی رضى الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى ﷺ ته يو غل راوستل شو او اقرارې

---

(1): سنن النسائي/قطع السارق ٣ (٤٨٨١)، سنن ابن ماجه/الحدود ٢٩ (٢٥٩٧)، (تحفة الأشراف: ١١٨٦١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٩٣) (ضعيف)

هم کړي وومګر څه مال ورسره برامدنشونبی ﷺ اوفرمائیل زما خیال دي چه تا غلا کړې ده ده ووئیل هوکړي مې ده بیانبی ﷺ دده په وړاندې دوه یادرې پیرې همداسې ووئیل اوبیائي ورباندې حد جاري کړواولاس ئې پرې کړي شو بیا یوځل نبی ﷺ ته راوستلې شوورته ئې اوفرمائیل دالله تعالی نه مغفرت اوغواړه اوهغه ته رجوع وکړه هغه ووئیل زه دالله نه معاني غواړم اوهغه ته رجوع کوم، بیانبی ﷺ درې پیرې اوفرمائیل اې الله دده توبه قبوله کړې او ده ته مغفرت وکړې. امام ابوداؤد فرمائی چه دې روایت لره عمرو بن عاصم دهمام نه اوهغه داسحاق نه اوهغه دابو امیه نه نقل کړې دې.

﴿قال بلى فاعاد عليه مرتين﴾ اعتراف سرقه د جمهورو په نزد د غلا د ثبوت دپاره یو ځل کافی دې او د امام احمد او ابویوسف په نزد دوه کرته اقرار ضروری دې.

﴿فقال استغفر الله وتب اليه، فقال استغفرالله واتوب اليه﴾

حدود صرف زواجر دی او که کفارات هم؟

یعنی د قطع د ید نه پس چه کله هغه سارق رسول الله ﷺ ته راوستلې شو نو رسول الله ﷺ هغه ته د توبې او استغفار حکم اوفرمائیلو، په دې سره د احنافو تائید کیږی چه وائی چه حد مکفر نه دی بلکه زاجر دی پس په بذل المجهود کښې دی: وهذا يدل على ان الحد ليس بكفارة للذنوب والكفارة هي التوبة اهـ په دې مسئله باندې په صحیح بخاری کښې مستقل باب دې، باب الحدود كفارة: او هم دغه شان په ترمذی کښې: باب ما جاء ان الحدود كفارة لاهلها، په دې کښې هغوی د عبادة بن صامت رضی الله عنه حدیث ذکر کړې دې: ﴿كنا عند النبي صلى الله عليه و سلم في مجلس فقال تبايعوني على أن لا تشركوا بالله شيئا ولا تسرقوا ولا تزنوا قرأ عليهم الآية فمن وفى منكم فأجره على الله ومن أصاب من ذلك شيئا فعوقب عليه فهو كفارة له الخ﴾ او په عرف الشذی کښې دی: في كتب أصولنا أن الحدود زواجر، وعند الشافعية سواتر وكفارات، ولم أجد عن أئمتنا ومشائخنا أن الحدود زواجر فقط لا كفارات، لكن المحقق أن الحدود كفارات بعض الكفارة وعلى هذا عندي نقول، شاه صاحب دا فرمائی چه دا خبره "حدود کفاره نه دی" د احنافو په نزد، دا نقل صحیح نه دې، د احنافو په نزد هم په حدودو کښې تکفیر ته دخل دې یعنی فی الجملة هغه مکفر دی، او بیا ئې د دې موافق د بعض ائمه احنافو عبارتونه رانقل کړی دی، فارجع اليه لو شئت، او په حاشیه د بذل کښې حضرت شیخ د فریقین دلائلو طرف ته اشاره کړې ده. [1] والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

....

[1]) ففي هامش البذل: قال القاري في المرقاة ۸۰/۱۰ في حديث عبادة: من اصاب من ذلك شيئا فعوقب في الدنيا فهو كفارة، ومنه اخذ اكثر العلماء ان الحدود كفارات، وحديث لا ادري الحدود كفارات ام لا قبل العلم بذلك اهـ وينظر النووي ۷۳/۲ وذكر العيني ۱۸۷/۱ المؤيدات لحديث عبادة ان الحدود كفارات، قلت ويؤيد الحنفية حديث الباب وقوله تعالى انما جزاء الذين يحاربون الله ورسوله الآية.... وفيها عذاب الآخرة مع عذاب الدنيا، ولذا اضطر صاحب تفسير الجمل بتاويل الآية بالكافر او بمن لم يقم عليه الحد اهـ ما في الهامش)

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَعْتَرِفُ بِحَدٍّ وَلَا يُسَمِّيهِ

باب: څوک چه د جرم اعتراف اوکړي خو نوم ئې وانخلي دهغې بيان

[٤٣٨١] (١) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو عَمَّارٍ، حَدَّثَنِي أَبُو أُمَامَةَ، "أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ، قَالَ: تَوَضَّأْتَ حِينَ أَقْبَلْتَ، قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: هَلْ صَلَّيْتَ مَعَنَا حِينَ صَلَّيْنَا، قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: اذْهَبْ فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَدْ عَفَا عَنْكَ".

دابوامامة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوکس دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضرشو اوعرض ئې وکړوچه اې دالله رسوله زه حدته رسيدلي يم په مائې جاري کړه، نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل آيا اودس دې کړي وو کله چه مونږ ته راتلې؟هغه ووئيل هوبيائې ورته اوفرمائيل ايامونځ دې کړې دې کله چه مونږ مونځ کولو؟ هغه ووئيل هوبيائې ورته اوفرمائيل لاړ شه يقينا الله تعالى تاته معاني وکړله

﴿ حدثني أَبُو أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلاً أَتَى النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّى أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ قَالَ « تَوَضَّأْتَ حِينَ أَقْبَلْتَ ». قَالَ نَعَمْ الخ ﴾

يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلو او عرض ئې اوکړو يا رسول الله ﷺ! زما نه ګناه شوې ده په ما باندې حد قائم کړئ رسول الله ﷺ اوفرمائيل تا د راتلو په وخت کښې اودس کړې وو، هغه عرض اوکړو کړې مې وو، بيا رسول الله ﷺ د هغه نه د مانځه په باره کښې تپوس اوکړو چه تا مونږ سره مونځ کړې وو چه کله مونږ مونځ کولو هغه اووې اوجی، رسول الله ﷺ اوفرمائيل ځه الله پاک ته معاف کړې.

شارحينو ليکلی دی. كما فى البذل..... چه په ظاهره دې سړی په صغائرو کښې د يوې ګناه ارتکاب کړې وی، خو د هغه ګمان دا وو چه دا د حد سبب دې او کيدې شی چه رسول الله ﷺ ته د وحی په ذريعه د دې علم شوې وی چه هغه فعل په صغائرو کښې دې هم په دې وجه رسول الله ﷺ د هغه نه وضاحت طلب نه کړو، چه د هغې يو قرينه دا ده چه مونځ او اودس د صغائرو دپاره مکفر دی نه د کبائرو دپاره. والحديث اخرجه مسلم والنسائي مختصرا ومطولا، قاله المنذري.

بَابٌ فِي الْامْتِحَانِ بِالضَّرْبِ

باب: د تفتيش دپاره د مجرم د وهلو بيان

[٤٣٨٢] (٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ، حَدَّثَنَا أَزْهَرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْحَرَازِيُّ "أَنَّ قَوْمًا مِنَ الْكَلَاعِيِّينَ سُرِقَ لَهُمْ مَتَاعٌ، فَاتَّهَمُوا أُنَاسًا مِنَ الْحَاكَةِ، فَأَتَوْا النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ صَاحِبَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَحَبَسَهُمْ أَيَّامًا ثُمَّ خَلَّى سَبِيلَهُمْ فَأَتَوْا النُّعْمَانَ، فَقَالُوا: خَلَّيْتَ سَبِيلَهُمْ بِغَيْرِ ضَرْبٍ وَلَا امْتِحَانٍ، فَقَالَ النُّعْمَانُ: مَا شِئْتُمْ إِنْ شِئْتُمْ أَنْ أَضْرِبَهُمْ فَإِنْ خَرَجَ مَتَاعُكُمْ فَذَاكَ وَإِلَّا أَخَذْتُ مِنْ ظُهُورِكُمْ مِثْلَ مَا أَخَذْتُ مِنْ ظُهُورِهِمْ، فَقَالُوا:

---

(١): صحيح مسلم/التوبة ٧ (٢٧٦٥)، (تحفة الأشراف: ٤٨٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥١/٥، ٢٦٢، ٢٦٥) (صحيح)

(٢): سنن النسائي/قطع السارق ٢ (٤٨٧٨)، (تحفة الأشراف: ١١٦١١) (حسن)

هٰذَا حُكْمُكَ، فَقَالَ: هٰذَا حُكْمُ اللهِ وَحُكْمُ رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: إِنَّمَا أَرْهَبَهُمْ بِهٰذَا الْقَوْلِ أَيْ لَا يَجِبُ الضَّرْبُ إِلَّا بَعْدَ الِاعْتِرَافِ.

دازهر بن عبدالله حرازی رحمه الله نه روایت دي فرمائي چه دقبیله کلاع ديوخوکسانومال پټ کړي شوهغوی په یوځو جولاګانو باندې دغلا الزام ولګولو اودوی ئې دنبي ﷺ صحابي نعمان بن بشیرته راوستل نعمان دوی لره یوځو ورځې ګرفتار کړي شوي وساتل، او بیا ئې پریخودل بیا هغوی تول نعمان بن بشیر رضی الله عنه ته حاضر شو هغوی عرض وکړوچه تاسو خو غلاګان دوهلو ټکولواوتفتیش نه بغیر پریخودل نعمان ورته ووئیل تاسوڅه غواړئ؟ که ستاسو خوښه وي زه به ئې ووهم مګردي شرط سره که چرې ددوی سره ستاسومال برامد شي خوتهیک ده اوکه ورسره پیدانشي نودغه هومره به تاسوهم وهم هغوی ورته ووئیل آیا داستاخپل حکم دي؟ نعمان ورته ووئیل دادالله تعالی اودهغه درسول حکم دي.

شرح الحديث ومسئلة الباب:

قوله:﴿ حَدَّثَنَا أَزْهَرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْحَرَازِيُّ أَنَّ قَوْمًا مِنَ الْكَلَاعِيِّينَ سُرِقَ لَهُمْ مَتَاعٌ فَاتَّهَمُوا أُنَاسًا مِنَ الْحَاكَةِ الخ ﴾ بعض خلق چه د کلاعیین نه دی یعنی په قبیله ذی کلاع کښ چه د یمن یو قبیله ده، د هغوی سامان غلا شو، د هغوی په څه خلقو باندې شک وو چه د کپړو جوړونکو نه وو، حاکه جمع ده د حائک یعنی جولا، نو هغوی نعمان بن بشیر رضی الله عنه ته لاړل کوم چه هغه وخت د کوفي امیر وو، هغوی ته تلو سره ئې خپله واقعه بیان کړه او خپله شک او شبهه ئې ښکاره کړه هغوی دا متهم خلق څو ورځې نظر بند اوساتل، چه کله ورته هیڅ هم د ثبوت دپاره ملاؤ نه شو نو هغوی ئې پریخودل، هغه کلاعیین هغوی ته راغلل او وې وئیل چه تاسو دوی بغیر د وهلو او امتحان نه پریخودل هغوی اوفرمائیل چه آیا تاسو غواړئ چه زه هغوی اووهم، زه داسې کولې شم که تاسو غواړئ، د دې نه پس که ستاسو سامان د هغوی نه برامد شو نو صحیح ده ګینې بیا به ستاسو ملاګانو لره هم دومره وهل ورکوم څومره چه هغوی اووهلې شی، په دې باندې هغوی اووې چه دا ستاسو فیصله ده؟ هغوی اوفرمائیل دا زما نه بلکه د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ فیصله ده.

د دې حدیث نه معلومه شوه چه رجل متهم د تحقیق او تفتیش دپاره قید کولې شی خو وهل ئې جائز نه دی، پس په کتاب القضاء کښ یو باب تیر شوې دې باب فی الدین هل یحبس به، وتقدم هناک لی الواجد یحل عرضه وعقوبته، قال ابن المبارک یحل عرضه یغلظ له، وعقوبته یحبس له، وفی روایة من هذا الباب ان النبی ﷺ حبس رجلا فی تهمة.

په بذل کښ د حضرت ګنګوهی د تقریر نه نقل کړې شوې دی: الا ان العلماء جوزوا فی ایامنا هذه الامتحان بالضرب وبماشاء من التهدید،([1]) لما روا من تفویت الحقوق واتلافها لولا ذلک، وکان فیما مضی من الزمان یکتفی بالیسیر من التهدید فی اعتراف السارق اهـ یعنی زمونږ په موجوده زمانه کښ علماء کرامو د امتحان بالضرب وغیره اجازت ورکړې دې ګینې د دې نه بغیر د

[1]) وفي هامش البذل: وفيه تفصيل عند الحنفية من ان المعروف بالبر لا يحبس ولا يعاقب وهل يحلف فيه قولا ان المستور يحبس والمعروف لفسق يعاقب (الشامي ٢/ص٢١٤ و ٢٠٥)

حقوق ضائع کیدو ویره ده، او په تیرو زمانو کښ تهدید یسیر کافی وو. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَاب مَا يُقْطَعُ فِيهِ السَّارِقُ

بابب د څومره مال په وجه به د غل لاس کټ کولې شي؟

یعنی په څومره مال غلا کولو کښ به قطع د ید کولې شي، یعنی د سرقې نصاب څه دې؟

د سرقې تعریف او په نصاب د سرقې کښ مذاهب ائمه :

سرقه د باب ضرب یضرب نه ده او سرق هم په دې معنی کښ ده، د دې تعریف فقهاء کرامو داکړې دی : اخذ مال محرز خفیة، یعنی د بل چا داسې مال چه محفوظ وی په پټه باندې اخستل، دسرقې د نصاب په باره کښ په بذل المجهود کښ د علامه شوکانی رحمه الله نه نقل کولو سره یولس مذاهب ذکر کړی دی، علامه شوکانی رحمه الله فرمائی چه په دې کښ اصل مذاهب خو هم د ادی یعنی یولس مذاهب کوم چه مونږ ذکر کړې دی او په فتح الباری کښ ئې دا مذاهب شلو ته رسولې دی خو د دې یولسو نه علاوه چه کوم مذاهب دی هغې ته مستقل مذاهب نه شی وئیلې کیدې چه هغه هم دې یولسو ته راجع دی. د امام شافعی رحمه الله په نزد ربع دینار دې، د امام مالک او احمد په نزد درې دراهم، د احنافو په نزد لس دراهم، د داؤد ظاهری او حسن بصری په نزد مطلق مال، که لږ وی او که ډیر.

[٤٣٨٣](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُهُ مِنْهُ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْطَعُ فِي رُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به ددینارد څلورې حصې په غلاکولو باندې دغل لاس پریکولو.

قوله: ﴿ عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ –صلی الله علیه وسلم- كَانَ يَقْطَعُ فِي رُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا الخ ﴾ دا د امام شافعی رحمه الله دلیل شو چه د هغوی په نزد نصاب د سرقې ربع دینار دې.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[٤٣٨٤](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَوَهْبُ بْنُ بَيَانٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، وَعَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "تُقْطَعُ يَدُ السَّارِقِ فِي رُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا"، قَالَ أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ: الْقَطْعُ فِي رُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا.

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه دغل لاس ددینارد څلورې حصې په مقدار یاددې نه په زیاته غلاکوسره کټ کولې شي. احمد بن صالح وئیلی دی دلاس پریکول په غلاکولو مقدار دربع د دینار باندې دي.

---

[1]: صحیح البخاري/الحدود ۱۳ (٦٧٨٩)، صحیح مسلم/الحدود ۱ (١٦٨٤)، سنن الترمذي/الحدود ۱٦ (١٤٤٥)، سنن النسائي/قطع السارق ۷ (٤٩٢٠)، سنن ابن ماجه/الحدود ۲۲ (٢٥٨٥)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٢٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحدود ۷ (۲۳)، مسند احمد (٦/٣٦، ٨٠، ٨١، ١٠٤، ١٦٣، ٢٤٩، ٢٥٢)، سنن الدارمي/الحدود ٤ (٢٣٤٦) (صحيح)

[2]: صحیح البخاري/ الحدود ۱۳ (٦٧٩٠)، صحیح مسلم/ الحدود ۱ (١٦٨٤)، سنن النسائي/ قطع السارق ۷ (٤٦٢١)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٩٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحدود ۷ (٢٤)، دي/الحدود ٤ (٢٣٤٦) (صحيح)

[۴۳۸۵] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ فِي مِجَنٍّ ثَمَنُهُ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام ددرهمو دډال په وجه دغل لاس پريکړي وو.

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَطَعَ فِي مِجَنٍّ ثَمَنُهُ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ﴾ يعنی رسول الله ﷺ د غل لاس پرې کړې دې د ډهال په غلا کښ چه د درې درهمو وو، وړاندې هم د ابن عمر رضي الله عنهما په بل روايت کښ هم دا راغلی دا د امام مالک او امام احمد دليل شو،

[۴۳۸۶] (²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ أُمَيَّةَ، أَنَّ نَافِعًا مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ حَدَّثَهُ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ حَدَّثَهُمْ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ سَرَقَ تُرْسًا مِنْ صُفَّةِ النِّسَاءِ ثَمَنُهُ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام ديوکس لاس پريکړو چه غلائي کړي وه چاچه دصفة النساء نه ډال پټ کړي وو اوودې ډال قيمت درې درهمه وو.
د دې نه پس د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت کښ دی:

[۴۳۸۷] (³) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبِي السَّرِيِّ الْعَسْقَلَانِيُّ، وَهَذَا لَفْظُهُ وَهُوَ أَتَمُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "قَطَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ رَجُلٍ فِي مِجَنٍّ قِيمَتُهُ دِينَارٌ أَوْ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، وَسَعْدَانُ بْنُ يَحْيَى، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ بِإِسْنَادِهِ.

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام ديوکس لاس پريکړوچه غلائي کړي وه اوودې ډال قيمت يودينار اويا لس درهمه وو.
قوله: ﴿قَطَعَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَدَ رَجُلٍ فِي مِجَنٍّ قِيمَتُهُ دِينَارٌ أَوْ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ﴾ يعنی رسول الله ﷺ د ډهال په غلا کښ لاس پرې کړو چه د هغې قيمت يو دينار يا لس درهم وو. په بذل کښ ليکلي دی چه د جمهورو استدلال د باب د شروع د احاديثو نه دې او د احنافو د دې آخری حديث د ابن عباس رضي الله عنهما نه.
اصل په دې کښ دا دې چه رسول الله ﷺ د هغه مال په غلا کښ قطع ديد کړې دې کوم چه په قيمت کښ د ډهال د قيمت برابر وی، اوس د ډهال د قيمت په باره کښ روايات مختلف دی، ربع دينار، ثلاثة دراهم او عشرة دراهم، امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه هر کله

¹): صحيح البخاري/الحدود ١٣ (٦٧٩٥)، صحيح مسلم/الحدود ١ (١٦٨٦)، سنن النسائي/قطع السارق ٧ (٤٩١٢)، (تحفة الأشراف: ٨٣٣٣)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحدود ١٦ (١٤٤٦)، سنن ابن ماجه/الحدود ٢٢ (٢٥٨٤)، موطا امام مالك/الحدود ٧ (٢١)، مسند احمد (٢/٦، ٥٤، ٦٤، ٨٠، ١٤٣)، سنن الدارمي/الحدود ٤ (٢٣٤٧) (صحيح)
²): صحيح مسلم/الحدود ١ (١٦٨٦)، سنن النسائي/ قطع السارق ٧ (٤٩١٣)، (تحفة الأشراف: ٧٤٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٤٥)، دي/الحدود ٤ (٢٣٤٧) (صحيح)
³): سنن النسائي/قطع السارق ٧ (٤٩٥٤)، (تحفة الأشراف: ٥٨٨٤) (شاذ)

قیمت د مجن په دې کښې اصل دې او د هغې په تعیین کښې چونکه روایات مختلف دی لهذا په دې کښې به احتیاطا هغه مقدار اخستلې شی په کوم چه ټول روایات صادقیږی او چونکه یو روایت د هغه قیمت په باره کښې عشرة دراهم هم دې لهذا هم هغه به اختیارولې شی، ځکه چه دا مقدار خو مجمع علیه دې او کوم چه د دې نه کم دې هغه غیر متفق علیه مقدار دې، په بذل المجهود کښې دی : استدل الطحاوی للحنفیة بحدیث أَیْمَنَ الْحَبَشِيِّ , قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَدْنَى مَا يُقْطَعُ فِيهِ السَّارِقُ ثَمَنُ الْمِجَنِّ» ، وفی روایة عن ام ایمن قالت قال رسول الله ﷺ لا یقطع ید السارق الا فی جحفة، د احنافو نور دلائل په بذل المجهود کښې کتلې کیدې شی.

بَابُ مَا لَا قَطْعَ فِيهِ

باب: د کومو څیزونو په پټولو چه د غل لاس نه شی پریکولې د هغې بیان

[٤٣٨٨] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، أَنَّ عَبْدًا سَرَقَ وَدِيًّا مِنْ حَائِطِ رَجُلٍ فَغَرَسَهُ فِي حَائِطِ سَيِّدِهِ فَخَرَجَ صَاحِبُ الْوَدِيِّ يَلْتَمِسُ وَدِيَّهُ فَوَجَدَهُ، فَاسْتَعْدَى عَلَى الْعَبْدِ مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ وَهُوَ أَمِيرُ الْمَدِينَةِ يَوْمَئِذٍ، فَسَجَنَ مَرْوَانُ الْعَبْدَ وَأَرَادَ قَطْعَ يَدِهِ، فَانْطَلَقَ سَيِّدُ الْعَبْدِ إِلَى رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ فَسَأَلَهُ عَنْ ذَلِكَ فَأَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا كَثَرٍ، فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنَّ مَرْوَانَ أَخَذَ غُلَامِي وَهُوَ يُرِيدُ قَطْعَ يَدِهِ، وَأَنَا أُحِبُّ أَنْ تَمْشِيَ مَعِي إِلَيْهِ فَتُخْبِرَهُ بِالَّذِي سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَشَى مَعَهُ رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ حَتَّى أَتَى مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ فَقَالَ لَهُ رَافِعٌ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا كَثَرٍ فَأَمَرَ مَرْوَانُ بِالْعَبْدِ فَأُرْسِلَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْكَثَرُ الْجُمَّارُ.

د محمد بن یحي بن حبان رحمه الله نه روایت دې فرمائی چه یو کس د کجور و دباغ نه دبوټي غلا وکړه اودابوټي یې دخپل مالک په باغ کښې ولګولو دبوټي مالک دخپل بوټي په تالاش پسې اووتلو اوبیا ئې هغه بوټې پیداکړو اوپه مدینه کښې ئې دوخت حاکم مروان بن حکم ته مقدمه یوړله ، اودخپل ځان دپاره ئې مدد وغوښتو مروان دغه غلام قید کړو اودده دلاس کټ کولو اراده ئې وکړه اوددې غلام دمالک رافع بن خدیج خواته لاړو اودهغه نه ئې ددې مسئلې تپوس اوکړو هغه ورته اووئیل مادنبی کریم فانه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې دمیوې اودمیوې دوګي په پټولوباندې دغل لاس نشي پریکولې ده اووئیل مروان زماغلام ګرفتار کړې دې اوهغه دده لاس پریکول غواړي زما خواهش دې چه ته زماسره مروان ته لاړ شې اوتاچه دنبی ﷺ نه کوم حدیث اوریدلې دې هغه ورته بیان کړې رافع بن خدیجه دده سره یوځائې لاړو تردې چه مروان ته اورسیدل او ورته ئې اووئیل چه مادنبی ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې چه دمیوې اودمیوې دغونچک په وجه دغل لاس نشي کټ کولې مروان چه دا واوریدل نو غلام ئې پریخودو ، امام ابوداؤد فرمائی چه دکثر لفظ معنی ده د میوې وګي.

¹): سنن الترمذي/الحدود ١٩ (١٤٤٩)، سنن النسائي/قطع السارق ١٠ (٤٩٦٤)، سنن ابن ماجه/الحدود ٢٧ (٢٥٩٣)، (تحفة الأشراف: ٣٥٨١، ٣٥٨٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحدود ١١ (٣٢)، مسند احمد (٤٦٣/٣، ٤٦٤، ١٤٠/٥، ١٤٢)، سنن الدارمي/الحدود ٧ (٢٣٥٠) (صحيح)

قوله: ﴿ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ أَنَّ عَبْدًا سَرَقَ وَدِيًّا مِنْ حَائِطِ رَجُلٍ فَغَرَسَهُ فِي حَائِطِ سَيِّدِهِ فَخَرَجَ صَاحِبُ الْوَدِيِّ يَلْتَمِسُ وَدِيَّهُ فَوَجَدَهُ فَاسْتَعْدَى عَلَى الْعَبْدِ مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ وَهُوَ أَمِيرُ الْمَدِينَةِ ﴾

شرح الحديث :

مضمون حديث دا دې چه د يو سړی غلام، دا غلام د واسع بن حبان وو يعنى د راوی حديث محمد بن يحى تره، او د غلام نوم فيل ليکلې شوې دې. د چا د باغ نه ئې بوټې پټ کړو، او د غلا کولو نه پس ئې د خپل آقا په باغ کښې نال کړو، د بوټی مالک د هغې په لټون کښې اوتلو پس هغه ئې بيا موندلو او د هغه د عبد خلاف ئې د مروان بن الحکم ته چه دغه وخت کښې امير المدينة وو ته فرياد اوکړو. مروان په دې باندې غلام قيد کړو او د قطع يد اراده ئې اوکړه، د غلام مالک واسع بن حبان، رافع بن خديج رضی الله عنه ته لاړو، او د هغوی نه ئې معلومه کړه، هغوی ده ته د رسول الله ﷺ دا حديث بيان کړو: ﴿ لا قطع فی ثمر ولا کثر ﴾ په دې اوريدلو باندې واسع بن حبان اووې چه امير المدينة خو زما غلام نيولې دې او د هغه د قطع يد اراده کوی، لهذا تاسو مهربانی اوکړئ او ماسره مروان ته لاړ شئ، او هغه ته دا حديث واوروې، پس رافع بن خديج رضی الله عنه هغه سره مروان ته لاړو او د تلو سره هغوی ته دا حديث واورولو، مروان حديث اوريدلو سره غلام لره د پريخودلو حکم اوفرمائيلو.

قال ابوداؤد : الکثر الجمار..... د حديث مطلب دا دې چه په اونو باندې لګيدلې ميوې او جمار غلا کولو کښې قطع يد نشته، جمار د کهجورې د تنې په مينځ کښې چه کوم مغز وی سپين سپين هغې ته وائی، او په دې کښې د قطع يد نه کيدو وجه دا ده چه د دې څيزونو په اخستلو کښې د سرقه معنی نه شی موندلې د عدم حرز په وجه باندې ځکه چه دا څيزونه محفوظ نه دی، د امام احمد رحمه الله په روايت کښې دی چه کومه اونه په مکان محفوظ کښې وی د هغې د ثمر په غلا کولو کښې قطع د يد شته، او په ثمر کښې د قطع يد د نه کيدو يو بله وجه هم ده چه هغه د ما يتسارع اليه الفساد د قبيل نه دې چه د هغې په غلا کولو کښې زمونږ په نزد قطع يد نشته، پس چه کوم خوراک مهيا للاکل وی د هغې په غلا کښې هم قطع يد نشته، په روستنی روايت کښې اضافه ده: فَجَلَدَهُ مَرْوَانُ جَلَدَاتٍ وَخَلَّى سَبِيلَهُ، يعنى مروان دې غلام ته تعزيرا څو کوړې ورکړې او بيا ئې پريخودلو.

والحديث اخرجه النسائی مختصرا.... واخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه موصولا مختصر کذلك، قاله المنذری.

[۴۳۸۹] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: فَجَلَدَهُ مَرْوَانُ جَلَدَاتٍ وَخَلَّى سَبِيلَهُ.

د محمد بن يحي نه په دې روايت کښې داسې منقول دې چه مروان دغه غلام ته يو څو کوړې سزا ورکړه او بيا ئې پريخودو.

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۵۸۱) (شاذ)

[٤٣٩٠]([1])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ، فَقَالَ: "مَنْ أَصَابَ بِفِيهِ مِنْ ذِي حَاجَةٍ غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَمَنْ خَرَجَ بِشَيْءٍ مِنْهُ فَعَلَيْهِ غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوبَةُ وَمَنْ سَرَقَ مِنْهُ شَيْئًا بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينُ فَبَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ وَمَنْ سَرَقَ دُونَ ذَلِكَ فَعَلَيْهِ غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوبَةُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْجَرِينُ الْجُوخَانُ.

دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه دنبي کريم ﷺ نه دزوړندو ميوو په باره کښي تپوس اوکړې شو نبي ﷺ اوفرمائيل هريو ضرورتمند چه دغه ميوه وخوړله او پخپله لمن کښي ئې جمع نکړه نوپه ده باندې هيڅ گناه نشه اوڅوک چه ددينه دځان سره ويسي نوده ته به وهل ورکولې شي اوددې دوچنده جرمانه به ورکوي ، اوچاچه ددينه ددې دوچولو دځائې نه دجمع کولونه پس غلا وکړه اودهغې قيمت ديوډال برابر وو نودده کس لاس به پريکولې شي.

شرح الحديث

﴿عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ فَقَالَ « مَنْ أَصَابَ بِفِيهِ مِنْ ذِى حَاجَةٍ غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً فَلاَ شَىْءَ عَلَيْهِ وَمَنْ خَرَجَ بِشَىْءٍ مِنْهُ فَعَلَيْهِ غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوبَةُ ﴾

يعنې د رسول الله ﷺ نه په اونو باندې د لګيدلې ميوې په باره کښ تپوس اوکړې شو ([2]) نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه که حاجت مند دې لره ماتولو سره په خوله کښ کيږدی په دې شرط چه ځان سره ئې يونسې نو په هغه باندې هيڅ تاوان نشته او کومه چه اوشوکوی او ځآن سره ئې يوسی، په هغه باندې د هغې تاوان او ضمان دې او سزا هم، يعنی تعزير.

يعنی قطع يد خو په دواړو صورتونو کښ نشته د عدم حرز د وجې نه لکه چه پورته تير شو ، او صرف په شوکولو سره خوړلو کښ هيڅ باک نشته او ځان سره د اوړلو اجازت نشته، په دې کښ به تعزير وی او ضمان، په قاعده کښ خو به ضمان برابر اخستلې شی خو دلته په روايت کښ نسخې مختلف دی په بعضو کښ دی ﴿ غرامة مثله ﴾ او په بعض کښ ﴿غرامة مثليه ﴾ د دوچند ضمان حکم اوس نشته هغه منسوخ دې.

ما استفيد من الحديث :

په دې حديث کښ مسافر لره د ميوو شوکولو سره د خوراک اجازت ذکر دې، امام ترمذی رحمه الله په دې حديث باندې په کتاب البيوع کښ دا ترجمه قائم کړې ده باب ما جاء في الرخصة في اكل ثمار للماربها، علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه علماء کرامو دا په مجاعة او

---

[1]): سنن الترمذي/البيوع ٥٤ (١٢٨٩)، سنن النسائي/قطع السارق ٩ (٤٩٦١)، سنن ابن ماجه/الحدود ٢٨ (٢٥٩٦)، (تحفة الأشراف: ٨٧٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٦٧٢) (حسن)

[2])يا د معلق نه مراد د کهجورې هغه غنچک ده کومه چه د اونې نه شوکولو سره د څو ورځو دپاره درمن (ستور) ته د رسولو نه مخکښ زوړنده کړې شی في الجملة د خشکئ دپاره په دې وجه که هغه غونچک هم دغه شان په درمن کښې جمع کړې شی نو د خرابيدو خطره به ئې وی.

Scanned with Ca

ضرورت باندې محمول کړې دې په دې وجه دا حدیث د نصوص مقابله نه شي کولې کوم چه د تحریم د مال مسلم په باره کښې راغلي دي. اهـ او په کوکب الدری ۲۷۷ کښې دا دی چه دا د انصارو په عرف باندې محمول دې د هغوی په نزد د ثمر ساقط د خوړلو اجازت وو او د جائع دپاره د ثمر مغلق هم پس د دې بنیاد په عرف باندې دې که په یو ځائې کښې د معلق اجازت هم عام وی د جائع او غیر جائع دواړو دپاره نو هلته به د دواړو دپاره جائز وی. اهـ د دې نه معلومه شوه چه که په یو ځائې کښې مطلقا اجازت نه وی نو د چا دپاره به هم جائز نه وی.

قوله: ﴿ وَمَنْ سَرَقَ مِنْهُ شَيْئًا بَعْدَ أَنْ يُئْوِيَهُ الْجَرِينُ فَبَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ ﴾

او که یو سړې د دې میوې (کهجورې وغیره) غلا په هغه وخت کښې اوکړی چه کله هغه درمن ته رسولې شوې وی د حفاظت دپاره او د هغې مقدار وی هم دومره چه ثمن مجن ته رسیږی نو په دې صورت کښې به قطع دید وی.

قوله: ﴿ غیر متخذ خبنة ﴾ یعنی په کپړه کښې دې ځان سره پټ نه اوړی، صرف هم هلته دې اوخوری، خبنه وائی معطف الازار ته، یعنی د لنګ هغه سره چه راتاوهلو سره لنګ تړلې شی لکه په پاجامه کښې چه بډهه وی. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه بنحوه، وقال الترمذی حسن، قاله المنذری.

بَابُ الْقَطْعِ فِي الْخُلْسَةِ وَالْخِيَانَةِ

باب: یو څیز په زوراخستلو سره یا په امامت کښې خیانت کولو سره د لاس کټ کولو بیان

[۴۳۹۱] ([1]) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ، قَالَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ عَلَى الْمُنْتَهِبِ قَطْعٌ وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً مَشْهُورَةً فَلَيْسَ مِنَّا".

دجابر بن عبد الله ﷺ نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. نشته دې په تالان کونکي باندې لاس پریکول اوچاچه په زبردستی سره دچامال غصب کړونوهغه زمونږ نه دې.

[۴۳۹۲] ([2]) وَبِهَذَا الإِسْنَادِ قَالَ: وَبِهَذَا الإِسْنَادِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ عَلَى الْخَائِنِ قَطْعٌ".

اوپه همدې سند سره داهم مروي دې چه نبی کریم فرمائیلی دی چه په خیانت کونکي باندې هم قطع دید نشته یعنی دده لاس به نشي پریکولې.

﴿ عن جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لَيْسَ عَلَى الْمُنْتَهِبِ قَطْعٌ وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً مَشْهُورَةً فَلَيْسَ مِنَّا وَلَيْسَ عَلَى الْخَائِنِ قَطْعٌ »﴾

رسول الله ﷺ فرمائی چه په لوټ مار کولو والا باندې قطع دید نشته او څوک چه داسې ښکاره د نورو مال اخلی هغه زمونږ نه نهٔ دې.

[1]: سنن الترمذي/الحدود ١٨ (١٤٤٨)، سنن النسائي/قطع السارق ١٠ (٤٩٧٥)، سنن ابن ماجه/الحدود ٢٦ (٢٥٩١)، (تحفة الأشراف: ٢٨٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٨٠)، سنن الدارمي/الحدود ٨ (٢٣٥٦) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٢٨٠٠) (صحيح)

په ترجمة الباب کښې د خلسة لفظ وو او په حديث کښې د نهبة، د دواړو مفهوم يو دې او په دې کښې د قطع يد نه کيدو وجه ښکاره ده چه د انتهاب او د سرقه دواړو حقيقت مختلف دې، ځکه چه په انتهاب کښې اخذ خبيةً نه وي بلکه علانيه وي، او په خيانت کښې نشته ځکه چه هلته د حرز معنی مفقود ده او دا دواړه د سرقې په حقيقت کښې داخل دي.

د حضرت ګنګوهي په تقرير کښې ليکلې دي چه چونکه د حدود نه مقصود زجر دې او د زجر زيات حاجت په هغه جناياتو او جرمونو کښې وي چه د هغې شيوع او عموم وي په خلاف د خلسه او نهبه چه په دې باندې اقدام کول د هر سړي کار نه شي کيدې، مګر هم هغه سړي چه ډير زيات بې باک او جري وي، خو تعزير پکښې شته څه چه حاکم مناسب اوګڼړي.

[٤٣٩٣](1)حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ، زَادَ وَلَا عَلَى الْمُخْتَلِسِ قَطْعٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَانِ الْحَدِيثَانِ لَمْ يَسْمَعْهُمَا ابْنُ جُرَيْجٍ مِنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، وَبَلَغَنِي عَنْ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ أَنَّهُ قَالَ: إِنَّمَا سَمِعَهُمَا ابْنُ جُرَيْجٍ مِنْ يَاسِينَ الزَّيَّاتِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَدْ رَوَاهُمَا الْمُغِيرَةُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

جابر دنبي ﷺ نه ددې په شان روايت بيان کړې دې مګردا اضافه ئې کړې ده نشته دې په مختلس باندې د لاس پريکول امام ابوداؤد فرمائي ابن جريج دابوزبير نه دا دواړه حديثونه نه دي آوريدلي دي او ماته دامام احمد بن حنبل نه دا خبر رارسيدلې دې چه ابن جريج دا احاديث دياسين زيات نه آوريدلي دي امام ابوداؤد فرمائي دا دواړه روايتونه مغيره د ابو زبير نه اوهغه دجابره نه بيان کړې دې.

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ هَذَانِ الْحَدِيثَانِ لَمْ يَسْمَعْهُمَا (2)ابْنُ جُرَيْجٍ مِنْ أَبِي الزُّبَيْرِ وَبَلَغَنِي عَنْ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّمَا سَمِعَهُمَا ابْنُ جُرَيْجٍ مِنْ يَاسِينَ الزَّيَّاتِ ﴾

د قال ابوداؤد تشريح :

مصنف رحمه الله په دې دواړو احاديثو باندې کلام کوي اول د محمد بن بکر او دويم د عيسى بن يونس، او دا چه ابن جريج دا دواړه احاديث د ابوالزبير نه نه دي اوريدلي، او هم دا رائې د امام نسائي هم ده، امام نسائي فرمائي چه دا حديث د ابن جريج نه د هغه ډيرو شاګردانو روايت کړې دې په هغوی کښې چا هم حدثني ابوالزبير.. نه دي وئيلي (يعنی د تحديث لفظ کوم چه په سماع باندې دلالت کوي) ولا احسبه سمعه من ابی الزبير...، ګويا د دې دواړو رائې متفق ده، او امام ابوداؤد رحمه الله د خپلې رائې تائيد د خپل استاد احمد بن حنبل رحمه الله د کلام نه کړې دې چه هغوی اوفرمائيل﴿ انما سمعها ابن جريج من ياسين الزيات ﴾ ګويا د ابن جريج او د ابوالزبير ترمينځه واسطه د ياسين الزيات ده، حافظ منذري د دې تولو د نقل کولو نه پس فرمائي: قد صححه الترمذی من حديث ابن جريج عن ابی الزبير وهذا يدل علی انه تحقق اتصاله، يعنی د امام ترمذي رحمه الله د کلام نه معلوميږي چه د هغوی په نزد حديث متصل دې

(1): انظر حديث رقم: (٤٣٩١)، (تحفة الأشراف: ٢٨٠٠) (صحيح)

(2) وفي هامش البذل: قال ابن الهمام صححه الترمذي وسكت عنه ابن القطان وعبدالحق في احكامه فهو تصحيح له منهما فتعليل ابي داؤد مرجوح (الخ)

هيڅ انقطاع پکښ نشته، په حاشيه د نسائی کښ د نيل الاوطار نه د دې انقطاع فی السند د رائې تضعيف داسې کړې دې : اجيب بان سويد بن نصر روى عن ابن المبارك عن ابن جريج اخبرنى ابوالزبير، وقد اخرجه عبدالرزاق فى مصنفه الى اخر ما فى الحاشية، والحديث اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجه، وقال الترمذى حسن صحيح.

بَابُ مَنْ سَرَقَ مِنْ حِرْزٍ

باب: څوک چه يو محفوظ ځيز پټ کړې د هغې بيان

په سرقه کښ حرز د جمهور علماء کرامو په نزد شرط دې، کينې بغير د دې نه سرقه سرقه نه ده، داؤد ظاهرى او د اسحاق بن راهويه په نزد شرط نه دې، هم دا وجه ده چه په نباش باندې قطع د يد نشته، ځکه چه کفن غير محرز دې، بعض شراح د امام احمد رحمه الله مذهب هم د ظاهريه په شان ليکلې دې خو دا صحيح نه ده، پس په اوجز ٦/٥٧ کښ دى : الشرط الرابع كوم المسروق فى حرز عند جمهور العلماء خلافا لداؤد الظاهرى اذ لا يعتبر الحرز، ثم قال الموفق : اذا ثبت اعتبار الحرز والحرز ما عد حرزا فى العرف الخ.....

[٤٣٩٤]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ حَمَّادِ بْنِ طَلْحَةَ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ حُمَيْدٍ ابْنِ أُخْتِ صَفْوَانَ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ، قَالَ: "كُنْتُ نَائِمًا فِي الْمَسْجِدِ عَلَى خَمِيصَةٍ لِي ثَمَنُ ثَلَاثِينَ دِرْهَمًا فَجَاءَ رَجُلٌ، فَاخْتَلَسَهَا مِنِّي فَأُخِذَ الرَّجُلُ فَأُتِيَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِهِ لِيُقْطَعَ قَالَ: فَأَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: أَتَقْطَعُهُ مِنْ أَجْلِ ثَلَاثِينَ دِرْهَمًا؟ أَنَا أَبِيعُهُ وَأُنْسِئُهُ ثَمَنَهَا قَالَ: فَهَلَّا كَانَ هَذَا قَبْلَ أَنْ تَأْتِيَنِي بِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ زَائِدَةُ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ جُعَيْدِ بْنِ حُجَيْرٍ، قَالَ: نَامَ صَفْوَانُ، وَرَوَاهُ مُجَاهِدٌ، وَطَاوُسٌ أَنَّهُ كَانَ نَائِمًا فَجَاءَ سَارِقٌ، فَسَرَقَ خَمِيصَةً مِنْ تَحْتِ رَأْسِهِ وَرَوَاهُ أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ فَاسْتَلَّهُ مِنْ تَحْتِ رَأْسِهِ فَاسْتَيْقَظَ فَصَاحَ بِهِ فَأُخِذَ وَرَوَاهُ الزُّهْرِيُّ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: فَنَامَ فِي الْمَسْجِدِ وَتَوَسَّدَ رِدَاءَهُ فَجَاءَ سَارِقٌ فَأَخَذَ رِدَاءَهُ فَأُخِذَ السَّارِقُ فَجِيءَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دصفوان بن اميه رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زه يوه ورځ په جومات کښې اوده وم په يو څادر باندې کوم چه د ديرشو درهمو برابر وو په دې وخت کښې يو کس راغې اودغه څادر ئې زما نه وتښتولو بيا دغه کس گرفتارکړې شو اونبی عليه السلام ته راوستلې شو نبی عليه السلام دده دلاس د پريکولوحکم اوکړو، زه دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم اوعرض مې اوکړو اې دالله رسوله د ديرشو درهمودپاره ته دده لاس پريکوې زه به دغه څادر په ده باندې په قرضو خرڅ کړم نبی عليه السلام چه دا واوريدل نو وئې فرمائيل تاکه چرې داسې کولې نو ماته دراتلونه مخکښې به دې کړې وو، امام ابوداؤد فرمائی چه دا حديث زائده دسماک نه اوهغه دعبد بن حجيرنه بيان کړې دې هغه وائی چه صفوان که اوده وو او طاوس او مجاهد وائی چه هغه اوده کيدو او په دې وخت کښې غل راغې اوڅادر ئې دده دسردلاندې نه غلا کړو. اوهمدارنګې دا روايت دابوسلمه بن عبدالرحمن نه هم مروي دې فرمائی چه دده دسرنه ئې وتختولونوچه راويخ شونو چغه يې ووهله نوغل ونيولې شو. اوهمدارنګې زهري

[1]): سنن النسائي/قطع السارق ٤ (٤٨٨٢)، سنن ابن ماجه/الحدود ٢٨ (٢٥٩٥)، (تحفة الأشراف: ٤٩٤٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠١/٣، ٤٦٥/٦، ٤٦٦) (صحيح)

دصفوان بن عبدالله نه نقل کړي دي فرمائي چه په جومات کښې اوده شو او د څادرنه ئې بالخ جوړ کړي وو اوغل ورته راغې اودده څادرئې واخستو بيادذنې نه پس غل ونيولې شو اونبی عليه السلام ته راوستلې شو.

قوله: ﴿ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ كُنْتُ نَائِمًا فِي الْمَسْجِدِ عَلَى خَمِيصَةٍ لِي ثَمَنُ ثَلَاثِينَ دِرْهَمًا فَجَاءَ رَجُلٌ فَاخْتَلَسَهَا مِنِّي فَأُخِذَ الرَّجُلُ الخ ﴾

شرح الحديث والكلام عليه من حيث الفقه :

صفوان بن اميه رضي الله عنه فرمائي چه زه په مسجد کښې اودهٔ ووم [1] په ما دپاسه يو څادر يا کمبل پروت وو چه د هغې قيمت ديرش درهمه وو يو سړې راغلو او زما نه ئې دا څادر يوړلو، هغه سړې اونيولې شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوستلې شو رسول الله صلی الله علیه وسلم د ثبوت سرقه نه پس د هغه د قطع يد حکم اوفرمائيلو. صفوان فرمائي چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې فيصله باندې زه د هغوی په خدمت کښې راغلم او ما عرض اوکړو چه صرف د ديرشو درهمو په وجه باندې زه نه غواړم چه د هغه لاس پرې کړې شی (په دې وجه زه دا حيله اختياروم چه) زه دا څادر په هغه باندې قرض خرڅوم يعنی روستو به ترې نه پيسې اخلم، لهذا د هغه لاس دې پرې نه کړې شی په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائيلو: ﴿فهلا كان هذا قبل ان تاتيني به﴾ چه تا دا صورت غل لره ماته د راوستلو نه مخکښې ولې اختيار نه کړو، مطلب دا دې چه قاضی ته د مسئلې د رسيدلو نه پس د سفارش او د ترک حد گنجائش باقی نه پاتې کيږی.

دا څادر د هغوی په بدن وو يا چرته وو د دې په باره کښې روايات مختلف دی کوم چه مصنف رحمه الله وړاندې خپله بيانوی، پس په يو روايت کښې دی: فَسَرَقَ خَمِيصَةً مِنْ تَحْتِ رَأْسِهِ او په دويم روايت کښې دی ﴿ فَنَامَ فِي الْمَسْجِدِ وَتَوَسَّدَ رِدَاءَهُ ﴾

د باب ړومبې روايت مطلق وو ﴿ على خميصة ﴾ [2] او د دې دواړو نه معلومه شوه چه د سر نه لاندې ئې وو، د سر نه د لاندې کيدو په صورت کښې خو حرز بالاتفاق موندلې شی خو که څادر د اودهٔ کيدونکی په خوا کښې کيخودلې شوې وی نو بيا به هم د صحيح قول په بناء په حرز کښې شمارلې کيږی، پس په حاشيه د بذل کښې دی: **وفي الهداية بعد ما ذكر الحرز بالمكان وبالحافظ ولا فرق بين ان يكون الحافظ مستيقظا او نائما والمتاع عنده او تحته هو الصحيح لانه يعد النائم عند متاعه حافظا له في العادة،** يعنی کوم سړې چه د خپل سامان سره اودهٔ وی نو په دې صورت کښې به هغه د خپل مال حفاظت او نگرانی کونکې عرفا گڼړلې شی، **قال ابن الهمام قوله هو الصحيح احتراز عن قول بعضهم باشتراط كون المتاع تحت راسه او تحت جنبه اه.**

په حديث الباب کښې يوه بله مسئله :

په دې واقعه کښې يو اختلافی مسئله بله هم ده هغه دا چه قاضی د قطع يد د فيصلې کولو

---

[1])مسجد المدينة او مسجد مكة قولان كما في الاوجز ٦٣/٦ هامش البذل)

[2]) كذا في نسخة البذل علي بتشديد الياء وكذا في نسخة الشيخ ويحتمل ان يكون علي بحرف الجر علي خميصة وعلي هذا يمكن ان يحمل علي معني الروايتين الاخريين والله اعلم)

نه پس که مسروق منه یعنی مالک دځیز سارق لره د مسروق ځیز مالک جوړ کړی یا ئې د هغه په لاس خرڅ کړی نو قطع د ید به وی او که نه؟ مسئله اختلافی ده د احنافو په نزد خو به قطع د ید نه وی، د شوافعو حنابله او ابویوسف په نزد به قطع د ید وی د حدیث الباب د وجې، د طرفین د طرف نه د دې حدیث جواب په بذل المجهود کښې او د هغې نه په زیات تفصیل سره په اوجز کښې ورکړې شوې دې، فارجع الیه لو شئت، مختصرا دا وئیلې کیدې شی چه دلته د سارق دپاره ثبوت د ملک چرته اوشو ځکه چه مسروق منه تملیک په طریقه د بیع غوارې، او د بیع تحقق صرف په ایجاب سره نه شی کیدې تر څو چه قبول نه وی موندلې شوې لهذا دا حدیث د هغوی خلاف نه دې. والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْقَطْعِ فِي الْعَارِيَةِ إِذَا جُحِدَتْ

باب: څوک چه د استعمال دپاره یو ځیز اما نتًا اوغواړي او بیا دهغې نه انکار اوکړي

یعنی مستعیر که یو ځیز په سوال باندې د اخستلو نه پس د عاریة اخستلو نه انکار اوکړی نو په دې صورت کښې به قطع د ید وی یا نه؟ مسئله اختلافی ده کومه چه په "درمنضود" کښې په باب فی الحد یشفع کښې تیره شوې ده د دې باب حواله هم تیره شوې ده، وفی الهامش البذل، قال ابن الهمام: بذلک قال اسحاق بن راهویه وهو روایة عن احمد، والجمهور علی انها لا تقطع الخ.....

[۴۳۹۵](1) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَمَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، قَالَ مَخْلَدٌ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ امْرَأَةً مَخْزُومِيَّةً كَانَتْ تَسْتَعِيرُ الْمَتَاعَ وَتَجْحَدُهُ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَا فَقُطِعَتْ يَدُهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ جُوَيْرِيَةُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَوْ عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ أَبِي عُبَيْدٍ زَادَ فِيهِ: وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ خَطِيبًا فَقَالَ: هَلْ مِنَ امْرَأَةٍ تَائِبَةٍ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَرَسُولِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَتِلْكَ شَاهِدَةٌ، فَلَمْ تَقُمْ وَلَمْ تَتَكَلَّمْ وَرَوَاهُ ابْنُ غَنَجٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ أَبِي عُبَيْدٍ، قَالَ فِيهِ فَشَهِدَ عَلَيْهَا.

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه یوې مخزومي ښځې به دخلقونه په سوال ځیزونه غوښتل اوبیابه منکریدله نونبی علیه السلام په دې باندې دلاس دکټ کولو حکم اوکړو اوددې لاس پریکړې شو ، امام ابوداؤد فرمائی چه دا روایت جویریه دنافع نه اوهغې دابن عمرنه یاد صفیه بنت ابی عبیدنه نقل کړې دې او په دې کښې دا اضافه ده چه: نبی علیه السلام دخطې ورکولو دپاره پاڅیدو او وئې فرمائیل : آیا داسې یوه ښځه شته چه الله تعالی اودهغه درسول په وړاندې توبه اوباسي اوداخبره ئې درې پیرې اوفرمائیله اودغه ښځه حاضره وه نه پاڅیدله اونه ئې خبرې وکړې. امام ابوداؤد فرمائی دا روایت ابن غنج دنافع نه اوهغه دصفیه بنت ابی عبیدنه نقل کړې دې او په دې کښې داسې دی چه په دې باندې ئې ګواهی ورکړله.

قوله: ﴿ وَزَادَ فِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– قَامَ خَطِيبًا فَقَالَ « هَلْ مِنَ امْرَأَةٍ تَائِبَةٍ إِلَى اللَّهِ

(1): سنن النسائي/قطع السارق ٥ (٤٩٠٢)، (تحفة الأشراف: ٧٥٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥١/٢) (صحیح)

وَرَسُولِهِ ». ثَلاَثَ مَرَّاتٍ وَتِلْكَ شَاهِدَةٌ فَلَمْ تَقُمْ وَلَمْ تَتَكَلَّمْ ﴾
یعنی رسول اللهﷺ د دې امراۃ مخزومیه د قطع ید نه پس په ولاړه باندې خطبه ورکړه او په هغې کښې ئې بغیر د هغه زنانه د نوم اخستلو نه توبې ترغیب ورکړو او درې کرته ئې اوفرمائیل هم د هغې مخزومیه په موجودګۍ کښې خو هغه اوندریده او نه ئې په ژبه باندې څه اووې، د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د اقامت حد نه پس هم د توبې احتیاج باقي وی خو کوم علماء چه حد لره مکفر منی هغوی د دې جواب دا ورکولې شی چه د دې توبې تعلق د راروانې زمانې سره دې چه د بیا دپاره به دا حرکت نه کوم.

[۴۳۹۶]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ، عَنِ اللَّيْثِ، قَالَ: حَدَّثَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: كَانَ عُرْوَةُ يُحَدِّثُ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: "اسْتَعَارَتِ امْرَأَةٌ تَعْنِي حُلِيًّا عَلَى أَلْسِنَةِ أُنَاسٍ يُعْرَفُونَ وَلَا تُعْرَفُ هِيَ فَبَاعَتْهُ فَأُخِذَتْ فَأُتِيَ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِقَطْعِ يَدِهَا وَهِيَ الَّتِي شَفَعَ فِيهَا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، وَقَالَ فِيهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قَالَ".

ام المومنین عائشه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه یوې ښځې کومه چه چانه پیژندله هغې دیوڅو معروفو او مشهورو کسانو په ذریعه باندې دچانه څه زیورات اوغوښتل اوبیا ئې خرڅ کړل اوددې پیسې په وخوړلې بیادا ښځه ګرفتاره کړې شوه اونبی علیه السلام ته راوستل شوه نبی علیه السلام ددې دلاس پریکولوحکم اوکړو اوداهغه ښځه ده دکومې په سلسله کښې چه اسامه بن زید نبی علیه السلام ته سفارش کړې وو اونبی علیه السلام فرمائیلي وو څه چه ئې فرمائیل (کوم چه ډیر مشهور دې).

قوله: ﴿ كَانَ عُرْوَةُ يُحَدِّثُ أَنَّ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتِ اسْتَعَارَتِ امْرَأَةٌ - تَعْنِي - حُلِيًّا عَلَى أَلْسِنَةِ أُنَاسٍ يُعْرَفُونَ وَلاَ تُعْرَفُ هِيَ فَبَاعَتْهُ فَأُخِذَتْ ﴾

دا حدیث هم د هغه امرأة مخزومیه په باره کښې دې چه هغې یو ځل داسې اوکړل (بلکه دا خو د هغې عادت وو کما هو مصرح فی الروایة الاتیة) چه یو کور ته لاړه او د هغوی نه ئې عاریة د هغوی کالی راوړل د داسې خلقو په نوم باندې چه پیژندګلو کورنۍ وه، د نورو په نوم باندې ځکه چه دا خو خپله د دې لائق نه وو چه دا دې خلق اوپیژنی او په دې باندې اعتماد اوکړی، هم په دې وجه ئې د نورو په نوم باندې واخستل چه د فلانی کور زنانو ستاسو کالې په سوال باندې غوښتلې دې، وړاندې راوی وائی چه هغې د اخستلو نه پس هغه خرڅ کړو بیا روستو هغه او هم نیولې شوه او رسول اللهﷺ ته راوستلې شوه، رسول اللهﷺ د هغه د قطع ید حکم اوفرمائیلو وړاندې راوی وائی چه دا هم هغه زنانه وه چه د هغې په باره کښې اسامه رضی الله عنه رسول اللهﷺ ته سفارش کړې وو، او رسول اللهﷺ هغه سخته خبره ارشاد فرمائیلې وه کومه ئې چه فرمائیلې وه، د مصنف رحمه الله مقصد دې روایاتو لره په دې باب کښې د راوړلو دا دې چه انکار د عاریة نه په حکم د سرقه کښې دې، څنګه چه په سرقه کښې قطع د ید وی هم دغه شان به په دې کښې هم وی، لکه چه د اسحاق بن راهویه

[1]: ● تخريج: صحيح البخاري/الشهادات ٨ (٢٦٤٨)، الحدود ١٥ (٦٨٠٠)، صحيح مسلم/الحدود ٢ (١٦٨٨)، سنن النسائي/قطع السارق ٥ (٤٩٠٦)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٢/٦) (صحيح)

مذهب دي او د امام احمد يو روايت، وقد تقدمت المسئلة قبل ذلک مرارا، والجواب عنه ايضا من جانب الجمهور، والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

[٤٣٩٧](١)حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَتِ امْرَأَةٌ مَخْزُومِيَّةٌ تَسْتَعِيرُ الْمَتَاعَ وَتَجْحَدُهُ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَطْعِ يَدِهَا وَقَصَّ نَحْوَ حَدِيثِ قُتَيْبَةَ، عَنِ اللَّيْثِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ زَادَ، فَقَطَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهَا.

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائی چه يوي مخزومي ښځي به دخلقونه په سوال څيزونه غوښتل اوبيابه منکريدله نونبی عليه السلام په دې باندې دلاس ذکټ کولو حکم اوکړو اوباقی حديث ئې دقتيبه دحديث په شان دليث نه اوهغه دابن شهاب نه بيان کړو اودا اضافه ئې وکړله چه نبی عليه السلام ددې لاس پرې کړو.

بَابٌ فِي الْمَجْنُونِ يَسْرِقُ أَوْيُصِيبُ حَدًّا

باب: يو ليونې غلا اوکړي يا د حد قابل جرم اوکړي دهغې بيان

[٤٣٩٨](٢)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ حَمَّادٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ: عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الْمُبْتَلَى حَتَّى يَبْرَأَ، وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَكْبَرَ".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي. قلم پورته کړي شوي دي (معاف کړي شوي دي) ددرې کسانونه يو اوده دې ترڅوچه پاڅيدلي نه وي بل مريض (ليوني) دې ترڅوچه روغ شوي نه وي اوبل ماشوم دې ترڅوچه بالغ شوي نه وي.

(عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ (٣) وَعَنِ الْمُبْتَلَى حَتَّى يَبْرَأَ وَعَنِ الصَّبِىِّ حَتَّى يَكْبَرَ »

رفع القلم کناية ده د عدم تکليف نه، رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمائی چه درې کسان مرفوع القلم او غير مکلف دی او قابل د مواخذې نه دی، يو اوده ترڅو چه بيدار شوې نه وی، او يو هغه چه په ليونتوب کښې اخته وی ترڅو چه په هوش کښې نه وی راغلې، او دريم نابالغ ماشوم ترڅو چه بالغ شوې نه وی.

د حديث نه د ترجمة الباب والا مسئلې حکم معلوم شو چه په هغه باندې به حد نه شی جاری کولې او نه به د هغه په دې کښې څۀ ګناه وی، يعنی د حقوق الله په اعتبار سره، خو په حقوق العباد کښې په د هغوی نه مطالبه کيږی پس که دا درې واړه د چا څۀ نقصان اوکړی نو د هغوی په مال کښې به ضمان واجب وی (بذل) په حاشيه د بذل کښې حضرت شيخ ليکلې دی

١): انظر حديث رقم: (٤٣٧٤)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٤٣) (صحيح)

٢): سنن النسائي/الطلاق ٢١ (٣٤٦٢)، سنن ابن ماجه/الطلاق ١٥ (٢٠٤١)، (تحفة الأشراف: ١٥٩٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٠٠، ١٠١، ١٤٤)، دي/الحدود ١٣ (٢٣٤٣) (صحيح)

٣)لكن ذكر الحموي في الاشباه والنظائر وان النائم كالمستيقظ في خمس وعشرين مسئلة ثم بسطها، وكذا بسط الكلام في احكام الصبيان بما لا مزيد عليه وحديث الباب تكلم عليه صاحب العون ٢٤٤/٤ والحافظ في الفتح ٣١٦٧٩، و ٩٨/١٢ والعيني ٥٦١/٩، ١٥١/١١ (هامش البذل)

چه ډير مسائل داسې دی چه په هغې کښې نائم په منزله د مستيقظ دې لکه چه په الاشباه والنظائر کښې دی. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذری.

[۴۳۹۹] (¹) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي ظَبْيَانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أُتِيَ عُمَرُ بِمَجْنُونَةٍ قَدْ زَنَتْ فَاسْتَشَارَ فِيهَا أُنَاسًا فَأَمَرَ بِهَا عُمَرُ أَنْ تُرْجَمَ، مُرَّ بِهَا عَلَى عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رِضْوَانُ اللَّهِ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَا شَأْنُ هَذِهِ؟ قَالُوا: مَجْنُونَةُ بَنِي فُلَانٍ زَنَتْ فَأَمَرَ بِهَا عُمَرُ أَنْ تُرْجَمَ، قَالَ: فَقَالَ ارْجِعُوا بِهَا ثُمَّ أَتَاهُ، فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْقَلَمَ قَدْ رُفِعَ عَنْ ثَلَاثَةٍ: عَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَبْرَأَ، وَعَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَعْقِلَ، قَالَ: بَلَى، قَالَ: فَمَا بَالُ هَذِهِ؟ تُرْجَمُ، قَالَ: لَا شَيْءَ قَالَ: فَأَرْسِلْهَا قَالَ: فَأَرْسَلَهَا قَالَ: فَجَعَلَ يُكَبِّرُ"

د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه عمرفاروق رضي الله عنه په يوه ليونئ راوستلې شوه چه زنانې کړې وو اودخلقونه ئې ددې متعلق مشهوره واخستله نوعمرفاروق ددې درجم کولوحکم وکړونو په دې وخت کښې دلته دعلی رضي الله عنه تيريدل وشول ، هغه ددې متعلق تپوس وکړوخلقوورته ووئيل چه دا يوه ليونئ ده د فلانئ قبيلې ، زنانې کړې ده، اوعمر ددې درجم کولوحکم کړې دې، علی رضي الله عنه اوفرمائيل چه دا واپس راولئ او بيا امير المومنين ته ورغې اوعرض ئې وکړو چه اې امير المومنين اياتاته معلومه نه ده چه قلم پورته کړې شوې دې (معاف کړې شوې دې) ددرې کسانونه يواوده دې ترڅوچه پاڅيدلې نه وي بل ليونې دې ترڅوچه روغ شوې نه وي اوبل ماشوم دې ترڅوچه بالغ شوې نه وي هغه ووئيل چه ولې راته نه ده معلومه علی ووئيل بيا دابڅه ولې رجم کولې شي عمر ووئيل ددې هيڅ وجه نشته راوی وائی بيا ئې پريخودله اوعمر شروع شوچه الله اکبر اوازونه شروع کړل.

شرح الحديث :

قوله: ﴿عَنْ أَبِي ظَبْيَانَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أُتِيَ عُمَرُ بِمَجْنُونَةٍ قَدْ زَنَتْ فَاسْتَشَارَ فِيهَا أُنَاسًا فَأَمَرَ بِهَا عُمَرُ أَنْ تُرْجَمَ الخ﴾ مضمون حديث دا دې چه د هغې راوی ابن عباس رضي الله عنهما دې چه د عمر رضي الله عنه په زمانه کښې هغوی ته يوه ليونئ زنانه راوستلې شوه چه هغې زنا کړې وه. سيدنا عمر رضي الله عنه د دې په باره کښې د خلقو نه مشوره طلب کړه او بيا هغوی د هغې د رجم حکم اوفرمائيلو. کله چه هغه زنانه بوتلې شوه نو په لاره کښې په علی رضي الله عنه باندې تيره شوه نو هغوی تپوس اوکړو چه د دې څۀ معامله ده، دا چرته بوځئ، خلقو ورته صورت حال بيان کړو په دې باندې هغوی اوفرمائيل چه دا واپس بوځئ او سيدنا عمر رضي الله عنه ته ئې عرض اوکړو چه اې امير المومنين آيا تاسو ته معلومه نه ده چه درې کسان مرفوع القلم دی (چه په هغوی کښې يو ليونې هم دې) سيدنا عمر رضي الله عنه اوفرمائيل : ولې نه يعنی د هغوی تصديق ئې اوکړو، نو علی رضي الله عنه تپوس اوکړو چه بيا دا تاسو ولې رجم کوئ نو هغوی اوفرمائيل : نه هيڅ خبره نه ده، علی رضي الله عنه اوفرمائيل بيا دا پريږدئ، په دې وينا باندې هغوی دا پريخودله. ﴿قال فجعل يكبر﴾ سيدنا عمر رضي الله عنه د معاملې نزاکت باندې پوهيدلو سره تکبير وئيل شروع کړل.

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۰۱۹٦)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/ الحدود ۱ (عقيب ۱٤۲۳)، مسند احمد (۱۵۵/۱، ۱۵۸) (صحيح)

(حضرت عمر (رض) د رجم حکم ولې ورکړې وو؟)

د دې واقعې توجيه امام خطابي رحمه الله فرمائي چه په اصل کښې د جنون دوه قسمونه دي يو مطبق او يو غير مطبق، يعنې يو هغه چه په هغې کښې کله کله انسان روغ شي او بل هغه چه په هغې کښې انسان کله هم نه رغيږي هر وخت يو شان ليونې وي د عمر رضي الله عنه دا امر بالرجم د قسم اول د پاره نه وو بلکه د قسم ثاني دپاره وو او د هغوي مقصد دا وو چه که يو ليونې د روغ والي په حالت کښې زنا اوکړي او بيا روستو په هغه باندې ليونتوب راشي نو د هغه دا جنون د اقامت حد نه مانع کيدل نه دي پکار، او د علي رضي الله عنه د رائې حاصل دا دې چه جنون داسې شبهه ده چه د هغې د وجې نه د حد درأ کيدل پکار دي ځکه چه دا ضابطه ده، الحدود تدراء بالشبهات..... پس کيدې شي چه دې ليونئ زنانه چه کومه زنا کړې وه هغه ئې د کامل روغ والي په حالت کښې نه وي کړې بلکه په داسې وخت کښې ئې کړې وي چه د ليونتوب اثر پکښې باقي وي، د علي رضي الله عنه د دې رائې د معلوميدو نه پس سيدنا عمر رضي الله عنه د هغې موافقت اوفرمائيلو او حد ئې د هغه ښځې نه ساقط کړو.

[۴۴۰۰](۱)حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ نَحْوَهُ، وَقَالَ أَيْضًا: حَتَّى يَعْقِلَ، وَقَالَ: وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يُفِيقَ، قَالَ: فَجَعَلَ عُمَرُ يُكَبِّرُ.

وکيع داعمش نه دتير شوي روايت په شان روايت بيان کړې دې اودا اضافه ئې هم کړې ده ترځوچه ماشوم عاقل شي اوليونې جوړشي راوي وائي چه په دې وخت کښې عمر رضي الله عنه تکبيروئيل شروع کړل.

[۴۴۰۱](۲)حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مِهْرَانَ، عَنْ أَبِي ظَبْيَانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: مُرَّ عَلَى عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بِمَعْنَى عُثْمَانَ قَالَ: أَوَمَا تَذْكُرُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ عَنِ الْمَجْنُونِ الْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ حَتَّى يُفِيقَ، وَعَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ، قَالَ: صَدَقْتَ قَالَ فَخَلَّى عَنْهَا.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه په علي رضي الله عنه تيرشو باقي روايت دعثمان د روايت په شان دې مګر ددې اضافي سره چه: علي رضي الله عنه ورته ووئيل چه اياتاته ياد نه دي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: قلم پورته کړې شوې دې ددرې کسانونه يودليونى نه چه عقل ئې مغلوب شوې وي ترځوچه جوړ شوې نه وي اود اوده نه ترځوچه بيدارشوې نه وي اودماشوم نه ترځوچه محتلم شوې نه وي عمر رضي الله عنه ورته ووئيل رښتيادې ووئيل اوبيائې هغه زنانه پريخودله.

د دې نه په روستو روايت کښې دا زيادت دې چه علي رضي الله عنه..... عمر رضي الله عنه ته عرض اوکړو ﴿ وَإِنَّ هَذِهِ مَعْتُوهَةُ بَنِي فُلَانٍ لَعَلَّ الَّذِي أَتَاهَا أَتَاهَا وَهِيَ فِي بَلَائِهَا. قَالَ فَقَالَ عُمَرُ لَا أَدْرِي. فَقَالَ عَلِيٌّ (رض) وَأَنَا لَا أَدْرِي ﴾

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۱۹۶) (صحيح)
(۲): انظر حديث رقم: (۴۳۹۹)، (تحفة الأشراف: ۱۰۱۹۶) (صحيح)

[٤٤٠٢] (١) حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ الْمَعْنَى، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِي ظَبْيَانَ، قَالَ هَنَّادٌ الْجَنْبِيُّ، قَالَ: "أُتِيَ عُمَرُ بِامْرَأَةٍ قَدْ فَجَرَتْ فَأَمَرَ بِرَجْمِهَا فَمَرَّ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَأَخَذَهَا، فَخَلَّى سَبِيلَهَا فَأُخْبِرَ عُمَرُ، قَالَ: ادْعُوا لِي عَلِيًّا فَجَاءَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ لَقَدْ عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ: عَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَبْلُغَ، وَعَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الْمَعْتُوهِ حَتَّى يَبْرَأَ، وَإِنَّ هَذِهِ مَعْتُوهَةُ بَنِي فُلَانٍ لَعَلَّ الَّذِي أَتَاهَا وَهِيَ فِي بَلَائِهَا قَالَ: فَقَالَ عُمَرُ: لَا أَدْرِي، فَقَالَ عَلِيٌّ عَلَيْهِ السَّلَام وَأَنَا لَا أَدْرِي".

د هناد الجنبی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه عمرفاروق ته ښځه راوستلې شوه کوي چه بدعملي کړي وو نوعمرفاروق ددې په رجم کولوحکم وکړونو په دغه وخت کښې علی رضی الله عنه تیریدواودغه ښځه ئې ونیوله اوهغه ئې دحدنه خلاصه کړه نو په دې باره کښې عمرفاروق ته خبر ورسیدوهغه ووئیل علیه ماته راولی چنانچه علی رضی الله عنه راغې او وئې وئیل چه اې امیر المومنین تاته خو معلومه ده چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی ددرې کسانونه د مواخذې قلم پورته کړې شوي دي پونابالغه ماشوم دي ترڅوچه بالغ شوي نه وي اوبل اوده دې ترڅوچه ویخ شوي نه وي اوبل لیونې دي ترڅوچه روغ شوي نه وي اودا ښځه دفلاني قبیلې لیونی ده شاید چابه ورسره دلیوتنوب په وخت کښې زنا کړې وی او دا د الله تعالی دطرف نه په مصیبت کښې مبتلاده عمرفاروق ووئیل ماته معلومه نه ده علی رضی الله عنه ووئیل ماته هم معلومه نه ده چه دا ښځه دزنا په وخت کښې لیونی وه اوکه نه وه.

دا هم هغه خبره ده کومه چه د امام خطابی رحمه الله په کلام کښې تیره شوه چه د هغې دا زنا د روغ والی په حالت کښې نه وی، عمر رضی الله عنه د روغ والی د حالت اعتبار کولو سره د رجم حکم فرمائیلي وو، او علی رضی الله عنه د شبه او تردد حالت ظاهر فرمائیلو سره عدم رجم ته ترجیح ورکړه کومه چه په اخر کښې سیدنا عمر رضی الله عنه هم اومنله.

والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

[٤٤٠٣] (٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَام، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ: عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ، وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَعْقِلَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَادَ فِيهِ وَالْخَرِفِ.

علی رضی الله عنه دنبی علیه السلام نه روایت بیانوي فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: ددرې کسانونه دمواخذې قلم پورته کړې شوي دي یو اوده دې ترڅوچه ویخ شوي نه وي اوبل یونابالغه ماشوم دي ترڅوچه بالغ شوي نه وي اوبل لیونې دې ترڅوچه روغ شوي نه وي، امام ابوداؤد فرمائی چه دا روایت ابن جریج دقاسم بن یزیدنه هغه دعلی رضی الله عنه نه اوهغه دنبی علیه السلام نه نقل کړې دي اودا اضافه ئې کړه ده چه دبوډانه ځکه چه دهغه عقل ځې راځې.

﴿ عَنْ عَلِيٍّ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– زَادَ فِيهِ « وَالْخَرِفِ » ﴾

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠١٩٦، ١٠٠٧٨) (صحيح)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠٢٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٦/١، ١٤٠) (صحيح)

یعنی په یو روایت کښې د مجنون سره د خرف هم اضافه ده، خرف په فتح د خاء او په کسرې د راء سره اخستلې شوې دي د خرف نه وهو فساد العقل من الکبر، یعنی د بوډاوالی د وجې نه د عقل خرابیدل. وهو غیر المجنون فان الجنون من الامراض السوداویة یقبل العلاج، والخرف بخلاف ذلک، ولهذا لم یقل فی الحدیث حتی یعقل لان الغالب انه لا یبرأ من الی الموت. (بذل)

د حدیث الباب په بعضو طرقو کښې دی ﴿عن المجنون﴾ او په بعضو کښې دی ﴿عن المجنون المغلوب علی عقله﴾ او په یو کښې دی ﴿عن المعتوة﴾ حضرت خو په بذل کښې دا لیکلي دی: المعتوة ای المجنون لان العتة نوع من الجنون او په کوکب دری ۱/۳۵۰ کښې دی: کل طلاق جائز الاطلاق المعتوه المغلوب علی عقله، باندې لیکلي دی: المراد بالمعتوه هنا المجنون ځکه چه په حدیث کښې د المعتوه سره المغلوب علی عقله مذکور دې لا المعنی المشهور وهو الذی لیس برشید ولیس له کثیر تجربة وخبرة وبصیرة فی الامور اهـ یعنی د معتوه معنی خو په اصل کښې د بیوقوف ده خو هغه دلته نه ده مراد، د حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې دی: اختلف فی ان المعتوه فی حکم المجنون او الصبی.

بَابٌ فِي الْغُلَامِ يُصِيبُ الْحَدَّ

باب: نابالغ که د حد قابل جرم اوکړی نو دهغې بیان

یعنی چه نابالغه ماشوم داسې جرم اوکړی چه موجب حد وی د بالغ په حق، د هغې په باره کښې په حاشیه د بذل کښې د شرح اشباه والنظائر نه نقل کړې دی چه د داسې هلک به تعزیر کولې شی د ادب دپاره، او هم دغه شان حبس هغه هم تادیبا نه عقوبة.

[٤٤٠٤]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ، حَدَّثَنِي عَطِيَّةُ الْقُرَظِيُّ، قَالَ: "كُنْتُ مِنْ سَبْيِ بَنِي قُرَيْظَةَ فَكَانُوا يَنْظُرُونَ فَمَنْ أَنْبَتَ الشَّعْرَ قُتِلَ وَمَنْ لَمْ يُنْبِتْ لَمْ يُقْتَلْ فَكُنْتُ فِيمَنْ لَمْ يُنْبِتْ".

دعطیة القرظی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه دبني قریظة په قیدیانو کښې وم صحابه کرامو به کتل چه دچا زیرناف ویښته راوتوکیدلي وونوهغه به ئې قتل کولو اودچاچه به نه وو راتوکیدلي نوهغه به ئې نه قتل کولو اوزه په هغوماشومانو کښې وم دچاچه نه وو راتوکیدلي.

قوله: ﴿حَدَّثَنِي عَطِيَّةُ الْقُرَظِيُّ قَالَ كُنْتُ مِنْ سَبْيِ بَنِي قُرَيْظَةَ فَكَانُوا يَنْظُرُونَ فَمَنْ أَنْبَتَ الشَّعْرَ قُتِلَ وَمَنْ لَمْ يُنْبِتْ لَمْ يُقْتَلْ فَكُنْتُ فِيمَنْ لَمْ يُنْبِتْ﴾ ([2])

عطیه قرظی رضی الله عنه چه صحابی دې او د یهودو د بنو قریظه نه وو، د بنوقریظه په باره کښې په کتاب الجهاد کښې تیر شوې دی چه د هغوی رجال قتل او نساء او صبیان رسول الله ﷺ قید فرمائیلي وو. او د چا په باره کښې ئې چه شبه وه د بلوغ او عدم بلوغ نو د هغې په باره کښې فیصله د نامئه نه لاندې ویښتو باندې اوکړې شوه، د چا چه انبات شوې وو هغه قتل کړې شو او دچا چه نه وو شوې هغه پریخودلې شو، نو دا عطیه د خپل ځان په باره کښې

[1]: سنن الترمذي/السير ٢٩ (١٥٨٤)، سنن النسائي/الطلاق ٢٠ (٣٤٦٠)، قطع السارق ١٤ (٤٩٨٤)، سنن ابن ماجه/الحدود ٤ (٢٥٤٢)، (تحفة الأشراف: ٩٩٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣١٠، ٣٨٣، ٥/٣١٢، ٣٨٣) (صحيح)

[2]) قال الباجي ج ٣ ص ١٦٩ وبه قال اكثر اصحابنا في حقوق الناس لا حقوق الله الخ. (حاشية بذل)

فرمائي چه چونکه زما هم هغه وخت کښې انبات نه وو شوې په دې وجه پرېښودلې شوم اوم.

[٤٤٠٥](1) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: فَكَشَفُوا عَانَتِي فَوَجَدُوهَا لَمْ تَنْبُتْ، فَجَعَلُونِي فِي السَّبْيِ.

عبد الملک بن عمیر همدا روایت ددې اضافي سره بیان کړې دې : فرمائي چه هغوی زما شرم ګاه برینډه کړه اووه ئې لیدل چه ویښته وربانډې نشته نوزه ئې په قیدیانو کښې شامل کړم.

تشریح: د دې نه پس حدیث د ابن عمر رضي الله عنه راروان دې چه هغوی د رسول الله ﷺ مخکښې پیش کړې شوې وو د غزوه احد په موقع بانډې په جنګ کښې د شرکت دپاره خو رسول الله ﷺ اجازت نه وو ورکړې او حال دا چه د هغوی عمر څوارلس کاله وو، بیا د دې نه پس په راروان کال په غزوه خندق کښې د شرکت کولو دپاره پیش کړې شو نو هغه وخت رسول الله ﷺ اجازت اوفرمائیلو.

[٤٤٠٦](2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: أَخْبَرَنِي نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَهُ يَوْمَ أُحُدٍ، وَهُوَ ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَلَمْ يُجِزْهُ وَعُرِضَهُ يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَهُوَ ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَهُ".

دابن عمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه ز نبی علیه السلام ته داحد په ورځ پیش کړې شوم اوڅوارلسو کالو وم نوماته ئې په جنګ کښې شاملیدو اجازت رانکو او په غزوه خندق کښې دپنځلسو کالووم نوبیائې راته اجازت راکړو.

تشریح: دا حدیث په کتاب الخراج باب متی یفرض للرجل فی المقاتلة، کښې تیر شوې دې. حدیث عطیة القرظي اخرجه الترمذی والنسائي وابن ماجه، وقال الترمذی، حسن صحیح، قاله المنذري.

[٤٤٠٧] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ نَافِعٌ: حَدَّثْتُ بِهَذَا الْحَدِيثِ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ، فَقَالَ: إِنَّ هَذَا الْحَدُّ بَيْنَ الصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ.

نافع وائي چه داحدیث مې عمر بن عبد العزیزته بیان کړو هغه ووئیل چه دبالغ اودنابالغ په مینځ کښې حد دې.

بَابُ السَّارِقِ يَسْرِقُ فِي الْغَزْوِ أَيُقْطَعُ

باب: څوک چه په غزوه (جهاد) کښې غلا اوکړی دهغه د لاس کټ کولو بیان

[٤٤٠٨](3) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، عَنْ عَيَّاشِ بْنِ عَبَّاسٍ الْقِتْبَانِيِّ، عَنْ شُيَيْمِ بْنِ بَيْتَانَ، وَيَزِيدَ بْنِ صُبْحٍ الْأَصْبَحِيِّ، عَنْ جُنَادَةَ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ، قَالَ: كُنَّا مَعَ بُسْرِ بْنِ أَرْطَاةَ فِي الْبَحْرِ فَأُتِيَ بِسَارِقٍ يُقَالُ لَهُ: مِصْدَرٌ قَدْ سَرَقَ بُخْتِيَّةً فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تُقْطَعُ الْأَيْدِي فِي السَّفَرِ وَلَوْلَا ذَلِكَ لَقَطَعْتُهُ".

---

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٩٠٤) (صحيح)

(2): انظر حديث رقم: (٢٩٥٧)، (تحفة الأشراف: ٨١٥٣) (صحيح)

(3): سنن الترمذي/الحدود ٢٠ (١٤٥٠)، سنن النسائي/قطع السارق ١٣ (٤٩٨٢)، (تحفة الأشراف: ٢٠١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨١/٤) (صحيح)

دجناده بن ابو امیه نه روایت دي فرمائی چه مونږ د بسر بن ارطاة سره په سمندر کښې سفر کولو اوهغه ته یوغل راوستلي شو چه نوم ئې مصدر وو هغه یو اوښ پټ کړې وو هغه اووئیل مادنبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې دسفرپه دوران کښې به دالاس نشي کټ کولې په دې بنا باندې زه دده لاس نه پریکوم اوکه داسې نه وې نوخامخا به مې دده لاس پریکړې وو.

قوله: ﴿ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « لاَ تُقْطَعُ الأَيْدِى فِى السَّفَرِ ». وَلَوْلاَ ذَلِكَ لَقَطَعْتُهُ ﴾

مضمون حدیث دا دې جنادة بن امیه فرمائی چه زه د بسر بن ارطاة سره اوم په دریابی سفر کښې نو یو غل راوستلي شو چه د هغه نوم مصدر وو چا چه یو بختی اوښ پټ کړې وو نو هغوی اوفرمائیل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي وو هغوی به فرمائیل چه په سفر کښې لاس نه دی پرې کول پکار، او که دا د سفر حالت نه وی نو ما به د ده لاس پرې کړې وو.

الكلام على الحديث من حيث الفقه :

په بذل کښې لیکلي دی چه دا حدیث امام اوزاعی اختیار کړې دې، اکثر فقهاء کرام د دې قائل نه دی، بعضو دا جواب ورکړې دې چه دا حدیث ضعیف دې، او بعضو وئیلي دی چه د دې نه په مال غنیمت کښې غلا کول مراد دی او چونکه په غنیمت کښې د هغه هم حصه ده په دې وجه قطع دید به نه شی کولې، او د دې یو جواب دا هم ورکړې شوې دې چه دا د هغه سړی په باره کښې دې چه د هغه د قطع ید د وجې نه د لحوق بدار الحرب ویره وی اهـ

او د جمهورو دلیل د سیدنا عباده ﷺ دا حدیث دې ﴿ جاهدوا الناس فى الله القريب والبعيد، ولا تبالوا فى الله لومة لائم، واقيموا حدود الله فى الحضر والسفر، رواه عبدالله بن احمد فى مسند ابيه ﴾ یعنی د زوائد مسند احمد روایت دې، قال فى مجمع الزوائد : يشهد لِصِحَّتِهِ عُمُومَات الْكِتَاب وَالسُّنَّة وَإِطْلَاقَاتها لِعَدَمِ الْفَرْق فِيهَا بَيْنَ الْقَرِيب وَالْبَعِيد وَالْمُقِيم وَالْمُسَافِر اِنْتَهَى (عون) امام ترمذی رحمه الله د دې حدیث په باره کښې فرمائی : ﴿ والعمل على هذا عند بعض أهل العلم منهم الأوزاعي لا يرون أن يقام الحد في الغزو بحضرة العدو مخافة أن يلحق من يقام عليه الحد بالعدو فإذا خرج الإمام من أرض الحرب ورجع إلى دار الإسلام أقام الحد على من أصابه كذلك قال الأوزاعي اهـ.

په دار الحرب کښې حد جاری کول پکار دی یا نه؟

او په دې کښې د حضرت شیخ رائې کوم چه حضرت په حاشیه د بذل کښې لیکلې ده، والظاهر عندى اخذ به الحنفية، والمعنى ان الحدود لا تقام فى دار الحرب كما فى البدائع ۱۳۱/۷ وهو يخالف ما فى الكوكب ۴۰۴/۱ [1] وفى المغنى ۵۳۷/۱ لا يقام الحد فى دار الحرب وبه قال الاوزاعى ويقام اذا رجع وقال الحنفية : ولا اذا رجع وقال مالك والشافعى يقام فيه ايضا، واستدل

[1] یعنی د صاحب کوکب رائې دا نه ده څه چه حضرت شیخ فرمائی، په کوکب کښې خو دا لیکلي دی چه عدم اقامة د حد که د لحوق د ویرې نه وی نو بیا به دا عدم اقامت حد موقت وی دار الاسلام ته د واپس کیدو پورې وعلي هذا فالنفي علي الستحباب لانه لا يجوز اقامة الحدود هناك اهـ من الكوكب)

لمذهبه بحديث الباب، يعني چونکه دا واقعه د دارالحرب وه په دې وجه هغه صحابي حد جاري نه کړو، او د احنافو مسلک هم دا دې چه په دار الحرب کښې دې حد جاري نه کړې شي لکه چه په بدائع وغيره کښې د دې تصريح ده، او د امام احمد رحمه الله مذهب لکه چه په مغني کښې دی دا دې چه په دارالحرب کښې دې خو حد قائم نه کړې شي خو د واپسئ نه پس دې قائم کړې شي او هم دا مذهب هغوی د امام اوزاعي هم منلې دې، او د احنافو مذهب ئې دا ليکلې دې چه د هغوی په نزد به د واپسئ نه پس حد قائمولې شي، او د امام مالک او امام شافعي مسلک دا دې چه هم په دار الحرب کښې دې حد قائم کړې شي.

والحديث اخرجه الترمذي والنسائي، وقال الترمذي غريب، قاله المنذري.

بَابٌ فِي قَطْعِ النَّبَّاشِ

باب: د کفنونو د غلا کونکي د لاس کټ کولو بيان

نباش هغه سړي چه نبش د قبورو کوي يعني قبر کنستلو سره کفن غلا کوي، مسئله مختلف فيه ده، د طرفين (امام ابوحنيفه او امام محمد) په نزد دې کښې قطع نشته وبه قال الثوري والزهري، او د ائمه ثلاث او امام ابويوسف رحمه الله په نزد په دې کښې قطع د يد شته كذا في المرقاة (حاشيه مشكوة ۳۰۶) واحكام القرآن للجصاص (هامش البذل) د احنافو په نزد عدم قطع په دې وجه ده چه قبر حرز نه دې،

[۴۴۰۹] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي عِمْرَانَ، عَنِ الْمُشَعَّثِ بْنِ طَرِيفٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا ذَرٍّ، قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ، فَقَالَ: كَيْفَ أَنْتَ إِذَا أَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ يَكُونُ الْبَيْتُ فِيهِ بِالْوَصِيفِ يَعْنِي الْقَبْرَ؟ قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، أَوْمَا خَارَ لِي اللَّهُ وَرَسُولُهُ، قَالَ: عَلَيْكَ بِالصَّبْرِ، أَوْقَالَ: تَصْبِرُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ حَمَّادُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ يُقْطَعُ النَّبَّاشُ: لِأَنَّهُ دَخَلَ عَلَى الْمَيِّتِ بَيْتَهُ.

دابوذر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ماته نبي عليه السلام اوفرمائيل ای ابوذر ماعرض اوکړو حاضريم او اطاعت گذاريم اي د الله رسوله نبي عليه السلام اوفرمائيل کله چه خلقو ته مرګ راشي نوته به په دغه وخت کښې څه کوې؟ او په دغه وخت کښې به ګور (قبر) دخادم په عوض وي ماعرض اوکړو الله اودهغه رسول ښه پوهيږي يامي داسې اووئيل الله اودهغه رسول چه زما په باره کښې څه اوفرمائيل نوزه به هم هغسې کوم نبي عليه السلام اوفرمائيل په تاباندې صبر کول ضروري دی. امام ابوداؤد فرمائي حماد بن ابی سلمه وئيلی دی چه د کفن پټونکي لاس به پريکولې شي ځکه چه دې دمړي کورته داخل شوې دې.

او د جمهورو استدلال د حديث الباب نه دې چه په هغې کښې دادی « يَا أَبَا ذَرٍّ ». قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ فَقَالَ كَيْفَ أَنْتَ إِذَا أَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ يَكُونُ الْبَيْتُ فِيهِ بِالْوَصِيفِ يَعْنِي الْقَبْرَ » دا حديث په کتاب الفتن کښې تير شوې دې، په دې حديث کښې چونکه په قبر باندې د بيت اطلاق کړې شوې دې په دې باندې جمهورو په خپل مسلک باندې استدلال کړې

(١): انظر حديث رقم: (٤٢٦١)، (تحفة الأشراف: ١١٩٤٧) (صحيح)

دې، بذل کښې په دې باندې ليکلي دی چه اګر چه په حديث کښې په قبر باندې د بيت اطلاق کړې شوې دې خو کله چه کور خالي وی او په هغې باندې څوک نګران او محافظ نه وی نو هغه حرز نه وی، والحديث اخرجه ابن ماجه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي السَّارِقِ يَسْرِقُ مِرَارًا

باب: څوک چه بار بار غلا کوی د هغه د حکم بيان

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة:

يعنی که يو سړې بار بار غلا اوکړی نو د هغه څه حکم دې؟ په دې مسئله کښې احناف او حنابله يو طرف ته دی او مالکيان او شوافع بل طرف ته، زمونږ په نزد په سرقه اولی کښې ښې لاس او په ثانيه کښې ګسه خپه، که د دې نه پس غلا اوکړی نو د قطع سزا نشته بلکه تعزير او حبس دائم دې تر دې چه توبه اوباسی، او د شوافعو او مالکيانو په نزد دريم ځل کښې ګس لاس او څلورم ځل کښې ښئ خپه پريکول دی، که د دې نه پس اوکړی نو تعزير او حبس دې، او حديث الباب د دې ټولو خلاف دې.

[٤٤١٠] ([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عَقِيلٍ الْهِلَالِيُّ، حَدَّثَنَا جَدِّي، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ ثَابِتِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: جِيءَ بِسَارِقٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "اقْتُلُوهُ"، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا سَرَقَ، فَقَالَ: اقْطَعُوهُ، قَالَ: فَقُطِعَ ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّانِيَةَ، فَقَالَ: اقْتُلُوهُ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا سَرَقَ، فَقَالَ: اقْطَعُوهُ، قَالَ: فَقُطِعَ ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّالِثَةَ، فَقَالَ: اقْتُلُوهُ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا سَرَقَ فَقَالَ: اقْطَعُوهُ ثُمَّ أُتِيَ بِهِ الرَّابِعَةَ، فَقَالَ: اقْتُلُوهُ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا سَرَقَ، قَالَ: اقْطَعُوهُ فَأُتِيَ بِهِ الْخَامِسَةَ، فَقَالَ: اقْتُلُوهُ، قَالَ جَابِرٌ: فَانْطَلَقْنَا بِهِ فَقَتَلْنَاهُ ثُمَّ اجْتَرَرْنَاهُ فَأَلْقَيْنَاهُ فِي بِئْرٍ وَرَمَيْنَا عَلَيْهِ الْحِجَارَةَ".

د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام ته يو غل پيش کړې شو نبی عليه السلام اوفرمائيل دې قتل کړئ صحابه کرامو عرض اوکړو اې د الله رسوله ده خو غلا کړې ده. نبی عليه السلام اوفرمائيل دده لاس پريکړئ راوی وائی چه دده لاس پريکړې شو، يوه ورځ همدا غل دوباره راوستلی شو نونبی عليه السلام دده د قتل حکم وکړو صحابه کرامو عرض اوکړو اې د الله رسوله ده خو غلا کړې ده نبی عليه السلام اوفر مائيل دده خپه پريکړئ نو دده يوه خپه پريکړې شوه ددينه پس دريم ځل بيا راوستلی شونبی عليه السلام دده د قتل حکم وکړونوبياعرض اوکړې شواې د الله رسوله ده خو غلا کړې ده نبی عليه السلام اوفرمائيل نو دده بل لاس پريکړې شو ددينه پس په څلورم ځل بيا راوستلی شو نبی عليه السلام اوفرمائيل قتل ئې کړئ صحابه کرامو عرض اوکړو اې د الله رسوله ده خوغلا کړې ده نبی عليه السلام اوفرمائيل نو دده بله خپه پريکړې شوه کله چه په پنځم ځل راوستلې شو نو دده دقتل کولو حکم ئې وکړو جابر فرمائی چه بيا مونږه دې بوتلو اوقتل موکړو او يوکوهي ته مو وروغور ځوو اودبره نه موپه کاڼو او ويشتو.

قوله: ﴿عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ جِيءَ بِسَارِقٍ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ « اقْتُلُوهُ ». فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا سَرَقَ. فَقَالَ « اقْطَعُوهُ ». قَالَ فَقُطِعَ ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّانِيَةَ الخ﴾

[1]: سنن النسائي/قطع السارق ١٢ (٤٩٨١)، (تحفة الأشراف: ٣٠٨٢) (ضعيف)

يعنى يو غل رسول الله ﷺ ته راوستلې شو نو هغوى اوفرمائيل دې قتل کړئ، په دې باندې صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! دې سړى صرف غلا کړې ده (نو د قتل حکم ولې؟) رسول الله ﷺ اوفرمائيل ښه لاس ترې نه پرې کړئ، پس هم دغه شان اوکړې شو، بيا په دويم ځل هم هغه غل راوستلې شو او دريم ځل هم او څلورم ځل هم، هر ځل به ئې د قتل حکم فرمائيلو او د صحابه کرامو ﷺ په عرض کولو باندې به ئې په ځائې د قتل د قطع حکم فرمائيلو، تر دې چه د هغه څلور واړه لاسونه او خپې پرې کړې شو بيا هغه په پنځم ځل راوستلې شو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ اقْتُلُوه،قَالَ جَابِرٌ فَانْطَلَقْنَا بِهِ فَقَتَلْنَاهُ ثُمَّ اجْتَرَرْنَاهُ فَأَلْقَيْنَاهُ فِي بِئْرٍ وَرَمَيْنَا عَلَيْهِ الْحِجَارَةَ ﴾ دې قتل کړئ سيدنا جابر ﷺ فرمائى چه مونږ هغه بوتلو او قتل مو کړو او بيا مو راښکلو او په کوهى کښې مو ګزار کړو او دپاسه مو پرې کانړې کيخودل پس انجام د هغه سړى هم هغه شو کوم چه الله پاک په لسان نبوت باندې د شروع نه جارى کړې وو. د دې حديث نه معلوميږى چه په سرقه کښې به د څلورو واړو لاسو او خپو قطع کولې شى لکه چه د شوافعو او مالکيانو مسلک دې خو په دې حديث کښې پنځم ځل د سارق د قتل حکم کړې شوې دې د کوم چه دا دواړه امامان قائل نه دى بلکه څوک ئې هم په ائمه اربعه کښې قائل نه دې، خو ابومصعب مالکى د دې قائل دې.

حديث د ائمه اربعه خلاف دې د دې جوابات :

لهذا دا حديث د هغه دواړو امامانو هم خلاف دې، د دې حديث په توجيه کښې په مختلفو آراء کښې وئيلې شوې دى چه دا قتل د هغه د ارتداد د وجې نه وو ﴿ولذا جرده ولم يصلوا عليه ولم يدفنوه﴾ او يو قول دا دې چه دا حديث منسوخ دې لحديث لا يحل دم امرئ مسلم الا باحدى ثلاث، او د امام نسائى رائې دا ده چه الحديث منكر غير صحيح مصعب بن ثابت راوى غير قوى دې، قال النسائى ولا اعلم فى هذا الباب حديثا صحيحا، يعنى د قتل سارق په باره کښې هيڅ حديث صحيح نشته، او د حافظ ابن القيم رحمه الله رائې په دې کښې دا ده چه د قتل شارب فى الرابعة حکم او هم دغه شان د قتل سارق حکم که حديث صحيح شى نو په مصلحت او تعزير باندې محمول دې، د علامه شامى رائې هم دا ده چه دا قتل سياسة وو. (هامش البذل)

اصل مترجم بها چه يو اختلافى مسئله ده كما سبق بيان الاختلاف په دې کښې يو صحيح حديث مرفوع نشته، د شوافعو او مالکيانو استدلال د حديث الباب نه دې چه په هغې باندې کلام پورته تير چه هغه خو د هغوى هم خلاف دې، بلکه دا چه حديث منکر دې لګه چه امام نسائى رحمه الله فرمائى.

په مسئلة الباب کښې د احنافو دليل :

هم دغه شان د احنافو استدلال هم په دې باره کښې د صحابه کرامو ﷺ د آثارو نه دې پس

په هدایه ۵۳۷/۲ کښې دي : ولنا قول علي رضي الله عنه فيه (١)إني لأستحي من الله تعالى أن لا أدع له يدا يأكل بها ويستنجي بها ورجلا يمشي عليها وبهذا حاج بقية الصحابة رضي الله عنهم فحجهم فانعقد إجماعا ولأنه إهلاك معنى لما فيه من تفويت جنس المنفعة والحد زاجر (اى لا متلف) ولأنه نادر الوجود والزجر فيما يغلب وقوعه بخلاف القصاص (٢)لأنه حق العبد فيستوفى ما أمكن جبرا لحقه والحديث طعن فيه الطحاوي رحمه الله أو نحمله على السياسة اهـ د دې حديث نه مراد هغه دی کوم چه په شروع کښې د امام شافعي رحمه الله د طرف نه صاحب هدايه نقل کړی دی، و لفظه : من سرق فاقطعوه فان عاد فاقطعوه فان عاد فاقطعوه.

او په موطاء د امام محمد رحمه الله کښې دي : وقد بلغنا ان عمر بن الخطاب وعن علي بن أبي طالب أنهما لم يزيدا في القطع على قطع اليمنى أو الرجل اليسرى فإن أتي به بعد ذلك لم يقطعاه وضمناه. وهو قول أبي حنيفة والعامة من فقهائنا رحمهم الله....... دا روايت د بلاغات موطاء نه دې چه د هغې مضمون دا دې چه د عمر او علي رضي الله عنهما نه د غل په باره کښې صرف اول ځل او دويم ځل قطع ثابت ده د دې نه پس د دې دواړو نه تضمين ثابت دې يعني د سارق نه به د مال مسروق ضمان اخستلې شي، او په اول او دويم ځل به قطع د يد او رجل وی تضمين به نه وی، وهذا عند ابى حنيفة خلافا للشافعي وغيره والمسئلة مبرهنة في كتب الاصول (كذا في التعليق الممجد) وحديث الباب اخرجه النسائي وقال هذا منكر، قاله المنذري.

بَابٌ فِي السَّارِقِ تُعَلَّقُ يَدُهُ فِي عُنُقِهِ

باب: د غل لاس به د کټ کولو نه پس د هغه په غاړه کښې زوړند ولې شي

يعنی د غل لاس دې د پرې کولو نه پس د هغه په مرئ کښې زوړند کړې شي، په حديث الباب کښې هم داسې دي.

[٤٤١١](٣) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُحَيْرِيزٍ، قَالَ: سَأَلْنَا فَضَالَةَ بْنَ عُبَيْدٍ عَنْ تَعْلِيقِ الْيَدِ فِي الْعُنُقِ لِلسَّارِقِ أَمِنَ السُّنَّةِ هُوَ؟ قَالَ: "أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

---

(١) يعنی د احنافو دليل په دې کښې د علي رضي الله عنه قول دې هغوی فرمائی چه ماته حياء راځی د الله پاک نه په دې خبره چه زه په غلا کښې د غل نه لاس پريږدم چه په هغې باندې هغه خوراک اوکړې او استنجاء اوکړی او نه ئې خپه پريږدم چه په هغې باندې هغه اوګرځيدلې شی، هم دا دليل هغوی د صحابه کرامو رضي الله عنهم مخکښې پيش اوفرمائيلو چه د هغې په وجه علي رضي الله عنه په هغوی باندې غالب شو، پس ګويا په دې باندې اجماع منعقد شوه، او دويمه وجه دا ده چه دا سزا (څلور واړه لاس خپې پرې کول) دا خو په حقيقت کښې انسان لره بالکل هلاکول دی د جنس منفعت د فوت کيدو د وجې نه حال دا چه په حد سره مقصود زجر دی نه تلف کول، او دريمه وجه دا ده چه د يوې خپې او يو لاس پرې کيدلو نه پس بيا په دريم او څلورم ځل هم څوک غلا اوکړی داسې خو ډير قليل او نادر دی حال دا چه زجر کوم چه مقصود بالحد دې هغه خو په هغه جرمونو کښې دې هغه په کثير الوقوع وی، وراندې يو دفع د دخل مقدر ده)
(٢) دا دفع د دخل مقدر ده هغه دا چه که يو سړی د چا څلور واړه لاسونه او خپې پرې کړی نو د هغې په بدله کښې به د هغه جنايت کونکی هم څلور واړه لاسونه او خپې پرې کولې شی، وحاصل الجواب ان القصاص حق العبد واما قطع اليد في السرقة فهو من قبيل حق الله تعالي)
(٣): سنن الترمذي/الحدود ١٧ (١٤٤٧)، سنن النسائي/قطع السارق ١٥ (٤٩٨٥)، سنن ابن ماجه/الحدود ٢٣ (٢٥٨٧)، (تحفة الأشراف: ١١٠٢٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩/٦) (ضعيف)

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَارِقٍ فَقُطِعَتْ يَدُهُ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَعُلِّقَتْ فِي عُنُقِهِ".

عبدالرحمن بن محيريز وئيلى دى چه موږ دفضاله بن عبيد كه نه تپوس اوكړو چه ايا دغل لاس دپريكولونه پس دهغه په غاړه كښې زوړندول سنت دي؟ هغه په جواب كښې اووئيل يوغل نبى عليه السلام ته مخامخ كړې شو اودهغه لاس پريكړې شوې وونبى عليه السلام دهغه په غاړه كښې دهغه دلاس زوړندولو حكم وكړو چنانچه دهغه په غاړه كښې دهغه لاس زوړند كړې شو.

قوله: ﴿أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِسَارِقٍ فَقُطِعَتْ يَدُهُ ثُمَّ أُمِرَ بِهَا فَعُلِّقَتْ فِى عُنُقِهِ﴾

د شوافعو او د حنابله په نزد تعليق مسنون دې پس په مغنى كښ دى : ويسن تعليق اليد في عنقه لما روى فضالة بن عبيد الخ يعنى حديث الباب، رواه ابوداؤد وابن ماجه، وفعل ذلك على رضي الله عنه اه قال ابن الهمام ٤/٢٤٨ وَيُسَنُّ تَعْلِيقُ يَدِهِ فِي عُنُقِهِ لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَمَرَ بِهِ وَعِنْدَنَا ذَلِكَ مُطْلَقٌ لِلْإِمَامِ إنْ رَآهُ ، وَلَمْ يَثْبُتْ مِنْهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي كُلِّ مَنْ قَطَعَهُ لِيَكُونَ سُنَّةً ﴾ يعنى د رسول الله ﷺ نه تعليق اليد د هر سارق په باره كښ نه دې ثابت چه دې ته سنت اووئيلې شى، لهذا د امام په رائې ده كه د هغه خوښه وى. والحديث اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجه، قاله المنذرى.

باب بَيْعِ الْمَمْلُوكِ إِذَا سَرَقَ

باب: كوم غلام چه غلا اوكړى دهغه د خرڅولو بيان

[٤٤١٢](١) حَدَّثَنَا مُوسَى يَعْنِي ابْنَ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا سَرَقَ الْمَمْلُوكُ فَبِعْهُ وَلَوْ بِنَشٍّ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت ئې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى كله چه يوغلام غلاوكړي نوخرڅ ئې كړئ هغه اګرچه په ډير كم قيمت باندې خرڅ كړې شي.

قوله: ﴿إِذَا سَرَقَ الْمَمْلُوكُ فَبِعْهُ وَلَوْ بِنَشٍّ﴾ د ابوهريره رضي الله عنه حديث مرفوع دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه كه د چا غلام غلا اوكړى نو هغه دې خرڅ كړى اګر چه په هر څومره كم قيمت باندې ولې نه وى، نش وئيلې شى نصف اوقيه ته يعنى شل درهمه، د حضرت ګنګوهى په تقرير كښ دى چه مصنف رحمه الله دا حديث دلته راوړلو په دې لحاظ سره چه دا هغه څيز لره په كم قيمت باندې خرڅول هم يو قسم تعزيردي. والحديث اخرجه النسائى وابن ماجه، قاله المنذرى.

باب فِي الرَّجْمِ

باب: د رجم د احكامو بيان

[٤٤١٣](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ فَإِنْ شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّى يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا سورة النساء آية ١٥، وَذَكَرَ الرَّجُلَ بَعْدَ

(١): سنن النسائي/قطع السارق ١٣ (٤٩٨٣)، سنن ابن ماجه/الحدود ٢٥ (٢٥٨٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٩٧٩) (ضعيف)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٦٧) (حسن الإسناد)

الْمَرْأَةِ ثُمَّ جَمَعَهُمَا، فَقَالَ: وَاللَّذَانِ يَأْتِيَانِهَا مِنكُمْ فَآذُوهُمَا فَإِن تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا سورة النساء آية ١٦، فَنَسَخَ ذَٰلِكَ بِآيَةِ الْجَلْدِ، فَقَالَ: الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ سورة النور آية ٢".

دابن عباس ﷺ نه روایت دي فرمائی چه دالله تعالی داقول: «واللاتي يأتين الفاحشة من نسائكم فاستشهدوا عليهن أربعة منكم فإن شهدوا فأمسكوهن في البيوت حتى يتوفاهن الموت أو يجعل الله لهن سبيلا» په دې کښې دسړي ذکریس دښځي نه دي ، اوبیائي دواړه په لاندیني ایت کښې جمع کړي دي: «واللذان يأتيانها منكم فآذوهما فإن تابا وأصلحا فأعرضوا عنهما» نودا ایت ددرویه ایت باندې منسوخ شوي دي یعني: «الزانية والزاني فاجلدوا كل واحد منهما مائة جلدة».

قوله: ﴿ عن ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ (وَاللاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ فَإِنْ شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّى يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلا ﴾

ترجمه : کومې زنانه چه ستاسو د ښځو نه د بې حیایئ ارتکاب اوکړی نو تاسو په هغوی باندې څلور ګواهان قائم کړئ پس کله چه ګواهان قائم شی نو تاسو فی الحال هغه زنانو لره په کور کښې بندې کړئ ترڅو چه په هغوی باندې مرګ راشی یا الله پاک د هغوی دپاره بل څه صورت تجویز کړی دا د شروع حکم دې د حد د زنا د نزول نه مخکښې، پس کله چه حد زنا مشروع شو نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل لکه چه د باب په دویم حدیث کښې راروان دی: ﴿ خذوا عنى خذوا عنى قد جعل الله لهن سبيلا ﴾ زما نه د داسې زنانو حکم واخلئ (یعنی زده کړئ) الله پاک د هغوی دپاره فیصله اوفرمائیله

قوله: ﴿ وَذَكَرَ الرَّجُلَ بَعْدَ الْمَرْأَةِ ثُمَّ جَمَعَهُمَا فَقَالَ (وَاللَّذَانِ يَأْتِيَانِهَا مِنْكُمْ فَآذُوهُمَا فَإِنْ تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا) ﴾

په اول آیت کریمه کښې صرف د زنانو حکم وو، او په دویم روایت کښې ﴿ والذان ياتيانها ﴾ د دواړو ذکر جمع کړې شو، هم دې لره ابن عباس ﷺ فرمائی چه الله پاک ذکر کړو سړی لره د ښځې نه پس په داسې طریقه چه دواړه ئې جمع کړل، په دې آیت کریمه کښې هم څه خاص حد د زنا مذکور نه دې بلکه دا پکښې دی : ﴿ آذوهما ﴾ چه کوم سړی او زنانه زنا اوکړی نو هغوی ته تکلیف ورکړئ، هم په دې وجه ابن عباس ﷺ فرمائی ﴿فَنَسَخَ ذَلِكَ بِآيَةِ الْجَلْدِ فَقَالَ (الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ)﴾ په دې آیت کریمه کښې هغه سبیل ذکر دې د کوم وعده چه په اول آیت کریمه کښې کړې شوې وه.

[٤٤١٤](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ، حَدَّثَنَا مُوسَى يَعْنِي ابْنَ مَسْعُودٍ، عَنْ شِبْلٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: السَّبِيلُ الْحَدُّ، قَالَ سُفْيَانُ فَآذُوهُمَا سورة النساء آية ١٦ الْبِكْرَانِ، فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ سورة النساء آية ١٥ الثَّيِّبَاتُ.

دامام التفسير مجاهدنه روایت دې فرمائی چه دالله تعالی په قول کښې دسبیل نه مراد حد دې ، سفیان وئیلی دی پدې ایت کښې د «فآذوهما» نه مراد غیر شادې شده کسان دي اود

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٢٦٧) (حسن)

«فأمسكوهن في البيوت») نه مراد واده شوی کسان دي.

[۴۴۱۵]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ الْحَسَنِ، عَنْ حِطَّانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الرَّقَاشِيِّ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خُذُوا عَنِّي خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا الثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَرَمْيٌ بِالْحِجَارَةِ وَالْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَنَفْيُ سَنَةٍ".

دعبادة بن الصامت رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی زمانه زده کړئ زمانه زده کړئ يقينا الله تعالى ددوی دپاره الارمقررکړې ده چه ثيب کله دئيې سره زنا وکړي نوددوی دپاره سل کوړي اوډسنګسارولوحکم دې اوکله چه څلني دپيغلې سره زنا وکړي نودوی دپاره سل کوړي اودوطن نه شړل پکاردي.

قوله: ﴿ الثَّيِّبُ ([2])بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَرَمْيٌ بِالْحِجَارَةِ وَالْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَنَفْيُ سَنَةٍ ﴾ په آيت كريمه كښې صرف د بكر حكم مذكور دي او په دې حديث كښې د بكر او ثيب دواړو، د ثيب نه مراد وادۀ کړې نه دي بلکه محصن مراد دی ([3])د دې سزا په دې حديث كښې رجم او سل كوړې او د بكر يعنى غير محصن سزا سل كوړې او يو كال دپاره جلا وطن كول دی چه هغې ته تغريب عام وائی بيان کړې شوې ده. جمع بين الرجم والجلد يعنى د رجم سره سل كوړې هم وركول دا د امام احمد، اسحاق بن راهويه او داؤد ظاهری مسلک دې، او ائمه ثلاث او په يو روايت كښې امام احمد رحمه الله رجم سره د كوړو قائل نه دې د هغوی په نزد دا د جمع كولو حكم منسوخ دې او ناسخ د دې دپاره د رسول الله ﷺ فعل دې د ماعز بن مالک اسلمی رضي الله عنه سره چه رسول الله ﷺ هغوی صرف رجم کړل بغير د جلد نه او په بكر كښې جلد مائة يعنى سل كوړو سره تغريب عام يعنى يو كال دپاره جلا وطن كول دا د ائمه ثلاث مسلک دې، احناف د نفی سنة قائل نه دی يعنى دا د حد جزء نه ګڼړی بلکه دا په سياست باندې محمول کوی، په بذل كښې په دې اختلافاتو باندې په تفصيل سره كلام كړې شوې دې او په آخير كښې د بدائع نه نقل کړې شوې دی:

(وَلَنَا) قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ { الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ } وَالِاسْتِدْلَالُ بِهِ مِنْ وَجْهَيْنِ: أَحَدُهُمَا أَنَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَمَرَ بِجَلْدِ الزَّانِيَةِ وَالزَّانِي، وَلَمْ يَذْكُرْ التَّغْرِيبَ، فَمَنْ أَوْجَبَهُ فَقَدْ زَادَ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالزِّيَادَةُ عَلَيْهِ نَسْخٌ، وَلَا يَجُوزُ نَسْخُ النَّصِّ بِخَبَرِ الْوَاحِدِ، وَالثَّانِي – أَنَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى جَعَلَ الْجَلْدَ جَزَاءً، وَالْجَزَاءُ اسْمٌ لِمَا تَقَعُ بِهِ الْكِفَايَةُ مَأْخُوذٌ مِنْ الِاجْتِزَاءِ – وَهُوَ الِاكْتِفَاءُ –

---

[1]): صحيح مسلم/الحدود ۳ (۱۶۹۰)، سنن الترمذي/الحدود ۸ (۱۴۳۴)، سنن ابن ماجه/الحدود ۷ (۲۵۵۰)، (تحفة الأشراف: ۵۰۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۷۵/۳، ۳۱۳/۵، ۳۱۷، ۳۱۸، ۳۲۰)، سنن الدارمي/الحدود ۱۹ (۲۳۷۲) (صحيح)

[2]) اي اذا زني الثيب بالثيب وكذا قوله البكر بالبكر، لكن هذا القيد ليس باحترازي بل اذا زني الثيب بالبكر او اذا زني البكر بالثيب يرجم الثيب منهما ويجلد البكر، زانی او مزنيه كه دواړه ثيب دی نو بيا خو به دواړه رجم كيږی او كه دواړه بكر دی نو د دواړو دپاره به سل سل كوړې وی او كه يو ثيب او بل بكر وی نو چه كوم ثيب وی د هغه حكم رجم دې او چه كوم بكر وی د هغه حكم به سل كوړې وی)

[3]) دا د تسمية الكل باسم الجزء د قبيل نه دې چه وئيلې شوې خو دې ثيب او مراد ترې نه محصن دې احصان د څو صفاتو د مجوعې نوم دې چه په هغې كښې يو صفت ثيوبة هم دې يعنى ثيب كيدل، محصن چه د كومو صفاتو د مجموعې نوم دې د هغې تفصيل وړاندې راځی)

فَلَوْ أَوْجَبْنَا التَّغرِيبَ لَا تَقَعُ الْكِفَايَةُ بِالْجَلْدِ ، وَهَذَا خِلَافُ النَّصِّ...... یعنی په خبر واحد سره په کتاب الله باندې زیادت جائز نه دې لکه چه د اصول فقه مشهوره مسئله ده، او تغریب عام لره جزء د حد منلو سره د خبر واحد په ذریعه په کتاب الله باندې زیادت لازمیږي.

وړاندې هغوی یوه بله عقلي وجه بیان کړه چه تغریب خو خلاف د مصلحت دې او ګویا هغه ته نوره هم موقع ورکول دی د دې ناجائز کار ، ځکه چه که په خپل ښهر کښې اوسیږي نو چونکه هلته به د هغه نور خپلوان او تعلق دار موجود وي نو د هغوی د وجې نه به شرم کوي دوباره د جرم د ارتکاب کولو نه، په خلاف د نورو ښهرونو چه هلته به دا مانع نه وي، باقي د مطلقا عدم تغريب مونږ قائل نه یو ، که امام په تغریب کښې مصلحت ګڼړي نو په طور د تعزیر کولې شي نه په طریق د حد اهـ د حدیث الباب نه معلومه شوه چه د ثیب د زنا سزا رجم ده او په بکر کښې د زنا سزا جلد مائة، د ثیب نه مراده هغه سړې یا ښځه ده چه محصن وي او د بکر نه مراد غیر محصن دی.

احصان د کومو صفاتو د مجموعې نوم دې :

د رجم دپاره د صفت احصان کیدل بالاجماع ضروري دی، اوس دا چه د احصان شرائط څه څه دی هغه کتل پکار دی، د بخاري ترجمه ده، "باب رجم المحصن" قال العيني : والمحصن بفتح الصاد من الإحصان وهو المنع في اللغة وجاء فيه كسر الصاد فمعنى الفتح أحصن نفسه بالتزوج عن عمل الفاحشة ومعنى الكسر على القياس وهو ظاهر والفتح على غير القياس، قال أصحابنا شروط الإحصان في الرجم سبعة الحرية والعقل والبلوغ والإسلام والوطي والسادس الوطي بنكاح صحيح والسابع كونهما محصنين حالة الدخول بنكاح صحيح وقال أبو يوسف والشافعي وأحمد الإسلام ليس بشرط لأنه صلى الله عليه وسلم رجم يهوديين قلنا كان ذلك بحكم التوراة قبل نزول آية الجلد في أول ما دخل صلى الله عليه وسلم المدينة فكان منسوخا بها وقال ابن المنذر وأجمعوا على أنه لا يكون الإحصان بالنكاح الفاسد ولا الشبهة وخالفهم أبو ثور فقال يكون محصنا واختلفوا إذا تزوج الحر أمة هل تحصنه فقال الأكثرون نعم وعن عطاء والحسن وقتادة والثوري والكوفيين وأحمد وإسحاق لا.

معلومه شوه چه د احصان شرطونه اووه دی، په هغې کښې په بعضو کښې اختلاف هم دې، پس په مغنی کښې دی : الرابع الحرية وهي شرط في قول أهل العلم كلهم إلا أبا ثور قال : العبد والامة هما محصنان يرجمان إذا زنيا وقال الأوزاعي في العبد تحته حرة محصن يرجم إذا زنا وان كان تحته أمة لم يرجم، هم دغه شان په صفت اسلام کښې اختلاف دې، د احنافو او مالکیانو په نزد په شرائطو د احصان کښې دې، د حنابله او شوافعو په نزد نه دې، كما سياتى فی باب رجم اليهوديين او په در مختار کښې دی : شرائط (إحصان الرجم) سبعة (الحرية والتكليف اى عقل والبلوغ (والإسلام والوطئ) وكونه (بنكاح صحيح) حال الدخول و كونهما (بصفة الإحصان) المذكورة وقت الوطئ فإحصان كل واحد منهما شرط لصيرورة الآخر محصنا فلو نكح أمة أو الحرة عبد فلا إحصان إلا أن يطأها بعد العتق فيحصل به لا بما قبله... الى آخره.... قال ابن عابدين :

(قوله (رح)شَرَائِطُ إحْصَانِ الرَّجْمِ) وقيده به لِأَنَّ إحْصَانَ الْقَذْفِ غَيْرُ هَذَا،و(قَوْلُهُ بِنِكَاحٍ صَحِيحٍ) خَرَجَ الْفَاسِدُ كَالنِّكَاحِ بِغَيْرِ شُهُودٍ فَلَا يَكُونُ بِهِ مُحْصَنًا، (قَوْلُهُ حَالَ الدُّخُولِ) احْتِرَازًا عَمَّا لَوْ وَطِئَ فِي نِكَاحٍ مَوْقُوفٍ عَلَى الْإِجَازَةِ ثُمَّ أَجَازَتْ الْمَرْأَةُ الْعَقْدَ أَوْ وَلِيُّ الصَّغِيرَةِ فَلَا يَكُونُ بِهَذَا الْوَطْءِ مُحْصَنًا وَإِنْ كَانَ الْعَقْدُ صَحِيحًا ؛ لِأَنَّهُ وَطِئَ فِي عَقْدٍ لَمْ يَصِحَّ إلَّا بَعْدَهُ لَا فِي حَالَةِ الْوَطْءِ، وفی الكنز والدخول بالنكاح الصحيح وكونهما محصنين حالة الدخول، قال الزيلعي اما الدخول فلقوله عليه الصلوة والسلام الثيب بالثيب الحديث، والثيابة لا تكون بغير دخول، ولانه باصابة الحلال تنكسر شهوته ويشبع فيستغنى به عن الزنا، واما احصانهما حالة الدخول فان هذه النعمة به تتكامل، اذا الطبع ينفر عن صحبة المجنونة وقلما يرغب فی الصغيرة لقلة رغبتها فيه، وفي المملوكة حذرا عن رق الولد، علامه زيلعي ددې شرطونو د احصان نه د هر هر شرط لم او علت هم ذکر کړی دی، لهذا هغه دې اوکتلې شی چه مفيد او موجب د بصيرت دی والله تعالى الموفق، وفى الاوجز عن الموفق السابع : ان يوجد الكمال فيهما جميعا حال الوطى فيطا الرجل العاقل الحر امراة عاقلة حرة، وهذا قول ابی حنيفة واصحابه الخ موفق رحمہ اللہ چونکه حنبلی دې لهذا هم دا مسلک د حنابله شو، د دې نه پس هغوی په دې کښې د امام شافعي او امام مالک رحمہما اللہ اختلاف نقل کړې دې کوم چه په اوجز کښې ذکر دې فارجع اليه لو شئت.

د ذکر کړې شوی عبارت خلاصه :

د دې ټولو حاصل دا دې چه زنا فاحشه عظمی ده، هم په دې وجه د دې سزا عقوبة شديده يعنی رجم کيخودلې شوې دې، خو د زنا دا سزا يعنی رجم مطلقا نه دې بلکه په هغه وخت کښې ده چه په زانی کښې صفت د احصان هم موندلې شی، ځکه چه د صفت احصان د وجې نه د زنا وقاحت او شناعت نور هم زياتيږی ځکه چه صفت احصان د هغه صفاتو مجموعه ده کوم چه د زنا د ارتکاب نه مانع دی خو يو سړې د هغې باوجود د زنا ارتکاب کوی چه د هغې په وجه باندې د هغه.دا جرم ډير سخت شی او هغه صفتونه د جمهور علماء کرامو په نزد اووه دی: حرية، عقل، بلوغ، اسلام، نکاح صحيح، وطی بنکاح صحيح، د دخول په وخت په واطی او موطوءة کښې د دې صفت احصان موندلې کيدل (د کوم نه چه په احصان سره تعبير کولې شی) لهذا که يو آزاد د وينځې سره نکاح اوکړه او هم په دې حالت کښې ئې وطی اوکړه او د دې نه پس په دوی دواړو کښې د يو نه زنا اوشوه او د دې نه روستو بيا هغه زنانه آزاده هم کړې شوه نو چونکه دلته صفة الاحصان وقت الدخول بيا نه موندلې شو د وطی په وخت د موطوئة د وينځې کيدو د وجې نه په دې وجه دې صورت کښې به د زنا حکم د رجم نه وی مګر دا چه د دې وينځې د آزاديدلو نه پس دوباره د هغې سره وطی کړې شوې وی او د هغې نه روستو زنا او موندلې شوه نو په دې صورت کښې به د هغه حکم رجم وی، يا هم دغه شان يو آزادې زنانه د غلام سره نکاح اوکړه او بيا هغه پورته صورت بيا موندلې شو نو د هغې هم دا حکم دې، حاصل دا چه په کوم سړی او زنانه کښې چه پورته ذکر شوې د احصان صفت بيا موندلې شی او بيا د هغې نه روستو هغه سړې يا زنانه زنا اوکړی نو رجم کولې به شی ګينې نه.

[۴۴۱۶]()حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ بْنِ سُفْيَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنِ الْحَسَنِ، بِإِسْنَادِ يَحْيَى، وَمَعْنَاهُ قَالَ: جَلْدُ مِائَةٍ وَالرَّجْمُ.

منصور دحسن نه په خپل سند سره ددې روايت هم معنى روايت بيان کړې او دواړو وئيلي دي چه دزناکار سزا سل کوړې او رجم دي.

[۴۴۱۷]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ رَوْحِ بْنِ خُلَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ يَعْنِي الْوَهْبِيَّ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دَلْهَمٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبَّقِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ نَاسٌ لِسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ: يَا أَبَا ثَابِتٍ قَدْ نَزَلَتِ الْحُدُودُ لَوْ أَنَّكَ وَجَدْتَ مَعَ امْرَأَتِكَ رَجُلًا كَيْفَ كُنْتَ صَانِعًا؟ قَالَ: كُنْتُ ضَارِبَهُمَا بِالسَّيْفِ حَتَّى يَسْكُتَا أَفَأَنَا أَذْهَبُ فَأَجْمَعُ أَرْبَعَةَ شُهَدَاءَ فَإِلَى ذَلِكَ قَدْ قَضَى الْحَاجَةَ فَانْطَلَقُوا فَاجْتَمَعُوا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَمْ تَرَ إِلَى أَبِي ثَابِتٍ؟ قَالَ: كَذَا وَكَذَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَفَى بِالسَّيْفِ شَاهِدًا، ثُمَّ قَالَ: لَا لَا أَخَافُ أَنْ يَتَتَابَعَ فِيهَا السَّكْرَانُ وَالْغَيْرَانُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى وَكِيعٌ أَوَّلَ هَذَا الْحَدِيثِ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ دَلْهَمٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبَّقِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَإِنَّمَا هَذَا إِسْنَادُ حَدِيثِ ابْنِ الْمُحَبَّقِ: أَنَّ رَجُلًا وَقَعَ عَلَى جَارِيَةِ امْرَأَتِهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْفَضْلُ بْنُ دَلْهَمٍ لَيْسَ بِالْحَافِظِ كَانَ قَصَّابًا بِوَاسِطَ.

عباده بن صامت رضي الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه همدغه حديث روايت کوی په دې کښې دی چه څه خلقو سعد بن عباده ته اووئيل: اې ابو ثابت! حدود نازل شوی دی که تاسو دخپلې ښځې سره څوک سرې بیاموميْ نو څه به کوئ؟ هغوی اووئيل: ددوی دواړو کار به توري سره پوره کړم. آيا زه به څلورو ګواهانو جمع کولو دپاره ځم، تر هغې خو به هغوی خپل کار پوره کړې وی، نوهغوی واپس شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لاړل او عرض ئې اوکړو چه اې دالله د رسوله صلی الله علیه وسلم! آيا تاسو د ابوثابت نه آوريدلی دی هغه داسې وائی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: د ګواه دپاره هم توره کافی ده، بيا نبی کريم صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: نه، نا، هغه مه قتلوئ، ځکه ماته ويره ده چه غصه ناک او غيرت مند به ورپسې نه شی (بغير ددې تحقيق نه چه زنا شوې ده اوکه نه هسې په ګمان باندې) اوهغوی قتل نه کړی. ابوداؤد وائی ددې حديث ابتدائی حصه وکیع د فضل بن دلهم نه، فضل دحسن نه، حسن د قبیصه بن حریث نه، قبیصه د سلمه بن محبق نه، سلمه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه مرفوعًا روايت کړې دې دا سند دکوم ذکر چه وکیع کړې دې د ابن محبق والا روايت سند دې په هغې کښې دی چه يو سړی د خپلې ښځې وينځې سره جماع اوکړه. ابوداؤد وائی: فضل بن دلهم حافظ دحديثو نه وو، هغه په واسط کښې يو قصاب وو.

د رجم په ثبوت کښې د بعض فرقو اختلاف:

د دې نه پس ځان پوهول پکار دی کړه چه د رجم په مسئله کښې د بعض فرقو اختلاف دې قال الحافظ قال ابن بطال أجمع الصحابة وأئمة الأمصار على أن المحصن إذا زنى عامدا عالما مختارا فعليه الرجم ودفع ذلك الخوارج وبعض المعتزلة واعتلوا بأن الرجم لم يذكر في القرآن وحكاه

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۰۸۳) (صحيح)

(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۵۰۸۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۷۶/۳) (ضعيف)

ابن العربي عن طائفة من أهل المغرب لقيهم وهم من بقايا الخوارج واحتج الجمهور بأن النبي صلى الله عليه و سلم رجم وكذلك الأئمة بعده وثبت في صحيح مسلم عن عبادة أن النبي صلى الله عليه و سلم قال خذوا عني قد جعل الله لهن سبيلا الثيب بالثيب الرجم اهـ

كله من "الابواب والتراجم" واجز المسالك " بزيادة من الزيلعي، الحديث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[٤٤١٨]([1])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ عُمَرَ يَعْنِي ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خَطَبَ، فَقَالَ: "إِنَّ اللَّهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَقِّ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ فَكَانَ فِيمَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةُ الرَّجْمِ فَقَرَأْنَاهَا وَوَعَيْنَاهَا، وَرَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا مِنْ بَعْدِهِ، وَإِنِّي خَشِيتُ إِنْ طَالَ بِالنَّاسِ الزَّمَانُ أَنْ يَقُولَ قَائِلٌ: مَا نَجِدُ آيَةَ الرَّجْمِ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَيَضِلُّوا بِتَرْكِ فَرِيضَةٍ أَنْزَلَهَا اللَّهُ تَعَالَى، فَالرَّجْمُ حَقٌّ عَلَى مَنْ زَنَى مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ إِذَا كَانَ مُحْصَنًا إِذَا قَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ حَمْلٌ أَوِ اعْتِرَافٌ، وَايْمُ اللَّهِ لَوْلَا أَنْ يَقُولَ النَّاسُ زَادَ عُمَرُ فِي كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ لَكَتَبْتُهَا".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه عمربن الخطاب رضي الله عنه په خبطه کښې اوفرمائيل: الله تعالى محمد ﷺ په حق سره ليږلې دي او په هغه باندې ئې کتاب نازل کړې دي کوم آياتونه چه په هغه باندې نازل شوي وو په هغې کښې درجم ايت وو، مونږلوستلي وو اوياد کړي مو وو، نبی علیه السلام هم درجم په حکم باندې عمل کړي وو او مونږ هم دهغه نه پس په رجم باندې عمل کړي ووخوزماسره اوس دا ويره پيداشوي ده هسي نه چه دوخت په تيريدوخوک درجم نه انکار وکړي اوداسې ووائی چه مونږ د رجم ايت دالله په کتاب کښې نه وينونوديوی فريضې په پر يخودوبه گمراه شي کومه چه الله تعالى نازله کړې ده پس رجم حق دي په هغه نارينو اوزنانوو باندې چه زنا وکړي کله چه شادي شده وي خوهله چه گواهان درباندې قائم کړي شي اوحمل موجود وي او زني کاران په خپله اقرار وکړي په الله قسم که چرې خلقودانه وئيلي چه عمر دالله په کتاب کښې اضافه کړې ده نومابه داحکم ليکلې وو.

﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ عُمَرَ - ابْنَ الْخَطَّابِ - رضى الله عنه خَطَبَ فَقَالَ إِنَّ اللَّهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا -صلى الله عليه وسلم- بِالْحَقِّ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ فَكَانَ فِيمَا أَنْزَلَ عَلَيْهِ آيَةُ الرَّجْمِ فَقَرَأْنَاهَا وَوَعَيْنَاهَا وَرَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَرَجَمْنَا مِنْ بَعْدِهِ وَإِنِّى خَشِيتُ - إِنْ طَالَ بِالنَّاسِ الزَّمَانُ - أَنْ يَقُولَ قَائِلٌ مَا نَجِدُ آيَةَ الرَّجْمِ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَيَضِلُّوا بِتَرْكِ فَرِيضَةٍ أَنْزَلَهَا اللَّهُ تَعَالَى ﴾

مضمون حديث:

سيدنا عمر رضي الله عنه د رجم په باره کښې فرمائي چه د رجم حکم برحق دي په قرآن کريم کښې د دې په باره کښې آيت نازل شو کوم چه مونږ په شروع کښې لوستلې وو. يعنې اگر که روستو منسوخ التلاوة شو. او د هغې مطابق رسول الله ﷺ زانی لره رجم کړو او د رسول الله ﷺ نه روستو

[1]): صحيح البخاري/الحدود ٣٠ (٦٨٢٩)، صحيح مسلم/الحدود ٤ (١٦٩١)، سنن الترمذي/الحدود ٧ (١٤٣٢)، سنن ابن ماجه/الحدود ٩ (٢٥٥٣)، (تحفة الأشراف: ١٠٥٠٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحدود ١ (٨)، مسند احمد (٢٣/١، ٢٤، ٤٠، ٤٧، ٥٥)، سنن الدارمي/الحدود ١٦ (٢٣٦٨) (صحيح)

مونږه هم، خو ما ته دا خطره ده چه څه موده پس خلق د رجم نه انکار شروع نه کړي په دي وينا چه د دې ذکر په کتاب الله کښې نشته او بيا ګمراه شي، لهذا پوهه شئ چه د زاني محصن او محصنه دپاره د رجم حکم حق دې، اذا قامت البينة او كان حمل او اعتراف.

د ثبوت زنا اسباب:

د ثبوت زنا صورت بيان فرمائي چه يا خو په ذريعه د ګواهانو يا په اعتراف د زنا او يا د وجود حمل په ذريعه، يعنى په ناوادهٔ کړي زنانه کښې د حمل موندلي کيدل، اعتراف زنا او شهادت شهود د دي دواړو نه د زنا ثبوت خو متفق عليه دى خو ظهور حمل والا مسئله مختلف فيه ده. په ائمه کښې امام مالکرحمه الله د دي قائل دي، په بذل کښې دى د شوکاني نه: وهو مروي عن عمر ومالك وأصحابه قالوا إذا حملت ولم يعلم لها زوج ولا عرفنا إكراهها لزمها الحد إلا أن تكون غريبة وتدعي أنه من زوج أو سيد. وذهب الجمهور أن مجرد الحمل لا يثبت به الحد بل لا بد من الاعتراف أو البينة واستدلوا بالأحاديث الواردة في درء الحدود بالشبهات.. الى آخر ما في البذل.. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي مختصرا ومطولا، قاله المنذري.

بَابُ رَجْمِ مَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ

باب: د ماعز بن مالک د رجم بيان

[٤٤١٩] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ نُعَيْمِ بْنِ هَزَّالٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "كَانَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ يَتِيمًا فِي حِجْرِ أَبِي فَأَصَابَ جَارِيَةً مِنَ الْحَيِّ، فَقَالَ لَهُ أَبِي: ائْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبِرْهُ بِمَا صَنَعْتَ لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ لَكَ، وَإِنَّمَا يُرِيدُ بِذَلِكَ رَجَاءَ أَنْ يَكُونَ لَهُ مَخْرَجًا، فَأَتَاهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ كِتَابَ اللَّهِ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَعَادَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ كِتَابَ اللَّهِ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَعَادَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ كِتَابَ اللَّهِ، حَتَّى قَالَهَا أَرْبَعَ مِرَارٍ، قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّكَ قَدْ قُلْتَهَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ، فَبِمَنْ؟ قَالَ: بِفُلَانَةٍ، فَقَالَ: هَلْ ضَاجَعْتَهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: هَلْ بَاشَرْتَهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: هَلْ جَامَعْتَهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَأَمَرَ بِهِ أَنْ يُرْجَمَ فَأُخْرِجَ بِهِ إِلَى الْحَرَّةِ، فَلَمَّا رُجِمَ فَوَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ جَزِعَ، فَخَرَجَ يَشْتَدُّ فَلَقِيَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُنَيْسٍ وَقَدْ عَجَزَ أَصْحَابُهُ، فَنَزَعَ لَهُ بِوَظِيفِ بَعِيرٍ فَرَمَاهُ بِهِ فَقَتَلَهُ، ثُمَّ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ: هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ لَعَلَّهُ أَنْ يَتُوبَ فَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَيْهِ".

نعيم بن هزال دخپل پلارنه روايت کوی فرمائي چه ماعز بن مالک يويتيم ووکوم چه زما پلارپاللي وونودکلي ديوي جينئ سره ئي زنا وکړه زما پلار ورته ووئيل چه نبى عليه السلام ته ورشه او په خپل عمل ئي خبرکړه کيدی شي چه ستادپاره مغفرت اوغواړي ددې مشوري ورکونونه دهغه مطلب داوو چه دده دپاره څه لاروويستلي شي، ماعز دنبی عليه السلام په خدمت کښي حاضر شو اوعرض ئې وکړو چه اې دالله رسوله مادزني ارتکاب کړي دي قراني حکم راباندې جاري کړه تردې چه څلور پيرې ئې ووئيل بيانبی عليه السلام اوفرمائيل تاخوڅلورپيرې داخبره وکړه ليکن دچاسره دې زنې کړې ده هغه ووئيل دفلانئ سره نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل آيا ورسره څملاستلې وې ده ووئيل هو، نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل آيا ورسره دې

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٦٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢١٧) (صحيح)

مباشرت کړي وو ده ووئیل هو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل ایا ورسره دي جماع کړې ده ده ووئیل چه هوراوی وائی چه نبی علیه السلام ورباندې درجم حکم وکړواوحري ته درجم دپاره بوتلي شو هرکله چه رجم کړي شو هرکله چه هغه دکانړو واورونه ولیدل نو اوبرید واو اوتختید و عبدالله بن انیس ورپسې لاړو او دوباره ئې راوستو هرکله چه دده ملګري دوهلونه ستړي شول نوداوښ په هډوکې ئې وویشتلو اوقتل ئې کړو، بیانبی علیه السلام ته راغې اوټوله واقعه ئې ورته بیان کړه نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل ایاولې مونه پریخودلوشاید توبه به ئې ویستلې وه او الله تعالی به ورته مغفرت کړي وو.

قوله: ﴿ حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ نُعَيْمِ بْنِ هَزَّالٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ يَتِيمًا فِي حِجْرِ أَبِي. فَأَصَابَ جَارِيَةً مِنَ الْحَيِّ فَقَالَ لَهُ أَبِي ائْتِ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فَأَخْبِرْهُ بِمَا صَنَعْتَ لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ لَكَ وَإِنَّمَا يُرِيدُ بِذَلِكَ رَجَاءَ أَنْ يَكُونَ لَهُ مَخْرَجًا الخ ﴾

دا د ماعز بن مالک اسلمی رضی الله عنه حدیث دې یعنی د هغوی د زنا متعلق کوم چه مصنف رحمه الله په ډیرو طرقو او مختلفو الفاظو سره ذکر کړې دې په دې روایت کښې دی نعیم بن هزال فرمائی چه ماعز بن مالک یو یتیم هلک وو چه زما د پلار په غیږ کښې لوئې شوې وو هغه د قبیلې د یوې وینځې سره (په زنا کښې) اخته شو. په حاشیه د بذل کښې دی چه د هغې نوم فاطمه وو او د هزال وینځه وه کما فی التلقیح صفحه ۳۷۱ لابن الجوزی. وقیل اسمها منیره کما فی تهذیب اللغات للنوی ۲/۳۷۲، نعیم فرمائی چه د دې واقعې نه پس زما پلار هزال ماعز ته اووې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لاړ شه او څه چه ستا نه اوشو د دې خبر هغه ته ورکړه، کیدې شی چه هغه ستا دپاره دعا او استغفار اوکړی، او ته د دې ګناه نه خلاص شې، پس هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او هلته تلو سره ئې د زنا اقرار اوکړو او دا هم چه په ما باندې حکم شرعی جاری کړئ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی خبره اوریدلو سره اعراض اوفرمائیلو، د هغوی د اقرار او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اعراض څلور کرته حاجت راغلو.

په ثبوت د زنا بالاقرار کښې تعدد د اقرار او په دې کښې د ائمه اختلاف:

هم په دې وجه احناف وائی چه د ثبوت د زنا بالاقرار دپاره څلور کرته اقرار اخستل ضروری دی په مختلفو مجالسو کښې، [۱] او د امام احمد بن حنبل رحمه الله په نزد هم اګر چه څلور کرته اقرار ضروری دې خو اختلاف مجلس د هغوی په نزد ضروری نه دې، او باقی دوه امامان یعنی مالک او شافعی د هغوی په نزد یو ځل اقرار هم کافی دې. وړاندې په روایت کښې دا دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته اوفرمائیل: ﴿ إِنَّكَ قَدْ قُلْتَهَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَبِمَنْ قَالَ بِفُلاَنَةَ. قَالَ « هَلْ ضَاجَعْتَهَا؟ الخ ﴾ یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه نه ښه واضحه تپوسونه اوکړل چه د هغې هغوی صفا صفا جوابونه ورکول د دې نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه باندې د رجم د جاری کولو حکم اوفرمائیلو.

قوله: ﴿ فَأَمَرَ بِهِ أَنْ يُرْجَمَ ﴾ دلته یو اختلافی مسئله ده کومه چه حضرت شیخ په حاشیه د بذل

---

[۱] د مجالسو نه مراد د اقرار کونکی مجلسونه دی، نه دقاضی او هغه دلته موندلې شوې دی په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به کله خپل رخ بدلولو نو هغوی به هم هغه طرف ته تلو سره بیا اقرار کولو

کښې ليکلي دي هغه دا چه په مجلس د رجم کښې د امام او ګواهانو حاضريدل ضروري دي يا نه، د امام أحمد او امام شافعي رحمه الله په نزد واجب نه دي، او د امام مالک او ابوحنيفه په نزد واجب دي، امام نووي رحمه الله د دې حديث نه د خپل مذهب استدلال کړې دې ﴿واستدل صاحب الهداية بانه منصوص عن علي رضي الله عنه فيما لا يدرک بالقياس﴾ د دې نه پس حضرت شيخ خپله رائې احتمالا دا ليکلي ده چه کيدې شي دلته هم د رجم شروع رسول الله ﷺ کړې وي لکه چه د غامدية په قصه کښې راځي چه د هغې الفاظ دا دي ﴿ثم رماها بحصاة مثل الحمصة ثم قال ارموا﴾ يعني په دغه واقعه کښې د رمي شروع رسول الله ﷺ اوکړه د يو وړوکي کاڼي په ذريعه او بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه اوس تاسو دا رمي اوکړئ. په روايت کښې دي چه کله هغه رجم کولې شو نو دوي جزع او فزع کول شروع کړل او منډې رامنډې ئې وهلې چه د هغې په وجه باندې رجم کول ګران شو، په دې کښې عبدالله بن انيس رضي الله عنه راغلو او هغوي ئې د اوښ په هډوکي باندې اووهلو چه د هغې په وجه دهغه کار تمام شو، بيا چه کله رسول الله ﷺ ته د هغه د تيختې وغيره ذکر اوکړې شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ﴿هلا ترکتموه لعله ان يتوب فيتوب الله عليه﴾

د رجوع عن اقرار الزنا حکم :

د رسول الله ﷺ د دې جملې نه معلومه شوه چه په کوم صورت کښې د زنا ثبوت په اقرار سره وي، او بيا هغه د خپل اقرار نه رجوع اوکړي نو په دې سره حد ساقطيږي، د جمهور علماء کرامو مسلک هم دا دې د احنافو، شوافعو او حنابله، او د ابن ابي ليلى او ابوثور په نزد رجوع عن الاقرار معتبر نه ده، په دې سره به حد نه ساقطيږي، او هم دا يو روايت د امام مالک او د امام شافعي دې، په حاشيه د بذل کښې دي: وحکى صاحب الهداية فيه خلاف الشافعي، لکن قال ابن الهمام ان المسطور في کتبهم انه لو رجع قبل الحد او بعد ما اقيم عليه بعضه سقط. وبسط الحافظ في الفتح ١٠٤/١٢ الاختلاف فيه.

[٤٤٢٠] (١) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: ذَكَرْتُ لِعَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ قِصَّةَ مَاعِزِ ابْنِ مَالِكٍ، فَقَالَ لِي: حَدَّثَنِي حَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي ذَلِكَ، مِنْ قَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَهَلَّا تَرَكْتُمُوهُ مَنْ شِئْتُمْ مِنْ رِجَالِ أَسْلَمَ مِمَّنْ لَا أَتَّهِمُ، قَالَ: وَلَمْ أَعْرِفْ هَذَا الْحَدِيثَ، قَالَ: فَجِئْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، فَقُلْتُ: إِنَّ رِجَالًا مِنْ أَسْلَمَ يُحَدِّثُونَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُمْ حِينَ ذَكَرُوا لَهُ جَزَعَ مَاعِزٍ مِنَ الْحِجَارَةِ حِينَ أَصَابَتْهُ: أَلَا تَرَكْتُمُوهُ، وَمَا أَعْرِفُ الْحَدِيثَ، قَالَ: يَا ابْنَ أَخِي أَنَا أَعْلَمُ النَّاسِ بِهَذَا الْحَدِيثِ كُنْتُ فِيمَنْ رَجَمَ الرَّجُلَ، "إِنَّا لَمَّا خَرَجْنَا بِهِ فَرَجَمْنَاهُ فَوَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ، صَرَخَ بِنَا: يَا قَوْمِ رُدُّونِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ قَوْمِي قَتَلُونِي وَغَرُّونِي مِنْ نَفْسِي، وَأَخْبَرُونِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ قَاتِلِي، فَلَمْ نَنْزِعْ عَنْهُ حَتَّى قَتَلْنَاهُ، فَلَمَّا رَجَعْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَخْبَرْنَاهُ، قَالَ: فَهَلَّا تَرَكْتُمُوهُ وَجِئْتُمُونِي بِهِ لِيَسْتَثْبِتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ فَأَمَّا لِتَرْكِ حَدٍّ فَلَا"، قَالَ: فَعَرَفْتُ وَجْهَ الْحَدِيثِ.

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٢٢٣١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨١/٣) (حسن)

د محمدبن اسحق نه روایت دې فرمائی چه ما عاصم بن عمر بن قتاده ته دماعز بن مالک دواقعې ذکر وکړو هغه اووئیل چه ماته حسن بن عمر د محمد بن علی بن ابی طالب دنبی ﷺ حدیث بیان کړې دې چه تاسو دې ولې نه پریخودلو ځوک چه تاسو غواړئ داسلم والا نه هغه ځوک چه زه په هغوی باندې تهمت نه لګوم هغه اووئیل زه دا حدیث نه پیژنم اوزه جابر بن عبدالله ته لاړم اوهغه ته مې ذکر وکړو چه داسلم قبیلې والا څه کسان یوحدیث بیانوي چه تا ورته وئیلی دی کله چه هغوی ته دکانو دپریوتو په وجه دماعز دویرې واقعه بیان شوه نو وئې وئیل چه تاسودې ولې نه پریښودو اوماداحدیث نه پیژندو جابر رضی الله عنه اووئیل اې زماورارہ زه ددې حدیث نه ښه واقف یم زه هم په دغه خلقو کښې موجود وم چاچه ماعز رجم کړې وو ، کله چه مونږه دې بوتلو اوپه کانړو مو وویشتو نوهغه په کانړو باندې حورږ شو اوچغه ئې وکړه او وئې وئیل چه اې خلقو تاسو مانبی ﷺ ته واپس بوځئ ځکه چه زه زماقوم دوکه کړې وم اوزه هغوی وژلې یم هغوی ماته وئیلې وو چه نبی ﷺ مانه قتل کوي ، لیکن مونږ منع نه شو اودې مو وویشتو کله چه مونږ نبی ﷺ ته واپس راغلو اواقعه مو ورته بیان کړه نونبی ﷺ اوفرمائیل تاسو دې ولې نه پریخودو یعنی رجم کول موولې نه موقوف کولو اودې مو ماته ولې نه راوستلو دا خبره نبی ﷺ په دې وجه کړې وه چه ماعز حد قبلولوته ثابت قدم کړې چه ددنیا تکلیف برداشت کول داخرت دعذاب نه بهتردې نه په دې وجه چه سزابه ملتوي کړې شي نو په دې وخت کښې زه دحدیث په مطلب پوهه شوم.

د حدیث شرح :

قوله:﴿ مِنْ قَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « فَهَلاَّ تَرَكْتُمُوهُ ». مَنْ شِئْتُمْ مِنْ رِجَالِ أَسْلَمَ مِمَّنْ لاَ أَتَّهِمُ. ...الخ ﴾

عاصم بن عمر وائی چه ما ته حسن بن محمد بن علی یعنی د محمد الحنفیة ځوی حسن دا اووې چه ماته د رسول الله ﷺ دا ارشاد ﴿ فهلا ترکتموه ﴾ د قبیله اسلم دومره خلقو بیان کړو څومره چه ستا خوښه وی یعنی ډیرو خلقو ، دا لفظ ﴿ من شئتم ﴾ په ترکیب کښې فاعل واقع شوې دې، د حدثنی ذلک دپاره. حسن بن محمد فرمائی اګر چه دا جمله خو ماته ډیرو بیان کړې ده خو د حدیث د دې جملې په مطلب زه نه اوم پوهه شوې چه څهٔ دې (ځکه چه د هغوی په ذهن کښې دا دوه چه په رجوع عن الاقرار سره نه ساقط کیږی) په دې وجه زه جابر بن عبدالله رضی الله عنهما ته لاړم او د هغوی په خدمت کښې حاضریدلو سره مې د هغوی نه د حدیث د دې جملې مطلب اوتپوسلو ، هغوی اوفرمائیل اې زما ورارهٔ زه د دې ټولې قصې نه ښه خبر یم ځکه چه زه خپله په رجم کونکو کښې اوم، خبره دا پیښه شوه چه کله مونږ ماعز د رجم دپاره بوتلو نو هغه په چغو چغو وئیل چه ما رسول الله ﷺ ته واپس بوځئ ځکه چه زما قوم زه مرګ له ورکړې یم او ماته ئې دهوکه راکړې ده، او هغوی ماته وئیلې وو چه رسول الله ﷺ به تا نه قتل کوی. جابر رضی الله عنه فرمائی خو مونږ د هغه د وینا پرواه اونکړه بلکه هغه مو رجم کړو، بیا چه کله مونږ واپس کیدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، او د ماعز رضی الله عنه د حال خبر مو هغوی ته ورکړو نو رسول الله ﷺ دا جمله ارشاد اوفرمائیله چه تاسو

هغه ولې نه پرېخودلو او ماته به مو راوستلې وې، نو دا رسول الله ﷺ په دې وجه وئيلې وه چه د هغه د تېختې سبب معلوم کړې چه آخر څه وئيل غواړې، ﴿ فاما لترک حد فلا ﴾ او د رسول الله ﷺ مقصد دا نه وو چه د هغه نه حد ساقط کړې شوې وې، حسن بن محمد فرمائي، ﴿ فعرفت وجه الحديث ﴾ چه اوس د جابر رضی اللہ عنہ په بيان سره د حديث مطلب زما په فهم کښې راغلو.

د جابر رضی اللہ عنہ دا رائې د ابن ابی ليلی او ابوثور وغيره د مذهب خو موافق ده چه په رجوع عن الاقرار سره حد نه ساقط کيږي، خو جمهور علماء کرامو د دې دا مطلب نه دې اخستلې، او په بذل المجهود کښې د حضرت ګنګوهی د تقرير نه د دې مقام شرح بل شان ده چه د جمهورو د مسلک موافق ده هغه دا چه حسن بن محمد ته خو دا تردد کيدلو چه د حد د فيصلې نه پس خو هغه نه ساقطيږي نو بيا چه رسول الله ﷺ دا اوفرمائيل چه تاسو هغه ولې پرېنخودلو، دا رسول الله ﷺ څنګه اوفرمائيل؟ نو جابر رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ مراد دا بيان کړو چه د هغوی مراد هغه لره داسې مطلقا پرېخودل نه دی بلکه دا وو چه مونږ د هغه نه د تېختې مقصد معلوم کړو چه هسې د تکليف د وجې نه تختی او که نه مقصود ئې رجوع عن الاقرار ده، که هغه خپل غرض رجوع عن الاقرار بيان کړې وې نو په دې باندې به مونږ هغه پرېخودلې وې، والله تعالی اعلم،دا مطلب د جمهور علماء کرامو د مسلک مطابق دې.

په ماعز رضی اللہ عنہ باندې د جنازې مونځ کښې اختلاف :

د دې نه په روستو حديث کښې راځی ﴿ فَانْطُلِقَ بِهِ فَرُجِمَ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ ﴾ وړاندې څو حديثه پس هم دا راځی : ﴿ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– خَيْرًا وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ ﴾ او د بخاری په روايت کښې دی ﴿ وصلی عليه ﴾ خو د دې نه پس امام بخاری رحمہ اللہ فرمائی ﴿ لَمْ يَقُلْ يُونُسُ ، وَابْنُ جُرَيْجٍ ، عَنِ الزُّهْرِيِّ فَصَلَّى عَلَيْهِ، سئل أبو عبدالله هل قوله فصلى عليه يصح أم لا قال رواه معمر قيل له هل رواه غير معمر قال لا ﴾ په دې باندې حافظ په فتح الباری کښې کافی اختلاف رواة بيان کړې دې او کثرت ئې د هم هغه راويانو بيان کړې چا چه په دې حديث کښې لفظ د "صلی عليه" نه دې ذکر کړې، او بيا وړاندې تلو سره حافظ فرمائيلې دی چه په ظاهر کښې د امام بخاری رحمہ اللہ ميلان د دې لفظ د ثبوت طرف ته د نورو شواهدو د وجې نه دې او بيا هغوی د سنن ابی قرة روايت ذکر کړې دې[1] چه د سنن ابی قرة حديث په ابی امامه کښې داسې دي ﴿ فقيل يا رسول الله ﷺ اتصلی عليه قال لا قال فلما کان من الغد قال صلوا علی صاحبکم فصلی عليه رسول الله ﷺ والناس ﴾ د دې نه معلومه شوه چه په اوله ورځ باندې رسول الله ﷺ په هغه مونځ اونه کړو په دويمه ورځ ئې اوکړو پس حاصل دا چه د بخاری روايت د صلاة علی

[1] د حافظ رائې هم دا ده چه د امام بخاری رحمہ اللہ رائې د دې لفظ د ثبوت ده، که دا صحيح وی نو بيا به دا اشکال وی چه د قراءة خلف الامام په مسئله کښې چه د ﴿ لاصلوة لمن لم يقراء بفاتحة الکتاب فصاعدا ﴾ والا حديث کښې چه د فصاعدا کوم زيادت احنافو پيش کړې دې نو د هغې جواب د امام بخاری رحمہ اللہ نه دا منقول دې چه دا زيادت ثابت نه دې تفرد به معمر فتامل)

ماعز په باره کښې په طريق د اثبات دي. او د سنن په رواياتو ابوداؤد ترمذي او نسائي کښې د صلوة نفي ده او په صحيح مسلم کښې د صلوة يا ترک صلوة سره هيڅ تعرض نشته ترڅو چه زمونږ تتبع ده، خو د امراءة جهينة په باره کښې بغير د اختلاف نه د مونځ کولو ثبوت شته، دې باره کښې يو خاص نکته هم د حضرت شيخ نور الله مرقده نه په کتاب الجنائز کښې نقل کړې ده، اوس دا چه د مړي جنازه به کولې شي يا نه؟ په دې کښې د امام مالک او احمد رائې دا ده چه خپله امام او نور اهل فضل وعلم خلق دې دهغه جنازه نه کوي د هغوي په حق کښې مکروه ده او جمهور علماء کرام ومنهم ابوحنيفة والشافعي په نزد به د هغه د جنازې مونځ کولې شي بلکه د هر کلمه ګو د اهل قبله نه من غير فصل بين اهل الفضل وغيره، په دې مسئله باندې کلام په کتاب الجنائز، کښې په باب الصلوة على قتلة الحدود، کښې تير شوې دې.

حديث محمد بن اسحاق اخرجه النسائي، واخرج البخاري ومسلم والترمذي والنسائي من حديث ابي سلمة بن عبدالرحمن عن جابر رضي الله تعالى عنه طرفا منه بنحوه، قاله المنذري.

[٤٤٢١](١)حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ يَعْنِي الْحَذَّاءَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "أَنَّ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّهُ زَنَى، فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَأَعَادَ عَلَيْهِ مِرَارًا، فَأَعْرَضَ عَنْهُ، فَسَأَلَ قَوْمَهُ: أَمَجْنُونٌ هُوَ؟ قَالُوا: لَيْسَ بِهِ بَأْسٌ، قَالَ: أَفَعَلْتَ بِهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، فَأَمَرَ بِهِ أَنْ يُرْجَمَ فَانْطُلِقَ بِهِ فَرُجِمَ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ".

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ماعز بن مالک دنبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو چه ما دزنا ارتکاب کړې دې نبي عليه السلام ورنه مخ واړولو اوهغه به بار بار همدا خبره کوله او نبي عليه السلام به ورنه مخ اړولو ، ددينه پس نبي عليه السلام دده دقوم نه تپوس اوکړو چه دې خو ليوني نه دې؟ خلقو اووئيل نه، هيڅ قسم مرض په ده باندې نشته دې نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل اياتازني کړي ده؟ دده ووئيل هونبي عليه السلام دده درجم کولوحکم وکړوبياده لره خلقو بوتلو اورجم ئې کړواونبي عليه السلامورباندې (بذات خود) جنازه ونکړله.

[٤٤٢٢](٢)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "رَأَيْتُ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ حِينَ جِيءَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا قَصِيرًا أَعْضَلَ لَيْسَ عَلَيْهِ رِدَاءٌ، فَشَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ أَنَّهُ قَدْ زَنَى، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَلَعَلَّكَ قَبَّلْتَهَا، قَالَ: لَا وَاللهِ إِنَّهُ قَدْ زَنَى الْآخِرُ، قَالَ: فَرَجَمَهُ، ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ: أَلَا كُلَّمَا نَفَرْنَا فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ خَلَفَ أَحَدُهُمْ لَهُ نَبِيبٌ كَنَبِيبِ التَّيْسِ يَمْنَحُ إِحْدَاهُنَّ الْكُثْبَةَ، أَمَا إِنَّ اللهَ إِنْ يُمَكِّنِّي مِنْ أَحَدٍ مِنْهُمْ إِلَّا نَكَّلْتُهُ عَنْهُنَّ".

دجابر بن سمرة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ماعز بن مالک مې وليد وکله چه نبي عليه السلام ته راوستلې شودې يوڅوربُ لندقد والا سړې وو اوڅادر ورسره نه وو، هغه دخپل ځان خلاف څلور پيرې ګواهي ورکړله چه مازني کړې ده نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل تابه خکل کړې وي هغه ورتيل والله مازني کړې ده بيانبي عليه السلام سنګسار کړواوخطبه ئې اوفرمائيله تاسوخبرشئ کله چه به مونږ دالله په لاره کښې دجهاد دپاره سفرکوو نوڅه کسان زمونږنه وروسته پاتې

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٠٦٥) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الحدود ٥ (١٦٩٢)، (تحفة الأشراف: ٢١٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٨٦، ٨٧) (صحيح)

شي او د چیلو په شان اوازونه کوي او کوي ښځې ته څه ورکړي او زنا ورسره وکړي واورئ که چرې الله تعالی ماته په داسې قسم کس باندې قدرت را کړي نوزه به ده ته داسې سزا ورکړم چه دې به د دغه ښخونه اخوا مر کړم.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ حِينَ جِيءَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– رَجُلاً قَصِيرًا أَعْضَلَ لَيْسَ عَلَيْهِ رِدَاءٌ ﴾ وفى نسخة رجلا قصيرا وهو الموافق للقواعد.

مضمون الحديث:

جابر رضی الله عنه فرمائی چه کله ماعز بن مالک رضی الله عنه د رسول الله ﷺ مجلس ته راوستلې شو نو ما اوکتل چه هغه د وړوکی قد والا او ډک بدن والا وو، او د هغوی په بدن باندې هغه وخت څادر هم نه وو، چه کله هغوی د رسول الله ﷺ مخکښې څلور کرته اقرار اوکړو نو رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائیل ﴿ فَلَعَلَّكَ قَبَّلْتَهَا؟ قَالَ لاَ وَاللَّهِ إِنَّهُ قَدْ زَنَى الآخِرُ ﴾ یعنی رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائیل کیدې شی چه تا هغه صرف خکل کړې وی، یعنی د دې نه به دې زیات هیڅ نه وی کړې. (دا دې هغه څه ته چه تلقین فی الحد وئیلې شی چه د هغې باب مخکښې تیر شوې دې) هغه اوویې والله دې ذلیل او خوار خو زنا کړې ده. اخر بروزن کبد بفتح فکسر، او دا دې آخر یا آخر او نه لوستلې شی. پس هغه رجم کړې شو.

﴿ ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ « أَلاَ كُلَّمَا نَفَرْنَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ خَلَفَ أَحَدُهُمْ لَهُ نَبِيبٌ كَنَبِيبِ التَّيْسِ يَمْنَحُ إِحْدَاهُنَّ الْكُثْبَةَ أَمَا إِنَّ اللَّهَ إِنْ يُمَكِّنِّي مِنْ أَحَدٍ مِنْهُمْ إِلاَّ نَكَّلْتُهُ عَنْهُنَّ » ﴾

د ماعز رضی الله عنه د قیصې د پیښیدو نه پس رسول الله ﷺ یو خطبه ارشاد اوفرمائیله چه د هغې نه یو خو دا خبره معلومه شوه چه د دغه شان چه په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې بعض قصې د زنا موندلې شوې دی نو دا په هغه وخت کښې دی چه د هغه کورنو سړی د جهاد د پاره وتلی وو او بیا رسول الله ﷺ د زانی د زنا د وخت کیفیت او هیئت له په قباحت کښې د یو نر چیلی د کیفیت او هیئت سره تشبیه ورکړې ده چه کله هغه په ښځې چیلئ باندې په بریدو سره سوربړی، رسول الله ﷺ فرمائی: ﴿ يَمْنَحُ إِحْدَاهُنَّ الْكُثْبَةَ ﴾ چه کوم سړې (چه زنا کوی) په هغوی کښې یوې ته یعنی په زنانو کښې یوې ته کثبة ورکوی، د کثبة تفسیر راوی په لبن قلیل سره کړې دې چه د هغې نه مراد منی ده، او بیا رسول الله ﷺ ډیر په جلال سره اوفرمائیل چه کورئ که ماته الله پاک قدرت راکړو په هغه زنا کونکو کښې په یو تن باندې نو زه به هغه ته ښه سخته سزا ورکړم. والحديث اخرجه مسلم والنسائي، قاله المنذري.

[٤٤٢٣][1] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ سِمَاكٍ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَالأَوَّلُ أَتَمُّ، قَالَ: فَرَدَّهُ مَرَّتَيْنِ، قَالَ سِمَاكٌ: فَحَدَّثْتُ بِهِ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ، فَقَالَ: إِنَّهُ رَدَّهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ.

سماک وائی چه د جابر بن سمره نه مې دا حدیث اوریدلی دی لیکن اولنی حدیث زیات کامل دې او په دې کښې دا اضافه ده چه نبی علیه السلام ده له څلوریرې واپس کړو.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٢١٨١) (صحيح)

[٤٤٢٤] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْغَنِيِّ بْنُ أَبِي عَقِيلٍ الْمِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: قَالَ شُعْبَةُ: فَسَأَلْتُ سِمَاكًا عَنِ الْكُثْبَةِ؟ فَقَالَ: اللَّبَنُ الْقَلِيلُ.

ترجمه: شعبه وئيلي دي چه دسماک نه مې دکثبه په باره کښې تپوس وکړو کثبه لږ شودو ته وئيلې شي.

[٤٤٢٥] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ: "أَحَقٌّ مَا بَلَغَنِي عَنْكَ؟ قَالَ: وَمَا بَلَغَكَ عَنِّي؟ قَالَ: بَلَغَنِي عَنْكَ أَنَّكَ وَقَعْتَ عَلَى جَارِيَةِ بَنِي فُلَانٍ، قَالَ: نَعَمْ فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ، فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ".

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام ماعز بن مالک ته ووئيل: اياستا متعلق چه ماته څه رارسيدلي هغه رښتيادي؟ هغه ورته ووئيل چه زما متعلق تاته اوريدلي دي؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل زه خبر شوي يم چه تادفلاني قبيلې دخلقو دوينځې سره بدفعلي کړې ده هغه ووئيل هو او په خپل ځان باندې ئې څلور ځله ګواهي وکړله نونبي عليه السلام دده درجم کولو حکم وکړو اورجم کړې شو.

شرح الحديث:

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ « أَحَقٌّ مَا بَلَغَنِي عَنْكَ »﴾ يعني رسول الله صلى الله عليه وسلم د ماعز نه تپوس اوکړو چه آيا ستا متعلق چه ماته کوم خبر رارسيدلي دې هغه صحيح دې؟ نو هغوی تپوس اوکړو چه تاسو ته څه خبر راغلي دې؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه دا چه تا د فلانئ قبيلې د وينځې سره داسې کړې دی؟ هغوی په جواب کښې اووې چه او تاسو ته صحيح خبر رارسيدلې دې. دا روايت د روايت مشهوره خلاف دې چه په هغې کښې دا تير شوی دی چه ماعز رضي الله عنه درسول الله صلى الله عليه وسلم مجلس ته حاضريدلو خپله د زنا اقرار کړې وو، علامه طيبي په شرح د مشکوة کښې د دې توجيه دا کړې ده چه ممکنه ده چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ماعز د راتلو نه مخکښې دا واقعه رارسيدلې وی، بيا چه کله ماعز د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ترې نه د دې واقعې په باره کښې تپوس اوکړو چه هغه انکار اوکړی د هغه څيز نه کوم چه هغه ته منسوب کولې شي چه د هغه نه حد ساقط شي خو هغه په ځائې د انکار اقرار اوکړو چه په هغې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم اعراض اوفرمائيلو خو هغه بار بار اقرار کولو، لهذا په دې روايت کښې اختصار اوشو. والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

[٤٤٢٦] (٣) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا أَبُو أَحْمَدَ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْتَرَفَ بِالزِّنَا مَرَّتَيْنِ فَطَرَدَهُ، ثُمَّ جَاءَ فَاعْتَرَفَ بِالزِّنَا مَرَّتَيْنِ، فَقَالَ: "شَهِدْتَ عَلَى نَفْسِكَ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ، اذْهَبُوا بِهِ فَارْجُمُوهُ".

(١): انظر حديث رقم: (٤٤٢٢) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الحدود ٥ (١٦٩٣)، سنن الترمذي/الحدود ٤ (١٤٢٧)، (تحفة الأشراف: ٥٥١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤٥/١، ٣١٤، ٣٢٨) (صحيح)

(٣): تفرد به أبو داود، انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٥٢٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٤/١) (صحيح)

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائي چه ماعز بن مالک نبی علیه السلام ته راغي او دوه پیري ئي ووئیل: مازني کړې ده نونبی علیه السلام ده لره وشړلو څه وخت پس بیا راغي اودوه پیري ئي دزني اعتراف وکړونبی علیه السلام ورته اوفرمائیل په خپل ځان دي څلورپیري ګواهي وکړله ، اوصحابه کرامو ته ئي اوفرمائیل دي بوځئ اورجم ئي کړئ.

[٤٤٢٧](١)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، حَدَّثَنِي يَعْلَى، عَنْ عِكْرِمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ح حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَعُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ يَعْلَى يَعْنِي ابْنَ حَكِيمٍ يُحَدِّثُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ: "لَعَلَّكَ قَبَّلْتَ أَوْ غَمَزْتَ أَوْ نَظَرْتَ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَنِكْتَهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَعِنْدَ ذَلِكَ أَمَرَ بِرَجْمِهِ"، وَلَمْ يَذْكُرْ مُوسَى: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا لَفْظُ وَهْبٍ.

دابن عبس رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائي چه نبی علیه السلام ماعز بن مالک ته ووئیل کیدي شي چه تاخکل کړي وی اویابدي سکوندلي وي اویابه دي ورته کتلي وي هغه ووئیل نه نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل ایا وطي کړي دي ده؟هغه ووئیل هو راوی وائي چه په دې وخت کښې نبی علیه السلام دده په رجم کولوباندې حکم وکړو. اودموسی په روایت کښې دابن عباس ذکرنشته اوداد وهب د روایت الفاظ دي.

﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ « لَعَلَّكَ قَبَّلْتَ أَوْ غَمَزْتَ »﴾ یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ماغز بن مالک رضی الله عنه ته اوفرمائیل د هغوی د اقرار بالزنا په وخت کیدې شی چه تا صرف تقبیل کړې وی او یا به دې د ځان نه لاندې کړې وی.

په بذل کښې د بعض شروح نه نقل کړې شوې دی، الغمز الكبس باليد وبالعين وبالحاجب، یعنی د غمز معنی په لاس د رانیولو هم کیدې شی او په سترګو او وریځو باندې د اشارې په ذریعه هم چه هغې ته لاندې او پورته حرکت ورکړی خپل طرف ته د مائل کولو دپاره، ﴿ ويحتمل الحديث هذه المعاني كلها، قلت ويحتمل ان يكون معنى الغمز الكبس بالذكر بان لا يدخل حتى يتحقق الزنا ﴾ د دې نه پس حضرت فرمائي چه دا هم احتمال دې چه د ذکر په ذریعه مس کول مراد وی، او مطلب دا دې چه تا به صرف خپل ذکر هغې سره لګولې وی چه په هغې سره د زنا تحقق نه کیږی.

﴿ او نظرت اى الى فرجها قال لا، قال أَفَنِكْتَهَا ﴾ نکت په وزن د بعت ناک ینیک نیکا دا لفظ په مقصود کښې بالکل صریح دې چه هغې ته په اردو کښې چودنا (او په پښتو کښې غول) وائي. ﴿ قال نعم قال فعند ذلك امر برجمه ﴾

د اقرار بالزنا دپاره صریح الفاظ ضروری دی:

د دې حدیث نه معلومه شوه چه د حدود په ثبوت کښې صریح الفاظ پکار وی، اشارات او کنایات هلته نه چلیږی، د دې کتاب په مقدمه کښې د آداب طالب حدیث د لاندې تیر شوی دی چه زمونږ د حضرت شیخ رحمه الله عادت شریفه دا وو چه په کتاب الحدود کښې به

(١): خ بالحدود ٢٨ (٦٨٢٤)، (تحفة الأشراف: ٦٢٧٦، ١٩١٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٨، ٢٧٠) (صحيح)

چه کله په يو حديث کښې څه فحش يا د کنځلو لفظ راغلو نو د هغې ترجمه به ئې صفا صفا کوله او فرمائيل به ئې چه د عربئ کنځل دی چه کله ضرورة او مصلحة رسول الله ﷺ هغه په خپله ژبه مبارکه باندې راوستلې شی نو زمونږ څه حيثيت دې په کتاب الحدود کښې دا لفظ ﴿ افنکتها ﴾ او په بخاری شريف ٣٧٨/١ کښې د صلح حديبيه والا حديث کښې د صديق اکبر رضي الله عنه په کلام کښې دا لفظ راغى ﴿ امصص بظر اللات ﴾ نو د دې الفاظو به ئې په اردو کښې ترجمه صفا کوله. والحديث اخرجه ايضاً مرسلا، واخرجه البخاری والنسائی مسندا، قاله المنذری

[٤٤٢٨]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الصَّامِتِ ابْنَ عَمِّ أَبِي هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: "جَاءَ الْأَسْلَمِيُّ إِلَى نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَنَّهُ أَصَابَ امْرَأَةً حَرَامًا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ يُعْرِضُ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَقْبَلَ فِي الْخَامِسَةِ، فَقَالَ: أَنِكْتَهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: حَتَّى غَابَ ذَلِكَ مِنْكَ فِي ذَلِكَ مِنْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: كَمَا يَغِيبُ الْمِرْوَدُ فِي الْمُكْحُلَةِ وَالرِّشَاءُ فِي الْبِئْرِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَهَلْ تَدْرِي مَا الزِّنَا؟ قَالَ: نَعَمْ أَتَيْتُ مِنْهَا حَرَامًا مَا يَأْتِي الرَّجُلُ مِنَ امْرَأَتِهِ حَلَالًا، قَالَ: فَمَا تُرِيدُ بِهَذَا الْقَوْلِ؟ قَالَ: أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِي، فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ، فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ، يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: انْظُرْ إِلَى هَذَا الَّذِي سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فَلَمْ تَدَعْهُ نَفْسُهُ حَتَّى رُجِمَ رَجْمَ الْكَلْبِ، فَسَكَتَ عَنْهُمَا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً حَتَّى مَرَّ بِجِيفَةِ حِمَارٍ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ، فَقَالَ: أَيْنَ فُلَانٌ وَفُلَانٌ؟ فَقَالَا: نَحْنُ ذَانِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: انْزِلَا فَكُلَا مِنْ جِيفَةِ هَذَا الْحِمَارِ، فَقَالَا: يَا نَبِيَّ اللَّهِ مَنْ يَأْكُلُ مِنْ هَذَا؟ قَالَ: فَمَا نِلْتُمَا مِنْ عِرْضِ أَخِيكُمَا آنِفًا أَشَدُّ مِنْ أَكْلٍ مِنْهُ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُ الْآنَ لَفِي أَنْهَارِ الْجَنَّةِ يَنْقَمِسُ فِيهَا".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه داسلم قبيلې والايوکس نبی عليه السلام ته راغې او په خپل ځان ئې څلور پيرې ګواهی وکړله او هرځل به ورنه نبی عليه السلام اعراض کولو تردې چه پنځم ځل ته راورسيدونبی عليه السلام ورته اوفرمائيل ايا تاورسره صحبت کړې دې ده ووئيل هو نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل ايا په داسې شان سره چه ستا اندام مخصوصه دهغې په شرمګاه کښې غائب شوې وو؟ ماعزووئيل هو بلکل همداسې ، نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل آيا داسې جماع دې کړې وه لکه سلائی په نجرومه کښې يا پړې چه کوهي ته کوزولې شي؟ده ووئيل هو همداسې مې کړې دې نبی عليه السلام ورنه تپوس وکړوچه اياتاته معلومه ده چه زنې څه شي دې؟ماعز ووئيل بلکل ئې پېژنم اوهغه داسې چه په حلاله طريقه يوسړې دخپلې ښځې سره څه کوي ماهم هغه کار په حرامه طريقه کړې دې نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل اوس ستامقصدڅه دې؟ ماعز جواب ورکړوچه اوس مې ته دګناه نه پاک کړې نونبی عليه السلام حکم وکړو اودې سنګسار کړې شو ، بيانبی عليه السلام دماعز په ملګروکښې ددوه کسانونه داخبره واوريدله کومه چه هغوی په خپل مينځ کښې يوبل ته کوله چه ماعزته وګورئ الله تعالی ورباندې پرده اچولې وه ليکن ده لره دده نفس پرې نخودوتردې چه په کاڼو باندې وويشتلې شولکه څنګه شي سپی ويشتلې شي نبی عليه السلام چه دا واوريدل نوخاموش شو اوبيا يوه شيبه پس چرته روان شواوپه لاره کښې ئې يومرخر اوليدوچه دپړسيدو په وجه ئې خپه نيغه نيولې وه نبی عليه السلام اوفرمائيل - هغه کس اوفلاني چرته دې؟هغوی عرض وکړواي

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٥٩٩) (ضعيف)

دالله رسوله مونږ حاضریونبی ﷺ ورته اوفرمائیل کوزشئ اوددې مړخرغوښه اوخورئ هغوی ووئیل اې دالله رسوله ددې خرغوښه به څوک وخوري نبی ﷺ ورته اوفرمائیل تاسوچه لږ مخکښې دخپل مسلمان وړور غیبت کړې دې هغه ددې مرداري دخوړلونه ډیربد دې په هغه ذات مې دې قسم وي دچاپه قبضه کښې چه زما روح دې ماعز اوس دجنت په نهرونوکښې غوپې وهي.

قوله: ﴿ كَمَا يَغِيبُ الْمِرْوَدُ فِي الْمُكْحُلَةِ وَالرِّشَاءُ فِي الْبِئْرِ ﴾ لکه سلائی چه په سرمه دانئ کښې تلو سره غائبه شی او رسئ په کوهی کښې.

﴿ فَسَمِعَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم– رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ الخ ﴾

د غیبت حرمت او بدی:

یعنې رسول الله ﷺ د دوه کسانو خپل مینځ کښې خبرې واوریدلې یو بل ته وئیل چه اوګوره کنه دې سړی ته الله پاک د هغه عیب پټ کړې وو یعنی د دې ګناه چاته هم خبر نه وو بیا هغه څه کم عقلتوب اوکړو چه داسې کار ئې اوکړو یعنی د رسول الله ﷺ مخکښې ئې اقرار اوکړو، تر دې چه د سپی په مرګ باندې مړ شو، رسول الله ﷺ په دې اوریدلو باندې خاموش شو بیا لږ لرې لاړو نو په یو مردار خر باندې تیر شو چه د هغه یو خپه هم راوتلې پرته وه، نو رسول الله ﷺ هلته اودریده او د دوه سړو نوم اخستلو سره ئې تپوس اوکړو چه فلانی فلانی چرته دی؟ هغوی عرض اوکړو جی مونږ حاضر یو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل د خپلې سورلئ نه راکوز شئ او د دې مردار خر غوښه اوخرئ (انزلا ئې په دې وجه اوفرمائیل چه یا خو هغوی سوارۀ وو یا دا چه هغه خر به چرته په کنده وغیره کښې پروت وو) په دې باندې هغوی دواړو عرض اوکړو یا نبی الله ﷺ د دې مردار نه څوک خوراک کولې شی؟ په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ فَمَا نِلْتُمَا مِنْ عِرْضِ أَخِيكُمَا آنِفًا أَشَدُّ مِنْ أَكْلٍ مِنْهُ ﴾ په لما کښې لام د تاکید دپاره دې او ما موصوله ده چه بیشکه هغه څیز کوم چه تا خراب کړې دې د خپل وړور د عزت نه هغه د دې مردار د خوراک نه زیات سخت دی، ﴿ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُ الآنَ لَفِي أَنْهَارِ الْجَنَّةِ يَنْقَمِسُ فِيهَا ﴾ قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما سا ده چه دا مرجوم دې وخت کښې د جنت په نهرونو کښې غوپې وهی.

والحدیث اخرجه النسائی، وقال فیه، انکحتها (ای مکان انکهتها) قاله المنذری.

[٤٤٢٩] (١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ ابْنِ عَمٍّ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِنَحْوِهِ، زَادَ: وَاخْتَلَفُوا عَلَيَّ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: رُبِطَ إِلَى شَجَرَةٍ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ وُقِفَ.

په دې سره هم د ابوهریره رضی الله عنه نه داسې حدیث نقل دې په دې کښې دومره اضافه ده چه په خلقو کښې اختلاف دې د بعضې خلقو وینا ده چه هغه یوې ونې پورې تړلې شوې وو، او د بعضو وینا ده چه هغه (په میدان کښې) اودرولې شوې وو.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٥٩٩) (ضعيف)

[٤٤٣٠] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ الْعَسْقَلَانِيُّ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ: أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَسْلَمَ جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَاعْتَرَفَ بِالزِّنَا فَأَعْرَضَ عَنْهُ، ثُمَّ اعْتَرَفَ فَأَعْرَضَ عَنْهُ، حَتَّى شَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَبِكَ جُنُونٌ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أُحْصِنْتَ، قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَ فِي الْمُصَلَّى، فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ فَرَّ فَأُدْرِكَ فَرُجِمَ حَتَّى مَاتَ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَيْرًا، وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ".

دجابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه داسلم قبيلې والا يوكس دنبي عليه السلام په خدمت كښې حاضرشو او عرض ئې وكړوچه ما زنې كړې ده نونبي عليه السلام ورنه مخ واړولو ده بيا دزنې اعتراف وكړونوبيا ورنه نبي عليه السلام مخ واړولوتردې چه دخپل ځان خلاف ئې څلور ځله ګواهي وكړله نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل ايا ليونې خونه ئې؟ هغه ووئيل نه نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل ايا واده دي كړې دې؟هغه ووئيل هونونبي عليه السلام په ده باندې حكم وكړو اورجم كړې شوپه عيدګاه كښې هركله چه په ده باندې كاڼې ور اوغورځيدل نووتختيدو بيا ونيولې شو اورجم كړې شوتردې چه مرشو نبي عليه السلام دده كاميابى بيان كړه او په ده باندې ئې جنازه ونكړله.

قوله: ﴿ فرجم في المصلى ﴾ د مصلى نه مراد مصلى الجنائز والعيد ده يعنى د هغې خوا كښې كومه چه د بقيع الغرقد طرف ته ده، پس د مسلم په روايت كښې دى ﴿ فانطلقنا به الى بقيع الغرقد ﴾ او قاضي عياض دا ګڼړلې ده چه د راوى مراد دا دې چه رجم خاص په مصلى كښې واقع شوې دې او بيا په دې باندې تفريع كولو سره هغوى اوفرمائيل چه د دې نه معلومه شوه چه مصلى د مسجد په حكم كښې نه ده ګينې رجم به په دې كښې نه شو كولې د تلويث د ويرې نه، په خلاف د هغې كوم چه دارمي د بعض علماء كرامو نه نقل كړې دى چه مصلى د مسجد په حكم كښې وى، حافظ فرمائي چه د قاضي عياض دا استنباط صحيح نه دې لان الرجم وقع عنده لا فيه ﴿ ولم يصل عليه ﴾ په تيرو شوى روايات كښې په دې باندې كلام تير شوې دې. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري

[٤٤٣١] (٢) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ زُرَيْعٍ ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ زَكَرِيَّا وَهَذَا لَفْظُهُ، عَنْ دَاوُدَ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: لَمَّا "أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجْمِ مَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ، خَرَجْنَا بِهِ إِلَى الْبَقِيعِ، فَوَاللَّهِ مَا أَوْثَقْنَاهُ وَلَا حَفَرْنَا لَهُ وَلَكِنَّهُ قَامَ لَنَا، قَالَ أَبُو كَامِلٍ: قَالَ فَرَمَيْنَاهُ بِالْعِظَامِ وَالْمَدَرِ وَالْخَزَفِ فَاشْتَدَّ وَاشْتَدَدْنَا خَلْفَهُ، حَتَّى أَتَى عُرْضَ الْحَرَّةِ فَانْتَصَبَ لَنَا فَرَمَيْنَاهُ بِجَلَامِيدِ الْحَرَّةِ حَتَّى سَكَتَ، قَالَ: فَمَا اسْتَغْفَرَ لَهُ وَلَا سَبَّهُ".

د ابوسعيد خدرى رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي هركله چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم وماعز بن مالك درجم

(١): خ /الطلاق ١١ (٥٢٧٠)، الحدود ٢١ (٦٨١٤)، ٢٥ (٦٨٢٠)، صحيح مسلم /الحدود ٥ (١٦٩١)، سنن الترمذي /الحدود ٥ (١٤٢٩)، ن /الجنائز ٦٣ (١٩٥٨)، (تحفة الأشراف: ٣١٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢٣/٣)، دي /الحدود ١٢ (٢٣٦١) (صحيح) إلا أن (خ) قال: وصلي عليه وهي شاذة

(٢): صحيح مسلم /الحدود ٥ (١٦٩٤)، (تحفة الأشراف: ٤٣١٣)، وقد أخرجه: سنن الدارمي /الحدود ١٤ (٢٣٦٥) (صحيح)

حکم وکړونو مونږ بقیع مقام ته بوتلو په الله قسم مونږ تړلي هم نه وو او نه موږده دپاره دوغل کنستلي وو بلکه دي په خپله مونږ ته راپاڅیدو راوی وائی ابوسعید خدری ووئیل مونږ په هډوکو او لوټو (چمانو) او کاڼو باندې وویشتلو نو او تختیدو، مونږ هم ورپسي منډې کړې، تردې چه هغه حره کاڼړیجنې زمکې ته راغې، نو اودریدو، مونږ هغه د حره مقام په غټو غټو کاڼړو اوویشتلو، تردې چه یخ شو (غلې شو) نو نه هغوی دهغه د مغفرت دپاره دعا اوکړه، او نه ئې ورته بد اووئیل.

قوله: ﴿فَوَاللَّهِ مَا أَوْثَقْنَاهُ وَلاَ حَفَرْنَا لَهُ وَلَكِنَّهُ قَامَ لَنَا. - قَالَ أَبُو كَامِلٍ قَالَ - فَرَمَيْنَاهُ بِالْعِظَامِ وَالْمَدَرِ وَالْخَزَفِ الخ﴾

یعنی ماعز بن مالک رضی الله عنه د رجم په وخت نه اوتړلې شو او نه د هغه دپاره کنده اوکنستلې شوه بلکه هغه زمونږ مخې ته ولاړ وو پس کله چه مونږ د هغه رجم شروع کړو په عظام او مدر وغیره سره نو هغه منډه کړې نو مونږ هم په هغه پسې منډه کړې، تردې چه هغه د حره په یو طرف کښې زمونږ مخې ته اودریدلو مونږ په مقام حره کښې کاڼړی اوچتولو سره د هغوی په هغې باندې رجم اوکړو.

والحديث اخرجه مسلم والنسائي بمعناه، قاله المنذري.

قوله: ﴿قَالَ - فَمَا اسْتَغْفَرَ لَهُ وَلاَ سَبَّهُ﴾ یعنی رسول الله ﷺ د رجم د پوره کیدو نه پس د هغوی په باره کښې سکوت اوفرمائیلو نه ئې دعاء اوفرمائیله او نه بددعاء، او د دې نه په روستو روایت کښې دی چه بعض خلقو په هغه باندې لعن طعن شروع کړو نو رسول الله ﷺ هغوی ددې نه منع کړل بیا هغوی د هغه دپاره استغفار شروع کړو نو رسول الله ﷺ د هغې نه هم منع کړل، ﴿هُوَ رَجُلٌ أَصَابَ ذَنْبًا حَسِيبُهُ اللَّهُ﴾

[٤٤٣٢] (١) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَيْسَ بِتَمَامِهِ، قَالَ: ذَهَبُوا يَسُبُّونَهُ فَنَهَاهُمْ، قَالَ: ذَهَبُوا يَسْتَغْفِرُونَ لَهُ فَنَهَاهُمْ، قَالَ: هُوَ رَجُلٌ أَصَابَ ذَنْبًا حَسِيبُهُ اللَّهُ.

د ابو نضره نه روایت دې چه یو سړې نبی کریم ﷺ ته راغې، ورپسې ئې همدغسې روایت کړې دې، او پوره نه دې، په هغې کښې دی چه خلقو هغه ته بدې ردې اووئیلې، نو نبی کریم ﷺ هغوی منع کړل، بیا خلقو دهغه د مغفرت دعاګانې کولې، نو نبی کریم ﷺ هغوی منع کړل او وې فرمائیل: دا یو سړې وو چه ګناه ئې اوکړه، اوس بهٔ الله ورسره پوهه شي. (که غواړي معاف به ئې کړي ګنې سزا به ورکړي تاسو پکښې ولې دخل کوئ.)

توضيح الحديث

د رسول الله ﷺ د استغفار نه کولو مصلحت ښکاره دې چه د خلقو دپاره عبرت شي او د خلقو په زړونو کښې د دې جرم بدی او سپیرهٔ والې پیدا شي.

وړاندې په روایت کښې دی: ﴿أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- اسْتَنْكَهَ مَاعِزًا﴾

(١): تفرد به أبو داود، انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٣٣١) (ضعيف)

[۴۴۳۳]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَعْلَى بْنِ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ غَيْلَانَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَنْكَهَ مَاعِزًا".

بریده رضی الله عنه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ د ماعز خوله بوئی کړله (په دې خیال چه چرته شراب خو ئې نه دی څکلی).

توضيح الحديث

چه رسول الله ﷺ د ماعز د اقرار په وخت د هغه خولهٔ بوئی کړه چه معلومه شی چه هغه په نشه کښې خو نه دې، ځکه چه د سکران اقرار معتبر نه دې.

والحديث اخرجه مسلم بطوله، قاله المنذري

[۴۴۳۴]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِسْحَاقَ الْأَهْوَازِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا بُشَيْرُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كُنَّا أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَتَحَدَّثُ: "أَنَّ الْغَامِدِيَّةَ، وَمَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ لَوْ رَجَعَا بَعْدَ اعْتِرَافِهِمَا، أَوْ قَالَ: لَوْ لَمْ يَرْجِعَا بَعْدَ اعْتِرَافِهِمَا لَمْ يَطْلُبْهُمَا، وَإِنَّمَا رَجَمَهُمَا عِنْدَ الرَّابِعَةِ".

بریده رضی الله عنه وائی چه مونږ به د رسول الله ﷺ د صحابؤ ذکر کولو چه غامدیه او ماعز بن مالک که د اقرار نه ګرځیدلی وو، یا ئې د اقرار نه پس بیا اقرار نه وې کړې، ن نبی کریم ﷺ به هغوی دواړو ته سزا نه وې ورکړې، نبی کریم ﷺ هغوی دواړه هغه وخت رجم کړل (سنګسار ئې کړل) چه کله ئې دوه څلور ځله اقرار اوکړو. (او دهغوی په اقرار کښې هیڅ قسم څه شک باقی نه وو پاتې شوې).

د الفاظ حدیث شرح :

قوله: ﴿كُنَّا أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ نَتَحَدَّثُ أَنَّ الْغَامِدِيَّةَ وَمَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ لَوْ رَجَعَا بَعْدَ اعْتِرَافِهِمَا أَوْ قَالَ لَوْ لَمْ يَرْجِعَا بَعْدَ اعْتِرَافِهِمَا لَمْ يَطْلُبْهُمَا وَإِنَّمَا رَجَمَهُمَا عِنْدَ الرَّابِعَةِ﴾

دا لفظ د راوی په شک سره دې چه استاد ﴿ لو رجعها ﴾ وئیلې وو یا ﴿ لو لم یرجعها ﴾ خو جزاء د دواړو یو ده ﴿ لم یطلبهما ﴾ لهذا دا جمله تشریح او توجیه ته محتاج ده، که ﴿ لو رجعها ﴾ وی نو بیا خو مطلب دا دې چه که دې دواړو د زنا د اقرار کولو نه پس د دې نه مطلقا رجوع کړې وې نو بیا به رسول الله ﷺ دوی نه طلب کولې بلکه پریخودلی به ئې وې لکه چه د جمهور علماء کرامو مسلک دې خلافا لابن ابی لیلی وابی ثور، او که دا ﴿ لو لم یرجعها ﴾ دې نو په دې صورت کښې به ئې مطلب دا وی چه که د یو یا دوه کرته اقرار کولو نه پس د رسول الله ﷺ د مجلس نه تلې وې او د دې نه پس واپس نه وې راغلی په دریم او څلورم ځل د اقرار کولو دپاره نو رسول الله ﷺ به هغوی د تکمیل اقرار دپاره نه طلب کولې ځکه چه اقرار کوم چه معتبر دې هغه څلور کرته اقرار دې او ګویا رسول الله ﷺ به په ﴿ ادرؤا الحدود مااستطعتم ﴾ باندې عمل فرمائیلو. والحديث اخرجه النسائي بنحوه، قاله المنذري.

[1]): صحيح مسلم/الحدود ٥ (١٦٩٥)، (تحفة الأشراف: ١٩٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٧/٥، ٣٤٨)، سنن الدارمي/الحدود ١٤ (٢٣٦٦) (صحيح)

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٩٤٨) (ضعيف)

[٤٤٣٥] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ صَبِيحٍ، قَالَ عَبْدَةُ: أَخْبَرَنَا حَرَمِيُّ بْنُ حَفْصٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُلَاثَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، أَنَّ خَالِدَ بْنَ اللَّجْلَاجِ حَدَّثَهُ، أَنَّ اللَّجْلَاجَ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ، "أَنَّهُ كَانَ قَاعِدًا يَعْتَمِلُ فِي السُّوقِ فَمَرَّتِ امْرَأَةٌ تَحْمِلُ صَبِيًّا فَثَارَ النَّاسُ مَعَهَا وَثُرْتُ فِيمَنْ ثَارَ، فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ يَقُولُ: مَنْ أَبُو هَذَا مَعَكِ؟ فَسَكَتَتْ، فَقَالَ شَابٌّ حَذْوَهَا: أَنَا أَبُوهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَقْبَلَ عَلَيْهَا، فَقَالَ: مَنْ أَبُو هَذَا مَعَكِ؟ قَالَ الْفَتَى: أَنَا أَبُوهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَنَظَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَعْضِ مَنْ حَوْلَهُ يَسْأَلُهُمْ عَنْهُ، فَقَالُوا: مَا عَلِمْنَا إِلَّا خَيْرًا، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَحْصَنْتَ؟ قَالَ: نَعَمْ، فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ، قَالَ: فَخَرَجْنَا بِهِ فَحَفَرْنَا لَهُ حَتَّى أَمْكَنَّا ثُمَّ رَمَيْنَاهُ بِالْحِجَارَةِ حَتَّى هَدَأَ، فَجَاءَ رَجُلٌ يَسْأَلُ عَنِ الْمَرْجُومِ فَانْطَلَقْنَا بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْنَا: هَذَا جَاءَ يَسْأَلُ عَنِ الْخَبِيثِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَهُوَ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ، فَإِذَا هُوَ أَبُوهُ فَأَعَنَّاهُ عَلَى غُسْلِهِ وَتَكْفِينِهِ وَدَفْنِهِ، وَمَا أَدْرِي؟ قَالَ: وَالصَّلَاةِ عَلَيْهِ أَمْ لَا؟"، وَهَذَا حَدِيثُ عَبْدَةَ وَهُوَ أَتَمُّ.

دخالد بن لجلاج بیان دي چه ددوی پلار لجلاج دوی ته اووئیل چه هغه بازار کښې ناست وو کار ئې کولو چه په دې کښې یوه ښځه تیره شوه چه یو ماشوم ئې په غیږ کړې وو، نو خلق دهغې په لیدلو اودریدل، په هغه ولاړو خلقو کښې زه هم ووم، او زه نبی کریم ﷺ ته اورسیدم. هغوی ﷺ دهغې نه تپوس کولو چه: ددې ماشوم پلار څوک دې؟ هغه ښځه چپ وه، یو ځوان چه دهغه په څواکښې ولاړ وو هغه اووئیل: اې دالله رسوله ﷺ! زه دده پلار یم، نبی کریم ﷺ بیا دهغه ښځې طرف ته متوجه شو او تپوس ئې ترې اوکړو چه: ددې ماشوم پلار څوک دې؟ نو هغه ځوان بیا اووئیل: اې دالله رسوله ﷺ! زه دده پلار یم، په دې اوریدو سره نبی کریم ﷺ د خپل ګیر چاپیره ناستو خلقو کښې چا طرف ته اوکتل دهغه نه ئې ددې ځوان باره کښې معلومات کول، نو خلقو اووئیل: مونږ خو دا نیک ګڼړو، بیا نبی کریم ﷺ دهغه نه تپوس اوکړو: آیا تا واده کړې دې؟ هغه اووئیل: آؤ جی، نو نبی کریم ﷺ دهغه د رجم کولو حکم اوفرمائیلو. نو هغه رجم کړې شو، په هغې کښې دی چه مونږ دې بوتلو او په یوه کنده کښې مو ښخ کړو، بیا مو په کاڼړو اوویشتلو، تردې چه هغه سوړ شو، په دې کښې یو سړې راغې، او ددې رجم کړې شوی سړی باره کښې ئې تپوس اوکړو، نو هغه مونږ نبی کریم ﷺ ته ور وستلو، او مونږ اووئیل: دا ددغه خبیث باره کښې تپوس کوی، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هغه د الله په نزد د مشکو د بوئی نه هم زیات پاک دې. بیا پته اولګیده چه دا دهغه پلار وو، مونږ دهغه په غسل او کفن دفن کښې دهغه مدد اوکړو. ابوداؤد وائی: ماته معلومه نه ده چه هغوی په هغه باندې په مونځ کولو کښې هم (د مدد) اووئیل اوکه نه؟ دا د عبده روایت دې، او زیات کامل دې.

مضمون الحديث

قوله: ﴿أَنَّ اللَّجْلَاجَ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ قَاعِدًا يَعْتَمِلُ فِي السُّوقِ فَمَرَّتِ امْرَأَةٌ تَحْمِلُ صَبِيًّا فَثَارَ النَّاسُ مَعَهَا وَثُرْتُ فِيمَنْ ثَارَ فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم الخ﴾

خالد بن اللجاج وائی چه ماته زما پلار خبر راکړو چه هغوی په بازار کښې ناست وو څه کار

(¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١١٧١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٧٩/٣) (حسن الإسناد)

ئې کولو ، يو زنانه چه د هغې په غير کښې ماشوم وو تيره شوه ، خلق هغې سره روان شو زه هم په هغوی پسې شاته د تلونکو نه اوم تر دې چه مونږ رسول الله ﷺ ته اورسيدو ، هلته مې اوليدل چه رسول الله ﷺ د هغه زنانه نه تپوس فرمائيلو چه تاسره چه دا کوم ماشوم دې د دهٔ پلار څوک دې؟ هغه خاموشه وه د هغې خوا کښې يو ځوان ناست وو هغه اووې يا رسول الله ﷺ زه يم د دې ماشوم پلار ، د دې نه پس بيا رسول الله ﷺ هغه زنانه ته متوجه کيدو سره تپوس اوکړو چه د دې ماشوم پلار څوک دې بيا هم هغه ځوان اووې يا رسول الله ﷺ د دې ماشوم پلار زه يم ، په دې باندې رسول الله ﷺ د خواوشا ولاړو خلقو نه د هغه ځوان په باره کښې تپوس اوکړو يعنی دا چه هغه صحيح العقل دې ليونې خو نه دې؟ خلقو عرض اوکړو چه زمونږ په نزد دې روغ دې ، د دې نه پس رسول الله ﷺ د دې ځوان نه تپوس اوکړو چه ته محصن ئې؟ هغه د محصن کيدو اقرار اوکړو ، رسول الله ﷺ د هغه د رجم کولو حکم اوفرمائيلو. راوی وائی چه مونږ دا ځوان بوتلو او د هغه دپاره مو کنده اوکنستله تردې چه مونږ د هغه په رجم باندې قابو بيا موندلو ، پس مونږ د هغه رجم اوکړو تردې چه هغه يخ شو ، لږ ساعت پس يو سړې د دې مرجوم په باره کښې تپوس کولو سره راغلو مونږ هغه رسول الله ﷺ ته بوتلو او مونږ عرض اوکړو چه دا سړې د دې خبيث په باره کښې تپوس کوی ، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

قوله: ﴿ لَهُوَ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ ﴾ چه قسم په الله هغه د الله پاک په نزد د مشکو د خوشبوئ نه هم زيات پاک دې ، ﴿ فاذا هو ابوه ﴾ يعنی معلومه شوه چه هغه سړې د دې مرجوم پلاردې پس مونږ دهغه امداد اوکړو دهغه مرجوم په غسل اودهغه په تکفين دفن باندې ، د مانځهٔ په باره کښې د راوی شک دې چه په روايت کښې د هغې ذکر شته يا نه.

په دې حديث کښې د سړی د رجم دپاره د حفر ذکر دې ، په حاشيه د بذل کښې دی: فيه الحفر للرجل.... وقال الموفق ١٢٢/٨ لا يحفر للرجل اجماعا اهـ د دې جواب دا کيدې شی والله تعالى اعلم ، چه بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم به په خپل اجتهاد سره داسې کړې وی.

والحديث اخرجه النسائي ،قاله المنذري

[٤٤٣٦](١)حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ خَالِدٍ. ح وحَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَاصِمٍ الْأَنْطَاكِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ جَمِيعًا، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ، وَقَالَ هِشَامٌ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الشُّعَيْثِيُّ، عَنْ مَسْلَمَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْجُهَنِيِّ، عَنْ خَالِدِ بْنِ اللَّجْلَاجِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعْضِ هَذَا الْحَدِيثِ.

دمسلمه بن عبد الله الجهنی رحمه الله نه روايت دې فرمائی چه خالد بن الحلاج دخپل پلار نه په دې سند سره د تير شوي حديث بعضې حصه بيان کړيده.

[٤٤٣٧](٢)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَفْصٍ، حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ فَأَقَرَّ عِنْدَهُ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ سَمَّاهَا لَهُ، فَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَرْأَةِ، فَسَأَلَهَا عَنْ ذَلِكَ؟ فَأَنْكَرَتْ أَنْ تَكُونَ زَنَتْ، فَجَلَدَهُ الْحَدَّ وَتَرَكَهَا".

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١١٧١) (حسن الإسناد)
(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٧٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٣٩/٥، ٣٤٠)، ويأتي برقم (٤٤٦٦) (صحيح)

د سهل بن سعد رضی الله عنه نه روايت دي چه يو سړي نبی کريم ﷺ ته راغي اقرار ئي اوکړو چه ده د يوې ښځې سره زنا کړې ده، چه دهغي نوم ئي واخستلو، نو نبی کريم ﷺ هغه ښځه راوغوښتله او دهغي نه ئي دده باره کښې تپوس اوکړو، نو هغې ددې خبرې نه انکار اوکړو چه ده زنا کړې ده، نو نبی کريم ﷺ په دغه سړي باندې حد نافذ کړو، او ښځه ئي پريخوده.

[٤٤٣٨]([1])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا ح حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ الْمَعْنَى، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ: "أَنَّ رَجُلًا زَنَى بِامْرَأَةٍ فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجُلِدَ الْحَدَّ، ثُمَّ أُخْبِرَ أَنَّهُ مُحْصَنٌ فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ الْبُرْسَانِيُّ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، مَوْقُوفًا عَلَى جَابِرٍ، وَرَوَاهُ أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، بِنَحْوِ ابْنِ وَهْبٍ، لَمْ يَذْكُرِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّ رَجُلًا زَنَى فَلَمْ يُعْلَمْ بِإِحْصَانِهِ فَجُلِدَ ثُمَّ عُلِمَ بِإِحْصَانِهِ فَرُجِمَ.

د جابر رضی الله عنه نه روايت دي چه يو سړي د يوې ښځې سره زنا اوکړه نو نبی کريم ﷺ دهغه متعلق حکم ورکړو نوهغه ته په حد کښې کوړې اولګولې شوې، بيا ورته اووئيلې شو چه دا خو واده کړې وو، نو نبی کريم ﷺ حکم ورکړوچه دا رجم کړې شي، نو هغه رجم کړې شو، ابوداؤد وائي: دا حديث محمد بن بکر برساني د ابن جريج نه په جابر باندې موقوفاً روايت کړې دې، ابوعاصم د ابن جريج نه داسې روايت کړې دې څنګه چه ابن وهب روايت کړې دې، په هغې کښې دوی د نبی کريم ﷺ ذکر نه دې کړې، په هغې کښې دی چه يو سړي زنا اوکړه دهغه د واده علم نه وو، نو هغه ته کوړې اولګولې شوې، بيا پته اولګيده چه هغه واده کړې دې، نو رجم کړې شو.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلاً زَنَى بِامْرَأَةٍ فَأَمَرَ بِهِ رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فَجُلِدَ الْحَدَّ ثُمَّ أُخْبِرَ أَنَّهُ مُحْصَنٌ فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ ﴾

ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه د دې نه معلومه شوه چه جلد د رجم قائم مقام نه شي کيدې، خو د دې عکس کيدې شي، ځکه چه په کوم صورت کښې جلد مائة کفاره کيدې شي نو رجم به په طريق اولی وی سره د زيادت نه.

[٤٤٣٩]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ أَبُو يَحْيَى الْبَزَّازُ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ: "أَنَّ رَجُلًا زَنَى بِامْرَأَةٍ فَلَمْ يُعْلَمْ بِإِحْصَانِهِ فَجُلِدَ ثُمَّ عُلِمَ بِإِحْصَانِهِ فَرُجِمَ".

د جابر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه يوکس ديوې زنانه سره زنا وکړه اودده محصن کيدل معلوم نشونوپه درووهې شوبياچه کله دده محصن کيدل معلوم شو نورجم کړې شو.

په حديث باندې يو اشکال او د هغې جواب:

په بذل کښې په دې حديث باندې اشکال کړې دې چه رسول الله ﷺ هغه زانی ته کوړې ورکړې د هغه د محصن کيدو د وجې نه، بيا چه کله رسول الله ﷺ ته خبر ورکړې شو چه هغه محصن دې نو رسول الله ﷺ هغه رجم کړو، چه د هغې تقاضا دا ده چه د جلد خطاء وقوع اوشوه حال دا چه د امت په دې باندې اتفاق دې چه رسول الله ﷺ د خطاء د صدور نه پس په

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٨٣٢) (ضعيف)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٨٣٢) (ضعيف)

هغې باندې قائم او برقرار نه شي پاتې کيدې. (لا يقر على الخطاء) او دا اشکال على مذهب الجمهور دې، او د کومو علماء کرامو په نزد چه جمع بين الجلد والرجم جائز ده د هغوی د مسلک په لحاظ هيڅ اشکال نشته،

حضرت د دې اشکال هيڅ جواب نه دې ليکلې، د بذل په عبارت ﴿ وهذا اقرار على الخطاء ﴾ باندې مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله ليکلی دی: فيه نظر لانه عليه الصلوة والسلام علم خطاه باخبار الناس اهـ يعنی رسول الله ﷺ په خطاء باندې کله قائم پاتې شو هغوی د خپلې خطاء نه خبر شوې وو د خلقو په خبرولو باندې، احقر وائی چه د مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله خبره په خپل ځائې صحيح ده خو د صاحب البذل مراد خو د خطاء نه تحقق الجلد مع الرجم دې وهو خطاء على مسلک الجمهور، خو دې ته به اقرار على الخطاء نه شي وئيلې کيدې اقرار على الخطاء به هله وې چه رسول الله ﷺ ته د هغه د محصن کيدو خبر نه وې او د هغه زانی رجم نه وې شوې فتامل.

باب فى الْمَرْأَةِ الَّتِى أَمَرَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم بِرَجْمِهَا مِنْ جُهَيْنَةَ

باب د هغه جهينی ښځې بيان چه نبی عليه السلام دهغې د رجم کولو حکم کړې وو

په کتب حديث کښ د زنا متعلق دوه قصې زياتې مشهورې دی يو د ماعز بن مالک اسلمی رضي الله عنه، او دويمه دا واقعه چه په هغې باندې مصنف رحمه الله مستقل ترجمه قائم کړې ده يعنی د امراة جهينة. په احاديثو کښ د دې زنانه صفت غامديه رضي الله عنها هم راځی او بارقيه هم، پس وړاندې په کتاب کښ راځی ﴿ قال الغسانی وغامد وبارق واحد ﴾ په حاشيه د ابن الجوزی کښ د تلقيح صفحه ٣٦٢ نه نقل کړی دی اسمها سبيعه قيل ابيه بنت فرج.

﴿ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ - أَتَتِ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَتْ إِنَّهَا زَنَتْ وَهِىَ حُبْلَى الخ ﴾

[٤٤٤٠] ([1]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَنَّ هِشَامًا الدَّسْتُوَائِيَّ، وَأَبَانَ ابْنَ يَزِيدَ، حَدَّثَاهُمُ الْمَعْنَى، عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْمُهَلَّبِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ: أَنَّ امْرَأَةً، قَالَ فِي حَدِيثِ أَبَانَ: مِنْ جُهَيْنَةَ، أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "إِنَّهَا زَنَتْ وَهِيَ حُبْلَى، فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِيًّا لَهَا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَحْسِنْ إِلَيْهَا فَإِذَا وَضَعَتْ فَجِئْ بِهَا، فَلَمَّا أَنْ وَضَعَتْ جَاءَ بِهَا، فَأَمَرَ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشُكَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا، ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَرُجِمَتْ، ثُمَّ أَمَرَهُمْ فَصَلُّوا عَلَيْهَا، فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ تُصَلِّي عَلَيْهَا وَقَدْ زَنَتْ، قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ لَوَسِعَتْهُمْ، وَهَلْ وَجَدْتَ أَفْضَلَ مِنْ أَنْ جَادَتْ بِنَفْسِهَا"، لَمْ يَقُلْ: عَنْ أَبَانَ، فَشُكَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا.

دعمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه د جهينه قبيلې يوه ښځه نبی عليه السلام ته راغله او هغې ووئيل چه مازنا کړې ده او هغه حامله وه نونبی عليه السلام دهغې يو وارث را اوغوښتو او

[1]: صحيح مسلم/الحدود ٥ (١٦٩٦)، سنن الترمذي/الحدود ٩ (١٤٣٥)، سنن النسائي/الجنائز ٦٤ (١٩٥٩)، سنن ابن ماجه/الحدود ٩ (٢٥٥٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٧٩، ١٠٨٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٢٠، ٤٣٥، ٤٣٧، ٤٤٠)، دي/الحدود ١٨ (٢٣٧٠) (صحيح)

ورته ئې اوفرمائيل ددې سره ښه سلوک کوه اوکله چه ددې ولادت وشي نوماته ئې راوله ، هرکله چه دهغې ولادت وشو نونبی علیه السلام ته ئې راوستله نونبی علیه السلام دهغې متعلق حکم وکړونوهغې په خپل ځان پورې خپلې جامې راټولې کړې او بيا ئې دهغې درجم کولوحکم وکړو او رجم کړې شوه اوبيائي صحابه کراموته حکم وکړو نوهغوی ورباندې جنازه وکړله عمر رضي الله عنه ووئيل اې دالله رسوله ته خو په دې باندې جنازه کوې اوحال دادې چه دې خوزنا کړې ده نبی علیه السلام اوفرمائيل په هغه ذات مې دې قسم وي دچا په قبضه کښې چه زما روح دې چه دې زنانه داسې توبه کړې ده که چرې دا توبه دمدينې په اويا کسانوباندې تقسيم کړې شي نوددوی دپاره به کافي وي، نواياددې نه هم بله ښه خبره کيدې شي چه دې خپل ځان قربان کړو(يعنی په خپله درجم دپاره دربارنبوي ته حاضره شوه) راوی دابان نوم نه دی اخستلې اوبيا په دې زنانه پورې ددې جامې ور وتړلې شوې.

مضمون الحديث :

يعنی دې امراة جهينه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راتلو سره د خپلې زنا او بيا د هغې نه د حمل اقرار اوکړو، رسول الله ﷺ د هغې ولی راطلب کړو او وې فرمائيل چه دې سره ښه سلوک کوه او کله چه د دې وضع د حمل اوشي نو بيا دا راوله، پس هغه د وضع حمل نه پس هغه راوستله، رسول الله ﷺ د رجم نه مخکښې هدايت اوفرمائيلو چه د دې د بدن جامې دې د هغې نه په ښه طريقه تاؤ کړې شی او بيا ئې رجم کړه، بيا رسول الله ﷺ خلقو ته اوفرمائيل چه په دې دې مونځ اوکړې شی. پس خلقو په هغې باندې مونځ اوکړو، سيدنا عمر رضي الله عنه اوفرمائيل يا رسول الله ﷺ! آيا مونږ په دې باندې مونځ اوکړو حال دا چه دې زنا کړې ده؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه قسم دې په هغه ذات باندې چه د چا په قبضه کښې زما روح دې دې زنانه داسې توبه کړې ده چه هغه د مدينې په اويا کسانو باندې (چا چه د کبائرو ارتکاب کړې وی) تقسيم کړې شي نو د ټولو دپاره به کافی شی، او آيا د دې نه به غوره او افضل خبره نوره څۀ وی چه دې په خپل اختيار باندې خپل ځان اوبخلو.

[٤٤٤١](1)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْوَزِيرِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، قَالَ: فَشُكَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا يَعْنِي فَشُدَّتْ.

وليد وائی چه اوزاعي وئيلی دی چه د شکّت نه مراد شدت دي يعنی ددې جامې ورپورې وروتړلې شوې.

مصنف رحمه الله دې واقعې لره په ډيرو طرقو او مختلفو الفاظو سره چرته بتمامها او چرته په اختصار سره ذکر فرمائيلې ده، دا رومبې روايت چه د هغې راوی عمران بن حصين رضي الله عنه دې دا خو مجمل وو، د دې نه په روستو روايت کښې تفصيل دې چه د هغې راوی بريدة بن الحصيب رضي الله عنه دې، پس د هغې مضمون دا دې چه :

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٨٨١) (صحيح)

[٤٤٤٢]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ الْمُهَاجِرِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ امْرَأَةً يَعْنِي مِنْ غَامِدَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "إِنِّي قَدْ فَجَرْتُ، فَقَالَ: ارْجِعِي فَرَجَعَتْ، فَلَمَّا أَنْ كَانَ الْغَدُ أَتَتْهُ، فَقَالَتْ: لَعَلَّكَ أَنْ تَرُدَّنِي كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ فَوَاللَّهِ إِنِّي لَحُبْلَى، فَقَالَ لَهَا: ارْجِعِي فَرَجَعَتْ، فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ أَتَتْهُ، فَقَالَ لَهَا: ارْجِعِي حَتَّى تَلِدِي فَرَجَعَتْ، فَلَمَّا وَلَدَتْ أَتَتْهُ بِالصَّبِيِّ، فَقَالَتْ: هَذَا قَدْ وَلَدْتُهُ، فَقَالَ لَهَا: ارْجِعِي فَأَرْضِعِيهِ حَتَّى تَفْطِمِيهِ فَجَاءَتْ بِهِ وَقَدْ فَطَمَتْهُ وَفِي يَدِهِ شَيْءٌ يَأْكُلُهُ، فَأَمَرَ بِالصَّبِيِّ فَدُفِعَ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَأَمَرَ بِهَا فَحُفِرَ لَهَا وَأَمَرَ بِهَا فَرُجِمَتْ، وَكَانَ خَالِدٌ فِيمَنْ يَرْجُمُهَا فَرَجَمَهَا بِحَجَرٍ فَوَقَعَتْ قَطْرَةٌ مِنْ دَمِهَا عَلَى وَجْنَتِهِ فَسَبَّهَا، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَهْلًا يَا خَالِدُ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ، وَأَمَرَ بِهَا فَصَلَّى عَلَيْهَا فَدُفِنَتْ".

دعبدالله بن بریده دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه یوه غامدیه ښځه نبی ﷺ ته راغله او عرض ئي وکړوچه مابدفعلی کړې ده نبی ﷺ ورته اوفرمائیل واپس لاړه شه نوهغه واپس لاړه کله چه صباشو نوبیا ورته راغله او وي وئیل کیدي چه تاسوماهم دما عزپه شان واپس کړئ (یعنی حدبه راباندې جاري نکړئ) اوزه حامله شوې یم نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل واپس لاړه شه تردې چه ولادت دي اوشي نوهغه واپس لاړه اوکله چه دهغې ماشوم پیداشونوماشوم پې ورته راوستو او وئې وئیل چه هغه ماشوم دادې نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل واپس لاړه شه او ده ته تې ورکړه تردې چه دتې نه ئې وارووي نوهغه واپس لاړه او چه کله ئې دتې نه وارولونوبیا راغله اوهغه ماشوم ئې دځان سره راوستواوپه لاس کښې ئې دخوراک څه شي ووچه خوړلوئې نوماشوم پې یو مسلمان ته حواله کړو اوددې دپاره یوه کنده وکنستلې شوه او په دې باندې ئې د رجم حکم وکړواوهغه رجم کړې شوه اوخالد هم په هغه کسانوکښې ووچاچه دارجم کړې وه اوچه کله ئې په یوه ګټه وویشتله نوددې دوینویو څاڅکې دده په مخ ولګیدو نوهغه دې ښځې ته کنځل وکړل نبی ﷺ خالد ﷛ ته اوفرمائیل اې خالده اودریږه په هغه ذات مې دې قسم وي دچا په قبضه کښې چه زماروح دې یقینادې ښځې داسې توبه کړې ده که چرې یوظالم او دخلقو دحقوقو پالونکې داسې توبه کړې وې نوهم به ورته مغفرت شوې روبیادنبی ﷺ په حکم باندې په دې باندې جنازه وکړې شوه او دفن کړې شو.

د قبیله غامد یوې زنانه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغله او د خپلې زنا اقرار ئې اوکړو رسول الله ﷺ هغې ته د واپس کیدو حکم اوفرمائیلو هغه دې وخت کښې لاړه او په بله ورځ باندې بیا حاضره شوه او عرض ئې اوکړو چه کیدې شی چه تاسو به ما واپس کوئ هم دغه شان څنګه مو چه ماعز بن مالک ﷛ واپس کړې وو زه قسم خوړلو سره وایم چه زه حبلی من الزنی یم، رسول الله ﷺ ورته دې وخت کښې هم دغه اوفرمائیل چه واپس شه، پس هغه واپس شوه او په بله ورځ باندې بیا دریم ځل راغله، دې ځل رسول الله ﷺ هغه په دې وینا باندې واپس کړه چه د وضع حمل نه پس راشه پس هغه لاړه او چه څو ورځې پس ئې وضع د حمل اوشو نو هغې ماشوم رسول الله ﷺ ته راوستلو، هغوی په دې وینا باندې

[1]: صحیح مسلم/الحدود ٥ (١٦٩٥)، (تحفة الأشراف: ١٩٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٤٨، ٥٤٧)، سنن الدارمی/الحدود ١٤ (٢٣٦٦) (صحیح)

واپس کړه چه دې ماشوم ته پئ ورکوه او د رضاعت د مودې پوره کیدو نه پس راشه، پس هغه د فطام نه پس بیا راغله او د هغه ماشوم په لاس کښې څه څیز د خوراک وو، رسول اللهﷺ د ماشوم په باره کښې اوفرمائیل چه دې څوک په خپل کفالت کښې واخلئ. ﴿ وَأَمَرَ بِهَا فَحُفِرَ لَهَا وَأَمَرَ بِهَا فَرُجِمَتْ ﴾ رسول اللهﷺ د هغې دپاره د کندې کنستلو حکم اوفرمائیلو او بیا ئې د رجم، د هغې په رجم کونکو کښې خالد بن ولید ﷺ هم وو، د رجم کولو په وخت د وینې یو قطره د هغه په مخ باندې راغله په دې باندې هغوی هغې ته سخت الفاظ اووئیل، رسول اللهﷺ په اوریدو باندې اوفرمائیل: ﴿ مَهْلاً يَا خَالِدُ فَوَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ ﴾ اې خالده منع شه! په الله پاک قسم چه دې داسې توبه کړې ده چه که داسې توبه صاحب د مکس هم اوکړی نو د هغه به هم بخښنه اوشی او بیا پرې رسول اللهﷺ د مانځه حکم اوکړو او د هغې نه روستو دفن کړې شو.

د صاحب مکس نه مراد هغه عشار دې کوم چه په ناجائز طریقې سره عشر وصول کړی، یعنی ناجائز ټیکس، د کتاب الخراج په شروع کښې د سیدنا عقبة بن عامر ﷺ حدیث مرفوع تیر شوې دې: ﴿ لا یدخل الجنة صاحب مکس ﴾

والحديث اخرجه مسلم والنسائي وحديث مسلم اتم من هذا، قاله المنذري.

[٤٤٤٣]([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ زَكَرِيَّا أَبِي عِمْرَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ شَيْخًا يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَمَ امْرَأَةً فَحُفِرَ لَهَا إِلَى الثَّنْدُوَةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَفْهَمَنِي رَجُلٌ، عَنْ عُثْمَانَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ الْغَسَّانِيُّ: جُهَيْنَةُ، وَغَامِدٌ، وَبَارِقٌ وَاحِدٌ.

ابوبکره دخپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه نبی ﷺ یوه ښځه رجم کړې وه او دهغې دپاره ئې یوه کنده ویستلې وه دسینې پورې. امام ابوداؤد فرمائی دا روایت ماته یوکس د عثمان ﷺ نه بیان کړې دې ابوداؤد وئیلی دی چه غساني وئیلی دی چه جهینة اوغامدیه اوبارق یوشې دې.

﴿عَنِ ابْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– رَجَمَ امْرَأَةً فَحُفِرَ لَهَا إِلَى الثَّنْدُوَةِ ﴾ یعنی رسول اللهﷺ په خلقو د یوې زنانه د رجم کولو دپاره یو کنده اوکنستله د سرې د سینې پورې، او د دې نه په روستو روایت کښې دی ﴿ ثُمَّ رَمَاهَا بِحَصَاةٍ مِثْلَ الْحِمُّصَةِ ثُمَّ قَالَ « ارْمُوا وَاتَّقُوا الْوَجْهَ » ﴾ یعنی رسول اللهﷺ د هغې د رجم شروع پخپله د چنړئ برابر کانړی نه اوکړه او بیا ئې نورو خلقو ته اوفرمائیل چه اوس تاسو دا رجم کړئ یعنی د رجم په ذریعه ئې هلاکه کړئ، او رسول اللهﷺ دا هم اوفرمائیل چه په مخ دې او نه ویشتلې شی.

دخبلې د رجم متعلق څو اختلافی مسائل:

په دې احادیثو کښې څو داسې مسائل دی:

(د وضع حمل نه پس به رجم کله کولې شی؟)

اول دا چه چه د حاملې رجم دې د وضع حمل نه پس اوکړې شی دا خو متفق علیه ده اوس دا

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٦٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦/٥، ٤٢، ٤٣) (صحيح)

چه د وضع حمل نه پس به رجم کله کولې شي؟ امام نووي رحمه الله په شرح د مسلم کښې ليکلي دي چه د امام شافعي او احمد او مالک رحمهم الله مشهور قول دا دې چه ترڅو پورې ئې د رضاعت انتظام نه وي شوی نو نه به شي رجم کولې، او که څوک ورکونکې نه وي نو بيا دې زنانه خيله هغې ته پئ ورکوي په موده د رضاعت کښې او بيا د فطام نه پس دې د هغې رجم اوکړې شي، او امام ابوحنيفه او امام مالک رحمهما الله فی رواية فرمائي چه د وضع حمل نه پس به رجم کولې شي او د يوې مرضعې د حصول انتظار به نه شي کولې. الى آخر ما ذكر. وفي الهداية : وإذا زنت الحامل لم تحد حتى تضع حملها كيلا يؤدي إلى هلاك الولد وهو نفس محترمة وإذا كان حدها الجلد لم تجلد حتى تتعالى من نفاسها وعن أبي حنيفة رحمه الله أنه يؤخر إلى أن يستغني ولدها عنها إذا لم يكن أحد يقوم بتربيته لأن في التأخير صيانة الولد عن الضياع وقد روي أنه عليه الصلاة والسلام قال للغامدية بعد ما وضعت ارجعي حتى يستغني ولدك اهـ وفی الدر المختار : ويقام على الحامل بعد وضعها لا قبله أصلا (فإن كان حدها الرجم جمت حين وضعت) إلا إذا لم يكن للمولود من يربيه، قال ابن عابدين : (قَوْلُهُ إلَّا إذَا لَمْ يَكُنْ إلَخْ) هَذِهِ رِوَايَةٌ عَنْ الْإِمَامِ اقْتَصَرَ عَلَيْهَا صَاحِبُ الْمُخْتَارِ قَالَ فِي الْبَحْرِ : وَظَاهِرُهُ أَنَّهَا هِيَ الْمَذْهَبُ وَفِي النَّهْرِ : وَلَعَمْرِي أَنَّهَا مِنْ الْحُسْنِ بِمَكَانٍ، معلومه شوه چه د احنافو په دې کښې دوه قوله دي په متن هدايه کښې ئې هم دا اختيار کړې دې، کوم د احنافو مذهب چه امام نووي رحمه الله نقل کړې دې، دويم روايت په دې کښې د جمهورو موافق دې د علامه شامي د کلام نه معلوميږي چه راجح قول هم دا دې دا خو دې مذاهب ائمه، او دلته په کتاب کښې د غامديه په باره کښې دوه مختلف روايتونه راغلي دي د عمران بن حصين رضي الله عنه د ظاهر روايت نه معلوميږي چه رجم بعد الوضع فورا اوکړې شو او د بريده په روايت کښې د فطام تصريح ده، امام نووي رحمه الله د دې اختلاف د ذکر کولو نه پس فرمائي ﴿ فوجب تاويل الاولى الى الثانية لتتفقا ﴾ كذا فى البذل. او د دې خلاف د امام ابن الهمام رائې د ترجيح ده چه هغوی اول روايت ته اصح وئيلې دې، وقال لان فى الثانية بشيرا فيه مقال اهـ من هامش البذل.

(د حفر مسئله)

دويمه مسئله دلته د حفر ده د مرجوم دپاره، حافظ ليکي : وعند الشافعية لا يحفر للرجل وفي وجه يتخير الامام وهو أرجح لثبوته في قصة ماعز والمثبت مقدم على النافي وفي المرأة أوجه ثالثها الأصح ان ثبت زناها بالبينة استحب لا بالإقرار وعن الأئمة الثلاثة في المشهور عنهم لا يحفر وقال ابو يوسف وأبو ثور يحفر للرجل وللمرأة او ابن قدامه رحمه الله د امام احمد مذهب دا نقل کړې دې چه د سړي دپاره به حفر نه شي کولې او د زنانه په باره کښې هم د امام احمد ظاهري کلام دا دې چه د هغې دپاره دې حفر نه شي کولې، او بيا ئې دويم قول هم هغه ليکلې کوم چه د شوافعو په نزد اصح دې، وفي الهداية: الرجل والمرأة في ذلك سواء لأن النصوص تشملهما، وإن حفر لها في الرجم جاز لأنه عليه الصلاة والسلام حفر للغامدية إلى ثندوتها، قال الباجی قال مالک لا يحفر للمرجوم ولا سمعت احدا ممن مضى يحب ذلک، وقال الشافعي يحفر للمرأة... الى

آخر ما في الاوجز ٦/٥، د ﴿ ان نقول ﴾ نه معلومه شوه چه د ائمه ثلاثه په نزد حفر مطلقا نشته لا للرجل ولا المرأة او د شوافعو په نزد د سرې په حق کښې دوه قوله دي په اثبات او نفی کښې او اول قول راجح دې، او د زنانه په باره کښې درې روایتونه دی د اثبات او د نفی او دریم روایت کوم چه اصح دې هغه هم هغه دې کوم چه پورته تیر شوې دې الفرق بين ثبوت الزنا بالاقرار وبالبنية... والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري

[٤٤٤٤]([1])قَالَ أَبُو دَاوُد: حُدِّثْتُ عَنْ عَبْدِ الصَّمَدِ بْنِ عَبْدِ الْوَارِثِ، قَالَ: حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ سُلَيْمٍ بِإِسْنَادِهِ نَحْوَهُ، زَادَ ثُمَّ رَمَاهَا بِحَصَاةٍ مِثْلَ الْحِمِّصَةِ، ثُمَّ قَالَ: ارْمُوا وَاتَّقُوا الْوَجْهَ، فَلَمَّا طَفِئَتْ أَخْرَجَهَا فَصَلَّى عَلَيْهَا، وَقَالَ فِي التَّوْبَةِ نَحْوَ حَدِيثِ بُرَيْدَةَ.

زکریا بن سلیم په خپل سندسره دتیرشوي روایت په شان روایت بیان کړې دي مګردديِ اضافي سره چه بیا ئې په ګیټوباندي وویشتله چه دچنړي برابر وي، بیا ئې اوفرمائیل چه ویشتل کو خودمخ نه ځان ساتئ هرکله چه مړه شوه نود دوغل نه ئې راوویستله اوجنازه ئې ورباندي وکړله اودتوبي متعلق ئې هم هغه خبره ارشاد اوفرمائیله کومه چه دبریده په حدیث کښې تیره شوه.

[٤٤٤٥]([2])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّهُمَا أَخْبَرَاهُ "أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ أَحَدُهُمَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ اقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللَّهِ، وَقَالَ الْآخَرُ وَكَانَ أَفْقَهَهُمَا: أَجَلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللَّهِ وَائْذَنْ لِي أَنْ أَتَكَلَّمَ، قَالَ: تَكَلَّمْ، قَالَ: إِنَّ ابْنِي كَانَ عَسِيفًا عَلَى هَذَا وَالْعَسِيفُ الْأَجِيرُ فَزَنَى بِامْرَأَتِهِ، فَأَخْبَرُونِي أَنَّ عَلَى ابْنِي الرَّجْمَ فَافْتَدَيْتُ مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَبِجَارِيَةٍ لِي، ثُمَّ إِنِّي سَأَلْتُ أَهْلَ الْعِلْمِ فَأَخْبَرُونِي أَنَّ عَلَى ابْنِي جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ وَإِنَّمَا الرَّجْمُ عَلَى امْرَأَتِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللَّهِ، أَمَّا غَنَمُكَ وَجَارِيَتُكَ فَرَدٌّ إِلَيْكَ وَجَلَدَ ابْنَهُ مِائَةً وَغَرَّبَهُ عَامًا، وَأَمَرَ أُنَيْسًا الْأَسْلَمِيَّ أَنْ يَأْتِيَ امْرَأَةَ الْآخَرِ فَإِنِ اعْتَرَفَتْ رَجَمَهَا، فَاعْتَرَفَتْ فَرَجَمَهَا".

دابي هريره او زيد بن خالد الجهنی رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائي چه دوه کسانونبی علیه السلام ته جګړه راوړله نو وئیل یوکس پدوی کښې اې دالله رسوله فیصله وکړه زمونږ په مینځ کښې دالله تعالی په کتاب باندې اوپه دوی کښې دویم کس ووئیل کوم چه پوهوو پدوی کښې په مونږ کښې دالله په کتاب باندې فیصله وکړه او ماته دخبرو کولو دپاره اجازت راکړه، نبی علیه السلام ورته ووئیل خبرې شروع کړه هغه ووئیل زماځوي دده سره مزدور وو اودده دښځې سره ئې زنې وکړه نو ماته عالمانو ووئیل چه زما په ځوي باندې سل درې اویوکال دملک نه شړل دي نوما دهغه نه په سلوګډو او یوې وینځې باندې فدیه ورکړله کومه چه زما وه، بیاي داهل

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٦٨٤) (ضعيف)
[2]): صحيح البخاري/الوكالة ١٣ (٢٣١٤)، الصلح ٥ (٢٦٥٥)، الشروط ٩ (٢٧٢٤)، الأيمان ٣ (٦٦٣٣)، الحدود ٣٠ (٦٨٢٧)، ٣٤ (٦٨٣٥)، ٣٨ (٦٨٥٩)، ٤٦ (٦٨٦٠)، الأحكام ٤٣ (٧١٩٣)، الآحاد ١ (٧٢٥٨)، صحيح مسلم/الحدود ٥ (١٦٩٧)، سنن الترمذي/ الحدود ٨ (١٤٣٣)، سنن النسائي/آداب القضاة ٢١ (٥٤١٢)، سنن ابن ماجه/الحدود ٧ (٢٥٤٩)، (تحفة الأشراف: ٣٧٥٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحدود ١ (٦)، مسند احمد (١١٥/٤، ١١٦)، سنن الدارمي/الحدود ١٢ (٢٣٦٣) (صحيح)

علمونه تپوس وکړو هغوی راته ووئیل چه زما په ځوي باندې سل درې او یو کال دملک نه شړل دي او دده په ښځه باندې رجم دې، نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل زما دې قسم وي په هغه ذات باندې دچا په قبضه کښې چه زما روح دې ضرور به زه فیصله کوم دالله په کتاب باندې هرچه ګډان او وینځه ده نو هغه به واپس کړې شي تاته او دده ځوي ته ئې سل درې ورکړې او د یو کال دپاره ئې دملک نه وشړلو، او انیس اسلمي ته ئې حکم وکړو چه ددغه بل کس ښځه راولي که چرې اعتراف ئې وکړو نو رجم ئې کړئ نو هغې اعتراف وکړو او رجم کړې شوه.

قوله: ﴿عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُمَا أَخْبَرَاهُ أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ أَحَدُهُمَا يَا رَسُولَ اللَّهِ اقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللَّهِ. وَقَالَ الآخَرُ وَكَانَ أَفْقَهَهُمَا أَجَلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللَّهِ وَأْذَنْ لِى أَنْ أَتَكَلَّمَ. قَالَ « تَكَلَّمْ » الخ ﴾

مضمون الحدیث:

د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه او د زید بن خالد الجهنی رضی الله عنه نه روایت دې چه دوه کسان د چا چه خپل مینځ کښې جهګړه وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې راغلل، په هغوی کښې یو اووې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ ترمینځه د کتاب الله موافق فیصله اوفرمایئ، بل اووې: کوم چه په دوی کښې زیات پوهه وو او یا رسول الله صلی الله علیه وسلم د کتاب الله مطابق فیصله اوکړئ، او ماته اجازت راکړئ چه زه واقعه بیان کړم.

راوی په دې دواړو کښې یو ته افقه اووې یا خو د خپل علم سابق په بناء باندې چه هغه دا دواړه د مخکښې نه پیژندل یا ئې د هغه د طرز کلام وغیره خبرو نه اندازه اولګوله په دې وجه هغه اجازت طلب کړو د واقعې د بیانولو او په قاعده کښې ئې پوره واقعه بیان کړه، واقعه هغه دا بیان کړه چه زما ځوئې دلته په مزدورئ باندې لګیدلې وو کار ئې کولو هغه دهغه ښځې سره زنا اوکړه، بعضو خلقو ماته اووې چه زما ځوئې به رجم کولې شي نو ما د رجم په بدل کښې په طور د فدئې هغه سړی لره (د مزنیه خاوند ته) سل بیزې او یو وینځه ورکړه [1] بیا ما د نورو اهل علم نه دې باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی ماته اوئیل چه زما د ځوی حد خو سل درې او تغریب عام دې او رجم خو فی الواقع د هغه سړی په ښځه باندې دې د دې هرڅه اوریدلو نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه زه به د کتاب الله مطابق فیصله کوم بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا فیصله اوفرمائیله چه ستا ګډې بیزې او وینځه تاته واپس کولې شی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه ځوی ته سل کورې ورکړې او هغه ئې د یو کال دپاره د ښهر نه ویستلو، ﴿ وَأَمَرَ أُنَيْسًا الأَسْلَمِىَّ أَنْ يَأْتِىَ امْرَأَةَ الآخَرِ الخ ﴾ او رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل خادم انیس اسلمی ته حکم ورکړو چه د دې بل سړی ښځې ته لاړ شی که هغه هم اعتراف د زنا اوکړی نو هغه دې رجم کړې شی، پس هغې اعتراف اوکړو او هغه رجم کړې شوه.

یو اشکال سره د جواب نه:

دلته یو مشهور اشکال دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه زنانه ته سړې اولیږلو چه که هغه اقرار د

---

[1] قال الحافظ: الضمير في قوله فافتديت منه لخصمه وكأنهم ظنوا أن ذلك حق له يستحق أن يعفو عنه علي مال يأخذه وهذا ظن باطل)

زنا اوکړی نو هغه به رجم کولې شی حال دا چه د زنا په باره کښې خو تجسس نه شی کولې بلکه د هغې خلاف تلقین مستحب دې چه څو پورې کیدې شی د حد ثبوت اونشی نه ، د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه په دې واقعه کښې د دې عسیف یعنی د مزدور پلار د رسول الله ﷺ په مجلس کښې یا د هغوی مخکښې دا اووې چه زما څوی د دې سړی ښځې سره زنا کړې ده، د هغه دا قول د قذف او تهمت حیثیت لری ځکه چه د هغه دا وینا بغیر د ګواهانو نه وه لهذا په دې صورت کښې دې زنانه ته د معلومیدو نه پس (چه په ما باندې د زنا تهمت لګولې شوې دې) د حد قذف د مطالبې حق ملاویږی په دې شرط چه هغه د زنا اقرار اونکړی نو د رسول الله ﷺ دا لیږل په دې اعتبار سره وو نه په هغه اعتبار سره کوم چه په اعتراض کښې ذکر شوې دی (چه که هغه د زنا اقرار اوکړی نو هغه دې رجم کړې شی)

د انیس په لیږلو دې دا اشکال اونکړې شی چه توکیل فی الحدود جائز نه دې د احنافو په نزد ففی الهداية : وتجوز الوكالة بالخصومة في سائر الحقوق وكذا بإيفائها واستيفائها إلا في الحدود والقصاص فإن الوكالة لا تصح باستيفائها مع غيبة الموكل عن المجلس، ځکه چه کوم توکیل ناجائز دې هغه خو هغه دې کوم چه خپله د خصم د طرف نه وی، یعنی احد الخصمین د حد په معامله کښې بل چالره وکیل جوړولو سره قاضی ته اولیږی د استیفاء دپاره ځکه چه دلته دا صورت نشته، دلته خو خپله رسول الله ﷺ یعنی والی او حاکم خپل سړې د حد دپاره د حاکم په حیثیت لیږلې دې او دا جائز ده، په دې کښې هیڅ اشکال نشته.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

بَابٌ فِي رَجْمِ الْيَهُودِيَّيْنِ

باب د یهودیانو د رجم بیان

(ایا اسلام د احصان د شرائطو څخه دې؟)

هم دا هغه مسئله ده چه د هغې په وجه باندې امام شافعی او احمد رحمهما الله د دې خبرې قائل دی چه اسلام د شرائط احصان نه نهٔ دې، په خلاف د احنافو او مالکیانو د هغوی په نزد اسلام په شرائط احصان کښې داخل دې او د حدیث الباب یعنی رجم الیهودیین جواب د هغوی د طرف نه دا ورکړې شوې دې چه د رسول الله ﷺ دا فیصله د تورات په حکم باندې وه یعنی د توراة دحکم د وجې نه، یعنی تر دغه وخته پورې د رجم حکم نه وو نازل شوې او په توراة کښې د رجم حکم عام دې په محصن او غیر محصن باندې، او په رسول الله ﷺ باندې به چه د یو څیز په باره کښې څه حکم نه وو نازل شوې نو په اتباع بما فی التوراة باندې مامور وو، کذا في البذل نقلا عن الحافظ، پس وراندې په روایت کښې تصریح ده چه : فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « فَإِنِّي أَحْكُمُ بِمَا فِي التَّوْرَاةِ ». فَأَمَرَ بِهِمَا فَرُجِمَا. قَالَ الزُّهْرِيُّ فَبَلَغَنَا أَنَّ هَذِهِ الآيَةَ نَزَلَتْ فِيهِمْ (إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا) كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- مِنْهُمْ. او په کوکب ۳۰۲ کښې دې باره کښې لیکلی دی: قوله رجم یهودیا ویهودية وكان تعزير الشيوع الفحشاء فيما بينهم والا فالاحصان منتف ههنا فلم يبق الا الجلد، وقد

ورد فی الروایة من اشرک باللہ فلیس بمحصن اھ ﴾ په دې صورت کښې به د دې وينا ضرورت نه وی چه دا واقعه د شروع ده په اسلام کښې د رجم د حکم د نزول نه د مخکښې ده.

[٤٤٤٦]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ قَالَ: "إِنَّ الْيَهُودَ جَاءُوا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْهُمْ وَامْرَأَةً زَنَيَا، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ فِي شَأْنِ الزِّنَا؟ فَقَالُوا: نَفْضَحُهُمْ وَيُجْلَدُونَ، فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: كَذَبْتُمْ إِنَّ فِيهَا الرَّجْمَ، فَأَتَوْا بِالتَّوْرَاةِ فَنَشَرُوهَا فَجَعَلَ أَحَدُهُمْ يَدَهُ عَلَى آيَةِ الرَّجْمِ، ثُمَّ جَعَلَ يَقْرَأُ مَا قَبْلَهَا وَمَا بَعْدَهَا، فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: ارْفَعْ يَدَيْكَ، فَرَفَعَهَا فَإِذَا فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ، فَقَالُوا: صَدَقَ يَا مُحَمَّدُ فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ، فَأَمَرَ بِهِمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَا، قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ: فَرَأَيْتُ الرَّجُلَ يَحْنِي عَلَى الْمَرْأَةِ يَقِيهَا الْحِجَارَةَ".

دابن عمرنه روایت دې فرمائی چه يوڅو يهوديان نبی علیه السلام ته راغلل اوری وئيل چه پدوی کښې يو سړې اويو ښځې زناکړې ده نبی علیه السلام ورنه تپوس وکړو چه په تورات کښې دزنا دپاره څه حکم دې؟هغوی ووئيل مونږئي شرموو او په دروئي وهلوعبدالله بن سلامه ورته ووئيل دروغ مو ووئيل په دې کښې رجم دې نوهغوی تورات راوړو اوبيرته ئې کړونوپدوی کښې يوکس درجم په ايت باندې لاس کيخودواوبيائې لوستل شروع کړل دپټ کړې شوی ځائې مخکښې او وروسته ، عبدالله بن سلام ورته ووئيل لاس دې پورته کړه ، نوچه الاس ئې پورته کړو نوهلته درجم ايت ووهغوی ووئيل اې محمددې رښتيا وائی په دې کښې درجم ايت دې ، نونبی علیه السلام ددوی درجم کولوحکم وکړو اودوی رجم کړې شول عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وائی چه ماهغه سړې ليدلو چه په دغه ښځو راټيټيدو اودکانړونه به ئې بچ کوله.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ الْيَهُودَ جَاءُوا إِلَى رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فَذَكَرُوا لَهُ أَنَّ رَجُلاً مِنْهُمْ وَامْرَأَةً زَنَيَا فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَا تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ فِي شَأْنِ الزِّنَا ». فَقَالُوا نَفْضَحُهُمْ وَيُجْلَدُونَ الخ ﴾

يعنی يو ځل څه يهود د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلل او راتلو سره ئې د يو يهودی او يهوديه د زنا ذکر اوکړو، رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه په توراة کښې د زنا څه حکم ليکلې شوې دې؟ هغوی جواب ورکړو دا دې چه هغوی رسوا کړې شی او کوړې ورکړې شی په دې باندې عبدالله بن سلام رضی الله عنه اوفرمائيل چه تاسو دروغژن يئ، په توراة کښې خو د رجم حکم موجود دې، هغوی توراة راوړلو او هغه ئې پرانستلو يو يهودی په هغه ځائې باندې چرته چه د رجم حکم وو خپل لاس کيخودلو او آيت د رجم پريخودلو سره ئې د هغې ماقبل او مابعد لره لوستل شروع کړل، عبدالله بن سلام رضی الله عنه اوفرمائيل خپل لاس اوچت کړه، چه کله هغه لاس اوچت کړو نو هلته د رجم آيت موجود وو، روستو هغه اووې صدق يا محمد ﷺ فيها اية الرجم، رسول الله ﷺ د هغوی د رجم حکم اوفرمائيلو: ﴿ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ فَرَأَيْتُ الرَّجُلَ يَحْنِي عَلَى الْمَرْأَةِ يَقِيهَا الْحِجَارَةَ ﴾ سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه ما

[1]): صحيح البخاري/الجنائز ٦٠ (١٣٢٩)، المناقب ٢٦ (٣٦٣٥)، الحدود ٢٤ (٦٤٨)، صحيح مسلم/الحدود ٦ (١٦٩٩)، سنن الترمذي/الحدود ١٠ (١٤٣٦)، سنن ابن ماجه/الحدود ١٠ (٢٥٥٦)، (تحفة الأشراف: ٨٠١٤، ٨٣٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦٣/٧/٢، ٧٦)، موطا امام مالك/الحدود ١(١)، سنن الدارمي/الحدود ١٥ (٢٣٦٧) (صحيح)

هغه یهودي اولیدو چه ښکته کیدو یعني د رجم په وخت په هغه یهودیه باندې د رجم نه د بچ کولو دپاره چه هغه په کانړو باندې او نه لګي. والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[٤٤٤٧]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "مَرُّوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَهُودِيٍّ قَدْ حُمِّمَ وَجْهُهُ وَهُوَ يُطَافُ بِهِ، فَنَاشَدَهُمْ: مَا حَدُّ الزَّانِي فِي كِتَابِهِمْ؟ قَالَ: فَأَحَالُوهُ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ، فَنَشَدَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا حَدُّ الزَّانِي فِي كِتَابِكُمْ؟ فَقَالَ: الرَّجْمُ، وَلَكِنْ ظَهَرَ الزِّنَا فِي أَشْرَافِنَا، فَكَرِهْنَا أَنْ يُتْرَكَ الشَّرِيفُ وَيُقَامَ عَلَى مَنْ دُونَهُ، فَوَضَعْنَا هَذَا عَنَّا، فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَوَّلُ مَنْ أَحْيَا مَا أَمَاتُوا مِنْ كِتَابِكَ".

دبراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دنبي عليه السلام په وړاندې يو يهودي تير شو اومخ ئې تور کړې شوې وونبي عليه السلام يهوديان راوغوښتل اوددوئ نه ئې تپوس اوکړو چه ايا تاسو په تورات کښې دهغه چا دپاره چه زنا ئې کړې وي دا سزا ليدلې ده؟ هغوی اووئيل هو ، نبي عليه السلام ددوی يوعالم راوغوښتو اوهغه ته ئې په هغه الله باندې قسم ورکړو چاچه په موسی عليه السلام باندې تورات نازل کړې دې او ورته ئې اوفرمائيل ايا تاسو په تورات کښې دزنا کونکي دپاره دا سزا وينئ (چه مخ ئې تور کړې شي او په خلقو کښې وګرځولې شي) نوهغه اووئيل نه اوکه چرې تا ماته دومره لوئ قسم نه وې راکړې نومابه درته دا نه وو بيان کړې (يعنې صحيح خبره به مې درته نه وه کړې) زمونږ په کتاب کښې دزناکونکي حد رجم کول دي، ليکن کله چه په اميرانو کښې زنا عامه شوه نوکله چه به يو عزتمند سړې په دې جرم کښې اونيولې شو نوهغه به پريخودلې شو اوکله چه به يوغريب اوکمزورې کس په دې جرم کښې اونيول شو نوپه هغه به ئې حد جاري کولو ، بيا مونږه مشوره اوکړه چه راشئ او ټول به په يوه سزا باندې اتفاق اوکړو اوداسې يوه خبره به خوښه کړو چه په عزتمند اوکمزورې دواړو باندې ئې جاري کولې شي نو په دې سلسله کښې مونږه په مخ تورولو اودرو وهلو باندې اتفاق اوکړو او سنګسار کول مو پريخودل، نبي عليه السلام چه دا واوريدل نو وئې فرمائيل اې الله زه په تما موخلقو کښې اول ستاحکم ژوندي کونکې يم کله چه دې خلقو کالعدم ګرځولې وو.

[٤٤٤٨]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "مُرَّ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَهُودِيٍّ مُحَمَّمٍ مَجْلُودٍ، فَدَعَاهُمْ، فَقَالَ: هَكَذَا تَجِدُونَ حَدَّ الزَّانِي؟ فَقَالُوا: نَعَمْ، فَدَعَا رَجُلًا مِنْ عُلَمَائِهِمْ، قَالَ لَهُ: نَشَدْتُكَ بِاللَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوسَى أَهَكَذَا تَجِدُونَ حَدَّ الزَّانِي فِي كِتَابِكُمْ؟ فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَا، وَلَوْلَا أَنَّكَ نَشَدْتَنِي بِهَذَا لَمْ أُخْبِرْكَ، نَجِدُ حَدَّ الزَّانِي فِي كِتَابِنَا الرَّجْمَ، وَلَكِنَّهُ كَثُرَ فِي أَشْرَافِنَا فَكُنَّا إِذَا أَخَذْنَا الرَّجُلَ الشَّرِيفَ تَرَكْنَاهُ، وَإِذَا أَخَذْنَا الرَّجُلَ الضَّعِيفَ أَقَمْنَا عَلَيْهِ الْحَدَّ، فَقُلْنَا: تَعَالَوْا فَنَجْتَمِعُ عَلَى شَيْءٍ نُقِيمُهُ عَلَى الشَّرِيفِ وَالْوَضِيعِ، فَاجْتَمَعْنَا عَلَى التَّحْمِيمِ وَالْجَلْدِ وَتَرَكْنَا الرَّجْمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَوَّلُ مَنْ أَحْيَا أَمْرَكَ إِذْ أَمَاتُوهُ، فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ إِلَى قَوْلِهِ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَذَا فَخُذُوهُ وَإِنْ لَمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا سورة المائدة آية

(): صحيح مسلم/الحدود ٦ (١٧٠٠)، سنن ابن ماجه/الأحكام ١٠ (٢٣٢٧)، الحدود ١٠ (٢٥٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٧٧١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٨٦، ٢٩٠، ٣٠٠) (صحيح)

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٧٧١) (صحيح)

إِلَى قَوْلِهِ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ فِي الْيَهُودِ إِلَى قَوْلِهِ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ سورة المائدة آية ٤٤-٤٥ فِي الْيَهُودِ، إِلَى قَوْلِهِ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ سورة المائدة آية ٤٧"، قَالَ: هِيَ فِي الْكُفَّارِ كُلُّهَا يَعْنِي هَذِهِ الْآيَةَ.

د براء بن عازب ﷺ نه روايت دي فرمائی چه دنبی ﷺ په وړاندې يو يهودي تير شو چه مخ ئې تور کړې شوي وو اوپه دُرو وهلې شوي وو، نبی ﷺ يهوديان راوغوښتل اوددوينه ئې تپوس اوکړو چه آيا تاسو په تورات کښې دهغه چا دپاره چه زنا ئې کړې وي دا سزا ليدلې ده؟ هغوی اووئيل هو،نو نبی ﷺ ددوی دعالمانونه يوعالم راوغوښتو اوهغه ته ئې په هغه الله باندې قسم ورکړو چاچه په موسی ﷺ باندې تورات نازل کړې دې او ورته ئې اوفرمائيل ايا تاسوپه تورات کښې دزنا کونکي دپاره دا سزا وينئ (چه مخ هې- تور کړې شي او په خلقو کښې وګرځولې شي) نوهغه اووئيل نه اوکه چرې تا ماته دومره لوي قسم نه وې راکړې نومابه درته دانه وو بيان کړي (يعنی صحيح خبره به مې درته نه وه کړې) زمونږ په کتاب کښې دزناکونکي حد رجم کول دي، ليکن کله چه په اميرانوکښې زنا عامه شوه نوکله چه به يو عزتمند سړې په دې جرم کښې مونږ اونيولو نوهغه به مو پريخودلو اوکله چه به يوغريب اوکمزورې کس په دې جرم کښې اونيولو نوپه هغه به مرحد جاري کولو ، بيا مونږ مشهوره اوکړه چه راشي او ټول به په يوه سزا باندې اتفاق اوکړو اوداسې يوه خبره به خوښه کړو چه په عزتمند اوکمزوري دواړوباندې ئې جاري کولې شو نو په دې سلسله کښې مونږ په مخ تورولو اودرو وهلوباندې اتفاق اوکړو او سنګسار کول موپريخودل، نبی ﷺ چه دا واوريدل نو وئې فرمائيل اې الله زه په ټولوخلقوکښې اول ستاحکم ژوندي کونکي يم کله چه دې خلقو کالعدم ګرځولې وونوددغه کس درجم کولو حکم ئې وکړواو رجم کړې شونو په دې وخت کښې الله تعالی دا آيت نازل کړ: «يا أيها الرسول لا يحزنك الذين يسارعون في الكفر» نه تر «يقولون إن أوتيتم هذا فخذوه وإن لم تؤتوه فاحذروا» پورې اود«ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الظالمون» پورې. يعنی (ديهوديانو په باره کښې) اود«ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الظالمون» نه تر (ديهوديانو په کښې) «ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الفاسقون» پورې ، راوي وائی چه دا ايت د کفارو په باره کښې دې.

﴿عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ مُرَّ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- بِيَهُودِيٍّ مُحَمَّمٍ مَجْلُودٍ فَدَعَاهُمْ فَقَالَ « هَكَذَا تَجِدُونَ حَدَّ الزَّانِي ». فَقَالُوا نَعَمْ. فَدَعَا رَجُلاً مِنْ عُلَمَائِهِمْ الخ﴾

رسول الله ﷺ ته يو يهودی راغلو د چا مخ چه تور کړې شوي وو، رسول الله ﷺ ترې نه تپوس اوکړو چه آيا ستاسو په نزد د زانی حد هم دا دې هغوی اوفرمائيل او هم دا دې په دې باندې رسول الله ﷺ يو عالم را اوغوښتلو، يعنی عبدالله بن صوريا لره، رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه زه ستا نه د هغه رب په ذات قسم اخلم چا چه په موسی ﷺ باندې تورات نازل کړې دې چه آيا په توراة کښ د زنا حد هم دا دې؟ هغه جواب ورکړو قسم په الله نه! او وې وئيل چه که تاسو ماته دومره لوئې قسم نه وې راکړې نو ما به درته نه وو وئيلی، خبره دا ده چه زمونږ په کتاب کښ د زنا حد خو رجم دې خو زمونږ په شريفانو کښ د

زنا کثرت شروع شو نو کیدل به دا چه که یو شریف او معزز سړي به په زنا کښې اونیولې شو نو هغه به مونږ پریخودلو او که څوک کمزوري او کم حیثیته سړي به اونیولې شو نو په هغه باندې به مو حد قائمولو. ﴿ فَقُلْنَا تَعَالَوْا فَنَجْتَمِعَ عَلَى شَيْءٍ نُقِيمُهُ عَلَى الشَّرِيفِ وَالْوَضِيعِ فَاجْتَمَعْنَا عَلَى التَّحْمِيمِ وَالْجَلْدِ وَتَرَكْنَا الرَّجْمَ ﴾

د رجم کوم بدل چه یهودو د خپل ځان نه تجویز کړې وو:

زمونږ مشوره روستو دا شوه چه خپل مینځ کښې په اتفاق دې یو داسې سزا تجویز کړې شي کومه چه په شریف او غیر شریف دواړو باندې قائم کړې شي، نو زمونږ اتفاق په تحمیم او جلد باندې اوشو. یعني د زاني او زناکارې د دواړو مخونه تورول او هغوی ته سل کوړې ورکول. او وړاندې په روایت مفصله کښې د ﴿ تجبیه ﴾ ذکر هم راغلې دې او د هغې تفسیر هم هغه چه زاني او زانیه دې په یو خر باندې سوارۀ کړې شي او په هغې باندې دې داسې کینولې شي چه د دواړو ملا د ملا سره اولګی د یو مخ دې د سورلئ طرف ته وی او د بل دې بل طرف ته، او دغه شان دې هغوی په خر باندې سوررولو سره په پوره ښهر کښې اوګرځولې شي. او د جلد په باره کښې په یو بل روایت کښې داسې راځي. ﴿یضرب مئة بحبل مطلی بقار ﴾ یعني کوړې دې په تارکولو کښې لوندولو سره ورکړې شي، رسول الله ﷺ د هغوی په دې خبره اوریدلو باندې اوفرمائیل: ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَوَّلُ مَنْ أَحْيَا أَمْرَكَ إِذْ أَمَاتُوهُ ﴾ چه یا الله بیشکه ما د ټولو نه مخکښې ستا دا امر ژوندي او جاري کړو کوم چه دې یهودو ختم کړې وو، او بیا رسول الله ﷺ د رجم حکم اوفرمائیلو، په دې باندې دا آیت کریمه نازل شو، ﴿ وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ الآية ﴾ والحديث اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجه بنحوه، قاله المنذري.

[٤٤٤٩] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، أَنَّ زَيْدَ بْنَ أَسْلَمَ حَدَّثَهُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: أَتَى نَفَرٌ مِنْ يَهُودَ فَدَعَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْقُفِّ فَأَتَاهُمْ فِي بَيْتِ الْمِدْرَاسِ، فَقَالُوا: "يَا أَبَا الْقَاسِمِ إِنَّ رَجُلًا مِنَّا زَنَى بِامْرَأَةٍ، فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ، فَوَضَعُوا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وِسَادَةً فَجَلَسَ عَلَيْهَا، ثُمَّ قَالَ: ائْتُونِي بِالتَّوْرَاةِ فَأُتِيَ بِهَا، فَنَزَعَ الْوِسَادَةَ مِنْ تَحْتِهِ فَوَضَعَ التَّوْرَاةَ عَلَيْهَا، ثُمَّ قَالَ: آمَنْتُ بِكِ وَبِمَنْ أَنْزَلَكِ، ثُمَّ قَالَ: ائْتُونِي بِأَعْلَمِكُمْ، فَأُتِيَ بِفَتًى شَابٍّ"، ثُمَّ ذَكَرَ قِصَّةَ الرَّجْمِ، نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ.

د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه څه کسان د یهودیانو نه مدینې ته راغلل او نبي ﷺ یې قف مقام ته راوغوښتو نبي ﷺ بیت المدراس ته راغې دوی اووئیل اې ابوالقاسم په مونږ کښې یو کس د یوې ښځې سره زنا کړې ده ته ددې فیصله وکړه اودوی د نبي ﷺ د پاره یوه تکیه کیخوده نبي ﷺ ورباندې کښیناستو اووئې فرمائیل ماته تورات راوړئ چنانچه تورات راوړلې شو نبي ﷺ دلاندې نه هغه تکیه راواغسته او تورات ئې ورباندې کیخودو اوبیا ئې اوفرمائیل هغه کس راولې څوک چه په تاسو کښې زیات علم لرې نو یو نوجوان راوغوښتلې شو، اوددینه پس ئې د سنګسارولو واقعه بیان کړه.

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٧٣٠) (حسن)

﴿أتى نفر من يهود فدعوا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- إلى القف فأتاهم في بيت المدراس﴾
يعني څو يهوديان رسول الله ﷺ ته راغلل او هغوی ته ئې دعوت ورکړو وادی قف ته د تلو، پس رسول الله ﷺ د هغوی یو مدرسې ته لاړو چه په هغې کښې به هغوی د تورات درس ورکولو، يهودو رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه مونږ ته د یو زنانه او د یو سړی د زنا قصه راپيښه شوې ده په هغې کښې فيصله اوفرمايئ په دې موقع باندې هغوی د رسول الله ﷺ دپاره تکيه هم راطلب کړه د رسول الله ﷺ د ډډې وهلو دپاره، رسول الله ﷺ هلته د کيناستلو نه پس اوفرمائيل چه ماته تورات راوړئ پس هغه راوړلې شو، چه کله تورات رسول الله ﷺ ته راوړلې شو نو رسول الله ﷺ د خپل ځان نه لاندې تکيه راويستله او مخې ته ږدلو سره ئې په هغې باندې تورات په ډير په احترام سره کيخودلو او د تورات په باره کښې ئې اوفرمائيل: زه په تا باندې ايمان لرم او په هغه ذات هم چا چه ته نازل کړې ئې او بيا ئې اوفرمائيل چه خپل يو لوئې عالم ماته راطلب کړئ پس يو ځوان عالم راوستلې شو، يعني عبدالله بن صوريا.

[٤٤٥٠](١) حدثنا محمد بن يحيى، حدثنا عبد الرزاق، أخبرنا معمر، عن الزهري، حدثنا رجل من مزينة. ح وحدثنا أحمد بن صالح، حدثنا عنبسة، حدثنا يونس، قال: قال محمد بن مسلم سمعت رجلا من مزينة ممن يتبع العلم ويعيه ثم اتفقا، ونحن عند سعيد بن المسيب، فحدثنا عن أبي هريرة، وهذا حديث معمر، وهو أتم، قال: "زنى رجل من اليهود، وامرأة، فقال بعضهم لبعض: اذهبوا بنا إلى هذا النبي فإنه نبي بعث بالتخفيف، فإن أفتانا بفتيا دون الرجم قبلناها واحتججنا بها عند الله، قلنا: فتيا نبي من أنبيائك، قال: فأتوا النبي صلى الله عليه وسلم وهو جالس في المسجد في أصحابه، فقالوا: يا أبا القاسم ما ترى في رجل وامرأة زنيا؟ فلم يكلمهم كلمة حتى أتى بيت مدراسهم، فقام على الباب، فقال: أنشدكم بالله الذي أنزل التوراة على موسى، ما تجدون في التوراة على من زنى إذا أحصن؟ قالوا: يحمم ويجبه ويجلد والتجبيه أن يحمل الزانيان على حمار وتقابل أقفيتهما ويطاف بهما، قال: وسكت شاب منهم، فلما رآه النبي صلى الله عليه وسلم سكت ألظ به النشدة، فقال: اللهم إذ نشدتنا فإنا نجد في التوراة الرجم، فقال النبي صلى الله عليه وسلم: فما أول ما ارتخصتم أمر الله، قال: زنى ذو قرابة من ملك من ملوكنا فأخر عنه الرجم، ثم زنى رجل في أسرة من الناس فأراد رجمه فحال قومه دونه، وقالوا: لا يرجم صاحبنا حتى تجيء بصاحبك فترجمه، فاصطلحوا على هذه العقوبة بينهم، فقال النبي صلى الله عليه وسلم: فإني أحكم بما في التوراة، فأمر بهما فرجما"، قال الزهري: فبلغنا أن هذه الآية نزلت فيهم ﴿إنا أنزلنا التوراة فيها هدى ونور يحكم بها النبيون الذين أسلموا﴾ سورة المائدة آية ٤٤، كان النبي صلى الله عليه وسلم منهم.

يونس او محمد بن مسلم دواړه وائی چه ما د مزينه قبيلې ديو کس نه اوريدلی دی څوک چه ددوی نه وو اوعلم ئې حاصلولو او په باقی راويت کښې دواړه متفق دي فرمائی چه مونږ دسعيد بن مسيب سره موجود وو چه مونږه ته ئې دابوهريره رضي الله عنه نه حديث بيان کړو چه په يهوديانو کښې يونارينه اويوه زنانه زنا کړيوه نوپه دوی دواړو کښې يوبل ته اووئيل چه دې رسول ته به ورشو ځکه چه دا رسول دبوج کمولو دپاره راليږلې شوې دې که چرې دسنگسار رولو نه ئې دکمي درجې دسزا حکم وکړو نومونږ به ئې اومنو او دالله تعالی په وړاندې به

(١): تفرد به أبو داود، انظر حديث (٤٨٨) (تحفة الأشراف: ١٥٤٩٢) (ضعيف)

زمونږ عذر جوړ شي چه ستا په انبياو کښې مونږ ديونبی حکم منلې وو نو په دې سلسله کښې هغوی ټول دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شول اونبی ﷺ دصحابه کرامو سره په مسجد کښې ناست وو يهوديانو اووئيل اې ابوالقاسم تاسودهغه نارينو اوزنانو په باره کښې څه حکم کوئ چه زنائې کړې وی نبی ﷺ چه دا واوريدل نو هيڅ جواب ئې ورنکړو اودې خلقوسره دمدرسې طرف ته لاړو هلته په دروازه اودريدو اووئې فرمائی چه زه تاسوته قسم درکوم په هغه الله باندې چاچه په موسی ﷺ باندې تورات نازل کړې دې چه تاسودزناد پاره په تورات کښې څه حکم مومئ؟ خوکله چه هغه شادي شده وي يهوديانو اووئيل چه دداسې کس مخ تورولې شي او په خر سور کړې شي او په بازار کښې وګرځولې شي اوپه درو اووهلې شي ليکن په دوی کښې چه يونوجوان داخبره واوريده نوخاموش پاتې شو کله چه نبی ﷺ ده لره خاموش اوليدو نونبی ﷺ ده ته دوباره قسم ورکړو نو په دې وخت کښې دغه کس اووئيل کله چه تا مونږ ته پوره قسم راکړو (نواوس به درته پوره خبره وکړو) چه مونږ په تورات کښې دسنګسارولو حکم ليدلې دې نبی ﷺ اوفرمائيل بيا تاسو دکوم وخت نه دالله تعالی داحکم په سپک ګڼړلوسره پريخودلې دې؟ دغه کس اووئيل : په مونږ کښې يوځل ديو بادشاه رشته دار زنا وکړه نوبادشاه هغه سنګسار نکړو ، بيايوبل عام کس زنا وکړه نوبادشاه وغوښتل چه دې سنګسار کړي ليکن دهغه دقوم خلق رامخکښې شول اوبادشاه ته ئې اووئيل چه زمونږه سر به نه شي سنګسارولې ترڅو چه تاسو مخکښې خپل سړې سنګسار نکړئ ، بهر حال ټولو خلقو اتفاقي فيصله وکړه چه سزا همدا (مخ تورول په خر سورول په بازار کښې ګرځول) مناسب ده، نبی ﷺ اوفرمائيل زه خوبه هغه حکم کوم چه په تورات کښې موجود دې اوبيانبی ﷺ حکم وکړو هغه يهودې سړې اوښځه سنګسار کړې شول، زهري وئيلی دی چه ماته داخبر رارسيدلې دې چه دا ايت کريمه : «إنا أنزلنا التوراة فيها هدى ونور يحكم بها النبيون الذين أسلموا» ددغه کسانو په باره کښې نازل شوې دې.

قوله: ﴿ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ اذْهَبُوا بِنَا إِلَى هَذَا النَّبِيِّ فَإِنَّهُ نَبِيٌّ بُعِثَ بِالتَّخْفِيفِ الخ ﴾

يعنی په يهودو کښې د زنا د يوې واقعې د پيښيدو نه پس بعضو نورو بعضو ته اووې چه مونږ دې نبی ﷺ ته بوځئ ځکه چه د هغوی په دين کښې تخفيف دې پس که هغوی مونږ ته د رجم نه علاوه د بل څه څيز فتوی راکړی نو هم هغه به قبول کړو او د قيامت په ورځ باندې به الله پاک ته دا عذر پيش کړو چه دا هم ستا د يو نبی ﷺ فتوی ده پس هغوی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلل او رسول الله ﷺ په مسجد کښې ناست وو ،او راتلو سره ئې د زنا حکم اوتپوسلو ، په دې باندې رسول الله ﷺ خاموش پاتې شو او هيڅ خبره ئې اونکړه بلکه نيغ د هغوی مدرسې ته اورسيدلو او په دروازه باندې رسيدو سره اودريده، او د هغوی نه ئې قسم ورکولو سره تپوس اوکړو چه په توراة کښې د زنا څۀ حکم دې چه کله زانی محصن وی؟[1] هغوی د تحميم او تجبيه او د جلد مائة ذکر اوکړو (دلته په روايت کښې د تجبيه صورت

---

[1] د دې نه معلوميږی چه د رجم دپاره احصان په يهودو کښې هم شرط وو، د دې نه مخکښې......له

هم مذکور دي کوم چه مونږ وړاندي لیکلي دي) خو يو ځوان په دې کښې خاموش پاتې شو، چه کله رسول اللهﷺ هغه خاموش اوليدو ﴿ أَلَظَّ بِهِ النِّشْدَةَ ﴾ نو رسول اللهﷺ هغه ته قسم ورکړو او تپوس ئې ترې نه اوفرمائيلو، هغه عرض اوکړو چه کله تاسو ماته قسم راکولو سره تپوس کړې دې (نو اوس به ئې زه خامخا وايم او بيا) هغه اووې چه په تورات کښې د رجم حکم دې، نو رسول اللهﷺ تپوس اوکړو چه د ټولو نه مخکښې تاسو کله دا حکم معمولي اوګڼړلو او عمل مو پرې پريخودلو؟ ﴿ فَمَا أَوَّلُ مَا ارْتَخَصْتُمْ أَمْرَ اللَّهِ ﴾ (اى جعلوه رخيصا وسهلا) (عون) هم دې ځوان د دې وجه دا بيان کړه چه په شروع کښې يو ځل داسې شوې وه چه زمونږ د بادشاه يو رشته دار زنا کړې وه نو هغه بادشاه په هغه باندې رجم جاري نه کړو، د دې نه پس په عام خلقو کښې يو کس زنا اوکړه بادشاه د هغه د رجم اراده اوکړه چه په دې باندې د هغه قوم حائل شو او هغه خلقو اوئيل ترڅو چه ته د خپل سړي رجم اونکړې زمونږ د سړي به هم نه کوې، نو هغه وخت د رجم په ځائې په دې سزا باندې خپل مينځ کښې اتفاق او شو، ﴿ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « فَإِنِّي أَحْكُمُ بِمَا فِي التَّوْرَاةِ ». فَأَمَرَ بِهِمَا فَرُجِمَا ﴾

[٤٤٥١]( )حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى أَبُو الْأَصْبَغِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَجُلًا مِنْ مُزَيْنَةَ، يُحَدِّثُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "زَنَى رَجُلٌ وَامْرَأَةٌ مِنَ الْيَهُودِ وَقَدْ أُحْصِنَا حِينَ قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ، وَقَدْ كَانَ الرَّجْمُ مَكْتُوبًا عَلَيْهِمْ فِي التَّوْرَاةِ، فَتَرَكُوهُ وَأَخَذُوا بِالتَّجْبِيهِ يُضْرَبُ مِائَةً بِحَبْلٍ مُطْلًى بِقَارٍ وَيُحْمَلُ عَلَى حِمَارٍ وَجْهُهُ مِمَّا يَلِي دُبُرَ الْحِمَارِ، فَاجْتَمَعَ أَحْبَارٌ مِنْ أَحْبَارِهِمْ، فَبَعَثُوا قَوْمًا آخَرِينَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: سَلُوهُ عَنْ حَدِّ الزَّانِي، وَسَاقَ الْحَدِيثَ، فَقَالَ فِيهِ: قَالَ: وَلَمْ يَكُونُوا مِنْ أَهْلِ دِينِهِ فَيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ، فَخُيِّرَ فِي ذَلِكَ، قَالَ: فَإِنْ جَاءُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ سورة المائدة آية ٤٢".

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه زني وکړه يو سړې اويوې ښځې ديهوديانونه اودواړه شادي شده رو کله چه دوی په مدينه نبی عليه السلام ته راغلل اورجم پدوی باندې مقررشوي وو په تورات کښې نودوی هغه پريخودو او په خرباني ئې التـه سورکړواوسل پيري به ئې په غوړه کړي شوي رسئ باندې وهلواوپه خرباندې به پې په داسې طريقه سورکړوچه مخ به ئې دخرکوني ته نزدې وونوددوی په عالمانوکښې يوځوعالمان را جمع شول اونبی عليه السلام ته ئې يووفد راوليږو اوهغوی ته ئې ووئيل چه دزنا دحد متعلق ورنه تپوس وکړئ اوحديث ئې تر آخره پورې بيان کړو، او په دې کښې داسې دی چه چونکه هغوی دنبی عليه السلام په دين نه وو نوځکه نبی عليه السلام ته اختيار ورکړي شو چه که ته ددوی فيصله وکړې اوکه ونکړې الله تعالى فرمائي: «فإن جاءوك فاحكم بينهم أو أعرض عنهم» که چرې ته ددوی فيصله ونکړې نودوی تاته ضررنشي رسولي اوکه فيصله ئې

٦.....د حافظ په کلام کښې تير شوې دی چه د هغوی په نزد دا شرط نه وو خو چرته چه حافظ وئيلي دو هلته د اسلام بحث شروع وو ممکنه ده چه حافظ هم په دې لحاظ سره نفي کړې وی بلکه هم دا متعين ده او دلته د احصان نه په ظاهر کښې نکاح مراد ده پس هيڅ اختلاف نشته

١): تفرد به أبوداود، انظر حديث(٤٨٨)، (تحفة الأشراف: ١٥٤٩٢) (ضعيف)

وکړي نو په انصاف فیصله وکړه او یاددوی نه مخ واړوه.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ زَنَى رَجُلٌ وَامْرَأَةٌ مِنَ الْيَهُودِ وَقَدْ أُحْصِنَا الخ ﴾

په دې حدیث کښې د تجبیه او د سلو کوړو په تارکولو کښې د لت پت کولو نه پس د لګولو او د تجبیه صورت ذکر دې. ﴿ قَالَ فِيهِ قَالَ وَلَمْ يَكُونُوا مِنْ أَهْلِ دِينِهِ فَيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ فَخُيِّرَ فِي ذَلِكَ قَالَ (فَإِنْ جَاءُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ ﴾ په دې حدیث کښې چه کومه مسئله ذکر ده په هغې باندې مصنف رحمه الله مستقل ترجمه قائم کړې ده په کتاب القضاء کښې باب الحکم بين اهل الذمة او هلته دا لیکلې شوې دی یعنی مسلمان قاضی لره په دارالاسلام کښې د ذمیانو فیصله کول پکار دی یا نه، د امام مالک رحمه الله رائې په دې کښې د تخییر ده او د احنافو په نزد د مرافعه په صورت کښې د فیصلې حکم دې هم داسې نه، او د امام شافعي رحمه الله په دې کښې دوه قوله دی یو هم دا یعنی د وجوب عند المرافعة، او دویم دا چه مطلقا واجب دې.

[٤٤٥٢]([1])حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى الْبَلْخِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، قَالَ: مُجَالِدٌ أَخْبَرَنَا، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "جَاءَتِ الْيَهُودُ بِرَجُلٍ وَامْرَأَةٍ مِنْهُمْ زَنَيَا، فَقَالَ: ائْتُونِي بِأَعْلَمِ رَجُلَيْنِ مِنْكُمْ فَأَتَوْهُ بِابْنَيْ صُورِيَا، فَنَشَدَهُمَا: كَيْفَ تَجِدَانِ أَمْرَ هَذَيْنِ فِي التَّوْرَاةِ؟ قَالَا: نَجِدُ فِي التَّوْرَاةِ إِذَا شَهِدَ أَرْبَعَةٌ أَنَّهُمْ رَأَوْا ذَكَرَهُ فِي فَرْجِهَا مِثْلَ الْمِيلِ فِي الْمُكْحُلَةِ رُجِمَا، قَالَ: فَمَا يَمْنَعُكُمَا أَنْ تَرْجُمُوهُمَا، قَالَا: ذَهَبَ سُلْطَانُنَا فَكَرِهْنَا الْقَتْلَ، فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالشُّهُودِ، فَجَاءُوا بِأَرْبَعَةٍ فَشَهِدُوا أَنَّهُمْ رَأَوْا ذَكَرَهُ فِي فَرْجِهَا مِثْلَ الْمِيلِ فِي الْمُكْحُلَةِ، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجْمِهِمَا".

د جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه یهودیانو یو زناکار سړې او ښځه په دربار نبوي کښې حاضر کړل نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل دخپل دین والا دوه زیات علم والا عالمان راولئ نو هغوی دصوریادوه ځامن راوستل نبی علیه السلام دوی دواړوته قسم ورکړو او تپوس ئې ورنه وکړو چه ددوی دپاره په تورات کښې څه حکم دې دې؟ هغوی ووئیل چه مونږ خو په تورات کښې دحکم لیدلې دې چه کله څلور ګواهان ګواهی ورکړي چه دوی دسړي ذکر دښځې په شرمګاه کښې داسې لیدلې دې لکه چه سلائې په ننجرومه کښې وي نو بیاددوی دپاره درجم حکم دې بیا تاسو دوی دواړه ولې رجم نکړل؟ هغوی ووئیل چه اوس خو زمونږ حکومت باقی نه دی شوي نو په دې وجه مونږ قتل بد ګڼړو. پس نبی علیه السلام ګواهان څلور ګواهان را اوغوښتل هغوی داسې ګواهی ورکړله چه دوی دسړي دښځې په شرمګاه کښې داسې لیدلې دې لکه سلائې په ننجرومه کښې وي نو نبیائې ددوی درجم کولو حکم وکړو.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ جَاءَتِ الْيَهُودُ بِرَجُلٍ وَامْرَأَةٍ مِنْهُمْ زَنَيَا فَقَالَ ائْتُونِي بِأَعْلَمِ رَجُلَيْنِ مِنْكُمْ فَأَتَوْهُ بِابْنَيْ صُورِيَا ﴾

د دې روایت نه معلومه شوه چه په تیرو روایاتو کښې چه کوم لفظ شاب یا په لفظ د اعلم رجل منکم سره راغلې دې د هغې نه مراد ابن صوریا دې لکه چه هلته شارحینو لیکلی دی په دې روایت کښې تصریح ده چه د ثبوت زنا دپاره په تورات کښې هم د څلورو سړو

[1]: سنن ابن ماجه/الأحكام (٢٣٢٨)، (تحفة الأشراف: ٢٣٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٨٧)، صحيح مسلم/الحدود ٦(٢٣٧٤) (صحيح)

شهادت معتبر وو ځنگه چه زمونږ په نزد دي او د دې روایت نه دا هم معلومیږي چه په تورات کښې هم د ثبوت زنا دپاره د صریح الفاظو کیدل ذکر دی.

﴿ قال فَمَا يَمْنَعُكُمَا أَنْ تَرْجُمُوهُمَا قَالاَ ذَهَبَ سُلْطَانُنَا فَكَرِهْنَا الْقَتْلَ ﴾ رسول الله ﷺ تري نه تپوس اوفرمائیلو چه تاسو رجم ولې ترک کړو نو هغوی جواب ورکړو چه زمونږ حکومت او زور ولې ختم شو ځکه چه د قتل سزا مونږ نه خوښوله چه کم به شو او د بې وسئ ژوند کښې به راشو. والحديث اخرجه ابن ماجه، مختصرا، قاله المنذري.

[۴۴۵۳]([1]) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ هُشَيْمٍ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، وَالشَّعْبِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، لَمْ يَذْكُرْ فَدَعَا بِالشُّهُودِ فَشَهِدُوا.

ابراهیم اوشعبي دنبی ﷺ نه روایت بیان کړي دي دتیر شوي روایت په شان مگرداني پکښې نه دی ذکرکړي چه گواهان ئې را اوغوښتل اوگواهی ئې ورکړه.

[۴۴۵۴]([2]) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ هُشَيْمٍ، عَنِ ابْنِ شُبْرُمَةَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ بِنَحْوٍ مِنْهُ.

ابن شبرمه هم دشعبي تیرشوی روایت په شان روایت بیان کړي دي.

[۴۴۵۵]([3]) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَسَنٍ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا الزُّبَيْرِ، سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "رَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ وَامْرَأَةً زَنَيَا".

دجابر بن عبدالله نه روایت دي فرمائی چه نبی ﷺ دیهودیانو یوسړې او یوه ښځه رجم کړي وو چه زنا ئې کړي وه.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَزْنِي بِحَرِيمِهِ

باب د محرماتو سره د زنا کولو د سزا بیان

او د دې نه پس باب راځي باب الرجل یزنی بجاریة امرأته، په هر دوه بابونو کښې چه مصنف رحمه الله کوم حدیث راوړې دي هغه د حنابله مستدل دي، مصنف رحمه الله هم حنبلی دي.

مذاهب ائمه :

که یو سړې خپل محرمې زنانه سره نکاح اوکړی نو د امام احمد رحمه الله په نزد دا ده چه انه یقتل کما فی حدیث الباب، او د شوافعو او د مالکیانو په نزد به په هغه باندې د قاعدې مطابق حد جاری کیږي (د محصن کیدو په صورت کښې او که غیر محصن وی نو جلد) او هم دا رائې ده د صاحبینو، او د امام صاحب په نزد په دې کښې تعزیر دي اشد التعزیر لاجل الشبهة بسبب النکاح، اگر چه نکاح صحیح نه دې، والحدیث عند الجمهور محمول علی المستحل فلذا قتل لاجل الارتداد.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۲۳۴۶، ۱۸۴۰۲، ۱۸۸۷۱) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۲۳۴۶، ۱۸۸۷۱، ۱۸۴۰۲)

[3]: صحيح مسلم/الحدود ۶ (۱۷۰۱)، (تحفة الأشراف: ۲۸۱۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۲۱، ۳۸۶) (صحيح)

[٤٤٥٦](1) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا مُطَرِّفٌ، عَنْ أَبِي الْجَهْمِ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "بَيْنَا أَنَا أَطُوفُ عَلَى إِبِلٍ لِي ضَلَّتْ إِذْ أَقْبَلَ رَكْبٌ أَوْ فَوَارِسُ مَعَهُمْ لِوَاءٌ، فَجَعَلَ الْأَعْرَابُ يَطِيفُونَ بِي لِمَنْزِلَتِي مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذْ أَتَوْا قُبَّةً فَاسْتَخْرَجُوا مِنْهَا رَجُلًا فَضَرَبُوا عُنُقَهُ، فَسَأَلْتُ عَنْهُ فَذَكَرُوا أَنَّهُ أَعْرَسَ بِامْرَأَةِ أَبِيهِ".

دبراء بن عازب رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زما اوښان ورک شوي وو اوزه دهغوی په تالاش پسې وتلې وم چه په دې دوران کښې يوڅوسواره کسان را ورسيدل اوددوی سره يوه جهنډا وه اوباندچيان زمانه چاپيره ګرځيدل ، زمادهغه مقام په وجه چه ماته دنبی علیه السلام دقربت په وجه حاصل وو، بياهغه خلق يوې تبې ته ورغلل اودهغې نه ئې يوسړې راوويستلو او دهغه سرئې کټ کړو، پدې باره کښې ماددوی نه تپوس وکړوهغوی ووئيل چه ده دخپلې مورسره زنا کړې وه.

مضمون الحديث :

قوله: ﴿ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ بَيْنَا أَنَا أَطُوفُ عَلَى إِبِلٍ لِي ضَلَّتْ إِذْ أَقْبَلَ رَكْبٌ أَوْ فَوَارِسُ مَعَهُمْ لِوَاءٌ ﴾ سيدنا براء رضی الله عنه فرمائی چه زما اوښ کوم چه ورک شوې وو زه د هغې په لټون کښ ګرځيدم چه ناڅاپه زما مخې ته يو جماعت د سورو کسانو راغلو چه هغوی سره جهنډه هم وه (چه د هغې نه معلومه شوه چه دا دسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طرف نه راليږلې شوې ده ځکه چه جهنډه د امارت علامت دې) ډير اعراب او باندچيان زما نه خواوشا جمع شو زما د هغه مرتبې او قرب د وجې نه کومه چه مې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وه، پس ناګهانه هغه دسته د سورو کسانو يو قبې ته اورسيده او د هغې نه ئې يو سړې راويستلو او د هغه سټ ئې اوهلو، دلته د دې روايت په سياق کښ څه تقديم او تاخير معلوميږی، ځکه چه د ﴿ فجعل الاعراب ﴾ تعلق د جمله سابقه ﴿اذا قبل ركب ﴾ سره هيڅ هم نشته هم دغه شان وړاندې ﴿ اذا تواقبتة﴾ کښ ضمير اقرب يعنی د اعراب طرف ته نه واپس کيږی بلکه د دې تعلق د رکب سره دې.

د دې روايت په سياق او الفاظو کښ ډير اختلاف دې د ترمذی او نسائی وغيره په رواياتو کښ لکه څنګه چه په بذل کښ ذکر دی ﴿ فسالت عنه ﴾ سيدنا براء رضی الله عنه فرمائی چه ما د هغوی نه د دې قتل سبب معلوم کړو نو هغوی اووې چه دې سړی د خپلې ميرنئ مور سره نکاح کړې وه، يعنی د جاهليت د زمانې د دستور مطابق چه د پلار د مرګ نه پس به د هغه مشر ځوی د مور سره نکاح کوله، غالبا هغه هم داسې جائز او حلال ګنړلو سره اوکړل چه د هغې په وجه باندې هغه مرتد شو، وفی الابواب والتراجم ٢٢٢/٦ فی "باب رجم المحصن" قال الحافظ : وأشهر حديث في الباب حديث البراء لقيت خالي ومعه الراية فقال بعثني رسول الله صلى الله عليه و سلم إلى رجل تزوج امراة ابيه ان أضرب عنقه أخرجه أحمد وأصحاب السنن وفي سنده اختلاف كثير اهـ قال ابن قدامة : وَإِنْ تَزَوَّجَ ذَاتَ مَحْرَمٍ ، فَالنِّكَاحُ بَاطِلٌ بِالْإِجْمَاعِ فَإِنْ وَطِئَهَا ، فَعَلَيْهِ الْحَدُّ فِي قَوْلِ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ ؛ مِنْهُمْ الْحَسَنُ ، وَجَابِرُ بْنُ زَيْدٍ وَمَالِكٌ ، وَالشَّافِعِيُّ ، وَأَبُو يُوسُفَ ،

(1): سنن الترمذي/الأحكام ٢٥ (١٣٦٢)، سنن النسائي/النكاح ٥٨ (٣٣٣٣)، سنن ابن ماجه/الحدود ٣٥ (٢٦٠٧)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٣٤، ١٧٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٢/٤، ٢٩٥، ٢٩٧)، سنن الدارمي/النكاح ٤٣ (٢٢٨٥) (صحيح)

وَمُحَمَّدٌ ، وَإِسْحَاقُ، وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ ، وَالثَّوْرِيُّ : لَا حَدَّ عَلَيْهِ ؛ لِأَنَّهُ وَطِئَ تَمَكَّنَتْ الشُّبْهَةُ مِنْهُ ، فَلَمْ يُوجِبْ الْحَدَّ، ثم قال وإِذَا ثَبَتَ هَذَا ، فَاخْتُلِفَ فِي الْحَدِّ ، فَرُوِيَ عَنْ أَحْمَدَ أَنَّهُ يُقْتَلُ عَلَى كُلِّ حَالٍ، وَالرِّوَايَةُ الثَّانِيَةُ ، حَدُّهُ حَدُّ الزَّانِي وَبِهِ قَالَ الْحَسَنُ ، وَمَالِكٌ ، وَالشَّافِعِيُّ ؛ لِعُمُومِ الْآيَةِ وَالْخَبَرِ، وَالْقَوْلُ فِي مَنْ زَنَى بِذَاتِ مَحْرَمِهِ مِنْ غَيْرِ عَقْدٍ ، كَالْقَوْلِ فِي مَنْ وَطِئَهَا بَعْدَ الْعَقْدِ الى اخر ما بسط ﴾ وفي الهداية : ومن تزوج امرأة لا يحل له نكاحها فوطئها لا يجب عليه الحد عند أبي حنيفة رحمه الله ولكن يوجع عقوبة إذا كان علم بذلك وقال أبو يوسف ومحمد والشافعي رحمهم الله عليه الحد إذا كان عالما بذلك لأنه عقد لم يصادف محله فيلغو اهـ ﴾

(مذاهب ائمه)

معلومه شوه چه په دې مسئله کښې درې مذاهب شو يو د امام احمد يعنې د قتل لکه چه په حديث الباب کښې دی، دويم د امام شافعی [1] او د صاحبينو چه په هغه باندې حد د زنا دې، او دريم د امام صاحب چه په دې کښې تعزير دې، او د موفق په کلام کښې هم تير شوی دی چه په دې مسئله کښې نکاح او عدم نکاح دواړه برابر دی، يعنی که دا وطی د عقد نه پس وی او که بغير د عقد نه وی خو دا د موفق په کلام کښې دی کوم چه حنبلي دې خو زمونږ په نزد دا په هغه صورت کښې ده چه کله وطی بعد العقد وی ځکه چه شبهه خو د عقد د وجې نه پيدا شوې ده هم په دې وجه حد ساقط شوی دې، او که بغير د عقد نه ئې هغې سره وطی اوکړه نو بيا به حد جاری کيږی پس په شامی کښې دی :

﴿ تَزَوَّجَ امْرَأَةً مِمَّنْ لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا فَدَخَلَ بِهَا لَا حَدَّ عَلَيْهِ وَإِنْ فَعَلَهُ عَلَى عِلْمٍ لَمْ يُحَدَّ أَيْضًا وَيُوجَعُ عُقُوبَةً فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وقال ان علم بذلک فعليه الحد فی ذوات المحارم اهـ ﴾

هم دغه شان په درمختار کښې دی ولا حد ايضا بشبهة العقد ای عقد النکاح عند الامام کوطئ محرم نکحها وقالا ان علم الحرمة حد وعليه الفتوی.

د جمهورو د طرف نه د حديث جواب پورته تير شو چه د هغوی په نزد دا په مستحل باندې محمول دې، او د جمهورو د مذهب دليل دا آيت کريمه دې : ﴿ الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا الاية ﴾ او هم دغه شان هغه حديث کوم چه په شروع کښې تير شوې دې ﴿ الثيب بالثيب جلد مائة والرجم الحديث ﴾ ځکه چه دا نکاح باطل او کالعدم دې لهذا زنا کيدل په دې باندې صادق شو.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[٤٤٥٧] ([2]) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ قُسَيْطٍ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْبَرَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: لَقِيتُ عَمِّي وَمَعَهُ رَايَةٌ، فَقُلْتُ لَهُ: أَيْنَ تُرِيدُ، قَالَ: "بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةَ أَبِيهِ، فَأَمَرَنِي أَنْ أَضْرِبَ عُنُقَهُ وَآخُذَ مَالَهُ".

دبراء بن عازب رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ما دخپل تره سره ملاقات وکړو اودهغه سره يو جنډه وه ما ورته ووئيل چرته ځې؟ هغه ووئيل نبی عليه السلام په يو کس پسې ليږلې يم چاچه دمورسره بدفعلی کړې ده ماته ئې حکم کړې دې چه سرئې پريکړم اومال ئې واخلم.

[1]) وهو رواية عن احمد كما تقدم عن الموفق)
[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٥٥٣٤) (صحيح)

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَزْنِي بِجَارِيَةِ امْرَأَتِهِ

بابه څوک چه د خپلې ښځې د وینځې سره زنا اوکړی دهغې بیان

[٤٤٥٨]([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ عُرْفُطَةَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ سَالِمٍ، أَنَّ رَجُلًا يُقَالُ لَهُ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ حُنَيْنٍ وَقَعَ عَلَى جَارِيَةِ امْرَأَتِهِ، فَرُفِعَ إِلَى النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ وَهُوَ أَمِيرٌ عَلَى الْكُوفَةِ، فَقَالَ: "لَأَقْضِيَنَّ فِيكَ بِقَضِيَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنْ كَانَتْ أَحَلَّتْهَا لَكَ جَلَدْتُكَ مِائَةً، وَإِنْ لَمْ تَكُنْ أَحَلَّتْهَا لَكَ رَجَمْتُكَ بِالْحِجَارَةِ". فَوَجَدُوهُ أَحَلَّتْهَا لَهُ فَجَلَدَهُ مِائَةً. قَالَ قَتَادَةُ: كَتَبْتُ إِلَى حَبِيبِ بْنِ سَالِمٍ فَكَتَبَ إِلَيَّ بِهَذَا.

دحبیب بن سالم رحمه الله نه روایت دي فرمائی چه دعبدالرحمن بن حنین په نوم باندې یوکس دخپلې ښځې دوینځې سره زنا وکړله نودامقدمه نعمان بن بشیرته پیش شوه اوهغه دکوفې امیروو، هغه ووئیل ضروربه زه په تاسوکښې درسول الله فیصله کوم، که چرې ستا ښځې خپله وینځه ستادپاره حلاله کړې وی نو په سلودروباندې به دې وهم اوکه چرې داسې نه وي نو په کاڼړو باندې بدې رجم کړم نو معلومه شوه چه دهغه ښځې دده دپاره حلاله کړې وه نو په سلودرو ئې ووهلو، قتاده وائی په دې باره کښې مې حبیب بن سالم ته ولیکل نوهغه راته همداحدیث لیکل شوي راولیږلو

قوله: ﴿ عَنْ حَبِيبِ بْنِ سَالِمٍ أَنَّ رَجُلاً يُقَالُ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ حُنَيْنٍ وَقَعَ عَلَى جَارِيَةِ امْرَأَتِهِ فَرُفِعَ إِلَى النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ وَهُوَ أَمِيرٌ عَلَى الْكُوفَةِ فَقَالَ لأَقْضِيَنَّ فِيكَ بِقَضِيَّةِ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم الخ ﴾ یعنی کوم سړی چه د خپلې ښځې د وینځې سره وطی کړې وه د هغه په باره کښې نعمان بن بشیر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د فیصلې مطابق دا فیصله اوکړه چه د هغه د ښځې نه دې معلومه کړې شی چه که هغه داسې اوائی چه زما د طرف نه د دې وطی اجازت دې نو بیا خو به سل کوړې د هغه سزا وی او که د هغې د طرف نه اجازت نه وی نو بیا د دې سزا رجم دې، پس د هغه د ښځې نه معلومه کړې شوه نو هغې اووې چه زما د طرف نه اجازت وو پس هغه ته سل کوړې ورکړې شوې.

[٤٤٥٩]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ عُرْفُطَةَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ سَالِمٍ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّجُلِ يَأْتِي جَارِيَةَ امْرَأَتِهِ، قَالَ: "إِنْ كَانَتْ أَحَلَّتْهَا لَهُ جُلِدَ مِائَةً، وَإِنْ لَمْ تَكُنْ أَحَلَّتْهَا لَهُ رَجَمْتُهُ".

نعمان بن بشیردنبی علیه السلام نه دهغه کس په باره کښې روایت بیان کړې دې څوک چه دخپلې ښځې دوینځې سره کوروالي وکړي، نبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې ښځې دخپل خاوند دپاره خپله وینځه حلاله کړې وی نو په سلودروباندې به وهلې شي، اوکه چرې داسې نه وي نورجم کولې به شي.

[1]): سنن الترمذي/الحدود ٢١ (١٤٥١)، سنن النسائي/النكاح ٧٠ (٣٣٦٢)، سنن ابن ماجه/الحدود ٨ (٢٥٥١)، (تحفة الأشراف: ١١٦١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٧٢، ٢٧٦، ٢٧٧)، دي /الحدود ٢٠ (٢٣٧٤) (ضعيف)

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٦١٣) (ضعيف)

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة :

په دې مسئله کښې مذاهب ائمه دا دی چه د امام احمد رحمه الله مسلک خو هم هغه دې کوم چه په حديث الباب کښې تير شو يعنی په يو صورت کښې صرف جلد او په يو صورت کښې رجم، او د شوافعو او مالکيانو په نزد به د قاعدې مطابق حد جاری کولې شی د تحليل او عدم تحليل اعتبار نشته، او د احنافو مسلک دا دې چه که هغه دا کار حلال گنړلو سره کړې وی نو بيا خو به حد ساقط شی او د شبهې د وجې نه به د تعزير مستحق وی او که وطی ئې د حرام گنړلو باوجود کړې وی نو بيا به په هغه باندې حد وی، د جمهورو د طرف نه د حديث الباب جواب دا دې چه امام ترمذی رحمه الله فرمائی د دې په سند کښې اضطراب دې، او امام خطابی رحمه الله فرمائی چه دا حديث غير متصل دې، وفی الاوجز ۵۲/۶ حديث النعمان بن بشير ضعفه المحدثون، قال الترمذی فی اسناده اضطراب سمعت محمدا يعنی البخاری : يقول لم يسمع قتادة من حبيب، وابوالبشر لم يسمعه ايضا من حبيب بن ابی ثابت وسالت محمد بن اسماعيل عنه فقال انا انفی هذا الحديث (وفی المنذری انا اتقی هذا الحديث) وقال النسائی هو مضطرب كما حكاه عنه ابن القيم فی الهدی كذا ضعفه البيهقی وغيره والحديث الذی ذكره ابن عبدالبر اخرجه ابوداؤد عن سلمة بن المحبق، قال النسائی لا يصح هذا الحديث، وقال ابوداؤد سمعت احمد بن حنبل يقول الذی رواه عن سلمة بن المحبق شيخ لا يعرف - الی اخر ما فی الاوجز ۵۲/۶... دا د سلمه بن المحبق حديث وړاندې په کتاب کښې راځی.

[۴۴۶۰]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبِّقِ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي رَجُلٍ وَقَعَ عَلَى جَارِيَةِ امْرَأَتِهِ: إِنْ كَانَ اسْتَكْرَهَهَا فَهِيَ حُرَّةٌ وَعَلَيْهِ لِسَيِّدَتِهَا مِثْلُهَا، فَإِنْ كَانَتْ طَاوَعَتْهُ فَهِيَ لَهُ وَعَلَيْهِ لِسَيِّدَتِهَا مِثْلُهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، وَعَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، وَمَنْصُورُ بْنُ زَاذَانَ، وَسَلَّامٌ عَنِ الْحَسَنِ، هَذَا الْحَدِيثَ بِمَعْنَاهُ، لَمْ يَذْكُرْ يُونُسُ، وَمَنْصُورٌ قَبِيصَةَ.

د سلمه بن محبق نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام د هغه کس په حق کښې د افيصله کړې وه چاچه د خپلې ښځې د وينځې سره جماع کړې وه ، او هغه داسې که چرې جماع ئې ورسره په زورباندې کړې وی نو وينځه آزاده ده او په ده باندې دې وينځې مالې ته داسې وينځه ورکول لازم شول او که چرې هغې په رضاباندې دده سره جماع کړې وی نو دا وينځه دده شوه او په ده باندې ددې د مالې دپاره ددې وينځې په برابر تاوان ورکول لازم دي. امام ابوداؤد فرمائی چه دا روايت يونس بن عبيد اوعمروبن دينار او منصور بن زاذان اوسلام دحسن نه ددې په شان بيان کړې دې، اويونس اومنصور په خپل روايت کښې د قبيصه ذکرندې کړې.

قوله: ﴿ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبِّقِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَضَى فِي رَجُلٍ وَقَعَ عَلَى جَارِيَةِ امْرَأَتِهِ إِنْ كَانَ اسْتَكْرَهَهَا فَهِيَ حُرَّةٌ وَعَلَيْهِ لِسَيِّدَتِهَا مِثْلُهَا فَإِنْ كَانَتْ طَاوَعَتْهُ فَهِيَ لَهُ وَعَلَيْهِ لِسَيِّدَتِهَا مِثْلُهَا ﴾ يعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه سړی په باره کښې چا چه د خپلې ښځې د وينځې سره وطی کړې وه

(): سنن النسائي/النكاح ۷۰ (۳۳۶۵)، سنن ابن ماجه/الحدود ۸ (۲۵۵۲)، (تحفة الأشراف: ۴۵۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۷۶/۳، ۵/۶) (ضعيف)

دا فیصله اوفرمائیله چه که هغه د وینځې سره وطی جبرا کړې وی نو بیا به هغه وینځه آزاده شی او د دې واطی دپاره به د هغې وینځې د مالکې په ضمان کښې هم د دې په شان وینځه واجب وی، او که هغه دې وینځې سره وطی د هغې په رضا باندې کړې ده نو هغه وینځه به د واطی دپاره شی او په دې واطی باندې به هم هغه شان وینځه واجب وی د مالکې دپاره، د دې حدیث په باره کښې امام خطابی فرمائی: ﴿ لا اعلم احدا من الفقهاء یقول به، وفیه امور یخالف الاصول الی آخر ما فی البذل ﴾ یعنی د دې حدیث یو فقیه هم قائل نه دې، او په دې کښې ډیر څیزونه د اوصولو خلاف دی، او په حاشیه د بذل کښې دی: وما ل ابن القیم فی الهدی ١/١٩١ الی تصحیح هذا الحدیث وقال قواعد الشرع تقتضیه وضعف حدیث سلمة بن المحبق الآتی وبسط الکلام علیهما.

[٤٤٦١]([1])حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ الدِّرْهَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبِّقِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: وَإِنْ كَانَتْ طَاوَعَتْهُ فَهِيَ وَمِثْلُهَا مِنْ مَالِهِ لِسَيِّدَتِهَا.

سلمه بن محبق د نبی ﷺ نه دتیر شوي روایت په شان روایت بیان کړې دې مګر دد دې اضافي سره چه که چرې وینځې په خوشئ سره صحبت کړې وی نو هغه وینځه او دهغې په شان یوه بله وینځه به ښځې ته دخاوند دمال نه ورکولې شي.

حدیث النعمان بن بشیر رضی الله عنه اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، وحدیث سلمة بن المحبق اخرجه النسائی، وقال لاتصح هذه الاحادیث

وحدیث الحسن اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

بَابٌ فِيمَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ

د لواطت د حرمت بیان

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة:

لواطت د جمهورو په نزد د زنا په حکم کښې دې لهذا په هغې باندې به حد زنا جاری کیږی، پس که محصن وی نو رجم کیږی به او که غیر محصن وی نو جلد، د امام شافعی او د صاحبینو رحمهم الله مسلک هم دا دې، او د امام مالک رحمه الله په نزد د هغې حد مطلقا رجم دې، او د امام احمد رحمه الله په دې کښې دوه روایتونه دی یو د امام مالک رحمه الله په شان یعنی مطلقا د رجم، او دویم په مثل د شافعی، او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد لواطت د زنا په حکم کښې نه دې په دې وجه د هغوی په نزد په دې کښې صرف تعزیر دې، وفی حاشیة الترمذی من عمل عمل قوم لوط فلا حد علیه عند ابی حنیفة ولکنه یعزر ویسجن حتی یموت او یتوب ولو اعتاد اللواطة قتله الامام محصنا کان او غیر محصن سیاسة، وقالا ای الصاحبان هو کالزنا فیحد جلدا ان لم یکن احصن، ورجما ان احصن ولابی حنیفة انه لیس بزنا ولا فی معناه فلا یثبت فیه حده، وذلک لان الصحابة اختلفوا فی موجبه ومنهم من اوجب التحریق بالنار ومنهم من قال یهدم علیه الجدار، ومنهم من نکسه من مکان مرتفع مع اتباع الحجارة فلو کان زنا او فی معناه لم یختلفوا...

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٥٥٩) (ضعیف)

[٤٤٦٢](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو مِثْلَهُ، وَرَوَاهُ عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَفَعَهُ، وَرَوَاهُ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ الْحُصَيْنِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَفَعَهُ.

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه رسول اكرم فرمائيلي دي هرهغه كس څوك چه تاسو دقوم لوط په عمل باندې وليدو نوفاعل او مفعول دواړه قتل كړئ ، امام ابوداؤد فرمائي چه دا روايت عمرو بن ابى عمرو په همدې سند سره بيان كړې دې او عباد بن منصور دعكرمه نه اوهغه دابن عباس په واسطه مرفوعا بيان كړې دې او ابن جريج دابراهيم نه هغه د داود نه هغه دعكرمه نه اوهغه دابن عباس په واسطه مرفوعا بيان كړې دې.

﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ » ﴾ او د دې نه په روستو روايت كښې داسې دى : ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي الْبِكْرِ يُوجَدُ عَلَى اللُّوطِيَّةِ قَالَ يُرْجَمُ ﴾

[٤٤٦٣](٢) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ رَاهَوَيْهِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ خُثَيْمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ، وَمُجَاهِدًا يُحَدِّثَانِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "فِي الْبِكْرِ يُؤْخَذُ عَلَى اللُّوطِيَّةِ، قَالَ: يُرْجَمُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَدِيثُ عَاصِمٍ يُضَعِّفُ حَدِيثَ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه كه چرې يونوجوان لوند په بچه بازى كښې ونيولې شي نورجم كولې بشي.

اول حديث مرفوع وو او دا موقوف، بله دا چه په اول روايت كښې د قتل لفظ وو او په دې كښې د رجم، ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ حَدِيثُ عَاصِمٍ يُضَعِّفُ حَدِيثَ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو ﴾ دا عبارت دلته بې محل دې، د عمرو بن ابى عمرو او عاصم د دواړو احاديث په راروان باب، باب من اتى بهيمة كښې را روان دې، حافظ منذرى هم په دې باندې دا اشكال كړې دې، د عمرو بن ابى عمرو حديث خو دا دې :

(٣) (٤) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَاقْتُلُوهُ وَاقْتُلُوهَا مَعَهُ، قَالَ: قُلْتُ لَهُ: مَا شَأْنُ الْبَهِيمَةِ؟ قَالَ: مَا أَرَاهُ قَالَ ذَلِكَ، إِلَّا أَنَّهُ كَرِهَ أَنْ يُؤْكَلَ لَحْمُهَا وَقَدْ عُمِلَ بِهَا ذَلِكَ الْعَمَلُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَيْسَ هَذَا بِالْقَوِيِّ.

(١): سنن الترمذي/الحدود ٢٤ (١٤٥٦)، سنن ابن ماجه/الحدود ١٢ (٢٥٦١)، (تحفة الأشراف: ٦١٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٦٩، ٣٠٠) (حسن صحيح)

(٢): انظر ما قبله (صحيح الإسناد)

(٣) دا او وروسته حديث دا دواړه په راروان باب كښې موجود دى. دلته ددې احاديثو ذكر شوې وو نو څكه نقل كړې شو. مترجم

(٤): انظر حديث رقم (٤٤٦٢)، (تحفة الأشراف: ٦١٧٦) (حسن صحيح)

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلى دى چاچه دځناورسره جماع وكړله نوهغه لره مړ كړئ اوهغه ځاروي هم مهكړئ عكرمه وائى چه ماد ابن عباس نه تپوس وكړوچه ددې ځاروي څه قصوردي؟ عكرمه په خپله وائى چه زما خيال دي چه هغه داخبره په دې وجه وكړه چه دكوم ځناورسره بدفعلي شوي وي نو ابن عباس دهغه غوښه خوړل ښه نه ګڼړي.

قوله: ﴿ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَاقْتُلُوهُ وَاقْتُلُوهَا مَعَهُ » ﴾ او د عاصم حديث داسې دې:

[٤٤٦٥]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، أَنَّ شَرِيكًا، وَأَبَا الأَحْوَصِ، وَأَبَا بَكْرِ بْنَ عَيَّاشٍ، حَدَّثُوهُمْ عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي رَزِينٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَيْسَ عَلَى الَّذِي يَأْتِي الْبَهِيمَةَ حَدٌّ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا قَالَ عَطَاءٌ، وَقَالَ الْحَكَمُ: أَرَى أَنْ يُجْلَدَ وَلَا يُبْلَغَ بِهِ الْحَدَّ، وَقَالَ الْحَسَنُ: هُوَ بِمَنْزِلَةِ الزَّانِي، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَدِيثُ عَاصِمٍ يُضَعِّفُ حَدِيثَ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو.

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چاچه دځناورسره بدفعلي وكړله نوپه هغه باندې حد نشته. امام ابوداؤد فرمائي چه عطاء هم دا روايت په دې سندسره بيان كړې دې اوحكم وئيلي دى چه داكس به په درو وهلي شي ليكن دحد ددرونه كم، حسن وئيلي دى چه دداسې كس سزا دزناكاردسزاپه شان ده. امام ابوداؤد وئيلي دى چه دعاصم روايت دعمرو د روايت تضعيف كوي.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي رَزِينٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَيْسَ عَلَى الَّذِي يَأْتِي الْبَهِيمَةَ حَدٌّ ﴾

په دواړو كښې مخالفت ښكاره دې چه په اول حديث كښې د اتيان بهيمة سزا ذكر ده يعنى قتل او په بل حديث كښې د مطلقا حد نفى ده، بله دا چه دا د ابن عباس رضي الله عنهما حديث موقوف دې ګويا دا د هغوى خپله رائې او فتوى ده، هم په دې وجه مصنف رحمه الله فرمائي چه د عاصم په حديث سره د حديث عمرو تضعيف كيږى، زمونږ دا خبره د حافظ منذرى د رائې سره خو موافق ده خو د حضرت ګنګوهي په تقرير كښې بل څه دى چه د هغوى په رائې كښې دا ﴿ قال ابوداؤد ﴾ بې محل نه دې او د هغې وجه دا ده چه په اصل كښې د عمرو بن ابى عمرو دوه احاديث دى يو په اول باب كښې چه په هغې كښې د لواطت ذكر دې او يو د عمرو بن ابى عمرو حديث هغه دې كوم چه به په راروان باب ﴿ باب فيمن اتى بهيمة ﴾ كښې راروان دې نو حضرت د مصنف رحمه الله په كلام كښې د عمرو بن ابى عمرو د حديث نه د مخكښې باب والا حديث مراد كړې دې چه د هغې مضمون دا دې چه په لواطت كښې فاعل او مفعول به دواړه قتل كړې شى، او د عاصم د حديث مضمون خو دا دې چه د ابن عباس خپل قول دې ﴿ ليس على الذى ياتى البهيمة حد ﴾ نو حضرت فرمائي چه هر كله د ابن عباس رضي الله عنهما په نزد د اتيان بهمية په صورت كښې حد نشته نو بيا به د هغوى په نزد په لواطت كښې هم حد نه دى كيدل پكار ځكه چه قضاء الشهوة فى غير محل الحرث په دواړو ځايونو كښې موندلې شي، لهذا د اول باب حديث د ابن عباس رضي الله عنهما د رائې خلاف شو او ګويا دې دويم حيث راتلو سره د اول

(): سنن الترمذي/الحدود ٢٣ (١٤٥٥)، انظر حديث رقم (٤٤٦٢)، (تحفة الأشراف: ٦١٧٦) (حسن)

باب د حديث تضعيف اوكړو، خو زمونږ په نزد ظاهره د شارحينو رائې ده. (۱) منذري وغيره او په دې كتاب كښې يعنى په سنن ابى داؤد كښې نور هم داسې په بعض ځايونو ګښې شوى دى چه د قال ابوداؤد ذكر فى غير محله شوې دې زمونږ په ذهن كښې د دې مثالونه شته يو ځائې په كتاب الحج كښې داسې شوې دى او يو ځائې په كتاب الصلوة كښې په ابواب صلوة الخوف كښې...... والله تعالى اعلم.

بَابٌ فِيمَنْ أَتَى بَهِيمَةً

باب: د ځاروو سره د بدكارئ كولو د سزا بيان

د دې باب دواړه احاديث د دې نه مخكښې باب كښې نقل شوى دى. چه د هغې مضمون دا دې چه كوم سړى د يو حيوان سره بدفعلي اوكړه نو بد فعلي كونكې او هغه حيوان دواړه قتل كړئ، او بيا د شاګرد په تپوسلو باندې د قتل حيوان مصلحت ابن عباس رضي الله عنهما دا بيان كړو چه كيدې شى په دې وجه چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خوښه نه وه چه د داسې حيوان غوښه دې اوخوړلې شى د كوم سره چه دا ګنده كار كړې شوې دې، شراح د دې نور هم ډير مصلحتونه ليكلى دى مثلا دا چه چرته داسې اونشى چه د دې فعل نه پس د دې ځاروى داقسم بچې پيدا شى كوم چه د دې ځناور مشابه وى، او وئيلې شوې دى چه كه هغه حيوان ژوندې وو نو ترڅو چه په هغه باندې نظر پريوځى نو د هغه فعل تصور او تذكره به كيږى، او د هغه فاعل د شرمندګئ باعث به وى.

[۴۴۶۴](۲)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَاقْتُلُوهُ وَاقْتُلُوهَا مَعَهُ، قَالَ: قُلْتُ لَهُ: مَا شَأْنُ الْبَهِيمَةِ؟ قَالَ: مَا أُرَاهُ قَالَ ذَلِكَ، إِلَّا أَنَّهُ كَرِهَ أَنْ يُؤْكَلَ لَحْمُهَا وَقَدْ عُمِلَ بِهَا ذَلِكَ الْعَمَلُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَيْسَ هَذَا بِالْقَوِيِّ.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى چاچه دځناورسره جماع وكړله نوهغه لره مړ كړئ اوهغه ځاروي هم مهكړئ عكرمه وائى چه ماد ابن عباس نه تپوس وكړوچه ددې ځاروي څه قصوردي؟ عكرمه په خپله وائى چه زما خيال دي چه هغه داخبره په دې وجه وكړه چه دكوم ځناورسره بدفعلي شوي وي نو ابن عباس دهغه غوښه خوړل ښه نه ګڼړي.

[۴۴۶۵](۳)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، أَنَّ شَرِيكًا، وَأَبَا الْأَحْوَصِ، وَأَبَا بَكْرِ بْنَ عَيَّاشٍ، حَدَّثُوهُمْ عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي رَزِينٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَيْسَ عَلَى الَّذِي يَأْتِي الْبَهِيمَةَ حَدٌّ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا قَالَ عَطَاءٌ، وَقَالَ الْحَكَمُ: أَرَى أَنْ

---

(۱) ځكه چه حضرت د عمرو بن ابى عمرو د حديث نه مخكښې باب والا حديث مراد اخلى نو مصنف رحمه الله د هغې تضعيف څنګه كولې شى ځكه چه مصنف رحمه الله د عمرو بن ابى عمرو د اول حديث د هغې په متابعاتو او د نورو طرقو په ذريعه په اول باب كښې تقويت بيان كړې وو، پس مصنف رحمه الله هلته وئيلې وو قال ابوداؤد رواه سليمان بن بلال عن عمرو بن ابي عمرو ومثله ورواه عباد بن منصور عن كرمة عن ابن عباس رفعه، ورواه ابن جريج عن ابراهيم عن داؤد بن الحصين عن عكرمة عن ابن عباس رفعه)

(۲): انظر حديث رقم (۴۴۶۲)، (تحفة الأشراف: ۶۱۷۶) (حسن صحيح)

(۳): سنن الترمذي/الحدود ۲۳ (۱۴۵۵)، انظر حديث رقم (۴۴۶۲)، (تحفة الأشراف: ۶۱۷۶) (حسن)

يُجْلَدَ وَلَا يُبْلَغُ بِهِ الْحَدَّ، وقَالَ الْحَسَنُ: هُوَ بِمَنْزِلَةِ الزَّانِي، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَدِيثُ عَاصِمٍ يُضَعِّفُ حَدِيثَ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو.

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چاچه دخناورسره بدفعلی وکړله نوپه هغه باندې حد نشته. امام ابوداؤد فرمائی چه عطاء هم دا روايت په دې سندسره بيان کړې دې اوحکم وئيلی دی چه داکس به په درو وهلې شي ليکن دحد ددرونه کم، حسن وئيلی دی چه دداسې کس سزا دزناکاردسزاپه شان ده. امام ابوداؤد وئيلی دی چه دعاصم روايت دعمرو د روايت تضعيف کوي.

توضيح: د دې نه پس دا پيژندل پکار دی چه په اتيان بهيمه کښې د جمهور علماء او ائمه اربعه مذهب صرف تعزير دې د چا په نزد هم په دې کښې حد نشته، پس په بذل کښې دی فذهب الائمة الاربعة الى ان من اتى بهيمة يعزر ولا يقتل، والحديث محمول على الزجر والتشديد اهـ خو په حاشيه د بذل کښې دی چه د امام احمد په يو روايت کښې د دې حکم په مثل د لواطت دې کما فی الهدی لابن القيم (ينظر احكام القرآن ٣/٢٦٣)

بَاب إِذَا أَقَرَّ الرَّجُلُ بِالزِّنَا وَلَمْ تُقِرَّ الْمَرْأَةُ

باب چه سړې د زنا اقرار اوکړی او ښځه ئې او نه کړی دهغې بيان

[٤٤٦٦] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَفْصٍ، حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ فَأَقَرَّ عِنْدَهُ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ سَمَّاهَا لَهُ، فَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَرْأَةِ، فَسَأَلَهَا عَنْ ذَلِكَ فَأَنْكَرَتْ أَنْ تَكُونَ زَنَتْ، فَجَلَدَهُ الْحَدَّ وَتَرَكَهَا".

سهل بن سعد دنبی کريم صلى الله عليه وسلم نه روايت کوی فرمائی چه نبی عليه السلام ته يوکس راغي اودنبی عليه السلام په وړاندې ئې دزنې اقراروکړواوديوې ښځې نوم ئې واخستوچه دفلانئ سره مې زنا کړې ده نونبی عليه السلام په هغه زنانه پسې څوک وليږل اودهغې نه ئې تپوس وکړوددې کاريه باره کښې هغې دزنې کولونه انکار وکړو نونبی عليه السلام سړې په درو ووهلو اوښځه ئې پريخودله.

﴿ أَنَّ رَجُلاً أَتَاهُ فَأَقَرَّ عِنْدَهُ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ سَمَّاهَا لَهُ الخ ﴾

دا د سهل بن سعد رضي الله عنه حديث مرفوع دې چه يو سړی د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې راتلو سره د يوې زنانه نوم واخستلو او هغې سره ئې د زنا اقرار اوکړو، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ښځې ته سړې اوليږلو او د هغې نه ئې معلومه کړه نو هغې د زنا نه انکار اوکړو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه زانی اقرار کوونکی باندې د سلو کوړو حد جاری کړو (هغه به غير محصن وو) او زنانه ئې په خپل حال باندې پريخودله هغې سره ئې هيڅ کار اونه لرلو، په ظاهر کښې په دې وجه چه هغې د قذف مطالبه نه وه کړې، که مطالبه ئې کړې وه نو په دې زانی باندې به حد قذف هم جاری کړې شوې وې او دا هم ممکنه ده چه هغې د قذف مطالبه کړې وی، او په هغه سړی باندې حد قذف هم جاری کړې شوې وو خو راوی د هغې ذکر اونکړو. (بذل) په بذل کښې خو صرف هم دومره دی.

(١): انظر حديث رقم: (٤٤٣٧)، (تحفة الأشراف: ٤٧٠٥) (صحيح)

مسئله مترجم بها کښې مذاهب ائمه :

خو حضرت په حاشیه د بذل کښې په ترجمة الباب والا مسئله کښې د جمهورو او د احنافو اختلاف نقل کړې دې هغه دا چه په دې صورت کښې په اقرار کونکي باندې حد د جمهورو او د صاحبین په نزد دې او د امام صاحب په نزد نشته، پس په در مختار کښې دي : (ويثبت أيضا (بإقراره) صريحا صاحيا ولم يكذبه الآخر قال ابن عابدين ۱۴۳/۳ فَلَوْ أَقَرَّ بِالزِّنَا بِفُلَانَةٍ فَكَذَّبَتْهُ دُرِئَ الْحَدُّ عَنْهُ سَوَاءٌ قَالَتْ تَزَوَّجَنِي أَوْ لَا أَعْرِفُهُ أَصْلًا ، وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ إنْ ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ ، وَإِنْ أَقَرَّتْ بِالزِّنَا بِفُلَانٍ فَكَذَّبَهَا فَلَا حَدَّ عَلَيْهَا أَيْضًا عِنْدَهُ خِلَافًا لَهُمَا فِي الْمَسْأَلَتَيْنِ ﴾ (د بحرّ) ([1]) او دويمه مسئله دلته داده چه دښځې دانکار نه پس به حدقذف په سړي باندې جارى كيږي اوکه نه؟ نو پورته د بذل المجهود په حواله تير شو چه دا دهغه په مطالبه باندې موقوف دى چه كه مطالبه اوکړي نو حدقذف به هم پرې جارى كيږي ګنی نه به جاری کیږي، په دې کښې د نور امامانو اختلاف دې، لکه چه په حاشیه د بذل کښې دی چه: قال القيم في الحديث امران احدهما وجوب الحد على الرجل وان كذبته المرأة خلافا لأبي حنيفة انه لا يحد، والثاني لايجب عليه حد القذف، وحديث ابن عباس الآتي منكر..الخ، ددې نه معلومه شوه چه دحنابله ؤ په نزد په دې صورت کښې سړي باندې حد قذف نشته، اود ابن عباس رضى الله عنهما کوم روايت چه دلته په کتاب کښې وړاندې راروان دې په هغې کښې دادی: "أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَكْرِ بْنِ لَيْثٍ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقَرَّ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ،فَجَلَدَهُ مِائَةً وَكَانَ بِكْرًا ثُمَّ سَأَلَهُ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمَرْأَة، فَقَالَتْ: كَذَبَ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَجَلَدَهُ حَدَّ الْفِرْيَةِ ثَمَانِينَ". د حنابله په نزد چونکه په دې صورت کښې حد قذف نشته په دې وجه ابن قيم ددې جواب دا ورکړې چه دا حديث منکردې، لکه چه پورته تيرشو، د نورو امامانو مذاهب په دې کښې پاتې دی، د امام نووی دکلام نه معلوميږي چه د شوافعو په نزد په دې صورت کښې حد قذف دې ځکه چه امام نووی رحمه الله ﴿ وامر انيس الاسلمي ان ياتي امراة الاخر ﴾ په شرح کښې چه کوم اشکال نقل کړې دې چه په حد زنا کښې تجسس نه وی او بيا ئې د هغې چه کوم جواب کړې دې چه دا ليږل د اقامت حد دپاره نه وو بلکه زنانه ته د دې وينا دپاره وو چه فلانی سړي په تا باندې د زنا تهمت لګولې دې نو که ته د دې انکار کړې نو ستا دپاره د حد قذف د مطالبې حق دې، او بيا د دې نه روستو فرمائی : ﴿ وقد اخرج ابوداؤد والنسائى عن ابن عباس الخ﴾ يعنى هم هغه حديث کوم چه پورته ذکر شو، د دې نه پس فرمائی : ﴿ وقد سكت عليه ابوداؤد وصححه الحاكم واستنكره النسائى ﴾ د دې نه د شوافعو مذهب هم معلوم شو، چه د هغوی په نزد هم په

---

[1] يعنى که سړي دا اقرار اوکړي چه ما د فلانۍ زنانه سره زنا کړې ده نو د امام صاحب په نزد به په هغه سړي باندې حد زنا هله وی چه کله هغه زنانه د هغه تصديق اوکړی ګینې نه به وی، هم دغه شان د زنانه هم دا حکم دې چه که هغه د زنا اقرار اوکړي چه فلانی سړي سره ما زنا کړې ده خو سړي د هغې تکذيب کوی نو په زنانه باندې به هم د زنا حد نه جاری کيږی، او د صاحبينو او د جمهورو په نزد به په دواړو مسئلو کښې په اقرار کونکي باندې حد جاری کيږی. که بل څوک ئې تصديق کوی او که نه کوی.

دي صورت کښې حد قذف دې څنګه چه د احنافو په نزد دي خو د حنابله په نزد نه دي.

[۴۴۶۷]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ هَارُونَ الْبُرْدِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ فَيَّاضٍ الْأَبْنَاوِيِّ، عَنْ خَلَّادِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَكْرِ بْنِ لَيْثٍ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقَرَّ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ، فَجَلَدَهُ مِائَةً وَكَانَ بِكْرًا، ثُمَّ سَأَلَهُ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمَرْأَةِ، فَقَالَتْ: كَذَبَ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَجَلَدَهُ حَدَّ الْفِرْيَةِ ثَمَانِينَ".

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه دبکربن ليث قبيلې يوکس نبي عليه السلام ته راغې او څلور پيرې ئي اقرار وکړوچه ماديوې ښځې سره زنا کړې ده نونبي عليه السلام دسلو در وسزا ورکړه اودې لوند وو اوبياني دهغه نه په ښځه باندې ګواهان وغوښتل هغې ووئيل چه دروغ ئي وئيلي دي په الله قسم نونبي عليه السلام په ده باندې د تهمت حد چه اتيا درې دي جاري کړو.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُصِيبُ مِنَ الْمَرْأَةِ دُونَ الْجِمَاعِ فَيَتُوبُ قَبْلَ أَنْ يَأْخُذَهُ الْإِمَامُ

بابد دهغه کس د سزا بيان چه دښځې سره د جماع نه علاوه هرڅه اوکړي خود نيولو نه مخکښې توبه اوباسي

[۴۴۶۸]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا سِمَاكٌ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، وَالْأَسْوَدِ، قَالَا: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ "جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي عَالَجْتُ امْرَأَةً مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ فَأَصَبْتُ مِنْهَا مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا فَأَنَا هَذَا فَأَقِمْ عَلَيَّ مَا شِئْتَ، فَقَالَ عُمَرُ: قَدْ سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْكَ لَوْ سَتَرْتَ عَلَى نَفْسِكَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا، فَانْطَلَقَ الرَّجُلُ فَأَتْبَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا، فَدَعَاهُ فَتَلَا عَلَيْهِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ سورة هود آية ۱۱۴ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَهُ خَاصَّةً أَمْ لِلنَّاسِ كَافَّةً؟ فَقَالَ: لِلنَّاسِ كَافَّةً".

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه يوکس نبي عليه السلام ته راغې او وئې وئيل چه مادمديني دلاندې حصې ديوې ښځې نه فائده واخستله په خکلولو او معانقې وغيره سره اودجماع نه علاوه مې ورسره هرڅه وکړل ، زه ستا په وړاندې حاضريم زماد پاره چه څه سزاوي ماته ئې راکړه ، عمر رضي الله عنه ورته ووئيل يقيناپتاباندې الله تعالى پرده اچولې وه خوکاش چه تاپه خپل ځان باندې په خپله پرده اچولې وي ، اونبي عليه السلام ورته هيڅ جواب ورنکړو اودې روان شو، بيا ورپسې نبي عليه السلام څوک ورولېګلو اودې ئې راوغوښتلو او دا ايت کريمه ئې ورته تلاوت کړون «وأقم الصلاة طرفي النهار وزلفا من الليل» ايت تر آخره پورې نوپه خلقو کښې يوکس ووئيل اې دالله رسوله ايا داحکم دده دپاره خاص دي اودهر چاد پاره دي؟نبي عليه السلام اوفرمائيل بلکه دهر چادپاره دي.

قوله: ﴿ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ إِنِّي عَالَجْتُ امْرَأَةً مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ فَأَصَبْتُ مِنْهَا مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا ﴾

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۶۶۴) (منكر)

[2]: صحيح مسلم/التوبة ۷ (۲۷۶۳)، (تحفة الأشراف: ۹۱۶۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/مواقيت الصلاة ۴ (۵۲۶)، التفسير ۴ (۴۶۸۷)، سنن الترمذي/التفسير ۱۲ (۳۱۱۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۹۳ (۱۳۹۸) (حسن صحيح)

مضمون الحديث :

عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چه یو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه ما د مدينې په لرې طرف کښې يعنې د مسجد نبوی ﷺ نه په ډيره فاصله باندې يو زنانه اوچيړله او سوا د زنا نه مې هغې سره هر څه اوکړل، لهذا زه حاضر يم کومه سزا چه تاسو ماته راکول غواړئ هغه راکړئ، هلته سيدنا عمر فاروق ﷺ هم موجود وو هغوی اوفرمائيل چه که چرې دا معامله په راز کښې ساتلې وی لکه څنګه چه الله پاک دا راز فاش نه کړو نو دا به زياته غوره وې، خو رسول الله ﷺ خاموش شو او هغه سړې لاړو (هم په دې وخت کښې په هغوی باندې وحی نازله شوه) نو رسول الله ﷺ د يو سړي په ذريعه ئې هغه راطلب کړو او د هغه د راتلو نه پس رسول الله ﷺ هغه ته دا آيت واورولو ﴿ أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ ﴾ چه د دې نه معلومه شوه چه د دې سړي دا ګناه د هغه د اعمال حسنه د وجې نه معاف شوه، په حاضرينو کښې يو سړي تپوس اوکړو چه يا رسول الله ﷺ دا حکم يعنی د معاف کيدو بشارت صرف هم د دې سړي دپاره دې يا که د ټولو خلقو دپاره دې؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿ بل للناس کافة ﴾ چه د ټولو دپاره دې.

(دا صحابی څوک وو؟)

د دې صاحب واقعه په نوم کښې په بذل کښې ليکلې دی، قيل هو ابو اليسر، وقيل بنهان التمار، وقيل عمرو بن غزية اه او په حاشيه د بذل کښې دی : وبه جزم صاحب التلقيح صفحه ٣٦٧ اذ قال هو ابو اليسر كعب بن عمرو انصاری وقال النووی فی الاسماء واللغات ٣١١ ابو اليسر او عمرو بن غزية، وبسط الحافظ الاختلاف فی اسمه وحمله علی التعدد، وكذا ذكر اختلاف الفاظ الرواية فی ذلك اه او په بذل کښې هم دی. ﴿ فقال رجل من القوم ﴾ په شرح کښې وفی رواية البخاری قال الرجل الی هذه وظاهره ان صاحب القصة هو السائل، وفی رواية عند مسلم: فقال يا رسول الله ﷺ اله وحد وللدارقطنی مثله ويحمل علی تعدد السائلين، قاله الحافظ. والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْأَمَةِ تَزْنِي وَلَمْ تُحْصَنْ

باب د ناواده شوې زناکارې وينځې د سزا بيان

ځان پوهه کړه چه د عبد او امة حد پنځوس کوړې دې که هغه بکر وی او که ثيب د څلورو واړو امامانو په نزد [1] ځکه چه حرية په شرائطو د احصان کښې دې لهذا د دوی رجم به په هيڅ حال کښې نه شی کولې، او د بعض علماء کرامو لکه ابوثور ﷺ په دې کښې اختلاف دې، هغوی فرمائی چه که دا دواړه ناوادۀ کړی دی نو بيا خو هم دغه شان ده او که وادۀ کړی وی نو دواړه به رجم کولې شی ځکه چه حرية د هغوی په نزد د شرائط احصان نه نۀ دې کما فی الاوجز، يا داسې اوايئ چه د غلام او وينځې احصان د ابوثور په نزد هم دا دې چه هغه دې وادۀ کړې وی د دې نه پس اوس تاسو حديث الباب واخلئ.

[1] په دې کښې د نورو علماء کرامو اختلاف دې ينظر التفصيل فی الاوجز ٣٤/٦)

[٤٤٦٩] ()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْأَمَةِ إِذَا زَنَتْ وَلَمْ تُحْصَنْ؟ قَالَ: إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَبِيعُوهَا وَلَوْ بِضَفِيرٍ"، قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: لَا أَدْرِي فِي الثَّالِثَةِ أَوِ الرَّابِعَةِ، وَالضَّفِيرُ: الْحَبْلُ.

د ابوهریره اوزید بن خالد الجهنی رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه د نبی علیه السلام نه دغیرشادي شده وینځې د زنا د سزا متعلق تپوس وکړې شونبی علیه السلام اوفرمائیل کله چه زنا وکړي نو په دروئې ووهئ، بیا چه کله زنا وکړي نو په دروئې ووهئ، بیاچه کله، زنا وکړي نو نوخرخه ئې کړئ اګر دورئ په یو پړي باندې وي، ابن شهاب وائی چه زه نه پوهیږم چه داسې ئې ورته په دریم اوکه په څلورم ځل باندې ووئیل ، اوضفیر رسئ ته وئیلي شي.

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- سُئِلَ عَنِ الأَمَةِ إِذَا زَنَتْ وَلَمْ تُحْصَنْ قَالَ « إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا الخ»﴾

شرح الحديث من حيث الفقه :

د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د هغه وینځې په باره کښې تپوس اوکړې شو کومې چه زنا اوکړه او حال دا چه هغه محصنه نه وه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه که هغه زنا اوکړی نو هغې ته دې کوړې ورکړې شی، او که بیا زنا اوکړی نو بیا دې هم کوړې ورکړې شی، په روایت کښې هم دغه شان درې کرته دی او وراندې دا دی چه که د دې نه پس هم زنا اوکړی نو هغه خرخه کړئ اګر چه د یوې رسئ د ټکړې په بدل کښې ولې نه وی.(٢)

ضفیر یعنی شعر مضفور، کمسئ وینښته د کوم نه چه د رسئ کار اخستلې شی، دلته دا مشهور اشکال دې چه د دې وینځې بیع د هغه حدیث خلاف ده چه په هغې کښې دا دی ﴿ لا یومن احدکم حتی یرضی لاخیه ما یرضی لنفسه ﴾ چه کوم څیز د ځان دپاره خوښوی هم هغه دې د خپل مسلمان رور دپاره خوښ کړی نو هر کله چه هغه دې وینځې لره د خپل ځان دپاره نه خوښوی نو د چا په لاس ئې چه خرخوی د هغه دپاره ئې ولې خوښوی، د دې اول جواب خو دا دې چه دا ممانعت په هغه صورت کښې دې چه کله هغه بل خپله هغه څیز د ځان دپاره خوښ نه کړی او چه کله ئې مشتری خپله خوښوی سره د هغه عیب نه، ځکه چه په بیع کښې د مبیع د عیب اظهار ضروری دې کما یشیر الیه بقوله ولو بضفیر... نو بیا په دې کښې د حدیث مخالفت نشته، او دویم جواب د دې دا ورکړې شوې دې چه ﴿ ان لتبدل الایدی د خلافی ازالة هٰذه الخصال ﴾ چه دا ضروری نه ده چه دې وینځې ته چه د کومې بې حیایئ جرأت دې مالک سره کیږی هغه دې د بل مالک سره هم کوی. كذا فى هامش البذل عن الكوكب الدرى، وفيه ايضاً، واجاب عنه الحافظ ١٢/١٣٤ بوجوه اخر.

(١): خ بالحدود ٢٢ (٦٨٣٧ و ٦٨٣٨)، صحيح مسلم بالحدود ٦ (١٧٠٣)، سنن ابن ماجه بالحدود ١٤ (٢٥٦٥)، (تحفة الأشراف: ٣٧٥٦)، وقد أخرجه: سنن الترمذي بالحدود ١٣ (١٤٣٣)، موطا امام مالك بالحدود ٣ (١٤)، دي الحدود ١٨ (٢٣٧١) (صحيح)

(٢) دا امر بالبيع د جمهورو په نزد د استحباب دپاره دې وزعم ابن الزمعة انه للوجوب ولكن نسخ (كذا في البذل) وفي هامشه: وبالوجوب زعم داؤد كما قال النووي ٢/٧٠

په دې حديث كښې ﴿ اذا زنت ولم تحصن ﴾ دې. [1] د دې لم تحصن د قيد نه معلوميږي په طور د مفهوم مخالف چه كه وينځه محصنه وي نو بيا د هغې دا حكم يعنى جلد نه دې بلكه رجم دې، او دا خبره د ائمه اربعه د مسلک خلاف ده خو د ابوثور نه د دې تائيد كيږي چه د هغه په دې مسئله كښې د جمهورو سره اختلاف دې، د دې خبرې د جمهورو د طرف نه ډير جوابونه كړې شوې دى يو دا چه دا لفظ په دې حديث كښې شاذ دې صرف د امام مالكرحمه الله په روايت كښې دې قاله الشراح الموطاء، يو جواب دا وركړې شوې دې چه مفهوم مخالف معتبر نه دې او يا دې دا اوئيلې شى چه د احصان نه مرد دلته عتق دې يا عفت، ځكه چه احصان په څلورو معانى كښې مستعمل دې، ١: عفة، ٢: التزوج، ٣: العتق، ۴: الاسلام.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٤٧٠] [2] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيُّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا زَنَتْ أَمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيَحُدَّهَا وَلَا يُعَيِّرْهَا ثَلَاثَ مِرَارٍ، فَإِنْ عَادَتْ فِي الرَّابِعَةِ فَلْيَجْلِدْهَا وَلْيَبِعْهَا بِضَفِيرٍ أَوْ بِحَبْلٍ مِنْ شَعْرٍ".

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دي كله چه په تاسو كښې ديوكس وينځه زنا وكړي نوحد دې ورباندې جاري كړي اوصرف په شرمولودې ئې نه پريږدى اوداخبره ئې درې پيرې اوفرمائيله اركه چرې په څلورم ځل ئې بيازنا وكړه نوپه درودې ووهل شي او خرڅه دې كړي اګركه په يوبړي وي يادوړئ په پړي باندې.

د دې نه روستو حديث كښې دا زيادت دې: ﴿ فَلْيَضْرِبْهَا كِتَابُ اللَّهِ وَلاَ يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ﴾

[٤٤٧١] [3] حَدَّثَنَا ابْنُ نُفَيْلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ فِي كُلِّ مَرَّةٍ: فَلْيَضْرِبْهَا كِتَابُ اللَّهِ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا، وَقَالَ فِي الرَّابِعَةِ: فَإِنْ عَادَتْ فَلْيَضْرِبْهَا كِتَابُ اللَّهِ ثُمَّ لِيَبِعْهَا وَلَوْ بِحَبْلٍ مِنْ شَعْرٍ.

ابوهريره رضي الله عنه دنبى عليه السلام نه روايت كوى فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى اوهمدا تيرشوي حديث ئې بيان كړو مګردا اضافه ئې وكړه چه په هرځل كښې به ئې ورته فرمائيل چه پس ودې وي دې لره اودا دالله پاک دطرف نه مقرره شوې سزا ده، اوصرف په رټلو باندې ئې مه پريږدئ اوكه چرې داوينځه بياپه څلورم ځل زناوكړي نودالله حد ورباندې جاري كړئ او بيا ئې خرڅه كړي اګر كه دوړئ په پړي باندې وي.

يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم دا اوفرمائيل چه هر ځل دې دهغې د زنا نه پس د كتاب الله مطابق اووهى يعنى حد دې پرې جارى كړې شى، قال تعالى: ﴿ فعليهن نصف ما على المحصنات من العذاب ﴾

---

[1]) وفي الاوجز عن العيني قوله ولم تحصن ومفهومه أنها إذا أحصنت لا تجلد بل ترجم كالحرة لكن الأمة تجلد محصنة كانت أو غير محصنة ولكن لا اعتبار للمفهوم حيث نطق القرآن صريحا بخلافه في قوله تعالي فإذا أحصن فإن أتين بفاحشة فعليهن نصف ما علي المحصنات من العذاب فالحديث دل علي جلد غير المحصن والآية علي جلد المحصن لأن الرجم لا ينصف فيجلدان عملا بالدليلين الي آخر ما في الاوجز ٣٤/٦)

[2]): صحيح مسلم/الحدود ٦ (١٧٠٣)، انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٢٩٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٧٦/٢) (صحيح)

[3]): انظر حديث رقم: ٤٤٦٩، (تحفة الأشراف: ١٤٣١٩) (صحيح)

او د دې نه په مخکښې روایت کښې د ﴿ لا یثرب علیها ﴾ په ځائې ﴿ولا یعیرها ﴾ دې په بذل کښې لیکلې شوې دی چه مطلب دا دې چه هغې ته په سزا ورکولو کښې دې صرف په تعییر او سب وشتم باندې اکتفا نه کوی، بلکه حد دې پرې قائم کړی، وقیل المراد النهی عن التثریب بعد الجلد فان الجلد صارت کفارة (بذل) والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی بنحوه، قاله المنذری.

په حدیث الباب کښې یوه بله اختلافی مسئله :

په دې حدیث کښې چه دا راغلی دی ﴿ اذا زنت امة احدکم فلیحدها ﴾ د دې نه او هم دغه شان د دې نه پس چه کوم په کتاب کښې راروان دی ﴿ اقیموا الحدود علی ما ملکت ایمانکم ﴾ سره ائمه ثلاث په دې باندې استدلال کړې دې چه مولی ته په خپل مملوک باندې د حد د قائم کولو حق شته ،داحنافو په نزد غیر امام ته داقامت حدحق نشته، هم په دې وجه هغوی دا حدیث په تسبیب باندې حمل کوی ای لکن سببا لجلدها رافعا الی الامام یعنی دا مطلب نه دې چه خپله دې جاری کړی بلکه د قاعدې مطابق حد جاری کول مراد دی، د احنافو استدلال د هغه روایت نه دې کوم چه د ابومسعود او ابن عباس او ابن زبیر ﷺ نه موقوفا او مرفوعا روایت دې : ﴿ اربع الی الولاة الحدوود والصدقات والجمعات والفیء ﴾ (من البذل)

بَابٌ فِي إِقَامَةِ الْحَدِّ عَلَى الْمَرِيضِ

باب: په مریض باندې د حد جاری کولو بیان

یعنی کوم سړې چه د حد مستحق دې که هغه مریض وی نو په هغه باندې به دې حالت کښې حد جاری کولې شی یا که پس د جوړیدو او صحت نه؟ جواب دا دې چه که د مریض حد داسې وی چه په هغې کښې مقصود د هغه تلف کول وی لکه چه په رجم کښې وی نو د صحت د انتظار کولو ضرورت نشته، او که د مریض حد جلد وی نو د صحت انتظار ضروری دې چه هلاکت ته خبره او نه رسی، کذافی الهدایة ۲/۳۹۰.

[٤٤٧٢] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو أُمَامَةَ بْنُ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْأَنْصَارِ: "أَنَّهُ اشْتَكَى رَجُلٌ مِنْهُمْ حَتَّى أُضْنِيَ، فَعَادَ جِلْدَةً عَلَى عَظْمٍ فَدَخَلَتْ عَلَيْهِ جَارِيَةٌ لِبَعْضِهِمْ فَهَشَّ لَهَا فَوَقَعَ عَلَيْهَا، فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ رِجَالُ قَوْمِهِ يَعُودُونَهُ أَخْبَرَهُمْ بِذَلِكَ، وَقَالَ: اسْتَفْتُوا لِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي قَدْ وَقَعْتُ عَلَى جَارِيَةٍ دَخَلَتْ عَلَيَّ، فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالُوا: مَا رَأَيْنَا بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ مِنَ الضُّرِّ مِثْلَ الَّذِي هُوَ بِهِ لَوْ حَمَلْنَاهُ إِلَيْكَ لَتَفَسَّخَتْ عِظَامُهُ مَا هُوَ إِلَّا جِلْدٌ عَلَى عَظْمٍ، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْخُذُوا لَهُ مِائَةَ شِمْرَاخٍ فَيَضْرِبُوهُ بِهَا ضَرْبَةً وَاحِدَةً".

امامه بن سهل بن حنیف په انصار وصحابه کرامو کښې د یو کس ﷺ نه روایت کوی فرمائی چه په دوی کښې یو کس بیمار شو تردې چه کمزورې شو په هډوکوئې صرف څرمن پاتې شوه نو په دې وخت کښې پدرې کښې د یو کس وینځه په ده باندې داخله شوه ده چه ولیدله نو خوښه ئې شوه نو جماع ئې ورسره وکړله اودده دقوم خلق دده دبیمارپرسئ دپاره دده

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٢٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الحدود ١٨ (٢٥٧٤) (صحيح)

کورته په دغه وخت ورغلل نودوی ته ئې ددې واقعې خبر ورکړو او وئې وئیل چه زما دپاره دنبی ﷺ نه فتوی اوغواړئ چه ما د یوې وینځې سره جماع کړې ده ،صحابه کرامو ددې خبرې ذکرنبی ﷺ ته وکړو اوهغوی داهم ووئیل چه مونږ چرته دده نه سخت بیمارنه وو لیدلې که چرې مونږ تاته راوړلې نو هډوکی به ئې ختلې ووپه هډوکوئې صرف څرمن خوره وه نونبی ﷺ دده متعلق حکم وکړوچه سل لختې راواخلئ اودې ورباندې یوګذار ووهئ.

﴿ أَخْبَرَنِى أَبُو أُمَامَةَ بْنُ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– مِنَ الأَنْصَارِ أَنَّهُ اشْتَكَى رَجُلٌ مِنْهُمْ حَتَّى أُضْنِىَ فَعَادَ جِلْدَةً عَلَى عَظْمٍ فَدَخَلَتْ عَلَيْهِ جَارِيَةٌ لِبَعْضِهِمْ فَهَشَّ لَهَا فَوَقَعَ عَلَيْهَا الخ ﴾

ابو امامهؒ د چا نوم چه سهل بن سعد بن حنیف دې هغوی د بعض انصاری صحابه کرامورضی الله عنهم نه روایت کوی چه په هغوی کښې یو سړې بیمار شو او د بیمارئ نه دومره کمزورې شو چه د هډوکو او څرمنې نه علاوه پرې هیڅ هم باقی پاتې نه شو خو د هغې باوجود یو وینځه هغه ته لاړه او د هغې په لیدو باندې هغه کښې تازګی پیدا شوه او هغې سره ئې وطی اوکړه، د دې نه پس چه کله خلق هغه ته د تپوس دپاره راغلل نو دې مریض صحابی هغوی ته اووې چه زما باره کښې چه څه مانه شوې دی د رسول اللهﷺ نه د هغې په باره کښې تپوس اوکړئ، دې خلقو رسول اللهﷺ ته د هغه صحابی ضعف او کمزوری بیانولو سره د هغه د حکم تپوس اوکړو، او دا ئې هم اووې که مونږ هغه تاسو ته راولو نو د هغه هډوکی به هم روغ پاتې نه شی، رسول اللهﷺ دهغه دپاره دا فیصله اوفرمائیله : ﴿أَنْ يَأْخُذُوا لَهُ مِائَةَ شِمْرَاخٍ فَيَضْرِبُوهُ بِهَا ضَرْبَةً وَاحِدَةً ﴾ چه د کهجورې سل څانګئ واخلئ او په یو ځل ئې د هغوی بدن ته راواچوئ، یعنی په داسې طریقه چه د هغه ټولو ښاخونو د هغه په بدن باندې لګیدل معلوم شی.

په حیله مذکوره فی الحدیث باندې د کوم امام عمل دې :

په امامانو کښې د دې حدیث صرف امام شافعیؒ قائل دې، امام مالک او احناف د دې قائل نه دی، د هغوی په نزد په حد کښې صحیح او مریض یو شان دی د جمهورو د طرف نه امام خطابیؒ فرمائی چه که په مریض کښې دا صورت جائز وې نو په حامله کښې هم دا صورت جائز کیدې شو، خو د حاملې په باره کښې د ټولو اتفاق دې چه په هغې کښې دا صورت کافی نه دې، کذافی المنهل عن الخطابی..........

خو په مذکوره صورت کښې یعنی کله چه په مریض کښې د جلد تحمل نه وی او د صحت ئې هم توقع نه وی په دې صورت کښې احناف هم د امام شافعیؒ سره دی څنګه چه ابن الهمام وئیلی دی، علامه شوکانیؒ فرمائی چه دا عمل په هغه حیلو کښې دې کومې چه شرعا جائز دی او د دا قسم حیلو اجازت الله پاک هم ورکړې دې پس ارشاد دې، ﴿ وخذ بيدک ضغثا ﴾ الاية ١ه دا آیت کریمه د سیدنا ایوبؑ په قصه کښې په سورة ص کښې ذکر دې چه هغوی د خپلې بی بی په یو خبره باندې ناراض کیدو سره دا قسم خوړلې وو چه زه به تا سل ګزاره وهم، الله پاک په قرآن کریم کښې د هغې حیله دا بیان اوفرمائیله : ﴿ وخذ بيدک

ضغثا فاضرب به ولا تحنث ﴾ چه اې ايوب ته په خپل لاس کښې يو جارو واخله چه په هغې کښې سل ډکې وی او خپله بی بی په هغې باندې اووهه، او خپل قسم مه ماتوه. پس د دې آيت کريمه په رڼړا کښې د احنافو مسلک دا دې چه که يو سړې د سلو گزارو ورکولو قسم اوخوری او روستو بيل بيل د سلو گزارونو وهلو په ځائې د تولو ډکو يو موټې جوړ کړی او يو ځل ئې پرې اوهی نو په دې سره قسم پوره کيږی، خو د دې دپاره دوه شرطونه ضروری دی، کما قال ابن الهمام، يو خو دا چه د هغه سړی په بدن باندې هره چوکه طولا او عرض ضرور اولگی، دويمه دا چه د هغې نه څۀ نه څه تکليف ورته ضرور محسوس شی، او که دومره سپک ئې بدن ته اولگوی چه بالکل ورته تکليف نه وی نو قسم به پوره نشی.

(ملخصا من معارف القرآن)

[٤٤٧٣](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ أَبِي جَمِيلَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "فَجَرَتْ جَارِيَةٌ لِآلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا عَلِيُّ انْطَلِقْ فَأَقِمْ عَلَيْهَا الْحَدَّ، فَانْطَلَقْتُ فَإِذَا بِهَا دَمٌ يَسِيلُ لَمْ يَنْقَطِعْ فَأَتَيْتُهُ، فَقَالَ: يَا عَلِيُّ أَفَرَغْتَ؟ قُلْتُ: أَتَيْتُهَا وَدَمُهَا يَسِيلُ، فَقَالَ: دَعْهَا حَتَّى يَنْقَطِعَ دَمُهَا ثُمَّ أَقِمْ عَلَيْهَا الْحَدَّ، وَأَقِيمُوا الْحُدُودَ عَلَى مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ الْأَعْلَى، وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ الْأَعْلَى، فَقَالَ فِيهِ قَالَ: لَا تَضْرِبْهَا حَتَّى تَضَعَ، وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ.

د علی بن ابی طالب ﷛ نه روايت دې فرمائی چه دنبی ﷺ په اهل بيتوکښې ديوکس وينځې بدفعلی وکړله نبی ﷺ اوفرمائيل اې علی لاړ شه او په دې بانده حدجاري کړه علی ﷛ وائی چه زه لاړم نودهغې نه وينه جاري وه کومه چه نه بنديدله نوزه نبی ﷺ ته ورغلم اونبی ﷺ رانه تپوس وکړوچه ايا دحد نافذولونه فارغ شوې؟ علی په جواب کښې ووئيل زه چه ورغلم نودهغې نه وينه جاري وه ، نبی ﷺ ورته اوفرمائيل پرې ئې ږده چه وينه ئې ودريږي بيابه پرې حدجاري کړې، او په خپلو وينځو باندې حدونه جاري کوئ. امام ابوداؤد وائی چه دا روايت ابو الاحوص هم عبدالاعي نه نقل کړې دې، اوشعبه هم دعبدالاعلی نه بيان کړې دې خودشعبه په روايت کښې دی چه نبی ﷺ اوفرمائيل. مه ئې وهه ترڅوچه ولادت ئې وشي ليکن اولني روايت زيات صحيح دې.

﴿ عَنْ عَلِيٍّ رضى الله عنه قَالَ فَجَرَتْ جَارِيَةٌ لآلِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ « يَا عَلِيُّ انْطَلِقْ فَأَقِمْ عَلَيْهَا الْحَدَّ ». فَانْطَلَقْتُ فَإِذَا بِهَا دَمٌ يَسِيلُ الخ ﴾

علی ﷛ فرمائی چه د رسول الله ﷺ يوې وينځې د زنا ارتکاب اوکړو، هغوی فرمائی چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائيل چه اې علی لاړ شه او په دې باندې حد قائم کړه، ما هغه بوتله نو اومې کتل چه د هغې نه وينه روانه ده، زه واپس د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو هغوی تپوس اوکړو چه آيا د هغه کار نه فارغ شوې؟ ما عرض اوکړو چه زه هغه وينځې ته تلې اوم خو د هغې نه وينه روانه ده نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل بسدا هغه فی الحال پريږده، روستو پرې حد جاري کړه او دا ئې هم اوفرمائيل : وَأَقِيمُوا الْحُدُودَ عَلَى مَا

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٢٨٣)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحدود ٧ (١٧٠٥)، سنن الترمذي/الحدود ١٣ (١٤٤١)، مسند احمد (١/٨٩، ٩٥، ١٣٥، ١٣٦، ١٤٥) (صحيح)

مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ د حديث په دې اخرى ټکره بآندې کلام اوس اوس تير شوې دې او اختلاف د علماء كرامو هم، والحديث اخرجه النسائى ومسلم والترمذى معناه.

بَابٌ فِي حَدِّ الْقَذْفِ

باب: د دروغو تهمت لګونکی د سزا بيان

د قذف تعريف او دقذف د احصان مصداق:

د قذف لغوى معنى د رمى ده وفى الشرع نسبة من احصن الى الزنا صريحا او دلالة (هامش البذل) يعنى محصن شخص لره د زنا طرف ته منسوب کول، که نسبت صراحة وی يا دلالة، لهذا په غير محصن باندې تهمت لګولو سره به په قاذف باندې قذف نه جارى کيږی او د احصان معنى وړاندې د هدايه نه راځی ځنګه چه د رجم دپاره په زانی کښ د صفت احصان موندلې کيدل ضرورى دى بغير د هغې نه نه رجم کيږی هم دغه شان د حد قذف دپاره هم په مقذوف کښ د صفت احصان موندلې کيدل ضرورى دى. وفى الهداية ص ۵۲۹ ج۲: وإذا قذف الرجل رجلا محصنا أو امرأة محصنة بصريح الزنا وطالب المقذوف بالحد حده الحاكم ثمانين سوطا إن كان حرا لقوله تعالى { والذين يرمون المحصنات } إلى أن قال { فاجلدوهم ثمانين جلدة } ويشترط مطالبة المقذوف لأن فيه حقه من حيث دفع العار وإحصان المقذوف لما تلونا، والإحصان أن يكون المقذوف حرا عاقلا بالغا مسلما عفيفا عن فعل الزنا اه دا چه د احصان تعريف دلته ذکر دې دا احصان القذف دې، او هغه احصان کوم چه په باب الرجم کښ تير شوې دې هغه احصان الرجم وو هم په دې وجه دواړو کښ فرق دې، وقد سبقت الاشارة اليه هناك اه.

[۴۴۷۴](۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الثَّقَفِيُّ، وَمَالِكُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ الْمِسْمَعِيُّ، وَهَذَا حَدِيثُهُ: أَنَّ ابْنَ أَبِي عَدِيٍّ حَدَّثَهُمْ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "لَمَّا نَزَلَ عُذْرِي، قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَذَكَرَ ذَاكَ وَتَلَا تَعْنِي الْقُرْآنَ فَلَمَّا نَزَلَ مِنَ الْمِنْبَرِ أَمَرَ بِالرَّجُلَيْنِ وَالْمَرْأَةِ فَضُرِبُوا حَدَّهُمْ".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه کله چه زما د پاکدامنئ په سلسله کښې آيت کريمه نازل شو نونبى ﷺ په منبر باندې اودريدو اوودې ذکر ئې وکړو اودقران کريم تلاوت ئې وکړو ددې نه پس نبى ﷺ دمنبرنه کوز شو او دواړو سړو اوښځې ته ئې دحدحکم وکړو اوبيا خلقو په هغوى باندې حد جارى کړو.

﴿ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ لَمَّا نَزَلَ عُذْرِى قَامَ النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى الْمِنْبَرِ فَذَكَرَ ذَاكَ وَتَلاَ - تَعْنِى الْقُرْآنَ - فَلَمَّا نَزَلَ مِنَ الْمِنْبَرِ أَمَرَ بِالرَّجُلَيْنِ وَالْمَرْأَةِ فَضُرِبُوا حَدَّهُمْ او د دې نه په روستو روايت کښ دى : مِمَّنْ تَكَلَّمَ بِالْفَاحِشَةِ حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ وَمِسْطَحِ بْنِ أُثَاثَةَ. قَالَ النُّفَيْلِىُّ وَيَقُولُونَ الْمَرْأَةُ حَمْنَةُ بِنْتُ جَحْشٍ ﴾

---

۱): سنن الترمذي/تفسير النور ۲۵ (۳۱۸۱)، سنن ابن ماجه/الحدود (۲۵۶۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۹۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۳۵، ۶۱) (حسن)

[٤٤٧٥] ()حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، لَمْ يَذْكُرْ عَائِشَةَ، قَالَ: فَأَمَرَ بِرَجُلَيْنِ وَامْرَأَةٍ مِمَّنْ تَكَلَّمَ بِالْفَاحِشَةِ: حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ، وَمِسْطَحِ بْنِ أُثَاثَةَ، قَالَ النُّفَيْلِيُّ: وَيَقُولُونَ: الْمَرْأَةُ حَمْنَةُ بِنْتُ جَحْشٍ.

د محمد بن أسحق نه ددې په شان روایت مروی دې او په دې روایت کښې دا ذکر شوي دي چه نبی علیه السلام دواړه سړو اوښځي ته چاچه بدي خبرې کړي وي هغه حسان بن ثابت او مسطح بن اثاثه وو نفیلي ویلي چه خلقو وئیلی دی چه زنانه حمنه بنت جحش وه.

حديث الافک:

په دې باب کښې مصنف رحمه الله په دې امت کښې چه کومه د ټولو نه لویه د قذف او تهمت واقعه کیدې شی د هغې متعلق د حدیث یو جزء راوړې دې، حدیث الافک یعنی په عائشې رضی الله عنها باندې لګیدلي تهمت چه د هغې تفصیلي واقعه په صحیح بخاری کتاب المغازی صفحه ۵۹۳ او په صحیح مسلم کتاب التوبة کښې په باب فی حدیث الافک وقبول توبة القاذف:.. او د ترمذی په کتاب التفسیر په تفسیر د سورة النور کښې په څو صفحاتو کښې ذکر ده.

د افک دا واقعه په غزوه نبی المصطلق کښې پیښه شوې وه په ۵ هجری کښې کما فی تاریخ الخمیس ۱/۴۷۵ وفی التلقیح لابن الجوزی ٦ هجری، او د حدیث الافک ذکر په ابوداؤد کښې هم په باب من لم یرالجهر ببسم الله الرحمن الرحیم کښې هم اشارة راغلي دې.

ولفظه : عَنْ عَائِشَةَ وَذَكَرَ الإِفْكَ قَالَتْ جَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَكَشَفَ عَنْ وَجْهِهِ وَقَالَ « أَعُوذُ بِالسَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ (إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ) ». الآيَةَ،

دلته په دې باب کښې دا دی: سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی چه کله زما د براءة په باره کښې آیتونه نازل شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم منبر ته تشریف یوړلو او د دې آیتونو د نزول ذکر ئې اوفرمائیلو او دا آیتونه ئې تلاوت اوفرمائیل (چه لس آیتونه د سورة نور دی) او بیا ئې د منبر نه د راکوزیدو نه پس په دوه سړو او یو زنانه باندې د حد قذف د جاری کولو حکم اوفرمائیلو یعنی حسان بن ثابت او مسطح بن اثاثه او حمنة بنت جحش رضی الله عنهم.....

په عبدالله بن ابی باندې حد قذف جاری کړې شو یا نه؟:

په دې روایت کښې د عبدالله بن ابی ذکر نه دې راغلي حال دا چه هم د هغه په باره کښې په قرآن کریم کښې دی ﴿ والذی تولی کبره منهم له عذاب الیم ﴾ په کتب صحاح کښې خو نه په عبدالله بن ابی باندې د حد د جاری کیدو ذکر شته او نه د تهمت لګولو، د قاضی عیاض رائې دا ده چه د هغه نه قذف ثابت نه دې، خو هغه دا مسئله خوروله ضرور او په مجالسو کښې به ئې بیانوله، (بل الذی ثبت انه کان یستخرجه ویتوشیه ﴾ خو حافظ په دې باندې اعتراض کولو سره فرمائی : قلت وقد ورد أنه قذف صريحا ووقع ذلك في مرسل سعيد بن جبير عند بن أبي حاتم وغيره وفي مرسل مقاتل بن حيان عند الحاكم في "الأكليل" "بلفظ" فرماها عبد الله بن أبي، او حافظ فرمائی چه دا هم په بعض روایات مرسله کښې راغلی دی چه په هغه باندې حد جاری

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٧٨٩٨) (حسن)

کړې شو اخرجه الحاکم في الاکليل..او د حافظ په کلام کښې دا هم دي چه ابن القيم رحمه الله هم په هغه خلقو کښې دي د چا چه رائې دا ده چه په عبدالله بن ابی باندې حد قذف جاری نه کړې شو، او بيا هغوی د دې يو حکمت هم بيان کړو، بيا حافظ د دې رائې رد کولو سره هم هغه خبره اوليکله کومه چه پورته تيره شوه. (من البذل)

بَابُ الْحَدِّ فِي الْخَمْرِ

بابد د شرابو د حد بيان

د حد زنا په يو صورت کښې کوړې او په يو صورت کښې رجم دې او دا دواړه حکمونه په قرآن کريم کښې موجود دی، خو آيت د رجم منسوخ التلاوة دې، او حد د زنا سل کوړې دی لکه چه په قرآن کريم کښې د دې تصريح ده : ﴿ الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ﴾ او هم دغه شان حد قذف اتيا کوړې دې چه د هغې په قرآن کريم کښې تصريح ده ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً ﴾ خو د حد شرب خمر چه د هغې دا باب شروع کيږي د هغې هيڅ حد او سزا په قرآن کريم کښې نه ده ذکر شوې صرف د خمر تحريم ذکر دې: ﴿ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ خو حد شرب د احاديثو نه ثابت دې خو په احاديث مرفوعه کښې د دې څه خاص مقدار معين طريقې سره ثابت نه دې لکه چه د باب د اول حديث نه چه ثابتيږي.

[٤٤٧٦](١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، وَهَذَا حَدِيثُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ رُكَانَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَقِتْ فِي الْخَمْرِ حَدًّا"، وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: شَرِبَ رَجُلٌ فَسَكِرَ فَلُقِيَ يَمِيلُ فِي الْفَجِّ فَانْطُلِقَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا حَاذَى بِدَارِ الْعَبَّاسِ انْفَلَتَ فَدَخَلَ عَلَى الْعَبَّاسِ فَالْتَزَمَهُ، فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكَ، وَقَالَ: أَفَعَلَهَا وَلَمْ يَأْمُرْ فِيهِ بِشَيْءٍ؟، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا مِمَّا تَفَرَّدَ بِهِ أَهْلُ الْمَدِينَةِ: حَدِيثُ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ هَذَا.

دابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام دشرابو په څکلو باندې څه حدنه دې مقرر کړې ابن عباس له وئيلی دی چه يوسړې شراب وڅکل اونشه شو دليونوپه شان په لاري په ګډا روان وو نونبی عليه السلام ته بوتلې شو کله چه دعباس دکوربرابرئ ته ورسيدو نوهغه ئې دم وتښتيدو اودابن عباس کورته داخل شواوپټ شو اوبيا داقصه رسول الله ته بيان کړې شوه نبی عليه السلام وخندل او بيا ئې اوفرمائيل ايا ده همداسې کړي دي؟ اووده متعلق ئې په دې باب کښې څه حکم ونکړو ، امام ابوداؤد فرمائی چه دا حديث دحسن بن علی داسې حديث دې په کوم کښې چه اهل مدينة متفرد دي.

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لَمْ يَقِتْ فِي الْخَمْرِ حَدًّا ﴾

شرح الحديث :

يعنی رسول الله صلی الله عليه وسلم په خمر کښې د حد مقدار معين نه دې فرمائيلې. دا مطلب نه دې چه د دې دپاره رسول الله صلی الله عليه وسلم بالکل څه حد نه دې مقرر فرمائيلې لکه چه بعض خلقو ته د دې نه

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٦٢١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢٢/١) (ضعيف)

هم دا وهم پیدا شوې دې او هغوی وئیلی دی چه په خمر کښې یو حد واجب نشته بلکه په دې کښې صرف تعزیر دې خو دا غلطه خبره ده ځکه چه د صحابه کراموﷺ نه په دې کښې په وجوب حد باندې اجماع نقل ده، او دا چه وړاندې د ابن عباسؓ په حدیث کښې راځي چه د رسول اللهﷺ په زمانه کښې یو سړي شراب اوڅکل چه په هغې سره هغه نشه شو او په لاره کښې یو خوا بل خوا غورځیدلو سره او ښکته پورته کیدو سره هغه اولیدلې شو، خلقو هغه اونیولو او رسول اللهﷺ ته ئې راوستلو، چه کله په لاره کښې د عباسؓ د کور مخې ته تیر شو نو د خلقو د لاسونو نه وتلو سره د عباسؓ کور ته داخل شو او په هغوی پورې اونختلو، خلقو د دې څیز ذکر رسول اللهﷺ ته اوکړو، رسول اللهﷺ په دې باندې مسکې شو او وې خندل چه آیا واقعی هغه داسې کړې دی، او نور ئې د هغه په باره کښې څه حکم نافذ او نه فرمائیلو.

د دې قصې نه په عدم الحد فی الشرب باندې استدلال صحیح نه دې، بلکه د دې نه خو دا ثابتیږي چه د امام دپاره دا ضروری نه ده چه صرف د خلقو په خبر ورکولو سره په یو سړي باندې حد جاری کړي یا د هغې په باره کښې بحث او تفتیش اوکړي تر څو چه هغه خپله د امام مخکښې د موجب حد اقرار اونکړي یا په ګواهي د ګواهانو سره ثابت نه شي، او په دې واقعه کښې دا څیز بیا نه موندلې شو.

په حد د خمر کښې مذاهب ائمة:

اوس دا خبره چه د شرب خمر د حد مقدار شرعا څومره دې؟ په دې کښې د ائمه اختلاف دې د امام ابوحنیفه او امام مالک په نزد اتیا کوړې دی، او د امام شافعی او احمد په نزد څلویښت کوړې دی، دواړه روایات مختلفه وړاندې په کتاب کښې راروان دی.

والحدیث سکته علیه المنذری، وقد رواه النسائی کما فی تعلیق الشیخ محمد عوامه.

[٤٤٧٧](١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو ضَمْرَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ، فَقَالَ: اضْرِبُوهُ، قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَمِنَّا الضَّارِبُ بِيَدِهِ وَالضَّارِبُ بِنَعْلِهِ وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: أَخْزَاكَ اللَّهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَقُولُوا هَكَذَا لَا تُعِينُوا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ".

دابو هریرهؓ نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ته یو کس راوستل شو چه شراب ئې څکلي وو نبی علیه السلام اوفرمائیل دې اووهئ ابوهریره وائی چاپه لاسونو اووهلو اوچاپه پیزارونو او چاپه جامو باندې کله چه مونږه دده دوهلونه فارغ شو نوبعضې خلقو ورته اووئیل الله تعالی دې وشرموه، نبی علیه السلام اوفرمائیل داسې مه وائی دده په خلاف دشیطان مدد مه کوئ.

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ فَقَالَ « اضْرِبُوهُ » الخ﴾ یعنی رسول اللهﷺ ته یو شارب خمر راوستلې شو رسول اللهﷺ اوفرمائیل دې اووهئ، سیدنا ابوهریرهؓ فرمائی چه بعضو په مونږ کښې هغه په لاس باندې اووهلو او بعضو په پیزار باندې، او بعضو په خپلې کپړې باندې، یعنی هغې لره راتاو لو سره او د

(١): صحیح البخاري/الحدود ٤ (٦٧٧٧)، ٥ (٦٧٨١)، (تحفة الأشراف: ١٤٩٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٩٩، ٣٠٠) (صحیح)

کوړې په شان جوړلو سره (پښتو کښې ورته ډبلئ وائی) چه کله هغه سړې روان شو نو بعض خلقو اووې چه ﴿ اخزاک الله ﴾ الله پاک دې رسوا کړه نو رسول اللهﷺ د داسې وينا نه منع اوفرمائيله، او وې فرمائيل چه د هغه په باره کښې د شيطان مدد مه کوئ، ځکه چه الله پاک دې رسوا کړی نو هم دغه شان به په ګناهونو کښې مشغول وی کوم چه د شيطان عين مقصود دې، لهذا په دې کښې د شيطان اعانت دې. والحديث اخرجه البخاري، قاله المنذري.

د دې نه په روستو روايت کښې دی چه رسول اللهﷺ د وهلو نه پس خلقو ته اوفرمائيل چه هغه ته زجر او توبيخ ورکړئ، په دې باندې خلقو هغه ته اووې چه ته د الله پاک نه نۀ ويريږې، ستا د الله پاک نه ويره نه کيږی، او د رسول اللهﷺ نه هم نه شرميدې؟ بيا په آخر کښې رسول اللهﷺ اوفرمائيل: ﴿ قُولُوا اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ ﴾

[٤٤٧٨]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ أَبِي نَاجِيَةَ الْإِسْكَنْدَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، وَحَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، وَابْنُ لَهِيعَةَ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ بِإِسْنَادِهِ، وَمَعْنَاهُ قَالَ فِيهِ بَعْدَ الضَّرْبِ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ: بَكِّتُوهُ، فَأَقْبَلُوا عَلَيْهِ، يَقُولُونَ: مَا اتَّقَيْتَ اللَّهَ مَا خَشِيتَ اللَّهَ وَمَا اسْتَحْيَيْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ أَرْسَلُوهُ، وَقَالَ فِي آخِرِهِ: وَلَكِنْ قُولُوا: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ، وَبَعْضُهُمْ يَزِيدُ الْكَلِمَةَ وَنَحْوَهَا.

ابن الهاد پخپل سند سره دتير شوي روايت په شان بيان کړې دې مګر ددې اضافي سره کله چه خلق دده دهلونه فارغ شول نونبی عليه السلام صحابه کرامو ته اوفرمائيل دې ښه اووهئ او وئي رټئ نوخلقو ورته داسې اووئيل آيا ته دالله نه نه يريږې، اوته دالله نه خوف نه کوي اوتا دنبی عليه السلام نه شرم او حيا ونکړه اوبيا ئي پريخودو، ددې روايت په اخرکښې داسې دی چه نبی عليه السلام اوفرمائيل اليکن اې خلقو داسې اووائی چه اې الله دې کس ته بخنه وکړې او په ده باندې رحم وکړې بعضې نورو خلقو ته روايت د کمې او زياتې سره بيان کړې دې.

[٤٤٧٩]([2]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ هِشَامٍ الْمَعْنَى، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَدَ فِي الْخَمْرِ بِالْجَرِيدِ وَالنِّعَالِ وَجَلَدَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَرْبَعِينَ، فَلَمَّا وَلِيَ عُمَرُ دَعَا النَّاسَ، فَقَالَ لَهُمْ: إِنَّ النَّاسَ قَدْ دَنَوْا مِنَ الرِّيفِ، وَقَالَ مُسَدَّدٌ: مِنَ الْقُرَى وَالرِّيفِ فَمَا تَرَوْنَ فِي حَدِّ الْخَمْرِ؟ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ: نَرَى أَنْ تَجْعَلَهُ كَأَخَفِّ الْحُدُودِ فَجَلَدَ فِيهِ ثَمَانِينَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ أَبِي عَرُوبَةَ عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ جَلَدَ بِالْجَرِيدِ وَالنِّعَالِ أَرْبَعِينَ، وَرَوَاهُ شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ضَرَبَ بِجَرِيدَتَيْنِ نَحْوَ الْأَرْبَعِينَ.

د انس بن مالک رضي الله عنه نه نقل شوي دي چه نبی عليه السلام په پيزارونو اودکجورو په لختوسره يوشرابي ته حد ورکړو او ابوبکرصديق نه يوشرابي څلويښت کوړې وهلې وو، بياچه کله دعمرفاروق رضي الله عنه دخلافت دور راغې نوهغه صحابه کرام راوغوښتل خلق ابادوته رانزدې شول، مسدد وئيلی دی چه دکې آبادئ ته خلقوته ئې اووئيل دشرابي دحدپه باره کښې ستاسوڅه خيال دې؟ عبد الرحمن بن عوف نه په جواب کښې اووئيل چه زمونږ رائې خودا ده

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٤٩٩٩) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/الحدود ٢ (٦٧٧٣)، صحيح مسلم/الحدود ٨ (١٧٠٦)، سنن الترمذي/الحدود ١٤ (١٤٤٣)، سنن ابن ماجه/الحدود ١٦ (٢٥٧٠)، (تحفة الأشراف: ١٣٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٥/٣، ١٨٠)، سنن الدارمي/الحدود ٩ (٢٣٥٧) (صحيح)

چه د تولونه کم سپک او ورو کي حد دي هغه دي د دې د پاره متعين شي چنانچه نبی علیه السلام داتيا کوړو وهلو حکم وکړو، امام ابوداؤد فرمائی ابن عروبه دقتاده رضی الله عنه نه روايت کړې دې چه نبی علیه السلام د کجورو په لختو او پیزارونو باندې څلويښت پیرې وهل کړي وو شعبه وئیلی دی چه دې به په دوه لرګو باندې څلويښت پیرې او وهلې شي.

قوله: ﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- جَلَدَ فِى الْخَمْرِ بِالْجَرِيدِ وَالنِّعَالِ وَجَلَدَ أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه أَرْبَعِينَ فَلَمَّا وَلِىَ عُمَرُ دَعَا النَّاسَ فَقَالَ لَهُمْ إِنَّ النَّاسَ قَدْ دَنَوْا مِنَ الرِّيفِ - وَقَالَ مُسَدَّدٌ مِنَ الْقُرَى وَالرِّيفِ - فَمَا تَرَوْنَ فِى حَدِّ الْخَمْرِ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ نَرَى أَنْ تَجْعَلَهُ كَأَخَفِّ الْحُدُودِ. فَجَلَدَ فِيهِ ثَمَانِينَ ﴾

مضمون الحديث :

د انس رضی الله عنه روايت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د شرب خمر په سزا کښې په جريد او نعال سره وهل اوکړل (په دې روايت کښې د هغې مقدار نه دې ذکر) او ابوبکرصديق رضی الله عنه څلويښت کوړې ورکړې او بيا چه کله عمر رضی الله عنه خليفه شو نو هغوی صحابه کرام رضی الله عنهم راجمع کړل او د هغوی مخکښې ئې دا خبره کيخوده چه اوس خلق باغونو او پټو ته نزدې شوې دی، مقصد دا دې چه اوس د ميوو او انګورو د کثرت د وجې نه شراب څکل ډير شوی دی، نو هغوی تپوس اوکړو چه اوس ستاسو رائې د حد خمر په باره کښې څه ده نو په دې باندې عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه اوفرمائيل چه زمونږ رائې دا ده چه په حدود ثابته کښې چه کوم د ټولو نه خفيف حد دې هغه دې مقرر کړې شی، پس په دې باندې اتيا کوړې مقرر شوې. والحديث اخرجه مسلم بتمامه، واخرج البخاري المسند وفعل الصديق فقط واخرجه ابن ماجه المسند منه فقط قاله المنذري.

[٤٤٨٠](1)حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ الدَّانَاجُ، حَدَّثَنِي حُضَيْنُ بْنُ الْمُنْذِرِ الرَّقَاشِيُّ هُوَ أَبُو سَاسَانَ، قَالَ: "شَهِدْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ وَأُتِيَ بِالْوَلِيدِ بْنِ عُقْبَةَ، فَشَهِدَ عَلَيْهِ حُمْرَانُ، وَرَجُلٌ آخَرُ، فَشَهِدَ أَحَدُهُمَا أَنَّهُ رَآهُ شَرِبَهَا يَعْنِي الْخَمْرَ وَشَهِدَ الْآخَرُ أَنَّهُ رَآهُ يَتَقَيَّأُ، فَقَالَ عُثْمَانُ: إِنَّهُ لَمْ يَتَقَيَّأْ حَتَّى شَرِبَهَا، فَقَالَ لِعَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَقِمْ عَلَيْهِ الْحَدَّ، فَقَالَ عَلِيٌّ لِلْحَسَنِ: أَقِمْ عَلَيْهِ الْحَدَّ، فَقَالَ الْحَسَنُ: وَلِّ حَارَّهَا مَنْ تَوَلَّى قَارَّهَا، فَقَالَ عَلِيٌّ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ: أَقِمْ عَلَيْهِ الْحَدَّ، قَالَ: فَأَخَذَ السَّوْطَ فَجَلَدَهُ وَعَلِيٌّ يَعُدُّ فَلَمَّا بَلَغَ أَرْبَعِينَ، قَالَ: حَسْبُكَ جَلَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعِينَ، أَحْسَبُهُ قَالَ: وَجَلَدَ أَبُو بَكْرٍ أَرْبَعِينَ، وَعُمَرُ ثَمَانِينَ، وَكُلٌّ سُنَّةٌ وَهَذَا أَحَبُّ إِلَيَّ".

دحصين بن منذر الرقاشی رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زه دعثمان بن عفان نه خواته موجود وم چه په دې وخت کښې وليد بن عقبه راوستل شو او په ده باندې عمران (څوک چه آزاد کړې شوې غلام وو) او يو بل حبشي ګواهي ورکړه نويوکس اووئيل مادې په داسې حال کښې ليدلې وو چه شراب ئې څکلی وو اوبل کس داسې ګواهي ورکړه چه ما وليد په داسې حال کښې وليدو چه دشرابو څکلو په وجه ئې قي کولو عثمان اوفرمائيل دشرابو ئې خود هله کړې دې کله چه ده شراب څکلی وو عثمان رضی الله عنه عليه ته په ده باندې دحدقائمولو

(1): صحيح مسلم/الحدود ٨ (١٧٠٧)، سنن ابن ماجه/الحدود ١٦ (٢٥٧١)، (تحفة الأشراف: ١٣٥٢، ١٠٠٨٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحدود ٤ (٦٧٧٣)، مسند احمد (١/٨٢، ١٤٠، ١٤٤)، سنن الدارمي/الحدود ٩ (٢٣٥٨) (صحيح)

حکم وکړو حسن به جواب ورکړو څوک چه دخلافت مزي څي نوهغه له بوج ورل هم پکاردي (ددې مطلب داور چه عثمان ﷺ دي پخپله حد ورکړي يا دې خپل کوم رشته دار ته حکم وکړي بيا علی ﷺ عبدالله بن جعفر ته اووئيل ته ورباندې حد قائم کړه ، هغه دره راوغستله اوددې شرابي په وهلوبې شروع وکړه اوعلی نه به ورته بار بار وئيل کله چه څلويښتوته ورسي نوداکافي دي ځکه چه نبی ﷺ به شرابيانو له څلويښت درې وهل ورکول او ابوبکر صديق ﷺ به هم څلويښت درې وهلواو عمرفاروق نه به ورباندې داتيادرو حد جاري کولو اوداټول سنت دي اوزه څلويښت درې وهل خوښوم.

﴿قال ابوداؤد رواه ابن ابی عروبة الخ ﴾ او بيا د هشام په روايت کښې د قتاده نه دا راغلی دی د رسول الله ﷺ په باره کښې ﴿ انه جلد فی الخمر بالجريد والنعال ﴾ بغير د ذکر د تعداد نه، مصنف رحمه الله فرمائی چه د ابن ابی عروبه په روايت کښې د دې تعداد ذکر دې يعنی اربعين، او د شعبه په روايت کښې د قتاده نه ﴿ ضَرَبَ بِجَرِيدَتَيْنِ نَحْوَ الأَرْبَعِينَ ﴾ دې، نو ګويا اوس درې قسمه روايتونه شو يو مطلق بغير د ذکر د عدد نه او په يو کښې دی ﴿جَلَدَ بِالْجَرِيدِ أَرْبَعِينَ ﴾، او په دريم باب کښې دی ﴿ بِجَرِيدَتَيْنِ نَحْوَ اَرْبَعِينَ ﴾، په دې دريم روايت کښې به د ضرب تعداد اتيا کرته شی ځکه چه هر ضرب به متضمن وی دوه ضربونو لره د دوه ښاخونو د مجموعه کيدو د وجې نه، په دې حديث کښې راغلل، ﴿ کاخف الحدود﴾ يعنی کوم حدود چه په قرآن کريم کښې منصوص دی او هغه درې دی يو حد السرقة قطع يد ، او حد الزناء جلد مائة، او حد القذف ثمانون جلدة، دا حديث په حد خمر کښې د احنافو او مالکيانو دليل دې چه د هغوی په نزد حد قذف اتيا کوړې دی. حديث ابی عروبة مرسل وحديث شعبة اخرجه مسلم والترمذی واخرجه البخاری ولم يذكر اللفظ، قاله المنذری.

قوله: ﴿عن حصين بن المنذر ابوساسان قَالَ شَهِدْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ وَأُتِىَ بِالْوَلِيدِ بْنِ عُقْبَةَ فَشَهِدَ عَلَيْهِ حُمْرَانُ وَرَجُلٌ آخَرُ فَشَهِدَ أَحَدُهُمَا أَنَّهُ رَآهُ شَرِبَهَا - يَعْنِى الْخَمْرَ - وَشَهِدَ الآخَرُ أَنَّهُ رَآهُ يَتَقَيَّأُهَا فَقَالَ عُثْمَانُ إِنَّهُ لَمْ يَتَقَيَّأْهَا حَتَّى شَرِبَهَا ﴾

مضمون الحديث :

ابوساسان فرمائی چه زه د عثمان ﷺ سره موجود اوم زما مخکښې هغوی ته وليد بن عقبة راوستلې شو چه په هغه باندې حمران د عثمان ﷺ غلام او يو بل سړی ګواهی ورکړه، يو ګواهی ورکړه چه ما دې په شرابو څکلو باندې ليدلې دې او بل اووې چه ما دې د شرابو په قئ کولو باندې ليدلې دې، عثمان ﷺ اوفرمائيل چه د شرابو څکلو نه بغير خو د هغې قئ نه شی کولې، ګويا د دې شهادت ئې اعتبار اوفرمائيلو، بيا ئې علی ﷺ ته اوفرمائيل چه په هغه باندې حد جاري کړه، هغوی خپل څوی حسن ﷺ ته اوفرمائيل چه ته په هغه باندې حد جاري کړه، هغوی په دې باندې ډير کلک جواب ورکړو ﴿ وَلِّ حَارَّهَا مَنْ تَوَلَّى قَارَّهَا ﴾ (١)

(١) وفي هامش البذل مثل معروف وقد قال عمر ﷺ لابي مسعود اذ ساله اما يبلغني انك تفضي ولست بامير فقال نعم ول حارها من تولي قارها، كذا في ازالة الخفا ١١٩/٢)

چه په ښه ځیزونو باندې چه تاسو کوم انسان امیر کړې وو په بدو ځیزونو باندې هم هغه امیر کړئ، په دې باندې علی رضی الله عنه عبدالله بن جعفر رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه ته حد قائم کړه، هغوی کوړه اوچته کړه او وهل ئې شروع کړل او علی رضی الله عنه شمیرل کول، چه کله څلویښت پوره شوې نو علی رضی الله عنه هغه منع کړو او وې فرمائیل ﴿ حسبک ﴾ رسول الله ﷺ څلویښت کوړې ورکړې دی او هم دغه شان ابوبکر رضی الله عنه هم او عمر رضی الله عنه اتیا کوړې ورکړې دی، او دواړه مشروع دی زما په نزد دا زیات خوښ عمل دې یعنی څلویښت، او په صحیح مسلم کښې هم دغه شان دی یعنی اربعین.

جمع بین الروایات المختلفة:

امام نووی رحمه الله فرمائی چه د دې روایت نه معلومیږی خو هم دا چه سیدنا علی رضی الله عنه ولید بن عقبة رضی الله عنه ته څلویښت کوړې ورکړې او په صحیح بخاری کښې دی د عبیدالله بن عدی بن الخیار په روایت کښې چه علی رضی الله عنه هغه ته اتیا کوړې ورکړې حال دا چه قصه یوه ده. قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه د علی رضی الله عنه مشهور مذهب په شرب خمر کښې د اتیا کوړو دې. لهذا جمع بین الروایتین دې هم دغه شان اوکړې شی کوم چه په یو روایت کښې راځی. ﴿ انه جلده بسوط له راسان فضربه براسیه اربعین ﴾ یعنی په یو روایت کښې راځی چه هغوی کومه کوړه استعمال کړې وه او څلویښت ئې لګولې وې د هغې دوه سرونه وو، لهذا په یو ځل کښې دوه کوړې اولګیدې پس مجموعه اتیا شوه او په دې صورت کښې به ﴿ وهذا احب الی ﴾ نه اشاره د عمر رضی الله عنه فعل ته یعنی د ثمانین طرف ته وی.

دا ولید بن عقبة د چا چه دا قصه ده د عثمان رضی الله عنه اخیافی رور وو، دفتح مکه په ورځ ئې اسلام قبول کړې وو، د عثمان رضی الله عنه سره لوئې شو، تردې چه هغوی د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د معزول کولو نه پس هغه د کوفې والی مقرر کړو، وقصة صلاته بالناس اربعا وهو سکران مشهورة، وقصة عزله بعد ان ثبت علیه شرب الخمر ایضا مخرجة فی الصحیحین، وعزله عثمان بعد جلده عن الکوفة، ولما قتل عثمان اعتزل الولید الفتنة فلم یشهد مع علی ولا مع غیره، ولکنه کان یحرض معاویة علی قتال علی بکتبه وبشعره (بذل) د دې حدیث نه معلومیږی چه د شرابو نه قئ کول د حد د ثبوت دپاره کافی کیږی لکه چه د امام مالک رحمه الله مذهب دې، امام نووی رحمه الله فرمائی چه زمونږ مذهب دا دې چه صرف په دې باندې به حد نه شی جاری کولې ځکه چه په دې کښې مختلف احوال دی مثلا دا چه کیدې شی هغه په بې خبرئ کښې څکلی وی، شراب ئې نه وی ګڼړلې او څکلې وی، یا پړې چا په زور څکلی وی وغیر ذلک من الاعذار المسقطة للحد، او وړاندې هغوی فرمائی چه د امام مالک رحمه الله دلیل دلته قوی دې ﴿لان الصحابة اتفقوا علی جلد الولید بن عقبة المذکور فی الحدیث ﴾ او زمونږ اصحاب د دې دا جواب ورکوی چه غالبا سیدنا عثمان رضی الله عنه ته د ولید دشرب علم وو ﴿ فقضی بعلمه وهذا تاویل ضعیف ﴾ اهـ (بذل) په حاشیه د بذل کښې لیکلی دی چه په دې کښې چه کوم مذهب د شوافعو دې هم هغه د احنافو دې کما فی الهدایة.

[٤٤٨١]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنِ الدَّانَاجِ، عَنْ حُضَيْنِ بْنِ الْمُنْذِرِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "جَلَدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَمْرِ وَأَبُو بَكْرٍ أَرْبَعِينَ وَكَمَّلَهَا عُمَرُ ثَمَانِينَ، وَكُلٌّ سُنَّةٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ الْأَصْمَعِيُّ: وَلِّ حَارَّهَا مَنْ تَوَلَّى قَارَّهَا وَلِّ شَدِيدَهَا مَنْ تَوَلَّى هَيِّنَهَا، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا كَانَ سَيِّدَ قَوْمِهِ حُضَيْنُ بْنُ الْمُنْذِرِ أَبُو سَاسَانَ.

دعلی رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبی عليه السلام دشرابو په حد کښې مجرم ته درې ورکړې وي او ابوبکر څلويښت درې ورکړې وي او عمر رضي الله عنه به پوره اتيا درې ورکولي اودا ټول سنت دي امام ابوداؤد فرمائي اصمعي وئيلی دی د «من تولی قارها وَلِّ شديدها من تولی هينها» مطلب دادې چه چا دخلافت سهوليات حاصل کړې وی نوده لره دمشکلاتو برداشت کولوته پريږدئ.

قوله: ﴿عَنْ عَلِيٍّ رضى الله عنه قَالَ جَلَدَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي الْخَمْرِ وَأَبُو بَكْرٍ أَرْبَعِينَ وَكَمَّلَهَا عُمَرُ ثَمَانِينَ وَكُلٌّ سُنَّةٌ﴾ د دې حديث مضمون مخکښې تير شو.

بَاب إِذَا تَتَابَعَ فِي شُرْبِ الْخَمْرِ

باب: باربار د شرابو څکلو د سزا بيان

[٤٤٨٢]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ ذَكْوَانَ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا شَرِبُوا الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُمْ ثُمَّ إِنْ شَرِبُوا فَاجْلِدُوهُمْ ثُمَّ إِنْ شَرِبُوا فَاجْلِدُوهُمْ ثُمَّ إِنْ شَرِبُوا فَاقْتُلُوهُمْ".

دمعاويه بن ابی سفيان رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی کله چه خلق شراب اوڅي نو په درو ئې ووهئ چه کله ئې دوباره بل وخت بيا اوڅکي نوبيا ئې په درو ووهئ او چه بل وخت ئې بيا اوڅي نو بيا سې په درو ووهئ خوکه څرې ددې نه پس ئې بيا اوڅکل نوقتل ئې کړئ.

قوله: ﴿عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِذَا شَرِبُوا الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُمْ ثُمَّ إِنْ شَرِبُوا فَاجْلِدُوهُمْ ثُمَّ إِنْ شَرِبُوا فَاجْلِدُوهُمْ ثُمَّ إِنْ شَرِبُوا فَاقْتُلُوهُمْ »﴾

يعنی درې کرته دې په شرب خمر کښې کوړې ورکړې شی بيا که په څلور ځل اوڅکی نو قتل دې کړې شي د دې نه پس د ابن عمر رضي الله عنهما روايت دې چه په هغې کښې دی ﴿ وَأَحْسِبُهُ قَالَ فِي الْخَامِسَةِ « إِنْ شَرِبَهَا فَاقْتُلُوهُ »﴾

[٤٤٨٣]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بِهَذَا الْمَعْنَى، قَالَ: وَأَحْسِبُهُ قَالَ فِي الْخَامِسَةِ: إِنْ شَرِبَهَا فَاقْتُلُوهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا فِي حَدِيثِ أَبِي غُطَيْفٍ فِي الْخَامِسَةِ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه رسول الله فرمائيلی دی دحديث متن د تير

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٠٨٠) (صحيح)

[2]): سنن الترمذي/الحدود ١٥ (١٤٤٤)، سنن ابن ماجه/الحدود ١٧ (٢٥٧٣)، (تحفة الأشراف: ١١٤١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٩٥/٤، ٩٦، ١٠٠) (حسن صحيح)

[3]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٦٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٦/٢) (ضعيف الإسناد)

شوي روايت په شان دي مګر په دي کښې دا اضافه ده زما ګمان دي چه دا سي ئي اوئيل که چرې په پنځلم ځل باندې ئي بيا وڅکل نوقتل ئي کړئ ، امام ابوداؤد فرمائي اوهمدارنګې په حديث د ابوعطيف کښې دی چه دې په پنځم ځل باندې قتل کړئ.

[٤٤٨٤]()حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَاصِمٍ الْأَنْطَاكِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا سَكِرَ فَاجْلِدُوهُ ثُمَّ إِنْ سَكِرَ فَاجْلِدُوهُ ثُمَّ إِنْ سَكِرَ فَاجْلِدُوهُ فَإِنْ عَادَ الرَّابِعَةَ فَاقْتُلُوهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا حَدِيثُ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ فَإِنْ عَادَ الرَّابِعَةَ فَاقْتُلُوهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا حَدِيثُ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنْ شَرِبُوا الرَّابِعَةَ فَاقْتُلُوهُمْ، وَكَذَا حَدِيثُ ابْنِ أَبِي نُعْمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَذَا حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالشَّرِيدِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَفِي حَدِيثِ الْجَدَلِيِّ: عَنْ مُعَاوِيَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَإِنْ عَادَ فِي الثَّالِثَةِ أَوِ الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ.

د ابوهريره په نه روايت دې فرمائي چه رسول الله فرمائيلي دی کله چه څوک شراب وڅکي نوپه دروئې ووه ، بياکه چرې بل ځل بيا وڅکي نو په دروئې ووهئ، بياکه چرې بل ځل بيا وڅي نوپه درويې ووهي، بياکه چرې په څلورم ځل ئې بيا وڅکي نوقتل ئي کړئ. امام ابوداؤد فرمائي اوهمدارنګې حديث دعمر بن ابی سلمه دي دخپل پلار نه اودابوهريره رضي الله عنه نه چه هغه دنبی عليه السلام نه نقل کړي دي که چرې څوک شراب اوڅکي نوپه دروئې ووهئ خو که په څلورم ځل ئې بيا اوڅکل نه قتل ئې کړئ، امام ابوداؤد فرمائي همدا رنګې حديث سهل دې دابوصالح نه اوهغه دابوهريره رضي الله عنه نه اوهغه دنبی عليه السلام نه که چرې په څلورم ځل ئې شراب اوڅکل نوقتل ئې کړئ ، اوهمدارنګې حديث دابونعيم دې دابوعمر نه اوهغه دنبی عليه السلام نه اوهمدا رنګې حديث دعبدالله بن عمرو دي دنبی عليه السلام نه اوهمدارنګې روايت د شريد دي دنبی عليه السلام نه او په حديث دجدلي کښې دی دمعاويه نه چه نبی عليه السلام اوفرمائيل که چرې په دريم يا څلورم ځل ئې بيا اوڅکل نو قتل ئې کړئ.

وړاندې هم مصنف رحمه الله د طرق اختلاف په خامسه او رابعه کښې بيانوی، وړاندې د قبيصه بن ذويب په روايت کښې راځي، ﴿ فَأُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ فَجَلَدَهُ ثُمَّ أُتِيَ بِهِ فَجَلَدَهُ ثُمَّ أُتِيَ بِهِ فَجَلَدَهُ وَرَفَعَ الْقَتْلَ فَكَانَتْ رُخْصَةً ﴾ يعنی په څلورم ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم شارب خمر ته کوړې ورکړې، لهذا د قتل حکم کوم چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د طرف نه قولا وو هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په عمل سره منسوخ شو.

د قتل شارب فی الرابعة د نسخ بحث:

منذري د امام شافعی نه نقل کوی : والقتل منسوخ بهذا الحديث وغيره، او امام خطابی رحمه الله فرمائي کيدې شی چه د حديث الامر بالقتل نه مقصود زجر و تهديد وی لکه چه په دې حديث کښې دی ﴿ مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ قَتَلْنَاهُ وَمَنْ جَدَعَ عَبْدَهُ جَدَعْنَاهُ ﴾ هغوی فرمائی او دا هم احتمال

[1]: سنن النسائي /الأشربة ٤٣ (٥٧٦٥)، سنن ابن ماجه /الحدود ١٧ (٢٥٧٢)، (تحفة الأشراف: ١٤٩٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٨٠، ٢٩١، ٥٠٤، ٥١٩) (حسن صحيح)

دي چه قتل فی الخامسة واجب وی او بیا په اجماع د امت سره منسوخ شوې وی، خو یو طائفة شاذه د قتل قائل دی د څلورو کرتو نه پس په پنځم ځل کښې (بذل عن المنذری) [1]
امام ترمذی رحمه الله هم د نسخ قول اختیار کړې دې هم د دې قبیصه بن ذویب د حدیث د وجې نه، او هم د دې مضمون بل حدیث چه د هغې راوی جابر بن عبدالله رضی الله عنهما دې د هغې نه روستو امام ترمذی فرمائی: ومما یقوی هذا ما روی عن النبی ﷺ من اوجه کثیرة انه قال لا یحل دم امرئ مسلم یشهد أن لا إله إلا اله وأني رسول الله إلا بإحدى ثلاث الثيب الزاني والنفس بالنفس والتارك لدينه اهـ او په حاشیه د بذل کښې دی: وانکر الدمنتی علی الترمذی ٢٦٧/١ نسخ القتل وبسط الکلام ورجح القتل اهـ... دا دمنتی یعنی علی بن سلیمان الدمنتی المالکی دی هغوی کوم چه د علامه سیوطی رحمه الله حواشی دی په کتب ستة باندې د هر یو بیل بیل تخلیص کړې دې، د سیوطی حاشیه کومه چه په ترمذی باندې ده د هغې نوم قوت المغتذی دې او دمنتی د تخلیص نوم نفع قوت المغتذی دې، هم دغه شان په ابوداؤد باندې چه کومه حاشیه ده د سیوطی، "مرقاة الصعود" د هغې کوم تخلیص چه دمنتی اوکړو د هغې نوم ئې کیخودلو، "درجات مرقاة الصعود" دې علامه دمنتی په دې خپله حاشیه کښې ډیر روایات د قتل شارب بعد الرابعة په ثبوت کښې ذکر کړی دی او بیا په آخر کښې لیکی: ﴿ فهذه بضعة عشر حديثا كلها صحيحة صريحة فی قتله بالرابعة وليس لها معارض صريح وقول من قال بالنسخ لا يعضده دليل، وقولهم انه صلى الله عليه وسلم اتي برجل قد شرب بالرابعة فضربه ولم يقتله، لا يصلح لرد هذه الاحاديث لوجوه، الاول انه مرسل، الى اخر ما بسط فی ذلک ﴾ حافظ په فتح الباری کښې د منکرین نسخ د اشکالاتو جوابات کښې ورکړی دی په بذل کښې د خطابی نه نقل کړې ؤو، ﴿واجمعوا على انه لا يقتل اذا تكرر منه ﴾ په دې باندې په حاشیه د بذل کښې دی فقد ذکر الحافظ ٥١/١٢ ان النعيمان جلد فی الخمر اكثر من خمسين مرة ﴾ او په حاشیه کښې دا هم دی: ﴿ وبدلالة الاجماع استدل فی تدريب الراوی ١٩٦ على النسخ وبسط له قرائن ﴾ د دې نعیمان بعض واقعات په فتح الباری کښې ذکر دی د دې باب د لاندې باب ما يكره من لعن شارب الخمر.... چه په هغې کښې امام بخاری رحمه الله دا حدیث راوړې دې: ﴿ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ رَجُلاً عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم كَانَ اسْمُهُ عَبْدَ اللهِ، وَكَانَ يُلَقَّبُ حِمَارًا، وَكَانَ يُضْحِكُ رَسُولَ اللهِ: وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم قَدْ جَلَدَهُ فِي الشَّرَابِ فَأُتِيَ بِهِ يَوْمًا فَأَمَرَ بِهِ فَجُلِدَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ اللَّهُمَّ الْعَنْهُ مَا أَكْثَرَ مَا يُؤْتَى بِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: لاَ تَلْعَنُوهُ فَوَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ أَنَّهُ يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَه ﴾ دا عبدالله د چا لقب چه حمار دې دا او نعیمان دواړه یو دی او که بیل بیل په دې باندې کلام دې په فتح الباری کښې اوکتلې شی ﴿ وكان يضحک رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ چه دوی به رسول الله ﷺ خندولو په خپلو عجیبه او نااشنا خبرو سره، د هغه بعض ښکلې واقعات په فتح الباری کښې ذکر دی.

[1] قال الحافظ وكان اشار الي بعض اهل الظاهر فقد نقل عن بعضهم واستمر عليه ابن حزم منهم واحتج له وادعي ان الاجماع الخ)

[٤٤٨٥](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: الزُّهْرِيُّ أَخْبَرَنَا، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ فَإِنْ عَادَ فَاجْلِدُوهُ فَإِنْ عَادَ فِي الثَّالِثَةِ أَوِ الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ، فَأُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ فَجَلَدَهُ ثُمَّ أُتِيَ بِهِ فَجَلَدَهُ ثُمَّ أُتِيَ بِهِ فَجَلَدَهُ ثُمَّ أُتِيَ بِهِ فَجَلَدَهُ وَرَفَعَ الْقَتْلَ، وَكَانَتْ رُخْصَةً"، قَالَ سُفْيَانُ: حَدَّثَ الزُّهْرِيُّ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَعِنْدَهُ مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ، وَمُخَوَّلُ بْنُ رَاشِدٍ، فَقَالَ لَهُمَا: كُونَا وَافِدَيْ أَهْلِ الْعِرَاقِ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ الشَّرِيدُ بْنُ سُوَيْدٍ، وَشُرَحْبِيلُ بْنُ أَوْسٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، وَأَبُو غُطَيْفٍ الْكِنْدِيُّ، وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

دقبیصة بن ذویب رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه شراب اوڅښي نوپه درو ئې ووهئ که چرې بیا ئې اوڅکي نوبیا ئې په درو اووهئ اوکه چرې په دې باندې هم منع نه شو او په دریم څلورم ځل ئې بیا وڅکل نوقتل ئې کړئ، یوځل صحابه کرامو یوکس راوستو چه شراب ئې څکلي وو نونبی علیه السلام په درو اووهلو بل ځل بیا دغه کس راوستلي شو نوبیا ئې په درو اووهلو چه په دریم ځل بیا راوستلی شو نوبیا ئې په درو اوهلو چه په څلورم ځل بیا راوستلی شو نو په درو ئې ووهلو اودده دقتل کولو حکم ئې پورته کړو کوم چه درخصت متعلق وو. سفیان وئیلی دی چه دا حدیث زهري په هغه وخت کښې بیان کړې دې کله چه دهغه سره منصور او مخول ناست وو دوی ته زهری بیان کړو چه تاسو ددې ځائې نه عراقیانوته دا حدیث په تحفه کښې یوسئ.

﴿ قَالَ سُفْيَانُ حَدَّثَ الزُّهْرِيُّ بِهَذَا الْحَدِيثِ وَعِنْدَهُ مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ وَمُخَوَّلُ بْنُ رَاشِدٍ فَقَالَ لَهُمَا كُونَا وَافِدَيْ أَهْلِ الْعِرَاقِ بِهَذَا الْحَدِيثِ ﴾

یعنی امام زهری رحمه الله چه کله دا پورتنې حدیث بیان کړو نو هغوی سره دغه وخت کښې منصور او مخول ناست وو نو امام زهری هغوی ته اوفرمائیل چه زما د طرف نه دا حدیث اهل عراق ته واوروئ، او وفد جوړیدو سره هغوی ته لاړ شئ، د هغې وجه په بذل کښې دا لیکلی ده چه په عراق کښې څه خوارج وو چه د هغوی عقیده وه چه د کبیره مرتکب کافر دې اوس ښکاره ده چه د دې تقاضه دا ده چه شارب خمر دې په اول ځل کښې قتل کړې شی حال دا چه رسول الله ﷺ په پنځم ځل څکلو باندې هم قتل نه کړو

[٤٤٨٦](٢)حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي حُصَيْنٍ، عَنْ عُمَيْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "لَا أَدِي أَوْ مَا كُنْتُ لِأَدِيَ مَنْ أَقَمْتُ عَلَيْهِ حَدًّا إِلَّا شَارِبَ الْخَمْرِ، فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسُنَّ فِيهِ شَيْئًا إِنَّمَا هُوَ شَيْءٌ قُلْنَاهُ نَحْنُ".

دعلی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه په چاباندې چه زه حد قائم کړم اوهغه (د حد قائمولو په وجه) مړ شي نوزه دهغه دیت نه ورکوم مګر دشرابو څکونکي څکه چه رسول الله دشرابو څکلو دسزا دپاره څه حد نه دې مقرر کړې او څه چه مقرر شوي دي هغه مونږ مقرر کړي دي.

قوله:﴿ عَنْ عَلِيٍّ رضی الله عنه قَالَ لاَ أَدِي أَوْ مَا كُنْتُ الأَدِيَ مَنْ أَقَمْتُ عَلَيْهِ حَدًّا إِلاَّ شَارِبَ الْخَمْرِ الخ﴾

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩١١) (ضعيف)

(٢): صحيح البخاري/ الحدود ٥ (٦٧٧٨)، صحيح مسلم/ الحدود ٨ (١٧٠٧)، سنن ابن ماجه/ الحدود ١٦ (٢٥٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٢٥، ١٣٠) (صحيح)

سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی چه زه په یو سړی باندې حد جاری کړم (یعنی حد الجلد چه په هغې کښې اهلاک مقصود نه وی) او بیا د حد د جاری کیدو د وجې نه هغه مړ شی نو زه به د هغې دیت نه ادا کوم، سوا د شرب خمر نه چه که هغه د شرب خمر د وجې نه مړ شی نو زه به د هغه دیت ورکوم ځکه چه د شرب خمر حد د رسول الله ﷺ د طرف نه متعین نه وو، هغه مونږ خلقو خپل مینځ کښې په مشوره باندې مقرر کړې وو، او هغه چه په دې سلسله کښې د عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ذکر راغلې وو چه هغوی په دې باره کښې د اخف الحدود مشوره ورکړې وه په بعض روایاتو کښې په ځائې د عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه د علی رضی الله عنه نوم ذکر دې لکه چه د موطاء په روایت کښې دی، امام نووی رحمه الله فرمائی: وکلاهما صحیح واشار جمیعا، چه د دواړو ذکر دلته صحیح دې چه دې دواړو حضراتو دا مشوره ورکړې وه.

[۴۴۸۷] (¹) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ الْمِصْرِيُّ ابْنُ أَخِي رِشْدِينَ بْنِ سَعْدٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، أَنَّ ابْنَ شِهَابٍ حَدَّثَهُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَزْهَرَ، قَالَ: "كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآنَ وَهُوَ فِي الرِّحَالِ يَلْتَمِسُ رَحْلَ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ، فَقَالَ لِلنَّاسِ: اضْرِبُوهُ، فَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالنِّعَالِ وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالْعَصَا وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالْمِيتَخَةِ، قَالَ ابْنُ وَهْبٍ: الْجَرِيدَةُ الرَّطْبَةُ، ثُمَّ أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرَابًا مِنَ الْأَرْضِ فَرَمَى بِهِ فِي وَجْهِهِ".

دعبدالرحمن بن ازهر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ماته داسې ښکاري لکه چه زه اوس هم نبی علیه السلام وینم، هغه داوښانو په قطار کښې ولاړ وو اودخالد بن ولید، داوښ کجاوه ئې لټوله نو په دې وخت کښې نبی علیه السلام ته یو کس راوستلې شو چاچه شراب څکلی وو، نبی کریم % خلقوته حکم وکړو که دا کس په څه څیز باندې اووهئ نوچاپه پیزارونو او چاپه لوړو اووهلو اوچا دکجورو په الختوباندې، ابن وهب وئیلی دی یعنی دکجورو دونو په هغه لختو چه کچه اوتازه وي اودپاڼړونه بغیر وي په دې ئې شرابي او وهلو، بیانبی علیه السلام دزمکې نه لږه خاوره راواخسته اوددغه کس په مخ ئې وروشیندله.

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَزْهَرَ قَالَ كانى انظرُ الى رَسُولَ اللّٰهِ –صلى الله عليه وسلم– الان وهو فى الرحال يلتمس رحل خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ ﴾ او په یو بل روایت کښې کوم چه د ابوداؤد په بعض نسخو کښې دې، د بذل په حاشیه باندې هم شته په هغې کښې دا زیادت دې، ﴿ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم– غَدَاةَ الْفَتْحِ وَأَنَا غُلَامٌ شَابٌّ يَتَخَلَّلُ النَّاسَ يَسْأَلُ عَنْ مَنْزِلِ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ ﴾

[۴۴۸۹] (²) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَزْهَرَ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ الْفَتْحِ وَأَنَا غُلَامٌ شَابٌّ يَتَخَلَّلُ النَّاسَ يَسْأَلُ عَنْ مَنْزِلِ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، فَأُتِيَ بِشَارِبٍ فَأَمَرَهُمْ فَضَرَبُوهُ بِمَا فِي أَيْدِيهِمْ فَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالسَّوْطِ وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِعَصًا وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِنَعْلِهِ، وَحَثَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ، فَلَمَّا كَانَ أَبُو بَكْرٍ أُتِيَ بِشَارِبٍ فَسَأَلَهُمْ عَنْ ضَرْبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي ضَرَبَهُ فَحَزَرُوهُ أَرْبَعِينَ، فَضَرَبَ أَبُو بَكْرٍ أَرْبَعِينَ، فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ كَتَبَ إِلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ: إِنَّ النَّاسَ قَدِ انْهَمَكُوا فِي الشُّرْبِ وَتَحَاقَرُوا الْحَدَّ وَالْعُقُوبَةَ، قَالَ: هُمْ عِنْدَكَ فَسَلْهُمْ وَعِنْدَهُ الْمُهَاجِرُونَ

¹: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۶۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸۷/۴، ۸۸، ۳۵۰، ۳۵۱) (حسن صحيح)

²: انظر حديث رقم: (۴۴۸۷)، (تحفة الأشراف: ۹۶۸۵) (حسن)

الْأَوَّلُونَ، فَسَأَلَهُمْ فَأَجْمَعُوا عَلَى أَنْ يَضْرِبَ ثَمَانِينَ، قَالَ: وَقَالَ عَلِيٌّ: إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا شَرِبَ افْتَرَى فَأَرَى أَنْ يَجْعَلَهُ كَحَدِّ الْفِرْيَةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَدْخَلَ عُقَيْلُ بْنُ خَالِدٍ بَيْنَ الزُّهْرِيِّ، وَبَيْنَ ابْنِ الْأَزْهَرِ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ: عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَزْهَرِ، عَنْ أَبِيهِ.

عبدالرحمن بن ازهر وائی چه ما د فتح مکې په دویمه ورځ د سحر رسول الله ﷺ اولیدلو، زه ماشوم ووم، په خلقو کښې به پټ پټ تلم راتلم، نبی کریم ﷺ د خالد بن ولید ﷺ خیمه لټوله، چه په دې کښې یو شرابی راوستلې شو، نبی کریم ﷺ دهغه د وهلو حکم ورکړو، نو دخلقو په لاسونو کښې چه څه څیز هم وو، هم په هغې ئې هغه وهلو، چا هغه په درې سره، چا په چوکه سره، چا په څپلئ سره، او نبی کریم ﷺ دهغه په مخ خاورې واچولې، بیا کله چه د ابوبکر ﷺ زمانه راغله، نو هغوی ته یو شرابی راوستلې شو نو هغوی دخلقو نه د نبی کریم ﷺ دهغې وهلو متعلق تپوس اوکړو کوم چه نبی کریم ﷺ وهلې وو، نوخلقو دهغې اندازه اولګوله چه هغه به څلویښت کوړې وهلې شوې وی، نو ابوبکر ﷺ دهغه حد څلویښت کوړې مقرر کړې، بیا کله چه د حضرت عمر ﷺ زمانه راغله نو خالد بن ولید هغه ته اولیکل چه خلقو په کثرت سره شراب څکل شروع کړی دی او ددې حد او سزا ته هیڅ اهمیت نه ورکوی، او وئې لیکل چه خلق تاسو سره دی دهغوی نه تپوس اوکړئ، دغه وخت دهغوی سره مهاجرین اولین موجود وو، عمر ﷺ دهغوی نه تپوس اوکړو نو دټولو په دې خبره باندې اتفاق اوشو چه اتیا دُرې به وهلې شی، علی ﷺ اووئیل: سړې چه کله شراب څکی نو بهتان لګوی په دې وجه زما رائې داده چه دهغه حد د بهتان حد (برابر) کړې شی.

د دې نه معلومه شوه چه دا د سفر واقعه ده د فتح مکه د ورځې.

عبدالرحمن بن ازهر فرمائی چه د فتح مکه د ورځې خبره ده چه رسول الله ﷺ په خیمو کښې د خالد بن الولید ﷺ خیمه لټوله او دا منظر ګویا زما د سترګو دوړاندې دې، په دغه وخت کښې رسول الله ﷺ ته یو سړې راوستلې شو چه شراب ئې څکلی وو نو رسول الله ﷺ خلقو ته اوفرمائیل چه دې اوهئ، پس خلقو د هغه وهل شروع کړل، بعضو هغه په پیزار سره وهلو او بعضو په ډنډو سره او بعضو د کهجورې په شنو ښاخونو باندې او بیا رسول الله ﷺ په اخر کښې د زمکې نه خاورې اوچته کړه او د هغه په مخ ئې ویشتله.

د دې حدیث د شروع تکړه ضمنا او استطرادا راوی ذکر کړې ده د خپل حفظ د پوخ والی د بیانولو دپاره پس په بذل کښې دی والمقصود بهذا الکلام بیان شدة حفظه اهـ.

او د دې نه پس چه کوم روایت راروان دې په هغې کښې د حنیین ذکر دې چه رسول الله ﷺ ته یو شارب خمر راوستلې شو چه کله هغوی په حنیین کښې وو او په هغې کښې دا زیادت دې ﴿ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ثُمَّ جَلَدَ أَبُو بَكْرٍ فِي الْخَمْرِ أَرْبَعِينَ ثُمَّ جَلَدَ عُمَرُ أَرْبَعِينَ صَدْرًا مِنْ إِمَارَتِهِ ثُمَّ جَلَدَ ثَمَانِينَ فِي آخِرِ خِلَافَتِهِ ثُمَّ جَلَدَ عُثْمَانُ الْحَدَّيْنِ كِلَيْهِمَا ثَمَانِينَ وَأَرْبَعِينَ ثُمَّ أَثْبَتَ مُعَاوِيَةُ الْحَدَّ ثَمَانِينَ ﴾

[٤٤٨٨]()حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، قَالَ: وَجَدْتُ فِي كِتَابِ خَالِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَزْهَرِ أَخْبَرَهُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَارِبٍ وَهُوَ بِحُنَيْنٍ، فَحَثَى فِي وَجْهِهِ التُّرَابَ ثُمَّ أَمَرَ أَصْحَابَهُ فَضَرَبُوهُ بِنِعَالِهِمْ وَمَا كَانَ فِي أَيْدِيهِمْ، حَتَّى قَالَ لَهُمْ: ارْفَعُوا فَرَفَعُوا، فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ جَلَدَ أَبُو بَكْرٍ فِي الْخَمْرِ أَرْبَعِينَ، ثُمَّ جَلَدَ عُمَرُ أَرْبَعِينَ صَدْرًا مِنْ إِمَارَتِهِ، ثُمَّ جَلَدَ ثَمَانِينَ فِي آخِرِ خِلَافَتِهِ، ثُمَّ جَلَدَ عُثْمَانُ الْحَدَّيْنِ كِلَيْهِمَا ثَمَانِينَ وَأَرْبَعِينَ، ثُمَّ أَثْبَتَ مُعَاوِيَةُ الْحَدَّ ثَمَانِينَ".

عبدالرحمن بن ازهر دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه دنبی علیه السلام په خدمت کښې یو شرابي حاضر شو اونبی علیه السلام په عزوه حنین کښې مصروف وو، نبی علیه السلام ددغه کس په خوله باندې اوبه واړولې اوصحابه کرامو ته ئې دده دوهلو حکم وکړو نوهغوی په خپلو پیزارونو باندې دا شرابي أووهلو اودپیزارونونه علاوه څه چه ددوی په لاسونوکښې وو یا ورته نزدې وو په هغې ئې هم ووهلو تردې چه نبی علیه السلام اوفرمائیل بس کړئ نو په دې خبره باندې خلقو دې پریخودو بیاچه کله نبی علیه السلام وفات شو نودهغه نه پس ابوبکر صدیق نه به دشرابو په حد کښې مجرم څلویښت درې وهلو اور عمر فاروق به هم په ابتداء د دور خلافت کښې څلویښت کوړې ورکولې اوبیا ئې دخپل خلافت په اخرکښې اتیاکوړې سزا مقرر کړه اوعثمان رضی الله عنه به هم اتیاکوړې ورکولې اوکله کله به ئې څلویښت ورکولې او معاویه به هم اتیا درې مقرر کړې وې.

یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کښې خو هم داسې کیدل چه باقاعده به په شرب خمر باندې کوړې نه شوې ورکولې په متعین طریقې سره بلکه په مختلفو څیزونو سره به هغه وهلې شو د چا په لاس کښې چه به څه وو مثلا څپلۍ، ډنډا، د کهجورې څانګه، خو د هغوی د وفات نه روستو د خلفاء راشدینو په زمانه کښې په دې کښې کوړې استعمال کړې شوې اګر چه په تعداد کښې اختلاف وو، صدیق اکبر رضی الله عنه اربعین اختیار کړو او عمرفارق رضی الله عنه په شروع کښې اربعین او په آخیر کښې ثمانین او عثمان غنی رضی الله عنه دواړه، خو بیا په آخر کښې د دې استقرار د معاویه رضی الله عنه په زمانه کښې په ثمانین باندې اوشو.

بَابٌ فِي إِقَامَةِ الْحَدِّ فِي الْمَسْجِدِ

بابه په جوماتکښې د حد قائمولو بیان

[٤٤٩٠]()حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ يَعْنِي ابْنَ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الشُّعَيْثِيُّ، عَنْ زُفَرَ بْنِ وَثِيمَةَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، أَنَّهُ قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُسْتَقَادَ فِي الْمَسْجِدِ، وَأَنْ تُنْشَدَ فِيهِ الْأَشْعَارُ، وَأَنْ تُقَامَ فِيهِ الْحُدُودُ".

دحکیم بن حزام رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده ددې خبرې نه چه په جومات کښې قصاص واغستلی شي یا په کښې شعرونه اوویلې شي او یاپه کښې حد قائم کړې شي (ددې دپاره چه په مسجد کښې شور او غوغا اوغوبل جوړ نشي).

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٦٨٥) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (٤٤٨٧)، (تحفة الأشراف: ٣٤٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٣٤) (حسن)

﴿ عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ أَنَّهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ يُسْتَقَادَ فِي الْمَسْجِدِ وَأَنْ تُنْشَدَ فِيهِ الأَشْعَارُ وَأَنْ تُقَامَ فِيهِ الْحُدُودُ ﴾

يعنى رسول اللهﷺ منع اوفرمائيله په مسجد کښې د قصاص اخستلو (او نامناسب) اشعار وئيلو نه او د دې نه چه په دې کښې حدود قائم کړې شي، ځکه چه په دې کښې د تلويث مسجد قوى احتمال دې تلويث بالدم وغيره (بذل) مونږ سره په کتاب کښې په کتاب الايمان والنذور کښې په باب ما جاء في تعظيم اليمين عند منبر النبیﷺ کښې تير شوې دى چه د رسول اللهﷺ فيصلې به عموما د مسجد شريف د منبر په خوا کښې کيدلې اګر چه هغه فيصلې د حدود او قصاص سره متعلق ولې نه وى، خو د دې حدود او قصاص اجراء او استيفاء دا د مسجد نه بهر کيدل پکار دى کوم چه مصنفؒ په دې باب کښې بيان کړى دى.

باب في ضرب الوجه في الحدّ[1]

بابه په حد کښې د مخ د وهلو د ممانعت بيان

په دې باب کښې مصنفؒ د ابوهريرهؓ دا حديث مرفوع ذکر کړې دې. ﴿ إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ ﴾

[٤٤٩٣] ([2]) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عُمَرَ يَعْنِي ابْنَ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ".

ابوهريرهؓ دنبى كريمﷺ نه روايت كوى چه فرمائيل ئې كله چه څوک چالره وهي نو په مخ باندې دې دوهلونه ځان اوساتي.

يعنى د وهلو په وخت دې مخ بچ کوى په هغې دې وهل نه کوى، دا حکم عام دې حد ته هم شامل دې لکه چه د مصنفؒ د ترجمې نه ثابتيږى.

والحديث اخرجه مسلم، قاله المنذرى.

---

[1]) تر دې ځائې پورې د حدود بيان وو اوس مصنفؒ تعزير شروع کوى مصنفؒ په کتاب الحدود کښې تول شپږ قسمه حدود بيان کړل د ټولو نه اول ردة، د هغې نه پس حرابة، د هغې نه پس حد سرقة، بيا حد زنا بيا حد قذف او حد خمر، او قصاص لره وړاندې مصنفؒ د کتاب الديات د لاندې بيان کړې دې. په کومو کومو څيزونو کښې په شريعت کښې حد ثابت دى د دې په باره کښې په اوجز کښې د حافظ نه نقل کړې دې چه بعض علماء کرامو دا په اولس څيزونو کښې منحصر کړې دې چه په هغې کښې بعض متفق عليه دى او بعض مختلف فيه، فمن المتفق عليه الردة والحرابة ما لم يتب قبل القدرة والزنا والقذف بالزنا وشرب الخمر سواء أسكر اولم يسكر والسرقة، ددې شپږو بيان په کتاب کښې تيرشو. ومن المختلف فيه جحد العارية وشرب ما يسكر كثيره من غير الخمر والقذف بغير الزنا والتعريض بالقذف واللواط ولو بمن يحل له نكاحها وإتيان البهيمة والسحاق وتمكين المرأة القرد وغيره من الدواب من وطئها والسحر وترك الصلاة تكاسلا والفطر في رمضان وهذا كله خارج عما تشرع فيه المقاتلة كما لو ترك قوم الزكاة ونصبوا لذلك الحرب اهـ په دې مختلف فيه حدود کښې مصنفؒ جحد العارية هم ذکر کړې ده او هم دغه شان لواطت او اتيان البهيمة هم.

[2]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٤٩٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٤٤، ٢٥١، ٤٣٤) (صحيح)

بَابٌ فِي التَّعْزِيرِ

باب د تعذير بيان

د تعزير تعريف او د هغې ثبوت او مشروعيت :

فقهاء كرام هم د كتاب الحدود نه د بيان د فراغت نه پس د تعزير دپاره مستقل فصل قائموي، د تعزير په باره كښې ئې ليكلي دي چه ﴿ والتعزير تاديب دون الحد ﴾ چه تعزير د هغه سزا او تاديبي كارروايئ نوم دې كوم چه د حد شرعي نه كم وي، دا اخستلې شوې دې د عزر نه په معنې د رد او ردع يعني منع كول او تړكل، قال البابرتی ٤/٢١١ والاصل في هذا ان من قذف غيره بكبيرة ليس فيها حد مقدر يجب التعزير، يعني كوم سړې چه د يو سړي طرف ته د داسې كبيره گناه نسبت اوكړي چه د هغې دپاره شرعاً څه حد مقرر نشته نو هلته تعزير واجب وي، ابن الهمام فرمائي : هُوَ مَشْرُوعٌ بِالْكِتَابِ ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى { فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا } أَمَرَ بِضَرْبِ الزَّوْجَاتِ تَأْدِيبًا وَتَهْذِيبًا وَفِي الْكَافِي قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ { لَا تَرْفَعْ عَصَاكَ عَنْ أَهْلِك }الى اخر ما ذكر.([1])

[٤٤٩١]([2])أَخْبَرَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: "لَا يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ إِلَّا فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ".

د ابوبرده نه روايت دې فرمائي چه رسول الله و به فرمائيل دالله تعالى دمقرر كړې شور حدودونه علاوه د تعزير په طور باندې دې څوک د لسو درونه زيات ونه وهلې شي.

﴿ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لاَ يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ إِلاَّ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ » ﴾

د تعزير په باره كښې د ائمة مذاهب تحقيق :

امام خطابي رحمه الله فرمائي چه امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي چه سړى ته حق حاصل دې چه

---

[1]) وَرُوِيَ « أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَزَّرَ رَجُلًا قَالَ لِغَيْرِهِ يَا مُخَنَّثُ » وَفِي الْمُحِيطِ : رُوِيَ عَنْهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَ « رَحِمَ اللَّهُ امْرَأً عَلَّقَ سَوْطَهُ حَيْثُ يَرَاهُ أَهْلُهُ » وَأَقْوَى مِنْ هَذِهِ الْأَحَادِيثِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ « لَا يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرٍ إلَّا فِي حَدٍّ » وَقَوْلُهُ « وَاضْرِبُوهُمْ عَلَى تَرْكِهَا لِعَشْرٍ » فِي الصِّبْيَانِ ، فَهَذَا دَلِيلُ شَرْعِيَّةِ التَّعْزِيرِ وَأَجْمَعَ عَلَيْهِ الصَّحَابَةُ ، وَبِالْمَعْنَى وَهُوَ أَنَّ الزَّجْرَ عَنْ الْأَفْعَالِ السَّيِّئَةِ كَيْ لَا تَصِيرَ مَلَكَاتٍ فَيَفْحُشُ وَيَسْتَدْرِجُ إلَى مَا هُوَ أَقْبَحُ وَأَفْحَشُ فَهُوَ وَاجِبٌ، وَذَكَرَ التُّمُرْتَاشِيُّ عَنْ السَّرَخْسِيِّ أَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ مُقَدَّرٌ بَلْ مُفَوَّضٌ إلَى رَأْيِ الْقَاضِي ، لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهُ الزَّجْرُ ، وَأَحْوَالُ النَّاسِ مُخْتَلِفَةٌ فِيهِ فَمِنْهُمْ مَنْ يَنْزَجِرُ بِالصَّيْحَةِ وَمِنْهُمْ يَحْتَاجُ إلَى اللَّطْمَةِ وَإِلَى الضَّرْبِ ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَحْتَاجُ إلَى الْحَبْسِ، ((وَفِي الشَّافِي)): التَّعْزِيرُ عَلَى مَرَاتِبَ: تَعْزِيرُ أَشْرَافِ الْأَشْرَافِ وَهُمْ الْعُلَمَاءُ وَالْعَلَوِيَّةُ بِالْإِعْلَامِ وَهُوَ أَنْ يَقُولَ لَهُ الْقَاضِي بَلَغَنِي أَنَّكَ تَفْعَلُ كَذَا وَكَذَا فَيَنْزَجِرُ بِهِ ، وَتَعْزِيرُ الْأَشْرَافِ وَهُمْ الْأُمَرَاءُ وَالدَّهَاقِينُ بِالْإِعْلَامِ الْجَرِّ إلَى بَابِ الْقَاضِي وَالْخُصُومَةِ فِي ذَلِكَ ، وَتَعْزِيرُ الْأَوْسَاطِ وَهُمْ السُّوقَةُ بِالْجَرِّ وَالْحَبْسِ ، وَتَعْزِيرُ الْأَخِسَّاءِ بِهَذَا كُلِّهِ وَبِالضَّرْبِ، وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ : يَجُوزُ التَّعْزِيرُ لِلسُّلْطَانِ بِأَخْذِ الْمَالِ ، وَعِنْدَهُمَا (الطرفين)وَبَاقِي الْأَئِمَّةِ الثَّلَاثَةِ لَا يَجُوزُ.)

[2]): صحيح البخاري/الحدود ٤٢ (٦٨٤٨)، صحيح مسلم/الحدود ٩ (١٧٠٨)، سنن الترمذي/الحدود ٣٠ (١٤٦٣)، سنن ابن ماجه/الحدود ٣٢ (٢٦٠١)، (تحفة الأشراف: ١١٧٢٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٦٦٧، ٤٥/٤)، سنن الدارمي/الحدود ١١ (٢٣٦٠) (صحيح)

هغه خپل غلام اوهي په ترک صلاة وغيره معصيت باندې، خو د لسو کوړو نه دې زيات نه وهي، او هم دا قول دې د اسحاق بن راهويه، او امام شافعي رحمه الله فرمائي چه تعزير څلوېښتو کوړو ته نه دې رسيدل پکار، او هم دا قول دې د امام ابوحنيفه او د امام محمد رحمه الله، او امام ابويوسف رحمه الله فرمائي چه تعزير د جرم د حيثيت په اعتبار سره دې د کومې درجې چه جرم وي او د هغې دپاره چه کومه سزا حاکم مناسب ګڼړي د اتيا کوړو نه کمه کمه، او د امام مالک رحمه الله نه روايت دې چه تعزير د جرم په اعتبار سره وي، پس که د هغه جرم د قذف نه هم زيات وي نو سل او د سلو نه زياتې کوړې هم ورکولې شي. اهـ
په دې کښې د امام شافعي رحمه الله مذهب هغه دې کوم چه علامه قسطلاني ليکلې دې چه ادنی حد ته دې نه رسوی د هغې نه دې کم وي، او ادنی الحدود د هغوی په نزد حد شرب دې څلوېښت کوړې، اوس دا چه د حد حر اعتبار دې او که د حد عبد؟ قسطلاني فرمائي چه په دې کښې د هغوی دواړه اقوال دی، که حد الحر واخستلې شي نو د تعزير زيات نه زيات مقدار به د هغوی په نزد يو کم څلوېښت کوړې وي، او که حد العبد واخستلې شي نو نورلس کوړې به وي، او په در مختار کښې دی چه زيات نه زيات د هغې مقدار يو کم څلوېښت کوړې دې يعنی د حد العبد نه کم، او کم از کم درې کوړې، او په هدايه کښې هم داسې دی، او په دې کښې د امام ابويوسف رحمه الله قول دا ليکلې شوې دې چه د تعزير مقدار تر پنځه اويا کوړو پورې کيدلې شي. وړاندې په دې کښې دی چه طرفين د حد القذف في الحد اعتبار سره کولو سره د هغې نه يو کوړه کمه کړه په يو روايت کښې وهو قول زفر وهو القياس. او په بل روايت کښې پنځه کوړې کمولو سره د هغې مقدار پنځه اويا کوړې مقرر کړې شوې دې [1] او په درمختار کښې دا هم دی ﴿ التعزير ليس فيه تقدير بل هو مفوض الى رائ القاضي لان المقصود منه الزجر واحوال الناس فيه مختلفة ، په دې باندې علامه شامي فرمائي اى ليس في انواعه تقدير ﴾ يعنی زيات نه زيات خو د دې مقدار متعين دې چه مادون الحد کيدل پکار دی، خو د کوم نوع تعزير دې وي مثلاً ضرب حبس يا فرک الاذن؟ په دې لحاظ سره دې کښې تعين نشته، (من الابواب والتراجم ٦/٢٣١) او حديث الباب د امام احمد او چا چه د هغه موافقت کړې دې دليل دې، او د جمهورو د طرف نه ددې حديث جواب په بذل کښې د لمعات نه دا نقل کړې دې چه دا حديث منسوخ دې ځکه چه د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه تجاوز عن العشرة ثابت دې، او بعضو دا جواب ورکړې دې چه دا د رسول الله ﷺ د زمانې په اعتبار سره دې. (ځکه چه هغه خير القرون وه)
والحديث اخرجه البخاري والترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٤٩٢] ([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، أَنَّ بُكَيْرَ بْنَ الْأَشَجِّ حَدَّثَهُ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ جَابِرٍ، أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا بُرْدَةَ الْأَنْصَارِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ

[1]) په خلاصة المذاهب کښې د دې په باره کښې دادی: امام احمد ١٠ کوړې، امام شافعي رحمه الله نولس يا نهه ديرش کوړې، طرفين (ابوحنيفه ومحمد) نهه ديرش کوړې، ابويوسف رحمه الله نهه اويا يا پنځه اويا کوړې، امام مالک رحمه الله علي راي الامام بحسب الجرم وان زاد علي المائة)
[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٧٢٠) (صحيح)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

دابوبرده رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول کريم ق نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل ئې ، اوبيا ئې دتير شوي روايت په شان روايت بيان کړو.

اخر کتاب الحدود

....

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب الديات

د ديت داحکامو بيان

امام بخاری رحمه الله د کتاب الحدود نه پس د کتاب الديات نه مخکښ کتاب المحاربين من اهل الکفر والردة مستقلا ذکر کړې دې او امام ابوداؤد رحمه الله ردة او حرابه په کتاب الحدود کښ ذکر کړی دی.

د ديت تعريف :

قال القسطلانی : والدية هی المال الواجب بالجناية علی الحر فی نفس او فيما دونها، وهی ماخوذة من الودی وهو دفع الدية اه وقال الحافظ : وهی ما جعل فی مقابلة النفس وسمی دية تسمية بالمصدر يعنی دية په اصل کښ ودی وو چه مصدر دې د ودی يدی يعنی دية ادا کول او ديت هغه مال دې کوم چه د نفس په بدل کښ وی، او يو وی ارش يعنی هغه مال کوم چه د نفس نه د کم بدله وی ففی الدر المختار : الدية فی الشرح اسم للمال الذی هو بدل النفس والارش اسم للواجب فيما دون النفس اه خو قسطلانی د دية په تعريف کښ نفس او مادون النفس دواړه ذکر کړی دی، لکه چه اوس تير شو خو هغوی د ديت په تعريف کښ يو قيد زيات کړو هغه دا چه په جناية علی الحر سره چه کوم مال واجب کيږی هغې ته ديت وائی. چه د هغې نه معلوميږی چه د جناية علی العبد نه چه کوم مال واجب کيږی هغه ديت نه دې، ځکه چه د حر ديت خو متعين دې په خلاف د عبد چه د هغه ديت متعين نه دې بلکه د عبد چه کوم قيمت وی هغه به د هغه ديت وی او ښکاره خبره ده چه د غلامانو قيمت کم او زياتيږی د منافع په حساب سره، پس فقهاء کرامو د جناية علی العبد فصل بيل منعقد کړې دې، په تنوير الابصار او د هغې په شرح درمختار کښ دی : دية العبد قيمته فان بلغت هی دية الحر وبلغت قيمة الامة دية الحرة نقص من کل من دية عبد وامة عشرة دراهم اظهار الانحطاط رتبة الرقيق عن الحر وتعيين العشرة باثر ابن مسعود رضی الله عنه وعنه من الائمة خمسة، يعنی په کوم عبد باندې چه جنايت کړې شوې دې او هغه تلف کړې شوې دې نو د هغه ديت به د هغه بازاری قيمت وی د هغه غلام چه په بازار کښ هرڅه قيمت وی په دې شرط چه هغه د حر د ديت مقرره نه کم وی او که د هغې برابر وی يعنی لس زره درهم نو په هغې کښ به لس درهمه کمولې شی د عبد دمرتبې د انحطاط د ښکاره کولو دپاره، لکه څنګه چه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه منقول دی. مصنف رحمه الله د ديات د لاندې قصاص هم بيان کړې دې هم دغه شان امام بخاری هم، حافظ فرمائی:

﴿ وأورد البخاري تحت هذه الترجمة (كتاب الديات) ما يتعلق بالقصاص لأن كل ما يجب فيه القصاص يجوز العفو عنه على مال فتكون الدية أشمل﴾ يعنى په كومو كوموخيزونو كښې چه قصاص واجب كيږي هلته قصاص معاف كولو سره مال اخستل جائز دى او د دية حقيقت هم مال دي په دي وجه د ديت عنوان اعم او اشمل دي، وړاندي حافظ فرمائي : وترجم غيره كتاب القصاص وأدخل تحته الديات بناء على أن القصاص هو الأصل في العمد اهـ يعنى د عمدا جنايت كولو په صورت كښې اصل حكم قصاص دي، قصاص معاف كولو سره مال اخستل هغه بل امر دي (١) وفي البدائع : والاصل فيه نصّ الْكِتَابِ الْعَزِيزِ ، وَهُوَ قَوْلُهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى { وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إلَى أَهْلِهِ } وَالنَّصُّ وَإِنْ وَرَدَ بِلَفْظِ الْخَطَإِ لَكِنَّ غَيْرَهُ مُلْحَقٌ بِهِ... (من الابواب والتراجم ٦/٢٣٣)

باب النَّفْسِ بِالنَّفْسِ

باب: يو نفس د بل نفس په بدل كښې د قتلولو بيان

يعنى د قصاص بالنفس بيان:

[٤٤٩٤](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ مُوسَى، عَنْ عَلِيِّ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ قُرَيْظَةُ، وَالنَّضِيرُ وَكَانَ النَّضِيرُ أَشْرَفَ مِنْ قُرَيْظَةَ فَكَانَ إِذَا قَتَلَ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْظَةَ رَجُلًا مِنَ النَّضِيرِ قُتِلَ بِهِ وَإِذَا قَتَلَ رَجُلٌ مِنَ النَّضِيرِ رَجُلًا مِنْ قُرَيْظَةَ فُودِيَ بِمِائَةِ وَسْقٍ مِنْ تَمْرٍ، فَلَمَّا بُعِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتَلَ رَجُلٌ مِنَ النَّضِيرِ رَجُلًا مِنْ قُرَيْظَةَ، فَقَالُوا: ادْفَعُوهُ إِلَيْنَا نَقْتُلْهُ، فَقَالُوا: بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَوْهُ، فَنَزَلَتْ: وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ سورة المائدة آية ٤٢، وَالْقِسْطُ النَّفْسُ بِالنَّفْسِ، ثُمَّ نَزَلَتْ: أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ سورة المائدة آية ٥٠"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قُرَيْظَةُ، وَالنَّضِيرُ جَمِيعًا مِنْ وَلَدِ هَارُونَ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَام.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه په بنونضير اوبنو قريظه كښې زورور بنو نضير وو، كله چه به دبنو قريظه والا يو كس دبنو نضير والا يوكس مړ كړونودده په عوض كښې به په بنوقريظه كښې به دغه كس په طور دقصاص قتل كيدې شو، او كله چه به دبني قريظه يوكس دبنو نضير يوكس مړ كړونوسل وسقه كجورې به ئې په فديه كښې اداكولې، كله چه نبی كريم ﷺ مبعوث شو نودقبيله بنونضيريوكس دبنو قريظه يوكس لره مړ كړو دبنو قريظه خلقو اووئيل چه قاتل مونږ ته حواله كړئ تردې چه مونږ ئې قتل كړو دبنونضير والاخلقو د پخواپه شان دقاتل دحواله كولونه انكار وكړو بيا دوی اووئيل راشئ چه نبی ﷺ ته لاړ شو هغه چه هرڅنګه فيصله وكړي منئ به يې، تول كسان نبی ﷺ ته لاړل نو په

(١) حاصل دا چه بعض مصنفينو د كتاب الديات عنوان ذكر كولو سره قصاص د هغې د لاندې ذكر كړې دې په دې حيثيت سره چه په ديت كښې عموم او شمول دې ځكه چه د قصاص په ځائې ديت اخستلې كيدې شي او د دې برعكس (د ديت په ځائې قصاص نه) او بعض مصنفينو د دې برعكس د قصاص عنوان اختيارولو سره ديت د هغې د لاندې ذكر كړې دې په دې حيثيت سره چه قصاص هميشه اصلي وی د ديت بدل نه شی كيدې، په خلاف د ديت چه هغه كله اصلي وی او كله د قصاص بدل وی لهذا ديت لره د قصاص تابع كول پكار دی نه د دې عكس.

(٢): سنن النسائي/القسامة ٤(٤٧٣٦)، (تحفة الأشراف: ٦١٠٩) (صحيح)

دي وخت کښې دا ايت کريمه : «وإن حکمت فاحکم بينهم بالقسط» نازل شو ، اوانصاف دادې چه يونفس دي دبل نفس په بدل کښې قتل کړې شي بيا دا ايت کريمه نازل شو «أفحکم الجاهلية يبغون» امام ابوداؤد فرمائي بنوقريظه اوبنو نضير دواړه دهارون عليه السلام داولاد نه دي.

قوله: ﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ قُرَيْظَةُ وَالنَّضِيرُ – وَكَانَ النَّضِيرُ أَشْرَفَ مِنْ قُرَيْظَةَ – فَكَانَ إِذَا قَتَلَ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْظَةَ رَجُلاً مِنَ النَّضِيرِ قُتِلَ بِهِ وَإِذَا قَتَلَ رَجُلٌ مِنَ النَّضِيرِ رَجُلاً مِنْ قُرَيْظَةَ فُودِىَ بِمِائَةِ وَسْقٍ مِنْ تَمْرٍ﴾ يعنی په مدينه منوره کښې د يهودو دوه قبيلې قريظه او بنو نضير وې، چه په هغوی کښې بنو نضير شريف ګڼرلې کيدل د بنو قريظه په مقابله کښې، پس که يو قرظی سړی به په بنو نضير کښې څوک قتل کړل نو په قصاص کښې به هغه قتل کولې شو ، او که په بنو نضير کښې به چا څوک قرظی قتل کړو نو په دې صورت کښې به په قصاص کښې سل وسق کهجورې د هغه په فديه کښې ورکولې شوې، په شروع کښې هم داسې وه، بيا چه کله د رسول الله ﷺ بعثت اوشو او هغوی مدينې طيبې ته تشريف راوړلو نو يو نضيری يهودی يو قرظی قتل کړو. نو د بنو قريظه يهودو اووې بنو نضير ته چه دا خپل قاتل مونږ ته حواله کړئ چه مونږ دې قصاص کړو، هغوی اووې چه زمونږ او ستاسو ترمينځه به محمد ﷺ حکم وی په هغوی باندې دې فيصله اوکړې شی پس دوی دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو په دې باندې دا آيت کريمه نازل شو، ﴿ وان حکمت فاحکم بينهم بالقسط ﴾ چه که تاسو د دوی ترمينځه فيصله کوئ نو په عدل کوئ، راوی د حديث وائی چه قسط چه کوم دې هغه هم دا دې چه نفس دې د نفس په بدل کښې واخستلې شی، ثم نزلت ﴿ افحکم الجاهلية يبغون ﴾ يعنی چه کله هغه يهودو د دې آيت حکم خوښ نه کړو او خپل مينځ کښې ئې نزاع شروع کړه نو په هغې باندې دا دويم آيت کريمه نازل شو چه آيا دوی د جاهليت قوانين لټوی.

په دې حديث کښې يو مسئله د قضاء بين اهل الذمة ده چه که مسلمان قاضی به د اهل کتاب په مينځ کښې فيصله کوی يا به نه کوی چه په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف دې، په باب الرجم کښې مسئله تيره شوې.

دلته په بعض نسخو کښې دا دی : قَالَ أَبُو دَاوُدَ قُرَيْظَةُ وَالنَّضِيرُ جَمِيعًا مِنْ وَلَدِ هَارُونَ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلاَمُ، چه يهود دا دواړه قبيلې د هارون عليه السلام په اولاد کښې دی، ام المومنين صفيه رضي الله عنها هم د هغوی نه ده لکه چه په باب سهم الصفی کښې تير شوې دی سيدة قريظه والنضير، والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابٌ لاَ يُؤْخَذُ الرَّجُلُ بِجَرِيرَةِ أَخِيهِ أَوْ أَبِيهِ

باب: د پلار يا د ورور په ګناه کښې به څوک يا ورور نه شی نيولی کيدې

[٤٤٩٥](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ إِيَادٍ، حَدَّثَنَا إِيَادٌ، عَنْ أَبِي رِمْثَةَ، قَالَ: "انْطَلَقْتُ مَعَ أَبِي نَحْوَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِي: ابْنُكَ هَذَا؟ قَالَ: إِي

(1): انظر حديث رقم (٤٢٠٨)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٣٧) (صحيح)

وَرَبِّ الْكَعْبَةِ، قَالَ: حَقًّا، قَالَ: أَشْهَدُ بِهِ، قَالَ: فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَاحِكًا مِنْ ثَبْتِ شَبَهِي فِي أَبِي وَمِنْ حَلِفِ أَبِي عَلَيَّ، ثُمَّ قَالَ: أَمَا إِنَّهُ لَا يَجْنِي عَلَيْكَ وَلَا تَجْنِي عَلَيْهِ، وَقَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى سورة الأنعام آية ١٦٤".

دابو رمثه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زه دخپل پلار سره دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم نبی عليه السلام زما پلارته اوفرمائيل ايا دا ستا ځوي دې؟ زماپلار اووئيل هو، زما دې دبيت الله شريف په رب باندې قسم وي نبی عليه السلام اوفرمائيل رښتيا وائی؟ زما پلار په جواب کښې اووئيل يقينا زه ددې خبرې ګواهي ورکوم ، نبی عليه السلام اوخندل ځکه چه زه په مکمل طور دخپل پلار هم شکل وم او زما پلار قسم وکړو چه زه دهغه ځوي يم ، ددينه پس نبی عليه السلام اوفرمائيل خبردار نه به دې ستاپه ګناه باندې نيولې کيږی اونه به ته دده په ګناه باندې نيولې کيږې ، اونبی عليه السلام داايت کريمه ولوستلو: «ولا تزر وازرة وزر أخرى».

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي رِمْثَةَ قَالَ انْطَلَقْتُ مَعَ أَبِي نَحْوَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ لأَبِي « ابْنُكَ هَذَا ». قَالَ إِي وَرَبِّ الْكَعْبَةِ قَالَ « حَقًّا ». قَالَ أَشْهَدُ بِهِ الخ ﴾

شرح الحديث:

سيدنا ابورمثه رضي الله عنه فرمائی چه زه د خپل پلار سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم (چه کله رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ دواړو ته اوکتل نو هغوی زما په باره کښې زما د پلار نه تپوس اوکړو چه آيا دا ستا ځوئې دې؟ نو هغوی اوفرمائيل جی د کعبې په رب مې دې قسم وی، رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل آيا واقعی داسې ده؟ هغوی جواب ورکړو او جی زه د دې خبرې ګواهی ورکوم، په دې باندې رسول الله صلی الله عليه وسلم اوخندل چه د هغې وجه هغوی خپله بيانوی د دوه وجو نه يو خو زما د خپل پلار سره د ډير مشابهت د وجې نه، دويم زما د پلار د دې قسم خوړلو د وجې نه، په دې موقع باندې رسول الله صلی الله عليه وسلم زما پلار ته دا خبره هم ارشاد اوفرمائيله چه نه خو په تا باندې ستا ځوئې جنايت کوی او نه ته په خپل ځوی باندې جنايت کوې، مطلب دا دې چه په تاسو دواړو کښې به د يو د جنايت سزا بل ته نه ملاويږی، بلکه چه څوک هم جنايت کوی که پلار وی او که ځوئې، د هغې قصاص او ضمان به هم په هغه باندې وی، يعنی اسلامی قانون دا دې او د زمانه جاهليت والا طريقه په اسلام کښې جائز نه ده چه په هغه زمانه کښې به دا کيدل چه د جنايت سزا صرف د جانی سره خاص نه وه بلکه دجانی څوک هم ملاوشی پلار يا رور يا د هغه ځوئې يا د د هغه دقبيلې يو سړې، او په اسلام کښې دا دی: ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى ﴾ او هم دغه شان ﴿ولكم فی القصاص حياة ﴾

دا حديث د دې نه مخکښې هم تير شوې دې، باب فی الخضاب کښې خو مختصرا او د هغې نه مخکښې هم په باب فی الخضرة کښې، په دې حديث باندې په حاشيه د بذل کښې دی چه ابن قدامة ددې حديث نه په دې خبره باندې استدلال کړې دې چه د عمدا جنايت ديت خپله په جانی باندې دې، په عاقله باندې نه واجب کيږی اهـ...... مسئله زمونږ په نزد هم دا ده پس په درمختار کښې دی:

(و) اعلم أنه (لا تعقل عاقلة جناية عبد ولا عمد) (قَوْلُهُ جِنَايَةَ عَبْدٍ) مِنْ إضَافَةِ الْمَصْدَرِ إلَى فَاعِلِهِ وَأَمَّا

إِذَا جَنَى حُرٌّ عَلَى نَفْسِ عَبْدٍ فَسَيَأْتِي (قَوْلُهُ وَلَا عَمْدٍ) أَيْ فِي النَّفْسِ أَوْ الطَّرَفِ فَإِنَّ الْعَمْدَ لَا يُوجِبُ التَّخْفِيفَ بِتَحَمُّلِ الْعَاقِلَةِ فَوَجَبَ الْقَوَدُ بِهِ ۱هـ﴾ دا مسئله په اصل کښ د کتاب الديات ده هلته هم راروانه ده. والحديث أخرجه الترمذي والنسائي مختصرا ومطولا، وقال الترمذي: حسن غريب لا نعرفه الامن حديث عبيدالله بن زياد، قاله المنذري.

باب الإِمَامِ يَأْمُرُ بِالْعَفْوِ فِي الدَّمِ

باب: حاکم چه دچا د خون معاف کولو حکم اوکړی

يعنی په کوم صورت چه قصاص واجب کيږی که د هغه قصاص تعلق د نفس سره وی يا په طرف سره نو په دې صورت کښ رسول اللهﷺ ولی د دم ته چاته چه د قصاص د اخستلو حق رسيږی هميشه به ئې ورته د عفو او د ترک قصاص ترغيب ورکولو پس په دې باب کښ د اول حديث نه علاوه ځومره چه احاديث دی په هغې کښ د رسول اللهﷺ د طرف نه د قصاص په ځائې مطلقا د عفو يا د عفو باخذ الدية ترغيب ذکر شوې دې، خو د باب په اول حديث کښ دی کوم چه د ابو شريح خزاعی نه مرفوعا روايت دې.

[۴۴۹۶](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ فُضَيْلٍ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَبِي الْعَوْجَاءِ، عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أُصِيبَ بِقَتْلٍ أَوْ خَبْلٍ فَإِنَّهُ يَخْتَارُ إِحْدَى ثَلَاثٍ: إِمَّا أَنْ يَقْتَصَّ وَإِمَّا أَنْ يَعْفُوَ وَإِمَّا أَنْ يَأْخُذَ الدِّيَةَ، فَإِنْ أَرَادَ الرَّابِعَةَ فَخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ، وَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ".

دابوشريح الخزاعیؓ نه روايت دې فرمائی چه نبیﷺ فرمائيلی دی په چاباندې چه دقتل افت راشي ياورباندې په جسم کښې ديواندام دکټ کولو مصيبت راشي نودغه کس ته په درې خبرو کښې ديوې دخوښولو اختيار دې يا قصاص اغستل يا معاني کول يادية اغستل اوکه چرې دغه کس ددينة علاوه کومه بله څلورمه خبره اختيارول غواړي نو دده لاسونه ونيسئ (يعنی منع ئې کړئ) اوڅوک چه دحد نه تجاوز اوکړي نودهغه دپاره دردناک عذاب دې.

قوله: ﴿مَنْ أُصِيبَ بِقَتْلٍ أَوْ خَبْلٍ فَإِنَّهُ يَخْتَارُ إِحْدَى ثَلَاثٍ الخ﴾ د قتل تعلق د نفس سره دې او د خبل د طرف سره، يعنی قطع د عضو، يعنی کوم جنايت چه عمدا وی که د هغې تعلق د نفس سره وی يا د اندام سره نو هلته به مجنی عليه يا د هغه ولی ته درې اختيارات حاصل دی يا خو دې قصاص واخلی او يا دې مطلقا معاف کړی او يا دې ترې نه ديت واخلی، ﴿فَإِنْ أَرَادَ الرَّابِعَةَ فَخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ﴾ او که هغه د دې درې څيزونو نه علاوه څلورم صورت اختيار کړی نو هغه منع کړئ، په دې حديث کښ خو ګويا رسول اللهﷺ د قاعدې مطابق د مقتول ولی ته چه کوم شرعا حق حاصل دې هغه بيان اوفرمائيلو چه هغه ته په دريو کښې د يو-اختيار حاصل دې کوم چه هغه اختياروی، د دې دريو نه علاوه دلته بل څيز نشته، اوس دا چه په

(1): سنن ابن ماجه/الديات ۳ (۲۶۲۳)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱/۴)، سنن الدارمي/الديات ۱ (۲۳۹۶) (ضعيف)

دي دريو کښې اولي کوم څيز دې د دې ذکر په روستو روايت کښې راځي هغه دا چه رسول الله ﷺ به په دې دريو کښې اولا بخښنې او دويم ديت ته ترجيح ورکوله لکه د مصنف رحمه الله په ترجمة الباب کښې چه دی.

په قتل عمد کښې د قصاص په ځائې د ديت اخستلو حق د مقتول ولي ته کله حاصل دې؟

د دې نه پس ځان پوهول پکار دی چه په دې حديث کښې يو مختلف فيه مسئله ده، د ﴿واما ان ياخذ الدية﴾ په باره کښې هغه دا چه د قتل عمد په صورت کښې اصل حکم خو د قصاص دې چه د مقتول ولي دې د قاتل نه قصاص واخلي، او په قتل عمد کښې د ديت اخستلو اختيار د دوه امامانو په نزد خو مطلقا دې يعنی د امام شافعي او احمد رحمهما الله، او دا يو روايت دې د امام مالک رحمه الله هم، او د امام مالک او امام ابوحنيفه رحمهما الله په نزد د مقتول ولي ته د ديت د اخستلو په هغه صورت کښې دی چه کله قاتل په ديت ورکولو باندې راضي وي، او که هغه راضي نه وي نو د اخذ ديت حق ئې نشته، دا حديث په دې مسئله کښې د شوافعو او حنابله موافق دې، په دې مسئله باندې مستقل باب وړاندې راروان دې، باب ولي العمد ياخذ الدية، د احنافو دليل به هلته وړاندې راشي، دلته په حديث الباب کښې دی، ﴿ومن اعتدى بعد ذلک فله عذاب اليم﴾ يعنی کوم سړې چه د دې امور ثلاثه نه څلورم ته تجاوز اوکړي پس د هغې نه يعنی هغه ته د دې خبرې د رسيدو نه پس چه اختيار صرف په دريو امورو کښې دې، هغه څلورم څيز څه کيدې شي مثلا د معاف کولو نه پس يا د ديت اخستلو نه پس بيا قتل اوکړي يا ئې په شروع کښې مطلقا معاف کړو بغير د ديت نه بيا ئې ديت هم طلب کول شروع کړل. والحديث اخرجه ابن ماجه وحديث انس الاتي اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٤٩٧](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُزَنِيُّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُفِعَ إِلَيْهِ شَيْءٌ فِيهِ قِصَاصٌ إِلَّا أَمَرَ فِيهِ بِالْعَفْوِ".

دانس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ما نبي عليه السلام اوليد و چه کله به هغه ته يو داسې مقدمه پيش شوه په کومه کښې چه قصاص لازم وي نونبي عليه السلام به دمعاف کولو ترغيب ورکولو يعنی دمقتول وارثانو ته دقاتل دمعاف کولو.

[٤٤٩٨](2) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "قُتِلَ رَجُلٌ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرُفِعَ ذَلِكَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَفَعَهُ إِلَى وَلِيِّ الْمَقْتُولِ، فَقَالَ الْقَاتِلُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَاللَّهِ مَا أَرَدْتُ قَتْلَهُ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْوَلِيِّ: أَمَا إِنَّهُ إِنْ كَانَ صَادِقًا ثُمَّ قَتَلْتَهُ دَخَلْتَ النَّارَ، قَالَ: فَخَلَّى سَبِيلَهُ، قَالَ: وَكَانَ مَكْتُوفًا بِنِسْعَةٍ فَخَرَجَ يَجُرُّ نِسْعَتَهُ فَسُمِّيَ ذَا النِّسْعَةِ".

---

(1): سنن النسائي/القسامة ٢٣ (٤٧٨٧، ٤٧٨٨)، سنن ابن ماجه/الديات ٣٥ (٢٦٩٢)، (تحفة الأشراف: ١٠٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٣/٣، ٢٥٢) (صحيح)

(2): سنن الترمذي/الديات ١٣ (١٤٠٧)، سنن النسائي/القسامة ٣ (٤٧٢٦)، سنن ابن ماجه/الديات ٣٤ (٢٦٩٠)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٠٧) (صحيح)

د ابوهريره ﷺ نه روايت دې فرمائي چه دنبی علیه السلام په زمانه کښې يوکس قتل کړې شو اونبی علیه السلام ته دهغه مقدمه پيش کړې شوه نونبی علیه السلام قاتل لره دمقتول وارثانوته حواله کړو قاتل عرض اوکړو اې دالله رسوله ما دغه سړې د قتل کولو په اراده باندې نه دې قتل کړې ، نبی علیه السلام دمقتول وارثانوته اوفرمائيل اوګورئ که چرې دې رښتونې وي او تاسو ئې قتل کړئ نودوزخ ته به لاړ شئ دوی چه دا خبره واوريده نوقاتل ئې پريخودو اودده دواړه لاسونه په پړي تړل شوي وو دې په داسې حال کښې اووتو چه پړې يې په ځان پسې راښکلونو په دې وجه په ده باندې ذا الشعير نوم کيخودې شو يعنی دپړي والا.

قوله:﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قُتِلَ رَجُلٌ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَرُفِعَ ذَلِكَ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم الخ ﴾

شرح الحديث :

يعنی د رسول الله ﷺ په زمانه کښ يو سړې قتل کړې شو نو دا واقعه رسول الله ﷺ ته راورسولې شوه په دې باندې رسول الله ﷺ هغه قاتل د مقتول ولی ته اوسپارلو ، دې قاتل رسول الله ﷺ ته دا عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ !قسم په الله زما اراده د هغه د قتل کولو نه وه (صرف د وهلو وه) خو هغه مړ شو، نو په دې باندې رسول الله ﷺ ولی د مقتول ته اوفرمائيل چه دا قاتل که په خپل قول کښ رښتينې وی او بيا هم تا قتل کړو نو ته به جهنم ته ځې، د مقتول ولی په دې خبره اوريدلو باندې هغه پريخودلو، راوی وائی چه هغه سړې د څرمنې د يوې تسمې سره مکتوف وو،([1]) هغه چه پرانستلې شو نو اوتختيدلو د هغه په تيختې سره هغه رسئ هم په هغه پسې راښکلې کيده په دې وجه د هغه نوم ذوالنسعة کيخودلې شو (تسمې والا)

د دې حديث نه معلومه شوه چه په کوم قتل باندې د قتل عمد تعريف صادقيږی نو هلته د قاتل دا وينا چه زما اراده د قتل نه وه دا قضاء معتبر نه ده، خو که هغه قاتل په خپل قول کښ صادق وی نو د هغې دا قول به ديانة قابل قبول وی ګينې د هغه وبال به د مقتول په ولی باندې وی. (بذل) والحديث اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذری

[٤٤٩٩]([2])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ الْجُشَمِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عَوْفٍ، حَدَّثَنَا حَمْزَةُ أَبُو عُمَرَ الْعَائِذِيُّ، حَدَّثَنِي عَلْقَمَةُ بْنُ وَائِلٍ، حَدَّثَنِي وَائِلُ بْنُ حُجْرٍ، قَالَ: "كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جِيءَ بِرَجُلٍ قَاتِلٍ فِي عُنُقِهِ النِّسْعَةُ، قَالَ: فَدَعَا وَلِيَّ الْمَقْتُولِ، فَقَالَ: أَتَعْفُو؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَتَأْخُذُ الدِّيَةَ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَتَقْتُلُ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: اذْهَبْ بِهِ، فَلَمَّا وَلَّى، قَالَ: أَتَعْفُو؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَتَأْخُذُ الدِّيَةَ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَتَقْتُلُ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: اذْهَبْ بِهِ، فَلَمَّا كَانَ فِي الرَّابِعَةِ، قَالَ: أَمَا إِنَّكَ إِنْ عَفَوْتَ عَنْهُ يَبُوءُ بِإِثْمِهِ وَإِثْمِ صَاحِبِهِ، قَالَ: فَعَفَا عَنْهُ، قَالَ: فَأَنَا رَأَيْتُهُ يَجُرُّ النِّسْعَةَ".

---

[1]) مکتوف وائی هغه سړی ته چه د هغه دواړه لاسونه شاته بوتلو سره په رسئ وغيره باندې اوتړلې شی د هغه زمانې د هتکړو طريقه هم دا وه.

[2]): صحيح مسلم/القسامة ١٠ (١٦٨٠)، سنن النسائي/القسامة ٣ (٤٧٢٨)، القضاء ٢٥ (٥٤١٧)، (تحفة الأشراف: ١١٧٦٩)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الديات ٨ (٢٤٠٤) (صحيح)

د وائل بن حجر رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی چه زه دنبی ﷺ سره موجود وم چه يوقاتل راوستل شو اودهغه په مرئ کښې پړی اچولې شوې وونبی ﷺ دمقتول وارث طلب کړو اوتپوس ئي ورنه اوکړو چه ايا ته دې معاف کوې هغه اووئيل نه بياورته نبی ﷺ اوفرمائيل ايا ديت اخلې هغه اووئيل نه، بيانبی ﷺ اوفرمائيل ايا ده لره قتل کول غواړې؟ ده اووئيل هو نبی ﷺ اوفرمائيل دې بوځه کله چه ده روان کړو نبی ﷺ ورته او فرمائيل ايا ته دې معاف کوې هغه اووئيل نه، بيا ئې ورته اووئيل ايا ديت اخلې هغه جواب ورکړو نه بيا ئې ورته اووئيل ايا دده قتل کول غواړې هغه جواب ورکړو هو، بيا ئې ورته اوفرمائيل ده لره بوځه، بيا ئې ورته په څلورم ځل اووئيل اوګوره که چرې ته دې معاف کړې نودې به خپله ګناه اودقتل شوې ګناه پخپل ځان باندې رابار کړې دمقتول وارثانوچه دا واوريدل نودې يې پر يخودو وائل اووئيل ماهغه کس اوليدو چه پړې يې په ځان پسې راښکلو.

قوله:﴿ حَدَّثَنِي وَائِلُ بْنُ حُجْرٍ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- إِذْ جِيءَ بِرَجُلٍ قَاتِلٍ فِي عُنُقِهِ النِّسْعَةُ الخ ﴾

مضمون الحديث مع الشرح :

وائل بن حجر رضی الله عنه فرمائی چه زه د رسول الله ﷺ سره اوم، يو قاتل هغوی ته راوستلې شو چه د هغه په غاړه کښې د چمړې تسمه پرته وه، نو رسول الله ﷺ د قاتل ولی راطلب کړو او ترتيب وار ئې د هغه مخې ته درې خبرې کيخودلې اول د عفو خبره چه آيا ته معافی کولې شې؟ هغه انکار اوکړو، د دې نه پس رسول الله ﷺ د ديت د اخستلو اوفرمائيل، هغه د دې نه هم انکار اوکړو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل آيا ته قتل کول غواړې نو هغه اووې او، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ښه څه دې بوځه، هم دغه شان د سوال او جواب نوبت د رسول الله ﷺ او د هغه قاتل ترمينځه راغلو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿ أَمَا إِنَّكَ إِنْ عَفَوْتَ عَنْهُ يَبُوءُ بِإِثْمِهِ وَإِثْمِ صَاحِبِهِ﴾ که تا دې معاف کړې وې نو هغه به واپس شوې وې د خپلو تيرو ګناهونو سره، او د دې صاحب واقعه يعنی د مقتول د ګناهونو سره يعنی د هغه د قتل د ګناه سره د "إِثْمِ صَاحِبِهِ" نه مراد "اثم قتل صاحبه" دې او خپله د مقتول ګناه مراد نه ده يعنی دا مطلب نه دې چه که ته دا قاتل معاف کړې نو هغه به د مقتول د ګناهونو سره واپس کيږی، يعنی د مقتول ګناه به په هغه باندې واچولې شی، ځکه چه دا مطلب د ﴿ ولا تزر وازرة وزر اخرى ﴾ خلاف دې په دې اوريدلو سره د مقتول ولی دا قاتل معاف کړو او پرې ئې خودلو، هغه خپله تسمه راښکلو سره په تيخته شو، د دې جملې دا مطلب په بذل کښې د حضرت ګنګوهی د تقرير نه هم دا نقل کړې شوې دې، او حضرت دا هم ليکلی دی چه مراد خو د رسول الله ﷺ دا دې کوم چه مونږ ليکلې دې خو عبارت رسول الله ﷺ داسې راوړلو چه هغه موهم دې نورو معنو لره کوم چه غير مقصود دی (د مقتول ګناهونه په قاتل باندې اچول) د مقتول ولی لره په عفو باندې د تيارولو دپاره، او علامه سندی رحمه الله هم د دې حديث معنی مراد هم دا ليکلی دی، او د هغې سره ئې دا هم ليکلې دی چه په دې مطلب کښې د عفو د ترغيب سره څه خاص مناسبت نشته. پس هغوی فرمائی : وهذا المعنى لا يصلح للترغيب الا

ان يقال الترغيب باعتبار ايهام الكلام بالمعنى الظاهر ويجوز الترغيب بمثله توسلا به الى العفو واصلاح ذات البين كما يجوز التعريض في محله اهـ او دا خبره يعني د ايهام كلام والا د حضرت په تقرير كښې تيره شوې ده، حاصل دا چه د دې حديث كومه ظاهري معنى ده نو په هغې كښې خو واقعي ترغيب او عفو ښه ښكاره ده خو هغه معنى د اصولو خلاف ده لهذا ظاهري معنى پريخودلو سره د هغې تاويل ضروري دې، او د تاويل نه پس د حديث معنى هم هغه كيږي كومې چه پورته ليكلې شوې دي، پاتې شوه خبره د ترغيب نو هغه د ايهام كلام نه حاصليدې شي، او د صحيح مسلم او د نسائي د يو روايت الفاظ دا دي: ﴿ان يبوء باثمك واثم صاحبك﴾ اى اثم قتل صاحبك، د صاحبک نه مراد خو مقتول دې لكه چه دلته د ابوداؤد په روايت كښې ذكر دى خو په دې روايت كښې د باثمه په ځائې باثمک دې چه د هغې نه مراد د مقتول ولي دې ځكه چه خطاب هم هغه ته دې د دې توجيه دا كړې شوې ده چه چونكه د دې قتل ناحق په وجه باندې د مقتول ولي ته غم او تكليف رسيدلې دې، او د هغې باوجود هغه معافي كړې ده چه په هغې سره د دې مقتول دولي ګناه معاف او زائل شوه نو په دې ازاله د ګناهونو كښې د قاتل قتل لره هم في الجملة دخل دې نو په دې حيثيت سره اوئيلې شو ﴿يبوء باثمک﴾ يعني د قاتل دا قتل او بيا ستا عفو به د معاصي د ختمولو ذريعه شي.

[٤٥٠٠]([1])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي جَامِعُ بْنُ مَطَرٍ، حَدَّثَنِي عَلْقَمَةُ بْنُ وَائِلٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ.

علقمه بن وائل رحمه الله نه دتير شوي روايت په شان روايت نقل شوې دې.

[٤٥٠١]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ الْحَجَّاجِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ عَطَاءٍ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحَبَشِيٍّ، فَقَالَ: إِنَّ هَذَا قَتَلَ ابْنَ أَخِي، قَالَ: كَيْفَ قَتَلْتَهُ؟ قَالَ: ضَرَبْتُ رَأْسَهُ بِالْفَأْسِ وَلَمْ أُرِدْ قَتْلَهُ، قَالَ: هَلْ لَكَ مَالٌ تُؤَدِّي دِيَتَهُ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: أَفَرَأَيْتَ إِنْ أَرْسَلْتُكَ تَسْأَلُ النَّاسَ تَجْمَعُ دِيَتَهُ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: فَمَوَالِيكَ يُعْطُونَكَ دِيَتَهُ؟ قَالَ: لَا، قَالَ لِلرَّجُلِ: خُذْهُ، فَخَرَجَ بِهِ لِيَقْتُلَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَا إِنَّهُ إِنْ قَتَلَهُ كَانَ مِثْلَهُ، فَبَلَغَ بِهِ الرَّجُلُ حَيْثُ يَسْمَعُ قَوْلَهُ، فَقَالَ: هُوَ ذَا فَمُرْ فِيهِ مَا شِئْتَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَرْسِلْهُ، وَقَالَ مَرَّةً: دَعْهُ يَبُوءُ بِإِثْمِ صَاحِبِهِ وَإِثْمِهِ فَيَكُونُ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ، قَالَ: فَأَرْسَلَهُ".

علقمه بن وائل دخپل پلارنه روايت كوي فرمائي چه يوكس يوحبشي لره نبي عليه السلام ته راوستو او عرض ئې وكړوچه ده زما وراره وژلې دې نبي عليه السلام ورنه تپوس اوكړو چه تا دده وراره څنګه وژلې دې ده اووئيل مادهغه سر په تبر وهلې دې او مړ شو ليكن مادده دوژلو اراده نه وه كړې ورته ئې اوفرمائيل اياخه مال درسره شته چه ديت ورباندې ادا كړې شي؟ هغه اووئيل نه ورته ئې اوفرمائيل كه چرې زه دې پريږدم نو دخلقونه په سوال ديت را جمع كولې شي هغه اووئيل نه بيا ئې ورته وفرمائيل ايا ستارشته داران به تاته مال دركړي هغه اووئيل نه، نو په دې وخت كښې نبي عليه السلام دقتل شوي تره ته اووئيل دې بوځه اوهغه د قتل

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٧٦٩)
[2]: انظر حديث رقم: (٤٤٩٩)، (تحفة الأشراف: ١١٧٦٩) (صحيح)

په اراده باندې دځان سره بوتلو نبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې دې دغه کس قتل کړې نودې به هم دهغه په شان شي دمرې تره چه کله دا واوریدل نودغه حبشي ئې بیا دوباره راوستو او عرض ئې وکړو دادې حاضر کړې مې دې ستاسو چه څه خوښه وي دده متعلق فیصله وکړئ نبی علیه السلام اوفرمائیل دې پریږده ، ده به خپله ګناه اوستادواړه ګناه په سر باندې اغستلې وي او په دوزخ کښې به وي نودقاتل وارث چه دا واوریدل نوحبشي ئې پریخودو.

﴿قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- بِحَبَشِيٍّ فَقَالَ إِنَّ هَذَا قَتَلَ ابْنَ أَخِي. قَالَ « كَيْفَ قَتَلْتَهُ ». قَالَ ضَرَبْتُ رَأْسَهُ بِالْفَأْسِ وَلَمْ أُرِدْ قَتْلَهُ. قَالَ « هَلْ لَكَ مَالٌ تُؤَدِّى دِيَتَهُ ». قَالَ لاَ الخ﴾

په روایت کښې چه کوم لفظ د "حبشی" راغلې دې هغه په بذل المجهود کښې په ضمه د حاء او په سکون د باء سره ضبط کړې شوې دې او دا چه حبشی د یو ځائې نوم دې جبل باسفل مکة، بینه وبین مکة ستة امیال الخ خو ظاهره دا ده چه دلته دا لفظ منسوبا یعنی په یاء نسبت سره واقع دې یعنی برجل حبشی، لهذا دا نسبت د حبشې طرف ته شو او د حبشه طرف ته نسبت الحبشی په بفتحین مشهور دې لکه بلال حبشی رضی الله عنه.... پس په نسخه د منذری مطبوعه کښې "حبشی" مشکل کولو سره لیکلې شوې دې.

شرح الحدیث:

مضمون د حدیث دا دې : وائل بن حجر رضی الله عنه فرمائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې یو سړی یو حبشی راوستلو او وې وئیل چه دې سړی زما وراره قتل کړې دې، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی نه تپوس اوفرمائیلو چه تا هغه څنګه قتل کړو هغه اووې ما د هغه په سر باندې د تبر ګزار اوکړو خو زما اراده د هغه د وژلو نه وه. او د مسلم په روایت کښې دی چه هغه داسې اووې چه مونږ دواړو د یوې اونې نه پاڼې راسندلې هغه ماته په څه خبره باندې کنځل اوکړل چه په هغې باندې ماته غصه راغله، په دې باندې چه ما سره کوم تبر په لاس کښې وو هغه مې د هغه سر ته راوچولو چه په هغې سره هغه مړ شو رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو چه تاسره دومره مال شته چه په هغې سره ته د هغه دیت ادا کړې شې؟ هغه اووې نه ،په دې باندې په حاشیه د بذل کښې لیکلې دی چه دا دلیل دې په دې خبره باندې چه په قتل عمد کښې دیت د قاتل په مال کښې وی نه په عاقله باندې، وهو مجمع علیه... بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چه که زه تا پریږدم نو ته دخلقو نه په غوښتلو غوښتلو سره ددې دیت جمع کولې شې؟ هغه اووئیل نه، بیا نبی علیه السلام تپوس اوکړو چه ستا مالکان تاته د هغه دیت درکولې شی؟ هغه د دې نه هم انکار اوکړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د مقتول ولی ته اوفرمائیل چا چه دا قاتل راوستلې وو چه دې اونیسه او بوئې څه د قتلولو دپاره، چه کله هغه دې بوتلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل که دا سړی دې قتل کړو نو دې به هم د قاتل په شان شی، د دې جملې شارحینو دوه مطلبه لیکلی دی یو دا چه د مرتبې په لحاظ به دواړه یو شی اود مقتول ولی ته به په قاتل باندې هیڅ فوقیت اوفضیلت نه وی، دخپل حق د اخستلو د وجې نه، دویم مطلب دا چه په ګناه او ظلم کښې به دواړه برابر شی، ځکه چه قاتل دا خبره کړې ده چه زما مقصود د هغه هلاکول نه وو ، پس دا قتل قتل خطاء شو یا شبه عمد چه په هغې کښې

قصاص نشته، ذكر الوجهين الامام الخطابى، خو په بذل كښې اول معنى اختيار كړې شوې ده او په حاشيه د بذل كښې دى وبه جزم فى احكام القرآن ۱۵۶/۱.

قوله: ﴿ فَبَلَغَ بِهِ الرَّجُلُ حَيْثُ يَسْمَعُ قَوْلَهُ ﴾ يعنى د مقتول ولى هغه قاتل هغه ځائې ته بوتلو د چرته نه ئې چه د رسول اللهﷺ آواز اوريدلې وو او هغوى ته رسيدو سره ئې عرض اوكړو واخلئ دا قاتل حاضر دې د دۀ په باره كښې چه څه فيصله موخوښه وى اوكړئ، په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه دې پريږده، د خپل ګناهونو سره به واپس شى، او جهنم ته به ځى، په دې باندې هغه سړى قاتل پريخودلو.

دا د وائل بن حجر رضي الله عنه حديث دې كوم چه مصنف رحمه الله په څو طرقو سره په اختلاف د الفاظو سره ذكر كړې دې، دا په ظاهر كښې هم يوه واقعه ده د امام نسائى رحمه الله د طرز نه هم دا په فهم كښې راځى. والحديث اخرجه مسلم والنسائى، قاله المنذرى.

[۴۵۰۲]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى ابْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ عُثْمَانَ وَهُوَ مَحْصُورٌ فِي الدَّارِ، وَكَانَ فِي الدَّارِ مَدْخَلٌ مَنْ دَخَلَهُ سَمِعَ كَلَامَ مَنْ عَلَى الْبَلَاطِ، فَدَخَلَهُ عُثْمَانُ فَخَرَجَ إِلَيْنَا وَهُوَ مُتَغَيِّرٌ لَوْنُهُ، فَقَالَ: إِنَّهُمْ لَيَتَوَاعَدُونَنِي بِالْقَتْلِ آنِفًا، قَالَ: قُلْنَا: يَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَ: وَلِمَ يَقْتُلُونَنِي؟ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: كُفْرٌ بَعْدَ إِسْلَامٍ، أَوْ زِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ، أَوْ قَتْلُ نَفْسٍ بِغَيْرِ نَفْسٍ"، فَوَاللَّهِ مَا زَنَيْتُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا فِي إِسْلَامٍ قَطُّ، وَلَا أَحْبَبْتُ أَنَّ لِي بِدِينِي بَدَلًا مُنْذُ هَدَانِي اللَّهُ، وَلَا قَتَلْتُ نَفْسًا، فَبِمَ يَقْتُلُونَنِي؟"، قَالَ أَبُو دَاوُد: عُثْمَانُ، وَأَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا تَرَكَا الْخَمْرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ.

د سهل بن ابى امامه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه مونږ د عثمان بن عفان له سره موجود وو او هغه په كور كښې بند كړې شوې وو او په دغه كور كښې د داخليدو يوه خفيه لاره څوك چه به ورته ورننوتونو خبرې به ئې هغه چا اوريدې څوك چه به د ددې لارې د خولې سره وواو عثمان رضي الله عنه ورته ورداخل شو او مونږ ته راووتلو اورنګ ئې تغيرشوې وو او اووئې وئيل چه دوى لږ مخكښې زما مرګ خبرې كولې مونږ ورته ووئيل اې امير المومنين الله تعالى به ستاد ملګرتيا د پاره كفايت وكړې، عثمان رضي الله عنه ووئيل دوى ما ولې وژنې؟ ما د نبى عليه السلام نه آوريدلى دى چه فرمائيل ئې :ديوسړې قتلول نه دى جائز مګرپه يوددرې كارونوسره پس د اسلام نه په كفر اختيارولوسره او په شادې شده حالت كښې په زنا كولوسره او د يونفس په وژلوسره كوم چه د بل نفس په بدل كښې نه وې ، په الله قسم ما خونه په جاهليت كښې زنا كړې ده او نه په اسلام كښې، اونه مې د دين د بدلولو خواهش كړې دې د كله نه چه ماته الله تعالى دين اسلام ته هدايت كړې دې، اونه مې څوك قتل كړې دې، نو دوى ما په څه باندې وژنې؟ امام ابو داؤد فرمائى عثمان او ابوبكر رضي الله عنهما په جاهليت كښې شراب پريخودلې وو.

[1]: سنن الترمذي/الفتن ۱ (۲۱۵۸)، سنن النسائي/المحاربة ٦ (٤٠٢٤)، سنن ابن ماجه/الحدود ۱ (۲۵۳۳)، (تحفة الأشراف: ۹۷۸۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۶۱، ۶۲، ۶۵، ۷۰)، دي/الحدود ۲ (۲۳۴۳) (صحيح)

[٤٥٠٣]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، فَحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ: سَمِعْتُ زِيَادَ بْنَ ضُمَيْرَةَ الضَّمْرِيَّ. ح وأَخْبَرَنَا وَهْبُ بْنُ بَيَانٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرٍ، أَنَّهُ سَمِعَ زِيَادَ بْنَ سَعْدِ بْنِ ضُمَيْرَةَ السُّلَمِيَّ، وَهَذَا حَدِيثُ وَهْبٍ وَهُوَ أَتَمُّ، يُحَدِّثُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ مُوسَى، وَجَدِّهِ، وَكَانَا شَهِدَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا، ثُمَّ رَجَعْنَا إِلَى حَدِيثِ وَهْبٍ: أَنَّ مُحَلِّمَ بْنَ جَثَّامَةَ اللَّيْثِيَّ قَتَلَ رَجُلًا مِنْ أَشْجَعَ فِي الْإِسْلَامِ، وَذَلِكَ أَوَّلُ غِيَرٍ قَضَى بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَتَكَلَّمَ عُيَيْنَةُ فِي قَتْلِ الْأَشْجَعِيِّ لِأَنَّهُ مِنْ غَطَفَانَ، وَتَكَلَّمَ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ دُونَ مُحَلِّمٍ لِأَنَّهُ مِنْ خِنْدِفَ، فَارْتَفَعَتِ الْأَصْوَاتُ وَكَثُرَتِ الْخُصُومَةُ وَاللَّغَطُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عُيَيْنَةُ أَلَا تَقْبَلُ الْغِيَرَ؟ فَقَالَ عُيَيْنَةُ: لَا وَاللَّهِ حَتَّى أُدْخِلَ عَلَى نِسَائِهِ مِنَ الْحَرْبِ وَالْحُزْنِ مَا أَدْخَلَ عَلَى نِسَائِي، قَالَ: ثُمَّ ارْتَفَعَتِ الْأَصْوَاتُ وَكَثُرَتِ الْخُصُومَةُ وَاللَّغَطُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا عُيَيْنَةُ أَلَا تَقْبَلُ الْغِيَرَ؟ فَقَالَ عُيَيْنَةُ مِثْلَ ذَلِكَ أَيْضًا، إِلَى أَنْ قَامَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي لَيْثٍ يُقَالُ لَهُ مُكَيْتِلٌ عَلَيْهِ شِكَّةٌ وَفِي يَدِهِ دَرَقَةٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي لَمْ أَجِدْ لِمَا فَعَلَ هَذَا فِي غُرَّةِ الْإِسْلَامِ مَثَلًا إِلَّا غَنَمًا وَرَدَتْ فَرُمِيَ أَوَّلُهَا فَنَفَرَ آخِرُهَا اسْنُنِ الْيَوْمَ وَغَيِّرْ غَدًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَمْسُونَ فِي فَوْرِنَا هَذَا وَخَمْسُونَ إِذَا رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ، وَذَلِكَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، وَمُحَلِّمٌ رَجُلٌ طَوِيلٌ آدَمُ وَهُوَ فِي طَرَفِ النَّاسِ، فَلَمْ يَزَالُوا حَتَّى تَخَلَّصَ فَجَلَسَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَيْنَاهُ تَدْمَعَانِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي قَدْ فَعَلْتُ الَّذِي بَلَغَكَ وَإِنِّي أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فَاسْتَغْفِرِ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لِي يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَقَتَلْتَهُ بِسِلَاحِكَ فِي غُرَّةِ الْإِسْلَامِ! اللَّهُمَّ لَا تَغْفِرْ لِمُحَلِّمٍ بِصَوْتٍ عَالٍ، زَادَ أَبُو سَلَمَةَ: فَقَامَ وَإِنَّهُ لَيَتَلَقَّى دُمُوعَهُ بِطَرَفِ رِدَائِهِ"، قَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ: فَزَعَمَ قَوْمُهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَغْفَرَ لَهُ بَعْدَ ذَلِكَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَالَ النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ: الْغِيَرُ الدِّيَةُ.

عروه بن زبير دخپل پلار اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی اوهغوی دواړه په عزوه حنین کښې درسول الله سره موجود وو اوس مونږ دوباره دوهب حدیث ته راځو ، چه په لیث قبیله کښې د محلم بن جثامه په نوم باندې یوکس داسلام په دور کښې دقبیله اشجع نه یوکس قتل کړو او دا دتهولونه اولنې دیت دې دکوم چه نبی ﷺ فیصله کړې وه نوعیینه قبیلې د اشجعي دطرف نه خبرې وکړې ځکه چه دهغه تعلق دعطفان قبیلې سره وو ، اواقرع بن حابس دمحلم دطرف نه خبرې وکړې ځکه چه دهغه تعلق دخندف سره وو ، په دې وخت کښې اوازونه ډیر تیز شول (دواړو ډلو دطرف نه) اوشور اوچغې جوړې شوې نبی ﷺ اوفرمائیل اې دعیینه قبیلې خلقو ایا تاسو دیت نه اخلئ دعیینه والا اووئیل نه، په الله قسم زه دیت نه اخلم ترڅوچه ددغه کس ښځوته مې دغه شان تکلیف اوغم نه وې ورپیښ کړې کوم چه زماښځوته رسیدلې دې ، بیاوازونه نور هم تیز شول او ښه مضبوط جنګ اوشور او غوبل وشو ، بیانبی ﷺ اوفرمائیل اې عیینه ایا ته دیت نه اخلې عیینه بیاهم په مخکنې طریقه باندې جواب ورکړوتردې چه په لیث قبیله کښې یوکس پاځیدو چه مکیتل به ورته وئیلې شو او هغه اصلحه په ځان پورې تړلې وو اوتوره اودال ئې په لاس کښې نیولې وو ، عرض ئې اُوکړو اې داالله رسوله یقینا زه نه وینم دده دعمل مثال داسلام په شروع کښې نن ورځ

١): سنن ابن ماجه/الديات ٤ (٢٦٢٥)، (تحفة الأشراف: ٣٨٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٢/٥، ١٠/٦) (ضعيف)

(یعنی د محلم) مګر داسې چه یوځو چیلی داوبو ځکلودپاره یوې چینې ته لاړې مګریو کس اولنئ چیلی مړه کړه دکوې په وجه چه اخیرنی چیلی هم اوتښتیدله نوته نن یو قانون جوړ کړه اوصبائې ختم کړه نبی ﷺ اوفرمائیل پنځوس اوښان اوس ادا کړئ او پنځوس اوښان به کله چه مونږ مدینې ته واپس شو نور ورکوئ (چنانچه نبی ﷺ ددغه کس نه دیت ادا کړو) اودا واقعه دسفرپه دوران کښې پیښه شوې ده ، محلم یولوړ غنم رنګې سړې وو اودخلقونه یوطرف ته ناست وو اوخلق هم په دې خیال ناست وو چه دې بچ کړې شي په هرحال محلم نبی ﷺ ته راغې او دهغه په وړاندې کښیناستو دسترګونه ئې اوښکې روانې وې اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله مادغه ګناه کړې ده دکوې چه تاته خبر رارسیدلې دې. اوس زه الله تعالی ته توبه اوباسم ته زما دپاره دمغفرت دعا وغواړه نبی ﷺ اوفرمائیل ایاتاداسړې داسلام د دور په شروع کښې پخپله اصلحه باندې قتل کړې وو؟ اې الله محلم ته بخنه ونکړې اونبی ﷺ دا خیرې په چغه اوتیز اواز سره وکړې ، ابوسلمه راوی دا اضافه کړې ده کله چه محلم دا واوریدل نو اودریدو اودځادر په پلوپې خپلې اوښکې پاکولې ابن اسحق راوی وئیلی دی چه دحلم قوم اووئیل چه بیا نبی ﷺ ددې نه پس د محلم دپاره د مغفرت دعا وغوښتله.

د محلم بن جثامة اللیثی واقعه د قتل او د هغې تشریح :

اوس وړاندې د محلم بن جثامه اللیثی د قتل واقعه په روایت کښې راروانه ده کومه چه مصنف رحمه الله په دوه طرقو سره ذکر کړې ده په اول طریق کښې د مصنف رحمه الله استاد موسی بن اسماعیل دې او په دویم کښې وهب بن بیان، او دواړه طرق په محمد بن جعفر بن الزبیر باندې یو ځائې کیږی، او محمد بن جعفر روایت کوی د زیاد بن سعد نه او زیاد بن سعد روایت کوی د خپل پلار (په طبع سابق کښې دلته بل شان وو دا د اصلاح نه پس دې) سعد بن ضمیره نه (لکه چه د وهب په روایت کښې دی) او د موسی په روایت کښې د عن ابیه نه پس وعن جده هم دې چه د هغې نه مراد ضمیر "ه" دې چه د هغې مطلب دا شو چه زیاد دا حدیث د خپل پلار سعد او نیکه ضمیر "ه" دواړو نه روایت کړې دې.

قوله:﴿ یحدث عروة بن الزبیر ﴾ د یحدث فاعل زیاد او عروه په ترکیب کښې مفعول دې او د دې جملې مطلب دا دې محمد بن جعفر وائی چه دا حدیث ما د زیاد بن سعد نه هغه وخت واوریدلو چه هغه دې روایت لره د عروه نه بیانولو یعنی قصدا خوئې هغه ئې عروه ته اورولو ضمنا ما هم واوریدلو، ﴿ وکانا شهدا مع رسول الله ﷺ حنینا ﴾ د موسی په روایت کښې دا دی چه دا دواړه سعد او ضمیره د رسول الله ﷺ سره په حنین کښې شریک وو،

قوله:﴿ثم رجعنا الی حدیث وهب ﴾ مصنف رحمه الله دلته په دې دواړو طرقو کښې طریق ثانی لره یعنی د وهب بن بیان الفاظ نقل کوی.

یعنی اګر چه روایت خومصنف رحمه الله ته د موسی او وهب دواړو نه رسیدلې دې خو دلته چه مصنف کوم الفاظ ذکر کوی هغه د وهب د روایت دی (تر دې ځائې پورې د سند حل او د هغې تشریح وه) ﴿ أَنَّ مُحَلِّمَ بْنَ جَثَّامَةَ اللَّيْثِيَّ قَتَلَ رَجُلاً مِنْ أَشْجَعَ فِي الإِسْلاَمِ وَذَلِكَ أَوَّلُ غِيَرٍ قَضَى

بِهِ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فَتَكَلَّمَ عُيَيْنَةُ فِي قَتْلِ الأَشْجَعِيِّ لأَنَّهُ مِنْ غَطَفَانَ وَتَكَلَّمَ الأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ دُونَ مُحَلِّمٍ لأَنَّهُ مِنْ خِنْدِفَ فَارْتَفَعَتِ الأَصْوَاتُ وَكَثُرَتِ الْخُصُومَةُ وَاللَّغَطُ ﴾

راوی واقعه بیانوی چه محلم بن جثامة اللیثی د قبیله اشجع یو سړي قتل کړو چه د هغه نوم عامر بن الاضبط الاشجعی دي (وبه جزم فی مجمع الزوائد ٨/٧ وذکر القصة) دا د قتل قصه د ابتداء اسلام ده لکه چه وړاندې هم په دې روایت کښ راغلی چه په هغې کښ رسول الله ﷺ د دیت فیصله فرمائیلې وه چونکه دا د قتل اوله واقعه وه، لهذا د دیت فیصله هم اول اوشوه لکه ښنګه چه راوی وائی ﴿ وذلک اول غیر ﴾ غیر کدیة لفظا ومعنی....

په دې باندې عیینة بن حصن او اقرع بن حابس اودریدلو، اول الذکر د مقتول د طرف نه چه د هغه د قبیلې وو او موخر الذکر قاتل یعنی د محلم د طرف نه، ځکه چه هغه محلم د قبیلې نه وو، مطلب دا چه کوم سړې د قاتل د قبیلې نه وو یعنی اقرع بن حابس هغه خو دا غوښتل چه فیصله په ځائې د قتل او قصاص په دیت باندې اوشی او کوم سړې چه د مقتول د طرف نه وو یعنی عیینه بن حصن هغه فیصله په ځائې د دیت د قصاص غوښتله، په دواړو ډلو کښ وراني راغلو او په مجلس کښ شور شو، په سیرة ابن هشام کښ دي چه کله رسول الله ﷺ د ماسپخین د مانځه نه فارغ کیدو سره چه کله هغوی د حنین په مقام کښ وو د یوې اونې د سورې لاندې ناست وو او هلته دا خبرې اترې په دواړو ډلو کښ اوشوې، رسول الله ﷺ عیینة ته اوفرمائیل چه آیا ته د دیت قبلولو دپاره تیار نه ئې؟ هغه اووې نه! قسم په الله ترڅو پورې چه زه د قاتل په کور والو باندې غم او مصیبت واقع نه کړم کوم چه هغه زمونږ د کور په خلقو واقع کړې دې، په دې باندې بیا شور او جنګ زیات شو رسول الله ﷺ عیینه ته بیا هم هغه خبره اوکړه هغه هم دغه شان جواب ورکړو چه مخکښ ئې ورکړې وو ﴿ إِلَى أَنْ قَامَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي لَيْثٍ يُقَالُ لَهُ مُكَيْتِلٌ عَلَيْهِ شِكَّةٌ وَفِي يَدِهِ دَرَقَةٌ ﴾ تردې چه یو سړې کوم چه لیثی یعنی د قاتل د قبیلې وو چه د هغه نوم مکیتل وو چه د هغه په بدن باندې وسله وه او په لاس کښ یو ډهال وو هغه په مجلس کښ اودریدلو او وې وئیل ﴿ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي لَمْ أَجِدْ لِمَا فَعَلَ هَذَا فِي غُرَّةِ الإِسْلاَمِ مَثَلاً إِلاَّ غَنَمًا وَرَدَتْ فَرُمِيَ أَوَّلُهَا فَنَفَرَ آخِرُهَا اسْنُنِ الْيَوْمَ وَغَيِّرْ غَدًا ﴾ هغه سړې اودریدو سره د تقریر په انداز کښ رسول الله ﷺ ته خطاب کولو سره عرض اوکړو چه د هغې خلاصه دا ده چه سره د دې چه هغه د قاتل د قبیلې دې خو هغه رسول الله ﷺ ته د قصاص د اخستلو مشوره ورکړه او د خپلې رائې د تائید او تقویت دپاره ئې دوه مثالونه پیش کړل په اول مثال کښ ئې د قصاص اخستلو فائده اوښودله او په دویم مثال کښ ئې د ترک قصاص ضرر، په اول مثال کښ دا دی لکه د ګډو بیزو کنډک چه د اوبو طرف ته ځی چه په هغې کښ یوه چیلۍ وړاندې روانه وی او یو ښکاری د هغه ښکار اوکړی نو ښکاره ده چه روستو تولې ګډې بیزې به ځان بچ کولو سره اوتختی، دا مثال خو شو د قصاص اخستلو په فائده کښ په داسې طریقه چه دا واقعه د قتل په اسلام کښ ړومبۍ واقعه ده اوس که په دې کښ د قاتل نه قصاص واخستلې شو او هغه قتل کړې شو نو نور خلق کوم چه دا قسم حرکتونه کوی هغوی به قتلونه نه کوی او د دې نه به عبرت

حاصل کړی او بیا دپاره به هغوی د دې قسم وارداتو همت نه شی کولې.
او دویم مثال چه په هغې کښې د ترک قصاص ضرر لره بیانول مقصود وو هغه دا دې: ﴿اسنن اليوم وغير غدا﴾ [1] چه که تاسو دې ځل د قصاص په ځائې دیت قبول کړو او د دې نه پس بیا د قتل څه قصه راپیښه شوه نو هلته به هم د قاتل اولیاء هم په دې باندې اصرار کوی چه په دې موقع باندې دې هم د دیت فیصله اوکړې شی او قصاص دې وانخستلې شی، او که تاسو قصاص اخلئ نو بیا به هم خلق دې ته نه تیاریږی او وائی به چه دې ځل دیت قبول کړئ او که د نن نه پس که د قتل څۀ قصه راپیښه شوه په هغې کښې تاسو قصاص واخلئ، حاصل د دې مثال دا دې چه دې ځل به په ترک قصاص او دیت اخستلو سره به د بیا دپاره د دیت دروازه پرانستلې شی او بیا به هم دا سلسله شروع شی، خو رسول اللهﷺ د هغه د تقریر نه څه متاثر نه شو بلکه د دې نه پس هم رسول اللهﷺ د دیت فیصله اوفرمائیله او د هغه تقریر ئې قطعا نظر انداز کړو، پس په روایت کښې دی ﴿ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « خَمْسُونَ فِى فَوْرِنَا هَذَا وَخَمْسُونَ إِذَا رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ » وَذَلِكَ فِى بَعْضِ أَسْفَارِهِ ﴾ یعنی رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه په دیت کښې به سل اوښان اخستلې شی پنځوس فی الحال او پنځوس مدینې ته په واپس کیدو باندې، وړاندې په روایت کښې دی ﴿ وَمُحَلِّمٌ رَجُلٌ طَوِيلٌ آدَمُ وَهُوَ فِى طَرَفِ النَّاسِ ﴾ یعنی هغه قاتل محلم یو لوړ سړې وو غنم رنګې، د مجلس په غاړه باندې ناست وو، د هغوی نه ګیر چاپیره چونکه خلق راجمع وو نو هغه محلم د خپل ځائې نه پاسیدو او ګویا د خلقو مجمعې لره ځیرې کولو سره د رسول اللهﷺ په خوا کښې کیناستلو، د هغه د سترګو نه اوښکې بهیدلې، هغه د خپل جرم اعتراف کولو سره د رسول اللهﷺ مخکښې توبه اوکړه او رسول اللهﷺ ته ئې د استغفار درخواست اوکړو، رسول اللهﷺ اوفرمائیل تا په ابتداء د اسلام کښې په خپلې تورې سره هغه په ناحقه قتل کړې دې، او بیا ئې خفه کیدو سره د استغفار په ځائې په اوچت آواز باندې اوفرمائیل : ﴿ اللَّهُمَّ لاَ تَغْفِرْ لِمُحَلِّمٍ ﴾ یا الله محلم ته بخښنه اونکړې، په دې باندې هغه محلم د خپل څادر په څوکه باندې خپلې اوښکې پاکولو سره پاسیدو، راوی د حدیث ابن اسحق فرمائی چه د محلم د قبیلې والا دا وائی چه رسول اللهﷺ د هغې نه روستو د محلم دپاره استغفار اوفرمائیلو.

د رسول اللهﷺ د دې بد دعاء او واقعې ذکر او حواله مونږ په ابواب المرور بين يدى المصلى کښې د یو حدیث د لاندې چه په هغې کښې رسول اللهﷺ خپلې مخې ته تیر شوی یو سړی ته فرمائیلې وو ﴿ اللهم اقطع اثره ﴾ هلته تیر شوی دی مکیتل چه په خپل تقریر کښې کوم دوه مثالونه بیان کړی دی د هغې په باره کښې په حاشیه د بذل کښې حضرت شیخ لیکلې شوی دی ذکر فى هامش ابى داؤد عدة معانى لقول مكيتل، فارجع اليه، یعنی د دې جملو په وضاحت کښې نور هم اقوال دی کوم چه په حاشیه د ابوداؤد کښې لیکلې شوې دی.

---

[1]) نن تاسوهغه طریقه اختیار کړئ (کومه چه مویه شروع کښې کړې وه یعنی دیت) بیا آئنده چه تاسوڅه غواړئ هغه تغیر اوکړئ).

او دا چه په روایت کښې راغلی دی د راوی په کلام کښې ﴿ ذلک اول غیر ﴾ چه دا د دیت اول فیصله ده، په دې کښې تسامح دې ځکه چه دا واقعه خو په غزوه حنین کښې پیښه شوې ده په اتمه هجرئ کښې لکه چه پورته تیر شو، لهذا دا اولیت اولیت اضافی کیدې شی په یو لحاظ سره، یا زیات نه زیات داسې اوایئ چه د اول مطلب دا دې چه د شروع قصه ده، والحدیث اخرجه ابن ماجه مختصرا، قاله المنذری.

باب ولي العمد يأخذ الدية

باب: د مقتول وارث چه کله د دیت په اخستلو راضی وی نو دیت اخستلې شی

یعنی د قتل عمد په صورت کښې که د مقتول ولی دیت اخستل غواړی نو اخستلې شی یعنې د قصاص په ځائې، خو دا دیت اخستل د احنافو او د امام مالک رحمه الله د مشهور قول مطابق د دوارو ډلو په رضامندئ باندې موقوف دی، لهذا بغیر د قاتل د رضامندئ نه د مقتول ولی ته د دیت د اخستلو حق نشته بلکه قصاص دې، او دریم حق یعنې بخښنه خو بهر حال ده چه نه دیت واخلی او نه قصاص، او د امام شافعی او د امام مالک رحمه الله د یو قول مطابق او د داؤد ظاهری رحمه الله په نزد د مقتول ولی ته اختیار دې مطلقا، که قاتل غواړی او که نه غواړی، دا مسئله او په دې کښې اختلاف مخکښې هم تیر شوې، او دا خو د دې مسئلې اصل محل دې هم.

[۴۵۰۴] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا شُرَيْحٍ الْكَعْبِيَّ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا إِنَّكُمْ يَا مَعْشَرَ خُزَاعَةَ قَتَلْتُمْ هَذَا الْقَتِيلَ مِنْ هُذَيْلٍ وَإِنِّي عَاقِلُهُ، فَمَنْ قُتِلَ لَهُ بَعْدَ مَقَالَتِي هَذِهِ قَتِيلٌ فَأَهْلُهُ بَيْنَ خِيَرَتَيْنِ: أَنْ يَأْخُذُوا الْعَقْلَ، أَوْ يَقْتُلُوا".

دابو شریح کعبي رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: اې دخزاعه قبیلې خلقو تاسو دهذیل قبیلې یوکس قتل کړو او زه دهغه دیت ورکوم، زما ددې وینانه پس دچاچه کوم کس قتل کړې شي نودهغه وارثانو ته په دوه خبروکښې اختیار دې یابه دیت اخلي اویابه قاتل وژني.

قوله: ﴿ أَلَا إِنَّكُمْ يَا مَعْشَرَ خُزَاعَةَ قَتَلْتُمْ هَذَا الْقَتِيلَ مِنْ هُذَيْلٍ وَإِنِّي عَاقِلُهُ الخ ﴾

شرح الحديث من حيث الفقه:

د کوم قتل د واقعې ذکر چه په دې روایت کښې دې هغه قتل د فتح مکه په کال باندې پیښ شوې وو چه د هغې ذکر مونږ سره په مقدمة العلم کښې د کتابة الحدیث په بحث کښې تیر شوې دې، د صحیح بخاری روایت دې په کتاب العلم کښې ﴿ أَنَّ خُزَاعَةَ قَتَلُوا رَجُلًا مِنْ بَنِي لَيْثٍ عَامَ فَتْحِ مَكَّةَ بِقَتِيلٍ مِنْهُمْ قَتَلُوهُ فَأُخْبِرَ بِذَلِكَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَرَكِبَ رَاحِلَتَهُ فَخَطَبَ الحديث ﴾ چه د هغې په آخر کښې هغه راغلي دی کوم چه دلته په روایت کښې ذکر دی، په دې اول روایت کښې هم او د دې نه په روستو کښې هم، حاصل دا چه یو خزاعی سړی یو هذلی

(١): سنن الترمذي/الديات ١٣ (١٤٠٦)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٥٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١/٤) (صحيح)

سرې هم په هغه ورځو کښې په مکه مکرمه کښې قتل کړو د زمانه جاهلیت د یو قتل په انتقام کښې کوم چه هذیل کړې وو چه کله رسول الله ﷺ په دې باندې خبر شو نو هغوی اوفرمائیل چه زه د خپل طرف نه د دې دیت ادا کوم، او بیا رسول الله ﷺ باقاعده د قاعدې کلیې په طور اوفرمائیل چه که د یو قوم عمدا قتل اوکړې شی نو د مقتول ولی ته دوه اختیاره دی یا دې دیت واخلی یا قصاص. ﴿أَنْ يَأْخُذُوا الْعَقْلَ أَوْ يَقْتُلُوه﴾ او په روستو روایت کښې هم دا دی د هغې لفظ دا دې ﴿إِمَّا أَنْ يُودَى أَوْ يُقَادَ﴾ یعنی د مقتول ولی ته دې یا دیت ورکړې شی او یا دې هغه قصاص واخلی، دا حدیث د خپل اطلاق او عموم د وجې نه د امام شافعی او د امام احمد دلیل دې په پورته ذکر شوې مسئله کښې، او د احنافو او د مالکیانو په نزد د دیت حکم مقید دې یعنی په دې شرط چه قاتل د دیت په ورکولو باندې راضی وی، د اکثرو روایاتو الفاظ خو داسې دی او د ترمذی په یو روایت کښې داسې دی کوم چه د دې باب اول روایت دې: ﴿باب ما جاء في حكم ولي القتيل في القصاص والعفو﴾ ذکر دې، په روایت د ابوهریره رضي الله عنه: ومن قتل له قتيل فهو بخير النظرين إما أن يعفو وإما أن يقتل..... په دې کښې صرف عفو یا قصاص ذکر کړې شوې دې، او بل روایت هم هغه د ابو شریح دې چه د هغې الفاظ هم هغه دی کوم چه په ابوداؤد کښې تیر شوې دی: ﴿فمن قتل له قتيل بعد اليوم فأهله بين خيرتين إما أن يقتلوا أو يأخذوا العقل﴾ او په دریم روایت کښې داسې دی: ﴿من قتل له قتيل له أن يقتل أو يغفو أو يأخذ الدية﴾ په دې کښې درې واړه اختیارات ذکر شوې دی، امام ترمذی رحمه الله فرمائی: ذهب الى هذا (اى الاختيار بين الامور الثلاثة) بعض اهل العلم وهو قول احمد واسحق﴾ او د دې په حاشیه کښې د لمعات نه نقل کړې شوې دی: وهو مذهب الشافعی واحمد، وعند ابى حنيفة ومالک لا يثبت الدية الا برضا القاتل، وهو احد قولى الشافعى لان موجب القتل عمدا هو القصاص لقوله تعالى ﴿كتب عليكم القصاص فى القتلى﴾ الا انه تعمد (كذا فى الاصل والظاهر بدله بقيد) بوصف العمد لقوله صلى الله عليه وسلم العمد قود، اى موجبه فايجاب المال زيادة فلا يكون للولى اخذ الدية الا برضا القاتل، والمسئلة مختلفة فيها بين الصحابة ومن بعدهم ويمكن حمل الحديث على ذلک ايضا، فافهم.

په مسئلة الباب د احنافو دليل:

په بذل کښې د احنافو د طرف نه د امام طحاوی رحمه الله دا جواب نقل کړې شوې دې قال الطحاوی : والحجة لهم حديث انس فى القصة الربيع عمته، فقال النبى ﷺ كتاب الله القصاص، فانه حكم بالقصاص ولم يخير، ولو كان الخيار للولى لاعلمهم النبى ﷺ الى آخر ما فى البذل، دا حدیث کوم چه د امام طحاوی په کلام کښې دې دا وړاندې په کتاب کښې په باب القصاص من السن کښې راروان دې: ولفظه: كَسَرَتِ الرُّبَيِّعُ أُخْتُ أَنَسِ بْنِ النَّضْرِ ثَنِيَّةَ امْرَأَةٍ فَأَتَوُا النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَضَى بِكِتَابِ اللَّهِ الْقِصَاصَ فَقَالَ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ وَالَّذِى بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لاَ تُكْسَرُ ثَنِيَّتُهَا الْيَوْمَ. قَالَ « يَا أَنَسُ كِتَابُ اللَّهِ الْقِصَاصُ » الحديث او د دې حدیث جواب د احنافو د طرف نه دا کیدې شی چه دا حدیث مقید دې د نورو احادیثو په بناء باندې.

[۴۵۰۵]([1])حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ مَزْيَدٍ، أَخْبَرَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي يَحْيَى. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنِي أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا حَرْبُ بْنُ شَدَّادٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَمَّا فُتِحَتْ مَكَّةُ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "مَنْ قُتِلَ لَهُ قَتِيلٌ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ: إِمَّا أَنْ يُودَى، أَوْ يُقَادَ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ أَبُو شَاةٍ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ اكْتُبْ لِي، قَالَ الْعَبَّاسُ: اكْتُبُوا لِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اكْتُبُوا لِأَبِي شَاةٍ"، وَهَذَا لَفْظُ حَدِيثِ أَحْمَدَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: اكْتُبُوا لِي يَعْنِي خُطْبَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي کله چه مکه فتح شوه نونبی علیه السلام اودریدو او وئي فرمائیل دهري قبیلي څوک کس چه قتل کړې شي نوهغوی ته اختیار دې چه دقاتل نه دیت اخلي اوکه قصاص اخلي ددې حکم په اوریدوسره یو یمني کس چه نوم ئي ابو شاه وو پاڅیدو اوعرض ئي اوکړو اې دالله رسوله داحکم ماته لیکلي راکړه ، عباس بن ولید راوی وائی چه ابوشاه د اکتب لي په ځائي باندې اکتبوا لي اووئیل نبی علیه السلام اوفرمائیل ده ته ئي لیکلي ورکړی اودا داحمد دحدیث الفاظ دي، امام ابوداؤد فرمائی چه دغه کس داسې اووئیل زمادپاره دنبی علیه السلام خطبه اولیکئ.

[۴۵۰۶]([2])حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَاشِدٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ، وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا دُفِعَ إِلَى أَوْلِيَاءِ الْمَقْتُولِ، فَإِنْ شَاءُوا قَتَلُوهُ وَإِنْ شَاءُوا أَخَذُوا الدِّيَةَ".

ترجمه: عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کړې دي چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی نه بشي وژلي مومن دکافر په بدل کښې ، او څوک چه یومومن په قصد سره مړ کړي نودا قاتل به دمقتول وارثانوته حواله کولې شي دهغوی خوښه ده چه وژني ئې اوکه دیت ورنه اخلي.

بَاب مَنْ قَتَلَ بَعْدَ أَخْذِ الدِّيَةِ

باب: څوک چه د دیت اخستلو نه پس قاتل قتل کړی

[۴۵۰۷]([3])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا مَطَرٌ الْوَرَّاقُ، وَأَحْسَبُهُ عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا أُعْفِي مَنْ قَتَلَ بَعْدَ أَخْذِهِ الدِّيَةَ".

جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی یقینا زه معافي نه کوم هغه کس ته چه ددیت اخستلونه پس قاتل لره قتل کړي.

قوله: ﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ أُعْفِى مَنْ قَتَلَ بَعْدَ أَخْذِهِ الدِّيَةَ » ﴾

[1]: انظر حدیث رقم: (۲۰۱۷)، (تحفة الأشراف: ۱۵۳۸۳، ۱۵۳٦۵) (صحیح)

[2]: سنن النسائي/ القسامة ۲۷ (۴۸۰۵)، سنن ابن ماجه/الديات ٦ (۲٦۳۰)، ویأتي برقم (۴۵۴۱)، (تحفة الأشراف: ۸۷۰۹) (حسن صحیح)

[3]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۲۲۲۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳٦۳) (ضعیف)

شرح الحديث :

په دې ﴿ لا اعفى ﴾ کښې علامه سندي دوه احتماله ليکلي دي يو دا چه دا د ماضي مجهول صيغه ده په وزن د اكرم، يا د د مضارع معروف واحد متكلم د اعفاء نه (لا اعفى) په اول صورت کښې دا معنى ليکلې ده اى لاكثر ماله ولا استغنى.... يعنى الله پاک دې اوکړي چه د دې سړي په مال کښې كثرت او بركت نه وي چا چه د ديت د اخستلو نه پس قتل اوكړو. او په دويم صورت کښې به ئې دا مطلب وي چه زه نه معاف كوم هغه سړې (بلکه ضرور به سزا وركوم) چا چه د ديت اخستلو نه پس قصاص واخستلو، او هم دغه شان بعينه په بذل المجهود کښې هم دى او صاحب نهايه په دې کښې صرف يو احتمال ليکلې دې او مونږ سره چه كومه د نهايه نسخه ده په هغې کښې ئې دا د لا اعفى د ماضى معروف په طور ليکلې ده، او ليکلې ئې دى هذا دعاء عليه اى لا كثر ماله ولا استغنى اهـ.

دا مضمون د حديث هم هغه دې كوم چه د دې نه مخکښې نزدې تير شو، فان اراد الرابعة فخذوا على يديه ومن اعتدى بعد ذلك فله عذاب اليم..

بَابٌ فِيمَنْ سَقَى رَجُلًا سَمًّا أَوْ أَطْعَمَهُ فَمَاتَ أَيُقَادُ مِنْهُ

باب څوک چه چاله زهر وركړي او مړ شي آيا قصاص به ترې اخستلې شي؟

[٤٥٠٨] (١) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَبِيبِ بْنِ عَرَبِيٍّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: "أَنَّ امْرَأَةً يَهُودِيَّةً أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ مَسْمُومَةٍ فَأَكَلَ مِنْهَا، فَجِيءَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهَا عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَتْ: أَرَدْتُ لِأَقْتُلَكَ، فَقَالَ: مَا كَانَ اللَّهُ لِيُسَلِّطَكِ عَلَى ذَلِكَ، أَوْ قَالَ: عَلَيَّ، فَقَالُوا أَلَا نَقْتُلُهَا؟ قَالَ: لَا، فَمَا زِلْتُ أَعْرِفُهَا فِي لَهَوَاتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دانس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوې يهودنړې ښځې نبي عليه السلام ته په زهرو لړلې يوه چيلۍ راوړله او نبي عليه السلام دهغې نه خوراک اوكړو بيا دغه ښځه اونيولې شوه او په دربار نبوي کښې حاضره كړې شوه نبي عليه السلام ورنه تپوس اوكړو ددې په باره کښې نو هغې اووئيل ستا دوژلو دپاره نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل الله تعالى هيڅ كله تا دې كار كولو ته نه پرېږدي، او كه داسې ئې ورته اوفرمائيل الله تعالى تا لره په ما باندې نه مسلط كوې، صحابه كرامو عرض اوكړو اې دالله رسوله مونږ ته اجازت راكړه چه قتل ئې كړو؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل نه، انس ته وئيلى دى چه بيا به ددې زهرو اثر هميشه دنبي عليه السلام په ورو کښې ښکاريدو.

[٤٥٠٩] (٢) حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ رُشَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ ح وحَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا عَبَّادٌ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ، وَأَبِي سَلَمَةَ قَالَ هَارُونُ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: "أَنَّ امْرَأَةً مِنَ الْيَهُودِ أَهْدَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةً مَسْمُومَةً، قَالَ: فَمَا عَرَضَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذِهِ أُخْتُ مَرْحَبٍ الْيَهُودِيَّةُ الَّتِي سَمَّتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

(١): صحيح البخاري/الهبة ٢٨ (٢٦١٧)، صحيح مسلم/السلام ١٨ (٢١٩٠)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٢٨١) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥١٤٠، ١٣١٢٢، ١٥١٤٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجزية ٧ (٣١٦٩)، المغازي ٤١ (٤٢٤٩)، الطب ٥٥ (٥٧٧٧) (صحيح)

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوې يهودنړې ښځې نبي عليه السلام ته په زهرو لړلې يو چيلې راوليږلو اونبي عليه السلام ددې ښځې سره هيڅ قسم چيرچاړ ونکړو امام ابوداؤد فرمائي دا ښځه دمرحب نوم سړې خوروه چاچه دنبي عليه السلام دپاره د چيلۍ په غوښه کښې زهر اچولې وو.

[٤٥١٠]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: كَانَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ يُحَدِّثُ: "أَنَّ يَهُودِيَّةً مِنْ أَهْلِ خَيْبَرَ سَمَّتْ شَاةً مَصْلِيَّةً ثُمَّ أَهْدَتْهَا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذِّرَاعَ فَأَكَلَ مِنْهَا وَأَكَلَ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِهِ مَعَهُ، ثُمَّ قَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ، وَأَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ فَدَعَاهَا، فَقَالَ لَهَا: أَسَمَمْتِ هَذِهِ الشَّاةَ، قَالَتِ الْيَهُودِيَّةُ: مَنْ أَخْبَرَكَ؟ قَالَ: أَخْبَرَتْنِي هَذِهِ فِي يَدِي لِلذِّرَاعِ، قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: فَمَا أَرَدْتِ إِلَى ذَلِكَ؟ قَالَتْ: قُلْتُ إِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلَنْ يَضُرَّهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا اسْتَرَحْنَا مِنْهُ، فَعَفَا عَنْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُعَاقِبْهَا، وَتُوُفِّيَ بَعْضُ أَصْحَابِهِ الَّذِينَ أَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ، وَاحْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى كَاهِلِهِ مِنْ أَجْلِ الَّذِي أَكَلَ مِنَ الشَّاةِ، حَجَمَهُ أَبُو هِنْدٍ بِالْقَرْنِ وَالشَّفْرَةِ، وَهُوَ مَوْلًى لِبَنِي بَيَاضَةَ مِنَ الْأَنْصَارِ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه مروي دي چه خيبر اوسيدونکي يوې يهودنړې ښځې په يو وريت شوې چيلې کښې دنبي عليه السلام دپاره زهر اچولې وو اونبي عليه السلام ته ئې په تحفه کښې راليږلې وونبي عليه السلام ددينه ديو ولې غوښه اوخوړه اودنبي عليه السلام سره يوڅوصحابه کراموهم خوړلې وه بيانبي عليه السلام صحابه کراموته اوفرمائيل لاسونه اوچت کړئ (يعني مه خورئ) او په دې ښځه پسې ئې څوک اوليږلو او راوبې غوښتله او بيا ئې ورنه تپوس اوکړو چه ايا تا په دې چيلې کښې زهر اچولې وو؟ هغې اووئيل تاته داچا اووئيل؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل ماته دچيلې ولې اووئيل کوم چه زما په لاس کښې وو (دمعجزې په طور) دې ښځې جواب ورکړو يقيناماپه کښې زهر اچولې وونبي عليه السلام ورنه تپوس اوکړو چه په زهر اچولوکښې ستاڅه مقصد وو؟ هغې اووئيل ما پخپل زړه کښې دا اووئيل که چرې ته دالله پيغمبر يې نوتاته زهر نقصان نشي رسولې که چرې پيغمبر نه يې نومونږ به ستانه خلاص شو نونبي عليه السلام ددې ښځې جرم معاف کړو اوهيڅ سزائې ورنکړه ، نبي عليه السلام په صحابه کراموکښې چاچه ددغې غوښې نه خوړلې وو ددغه زهرو داثر په وجه مړه شول ، اونبي عليه السلام ددې زهرو په وجه دخپلو دواړو اوږوپه مينځ کښې ښکر ولګوو ،ابوهند دغوانښکر د چاړې په زريعه ولګوو، او ابوهند دقبيله بنو بياضه آزاد کړې غلام وو.

﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ امْرَأَةً يَهُودِيَّةً أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِشَاةٍ مَسْمُومَةٍ فَأَكَلَ مِنْهَا فَجِيءَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم.... او د باب په دريم روايت کښ دي: فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الذِّرَاعَ فَأَكَلَ مِنْهَا وَأَكَلَ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِهِ مَعَهُ ﴾

په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې د زهريله غوښې خوړلو قصه :

دا قصه د ٧هجرى ده کما في هامش البذل عن التلقيح پس په يو روايت کښ دي هم د دې باب چه ﴿ اهدت له يهودية بخيبر ﴾ ددې نه معلومه شوه چه د غزوه خيبر د موقعې قصه ده، دحديث مضمون دادې چه يوه يهودنړه ښځه چه دهغې نوم زينب بنت الحارث ليکلې دې چه

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٠٠٦)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/المقدمة ١١ (٦٩) (ضعيف)

د سلام بن مشکم ښځه وه هغې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د چیلئ وریته کړې شوې غوښه چه په زهرو ککړه وه پیش کړه، رسول الله ﷺ د هغې نه لاس (یعنی مخکښې خپه اوچتولو سره خوراک شروع کړو او رسول الله ﷺ سره د هغوی څو ملګرو هم اوخوړله او بیا ناڅاپه رسول الله ﷺ د خوراک نه لاس اونیولو، او هغه یهودئې ته ئې یو سړې اولیږلو د راطلب کولو دپاره چه کله هغه حاضره شوه نو رسول الله ﷺ د هغې نه تپوس اوکړو چه تا په دې غوښه کښې زهر ګډ کړې دی؟ هغې اووې تاسو ته چا خبر درکړو نو رسول الله ﷺ هغه ذراع طرف ته اشاره اوفرمائیله کوم چه د هغوی لاس کښې وو چا ماته دې خبرې راکړې دې، په دې اوریدلو باندې هغې اعتراف اوکړو، رسول الله ﷺ تپوس اوکړو ستا مقصود په دې سره څۀ وو؟ هغې جواب ورکړو چه ما دا سوچ اوکړو چه که دې واقعی د الله پاک نبی وی نو دۀ ته به هیڅ نقصان نه رسیږی او که په حقیقت کښې نبی نه دې (نو ښه ده مړ به شی او خلاص به شو ترې نه) رسول الله ﷺ دې جواب اوریدلو سره معافی اوکړه، او بیا روستو د باب په آخری حدیث کښې دی ﴿ فمات بشر بن البراء بن معرور ﴾

[٤٥١١]( )حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْدَتْ لَهُ يَهُودِيَّةٌ بِخَيْبَرَ شَاةً مَصْلِيَّةً، نَحْوَ حَدِيثِ جَابِرٍ، قَالَ: فَمَاتَ بِشْرُ بْنُ الْبَرَاءِ بْنِ مَعْرُورٍ الْأَنْصَارِيُّ، فَأَرْسَلَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ: مَا حَمَلَكِ عَلَى الَّذِي صَنَعْتِ؟ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ جَابِرٍ، فَأَمَرَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُتِلَتْ، وَلَمْ يَذْكُرْ أَمْرَ الْحِجَامَةِ.

د ابوسلمه رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوې یهودنړې ښځې نبی علیه السلام ته زهر الوده ګډ په خیبر کښې دتحفې په طور ورولیږلو، باقی دجابر دحدیث په شان دې لیکن په دې کښې دا اضافه ده چه ددې غوښې دخوړلو په وجه بشربن براء بن معرور انصاری صحابي مړشو، بیانبی علیه السلام دغه ښځه را اوغوښتله اوتپوس ئې ورنه وکړو چه داکار دې ولې کولو؟باقی دجابر د روایت په شان دې لیکن په دې روایت کښې داهم دې چه نبی علیه السلام ددې دقتل کولوحکم وکړو اوقتل کړې شوه اودښکرلګولو معامله ئې نه ده بیان کړې.

قوله: عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْدَتْ لَهُ يَهُودِيَّةٌ بِخَيْبَرَ شَاةً مَصْلِيَّةً، نَحْوَ حَدِيثِ جَابِرٍ...الخ،، چونکه د دې خوراک په خوړونکو کښې بشر بن براء بن معرور انصاری صحابی هم وو هغه د دې زهرو په اثر سره وفات شو نو بیا رسول الله ﷺ هغه یهودیه قصاصا قتل کړه، په روایت کښې راځی راوی وائی ﴿ فَمَا زِلْتُ أَعْرِفُهَا فِي لَهَوَاتِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم ﴾ چه د دې زهریله غوښې اثر به رسول الله ﷺ په خپل حلق کښې همیشه محسوس کولو، لهواتو جمع ده د لهات د حلق په بالکل اخیر کښې چه کومه د غوښې وړه شان ټکړه زوړنده وی چه هغې ته تالو وائی. او روستو په یو روایت کښې دا هم دی چه رسول الله ﷺ د هغې د زهرو د اثر نه د بچ کیدو دپاره علاجا د خپلو اوږې نزدې ښکر هم لګولې وو، دلته په دې باب کښې د ابوداؤد په بعض نسخو کښې څو مبارکې روایات زائد دی کوم چه د بذل المجهود په حاشیه باندې لیکلې شوې دی په هغې کښې په یو روایت کښې دا دې:

[1]: انظر حديث رقم (٤٥٠٩)، (تحفة الأشراف: ١٣١٢٢) (حسن صحيح)

ثم قال في وجعه الذي مات فيه..الخ.

[۴۵۱۲]()حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ، وَلَا يَأْكُلُ الصَّدَقَةَ"، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، وَلَمْ يَذْكُرْ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ، وَلَا يَأْكُلُ الصَّدَقَةَ، زَادَ: فَأَهْدَتْ لَهُ يَهُودِيَّةٌ بِخَيْبَرَ شَاةً مَصْلِيَّةً سَمَّتْهَا، فَأَكَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا وَأَكَلَ الْقَوْمُ، فَقَالَ: ارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ فَإِنَّهَا أَخْبَرَتْنِي أَنَّهَا مَسْمُومَةٌ، فَمَاتَ بِشْرُ بْنُ الْبَرَاءِ بْنِ مَعْرُورٍ الْأَنْصَارِيُّ، فَأَرْسَلَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ: مَا حَمَلَكِ عَلَى الَّذِي صَنَعْتِ؟ قَالَتْ: إِنْ كُنْتَ نَبِيًّا لَمْ يَضُرَّكَ الَّذِي صَنَعْتُ وَإِنْ كُنْتَ مَلِكًا أَرَحْتُ النَّاسَ مِنْكَ، فَأَمَرَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُتِلَتْ، ثُمَّ قَالَ فِي وَجَعِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ: مَا زِلْتُ أَجِدُ مِنَ الْأُكْلَةِ الَّتِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ، فَهَذَا أَوَانُ قَطَعَتْ أَبْهَرِي.

ابوهريره رضي الله عنه وائي چه رسول الله ﷺ به هديه قبلوله او صدقه به ئي نه خوړله، او همدې سند سره په يو بل مقام کښې د ابوهريره رضي الله عنه د ذکر نه بغير صرف د ابوسلمه رضي الله عنه نه روايت دې هغه وائي چه: رسول الله ﷺ به هديه قبلوله او صدقه به ئي نه خوړله، په هغې کښې دومره اضافه ده چه نبی کريم ﷺ ته يوې يهودي ښځې يوه وريت کړې شوې چيلې په تحفه کښې راوليږه، چه په هغې کښې هغې زهر ملاؤ کړې وو، رسول الله ﷺ دهغې نه خوراک اوکړو او خلقو هم اوخوړلو، بيا نبی کريم ﷺ خلقو ته اوفرمائيل: خپل لاسونه بند کړئ، دې (غوښې) ماته اووئيل چه دې کښې زهر دی، بيا بشر بن براء بن معرور انصاری مړ شو، نو نبی کريم ﷺ دغه يهودنړه ښځه راؤغوښتله، ورته ئي اوفرمائيل: په داسې کولو باندې تاسو څه څيز راضي کړې يئ؟ هغې اووئيل: که تاسو پيغمبر يئ نو کوم څه چه ما کړی دی هغه تاسو ته نقصان نه شي در رسولې، اوکه تاسو بادشاه يئ نو ما خلقو ته د ستاسو نه نجات ورکړو، نو رسول الله ﷺ حکم اوکړو نو هغه ښځه قتل کړې شوه، بيا نبی کريم ﷺ دخپل دغه تکليف باره کښې اوفرمائيل په کوم کښې چه دهغوی ﷺ وفات اوشو چه ما به برابر د خيبر په دې خوراک کښې اثر محسوسولو، تر دې پورې چه اوس هغه وخت راغې چه دې زما د شا رګ کټ کړو.

[۴۵۱۳]()حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ ابْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ أُمَّ مُبَشِّرٍ، قَالَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ "مَا يُتَّهَمُ بِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَإِنِّي لَا أَتَّهِمُ بِابْنِي شَيْئًا إِلَّا الشَّاةَ الْمَسْمُومَةَ الَّتِي أَكَلَ مَعَكَ بِخَيْبَرَ، وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَأَنَا لَا أَتَّهِمُ بِنَفْسِي إِلَّا ذَلِكَ، فَهَذَا أَوَانُ قَطَعَتْ أَبْهَرِي"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرُبَّمَا حَدَّثَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ بِهَذَا الْحَدِيثِ مُرْسَلًا، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرُبَّمَا حَدَّثَ بِهِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، وَذَكَرَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: أَنَّ مَعْمَرًا كَانَ يُحَدِّثُهُمْ بِالْحَدِيثِ مَرَّةً مُرْسَلًا فَيَكْتُبُونَهُ وَيُحَدِّثُهُمْ مَرَّةً بِهِ فَيُسْنِدُهُ فَيَكْتُبُونَهُ وَكُلٌّ صَحِيحٌ عِنْدَنَا، قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: فَلَمَّا قَدِمَ ابْنُ الْمُبَارَكِ عَلَى مَعْمَرٍ، أَسْنَدَ لَهُ مَعْمَرٌ أَحَادِيثَ كَانَ يُوقِفُهَا.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٠٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٩/٢) (حسن صحيح)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١١٣٩، ١٩٨١٥، ١٨٣٥٨، ١٨٣٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨/٦) (صحيح)

کعب بن مالک رضی الله عنه روایت کوی چه ام بشر رضی الله عنها نبی کریم ﷺ ته په هغه مرض کښې په کوم کښې چه هغوی ﷺ وفات شو اووئیل: اې دالله رسوله ﷺ ! ستاسو شک دڅه څیز دې؟ زما د ځوی په سلسله کښې زما شک خو په هغه د زهرو ملاؤ شوی چیلئ باندې دې کوم چه هغه تاسو سره په خیبر کښې خوړلې وه، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: دځان باره کښې هم زما شک په همدغه باندې دې، او اوس هغه وخت راغلې دې چه هغې زما د شا رګ کټ کړې دې. ابوداؤد وائی: عبدالرزاق کله دا حدیث د معمر نه، معمر د زهری نه، زهری د نبی کریم ﷺ نه مرسلاً روایت کړې دې او کله معمر دا د زهری نه او زهری د عبدالرحمن بن کعب بن مالک په واسطه بیان کړې دې، او عبدالرزاق ذکر کړی دی چه معمر دا حدیث دهغوی نه کله مرسلاً روایت کولو نوهغه به لیکلو او کله به ئې مسنداً روایت کولو نو هم به ئې لیکلو، او زمونږ په نزد دواړه صحیح دی. عبدالرزاق وائی: کله چه ابن مبارک د معمر خواته راغې نو معمر هغه ټول احادیث کوم چه به هغوی موقوفاً روایت کول هغوی نه ئې متصلاً روایت کړل.

یعنی د بشر بن البراء مور د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه د رسول الله ﷺ په مرض الوفاة کښې او تپوس ئې اوکړو چه تاسو د دې بیمارئ په باره کښې څه خیال کوئ؟ زه خو د خپل ځوی په باره کښې هم دا خیال کوم چه په هغه کښې د هم هغه زهریله غوښې اثر دې کومه چه هغوی تاسو سره خوړلې وه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زما هم د خپل ځان په باره کښې هم دا خیال دې او بس دا زما د شه رګ د انقطاع وخت دې، په صحیح بخاری کښې هم په کتاب المغازی کښې باب مرضی النبی ﷺ ووفاته کښې د دې مضمون روایت دې:

﴿ قَالَتْ عَائِشَةُ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ، كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ يَا عَائِشَةُ مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ فَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذَلِكَ السَّمِّ ﴾.

[۴۵۱۴]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا رَبَاحٌ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أُمِّهِ أُمِّ مُبَشِّرٍ، قَالَ أَبُو سَعِيدٍ بْنُ الْأَعْرَابِيِّ: كَذَا قَالَ: عَنْ أُمِّهِ، وَالصَّوَابُ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُمِّ مُبَشِّرٍ، دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ مَخْلَدِ بْنِ خَالِدٍ، نَحْوَ حَدِيثِ جَابِرٍ، قَالَ: فَمَاتَ بِشْرُ بْنُ الْبَرَاءِ بْنِ مَعْرُورٍ، فَأَرْسَلَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ، فَقَالَ: مَا حَمَلَكِ عَلَى الَّذِي صَنَعْتِ؟ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ جَابِرٍ، فَأَمَرَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُتِلَتْ، وَلَمْ يَذْكُرِ الْحِجَامَةَ.

د ام بشر رضی الله عنها نه روایت دې چه هغه نبی کریم ﷺ ته راغله بیا راوی د مخلد بن خالد دحدیث مفهوم هغه شان ذکرکړو څنګه چه د جابر په روایت کښې دی، په هغې کښې دی چه بشر بن براء بن معرور مړ شو نو نبی کریم ﷺ یهودنړه ښځه راؤغوښتله او تپوس ئې ترې اوکړو: دا په داسې کولو ته کوم څیز راضي کړې وې؟ بیا راوی هغه خبرې ذکرکړې کومې چه د جابر په حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو او هغه قتل کړې شوه، خو هغوی د ښکر لګولو ذکر اونه کړو.

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۳۹، ۱۸۳۵۸) (صحیح)

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة :

د مصنف رحمه الله غرض په دې احاديثو سره دې مسئلې لره بيانول دی کومه چه په ترجمة الباب کښې ذکر ده چه که يو سړې په چا باندې زهر اوخکی يا اوخوری او هغه مړ شی نو په دې صورت کښې قصاص شته يا نه؟ په دې مسئله کښې مذاهب په بذل المجهود کښې د امام خطابی رحمه الله نه دا نقل کړې شوې دی چه که يو سړې د چا په خوراک کښې زهر ګډ کړی او هغه ئې اوخوری او د خوړلو نه پس مړ شي نو د امام مالک رحمه الله په نزد په دې کښې هر صورت باندې قصاص دې، او د امام شافعی رحمه الله په نزد دا ده چه که زهر ګډولو سره په هغه اوخکی يا اوخوی بغير د وينا نه نو په دې صورت کښې خو قصاص دې او که په خوراک کښې زهر ګډولو سره د هغه مخې ته کيږدی او دا او نه وائی چه ته دا اوخوه بلکه هغه پخپله خوراک څکاک اوکړی او مړ شي نو په دې صورت کښې قصاص نشته، دا د امام شافعی رحمه الله قول دې، او که په زوره پرې اوخکي نو په دې صورت کښې د امام شافعی رحمه الله په نزد هم قصاص متعين دې او د امام ابوحنيفه رحمه الله مسلک دا دې چه صرف د څکولو په صورت کښې خو پرې قصاص نشته خو د ايجار په صورت کښې به پرې ديت واجب وی يعنی چالره څملؤلو سره د هغه په حلق کښې زهر واچوی نو بيا ديت شته ګيني نشته، په بدائع کښې هم د احنافو مذهب هم دا ليکلې شوې دې چه که يو سړې د چا مخې ته په خوراک يا څکاک کښې زهر ګډولو سره کيږدی او بل سړې ئې خپله په خپل لاس باندې اوخوری يا اوخکی، نو په دې صورت کښې ديت نشته بلکه تعزير او تاديب دې، او که د ايجار صورت اختيار کړی نو په دې کښې به ديت واجب وی، پس حاصل دا شو چه د امام مالک رحمه الله په نزد په دې مسئله کښې مطلقا قصاص دې، او د امام شافعی رحمه الله په نزد د اکراه په صورت کښې خو قصاص دې او بغير د اکراه نه دوه صورتونه دی يو دا چه د هغه مخې ته کيږدی او څه او نه وائی نو په دې صورت کښې قصاص نشته او که مخې ته ږدلو سره ورته د خوراک يا څکاک امر اوکړی نو په دې صورت کښې د هغوی يو قول دې چه چه قصاص به واجب وی، په دويم قول کښې نشته، او د احنافو په نزد قصاص خو په هيڅ صورت کښې نشته، او د عرض په صورت کښې صرف تعزير دې او د ايجار په صورت کښې د هغوی په نزد ديت دې.

په حديث الباب کښې چونکه قصاص اخستل ذکر شوې دی کوم چه د احنافو د مسلک خلاف دې بلکه د شوافعو د مسلک هم خلاف دې څکه چه د هغوی په نزد هم قصاص د اکراه په صورت کښې دې غالبا هم په دې وجه باندې امام خطابی د دې دا جواب ورکړې دې چه په دې رواياتو کښې چه په کومو کښې قصاص مذکور دې په هغې کښې اختلاف او اضطراب دې او په بعضو کښې انقطاع، او دويم جواب دا کيدې شی چه دلته د دې يهوديه قتل قصاصا نه وو بلکه تعزيرا وو.....

حديث انس رضي الله عنه اخرجه البخاری ومسلم، قاله المنذری.

....

بَابُ مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ أَوْ مَثَّلَ بِهِ أَيُقَادُ مِنْهُ

باب: څوک چه خپل غلام قتل کړي يا ترې اندام پريکړي نو آيا قصاص به ترې اخستلې شي؟

يعنى كوم سړې چه خپل غلام قتل كړى يا د هغه يو اندام ضائع نو په دې كښې قصاص شته يا نه؟

[٤٥١٥](1)حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ قَتَلْنَاهُ، وَمَنْ جَدَعَ عَبْدَهُ جَدَعْنَاهُ".

د سمره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى چاچه خپل غلام قتل كړو نو مونږ به هغه لره قتل كوواو څوك چه دخپل غلام غوږ پوزه وغيره پريكړي نومونږ دده سره همدغه عمل كوو.

قوله: (عَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ قَتَلْنَاهُ وَمَنْ جَدَعَ عَبْدَهُ جَدَعْنَاهُ »)

د حديث شرح او د مذاهب ائمه تفصيل:

د جدع معنى ده پوزه يا غوږ پريكول، او زيات تر د دې استعمال په قطع الانف كښې كيږى، رسول الله ﷺ فرمائى چه كوم سړې خپل غلام قتل كړى مونږ به هغه قتل كړو او چا چه د خپل غلام پوزه پرې كړه مونږ به د هغه پوزه پرې كړو،

د غلام او د هغه د مالک ترمينځۀ قصاص چه د غلام دې د مولې نه قصاص واخستلې شى لكه چه په دې حديث كښې دى داسې په ائمه اربعه كښې د چا په نزد هم نشته، خو بعض علماء كرام د دې قائل دى لكه سفيان ثورى، قال الثورى اذا قتل عبده او عبد غيره قتل به كذا فى البذل عن الخطابى.....(2)

د احنافو په نزد خو دا حكم يعنى ترک دقصاص دخپل غلام باره كښې دې خوكه غلام دبل چا دې نو په حر او عبدغير په مينځ كښې احناف دقصاص قائل دى.(3) كه خپل غلام وى اوكه د بل چا وى، خو دلته په په حديث كښې خپله د مالک او د هغه د غلام ترمينځه د قصاص ثبوت دې كومه چه د ائمه اربعه خلاف دې.

د جمهورو او ائمه اربعه د طرف نه د حديث الباب توجيه:

د دې تاويل دا كولې شى چه دا په زجر او توبيخ باندې محمول دې (4) چه خلق د دې اقدام

---

(1): سنن الترمذي/الديات ١٨ (١٤١٤)، سنن النسائي/القسامة ٦ (٤٧٤٠)، ٧ (٤٧٤٣)، ١٢ (٤٧٥٧)، سنن ابن ماجه/الديات ٢٣ (٢٦٦٣)، (تحفة الأشراف: ٤٥٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠/٥، ١١، ١٢، ١٨)، دي/الديات ٧ (٢٤٠٣) (ضعيف)

(2) او اصل په خطابى كښې د دې نه پس دا دى : وقد اختلف عنه (اي عن الثوري) في ذلك وحكي انه قال مثل قول ابي حنيفة واصحابه)

(3) يعنى قصاص فى النفس او قصاص فى مادون النفس بين الحر والعبد د دې احناف هم قائل نه دى ففي الهداية ٥٥٣/٤ ولا قصاص بين الرجل والمراءة فيما دون النفس ولا بين الحر والعبد ولا بين العبدين (اي فيما دون النفس)

(4) علامه سندى فرمائى كوم تاويل او توجيه چه شارحين كوى چه په دې لفظ سره مقصود.......له

همت اونکړې شي لکه د شارب خمر په باره کښې چه راغي چه هغه دې په پنځم ځل قتل کړې شي، او بل تاویل د دې حدیث دا کړې شوې دې چه د دې عبد نه مراد خپل آزاد کړده دې یعنی کوم چه مخکښې د هغه عبد وو لکه په آیت کریمه کښې دی : ﴿ والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجا ﴾ په دې آیت کریمه کښې په کنډې زنانه باندې د خاوند د وفات نه پس هم د زوج اطلاق کړې شوې دې یعنی د ماکان په اعتبار سره، او یو جواب د نسخ ورکړې شوې دې چه دا حدیث د سمره منسوخ دې، او په دې حدیث کښې د قتل نه پس دویم جزء د جدع دې اول یعنی قتل دا خو شو قصاص فی النفس او ثانی یعنی جدع دا شو قصاص فیما دون النفس، په دې دویم جزء کښې د علماء کرامو اتفاق دې چه قصاص فیما دون النفس بین العبد والحر مطلقا نشته که هغه خپل عبد وی او که عبد د غیر وی. او که د بعض علماء کرامو اختلاف دې هم نو صرف په جزء اول یعنی قصاص فی النفس کښې، د بعضو نه مراد سفیان ثوری رحمه الله دې لکه چه مخکښې تیر شو، هم په دې وجه بعض علماء کرامو وئیلې دی چه هر کله دا حدیث د جزء ثانی په اعتبار سره منسوخ دې نو د جزء اول په اعتبار سره هم منسوخ دې، لما ثبتا ثبتا معا فلما نسخا نسخا معا (کذا فی البذل عن الخطابی) امام ترمذی رحمه الله د حدیث الباب نه پس فرمائی : هذا حديث حسن غريب وقد ذهب بعض أهل العلم من التابعين منهم إبراهيم النخعي إلى هذا وقال بعض أهل العلم منهم الحسن البصري و عطاء بن أبي رباح ليس بين الحر والعبد قصاص في النفس ولا فيما دون النفس وهو قول أحمد و إسحق وقال بعضهم إذا قتل عبده لا يقتل به وإذا قتل عبد غيره قتل به وهو قول سفيان الثوري اهـ امام ترمذی رحمه الله په دې حدیث باندې عمل د ابراهیم النخعی رحمه الله ذکر کړې دې او د ثوری مذهب ئې د احنافو موافق لیکلې دې په خلاف د خطابی چه هغوی په دې باندې عمل د ثوری لیکلې دې او د نخعی مذهب ئې د احنافو موافق لیکلې دې خو د خطابی نه هیره شوه چه د سفیان ثوری په دې کښې دوه قوله دی پس کیدې شي چه د نخعی نه هم دوه روایتونه وی لکه د سفیان ثوری په شان، والله تعالی اعلم.

[٤٥١٦] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، بِإِسْنَادِهِ مِثْلَهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ خَصَى عَبْدَهُ خَصَيْنَاهُ، ثُمَّ ذَكَرَ مِثْلَ حَدِيثِ شُعْبَةَ، وَحَمَّادٍ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، عَنْ هِشَامٍ، مِثْلَ حَدِيثِ مُعَاذٍ.

← ..... زجر او توبیخ ده د هغې نه خو دا مطلب دې چه د دې لفظ نه سوا د زجر نه بله معنی مراد نه ده ځکه چه بیا خو به هغه لفظ مهمل شي او نه ئې دا مطلب دې چه دا لفظ مستعمل خو په معنی حقیقی کښې دې خو مقصود زجر دې ځکه چه د دې خو به ګویا مطلب دا شي چه مصلحة کذب جائز دې بلکه د دې توجیه مطلب دا دې چه دا لفظ د مقام سره مناسب یعنی معنی مجازی کښې مستعمل دې مثلا مطلق سزا او سخت لفظ استعمال کړې شوې دی د زجر او توبیخ دپاره اهـ..... ډیره غوره تشریح ده فلله دره..... یو ځل حضرت شیخ وئیلې وو چه ما د خپل پلار مخکښې د یو حدیث په باره کښې دا اووې چه دا خو په تغلیظ باندې محمول دې نو شیخ فرمائی چه زما پلار په دې باندې ډیر زیات غصه شو او وې فرمائیل چه د تغلیظ توجیه په اخبار کښې نه چلیږی)

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٥٨٦) (ضعيف)

د قتاده رحمه الله نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: چاچه خپل غلام خصي کړو نو مونږ به ده لره خصي کړو او باقي روايت ئې دحماد او دشعبه د روايت په شان بيان کړو، امام ابوداؤد فرمائي او همدارنګې دا روايت ابوداؤد الطيالسي دهشام نه د معاذ دحديث په شان بيان کړې دې.

د ائمه ثلاث استدلال کوم چه مطلقا د قصاص بين الحر والعبد قائل نه دی د دې آيت کريمه نه دې: کتب عليکم القصاص فی القتلی الحر بالحر والعبد بالعبد.... او د احنافو د طرف نه د دې جواب دا دې تخصيص الشئ بالذکر لا ينفی الحکم عما عداه....

[٤٥١٧]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، بِإِسْنَادِ شُعْبَةَ مِثْلَهُ، زَادَ: ثُمَّ إِنَّ الْحَسَنَ نَسِيَ هَذَا الْحَدِيثَ، فَكَانَ يَقُولُ: لَا يُقْتَلُ حُرٌّ بِعَبْدٍ.

قتاده دمخکني روايت په شان روايت دنبي عليه السلام نه بيان کړې دې مګر دده دې اضافي سره او بيا دا حديث دده دې حديث دراوی حسن نه هيرشوي دي او هغه ووئيل چه آزاد به دغلام په بدل کښې نشي قتل کولې.

په روستو روايت کښ دا دی ﴿ ثُمَّ إِنَّ الْحَسَنَ نَسِيَ هَذَا الْحَدِيثَ فَكَانَ يَقُولُ « لاَ يُقْتَلُ حُرٌّ بِعَبْدٍ »﴾ قتاده کوم چه د حسن بصری رحمه الله شاګرد دې هغوی فرمائي چه زمونږ استاد د دې حديث د بيانولو نه پس هير کړو، پس هغوی به فرمائيل چه لا يقتل حر بعبد... امام خطابی رحمه الله فرمائي چه دا ضروری نه ده بلکه کيدې شی چه د هغوی په نزد حديث موؤل وی او په زجر او توبيخ باندې محمول وی، څنګه چه جمهور وائی يا به ئې بل څه تاويل کولو اهـ والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[٤٥١٨]([2]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: "لَا يُقَادُ الْحُرُّ بِالْعَبْدِ".

حسن وئيلی دی چه اصيل دغلام په بدل کښې نشي قصاص کولې.

[٤٥١٩]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ تَسْنِيمٍ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، أَخْبَرَنَا سَوَّارٌ أَبُو حَمْزَةَ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "جَاءَ رَجُلٌ مُسْتَصْرِخٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: جَارِيَةٌ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ: وَيْحَكَ مَا لَكَ؟ قَالَ: شَرًّا أَبْصَرَ لِسَيِّدِهِ جَارِيَةً لَهُ فَغَارَ فَجَبَّ مَذَاكِيرَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَلَيَّ بِالرَّجُلِ، فَطُلِبَ فَلَمْ يُقْدَرْ عَلَيْهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اذْهَبْ فَأَنْتَ حُرٌّ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلَى مَنْ نُصْرَتِي؟ قَالَ: عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ، أَوْ قَالَ: كُلِّ مُسْلِمٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: الَّذِي عُتِقَ كَانَ اسْمُهُ رَوْحُ بْنُ دِينَارٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: الَّذِي جَبَّهُ زِنْبَاعٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا زِنْبَاعٌ أَبُو رَوْحٍ كَانَ مَوْلَى الْعَبْدِ.

عمرو بن شعيب دخپل پلار نه او هغه دده دنيکه روايت کوی فرمائي چه نبی عليه السلام ته يو کس په چغه راغي اووئې وئيل چه زما يوه وينځه وه اې دالله رسوله، نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل هلاک شي دادرباندې څه وشول هغه ووئيل ډير بد وشول زما دمالک يوه وينځه وه ماهغه وليدله نوهغه دغيرت په وجه باندې زما اندام مخصوصه پريکړو، نبی عليه السلام اوفرمائيل دده

[1]: وانظر حديث رقم: (٤٥١٥)، (تحفة الأشراف: ٤٥٨٦) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (٤٥١٥)، (تحفة الأشراف: ١٨٥٣٦) (صحيح)

[3]: سنن ابن ماجه/الديات ٢٩ (٢٦٨٠)، (تحفة الأشراف: ٨٧١٦، ٤٥٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٨٢، ٢٢٥) (حسن)

مالک را اوغواړئ هغه تلاش کړي شو لیکن پیدانشو بیانبی ﷺ ورته اوفرمائیل ته آزاد شوي ده عرض وکړو اې دالله رسوله که چرې زما مالک په زورباندې مابیساغلام کړي نوزما امداد به څوک کوي؟نبی ﷺ اوفرمائیل هریو مسلمان یا هریومومن به ستا امداد کوي.

مضمون الحدیث:

قوله:﴿عَمْرِو بْنُ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مُسْتَصْرِخٌ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ جَارِيَةٌ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَقَالَ « وَيْحَكَ مَا لَكَ ». قَالَ شَرًّا أَبْصَرَ لِسَيِّدِهِ جَارِيَةً لَهُ فَغَارَ فَجَبَّ مَذَاكِيرَهُ الخ ﴾ یعنی یو سړې په چغو وهلو سره رسول اللهﷺ ته راغلو، او دا ئې وئیل جارية له یا رسول اللهﷺ ! چه د هغه وینځه یا رسول اللهﷺ...... یعنی د شدت تکلیف د وجې نه ئې پوره جمله ادا نه کړې شوه بس هم دومره ئې اووې چه د هغه وینځه، رسول اللهﷺ هغه ته اوفرمائیل خوار شې څه چل درباندې شوې دې؟ یعنی وړاندې خبره هم اوکړه کنه، په دې باندې هغه اووې چه ډیر بد اوشو ما د خپل مالک وینځه لیدلې وه چه په هغې باندې هغه ته غیرت ورغلو او زما ذکر هغه پرې کړو، رسول اللهﷺ اوفرمائیل هغه سړې دې ما ته راوستلې شی، هغه تلاش کړې شو خو ملاؤ نه شو رسول اللهﷺ هغه غلام ته اووې ته لاړ شه ته آزاد ئې، هغه عرض اوکړو زما حمایت او امداد به څوک کوی یعنی که زما مالک ما اونیسی، نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل ستا مدد په هر مسلمان باندې واجب دې.

په بذل کښې دی چه دا روایت په ابن ماجه کښې هم شته او په هغې کښې د دې چغې وهونکی غلام جواب دا ذکر شوې دې. ﴿ سیدی رانی اقبل جارية له فجب مذاکیری ﴾ او د ابوداؤد په بعض نسخو کښې دی چه د دې غلام دمولی نوم زنباع دې ابوروح، او په حاشیه د بذل کښې د ابن الجوزی د تلقیح نه نقل دی چه د دې غلام نوم سندر دې.

بَابُ الْقَسَامَةِ

بابه د قسامت بیان

د قسامة په باره کښې مباحث اربعه:

دلته څلور بحثونه دی:

۱: د لفظ قسامة لغوی او شرعی معنی.

۲: د قسامت مشروعیت او په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف.

۳: د قسامت کیفیت او طریقه.

۴: القصاص بالقسامة یعنی د قسامة نه د قصاص ثبوت هم کیدې شی یا نه. یا صرف دیت ثابتیږی.

بحث اول: د قسامه لغوی او شرعی معنی

وئیلې شوې دی چه قسامة مصدر دې په معنی د قسم، او وئیلې شوې دی چه دا مصدر دې، یقال اقسم یقسم قسامة، او د دې اطلاق په هغه جماعت باندې هم کیږی کوم چه قسمونه خوری، د امام الحرمین نه نقل دی چه قسامت د فقهاء کرامو په نزد خو نوم دې د آیمان، او

د اهل لغت په نزد د قسم خورو د جماعت، او شرعا قسامت نوم دې د هغه قسمونو کوم چه اولیاء مقتول خوری په استحقاق د دم باندې (هذا عند الجمهور) یا د هغه قسمونو کوم چه مدعی علیهم خوری په نفی د قتل باندې (علی قول الحنفیة).

دویم بحث : د قسامت مشروعیت او اختلاف العلماء

قسامت په هغه امورو کښې دې کوم چه به د جاهلیت په زمانه کښې موندلې شو او بیا اسلام هم دا برقرار اوساتل، ابن عبدالبر فرمائی : کانت فی الجاهلیة فاقرها النبی ﷺ علی ما کانت علیه فی الجاهلیة. رواه عبدالرزاق..... او په صحیح بخاری کښې دی د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه په جاهلیت کښې اولا چه کوم قسامت موندلې شوې وو هغه په مونږ بنو هاشم کښې موندلې شوې وو. کان رجل من بنی هاشم استاجره رجل من قریش من فخذ اخری الی اخر القصة امام بخاری په دې باندې عنوان قائم کړې دې ﴿القسامة فی الجاهلیة﴾ او د دې نه مخکښې باب دې ﴿باب ایام الجاهلیة﴾ او دا دواړه ابواب د ابواب المناقب په ضمن کښې دی او د دې نه روستو بیا امام بخاری رحمه الله د کتاب الحدود نه پس د کتاب الدیات په ضمن کښې دوباره د کتاب القسامة باب قائم کړې دې

چه په هغې کښې هغوی په اسلام کښې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې چه کوم قسامة پیښې شوې وو هغه ذکر فرمائیلې دې، او امام نسائی د کتاب البیوع نه پس متصلا د کتاب القسامة والقود والدیات ذکر کړې دې او د هغې په شروع کښې ئې هم دا د ابن عباس رضی الله عنهما والا روایت د قسامة فی الجاهلیت ذکر کړو، د دې نه پس ئې د قسامة دویم باب قائم کړو چه په هغې کښې ئې د یهود خیبر د قسامت ذکر اوکړو چه د قسامت فی الجاهلیة والا قصه مونږ سره په ابوداؤد او ترمذی کښې نشته.

قاضی عیاض فرمائی چه قسامة په اصولو د شرع کښې یو اصل دې، تقریبا ټول علماء کرام صحابه او تابعین د دې قائل دی اګر چه د دې په کیفیت کښې اختلاف دې، خو بعض علماء کرام د دې قائل نه دی لکه سالم او سلیمان بن یسار، قتاده او ابن علیه او امام بخاری او د عمر بن عبدالعزیز نه په دې کښې دوه روایتونه دی او ابن رشد هم دا خبره لیکلې ده او د دې نه پس هغوی لیکی چه د جمهور علماء کرامو مستدل هغه حدیث دې کوم چه د حویصه او محیصه د قصې نه ثابت دې.

وهو حدیث متفق علیه صحته من اهل الحدیث الا انهم مختلفون فی الفاظه او د دې نه پس لیکی : او دویمه ډله کومه چه د دې منکره ده هغوی وائی چه قسامة د شریعت د اصول مجمع علیها خلاف دې او بیا هغوی هغه ذکر کړل (کما فی الاوجز ۵/۵۱۸)

د قسامة په باره کښې د امام بخاری رحمه الله مسلک :

حضرت شیخ په حاشیه د لامع الدراری او په الابواب والترجم کښې لیکی چه قاضی عیاض چه دا کومه خبره اوفرمائیله چه امام بخاری رحمه الله د قسامة قائل نه دې، هم دغه شان د ابن المنیر او علامه کرمانی په کلام کښې هم ده، او علامه قسطلانی د کتاب القسامة په شروع کښې هم داسې فرمائیلی دی خو په آخر باب کښې ئې په هغه چا باندې رد کړې دې چه وائی

امام بخاری رحمه الله د قسامة قائل نه دې، هم دغه شان حافظ رحمه الله هم دا خبره فرمائیلې ده چه دا وئیل چه امام بخاری رحمه الله د نفس قسامت قائل نه دې صحیح نه ده، د نفس قسامة خو هغوی قائل دی خو د قصاص بالقسامة قائل نه دی، او د دې خبرې هم قائل دی چه شروع د قسم دې د مدعی نه وی بلکه په دې کښې د هغوی رائې دا ده چه په دې مسئله کښې روایات مختلف دی په قصه د انصارو کښې. یعنی د بعضو نه معلومیږی ابتداء بالایمان بالمدعین، او د بعض نه ابتداء بالایمان بالمدعی علیهم، لهذا د دې اختلاف په صورت کښې هغوی امر متفق علیه اختیار کړې دې یعنی الیمین علی المدعی علیه [۱] (والبینة علی المدعی) الی اخر ما ذکر...

او هم دا خبره علامه عینی رحمه الله هم فرمائیلې ده چه امام بخاری رحمه الله د قصاص بالقسامة منکر دې نه د اصل قسامة، او حضرت شیخ فرمائی چه هم دا رائې زما د عمر بن عبدالعزیز په باره کښې هم ده چه هغوی هم د قصاص بالقسامة منکر دې نه د مطلق قسامت.

بحث ثالث:

د قسامت کیفیت او طریقه او په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف:

او د احنافو او د جمهورو دلیل او منشاء د اختلاف دا مّن حیث الفقه یو اهم بحث دې، د حافظ په کلام کښې پورته تیر شو چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د انصارو او د خیبر د یهودو ترمینځه چه د قسامة کومه قصه پیښه شوې وه په هغې کښې روایات مختلف دی، هغه اختلاف هم دا دې چه رسول الله ﷺ د قسم شروع د انصارو نه کوم چه مدعیین وو اوکړه او که د یهودو نه کوم چه مدعی علیهم وو؟ پس امام ابوداؤد رحمه الله دلته دوه ابواب قائم کړې دی او په دواړو کښې ئې د سهل بن ابی حثمه او د رافع بن خدیج رضی الله عنهما حدیث ذکر فرمائیلې دې، د اول باب حدیث په طریق د یحیی بن سعید عن بشیر بن یسار. دې په دې طریق کښې خو شروع د قسم د مدعین نه ده پس د هغې الفاظ دا دی: ﴿« يُقْسِمُ خَمْسُونَ مِنْكُمْ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ فَيُدْفَعُ بِرُمَّتِهِ ». قَالُوا أَمْرٌ لَمْ نَشْهَدْهُ كَيْفَ نَحْلِفُ قَالَ « فَتُبَرِّئُكُمْ يَهُودُ بِأَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْهُمْ »﴾ یعنی رسول الله ﷺ انصارو ته اوفرمائیل چه ستاسو نه دې پنځوس کسان قسم اوکړی په یهودو کښې په یو کس باندې نو بیا به هغه سړې پوره تاسو ته حواله کولې شی. انصارو عرض اوکړو چه مونږ څنګه قسم خوړلې شو چه مونږ د قتل مشاهده نه ده کړې، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیا دې د یهودو نه پنځوس کسان قسم خوړلو تاسو د دې قسم خوړل د تکلیف نه بری کړی (د قصې تکمیل به مونږ بیا ذکر کوو) او په دویم باب کښې مصنف رحمه الله دا حدیث په طریق د ﴿سعید بن عبید عن بشیر بن یسار﴾ ذکر کړې دې کوم چه د دې اول روایت خلاف دې په هغې کښې داسې دی چه کله انصار د رسول الله ﷺ خدمت ته راورسیدل او دا د قتل واقعه ئې هغوی ته بیان کړه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: « تَأْتُونِي بِالْبَيِّنَةِ عَلَى مَنْ قَتَلَ ». قَالُوا مَا لَنَا بَيِّنَةٌ. قَالَ « فَيَحْلِفُونَ لَكُمْ ». قَالُوا لاَ نَرْضَى بِأَيْمَانِ الْيَهُودِ﴾ اوګورئ په دې کښې انصار کوم چه مدعین وو د هغوی نه رسول الله ﷺ د بینة مطالبه کړې

[۱] ګویا کومه رائې چه د احنافو ده په دې کښې هم هغې لره هغوی اختیار کړې ده.

ده، چه کله هغوی د بینة د پیش کولو نه عذر اوکړو نو بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اوس به یهود قسمونه خوری الی آخر القصة....... دا دوه مختلف روایتونه دی د یحیی بن سعید او د سعید بن عبید، په هغوی کښې جمهورو د یحیی بن سعید روایت اخستلې دې او احنافو د سعید بن عبید روایت لره، او امام بخاری رحمه الله په باب القسامة کښې هم دا دویم روایت ذکر فرمائیلې دې، هم په دې وجه شراح وائی چه امام بخاری رحمه الله په دې مسئله کښې د احنافو موافقت کړې دې، هم دغه شان په نسائی کښې یو روایت دې د ﴿ عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ﴾ په طریق باندې چه په هغې کښې داسې دی : ﴿ فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم : أقم شاهدين على من قتله أدفعه إليكم برمته قال يا رسول الله ومن أين أصيب شاهدين ﴾ حافظ ابن القیم د مختصر سنن ابی داؤد په شرح تهذیب السنن کښې د جمهورو د طرف نه جواب ورکولو سره لیکلې دی: قَالَ النَّسَائِيُّ : لَا نَعْلَم أَحَدًا تَابَعَ عَمْرو بْن شُعَيْب عَلَى هَذِهِ الرِّوَايَة , وَلَا سَعِيد بْن عُبَيْد عَلَى رِوَايَته عَنْ بَشِير بْن يَسَار، والله تعالى اعلم. وَقَالَ مُسْلِم : رِوَايَة سَعِيد بْن عُبَيْد غَلَط وَيَحْيَى بْن سَعِيد أَحْفَظ مِنْه...... (خو پورته تاسو کتلی دی چه امام بخاری رحمه الله د قسامة په باره کښې د سعید بن عبید روایت اخستلې دې، یعنی کوم چه د اصل مسئلې محل دې هلته، او د یحیی بن سعید روایت هم اگر چه هغوی ذکر کړې دې خو په بل مقام کښې یعنی په ابواب الجزیة کښې....... (پس ابن المنیر فرمائی چه امام بخاری رحمه الله د یحیی بن سعید والا طریق، په باب القسامة کښې قصدا نه دې ذکر کړې چه څوک په مسئله د قسامة کښې ددې نه استدلال اونکړی) د دې نه پس حافظ ابن القیم رحمه الله په دې دواړو مختلف روایتونو کښې د امام بیهقی د طرف نه تطبیق داسې ورکړې دې د یحیی بن سعید روایت لره اصل منلو سره چه ممکنه ده د سعید بن عبید روایت کښې د بینه نه مراد د هغې متبادر معنی وی یعنی گواه بلکه د دې نه دې مراد ایمان المدعین وی ([1]) چه د هغې تفسیر او بیان د یحیی بن سعید په روایت کښې راغلو. او یا دې داسې اوئیلې شی چه د سعید بن عبید په روایت کښې د بینة نه متبادر معنی مراد دی خو چه کله هغوی د بینة نه کیدو عذر پیش کړو نو رسول الله ﷺ په هغوی باندې ایمان پیش کړو لکه څنګه چه د یحیی بن سعید په روایت کښې دی (د دې دویمې توجیه حاصل دا شو چه په دې دواړو روایتونو کښې اختصار واقع شوې دې او واقعه دا ده چه د رسول الله ﷺ د طرف نه دا دواړه څیزونه موندلې شوې وو او د مجموعه روایتین نه هم دا ثابتیږی چه که د مقتول اولیاء سره که گواهان نه وی نو د هغوی نه به قسمونه اخستلې شی، وهذا هو مسلک الجمهور)

څان پوهه کړه چه د علماء کرامو یو جماعت لکه چه په بحث ثانی کښې تیر شو د قسامة بالکل انکار کړې دې په دې وینا چه دا د مجمع علیها اصولو خلاف دې او په هغه اصول کښې یو مجمع علیه دا هم دې ﴿ البینة علی المدعی والیمین علی المدعی علیه ﴾ احنافو چه کوم صورت د قسامة اختیار کړې دې په هغې کښې کم از کم د دې اصل مخالفت نشته

---

[1] (ځکه چه په مسئله د قسامة کښې ایمان د مدعین د بینة قائم مقام وی)

هغه طریقه د دې د مخالفت نه محفوظ ده، لهذا د احنافو مسلک په دې کښې معتدل شو، فتامل وتدبر ولاتکن من المستعجلین.

وړاندې په روایت کښې دی چه صحابه کرامو ﷺ چه کله رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه د دې یهودو د قسمونو څه اعتبار دې دوی خو به دروغ قسمونه اوخوری نو د هغې نه پس دا دی : ﴿ فَوَدَاهُ رَسُولُ اللّٰهِ -صلی الله علیه وسلم- مِنْ قِبَلِه ﴾ چه کله انصارو د یهودو د قسمونو په باره کښې دا اوئیل چه هغه ناقابل اعتبار دی نو اوس مقدمه خارج شوه ځکه چه انصارو ته هم دغه دوه اختیارات حاصل وو (علی مسلک الجمهور) چه یا خو دې هغوی خپله قسمونه اوخوری او یا دې بیا د مدعی علیهم نه قسمونه واخستلې شی، خو هغوی دې دواړو ته تیار نه شو لهذا مقدمه خارج شوه.... خو چونکه هغوی غمژن وو د قتل په وجه باندې نو رسول الله ﷺ جبرا لخاطرهم یعنی د هغوی د زړهٔ ساتلو دپاره او د اختلاف د ختمولو دپاره او د اصلاح ذات البین دپاره د خپل طرف نه سل اوښان په دیت کښې انصارو ته ورکړل.

د من عنده او من ابل الصدقة توجیه :

په یو روایت کښې خو دی : ﴿ من عنده ﴾ او په یو کښې دی ﴿ من ابل الصدقة ﴾ په دواړو روایتونو کښې جمع داسې کړې شوې ده چه رسول الله ﷺ هغه اوښان د زکوة اوښانو نه څه په بیع واخستل (اشتراها من ابل الصدقة بمال دفعه من عنده) او یا دې داسې اوئیلې شی د ﴿من عنده ﴾ نه مراد ذاتی مال نه دې بلکه د دې نه بیت المال مراد دې چه د هغې انتظام د رسول الله ﷺ په لاس مبارک کښې وو په مصالحو کښې د خرچ کولو دپاره. (تحفة)

د دې کلې اختلافاتو د پیژندګلو نه پس اوس تاسو د جمهور علماء کرامو او د احنافو ترمینځه د قسامة په پوره صورت باندې ځان پوهه کړئ، صاحب هدایه فرمائی چه کله یو قتیل په یو محله کښې بیا موندلې شی (چه په هغه کښې د قتل وغیره اثر او نخښه وی) او قاتل معلوم نه وی نو په هغه اهل محله کښې دې د پنځوس کسانو نه قسم واخستلې شی چه د هغې انتخاب به د مقتول ولی کوی هغوی دې داسې قسم اوخوری ﴿بالله ماقتلناه ولا علمنا قاتلا ﴾ چه کله هغوی دا قسم اوخوری نو په هغوی باندې به د دیت فیصله اوکړې شی، او امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د هغوی د قسم خوړلو نه پس به په هغوی باندې دیت واجب نه وی ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلې وو ﴿ تبرئکم یهود بایمانها ﴾ او مونږ وایو چه رسول الله ﷺ د دیت او قسامة ترمینځه جمع فرمائیلې وه لکه چه په حدیث د سهل کښې دی او د رسول الله ﷺ دا ارشاد ﴿ تبرئکم یهود ﴾ محمول دې زمونږ په نزد په ابراء عن القصاص باندې، یعنی د یهود به په قسم خوړلو سره به تاسو د قصاص دمطالبې نه بری کړی نه د دیت نه، او بیا وړاندې صاحب هدایه لیکی چه په دې پنځوسو کښې چه کوم سړې د قسم خوړلو نه انکار اوکړی نو هغه به قید کولې شی تردې چه قسم اوخوری. اهـ

او د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاث په نزد د قسامة صورت دا دې چه اول دې دا اوکتلې شی چه د دواړو دلو ترمینځه لوث شته یا نه؟ د لوث مطلب دا دې چه هلته یو داسې قرینه

مونډلې کیږي کوم چه د مدعین په صدق باندې دلالت کوي چه د هغوی دا خیال صحیح دې چه قاتلان به هم دا خلق وي، مثلا عداوت د هغوی دواړو ترمینځه، پس که لوث نه وي نو بیا خو د دې دعوی او مقدمې حکم هم هغه دې کوم چه د نورو دعوو وي او که مدعی بینة پیش کړي نو د هغه په حق کښې به فیصله کولې شي والا فالقول قول المنکر.... خو که د هغوی ترمینځه دشمنی او لوث وي نو په دې صورت کښې به اول د دم اولیاء یعنی د مدعین نه د پنځوس کسانو نه قسم اخستلې شي، که هغوی قسمونه اوخوری نو دهغوی په حق کښې (۱) به د دیت فیصله اوکړې شي او که هغوی د قسم خوړلو نه انکار اوکړي نو بیا به د مدعی علیهم نه قسمونه اخستلې شي او د قسمونو خوړلو نه پس به هغوی بری شي، متن ابی شجاع کوم چه په فقه شافعي کښې دې په هغې کښې د قسامت په باره کښې صرف دومره دی چه کله د دعوی د دم سره لوث مونډلې شي چه په هغې سره د صدق د مدعی ګمان غالب وي نو مدعی دې پنځوس قسمونه اوخوری په دې باندې به هغه د دیت مستحق شي او که هلته لوث اومونډلې شي چه په هغې کښې د صدق ګمان غالب وي نو مدعی دې پنځوس قسمونه اوخوری او په دې باندې به هغه د دیت مستحق شي او که هلته لوث نه وي نو بیا به یمین په مدعی علیه باندې راځي، او د شرح اقناع ۱۷۲/۲ نه معلومیږي چه د شوافعو په نزد که د مقتول وارث کوم چه مدعی دې هغه یو وي نو ځانله دې هغه پنځوس قسمونه اوخوری او که څو وارثان دی نو دا پنځوس قسمونه به په هغوی باندې تقسیم کړې شي د هغوی د حق وراثت په اعتبار سره، تفصیلات دې خپله د هغوی په کتابونو کښې اوکتلې شي، او امام نووي رحمه الله فرمائي چه په دې کښې د علماء کرامو اختلاف دې چه په قسامة کښې به قسمونه په چا باندې راځي د امام مالک او شافعي او جمهورو په نزد به د مقتول وارثان قسمونه خوري یعنی مدعین، او د هغوی په پنځوس قسمونو خوړلو سره به د هغوی حق ثابت شي، الی آخر ما ذکر من الکلام علی الدلائل..... د تیر عبارت نه دا معلومه شوه چه د قسامة دپاره د ائمه ثلاث په نزد د لوث کیدل ضروري دي صرف په یو محله کښې د مقتول مونډلې کیدل سبب د قسامت د هغوی په نزد نه دې، په خلاف د احنافو چه د هغوی په نزد صرف د قتیل مونډلې کیدل کافي دي او په دې کښې د هغوی په نزد د لوث حاجت نشته. د دې نه علاوه د احنافو او د جمهورو په مذهب کښې دوه اختلافات نور هم ښکاره دی اول دا چه د جمهورو په نزد د قسم شروع د مدعین نه ده په ځائې د بینة او د احنافو په نزد د مدعین سره ۵ بینة نه کیدو په صورت کښې یمین صرف په مدعی علیهم باندې راځي او دویم اختلاف دا چه د مدعی علیهم د قسمونو نه پس د جمهورو په نزد دیت ساقطیږي او د احنافو په نزد واجب وي، اول خبره د جمهورو خلاف قیاس ده او دویمه خبره د احنافو خلاف قیاس ده، خو مقصد د دواړو ډلو اتباع د حدیث ده. شکر الله تعالی مساعیهم.

---

(۱) مطلقا د امام شافعي رحمه الله په نزد علی القول الاصح او د امام مالک او امام احمد رحمهما الله په نزد د قتل خطاء په صورت کښې او د قتل عمد په صورت کښې د قصاص فیصله په دې شرط چه معین سړي باندې دعوی وي)

بحث رابع : يعنې په قسامت سره قصاص ثابتيږي يا نه؟

پس امام مالک او احمد او شافعي رحمهم الله په قديم قول کښې د قصاص بالقسامة قائل دي چه کله دعوی د قتل عمد وي، او احناف او امام شافعي رحمه الله في الجديد وهو الاصح عندهم.... د قسامة د قصاص قائل نه دي صرف د وجوب د ديت قائل دي، کذا قال النووي ٢/٥٥ او ابن رشد فرمائي : وهل يجب بها الدية او الدم او رفع مجرد الدعوى؟ فقال مالک واحمد يستحق بها الدم في العمد والدية في الخطاء، وقال الشافعي والثوري وجماعة تستحق بها الدية فقط، وقال بعض الکوفيين لا يستحق بها الا دفع الدعوى. دوی هم دغه خبره فرمائي چه د امام مالک او د امام احمد په نزد په قسامة سره د قصاص ثبوت راځي د قتل عمد په صورت کښې يعنې که د قتل عمد دعوی وي، او د قتل خطاء په صورت کښې د ديت ثبوت دې، او د امام شافعي او يو جماعت په نزد صرف د ديت ثبوت وي، او دريم قول په دې کښې د بعض کوفيانو دې (غير احناف) چه قسامة يعنې د مدعی عليهم د قسمونو په ذريعه صرف دعوی د مدعی رفع کيږي، په هغې سره نه د قصاص ثبوت راځي او نه د ديت. اهـ

اوس احاديث الباب اوګورئ!

[٤٥٢٠] (1) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، وَرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ: "أَنَّ مُحَيِّصَةَ بْنَ مَسْعُودٍ، وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَهْلٍ انْطَلَقَا قِبَلَ خَيْبَرَ فَتَفَرَّقَا فِي النَّخْلِ، فَقُتِلَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَهْلٍ فَاتَّهَمُوا الْيَهُودَ، فَجَاءَ أَخُوهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَهْلٍ، وَابْنَا عَمِّهِ حُوَيِّصَةُ وَمُحَيِّصَةُ فَأَتَوْا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَتَكَلَّمَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فِي أَمْرِ أَخِيهِ وَهُوَ أَصْغَرُهُمْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْكُبْرَ الْكُبْرَ، أَوْ قَالَ: لِيَبْدَإِ الْأَكْبَرُ، فَتَكَلَّمَا فِي أَمْرِ صَاحِبِهِمَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُقْسِمُ خَمْسُونَ مِنْكُمْ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ فَيُدْفَعُ بِرُمَّتِهِ، قَالُوا: أَمْرٌ لَمْ نَشْهَدْهُ كَيْفَ نَحْلِفُ؟ قَالَ: فَتُبَرِّئُكُمْ يَهُودُ بِأَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْهُمْ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ قَوْمٌ كُفَّارٌ، قَالَ: فَوَدَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قِبَلِهِ، قَالَ سَهْلٌ: دَخَلْتُ مِرْبَدًا لَهُمْ يَوْمًا فَرَكَضَتْنِي نَاقَةٌ مِنْ تِلْكَ الْإِبِلِ رَكْضَةً بِرِجْلِهَا"، قَالَ حَمَّادٌ هَذَا أَوْ نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ وَمَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، قَالَ فِيهِ أَتَحْلِفُونَ خَمْسِينَ يَمِينًا وَتَسْتَحِقُّونَ دَمَ صَاحِبِكُمْ أَوْ قَاتِلِكُمْ، وَلَمْ يَذْكُرْ بِشْرٌ دَمًا، وَقَالَ عَبْدَةُ: عَنْ يَحْيَى، كَمَا قَالَ حَمَّادٌ، وَرَوَاهُ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ يَحْيَى، فَبَدَأَ بِقَوْلِهِ: تُبَرِّئُكُمْ يَهُودُ بِخَمْسِينَ يَمِينًا يَحْلِفُونَ، وَلَمْ يَذْكُرِ الِاسْتِحْقَاقَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا وَهْمٌ مِنَ ابْنِ عُيَيْنَةَ.

د سهل بن ابی خيثمه او رافع بن خديج رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه محيصه بن مسعود او عبدالله بن سهل د خيبر طرف ته روان شول او په نخل مقام کښې جدا شول نو عبدالله بن سهل قتل کړې شو او الزام ئې په يهوديانو ولګولو د عبدالرحمن بن سهل ورور اووده د تره ځامن چه حويصه او محيصه نبي عليه السلام ته راغلل او عبدالرحمن دخپل ورور په باره کښې خبرې وکړې او هغه پدې کښې کشر وو، نبي عليه السلام اوفرمائيل کوم يو مشر کس دې خبرې

(1): صحيح البخاري/الصلح ٧ (٢٧٠٢)، الجزية ١٢ (٣١٧٣)، الأدب ٨٩ (٦١٤٣)، الديات ٢٢ (٦٨٩٨)، الأحكام ٣٨ (٧١٩٢)، صحيح مسلم/القسامة ١ (١٦٦٩)، سنن الترمذي/الديات ٢٣ (١٤٤٢)، سنن النسائي/القسامة ٢ (٤٧١٤)، سنن ابن ماجه/الديات ٢٨ (٢٦٧٧)، (تحفة الأشراف: ٤٦٤٤، ١٥٥٣٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالک/القسامة ١ (١)، مسند احمد (٢/٤، ٣)، سنن الدارمي/الديات ٢ (٢٣٩٨) (صحيح)

وکړي يعنى ده ته ئي په اشارة ووئيل چه مشرخبرو کولوته پريږده ،بيا دوى دواړودخپل سرې په باره کښې خبرې وکړي نبى ﷺ ورته اوفرمائيل په تاسوکښې به پنځوس کسان ددوى دسرې په باره کښې قسم کوي بيابه دي خپل څښتن تاسوته حواله کړي هغوى ووئيل چه مونږ خودقتل کولوپه وخت کښې نه دي ليدې نوڅنګه قسم وکړو؟نبى ﷺ اوفرمائيل بيابه ديهوديانو پنځوس کسان قسم وکړي او ځان به درنه آزاد کړي دوى ووئيل چه اې دالله رسوله يهوديان خوکافران دي راوى وائى چه بيا نبى ﷺ دخپل طرف نه دوى ته ديست ورکړو سهل وائى چه يوه ورځ زه ددوى داوښانو تړلوځائې ته ورغلم اوهلته يو اوښ زه په لته ووهلم ، اوحماد هم دابيان يادي په شان بيان کړې دې. إماما بوداود وائى چه داحديث بشربن مفضل اومالک ديحي بن سعيد نه نقل کړي دي په دې کښې دى چه نبى ﷺ اوفرمائيل ايا تاسوجنځوسو قسمونو کولوته تياريې؟نودخپل قاتلى دويني مستحق بشئ بشر په خپل روايت کښې ددم ذکرندي کړې ، بلکه دبشرنه علاوه نورو راويانوديحي نه دحمادپه شان روايت بيان کړې دې ، ابن عيينه خوديحي نه درسول الله ددې قول نه ابتداء کړې ده چه يهوديان به درته پنځوس قسمونه وکړي اوځان به درنه خلاص کړي اوهغه دوينو داستحقاق خبره نه ده ذکرکړي، امام ابوداؤد وائى چه داد ابن عيينه وهم دې.

قوله: ﴿ عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ وَرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ أَنَّ مُحَيِّصَةَ بْنَ مَسْعُودٍ وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَهْلٍ انْطَلَقَا قِبَلَ خَيْبَرَ فَتَفَرَّقَا فِي النَّخْلِ فَقُتِلَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَهْلٍ الخ ﴾

سهل بن ابى حثمه او رافع بن خديج رضي الله عنهما فرمائى چه محيصه بن مسعود او عبدالله بن سهل دا دواړه د مدينې طيبې نه خيبر ته لاړل، هلته يو باغ ته اورسيدل، هلته د تلو نه پس د يو بل نه جدا شو، بيا چه کوم ځائې کښې جدا شوې وو هلته راتلو سره محيصه خپل ملګرى عبدالله بن سهل لره د ليدلو دپاره واپس راغلو نو او ئي کتل چه هغه د يوې کهجورې د اونې لاندې مړ پروت دې، او ښکاره خبره ده چه هلته د يهودو نه علاوه څوک قاتل کيدې شى لهذا د هغوى په باره کښې شک اوکړې شو پس د مقتول رور عبدالرحمن بن سهل او د هغوى دوه د ترهٔ ځامن حويصه او محيصه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، عبدالرحمن کوم چه د مقتول رور او ولى وو هغوى رسول الله ﷺ سره خبره شروع کړه، خو په عمر کښې دې د ټولو نه وړوکې وو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿ الكبر الكبر ﴾ چه کوم په تاسو کښې مشر دې هغه رامخکښې کړئ، پس د هغه دواړو ملګرو په دې سلسله کښې د رسول الله ﷺ سره خبرې اوکړې، دلته دا سوال واردېږى چه د مقتول ولى او اصل مدعى خو عبدالرحمن دې لهذا دعوى او مطالبه د هغوى د طرف نه کيدل پکار وو په قاعده او ضابطه کښې، د دې جواب دا کړې شوې دې چه د رسول الله ﷺ مراد خو دا نه دې چه دعوى دې د منز د طرف نه وى، دعوى خو به په اصل کښې د ولى د طرف نه وى، بلکه د هغوى مراد دا وو چه واقعه چه کومه پيښه شوې ده د دې صورت حال دې په تاسو کښې مشر بيان کړى، پس رسول الله ﷺ د پوره خبرې اوريدلو نه پس اوفرمائيل : ﴿ يقسم خمسون منكم الخ ﴾ چه په تاسو کښې دې پنځوس کسان قسم اوخورى، دا مضمون په بحث ثالث کښې تير شوې دې،

دا پوره قصه پورته ذکر شوې ده، وړاندې په آخر د قصې کښې دا دي : ﴿ قَالَ سَهْلٌ دَخَلْتُ مِرْبَدًا لَهُمْ يَوْمًا فَرَكَضَتْنِي نَاقَةٌ مِنْ تِلْكَ الإِبِلِ رَكْضَةً بِرِجْلِهَا ﴾ سهل بن ابی حثمه راوی د حديث وائی چه زه يوه ورځ د اوښانو غوژل ته ننوتلم د يو ضرورت په وجه، نو په اوښو کښې چه کومې په ديت کښې ملاؤ شوې وې يوې اوښې ماته ډيره په زور لته راکړه، په ظاهر کښې د دې ذکر کولو نه مقصود دا دې چه ماته دا د قسامة قصه پوره طريقې سره ياده ده، دا يو خبره پاتې شوه نو دا ولې پريږدم.

قوله: ﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ رَوَاهُ بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ وَمَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ فِيهِ « أَتَحْلِفُونَ خَمْسِينَ يَمِينًا ﴾ اول روايت د حمّاد بن زيد وو د يحيى بن سعيد نه، د هغه د روايت الفاظ نور وو او د دوی يعنی بشر او مالک الفاظ دا دی کوم چه ئې دلته ذکر کړی دی، اختلاف الفاظ لره بيانول مقصود دی، دا روايت لکه چه مخکښې تير شو د احنافو خلاف دې ځکه چه د دې نه معلوميږی چه ابتداء د يمين به د مدعين نه کيږی. په دې باندې تفصيلی کلام خو مخکښې تير شو، د دې يو جواب د احنافو د طرف نه دا ورکړې شوې دې چه په دې باره کښې د رواياتو الفاظ مختلف دی په يو کښې دی ﴿ يقسم خمسون منکم ﴾ او په دې روايت کښې دی په استفهام سره ﴿ اتحلفون خمسين يمينا ﴾ حضرت فرمائی چه دا استفهام انکاری دې، او په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه رسول الله ﷺ انصارو ته فرمائی چه ايا ستاسو دا خيال دې چه زه به صرف هم ستاسو نه قسمونه اخستلو سره ستاسو په حق کښې فيصله کوم، د هغه انصارو طرز کلام به داسې وو چه ګويا دا امر يقينی دې چه دا قتل يهودو کړې دې لهذا مونږ په خپله دعوی کښې رشتينی يو، او زمونږ حق دې د هغوی نه واخستلې شی په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه آيا تاسو دا غواړئ چه مونږ صرف ستاسو نه قسمونه اخستلو سره ستاسو په حق کښې فيصله اوکړو په دې باندې هغوی بيدار شو چه نه داسې څنګه کيدې شی چه مونږ بغير د ليدلو نه قسمونه اوخورو. د دې نه پس رسول الله ﷺ کوم چه اصل حکم وو هغه بيان کړو چه هر کله تاسو سره بينة نشته نو بيا به د يهودو په قسمونو باندې فيصله کولې شی، په دې باندې هغه خلق تيار نه شو چه د هغوی قسمونه د اعتبار قابل نه دی، لهذا مقدمه خارج، خو بيا رسول الله ﷺ د انصارو د زړه ساتلو دپاره د خپل طرف نه ديت ادا اوفرمائيلو دا جواب هلته هم راتلل پکار دی چرته چه مونږ په شروع کښې د احنافو دليل بيان کړې وو د دې نه پس مصنف رحمه الله يو بل اختلاف بيانوی :

قوله: ﴿ وَرَوَاهُ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ يَحْيَى فَبَدَأَ بِقَوْلِهِ « تُبَرِّئُكُمْ يَهُودُ بِخَمْسِينَ يَمِينًا يَحْلِفُونَ ». وَلَمْ يَذْكُرِ الاِسْتِحْقَاقَ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَهَذَا وَهَمٌ مِنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ ﴾

د دې نه مخکښې هم مصنف رحمه الله د يحيى بن سعيد د شاګردانو اختلاف په الفاظو د حديث کښې بيان کړې دې کوم چه اوس نزدې تير شو، دلته د يحيى بن سعيد د يو بل شاګرد سفيان بن عيينة اختلاف بيانوی هغه دا چه د دې روايت سياق بالکل بدل دې، د هغوی په روايت کښې د شروع نه د ايمان يهود ذکر دې په ځائې د ايمان مدعين چه د هغې احناف قائل دی خو مصنف رحمه الله دې ته د ابن عيينة وهم وئيلې دې ځکه چه د ابن عيينة نه علاوه

باقي ټولو راويانو حماد بن زيد او بشر بن المفضل او مالک د دې خلاف روايت ذکر کړې دې او په حديث کښې د ايمان مدعين نه د کلام شروع ده، د هغې نه پس مصنف رحمه الله هم دا حديث په تفصيل سره د بشير بن يسار په طريق د ابو ليلى عن سهل بن ابى حثمه ذکر کړې دې چه په هغې کښې بعض الفاظ زائد هم دی پس په هغې کښې دی: ﴿خرجا الى خيبر من جهد اصابهم﴾ چه دا دواړه خيبر ته صرف د سيل دپاره نه وو تلی بلکه د څه ضرورت او مجبورئ د وجې نه تلی وو مثلا فقر، او په دې کښې دی ﴿قد قتل وطرح فى فقير او عين﴾ چه عبدالله بن سهل د قتل کولو نه پس په يوه کنده يا د اوبو نه ګير چاپيره چه د اوبو د اودرولو دپاره کوم حوض شان جوړولې شی په هغې کښې واچولې شو د راوی شک دې، او په دې کښې دا هم دی چه دا صحابى محيصه يهودو ته لاړو او هغوی ته ئې اووې ﴿انتم والله قتلتموه، قالوا والله ماقتلناه﴾ او دا هم پکښې دی ﴿فذهب محيصة ليتكلم﴾ چه د دې مقتول صحابى سره چه کوم صحابى په خيبر کښې وو يعنى محيصه هغه د رسول الله ﷺ سره په دې باره کښې خبرې شروع کړې، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿كبر كبر﴾ يعنى د مشر تعظيم کوه دا رسول الله ﷺ دوه کرته اوفرمائيل مطلب دا چه په کلام کولو کښې مشر مخکښې کړه، بيا په دې باندې د هغه مشر رور حويصه خبره شروع کړه خو د هغې نه په مخکښې روايت کښې دا تير شوی دی چه ابتداء د کلام عبدالرحمن بن سهل اوکړه، ولم يتعرض له فى البذل ولا فى عون المعبود، کيدې شی چه د عبدالرحمن نه پس محيصه خبره شروع کړې وی او هغه ته هم رسول الله ﷺ داسې فرمائيلې وی، او محيصه د عبدالرحمن نه پس په دې وجه رامخکښې شوې وی چه د اصل واقعې په وخت هم هغه موجود وو. والله تعالى اعلم ،،،،،، والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[٤٥٢١] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مَالِكٌ، عَنْ أَبِي لَيْلَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَهْلٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ، هُوَ وَرِجَالٌ مِنْ كُبَرَاءِ قَوْمِهِ: "أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَهْلٍ، وَمُحَيِّصَةَ خَرَجَا إِلَى خَيْبَرَ مِنْ جَهْدٍ أَصَابَهُمْ، فَأُتِيَ مُحَيِّصَةُ فَأُخْبِرَ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَهْلٍ قَدْ قُتِلَ وَطُرِحَ فِي فَقِيرٍ أَوْ عَيْنٍ، فَأَتَى يَهُودَ، فَقَالَ: أَنْتُمْ وَاللَّهِ قَتَلْتُمُوهُ، قَالُوا: وَاللَّهِ مَا قَتَلْنَاهُ، فَأَقْبَلَ حَتَّى قَدِمَ عَلَى قَوْمِهِ فَذَكَرَ لَهُمْ ذَلِكَ، ثُمَّ أَقْبَلَ هُوَ وَأَخُوهُ حُوَيِّصَةُ وَهُوَ أَكْبَرُ مِنْهُ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَهْلٍ، فَذَهَبَ مُحَيِّصَةُ لِيَتَكَلَّمَ وَهُوَ الَّذِي كَانَ بِخَيْبَرَ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَبِّرْ كَبِّرْ، يُرِيدُ السِّنَّ، فَتَكَلَّمَ حُوَيِّصَةُ ثُمَّ تَكَلَّمَ مُحَيِّصَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِمَّا أَنْ يَدُوا صَاحِبَكُمْ وَإِمَّا أَنْ يُؤْذَنُوا بِحَرْبٍ، فَكَتَبَ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ، فَكَتَبُوا إِنَّا وَاللَّهِ مَا قَتَلْنَاهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحُوَيِّصَةَ وَمُحَيِّصَةَ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ: أَتَحْلِفُونَ وَتَسْتَحِقُّونَ دَمَ صَاحِبِكُمْ؟ قَالُوا: لَا، قَالَ: فَتَحْلِفُ لَكُمْ يَهُودُ، قَالُوا: لَيْسُوا مُسْلِمِينَ، فَوَدَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ، فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مِائَةَ نَاقَةٍ حَتَّى أُدْخِلَتْ عَلَيْهِمُ الدَّارَ، قَالَ سَهْلٌ: لَقَدْ رَكَضَتْنِي مِنْهَا نَاقَةٌ حَمْرَاءُ".

دسهل بن ابى جثمة رضي الله عنه اودده په قوم کښې ديوڅو مشرانو نه روايت دې فرمائی چه عبدالله بن سهل او محيصه دڅه پريشانئ په وجه باندې دخيبر طرف ته روان شول محيصه

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٥٥٣٦، ٤٦٤٤، ١٥٥٩٢) (صحيح)

واپس راغي اوخلقو ته ئې اووئيل عبدالله بن سهل قتل کړې شوې دې او هغه ديوې کندې ياچينې خواته غورځولې شوې دې اوهغه بيا يهوديانو ته ورغی او ورته ئې اووئيل په الله قسم هم تاسو دې وژلې دې هغوی اووئيل په الله قسم چه مونږ نه دې وژلې نودې راروان شوتردې چه خپل قوم ته راورسيدو او ټوله واقعه ئې ورته بيان کړه بيا دې پخپله اودده بل ورور حويصه کوم چه دده نه مشر وو اوعبدالرحمن بن سهل لاړل محيصه ورغی چه خبرې وکړي اودا ددوی هغه ورور وو کوم چه په خيبر کښې اوسيدو رسول الله له ورته اووئيل چه مشر خبر کولوته پريږده نوحويصه هم خبرې وکړې اومحيصه هم وکړې نبی ﷺ ورته اوفرمائيل دغه يهوديان دې ديت اداکړي يا دې جنګ ته تيار شي بيانبی ﷺ په دې سلسله کښې خط اوليکلو دوی دخط په جواب کښې دا اوليکل چه په الله قسم مونږ دې نه دې وژلې ، بيانبی ﷺ حويصه اومحيصه اوعبدالرحمن ته اووئيل ايا تاسوبه قسم وکړئ چه دخپل ورور دويني قصاص وکښئ هغوی عرض اوکړو چه نه ، بيانبی ﷺ اوفرمائيل يهوديان به تاسوته قسم اوکړي هغوی اووئيل يهوديان خومسلمانان نه دي بيانبی ﷺ دخپل طرف نه سل اوښان د ديت په طور باندې دوی ته ورکړل تردې چه دغه اوښان دوی ته ددوی کورونو ته ورسيدل سهل وئيلی دی په دغه اوښانو کښې يوې سرې اوښې زه په لته وهلی وم.

[٤٥٢٢]([1]) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، وَكَثِيرُ بْنُ عُبَيْدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا. ح حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ بْنِ سُفْيَانَ، أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ، عَنْ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهُ قَتَلَ بِالْقَسَامَةِ رَجُلًا مِنْ بَنِي نَصْرِ بْنِ مَالِكٍ بِبَحْرَةِ الرُّغَاءِ عَلَى شَطِّ لِيَّةِ الْبَحْرَةِ، قَالَ: الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ مِنْهُمْ"، وَهَذَا لَفْظُ مَحْمُودٍ بِبَحْرَةٍ، أَقَامَهُ مَحْمُودٌ وَحْدَهُ عَلَى شَطِّ لِيَّةٍ.

عمرو بن شعيب دنبی ﷺ نه روايت کوی فرمائی چه نبی ﷺ په قسامت کښې يو کس په بحرة الرغاء مقام کښې دسمندر په غاړه قتل کړو دچاچه دقبيله بن نضر بن مالک سره تعلق وو، راوی وائی چه د قاتل اودمقتول دواړو تعلق ددې قبيلې سره وو اودا د محمود بن خالد د روايت الفاظ دي، د ببحرة لفظ صرف محمودوئيلې دې دلية البحر په غاړه باندې.

﴿عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عن ابيه عن جده عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَتَلَ بِالْقَسَامَةِ رَجُلاً مِنْ بَنِى نَصْرِ بْنِ مَالِكٍ بِبَحْرَةِ الرُّغَاءِ عَلَى شَطِّ لِيَّةِ الْبَحْرَةِ﴾

يعنی رسول اللهﷺ د قسامت په ذريعه يو سړې چه د قبيله نضر بن مالک نه وو په مقام بحرة الرغا کښې کوم چه د لية البحر طرف ته واقع دې قتل کړو، قاتل او مقتول دواړه د يوې قبيلې نه وو بحرة الرغاء د طائف په طرفونو کښې ليه ته نزدې د يو ځائې نوم دې، په بذل کښې د محمد بن اسحاق نه نقل کړې شوې دی چه رسول اللهﷺ د غزوه حنين نه په واپس کيدو باندې د طائف اراده فرمائيله نو هلته په لاره کښې ئې په بحر الرغاء کښې د يو سړي قصاص واخستلو.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩١٧٣) (ضعيف)

﴿ وهذا لفظ محمود ﴾ د مصنف رحمه الله په دې حديث کښې دير استاذان دی د محمد نه علاوه خو مصنف رحمه الله فرمائی چه ﴿ على لية البحر ﴾ دا د محمود لفظ دې او نورو استاذانو لفظ د بحره نه دې ذکر کړې بلکه صرف ﴿ على شط ليه ﴾ ئې ذکر کړې دې.

په دې حديث کښې د قصاص بالقسامة ثبوت دې د کوم چه امام مالک او امام احمد دواړه قائل دی، د احنافو او د شوافعو د طرف نه دا جواب کيدې ی چه د دې واقعې تفصيل زمونږ په علم کښې نشته، کيدې شی چه دلته د قتل ظهور د بينة يا د قسامة نه پس د قاتل د اقرار نه پس شوې وی، کذافي البذل.

بَابٌ فِي تَرْكِ الْقَوَدِ بِالْقَسَامَةِ

باب: په قسامت کښې د قصاص پريخودلو بيان

دا ترجمة الباب صرف د احنافو او د امام شافعی رحمه الله د اصح قول مطابق دې څنګه چه په دې مسئلې کښې اختلاف اول بيان کړې شو.

[٤٥٢٣](١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ الصَّبَّاحِ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُبَيْدٍ الطَّائِيُّ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ، زَعَمَ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ سَهْلُ بْنُ أَبِي حَثْمَةَ أَخْبَرَهُ: أَنَّ نَفَرًا مِنْ قَوْمِهِ انْطَلَقُوا إِلَى خَيْبَرَ فَتَفَرَّقُوا فِيهَا، فَوَجَدُوا أَحَدَهُمْ قَتِيلًا، فَقَالُوا لِلَّذِينَ وَجَدُوهُ عِنْدَهُمْ: قَتَلْتُمْ صَاحِبَنَا، فَقَالُوا: مَا قَتَلْنَاهُ وَلَا عَلِمْنَا قَاتِلًا، فَانْطَلَقْنَا إِلَى نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَقَالَ لَهُمْ: "تَأْتُونِي بِالْبَيِّنَةِ عَلَى مَنْ قَتَلَ هَذَا"، قَالُوا: مَا لَنَا بَيِّنَةٌ، قَالَ: فَيَحْلِفُونَ لَكُمْ، قَالُوا: لَا نَرْضَى بِأَيْمَانِ الْيَهُودِ، فَكَرِهَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُبْطِلَ دَمَهُ، فَوَدَاهُ مِائَةً مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ".

د بشير بن يسار رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه په انصارو کښې يو کس دچاچه سهل بن ابی حصمه نوم وو وئيلی دی چه دده دقوم څه کسان خيبر ته لاړل هلته چه ورسيدل نوجدا جدا شول اوبياهلته په دوی کښې يو کس قتل کړې شو په کوم ځای کښې چه هغه مړ موندلې شوې وو نودهغه ځائې خلقونه دوی اووئيل چه دې تاسو قتل کړې دې هغوی اووئيل مونږ نه دې قتل کړې اونه مونږ دده د قاتل نه خبر يو، ددينه پس ټول خلق په دربار نبوي کښې حاضر شول ، راوی وائی چه نبی عليه السلام اوفرمائيل تاسوګواه پيشکړئ په هغه کس باندې چاچه دې وژلې دې دوی اووئيل زمونږ سره خوګواه موجود نه دې ، نبی عليه السلام اوفرمائيل بيابه هغوی تاسو ته قسمونه اوکړي دوی په جواب کښې لووئيل چه مونږ ديهوديانوپه قسم باندې نه راضی کيږو نبی عليه السلام دابده ګڼړله چه ددغه کس وينه ضايع شي نود زکاة دمال نه ئې سل اوښان دده په ديت کښې ورکړل.

قوله: ﴿ سَعِيدُ بْنُ عُبَيْدٍ الطَّائِيُّ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ زَعَمَ أَنَّ رَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ سَهْلُ بْنُ أَبِى حَثْمَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ نَفَرًا مِنْ قَوْمِهِ انْطَلَقُوا إِلَى خَيْبَرَ فَتَفَرَّقُوا فِيهَا الخ ﴾

د دې روايت په آخر کښې دی : ﴿ فَقَالَ لَهُمْ « تَأْتُونِى بِالْبَيِّنَةِ عَلَى مَنْ قَتَلَ هَذَا ». قَالُوا مَا لَنَا بَيِّنَةٌ. قَالَ « فَيَحْلِفُونَ لَكُمْ ». قَالُوا لاَ نَرْضَى بِأَيْمَانِ الْيَهُودِ. فَكَرِهَ نَبِىُّ اللَّهِ -صلى الله عليه

(١): انظر حديث رقم (٤٥٢٠)، (تحفة الأشراف: ٤٦٤٤، ١٥٥٣٦، ١٥٥٩٢) (صحيح)

وسلم- أَنْ يُبْطِلَ دَمَهُ فَوَدَاهُ مِائَةً مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ ﴾

د دې باب په روايت باندې کلام د اول باب د لاندې تير شوې دې، امام بخاري رحمه الله هم د سهل بن ابی حثمه دې حديث لره هم په دې الفاظو سره هم په دې طريق سره ذکر فرمائيلې دې او دا د احنافو د مسلک عين مطابق دې، جمهور چه د دې روايت کوم جواب ورکوی هغه په اول باب کښې تير شو.

[٤٥٢٤] (¹) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ رَاشِدٍ، أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ أَبِي حَيَّانَ التَّيْمِيِّ، حَدَّثَنَا عَبَايَةُ بْنُ رِفَاعَةَ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: أَصْبَحَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مَقْتُولًا بِخَيْبَرَ، فَانْطَلَقَ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: "لَكُمْ شَاهِدَانِ يَشْهَدَانِ عَلَى قَتْلِ صَاحِبِكُمْ؟ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَمْ يَكُنْ ثَمَّ أَحَدٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَإِنَّمَا هُمْ يَهُودُ وَقَدْ يَجْتَرِئُونَ عَلَى أَعْظَمَ مِنْ هَذَا، قَالَ: فَاخْتَارُوا مِنْهُمْ خَمْسِينَ فَاسْتَحْلِفُوهُمْ، فَأَبَوْا، فَوَدَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ".

د رافع بن خديج رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه په انصارو کښې يوکس په خيبر کښې قتل کړې شو او وارثان ئې په درباري نبوي کښې حاضر شول او ټوله واقعه ئې بيان کړه نبی عليه السلام دوی ته اوفرمائيل ايا ستاسو سره دوه داسې ګواهان موجود شته څوک چه ستاسو ددې کس په وژلوباندې ګواهی ورکړي؟ هغوی عرض اوکړو اې دالله رسوله هلته خوپه مسلمانانو کښې هيڅوک موجود نه وو اوهلته خو ټول يهوديان وو اوهغوی خوددې کار نه په لوئو کارونوباندې جرات کوي نبی عليه السلام اوفرمائيل تاسو په دوی کښې پنځوس کسان خوښ کړئ او قسم ورته ورکړئ مګر دوی انکار اوکړو بيانبی عليه السلام دده ديت دخپل طرف نه ورکړو.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي حَيَّانَ التَّيْمِيِّ حَدَّثَنَا عَبَايَةُ بْنُ رِفَاعَةَ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ أَصْبَحَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مَقْتُولاً بِخَيْبَرَ فَانْطَلَقَ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَذَكَرُوا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ « لَكُمْ شَاهِدَانِ يَشْهَدَانِ عَلَى قَتْلِ صَاحِبِكُمْ »...الخ﴾

په اول باب کښې د سهل بن ابی حثمه او د رافع بن خديج دواړو حديث په يو طريق او يو مضمون سره تير شوې دې او په دې باب کښې د دواړو احاديثو سند مختلف دې خو مضمون متحد، په دواړو کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مدعين نه د بينة مطالبه فرمائيلې ده په پورته حديث کښې ﴿ من ابل الصدقة ﴾ وو او په دې دويم حديث کښې ﴿ من عنده ﴾ دې د دې اختلاف توجيه په اول باب کښې تيره شوې ده.

[٤٥٢٥] (²) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ بُجَيْدٍ، قَالَ: إِنَّ سَهْلًا وَاللَّهِ أَوْهَمَ الْحَدِيثَ، "إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى يَهُودَ أَنَّهُ قَدْ وُجِدَ بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ قَتِيلٌ فَدُوهُ، فَكَتَبُوا يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ خَمْسِينَ يَمِينًا مَا قَتَلْنَاهُ وَلَا عَلِمْنَا قَاتِلًا، قَالَ: فَوَدَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ مِائَةَ نَاقَةٍ".

د عبدالرحمن بن بجيد رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه سهل په دې حديث کښې وهم کړې دې اصل خبره داده چه نبی عليه السلام يهوديانوته اوليکل چه په تاسو کښې يومړې موندلې شوې دې

---

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٥٦٤) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (٤٥٢٠)، (تحفة الأشراف: ٩٦٨٦) (منكر)

اوس به تاسو ددې مړي ديت ورکوئ ، دوی په جواب کښې اووئيل چه مونږ به پنځوس قسمونه اوکړو او اوبه وايو چه مونږ دې نه دې قتل کړې اونه مونږ دده قاتل پيژنو بيانبی عليه السلام دده ديت دخپل طرف نه ادا کړو په يوروايت کښې دی چه سل اوښان ئې ورکړل.

قوله: ﴿ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ بُجَيْدٍ قَالَ إِنَّ سَهْلاً وَاللَّهِ أَوْهَمَ الْحَدِيثَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَتَبَ إِلَى يَهُودَ « أَنَّهُ قَدْ وُجِدَ بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ قَتِيلٌ فَدُوهُ ». فَكَتَبُوا ......الخ ﴾

د باب اول حديث کوم چه د جمهورو مستدل دې د هغې وهم کيدل :

عبدالرحمن بن بجيد فرمائی چه والله بالتحقيق سهل بن ابی حثمه ته د حديث القسامة په بيان کښ وهم پيدا شوې دې (خنګه چه هغوی بيان کړو يعنی شروع د قسم د مدعين نه داسې نه ده بلکه داسې ده) چه رسول الله ﷺ د (قتل د قصې د پيښيدو او د انصارو د دعوې قائميدلو نه پس) د خيبر يهودو ته اوليکل چه په تاسو کښ يو مقتول موندلې شوې دې لهٰذا د هغه ديت ادا کړئ، هغوی د دې په جواب کښ په پنځوس قسمونو سره دا مضمون راوليږلو ﴿ ما قتلناه وما علمنا قاتلا الخ ﴾ عبدالرحمن بن بجيد د اول باب حديث لره د کوم نه چه جمهور استدلال کوی وهم منی، د عبدالرحمن بن بجيد د قول نقل کونکو په سند کښ محمد بن ابراهيم دې، حافظ په اصابه کښ د محمد بن ابراهيم قول نقل کړې دې چه هغوی فرمائی ﴿ وما کان سهل بن ابی حثمة باکثر منه علما ولکنه کان اسن منه ﴾ اهـ چه سهل بن ابی حثمة زمونږ داستاد عبدالرحمن بن بجيد نه په علم کښ زيات نه وو خو دا ضرور وه چه هغه ترې نه په عمر کښ مشر وو، د عبدالرحمن په باره کښ په عون المعبود کښ د اصابه وغيره کتب رجال نه د هغوی د صحبت په باره کښ اختلاف نقل کړې شوې دې، بعض حضراتو د هغوی دپاره صحبت ثابت کړې دې او بعضو د تردد اظهار کړې دې، او ابن عبدالبر فرمائی : ﴿ ادرک النبی ﷺ ولم يسمع منه ما احسبه وفی صحبته نظر الا انه روی فمنهم من يقول ان حديثه مرسل وکان يذکر بالعلم ﴾ او حافظ منذری رحمه الله د امام شافعی رحمه الله جواب نقل کړو چه کله يو سائل د هغه نه تپوس اوکړو چه تاسو د ابن بجيد احاديث ولې نه اختياروئ نو هغوی جواب ورکړو چه د هغې حاصل دا دې چه د ابن بجيد په سماع کښ زمونږ تردد دې، که سماع ثابته نه وی نو د هغه حديث مرسل شو په خلاف د سهل بن ابی حثمه چه د هغوی صحبت او سماع دواړه معلوم دی. د دې نه پس مصنف رحمه الله په دې باب کښ يو بل حديث ذکر کړو.

[٤٥٢٦](١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَسُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ رِجَالٍ مِنَ الأَنْصَارِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْيَهُودِ وَبَدَأَ بِهِمْ: يَحْلِفُ مِنْكُمْ خَمْسُونَ رَجُلًا، فَأَبَوْا، فَقَالَ لِلأَنْصَارِ: اسْتَحِقُّوا، قَالُوا: نَحْلِفُ عَلَى الْغَيْبِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَجَعَلَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِيَةً عَلَى يَهُودَ لِأَنَّهُ وُجِدَ بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ".

عبدالرحمن اوسليمان بن يسار دانصاری حضراتونه روايت کوی فرمائی چه نبی عليه السلام اول يهوديانوته اووئيل چه په تاسوکښې به پنځوس کسان قسمونه کوي هغوی انکار وکړو

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٨٨، ١٥٦٩١) (شاذ)

بیانبی ﷺ انصاروته اوفرمائیل تاسو خپل حق ثابت کړئ دوی په جواب کښې اووئیل اې دالله رسوله ایا مونږ دغیبو په خبره باندې قسمونه وکړو، بیانبی ﷺ دیهودیانودطرف نه دوی ته دیت ادا کړو ځکه چه مرې دهغوی خواته موندلې شوې وو.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِى سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَسُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ رِجَالٍ مِنَ الأَنْصَارِ أَنَّ النَّبِىَّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ لِلْيَهُودِ وَبَدَأَ بِهِمْ « يَحْلِفُ مِنْكُمْ خَمْسُونَ رَجُلاً » الحديث ﴾

پس معلومه شوه چه د دې باب ثانی په ټولو روایاتو کښې شروع د ایمان د یهودو نه ده.

باب يُقَادُ مِنَ الْقَاتِلِ

باب: آیا قاتل چه څوک په کومه طریقه اوپه کومو څیزونو قتل کړې وی نودې به هم په داسې طریقه قتل کولې شی؟

او په یو نسخه کښې دی ﴿ ایقاد من القاتل بحجر او بمثل ما قتل ﴾ یقاد د قود نه اخستلې شوې دې په معنی د قصاص د دې دویمې نسخې نه معلومه شوه چه د مصنف رحمه الله غرض په دې باب سره قصاص بالمثل لره بیانول دی یعنی څنګه او په کومه آله چه قاتل قتل کړې دې په قصاص کښې قاتل هم هغه شان قتل کول چه د هغې جمهور قائل دی، په خلاف د احنافو چه د هغوی مسلک دا دې چه ﴿ لا قود الا بالسیف ﴾ دا د یو حدیث مرفوع الفاظ دی کوم چه امام طحاوی رحمه الله روایت کړې دې په خپل سند سره د نعمان بن بشیر رضی الله عنهما نه واخرجه ابوداؤد والطیالسی ولفظه : لا قود الا بحدیدة... كذا في البذل.

[٤٥٢٧] ([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ: "أَنَّ جَارِيَةً وُجِدَتْ قَدْ رُضَّ رَأْسُهَا بَيْنَ حَجَرَيْنِ، فَقِيلَ لَهَا: مَنْ فَعَلَ بِكِ هَذَا؟ أَفُلَانٌ أَفُلَانٌ حَتَّى سُمِّيَ الْيَهُودِيُّ فَأَوْمَتْ بِرَأْسِهَا، فَأُخِذَ الْيَهُودِيُّ فَاعْتَرَفَ، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَضَّ رَأْسُهُ بِالْحِجَارَةِ".

د انس بن مالک رضی الله عنه نه مروی دی چه یوه جینئ داسې اوموندې شوه چه دهغې سر ددوه ګټو په مینځ کښې چقولې شوې وو نودهغې نه معلومه کړې شوه چه ستا سره داسې چاکړې دې؟ ایافلانی فلانی کس تردې پورې چه دیو یهودي نوم ئې هم واغستو نوهغې په خپل سر باندې په اشارې کولوسره اووئیل، بیا دا یهودي اونیولې شو او اقرارئې وکړو اونبی ﷺ ددې یهودي دسر چقولو حکم اوکړو.

قوله: ﴿ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ جَارِيَةً وُجِدَتْ قَدْ رُضَّ رَأْسُهَا بَيْنَ حَجَرَيْنِ فَقِيلَ لَهَا مَنْ فَعَلَ بِكِ هَذَا أَفُلاَنٌ أَفُلاَنٌ حَتَّى سُمِّىَ الْيَهُودِىُّ فَأَوْمَتْ بِرَأْسِهَا فَأُخِذَ الْيَهُودِىُّ فَاعْتَرَفَ فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– أَنْ يُرَضَّ رَأْسُهُ بِالْحِجَارَةِ ﴾

مضمون الحديث :

سیدنا انس رضی الله عنه فرمائی چه یو جینئ په لاره کښې داسې اوموندلې شوه چه د هغې سر د دوه

---

[1]): صحيح البخاري/الوصايا ٥ (٢٧٤٦)، والطلاق ٢٤ (تعليقاً)، الديات ٤ (٦٨٧٦)، ٥ (٦٨٧٧)، ١٢ (٦٨٨٤)، صحيح مسلم/القسامة ٣ (١٦٧٢)، سنن الترمذي/الديات ٦ (١٣٩٤)، سنن النسائي/المحاربة ٧ (٤٠٤٩)، القسامة ٨ (٤٧٤٦)، سنن ابن ماجه/الديات ٢٤ (٢٦٦٥)، (تحفة الأشراف: ١٣٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/١٦٣، ١٨٣، ٢٠٣، ٢٦٧)، سنن الدارمي/الديات ٤ (٢٤٠٠) (صحيح)

کانړو ترمینځه میده کړې شوې وو، خو لا يکښې لږه سا باقي وه، رسول الله ﷺ ته د دې خبر ورکړې شو، رسول الله ﷺ هغې ته تشریف راوړلو او د څو خلقو نومونه ئې بیل بیل واخستل چه آیا فلانی ته قتل کړې ئې هغې د طاقت د نه کیدو په وجه باندې د سر په اشارې سره انکار کولو، تر دې چه رسول الله ﷺ د هغې مخې ته د یهودی نوم واخستلو نو د هغه په نوم باندې هغې اشاره اوکړه په او سره. د باب په يو حدیث کښې دی، ﴿ کان علیها اوضاح ﴾ د وضح جمع ده د سپینو زرو کالی ته وائی یعنی چا چه د چاندئ کالی اچولې وو، او دې یهودی دې جینئ لره د دې کالو په لالچ کښې وژلې وه، رسول الله ﷺ د دې یهودی په باره کښې هم دا فیصله اوفرمائیله چه هغه دې هم دغه شان قتل کړې شی څنګه چه هغه دا جینئ قتل کړې ده. ﴿ فقتل بین حجرین ﴾

دې حدیث کښې دوه مسئلې :

د دې حدیث نه د قصاص بالمثل ثبوت ملاؤ شو لکه چه د ائمه ثلاث مسلک دې، لهذا دا حدیث د احنافو خلاف شو په دې لحاظ سره، او په يو بل لحاظ سره دا حدیث د امام ابوحنیفه رحمه الله خلاف دې نه د صاحبین، لکه چه د علامه انور شاه صاحب په تقریر د ترمذی عرف الشذی کښې دی هغه دا چه کوم قتل په مثقل کبیر سره وی هغه د امام صاحب په نز دپه شبه عمد کښې داخل دې او د ائمه ثلاث او صاحبینو په نزد په قتل عمد کښې داخل دې. پس د ائمه ثلاث او صاحبینو په نزد خو دا قتل قتل عمد دې چه په هغې کښې قصاص دې، او د امام صاحب په نزد دا قتل شبه عمد وو چه په هغې کښې دیت دې نه قصاص حال دا چه دلته قصاص واخستلې شو، د دې دواړو خبرو جواب د احنافو د طرف نه دا ورکړې شوې دې چه د دې یهودی سره چه کومه معامله اوکړې شوه هغه تعزیرا او سیاسة ده، او د قتل شبه عمد والا اشکال جواب دا هم ورکړې شوې دې چه دې قاتل یهودی قطع طریق هم کړې وو لهذا په قطاع الطریق کښې شو، او په قطع طریق کښې د قتل سزا چه هغه هر څنګه وی قتل ده.

يو دریمه مسئله :

د دې حدیث د بعض طرقو نه چونکه دا معلومیږی چه د دې یهودی د قتل صرف د جینئ په اقرار قتل باندې کړې شوې دې په دې وجه بعض مالکیانو د دې نه په دې استدلال کړې دې چه د قتل دثبوت دپاره صرف د مقتول اقرار کافی دې خو دا استدلال په لا علمئ باندې بنا دې ځکه چه د دې حدیث په بعض طرقو کښې تصریح ده د دې خبرې چه دې یهودی د قتل اقرار کړې وو، کذا فی تقریر شیخ الهند رحمه الله تعالی علی جامع الترمذی، او په بذل المجهود کښې دا دریمه مسئله او په دې کښې د مالکیانو اختلاف د هغې ذکر نه دې کړې شوې خو دا ده چه : ادعی بعض المالکیة ان زیادة قتادة هذه (د دې زیادت نه مراد اقرار د یهودی دې کوم چه د قتاده په روایت کښې ذکر شوی دی) غیر مقبولة قال الحافظ، ولا یخفی فساد هذه الدعوی فقتادة حافظ، زیادته مقبولة الخ.

[٤٥٢٨] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ: "أَنَّ يَهُودِيًّا قَتَلَ جَارِيَةً مِنَ الْأَنْصَارِ عَلَى حُلِيٍّ لَهَا ثُمَّ أَلْقَاهَا فِي قَلِيبٍ وَرَضَخَ رَأْسَهَا بِالْحِجَارَةِ، فَأُخِذَ فَأُتِيَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَ بِهِ أَنْ يُرْجَمَ حَتَّى يَمُوتَ، فَرُجِمَ حَتَّى مَاتَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ أَيُّوبَ نَحْوَهُ.

د انس بن مالک رضي الله عنه نه مروي دي چه يو يهودي په انصاروکښې يوه جينئ دهغې نه دهغې دزيوراتو داخستلو دپاره مړه کړه اووبيا ئې په يوکوهي کښې وغورځوله اوددې سرېې په کاڼړو باندې وچقولو بيا دغه کس اونيولې شو او نبي عليه السلام ته پيش کړې شو نبي عليه السلام دده درجسم کولوحکم اوکړو تردې چه مړ شي، نو دې سنګسار کړې شو تردې چه مړ شو، امام ابوداؤدفرمائی دا روايت ابن جريج دايوب نه دمخکښې روايت په شان بيان کړې دې.

حديث الباب الاول اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه، والحديث الثاني اخرجه مسلم والنسائي، والحديث الثالث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

تنبيه: د باب دويم حديث دې ﴿قال ابوداؤد: رواه ابن جريج عن ايوب نحوه﴾ پورته په سند کښې داسې راغلی دی: عبدالرزاق عن معمر عن ايوب، د دې قال ابوداؤد نه دا په فهم کښې راځي چه ابن جريج براه راست د ايوب نه رويت کوی خنګه چه پورته په سند کښې معمر د ايوب نه روايت کوی، د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې په دې باندې دا نقد کړې شوې دې چه د ابن جريج روايت په طحاوي او دارقطني کښې هم دې او هلته په سند کښې داسې دی: ابن جريج عن معمر عن ايوب، او هم دغه شان په صحيح مسلم کښې په روايت د محمد بن بکر عن ابن جريج، فالظاهر سقوط لفظ معمر من رواية ابي داؤد اهـ لهذا ابن جريج د عبدالرزاق عديل دې نه د معمر کما يتوهم من هذه العبارة.

[٤٥٢٩] (²) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ جَدِّهِ أَنَسٍ: "أَنَّ جَارِيَةً كَانَ عَلَيْهَا أَوْضَاحٌ لَهَا فَرَضَخَ رَأْسَهَا يَهُودِيٌّ بِحَجَرٍ، فَدَخَلَ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِهَا رَمَقٌ، فَقَالَ لَهَا: مَنْ قَتَلَكِ؟ فُلَانٌ قَتَلَكِ؟ فَقَالَتْ: لَا بِرَأْسِهَا، قَالَ: مَنْ قَتَلَكِ؟ فُلَانٌ قَتَلَكِ؟ قَالَتْ: لَا بِرَأْسِهَا، قَالَ: فُلَانٌ قَتَلَكِ؟ قَالَتْ: نَعَمْ بِرَأْسِهَا، فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُتِلَ بَيْنَ حَجَرَيْنِ".

دانس بن مالک رضي الله عنه نه مروي دي چه په انصارو کښې. يوې جينئ دسرو زرو کالي اغوستلي وو دا جينئ يو يهودي اونيوله او په کاڼروئي ددې سر اوچقولو بيانبي عليه السلام ددې جينئ خواته لاړو اوددې دژوند يوڅو لحې باقي وې نبي عليه السلام ورنه تپوس اوکړو ته چا وژلې يې ايافلاني وژلې يې هغې پخپل سر باندې په اشاري سره اووئيل چه نه. بيا ورنه نبي عليه السلام تپوس اوکړو ته چا وژلې يې، ته چا وژلې يې، اودې جينئ به پخپل سر باندې په اشاري سره انکار کولو بيا ئې ورته په دريم ځل اووئيل ايا فلانی کس ته وژلې يې دې پخپل سرسره اشاره وکړه چه هو، بيانبي عليه السلام ددې جينئ دقاتل په باره کښې حکم اوکړو اوهغه ددوه ګټو په مينځ کښې اوچقولې شو.

¹): صحيح مسلم/ الحدود ٣ (١٦٧٢)، سنن النسائي/ المحاربة ٧ (٤٠٤٩)، (تحفة الأشراف: ٩٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٣/٣) (صحيح)

²): انظر حديث رقم: (٤٥٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٣١) (صحيح)

بَابُ أَيُقَادُ الْمُسْلِمُ بِالْكَافِرِ

بابـ آیا مسلمان به د کافر په بدل کښې قصاص کولې شی؟

[۴۵۳۰] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ، قَالَ: انْطَلَقْتُ أَنَا وَالْأَشْتَرُ إِلَى عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَامِ، فَقُلْنَا: هَلْ عَهِدَ إِلَيْكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا لَمْ يَعْهَدْهُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً؟ قَالَ: لَا، إِلَّا مَا فِي كِتَابِي هَذَا، قَالَ مُسَدَّدٌ: قَالَ: فَأَخْرَجَ كِتَابًا، وَقَالَ أَحْمَدُ: كِتَابًا مِنْ قِرَابِ سَيْفِهِ، فَإِذَا فِيهِ: "الْمُؤْمِنُونَ تَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ أَلَا لَا يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ وَلَا ذُو عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ، مَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا فَعَلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ"، قَالَ مُسَدَّدٌ: عَنِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، فَأَخْرَجَ كِتَابًا.

دقیس بن عباد رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه او اشتر دواړه علی بن ابی طالب رضی الله عنه ته لاړو اوهغه ته مو اووئیل ایا نبی علیه السلام ستا په حق کښې تاته کوم خاص حکم فرمائیلې وو کوم چه هغه دنورو خلقو په حق کښې نه وو فرمائیلې؟ هغه اووئیل نه مګرهغه کوم چه زماپه دې کتاب کښې دی او یو کتاب ئې راوویستلو احمدوئیلی دی چه دخپلې تورې دغلاف نه ئې راوویستلو او په هغه کښې دا لیکلې شوي وو دمومنانو وینې په خپل مینځ کښې یوبرابر دي ، اودوی دمسلمانانونه علاوه نورو خلقوته یو لاس دي اودوی ته دزمواري کولو به ادني مسلمان هم پابند وي اوخبردار مومن به دکافر په بدل کښې نشي وژلې اونه هغه څوک چه دهغه سره معاهده شوي وي دهغه دمعاهدي په دوران کښې ، څوک چه په دین کښې یونوې کار پیدا کړي نوددې ضرر به ده ته رسیږي ، او چاچه په دین کښې نوې کار پیدا کړو او پائې نوي کار پیدا کونکې ته ځائې ورکړو نوپه ده باندې دالله تعالی اودفرشتو اودټولوخلقو لعنت دې، مسدد دابن ابی عروبه نه داسې نقل کړيدي چه یوکتاب ئې راوویستلو .

قوله: ﴿ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ انْطَلَقْتُ أَنَا وَالْأَشْتَرُ إِلَى عَلِيٍّ رضى الله عنه فَقُلْنَا هَلْ عَهِدَ إِلَيْكَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– شَيْئًا لَمْ يَعْهَدْ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً قَالَ لاَ إِلاَّ مَا .....الخ ﴾

د ذمی قصاص د مسلمان نه او په هغې کښې د احنافو دلیل :

د دې حدیث د شروع حصه د الدر المنضود په مقدمه کښې د کتابت حدیث په بحث کښې تیره شوی ده او آخری حصه : الْمُؤْمِنُونَ تَكَافَأُ دِمَاؤُهُم. دا په کتاب الجهاد باب فی السرية وعلى اهل العسكر کښې تیره شوې ده، د دې شرح هلته کتلې کیدې شی، او هلته دا هم تیر شوی دی چه ﴿ لا يقتل مومن بكافر ولا ذو عهد فى عهده ﴾ په مسئلة الباب کښې د احنافو دلیل دې، هغه دا چه د کافر ذمی په بدل کښې به مسلمان قتل کولې شی یا نه؟ د جمهورو په نزد به د ذمی قصاص د مسلمان نه نۀ شی اخستلې په خلاف د احنافو ، د هغوی په نزد اخستلې شی، په مسئله د قصاص کښې د هغوی په نزد کافر ذمی او مسلمان دواړه برابر دی، په دې حدیث کښې دا هم دی ﴿ مَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا فَعَلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا الخ ﴾ چه کوم سرې په دین کښې

(۱): سنن النسائي /القسامة ۵ (۴۷۳۸)، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۵۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۲۲) (صحيح)

یو نوې خبره جاري کړي یعنی بدعت نو د هغې وبال به هم په هغه باندې وی او کوم سړې چه یو بدعت جاري کړي یا د یو مبتدع حمایت او اعانت اوکړي نو په هغه باندې د الله پاک او د ملائکو او د ټولو انسانانو لعنت دې. والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

[۴۵۳۱](١)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ عَلِيٍّ، زَادَ فِيهِ: وَيُجِيرُ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ وَيَرُدُّ مُشِدُّهُمْ عَلَى مُضْعِفِهِمْ، وَمُتَسَرِّيهِمْ عَلَى قَاعِدِهِمْ.

عمرو بن شعیب د خپل پلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه رسول الله فرمائیلی دی او باقی حدیث ئې دعیه د حدیث په شان بیان کړو مګردده اضافي سره چه پناه به ورکولي شي پدوی کښې معمولي کس په تاسو باندې اودغنیمت په مال کښې د کمزوري اوزور ورڅارولي والا برابروي او څوک چه دلښکرنه بهراوځي اوجنګ وکړي او څوک په لښکر کښې موجودوی (هغوی هم دغنیمت په مال کښې دبرابرې حصې حق داردي).

بَابٌ فِي مَنْ وَجَدَ مَعَ أَهْلِهِ رَجُلاً أَيَقْتُلُهُ

باب: څوک چه د خپلې ښځې سره بل سړې بیامومی نو آیا قتل کوی به ئې؟

[۴۵۳۲](٢)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَعَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ الْحَوْطِيُّ المعنى واحد، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ، قَالَ: "يَا رَسُولَ اللهِ الرَّجُلُ يَجِدُ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا، قَالَ سَعْدٌ: بَلَى وَالَّذِي أَكْرَمَكَ بِالْحَقِّ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اسْمَعُوا إِلَى مَا يَقُولُ سَيِّدُكُمْ"، قَالَ عَبْدُ الْوَهَّابِ: إِلَى مَا يَقُولُ سَعْدٌ.

د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه سعد بن عباده رضی الله عنه ووئیل اې دالله رسوله کله چه یوکس دخپلې ښځې سره بل سړې بیاموي نو ایا وژني به ئې؟نبی علیه السلام اوفرمائیل نه سعد عرض وکړو ولې نه قسم په هغه ذات چاچه تاته په رښتیا سره عزت درکړي دي نبی علیه السلام اوفرمائیل واورئ ستاسو سردار څه وائي؟ اودعبد الوهاب په روایت کښې دی چه تاسو واورئ سعد څه وائي.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ الرَّجُلُ يَجِدُ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلاً أَيَقْتُلُهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ –صلى الله عليه وسلم– « لاَ ». قَالَ سَعْدٌ بَلَى وَالَّذِى أَكْرَمَكَ بِالْحَقِّ الخ ﴾

شرح الحديث او د مسئلة الباب تحقيق:

سیدنا سعد بن عباده رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو چه که یو سړې څوک اوويني چه هغه د هغه د ښځې سره زنا کوی نو آیا هغه کتونکې یعنی خاوند دې زانی لره قتل کولې شي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل نه، یعنی قتل کول جائز نه دی، نو په دې باندې هغوی عرض اوکړو، ولې نه قسم په هغه ذات چا چه تاسو ته عزت درکړې دې، یعنی هغه به دې

(١): تفرد به أبو داود، وقد مضي بتمامه ٢٧٥١، (تحفة الأشراف: ٨٨١٥)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الديات ٣١ (٢٦٨٥) (حسن صحيح)

(٢): صحيح مسلم/اللعان ١ (١٤٩٨)، سنن ابن ماجه/الحدود ٣٤ (٢٦٠٥)، (تحفة الأشراف: ١٢٦٩٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الأقضية ١٩ (١٧)، الحدود ١ (٧)، مسند احمد (٢/٤٦٥) (صحيح)

زاني لره ضرور قتل کوی او هغه به په دې کښې لږ تامل هم نه کوی په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل نورو حضراتو ته خطاب کولو سره (غالبا هغوی به هم د هغه د قوم وی ځکه چه هغه رئيس الخزرج وو) اوګورئ دا ستاسو سردار څه وائی. په بذل کښې ليکلې دی چه شراح دا وائی چه د حضرت سعد مراد - والعياذ بالله - د رسول الله ﷺ د کلام ترديد نه دې او نه د هغوی مراد دا دې چه په داسې صورت کښې هغه لره قتل کول جائز دی بلکه د هغوی مراد دا دې چه د باغيرت سړی طبيعت دې معاملې لره ليدلو سره برداشت نه شی کولې او هغه بغير د قتل نه نۀ شی پاتې کيدې، هم په دې وجه رسول الله ﷺ هم د هغوی ترديد يا په دې باندې تنبيه او نه فرمائيله بلکه د تعجب اظهار ئې اوفرمائيلو د هغوی په حميت او غيرت باندې، او بهر حال مسئله هم هغه ده کومه چه رسول الله ﷺ فرمائيلې ده چه قتل کول ئې جائز نه دی، پس دا مسئله په الدرر المنضود کښې په کتاب اللعان کښې تيره شوې ده، د بذل المجهود نه نقل کولو سره، او هغه دا ده چه يو سړې د خپلې ښځې سره څوک په زنا کولو باندې وينی او هغه زانی لره قتل کړی نو په دې صورت کښې د جمهورو رائې دا ده چه دا قاتل به هم قصاصا قتل کولې شی ځکه چه دا قتل بغير د شهود نه دې، خو که بينة قائمه شی يا د زانی وارثان د زنا اعتراف اوکړی نو بيا په دې صورت کښې قصاص نشته، دا حکم خو قضاء دې او ديانة په هغه باندې فيما بينه وبين الله د قتل ګناه نشته د هغه د صادق کيدو په صورت کښې اهـ..... او هم دا خبره په الحل المفهم کښې د حضرت ګنګوهی د تقرير نه نقل کړې شوې ده خو حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې په باب اللعان کښې د درمختار دا مسئله نقل کړې ده: دخل رجل بيته فرای رجلا مع امراته او جاريته فقتله حل له ذلک ولا قصاص عليه اهـ چه په هغې کښې تصريح ده د دې خبرې چه په پورته ذکر کړې شوې مسئله کښې د احنافو مسلک د جمهورو خلاف دې کوم چه په بذل کښې ذکر شوې دې، خو د هغې جواب دا دې چه علامه شامی په دې کښې دوه قيدونه ذکر کړی دی د بعض فقهاء کرامو نه يو دا چه چه هغه پردې سړې محصن وی، او دويم دا چه د کور د مالک يعنی د خاوند په شور باندې هم هغه د زنا نه منع نه شی، خو بيا هغوی د احصان په قيد باندې اشکال کړې دې ځکه چه دلته جواز د قتل زانی په طور د حد نه دې چه د احصان قيد اولګولې شی بلکه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د قبيلې نه دې او بيا ئې وړاندې دا هم ليکلې دی چه که هغه زنانه د دې پردی سړی په فعل باندې راضی وی او د منع کولو بل څه صورت نه وی نو بيا دواړو لره قتل کولې شی. شامی۵/۳۵۹

[۴۵۳۳] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ، قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَرَأَيْتَ لَوْ وَجَدْتُ مَعَ امْرَأَتِي رَجُلًا أُمْهِلُهُ حَتَّى آتِيَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ؟ قَالَ: نَعَمْ".

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه سعد بن عبادة رضی الله عنه نبی عليه السلام ته ووئيل ستاڅه خيال

---

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۲۷۳۷) (صحيح)

دي که چرې زه دخپلې ښځې سره څوک سرې ووينم نو آيا د څلورو ګواهانو د راوستو پورې به ورته انتظارکوم نبی ﷺ اوفرمائيل هو. وحديث الباب الاول اخرجه مسلم وابن ماجه، والحديث الثانی اخرجه مسلم والنسائي، قاله المنذري.

باب العامل يصاب على يديه خطأ

باب: د عامل د لاسه که څوک په غلطۍ سره زخمي شو

يعنى عامل وغيره کوم چه د صدقاتو وغيره په وصول کولو باندې د حکومت د طرف نه مقرر وی که په څه خبره باندې هغه په رعايا کښې چاته څه تکليف او نقصان اورسوی نو د هغې څه حکم دې؟ د حديث الباب نه خو هم دا معلوميږی چه په دې کښې د عامل او غير عامل دواړو حکم برابر دې.

[٤٥٣٤] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ أَبَا جَهْمِ بْنَ حُذَيْفَةَ مُصَدِّقًا، فَلَاجَّهُ رَجُلٌ فِي صَدَقَتِهِ فَضَرَبَهُ أَبُو جَهْمٍ فَشَجَّهُ، فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: الْقَوَدَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَكُمْ كَذَا وَكَذَا، فَلَمْ يَرْضَوْا، فَقَالَ: لَكُمْ كَذَا وَكَذَا، فَلَمْ يَرْضَوْا، فَقَالَ: لَكُمْ كَذَا وَكَذَا، فَرَضُوا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي خَاطِبٌ الْعَشِيَّةَ عَلَى النَّاسِ وَمُخْبِرُهُمْ بِرِضَاكُمْ، فَقَالُوا: نَعَمْ، فَخَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ، فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ هَؤُلَاءِ اللَّيْثِيِّينَ أَتَوْنِي يُرِيدُونَ الْقَوَدَ، فَعَرَضْتُ عَلَيْهِمْ كَذَا وَكَذَا فَرَضُوا، أَرَضِيتُمْ؟ قَالُوا: لَا، فَهَمَّ الْمُهَاجِرُونَ بِهِمْ، فَأَمَرَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَكُفُّوا عَنْهُمْ فَكَفُّوا، ثُمَّ دَعَاهُمْ فَزَادَهُمْ، فَقَالَ: أَرَضِيتُمْ، فَقَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: إِنِّي خَاطِبٌ عَلَى النَّاسِ وَمُخْبِرُهُمْ بِرِضَاكُمْ، قَالُوا: نَعَمْ، فَخَطَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَرَضِيتُمْ، قَالُوا: نَعَمْ".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبی ﷺ ابوجهم بن حذيفه په زکات راټولولو پسې وليږلو، يوکس ورسره دزکات په ورکولوکښې جيړ چاړ وکړو نوهغه وهل ورکړل او سر ئې مات شو نو په دې سبب دده رشته داران نبی ﷺ ته راغلل او عرض ئې وکړو چه دابوجهم نه زمونږ دپاره قصاص واخله. نبی ﷺ اوفرمائيل تاسو د ديت په طور دومره مال واخلئ هغوی په دې راضی نه شول نونبی ﷺ اوفرمائيل دومره مال قبول کړئ ليکن هغوی خوشحاله نه وو بيانبی ﷺ اوفرمائيل نودومره مال واخلئ نوپه دوی باندې هغوی رضا شول نبی ﷺ اوفرمائيل زه به نن ماښام خطبه ورکوم اوهغه خلقوته به ستاسود راضی کيدو په باره کښې خبر ورکوم ، دوی اووئيل سمه ده بيانبی ﷺ خطبه اوفرمائيله اودائې هم اوفرمائيل چه دليث قبيلې نه داخلق ماته د قصاص اغستلو په عرض باندې راغلل اوما ددوی سره ددومره مال ورکولو وعده اوکړه او دوی تيار شول. بيانبی ﷺ ددوينه تپوس اوکړو ايا تاسويدې باندې راضی يئ؟ دوی اووئيل نه، مهاجرينو دوی ته دسزا ورکولو اراده وکړه نبی ﷺ مهاجرين منع کړل اوهغوی منع شو بيانبی ﷺ دا خلق راوغوښتل اود زيات مال ورکولو ذکر ئې وکړو اوددوينه ئې تپوس اوکړو ايا تاسو راضی

(١): سنن النسائي/القسامة ٢٠ (٤٧٨٢)، سنن ابن ماجه/الديات ١٣ (٢٦٣٨)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٣٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٣٢) (صحيح)

شوئ؟ دوی اوویل مونږ راضی یو نبی علیه السلام اوفرمائیل زه به ستاسو په مخ کښې خطبه وایم اوددوی په مخ کښې به ستاسو دراضي کیدو بیان کوم دوی اوویل سمه ده نبی علیه السلام دخلقو په وړاندې خطبه ورکړه اوتپوس ئې ورنه اوکړو چه اوس تاسو رضا یئ دوی اوویل هو.

قوله: ﴿ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- بَعَثَ أَبَا جَهْمِ بْنَ حُذَيْفَةَ مُصَدِّقًا فَلاَجَّهُ رَجُلٌ فِي صَدَقَةٍ فَضَرَبَهُ أَبُو جَهْمٍ فَشَجَّهُ ﴾

مضمون الحديث :

عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ ابوجهم بن حذیفه د صدقاتو د وصولئ دپاره اولیږلو نو د صدقې د وصولولو په سلسله کښې د یو سړی سره د هغوی اختلاف شو هغه دغه سړې په یو څیز اوهلو چه د هغه سر زخمی شو نو د هغه د قوم خلق د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلل د قصاص یعنی بدلې اخستلو دپاره، نو رسول الله ﷺ یو مقدار د مال د هغوی مخې ته کیخودلو چه هغه دا واخلی خو هغه راضی نه شو، رسول الله ﷺ په دې مقدار کښې نوره هم اضافه اوکړه په هغې باندې هم راضی نه شو بیا ئې نوره هم اضافه اوکړه په هغې باندې راضی شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاسو ټول ماښام راشئ زه به په مجلس کښې د ټولو خلقو مخکښې دا معامله او ستاسو رضامندی ښکاره کړم، هغوی اووې غوره ده... پس هم دغه شان اوشوه چه ماښام د ټولو خلقو مخکښې دا خبره کیخودلې شوه یعنی دا چه دا خلق په دومره مال اخستلو باندې راضی شو، رسول الله ﷺ دوباره د خلقو مخکښې د هغوی نه اقرار اخستل غوښتل د رضامندئ، خو هغوی د خپلې خبرې نه واوړیدل، په دې باندې مهاجرینو د هغوی د اصلاح اراده اوکړه خو رسول الله ﷺ چه هغوی د دې نه منع کړل نو منع شو، بیا په بل مجلس کښې رسول الله ﷺ هغوی دا خلق بیا راطلب کړل او د مال په سابقه مقدار کښې اضافه کولو سره ئې هغوی راضی کول اوغوښتل نو هغوی منظور کړه، پس رسول الله ﷺ د خلقو مخکښې د هغوی د رضامندئ ذکر اوفرمائیلو یا ئې د ټولو مخکښې د هغوی نه تپوس اوفرمائیلو چه وایئ تاسو راضی یئ؟ قالوا نعم.... په دې باندې معامله رفع دفع شوه، دا عامل ابوجهم رضی الله عنه هم هغه دې د چا په باره کښې چه په کتاب النکاح کښې تیر شوې دی : اما ابوجهم فلا یضع عصاه عن عاتقه، د هغوی په مزاج کښې تیزی او غصه وه هم په دې وجه دا قصه هم پیښه شوه. والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری

بَابُ الْقَوَدِ بِغَيْرِ حَدِيدٍ

باب د حد نه علاوه د قصاص اخستلو بیان

په دې باب کښې مصنف رحمه الله د "رَضَّ راسِ جاريه" والا حديث ذكر كړې دې كوم چه نزدې تیر شوې دې،

[٤٥٣٥] ()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ: "أَنَّ جَارِيَةً وُجِدَتْ قَدْ رُضَّ رَأْسُهَا بَيْنَ حَجَرَيْنِ، فَقِيلَ لَهَا: مَنْ فَعَلَ بِكِ هَذَا؟ أَفُلاَنٌ أَفُلاَنٌ حَتَّى سُمِّيَ الْيَهُودِيُّ فَأَوْمَتْ بِرَأْسِهَا، فَأُخِذَ الْيَهُودِيُّ فَاعْتَرَفَ،

(): انظر حديث رقم: (٤٥٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٣٩١) (صحيح)

فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَضَّ رَأْسُهُ بِالْحِجَارَةِ".

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه يوه جينۍ ومونډلي شوه چه ددوه کانړو په مينځ کښې ئې سرچقولې شوي ووهغې ته ووئيلې شو چه دا درباندې چاکړې دي ايا فلانى ايا فلانى تردې چه ديهوي نوم واخستلې شونوهغې اقرار وکړو نو نبى عليه السلام حکم وکړوچه دده سردي په ګټه باندې وچقولې شي.

په بذل کښې ليکلې دی چه: وهذا الحديث مكرر بسنده ومتنه، تقدم قريبا، د تکرار څۀ خاص فائده په فهم کښې رانغله هم په دې وجه په بعض نسخو کښې دا باب او حديث نشته.

بَابُ الْقَوَدِ مِنَ الضَّرْبَةِ وَقَصِّ الْأَمِيرِ مِنْ نَفْسِهِ

باب: د وهلو په وجه د حاکم د طرفه د قصاص ورکولو بيان

يعنى په معمولى شان وهلو باندې هم څه قصاص او ضمان وی؟ او دويم جزء د ترجمه دا دې چه که د رعايا په اميرانو کښې څوک په چا باندې څه جنايت اوکړی نو د هغه د خپل نفس نه بدل اخستل.

[٤٥٣٦]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرٍو يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ عُبَيْدَةَ بْنِ مُسَافِعٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "بَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ قَسْمًا أَقْبَلَ رَجُلٌ فَأَكَبَّ عَلَيْهِ، فَطَعَنَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعُرْجُونٍ كَانَ مَعَهُ فَجُرِحَ بِوَجْهِهِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَالَ فَاسْتَقِدْ فَقَالَ بَلْ عَفَوْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ".

د ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی چه يوځل نبى عليه السلام تقسيم کولو په دې وخت کښې يو کس راغې اوپه نبى عليه السلام باندې راټيټ شو نونبى عليه السلام په يوه لخته اووهلو لخته دده په مخ باندې اولګيده اوزخمي شونبى عليه السلام ورته اوفرمائيل راشه زمانه قصاص واخله ده عرض اوکړو اې دالله رسوله ماته معاف کړې ئې.

قوله: ﴿أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقْسِمُ قَسْمًا أَقْبَلَ رَجُلٌ فَأَكَبَّ عَلَيْهِ فَطَعَنَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِعُرْجُونٍ كَانَ مَعَهُ فَجُرِحَ بِوَجْهِهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم« تَعَالَ فَاسْتَقِدْ »فَقَالَ بَلْ عَفَوْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ﴾

يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم يو ځل په خلقو کښې څه مال تقسيمولو پس په دې کښې يو سړې رامخکښې شو کوم چه د مال اخستلو دپاره په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې راغورځيدلو او راښکته کيدو، دې وخت کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په لاس مبارک کښې يو چوکه وه، هغوی تنبيها هغه په هغه چوکه باندې اووهلو(هغه اتفاقا د هغه په مخ باندې اولګيده) چه په هغې سره د هغه مخ زخمى شو، په دې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته اوفرمائيل راشه زما نه خپل بدل واخله هغه عرض اوکړو نه يا رسول الله صلى الله عليه وسلم بلکه ما معافى اوکړه.

(والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذری)

[1]): سنن النسائي/القسامة ١٦ (٤٧٧٧)، (تحفة الأشراف: ٤١٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨/٣) (ضعيف)

[٤٥٣٧] (١) حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي فِرَاسٍ، قَالَ: خَطَبَنَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ: إِنِّي لَمْ أَبْعَثْ عُمَّالِي لِيَضْرِبُوا أَبْشَارَكُمْ وَلَا لِيَأْخُذُوا أَمْوَالَكُمْ، فَمَنْ فُعِلَ بِهِ ذَلِكَ فَلْيَرْفَعْهُ إِلَيَّ أَقُصُّهُ مِنْهُ، قَالَ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ: لَوْ أَنَّ رَجُلًا أَدَّبَ بَعْضَ رَعِيَّتِهِ أَتُقِصُّهُ مِنْهُ؟ قَالَ: إِي وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ أُقِصُّهُ، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَصَّ مِنْ نَفْسِهِ".

د ابوفراس رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه عمرفاروق رضي الله عنه مونږ. ته خطبه راکړه او وئې فرمائیل زه خپل عاملان ددې دپاره نه لیږم چه هغوی دې تاسو اووهي یا دې ستاسو مالونه وصول کړي ، اوکه چرې څوک داسې وکړي نوتاسوماته دهغه معامله پیش کړئ زه به ورنه انتقام اخلم، عمرو بن العاص په جواب کښې اووئیل که چرې کوم عامل خپلو نوکرانوته څه سزا ورکړي نو تاسو به ددې بدله دعامل نه اخلئ؟ عمر رضي الله عنه اووئیل هو په هغه ذات مې دې قسم وي دچاپه اختیار کښې چه زماروح دې زه خوبه بدله اخلم اومانبی عليه السلام لیدلې وو چه دخپل ځان نه ئې قصاص ورکړې وو.

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي فِرَاسٍ قَالَ خَطَبَنَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضی الله عنه فَقَالَ إِنِّى لَمْ أَبْعَثْ عُمَّالِى لِيَضْرِبُوا أَبْشَارَكُمْ وَلاَ لِيَأْخُذُوا أَمْوَالَكُمْ فَمَنْ فُعِلَ بِهِ ذَلِكَ فَلْيَرْفَعْهُ إِلَيَّ أَقُصُّهُ مِنْهُ الخ ﴾

ابو فراس فرمائي چه یو ځل عمر بن الخطاب رضي الله عنه خطبه ورکړه (ممکنه ده چه د یو عامل د زیاتی او تشدد شکایت به هغوی ته شوې وی چه په هغې باندې) هغوی اوفرمائیل چه زه خپل عمال دې دپاره نه لیږم چه هغوی تاسو اوهی یا درنه د واجب نه زیات مال واخلی، پس کوم سړی سره چه داسې معامله اوکړې شی د یو عامل د طرف نه نو هغه دې خپله معامله زما مخکښې پیش کړی زه به هغه ته د هغه قصاص د هغه عامل نه ورکوم، په دې باندې عمرو بن العاص رضي الله عنه عرض اوکړو چه که څوک د خپل یو ماتحت سره تادیبا یو کار اوکړی نو آیا تاسو به ترې نه بدله اخلئ؟ نو په دې باندې عمر رضي الله عنه اوفرمائیل او قسم په الله زه به د هغې بدله اخلم، ما رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلې دې چه هغوی د خپل نفس نه قصاص ورکړې دې، غالبا مطلب دا دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم بل ته د قصاص داخستلو درخواست کړې دې لکه چه پورته حدیث کښ تیر شو. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری

بَابُ عَفْوِ النِّسَاءِ عَنِ الدَّمِ

باب د زنانه هم قصاص معاف کولې شی

د مسئلة الباب توضیح :

مسئله دا ده چه په قتل عمد کښ که د مقتول اولیاء کښ د یو کس رائې د ترک قصاص او د معاف کولو وی نو بیا قصاص اخستل جائز نه دی، اوس دلته سوال دا واردیږی چه که په دغه اولیاء کښ که څوک زنانه وی او هغه قصاص اخستل نه غواړی نو آیا د هغې عفو کول به معتبر وی یا نه؟ د جمهورو په نزد معتبر ده، امام خطابی رحمه الله فرمائی قال اکثر اهل العلم عفو النساء عن الدم کعفو الرجال، وقال الاوزاعی وابن شبرمة لیس للنساء عفو، یعنی د جمهورو په نزد خو معتبر ده، د امام اوزاعی وغیره په نزد معتبر نه ده.

(١): سنن النسائي/القسامة ١٩ (٤٧٨١)، (تحفة الأشراف: ١٠٦٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤١/١) (ضعيف)

[٤٥٣٨]() حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ رُشَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ حِصْنًا، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَلَمَةَ، يُخْبِرُ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "عَلَى الْمُقْتَتِلِينَ أَنْ يَنْحَجِزُوا الْأَوَّلَ فَالْأَوَّلَ وَإِنْ كَانَتِ امْرَأَةً"، قَالَ أَبُو دَاوُد: بَلَغَنِي أَنَّ عَفْوَ النِّسَاءِ فِي الْقَتْلِ جَائِزٌ إِذَا كَانَتْ إِحْدَى الْأَوْلِيَاءِ، وَبَلَغَنِي عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ، فِي قَوْلِهِ: يَنْحَجِزُوا يَكُفُّوا عَنِ الْقَوَدِ.

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائيلي دي کومو کسانو چه جنګ کړې وي نوهغوی لره پکاردي چه د قصاص اخستلونه ځان بچ وساتي اول کوم چه ډير نزدې رشته داردې هغه معاف کړئ بياچه کوم په ده پسې دې اګرچه ښځه وي ، امام ابوداؤد فرمائی د وينحجزه معنی دقصاص داغستلونه ځان ساتل دي.

قوله: ﴿عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ « عَلَى الْمُقْتَتِلِينَ أَنْ يَنْحَجِزُوا الأَوَّلَ فَالأَوَّلَ وَإِنْ كَانَتِ امْرَأَةً » قَالَ أَبُو دَاوُدَ « يَنْحَجِزُوا »الخ﴾

شرح الحديث:

سيده عائشه رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه په اولياء د قاتل او اولياء د مقتول کښې چه کله خپل مينځ کښې جنګ اوشي يعنی اولياء د قاتل اصرار کوی په ترک قصاص او عفو باندې، او اولياء د قتيل په قصاص اخستلو باندې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چه دا جنګ دې ختم کړې شی چه د هغې شکل هغوی دا بيانوی: ﴿ان ينحجزوا﴾ چه د مقتول اولياء ته پکار دی چه هغوی د قصاص اخستلو نه منع شی، او يا مراد د مقتتلين نه دا دې چه په اولياء مقتول کښې خپل مينځ اختلاف او جنګ پيدا شو بعض عفو کول غواړي او بعض قصاص، او چونکه د اقرب والي په موجودګئ کښې د ابعد ولي قول ساقط دې په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم په اولياء کښې چه کوم اقرب القتيل دې هم هغه ته خاص طور سره د بخښنې ترغيب او د پيش قدمئ کولو حکم کوی. د امام اوزاعی رحمه الله قول د دې حديث خلاف دې.

والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابُ مَنْ قُتِلَ فِي عِمِّيَّاءَ بَيْنَ قَوْمٍ

باب: څوک چه په تياره کښې د خلقو په مينځ کښې مړ شی دهغې بيان

[٤٥٣٩]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ وَهَذَا حَدِيثُهُ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ طَاوُسٍ، قَالَ: مَنْ قُتِلَ؟ وَقَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قُتِلَ فِي عِمِّيَّا فِي رَمْيٍ يَكُونُ بَيْنَهُمْ بِحِجَارَةٍ أَوْ بِالسِّيَاطِ أَوْ ضَرْبٍ بِعَصًا فَهُوَ خَطَأٌ وَعَقْلُهُ عَقْلُ الْخَطَإِ، وَمَنْ قُتِلَ عَمْدًا فَهُوَ قَوَدٌ، قَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ: قَوَدُ يَدٍ، ثُمَّ اتَّفَقَا، وَمَنْ حَالَ دُونَهُ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَغَضَبُهُ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ"، وَحَدِيثُ سُفْيَانَ أَتَمُّ.

د طاوس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائيلي دي څوک چه دخلقو دليدونه بغير يعنی په تياره کښې په تير اندازئ کښې دخلقو په مينځ کښې مړشي کومه چه دخلقو په

[١]: سنن النسائي/القسامة ٢٥ (٤٧٩٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٠٦) (ضعيف)

[٢]: سنن النسائي/القسامة ٢٦ (٤٧٩٣)، سنن ابن ماجه/الديات ٨ (٢٦٣٥)، ويأتي هذا الحديث برقم (٤٥٩١)، (تحفة الأشراف: ٥٧٣٩ ١٨٨٢٨) (صحيح)

مینځ کښې کیږي یاددرې په وهلو مړشي یادلوړ په وهلو مړشي نودده حکم دقتل خطاء دې اودده دیت هم دقتل خطاء دیت دې اوځوک چه د قتل په قصد سره مړشي نو په دې صورت کښې قصاص واجب دې، ابن عبید وئیلی دی دنوروديتونو برابر دیت دې اوځوک چه په دې کښې مانع جوړ شي نو په ده باندې دالله تعالی لعنت دې او چه الله ورته په غضب شي نونه به دده فرائض قبول کړي شي اونه نوافل.

قوله:﴿حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ ح وَحَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ - وَهَذَا حَدِيثُهُ - عَنْ عَمْرٍو عَنْ طَاوُسٍ قَالَ مَنْ قُتِلَ. وَقَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم ﴾

شرح السند :

په دې حديث کښې د مصنف رحمه الله دوه استاذان دی محمد بن عبید او ابن السرح، د محمد بن عبید استاد حماد دې او د ابن السرح استاد سفیان، دا دواړه روایت کوی یعنی سفیان او حماد د عمرو نه اوهغه د طاؤس نه، د ابن السرح سند خو هم دلته ختم شو، لهذا دا روایت موقوف شو بلکه مقطوع شو او د محمد بن عبید په روایت طاؤس روایت کوی د رسول الله ﷺ نه لهذا دا حدیث مرفوع مرسل شو، د حدیث متن دا دې:

قوله:﴿ مَنْ قُتِلَ فِي عِمِّيًّا فِي رَمْيٍ يَكُونُ بَيْنَهُمْ بِحِجَارَةٍ أَوْ ضَرْبٍ بِالسِّيَاطِ أَوْ ضَرْبٍ بِعَصًا فَهُوَ خَطَأٌ وَعَقْلُهُ عَقْلُ الْخَطَإِ ﴾

شرح الحديث :

یعنی کوم سړې چه په ګډوډ جنګ کښې قتل شی چه د هغې صورت دا دې چه په دوه جماعتونو کښې جنګ اوشو او لرګی ډنډې او کانړی ئې استعمال کړل د جانبینو نه او بیا په هغې کښې يو سړې مړ شو چه په هغې کښې یقین سره معلومه نه ده چه دې څنګه قتل شو په مثقل کبیر سره یا صغیر سره نو دې قتل ته به قتل خطاء وئیلې شی لهذا د قتل خطاء دیت به واجب وی. ﴿ ومن قتل عمدا فهو قود ﴾ یعنی د کوم قتل په باره کښې چه معلومه شی چه هغه قتل قتل عمد دې په داسې طریقه چه د قتل عمد تعریف هلته صادق راځی نو د هغې حکم قصاص دې، او د ابن عبید په روایت کښې دی، ﴿ قود ید ﴾ د ید نه مراد نفس یعنی قصاص فی النفس.

قوله:﴿ ثُمَّ اتَّفَقَا « وَمَنْ حَالَ دُونَهُ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَغَضَبُهُ ﴾ تر اوسه پورې د حدیث الفاظ چه کوم تیر شوی دی هغه د ابن السرح د روایت نه وؤ او دا د اخیری الفاظ د ابن السرح او د ابن عبید دواړو دی، مطلب دا دې چه کوم سړې د قاضی د طرف نه د قصاص د فیصلې نه پس د هغه قصاص د اخستلو نه مانع جوړیږی نو هغه به د الله پاک د غضب او د لعنت مستحق وی، نه د هغه نفل عبادت قبلیږی او نه فرض.

قوله:﴿ وَحَدِيثُ سُفْيَانَ أَتَمُّ ﴾ یعنی د حماد په مقابله کښې د سفیان روایت اتم دې، په شروع کښې مصنف رحمه الله فرمائیلي وو : ﴿ وهذا حديثه ﴾ چه مونږ د سفیان حدیث روایت کوو، نو ګویا د سفیان د روایت د اختیارولو وجه د ترجیح دا شوه.

[۴۵۴۰]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي غَالِبٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ سُفْيَانَ.

طاوس دابن عباس رضي الله عنهما نه روایت بیان کړي دي چه نبي عليه السلام فرمائیلي دي ، اودسفیان دحدیث په شان حدیث کي بیان کړو.

قوله: ﴿ عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما الخ ﴾

دا روایت د عمرو بن دینار په روایت د سلیمان بن کثیر مسندا دي. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه مرفوعا، قاله المنذري

بَابُ الدِّيَةِ كَمْ هِيَ

باب د دیت د مقدار بیان

د کتاب الدیات په شروع کښ تیر شوي دي چه د دیت اطلاق د فقهاء کرامو په عرف کښ په بدل النفس باندي، او په بدل الاطراف باندي د ارش اطلاق کولي شي او هسي توسعا په ارش باندي د دیت اطلاق هم کولي شي.

د قتل اقسام او تعریفات :

چه کله دا معلومه شوه چه د دیت استعمال په قتل د نفس کښ کیږي او د مصنف رحمه الله غرض دلته د دیت مقدار بیانول دي چه د هغي مقدار د قتل په نوعیت باندي دي، ځکه چه د قتل د ائمه ثلاث او صاحبین په نزد دري قسمونه دي قتل عمد او قتل شبه عمد او قتل خطاء (۲) او د هر یو حکم او دیت بیل بیل دي لهذا اوس حاجت دي ته دي چه د دي قتل قسمونه اوپیژندلي شي او د هغي تعریف معلوم کړي شي او د هغي نه پس د هر یو دیت معلوم کړي شي. پس ځان پوهه کړه چه د قتل آلات دري دي محدد ، مثقل کبیر، مثقل صغیر..... قتل عمد هغه دي کوم چه د وسلي په ذریعه وي یا په هغه څیز چه جاري مجري السلاح وي یعني محدد (هر تیرهٔ څیز). او شبه عمد هغه دي کوم چه په مثقل صغیر سره وي یعني هغه بې سوکي او پس څیز چه په هغي باندي اکثر هلاکت نه واقع کیږي لکه معمولي شان ډنډه، وړوکي کانړي، او قتل خطاء عام دي که هغه په هر څه آله وي، بیا د خطاء دوه قسمونه دي یو خطاء في الفعل او بل خطاء في الظن (سیاتي بیانه) او کوم قتل چه په مثقل کبیر سره وي یعني هغه پس څیز چه په هغي سره اکثر هلاکت واقع شي په هغي کښ اختلاف دي چه هغه په قتل عمد کښ داخل دي یا په شبه عمد کښ، د امام صاحب په نزد په شبه عمد کښ، او د صاحبین او د جمهورو په نزد په قتل عمد کښ.

د دي تفصیل نه معلومه شوه چه مثقل کبیر د امام صاحب په نزد ملحق دي د مثقل صغیر سره، او د جمهورو او د صاحبین په نزد ملحق دي د محدود سره، او کوم پورته تیر شوي دي چه د خطاء دوه صورتونه دي خطاء في الفعل دا ده چه یو سړي وژل غواړي یو

---

۱): انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ۵۷۳۹، ۱۸۸۲۸) (صحيح)

۲) او د امام مالک رحمه الله په نزد صرف دوه قسمونه دي هغه د شبه عمد قائل نه دي)

څناور لره خو نخښه ئې خطاء شوه او انسان پرې اولګيدو، او خطاء فی الظن دا دې چه د لرې نه يو سړی يو انسان په کمبل اغوستلو کښې اوليدو دې ګنړلو سره چه دا شير يا پړانګ دې او هغه ئې مړ کړو، دا خطاء فی الظن ده قصاص صرف په قتل عمد کښې دې او په قتل شبه عمد او خطاء کښې صرف ديت دې، په شبه عمد کښې ديت مغلظه او په خطاء کښې غير مغلظه دې، بله دا چه په قسمين اخرين کښې ديت سره کفاره هم ده په خلاف د قتل عمد چه په دې کښې کفاره واجب نه ده.

د اهل ديت تفصيل:

ديت که په اوښانو سره ورکړې شی نو د هغې تعداد بالاتفاق سل دې، د قتل خطاء ديت بالاتفاق احماسا دی يعنی سل اوښان د پنځو قسمونو، هر يو د شلو شلو، چه په هغې کښې څلور قسمونه خو متفق عليه دی بنت محاض، بنت لبون، حقه، جذعه، د پنځم په تعيين کښې اختلاف دې، د احنافو او د حنابله په نزد هغه ابن محاض دې او د شوافع او مالکيانو په نزد ابن لبون، او د شبه عمد ديت د امام شافعی او امام محمد په نزد اثلاثا دې حقه، جذعه، خلفه، اول دوه ديرش ديرش او خلفه څلويښت، خلفه يعنی حامله، او د شيخين (ابوحنيفه او ابويوسف) او د امام محمدؒ په نزد د شبه عمد ديت ارباعا دې يعنی سل اوښان څلور قسم د هر يو نه پنځويشت، بنت محاض، بنت لبون حقه، جذعه، او دا مخکښې تير شو چه امام مالکؒ د شبه عمد قائل نه دې.

د ديت مصداق کوم کوم څيزونه دی:

د ذکر کړې شوې تفصيل خو په هغه صورت کښې دې چه کله په ديت کښې اوښان ورکړې شی، اوس دا چه په ديت کښې کوم کوم څيزونه ورکولې شی؟ په دې کښې د ائمه اختلاف دې د امام شافعیؒ په نزد په ديت کښې اصل ابل دې، د امام احمدؒ په نزد هم يو روايت هم دغه دې که اوښان ملاوېږی نو هغه دې ورکړې شی ﴿ فان لم توجد فقيمته بالغة ما بلغت ﴾ يعنی د سلو اوښانو قيمت به ورکولې شی هر څومره چه وی. او د امام ابوحنيفه او امام مالکؒ په نزد د ديت مصداق درې څيزونه دی، الابل، الدارهم، الدنانير، د امام صاحب په نزد په درې واړو کښې اختيار دې او د امام مالکؒ په نزد د کلی په حق کښې ابل متعين دې او د سرو او سپينو والو په حق کښې سرۀ او سپين زر. او د حنابله په قول راجح کښې د ديت مصداق پنځه څيزونه دی درې هغه کوم چه پورته ذکر شو او دوه د هغې نه علاوه بقر او شاة، او څلورم مذهب په دې کښې د صاحبينو دې، د هغوی په نزد د ديت مصداق شپږ دی، پنځه پورته ذکر شوی څيزونه او شپږم څيز حلل..... د ابل په باره کښې خو تير شوی دی چه هغه بالاتفاق سل دی، او د بقر تعداد دوه سوه دې هم دغه شان د حلل هم او د ګډو دوه زره، كذا في هامش البذل عن الاوجز، وړاندې په يو حديث کښې د دې شپږو څيزونو ذکر دې، د دراهم په تعداد کښې هم اختلاف دې، امام ترمذیؒ په ابواب الديات کښې اول باب تړلې دې: ﴿ باب ما جاء فی الدية کم هی من الابل ﴾ او دويم باب دې ﴿ باب ما جاء فی الدية کم هی من اللدراهم ﴾ په دويم باب کښې هغوی دا حديث ذکر کړو ﴿ عن ابن

عباس رضي الله عنهما عن النبي ﷺ انه جعل الدية اثنى عشر الفا ﴾ د دې نه پس فرمائي : والعمل على هذا الحديث عند بعض أهل العلم وهو قول أحمد و إسحق ورأى بعض أهل العلم الدية عشرة آلاف وهو قول سفيان الثوري وأهل الكوفة وقال الشافعي لا أعرف الدية إلا من الإبل وهي مائة من الإبل ﴾ د دراهمو تعداد د جمهورو په نزد دولس زره دي او د احنافو په نزد لس زره دي، روايات دواړه قسمه شته، او جمع بين الروايتين داده چه د دراهمو دوه اقسام دی: وزن ستة او وزن سبعه، د وزن ستة په اعتبار سره دولس زره، او د وزن سبعه په لحاظ سره لس زره، د وزن ستة مطلب دا دې چه هر لس درهمه د شپږو مثقالو برابر وی او په وزن سبعه کښې دا ده چه هر لس درهمه د اووۀ مثقالو برابر وی.

او امام ترمذی رحمه الله په اول باب کښې دا هم فرمائيلې دی: ﴿ وقد أجمع أهل العلم على أن الدية تؤخذ من ثلاث سنين في كل سنة ثلث الدية ورأوا أن دية الخطإ على العاقلة الخ ﴾ يعنى ديت فوری په يو ځل نه شی اخستلې بلکه په درې قسطونو کښې په درې کالو کښې، او دا چه د قتل خطاء ديت د قاتل په عاقله باندې يعنى په عصبه باندې واجب وی، او بيا د دې نه پس هغوی د عاقله مصداق او په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف ليکلې دې او مونږ سره مخکښې تير شو چه د قتل عمد ديت د قاتل په مال کښې واجب وی او دا اجماعی مسئله ده.

وفي الهداية : والدية في الخطأ مائة من الإبل أخماسا، ومن العين ألف دينار ومن الورق عشرة آلاف درهم وقال الشافعي رحمه الله من الورق اثنا عشر ألفا، ولا تثبت الدية إلا من هذه الأنواع (الابل والذهب والفضة) وقالا منها ومن البقر مائتا بقرة ومن الغنم ألفا شاة ومن الحلل مائتا حلة كل حلة ثوبان لأن عمر رضي الله عنه هكذا جعل على أهل كل مال منها....... يعنى د عمر رضي الله عنه نه په دې پورته ذکر شوې شپږو څيزونو کښې ديت اخستل ثابت دی کوم چه د څه اهل وو د هغې نه ئې هم هغه واخستلو، د اهل ابل نه ابل او د اهل دراهم نه دراهم، او د اهل ذهب نه دنانير او هم دغه شان، او د امام صاحب رحمه الله په دليل کښې دا ليکلی دی چه دا اشياء ثلاثه باقيه چه کوم دی چه د هغې صاحبين قائل دی د هغې ثبوت په آثار مشهوره سره نه دې، په دې وجه امام صاحب دا درې واړه نه دی اخستلې.

اوس أحاديث الباب اوګورئ!

[٤٥٤١] (١) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَاشِدٍ. ح وحَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَاشِدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ مَنْ قُتِلَ خَطَأً فَدِيَتُهُ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ: ثَلَاثُونَ بِنْتَ مَخَاضٍ، وَثَلَاثُونَ بِنْتَ لَبُونٍ، وَثَلَاثُونَ حِقَّةً، وَعَشَرَةُ بَنِي لَبُونٍ ذَكَرٍ".

عمروبن شعيب دخپل پلارنه روايت کوی اوده پلارده دنيکه نه روايت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام فيصله کړې وه څوک چه چالره په خطاسره مرکزي نوددغه مقتول ديت سل اوښان دي په دې کښې به ديرش اوښان يوکلن وي اوديرش اوښان به دوه کلن وي اوديرش اوښان به

(١): سنن الترمذي/الديات ١ (١٣٨٧)، سنن ابن ماجه/الديات ٤ (٢٦٢٦)، (تحفة الأشراف: ٨٧٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٣/٢، ١٨٤، ١٨٥، ١٨٦، ٢١٧، ٢٢٤) (حسن)

درې کلن وي اولس اوښان به هغه وي دوه کاله ئې پوره شوي وي اوپه دريم ورګډ شوي وي.

قوله: ﴿ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَضَى أَنَّ مَنْ قُتِلَ خَطَأً الخ ﴾

په دې حديث کښې د قتل خطاء ديت سل اوښان په دې ترتيب سره ذکر دی، بنت لبون، بنت محاض او حقه هر يو ديرش ديرش او لس ابن لبون، په بذل کښې د خطابی نه نقل کړې دی لا اعرف احدا قال به من الفقهاء..... چه زما په علم کښې نشته چه دا قول په فقهاء کرامو کښې چا اختيار کړې وی، په دې باندې حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې ليکی چه ابن قدامة دې ته د طاؤس مذهب وئيلې دې هم د دې حديث په بناء باندې.

والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، قاله المنذري.

[٤٥٤٢]( )حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَكِيمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "كَانَتْ قِيمَةُ الدِّيَةِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانَ مِائَةِ دِينَارٍ أَوْ ثَمَانِيَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ، وَدِيَةُ أَهْلِ الْكِتَابِ يَوْمَئِذٍ النِّصْفُ مِنْ دِيَةِ الْمُسْلِمِينَ، قَالَ: فَكَانَ ذَلِكَ كَذَلِكَ حَتَّى اسْتُخْلِفَ عُمَرُ رَحِمَهُ اللَّهُ فَقَامَ خَطِيبًا، فَقَالَ: أَلَا إِنَّ الْإِبِلَ قَدْ غَلَتْ، قَالَ: فَفَرَضَهَا عُمَرُ عَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ أَلْفَ دِينَارٍ، وَعَلَى أَهْلِ الْوَرِقِ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا، وَعَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ، وَعَلَى أَهْلِ الشَّاءِ أَلْفَيْ شَاةٍ، وَعَلَى أَهْلِ الْحُلَلِ مِائَتَيْ حُلَّةٍ، قَالَ: وَتَرَكَ دِيَةَ أَهْلِ الذِّمَّةِ لَمْ يَرْفَعْهَا فِيمَا رَفَعَ مِنَ الدِّيَةِ".

عمرو بن شعيب دخپل پلارنه روايت کوی اوده پلارده دنيکه نه روايت کوی فرمائی چه دنبی عليه السلام په زمانه کښې ددیت مقدار اته سوه ديناره يا اته زره درهمه وو اوداهل کتابو ددیت مقدار په دغه وخت کښې دمسلمانانو ددیت په نيمه باندې وو، راوی وائی چه بيا ددیت مقدار په هم دې طريقه اوچليدو تردې چه عمرفاروق خليفه شواوهغه دخطبې ورکولو دپاره اودريدو او وئې فرمائيل چه اوس داوښ قيمت زيات شوي دې راوی وائی چه عمرفاروق زر ديناره يادولس زره درهمه مقررکړل او په غوا او اوښانووالا کس باندې ئې دوه سوه غواګاني اوپه چيلو والاباندې دوزره چيلی مقررکړې اوپه کپړو والا باندې ئې دوه سوه جوړې مقررې کړې اود اهل ذمه ديت ئې پريخود ويعنی زيات پې نکړو، لکه څنګه چه ئې باقی اهل اسلام ديت زيات کړو.

﴿عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَتْ قِيمَةُ الدِّيَةِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ثَمَانَ مِائَة دِينَارٍ أَوْ ثَمَانِيَةَ آلاَفِ دِرْهَمٍ ﴾

عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائی چه د ديت قيمت يعنی د ديت د سلو اوښانو قيمت څکه چه اصل په ديت کښې ابل دې، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې اته سوه ديناره يا اته زره درهمه وو، او ديت د اهل کتابو يعنی ذميانو هغه وخت يعنی د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې د مسلمانانو د ديت نصف وو، پس د ديت هم دا مقدار چليدو يعنی اته سوه ديناره يا اته زره درهمه، تردې چه سيدنا عمرفاروق رضي الله عنه کله خليفه شو نو هغوی د خپل خلافت په زمانه کښې خطبه اوفرمائيله چه اوښان اوس ګران شو، په دې باندې اوس عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما

( ): تفرد به أبو داود، انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٨٦٨٨) (حسن)

فرمائي : پس هغوی (يعنی خليفه ثانی) د اتو سوو دينارو په ځائې زر مقرر کړل د اهل ذهب په حق کښې او دراهم ئې دولس زره مقرر کړل د چاندئ والو په حق کښې، او په اهل بقر باندې ئې دوه سوه او په اهل شاة باندې ئې دوه زره شاة او په اهل حلل باندې ئې دوه سوه حلې، وړاندې عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما فرمائي چه هغوی د اهل ذمه ديت نه دې زيات کړې بلکه هغه ئې هم په هغه حال باندې پريخودلو. د اهل ذمه د ديت باب وړاندې مستقل راروان دې، په هغې باندې به کلام هم هلته راشي، په ديت کښې چه کوم څيزونه ورکولې شي هغه ټول شپږ دی په دې حديث کښې هغه ټول ذکر شوې دی.

[۴۵۴۳]([1])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي الدِّيَةِ عَلَى أَهْلِ الْإِبِلِ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ، وَعَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ، وَعَلَى أَهْلِ الشَّاءِ أَلْفَيْ شَاةٍ، وَعَلَى أَهْلِ الْحُلَلِ مِائَتَيْ حُلَّةٍ، وَعَلَى أَهْلِ الْقَمْحِ شَيْئًا لَمْ يَحْفَظْهُ مُحَمَّدٌ".

د عطاء بن ابی رباح نه روايت دې فرمائي چه نبی علیه السلام د ديت په سلسله کښې فرمائيلې دي چه په اوښانو والاباندې سل اوښان دي اوپه غواوالاباندې دوه سوه دي اوپه چيلو والا باندې دوه زره او په کپړو والا باندې ئې دوه سوه جوړې مقررې کړې اوغنمو والاپه باره کښې چه پې څه اوفرمائيل هغه ماته ياد نه دي.

[۴۵۴۴]([2])قَالَ أَبُودَاوُد: قَرَأْتُ عَلَى سَعِيدِ بْنِ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو تُمَيْلَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، قَالَ: ذَكَرَ عَطَاءٌ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ مِثْلَ حَدِيثِ مُوسَى، وَقَالَ: وَعَلَى أَهْلِ الطَّعَامِ شَيْئًا لَا أَحْفَظُهُ.

امام ابوداؤد فرمائي چه ماته داحديث سعيد بن يعقوب په واسطه دابو تميله دمحمد بن اسحق نه اوهغه دعطاء نه اوهغه دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه اوهغه دنبی علیه السلام نه دموسی د روايت په شان بيان کړو او وئې وئيل دغمنو والا په باره کښې چه ئې څه اوفرمائيل هغه ماته ياد نه دي.

[۴۵۴۵]([3])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ خِشْفِ بْنِ مَالِكٍ الطَّائِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فِي دِيَةِ الْخَطَإِ عِشْرُونَ حِقَّةً، وَعِشْرُونَ جَذَعَةً، وَعِشْرُونَ بِنْتَ مَخَاضٍ، وَعِشْرُونَ بِنْتَ لَبُونٍ، وَعِشْرُونَ بَنِي مَخَاضٍ ذُكُرٍ، وَهُوَ قَوْلُ عَبْدِ اللَّهِ".

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دقتل خطاء متعلق نبی علیه السلام فرمائيلی دی په دې کښې شل حقې دي اوشل جذعې دي اوشل بنت مخاض اوشل بنت لبون ارشل بنت مخاض دي (يعنی ديوکال والا نران اوښخې اوښې)

قوله: ﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « فِي دِيَةِ الْخَطَإِ الخ﴾

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۴۸۲) (ضعيف)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۴۸۲) (ضعيف)
[3]: سنن الترمذي/الديات ۱ (۱۳۸۶)، سنن النسائي/القسامة ۲۸ (۴۸۰۶)، سنن ابن ماجه/الديات ۶ (۲۶۳۱)، (تحفة الأشراف: ۹۱۹۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۳۸۴، ۴۵۰)، دي/ الديات ۱۳ (۲۴۱۲) (ضعيف)

په دية الخطاء کښې د احنافو او د حنابله دليل:

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په دې حديث کښې د قتل خطاء ديت کښې سل اوښان په دې تفصيل سره ذکر دي، حقه، جذعه، بنت محاض، بنت لبون او ابن محاض، هر يو شل شل، په دې حديث کښې پنځم څيز ابن محاض دې، هم دا مذهب د احنافو او حنابله دې، او د امام مالک او امام شافعي رحمهما الله په نزد د ابن محاض په ځائې ابن لبون دې.

والحديث اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجه، قاله المنذري

[٤٥٤٦]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: "أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَنِي عَدِيٍّ قُتِلَ، فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِيَتَهُ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمْ يَذْكُرِ ابْنَ عَبَّاسٍ.

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام دقتل خطاء دديت په باره کښې فرمائيلي دي چه په قبيله بنی عدي کښې يو کس قتل کړې شو نونبي عليه السلام دده ديت دولس زره (درهمه) مقرر کړو امام ابوداؤد فرمائي چه دا روايت ابن عيينه دعکرمه په ذريعه باندې بيان کړې دې او په دې کښې دابن عباس ذکر نشته.

باب دِيَةِ الْخَطَإِ شِبْهِ الْعَمْدِ

باب دقتل خطاء او دقتل شبه عمد د ديت بيان

[٤٥٤٧]([2])حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ خَالِدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ يَوْمَ الْفَتْحِ بِمَكَّةَ فَكَبَّرَ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ صَدَقَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ، إِلَى هَاهُنَا حَفِظْتُهُ، عَنْ مُسَدَّدٍ، ثُمَّ اتَّفَقَا، أَلَا إِنَّ كُلَّ مَأْثُرَةٍ كَانَتْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تُذْكَرُ وَتُدْعَى مِنْ دَمٍ أَوْ مَالٍ تَحْتَ قَدَمَيَّ، إِلَّا مَا كَانَ مِنْ سِقَايَةِ الْحَاجِّ وَسِدَانَةِ الْبَيْتِ، ثُمَّ قَالَ: أَلَا إِنَّ دِيَةَ الْخَطَإِ شِبْهِ الْعَمْدِ مَا كَانَ بِالسَّوْطِ وَالْعَصَا مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ مِنْهَا أَرْبَعُونَ فِي بُطُونِ أَوْلَادِهَا"، وَحَدِيثُ مُسَدَّدٍ أَتَمُّ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام دفتح مکې په ورځ په مکه کښې خطبه ورکړله درې ځله الله اکبري ووئيلو اوبيائې دا دعا اوفرمائيده: «لا إله إلا الله وحده صدق وعده ونصر عبده وهزم الأحزاب وحده» امام ابوداؤد وائی چه دا روايت مې تردې ځائې پورې دمسددنه يادکړې دې او په باقي روايت کښې دواړه راويان متفق دي ، واورئ دجاهليت چه څومره فضيلت رو يادجاهليت دوخت چه څومره وعدې وې برابره خبره ده چه دغه وعدې دوينووې اوکه دمال وې هغه ټولې زما دپخولاندې دي مګر حاجيانوته اوبه ورکول اودبيت الله خدمت کول اوبيائې اوفرمائيل خبردار دقتل خطاء ديت دشبه عمد دديت برابر دې، کله چه څوک په دره يا لوړ باندې قتل شوې وې نودهغه ديت سل اوښان دي په دې کښې څلوېښت اوښان حامله وې، اودمسدد روايت مکمل دې.

---

[1]: سنن الترمذي/الديات ٢ (١٣٨٨)، سنن النسائي/القسامة ٢٩ (٤٨٠٧)، سنن ابن ماجه/الديات ٦ (٢٦٢٩)، (تحفة الأشراف: ٦١٦٥)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الديات ١١ (٢٤٠٨) (ضعيف)

[2]: سنن النسائي/القسامة ٢٧ (٤٧٩٧)، سنن ابن ماجه/الديات ٥ (٢٦٢٨)، (تحفة الأشراف: ٨٨٨٩) (حسن)

شرح الحدیث :

قوله: ﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- خَطَبَ يَوْمَ الْفَتْحِ بِمَكَّةَ فَكَبَّرَ ثَلاَثًا ثُمَّ قَالَ « لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ صَدَقَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ ».« أَلاَ إِنَّ كُلَّ مَأْثُرَةٍ كَانَتْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تُذْكَرُ وَتُدْعَى مِنْ دَمٍ أَوْ مَالٍ تَحْتَ قَدَمَيَّ إِلاَّ مَا كَانَ مِنْ سِقَايَةِ الْحَاجِّ وَسِدَانَةِ الْبَيْتِ »﴾ يعنى په كومه ورځ باندې چه مكه مكرمه فتح شوه رسول الله ﷺ خطبه ارشاد اوفرمائيله او په روستو روايت كښې دى چه دا خطبه رسول الله ﷺ د بيت الله په پاوړئ باندې اودريدلو سره وركړه (١) چه په هغې كښې ئې درې كرته تكبير اوكړو او بيا ئې دا جملې ارشاد اوفرمائيلې چه د الله پاك نه سوا هيڅوک معبود نشته، چا چه خپله وعده رشتينې كړه او د خپل بنده نصرت ئې اوفرمائيلو. د وعدې نه مراد د مكې مكرمې فتح كيدل دى او د اسلام غلبه. او وړاندې دى او كوم ذات چه د كفارو لښكرو ته شكست وركړو. اشاره ده غزوه احزاب او غزوه خندق طرف ته، او دا ئې هم ارشاد اوفرمايه چه بيشكه كوم امور چه د جاهليت په زمانه كښې عزت او فخر ګڼړلې كيدو او هغه حقوق كوم چه به هغوى خپل حق ګڼړلو، مثلا ديت يا د سود مال يا سودى قرضه، هغه ټول زما د خپو لاندې دى، يعنى زه هغې ته باطل وايم، يعنى اسلام راتلو سره هغه باطل كړل، خو بعض امور د جاهليت د دې نه مستثنى دى (چه د هغې ذكر وړاندې راځى) يعنى سقاية الحاج د حج په زمانه كښې د حاجيانو دپاره سبيل لګول او هغوى ته اوبه وركول. او د بيت الله خدمت او دربانى، او بيا په حديث كښې قتل خطاء كوم چه شبه عمد وى د هغې ديت ذكر دې چه هغه سل اوښان دى چه په هغې كښې څلويښت اوښې بلاربې وى.

والحديث اخرجه النسائي وابن ماجه، واخرجه البخاري في التاريخ الكبير وساق اختلاف الرواة فيه، واخرجه الدارقطني في سننه وساق ايضا اختلاف الرواة فيه، قاله المنذري.

[٤٥٤٨] (٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ خَالِدٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَ مَعْنَاهُ.

وهيب دخالد په دې سند سره د مخكنې روايت هم معنى روايت بيان كړې دې.

[٤٥٤٩] (٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ، قَالَ: خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ أَوْ فَتْحِ مَكَّةَ عَلَى دَرَجَةِ الْبَيْتِ أَوِ الْكَعْبَةِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَذَا رَوَاهُ ابْنُ عُيَيْنَةَ أَيْضًا، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، رَوَاهُ أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، مِثْلَ حَدِيثِ خَالِدٍ، وَرَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ يَعْقُوبَ السَّدُوسِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَوْلُ زَيْدٍ، وَأَبِي مُوسَى، مِثْلَ حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَدِيثِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه دنبى عليه السلام نه دتيرشوى روايت په شان روايت بيان كړې دې مګردا

---

(١) د بيت الله شريف دروازه د زمكې د سطح نه كافى اوچته ده د انسان د قد نه هم زياته هم په دې وجه بيت الله ته د داخليدو دپاره د پاوړئ ضرورت وى.

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٨٨٨٩)

(٣): سنن ابن ماجه/الديات ٥ (٢٦٢٨)، وانظر حديث رقم: (٤٥٤٧)، (تحفة الأشراف: ٧٣٧٢) (ضعيف)

اضافه ئې کړې ده چه نبی ﷺ دفتح مکې په ورځ په مکه کښې یادبیت الله په پوړوکښې خطبه ورکړله. » امام ابوداؤد وائی چه دا روایت ابن عینه هم دعلی بن زید نه اوهغه دقاسم بن ربیعه نه اوهغه دابن عمر رضي الله عنهما نه نقل کړې دې.

باب أَسْنَانِ الْإِبِلِ

باب: داوښانو دعمرونو تفصیل

[٤٥٥٠]()حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: "قَضَى عُمَرُ فِي شِبْهِ الْعَمْدِ ثَلَاثِينَ حِقَّةً، وَثَلَاثِينَ جَذَعَةً، وَأَرْبَعِينَ خَلِفَةً، مَا بَيْنَ ثَنِيَّةٍ إِلَى بَازِلِ عَامِهَا".

ترجمه: دمجاهد نه دشبه عمد دقتل متعلق منقول دې چه عمرفاروق رضي الله عنه فیصله کړې وه چه درې دیرش حقې اودیرش جذعې اوڅلویښت هغه اوښان کوم چه عمردشپږو اونهوکالو په مینځ کښې وي.

د امام شافعی او امام محمد دلیل :

قوله: ﴿ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ قَضَى عُمَرُ فِي شِبْهِ الْعَمْدِ ثَلاَثِينَ حِقَّةً وَثَلاَثِينَ جَذَعَةً وَأَرْبَعِينَ خَلِفَةً ﴾ د شبه عمد دا دیت کوم چه په دې حدیث کښې ذکر دې هم دا د امام شافعی او امام محمد رحمهما الله مسلک دې یعنی اثلاثا، او د شیخین او امام احمد په نزد ارباعا دې وتقدم بیان الاختلاف قبل ذلک... په دې حدیث کښې دا هم دی چه دا اوښان د ثنیه او بازل عام ترمینځه کیدل پکار دی، ثنیه هغه اوښه ده کومه چه د پنځو کالو کیدو سره په شپږم کال کښې داخله شی، او په بازل هغه دی چه د اتم کال کیدو سره په نهم کښې داخله شی، د بازل اوښو په نومونو کښې چه کومې د عمر په لحاظ سره وی دا آخری نوم دې یعنی کوم چه په نهم کال کښې داخل وی، د دې نه پس چه کله په لسم کال کښې داخل شی نو دې ته مخلف وائی، او دا دواړه نومونه د خپلې مادې په اعتبار سره آخری دی پس د هغې نه روستو داسې وئیلې شی. بازل عام بازل عامین، مخلف عام او مخلف عامین وهکذا.

[٤٥٥١]()حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: "فِي شِبْهِ الْعَمْدِ أَثْلَاثٌ: ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ حِقَّةً، وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ جَذَعَةً، وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ ثَنِيَّةً، إِلَى بَازِلِ عَامِهَا وَكُلُّهَا خَلِفَةٌ".

دعاصم بن ضمره نه روایت دې چه علی بن ابی طالب کرمه الله وجهه دشبه عمد په باره کښې وئیلی دی په درې ثلثونوتقسیم دې درې دیرش حقې دې اودرې دیرش جذعې دې اوڅلوردیرش هغه دوه کلن اوښان دې چه ټول غاښونه ئې راختلې وي یعنی عمر ئې اته کالوته رسیدلې اوحامله شوې وي.

قوله: ﴿ عَنْ عَلِيٍّ رضى الله عنه أَنَّهُ قَالَ فِي شِبْهِ الْعَمْدِ أَثْلاَثٌ الخ ﴾ په دې کښې د شبه عمد دیت خو دې اثلاثا خو په اعداد کښې فرق دې پس په دې کښې درې دیرش حقه او جذعه درې

---

[1]: تفرد به أبو داود (ضعيف الإسناد)

[2]: تفرد به أبو داود (ضعيف الإسناد)

ديرش او خلفه څلور ديرش دی، دا په ائمه اربعه کښې د چا مذهب هم نه دې.

[٤٥٥٣](١)حدثنا هَنَّادٌ، أَخْبَرَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، وَالْأَسْوَدِ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ "فِي شِبْهِ الْعَمْدِ: خَمْسٌ وَعِشْرُونَ حِقَّةً، وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ جَذَعَةً، وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ، وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ".

د ابوعياض نه روايت دې فرمائی چه د عثمان بن عفان به او زيد بن ثابت نه د ديت مغلظه په باره کښې مروي دي چه څلويښت جزعه اوښان او ديرش حقي او ديرش بنت لبون، اودقتل خطاء په ديت کښې ديرش حقي ديرش بنت لبون شل ابن لبون او شل بنت مخاض دي.

قوله: ﴿ قال علی رضی الله تعالی عنه فی الخطاء ارباعا ﴾ يعنی د قتل خطاء ديت ارباعا دې په دې تفصيل سره حقه، جذعة، بنت لبون، بنت مخاض، هر يو پنځويښت پنځويشت.

[٤٥٥٢](٢)عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، وَالْأَسْوَدِ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ " فِي شِبْهِ الْعَمْدِ: خَمْسٌ وَعِشْرُونَ حِقَّةً، وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ جَذَعَةً، وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ، وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ " .

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د شبه العمد متعلق فرمائيلی دی چه په دې کښې پنځه ويشت حقيې دی او پنځه ويشت جزعې دی او پنځه ويشت بنت لبون او پنځه ويشت بنت مخاض.

قوله: ﴿ عن علقمة والاسود قال عبدالله فی شبه العمد الخ ﴾

په دې حديث کښې د شبه عمد ديت ارباعا ذکر دې په هغه تفصيل سره کوم چه شيخين او امام أحمد اختيار کړې دې وقد تقدم.

[٤٥٥٤](٣)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ، عَنْ أَبِي عِيَاضٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ "فِي الْمُغَلَّظَةِ: أَرْبَعُونَ جَذَعَةً خَلِفَةً، وَثَلَاثُونَ حِقَّةً، وَثَلَاثُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ، وَفِي الْخَطَإِ: ثَلَاثُونَ حِقَّةً، وَثَلَاثُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ، وَعِشْرُونَ بَنُو لَبُونٍ ذُكُورٍ، وَعِشْرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ".

دعاصم بن ضمره نه روايت دې چه علی بن ابی طالب کرمه الله وجهه دقتل خطاء په باره کښې وئيلی دی په څلور ربع و تقسيم دې پنځه ويشت حقي دي او پنځه ويشت جزعي دي او پنځه ويشت بنت لبون او پنځه ويشت بنت مخاض.

قوله: ﴿ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ فِي الْمُغَلَّظَةِ الخ ﴾

په دې روايت کښې د شبه عمد ديت هم اثلاثا دې په دې تفصيل سره، څلويښت جذعه چه خلفه وی يعنی حامله او ديرش حقه او ديرش بنت لبون او د قتل خطاء ديت په دې کښې ارباعا دې حقه، او بنت لبون ديرش ديرش، او ابن لبون او بنت مخاض شل شل.

[٤٥٥٥](٤)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ فِي الدِّيَةِ الْمُغَلَّظَةِ، فَذَكَرَ مِثْلَهُ سَوَاءً.

دسعيد بن مسيب رحمه الله نه روايت دې فرمائی چه د زيد بن ثابت رضي الله عنه نه د ديت مغلظه په باره کښې په دې طريقه باندې روايت منقول دې لکه څنګه چه مخکښې تير شو،

(١): تفرد به أبو داود (ضعيف الإسناد)
(٢): تفرد به أبو داود (ضعيف الإسناد)
(٣): تفرد به أبو داود (صحيح)
(٤): تفرد به أبو داود (صحيح الإسناد)

(١) قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ أَبُو عُبَيْدٍ وَعَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ إِذَا دَخَلَتِ النَّاقَةُ فِي السَّنَةِ الرَّابِعَةِ فَهُوَ حِقٌّ وَالْأُنْثَى حِقَّةٌ، لِأَنَّهُ يَسْتَحِقُّ أَنْ يُحْمَلَ عَلَيْهِ وَيُرْكَبَ، فَإِذَا دَخَلَ فِي الْخَامِسَةِ فَهُوَ جَذَعٌ وَجَذَعَةٌ، فَإِذَا دَخَلَ فِي السَّادِسَةِ وَأَلْقَى ثَنِيَّتَهُ فَهُوَ ثَنِيٌّ وَثَنِيَّةٌ، فَإِذَا دَخَلَ فِي السَّابِعَةِ فَهُوَ رَبَاعٌ وَرَبَاعِيَةٌ، فَإِذَا دَخَلَ فِي الثَّامِنَةِ وَأَلْقَى السِّنَّ الَّذِي بَعْدَ الرَّبَاعِيَةِ فَهُوَ سَدِيسٌ وَسَدَسٌ، فَإِذَا دَخَلَ فِي التَّاسِعَةِ وَفَطَرَ نَابُهُ وَطَلَعَ فَهُوَ بَازِلٌ، فَإِذَا دَخَلَ فِي الْعَاشِرَةِ فَهُوَ مُخْلِفٌ ثُمَّ لَيْسَ لَهُ اسْمٌ، وَلَكِنْ يُقَالُ بَازِلُ عَامٍ وَبَازِلُ عَامَيْنِ وَمُخْلِفُ عَامٍ وَمُخْلِفُ عَامَيْنِ إِلَى مَا زَادَ، وَقَالَ النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ: ابْنَةُ مَخَاضٍ لِسَنَةٍ، وَبِنْتُ لَبُونٍ لِسَنَتَيْنِ، وَحِقَّةٌ لِثَلَاثٍ، وَجَذَعَةٌ لِأَرْبَعٍ، وَثَنِيٌّ لِخَمْسٍ، وَرَبَاعٌ لِسِتٍّ، وَسَدِيسٌ لِسَبْعٍ، وَبَازِلٌ لِثَمَانٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ أَبُو حَاتِمٍ، وَالْأَصْمَعِيُّ: وَالْجُذُوعَةُ وَقْتٌ وَلَيْسَ بِسِنٍّ، قَالَ أَبُو حَاتِمٍ: قَالَ بَعْضُهُمْ: فَإِذَا أَلْقَى رَبَاعِيَتَهُ فَهُوَ رَبَاعٌ، وَإِذَا أَلْقَى ثَنِيَّتَهُ فَهُوَ ثَنِيٌّ، وَقَالَ أَبُو عُبَيْدٍ: إِذَا أَلْقَحَتْ فَهِيَ خَلِفَةٌ، فَلَا تَزَالُ خَلِفَةً إِلَى عَشَرَةِ أَشْهُرٍ، فَإِذَا بَلَغَتْ عَشَرَةَ أَشْهُرٍ فَهِيَ عُشَرَاءُ، قَالَ أَبُو حَاتِمٍ: إِذَا أَلْقَى ثَنِيَّتَهُ فَهُوَ ثَنِيٌّ، وَإِذَا أَلْقَى رَبَاعِيَتَهُ فَهُوَ رَبَاعٌ.

امام ابوداؤد فرمائی ابوعبید دیونه دزیاتو کسانونه نقل کوي کله چه یو اوښ په څلورم کال کښې داخل شي نوداحق دي اوددې مونث حقة دي ځکه چه دا دسورلۍ اودبار وړلو لائق ګرځي شي ، اوکله چه په پنځم کال کښې داخل شي نودا جزعه ده اوکله چه په شپږم کال کښې داخل شي او مخامخ غاښونه وغورځوي ثني دي کله چه بیاپه اوم کال کښې داخل شي نودي ته رباع اورباعیه وئیلې شي کله چه په اتم کال کښې داخل شي اوهغه غاښونه وغورځوي کوم چه په څلورم کال راخیژي نودغه اوښ ته سدیس وئیلې شي اودغه اوښ چه کله نهم کال ته واوړي او نوي غاښونه ئې راوخیژي نودي ته بازل وائی اودغه اوښه چه کله په لسم کال کښې داخل شي نودي ته مخلف وائی اوددینه پس داوښي بل نوم نشته لیکن بیا داسې وئیلې شي چه دیوآل بازل اود دوو کالو بازل دیو کال مخلف اود دوو کالو مخلف ، نضر بن شمیل راوی وئیلی دی بنت مخاض دیوال بجي ته اوبنت لبون داوښ دوه کلن بچي ته وئیلې شي اوحقه د درې کالو اوښې ته اوجزعه څلورکلن اوښ ته وئیلې شي ثني پنځه کلن رباع شپږ کلن سدیس اوه کلن بازل اته کلن، ابوحاتم او اصمعي وئیلی دی چه جذوعه دیووخت نوم دې د کوم عمر نوم نه دې ابوحاتم وئیلی دی چه کله دغه اوښ رباعي غاښونه وغورځوي نودا رباع شي ، ابوعبیده وئیلی دی چه کله دغه اوښه حامله شي نودي ته حلفه وئیلې شي دلسو میاشتو پورې اودلسومیاشتونه پس دغي اوښي ته عشره وئیلې شي ، امام ابوحاتم وئیلی دی چه کله ددغه اوښ مخامخ غاښونه راوخیژي نوثني ورته وئیلې شي اوکله چه درباعیه اوښي غاښونه راوخیژي نه رباع ورته وئیلې شي.

﴿ قَالَ أَبُو عُبَيْدٍ وَعَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ ﴾ په بعض نسخو کښې د دې عبارت نه مخکښې ﴿ باب اسنان الابل ﴾ ذکر دي، او د دې نه مخکښې په کتاب الزکوة کښې،د﴿ تفسیر الاسنان الابل ﴾ په عنوان سره یو مفصل باب تیر شوې دې چه په هغې کښې د دې نه زیات تفصیل ذکر دې فتذکر خو هلته دا جمله نه ده تیره شوې فاذا بلغ عشرة اشهر فهی عشراء.... باقي چونکه هر څه تیر شوی په دې وجه دلته د لیکلو حاجت نشته.

١: تفرد به أبو داود (صحيح الإسناد)

بَابُ دِيَاتِ الْأَعْضَاءِ

باب: د اندامونو د دیت بیان

[٤٥٥٦] (١) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ يَعْنِي ابْنَ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ غَالِبٍ التَّمَّارِ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ، عَنْ مَسْرُوقِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْأَصَابِعُ سَوَاءٌ عَشْرٌ عَشْرٌ مِنَ الْإِبِلِ".

دابوموسی رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ګوتي په دیت کښې یوشان دي دهري ګوتي په دیت کښې به لس لس اوښان ورکولی شي.

[٤٥٥٧] (٢) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ غَالِبٍ التَّمَّارِ، عَنْ مَسْرُوقِ بْنِ أَوْسٍ، عَنِ الْأَشْعَرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْأَصَابِعُ سَوَاءٌ، قُلْتُ: عَشْرٌ عَشْرٌ، قَالَ: نَعَمْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ غَالِبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ مَسْرُوقَ بْنَ أَوْسٍ، وَرَوَاهُ إِسْمَاعِيلُ، قَالَ: حَدَّثَنِي غَالِبٌ التَّمَّارُ، بِإِسْنَادِ أَبِي الْوَلِيدِ، وَرَوَاهُ حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي صَفِيَّةَ، عَنْ غَالِبٍ، بِإِسْنَادِ إِسْمَاعِيلَ.

دمسروق بن اوس رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه ابوموسی رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ګوتي په دیت کښې یوشان دي ماورته ووئیل ایا دهري ګوتي په دیت کښې به لس لس اوښان ورکولی شي؟هغه ووئیل هو امام ابوداؤد فرمائی دا روایت محمد بن جعفر په واسطه دشعبه سره دغالب نه بیان کړې دي اوهغه دمسروق بن اوس نه اوریدلی دی او اسماعیل دغالب نه دابوالولید په سند سره بیان کړې دي، اوحنظله دغالب نه داسماعیل په سند سره بیان کړې دي- دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائی نبی کریم و فرمائیلي دي:دا اودا یعنی مینځنی مسواکی اورکچه ګوتمه په دیت کښې یوبرابر دي

[٤٥٥٨] (٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي. ح وحَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، كُلُّهُمْ عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "هَذِهِ وَهَذِهِ سَوَاءٌ يَعْنِي الْإِبْهَامَ وَالْخِنْصَرَ".

دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت ده فرمائی ني کریم فرمائیلی دی تولي ګوتي په دیت کښې یوشان دي اوتول غاښونه په دیت کښې یوشان دي مخامخ غاښونه اودجامو غاښونه دا اودا په دیت کښې یوشان دي امام ابوداؤد وائی همدارنګې نقل کړې دي دا روایت نضر بن شمیل دشعبه نه دعبدالصمد دمتن په شان ، ابوداؤد وائی دا حدیث مونږ ته داري هم دنضرنه بیان کړې دي

١): سنن النسائي/القسامة ٣٨ (٤٨٤٧)، سنن ابن ماجه/الديات ١٨ (٢٦٥٤)، (تحفة الأشراف: ٩٠٣٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩٧/٤، ٣٩٨، ٤٠٤)، دي/الديات ١٥ (٢٤١٤) (صحيح)

٢): انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ٩٠٣٠) (صحيح)

٣): صحيح البخاري/الديات ٢٠ (٦٨٩٥)، سنن الترمذي/الديات ٤ (١٣٩٢)، سنن النسائي/القسامة ٣٨ (٤٨٥١)، سنن ابن ماجه/الديات ١٨ (٢٦٥٢)، (تحفة الأشراف: ٦١٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٣٩/١)، سنن الدارمي/الديات ١٥ (٢٤١٥) (صحيح)

[٤٥٥٩](١) حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنِي شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْأَصَابِعُ سَوَاءٌ وَالْأَسْنَانُ سَوَاءٌ الثَّنِيَّةُ وَالضِّرْسُ سَوَاءٌ، هَذِهِ وَهَذِهِ سَوَاءٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، عَنْ شُعْبَةَ، بِمَعْنَى عَبْدِ الصَّمَدِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَدَّثَنَاه الدَّارِمِيُّ، عَنِ النَّضْرِ.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی دټولو غاښونو په ديت کښې حکم يودې او ټولې ګوتې په ديت کښې يوشان دي

[٤٥٦٠](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ، أَخْبَرَنَا أَبُو حَمْزَةَ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْأَسْنَانُ سَوَاءٌ وَالْأَصَابِعُ سَوَاءٌ".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه نبی عليه السلام دخپو ګوتې يوبرابر وګرځولې (د ديت په باره کښې) برابر خبره ده چه دخپوهره يوه ګوته وي اوکه دلاس ګوته وي.

[٤٥٦١](٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ أَبَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو تُمَيْلَةَ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَابِعَ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ سَوَاءً".

عمرو بن شعيب دخپل پلارنه اووده پلار دده دنيکه نه روايت کوی فرمائی چه نبی کريم ﷺ دخطې په دوران کښې اوفرمائيل او په دې وخت کښې نبی عليه السلام خپله شاه مبارکه بيت الله شريف ته کړې وه، په ګوتو کښې ديت لس لس اوښان دي.

[٤٥٦٢](٤) حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "فِي خُطْبَتِهِ وَهُوَ مُسْنِدٌ ظَهْرَهُ إِلَى الْكَعْبَةِ فِي الْأَصَابِعِ: عَشْرٌ عَشْرٌ".

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما وائی چه نبی کريم ﷺ په خپله خطبه کښې کله چه هغوی خپله شا کعبې ته لګولې وه، اوفرمائيل: په ګوتو کښې لس لس اوښان دی.

[٤٥٦٣](٥) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ أَبُو خَيْثَمَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "فِي الْأَسْنَانِ: خَمْسٌ خَمْسٌ".

عمرو بن شعيب دخپل پلارنه اووده پلار دده دنيکه نه روايت کوی فرمائی چه نبی کريم فرمائيلی دی دهر غاښ په ديت کښې به پنځه پنځه اوښان ورکولې شي.

د دې باب د شروع ډير روايتونه د اصابع او اسنان په ديت يعنی ارش کښې ذکر دی، هغه دا چه په هر اصبع کښې من اصابع اليد والرجل لس اوښان دی او په اسنان کښې د هر سن په بدل کښې پنځه اوښان دی، لهذا د دواړو لاسونو د لسو ګوتو ديت به سل اوښان وی، او هم دغه شان په اصابع الرجلين کښې هم، او د دې نه معلومه شوه چه صرف د لاس په ګوتو کښې

(١): سنن ابن ماجه/الديات ١٧ (٢٦٥٠)، (تحفة الأشراف: ٦١٩٣) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي/الديات ٤ (١٣٩١)، (تحفة الأشراف: ٦٢٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٩/١) (صحيح)

(٣): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٢٤٩) (صحيح)

(٤): سنن النسائي/القسامة ٣٨ (٤٨٥٤)، (تحفة الأشراف: ٨٦٨٤)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الديات ١٨ (٢٦٥٣)، مسند احمد (٢٠٧/٢) (حسن صحيح)

(٥): سنن النسائي/القسامة ٣٨ (٤٨٥٤)، سنن ابن ماجه/الديات ١٩ (٢٣٥٤)، (تحفة الأشراف: ٨٦٨٥) (حسن صحيح)

پنځوس اوښان دی هم دغه شان صرف د یوې خپې په ګوتو کښې هم پنځوس اوښان دی، د ید او د رجل د هر یو جنس بیل بیل دې او د دیت اصول او قاعده دا ده چه په هغې کښې د جنس منفعت اعتبار وی او جنس منفعت پوره ضائع کړې شو نو پوره دیت به وی او په نیم کښې به نصف دیت وی، هم دغه شان به په عینین کښې دا قاعده جاری کیږی، او پوزه چونکه په خپل جنس کښې یوه ده لهذا د هغې په ضائع کولو کښې به پوره دیت واجب وی، دلته په حدیث کښې دی ﴿ هذه وهذه سوآء ﴾ یعنی الابهام والخنصر په بل روایت کښې دی ﴿الاسنان سواء والاصابع سواء اصابع الیدین والرجلین سواء﴾ قال الخطابی واتفق عامة اهل العلم علی ترک التفصیل وان فی کل سن خمسة ابعرة وفی کل اصبع عشر عشر من الابل، خناصرها واباهمها سواء، الی آخر ما ذکر فی البذل.......یعنی صحیح مسئله هم بالاتفاق هم دا ده. د سیدنا عمر رضی الله عنه په باره کښې منقول دی چه هغوی به په شروع کښې د ګوتو ترمینځه فرق فرمائیلو ففی البذل عن الخطابی : أنه کان یجعل في الإبهام خمس عشرة ، وفي السبابة عشراً ، وفي الوسطی عشراً ، وفي البنصر تسعاً ، وفي الخنصر ستاً حتی وجد کتاباً عند أبي عمرو بن حزم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم أن الأصابع کلها سواء فأخذ به ﴾.

د اندامونو د دیت ضابطه او قاعده :

د اندامونو په دیت کښې فقهاء کرامو دا قاعده لیکلې ده چه په کوم صورت کښې د جنس منفعت تفویت په طریقه د کمال وی، یا د جمال مقصود تفویت وی هلته به پوره دیت واجب وی، ففی الهدایة:وفي المارن الدیة وفي اللسان الدیة وفي الذکر الدیة والأصل في الأطراف أنه إذا فوت جنس المنفعة علی الکمال أو أزال جمالا مقصودا في الآدمي علی الکمال یجب کل الدیة لإتلافه النفس من وجه وهو ملحق بالإتلاف من کل وجه تعظیما للآدمي..... یعنی جنس منفعت لره فوت کول دا فی الجمله اتلاف نفس دې او د فی الجمله اتلاف نفس حکم هغه مقرر کړې شوې دې کوم چه اتلاف د من کل وجه دې تعظیما للادمی او د جمال مقصود په مثال کښې لحیه هم لیکلې ده ففی الهدایة ٤/٥٧٠ ﴿ وفي اللحیة اذا خلقت فلم تنبت الدیة لانه یفوت به منفعة الجمال ﴾ یعنی که د چا ګیره ئې داسې اوخریله چه د هغې نه پس دوباره را اونه خیژی نو هلته به هم کامل دیت واجب وی ځکه چه ګیره د سړی په حق کښې داسې جمال دې کوم چه مقصود دې، په خلاف د زنانه د ګیرې چه که د هغې په مخ باندې وینښته راوځی او هغه ترې نه څوک لرې کړی نو په هغې کښې هیڅ واجب نه دی ځکه چه ګیره د زنانو په حق کښې نقص دې نه جمال، کذافی الشامی ٥/٣٧٠.

خان پوهه کړه چه د اندامونو دیت بعض وخت دنفس د دیت نه زیاتیږی پس فقهاء کرامو تصریح کړې ده چه که څوک د چا ټول غاښونه مات کړی نو چونکه په یو غاښ کښې پنځه اوښان منصوص دی په دې اعتبار سره به په ټولو غاښونو کښې یو سل شپیتهٔ اوښان واجب وی لکه چه په بذل المجهود کښې د درمختار نه نقل کړې شوې دی او د دې په باره کښې ئې لیکلې دی : ولا باس فیه لانه ثابت بالنص علی خلاف القیاس اهـ.

حديث ابي موسى رضى الله تعالى عنه الثاني اخرجه النسائي وابن ماجه وحديث ابن عباس رضى الله تعالى عنهما الاول اخرجه البخاري والترمذي والنسائي وابن ماجه وحديث الثاني اخرجه الترمذي وابن ماجه (بالفاظ مختلفة) وحديث عمرو بن شعيب الاول اخرجه النسائي وابن ماجه والثاني اخرجه النسائي، قاله المنذري.

[٤٥٦٤]()قَالَ أَبُو دَاوُد: وَجَدْتُ فِي كِتَابِي، عَنْ شَيْبَانَ، وَلَمْ أَسْمَعْهُ مِنْهُ، فَحَدَّثْنَاهُ أَبُو بَكْرٍ صَاحِبٌ لَنَا ثِقَةٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ رَاشِدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ يَعْنِي ابْنَ مُوسَى، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَوِّمُ دِيَةَ الْخَطَإِ عَلَى أَهْلِ الْقُرَى أَرْبَعَ مِائَةِ دِينَارٍ أَوْ عِدْلَهَا مِنَ الْوَرِقِ وَيُقَوِّمُهَا عَلَى أَثْمَانِ الْإِبِلِ، فَإِذَا غَلَتْ رَفَعَ فِي قِيمَتِهَا، وَإِذَا هَاجَتْ رُخْصًا نَقَصَ مِنْ قِيمَتِهَا، وَبَلَغَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ أَرْبَعِ مِائَةِ دِينَارٍ إِلَى ثَمَانِ مِائَةِ دِينَارٍ، وَعِدْلُهَا مِنَ الْوَرِقِ ثَمَانِيَةُ آلَافِ دِرْهَمٍ، وَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ، وَمَنْ كَانَ دِيَةُ عَقْلِهِ فِي الشَّاءِ فَأَلْفَيْ شَاةٍ، قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ الْعَقْلَ مِيرَاثٌ بَيْنَ وَرَثَةِ الْقَتِيلِ عَلَى قَرَابَتِهِمْ فَمَا فَضَلَ فَلِلْعَصَبَةِ، قَالَ: وَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَنْفِ إِذَا جُدِعَ الدِّيَةَ كَامِلَةً، وَإِنْ جُدِعَتْ ثَنْدُوَتُهُ فَنِصْفُ الْعَقْلِ خَمْسُونَ مِنَ الْإِبِلِ أَوْ عِدْلُهَا مِنَ الذَّهَبِ أَوِ الْوَرِقِ أَوْ مِائَةُ بَقَرَةٍ أَوْ أَلْفُ شَاةٍ، وَفِي الْيَدِ إِذَا قُطِعَتْ نِصْفُ الْعَقْلِ، وَفِي الرِّجْلِ نِصْفُ الْعَقْلِ، وَفِي الْمَأْمُومَةِ ثُلُثُ الْعَقْلِ ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ مِنَ الْإِبِلِ وَثُلُثٌ أَوْ قِيمَتُهَا مِنَ الذَّهَبِ أَوِ الْوَرِقِ أَوِ الْبَقَرِ أَوِ الشَّاءِ وَالْجَائِفَةُ مِثْلُ ذَلِكَ، وَفِي الْأَصَابِعِ فِي كُلِّ أُصْبُعٍ عَشْرٌ مِنَ الْإِبِلِ، وَفِي الْأَسْنَانِ فِي كُلِّ سِنٍّ خَمْسٌ مِنَ الْإِبِلِ، وَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ عَقْلَ الْمَرْأَةِ بَيْنَ عَصَبَتِهَا مَنْ كَانُوا لَا يَرِثُونَ مِنْهَا شَيْئًا إِلَّا مَا فَضَلَ عَنْ وَرَثَتِهَا، وَإِنْ قُتِلَتْ فَعَقْلُهَا بَيْنَ وَرَثَتِهَا وَهُمْ يَقْتُلُونَ قَاتِلَهُمْ، وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَيْسَ لِلْقَاتِلِ شَيْءٌ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ فَوَارِثُهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَيْهِ وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلُ شَيْئًا"، قَالَ مُحَمَّدٌ: هَذَا كُلُّهُ حَدَّثَنِي بِهِ سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: مُحَمَّدُ بْنُ رَاشِدٍ مِنْ أَهْلِ دِمَشْقَ هَرَبَ إِلَى الْبَصْرَةِ مِنَ الْقَتْلِ.

عمرو بن شعيب دخپل پلارنه اووده پلار دده دنيكه نه روايت كوي فرمائي چه نبي كريم ﷺ اوفرمائيل: چه په غاښونو كښې دېت پنځه پنځه اوښان دي (يعنى دهر غاښ ديت پنځه اوښان دي) امام ابوداؤد فرمائي ماپخپل كتاب كښې دشعبان رحمه الله نه روايت نقل كړي دې ليكن مادهغه نه داحديث نه دې اوريدلې بيازمايوملګري ابوبكر ماته روايت بيان كړو دشعبان نه اوهغه د محمد بن راشد نه اوهغه دسليمان بن موسى نه اوهغه دعمرو بن شعيب نه هغه دخپل پلارنه اووده پلار د خپل پلارنه يعنى دده دنيكه نه چه نبي ﷺ به دقتل خطاء دپاره ديت مقررولو دلو په اوسيدونكوباندې څلورسوه ديناره يادې برابر سپين زر اويابه ئې ددې قيمت ولګولو اوداوښانو قيمت به ئې هم اولګولو (يعنى دزرود قيمت برابر به اوښان په ديت كښې وركړې شو) بياچه كله ګراني شروع كيده نوددې په ماليت كښې به ئې اضافه كوله اوچه كله به ارزاني راتله نوديت به ئې كمولو دنبي ﷺ په دور كښې دديت قيمت دڅلور سوه دينارونه اته سوه دينارونه رسيدلې وو اوددې برابر سپين زر اته زره درهم اونبي ﷺ په غوار اوغوايانو والاخلقوباندې دوه سوه غوا مقرركړي وي اوپه

(¹): سنن النسائي/القسامة ٢٧ (٤٨٠٥)، سنن ابن ماجه/الديات ٦ (٢٦٣٠)، (تحفة الأشراف: ٨٧١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٣/٢، ٢١٧، ٢٢٤) (حسن)

چيلو والاباندې دوه زره راوي وائي چه نبي ﷺ اوفرمائيل ددیت مال دمقتول دوارثانو ميراث دي دخپلې رشته دارۍ مطابق دې چه كوم مالي ددې وارثانونه فالتو پاتې شي نوهغه به دمړي عصبات ته ملاويږي ، راوي وئيلي دي چه نبي ﷺ اوفرمائيل كله چه دچانه پوره پوزه پريكړې شي نوپوره ديت به وربانديې لازميږي ، اوكله چه دپوزې لاندې نرمه حصه پريكړې شي نونيم ديت به وي يعني پنځوس اوښان يادديې برابر سره زر ياسيل غواګاني يازر چيلي اوكله چه دچاپولاس پريكړې شي نو په دې صورت كښې به نيم ديت ضروري وي او په دې طريقې سره په يوه خپه كښې هم نيم ديت اداكول ضروري دي او مامومه (يعني هغه زخم وغيره كوم چه دماغوته ورسيږي) ، په دې كښې دديت دريمه حصه اداكول دي يعني درې ديرش اوښان اويوثلث يادديې برابر سپين زر ياسره زر ياغواګاني ياچيلئ او په جائفه (يعني هغه زخم چه خيتې ته ورسيږي) كښې هم داحكم دې يعني كوم حكم چه دمامومه د هغه دجائفه هم دې اوپه ګوتوكښې دهرې ګوتې په عوض كښې لس اوښان اداكول ضروري دي اودهرغاښ په بدل كښې پنځه اوښان ، اونبي ﷺ حكم اوكړو چه دښځې دجنايت ديت به ددې په عصباتو باندې تقسيميږي يعني هغه عصبات كوم چه دښځې دكوم څيز وارثان نشي جوړيدې البته كوم چه دذوي الفروض باقي پاتې شي دوى دهغوى وارثان جوړيدې شي پس كه چرې كومه ښځه خپل خان پخپله مړ كړي نوددې ديت به ددې په ټولو وارثانو تقسيميږي اوغه خلق به دقصاص مالكان هم وي نبي ﷺ اوفرمائيل قتل كونكي ته به دتركې نه هيڅ نه ملاويږي اوكه چرې دمقتول وارث نه وي نوبياچه كوم دټولونه نزدې رشته داز وي هغه ددې وارث دې ليكن قتل كونكه هرګز وارث نشي جوړيدې محمد اووئيل چه داټول څه چه بيان شول سليمان دعمرو بن شعيب نه اوهغه دخپل پلارنه اودده پلار دده دنيكه نه اوهغه دنبي ﷺ نه نقل كړيدي.

قوله: ﴿عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُقَوِّمُ دِيَةَ الْخَطَإِ عَلَى أَهْلِ الْقُرَى أَرْبَعَمِائَةِ دينارا وَعَدْلَهَا مِنَ الْوَرِقِ يُقَوِّمُهَا عَلَى أَثْمَانِ الإِبِلِ فَإِذَا غَلَتْ رَفَعَ فِي قِيمَتِهَا....الخ ﴾

شرح الحديث:

يعني رسول الله ﷺ به د قتل خطاء د ديت قيمت د اهل قرى په حق كښې څلور سوه ديناررونه متعين فرمائيلو يا د هغې د قيمت برابر سپين زر، او د ديت مقدار متعين كولو كښې به ئې د اوښانو د قيمت اعتبار كولو، چه كله به اوښان ګران شو نو د ديت قيمت به رسول الله ﷺ زياتولو او كله به چه ارزان شو نو قيمت به ئې كمولو او د ديت قيمت د رسول الله ﷺ په زمانه كښې د څلوررو سوو دينارو نه تر د اتو سوو دينارو پورې پاتې شوې دې يا د هغې برابر اته زره درهم، حاصل دا چه په ديت كښې د اوښانو تعداد خو متعين دې په هغې كښې هيڅ كمې يا زيادت نشته، او كه يو سړې د اوښانو په ځائې دراهم او دنانير وركړې نو هغه به د اوښانو د قيمت په اعتبار سره وركولې شي.

وړاندې په روايت كښې دي: ﴿قال رسول الله ﷺ إِنَّ الْعَقْلَ مِيرَاثٌ بَيْنَ وَرَثَةِ الْقَتِيلِ عَلَى قَرَابَتِهِمْ

فَمَا فَضَلَ فَلِلْعَصَبَةِ ﴾ يعنى د مقتول ديت به د هغه په ميراث كښې شمارلې كيږى، او د مقتول په وارثانو كښې به د نور ميراث سره تقسيميږى په حسب د قرابت چه د چا څومره حصه وى، چه په هغې كښې به ذوى الفروض مقدم ساتلې شى، د هغوى نه چه څه پاتې شى هغه به د عصبه دپاره وى.

او وړاندې په روايت كښې دى چه د رسول اللهﷺ فيصله د انف په باره كښې دا ده چه كه هغه د جرړې نه پرې كړې شى نو پوره ديت به وى، او كه د هغې پورته نرمه حصه پرې كړې شى نو بيا نيم ديت دې، پنځوس اوښان يا دهغې د قيمت برابر سرۀ او سپين زر. ياسل غواګانې يا زر بيزې،اوديو لاس په پرې كيدو كښې نيم ديت او هم دغه شان په يوه خپه كښې

﴿ وفى المامومة ثلث العقل ﴾ مامومه د سر هغه زخم كوم چه ام الدماغ ته اورسيږى په دې كښې رسول اللهﷺ ثلث ديت يعنى درې ديرش اوښان او د يو اوښ ثلث مقرر كړې دې، او جائفه كښې هم ثلث ديت دې، جائفه هغه زخم كوم چه خيټې ته اورسيږى، په دې حديث كښې د شجتين ذكر يا د مامومة او جائفه، په كنز كښې د الديات د لاندې د شجاج په باره كښې مستقل يو فصل دې د هغې په حاشيه كښې ليكلې دى چه مصنفﷺ د شجاج دپاره يو مستقل فصل منعقد كړو د هغې د مسائلو د كثرت د وجې نه، او په هغې كښې دا هم ليكلې دى چه شجاج جمع ده د شجة او دا په لغت كښې د هغه زخم نوم دې چه په سر يا مخ كښې وى، او كوم چه د دې نه علاوه د بدن په نورو حصو كښې وى هغه ته جراحت وائى. لهذا چه كوم زخم په مخ يا سر كښې وى، د هغې د ديت مقدار خو به متعين وى، او عام جراحاتو كښې د ديت مقدار معين نه دې بلكه هلته د حكومت عدل اعتبار دې، او په هغې كښې دا هم ليكلې دى چه د شجاج دوه قسمونه دى بيا ئې د هغې تفصيل ليكلې دې، هم دغه شان په حاشيه د بذل كښې دى : وقال ابن رشد قال اهل اللغة والفقه عشرة اولها الدامية وهى التى تدمى ثم الحارصة هى التى تشق الجلد، ثم الباضعة الخ.....

وړاندې هم په دې حديث كښې دى : ﴿ وَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّ عَقْلَ الْمَرْأَةِ بَيْنَ عَصَبَتِهَا مَنْ كَانُوا لاَ يَرِثُونَ مِنْهَا شَيْئًا إِلاَّ مَا فَضَلَ عَنْ وَرَثَتِهَا ﴾

شرح الحديث :

يعنى رسول اللهﷺ دا فيصله اوفرمائيله چه كوم ديت د يوې زنانه د قتل كولو د وجې نه واجب شى هغه به په عصبة القاتله (د هغه زنانه په عصبه) باندې واجب وى هغه كه هر څوك وى، او د قاعدې مطابق به عاقله يعنى عاقلة المقتول د هغه وارث نه وى بلكه ورثة المقتول به د هغه د ديت وارثان وى، خو څه چه ذوى الفروض ته د وركولو نه پس بچ شى هغه به بيشكه عصبه ته ملاويږى. مطلب دا دې چه څنګه د سړى د جنايت قاعده ده چه د هغه ديت د جانى په عصبه باندې واجب كيږى او د مجنى عليه وارثانو ته ملاويږى هم دا حكم د زنانه د جنايت هم دې چه هر كله خبره دا ده چه كوم حكم د سړى د جنايت دې هم هغه د زنانه د جنايت هم دې نو بيا په دې باندې تنبيه ولې اوكړې شوه، هغه په دې وجه چه هسې نه چه څوك دا اوګڼړى چه كيدې شى زنانه په دې مسئله كښې د سړى په شان وى بلكه د عبد

په شان نه وی چه د هغې د جنايت عاقله متحمل نه وی، د دې وهم د لرې کولو دپاره دا تصريح اوکړې شوه.

وړاندې دی: فان قتلت فعقلها بين ورثتها وهم يقتلون قاتلهم، يعنی اوکه په ښځه باندې جنايت اوکړې شی اوهغه قتل کړې شی نواوس چه د جانی د عاقله نه ددې څه ديت حاصليږی هغه به د ښځې په ورثاؤ کښې تقسيمولې شی، که حاصليدونکې څيز ديت وی، اوکه د ديت په ځائې د قصاص مسئله وی نود قصاص اخستلوحق به هم د ښځې وارثانو ته وی.

قوله: ﴿ وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لَيْسَ لِلْقَاتِلِ شَىْءٌ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ فَوَارِثُهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَيْهِ وَلاَ يَرِثُ الْقَاتِلُ شَيْئًا »﴾

يعنی که يو سړې خپل رشته دار قتل کړی او حال دا چه هغه قتل کونکې د مقتول په وارثانو کښې وی نو د هغه د قتل په ديت کښې به د دې قاتل وارث حصه نه وی بلکه نورو وارثانو ته به ملاويږی. او که د مقتول بل څوک وارث نه وی سوا د هغه نه نو بيا به داسې کوو چه د قاتل نه علاوه بل څوک رشته دار چه د باقی رشته دارانو په نسبت اقرب الی المقتول وی هغوی ته به ورکولې شی، مثلاً څوی پلار قتل کړو او د دې مقتول څوک وارث نه وو سوا د هغه څوی نه، خو دې مقتول يو نمسئ هم پريخودلې دې نو اوس به د دې مقتول پلار ميراث په ځائې د قاتل د څوی د هغه د څوی څوی ته ملاويږی چه د څوی نه پس بيا اقرب الی المقتول هم دغه نمسې دې، کذا قالوا فی شرح هذا الحديث. والحديث اخرجه النسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[٤٥٦٥]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكَّارِ بْنِ بِلَالٍ الْعَامِلِيُّ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ رَاشِدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ يَعْنِي ابْنَ مُوسَى، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "عَقْلُ شِبْهِ الْعَمْدِ مُغَلَّظٌ مِثْلُ عَقْلِ الْعَمْدِ وَلَا يُقْتَلُ صَاحِبُهُ"، قَالَ: وَزَادَنَا خَلِيلٌ: عَنِ ابْنِ رَاشِدٍ: وَذَلِكَ أَنْ يَنْزُوَ الشَّيْطَانُ بَيْنَ النَّاسِ فَتَكُونُ دِمَاءٌ فِي عِمِّيَّا فِي غَيْرِ ضَغِينَةٍ وَلَا حَمْلِ سِلَاحٍ.

عمرو بن شعيب دخپل پلارنه اوده پلار ده دنيکه نه روايت کوی فرمائی چه نبی کريم اه اوفرمائيل: دقتل شبه عمد ديت دقتل عمد په شان سخت وي ، او په دې صورت کښې به قاتل نشي وژلې راوی وائی خليل دابن راشد نه دا الفاظ نقل کړي دي چه شيطان دخلقومينځ ته ننوځي اوکر وه قتل اوقتال وشي په کومه کښې چه د دشمنی يا اصلي څه دخل نوي

قوله: ﴿عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « عَقْلُ شِبْهِ الْعَمْدِ مُغَلَّظٌ مِثْلُ عَقْلِ الْعَمْدِ وَلاَ يُقْتَلُ صَاحِبُهُ ». « وَذَلِكَ أَنْ يَنْزُوَ الشَّيْطَانُ بَيْنَ النَّاسِ فَتَكُونَ دِمَاءٌ فِى عِمِّيًّا فِى غَيْرِ ضَغِينَةٍ وَلاَ حَمْلِ سِلاَحٍ »﴾

يعنی د شبه عمد ديت د قتل خطاء نه زيات سخت دي او مغلظ دي څنګه چه د قتل عمد ديت مغلظ دي او د شبه عمد والا قاتل به قتل کولې نه شی يعنی اخستلې خو به ترې

[1]: تفرد به أبو داود، انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ٨٧١٣) (حسن)

شي دیت او قتل کولي به نه شي خو دیت مغلظ به ترې نه اخستلي شي.

د قتل عمد د دیت مسئله او د هغې تحقیق:

د دې حدیث نه معلومیږي چه په قتل عمد کښې هم دیت وي، د احنافو په نزد خو د دې هیڅ ضابطه نشته بلکه په هر یو ځیز باندې چه صلح اوشوه د طرفینو په رضامندئ سره د قصاص نه اخستلو په صورت کښې، خو د شوافعو په کتابونو کښې د دې تصریح ده چه په قتل عمد کښې به دیت وي او هغه به مغلظ وي، پس دا اختلاف مخکښې تیر شوې دې چه د شوافعو او حنابله په نزد په قتل عمد کښې د مقتول اولیاء ته اختیار دې، د قصاص خو شته شته د دیت هم اختیار شته که قاتل راضي وي او که نه وي، هم په دې وجه د هغوی په نزد د دې مصداق هم متعین دې، د هغوی په کتابونو کښې لیکلي دي چه د قتل عمد دیت اثلاثا دې حقه او جذعه دیرش دیرش او خلفه څلویښت. او هم دا د هغوی په نزد په شبه عمد کښې هم دیت دې، خو په دې کښې یعنی په عمد کښې نور تغلیظ په دوه اعتبار سره نور دې او هغه دا چه دیت به په قاتل باندې واجب وي نه په عاقله باندې بل دا چه حالاً به وي او موجل به نه وَي، په خلاف د شبه عمد د دیت چه هغه په عاقله باندې وي او موجل وي په درې کالو کښې په درې قسطونو باندې اخستلې شي، كما تقدم في محله.[1]

وړاندې په روایت کښې دي ﴿ وذلک ان ینزو الخ ﴾ رسول الله ﷺ د شبه عمد صورت بیان فرمائي چه په هغې کښې څه وي چه د خلقو مینځ ته شیطان راټوپ کړي او معمولي خبره زیاتولو زیاتولو سره ویني ته خبره اورسیږي او د ګرم جنګ کار شروع شي بغیر د کینې او دشمنئ نه او بغیر د وسلې د استعمال نه، حاصل دا چه د قتل عمد خو یو معقول وجه او بنیاد وي عداوت او کینه وغیره، او په دې کښې قصدا انسان وسله استعمالولو سره قتل کوي، په خلاف د شبه عمد چه هغوی هسې په څه معمولي خبره باندې په ناپوهئ سره خبره په زیاتیدو زیاتیدو په هغې کښې قتل ته خبره اورسیږي، قتل کول هلته مقصود نه وي، هم په دې وجه ورته شبه عمد وائي.

[٤٥٦٦] ([2]) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ فُضَيْلُ بْنُ حُسَيْنٍ، أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْحَارِثِ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: أَخْبَرَنَا حُسَيْنٌ يَعْنِي الْمُعَلِّمَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "فِي الْمَوَاضِحِ: خَمْسٌ".

عمرو بن شعیب دخپل پلار نه اوده پلار ده دنیکه نه روایت کوي فرمائي چه نبي کریم

[1]) پس د شوافعو په کتاب فیض الاله المالك ٢٩١/٢ کښې دي: فصل اذا كان القتل خطاء او عمد خطاء (شبه العمد) او آل الامر في العمد بالعفو الي الدية وجبت الدية ودية الحر المسلم الذكر مائة من الابل، فان كان عمدا فهي مغلظة من ثلاثة اوجه كونها حالة وعلي الجاني ومثلثة ثلاثين حقة وثلاثين جذعة واربعين خلفة اي حوامل، وان كان شبه عمد فهي مغلظة من وجه (واحد) كونها مثلثة مخففة من وجهين كونها موجلة وعلي العاقلة الخ..... یعنی د قتل عمد دیت مغلظ دې په درې لحاظو او د شبه عمد دیت هم مغلظ دې صرف په یو لحاظ سره او مخفف دې په دوو حیثیتو سره. او بیا وړاندې په دې کښې دي چه د قتل خطاء دیت په درې واړو لحاظو سره مخفف دې فارجع اليه لو شئت)

[2]): انظر حديث رقم (٣٥٤٧)، (تحفة الأشراف: ٨٦٨٠، ٨٦٨٣) (حسن صحيح)

ﷺ اوفرمائیل: د مواضح په دیت کښې به پنځه اوښان ورکولې شي (مواضح هغه زخم ته وئیلې شي په کوم کښې چه هډوکې ښکاره شوې وي اوداسې زخم دیت پنځه اوښان دي اومواضح دموضحه جمع ده).

﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « فِى الْمَوَاضِحِ خَمْسٌ »﴾

يعنی رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه په شجه موضحه کښې پنځه اوښان دی، موضحه هغه زخم دې کوم چه د غوښې او څرمنې نه تیریدو سره هډوکی ته اورسیږی او هغه ښکاره کړی او د دې نه په روستو حدیث کښې دی.

﴿قَضَى رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فِى الْعَيْنِ الْقَائِمَةِ السَّادَّةِ لِمَكَانِهَا بِثُلُثِ الدِّيَةِ﴾

[٤٥٦٧](١) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ السُّلَمِيُّ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنِي الْعَلَاءُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَيْنِ الْقَائِمَةِ السَّادَّةِ لِمَكَانِهَا بِثُلُثِ الدِّيَةِ".

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوده پلار دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی کریم و فیصله اوفرمائیله چه یوه سترګه پخپل ځائ کښې موجوده وي لیکن دهغې نظر ختم شوې وي نوپه دې کښې ددیت دریمه حصه ده.

شرح الحديث من حيث الفقه وبيان المذاهب:

يعنی رسول اللهﷺ فیصله اوفرمائیله د سترګې په باره کښې کومه چه په خپل ځائې باندې قائمه او باقی وی یعنی چه صرف نظر ئې ضائع شو د ثلث دیت ٣/١ دیت، دا حدیث د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاث خلاف دې صرف د امام احمدؒ د یو روایت موافق دې کینې د ټولو علماء کرامو رائې په دې کښې دا ده چه په دې صورت کښې حکومت عدل دې (٢) یعنی د یو عادل سړی فیصله، د دې حدیث توجیه دا هم کیدې شی چه د رسول اللهﷺ دا ارشاد یعنی ثلث دیت په طور د معیار او قاعده کلیه نه دې بلکه په یو خاص واقعه کښې رسول اللهﷺ دا فیصله فرمائیلې وه، او کیدې شی چه په دې واقعه کښې حکومت عدل هم دا وی. والله اعلم

حديث المواضح اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجه، وحديث العين اخرجه النسائى، قاله المنذرى.

[الحمد لله ! اتم جلد ختم شو]

---

(١): سنن النسائي/القسامة ٣٦ (٤٨٤٤)، (تحفة الأشراف: ٨٧٧٠) (حسن)

(٢) په هدایه کښې دی: وفيما دون الموضحة حكومة العدل لانه ليس فيها ارش مقدر ولا يمكن اهداره فوجب اعتباره بحكم العدل، یعنی په موضحه کښې چونکه دیت منصوص دې په دې کښې به هم هغه واجب وی او د کوم زخم اثر چه د هغې نه کم وی په هغې کښې حکومت عدل واجب دې، او د حکومت عدل تفسیر دا لیکلې شوې دې چه د حر په ځائې دې سړی لره غلام فرض کولو سره دا اوکتلې شی چه د هغه قیمت بغیر د زخم نه څومره دې په بازار کښې او د جراحت سره څومره دې نو د دې جراحت د وجې نه چه په قیمت کښې څومره نقصان موندلې شی مثلا عشر قیمت نو په دې کښې به عشر دیت واجب وی، دا تفسیر د امام طحاوی نه منقول دې په هدایه کښې، په دې کښې یو قول بل هم دې کوم چه د امام کرخی نه نقل کړې شوې دې.